بسم الله الرحمن الرحيم

من يرد الله به خيرا يفقهه في الدين

# الحق الصريح

پښتو شرح

## مشكوة المصابيح

تالیف:


فضیلۃ الشیخ ابو محمد امین اللہ البشاوری حفظہ اللہ

جمع وترتیب ابو زہیر سیف اللہ غفرلہ


١٠


مکتبہ محمدیہ

بیرون کوہاٹی گیٹ منگل مارکیٹ پشاور

بسم الله الرحمن الرحيم

من یرد الله به خیرا یفقهه فی الدین (البخاری)

# الحق الصریح

پښتو شرح

## مشکوٰة المصابیح

تالیف:

فضیلة الشیخ ابو محمد امین الله البشاوری حفظه الله

جمع و ترتیب ابو زهیر سیف الله غفرله

۱۰

الحمد لله په دې جلد کښې د دوه سوه پنځه څلویښت (۲۴۵) حدیثونو تشریح او وضاحت شوید ے

مکتبه محمدیه
بیرون گنج گیټ
منګل مارکیټ
پیښور

د کتاب نوم ——— الحق الصریح شرح مشکاة المصابیح
(لسم جلد)
افادات ——— الشیخ ابو محمد امین الله البشاوری حفظه الله ورعاه
جمع وترتیب ——— از ابوزهیر سیف الله غفر له شیخ آباد پشاور۔
سنهٔ طباعت ——— جمادی الاولی۱۸/۱٤٤۱ هجری الموافق :
(۱جنوری/۲۰/۲۰۲۰م)
فن ——— حدیث
ناشر مکتبه محمدیه گنج پیښور

## د ملاویدو پته

### ۱- مکتبه محمدیه

بیرون گنج گیټ پهندو روډ نزد مسجد تقوئ پیښور پاکستان
ولی الله :03118828402/ 03018828402 ابو سلمان : 03025953513 ابوزهیر : 03075924001

۲- ایوب مکتبه واسلامی کیسټ مرکز، عقب قصه خوانی پیښور۔
۳- معراج کتب خانه قصه خوانی بازار محله جنګی پیښور۔
٤- نوروز کتب خانه صوابی اډه پاکستان۔
٥- دار الکتاب والسنة، نیو حاجی کیمپ سلطان آباد کراچی : 03002615402
٦- مسلم کتاب پلورنځی، جلال آباد اسحاق زئی مارکیټ۔
۷- مکتبه محمدیه، جلال آباد تالاشئ چوك گمرك مسجد ترځنګ دکان نمبر ۲

بسم الله الرحمن الرحیم

حَامِدًا وَمُصَلِّيًا

## ۵- بَابُ الْمَنْهِيِّ عَنْهَا مِنَ الْبُيُوْعِ

د هغه بیوعو بیان چه د هغې نه منع راغلې ده۔
دا باب ئې د باب الربا نه روستو ذکر کړو ځکه چه اهل علمؒ فرمائی: هره بیعه چه د هغې نه منع راغلې ده هغه د سود په حکم کښې داخله ده۔

مزابنه منع ده

### اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

2834 (1) - وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ قَالَ: نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنِ الْمُزَابَنَةِ، أَنْ يَّبِيْعَ ثَمَرَ حَائِطِهٖ إِنْ كَانَ نَخْلًا بِتَمْرٍ كَيْلًا، وَإِنْ كَانَ كَرْمًا أَنْ يَّبِيْعَهٗ بِزَبِيْبٍ كَيْلًا، وَإِنْ كَانَ زَرْعًا أَنْ يَّبِيْعَهٗ بِكَيْلِ طَعَامٍ، نَهٰى عَنْ ذٰلِكَ كُلِّهٖ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِيْ رِوَايَةٍ لَهُمَا: نَهٰى عَنِ الْمُزَابَنَةِ قَالَ: "وَالْمُزَابَنَةُ: أَنْ يُّبَاعَ مَا فِيْ رُؤُوْسِ النَّخْلِ بِتَمْرٍ بِكَيْلٍ مُسَمًّى إِنْ زَادَ فَلِيْ وَإِنْ نَقَصَ فَعَلَيَّ".

**ترجمه**: ابن عمر ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د مزابنې نه منع فرمائیلې (او هغه داده) چه یو تن د خپل باغ میوه، که هغه تازه کهجورے وی نو په اُوچو کهجورو باندے په تللو سره، او که انګور وی نو په اُوچو وښکو باندے په تللو سره ورخرڅے کړی۔ او که هغه فصل وی نو هغه د تلل شوے غلې په عوض خرڅ کړی۔ نبی ﷺ ددے ټولو سودا ګانو نه منع فرمائیلے۔ (بخاریؒ، مسلمؒ)۔ او په یو روایت د بخاریؒ او مسلمؒ کښے دی: نبی ﷺ د مزابنې نه منع فرمائیلے، فرمائی: مزابنه دا ده چه د کهجورو د ونو په سرونو باندے کهجورے په اُوچو کهجورو سره په معلومه پیمانه سره خرڅ کړے شی، (دا ورته ووائی) که د ونے کهجورے (د معینے پیمانے نه) زیاتے شوے نو زما به وی (یعنی زهٔ به ئے اخلم) او که کمے راووتے نو زهٔ به ددے ذمه وار یم۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

**تشریح** : [مُزَابَنَة] دیته وائي چه یو سودي معلوم شے د خپل جنس په یو نامعلوم شئ سره خرڅ کړے شي، د زَبْنَ نه دے دفع (ورکولو، او دیکه کولو) ته وائي، او په دے کښے هم د بائع او مشتري نه هر یو، یو بل ته جنس ورکوي۔ او یو بل ته په جلتئ باندے عوض ورکوي۔ [حَائِطِهٖ] د کهجورو هغه باغ چه دیوال ترے چاپیره وي۔ [کَرْمًا] د کاف په زور او د راء په سکون سره، انگور بوټي، دلته مراد د انگور دانے دي۔ [زَبِيْبٍ] وچکه، منقیٰ، کشمش۔ [زَرْعًا] [زَرْع] فصل، غنم، جوار، وریشے۔ [کَيْلًا] کیل وزن کول، ناپ کول، او په صاع او جام سره ښکاره کولو ته وائي۔

**فوائد او مسائل** : (۱) حدیث نه معلومه شوه چه بیع المزابنه حرامه ده، او مزابنه دیته وائي چه یو معلوم شے د خپل جنس په یو نامعلوم شي سره خرڅ کړے شي، لکه په وُنه کښے کهجورے خرڅے کړے شي، او د هغے په اندازه کهجورے واخستے شي۔ یا په بوټي کښے انگور خرڅ کړے شي، او د هغے په اندازه وچکے واخستے شي، یا په وړې کښے فصل خرڅ کړے شي او ددے په عوض کښے غنم واخستے شي۔

(۲) ددے منع وجه داده چه په کومو (شپږو) شیانو کښے چه سود جاري کیږي، هغه چه په خپل جنس باندے خرڅولے شي نو په هغے کښے یو په بل باندے خرڅولو کښے مساوات شرط دے، او دلته د دواړو عوضونو ترمینځه مساوات مجهول دے۔ او دا جهالت ربا او سود ته رَسول کوي، لکه مخکښے تیر شو چه [اَلْجَهْلُ بِالتَّسَاوِیْ کَالْعِلْمِ بِالتَّفَاضُلِ] یعنی چه د یو جنس د دوه شیانو ترمینځه مساوات نامعلومه وي نو دا داسے حرام دے لکه څنگه چه یو جنس په بل جنس باندے په تفاضل سره خرڅول حرام دي هر کله چه انسان ته دا تفاضل معلوم وي۔ نو دلته د کهجوری په بوټي کښے چه کومے کهجورے دي هغه نامعلومه دي او د انسان په لاس کښے چه کومے کهجورے دي هغه معلومے دي، او کهجورے ټول یو جنس دے نو په دے کښے زیادت کول حرام دي۔

نو دلته د حرمت دوه وجے دي : (أ) دا سودا اټکلی ده، یو طرفته د عوض اندازه معلومه نهٔ ده۔ (ب) یو عوض لمدے کهجورے دي او بل طرفته اوچے کهجورے، او دا سودا د راتلونکی حدیث د وجے حرامه ده۔ البته ددے نه صرف (عَرَایا) مستثنیٰ ده، لکه روستو راځي۔

(۳) [نَهٰی عَنْ ذٰلِکَ کُلِّهٖ] د مسلمؒ په روایت کښے داسے الفاظ دي : [وَعَنْ کُلِّ ثَمَرٍ

بِخَرْصِهِ] (هره ميوه په اټكل سره د خپل جنس په يو شي سره خرڅول منع دي) ددے نه معلومه شوه چه هر ربوي (سودي) شے چه د هغے اندازه معلومه نۀ وي نو هغه يو په بل باندے خرڅول حرام دي. لهذا دانے په اُوړو خرڅول حرام دي، لكه يو صاع غنم په يو صاع اوړو خرڅول حرام دي ځكه ددے دواړو ترمينځه مساوات نشته، ځكه دانے چه كله اوړۀ شي نو اجزاء ئے تس نس كيږي. بعضِ علماؤ ددے خرڅول جائز ګرځولي هغوئ وائي: ددے دواړو ترمينځه په وزن سره مساوات ممكن دے چه دواړه وتللے شي نو مساوي كيږي.

❁ اوكه دوه هغه شيان خرڅولے شي چه هغه دواړه ربوي شيان نۀ وي، نو بيا ددے د حرمت علت دادے چه په دے دواړو كښے غَرَرْ او دهوكه ده ځكه پوره طور سره د سودا اندازه نۀ لګي نو دا بيع د معلوم بالمجهول شوه، لكه سبزيانے يا فواكه (فروټ) خرڅول چه په دے كښے د يو عوض اندازه معلومه وي او د بل مجهوله. ددے شيانو نه چه منع راغله نو دا د فساد تقاضا كوي، كه چا دا قِسم سودا ګانے وكړے نو دا به فاسدے وي. دے حديث كښے د ټولو ميوو (او غلو) په باره كښے دا قاعده بيان شوه چه كله د ميوے جنس يو وي نو يوه په بله باندے په اټكل سره خرڅول منع دي.

(٤) - وَالْمُزَابَنَةُ : دا دويم تفسير د مزابنے دے چه كهجورے د ونے په سر كښے په معلومه پيمانه كهجورو سره خرڅ كړي او دا پكښے ووائي چه كه د ونے كهجورے زياتے وختے زما به وي او كه كمے شوے نو په ما باندے ئے تاوان دے. مثلاً داسے ووائي چه زما د ونے كهجورے په شل صاعه كهجورو باندے واخله، كه زياتي شوے نو زما به وي او كه كمے شوے نو په ما باندے به وي. امام شافعيؒ وئيلي دي چه دا مزابنه نۀ ده بلكه دا قمار (جواري) ده. ليكن عبد الله بن عمر ﷺ دے ته مزابنه وئيلے ده او هيڅ مانع نشته چه جواري دِے هم وي او مزابنه دِے هم ورته ووئيلے شي. [البدر التمام شرح بلوغ المرام: ١٩٢/٦] والله تعالىٰ اعلم.

## هغه بيوع چه د هغے نه منع شويده

2835 (2) - وَعَنْ جَابِرٍ ﷺ قَالَ: نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمُخَابَرَةِ وَالْمُحَاقَلَةِ وَالْمُزَابَنَةِ، وَالْمُحَاقَلَةُ : **أَنْ يَّبِيْعَ الرَّجُلُ الزَّرْعَ بِمِائَةِ فَرَقٍ حِنْطَةٍ** وَالْمُزَابَنَةُ : أَنْ يَّبِيْعَ

التَّمْرَ فِيْ رُؤُوْسِ النَّخْلِ بِمِائَةِ فَرَقٍ وَالْمُخَابَرَةُ : كِرَاءُ الْأَرْضِ بِالثُّلُثِ وَالرُّبُعِ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ

**ترجمه** : او جابر ﷜ فرمائي : رسول الله ﷺ د مخابرے او محاقلے او مزابنے (سودا) نه منع فرمائیلے : محاقله دا ده چه سړے فصل په سل فرقه غنمو باندے خرخ کړي او مزابنه دا ده چه کهجورے د ونو په سرونو کښے په سل فرقو باندے خرخ کړي، او مخابره په دریمه او څلورمه باندے زمکه په کرائي ورکولو ته وائي- (مسلمٌ)

**تشریح** : وَالْمُحَاقَلَةُ : محاقله د حَقْل نه دے، فصل او پټي دواړو ته وائي- په شریعت کښے (۱) [بَيْعُ الْحِنْطَةِ فِيْ سُنْبُلِهَا بِحِنْطَةٍ صَافِيَةٍ] غنم په خپلو وګو کښے په راپریکړے شوي او صفا کړے شوي غنمو خرخول- (۲) دارنګه [بَيْعُ الزَّرْعِ قَبْلَ إِدْرَاكِهٖ بِحِنْطَةٍ صَافِيَةٍ] فصل مخکښے د پخیدو نه په صفا غنمو باندے خرڅول- [منحة الباری]

(۳) [بَيْعُ الْحَقْلِ بِكَيْلٍ مِنَ الطَّعَامِ مَعْلُوْمٍ] ولاړ فصل د طعام په معلومه پیمانه او اندازه باندے خرڅول-

(٤) دارنګه [اَلْمُحَاقَلَةُ : الْمُزَارَعَةُ بِجُزْءٍ مِمَّا يَخْرُجُ] چا ته پټے په یوه حصه د حاصل باندے په زمیداره ورکول- (چه هغه نا معلومه وی) [فتح المنعم شرح مسلم : ٦/۲۳۲]

(٥) او پدے حدیث کښے ئے دا معنیٰ شویده چه ولاړ فصل په سل فرقه غنمو باندے خرڅ کړے شي- یعنی په زمکه باندے پراتهٔ غنمو اندازه معلومه ده او د ولاړو غنمو اندازه نهٔ ده معلومه، ځکه چه هغه خو لامدهٔ دی او د لامدو او د اُوچو ترمینځ مساوات نهٔ وی نو پدے وجه دا حرام ده-

فَرَقٍ : د فاء زبر او د راء په سکون سره په مدینه کښے یوه پیمانه وه چه (۱٦) رطله به پکښے ځائیدل- یعنی درے صاعه- نو درے فرقه اندازه (٦،٦) کیلو ده، یعنی شپږ کیلو، اوشپږ سوه ګرامه) جوړیږي-

او د سلو فَرَقو اندازه د مثال په طور ده، تحدید پکښے غرض نهٔ دے بلکه ددے نه په کمو او په زیاتو باندے هم صحیح نهٔ ده-

. ددے نه منع پدے وجه وشوه چه پدے کښے ربا الفضل راتلے شي ځکه چه پدے کښے مساوات مجهول دے او مخکښے تیر شو چه [اَلْجَهْلُ بِالْمُمَاثَلَةِ كَحَقِيْقَةِ الْمُفَاضَلَةِ]

په مساوات باندے ناپوهي داسے ده لکه حقیقةً تفاضل- دارنګه پته نهٔ لګي چه دغه فصل به ځائے ته ورسیږي او د خوراك قابل به وی او که نهٔ- نو یو طرف کښے حقیقةً

صلاحیت د بیع نشته، هغه نا معلومه او مستور دے۔
وَالْمُخَابَرَةُ : دا د خیبر نه ده، زمیندارے ته وائی یعنی چا ته زمکه په کرایه او اجاره باندے ورکول په دریمه برخه یا په څلورمه یا زیات یا په کمه۔ او دے بیع ته مخابره څکه وائی چه نبی ﷺ کله یهود د مدینے نه وشړل نو هغوی خیبر ته لاړل هلته کښے آباد شول، بیا نبی ﷺ د هغوی د لوظونو د ماتولو په وجه په هغوی حمله وکړه او هغوی نه ئے ځایونه ونیول نو هغوی سوال او زاری شروع کړه چه مونږ ته دِے دا باغونه راکړے شی پدے شرط چه مونږ به ئے ساتو او ددے میوه جات به نیم تاسو ته درکوو او نیم به مونږ اخلو نو نبی ﷺ ورسره دا خبره اُومنله۔

## د مخابرے او مزارعے فرق

امام نوویؒ وائی : مخابره مزارعے ته نزدے ده، یعنی زمکه په کرونده باندے ورکول۔ یعنی دا په زمکه باندے معامله ده په بعض حاصلاتو د زمکے سره لکه دریمه یا څلورمه یا په نورو اجزاؤ، لیکن فرق دا دے چه په مزارعه کښے تخم د زمکے په مالك وی او په مخابره کښے تخم د عامل (کار کونکی) د طرف نه وی۔ او یو جماعت د اهل لغتو وئیلی دی چه مزارعه او مخابره دواړه په یوه معنیٰ باندے دی، او مخابره مشتق ده د خَبَر یا خَبِیر نه او خبیر اکار/ فلاح او زمیدار ته وائی۔ او دا قول د جمهورو دے۔ او بعض وائی : دا د خِبَارْ نه ده، خبار نرمے زمکے ته وائی۔ ځینی وائی : دا د خُبْرَةٌ نه دے د خاء په پیش سره، حصے او برخے ته وائی۔ جوهریؒ او ابو عبیدؒ وائی : دا د ماهی او د غوښے برخے ته وائی۔ ابن الاعرابیؒ وائی : دا د خَیْبَر نه ده څکه چه رومبنئ دا معامله په خیبر کښے شوے وه۔ (شرح النووی)

او دلته پدے حدیث کښے د مخابرے صرف یو صورت بیان شوے۔

**فائده :** مخابره په دوه قسمه ده : (۱) مخابره جائزه۔ (۲) او مخابره فاسده۔ دلته په المخابره کښے الف لام عهدی دی، مراد ترے فاسده مزارعه ده او ددے ډیر صورتونه دی :

(۱) **صورت :** یو تن بل ته ووائی : [زَارَعْتُكَ عَلٰی اَنْ یَّكُوْنَ لَكَ الْبُرُّ وَلِیَ الشَّعِیْرُ]

تا ته مے دا زمکه په زمیداره درکړه پدے شرط چه ددے زمکے غنم به زما وی او ورېشے به ئے ستا وی۔ دا صورت جائز نهٔ دے، ولے ؟ څکه چه پدے کښے غَرَر (دهوکه) ده۔ کله به

وریشے اُوشی او غنم به ونشی یا برعکس نو یو طرف ته نقصان خامخا راتلے شی۔

(۲) صورت : داسے ووائی : [زَارَعۡتُكَ عَلٰى اَنۡ يَّكُوۡنَ لِيۡ شَرۡقِيُّ الۡاَرۡضِ وَلَكَ غَرۡبِيُّهَا]

تا تـه مے زمکـه په زمیداره درکړه پدے شرط چه د زمکے مشرقی طرف به زما وی او مغربی طرف به ئے ستا وی، دا هم جائز نۀ ده ځکه چه کیدے شی چه په یو طرف کښے فصل ونشی۔ او کله به یو طرف کښے زیات وی او بل طرف کښے کم۔ او په شرکتونو کښے مساوات پکار وی۔

(۳) صورت : [زَارَعۡتُكَ عَلٰى اَنۡ يَّكُوۡنَ لِيۡ مِائَةُ صَاعٍ مِنَ الۡمَحۡصُوۡلِ وَلَكَ الۡبَاقِيۡ]

زمکه مے په زمیداره درکړه پدے شرط چه زما دپاره به ددے د حاصل نه سل صاعه وی او باقی بـه ستا وی۔ دا هم جائز نۀ ده ځکه چه پدے کښے جهالت دے۔ ځکه چه کله به صرف سل صاعه وشی، نو مالك بـه فائده من شی او زمیدار به تاوانی۔ او کله به برعکس کار وشی۔ دے کښے هم مساوات نشته۔

(٤) صورت : داسے ورته ووائی : [زَارَعۡتُكَ هٰذِهِ الۡاَرۡضَ خَمۡسَ سِنِيۡنَ عَلٰى أَنۡ تَكُوۡنَ السَّنَةُ الۡاُوۡلٰى لِيۡ وَالثَّانِيَةُ لَكَ، وَالثَّالِثَةُ لِيۡ وَالرَّابِعَةُ لَكَ وَالۡخَامِسَةُ بَيۡنَنَا]

دا زمکـه مے درکړه پدے شرط چه اول کال به ئے فصل زما وی او په دویم کال ستا او په دریم کال به زما وی او په څلورم کال ستا او په پنځم کال به پکښے شریك یو۔ دا هم جائز نۀ ده ځکه چه پدے کښے جهالت او غرر راځی۔ دے کښے هم ډیر صورتونه جوړیږی لکه یو کال ستا او یو کال زما۔ دا هم جائز نۀ ده۔ کیدے شی په یو کال فصل وشی او په بل کال ونشی۔

(۵) - **صورت** : داسے ووائی : [لَكَ ثَمَرَةُ النَّخِيۡلِ الَّذِيۡ عَلَى الۡبِرۡكَةِ وَالۡبَاقِيۡ لِيۡ، أَوۡ لَكَ ثَمَرُ النَّخۡلِ الَّذِيۡ عَلَى السَّوَاقِيۡ وَالۡبَاقِيۡ لِيۡ]

هغـه کهجورے چه د حوض په غاړه دی د هغے میوه ستا شوه او باقی به زما وی۔ یا د لښتـو پـه غاړه چه کومے کهجورے دی د هغے میوه به ستا وی او باقی به زما وی۔ دا هم جائز نۀ ده پدے کښے هم جهالت دے۔

ددے پـه حـکـم کښے دا هم ده چه زمیدار ته داسے ووائی چه د لښتو په غاړه کوم فصل کیږی هغـه بـه ستا وی او کـه پـه زمکه کښے دننه او په مینځ کښے کیږی نو هغه به د

مالك وي، دا قسم د مزارعې په اتفاق سره حرام دے ځکه چه پدے کښے یو طرفته خطره ده. او بخاري : ۱/۳۱۳، باب ما يكره من الشروط في المزارعة : (او مشكاة كښے روستو هم راځي) د رافع بن خديج ﷺ روايت دے : كُنَّا أَكْثَرَ أَهْلِ الْمَدِينَةِ حَقْلًا وَكَانَ أَحَدُنَا يُكْرِيُ أَرْضَهُ فَيَقُولُ : هٰذِهِ الْقِطْعَةُ لِي وَهٰذِهٖ لَكَ فَرُبَّمَا أَخْرَجَتْ ذِهٖ وَلَمْ تُخْرِجْ ذِهٖ، فَنَهَاهُمُ النَّبِيُّ ﷺ عَنْهُ. وَفِي رِوَايَةٍ عَنْ رَافِعٍ : أَخْبَرَنِيْ أَعْمَامِيْ أَنَّهُمْ كَانُوْا يُكْرُوْنَ الْأَرْضَ عَلٰى عَهْدِ النَّبِيِّ ﷺ بِمَا يَنْبُتُ عَلَى الْأَرْبِعَاءِ أَوْشَيْءٌ يَسْتَثْنِيْهِ صَاحِبُ الْأَرْضِ فَنَهَاهُمُ النَّبِيُّ ﷺ عَنْ ذٰلِكَ، فَقُلْتُ لِرَافِعٍ : فَكَيْفَ هِيَ بِالدَّرَاهِمِ وَالدَّنَانِيْرِ ؟ فَقَالَ : لَيْسَ بِهَا بَأْسٌ، وَكَأَنَّ الَّذِيْ نُهِيَ عَنْ ذٰلِكَ مَا لَوْ نَظَرَ فِيْهِ ذَوُوْ الْفَهْمِ بِالْحَلَالِ وَالْحَرَامِ لَمْ يُجِيْزُوْهُ لِمَا فِيْهِ مِنَ الْمُخَاطَرَةِ. انظر المشكاة : ۱/۲۵۷، والتدابير الواقية، ص : ۴۱۷].

يعني مونږ په مدينه كښے زياتو فصلونو والا وو، او زمونږ يو تن به خپله زمكه په زميداره وركوله نو داسے به ئے وئيل دا حصه زمكه به زما وى او دا بله به ستا وى، نو ډير كرته به يوے فصل وكړو او بلے به ونكړو نو نبي كريم ﷺ ددے نه منع وفرمائيله. او په يو بل روايت كښے رافع بن خديج ﷺ فرمائي : ما ته زما ترونو خبر راكړے چه هغوى به د نبي كريم ﷺ په زمانه كښے د لښتو په غاړه زمكے په زميداره وركولے يا به د زمكے مالك څه حصه زمكه ځان دپاره جدا كړه (چه ددے زمكے فصل به زما وى) نو نبي كريم ﷺ ددے نه منع وفرمائيله. راوىّ وائي : ما رافع بن خديج ﷺ ته ووېل : بيا زمكه په دراهم او دنانيرو وركول څنګه دي ؟ هغۀ وفرمايل : دے كښے هيڅ باك نشته.

(ب) او **جائزه مخابره** او مزارعه دا ده [أَنْ يَّكُوْنَ بِجُزْءٍ مَعْلُوْمٍ مُشَاعٍ] چه په معلومه برخه باندے وى او هغه په ټولو اجزاؤ د حاصل كښے شامله وى لكه داسے ووائي : چه په لسمه برخه، په نهمه برخه، په نيمه برخه، په دريمه برخه وغيره. پدے كښے يو ته هم نقصان نۀ رسيږي كه فصل وشو نو هر يو ته به د شرط په اندازه ملاويږي، ډير وى كه لږ. او كه ونشو بيا به هم دواړه يو شان وى. د يو عمل ضائع شو او د بل زمكه.

البته كه يو تن زمكه په دَراهمو (پيسو) باندے چا ته وركړي چه دا زمكه واخله او ما ته هر كال پنځوس زره روپۍ راكوه نو دا به جائز وى او كه نۀ ؟ نو دا جائز ده ځكه چه دا اِجاره ده، ځكه چه زميدار به زمكه كري كه لږه ئے راخيژي او كه ډيره، د زمكے والا كار

ورسره نشته، تردے که هغه زمکه نهٔ کری هم د مالك رقم پرے واوړیدو. لکه د رافع بن خدیج رضی الله عنه په حدیث کښے دی : [فَأَمَّا الْوَرِقُ فَلَمْ يَنْهَنَا] په فضه باندے زمکه په اجاره ورکولو نه مونږ رسول الله ﷺ نهٔ یو منع کړی. [شرح ابن عثیمین بتصرف ۳/۹۷۳]

بیا د **جائزے مزارعے** ډیر صورتونه دی : (۱) صورت : یو تن په تنخواه ونیسی چه تا ته به د میاشتے لس زره تنخواه درکوم او زما زمکه کره نو دا صورت د عامو علماؤ په نیز جائز دے. او دے باندے دلیل حدیث د رافع بن خدیج رضی الله عنه دے چه صحیحینو نقل کړے چه : نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ عَنْ كِرَاءِ الْأَرْضِ. قَالَ : فَقُلْتُ : أَبِالذَّهَبِ وَالْوَرِقِ ؟ فَقَالَ : أَمَّا بِالذَّهَبِ وَالْوَرِقِ فَلَا بَأْسَ بِهِ. أخرجه مسلم :۲/۱۳رقم : ۴۰۳۳) . رسول الله ﷺ د زمکے په کرایه باندے ورکولو نه منع فرمائیلے ده، هغه وائی : ما وویل: آیا په سرۂ او سپینو باندے (هم ناجائز ده) ؟ نو وے فرمایل : هرچه په سرۂ او سپینو دے نو پدے څه باك نشته. او په روایت د ابوداود (۲/۱۲۵) کښے دی : [فَنَهَانَا عَنْ ذٰلِكَ وَأَمَرَنَا أَنْ نُكْرِيَهَا بِذَهَبٍ أَوْ فِضَّةٍ]. مونږه ئے ددے نه منع کړو، او مونږ ته ئے حکم وکړو چه دا په سرۂ او سپینو باندے په کرایه ورکړو.

(۲) **صورت** : د زمکے مالك زمیدار ته ووائی : تا ته به هره میاشت یا کال بعد دومره دومره غنم یا وریشے درکوم، دا زمکه کره، او دغه غنم او وریشے ددے زمکے نه علاوه د بلے زمکے وی. یعنی په مزدورئ کښے ورته د پیسو په بدله کښے د بهر نه طعام (غنم او وریشے) ورکوی. نو دا هم د عامو اهل علمو په نیز جائز ده ترد ے چه امام مالك هم پکښے اختلاف نهٔ دے کړے. ددے د جواز دلیل روایت د مسلمؒ دے چه رافع بن خدیج رضی الله عنه فرمائی : أَمَّا شَيْءٌ مَعْلُومٌ مَضْمُونٌ فَلَا بَأْسَ بِهِ. که معلوم د ضمانت والا شی باندے مزارعه وکړی نو هیڅ باك نشته. (نو معلوم شے پیسو او غنمو تولو ته شاملیږی) او اصل په بیوعو کښے اباحت دے او نهی نهٔ ده موجوده.

(۳) **صورت** : دا دویم صورت ته نزدے دے : د زمکے مالك زمیدار ته د زمکے د کروندے د جنس نه اُجرت ورکړی لیکن ددے زمکے نه نهٔ وی بلکه د بلے زمکے نه وی، مثلًا زمیدار پدے زمکه کښے غنم کرلی وی او مالك ورته وائی چه زهٔ به تا ته فلانی فلانی غنم درکوم. ددے زمکے نه علاوه نور غنم. دا صورت هم د جمهورو په نیز جائز دے لکه امام ابوحنیفهؒ او شافعیؒ او یو روایت د احمدؒ دے، او دلیل پدے باندے دا دے چه

اصل حِل دے او نهی ددے نه نۀ ده راغلے. بله دا چه د یو شی اجاره د طعام نه علاوه په نورو څیزونو جائز وی نو په طعام هم جائز ده. البته پدے صورت کښے امام مالكؒ مخالفت کړے او هغه د نهی د احادیثو نه دلیل نیولے لیکن قول ئے مرجوح دے. انظر المغني : [۵/۵۹۸].

(٤) **صورت :** چه زمکه په دریمه او څلورمه یا په نیمائی حاصل باندے ورکړی داسے ورته **ووائی :** دا زمکه درته درکوم چه ته ئے وکرے او څه چه ددے نه راووتل نیمائی ستا او نیمائی زما. یا مثلًا داسے ووائی : ددے دریمه برخه یا څلورمه برخه به ستا وی ـ نو داسے صورت اختلافی دے، چه ابوحنیفهؒ او شافعیؒ او احمدؒ په یو روایت کښے ددے قسم مزارعے نه منع کړیده ځکه چه ددے نه نهی راغلے ده لکه پدے حدیث الباب کښے او دغه شان په حدیث د ابوداود کښے دی :

عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ ﷺ قَالَ : (نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنِ الْمُخَابَرَةِ. قُلْتُ : وَمَا الْمُخَابَرَةُ؟ قَالَ : أَنْ تَأْخُذَ الْأَرْضَ بِنِصْفٍ أَوْ ثُلُثٍ أَوْ رُبْعٍ) وَإِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ. رواه أبو داود : ۲/۱۲۷].

زید بن ثابت ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ د مخابرے نه منع فرمائیلے ده، ما وویل : مخابره څه ته وائی؟ وے فرمایل : چه ته زمکه په نیمائی یا په دریمه یا په څلورمه برخه سره ونیسے. دارنګه عبد الله بن عمر ﷺ په دریمه برخه باندے مزارعه پریخے وه. کما فی مسلم : ۲/۱٤. لیکن پدے کښے **راجح جواز** دے. دلیل پرے حدیث د بخاری دے :

ابو جعفرؒ وائی : [مَا بِالْمَدِيْنَةِ أَهْلُ بَيْتِ هِجْرَةٍ إِلَّا وَيَزْرَعُوْنَ عَلَى الثُّلُثِ وَالرُّبُعِ وَزَارَعَ عَلِيٌّ وَسَعْدُ بْنُ مَالِكٍ وَعَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مَسْعُوْدٍ وَعُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيْزِ وَالْقَاسِمُ وَعُرْوَةُ وَآلُ أَبِي بَكْرٍ وَآلُ عُمَرَ وَآلُ عَلِيٍّ وَابْنُ سِيْرِيْنَ. وَقَالَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ الْأَسْوَدِ : كُنْتُ أُشَارِكُ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ يَزِيْدَ فِي الزَّرْعِ. وَعَامَلَ عُمَرُ النَّاسَ عَلٰى إِنْ جَاءَ عُمَرُ بِالْبَذْرِ مِنْ عِنْدِهٖ فَلَهُ الشَّطْرُ، وَإِنْ جَاؤُوْا بِالْبَذْرِ فَلَهُمْ كَذَا. وَقَالَ الْحَسَنُ : لَا بَأْسَ أَنْ تَكُوْنَ الْأَرْضُ لِأَحَدِهِمَا فَيُنْفِقَانِ جَمِيْعًا فَمَا خَرَجَ فَهُوَ بَيْنَهُمَا، وَرَأَى ذٰلِكَ الزُّهْرِيُّ وَقَالَ الْحَسَنُ : لَا بَأْسَ أَنْ يَجْتَنِيَ الْقُطْنَ عَلَى النِّصْفِ.

[رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ فِيْ صَحِيْحِهٖ : ۱/۳۲۳]

په مدینه کښے هیڅ هجرت والا کور نشته مګر هغوی په دریمه او څلورمه برخه باندے زمیداری کوی. او مزارعه کړے علی ﷺ، سعد بن ابی وقاص ﷺ، عبد الله بن

مسعود ﷺ، عمر بن عبد العزيزؒ، قاسمؒ، عروهؒ، آل ابى بكر، آل عمر، آل على، ابن سيرينؒ. او عبد الرحمن بن اسودؒ وئيلى دى: ما به د عبد الرحمن بن يزيدؒ سره په فصل كښې شركت كولو. او عمر فاروق ﷺ د خلكو سره معامله وكړه پدې شرط چه كه عمر ﷺ تخم راوړو نو د هغۀ به نيمائى برخه وى او كه خلكو تخم راوړو نو هغوى دپاره به دومره دومره وى. او حسنؒ وئيلى دى: باك نشته چه زمكه د دواړو نه د يو تن وى او دواړه پرې خرچه كوى نو څه چه راووځى هغه به د دواړو ترمينځ شريك وى. او دا رايه د امام زهرىؒ ده، او حسنؒ وئيلى دى: باك نشته چه مالوچ په نيمائى برخه راوشوكوى.

او شيخ الاسلام ابن تيميهؒ په خپله فتاوى كښې فرمائى: هركله چه ټول مهاجرين زميدارے (يعنى مزارعے) كوىؒ او خلفاء راشدين او لوى لوى صحابه كرام ﷺ او تابعين عظامؒ چه هيڅوك پكښې انكار نكوى نو ددے نه بله لويه اجماع نشته، بلكه په دنيا كښې كه اجماع وى نو همدا به وى. انتهىٰ.

او دا قول د ټولو محدثينو دے، دارنګه دا قول د امام احمدؒ، اسحاقؒ، صاحبينوؒ، بخارىؒ، ابن المنذرؒ، ابن خزيمهؒ، خطابىؒ، او شيخ الاسلام ابن تيميهؒ او ډيرو احنافوؒ دے.

(مجموع الفتاوى: ۲۹/ ۹۰) وإعلام الموقعين: ۱/ ۲۷٦، وفى ۲/ ۳۲۸، والطرق الحكمية ص: ۲۸٦، وزاد المعاد: ۲/ ۷۷، وتهذيب السنن: ۵/ ۵٦، ٦۲، ٦٦).

**اختلاف**: بيا په دے كښې هم اهل علمو اختلاف كړے چه يو تن بل ته ووائى: [أَعْطَيْتُكَ هٰذِهِ الْأَرْضَ لِلزِّرَاعَةِ عَلَى أَنَّ ثُلُثَ الْخَارِجِ أَوْ رُبُعَهُ أَوْ نِصْفَهُ لِي وَالْبَاقِي لَكَ]

ما دا زمكه تا ته د كروندے دپاره دركړه پدے شرط چه ددے د حاصل دريمه يا څلورمه يا نيمائى برخه به زما وى او باقى به ستا وى.

ددے په جواز او عدم جواز كښې څلور اقوال دى:

(۱) اول قول دا دے چه دا مطلقاً جائز دے. او دا مذهب د امام احمدؒ او ابو يوسفؒ او محمدؒ دے او بعض شوافعوؒ غوره كړے لكه ابن المنذرؒ او خطابىؒ او ماوردىؒ كما فى مغنى المحتاج [۲/ ۳۲٤] او دا قول د على بن ابى طالب ﷺ، عبد الله بن مسعود ﷺ، سعد ﷺ او عمر بن عبد العزيز ﷺ او قاسم بن محمدؒ او عروه بن الزبيرؒ او آل ابى بكرؒ او آل على او ابن سيرينؒ، سعيد بن المسيبؒ، طاووسؒ، عبد الرحمن بن الاسودؒ، زهرىؒ، عبد الرحمن بن ابى ليلىٰؒ دے، او دا د معاذ ﷺ او حسنؒ او عبد الرحمن ين يزيدؒ او ډيرو

علماؤ نه نقل شوی دے کما فی المغنی لابن قدامهؒ [۵/۴۱۶] او دا قول ابن حزمؒ په محلی کښے غوره کړے۔

(۲) قول : مزارعه مطلقاً ناجائز ده۔ او دا قول د ابوحنیفهؒ او زفرؒ دے، او دا د عکرمهؒ او مجاهدؒ او نخعیؒ نه نقل دے کما فی المغنی۔

(۳) قول : مزارعه په شروطو سره جائز ده، او دا مذهب د امام شافعیؒ دے، شرطونه ئے دا دی : (۱) مزارعه به د مساقاة په ضمن کښے وی، یعنی د باغ د ونو په مینځ مینځ کښے به زمکه د زراعت دپاره فارغه وی نو هرکله چه د مساقات عقد کوی نو د هغے په تابعداریٔ کښے د مزارعے عقد هم جائز دے۔ (یواځے مزارعه باندے عقد جائز نۀ دے)

(۲) دویم : په هر یو د مزارعه او مساقات کښے به عامل یو وی۔ (۳) د مساقات او مزارعے دواړو عقد به یو بل سره متصل وی، مثلاً که مساقات ئے په نصف باندے کولو او هغه ئے قبول کړو او بیا ئے په خالی زمکه باندے د مزارعے عقد کولو نو دا صحیح نۀ ده ځکه چه تعدد د عقد تبعیت زائله کوی۔ (۴) څلورم شرط : مزارعه به په مساقات باندے په عقد کښے نۀ مقدم کوی۔ (۵) پنځم : کهجورے خړوبه کول او خالی زمکه د آبادیٔ دپاره جدا کول به مشکل وی۔ (۶) : په مزارعه کښے به تخم په مالك باندے مشروط کولے شی نۀ په عامل باندے۔ او بعضو پکښے (۷) اُوم شرط هم وئیلے دے چه د زمکے خالی والے به د ونو والا زمکے په نسبت کم وی۔ لیکن ډیره صحیح د هغوی په نیز دا ده چه دا شرط ضروری نۀ دے۔

(المنهاج للنوویؒ وشرحه مغنی المحتاج للخطیب الشربینیؒ [۲/۳۲۳ الی ۳۲۵]

(۴) مذهب د امام مالكؒ دا دے چه مزارعه به په ضمن د مساقات کښے وی خو پدے شرط چه سپینه زمکه به د ونو کرلے شوے زمکے د دریمے برخے نه زیاته نۀ وی۔ د شافعیؒ او د مالكؒ د مذهب ترمینځ معمولی فرق دے، دواړه په مزارعه کښے دا شرط وائی چه دا به د مساقات په ضمن کښے وی او د هغے تابع به وی۔ البته مالكؒ وائی چه خالی زمکه به په بوټو باندے د مصروفے زمکے نه کمه وی۔ او امام شافعیؒ په خپل اصح قول کښے دا شرط نۀ وائی۔ حاصل دا شو چه د ابوحنیفهؒ، مالكؒ او شافعیؒ په نیز مزارعه په یوه شائعه حصه باندے منع ده، بیا مالكؒ او شافعیؒ ئے په ضمن د مساقات کښے جائز ګڼړی او ابوحنیفهؒ ئے مطلقاً منع ګڼړی۔

د ابوحنیفهؒ دپاره **دلیل** هغه حدیثونه دی چه په هغې کښې منع د مخابرې او مزارعې راغلې ده لکه دې حدیث الباب کښې (کِرَاءُ الارض بالثلث والربع) لفظ راغلی دې۔ چه په معیّنه حصه باندې هم ناروا ګرځیدلې ده۔ او د اول قول والو دپاره دلیل هغه احادیث دی چه په هغې کښې جواز د مزارعې ذکر دې، لکه حدیث د رافع بن خدیج ﷺ مخکښې ذکر شو۔ [فَامَّا بِالْوَرِقِ فَلَمْ يَنْهَنَا] چه په پیسو باندې ئې مزارعه نهٔ ده منع کړې۔ دارنګه رسول الله ﷺ خیبر والو ته په مخابره او مزارعه باندې زمکې ورکړې دی۔ لهذا د دارو حدیثونو په ظاهره کښې تعارض راغلو نو ددې **تطبیق** په لاندې ډول دې :

(۱) یو دا چه کومو احادیثو کښې منع راغلې ده نو هغه د مزارعې د یو خاص صورت سره تعلق لری لکه زمکه د حاصل په یوه معلومه اندازه باندې ورکول چه شائع نهٔ وی (یعنی یو طرف ورته متعین کړی چه مثلًا په مشرقی طرف ځائے کښې ځلورمه یا نیمه یا دریمه برخه شوه) لکه دا حدیث الباب هم دغې ته اشاره کوی۔ یا ورته ووائی چه دا طرف ما له کره او دا بل طرف ځانله کره۔ نو داد جوارئ سره مشابه ده۔ او دې ته حدیث د رافع بن خدیج ﷺ اشاره کوی کما رواه مسلم : ۲/۱۳].

علامه شوکانیؒ وائی دا حدیث د رافع ﷺ دلیل دې چه هغه مخابره حرامه ده چه هغه غرر او جهالت او جګړو ته رسیږی۔ او پدې باندې ټول هغه احادیث حمل دی چه په نهی د مزارعه کښې راغلی دی۔ نهٔ په هغه مخابره چه رسول الله ﷺ په خیبر کښې کړې وه۔ [نیل الاوطار : ٦/۱۳]

(۲) **تطبیق** : نهی والا احادیث په تنزیه، یا په ارشاد او مشوره باندې محمول دی، نهٔ په تحریم باندې۔ پدې باندې دلیل د بخاری : ۱/۳۱۳، رقم (۲۳۳۰) روایت دې :

عَنْ عَمْرٍو قُلْتُ لِطَاوُسٍ : لَوْ تَرَكْتَ الْمُخَابَرَةَ فَإِنَّهُمْ يَزْعُمُونَ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ نَهٰى عَنْهُ ! قَالَ : أَىْ عَمْرُو ! فَإِنِّي أُعْطِيهِمْ وَأُعِينُهُمْ وَإِنَّ أَعْلَمَهُمْ أَخْبَرَنِي يَعْنِي ابْنَ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ لَمْ يَنْهَ عَنْهُ، وَلٰكِنْ قَالَ : إِنْ يَّمْنَحْ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَّأْخُذَ خَرْجًا مَعْلُومًا. (وَسَيَأْتِي فِي المشكاة : ۱/۲۵۷).

عمروؒ وائی : ما طاووسؒ ته وویل : که تهٔ مخابره پریدې (نو ښه به وی) ځکه چه خلك وائی چه نبیﷺ ددې نه منع فرمائیلې ده۔ هغهٔ وفرمایل : اے عمرو! زهٔ به دوئ ته ورکړه

کوم او مدد به ورسره کوم او ما ته د خلکو نه زیات عالِم یعنی ابن عباس ﷺ خبر راکړے چه نبی ﷺ ددے نه منع نۀ ده فرمائیلے لیکن هغۀ فرمائیلی دی: که یو تن ستاسو خپل ورور ته د احسان په توګه ورکړی دا به د هغۀ دپاره ډیره بهتره وی ددے نه چه د هغۀ نه معلومه برخه واخلی۔

(۳) دا چه د نهی احادیث منسوخ دی د جواز په احادیثو سره ځکه چه: [عَامَلَ النَّبِیُّ خَیْبَرَ بِشَطْرِ مَا یَخْرُجُ مِنْهَا مِنْ ثَمَرَةٍ أَوْ زَرْعٍ] نبی ﷺ د خیبر زمکه په نیمائی فصل او نیمائی کهجورو باندے یهودیانو ته ورکړے وه۔ [البخاری رقم: ۲۳۲۹]

او په مزارعه باندے خلفاء راشدینو ﷺ عمل کړے نو دا عمل د نهی دپاره ناسخ دے، که چرته خبره د نسخ وشی۔

شوافع او مالکیهٔ د خیبر د واقعے متعلق د راغلو احادیثو نه دا جواب ورکړے چه دا مزارعه د مساقات په ضمن کښے وه، او دا جائز ده۔ او احنافو جواب ورکړے چه دا نبی ﷺ د خیبر په یهودیانو خراج المقاسمه لګولے وو، او دا مزارعه نۀ وه، یعنی د تقسیم تیکس وو، چه تاسو دا پټی کرئ او ستاسو تیکس دا شو چه نیمائی به مونږ له راکوئ۔ لیکن دا تاویل صحیح نۀ دے ځکه چه خراج المقاسمه په هغه زمکه کښے راځی چه هغه د کافرانو ملکیت وی، او مسلمان ورته ووائی چه دا زمکے ستاسو دی خو مونږ له به دومره دومره مال راکوئ، او دلته خو د خیبر زمکه په اتفاق د مسلمانانو سره د مسلمانانو ملکیت ته راغله لکه پدے باندے ډیر روایات دلالت کوی۔ او د مسلمانانو په زمکه باندے خراج نۀ وی بلکه عُشر وغیره وی۔ نو ثابته شوه چه مزارعه کول بیخی جائز دی۔ او پدے باندے د امت متواتر تعامل راروان دے۔ وانظر: [الکوکب الوهاج شرح مسلم بن الحجاج ۱۷/۱۲۹]

## د ثنیا او معاومه بیعے نه منع

2836 (3) وَعَنْهُ ﷺ قَالَ: نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمُحَاقَلَةِ وَالْمُزَابَنَةِ وَالْمُخَابَرَةِ وَالْمُعَاوَمَةِ وَعَنِ الثُّنْيَا وَرَخَّصَ فِي الْعَرَايَا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ

**ترجمه:** او جابر ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ د محاقلے او مزابنے او مخابرے او معاومے

او د ثنيا نه منع فرمائيلے ده او په عراياؤ كښے ئے اجازت وركړے۔ (مسلمؒ)

**تشريح** : وَالْمُعَاوَمَةِ : دے ته په بل روايت كښے بيع السنين وئيلے شويده۔ دا ميوه خرڅول دي د ډيرو كلونو دپاره۔ دوه كاله درے كاله وغيره۔ لكه ددے وضاحت په روايت د مسلمؒ كښے همداسے راغلے دے۔ او ددے د منع وجه ښكاره ده، چه دا ميوه خرڅول دي مخكښے د پيدائش نه او ميوه د پخلي نه مخكښے خرڅول ناجائز دي نو د پيدائش نه مخكښے به خو په طريق اولىٰ باندے ناجائز وي۔ او بله دا چه دا بيع مجهوله ده، پته نۀ لګي چه د راتلونكي كال ميوه جات كيږي او كه نۀ۔ نو دا داسے بيعه ده چه د انسان په قدرت كښے ددے سپارل نشته۔ او دا بيعه د معدوم ده۔ او د بائع په ملكيت كښے نشته۔ (شرح مسلم)

دا بيعه هله ناروا ده چه يوه ونه معينه كړي يا يو باغ معين كړي او د هغے ميوه خرڅه كړي۔ او كه چرته تعيين ونكړي او صرف ميوه جات ذكر كړي چه پيسے مخكښے واخلي او مشتري ته ووائي چه داسے ميوه به درته په فلاني تاريخ سپارم نو بيا جائز ده، او هغے ته بيع السلم وائي۔ او دے نه بعض علماء داسے تعبير كوي چه بيع الاعيان د ډيرو كلونو دپاره ناروا ده او بيع الصفات جائز ده۔ [معالم السنن للخطابي ۲/ ۶۷۰]۔

وَعَنِ الثُّنْيَا : ثنيا : استثناء او رجوع ته وائي۔ او په روايت د ترمذي كښے دي : عَنْ جَابِرٍ ﷺ : نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنِ الثُّنْيَا إِلَّا أَنْ يُعْلَمَ (۲/ ۲۶) صحيح الترمذي وإسناده صحيح.

په بيع كښے د استثناء صورت دا دے چه د خپل باغ ميوه خرڅه كړي او د هغے نه په اټكل سره نامعلومه برخه مستثنىٰ كړي۔ نو كه چرته يوه معلومه برخه مستثنىٰ كړي مثلًا داسے ووائي چه [بِعْتُكَ هٰذِهِ الْأَشْجَارَ إِلَّا هٰذِهِ الشَّجَرَةَ أَوْ رُبُعَهَا] دا باغ مے درباندے خرڅ كړو سوىٰ د فلانئ فلانئ ونے نه۔ يا څلورمه برخه يا دريمه برخه ذكر كړي، نو دا په اتفاق د علماؤ سره جائز دے، او دا حديث د ترمذي پرے دليل دے۔ يا دا ګډ مے درباندے خرڅ كړو خو سوىٰ د سر نه۔ دا هم معلومه برخه شوه۔

مطلب دا چه داسے تعيين وكړي چه په هغے كښے جګړه نۀ واقع كيږي۔ كه داسے ووائي چه دا باغ مے درباندے خرڅ كړو سوىٰ د لسو ونو نه۔ نو دا صحيح نۀ ده ځكه چه په دغه لسو ونو كښے جګړه واقع كيږي، بائع به اُوړدے او ډكے ونے مراد وي او مشتري به ورته وړے او كمے ميوے والا ونے وركوي۔

او دغه حال د هغه ډهیری هم دے چه کله د هغے اندازه معلومه وی نو د هغے نه یوه معلومه حصه مستثنیٰ کړی لکه داسے ووائی : دا ډهیرے د کهجورو یا وڅکو یا غنمو مے دربانده خرڅ کړو سوئ د درے (۳) صاعو نه۔ دا هله چه ټول کهجورے او وڅکے او غنم یو شان وی، کما فی شرح السنة (۸/۸۵، وشرح مسلم : ۱۰/۱۹۵وفتح ذی الجلال ۳/۵۷٤) ۔ او نامعلومه برخه مستثنیٰ کول صحیح نهٔ دی ځکه چه دا په بیع کښے جهالت پیدا کوی او سبب د جګړو ګرځی۔

- مالکیهٔ وائی : په بیع الثنیا کښے دا هم داخله ده چه بائع مشتری ته ووائی : مَتٰى أَتَيْتُكَ بِالثَّمَنِ عَادَ الْمَبِيعُ لِيْ ۔ هرکله چه ما تاته رقم بیرته واپس راوړو نو سودا به ما ته واپس کیږی۔ دا هم باطله بیعه ده۔ البته که مشتری ئے ورته په خپله خوښه واپس کوی نو بهتره ده۔ شرح الزرقانی علی مختصر خلیل : ۳/۸۷۔

او ددے بل صورت دا دے چه مشتری ووائی : [اِنْ لَمْ آتِكَ بِالثَّمَرِ يَوْمَ كَذَا فَلَا بَيْعَ بَيْنِيْ وَبَيْنَكَ]۔ که ما تا ته په فلانئ ورځ باندے میوه رانهٔ وړه نو زما او ستا ترمینځ به سودا نهٔ وی۔ مګر بعض علماء دا جائز ګنړی ځکه چه دا د بیع الخیار یو قسم دے۔ وهو الراجح۔

## د بیع عرایا حکم

2837 (4) وَعَنْ سَهْلِ بْنِ أَبِيْ حَثْمَةَ ﷺ قَالَ : نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ **عَنْ بَيْعِ التَّمْرِ بِالتَّمْرِ إِلَّا أَنَّهُ رَخَّصَ فِي الْعَرِيَّةِ** أَنْ تُبَاعَ بِخَرْصِهَا تَمْرًا يَأْكُلُهَا أَهْلُهَا رُطَبًا . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

**ترجمه :** سهل بن ابی حثمه ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ کهجورے په کهجورے خرڅولو نه منع فرمائیلی ده، البته هغهٔ په عریه کښے آسانی ورکړے، هغه دا چه دا ډِے په اټکلی اندازے لګولو سره په اُوچو کهجورو سره خرڅه کړے شی، چه د هغے کور والا ئے تازه وخوری۔ (یعنی چه کور والا دے اندازے سره اوچے کهجورے ورکړی او خوراك دپاره ترے تازه کهجورے حاصلے کړی)۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

**تشریح :** [رَخَّصَ] په یو روایت کښے (اَرْخَصَ) لفظ دے۔ رخصت په اصل کښے یُسر او سهولت ته وائی۔ او د اصولینو په نیز د یو ضروری کار په کولو یا پریښودلو کښے نرمی پیدا کول۔ [فِی الْعَرِيَّةِ] دلته دوه مضافه حذف دی، أَیْ : فِیْ بَيْعِ ثَمَرِ الْعَرِيَّةِ (د عرایا د

میوې په خرڅولو کښې) او د عريّة جمع عَرَايَا ده، د کهجورې هغه وُنه چه د هغې مالك د هغې میوه کوم محتاج ته ورکړي. د عربو دا عادت وو چه هغوئ به د قحط په زمانه کښې هغه چاته ددې وُنې میوه ورکوله چه هغۀ به میوه نۀ لرله. عریه ورته ځکه وائي چه دا د عَرَى يَعْرُوْ نه دې، خالي کیدو او یواځې کیدو ته وائي، دیته ځکه عريه وائي چه دا د خپلو نورو ملګرو وُنو نه جدا کولې شي چه د هديئې په توګه ددې میوه چاته ورکولې شي او اصل وُنه د مالك وي. (يعني سوالي ونه او د عاریه په طور ورکړې شوې ونه) دلته د (عرية) نه مراد: بَيْعُ رُطَبٍ فِيْ رُؤُوْسِ نَخْلِهِ بِتَمْرٍ كَيْلًا دې. (يعني د کهجورې په وُنه کښې تازه کهجورې په اوچو کهجورو خرڅول، په داسې حال کښې چه اوچې کهجورې پیمانه کړې شوې وي، او تازه کهجورې په اټکل اندازه کړې شوې وي)

[بِخَرْصِهَا] خرص تقدير او اندازې لګولو او اټکل وینا ته وائي، يعني د تللو او پیمانه کولو نه بغير د يو شي اندازه لګول چه دا به دومره کیلو او دومره دړئ وي. دلته مراد دادې چه د لوندو کهجورو اندازه په اوچو کهجورو سره لګول، هغه داسې چه اندازه لګونکې ووائي: په بوټي کښې دا تازه کهجورې چه کله اوچې شي نو ددې نه تقريبًا پنځوس صاعه يا (۵۰، ۱۱۲) کیلو جوړیږي، نو اخستونکې به دغه کهجورې په دې اندازه واخلي، او خرڅونکې به هغۀ ته هغه وُنه ورکړي چه په هغې کښې دا اندازه تازه کهجورې وي. په دې کښې دا شرط دې چه په مجلس کښې به دننه قبض کوي، په وُنه کښې به کهجورې داسې قبض کولې شي چه خرڅونکې به اخستونکي ته ددغه وُنې کهجورې پریدي، او ددې په عوض کښې چه کومې چوارې دي هغه به وتلي او قبض به ئې کړي. [كَيْلًا] يعني اوچې چوارې چه په تازه کهجورو خرڅولې شي نو په دې کښې شرط دادې چه دا به پیمانه کولې شي. [ بِخَرْصِهَا تَمْرًا] يعني دا اندازه به لګوي چه دا تازه کهجورې چه کله اوچې شي نو دومره جوړیږي. [رُطَبًا] د پخیدو نه واخله تر او چیدو نه مخکښې پورې تازه کهجورې.

[بِخَرْصِهَا] : دا لفظ د خاء په زير سره دې، په معنیٰ د مَخروص سره. يعني اندازه کړې شوې شې. او په زبر د خاء سره، اندازه کولو او تخمين لګولو ته وائي.

## د عریّه مطلبونه او تفسیرونه

(۱) عریو به د قحط او وچ کالئ په زمانه کښې فقیرانو او مسکینانو له د خپلو باغونو د وُنو میوې په صدقه کښې ورکولې، او دا به ئې ورته وئیل چه د فلانئ وُنې کهجورې ستا شوې. په دې طریقه سره چه کومه وُنه په عطیه او بخشش کښې ورکړې شي هغې ته به ئې ((عریه)) وئیله. ددې په خرڅولو کښې د اجازت معنیٰ داده چه فقیران به د خپل حاجت په وخت دې باغونو ته ننوتل او ددې وُنو میوې به ئې خوړلې او په باغ کښې به د مالك ښځه او بچي هم وو، دې وجې نه د دوئ په راتلو سره به د باغونو مالکانو ته تکلیف وو. (ب) یا به داسې وشوه چه فقیرانو او مسکینانو به د خپلو ضرورتونو په وجه د هغې د پخیدو انتظار نۀ کولو نو دوئ به خپله برخه میوه خرڅوله حالانکه میوه به لا په وُنو کښې وه او ددې په بدله کښې به ئې اوچې کهجورې اخستلې.

(ج) دارنګه د باغونو مالك به د فقیرانو د هرې ورځې راتګ نه د خلاصئ دپاره د مسکینانو نه هغه کهجورې اخستلې کومې به چه په وُنو کښې وې او ددې په عوض کښې به ئې ورته اُوچې کهجورې ورکولې. دا سودا بعینهٖ [بَيْعُ الْمُزَابَنَة] ده، (او بیع المزابنه خو حرامه ده) کله چه رسول الله ﷺ بیع المزابنه منع کړه نو د ضرورت او حاجت پوره کولو په غرض ئې په بیع العرایا کښې اجازت ورکړو، په دې شرط چه په دې بوټو کښې چه کومې تازه کهجورې وي د هغې اندازه دِې ولګوی او د هغې په عوض کښې دِې اوچې کهجورې په ناپ سره ورکړي. او په همدې مجلس کښې به بائع اُوچې کهجورې او مشتري تازه کهجورې قبض کړي. او د راتلونکې حدیث مطابق په دې کښې دا شرط دې چه د پنځو وسقو نه به کم وي.

(د) علامه ابن الأثیرؒ فرمائي: کله چه نبي ﷺ د مزابنې نه منع وکړه نو په عرایا کښې ئې اجازه وکړه، او هغه دا چه کله به فقیرانو د تازه کهجورو موسم لاندې کړو او د هغوئ سره به نقدې روپئ نۀ وې چه بچو له پرې تازه کهجورې واخلي او نۀ به ئې د کهجورې خپلې وُنې وې چه د هغې نه تازه کهجورې پرې وخوروی، البته چوارې به ورسره پرتې وې، نو دا کس به کهجورو والا ته راغې او هغۀ ته به ئې ووئیل: ماله ددې اُوچو کهجورو په عوض د یوې وُنې دوه وُنو تازه کهجورې راکړه، نو هغۀ به په دغه وچو کهجورو باندې د

دغه ونو تازه ميوه واخستله او د خلکو سره به ئے تازه کهجورے خوړلے، نو نبی ﷺ په دے کښے په دے شرط رخصت ورکړو چه پنځو وسقو ته به نۀ وی رسيدلی۔

[النهاية : ۳/۲۲٤، بتصرف يسير]

لکه په روايت د ترمذی کښے دی : يحيى بن سعيدؒ وائی : [اَلْعَرِيَّةُ : أَنْ يَّشْتَرِيَ الرَّجُلُ ثَمَرَ النَّخْلَاتِ لِطَعَامِ أَهْلِهِ رُطَبًا بِخَرْصِهَا تَمْرًا] عريه دے ته وائی چه يو تن د خپل اهل د طعام دپاره د کهجورے تازه ميوے د اُوچو کهجورو په بدله کښے په اټکل سره واخلی۔

2838 ( 5 ) - وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ رَخَّصَ فِي بَيْعِ الْعَرَايَا بِخَرْصِهَا، فِيمَا دُونَ خَمْسَةِ أَوْسُقٍ، أَوْ فِي خَمْسَةِ أَوْسُقٍ۔ شَكَّ دَاوُدُ بْنُ الْحُصَيْنِ۔ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

**ترجمه :** ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دے چه بيشکه رسول الله ﷺ د عرايا ونو په خرڅولو کښے رخصت په دے طريقه ورکړے چه تازه کهجورے د اُوچو کهجورو په بدله کښے اندازے سره خرڅے کړے شی، په دے شرط چه دا د پنځو وسقو نه کم وی يا پنځه وسقه وی۔ (بخاریؒ، مسلمؒ)۔

**تشريح :** [خَمْسَةِ أَوْسُقٍ] پنځه ګيډی، يو وسق شپيتۀ صاعه وی نو پنځه وسقه درے سوه صاعه شول، او يو صاع تقريبًا پاؤ باندے دوه کيلو وی، نو دا (٦٧٥) کيلو شو۔ نو دا ديارلس سوه پنځوس دړئ (۱۳،۵۰) او د منونو په لحاظ سره ديارلس نيم منه شول۔ او چه د پنځو وسقو نه زيات وی نو دا په خپل اصل (تحريم) باندے پاتے دی۔ [أَوْ فِي خَمْسَةِ أَوْسُقٍ] په دے کښے د راوی (داؤد بن الحصين) شك دے چه زما استاذ کوم يو لفظ وئيلے۔

**فوائد الحديث :** (۱) حديث نه ثابته شوه چه په بوټی کښے تازه کهجورے په اوچو کهجورو خرڅول حرام دی، ديته بيع المزابنه وائی، او دا په اتفاق د علماؤ سره ممنوع سودا ده۔ يعنی په ونه کښے تازه کهجورے په اُوچو پيمانه کړے شوو کهجورو سره خرڅول، دا د ربا په وجه حرام دی، او ددے حرمت دليل دلته د [رَخَّصَ] لفظ دے۔ يعنی اصل دا ده چه دا قسم سودا حرامه ده۔ (۲) ليکن د ضرورت په وجه په بَيْعُ الْعَرَايَا کښے رخصت او اجازت ورکړے شو، او دا د بَيْعُ الْمُزَابَنَة نه مستثنیٰ شوے ده ځکه په بوټی کښے تازه کهجورے په اوچو کهجورو باندے د خرڅولو په وخت کښے د دواړو عوضونو

مساوات په دوو وجو سره پټ دے : (**یو**) دا چه : دا سودا اټکلی شوے۔ (**دویم**) یو عوض تازه او بل عوض اوچ دے، او مخکښے تیر شو چه [اَلْجَهْلُ بِالتَّسَاوِیْ کَالْعِلْمِ بِالتَّفَاضُلِ] یعنی د مساوات نه ناخبرتیا داسے ده لکه د زیادت نه خبرتیا۔

(۳) د عرایا بیعے حلالوالے د اسلام د یُسر او سماحت (آسانئ او سهولت) دلیل دے چه په دے کښے د خلکو د جائز رغبتونو قدر شوے، وجه داده چه کله د تازه کهجورو وخت راشی، خلك تازه کهجورے خوری او هر چاسره پیسے نهٔ وی چه تازه کهجورے پرے واخلی، او کله داسے وشی چه ددهٔ سره د تیر کال چوارے پرتے وی، نو شارع خلکو له دا اجازت ورکړو چه دوئ په دے اُوچو کهجورو سره تازه کهجورے واخلی او د نورو خلکو پشان په موسم کښے تازه کهجورے وخوری۔ خو په دے کښے شرط دادے چه په دواړو عوضینو (تازه او اُوچو) کښے به تقریباً مساوات وی، هغه داسے چه تازه کهجورے به اوچو کهجورو ته په اندازے لګولو سره واړول شی او بیا به ددے په مقابله کښے اوچے کهجورے پیمانه کړے شی او یا به وتلل شی، او بیا به په دے تازه کهجورو سره خرڅے کړے شی۔ (٤) حدیث نه ثابته شوه چه په عریه کښے دا رخصت ورکول د هغه چا دپاره دی چه د تازه والی په حالت کښے کهجورے خوری، ځکه حدیث کښے دا الفاظ دی : [یَأْکُلُوْنَهَا رُطَبًا] دے وجے نه عریه تازه خوړل ضروری دی، اوکه مشتری دا تازه وانهٔ خسته نو دا سودا باطله ده ځکه په دے صفت باندے ددے اخستل ددے دپاره وو چه ددے خوړلو ته حاجت دے۔ البته امام شافعیؒ فرمائی : دا سودا باطله نهٔ ده ځکه اعتبار د اخستو حالت لره دے۔ (یعنی کله به ئے ضرورت روستو راځی، یا به دغه وخت کښے لړے شان وخوری باقی به ځانله وساتی) او همدا قول ظاهر دے، ځکه چه د رخصت همدا معنیٰ ده۔

(۵) د سهل بن ابی حثمه ﷺ حدیث په عرایا کښے مطلق راغلے، په دے کښے د عرایا هیڅ اندازه نهٔ ده مقرر شوے۔ لیکن د ابو هریره ﷺ په حدیث کښے د عرایا جواز د پنځو وسقو نه په کمو کښے ورکړے شوے، دا دواړه حدیثونه چونکه په یوه موضوع کښے راغلی، او دا رخصت یو دے خو چا مطلق روایت کړے او چا مقید، دے وجے نه دغه مطلق حدیث به په مقید باندے حملولے شی، او عرایا به د پنځو وسقو نه په کمو کښے جائز ګنړلے شی۔ او پنځو وسقو ته به نشی رسولے ځکه په دے لفظ کښے د راوی شك

دے [أَوْ فِيْ خَمْسَةِ أَوْسُقٍ] نـو شك بـه پـريښـودلے شي او په يقين به عمل كولے شي او د پـنځو وسقو نه په كمو كښې به دا كار جائز ګڼړلے شي - يعنى كه څلور وسقه وى نو جائز به وى- **حكمت** : ددے حـكـمت دا دے چه غالباً په پنځه وسقو سره ضرورت پوره كيږى، او كـوم شـے چـه د ضـرورت پـه وجه جائز وى نو هغه به د ضرورت د پوره كيدو په اندازه بـانـدے كـولے شـى- دارنـګـه د خلكو عادت جارى دے چه عريه ددے نه په زياتو كښے نهٔ كوى، يعنى دومره اندازه كهجورے فقراؤ ته وركوى-

**آيا عريه صرف په كهجورو كى راځى ؟**

(۶) د حديث د ظاهر نه معلوميږى چه ((عريه)) كهجورو پورے خاص ده، په نورو ميوو كښے دا حـكـم نشتـه ځكه په كهجورو كښے چه كومه خوراكه ده او په دے كښے چه كوم پـه آسانئ سره اندازه لګول دى نو هغه په نورو كښے نشتـه- او دا د جمهورو علماؤ قول دے- بـعـضِ عـلـمـاؤ ورسره صرف پـه انـګورو كښے جارى كړے ځكه دا د كهجورو سره مشابه دى (شافعيؒ، مالكؒ في رواية، واختاره النوويؒ) او بعضِ علماؤ په ټولو ميوو كښے جارى كـړے- دوئ وائـى : د هر ښار والـو دپاره خپـله خپـله ميوه ده، د مدينے والو ميوه كهـجورے دى او په دے كښے **حكمت** هـم دادے چـه انسـان د نـورو خلكو سره په شريكه تـازه مـيـوه استـعـمـال كړى نو كه تازه ميوه هره يوه وى نو په هغے كښے به عريه جوړول جائز وى- او دا قول شيخ الاسلام ابن تيميهؒ اختيار كړے- [الانصاف: ۵/۳۳]

او دا حـكـم د ټولو ميوو او فصلونو دے چه دا د مزابنه په شكل باندے خرڅول صحيح نهٔ دى صرف عرايا ددے نه مستثنىٰ شوے-

(۷) دا خـو پـه بـوټـى بـانـدے د تازه كهجورو اخستو حكم شو، اُوس كه تازه كهجورے پـريـكـړے شى او پـه زمـكـه پـريـوتے وى، نـو ددے خرڅول به صحيح وى اوكه نه ؟ نو د جـمهورو علماؤ په نيز په دے دواړو كښے فرق نشتـه- او بعضِ علماء فرمائى چه رخصت صـرف ذوُنے په بوټى كښے وركړے شوے چه دا وخت په وخت خوړل كيږى- او كـومے چه راپـريـكـړے شى نو په دے كښے رخصت نشتـه- ظاهر قول د جمهورو دے ځكه كله ددے پـريـكـړے شـوو كـهـجـورو اخستـو تـه هـم حاجت راځى، او ددے دواړو كهجورو حكم يو كيـدل د قياس په وجه نهٔ دى بلكه د حديث د لفظ د عموم په وجه دى-

(۸) حـديـث نه معلومه شوه چه كله په يقين باندے عمل كول ګران شى نو بيا به ددے

په ځائے په غالب گمان عمل کولے شی، لکه د کهجورے په وُنه کښے د کهجورے اندازه په شرعی پیمانے (کیل یا وزن) سره لګول ګران دی، دے وجے نه دلته به په خرص او اندازے لګولو اکتفاء کولے شی۔ او دا خرص او اندازه به هغه څوك لګوی چه هغه پوهه او تجربه کار کس وی۔ (۹) هر کله چه عرايا خلاف الأصل بيع ده، دے وجے نه علماؤ په دے کښے یو څو شرطونه لګولی چه په هغے کښے ځینے شرطونه ددے د احادیثو نه معلوم دی او ځینے د ربا د عامو احادیثو نه معلوم دی۔

او هغه **شرطونه** دادی: **(اول)** مشتری به تازه کهجورو ته حاجت لری۔ **(دویم)** هغهٔ سره به نقدے پیسے نهٔ وی چه تازه کهجورے پرے واخلی بلکه هغهٔ سره به اوچے کهجورے وی، ځکه عریه د حاجت په وجه جائز شوے او کله چه انسان سره نقدے پیسے وی نو په دے کښے بیا حاجت نشته۔ **(دریم)** د پنځو وسقونه به کمے وی۔

**(څلورم)** د جدا کیدو نه مخکښے به دواړه عوضونه قبض کولے شی، چوارے به پیمانه کړے شی او د کهجورے وُنه به ورته حواله کړے شی، ځکه دا کهجورے په کهجورو خرڅول دی نو په دے کښے به ددے شرطونه معتبر وی چه یو د هغے نه په مجلس کښے قبض کول هم دی۔ **(پنځم)** چوارے (اوچے کهجورے) به پیمانه کولے یا تللے شی، او په اټکل سره به نشی ورکولے۔ ځکه اصل دا وه چه دواړه عوضونه پیمانه کړے شوی وے لیکن په یو عوض کښے پیمانه کول ګران دی، دے وجے نه هغه بل عوض به په خپل اصل باندے پاتے وی۔

(۵) بعضو دا شرط وئیلے چه بیرته به ئے په مالك باندے خرڅوی۔ لیکن دا شرط ضروری نهٔ دے۔

(۱۰) دے حدیث نه د شرعی قاعدے دپاره دلیل ملاؤ شو، هغه دا چه: [مَا حُرِّمَ تَحْرِيمَ الْوَسَائِلِ فَإِنَّهُ يُبَاحُ عِنْدَ الْحَاجَةِ وَالْمَصْلَحَةِ] یعنی کوم شے چه د وسیلے او ذریعے په توګه حرام شوے وی نو هغه د حاجت په وخت حلالیږی۔ او دا ځکه چه تازه کهجورے په اوچو کهجورو خرڅول په دے وجه حرام شوی دی چه دا د ربا الفضل دپاره ذریعه ګرځی (چه دا چوارے په چوارو خرڅول دی) لیکن دا د یو ښکاره مصلحت د وجے حلال شوی دی چه ددے بیان مخکښے تیر شو۔ ددے قاعدے نور مثالونه دادی: د سهار او مازیګر مونځونو نه پس د سببی مونځونو جائز کیدل، سره ددے چه دا مکروه وخت دے۔

دارنګه د نکاح اراده لرونکی، ګواه او طبيب دپاره پردئ ښځې ته کتل او داسې نور۔

(۱۱) د بيع العرايا لفظ نه معلومه شوه چه عريه هبه نۀ ده بلکه دا بيع د ميوې ده په ميوه باندې۔ امام ابوحنيفهؒ ته منسوب دی چه عريه عطيه او هبې ته وائی۔ او په هبه کښې خو رجوع نۀ وی، دارنګه عريه کښې د هبې نه رجوع وی نو بيا به د پنځه وسقو اندازې پورې نۀ خاص کيدې۔ نو عريه هبه نۀ ده، لهذا دا قول د امام ضعيف دې۔ (التوضيح لشرح الجامع الصحيح (للبخاری) لابن الملقن : ۱۴/۴۷۶)

او امام ابوحنيفهؒ دې ته ځکه بيعه نۀ ده وئيلې چه که دا بيعه شي نو بيا خو دا مزابنه ګرځی چه خرخول د ميوې په ميوه دی او دا ناروا ده۔ لهذا وائی چه دا هبه ده۔ ددې تفصيل دا دې چه امام ابوحنيفهؒ د عريه تعريف داسې کړې چه يو تن بل چا ته د خپلو کهجورو نه يو ه ونه ورکړی ليکن لا هغۀ ته ئې سپارلې نۀ وی بيا ورته ښکاره شی چه دا هبه ترې بيرته راواپس کړی نو دۀ ته رخصت ورکړې شوې چه دا کهجورې ونه دِې ځان سره وساتی او ددې کهجورې د ميوې په اندازه دِې ورته نورې اُوچې کهجورې ورکړی، او دۀ دا تعريف پدې وجه کړې چه د بيع الثمر بالثمر نه خو نهی راغلې ده او هغه ئې عامه ګرځولې ده۔ ليکن دا خبره ضعيفه ده ځکه چه دلته (الا العرايا) استثناء ده د بيع الثمر بالثمر نه۔ او دې ته بيعه وئيلې شوې۔ ابن المنذرؒ وئيلی دی کوم پيغمبر چه د مزابنې نه منع فرمائيلې ده هم هغۀ په عرايا کښې رخصت ورکړې نو د رسول الله ﷺ طاعت اولیٰ دې۔ او د نص د وجود په وخت قياس ته رجوع نۀ کيږی، سره ددې نه چه په حديث کښې رخصت لفظ راغلې دې او رخصت ممنوع شې جائز کولو ته وئيلې شی سره د وجود د سبب د منع نه، نو که چرته د اول نه د جواز سبب موجود نشی نو مونږ دپاره به په هيڅ حالت کښې رخصت پاتې نۀ وې۔ (المغنی لابن قدامه : ۶/۱۱۹-۱۲۰)

حاصل دا چه امام ابوحنيفهؒ د مخکنو صورتونو د عراياؤ نه منکر دې او ددې خرڅول جائز نۀ ګنړی۔ [ذخيرة العقبیٰ شرح المجتبیٰ (النسائی) : ۳۴/۲۸۴ - لمحمد الاثيوبی]

د ابوحنيفهؒ اصول دا دی چه قاعدې ته ګوری او استثناء ات نۀ منی۔ لکه دا کارئې په اکثرو ځايونو کښې کړيدې۔ (۱۲) او معلومه شوه چه په بيع العريه کښې اُوچې کهجورې په لمدو او لمدې کهجورې په اُوچو ورکول جائز دی لکه دا خبره د عريه د تفسيرونو نه معلومه شوه۔ والله اعلم۔

## د کچه میوے خرڅولو منع

2839 ( 6 ) – وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ ﷺ: نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ الثِّمَارِ **حَتّٰى يَبْدُوَ صَلَاحُهَا** نَهَى الْبَائِعَ وَالْمُشْتَرِيَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَفِيْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: نَهٰى عَنْ بَيْعِ النَّخْلِ حَتّٰى تَزْهُوَ وَعَنِ السُّنْبُلِ حَتّٰى يَبْيَضَّ وَيَأْمَنَ الْعَاهَةَ.

**ترجمه**: ابن عمر ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ په میوو کښے د صلاحیت (پخلی) ښکاره کیدو نه مخکښے د هغے د خرڅولو نه منع فرمائیلے، خرڅونکے او اخستونکے دواړه ئے منع کړی۔ (بخاریؒ، مسلمؒ)۔ او په یو روایت د مسلمؒ کښے دی: نبی ﷺ د کهجورے د پخلی نه مخکښے د خرڅولو نه منع فرمائیلے ده، او د وږی نه تردے چه سپین شی او د آفت نه په امن شی۔

**تشريح**: [يَبْدُوَ] بَدَا يَبْدُوْ بُدُوًّا ظاهریدو او ښکاره کیدو ته وائی۔ او بَدَأَ يَبْدَأُ بَدْأً شروع کولو ته وائی۔ صلاحها: د فائدے اخستو او د خوراك قابل كيدو ته وائی۔

[نَهَى الْبَائِعَ وَالْمُشْتَرِيَ] بائع او مشتری ئے دواړه منع کړی، دا جمله د منع تاکید دے، او په دے کښے اشاره ده چه دا منع اګرکه د انسان د حق د حفاظت دپاره ده لیکن هغه خپل دا حق د نهی راتلو نه پس نشی ختمولے۔

تَزْهُوَ: دا د زَهَا يَزْهُوْ نه دے۔ پخلی ته وئیلے شی۔ او د بعض میوو پوخ والے په سور والی سره راځی او د بعضو په زیړ والی سره۔ پدے وجه په روستو حدیث کښے ددے تشریح په (تَحْمَرَّ) سره راغلے۔ او په بعضو کښے په دواړو سره۔

السُّنْبُلِ: بمبل، او د غنم وګی ته وائی۔ يبيض: يعنی سپين شی او د فائدے اخستو قابل شی۔ بل روایت کښے دی: وَعَنْ بَيْعِ الْحَبِّ حَتّٰى يَشْتَدَّ. رَوَاهُ الْخَمْسَةُ إِلَّا النَّسَائِيَّ، وَصَحَّحَهُ ابْنُ حِبَّانَ، وَالْحَاكِمُ۔ منع ئے فرمائیلے د خرڅولو د دانے نه تردے چه سختے شی۔

[الْعَاهَةَ] عاهة هغه آفت او مصیبت ته وائی چه میوے یا فصل ته رسیږی او هغه تباه یا عیبژن کړی۔

2840 (7) وَعَنْ أَنَسٍ ﷺ قَالَ: نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ الثِّمَارِ حَتّٰى تُزْهِيَ قِيْلَ: وَمَا تُزْهِيَ؟ قَالَ: حَتّٰى تَحْمَرَّ "وَقَالَ: " **أَرَأَيْتَ إِذَا مَنَعَ اللّٰهُ الثَّمَرَةَ بِمَ يَأْخُذُ**

أَحَدُكُمْ مَالَ أَخِيهِ ؟ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

**ترجمه** : انس بن مالك ﷺ نـه روايت دے چه نبي ﷺ د پخيدو نه مخکښے د ميوو خرڅولو نه منع فرمائيلے۔ چا عرض وکړو : د ميوو پخيدو نه څۀ مراد دے؟ وے فرمايل : چـه هـغه سرے (او زيړے) شي۔ او فرمائيلي ئے دي : خبر راکړه هرکله چه الله تعالىٰ ميوه منـع کـړي (ونـۀ شـي) نـو پـه څـه وجه يو تن ستاسو د خپل ورور (مسلمان) مال اخلي۔ (بخاريؒ، مسلمؒ)۔

**تشريح** : [تُزْهِيَ] د اَزْهي يُزْهِيْ نه دے لکه أَعْطىٰ يُعْطِيْ، أَيْ : تَحْمَرُّ وَتَصْفَرُّ (چه سره يا زيړه شي) بعض خلك دا لفظ [تَزْهيٰ] په مجهول سره وائي، ليکن دا صحيح نۀ دے۔

[قِيْلَ : وَمَا تُزْهِيَ] دا قـائـل د انس ﷺ شـاگـرد حُـميدؒ دے۔ او د نسائيؒ د روايت نـه مـعـلوميږي چه دا تفسير مرفوع دے، خپله نبي کريم ﷺ کړے۔ يعني تردے چه په دے کښے سُوروالے يا زيړ والے ولگي۔

وقال أَرَأَيْتَ : دا عـلـت د مـنـع دے، يعني ميوه د پخيدو نه مخکښے خرڅول ځکه منع دي چـه پـدے کښے جهالـت او خطره ده، کيدے شي چه ميوه وخت ته ونۀ رسيږي او يو آفت پـرے راشـي نـو بيا تـا د مسـلمان مال د څه شي په بدله کښے واخستو۔ دے کښے د جوازئ صورت جوړيږي۔

**فائده** : دلته يو څو صورتونه دي (١) بَيْعُ الثَّمَرِ قَبْلَ بُدُوِّ الصَّلَاحِ بِشَرْطِ الْقَطْعِ۔ (يعني ميوه د پـخيدو نه مخکښے د پريکولو په شرط خرڅول) (٢) بِشَرْطِ الْإِبْقَاءِ۔ (پدے شرط چـه پـه ونه به ئې باقي پريدی) (٣) بَيْعُ الثَّمَرِ بَعْدَ بُدُوِّ الصَّلَاحِ بِشَرْطِ الْقَطْعِ ۔ (ميوه د پخلي نه پس د پريکولو په شرط خرڅول) (٤) بِشَرْطِ الْإِبْقَاءِ۔ (پدے شرط چه په ونه به ئې باقي پـريـدی) دلته صرف يو صورت اختلافي دے، چه هغه بَيْـعُ الثَّمَرِ قَبْلَ بُدُوِّ الصَّلَاحِ بِشَرْطِ الْإِبْقَاءِ۔ (يعني د ميوے د پخلي نه مخکښے ورته داسے ووائي چه دا ميوه به ستا په باغ او بوټو باندے ولاړه وي او چه کله پخه شوه بيا به ئے شوکوم) (٥) بَيْعُ الثَّمَرِ قَبْلَ بُدُوِّ الصَّلَاحِ بِـدُوْنِ ذِكْرِ شَرْطِ الْقَطْعِ اَوِ الْإِبْقَاءِ ۔ (ميوه د پـخـلي نه مخکښے خرڅول چه هيڅ شرط د قـطـع يـا باقي پريخودو ذکر نۀ کړي) دا هم منع دے۔ (٦) بَيْعُ الثَّمَرِ بَعْدَ بُدُوِّ الصَّلَاحِ بِدُوْنِ ذِكْرِ شَرْطٍ(ميوه د پخلي نه پس خرڅول چه هيڅ شرط ذکر نکړي) دا صورت جائز دے۔

**فوائد او مسائل**: (١) ددے حديثونو نه ثابته شوه چه د صلاحيت ښکاره کيدو او د

خوراك قابل جوړيدو نه مخكښې ميوې او غلې خرڅول منع دي، او د خوراك صلاحيت په كښې هله پيدا كيږي چه كله په ميوو او دانو كښې سوروالے يا زيړوالے يا توروالے يا نرم والے اوخوږوالے ولګي او يا د فصل دانے كلكې او مضبوطے شي. د صلاحيت ښكاره كيدو دپاره ضابطه او قاعده مجموعي لحاظ سره په حديثونو كښې دا ذكر شوے چه په دے كښې دوه صفته راشي : (أ) ميوه په داسے صفت سره وګرځي چه عادةً د خوړلو قابل وګرځي. نو كه رنګ والا ميوه وي نو چه رنګ ئے بدل شي، اوكه رنګ نۀ لري نو چه نرمه او خوږه شي. اوكه سبزيانے وي لكه بادرنګ، بانجيان او بينډۍ (بينګلۍ) نو چه لوئے او غټے شي او د خوراك قابل شي. او چه د غنم، جوار او وريشو دانے وي نو چه سختے او مضبوطے شي. (ب) چه ميوه په عامه توګه د آفت او مصيبت نه بچ شي، او دا هله راځي چه كله په ميوه كښې اوۀ ولګي نو تجربه كار خلك دا پيژني چه اوس دا د پريكولو صلاحيت لري. ځكه ددے نه مخكښې ميوه د كمزورۍ په وجه د عاهت او مصيبت د خطرے نه خلاصه نۀ وي.

❁ د جمهورو علماؤ په نيز په دے حديثونو كښې راغلے منع د تحريم دپاره ده، نو چا چه ددے منع ارتكاب وكړو او باغونه او فصلونه ئے د بُدُوِّ الصَّلاح (صلاحيت ښكاره) كيدو نه مخكښې خرڅ كړل نو دا سودا فاسده او خرڅونكے او اخستونكے دواړه ګنهكار دي. په دے مسئله كښې صرف امام ابوحنيفةؒ خلاف كړے، د هغۀ په نيز دا سودا صحيح ده، خو د هغۀ قول ددے ښكاره حديثونو نه د خلاف كيدو په وجه صحيح نۀ دے.

❁ ددے نهي نه يو **صورت** مستثنیٰ دے هغه دا چه : څوك د باغ يا فصل ميوه او دانه د ((صلاحيت)) ښكاره كيدو نه مخكښې واخلي او في الحال قطع كوَل شرط وګرځي او په دے فصل اخستو كښې ددۀ مقصد دا وي چه څاروو دپاره د خوراك او بوتاوے كار ترے واخلي، نو دا بيع او شراء د صلاحيت ښكاره كيدو نه مخكښې هم جائز ده، ځكه د نهي چه كوم علت وو (يعني د باغ د ميوے او فصل د باقي پريښودو په صورت كښې د آفت خطره) نو هغه ختم شو، ځكه دا ئے في الحال پريكوي.

❁ او ددے حديث د مفهوم مخالف نه معلومه شوه چه كله د باغ صلاحيت ښكاره شي نو بيا ددے مطلقًا خرڅول جائز دي، يعني كه ميوه او دانه پريكول شرط كوي اوكه باقي ئے پريدي، نو كله چه ميوه مطلقًا يا په دے شرط خرڅه شوه چه په بوټي كښې به ئے

د پوره پخيدو پورې باقي پريدي، نو خرڅونكې به ددې التزام كوي او دا به باقي پريدي لكه همدا په باغونو او فصلونو كښې د خلكو عادت هم دې.

(٢) **حكمت** : د صلاحيت ښكاره كيدو نه مخكښې د خرڅولو نه چه منع راغلې نو ددې حكمت څهٔ دې ؟ نو هغه (**اول**) دادې چه ددې نه مخكښې د مشترى دپاره په دې كښې هيڅ فائده نشته، مشترى خپل مال په هغه شى كښې لګوى چه په هغې كښې ورته نفع نشته، او بائع د خپل ورور مال په ناحقه خورى، او مشترى د بائع سره په يو حرام كار او مال بربادولو كښې موافقت كوى، حالانكه ددې كارونو نه مونږ منع شوى يو. (**دويم**) : د صلاحيت ښكاره كيدو نه مخكښې دا د ګنړو آفتونو او خطرو لاندې وى چه په هغې سره دا تباه كيږى او يائې مقدار يا كره والې كميږى. او دا يو قِسم غَرَرْ او دهوكه ده. د جابر ﷺ په حديث كښې دى : ((د خپل ورور مال ولې په ناحقه اخلې؟))

(**دريم**) : په دې كښې د جنګ جګړې اسباب ختمول غرض دې، ځكه د صلاحيت ښكاره كيدو نه مخكښې خرڅول د اختلاف ذريعه جوړيدې شى.

(٣) كه په يو باغ كښې د يوې كهجورې دانې سرې يا زيړې شوې نود كهجورو ټول باغ خرڅول به جائز وى. ځكه دا دانې يو بل پسې په نزدې نزدې وخت كښې سرې كيږى او زيړيږى او د خوراك قابل ګرځى. دغه شان كه په باغ كښې د انګورو يو بوټې د خوراك قابل وګرځيدۀ نو ټول باغ خرڅول جائز دى. په دې طريقه به د هر يو جنس د ميوې صلاحيت جدا جدا وى. (٤) د صلاحيت ښكاره كيدو نه مخكښې په وُنو باندې ميوې خرڅول په هغه صورت كښې منع دى چه كله يوائې ميوه خرڅيږى، نۀ اصل وُنه. كه چرې ميوه سره د وُنې نه څوك خرڅول غواړى نو دا سودا صحيح ده. ځكه بيا دا ميوه د وُنې تابع ده، او داسې مثال لرى لكه د حيوان په خيټه كښې بچې خرڅول منع دى ليكن حامله خاروې، سره د حمل نه خرڅول جائز دى، ځكه دلته حمل د مور تابع دې. او قانون دادې چه ((تبعًا هغه شے معاف وى كوم چه اصالةً معاف نۀ وى)). والله اعلم.

**اختلاف** : (١) د جمهور امت په نيز د صلاحيت ښكاره كيدو نه مخكښې ميوې خرڅول منع دى. او ددې دليل هغه ټول حديثونه دى چه په دې باره كښې راغلى دى، او دا ښۀ ښكاره او واضح حديثونه دى او ښۀ واضح حكمت په كښې موجود دې.

(٢) د امام ابو حنيفهٔ په نيز كچه ميوې د صلاحيت نه مخكښې خرڅول هم جائز دى.

او هغه ددې حديثونو دا تاويل كوى (أ) يو دا چه ددې نه مراد ميوه د پيدا كيدو او موجوديدو نه مخكښې خرڅول دى چه دا بيع السنين او بيع د معدوم ده. (ب) يا دا نهى د تنزيه، ادب او مشورې په توګه ده، د تحريم دپاره نۀ ده. دې وجې نه كه څوك كچه باغونه خرڅ كړى نو دا سودا به صحيح وى. خو دا دواړه تاويلونه ددې حديثونو نه د ښكاره خلاف كيدو په وجه **باطل** دى.

**اول تاويل** خو څكه باطل دې چه دا د راوى د تفسير خلاف دې څكه راوى د صلاحيت معنىٰ پۀ سرۀ كيدو او زړيدو، توريدو او سختيدو سره كړې.

او **دويم** تاويل څكه باطل دے چه ((نهى)) تقاضا د تحريم او د بطلان كوى. امام بيهقىؒ په طحاوىؒ حنفى باندې رد كوى فرمائى: دا تاويلونه هغه څوك كوى چه د خپل مذهب دپاره حديثونه تراشى او ورانوى ئے. [معرفة السنن والآثار] او امام قرطبىؒ فرمائى: امام ابوحنيفهؒ د خپل دے مذهب بنياد په داسې قياس سره ايښې چه په دې سره اخبار آحاد رد كوى. [المفهم: ٤/٣٨٨] او په دې كښې څۀ تعجب نشته څكه د امام ابوحنيفهؒ مذهب په اكثرو شرعى مسائلو كښې د حديثونو خلاف دے. په حديثونو كښې عجيبې او غريبې او بعيدې معنې كوى. او بيا روستنى متاخرين ديته فقاهت وائى. بس د دوئ په نيز ګويا كه د فقاهت دپاره دا ضرورى ده چه په رائے او اجتهاد سره حديثونه رد كړے شى، يا په احاديثو كښې عجيبې او غريبې معنې وشى. والله المستعان.

## ميوه دارے ونے د ډيرو كلونو دپاره مخكښې نه خرڅولو منع

2841 (8) وَعَنْ جَابِرٍ ﷺ قَالَ: نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ السِّنِيْنَ وَأَمَرَ بِوَضْعِ الْجَوَائِحِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ

**ترجمه**: او جابر ﷺ فرمائى: رسول الله ﷺ د څو كلونو ميوه خرڅولو نه منع فرمائيلې ده (يعنى د يو يا دوه يا درې يا ددې نه زياتو كلونو دپاره د ونو ميوه مخكښې نه خرڅول حرام دى) او د آفتونو د معاف كولو حكم ئے كړے (يعنى چا ته چه په سودا كښې آفت ورسى نو بائع له پكار دى چه هغۀ سره تعاون وكړى) (مسلمؒ)

**تشريح**: بَيْعِ السِّنِيْنَ: ديته بيع معاومه هم وائى لكه مخكښې ذكر شو. يعنى د كهجورو ونې ميوه او نور ميوه جاتو ونې د دوه او درې او ډيرو كلونو دپاره خرڅول. دا خو

یو پدې وجه منع ده چه دا میوه خرڅول دی مخکښې د وجود او د صلاحیت د هغې نه۔
بلـه دا چه پدې کښې ظلم راځي په مشتري باندې ځکه چه کیدې شي چه د دویم او د دریم کال میوه جات ونشي او آسماني آفت ورته ورسیږي، نو دې د مسلمان مال د څه شي په بدله کښې اخلي۔ نو دارنګه دا دهوکې او جګړو ته رسیږي او هره بیعه چه داسې وي هغه ناجائز وي۔
[وأَمَرَ بِوَضْعِ الْجَوَائِحِ] وضع کیښودو، ختمولو او معاف کولو ته وائي، او جَوَائِح جمع د جَائِحَةٌ ده، آفت ته وائي چه میوو ته رسیږي چه هغه ختمې کړي۔ نو د وَضْعُ الْجَوَائِح مطلب دا چه: مشتري ته چه کوم آسماني آفت رسیدلې، بائع هغه معاف کړي یعني د باغ قیمت ترې وانخلي، اوکه اخستې ئې وي نو ورته ورئې کړي۔ ددې صورت دادې چه: مشتري د بائع نه یو باغ واخلي او هغې ته یو آسماني آفت ورسیږي نو دا تاوان به د چا کیږي؟ نو په دې حدیث کښې نبي کریم ﷺ بائع ته حکم کړې چه دا تاوان به په تا باندې وي او مشتري چه تاته کومې پیسې درکړي دي نو هغه به بیرته هغهٔ ته واپس کوې۔ بیا که فصل ټول تباه شو، نو بائع به ټولې روپۍ واپس کوي، او که ددې څهٔ برخه تباه شوه نو د تباه شوې برخې پیسې به واپس کوي۔

## وضع الجوائح (آفتونه معاف کول)

2842 (9) وَعَنْهُ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: **لَوْ بِعْتَ مِنْ أَخِيْكَ ثَمَرًا فَأَصَابَتْهُ جَائِحَةٌ، فَلا يَحِلُّ لَكَ أَنْ تَأْخُذَ مِنْهُ شَيْئًا. بِمَ تَأْخُذُ مَالَ أَخِيْكَ بِغَيْرِ حَقٍّ؟** رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

**ترجمه:** جابر ﷺ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ وفرمایل: که چرې تهٔ په خپل ورور باندې څهٔ میوه ورخرڅه کړې او بیا هغې ته څهٔ آفت ورسي نو تا دپاره جائز نهٔ دی چه تهٔ د هغهٔ نه څهٔ واخلې، تهٔ د خپل ورور مال په ناحقه څنګه اخستې شې؟ (مسلم)

**تشریح:** [مِنْ] په معنیٰ د (عَلیٰ) سره دې۔ [ثَمَرًا] هره میوه چه وي، کهجوره وي که انګور، انځر، مالټه، منړه، شفتالو، خوبانۍ یا الوچه۔ [جَائِحَةٌ] د جَاحَ يَجُوْحُ جَوْحًا نه دې، استیصال او د ویخ نه وښکل، یوشې د سیلمې وښکل۔ ابو عبیدؒ فرمائي: جائحه هغه مصیبت دې چه د سړي مال ته ورسي او ټول ئې ختم کړي۔ [غریب الحدیث: ۴۳۱/۳] او د فقهاؤ په نیز هر هغه آفت ته وائي چه په هغې کښې د انسان څهٔ اختیار نهٔ

وی، لکه سخت باران، ګلئ، سیلئ، ملخان یا بل یو آسمانی آفت پرے راشی۔
د وضع الجوائح معنیٰ ده ضائع کیدونکے سودا۔
[ بِمَ تَأْخُذُ] دا استفهام انکاری دے چه د [فَلَا يَحِلُّ لَكَ] سره لګی، او دا څکه چه کله میوه تباه شی نو مشتری چه کومے روپئ بائع ته ورکړی دی د هغے په مقابله کښے دهٔ ته هیڅ شے ملاؤ نشو۔

**فوائد او مسائل:** (۱) حدیث نه ثابته شوه چه کله په آسمانی آفت سره خرخ شوے باغ تباه شی نو دا تاوان به د باغ د مالك په ذمه وی۔ څکه نبی ﷺ په وضع الجوائح باندے امر فرمائیلے او امر د وجوب دپاره وی ترڅو پورے چه ددے په خلاف قرینه رانشی او دلته قرینه نشته۔ او نبی ﷺ دا خبره په خپل استفهام انکاری سره مضبوطه کړه او بائع ته ئے وویل چه ته د خپل مشتری ورور دا مال په څهٔ وجه اخلے؟ هغهٔ چه تاله ددے میوے رقم درکړے نو تهٔ ورته ددے مال څهٔ عوض ورکوے؟۔
(۲) او حدیث عام دے لږ او ډیر دواړو آفتونو ته شامل دے، په معاف کولو کښے ددے دواړو ترمینځه فرق نشته۔ نو په رائے سره په دے کښے د قلیل او کثیر فرق کول جائز نهٔ دی، البته که په عُرف او عادت کښے د لږ آفت د معاف کیدو رواج وو نو بیا به د هغے مطابق عمَل کیږی، مثلًا: یوے وُنے، دوه وُنو ته آفت ورسی چه دیته نهٔ په لغت کښے آفت وئیل کیږی نهٔ په شریعت کښے۔ پاتے شو دریمه یا څلورمه برخه باغ تباه کیدل نو دا به هم بائع مشتری ته معاف کوی او ددے پیسے به ترے نهٔ اخلی۔ اوکه اخستے ئے وی نو واپس کوی به ئے، څکه په دے باندے دا خبره صادقه ده چه دا آسمانی آفت دے۔
(۳) البته که بائع مشتری ته د پخیدو نه پس باغ حواله کړو او مشتری ددے د شوکولو د معتاد وخت نه تاخیر وکړو، او دیته آسمانی آفت، باران، سیلئ او ګلئ وغیره ورسیده، نو دا تاوان به خپله مشتری برداشت کوی، په بائع به دا تاوان نهٔ وی۔ څکه نقصان دهٔ له خوا راغلے چه په وخت باندے د میوے په شوکولو او نقل کولو کښے ئے تاخیر وکړو، سره ددے چه دا ددے په پریکولو قادر وو۔
(٤) دغه شان که آسمانی آفت نهٔ وی بلکه خپله د مشتری د بے تجربګئ د وجے باغ خراب شو، شوکول ئے په صحیح طریقه سره ونهٔ کړل او باغ متاثره شو نو بیا به هم تاوان په مشتری وی، نهٔ په بائع څکه حدیث کښے د [فَأَصَابَتْهُ جَائِحَةٌ] الفاظ دی، یعنی دا حکم

به هله لري چه آسماني آفت ورته ورسیږي.

(۵) او کـه آسماني آفت هم نهٔ وو، او د مشتري غلطي هم نهٔ وه بلکه د بل یو انسان له خوا تباه شو لکـه د کافرو لښکر راغـے او باغ ئے تباه کړو نو تاوان به په چا وي؟ نو په دے کښے قاعده داده چه کـه د تباه کونکي ضامن کول او د تاوان ذمه وار جوړول ممکن نهٔ وو، نـو دا د آسماني آفت حکم لري لکه د کافرانو لښکر دا کار وکړي. اوکه د چا ذمه وار جوړول ممکن وو، لکه یو معلوم کس ترے غلا وکړه نو بیا اهلِ علم فرمائي: په دے کښے مشتري له اختیار دے، که تباه کونکے د خپل تاوان ذمه وار جوړوي، اوکه د بائع نه دا تاوان اخلي چه بائع به ئے د دغه معین کس نه واخلي. که د دغه تباه کونکي نه ئے واخستـهٔ نـو بائع خلاص شو، اوکه د بائع نه ئے اخلي نو بائع به ئے د تباه کونکي او غلا کونکي نه واخلي. په دے کښے به مصلحت ته کتلے شي. [شرح ابن عثیمینؒ]

**اختلاف**: په وَضعُ الْجَوَائِح کښے دوه قوله دي: (۱) یو قول هغه دے کوم چه مخکښے ذکر شو چه تاوان به په بائع باندے راځي. او دا د جمهورو علماؤ قول دے، او همدا **صحیح** دے.

(۲) دویم قول د یو جماعت د علماؤ دے چه: میوے ته د آفت رسیدو په صورت کښے تاوان په مشتري دے نهٔ په بائع، ځکه بائع په صحیح بیع سره دا مال خرخ کړے او مشتري ترے په خپله رضا سره اخستے، ثمن هم معلوم دے او سودا هم معلومه، او بائع ورتـه باغ هم حواله کړے، اُوس چه باغ ته آسماني آفت رسیږي نو په دے سره دا سودا نهٔ فسخ کیږي، او روپئ د بائع دپاره حلالے دي او تاوان په مشتري راغـے. صرف دومره ده چه بائع دپاره مستحب داده چه د مشتري نه دا تاوان ختم کړي او رقم ورته ورکړي. دا د احنافو، ابن حزمؒ او د امام شافعيؒ قولِ جدید دے. دلیل ئے د انس ﷺ حدیث دے: ((رسول الله ﷺ د میوے پخیدو نه مخکښے ددے د خرخولو نه منع فرمایلے)) لکه مخکښے تیر شو. طریقه د استدلال داده چه نبي ﷺ چه د میوو د صلاحیت ښکاره کیدو نه مخکښے ددے د خرخولو نه منع کړے نو دا ځکه چه د مسلمان مال د تباه کیدو نه بچ کړے شي، نو که د وَضعُ الْجَوَائِح امر د وجوب دپاره شي نو بیا خو ددے نهي دپاره څهٔ وجه نشته! معلومه شوه چه وَضعُ الْجَوَائِح کښے امر د وجوب دپاره نهٔ بلکه استحباب دپاره دے.

امام طحاويؒ ورله دليل دا وئيلے دے چه په حديث کښے راغلي دي چه يو سړي ميوے واخستے او په هغۀ باندے ډير قرضونه واوړيدل، نو نبي ﷺ وفرمايل : [تَصَدَّقُوا عَلَيْهِ . فَلَمْ يَبْلُغْ ذٰلِكَ وَفَاءَ دَيْنِهِ، فَقَالَ : خُذُوا مَا وَجَدْتُمْ فَلَيْسَ لَكُمْ إِلَّا ذٰلِكَ] (رواه مسلم).

دۀ باندے صدقه وکړئ، (مګر) هغه (صدقے) هم ددۀ قرض پوره ادا نکړے شو. نو نبي ﷺ (قرضدارانو ته) وفرمايل : تاسو چه دۀ سره څه ومومندل هغه واخلئ، ستاسو دپاره ددے نه سوئ بل هيڅ حق نشته. (مسلم) طريقه د استدلال داسے ده : هرکله چه د آفت په وجه د ميوه جاتو هلاکيدو او ختميدو سره د قرضدارانو حق باطل نشو، او نبي ﷺ د خرڅونکي نه هم دغه قيمت وانخستو، نو دا دليل شو چه وضع الجوائح حکم په خپل عموم باندے نۀ دے.

او دوئ د حديث الباب نه دا جواب کوي چه په دے کښے امر د استحباب دپاره دے. يا په هغه صورت کښے دے چه مشتري لا باغ نۀ وي قبض کړے. يا باغ د صلاحيت ښکاره کيدو نه مخکښے خرڅ شوے وي.

خو ددے جواب دادے : چه دا تاويلونه د ظاهر د حديث سره مناسب نۀ دي. پاتے شو د انس رضي الله عنه حديث نو په دے کښے دا دليل نشته چه جوائح به نۀ معاف کيږي، په دے کښے خو صرف دا دليل دے چه د ميوو د صلاحيت ښکاره کيدو نه مخکښے خرڅول منع دي. او وَضْعُ الْجَوَائِح خو به د ميوے د صلاحيت ښکاره کيدو نه پس وي نۀ مخکښے. څکه په دے حديث [إِذَا بِعْتَ مِنْ أَخِيكَ ثَمَرًا فَأَصَابَتْهُ جَائِحَةٌ] کښے د بيع نه مراد صحيح بيع ده نۀ منهي عنهُ بيع. او د بدو الصلاح نه مخکښے بيع خو فاسده بيعه ده، نو دا حديث پرے څنګه حمل کړے شي ؟. دارنګه په حديث کښے علت ذکر شوے. [فَلَا يَحِلُّ لَكَ أَنْ تَأْخُذَ مِنْهَا شَيْئًا] (تا دپاره حلال نۀ دي چه د هغے نه څه شے واخلے) او بل لفظ دے : [بِمَ تَأْخُذُ مَالَ أَخِيكَ] په کومه وجه سره تۀ د خپل ورور مسلمان مال اخلے. نو د مصيبت رسيدو په وخت کښے مشتري ته هيڅ په لاس ورنغلل نو بائع د څه په بدله کښے مال د مشتري اخلي.

خو دے سره مخکښي شرطونه مراد دي چه دا به آسماني آفت وي او د مشتري څه تقصير او کوتاهي به پکښے نۀ وي.

(۳) امام مالکؒ وائي : که تاوان د ثُلث د باغ نه کم وو نو تاوان به په مشتري وي او که

ثلث يا ددے نه زيات وو نو په بائع باندے وی۔ دليل دا وائی چه ميوه ضرور څه نا څه د څه وجو هاتو په بناء ضائع کيږی او مشتری د هغے قبول والے کړے، او هر کله چه په عرف کښے د لږے نه معافی کيږی نو که د ثلث نه کم وی نو دا په لږ کښے داخل دے۔ ليکن دا عقلی وجه ده، نص پکښے نشته۔ البته د يو عام حديث نه ئے استدلال کړے چه هغے کښے رسول الله ﷺ ثلث ته ډير وئيلے دے [اَلثُّلُثُ وَالثُّلُثُ كَثِيرٌ] [المعلم بفوائد مسلم] والله اعلم۔ شوکانیؒ د مذاهبو د تفصيل نه روستو فرمائی: راجح دا ده چه تاوان به د مشتری نه کيخودے شی برابره ده چه کم وی او که زيات، او د ميوے د پخلی نه مخکښے وی او که روستو۔ او د حديث د انس ﷺ نه ئے داسے جواب ورکړے چه پدے کښے صرف پدے خبره باندے تصريح موجوده ده چه د ميوے د پخلی نه مخکښے که آفت راشی نو وضع الجوائح به کولے شی، نو دا د عام امر تخصيص نشی کولے ځکه چه د دواړو خبرو هيڅ منافات نشته۔ او د حديث د ميوے اخستونکی او بيا د قرضدارانو حق نه ئے دا جواب ورکړے چه دا د محل د نزاع نه بهر دے، ځکه چه په هغے کښے دا خبره نشته چه د دغه سړی ميوه جات په آسمانی آفت سره هلاك شوی وو۔ بله دا چه دا هم ضروری نۀ ده چه رسول الله ﷺ د بائع نه تاوان نۀ وی اخستے ځکه چه عام حديث کښے خو تاوان ذکر دے۔ اگر که په دغه خاصه واقعه کښے به تاوان نۀ وی ذکر شوے۔ انظر نيل الأوطار بالتفصيل: ۵/۲۸۶.

ابن قدامهؒ وئيلی دی: وَلِأَنَّ التَّخلِيَةَ لَيسَتْ بِقَبْضٍ تَامٍّ، يَعْنِيْ إِنَّ الثَّمَرَةَ لَوْ هَلَكَتْ يَكُوْنُ الضَّمَانُ عَلَى الْبَائِعِ لِأَنَّ الْمُشْتَرِيَ لَمْ يَقْبِضْهَا قَبْضًا تَامًّا. د باغ حواله کول دا پوره قبضه نۀ ده، يعنی که ميوه هلاکه شی نو ضمان به په بائع باندے راځی ځکه چه مشتری دغه باغ پوره نۀ دے قبضه کړے۔ (پوره قبضه به هله راځی چه ميوه ترے راپريکړی) ځکه چه ميوه په ونه کښے داسے ده لکه منافع چه لا نۀ وی اخستے شوی۔ بلکه وخت په وخت به حاصليږی۔ المغنی: ۴/۲۳۴]۔

**تنبيه**: آيا د ميوه جاتو په شان په وضع الجوائح کښے باقی بيوع داخليږی چه کله ورته آسمانی آفت ورسيږی؟، مثلاً يو تن په بل باندے يو مال خرڅ کړو بيا د جنگ په وجه يا د نرخونو د خکته کيدو په وجه هغے تاوان وکړو نو دا به د بائع نه اخستے شی او که صرف د مشتری تاوان به وی۔ نو ظاهر د احاديثو دا دے چه وضع الجوائح حکم

صرف په میوه جاتو کښې دے او په ټولو بیوعو کښې دا حکم نهٔ دے ځکه چه بیا خو به ټول بیوع باطل شي۔ هرکله چه مشتري تاوان کوي نو بائع ته به کيني چه ما تاوان کړے ما له بدله راکړه۔ والله اعلم وانظر فتاوی الدین الخالص [۱۱]

## منقولي شيان د قبض کولو نه مخکښې خرڅول جائز نهٔ دي

2843 (10) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ قَالَ: كَانُوا يَبْتَاعُونَ الطَّعَامَ فِي أَعْلَى السُّوقِ فَيَبِيعُونَهُ فِي مَكَانِهِ فَنَهَاهُمْ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِهِ فِي مَكَانِهِ حَتّٰى يَنْقُلُوهُ. رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَلَمْ أَجِدْهُ فِي الصَّحِيحَيْنِ.

**ترجمه**: او ابن عمر ﷺ فرمائي: خلکو به طعام د بازار په بره طرف کښې واخستو بيا به ئې په خپل همغه ځائے کښې خرڅولو نو رسول الله ﷺ هغوی لره هغه په خپل ځائے کښې د خرڅولو نه منع کړل تردے چه هغوی هغه طعام د هغه ځائے نه نقل کړي۔ (ابو داودؒ) صاحب مشکاة وائي: ما دا روايت په صحيحينو کښې ونهٔ موندو۔

**تشريح**: دے حديث نه ثابته شوه چه د بازار نه بهر د قافلے والو نه طعام اخستل او بيا په بازار والو باندے ګران خرڅول ناروا دي، لکه روستو به حديث راشي۔ البته د بازار په سر کښې اخستل جائز دي۔ او په حديث کښې د اصل مسئلے تفصيل روستو راروان دے۔

وَلَمْ أَجِدْهُ فِي الصَّحِيحَيْنِ: پدے خبره کښې صاحب المشکاة سهوه دے ځکه چه دا روايت په همدے الفاظو په صحيح بخاري رقم (۲۱۶۷) (۹۵/۳) کښې موجود دے۔

2844 (11) وَعَنْهُ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "**مَنِ ابْتَاعَ طَعَامًا فَلَا يَبِعْهُ حَتّٰى يَسْتَوْفِيَهُ**". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

2845 (12) وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ عَبَّاسٍ: "**حَتّٰى يَكْتَالَهُ**".

**ترجمه**: ابو هريره ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چه څهٔ غله واخستله نو هغه دې تر هغه وخته پورے نهٔ خرڅوي ترڅو چه ئې پوره قبضه کړې نهٔ وي۔ (بخاريؒ او مسلمؒ) او په روايت د ابن عباس ﷺ کښې دي: تردے چه هغه ناپ کړي۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

**تشريح**: [طَعَامًا] طعام په عربئ ژبه کښې هر مأکول او مشروب ته وائي۔ په آيت

كښې دي : ﴿ وَمَنْ لَّمْ يَطْعَمْهُ فَإِنَّهُ مِنِّیْ ﴾ [البقرة : ۲۴۹] دلته ئې مشروب ته طعام وئیلې۔ دے وجے نه طعام تـه ولـو مطعوماتو ته وائی لكه غنم، جوار، وريشے، وريژے، كهجورے۔ دارنګه مشروباتو ته لكه تيل، غوړى، شات او داسے نور۔

[يَسْتَوْفِيَهُ] تردے چه هغه پوره واخلى۔

[يَكْتَالَهُ] يعنى هغه اندازه كړى۔ او په يو بل روايت كښے [يَقْبِضَهُ] لفظ دے۔ ددے نه معلومه شوه چه دا درے واړه (استيفاء، كيل، او قبض) يوه معنىٰ لرى چه هغه قبض كول او د خرخونكى نه راجدا كول دى۔

[كَالَ] بل ته اندازه كول۔ او [اِكْتَالَ] د بل نه اندازه كول۔ اول د وركونكى سره او دويم د اخستونكى سره لرى۔ الله تعالىٰ فرمائى : ﴿وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِيْنَ الَّذِيْنَ اِذَا اكْتَالُوْا عَلَى النَّاسِ يَسْتَوْفُوْنَ وَاِذَا كَالُوْهُمْ اَوْ وَّزَنُوْهُمْ يُخْسِرُوْنَ﴾ [مطففين : ۱-۳]

يعنى چه د بل نه كوم شے اخلى او اندازه كوى ئے نو پوره ئے ترے اخلى او چه بل ته ئے وركوى نو كمے كوى۔

2846 (13) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ قَالَ : أَمَّا الَّذِیْ نَهٰى عَنْهُ النَّبِیُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَهُوَ الطَّعَامُ أَنْ يُبَاعَ حَتّٰى يُقْبَضَ. قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ : وَلَا أُحْسِبُ كُلَّ شَیْءٍ إِلَّا مِثْلَهُ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

**ترجمه** : او ابن عباس ﷺ فرمائى : هر چه هغه غله ده چه نبى كريم ﷺ د هغے نه منع فرمائيلے نو هغه غله ده چه د قبض كولو نه مخكښے خرخه كړے شى۔ ابن عباس ﷺ فرمائى : او زهٔ ګمان نهٔ كوم مګر دا چه هر شے د غلے په شان دے۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

**تشريح** : دا درے خلور روايتونه په يوه بله مسئله باندے دليل دے او هغه دا چه څوك يو شے واخلى نو په هغه ځائے به ئے نهٔ خرڅوى تردے چه هغه قبض كړى او خپل ملكيت ته ئے راوړى، او د دكان نه ئے راوباسى۔ يا ئے پخپله يا په خپل مزدور باندے وتلى بيا ئے خرڅ كړى۔ او دا حكم د هر شى دے، منقولى شيان وى او كه غير منقولى خو قبض پكښے شرط دے۔ لكه چه ابن عباس ﷺ دغسے وفرمايل۔

**فوائد او مسائل** : (۱) حديث نه ثابته شوه چه څوك طعام (غله) واخلى نو تر څو پورے ئے چه قبض كړے نهٔ وى نو د هغے نه مخكښے ئے په بل چا خرڅول جائز نهٔ دى، او دا نهى د تحريم دپاره ده ځكه يو خو د نهى تقاضا تحريم دے۔ بله دا چه د بعضِ رواياتو

نه د تحريم تاكيد معلوميږي لكه عبد الله بن عمر ﷺ فرمائي: ((د رسول الله ﷺ په زمانه كښې ما خلك وليدل چه په اټكل به ئې طعام خرڅولو، نو دوئ به په دے وهلے شول چه دوئ په همدغه ځائے كښې دا خرڅ كړي او خپلو ځايونو ته ئې يونۀ سي)) [بخاري: ۲۱۳۷، مسلم: ۱۵۲۷] دا وهل دليل دے چه دا كار حرام وو. او د امام شافعيؒ په نيز كه دائے د قبض نه مخكښې خرڅ كړل نو دا بيعه باطله ده. او همدا قول حق دے.

(المفاتيح في شرح المصابيح)

(۲) په حديث كښې اګركه طعام لفظ ذكر شوے ليكن په حديث د ابو داود (۳۵۰۱) كښې عامه منع راغلے: [نَهَى اَنْ تُبَاعَ السِّلَعُ حَيْثُ تُبْتَاعُ] (نبي ﷺ ددے نه منع كړے چه سوداګانے په هغه ځائے كښې خرڅے كړے شي كوم ځائے چه واخستے شي) لكه دا حديث روستو مشكاة كښې هم راځي. لهذا دا حكم عام دے او هر هغه شي ته شامل دے چه هغه تلل كيږي، اندازه كيږي، شماريږي او ګز كيږي. په دے كښې هيڅ يو شے د اخستلو نه پس بيا خرڅول به تر هغه وخته پورے جائز نۀ وي ترڅو پورے ئې چه قبض كړے نۀ وي. بيا قبض د هر يو شي د هغۀ د حالت مناسب وي لكه د زمكے قبض دا دے چه د تصرف اجازت ورته وركړي. د كور قبض دادے چه چابي ورته وركړي ځكه چه دا دواړه شيان نۀ نقل كيږي. او په منقول شيانو - غَلو، جامو، حيوان وغيره - كښې قبض دادے چه دا شيان ورته وتلي يا ئې اندازه كړي. او يا كه اټكل ئې اخستي وي نو چه د خپل ځائے نه ئې رانقل كړي. اوكه ددے نه سوئ نور شيان وي نو د هغے په قبض كښې به عُرف له اعتبار وي.

(۳) ظاهر د حديث دادے چه د قبض كولو نه مخكښې غلے خرڅول عام دي، برابره خبره ده كه دا غلے په وزن يا كيل سره خرڅے شوے وي او يا په تخمين او اټكل سره، په دواړو صورتونو كښې د قبض كولو نه مخكښې خرڅول منع دي. او دا د جمهورو رائے او د امام احمدؒ نه يو روايت دے چه شيخ الاسلام ابن تيميةؒ او ابن قيمؒ ورته راجح وئيلي. دارنګه دوئ په دے باره كښې په عامو حديثونو دليل نيسي، لكه د زيد بن ثابت ﷺ په حديث نيسي دي. ((نبي ﷺ په هغه ځائے كښې د سوداګانو خرڅولو نه منع فرمائيلے چرته چه دا اخستل شوي وي تردے چه دا خپلو ځايونو ته يو سي (نو خرڅولے ئې شي)) [صحيح أبي داود: ۲۹۸۸] دلته هم سوداګانے عامے ذكر شوي، په تقدير سره خرڅے شوي

وی اوکه په تخمین سره.

**دویم** قول دادے: چه کومے غلے په تخمین او اټکل سره (په غیر د کیل او وزن نه) خرڅے شوے وی نو هغه د قبض کولو نه مخکښے خرڅول جائز دی. او کومے چه په کیل او وزن سره خرڅے شوی وی نو هغه د قبض نه مخکښے خرڅول جائز نهٔ دی. او دا د امام احمدؒ مشهور قول دے، دلیل ئے دا حدیث دے: [مَنِ اشْتَرٰی طَعَامًا بِكَيْلٍ أَوْ وَزْنٍ فَلَا يَبِعْهُ حَتّٰى يَقْبِضَهُ] [صحیح: أبوداود: ۳۴۹۵، نسائي: ۷/۲۸۶، أحمد: ۱۰/۱۳۹]

نو دلته په کیل او وزن سره د طعام تخصیص شوے، نو دا دلیل دے چه کوم شے په تخمین سره خرڅ شی په هغے کښے قبض شرط نهٔ دے.

**خو راجح** قول اولنے دے، ځکه د هغے دلیل قوی دے. هغه دا چه په دواړو صورتونو کښے قبض شرط دے، تقدیر وی اوکه تخمین، وجه د ترجیح داده چه د قبض کولو نه مخکښے امکان شته چه دا هلاك شی نو ددے تاوان به په بائع وی نهٔ په مشتری. او هر کله چه په مشتری تاوان نشته نو بیا د مشتری دا شے خرڅول جائز نهٔ دی ځکه نبی کریم ﷺ د [رِبْحُ مَا لَمْ يُضْمَنْ] نه منع فرمایلے، یعنی د هغه شیٔ د ګټے نه ئے منع فرمایلے چه د هغے ضمان او تاوان په انسان نهٔ راځی. نو دلته ضمان او تاوان په مشتری نهٔ راځی. (٤) د قبض نه مخکښے خرڅولو نه د منع راتلو **حکمت** دادے: چه ترڅو پورے مشتری د بائع نه دا سودا قبض کړے نهٔ وی نو دا په خطره کښے ده، ځکه مشتری خو دا سودا په ګټه خرڅوی او کله چه اولنے بائع ووینی چه مشتری په ګټه باندے دا سودا خرڅه کړه نو هغه به په حرص او لالچ کښے راشی او ددے او ددے سامان د تسلیمولو نه به انکار وکړی او یا به ددے د ختمولو څهٔ چل جوړ کړی. خصوصًا کله که بائع دا سودا په تاوان خرڅه کړے وی او بیا مشتری ووینی چه ګټه ئے په کښے وکړه. نو ځکه شریعت دا حکم وکړو چه ترڅو پورے مشتری د بائع نه دا سودا په خپله قبضه کښے نهٔ وی راوستی تر هغے پورے به ئے نهٔ خرڅوی. د اسلامی شریعت مقصد دادے چه د خلکو د ماحول نه د نزاع او اختلاف او بغض او عناد اسباب ووځی. چه د هغے نه بیوع الغرر او بیع الطعام قبل القبض هم ده. واللّٰه تعالیٰ اعلم.

**اختلاف**: (۱) امام مالكؒ فرمائی: د طعام (غلے) نه سویٰ نور شیان قبل القبض خرڅول جائز دی، ځکه حدیث کښے صرف طعام ذکر شوے. (۲) امام احمدؒ فرمائی:

خرڅ شوي شے كه د كيل يا وزن سره تعلق لري نو د قبضے نه مخكښے خرڅول ئے جائز نۀ دي، اوكه نور شيان وي نو دا جائز دي. (۳) امام شافعيؒ، امام زفرؒ او امام محمدؒ فرمائي: دا حكم په طعام او غير طعام ټولو شيانو كښے دے. (٤) امام ابوحنيفهؒ او امام ابويوسفؒ فرمائي: دا حكم په منقوله اشياؤ كښے دے. پاتے شو غير منقوله اشياء لكه زمكه وغيره، نو هغه د قبضے نه مخكښے خرڅول جائز دي. د زمكے قبض دا دے چه هغۀ وزګاره كړي او د هغے تصرف مشتري ته حواله كړي. او په منقولاتو كښے قبض دا دے چه د بيع د ځائے نه ئے بل ځائے ته نقل كړي.

په دے ټولو كښے (**راجح قول**) د امام شافعيؒ او جمهورو علماؤ دے چه دا حكم عام دے. يو دليل ئے د زيد بن ثابت ﷺ پورتنے حديث دے چه په هغے كښے د ((سِلَع)) يعني مبيعو لفظ راغلے. او بل دليل د ابن عباس ﷺ دا حديث دے، نبي ﷺ فرمائي: [مَنِ ابْتَاعَ طَعَامًا فَلَا يَبِعْهُ حَتّٰى يَسْتَوْفِيَهُ. قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: وَلَا أَحْسِبُ كُلَّ شَيْءٍ إِلَّا مِثْلَهُ] (ابن عباس ﷺ فرمائي: زما په خيال هر شے همدا حكم لري).

**فائده**: انسان په يو شي كښے هله د تصرف حق لري چه هغه پوره طريقے سره قبض كړي.

## بازار ته رارسيدو نه مخكښے د قافلو نه په لاره كښے د څيزونو اخستو منع

2847 (14) وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ: أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "**لَا تَلَقَّوُا الرُّكْبَانَ لِبَيْعٍ وَلَا يَبِعْ بَعْضُكُمْ** عَلٰى بَيْعِ بَعْضٍ وَلَا تَنَاجَشُوْا وَلَا يَبِعْ حَاضِرٌ لِبَادٍ وَلَا تَصُرُّوا الْإِبِلَ وَالْغَنَمَ فَمَنِ ابْتَاعَهَا بَعْدَ ذٰلِكَ فَهُوَ بِخَيْرِ النَّظَرَيْنِ بَعْدَ أَنْ يَّحْلِبَهَا: إِنْ رَضِيَهَا أَمْسَكَهَا وَإِنْ سَخِطَهَا رَدَّهَا وَصَاعًا مِنْ تَمْرٍ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِيْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: "**مَنِ اشْتَرٰى شَاةً مُصَرَّاةً فَهُوَ بِالْخِيَارِ** ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ: فَإِنْ رَدَّهَا رَدَّ مَعَهَا صَاعًا مِنْ طَعَامٍ لَا سَمْرَاءَ".

**ترجمه**: او ابو هريره ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو د غلے راوړونكو قافلے والو ته د اخستو خرڅولو دپاره مخے ته مۀ ور اُوځئ، او ستاسو نه بعض دِے د بعضو په سودا باندے سودا نۀ كوي او تاسو خلك (په دهوكه سره) په سودا مۀ تيزوئ او ښار والا دِے د باندے والا دپاره خرڅول نۀ كوي او تاسو د اُوښانو او ګډو بزو په تيوونو (غولانزو) كښے پئ (شوده) مۀ جمع كوئ، نو چا چه ددے نه روستو داسے څاروے

واخستو نو هغهٔ ته په دوه فکرونو کښې اختیار دے، (یعنی په ساتلو او واپس کولو کښې) پس ددے نه چه هغه ولشي، نو که د هغهٔ خوښوی ځان سره دِے وساتی او که هغه ئے خوښه نهٔ وی نو واپس دِے ئے کړی سره د یو صاع کهجورو نه. (بخاریؒ او مسلمؒ) او په روایت د مسلمؒ کښې دی: چا چه مصراة ګډه واخسته نو هغهٔ ته درے ورځے اختیار دے، که (په درے ورځو کښې ئے) واپس کوی نو د هغے سره به یو صاع طعام (یعنی کهجورے) واپس کړی نهٔ غنم.

**تشریح**: پدے حدیث کښې ډیرے جملے دی او هره جمله پوره تفصیلی احکام لری.

**اوله جمله**: [لَاتَلَقَّوُا] تَلَقوا په اصل کښې تَتَلَقَّوُا دے یوه یاء حذفه شوه، تلقی معنیٰ استقبال او مخے ته راوتل دی، یعنی چا چه سوداګانے او غلے ښاریئے او منډئ ته رابار کړی وی نو تاسو د هغے د اخستلو دپاره د هغوئ مخے ته مهٔ ورومځئ. [الرُّکُبَانَ] جمع د راکب ده، د اُوښ سور ته وائی، بیا ئے په هر سور باندے اطلاق کیږی، د اُوښ سور وی او که د بل حیوان. او ددے سورو نه مراد هغه خلك دی چه هغوئ د لرے نه خپلے سوداګانے رابار کړے وی او د ښار په بازارونو کښې ئے خرخوی. او رکوب اغلبی وصف دے دا په حکم کښې تاثیر نهٔ لری، نو که پیدل کسانو دا غلے رابار کړے وی نو د هغوئ مخے ته د سودا اخستو دپاره وروتل هم منع دی، او دلیل ئے د راتلونکی حدیث الفاظ دی: [لَاتَلَقَّوُا الُجَلَبَ] دلته سورلی نهٔ ده ذکر شوے. دارنګه دلته رکبان جمع بنا بر اغلب ذکر شوے ځکه غالبه داده چه غلے راوړونکی یو شمیر خلك وی. نو که یو او دوه کسانو غله راروانه کړے وه نو د هغهٔ هم دا حکم دے.

**دویمه جمله**: [وَلَا یَبِیُعُ] نفی او [لَا یَبِعُ] نهی دواړو طریقو سره استعمال شوے. [یَخُطُبُ] خَطَبَ یَخُطُبُ که مصدر ئے خِطُبَةً شی لکه دلته نو د نکاح پیغام لیږلو ته وائی، او که مصدر ئے خُطُبَةً شی نو بیا تقریر کولو ته وائی.

معلومه شوه چه د مسلمان په ریټ باندے ریټ اچول منع دی، ددے مطلب دا چه: بائع او مشتری په یو ریټ باندے اتفاق وکړی او سودا لا پوره شوے نهٔ وی چه په دے کښې یو انسان راشی او بائع ته ووائی: دا ترے واپس واخله، زهٔ به ئے درنه په زیاتو روپو واخلم. او یا ریټ لګونکی ته ووائی: دا سودا واپس کړه، زهٔ به په دے روپو ددے نه ښهٔ شے درکړم، او یا به درله همدا شے آرزانه درکړم. په سودا باندے سودا کولو، او ریټ باندے د ریټ لږولو

ترمینځه فرق دادے چه په اولنی صورت کښے سودا پوره شوے وی خو د دواړو ترمینځه خیارِ شرط او خیارِ مجلس وی. او ریټ باندے په ریټ کولو کښے خو په ریټ اتفاق راغلے وی مګر عقد لا تمام شوے نۀ وی.

❁ ریټ باندے ریټ لګول په هغه صورت کښے منع دی هر کله چه مبیعه د بَیۡعُ الۡمُزَایَدَة په طریقه پیش کړے شوے نۀ وی. او که د بَیۡعُ الۡمُزَایَدَة په طریقه پیش کړے شوے وه نو په اتفاق د علماؤ سره بیا د ریټ دپاسه په ریټ کولو کښے باك نشته، ځکه چه بائع زیاتی بَیَه غواړی او تر اوسه پورے ئے لا د هیچا سره خبره نۀ ده تمامه شوے. او بَیۡعُ الۡمُزَایَدَة دیته وائی: چه بائع خپله سودا بازار ته وړاندے کړی او په هغے باندے بولی ولګوی، نو اخستونکے ووائی: ماله ئے په لس راکړه، بائع بیا د زیاتی پیسو نعرے وهی، بل مشتری ووائی: ماله ئے په یوولس راکړه، هغه بیا د زیاتی پیسو مطالبه کوی، دغسے دا سلسله روانه وی او څوك چه ورته د ټولو نه زیاتے روپۍ پیش کړی نو هغۀ له ئے ورکوی. نو بناء په دے باندے د ریټ دپاسه ریټ او د بَیۡعُ الۡمُزَایَدَة ترمینځه فرق دا شو چه په روستنی صورت کښے چا سره خبره نۀ وی پوره شوے، بلکه په مخه د زیاتی په طلب کښے روان وی، او د ریټ دپاسه ریټ په صورت کښے د اولنی ریټ والا سره سودا جوړولو کښے رغبت لرل شوے وی چه په دے کښے بل یو دریم کس راشی او دا خرابه کړی. او بَیۡعُ الۡمُزَایَدَة په اتفاق د علماؤ سره جائز ده. په حدیثو کښے ددے ثبوت شته دے. او دیته بیع د مَنۡ یَّزِیۡدُ هم وائی. کما سیأتی قریباً.

نو دے حدیث کښے مسلمان ته دا سبق خودلے شویدے چه مسلمان دپاره جائز نۀ دی چه د خپل ورور په سودا باندے سودا وکړی، هغه داسے چه یو تن یوه سودا په لس روپۍ واخسته او دے ورته ووائی: راشه زۀ به ئے درته په نهه روپۍ درکړم، یا به په دے بیه ددے نه غوره درته درکړم، او یا ورته د پیسو ورکولو په نیته کښے د تاخیر لالچ ورکړی. او په عامه توګه دا کار هله کیږی کله چه د بائع او مشتری ترمینځه لا سودا پخه شوے نۀ وی، مثلاً: د دواړو د سودا مجلس لا ختم شوے نۀ وی، یا په سودا کښے خیارِ شرط وی. بیا دے حدیث کښے بیع ذکر ده.

**مسئله : آیا د شراء حکم هم داسے دے او که نه ؟**

نو صحیح دا ده چه د شراء حکم هم داسے دے چه د خپل ورور په شراء باندے شراء کول منع دی، ځکه کوم **حکمت** چه په نهی عن البیع کښے دے، همدا حکمت په نهی عن الشراء کښے هم دے۔ او شریعت د متماثلینو ترمینځ فرق نۀ کوی۔ هرکله چه بیع په بیعه باندے کول حرام شو نو شراء په شراء باندے کول به په طریق اولیٰ حرام وی۔ په شراء باندے د شراء **صورت** دادے چه یو تن په نهه روپیۓ یو شے خرڅ کړی نو دے ورته ووائی : مشتری ته دا سودا واپس کړه، زۀ به ئے درنه په لس روپیۓ واخلم۔

❁ ددے منع **حکمت** دادے چه په دے کار سره د دواړو ترمینځه بُغض او دشمنی پیدا کیږی او مسلمان سره د تعلق پریکولو سبب ګرځی ځکه دۀ په هغۀ باندے تیرے وکړو او د هغے دواړو ترمینځه ئے معامله خرابه کړه۔ بیا ظاهر د حدیث دادے چه د ورور په سودا باندے سودا کول بهر صورت حرام دی، برابره خبره ده که دا کار د خیارِ شرط او خیارِ مجلس په زمانه کښے وی او یا ددے دواړو د وختونو تیریدو نه پس وی، ځکه حدیث عام دے، دے دواړو زمانو ته شامل دے۔ بله دا چه که دغه دواړه وختونه تیر شوی هم وی نو بیا هم دا خطره شته چه مشتری په څۀ چل سره د سودا ختمولو سبب جوړ کړی، هغه دا چه په سودا کښے د عیب یا بل داسے شی دعویٰ وکړی چه هغه د سودا ختمولو سبب ګرځی۔ بله دا چه په دے کار سره د اولنی بائع او مشتری ترمینځه دشمنی پیدا کیږی چه هغۀ دۀ له دا نقصان ورکړو۔ بعضِ علماؤ وئیلی دی چه منع صرف د خیارِ شرط او خیار عیب په زمانه کښے دننه ده، او کله چه دا زمانه تیره شوه نو بیا د ورور په سودا باندے سودا کول جائز دی۔ خو راجحه خبره اولنۍ ده۔

(فتح ذی الجلال والاکرام شرح بلوغ المرام : ابن عثیمین ۳/۵۸۴)

**دریمه جمله : ولا تناجشوا** : [النَّجْش] د نون په زور او د جیم په سکون، یا د دواړو په زور سره، نجش په عربۍ ژبه کښے د ښکارِ راپاسول او راپارولو ته وائی چه په ښکاری باندے راتیر شی۔او **شرعًا** : دیته وائی چه [أَنْ یَّزِیْدَ فِي السِّلْعَةِ مَنْ لَایُرِیْدُ شِرَاءَ هَا (چه یوتن د یوے سودا اخستو اراده نۀ لری او د اخستونکی د تیزولو دپاره د سودا ریټ زیات کړی)۔

ابن الاثیرؒ وائي: نجش دا دے چه يو تن د يوے سودا صفت او مدح وکړی دے دپاره چه دا مشهوره کړی، يا ددے په پيسو کښے زيادت پيدا کړی او ددهٔ د اخستو اراده نهٔ وی بلکه نور خلك پکښے انخلوی۔ [النهاية: ۵/۲۱].

دے دپاره چه اخستونکے په دے دهوکه شي او په زياتو پيسو ئے ترے واخلی۔ او په دے کار کښے ددے کس مطلب داوی چه خرخونکی ته نفع ورسوی يا اخستونکی له ضرر ورکړی يا دواړه کاره ئے مقصد وی۔ يا هسے ورانے ئے غرض وی۔ او اکثره داسے کيږی چه دا کار کونکے د بائع سره ملاؤ وی، په دے کار باندے د هغهٔ نه څهٔ کميشن اخلی۔ چونکه دا کس په حقيقت کښے سودا اخستونکے نهٔ دے بلکه د اخستونکی په رنګ کښے دهوکه باز دے او په دے کار کښے دهوکه موندے کيږی، دے وجے نه شريعت دا کار حرام ګرځولے۔ نن صبا دور کښے نجش ډير زيات عام شوے څکه خلك په روپو پيسو باندے ځان وژنی او ددے په جمع کولو کښے پرے سترګے پټے وی، او د مسلمان دپاره خير خواهی په خلکو کښے کمه شوے يا ختمه شوے۔ په نجش کښے دا هم داخله ده چه خپله خرخونکے ووائی: ما خپله دا سودا په دومره دومره روپو اخستے۔ حالانکه دا دروغژن وی۔ په دے سره ددهٔ غرض صرف د اخستونکی راپارول او هغهٔ له دهوکه ورکول وی، دے دپاره چه هغه ئے ترے په ګران قيمت واخلی۔ دارنګه دا هم په نجش کښے داخله ده چه بائع ووائی: ماته ګاهك دومره دومره روپئ راکولے خو ما دا سودا ورنهٔ کړه، حالانکه دا دروغژن وی۔ وانظر شرح ابن عثيمين (۳/۵۷۰)

نو د نجش معنیٰ ده بل څوك په يو سودا باندے راتيزول دے دپاره چه معمولی شے په ګران قيمت خرخ شی، ساده خلك دهوکه کړی چه ګنے دا شے ډير قيمتی دے، اُوګوره خلك پرے رامات دی، او مينځ کښے خرخونکی ددهٔ سره سمجهوته کړی وی دے دپاره چه سودا ئے ګرانه خرخه شی۔ که چرته خرخونکے ورسره پدے کار کښے شريك وو نو دواړه ګناهګار دی، او کله بائع خبر هم نهٔ وی بل يو تن ورله ځان ګناهګاروی او خلك پدے سودا باندے راتيزه وی دے دپاره چه ددهٔ ملګرے او خپلوان ډيره ګټه وکړی او دے خلك دهوکه کړی۔ او کله يواځے بائع پورے خاص وی لکه يو بائع خلکو ته خبر ورکوی چه ما د فلانی نه سودا ګرانه راخستے ده او زما سودا د فلانی په نسبت ډيره قيمتی ده، مثلاً داسے ووائی چه زما جاپانے مال دے۔ او مينځ کښے هغه شان نهٔ وی نو دا دهوکه ده۔

كما في الفتح : ٤١٦/٤ . يا د خپل كميشن د وجه نه خلك په دے سودا باندے راتيزوي او دۀ ته معلومه وي چه دا شے اصلي نۀ دے، دويم نمبر دے، او دے ئے صفت كوي چه دا اول نمبر دے۔ داسے كميشن هم حرام دے۔ او نن صبا دا ډير زيات دے۔

د نجش د حراميدو يوه وجه دا ده چه پدے كښے د ساده خلكو دهوكه كول دي، او بل پدے كښے د مسلمان خيرخواهي پريخودل دي۔ [معالم السنن : ٧١٨/٣] كه چا نجش وكړو نو راجح قول دا دے چه پدے سره بيع فاسديږي۔

عبد الله بن ابى اوفىٰ ﷺ فرمائي : ناجش (خلك په سودا راتيزه ونكے) سود خور دے او خيانتګر دے۔ [صحيح البخاري : ٢٨٧/١]۔

او دا مذهب اهل ظاهرو او يو روايت د امام مالك او دا مشهور مذهب د حنابله ؤ دے۔ او د مالكيه ؤ په نيز مشهوره دا ده چه دا بيعه فاسده ده ليكن په شرط د خيار سره صحيح كيږي، او دا يو قول د شوافعو دے۔ او د احنافو او اصح قول د شوافعو دا دے چه دا بيع صحيح ده ليكن سړے ګناهګار دے۔ ليكن اول قول غوره دے۔ ځكه چه نهي تقاضا د بطلان كوي۔

**فوائد** : (١) حديث نه ثابته شوه چه نجش حرام دے ځكه ددے نه منع راغلے او منع د تحريم دپاره وي۔ لكه دلته دا منع راغله : [وَلَاتَنَاجَشُوا] (تاسو يو د بل په سوداګانو خلك مۀ راتيزوئ) [بخاري: ٢١٥٠، مسلم : ١٥١٥]

او د علماؤ په دے اتفاق دے چه نجش كونكے ګنهګار دے ځكه په دے كښے ددے سودا رغبت لرونكي ته دهوكه وركړے كيږي او هغۀ سره خيانت كيږي او دا كار د نصيحت او خير خواهئ خلاف دے۔ خو كه نجش كښے د بائع ورسره موافقت نۀ وي نو بيا ګنهګار صرف ناجش دے، اوكه بائع هم ورسره موافق وي نو بيا دواړه ګنهګار دي۔

(٢) د علماؤ په دے اتفاق دے چه نجش په هغه وخت كښے حرام دے چه كله دا سودا د ثمن المثل (بازاري ريټ) نه زياته پورته كړے شوے وي۔ ولے چه په دے كښے تګي او دهوكه رابنكاره شوے، او نبي ﷺ فرمائي : [اَلْمَكْرُ وَالْخَدِيْعَةُ فِي النَّارِ] (مكر او دهوكه به په أور كښے وي) [البخاري تعليقًا مع الفتح : ٣٥٥/٤، الصحيحة : ١٠٥٧]

❁ خو كه يوه سودا څوك په نجش سره ثمن المثل (په بازار كښے ددے خپل ريټ) ته ورسوي نو آيا دا به هم حرام وي اوكه نه ؟ نو په دے كښے دوه قوله دي :

(**یو قول**) دادے چه دا کار هم حرام دے ځکه د نجش حکم تېول یو ډے برابره خبره ده که د سودا ریښ پورته کول ئے غرض وی یا کمول یا خپل بازاری ریټ ته رسول ئے غرض وی۔ دا د بعض مالکیانو او بعض شوافعو قول دے۔ او دلیل ئے حدیث الباب دے۔

(**دویم قول**) دادے چه دا کار جائز څهٔ چه د اجر او ثواب سبب دے، او دا د احنافو، زیاتره مالکیانو او بعضِ شوافعو رائے ده۔ او دلیل ئے [اَلدِّیْنُ النَّصِیْحَةُ] [مسلم: ۵۵] حدیث دے، دوئ وائی : د سودا ریښ زیاتونکے په دے حالت کښے د خپل خرڅونکی ورور مسلمان خیر خواهی لټوی ځکه په دے کار کښے د هغهٔ نفع ده او بل چاته ضرر نشته۔

خو **راجح قول** اولنے دے، ځکه ددے دلیل قوی دے۔ بله دا چه : یو مسلمان دپاره نصیحت په هغه وخت کښے مطلوب دے چه بل مسلمان ته په دے سره ضرر نهٔ وی، او دلته په دے ریټ زیاتولو سره بل مسلمان ته ضرر دے، ځکه که دا ناجش نهٔ وے نو هغه بل مسلمان ته دا شے ارزان ملاویدهٔ۔ بله دا چه : په دے کار کښے په ظاهره دهوکه هم ده ځکه ناجش د دغه شی ریټ لګوی او مشتری ته دا وربنائی چه ګنے زهٔ هم ددے د اخستو اراده لرم حالانکه دے د اخستو اراده نهٔ لری بلکه هسے ریټونه اُوچتوی، نو دا بعینهٖ دهوکه ده۔ او ظاهره داده چه په حدیث کښے د نجش نه منع دے ټولو صورتونو ته شامل ده خصوصًا کله چه د نجش په معنیٰ کښے فکر وکړے شی۔

(۳) که په سودا کښے نجش وکړے شی نو په سودا باندے ددے څهٔ اثر پریوځی؟ نو په دے کښے درے قوله دی : (**یو**) قول دادے چه په دے سره سودا فاسده ګرځی، او دا د عمر بن عبد العزیزؒ، ظاهریهؒ، امام مالکؒ او امام احمدؒ نه یو یو روایت دے۔ د دوئ دلیل دادے چه ددے کار نه نهی راغلے او نهی د فساد تقاضا کوی۔ خو دا خبره مخدوشه ده ځکه د نهی تعلق د ذات او د شرط د بیع سره نهٔ دے بلکه یو خارجی امر سره دے چه هغه تیزول دی۔ او دا تقاضا د فساد نهٔ کوی، لکه د تصریه او د غش په صورت کښے سودا کول۔

(**دویم**) قول دادے چه عقد صحیح دے او مشتری دپاره د سودا ماتولو اختیار نشته ځکه بیع د خپلو شرطونو او ارکانو سره پوره شوے، او په دے نجش کښے د مشتری له طرفه هم کوتاهی شوے هغه دا چه دهٔ د تجربه کارو خلکو سره مشوره نهٔ ده کړے۔ دا د احنافو مذهب او د شوافعو اصح قول دے۔ خو دا قول مردود دے ځکه په هره سودا کښے د تجربه کارو خلکو سره مشوره کول ګران کار دے چه شریعت ددے حکم نهٔ دے کړے،

شریعت خو په دې حالت کښې د ضرر ختمولو قائل دے، دا وجه ده چه د تصریه او د تلقی الرکبان وغیره په صورتونو کښې ئے خیار ثابت کړے. **(دریم)** قول: دادے چه عقد صحیح دے خو مشتری له به اختیار وی، او دا د مالکیانو او حنابلو قول دے. دومره ده چه مالکیان وائی: نجش د عیب حیثیت لری نو مشتری له به اختیار وی. او حنابله وائی: صرف په هغه صورت کښې به ورله اختیار وی چه د نجش په صورت کښې د عادت نه زیات نقصان ورته رسیدلے وی. د حنابلو دلیل حدیث الباب دے چه په دے کښې د نجش نه منع راغلې، دوئ وائی: د نجش نه منع ناجش ته راجع ده، بائع ته راجع نۀ ده نو ځکه دا د عقد په صحت باندې اثر نۀ غورزوی، او چونکه په دے کار سره د انسان حق وهلے شوے چه ددے تدارك او تلافی ممکنه ده نو ځکه ددۀ دپاره خیار ثابت دے، لکه څنګه چه د غش او تلقی الرکبان په صورت کښې ورله خیار ثابت وو.

او دا قول په ټولو قولونو کښې ظاهر **قول** دے، په دې کښې د دلائلو جمع او په شرعی قاعده باندې عمل راځی چه: [اَلضَّرَرُ یُزَالُ] (ضرر به لرے کولے شی) بله دا چه: د عقد په شرطونو کښې یو شرط رضامندی هم ده او چاته چه د نجش په وجه ضرر رسیدلے د هغۀ په رضا کښې شائبه راغلې، نو دۀ له عوض ورکول صرف په دې صورت کښې کیدے شی چه د سودا ماتولو اختیار ورته ورکړے شی. والله تعالیٰ اعلم.

**خلورمه جمله**: [وَلَا یَبِیْعُ] په یاء سره د نفی صیغه ده، او په بله نسخه کښې [لَا یَبِعْ] په جزم سره د نهی صیغه ده. [حَاضِرٌ لِبَادٍ] حاضر په کلی او ښاریو کښې وسیدونکے. او بادی: په بانډه کښې وسیدونکے. او دلته د بادی نه مراد هغه تن دے چه غله ئے بازار ته ددے دپاره راروانه کړے چه د نن ورځے په ریټ سره ئے خرڅه کړی، بیا اخوا عامه ده که دا بانډه چی دے او که ښارے، لکه یو تن د یو ښار یا کلی نه بل ښار یا کلی ته غله راوړی. او د ښاری سړی د بانډه چی (یا د بهر نه د راتلونکی) سړی دپاره د سودا کولو مطلب دا چه ښارے هغۀ ته ووائی چه سامان دې ماسره کیده زۀ به دا تدریجًا (لږ لږ) په ګرانه بیه خرڅوم. نو ددې نه منع راغله چه ښارے به دا کار نۀ کوی.

بخاریؒ او مسلمؒ کښې طاووسؒ د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت کوی چه رسول الله ﷺ وفرمایل: تاسو د سامان راوړونکو قافلو مخې ته (یعنی د ښار نه بهر) مۀ ورو ځئ، او نۀ دې یو ښارے د یو بانډه چی دپاره سامان خرڅوی. طاووسؒ وائی: ما د ابن عباس رضی الله عنه نه

پوښتنه وکړه: د نبي ﷺ ددې وينا ((ښارې دې بانده چې دپاره سودا نۀ خرڅوي)) څۀ مطلب؟ نو هغۀ وفرمايل: [لَا يَكُونُ لَهُ سِمْسَارًا] هغۀ دپاره به دلال نۀ جوړيږي. (بخاري، مسلم، او الفاظ د بخاريؒ دي). يعني هغه څوك چه په اجرت سره د بائع او مشتري ترمينځه سودا جوړوي. برابره خبره ده که بائع دپاره سودا اخلي اوکه د مشتري دپاره ئې خرڅوي. امام بخاريؒ فرمائي: ابن سيرينؒ وائي: انس ﷺ فرمايلي دي: نۀ به ورله څۀ شے خرڅوي او نۀ به ئې ورله اخلي.

د حديث مطلب دا دے چه چا د بهر نه د ښار بازار او منډئ ته غلے او ميوے راروانے کړے وي نو نبي کريم ﷺ خلك ددے نه منع کوي چه ښارے سړے دغه غله راوړونکو ته مخے ته وروړځي او هغوئ دهوکه کړي او د هغوئ نه په ارزانه بيه دغه غله او ميوه واخلي په دے وجه چه هغوئ د بازاري ريټ نه ناخبره دي. نو ددے منع کولو نه مقصد دا چه خرڅونکي ته هم نفع حاصله شي او د نقصان او دهوکے نه بچ شي او منډئ والا ته هم دغه سوداګانے په ارزانه ريټونو ملاؤ شي ځکه دا عمومي رواج دے چه قافلے والا خپل سامانونه د منډئ د عام نرخ نه لږ ارزانه خرڅوي او انتظارونه دوئ نۀ وباسي. دارنګه دا خبره هم ده چه کله مارکيټ او منډئ ته سامانونه په فراخه اندازه راشي نو ددے نرخ راغورزيږي او عام خلك ددے نه فائده پورته کوي.

نو د تلقي الجلب نه منع پدے وجه وشوه چه نور بازار والو ته تکليف ملاؤ نشي، چه ګټه به صرف يو تن حاصله کړي او باقي به د ګټے نه محرومه شي. دارنګه مالداره خلك به ئې حاصله کړي او غريبانان به محروم شي. نو پدے کښے د غريبانو خلکو معيشت ته ضرر دے پدے وجه منع وشوه. (دا قول د مالكؒ دے) يا پدے کښے نفع د سودا والا ده، چه هغۀ نه مال ډير ارزان خرخ نشي بلکه ډيره ګټه وکړي پدے وجه ئے دۀ ته اختيار ورکړے چه دا بيعه نافذ کړي يا ئے رد کړي. (دا مذهب د شافعيؒ دے)

امام شافعيؒ فرمائي: قافلو والو ته ور وتل ګناه ده او سودا والا اختيار مند دے چه بيعه رد کوي او که نافذ کوي، (يعني ددے خلکو نه بيرته خپله سودا واپس اخستے شي) وجه دا ده چه دے سوداګرو ريټ خراب کړے او بانډو والو ته ئے د هغوي سوداګانے کمے ښکاره کړي چه بازار کښے مالونه زيات دي او ريټ ئے نشته، هسے خواري به وکړے او دومره ګټه به درله ونکړي نو بس ما باندے دلته راخرڅ کړه نو دا خلك دهوکے او مکر او چل

والا دی۔ (التوضیح شرح الجامع الصحیح)

**پنځمه جمله : ولا تصروا** : [لَاتُصَرُّوا] د تاء په پیښن او د صاد په زور سره، د صَرّٰی یُصَرِّیْ تَصْرِیَةً نه دے لکه زَکّٰی یُزَکِّیْ تَزْکِیَةً ۔ د تصریه معنیٰ ده جمع کول، عرب وائی : صَرَّیْتُ الْمَاءَ فِي الْحَوْضِ (په حوض کښے مے اوبۀ جمع کړے)۔ او ځینے وائی : دا هم جائز ده چه دا [تَصُرُّوْا] شی یعنی د تاء په زور او د صاد په پیښن سره شی، او دا د صرّ نه ماخوذ شی چه په معنیٰ د ربط او تړلو سره، د امام نسائیؒ د ترجمة الباب نه دا دویمه معنیٰ ظاهره ده۔ خو راجحه معنیٰ اوله ده۔

[الْإِبِلَ وَالْغَنَمَ] دے کښے غرض تخصیص نۀ دے بلکه دا بطور غالب ذکر شوی، غواګانے په حجاز کښے کمے وے نو ځکه ئے نۀ دی ذکر کړی ورنه ددے حکم هم دغه شان دے۔ او دا قاعده ده چه کوم شے بطور غالب راشی نو هغے پورے تخصیص غرض نۀ وی۔ دا وجه ده امام بخاریؒ په ترجمة الباب کښے بقر ذکر کړے او حدیث کښے دا لفظ نشته، نو دا همدے ته اشاره ده چه حکم په ټولو غولانزو والا څاروو کښے برابر دے۔ او معنیٰ داده چه تاسو د اُوښانو او ګډو بزو خرڅولو په وخت د پیوو (شودو) د زیات ښکاره کولو دپاره ددے حیواناتو په غولانزو کښے پئ مۀ جمع کوئ، دے دپاره چه تاسو په دے سره اخستونکی له دهوکه ورکړئ چه ګنے دا څاروے به هر وخت دومره ډیر پئ کوی۔ حالانکه تاسو دا د څو ورځو نه ددے په غلانزو کښے جمع کړی وی۔ نو اخستونکو له دا دهوکه مۀ ورکوئ۔ [فَمَنِ ابْتَاعَهَا] أَيِ اشْتَرَاهَا. [بَعْدَ ذٰلِكَ] أَيْ بَعْدَ التَّصْرِيَةِ.

[فَإِنَّهُ بِخَيْرِ النَّظَرَيْنِ] أَيْ يَخْتَارُ أَحَدَ الرَّأْيَيْنِ (دا به په دوه رائے ګانو کښے یوه رائے غوره کوی)۔

[أَمْسَكَ] أَيْ أَبْقَاهَا فِيْ مِلْكِهٖ (دادے په خپل ملکیت کښے وساتی)

[وَصَاعًا مِنْ تَمْرٍ] أَيْ وَرَدَّ مَعَهَا صَاعًا مِنْ تَمْرٍ، أَيْ رَدَّهَا وَأَعْطٰى صَاعًا مِنْ تَمْرٍ. یعنی واپس به کړی او ورسره به کړی ددے سره یو صاع کهجورے۔ [مِنْ تَمْرٍ] برابره خبره ده که کهجورے د دغه علاقے د خلکو خوراکه وی او که نۀ۔ او شریعت د یو صاع کهجورے اندازه د جګړے ختمولو دپاره ولګوله چه نۀ به ددے نه کم وی او نۀ زیات، ځکه که دا اندازه شریعت نۀ وے لګولے نو د پیوو په کموالی او زیاتوالی کښے د دواړو جګړه راتلے شوه۔ او دا صاع کهجورے د هغه پیوو عوض دے کوم پئ چه د سودا کولو په وخت د

حیوان په غولانزه کښې موجود وو، او دۀ استعمال کړی دی.

**سوال** : د پیوو مثل او قیمت ئې نۀ دے واجب کړے بلکه په لږو او ډیرو دواړو پیو کښې ئې یو صاع ولې لازم کړو؟ **جواب** : دے دپاره چه دیته رجوع وکړے شی او په دے سره جګړه ختمه شی، ځکه کله انسان په داسے ځائے کښې وی چه هلته د پیوو قیمت نۀ معلومیږی او کله پئ استعمال کړے شی او بیا ددے په کموالی او ډیروالی کښې جګړه پیدا شی، بائع وائی چه زما پئ زیات وو او مشتری وائی چه کم وو، زۀ به کم پئ درکوم. نو ځکه ئې د صاع حد بندی وفرمایله، یعنی شریعت مقرر کړل بس دے ته به رجوع کولے شی، نۀ به د بائع خبره منلے شی او نۀ د مشتری. نو ددے نه دا نۀ لازمیږی چه دا ووئیلے شی چه ددے علت غیر معقول المعنیٰ دے. بلکه دا ئې صحیح علت شو.

[لَاسَمْرَاءَ] سمراء شامی غنمو ته وائی، چه دا د حجازی غنمو نه ګران دی. او د [لَاسَمْرَاءَ] مطلب دا چه دا لازم نۀ دی چه خامخا دِے غنم ورکړے شی، ځکه دا په حجاز کښې د کهجورو نه هم زیات قیمتی دی، بلکه کوم طعام چه د دغه علاقے والو رواج وی (لکه په حجاز کښې کهجورے) نو هغه ورکول کافی دی.

**سوال** : کهجورے ئې ولے عوض مقرر کړو نۀ بل شے؟ **جواب** : ځکه چه کهجورے د پیوو سره زیات مشابهت لری، ځکه چه دا داسے طعام دے چه پخلی ته ضرورت نۀ لری، دارنګه کهجورے په خوږوالی کښې د پیوو مشابه دی.

**فوائد الحدیث** : (۱) حدیث نه ثابته شوه چه د حیواناتو خرخولو په وخت د مشتری دهوکه کولو دپاره ددے په غولانزو کښې پئ جمع کول منع دی. د نسائیؒ په روایت کښې د خرخولو قید راغلے : [اِذَا بَاعَ اَحَدُکُمُ الشَّاةَ اَوِ اللِّقْحَةَ فَلَا يُحَفِّلُهَا] (کله چه په تاسو کښې یو تن ګډه بزه یا لنګه ناقه خرخوی نو د هغے په غلانزه کښې دِے پئ نۀ جمع کوی) [صحیح: نسائی: ۴۴۸۶] ددے حراموالی **حکمت** دادے چه په دے کښې یو خو خاروی ته ضرر دے، او ددے نه هم زیات دا چه په دے کښې مشتری له دهوکه ورکول دی چه هغه به دا ګمان کوی چه ګنے دا د خاروی عادت دے چه دومره ډیر پئ کوی، نو په دے کښې په باطله طریقه د خلکو مالونه خوړل راځی.

(۲) حدیث دلیل دے چه چا مُصَرَّاة خاروے خرخ کړو نو دا سودا به نافذه وی، او دلیل پرے [اِنْ رَضِيَهَا اَمْسَكَهَا] الفاظ دی ځکه که دا بیعه باطله وے نو شارع به دا برقراره نۀ

ساتلے او کله ئے چه برقراره وساتله، معلومه شوه چه دا بیعه صحیح ده اګرکه بائع دهوکه باز او ګنهګار دے۔ (۳) لیکن کوم مشتری سره چه دا دهوکه وکړے شوه او هغه کورته لاړ او یو وخت ئے راولشلو لیکن په دویم وخت ئے هغومره پئ ونۀ کړل، نو اوس ددۀ دپاره دا اختیار ثابت دے چه که زړۀ ئے غواړی نو دا دِے وساتی اوکه واپس کوی ئے نو هم ورله اختیار دے۔ او دا اختیار تر درے ورځو پورے ددۀ دپاره دے ځکه چه حیوان په درے ورځو کښے معلومیږی چه پئ ډیر کوی او که لږ۔ او [بَعْدَ أَنْ يَّحْلِبَهَا] ځکه وائی چه په عامه توګه ددے عیب پته هله لګی چه ولشل شی۔ لیکن که د لشلو نه مخکښے ورته د ګواه یا د بائع د اقرار په وجه ددے عیب پته ولګیده نو هم دا حکم دے۔

(٤) او حدیث دلیل دے چه کله مشتری مُصَرَّاة حیوان بائع ته واپس کوی نو دهغے سره به د کهجورو یو صاع واپس کړی، او دا به د هغه پیوو عوض وی کوم چه د سودا کولو په وخت د حیوان په غولانزه کښے موجود وو او هغه مشتری رالوشلی او استعمال کړی دی، برابره خبره ده که دغه پئ په دغه وخت لږ وی اوکه ډیر۔ البته که بائع او مشتری د کهجورو نه علاوه په بل یو شی باندے خپلو کښے راضی شی نو هم جائز دی ځکه دا د دوئ خپل حق دے۔ اوهر چه هغه پئ دی کوم چه د مشتری کره د پاتے کیدو نه پس د حیوان په غولانزه کښے پیدا شوی نو د هغے په عوض کښے به هیڅ شے نۀ واپس کوی، ځکه که دا خیوان د مشتری کره هلاك شی نو ددے تاوان هم په مشتری باندے دے، نو د [اَلْخَرَاجُ بِالضَّمَانِ] په قاعده پئ به هم ددۀ حق وی۔ او دا د ائمه ثلاثه : مالكؒ، شافعیؒ، احمدؒ او جمهور امت قول دے۔

❁ په دے کښے اکثرو احنافو خلاف کړے۔ دوئ سره په دے باره کښے هیڅ داسے دلیل نشته چه ددے حدیث الباب مقابله وکړی، بلکه صرف د خپلے رائے په وجه ئے دا واضح او ښکاره حدیث پریښے دے۔

## د حدیث د مصراة نه د احنافو جوابونه او د هغے تردید

احنافو پدے حدیث باندے عمل کولو نه ډیر عذرونه کړی چه ټول مردود دی۔ (۱) یو دا چه دا حدیث د اصولو او عقل او قیاس خلاف دے ځکه چه کهجورے د پیوو نۀ مثل صوری دے او نۀ مثل معنوی (یعنی قیمت) ځکه چه مثل صوری ئے دا دے چه پئ ئے

خوړلی نو پیۍ به ورکوی او مثل معنوی ئے دا دے چه د پیوو قیمت ورکړی.

(۲) دویم دا چه دا قاعده ئے جوړه کړے چه دا روایت ابو هریره ﷺ نقل کړے او هغه فقیه نۀ دے، او کوم روایت چه د عقل خلاف وی او د فقیه صحابی نه نقل نۀ وی نو هلته به عقل مقدم کولے شی په روایت باندے. لهذا د ابو هریره ﷺ دا صحیح حدیث د عقل د مخالف کیدو په وجه رد کوی.

ددے نه جوابونه دا دی (۱) مسأله د مُصَرّاة هیڅکله د عقل او اصولو خلاف نۀ ده، بلکه دا بعینهٖ د صحیح قیاس او عقل برابره ده، که تاسو دا وایئ چه پدے کښے تضمین دے په غیر د جنس سره ځکه چه کهجورے د پیوو مثل نۀ دے صورةً او نۀ معنیً نو مونږ وایو چه دا تضمین انتهائی د عدل موافق دے ځکه چه مثل صوری سره ضمان ورکول ممکن نۀ دی، ځکه چه په غولانزه کښے پیۍ محفوظ وو، خراب والے پکښے نۀ راتللو خو کله چه ولوشل شو نو دا به اُوس زر خرابیږی، ترش والے به پکښے پیدا کیږی، نو که چرته د غلانزے والا پیوو بدله کښے په لوښی کښے لوشلے شوی پیۍ ورکوی نو دا به ظلم وی. دویم دا چه د عقد نه روستو چه کوم پیۍ پیدا شوی نو دا د هغه پیوو سره خلط ملط شو چه کوم د عقد په وخت کښے موجود وو نو اُوس د هغے اندازه نۀ معلومیږی چه مخکښی پیۍ څومره وو او روستو څومره وو تردے چه مونږ د هغے په مثل پیۍ په مشتری باندے لازم کړو، ځکه چه کله به دا پیۍ کم وی د هغے نه یا به اکثر وی نو دے کښے د جمهورو په نیز سود راځی ځکه چه مساوات نا معلوم دے. دریم دا چه که مونږ دا د بائع او مشتری اندازے ته وسپارو یا د یو تن اندازے ته ئے وسپارو نو د دواړو ترمینځ به جګړے ډیرے شی نو پدے وجه نبی ﷺ جګړه ختمه کړه او یو حد ئے مقرر کړو چه دواړه به هغے ته رجوع کوی او جګړه به ئے ختمیږی، او بل طرفته کهجورے مقررول د ټولو شیانو په نسبت پیوو ته زیات نزدی دی ځکه چه دا د مدینے والو خوراك وو لکه څنګه چه پیۍ د هغوی خوراك وو. او کهجورے مکیلی شے دے لکه څنګه چه پیۍ مکیلی دی نو دواړه په مکیلی او مطعوم او قوت کیدو کښے یو شان شو. او دواړه داسے خوراك دے چه په غیر د صنعت نه پیدا کیږی، په خلاف د غنم، وریشو او وریژو نه. لهذا پیۍ کهجورو ته په ډیرو وجوهو سره نزدے شو نو کهجورے د

پیوو مثل کیدل واضح شو۔ [راجع إعلام الموقعين تفصيلا : ۲/ ۳۸]. په منطقي اصطلاح پئ او کهجورې په جنس بعید (ابعد) کښې شریك شو، د یو بل مثل شو۔

بله دا چه په هغه وخت کښې، او دارنګه اُوس هم په سامانونو باندې شیان اخستل کیږي لکه غوړې په غوزانو او په پنیر وغیره باندې۔

بله وجه دا ده چه دا چا وئیلي دي چه کله حدیث د اصولو خلاف راشي هغه به رد کولې شي بلکه حدیث خپله اصل او قاعده ده چه عمل به پرې واجب وي، داسې به نهٔ کوو چه د رسول الله ﷺ سنت یو په بل باندې رد کړو، د الله د نبي په خبرو کښې تضاد او تعارض نهٔ وي، تعارض صرف د کمزورې علم والا، یا د خراب زړهٔ والا په ذهن کښې پیدا کیږي. یا دا چه یو طرف ته صحیح حدیث وي او بل طرفته ضعیف۔ نو په ظاهره کښې تعارض ښکاره شي۔ حال دا چه دا تعارض نهٔ دې ځکه چه صحیح حدیث دین دې او ضعیف نهٔ دې۔ دا قاعده په احنافو کښې عیسی بن ابان جوړه کړیده چه ډیرو احنافو رد کړې هم ده لکه شاه انور شاه کشمیريؒ وئیلي دي چه داسې خبرې د کتابونو د فقه نه ویستل پکار دي۔ (العرف الشذی : ۱/ ۲۳۸)

او ددې قاعدې نه ابو حنیفهؒ او شافعيؒ او مالكؒ خبر هم نهٔ دي۔

**دریمه** وجه دا ده چه دا چا وئیلي دي چه ابو هریره رضی الله عنه او انس بن مالك رضی الله عنه د فقهاؤ نه نهٔ وو، بلکه دا د ټولو روستنو فقهاؤ نه ډیر فقاهت والا وو او دا خبره یقیني ده ځکه چه دوئ ته الله تعالیٰ هغه ذکاوت، تقویٰ، خیر او نُور ورکړې وو چه هغه اندازه ئې روستو یو امام ته هم نهٔ دې ورکړې او فقاهت خو پدې اسبابو سره ملاویږي۔

بلکه ابو هریره رضی الله عنه د صحابه کرامو رضی الله عنهم په زمانه کښې مفتي وو، دارنګه انس بن مالك رضی الله عنه به هم فتوې ورکولې۔ عیسیٰ بن ابان دِې فقاهت والا وي او د اسلام دا غرونه دِې فقاهت نهٔ لري، دا کوم عقل دې ؟!۔

**څلورمه وجه** : د ابو هریره رضی الله عنه او د انس بن مالك رضی الله عنه نه تقریباً اته زره احادیث نقل دي نو پدې غلطې قاعدې سره به د دین اکثره برخه د مینځ نه لاړه شي او روافضو او ملحدینو ته به لاره کولاوه شي ځکه چه هغوی به وائي چه دا حدیثونه د اصولو او عقل خلاف دي۔

**پنځمه وجه** : دا د کوم ځائې نه تاسو معلومه کړه چه ابو هریره رضی الله عنه دا روایت په معنیٰ

سره نقل کړے، او الفاظ د رسول الله ﷺ نهٔ دی۔ یعنی هغه به پکښې خطاء شوے وی او د رسول الله ﷺ مطلب به ئے غلط نقل کړے وی۔ دا د خپلے باطلے خبرے دپاره ثقه خلك خطاء کول دی چه جائز نهٔ دی۔

شپږمه وجه دا چه : دا حدیث یواځے د ابو هریره رضی الله عنه نه نهٔ دے روایت شوے بلکه د هغه صحابه کرامو رضی الله عنهم نه هم نقل دے چه د احنافو په نیز ډیر فقاهت والا دی لکه عبد الله بن مسعود رضی الله عنه كما في البخاري ۱/۲۸۸، رقم الحديث : ۲۱٦٤] [مَنِ اشْتَرٰى شَاةً مُحَفَّلَةً]

**اومه وجه** : پدے قاعده څه شرعی دلیل دے چه ثمن دوه قسمه دے صوری او معنوی؟۔ بلکه درے قسمه دِے شی، صوری او معنوی او نهٔ صوری او نهٔ معنوی۔ لکه پدے حدیث کښے راغلے دے۔

او د مصراة د مسئلے په باره کښے د یو حنفی او شافعی ترمینځ په بغداد کښے په مسجد رصافه کښے یوه مناظره شروع شوه، حنفی ووئیل : ابو هریره رضی الله عنه فقیه نهٔ وو او قابل د اجتهاد نهٔ وو، نو اچانك په هغهٔ باندے یو تور مار راپریوتو نو حنفی منډه کړه او مار وریسے وو نو زر چا ورته ووئیل چه د خپلے خبرے نه استغفار وغواړه، هغهٔ استغفار وکړو نو مار ترے جدا شو او ناڅاپه غائب شو۔ دا قصه په (مجموعة الفتاوى د شيخ الإسلام ۵۳۲/٤، مع الردود. والعرف الشذى ۳/۳۳، او تاريخ بغداد او سير اعلام النبلاء : ٤/۳۷، رقم : ۱۲٦ ابوهريرة رضی الله عنه) کښے موجوده ده۔ او دغه شان بله قصه په حياة الحيوان د دَمِيرِى (۳۹٦/۱) کښے ذکر ده۔

(۵) **فائده** : اسلام خپل پیرو کار د هر قِسم دهوکے نه منع کړی او د خلکو د حقونو احترام ئے کړے۔ مشتری له په دے صورت کښے د درے ورځو پورے خیار ورکول ددے ښکاره ثبوت دے۔

(٦) د مصراة په حکم کښے هره دهوکه هم ده لکه د وینځے ویښته سپین شوی وی نو د خرڅولو په وخت ورله ویښته تور کړی چه اخستونکے گمان وکړی چه دا ځوانه ده، او حال دا چه هغه بوډئ وی۔ دغه شان یو گاړے جنگیدلے وی، بیا ورله ښکلے رنگ ورکړی او د اصلی رنگ سره ئے یو شان کړی نو اخستونکے گمان وکړی چه گاړے نوے دے نو گران ئے واخلی حال دا چه هغه زوړ او جنگیدلے وی۔ دارنگه کور دَ خرڅولو په وخت کښے رنگ روغن کړی چه اخستونکے گمان وکړی چه نوے دے۔ الغرض : پدے

کښې قاعده دا ده چه خپله سودا په داسې صفت سره ښکاره کول چه خلك پکښې مينه وکړي او ګران ئې واخلي او مينځ کښې د هغه صفت نه خالي وي. پدې ټولو حالتونو کښې اخستونکے اختيارمند دے چه بائع ته خپله سودا واپس کړي.

(۷) دلته يوه نکته ده او هغه دا چه يو کمالي صفت دے او بل عيب دے، د عيب په صورت کښې مشتري اختيار مند دے چه سودا واپس کوي او که د بائع نه د عيب مطابق تاوان اخلي. او د صفتِ کمالي د فوت کيدو په صورت کښې مشتري به ئې يا واپس کوي يا به ئې بغير د تاوان اخستو نه ځان سره ساتي. پدې وجه ئې دلته (اِنُ شَاءَ أَمُسَكَهَا) لفظ ووئيلو.

2848 ( 15 ) وَعَنُهُ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوُلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيُهِ وَسَلَّمَ : " لَا تَلَقَّوُا الُجَلَبَ فَمَنُ تَلَقَّاهُ فَاشُتَرٰى مِنُهُ فَإِذَا أَتٰى سَيِّدُهُ السُّوُقَ فَهُوَ بِالُخِيَارِ ". رَوَاهُ مُسُلِمٌ

**ترجمه** : ابو هريره ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو د هغه قافلو مخې ته مۀ ورو‌ځئ چه هغوئ د بهر نه غلے راوړي، او چا چه (بازار ته د رسيدو نه مخکښې) هغه سره ملاقات وکړو او سودا ئې ترې واخسته نو کله چه مالك ددے مال بازار ته راغلو نو دۀ ته اختيار دے. (که غواړي، سودا دے جاري وساتي اوکه غواړي نو ختمه دے ئې کړي). (مسلمؒ).

**تشريح** : [الُجَلَبَ] د جيم او لام په زور سره، په لغت کښې د يو ځائے نه بل ځائے ته راوړل شوي شي ته وائي، نو تلقي الجلب معنی : د هغه خوراك اخستو دپاره مخې ته ورو‌تل کوم چه قافلے والو د يو ښار نه بل ښار ته د خرڅولو دپاره را روان کړے.

[فَمَنُ تَلَقَّاهُ] څوك چه هغۀ ته ور اُووتو. يا څوك چه ملاؤ شو د غلے او خوراك خاوند سره. [سَيِّدُهُ] سيّد د راوړل شوي خوراك خاوند ته وائي. [فَهُوَ بِالُخِيَارِ] يعنی د سودا نافذولو او فسخ کولو ترمينځه به ددۀ اختيار وي.

بِالُخِيَارِ : يعنی که څوك قافلے والو ته اُوځي او د هغوی نه سامان واخلي او بيا د سامان مالك بازار ته راغلو وے کتل چه زما نه خو مال ارزان اخستے شويدے نو دۀ ته اختيار دے چه دا سامان بيرته اخلي او که په زوره حالت باندے راضي پاتے کيږي.

او دا حديث دليل دے چه باندو والو زميندارو ته لاروته ورو‌تل او سامانونه ترې اخستل

او بيا په بازار كښې ګران خرڅول ناجائز دي- او د اختيار وركولو نه معلومه شوه چه دا بيع صحيح ده ځكه چه كه دا صحيح نۀ وې نو مالك ته به ئې اختيار نۀ وركولے بلكه بائع او مشترى به ئې په فسخ كولو مجبوره كړي وې- اګركه دا كار ګناه ده-

2849 (16) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " لَا تَلَقَّوُا السِّلَعَ حَتّٰى يُهْبَطَ بِهَا إِلَى السُّوْقِ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

**ترجمه** : او ابن عمر ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو د سوداګانو (د سامان راوړو والا) مخې ته مۀ ورځئ تردے چه هغه بازار ته راكوزے كړے شي- (بخاريؒ ومسلمؒ)

**تشريح** : السِّلَعَ : جمع د سِلْعة ده، سودا- د سوداګانو مخې ته ورتلل نه مراد د سامانونو والو مخې ته ورتلل دي-

**فوائد او مسائل** : (۱) د تلقي الركبان نه د ممانعت **حكمت** (أ) د سودا راوړونكي سړي لحاظ ساتل دي چه هغه په خپله دے سودا كښې تاوان ونۀ كړي ځكه چه دا خو د بازاري ريټ نه خبر نۀ وي نو مشتري به ددۀ نه په ارزان قيمت باندے دا سوداګانے واخلي- او دا د امام شافعيؒ قول دے، او ددے تائيد د ابو هريره ﷺ حديث دے چه په دے كښې ئے خرڅونكي له اختيار وركړے، نۀ بازار والو له- (ب) او يا په دے كښې غرض د بازار والو لحاظ ساتل دي چه هغوئ د مختلفو ځايونو نه منډئ ته ددے دپاره راغلي چه د الله فضل او حلال رزق حاصل كړي، او هر كله چه څوك د دوئ په رزق كښې لته ووهي او قافلې والو ته بهر ورووځي او د هغوئ نه سوداګانے وكړي نو يا به ئې ذخيره كړي او يا به ئې په منډئ والو ګرانے ورخرڅې كړي نو په دے كښې د منډئ والو نقصان دے نو ځكه شريعت ددے نه منع وكړه- او دا د امام مالكؒ قول دے- ددے تائيد دا حديث د ابن عمر ﷺ دے : [لَاتَلَقَّوُا السِّلَعَ حَتّٰى يُهْبَطَ بِهَا اِلَى السُّوْقِ] (سوداګانو ته بهر مۀ ورووځئ تردے پورے چه هغه بازار ته راوغورزول شي) [بخاري : ۲۱٦۵، مسلم : ۱۵۱۷]

علامه شوكانيؒ فرمائي : په دے منع كښې د دواړو د حقونو لحاظ كيدے شي-

(۲) **مسئله او اختلاف** : څوك چه د بهر نه د خوراك راروانې قافلې ته ورواتۀ او د هغوئ نه ئې اخستل وكړل، او د ګناه ارتكاب ئې وكړو نو ددۀ دا سودا صحيح ده او كه نه ؟

(أ) امام بخاريؒ، امام احمدؒ په يو روايت كښې، بعض مالكيان او بعض حنبليان وائي :

دا سودا مردوده ده ځکه چه دا منع شوے سودا ده او نهي مطلقًا د فساد تقاضا کوي. علامه صنعانيؒ هم دیته ترجیح ورکړے. (ب) دویم قول دا چه: مذکوره سودا صحیح ده خو بائع له به د فسخ کولو اختیار وي. او دا د ائمه ثلاثوؒ قول دے، علامه شوکانيؒ او حافظ ابن حجرؒ ددے غوره والي ته اشاره کړے. **دلیل** ئے دادے چه د ابو هریره ؓ په حدیث کښے ئے بائع له اختیار ورکړے او اختیار ورکول د سودا د صحیح ګرځولو نښه ده ځکه که دا بیع فاسده وے نو بیا به ئے بائع له اختیار نۀ ورکولے. بله دا چه: دلته دا نهي ذات د عقد یا شرط د عقد ته نۀ ده متوجه، بلکه دا یو خارجي شي ته متوجه ده چه هغه د بهر نه د راتلونکي سړي نقصان دے. نو دا د فساد تقاضا نۀ کوي. علامه عبد الله الفوزانؒ فرمائي: دا قول زما په نیز **راجح** دے ځکه نبي ﷺ [لَا تَلَقَّوْا] وئیلي دي، [لَاتَشْتَرُوْا] ئے نۀ دي فرمایلي.او خیار ورکول هم واضح دلیل دے. [منحة العلام: ٦/٩٧]

(٣) د تلقي الرکبان په صورت کښے که بائع له ئے تاوان ورکړے وي، او په کم ریټ ئے ترے سودا اخستے وي، نو بائع دپاره د خیار په ثبوت کښے اختلاف نشته. البته که سامانونه ئے ترے په بازاري ریټ یا ددے نه په زیات ریټ اخستي وي، نو په دے کښے دوه قوله دي: **یو** قول دا چه بیا هم ورله اختیار ثابت دے، او دا د امام شافعيؒ قول او د امام احمدؒ یو روایت دے. علامه شوکانيؒ دا غوره ګرځولے ځکه په حدیث کښے ئے هغۀ دپاره مطلقًا اختیار ورکړے، که په هر قیمت ئے ترے سودا اخستے وي. **دویم** قول دا چه: ددۀ دپاره اختیار ثابت نۀ دے ځکه اختیار د غرر او ضرر په صورت کښے ثابتیږي او دۀ ته غرر او ضرر نۀ دے رسیدلے. دا د احنافو او شوافعو یو قول دے.

**راجح** قول په دے کښے اولنے دے: هغه دا چه بائع دپاره مطلقًا اختیار ثابت دے برابره خبره ده که سودا ئے ترے په غبن سره اخستے وي اوکه په غیر د غبن نه. د درے وجونه:

(أ) یو د جګړے ختمولو دپاره، ځکه په غبن او تاوان کښے کله خلك مختلف کیدے شي یو وائي: دا تاواني دے بل وائي: نۀ دے. (ب) په دے کښے د بائع زړۀ ته اطمینان رسي. (ج) په دے کښے مُتلقي ته ادب ورکول دي چه بیا چرته داسے کار ونۀ کړي.

(٤) او حدیث نه معلومه شوه چه بانده چې سړي دپاره د ښاري سړي سودا خرڅول منع دي. ددے صورت دادے چه څوك خپله سودا خرڅوي هغه ښار ته راشي او څوك چه په ښار کښے وسیږي هغه ورله ددے د خرڅولو ذمه واري په غاړه واخلي. برابره خبره

ده که بانډه چې د ښاري سړي رشته دار وي اوکه پردے، او برابره خبره ده که دغه راوړی سامان ته د دغه ښار خلك محتاج وي اوکه نه، په دے تولو صورتونو کښې حکم یو دے۔
د انس ﷺ په حدیث کښې دي: ((مونږ ددے نه منع شوي یو چه ښارے د بانډه چې دپاره سودا وکړي، اګرکه هغه ئے خپل ورور یا پلار وي)) [مسلم: ۱۵۲۳]
ددے **حکمت** دا کیدے شي چه کله ښارے سړے ورله دا سودا خرخوي نو په دے کښې ښاریانو ته د نرخ ګرانیدو خطره وي ځکه ښارے سړے به ورله دا سودا د ښار په موجوده ریټ باندے خرخوي۔ ددے په خلاف که بانډه چې دا په خپله خرڅولے نو غالبه داده چه هغه ئے ارزان خرخوي او خپل ځان فارغوي او کور ته واپس کیږي، نو په دے کار سره خلکو ته آساني او فراخي حاصلیږي، ریتونه آرزانه شي او خیر او برکت عام شي، او همدے معنیٰ ته نبی اکرم ﷺ اشاره کړے: [لَا يَبِيعُ حَاضِرٌ لِبَادٍ، دَعُوا النَّاسَ يَرْزُقِ اللَّهُ بَعْضَهُمْ مِنْ بَعْضٍ] (ښارے دے کلیوال له سودا نهٔ خرخوي، خلك پریدئ چه الله دوئ له یو د بل نه رزق ورکړي) [مسلم: ۱۵۲۲]
(۵) **مسئله**: که ښارے سړے بانډه چې له سودا خرخه کړي نو دا سودا به صحیح وي اوکه باطله؟ نو مالکیان، حنابله او ظاهریه وائي: ددے حدیث د وجے دا سودا باطله ده، ځکه نبي ﷺ ددے کار نه منع فرمایلے او منع د منع شوي شي د فساد تقاضا کوي۔
(ب) حنفیان، شافعیان او بعض مالکیان او په یو روایت کښې امام احمدؒ وائي: دلته نهي ذات د منهي عنهٗ ته راجع نهٔ ده بلکه یوے خارجي معنیٰ ته راجع ده چه هغه ښار والو ته ضرر ورکول دي۔ او دا قاعده ده چه کله نهي ذات د منهي عنه ته متوجه نهٔ وي نو دا د عقد د بطلان تقاضا نهٔ کوي۔ دارنګه په دلیل کښې دا حدیث هم پیش کوي: [وَإِذَا اسْتَنْصَحَكَ فَانْصَحْ لَهُ] [مسلم: ۲۱۶۲] (کله چه تا نه مسلمان نصیحت وغواړي نو خیر خواهي ئے کوه) دوئ وائي: دا عام حدیث دے چه د بانډه چې سړي دپاره د ښاري سړي د سودا د منع کولو په منسوخیت دلالت کوي، ځکه په ابتداء د اسلام کښې د خلکو حالات تنګ وو نو ددے نه ځکه منع راغلے وه بیا روسته فراخي راغله۔ خو د دوئ دا استدلال د دوو وجو نه ضعیف دے:
**(یو)** دا چه نسخ په احتمال سره نهٔ ثابتیږي، ددے دپاره دلیل پکار دے۔
**(دویم)** د نصیحت احادیث اګرکه عام دي خو په حدیث الباب سره ددے تخصیص

شوي، یا د نصیحت په احادیثو کښې دا شرط لګول شوي چه کله نصیحت وغواړي نو په قول سره به ئې ورته نصیحت کوي، نۀ دا چه هغۀ دپاره سودا وکړي۔

دې وجې نه راجح قول اولنې دې هغه دا چه ښارې به د بانډه چې دپاره سودا نۀ خرڅوي بلکه هغه به پرېښودلې شي تردې چه هغه خپله سودا په مناسب ریټ خرڅه کړي او په دې سره نورو مسلمانانو ته هم فائده ملاؤ شي۔ ځکه که بیع مونږ صحیح کړو نو په دې کښې ښار والو ته نقصان او تنګي ده۔

(دویم) ممکنه ده چه ښارې سړې چه بانډه چې ته د سودا حقیقي ریټ ورکوي نو په دې کښې دا رشتینې نۀ وي نو په دې سره دۀ ته د ضرر ملاویدو خطره ده۔

(٦) حدیث نه معلومه شوه چه کله د انفرادي او اجتماعي مصلحت تعارض راشي نو اجتماعي مصلحت له به ترجیح وي، لکه دلته شریعت یو تن د عامو ښاریانو خلکو د مصلحت د وجې د تلقي الرکبان نه منع کوي، دې دپاره چه دوئ تول نیغ په نیغه د بهر نه د غلې راوړونکي شخص نه فائده حاصله کړي۔ او بل طرفته د ښاري سړي په دې کښې فائده ده چه بانډه چې له خرڅول وکړي، لیکن شریعت ددې کار نه په دې وجه منع وکړه چه عام ښاریان خلك د ریټ د آرزانئ نه فائده پورته کړي۔ والله تعالیٰ اعلم۔

## د چا په سودا باندې سودا کول ناجائز دي

2850 (17) وَعَنْهُ ﷺ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " **لَا يَبِعِ الرَّجُلُ عَلٰى بَيْعِ أَخِيْهِ وَلَا يَخْطُبُ عَلٰى خِطْبَةِ أَخِيْهِ إِلَّا أَنْ يَّأْذَنَ لَهُ** ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

**ترجمه** : او ابن عمر ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمایل : یو سړے دې د خپل ورور (مسلمان) په سودا باندې سودا نۀ کوي او نۀ دې د خپل ورور (مسلمان) په جرګه باندې جرګه کوي مګر که هغه (ورور) ورته اجازت ورکړي۔ (مسلمٌ)

**تشریح** : حدیث نه معلومه شوه چه کوم مسلمان ورور یوې جینئ کره د نکاح پیغام لیږلے نو ترڅو پورې چه هغې دغه اولنې پیغام رد کړې نۀ وي یا پیغام لیږونکي اجازت نۀ وي کړے، نو د هغۀ د پیغام دپاسه پیغام لیږل منع دي۔

او د منع حکمت دا دې چه داسې قسم تصرف د بُغض او دشمنئ سبب ګرځي۔ بله دا چه دا د مسلمان ورور په حق باندې تیرې او ظلم دې او دا جائز نۀ دې۔ د ابن عمر ﷺ په

حدیث کښې ددې قید او تفصیل راغلې۔ نبی کریم ﷺ فرمائی : [لَا یَخْطُبُ بَعْضُکُمْ عَلٰی خِطْبَةِ أَخِیهِ حَتّٰی یَتْرُكَ الْخَاطِبُ قَبْلَهُ أَوْ یَأْذَنَ لَهُ الْخَاطِبُ]۔ [بخاری : ۵۱٤۲، مسلم : ۱٤۱۲]
یو تن دې د خپل ورور مسلمان په جرګه باندې جرګه نۀ کوی تردې چه جرګه کونکے ئې پریدی یا دۀ ته اجازت ورکړی۔ او ددې باقی تفصیل به په کتاب النکاح کښې راشی۔ ان شاء الله۔

2851 (18) وَعَنْ أَبِی هُرَیْرَةَ ﷺ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : " **لَا یَسُمِ الرَّجُلُ عَلٰی سَوْمِ أَخِیهِ الْمُسْلِمِ** ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ .

**ترجمه** : او ابو هریره ﷺ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ وفرمایل : ریټ دې نۀ کوی یو سړے د خپل ورور مسلمان په ریټ باندې۔ (مسلمؒ)

**تشریح** : «ریټ دې نکوی په ریټ د وروړ مسلمان» ددې صورت دا دې چه یو تن لګیا دې د یو تن سامان ریټ کوی او هغۀ سره په رقم مقررولو باندې خبره روانه وی، نو بل د بیع نه مخکښې راشی او ددې رقم نه زیات رقم یاد کړی او دغه سودا واخلی نو دا کار حرام دې، لیکن بیعه صحیح ده۔

معنیٰ دا ده : یو سړے دې د وروړ مسلمان په شراء (اخستو) باندې نۀ داخلیږی او په هغۀ باندې دې ریټ نۀ زیاتوی دې دپاره چه ددۀ نه ئې واخلی۔ (المفاتیح شرح المصابیح)

## ښارے سړے به بانډه چی له مال نۀ خرڅوی

2852 (19) وَعَنْ جَابِرٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ :" **لَا یَبِعْ حَاضِرٌ لِبَادٍ دَعُوا النَّاسَ یَرْزُقِ اللّٰهُ بَعْضَهُمْ مِنْ بَعْضٍ** ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

**ترجمه** : او جابر ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : ښارے دې بانډچی دپاره (سامان) نۀ خرڅوی، خلك پریدئ چه الله تعالیٰ د هغوی نه بعضو نه بعضو ته رزق ورکړی۔ (مسلمؒ)

**تشریح** : [دَعُوا النَّاسَ ] یعنی خلکو دپاره ریټونه هم مۀ کوئ او قافلے والو ته هم مخے ته مۀ ورأوځئ۔ یعنی اے دلالانو ! تاسو خلك په خپل بازاری نظام باندې پریدئ او د هغوی ترمینځ مۀ رانـنوزئ او د هغوی ترمینځ ریټونه مۀ لګوئ، پریدئ چه په خپله طعامونه او سامانونه خرڅ کړی چه رزق حاصل کړی یعنی الله تعالیٰ به مشتری

ته په واسطه د بائع او بائع ته په واسطه د مشتری رزق ورکوی۔

ددې حدیث نه دا هم معلومه شوه چه اسلام په بازاری نظام صحیح کولو باندې ډیره توجه ورکړې ده۔ او غواړی چه بازار دې په خپل طبعی طرز باندې روان وی او پدې کښې یو تن داسې پیدا نشی چه هغه پکښې مداخلت وکړی، او د بازار نظام خراب کړی لکه څنګه چه اسلام نۀ غواړی چه په بازار کښې دې ذخیره اندوزی پیدا شی او خلک خپل سامانونه بند وساتی دې دپاره چه ګران شی او بیا د خپلې مرضۍ مطابق ریټونه ولګوی او دا د اسلام اقتصادی نظام دې۔

## د دوه لباسونو او دوه سوداګانو نه منع

2853 (20) وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ ﷺ قَالَ: نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ لِبْسَتَيْنِ وَعَنْ بَيْعَتَيْنِ: نَهٰى عَنِ الْمُلَامَسَةِ وَالْمُنَابَذَةِ فِي الْبَيْعِ **وَالْمُلَامَسَةُ**: لَمْسُ الرَّجُلِ ثَوْبَ الْآخَرِ بِيَدِهٖ بِاللَّيْلِ أَوْ بِالنَّهَارِ وَلَا يَقْلِبُهُ إِلَّا بِذٰلِكَ **وَالْمُنَابَذَةُ**: أَنْ يَّنْبُذَ الرَّجُلُ إِلَى الرَّجُلِ بِثَوْبِهٖ وَيَنْبُذُ الْآخَرُ ثَوْبَهٗ وَيَكُوْنُ ذٰلِكَ بَيْعَهُمَا عَنْ غَيْرِ نَظَرٍ وَلَا تَرَاضٍ، **وَاللِّبْسَتَيْنِ**: اِشْتِمَالُ الصَّمَّاءِ **وَالصَّمَّاءُ**: أَنْ يَّجْعَلَ ثَوْبَهٗ عَلٰى أَحَدِ عَاتِقَيْهِ فَيَبْدُوْ أَحَدُ شِقَّيْهِ لَيْسَ عَلَيْهِ ثَوْبٌ وَاللِّبْسَةُ الْأُخْرٰى: اِحْتِبَاؤُهٗ بِثَوْبِهٖ وَهُوَ جَالِسٌ لَيْسَ عَلٰى فَرْجِهٖ مِنْهُ شَيْءٌ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

**ترجمه**: او ابو سعید خدری ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ د دوه لباسونو او دوه سوداګانو نه منع فرمائیلې ده، (یو) د ملامسه او منابذه سودا نه ئې منع فرمائیلې، ملامسه: د یو سړی د بل سړی جامه په لاس سره مسه کول دی په شپه یا په ورځ کښې او هغه نۀ اړه وی مګر په لاس سره، او منابذه دا ده چه یو سړې بل سړی ته خپله جامه وروغورزوی او بل سړې هغۀ ته خپله جامه وغورزوی او همدا د هغوی سودا وی بغیر د نظر کولو او بغیر د رضامندئ نه۔ او دوه لباسونه (یو دا دې) کپړه د صماء په طریقه اغوستل دی، او صماء طریقه دا ده چه یو تن خپله کپړه د دواړو اُوګو نه په یو باندې واچوی نو د هغۀ د دواړو طرفونو نه یو طرف ښکاره شی چه په هغې باندې کپړه نۀ وی، او دویم لباس (دا دې) د سړی خپله کپړه تاوول دی په داسې حال کښې چه هغه ناست وی او د هغۀ په عورت باندې د هغې نه هیڅ شې نۀ وی۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

**تشريح** : لِبْسَتَيْنِ : د لام په زير سره، هيئت او حالت د جامو اغوستلو ته وائي، ځکه چه فِعْلَةٌ وزن په حالت او هيئت باندے دلالت کوي، او دلته يو کرت جامه اغوستل نهٔ دي مراد۔ (تحفة الاحوذي)

[الْمُلَامَسَةِ] د لمس نه دے مسه کولو ته وائي۔ او دا هم باب مفاعله ده تقاضا د اشتراك کوي۔ او دا هغه سودا ده چه په دے کښے يوتن ووائي: کله چه زهٔ ستا جامه مسه کړم او تهٔ زما جامه مسه کړے نو په غير د سوچ نه به سودا پوره وي۔ او دا **تفسير** د ابو هريره ﷺ په حديث کښے په مسلمؒ او نسائیؒ کښے راغلے۔ يعني داسے ووائي چه زهٔ دا جامه ستا په جامه په تا خرخوم خو يو هم د بل جامه نهٔ ګوري صرف په ګوتے ور وړلو د يو بل سره سودا پوره کوي۔

**دويم تفسير** : بائع ووائي : کومے جامے سره چه ستا لاس ولګيدهٔ هغه ستا په دومره پيسو شوه۔ دا تفسير په نسائیؒ کښے د ابو سعيد خدري ﷺ په حديث کښے راغلے۔

**دريم تفسير** : يا داسے ووائي : [اَبِيعُكَ هٰذَا الْمَتَاعَ بِكَذَا فَإِذَا لَمَسْتُكَ وَجَبَ الْبَيْعُ اَوْ يَقُوْلُ الْمُشْتَرِيْ كَذٰلِكَ] زهٔ تا باندے دا سامان خرخوم (يو معلوم سامان ته اشاره وکړی) په دومره دومره پيسو نو کله چه زهٔ تا سره لاس ولګوم نو بيعه به پوره وي۔ يا مشتري (اخستونکے) داسے ووائي۔ څلورم **تفسير** : [اَنْ يَّلْمِسَ ثَوْبًا مَطْوِيًّا ثُمَّ يَشْتَرِيَهُ عَلٰى اَنْ لَا خِيَارَ لَهٗ اِذَا رَاٰهُ] يوه تاو شوے جامے ته لاس يوسی بيا هغه واخلي پدے شرط چه هرکله دهٔ وليده نو اختيار به ئے ختم وي۔ (سودا به پوره شوی وی)۔

يعنی صرف په ګوتے ور وړلو به بيعه پوره وي او د ليدو په وخت به ئے د واپس کولو اختيار نهٔ وي) **پنځم تفسير** : امام زهریؒ ذکر کړے کوم چه پدے روايت کښے راغلو : يو تن په شپه کښے يا په ورځ کښے د بل يو تن جامے ته ګوتے ور وړی نو بيعه به پوره وی بغير د اړه ولو راړه ولو نه۔ (يعنی د کتو نه بغير صرف په لاس ور وړو سره بيعه پوره کيږی) (عمدة القاری) شپږم **تفسير** : داسے ووائي : [اَیَّ ثَوْبٍ لَمَسْتَ فَهُوَ لَكَ بِكَذَا]

تا چه هره جامه مسه کړه نو هغه به ستا دپاره په دومره پيسو وی۔ يا هره ګډه چه تا مسه کړه او هره ونه د کهجورے چه تا مسه کړه نو هغه به ستا دپاره په دومره پيسو وی، نو دا مشتری ته نهٔ ده معلومه۔ مثلاً مشتری ته ووائي چه سترګے پټے کړه او پدے رمه کښے په يوه ګډه باندے لاس کيده نو هغه به ستا وی نو اُوس پته نشته چه د هغهٔ مخے

ته کومه ګډه راځي، د درے زرو روپو او که د شل او دیرش زره روپو۔ نو دا مجهوله بیعه ده۔ دارنګه په پټو سترګو د سړي لاس ته کومه جامه راځي۔ نو په دے کښے یو طرف ته خامخا تاوان شته۔ کله به مشتري او کله به بائع تاواني کیږي۔

نو ملامسه یا خپله بیعه وه او یا د خیار ختمولو دپاره ذریعه وه۔

په دے ټولو تفسیرونو کښے دا خبره ده چه سودا مشتري ته معلومه نۀ ده۔ او په هغے کښے صرف لاس لګول د سودا پوره کیدو نښه ګرځول شوے، چه دا په منع شوی غرر کښے داخل دے، او ددے تخصیص ځکه شوے چه دا د جاهلیت والو مشهورے سوداګانے وے۔ (نوویؒ)

[وَالْمُنَابَذَةِ] منابذه د نبذ نه ده، یو بل ته ویشتلو ته وائي، او ددے معنیٰ داده چه بائع او مشتري کښے هر یو تن بل ته خپله جامه ورولي او هیڅ یو تن د خپل ملګري جامے ته ونۀ ګوري۔ دا **تفسیر** د ابو هریره ﷺ په حدیث کښے په مسلمؒ کښے راغلے، دارنګه د ابو سعید خدري ﷺ په حدیث کښے په نسائيؒ کښے راغلے۔ بل **تفسیر** ئے دادے: چه بائع مشتري ته ووائي: زۀ چه کومه جامه تاته دروولم نو هغه به ستا په دومره دومره پیسو وي۔ نو دلته به بائع ضرور ادنیٰ جامه ورولي نو مشتري به تاواني کیږي لهذا ځکه صحیح نۀ ده۔ او ددے تفسیر دا هم شوید ے چه داسے ورته ووائي: یو کاڼړے یا لرګے په جامه باندے ور اُووله، که په هره جامه واقع شو نو هغه به ستا دپاره په دومره دومره پیسو وي۔ دا هم نۀ ده جائز۔ نو د منابذے دوه صورتونه شو یا خپله مبیعه ویشتل دي، یا په مبیعه باندے یو شے (کاڼړے وغیره) ویشتل دي۔ (فتح ذی الجلال)

دا بیعه منع ده ځکه چه په دے کښے بغیر د اختیار نه یو شے په مشتري یا بائع باندے لازمیږي۔ دارنګه رضا د جانبینو پکښے نۀ راځي۔ بلکه غیر اختیاري بیعه جوړیږي۔ او جهالت پکښے دے۔

اِشْتِمَالُ الصَّمَّاءِ: اشتمال راتاوولو ته وائي۔ او الصماء: په اصل کښے سختے ګټے ته وائي۔ او ددے دوه تفسیره دي: (۱) اهل لغت وائي: دا هغه جامه او څادر ته وائي چه انسان ئے د ځان نه تاو کړي چه د هغے نه اندامونه بهر پرینږدي او داسے لاره پکښے پرینږدي چه د هغے نه لاس بهر کړي، یعني ګول ئے تاو کړي او لاسونه پکښے دننه پریږدي۔ ابن قتیبهؒ وائي: دے ته صماء په دے وجه وائي چه دا ټولے لارے بندوي نو د هغه

سختے گتے سره مشابه کيږي چه په هغے کښے چودونه نۀ وي۔ (۲) او فقهاء وائي : دا دے ته وائي چه جامه ځان نه تاو کړي بيا ئے د يو طرف نه پورته کړي او په اُوګه باندے ئے کيږدي نو عورت ئے ښکاره شي۔ امام نوويؒ وائي : د اهل لغتو په تفسير سره دا کار پدے وجه حرام دے چه دۀ ته به يو ضرورت راپيښ شي او دۀ ته به د هغه جامے نه لاس اُوخکل مشکل وي نو تکليف به ورته ورسيږي، تِندك به وخوري نو په لاسونو سره به ځان نشي بچ کولے، يا به ورله مخے ته بل شے راشي او ددۀ لاسونه به په جامه کښے بند وي نو تکليف سره به مخامخ شي۔

او په تفسير د فقهاؤ سره پدے وجه حرام دے چه عورت ښکاره کيږي۔ آه۔ حافظ وائي : دے حديث کښے چه کوم تفسير راغلے دے نو ظاهر دا ده چه دا د نبي ﷺ تفسير دے۔ او که د راوي تفسير شي هم د حديث مطابق دے۔

اِحۡتِبَاؤُهُ : دويم حالت د لباس : احتباء ده، احتباء دے ته وائي [اَنۡ يَقۡعُدَ عَلٰى إِلۡيَتَيۡهِ وَيَنۡصِبَ سَاقَيۡهِ وَيَلُفَّ عَلَيۡهِ (اَىۡ عَلٰى ظَهۡرِهٖ وَرُكۡبَتَيۡهِ) ثَوۡبًا] چه په کناتو باندے کيني او دواړه پونډۍ ودره وي او د خپلے ملا او زنګنونو نه يوه کپړه راتاؤ کړي۔ او دے ته حبوه هم وئيلے شي او دا د عربو د ناستے يوه طريقه وه۔ او ددے نه منع پدے وجه وشوه چه دا د بره طرف نه د انسان عورت ښکاره کوي۔ دارنګه که انسان خپے راخکاږي نو لاندے طرف نه ئے هم د عورت ښکاره کيدو امکان شته۔ او دا اِحتباء هله منع ده چه انسان د ځان نه صرف يوه جامه تاو کړي وي، که د انسان دوه کپړے وي، مثلًا پرتوګ يا قميص وي بيا داسے حالت جوړ کړي نو منع نۀ ده۔ لکه په پدے روايت کښے ورسره ذکر شو۔ چه ددۀ په عورت باندے د هغه کپړے نه هيڅ شے نۀ وي۔

**تنبيه** : په حديث کښے د احتباء يو بل تفسير هم راغلے او د جُمعے په ورځ د خطبے آوريدو په دوران کښے د هغے ناستے نه منع راغلے ده، او هغه دا چه په کناتو کيني او دواړه زنګنونه ودروي او د هغے نه دواړه لاسونه چاپيره کړي۔ دے نه منع ځکه راغلے ده چه دا بنده ته زر خوب راولي۔

## د بيع حصاة او بيع غرر (دهوکے والا بيعے) نه منع

2854 (21) – وَعَنۡ أَبِيۡ هُرَيۡرَةَ ﷺ قَالَ : نَهٰى رَسُوۡلُ اللّٰهِ ﷺ عَنۡ بَيۡعِ الۡحَصَاةِ، وَعَنۡ بَيۡعِ

الْغَرَرِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

**ترجمه** : او ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ د کاڼړي غورزولو والا سودا او د دهوکے د سودا نه منع فرمائيلے. (مسلمؒ).

**تشريح** : [بَيْعِ الْحَصَاةِ] (د ګيټکئ، شګئ، سنګريزے، کوټ کاڼړي والا سودا) دا اضافت د مصدر دے خپلے نوعے ته لکه بيع الخيار يعني هغه بيع چه په هغے کښے خيار ورکولے شي، او اضافت د مصدر نۀ دے خپل مفعول ته لکه بيع الخمر والخنزير يعني خرڅول ددے دواړو شيانو، چه خرڅ په دے دواړو باندے واقع کيږي، او په بيع الحصاة کښے په حصاة باندے بيع واقع کول مقصد نۀ دے ځکه د شګو او کاڼړو خرڅولو نه منع نۀ ده راغلے. بلکه معني داده : هغه بيع چه په هغے کښے حصاة (کاڼړي، شګئ، ګيټکے) استعماليږي. نو دلته بيع بالحصاة مراد ده. يا هغه بيعه چه د کاڼړي په ذريعه سره کولے شي.

**د بيع الحصاة** صورتونه دادي: (۱) بائع مشتري ته ووائي : کله چه زۀ تاته ګيټکے (کاڼړے) دروولم نو زما او ستا ترمينځه به سودا وشي. او دا د محدثينؒ تفسير دے، امام ترمذيؒ دا ذکر کړے او بيا ئے فرمايلي : دا د بيع المنابذة سره مشابه دے چه دا د جاهليت والو سوداګانے وے. [ترمذي: ۲/۵۱۳] (۲) بائع مشتري ته ووائي: دا کاڼړے ووله او په کومه جامه چه ورپريوتۀ نو هغه ستا په دومره دومره روپو شوه. (۳) بائع مشتري ته په خپله زمکه کښے کاڼړے وولي او ورته ووائي دا کاڼړے چه کوم ځائے ته په دے زمکه باندے پريوتۀ تر هغے پورے به دغه زمکه په تا درخرڅووم. يا ددے برعکس بائع مشتري ته ووائي چه تۀ کاڼړے ووله، کوم ځائے ته چه ستا دا کاڼړے ورسيدو تر هغه ځائے پورے به زمکه ستا وي په دومره پيسو باندے. (ذا هم مجهوله بيعه ده)

(المعلم بفوائد مسلم ۲/۲٤٤)

(٤) يوه سودا پرے خرڅه کړي او په خپل ورغوي کښے يو موټے کاڼړي راواخلي او مشتري ته ووائي : په دے موټي کښے چه څومره کاڼړي دي، د هر کاڼړي په عوض به ماله يوه روپئ راکوے. (۵) د ګډو بزو يو کنډك ته ودريږي او کاڼړي راواخلي او مشتري ته ووائي : دا کاڼړے چه په کومے ګډے بزے ولږيدۀ نو هغه په دومره دومره روپو ستا ده. دا پينځه اقسام فقهاءِ کرامو ذکر کړي. حديث د جوامع الکلم په وجه دے ټولو ته شامل

دے۔ او دا ټولے سوداګانے منع دی۔

[وَعَنْ بَيْعِ الْغَرَرِ] دا عام الفاظ دی چه په خاصو الفاظو باندے عطف شوی، ځکه بيع الحصاة يو مثال دے د مثالونو د بيع الغرر نه۔ او دلته هم د بيع اضافت غرر ته د قبيلے د اضافت د مصدر نه دے خپلے نوعے ته، يعنی هغه سوداګانے چه په هغے کښے غرر موجود وی۔ او (غرر) د غين او راء په زور سره، خطر او دهوکے، باطلے طمع ورکولو ته وائی۔ او د فقهاؤ په اصطلاح کښے هغه سودا ده چه د هغے انجام نامعلومه وی، اَوصاف ئے نۀ پيژندل کيږی او دا پته نۀ وی چه دا به موجود شی او که نه ؟ يا ډير والے او کم والے ئے معلوم نۀ وی۔ يا د هغے سپارلو باندے قدرت نۀ وی۔ [الفقه الاسلامی وادلته : ۵/۹۵]

امام خطابیؒ فرمائی : [اَصْلُ الْغَرَرِهُوَ مَا طَوِیَ عَنْكَ عِلْمُهٗ وَخَفِیَ عَلَيْكَ بَاطِنُهٗ وَسِرُّهٗ وَكُلُّ بَيْعٍ كَانَ الْمَقْصُوْدُ مِنْهُ مَجْهُوْلًا غَيْرَ مَعْلُوْمٍ وَمَعْجُوْزًا عَنْهُ غَيْرَ مَقْدُوْرٍعَلَيْهِ فَهُوَ غَرَرٌ]

غَرَرُ په اصل کښے هغه شے دے چه تاته د هغے حقيقت او باطن معلوم نۀ وی او د هغے نه مقصد مجهول وی، او هغه سپارل د انسان په وس کښے نۀ وی۔ [معالم السنن : ۳/۸۸]

او **غرر** (أ) کله په ذات د مبيعه کښے وی۔ (ب) او کله په ثمن۔ (ج) او کله په نيته کښے وی چه په ذات د مبيعه کښے وی لکه بيع الحصاة، بيع د تبنتيدلی اُوښ او هغه بيع چه مالك پرے لا قبضه نۀ وی راوستی، مثلًا داسے ووائی چه دا کور مے په تا باندے په دومره پيسو خرڅ کړو پدے شرط چه زۀ به ئے ستا دپاره ددے د مالك نه اخلم، يا ددے مالك به ئے تا ته حواله کوی۔ نو دا دهوکه ده۔ ځکه چه کيدے شی دے په دغه کور باندے قادر نشی يا ئے ورته مالك حواله نکړی۔ يا په ډيرو اُوبو کښے ماهی خرڅول۔ لکه ددے نور مثالونه روستو راروان دی، ان شاء الله۔ او په ثمن کښے غرر دادے چه سودا په خپل قيمت خرڅه شی او د عقد په وخت ئے مشتری نۀ پيژنی، او يا دا ووائی چه په هغه ريټ ئے دربانده خرڅووم چه ددے نه ئے په کم قيمت څوك نۀ اخلی۔ اوپه نيته کښے غرر دادے چه نيته مجهوله وی، مثلًا : ستا د مالدارئ پورے يا ستا د يو بل شی اخستو پورے دا سودا په تا درخرڅووم۔

**فوائد** : (۱) حديث دليل دے چه بيع الحصاة حرامه ده او ددے عقد فاسد دے ځکه چه دا د نهی تقاضا ده۔ ددے حديث په مقتضٰی باندے په عمل کولو د ټولو فقهاؤ اتفاق دے ليکن دوئ ددے په تفسير کښے اختلاف کړے لکه مخکښے تير شو۔ او دا د جاهليت

هغه بیوع دی چه اسلام ددې نه منع فرمائیلې ځکه چه په دې کښې غرر (دهوکه) او جهالت دې۔ (۲) او حدیث نه معلومه شوه چه بیع الغرر منع ده او ددې عقد فاسد دې، برابره خبره ده که دا دهوکه په عقد کښې وي یا په ثمن کښې او یا په نیته کښې۔ او د دهوکې دا سودا بې شماره مسائلو ته شامله ده۔ امام نوويؒ فرمائي: د دهوکې د سودا نه منع کول د کتاب البیوع د اصولو نه یو عظیم اصل دې، دا وجه ده، امام مسلمؒ دا د ټولو نه مخکښې ذکر کړې، او په دې کښې داسې بې شماره مسائل داخل دي چه د هغې راګیرول ګران دي۔ [شرح مسلم: ۹/۱۱ ٤]

(۳) ددې منع حکمت دادې: چه د خلکو مالونه د ضائع کیدو نه محفوظ کړې شي، ځکه په دغه مذکوره طریقې سره سودا کول په ناحقه طریقې سره د خلکو مالونه خوړل دي۔ دارنګه دا منع په دې وجه شوې چه د خلکو ترمینځه جنګ جګړې او اختلافات پیدا نشي، ځکه بیع الغرر خامخا ددې سبب ګرځي۔

(٤) د غرر نه دلته مراد هغه غرر او دهوکه ده چه هغه غالبه او زیاته وي تردې چه دغه ټولې سودا ته دهوکه ووئیل شي نو ددې په منع کښې اتفاق دې۔ البته لږ شان غرر او دهوکه چه خلك په کښې عام طور سره چشم پوشي کوي، او یا ددې نه ځان ساتل ګران وي نو په دې قِسم لږې شان دهوکې سره سودا نهٔ خرابیږي ځکه ددې نه تقریبًا هیڅ یو عقد خالي نهٔ دې۔ د **مثال** په طور: کور خرڅول اګرکه مشتري ددې بنیادونه نهٔ دي لیدلي۔ ګاړې خرڅول اګرکه ددې دننه پُرزې ئې نهٔ دي لیدلي۔ هغه ګډه بزه خرڅول چه په هغې کښې پئ وي چه دا تبعًا خرڅول جائز دي خو که یواځې ددې حیوان په غولانزه کښې پئ خرڅوي نو دا جائز نهٔ دي۔ دغه شان هر هغه شې چه د هغې نه ځان بچ کول ګران وي، لکه هغه شیان خرڅول چه د هغې میوه یا مقصد په زمکه کښې پټ وي لکه مولۍ، ګاځره، پیاز، تیپر او داسې نور۔

دغه شان حمام ته په اجرت سره ننوتل جائز دي سره ددې نه خلك د اُوبو په استعمالولو کښې مختلف دي۔ دارنګه د یوې چاتۍ او تپکې نه په عوض سره اُوبهٔ څکل جائز دي سره ددې نه چه اندازه د اُوبو معلومه نهٔ وي چه څومره به څکي۔ (یا ددې مثال په موجوده زمانه کښې دا هم دې چه هوټل والا ووائي چه په سل روپئ باندې د یو تن خوراك دې تر مړیدو پورې نو که یو تن لس ډوډئ خوري او که یوه ډوډئ یو

شان فیس ادا کوی)۔ نو اګر که ددې شیانو دا مقصدی څایونه پټ دی چه په دې کښې معمولی شان غرر دې خو تجربه کار خلك ددې د پاڼړو نه ددې میوه او مقصد معلوموی نو څکه ددې خرڅول او اخستل جائز دی۔ د فقهاؤ ترمینځه چه په دې شیانو کښې اختلاف راغې نو ددې وجه د غرر اندازه کول دی، څوك چه غرر کم ګڼړی نو هغه د جواز او څوك چه ددې غرر زیات ګڼړی نو هغه ددې د حرمت قائل دی۔

و الله تعالىٰ اعلم. شرح مسلم : والتحبير لايضاح معانى التيسير للامير الصنعانى : ۵۲۷/۱] اعلام الموقعين : ۹/۲، فتاوى ابن تيمية : ۲۷۵/۳]

## د حیوان په خیټه کښې د بچی خرڅولو نه منع

2855 (22) - وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنْ بَيْعِ حَبَلِ الْحَبَلَةِ، وَكَانَ بَيْعًا يَتَبَايَعُهُ أَهْلُ الْجَاهِلِيَّةِ : كَانَ الرَّجُلُ يَبْتَاعُ الْجَزُوْرَ إِلٰى أَنْ تُنْتَجَ النَّاقَةُ، ثُمَّ تُنْتَجُ الَّتِىْ فِىْ بَطْنِهَا . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

**ترجمه :** ابن عمر ﷺ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ د حاملې د حمل خرڅولو نه منع فرمائیلې او دا هغه سودا وه چه جاهلیت والو به کوله۔ یو سړی به په دې شرط باندې اُوښه اخستله (چه ددې قیمت به هغه وخت ورکوی) کله چه اوښه بچې راوړی، بیا هغه بچې چه د اوښې په خیټه کښې دې هغه (وړاندې خپله یو) بچې راوړی۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)۔

**تشریح :** [حَبَلِ الْحَبَلَةِ] په دواړو لفظونو کښې د حاء او باء زور دې، حبل مصدر دې۔ ددې نه مراد هغه بچې دې چه د مور په خیټه کښې موجود دې۔ او [الْحَبَلَةِ] جمع د حابل ده لکه کاتب او كَتَبَةٌ، ظالم او ظَلَمَةٌ۔ او حابل صفتِ خاصه د مؤنث دې نو څکه په کښې تاء نشته، او حابل هغه ناقه ده چه د هغې په خیټه بچې دې۔ او د حبل الحبلة څو تفسیرونه دی : (**اول تفسیر**) دادې : چه جاهلیت والو به ناقه واخسته او خرڅونکی ته به ئې وویل چه ددې قیمت به هغه وخت درکوم کله چه دا ناقه بچې راوړی او بیا دغه بچې د غټیدو نه پس حامله شی۔ (دا تفسیر د مسلمؒ په روایت کښې ابن عمر ﷺ کړې)۔

(**دویم تفسیر**) دادې چه سودا به ئې په نیټه باندې وکړه او نیټه به ئې دا کینښوده چه ناقه خپل حمل وزیګوی، او بیا دغه حمل خپله حمل وزیګوی۔ (او دا تفسیر په بخاری

کښې د ابن عمر ﷺ نه نقل دے) او دا تفسير په حديث الباب کښې ذکر شوے۔

(**دريم تفسير**) په نيته باندې سودا کول او نيته دا مقررول چه د ناقې په خيټه کښې چه کوم بچې دے هغه پيدا شي نو هله به رقم درکوم۔ (او دا په بخاري کښې د نافعؒ تفسير دے)۔ (**څلورم تفسير**): حبل الحبلة ديته وائي چه په نقدو پيسو باندې في الحال د بلاربې ناقې بچې خرڅ کړے شي۔ (يعني د خيټې بچې) (او دا تفسير د ابوعبيدة معمر بن المثنیؒ، او دهٔ د ملګري أبو عبيد قاسم بن سلامؒ او نورو لغت والو دے)۔ په دے تفسير باندې دا بيع ځکه حرامه ده چه په دې کښې غرر (دهوکه) ده ځکه پته نهٔ لګي چه دا بچې به ژوندې پيدا شي او که مړ؟ نر به وي که ماده؟۔

**پنځم تفسير** : حبل الحبله نَتَاجُ النَّتَاج ته وائي۔ يعني د بلاربې اُوښې بچې خرڅ کړي بيا د دغه بچې د غټيدو نه پس چه په خيټه کښې کوم بچې دے هغه هم اُوس خرڅ کړي۔ (معالم السنن۳/۸۹) نو دا هم بيع الغرر ده، د دغه وجو هاتو د وجه نه۔

[اَلْجَاهِلِيَّة] جاهليت د هغه شرك او د بتانو د عبادت نوم دے په کوم باندې چه د اسلام نه مخکښې عرب روان وو، دا د جهل نه ماخوذ دے ځکه په دوئ باندې جهل او ناپو هئ غلبه کړے وه۔ دارنګه جاهليت د اسلام نه مخکښې د شرکي زمانې نوم هم دے۔

[يَبْتَاعُ] اخلي۔ [اَلْجَزُوْرَ] د جيم په زور او د زا په پيښ، اوښ او ناقې دواړو ته وائي، او جزور ذکر کول خو يا په دې وجه دی چه جاهليت والو به دا سودا صرف په دې کښې کوله۔ او يا د اُوښ او ناقې ذکر کول د مثال په توګه دی، ځکه د جزور او نورو حيواناتو ترمينځه په دے حکم کښې فرق نشته۔

[تُنْتَجَ] أيْ تَلِدَ (ناقه بچې راوړي) تُنْتَجُ مجهول صيغې سره دے او دا هميشه دپاره مجهول استعماليږي او معنیٰ ئے په معلومې صيغې (تَلِدُ) سره کيږي۔ [ثُمَّ تُنْتَجُ الَّتِيْ فِيْ بَطْنِهَا] يعنی بيا د دغه ناقې په خيټه کښې چه کوم بچې دے هغه غټ شي او خپله بچې راوړي۔ چه ديته نَتَاجُ النَّتَاجِ يا وَلَدُ الْوَلَد وائي۔

**فوائد الحديث** : (۱) حديث نه ثابته شوه چه حَبَلُ الْحَبَلَة خرڅول منع دي۔ او دا نهي د تحريم دپاره ده که څوك دا قِسم سودا وکړي نو دا عقد به فاسد وي۔ ځکه د اولنو درې تفسيرونو په بناء دا د مجهولې او نامعلومې نيټې پورې سودا کول دي، ځکه په دے کښې د قيمت ورکولو نيټه نهٔ ده معلومه حالانکه په قيمت کښې د نيټې زياتيدو او

کمیدو ډیر اهمیت وی۔ الله تعالی فرمائی: ﴿يَآ أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوٓا إِذَا تَدَايَنتُم بِدَيْنٍ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى فَاكْتُبُوهُ﴾ [البقرة: ۲۸۲] آیت دلیل دے چه کومه سودا په نیټه باندے کیږی نو په هغې کښې به نیټه معلومه وی۔ بله دا چه: کله نیټه مجهوله وی نو دا د بائع او مشتری ترمینځه د جنګ جګړے او اختلاف سبب ګرځی او دا کار اسلام نهٔ خوښوی۔

او کله چه د حبل الحبلة څلورم تفسیر واخستے شی هغه دا چه ددے نه مراد دادے چه د بلاربے ناقے په خیټه کښې بچے فی الحال خرڅ کړے شی، نو په دے کښې اګرکه ثمن معلوم دے لیکن مبیعه (سودا) په کښې نامعلومه او مجهوله ده، ځکه دا پته نهٔ لګی چه ددے ناقے په خیټه کښې بچے به ژوندے پیدا کیږی یا مړ؟ نر به وی یا ماده؟ یو به وی یا دوه؟ دارنګه په دے کښې هم نیټه نامعلومه ده ځکه د بچی راوړو زمانه غیر محدده ده، کله دا اوږده وی او کله لنډه، او کله موجوده هم نشی۔ نو شریعت دا بیعه باطله وګرځوله ځکه چه په دے کښې د خلکو مالونه په باطله طریقه سره خوړل راځی او ددے باوجود دا د جنګ او جګړے سبب هم ګرځی۔ د جاهلیت والو ددے بیوعو نه دا معلومیږی چه دوئ په دے باب کښې ډیره چشم پوشی کوله او د هغوئ اخستل خرخول ډیر بے نظمه وو۔ ددے راز دا کیدے شی چه دوئ به کله دے قِسم سودا له څهٔ اهمیت نهٔ ورکولو نو ځکه ئے په دے قِسم مجهولو نیټو او مجهول ثمن باندے هیڅ پرواه نهٔ کوله، که رقم روستو ملاؤ شی او که مخکښے۔ والله تعالیٰ اعلم۔

## نر په ماده باندے د خیژولو د اُجرت اخستو منع

2856 (23) وَعَنْهُ ﷺ قَالَ: نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنْ عَسْبِ الْفَحْلِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

**ترجمه**: ابن عمر ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د نر د سوریدو (او د مال کولو) د عوض اخستلو نه منع فرمائیلے۔ (بخاریؒ)۔

**تشریح**: [عَسْبِ الْفَحْلِ] د عسب درے معنیٰ دی: (۱) د نر خاروی هغه اوبهٔ (نطفه) چه د مادے په رحم کښې ئے وراچوی۔ (۲) نر په ماده باندے ختل، چه دیته په روستو حدیث کښې ضِراب وئیلے شوے۔ او دیته طَرُق هم وائی۔ (۳) هغه کراء او اُجرت چه نر په ماده باندے خیژولو کښې اخستلے شی۔ او دا دریمه معنیٰ ابو عبیدؒ غوره کړے او همدا معنیٰ په دے حدیث کښې اخستل غوره او صحیح دی، ځکه نر په ماده باندے خیژول

منع نۀ دي، دا خو د نسل زياتولو دپاره ضروري دي، که دا نۀ وي نو بيا خو نسل ختميږي. بلکه په دې خيژولو باندې اجرت اخستل منع دي. [الْفَحْلِ] په هر حيوان کښې نر حيوان ته وائي، برابره خبره ده که هغه سنډا وي، که اوښ، يا پسۀ، يا ګډ، يا اس وغيره.

نو حديث نه ثابته شوه چه د څاروي په مال کولو باندې اجرت اخستل او ددې خرڅول منع دي. بلکه مال کولو دپاره څاروې مفت ورکول واجب دي. ځکه دا هغه شے دے چه په دې کښې خلك يو بل سره تعاون او تسامح کوي او د الله دپاره ئې ورته ورکوي.

ددې منع وجه فقهاء کرامو دا ذکر کړې چه دا بيع د معدوم ده ځکه د حيوان اوبۀ خرڅول د خرڅولو په وخت معدومې دي، او ددې په تسليم باندې بائع قادر نۀ دے ځکه دا د نر حيوان د اختيار او شوق سره تعلق لري.

امام ابن قيمؒ فرمائي: دا د شريعت خوبي او کمال دے چه ددې د خرڅولو نه ئې منع فرمائيلې ځکه د نر څاروي په اوبو باندې ريتهونه لګول او دا د معاوضې دپاره محل ګرځول د عقلاؤ په نيز سپك او قبيح کار دے.

[زاد المعاد: ۵/۵۹۷] او دا د جمهورو علماؤ قول دے.

امام مالكؒ، حسنؒ، ابن سيرينؒ او عطاءؒ په نيز نر په کرايه ورکول او اخستل جائز دي خو په دې شرط چه د معلومو ورځو دپاره وي، يا د معلومو ګذارونو دپاره وي. ځکه ديته حاجت دے. ليکن د دوئ دا خبره د پورتني حديث د وجې ضعيفه ده. البته که څوك ديته محتاج شي او د مال کولو (بلاربولو) دپاره مفت څاروې نۀ ملاويږي نو اخستل به جائز وي خو خرڅول يا کرايه اخستل به منع وي.

❁ که چا د څاروي د مال کولو نه پس د څاروي مالك ته اِکرامًا څۀ ورکړل نو دا به جائز وي. دليل ئې د انس ﷺ حديث دے:

((د کلاب قبيلې يو سړي نبي ﷺ نه د نر د مال کولو د اجرت په باره کښې پوښتنه وکړه، نو نبي ﷺ هغه منع کړو، هغۀ عرض وکړو: يا رسول الله! مونږ نر په ماده باندې وخيژوو نو مونږ له خلك په اکرام کښې څۀ راکوي (نو ددې اخستل څۀ حکم لري؟) نبي ﷺ په دې اکرام کښې هغۀ له اجازت ورکړو)) [حسن: ترمذی: ۱۲۷۴، نسائی: ۷/۳۱۰]

## د اُوبو خرڅولو نه منع

2857 (24) وَعَنْ جَابِرٍ ﷺ: قَالَ: نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنْ بَيْعِ ضِرَابِ الْجَمَلِ وَعَنْ بَيْعِ الْمَاءِ وَالْأَرْضِ لِتُحْرَثَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ

2858 (25) وَعَنْهُ ﷺ قَالَ: نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنْ بَيْعِ فَضْلِ الْمَاءِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

**ترجمه:** جابر ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د اُوښ د بلاربولو د خرڅولو نه منع کړے۔ او د اُوبو او د زمکے د کروندے دپاره د خرڅولو نه منع فرمائیلے۔ (مسلمؒ) او جابر ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د ضرورت نه زیاتے اوبۀ خرڅولو نه منع فرمایلے۔ (مسلمؒ)۔

**تشریح:** [ضِرَابِ الْجَمَلِ] اوښ په اوښه ختلو او مال کولو ته وائی۔ ضِراب خپله معنیٰ ده وهل، یعنی نر د مادے سره جفتی کیدل او خپله نطفه (منی) د هغے په رحم کښے اچول۔

[فَضْلِ الْمَاءِ] زیاتی اوبو نه مراد هغه اوبۀ دی چه د انسان د څکلو، څاروی اوبۀ کولو او نورو حاجتونو نه زیاتی وی۔

حدیث نه ثابته شوه چه د حاجت نه زیاتے اوبۀ خرڅول جائز نۀ دی، بلکه څوك چه دیته حاجت لری هغۀ ته ورکول واجب دی۔ او د زیاتی اوبو نه مراد په صحراء کښے د ګودرونو، کوهیانو، روانو چینو او حوضونو اوبۀ دی چه د انسان د حاجت نه زیاتی وی او ددے په ورکولو کښے څۀ تکلیف هم ورته نۀ رسی نو ددے منع کول جائز نۀ دی۔ پاتے شوے هغه اوبۀ چه څوك ورله خپله حوض، یا ټینکۍ جوړه کړی او یا ئے په خزانه یا مشکیزه یا لوښی کښے واچوی نو دا مملوکے اوبۀ دی، ددے خرڅولو کښے اختلاف دے، راجح حرمت دے لکه چه روستو راځی۔ او بل چا دپاره د مالك د اجازت نه بغیر ددے استعمالول هم جائز نۀ دی۔

د اوبو خرڅولو منع ددے حدیث نه هم معلومیږی چه نبی کریم ﷺ فرمائی: ((مسلمانان په درے شیانو کښے شریك دی: په ګیاه، اوبو او اور کښے)) [صحیح: أبو داود: ٣٤٧٧] خو ددے باوجود که څوك غرۀ له لاړ شی او د لرګو ګیډے راوړی نو دا به د هغۀ وی ځکه دۀ په خپل ملکیت کښے راوستے او ددے په راجمع کولو کښے ئے کوشش کړے،

نو دغسې اوبهٔ هم دي چه څوك ئې په يو لوښي وغيره كښې راجمع كړي نو دا به ددهٔ وي، بل څوك ددې حق نهٔ لري۔

[وَعَنْ بَيْعِ الْمَاءِ وَالْأَرْضِ لِتُحْرَثَ] ((زمكه او اُوبهٔ د كرلو دپاره خرڅولو)) مطلب دا دې چه يو تن خپله زمكه او هغه اُوبهٔ چه دې زمكې سره متعلق وي بل يو تن ته پدې شرط سره وركړي چه دا زمكه او دا اُوبهٔ خو زما دي او تخم او محنت به ستا وي دا كره، ددې نه چه څه پيدا كيږي ددې دومره حصه مثلًا دريمه يا څلورمه حصه به زهٔ اخلم او باقي به ستا وي، دې ته مخابره او مزارعه وائي، چه ددې تفصيل مخكښې بيان شو، چه حصه معلومه وي، يا په پيسو باندې وي نو جائز ده۔

## ضرورت نه زياتي اُوبو خرڅولو نه منع

2859 (26) وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "**لَا يُبَاعُ فَضْلُ الْمَاءِ لِيُبَاعَ بِهِ الْكَلَأُ**". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

**ترجمه:** او ابو هريره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: نهٔ به شي منع كولې زياتي اُوبهٔ دې دپاره چه پدې سره گياه خرڅه كړې شي۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

**تشريح:** د مسلمؒ په يو بل روايت كښې داسې دي: [لَايُبَاعُ فَضْلُ الْمَاءِ لِيُمْنَعَ بِهِ الْكَلَأُ] زياتي اُوبه به نشي خرڅولې دې دپاره چه ددې په ذريعه گياه منع او محفوظ كړې شي۔

او د ابو هريره ﷺ په حديث كښې راغلي: [لَاتَمْنَعُوْا فَضْلَ الْمَاءِ لِتَمْنَعُوْا بِهِ الْكَلَأَ] [بخاري: ۲۳۵۳، مسلم: ۱۵٦٦] (تاسو زياتي اوبهٔ ددې دپاره مهٔ منع كوئ چه ددې په ذريعه تاسو د خلكو نه وابښهٔ او گياه بنده كړئ)۔ ددې منع وجه دا ده چه د عربو دا طريقه وه چه هغوئ به زياتي اوبهٔ په دې وجه نهٔ منع كولې چه گنې په دې به ئې بخل كولو، بلكه په دې وجه به ئې منع كولې چه څوك د دوئ گودر يا چينې ته نزدې گډې بزې يا اوښان راننهٔ ولي چه بيا ددې حوض او چينې نه گير چاپيره په گياه او وښو كښې وخريږي، نو هغوئ به خلكو نه زياتي اوبهٔ بندولې دې دپاره چه دوئ څاروي راننهٔ ولي او د كوهي يا حوض خوا او شاته ونهٔ خريږي۔

نو نبي ﷺ ددې كار نه منع وفرمايله چه دا زياتي وابښهٔ منع كول هم جائز نهٔ دي ځكه چه مخكښې حديث تير شو چه خلك په دغه درې واړه شيانو كښې سره شريك دي۔

او ددے حدیث بله معنیٰ دا ده : [لَا يُبَاعُ فَضْلُ الْمَاءِ لِيَصِيرَ بِهِ الْبَائِعُ لَهُ كَالْبَائِعِ لِلْكَلَإِ]
زياتي اُوبهٔ به نه نشي خرخولے دے دپاره چه ددے په خرڅولو سره خرخونكے داسے شي لكه ګياه خرخونكے۔ ځكه چه كله ددهٔ د اُوبو (چينے) په خوا كښے څوك د ګډو بزو څرولو اراده لري هركله ئے چه دے د هغے نه منع كړي مګر په عوض سره نو هغه به دے اُوبو اخستو ته محتاج شي نو ددهٔ اُوبهٔ خرڅول به داسے وي لكه ګياه خرڅول۔ (شرح مسلم وعمدة القاري) يعني دا اُوبهٔ خرڅول به داسے شي لكه دهٔ چه ګياه خرڅه كړه۔ او شپونكيان د اُوبو نه منع كول به داسے وي لكه د كودر په خوا كښے د ګياه نه منع كول۔ نو پدے كار كښے مسلمانانو ته ضرر او تكليف دے او د هغوي حق بربادول راځي او دا ناجائز دي۔ (اكمال المعلم)

## عيبژن مال پورته كيخودل ضروري دي

2860 (27) وَعَنْهُ ﷺ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ مَرَّ عَلٰى صُبْرَةِ طَعَامٍ، فَأَدْخَلَ يَدَهُ فِيهَا، فَنَالَتْ أَصَابِعُهُ بَلَلًا، فَقَالَ : (مَا هٰذَا يَا صَاحِبَ الطَّعَامِ ؟) قَالَ : أَصَابَتْهُ السَّمَاءُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ. قَالَ : (أَفَلَا جَعَلْتَهُ فَوْقَ الطَّعَامِ، حَتّٰى يَرَاهُ النَّاسُ؟ مَنْ غَشَّ فَلَيْسَ مِنِّي) رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

**ترجمه** : ابو هريره ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ د غلے په يو ډهيرى باندے ورتير شو نو خپل لاس ئے په كښے ورننه ويستو نو د هغوئ ګوتو لوندوالے محسوس كړو نو وے فرمايل : اے د غلے مالكه ! دا څهٔ كړي؟ هغهٔ عرض وكړو : اے د الله رسوله ! دے ته باران رسيدلے، نبي ﷺ وفرمايل : نو بيا دِے دا (لونده برخه) د غلے دپاسه ولے نهٔ ګرځوله، دے دپاره چه خلك ئے ووينى؟ چا چه چاله دهوكه وركړه نو د هغهٔ ما سره هيڅ تعلق نشته۔ (مسلمؒ)۔

**تشريح** : [صُبْرَةِ] ډيركئ او راشے ته وائي، جمع ئے صُبَر ده۔ (ص، ب، ر) كښے د حبس او بندولو معنىٰ پرته ده نو د راشے ځينے اَجزاء هم د ځينو نورو سره رابند شوے وي۔ صَبُر هم ددے نه ماخوذ دے۔ [ بَلَلًا] لوندوالے، نمي، زيم، او دا د راشے په مينځ كښے وو۔
[مَاهٰذَا] دا استفهامِ انكاري دے يعني دادِے ولے پټ كړے؟ [ يَا صَاحِبَ الطَّعَامِ ] دا ئے ورته يا خو په دے وجه وفرمايئ چه نبي ﷺ ته د هغهٔ نوم نهٔ وو معلوم، او يا د زجر او رټنے دپاره ئے هغه خپل دے غلے ته منسوب كړے۔ [السَّمَاءُ] باران ته سماء وائي ځكه دا د

سماء نه نازلیږی۔ [أَفَلَا جَعَلْتَهُ] دا استفهام د نصیحت او ارشاد دپاره دے او (ہُ) ضمیر بَلَل (لوند والی) ته راجع دے۔ [مَنْ غَشَّ] بل روایت کښې [مَنْ غَشَّنَا] دے، دواړو کښې فرق دا دے هغه دا چه اول عام دے، او دویم مسلمانانو سره د دهوکے په باره کښې دے۔ او (غَشَّ) د نَصَحَ ضد دے، او غش د غشش نه وتے دے خړے اوبو ته وائی.

دلته د غش (دهوکے) نه مراد د سودا یا پیسو عیب پټول دی۔ او د عیب نه مراد هر هغه وصف دے چه د مشتری د حال نه دا معلومه وی چه که دے په دے خبر شی نو په هغه قیمت به ئے وانهٔ خلی کوم ئے چه ورکړے دے۔

[فَلَيْسَ مِنِّيْ] ددے دوه مطلبه دی: (أ) دا کس په علم او عمل کښې زما اقتداء او پیروی کونکے نهٔ دے، ځکه زما طریقه داده چه زهٔ د هیچا سره هیڅ خیانت نهٔ کوم۔

سفیان بن عیینهؒ او امام احمدؒ به دا معنیٰ بده ګڼړله او فرمایل به ئے چه عوامو ته ددے تفسیر مهٔ کوئ دے دپاره چه په دوئ باندے مضبوط اثر وکړی او په کلکه باندے منع شی۔ (ب) یا معنیٰ داده چه ددے دهوکه باز کس ما سره هیڅ تعلق نشته، زهٔ ددهٔ نه بیزاره یم او دے مانه بیزاره دے۔ اګرکه دا مطلب نهٔ دے چه ګنے دا کس کافر دے، ځکه د اهل السنة والجماعة په نیز څوك په دے قِسم عملی ګناهونو سره کفر ته نهٔ رسیږی۔ او دا دویمه معنیٰ ډیره بلیغه ده ځکه په دے کښې پوره زجر او رټنه پرته ده۔ امام مسلمؒ دا حدیث په [کتاب الایمان] کښې ددے دپاره ذکر کړے چه ددے خبرے وضاحت وکړی چه په غش او دهوکے کولو سره په هغه واجب ایمان کښې نقصان راځي چه د هغے خاوند په غیر د عذاب نه د اجر او ثواب مستحق ګرځي، او دا مطلب نهٔ دے چه ګنے دهوکه کونکے د ایمان نه خارجیږی څنګه چه د خوارجو رائے ده۔ بلکه دا کس د خپل نفس ایمان په وجه د مؤمنانو په بعضِ اجر او ثواب کښې داخل دے، او د خپلے غټے ګناه په وجه د عذاب مستحق دے، لکه یو سړے د یو کار دپاره څهٔ مزدوران ونیسی، نو په دوئ کښې یوتن توله ورځ کار ونهٔ کړی بلکه د ورځے په څهٔ برخه کښې کار وکړی، او کله چه دوئ ته اجرت ورکړے کیږی نو د دغه مزدورانو دا خبره صحیح ده چه دا کس زمونږ نه نهٔ دے چه د پوره مزدورئ مستحق وګرځي، اګرکه د لږے مزدورئ ملاویدو حقدار دے۔ [مجموع الفتاوی: ١٩/٢٩٤]

**فوائد الحدیث:** (١) حدیث دلیل دے چه د یو شی په اخستلو خرڅولو کښې چاسره

دهوکه او خيانت کول حرام دی، بلکه څوك چه اخستل خرڅول کوی په هغوئ باندے واجب دی چه په دے باره کښے د الله نه يرېږی او خپله معامله درسته کړی، د خيانت او تېګئ نه ځان وساتی ولے چه دا ډيره لويه بد اخلاقی ده چه ددے کونکے عقلًا او شرعًا د سزا حقدار دے۔ (۲) او حديث دليل دے چه د خپلے سودا عيب پټول حرام دی، بلکه واجبه داده چه خرڅونکے د خرڅولو په وخت، که سودا کښے عيب وی، د هغے بيان وکړی۔ دغه شان په ثمن او رقم کښے هم عيب پټول حرام دی۔ بيا د سودا نه برکت پورته کيږی۔ د عقبه بن عامر ﷺ په حديث کښے دی : [لَايَحِلُّ لِامْرِئٍ يَبِيعُ سِلْعَةً يَعْلَمُ أَنَّ بِهَا دَاءً إِلَّا أَخْبَرَهُ] [څوك چه يوه سودا خرڅوی او دا ورته معلومه وی چه دا عيب ژنه ده نو دا کار کول حرام دی بلکه هغهٔ ته به ددے عيب خبر ورکوی) [بخاری تعليقًا : ٤/ ٣٠٩، فتح]

(۳) ددے حديث سببِ ورود اګرکه د ((بيع)) په باره کښے دے ليکن د [مَنْ غَشَّ] الفاظ د خپل عموم په وجه هر قِسم غش او خيانت ته شامل دے، ځکه اعتبار عموم د الفاظو له وی نهٔ خصوص د سبب لره، نو حديث دليل دے چه په هر څهٔ کښے غش کول حرام دی، برابره خبره ده که هغه اخستل خرڅول وی، يا د سودا په ذات کښے يا ددے په موادو کښے يا ددے په معيار او مقدار کښے او يا ددے په کارخانه کښے غش او خيانت وی۔ دا ټول حرام دی۔ په دے کښے په ((ټريډ مارکه)) (تجارتی علاماتو) کښے خيانت کول هم داخل دی، هغه دا چه غير جيّد نوع د جيّد نوع په ليبل سره خرڅوی نو دا هم حرام دی۔ يا يو مصنوعات چا جوړ کړے دے او خپل ليبل ئے پرے لګولے او دے په هغے باندے خپل ليبل ولګوی نو دا هم په دے کښے داخل دے۔

(٤) چاسره چه ښهٔ او خراب دواړه قِسمه مالونه وی نو د خرڅولو په وخت هغه دواړه بيلا بيل ساتل پکار دی، دے دپاره چه څوك کوم يو اخستل غواړی هغه واخلی، او داسے به نهٔ کوی چه خراب لاندے کړی او ښهٔ پرے دپاسه کړی، او دلته ئے دا ارشاد وفرمايهٔ چه دا لوند طعام پرے دپاسه ولے نهٔ ږدے چه خلك ئے وګوری۔ نو دا د خيانت نه د بچ کيدلو يوه طريقه ده، او دويمه طريقه داده چه جدا جدا ئے وساتی، دلته نبی ﷺ هغهٔ ته دا دويمه طريقه په دے وجه نهٔ ده ښودلے چه کيدے شی هغهٔ سره به د جدا جدا ساتلو لوښے نهٔ وو۔ [فتح ذی الجلال والاکرام ٣/ ٦٠٣: شيخ ابن عثيمينؒ]۔

په دے زمانه کښے دا دهوکه ډيره زياته ده، خلك چه د ميوو کريټونه جوړوی يا د غَلو

بورئ او جوالونه جوړوی نو په سر باندے ئے ورته کره، غنم او مزيدار قِسم مال واچوی او لاندے ترے ردی او بيکاره مال وی۔ اخستونکے چه کريټ او کارټن وغيره وګوری نو د عُمده شی په ريټ باندے ئے ترے واخلی۔ دا سراسر دهوکه او حرام کار دے۔ په دے سودا کښے به هيڅ خير او برکت نۀ وی۔ بلکه ددے نه لويه دا چه په غَلو او دالونو کښے د درنولو دپاره شړے اچوی، والله المستعان۔ دا وجه ده ! د غټو غټو کارونو باوجود د تاجرانو تلے تندے نۀ لګی۔ بلکه مسلمان له پکار دی چه ددۀ د سودا ظاهر او باطن به يو شان وی او واضحه خبره به کوی۔

(۵) ددے نه د اسلامی شريعت کمال معلوم شو چه دا خپلو منونکو ته د حلال کارو کسب حکم کوی او د جائزو ځايونو نه د رزق ګټلو ترغيب ورکوی، او د هر قِسم حرامو، دهوکے، خيانت او دروغو نه ئے منع کوی۔ والله تعالیٰ اعلم۔

## د ثنيا بيع منع

## اَلْفَصْلُ الثَّانِيُ

2861 (28) عَنْ جَابِرٍ ؓ قَالَ : إِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ الثُّنْيَا إِلَّا أَنْ يُّعْلَمَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

**ترجمه** : جابر ؓ فرمائی : يقيناً رسول الله ﷺ د ثنيا نه منع فرمائيلے مګر که اندازه معلومه کړے شی۔ (ترمذیؒ)

**تشريح** : **الثُّنْيَا**: امير صنعانیؒ په [سبل السلام] کښے وائی : [ثُنَيَا] د ثُرَيَّا په وزن دے۔ حالانکه دا سهو ده، او چاچه ددۀ نه نقل کړے هغویٔ هم په دے سهوه کښے پريوتی۔ **صحيح** دا ده چه دا د ثاء په پيښ او د نون په سکون سره د (دُنْيَا) په وزن دے، او ثُنْيَا : استثناء ته وائی چه يو تن يو شے خرڅ کړی او د هغے نه د يو نامعلومه شی استثناء وکړی، لکه يو تن ووائی : زۀ په تا باندے دا وُنے درخرڅوم سِویٔ د يوے وُنے نه، دا ګډے بزے درباندے درخرڅوم، سویٔ د يوے ګډے بزے نه، دا کتابونه درباندے درخرڅوم سویٔ د يو کتاب نه۔ په دے ټولو صورتونو کښے دا جدا کړے شے معلوم نۀ کړی، نو ددے نه منع راغلے، ځکه چه پدے کښے جهالت دے چه د جګړو او اختلاف سبب ګرځی۔

[إِلَّا أَنْ يُّعْلَمَ] البته که دا مستثنیٰ او جدا کړے شے معلوم وی نو بيا منع نشته، هغه

داسې چه په دغه پورتنو صورتونو کښې دغه وُنه، ګڼه بزه او کتاب معلوم کړی چه دا معلومه وُنه، دامعلومه ګڼه بزه، دا معلوم کتاب دربانديې نۀ خرڅوم، دا تريې جدا کړی نو دا سودا بيا صحيح ده۔ او ددې تشريح مخکښې هم تيره شوه۔

**درجة الحديث** :[صحيح] أخرجه الترمذي : ۱۲۹۰ ـ والنسائي : ۳۸۸۰، وابوداود : ۳۴۰۷.

## ميوه او فصل د پخلې نه مخکښې خرڅول منع دی

2862 (29) – وَعَنْ أَنَسٍ ﷺ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنْ بَيْعِ الْعِنَبِ حَتّٰى يَسْوَدَّ، وَعَنْ بَيْعِ الْحَبِّ حَتّٰى يَشْتَدَّ. هٰكَذَا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ عَنْ أَنَسٍ. وَالزِّيَادَةُ الَّتِيْ فِي الْمَصَابِيْحِ وَهُوَ قَوْلُهُ: نَهٰى عَنْ بَيْعِ التَّمْرِ حَتّٰى تَزْهُوَ إِنَّمَا ثَبَتَ فِيْ رِوَايَتِهِمَا : عَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ قَالَ: نَهٰى عَنْ بَيْعِ النَّخْلِ حَتّٰى تَزْهُوَ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ : هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ غَرِيْبٌ

**ترجمه** : انس ﷺ نه روايت دې چه نبي ﷺ انګور د توريدو نه مخکښې او دانې د سختيدو نه مخکښې خرڅولو نه منع فرمائيلې۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ) هغه زيادت چه په مصابيح کښې دې هغه دا قول دې : نبي ﷺ د کهجورو د خرڅولو نه منع فرمائيلې تردې چه پخې شي۔ دا په روايت د ابوداودؒ او ترمذیؒ کښې د ابن عمر ﷺ نه ثابت دی چه هغۀ فرمائيلي : نبي ﷺ منع فرمائيلې د کهجورې د خرڅولو نه تردې چه پخې شي او ترمذیؒ وئيلي : دا حديث حسن غريب دې)۔

**تشريح** : [حَتّٰى يَسْوَدَّ] د دال په شد سره، تردې چه په توريدو سره د خوراك قابل وګرځي۔ خو دا په هغه انګورو کښې چه تور رنګ لري، اوکوم انګور چه سپين رنګ لري نو په هغې کښې به د دانې نرم والې او خوږ والې مراد وي۔ [حَتّٰى يَشْتَدَّ] د دال په شد سره، د دانې سخت والې او مضبوط والې۔ نو دا مثالونه دی د هغه مسئلې چه د صلاحيت ښکاره کيدو او د خوراك قابل جوړيدو نه مخکښې ميوې او غلې خرڅول منع دی، او د خوراك صلاحيت په کښې هله پيدا کيږي چه کله په ميوو او دانو کښې سوروالې يا زيړوالې يا توروالې يا نرم والې او خوږوالې ولګي او يا د فصل دانې کلکې او مضبوطې شي۔
او باقي تشريح ئې مخکښې ذکر شوې۔

**درجة الحديث** : [صحيح] أخرجه ابوداود : ۳۳۷۳، ترمذي : ۱۲۲۸، ابن ماجه : ۲۲۱۷ـ أحمد : ۱۳۳۳۸.

## قرض په قرض خرڅول منع دي

2863 (30) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ نَهٰى عَنْ بَيْعِ الْكَالِئِ بِالْكَالِئِ . رَوَاهُ الدَّارِقُطْنِيُّ .

**ترجمه** : ابن عمر ﷺ نه روايت دے چه نبي ﷺ د نيتے په بدله كښے د نيتے يعنى د قرض په بدله كښے د قرض خرڅولو نه منع فرمائيلے۔ (دارقطنیؒ)

**تشريح**: [بَيْعِ الْكَالِئِ بِالْكَالِئِ] أَيْ : بَيْعِ النَّسِيئَةِ بِالنَّسِيئَةِ : د قرض په بدله كښے قرض خرڅول۔ بعض رواياتو كښے ددے تفسير په داسے الفاظو سره راغلے دے : [يَعْنِي: الدَّيْنَ بِالدَّيْنِ] يعنى قرض په قرض خرڅول۔ كالئ د كلوء نه دے ددے معنىٰ ده تاخير او روستو والے كول۔ يعنى د سودا كولو په مجلس كښے هغه نۀ قبض كول۔

او ددے څو **صورتونه** دي : (۱) ددے **صورت** دادے چه يوتن د چا نه د يوے معلومے مودے دپاره (د يو كال په نيته) يو شے په قرضو باندے په معلوم ريټ (مثلًا زرو روپو باندے) واخلي، ليكن كله چه د ادا كولو نيته راشي نو اخستونكى سره هيڅ شے نۀ وى چه ورته ورئے كړى نو دے خرڅونكى ته ووائى : تۀ په ما باندے همدا شے ددے نه په زيات قيمت (مثلًا يولس سوه روپو) باندے د مزيد يو كال په نيتهِ راخرڅ كړه۔ اوس د سودا كولو په وخت ددے دواړو سره څۀ داسے شے نشته چه د دواړو په قبضه كښے راشي۔ په دے روايت كښے ددے سودا نه منع راغلے۔ او دا بعينهٖ د سود صورت دے۔

غريب الحديث لابي عبيد : ۱/۱٤۱، والمرقاة : ٤/۲۸۰.

او مالكيان دے ته فسخ الدين بالدين وائي او دا د جاهليت د سود يوه طريقه وه۔

(۲) دويم : د حيوان په قرضو باندے خرڅول چه دواړو طرفونو ته قرض وى، حيوان هم غائب وى او ثمن هم غائب۔

(۳) دريم : د سَلم قرض چه كله په مجلس كښے قبض نۀ كړے شي، لكه يو تن په ذمه كښے غنم سَلم كړى او ددے عوض هغه دراهم وګرځوى چه هغه به هم په نيته ملاويږى۔ حالانكه په سَلَمْ كښے دا شرط ده چه په مجلس العقد كښے به ثمن (رقم) قبض كوى۔ دا هم قرض په قرض خرڅول دي۔ يعنى قرض غنم په قرض روپو خرڅول دي۔ ځكه په عقودو كښے مقصد قبض وى، او دا يو داسے عقد دے چه په دے كښے

مقصد حاصل نشو بلکه دا بے فائدے التزام دے۔
بل مثال: یو تن بل ته ووائی چه په ما باندے دا فلانۍ رنګ کپړه د میاشتے په نیته خرڅه کړه او پیسے به هم میاشت یا دوه میاشتے پس درکوم۔ نو دا هم د سَلم صورت دے لیکن په سلم کښے خو یو طرف ته ثمن وی او مبیعه نۀ وی او دلته دواړه فی الحال نشته۔ المجموع: ٩/١٠٥، إعلام الموقعين ١/٤٩٣].
(٤) بل صورت دا دے چه زما په یو شخص باندے سل روپۍ وی نو وخت ئے پوره شی ما ته راشی ووائی چه ما سره هیڅ نشته، نو زۀ ورته ووایم چه ددے سل روپو په بدله کښے سل صاعه غنم کال پس راکړه۔ نو دا صورت هم ناجائز دے ځکه چه پدے کښے ربح د مَا لَمْ يَضْمَن ده۔ (ابن عثیمینؒ) البته که نقد غنم ئے ورکړل نو بیا صحیح ده۔
(٥) د یو تن په بل یو تن باندے قرض وی مثلاً لس زره روپۍ، او هغه شخص غریب وی، دا نشی ادا کولے، نو بل یو تن راشی چه دا قرض دِے په ما باندے په پنځه زره روپۍ راخرڅ کړه، زۀ پوهه شه او دا سړے۔ نو دا بیعه هم ناجائز ده، ځکه چه دا روپۍ په روپو خرڅول دی او مینځ کښے د هیڅ روپو قبض نشته۔ دارنګه دا بیعه د هغه شی ده چه ددۀ په ذمه کښے داخل نۀ دے۔ دارنګه دا د جوارئ سره مشابه صورت دے۔ ځکه چه دلته ئے لس زره په پنځه زره واخستل، که هغه پرے قادر شو نو پنځه زره به ګټه وکړی او که عاجز شو ترے نو تاوانی به شی۔ او په جوارئ کښے هم دغه قاعده وی چه معلومه نۀ وی چه تاوان به کوی او که ګټه۔ (ابن عثیمینؒ)
(٦) مالکیانو پدے کښے نور صورتونه هم داخل کړیدی لکه پنځم صورت شو۔ او یا د یو تن په بل انسان باندے قرض وی او د دریم انسان په څلورم قرض وی نو هر یو تن خپل قرض په بل باندے خرڅ کړی، یو ووائی چه زما قرض تۀ زما د قرضداری نه واخله او ستا قرض به زۀ ستا د قرضداری نه واخلم۔
[انظر شرح الخرشي على مختصر خليل ٥/٧٦ ومسائل ابن هانیء (٢٠٣٦)، استذكار: ٦/٣٩٥].
دِدے بل مثال: د زید په عمرو باندے د وړئ جامه وی، او د بکر په عمرو باندے لس روپۍ وی نو زید بکر ته ووائی چه زما په عمرو باندے کومه جامه ده ما په تا باندے ستا په لسو روپو درخرڅه کړه۔ نو بکر ووائی چه ما دا بیعه قبوله کړه۔ نو دا صورت ناجائز دے د وجه ددے حدیث نه۔ [المفاتیح فی شرح المصابیح٣/٤٣٩]

**فوائد** : (۱) دا حدیث اګرکه ضعیف دے، لیکن په دے کښے ذکر شوے مسئله په اجماع د علماؤ سره ثابته ده۔ امام احمدؒ فرمائی: په دے باره کښے صحیح حدیث نشته، لیکن د خلکو په دے اجماع ده چه قرض په قرضو خرڅول جائز نهٔ دی۔ [التلخیص: ۲۹/۳] دلیل د اجماع دا دے چه پدے باندے د شرعی بیع تعریف نه صادقیږی ځکه چه حرامه ده او بل پدے کښے ضررونه دی، کما یأتی۔

(۲) ددے منع **حکمت** دادے چه په دے کښے ګڼړ ضررونه دی، ځکه چه څوك قرض په قرضو خرڅوی نو په دے کښے تساهل او چشم پوشی راځی تردے چه په انسان باندے ګڼړ قرضونه واوړی او مشقت غټ شی او تنګسیا لویه شی۔ نو دا د الله رحمت دے چه په شریعت کښے ئے ددے کار نه منع وکړه، دے دپاره چه نیستمن خلك په دے قِسم سوداګانو کښے سترګے پټے نهٔ کړی او په غیر د ښکاره حاجت نه په دوئ باندے قرضونه وانهٔ وړی۔ دے نه علاوه په دے معامله کښے ډیر جنګ جګړے او دشمنئ واقع کیږی۔

(۳) که قرض ئے په نقدو خرڅ کړو نو دا به جائز وی، لکه د خالد په یاسر باندے لس زره روپئ وی، او کله چه نیټه راشی نو یاسر ووائی : ماسره پاکستانئ روپئ نشته بلکه ماسره ریالونه دی، هغه به درکړم۔ نو دا سودا صحیح ده خو شرط دادے چه په مجلس العقد کښے به ئے قبض کوی، لکه مخکښے تیر شو۔ او بل شرط دادے چه دا به ورله ددے ورځے په ریټ سره ورکوی، دے دپاره چه کوم شے ددهٔ په ضمان کښے نهٔ دے داخل شوے په هغے کښے چرته ګټه ونهٔ کړی۔ نو د پاکستانو روپو په اندازه به ریالونه واخلی او په دے کښے به زیادت نهٔ کوی۔

**درجة الحديث**: [ضعیف] بزار : ۲/۹۱-۹۲، دارقطنی: ۷۲/۳، بیهقی: ۲۹۰/۵، ضعیف الجامع الصغیر: ۶۰۶۱. په دے کښے موسیٰ بن عبیدة ضعیف او منکر الحدیث راوی دے۔

د بیعانے او سائی مسئله

---

2864 (31 ) وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ : نَهَى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنْ بَيْعِ الْعُرْبَانِ. رَوَاهُ مَالِكٌ وَأَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجه

**ترجمه** : عمرو بن شعیبؒ د خپل پلار نه او هغه د خپل نیکهٔ نه روایت کوی چه رسول الله ﷺ د عُربون سودا نه منع فرمائیلے۔ (مالكؒ، ابوداودؒ، ابن ماجهؒ)

**تشريح**: [ بَيْعِ الْعُرْبَانِ] عُربان د عين په پيښ او د راء په سكون سره، ديته بيع العُربُون هم وائي، ددې په معنىٰ كښې مخكښې والې پروت دې. د سودا كولو په وخت بيعانه وركولو ته وائي. هغه دا چه: يو تن يو شے په بَيعه يا په كرايه اخلي او د ريټ مقررولو نه پس ورته د بيعانې په توګه د رقم څۀ برخه وركړي، او دا ورته ووائي: كه زما او ستا ترمينځه سودا و شوه نو دا به د سودا يا اجارې په اصل رقم كښې حساب كړې، اوكه ونشوه نو دا به تا ته پاتې شي. او داسې تفسير زيد بن اسلمؒ كړيدې.

دې كښې د دواړو طرفونو نه شرط لګول هم جائز دي، مثلاً بائع مشتري ته ووائي چه كه رقم دِې دومره وخت كښې حاضر نكړو نو راكړې بيعانه به وسوزيږي. يا مشتري ووائي چه زۀ به مثلاً يوه هفته كښې رقم دركوم او اُوس دا بيعانه واخله، كه ددې نه مخكښې تا دا كور وغيره په بل چا خرڅ كړو نو ما له به ددې بيعانې ډبل راكوې.

**فوائد**: (۱) دا حديث ضعيف دې ځكه امام مالكؒ هغه كس نۀ دې ذكر كړې چه د هغۀ په واسطه سره ئې دا حديث د عمرو بن شعيبؒ نه اخستې، نو د انقطاع په وجه دا ضعيف شو. نو دا مجهول كس يا ابن لهيعه دې او يا عبد الله بن عامر الاسلمي، او دا دواړه ضعيف دي. او هر كله چه حديث ضعيف شو نو ددې نه د بيعانې ممانعت نۀ معلوميږي. (۲) (أ) د جمهورو لكه احنافو، شوافعو، مالكيانو او يو روايت كښې د امام احمدؒ قول دادې چه د بيعانې سودا منع ده، يو خو ددې حديث په وجه. دويم دوئ وائي په دې كښې دهوكه ده ځكه دا پته نۀ لګي چه دا مشتري به دا سودا وكړي اوكه وبه ئې نۀ كړي. او بائع ته چه د بيعانې رقم پاتې شي نو دا به هغه بغير د عوض نه استعمالوي، حالانكه په دې كښې د خلكو مالونه په غير د عوض او مقابل نه خوړل دي، او دا جائز نۀ دي. (ب) **ليكن** د عمر بن خطاب ﷺ، عبد الله بن عمر ﷺ، سعيد بن المسيبؒ، ابن سيرينؒ مجاهدؒ او يو روايت كښې د امام احمدؒ قول دادې چه دا بيع العُربون جائز ده.

**دليل ئې** دادې چه ((د نافع بن الحارث - چه د عمر فاروق ﷺ د مكې ګورنر وو - هغۀ د صفوان بن اميه ﷺ نه د امير المؤمنين عمر فاروق ﷺ دپاره په څلور زره درهمه يو كور واخستۀ او نافع په هغۀ باندې دا شرط ولګولو چه كه عمر ﷺ په دې سودا راضي شو نو كور به د هغۀ وي، او كه راضي نشو نو څلور سوه (بيعانه) درهم به د صفوان شي))

[صحيح بخاري: ۵/۷۵، فتح، تعليقًا، ووصله ابن أبي شيبة: ۳۰۶/۷، وعبد الله بن أحمد في مسائله:

١٠٤٤، والبيهقي: ٦/٣٤ من طريق ابن عيينة ورجاله ثقات الا عبد الرحمن بن فروخ فلم يوثقه الا ابن حبان: ٧/٨٧، ولم يرو عنه الا عمرو بن دينار، كما نقله الذهبي في الميزان: ٢/٥٨٢، عن الحاكم]

امام احمدؒ خپل قول ددې روایت نه اخستې۔

او د بیعانې سوزولو یا ډبل اخستو جواز پدې وجه هم دې چه پدې کښې د وعده خلافۍ سزا ده، که مشتري وعده خلاف شي نو هغهٔ ته به په مال سره سزا ورکړې شي او که بائع مخالفت او تګی وکړي او دا زمکه وغیره په بل چا باندې خرڅه کړي سره ددې نه چه دا لا د مشتري په وعده کښې روان دې نو هغهٔ ته به د هغهٔ د دهوکې سزا ورکړې شي چه ډبل به ترې واخستې شي۔ نو په بیعانه کښې د دواړو جانبینو مصلحت او فائده ده۔

او بله دا چه اصل په شروطو کښې اباحت او جواز دې، او حدیث کښې دي:

[اَلْمُسْلِمُوْنَ عِنْدَ شُرُوْطِهِمْ وَالصُّلْحُ جَائِزٌ بَيْنَ الْمُسْلِمِيْنَ] (رواه أبوداود: ٣٥٩٦ وابن حزم).

مسلمانان به په خپلو شرطونو سره روان وي، او د مسلمانانو ترمینځ صلح جائز ده۔ نو کوم شرطونه او عقدونه چه الله تعالیٰ او رسول نهٔ وي حرام کړي او مونږ په هغې باندې پابندي لګوو نو دا هغه شے حراموو دي چه الله تعالیٰ او د هغهٔ رسول نهٔ دې حرام کړې او زمونږ په علم کښې ددې شرطونو او ددې بیعې نه منع په صحیح احادیثو کښې نشته او اصل په معاملاتو کښې حل او اباحت دې۔ اعلام الموقعين: (١/٣٤٤)

او بل پدې بیعه کښې رضا د جانبینو ده۔

د جواز **قول قوي** دې۔ شیخ ابن بازؒ هم دیته ترجیح ورکړې، خو په دې شرط چه په دې کښې د شرط زمانه معلومه وي چه دومره وخته پورې به دا سودا زوړنده وي۔ ځکه که زمانه معلومه نشي نو بیا په دې کښې بائع ته ضرر دې۔ پاتې شوه د جمهورو دا خبره چه: په دې بیعه کښې بائع په غیر د مقابل نه د مشتري مال خوري، نو دا خبره صحیح نهٔ ده بلکه د بائع له طرفه مشتري ته د سودا په باره کښې مهلت او انتظار ورکول او مشتري دپاره خپله سودا ایسارول او په بل چا باندې په دې موده کښې نهٔ خرڅول دا تول ددې بیعانې د رقم عوض او مقابل ګرځیدې شي۔ خو دومره ده چه دا د جواز خبره ده! بهتره داده چه بائع بیعانه ونهٔ سوزوي بلکه مشتري ته ئې واپس کړي، ځکه نبي ﷺ فرمائي: [مَنْ أَقَالَ مُسْلِمًا أَقَالَ اللّٰهُ عَثْرَتَهُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ] (چا چه خپیمانه مسلمان ته د هغهٔ

سودا واپس کړه، الله به د قيامت په ورځ د هغهٔ د لغزشونو نه درګذر وکړي) [صحيح: أبوداود: ٣٤٦٠] بلـه داچـه پـه دے کښے د علماؤ د اختلاف نه وتل او په احتياط باندے عمل کول دی او دا د مؤمن د دينداریٔ دپاره ډير بچ کونکے شے دے۔ که نهٔ وی نو د دليل په اعتبار سره د مانعينو دلائل قوی نهٔ دی، خو خبره د احتياط ده۔

مصری قانون او نور د خليج حکومتونو هم د بيعانے سودا جائز ګرځولے ده، که بائع مخالفت وکړو نو مشتری به تر ے ډبل بيعانه اخلی۔ فی المادة رقم (١٠٣٠) انظر مجلة المجمع الفقه الإسلامی عدد : ٤٩٤/٨ . والمفصل فی أحكام الربا : علی النايف الشحوذ.

نو کومو مفتيانو چه دا فتوئ ورکړے چه دا بيعه ناروا ده ځکه چه پدے کښے تعزير بالمال دے او دا جائز نهٔ دے لکه مفتی رشيد احمدؒ په احسن الفتاوی : (٥٥٠/٦) کښے وئيلی دی۔ نو دا خبره صحيح نهٔ ښکاره کيږی۔ والله تعالیٰ اعلم۔

[المغنی : ٣١٣/٤، التمهيد ١٧٩/٢٤ . اللجنة الدائمة : ١٣٢/١٣]. او تعزير مالی جائز دے لکه په فتاوی الدين الخالص (١٤) جلد کښے راروان دی۔

**درجة الحديث** :[ضعيف] مالك فی الموطأ : ١٢٧١، ابوداود : ٣٥٠٤، ابن ماجه : ٢١٩٢، احمد : ٦٧٢٣۔ قال مالك : اخبرنی الثقة آه ۔ ففيه جهالة الثقة۔ قال احمد : بلغنی ان مالك بن انس أخذ هذا الحديث عن عبد الله بن عامر الاسلمی عن عمرو بن شعيب وقيل عن ابن لهيعة وقيل عن الحارث بن عبد الرحمن بن ابی ذباب عن عمرو وَفِیْ كُلِّ ذٰلِكَ ضُعُفٌ.

## د مضطر (مجبوره انسان) د بيعے نه منع

2865 (32) وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ الْمُضْطَرِّ وَعَنْ بَيْعِ الْغَرَرِ وَعَنْ بَيْعِ الثَّمَرَةِ قَبْلَ أَنْ تُدْرِكَ. رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

**ترجمه** : او علی ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ د مجبور د سودا نه او د دهوکے د سودا نه او د ميوے د پخيدو نه مخکښے خرڅولو نه منع فرمائيلے ده۔ (ابوداودؒ)

**تشريح** : بَيْعِ الْمُضْطَرِّ : مضطر د اضطرار نه دے، احتياج او مجبوریٔ ته وائی۔ د مضطر بيعه په دوه طريقو ده : (١) يو دا چه څوك پرے اکراه (زور) وکړی چه شابه دا سودا خرڅه کړه او د هغهٔ هيڅ اختيار پاتے نشی نو هغه ئے مجبوراً خرڅوی نو دا بيعه فاسده ده۔ نهٔ صحيح کيږی۔ که چا د هغهٔ نه څه واخستل د اِکراه د ختميدو نه پس به

بیرته واپس کولے شی۔ (۲) دویم دا چه یو تن باندے قرضونه واوړی یا پرے بله حادثه راشی او د هغې په وجه په تاوان سره سودا خرڅولو ته مجبوره شی۔ لکه مثلاً قاضی ئے مجبوره کړی چه څه مال او سودا خرڅه کړی چه قرضونه پرے ادا کړی، یا یو ذمی یو مسلمان مجبوره کړی چه قرآن کریم خرڅ کړه یا مسلمان غلام خرڅ کړه۔ [النهایة، والفقه الاسلامی وادلته]۔ پدے دویم صورت کښے بیعه صحیح کیږی لیکن مسلمانانو له پکار ده چه د هغۀ سره تعاون وکړی او قرض ورله ورکړے شی تردے چه د هغۀ تنګدستی ختمه شی۔ (عون المعبود، وشرح سنن ابی داود : عبد المحسن العبادّ)۔

د احنافو په نیز د مضطر بیعه او شراء دواړه صحیح نۀ دی۔ او نورو فقهاؤ د ضرورت په وخت کښے جائز ګڼرلے ده۔ [حاشیة ابن عابدین ۴/۱۱۱، ۲۵۵، المغنی : ۴/۲۱۴]

أَنْ تُدْرِكَ: اِدراك الثمره نه مراد د میوے وخت ته رسیدل او پخیدل دی۔ او پدے معنیٰ سره دا د باب افعال نه لازم استعمالیږی نۀ متعدی۔

**درجة الحديث** :[ضعیف] ابوداود : ۳۳۸۴۔السنن الکبری للبیهقی : ۱۱۴۰۴۔ وفیه عبید اللّٰه بن الولید الوصافی ضعیف.

## نر په ماده باندے د خیژولو اجرت اخستل منع دی

2866 (33) وَعَنْ أَنَسٍ ﷺ : أَنَّ رَجُلًا مِنْ كِلَابٍ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ عَسْبِ الْفَحْلِ فَنَهَاهُ فَقَالَ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنَّا نُطْرِقُ الْفَحْلَ فَنُكْرَمُ فَرَخَّصَ لَهُ فِي الْكَرَامَةِ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

**ترجمه** : او انس ﷺ نه روایت دے چه د کلاب قبیلے یو سړی د نبی کریم ﷺ نه د څاروی د جفتی کولو د کرایه په باره کښے پوښتنه وکړه نو هغه ئے منع کړو، هغۀ عرض وکړو اے د الله رسوله ! مونږ نر حیوان عاریةً ورکوو نو د اکرام په طریقه مونږ ته څه راکولے شی (یعنی مونږ د کوم اجرت مقرر کولو نه بغیر نر حیوان عاریةً ورکوو نو حیوان بوتلونکے بغیر د طلب نه مونږ ته د انعام په توګه څه راکوی نو آیا مونږ دا نشو اخستے؟) نبی کریم ﷺ ورته د هغه انعام اخستو اجازت ورکړو۔ (ترمذیّ)

**تشریح** : عَسْبِ الْفَحْلِ : اَیْ مَاءِ الْفَحْلِ، وَالْفَحْلُ الذَّكَرُ مِنْ كُلِّ حَيَوَانٍ ۔ عسب د مذکر حیوان اُوبو ته وائی۔ فحل د هر حیوان مذکر ته وائی۔ دارنګه عسب هغه کرایه او

اجرت ته هم وائي چه د حيوان په جفتي كولو اخستے كيږي.

نُطْرِقُ : دا د اطراق نه دے، معنى ئې د جفتئ دپاره چا ته اُوښ وركول.

دے حديث نه معلوميږي چه د حيواناتو په مال كولو باندے پيسے اخستل جائز نۀ دي البته كه څوك ئې په غير د شرط او پابندئ نه د عزت په توګه وركوي نو جائز ده. او تشريح ئې مخكښے تيره شوه.

**درجة الحديث:** [صحيح] الترمذي : ۱۲۷۴، والنسائي : ۷/۳۱۰، وفيه ابراهيم بن حميد الرؤاسي وثقه ابن معين والنسائي وابوحاتم وروى له البخاري ومسلم، وقال الذهبي : الرؤاسي ثقة. (تنقيح التحقيق ۲/۱۰۰ رقم : ۴۹۷) نصب الراية : ۴/۱۳۵].

## كوم شے چه تا سره نۀ وي هغه مۀ خرڅوه

2867 (34) وَعَنْ حَكِيْمِ بْنِ حِزَامٍ ﷺ قَالَ : نَهَانِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَبِيْعَ مَا لَيْسَ عِنْدِيْ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ فِيْ رِوَايَةٍ لَهٗ وَلِأَبِيْ دَاوُدَ وَالنَّسَائِيِّ : قَالَ : قُلْتُ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ يَأْتِيْنِيْ الرَّجُلُ فَيُرِيْدُ مِنِّيْ الْبَيْعَ وَلَيْسَ عِنْدِيْ فَأَبْتَاعُ لَهٗ مِنَ السُّوْقِ قَالَ : " **لَا تَبِعْ مَا لَيْسَ عِنْدَكَ** ".

**ترجمه** : او حكيم بن حزام ﷺ فرمائي : زۀ رسول الله ﷺ ددے نه منع كړم چه هغه شے خرڅ كړم چه ما سره نۀ وي. (ترمذيؒ) او د ترمذيؒ او ابوداوُدؒ او نسائيؒ په يو روايت كښے دي : حكيم ﷺ وائي : ما ووئيل : اے د الله رسوله ! ما ته يو سړے راځي او ما نه سودا اخستل غواړي او هغه ما سره نۀ وي نو زۀ د هغۀ دپاره (هغه شے) د بازار نه اخلم (آيا دا به جائز وي؟) نبي ﷺ وفرمايل : هغه شے چه تا سره نۀ وي هغه مۀ خرڅوه.

**تشريح** : ابن المنذرؒ وائي : كوم شے چه ستا سره نۀ وي د هغے د خرڅولو دوه صورتونه دي : (۱) يو دا چه داسے ووائي : زۀ په تا باندے دا معين كور خرڅوم (او هغه كور غائب وي، مشتري نۀ وي ليدلے او مواصفات ئې معلوم نۀ وي، دا معنى ضعيفه ده ځكه چه خيار عيب شته) نو دا د بيع الغرر سره مشابه ده، ځكه چه كيدے شي دغه كور هلاك شي، يا د مشتري خوښ نشي. (۲) دويم دا چه داسے ووائي : دا كور در باندے په دومره پيسو خرڅوم پدے شرط چه زۀ به ئې ستا دپاره د مالك نه اخلم (بيا به ئې په تا باندے خرڅوم) يا پدے شرط چه تا ته به ئې ددے مالك در حواله كوي. وائي چه قصه د

حکیم ﷺ ددے دویم احتمال سره زیاته موافقه ده۔

دلته ډیر صورتونه دی چه څه جائز او څه حرام دی: (۱) یو بائع یوے معینے کپړے ته اشاره وکړی او د مشتری سره متفق شی او قیمت ئے وباسی او بیعه تمامه شی بیا بائع ځی او هغه د مالك نه اخلی نو دا معینه سودا - چه لا د بائع په ملکیت کښے نۀ ده راغلے - خرڅول حرام دی۔ او دا پدے حدیث کښے داخله ده۔ او د حرمت ئے دغه مخکښئ دوه وجے دی۔ چه کیدے شی بائع د هغے کپړے په سپارلو قادر نشی ځکه چه مالك ئے پرے خرڅه نکړی یا ئے پرے په گران ریټ خرڅه کړی۔

بل پدے کښے په مشتری باندے ظلم راځی ځکه چه بائع به په هغۀ باندے ریټ زیاتوی او که دغه مشتری خپله لاړ شی او د هغه مالك نه ئے واخلی نو هغۀ ته به ارزان ملاؤ شی او مالك ته به هم فائده ملاؤ شی۔

(۲) صورت: پدے کښے دا هم داخلیږی چه د یوے سودا د قبض کولو نه مخکښے او د بائع د ځائے نه د نقل کولو نه مخکښے هغه خرڅه کړی۔ لکه دا مسئله مخکښے ذکر شوه۔ ځکه چه دا سودا هم ستا په ملکیت او ستا په کور کښے نۀ ده۔

(۳) صورت: آیا پدے نهی کښے سَلَم حالی داخلیږی؟ سلم حالی دے ته وائی چه یو تن د یو معین صفاتو والا سودا په نقدو پیسو سره خرڅه کړی یعنی مشتری ورته نقدے پیسے ورکړی او سودا به د بائع په ذمه باندے وی چه مشتری ته به ئے ادا کوی هرکله ئے چه په هغے باندے قدرت راغے؟ نو پدے کښے څلور اقوال دی:

**راجح** قول دا دے چه که چرته دا مبیعه (سودا) ددۀ سره په ملکیت کښے وی نو جائز ده ځکه چه دۀ هغه شے خرڅ کړو چه دے ئے مالك دے او خاص صفات لری او ددۀ په ذمه باندے دے، نو د قدرت په وخت کښے به ئے مشتری ته ورکړی۔ او که چرته سودا د بائع په ملکیت کښے نۀ وه نو دا سَلَم حالی ناجائز دے ځکه چه دا خرڅول د هغه شی دی چه د انسان په ملکیت کښے نشته۔ علامه قرطبیؒ وائی چه په سَلَم کښے دا ضروری ده چه نیټه د سپارلو به مقرر وی ځکه چه الله تعالیٰ (الی اجل مسمی) لفظ د جواز دپاره شرط گرځولے دے۔ [تفسیر القرطبی ۳/۳۸۰]

(٤) صورت: **بیع الفضولی**: که یو تن پردے مال خرڅ کړی او مقصد ئے پکښے مالك

ته نفع رسول وی نو آیا دا به جائز وی؟ دے کښے د اهل علمو دوه قوله دی، **راجح** دا ده چه دا جائز دے خو چه مالك اجازه وکړی، او د هغۀ د اجازت پورے به دا بیعه موقوفه وی۔ او دا قول د احنافو او مالکیانو او یو روایت د امام احمدؒ دے او شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ او ابن قیمؒ غوره کړے۔ او پدے باندے ډیر دلائل دی لکه ﴿ وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى ﴾ او: ﴿ وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ ﴾ نو ددے آیتونو عموم په جواز باندے دلیل دے۔ او چونکه پدے مال کښے د مالك حق دے نو د هغۀ د اجازت پورے به موقوف وی۔ او **بل دلیل** : بخاریؒ د عروه البارقی ﷺ نه نقل کړی چه هغه فرمائی : زۀ رسول الله ﷺ ولیږلم یو دینارئے راکړو چه زۀ ورله ګډ واخلم نو ما په هغے باندے دوه ګډان واخستل، یو مے په یو دینار خرڅ کړو نو یو دینار او یو ګډ مے نبی ﷺ ته راوړو نو ما ته ئے دعاء وکړه : [بَارَكَ اللَّهُ فِي صَفْقَةِ يَمِينِكَ]. الله دِے ستا د ښی لاس په سودا کښے برکت واچوی۔ او دغه شان کار حکیم بن حزام ﷺ هم د رسول الله ﷺ دپاره کړے وو۔ [صحيح : الترمذی: ۱۲۵۸، دارقطنی: ۲۸۲٤] ۔ او په بخاری کښے د درے کسانو د غار والا واقعه پرے هم دلیل ده۔

(۵) **جائز صورت** : که یو مشتری بائع ته وائی چه ما له فلانئ کپړه یا فلانے کتاب راکړه، نو بائع ووائی چه ما سره نشته لیکن زۀ به ئے د بازار نه واخلم بیا به ئے په تا باندے خرڅ کړم، یا یو تن ولیږی او د دکاندار نه ئے راواخلی (ځکه چه د دکاندارانو د یو بل سره دا قسم تعلق وی) او مشتری ته ئے ورښکاره کړی او مشتری په هغے باندے راضی شی نو دا سودا جائز ده، ځکه چه دلته د مشتری رضا ده که خوښه ئے شوه وابه ئے خلی او خوښه ئے نشوه نو پرے به ئے دی۔ دارنګه بائع باندے هم دا لازمه نۀ ده چه خامخا به ئے پدے مشتری باندے خرڅوی۔ یعنی پابندی پکښے یو طرف ته هم نۀ وی۔ نو پدے قسم بیعه کښے نۀ جهالت شته او نۀ پدے کښے خرڅول د هغه شی دی چه د بائع په لاس کښے نشته۔ ځکه چه دلته بائع خو لا بیعه نۀ ده کړے بلکه وعده د بیعے ئے وکړه او دا تړون د بیعے نۀ دے۔ او دے ته ډیر ضرورت راځی ځکه چه کله مشتری ته د سودا پوره معلومات نۀ وی یا دا چه مشغول وی یا نور صورتونه وی۔ وانظر فتاوى اللجنة الدائمة (۱۳/۲۳۷) المنتقى من فتاوى الفوزان (٦/٦٨) ۔

(٦) **صورت** : که یو بائع مشتری ته ووائی چه ما سره خو دغه سودا موجوده نۀ شته

البته زۀ به ئې ستا د پاره اخلم خو ما له به پکښې دومره دومره گټه (کمیشن) را کوې، ځکه چه زۀ ستا وکیل یم۔ نو دا هم جائز ده ځکه چه دا په وکالت باندې اجرت اخستل دی او دا جائز دی۔ او دا بیع مَا لَيْسَ عِنْدَكَ نۀ دې۔

(۷) **ناجائز صورت :** آرډر۔ یو تاجر گاهك ته ووائی چه زۀ به تا له په دومره دومره پیسو باندې فلانې شے مثلًا (بورئ، یا کپړه) راوړم، او ددۀ سره دا بورئ نۀ وی بلکه دا ځی او کارخانې والا ته آرډر ورکوی چه دومره دومره مقدار بورئ یا کپړه جوړه کړی ځکه چه دا ما نه خلکو غوښتلی دی۔ نو دا کار جائز نۀ دې ځکه چه دا خرڅول د هغه شی دی چه تا سره نشته۔

(۸) (البته که تا د خپل طرف نه په کارخانې والا باندې مال جوړ کړو او روستو ئې په خلکو باندې خرڅوې نو جائز ده یا د خلکو سره لا تړون نۀ دې کړې او صرف وعده دِې ورسره وکړه چه زۀ مال جوړوم بیا به ئې په تاسو خرڅوم نو جائز ده) یا یو دکاندار خپله کارخانې والا ته آرډر ورکوی چه ما له په دومره دومره پیسو باندې دومره دومره مال جوړ کړه نو دې ته عقدُ الاستِصْنَاع وائی دا جائز دې۔ لهذا که تۀ دوائیانې جوړه وې یا کپړې یا څپلئ، یا آلات د وسپنې وغیره او خلکو سره عقد (تړون) کوې چه په دومره دومره رقم باندې به ئې درله جوړوم نو دا جائز ده۔ او پدې کښې دا ضروری نۀ ده چه رقم به په دې مجلس کښې ورکوی، برابره ده چه پدې مجلس کښې ټول رقم فوراً ورکړی یا بیعانه ورکړی یا ئې روستو ورکوی، ټول جائز دی۔ او داسې کار به خباب بن الارت ﷺ کولو چه هغه آهنگر وو۔ (بخاریؒ)

(۹) اهل علمو پدې ناجائز صورت کښې دا صورت هم داخل کړې چه یو تن په کشتونو سره گاړی په تاجرانو باندې خرڅوی او کمپنئ د هغې په بدله کښې یو تن ذمه وار غواړی نو یو تن راشی او هغه ذمه واری واخلی چه زۀ به کمپنئ ته د کشتونو رقم ورکوم په خپل خپل وخت کښې، یعنی د میاشتې په ختمیدو کښې۔ او بیا دې د نورو تاجرانو سره گوزاره کوی، که څوك د میاشتې په آخر کښې کشت ادا نکړی نو دې ورته مهلت ورکوی، او په هغوی باندې راحت راولی او دې د خپل طرف نه رقم کمپنئ ته په صحیح وخت کښې ادا کوی۔ نو دا هم خرڅول د هغه شی دی چه تا سره نشته۔ دا به

هغه ناروا وي چه دا دريمګړے شخص د اخستو نه مخکښے دا ګاړے خرخ کړي، يا ئے د اخستو نه پس او د قبض کولو نه مخکښے خرخ کړي نو ناروا ده. فتاوى اللجنة :۱۳/۲۳۵]

(۱۰) پدے (بيع مَا لَيْسَ عِنْدَكَ) کښے تول بيوع الغرر داخليږي.

وانظر إعلام الموقعين ۲/۸، والفقه الإسلامی ٤/۱۷٤، ونظرية العقد لابن تيمية ۲۲٤، المغنى ٤/۲۰۰.

(۱۱) دارنګه پدے کښے ميوه او فصل د پخيدو او وخت ته رسيدو نه مخکښے خرخول هم داخليږي. وانظر [البدائع ۵/۱۳۸، والمبسوط ۱۲/۱۹٤، ومغنى المحتاج : ۲/۳۰].

**درجة الحديث** : [صحيح] الترمذی : ۱۲۳۳، احمد : ۱۵۳٤۸، ابوداود : ۳۵۰۵، النسائی : ٤٦۱۳، ابن ماجه : ۲۱۸۷، السنن الكبرى للبيهقى :۱۰۷۲٤.

## په يوه سودا کښے دوه سوداګانے مۀ کوئ

2868 (35) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنْ بَيْعَتَيْنِ فِي بَيْعَةٍ. رَوَاهُ مَالِكٌ وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ،

**ترجمه** : ابو هريره ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ په يوه سودا کښے د دوه سوداګانو نه منع فرمائيلے. (مالك، ترمذیؒ، نسائیؒ)

**درجة الحديث** :[صحيح] مالك : ۱۳٤۲، الترمذی : ۱۲۳۱، نسائی :٤٦۳۲].

2869 (36 ) وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ جَدِّهٖ قَالَ : نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعَتَيْنِ فِي صَفْقَةٍ وَاحِدَةٍ . رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ

**ترجمه** : او عمرو بن شعيبؒ د خپل پلار نه او هغه د خپل نيکۀ روايت کوي چه رسول الله ﷺ په يوه معامله کښے د دوه بيعو نه منع فرمائيلے ده. (شرح السنه)

**تشريح** : په روايت د ابوداود کښے داسے الفاظ دي : [مَنْ بَاعَ بَيْعَتَيْنِ فِي بَيْعَةٍ، فَلَهٗ أَوْكَسُهُمَا، أَوِ الرِّبَا] چا چه په يوه سودا کښے دوه سوداګانے وکړے نو ددۀ دپاره يا خو په دے دواړو کښے کم قيمت والا سودا ده او يا به سود کوي.

[بَيْعَتَيْنِ فِي بَيْعَةٍ] په يوه سودا کښے دوه سوداګانے کول، په يو عقد کښے دوه عقده کول. علماؤ ددے ګڼر تفسيرونه کړي، شيخ عطيه سالم په شرح د بلوغ المرام کښے وائي : دومره اختلاف په يوه نهي کښے نۀ دے واقع شوے څنګه چه په تفسير ددے نهي کښے

واقع دي:

**مسئله** : اول خو پدې كښې د ټولو فقهاؤ اتفاق دے چه په يوه سودا كښې دوه سوداګانې كول حرام دي. ليكن ددې په تفسير كښې اختلاف واقع شوے چه دا حديث په كوم صورت باندې حمل دے.

(**اول تفسير**) : **بيع التقسيط**: بائع مشتري ته ووائي : زۀ په تا دا شے په نقدو په لس روپو او په نسيه (په قرضو) په شل روپو درخرڅوم. او ديته بيع التقسيط يعنى د قسطونو (كشتونو) سودا هم وائي. او دا د سماك بن حربؒ، امام مالكؒ، سفيان ثوريؒ، اوزاعيؒ او طاووسؒ او په يو روايت كښې د امام شافعيؒ تفسير دے. (شرح بلوغ المرام : عطيه بن محمد سالم)

او دا قول د ابن مسعود ﷺ نه نقل دے : قَالَ :

[اَلصَّفُقَتَانِ فِي الصَّفُقَةِ رِبًا : أَنْ يَّقُوْلَ الرَّجُلُ : إِنْ كَانَ بِنَقْدٍ فَبِكَذَا وَإِنْ كَانَ بِنَسِيْئَةٍ فَبِكَذَا].

[أخرجه ابن ابى شيبة ٦/١١٩، وعبد الرزاق ٨/١٣٨، ١٣٩، واخرجه احمد ١/٣٩٣].

دوه سوداګانې په يوه سودا كښې كول سود دے : هغه دا چه يو سړے ووائي : كه په نقدو شو نو په دومره به وي او كه په قرضو شو نو په دومره.

او دا قول امام ابن حبانؒ په خپل صحيح كښې غوره كړے.

[صحيح ابن حبان : ٧/٢٢٥، باب الزَّجْرِ عَنْ بَيْعِ الشَّيْءِ بِمِائَةٍ نَسِيْئَةً وَبِتِسْعِيْنَ نَقْدًا. ثُمَّ ذَكَرَ الْحَدِيْثَ وَذَكَرَ ذٰلِكَ الصَّنْعَانِيُّ فِيْ سُبُلِ السَّلَامِ ٢/١٦] او دا قول د شيخ عبد الرحمٰن عبد الخالق او شيخ البانيؒ دے.

پدې صورت كښې به د [فَلَهُ أَوْكَسُهُمَا أَوِ الرِّبَا] (ددۀ دپاره په دے دوه عقدونو او سوداګانو كښې هغه سودا ده چه هغه كمه ده، اوكه زياته اخلي نو سود به كوي) مطلب به دا جوړيږي : لكه كولر په نقدو په (۳۰) زرو او د كال په نيټه په (٤٠) زره باندې، نو كه په نقدوئے اخلي، صحيح ده، او كه د نيټې په مقابله كښې لس زره زياتے وركوي نو دا سود دے. او دا يو داسې تفسير دے چه انسان ته په كښې راحت ملاويږي او ددې بيعې د حكم په باره كښې د ډير فكر او سترې والي نه خلاصيږي. كما قال عطيه سالم.

(**دويم تفسير**) : **بيع بالشرط** : بائع مشتري ته ووائي : زۀ دربانديے دا شے درخرڅوم په دې شرط چه تۀ به په ما فلانے شے خرڅوے يا به ئے راله په اجاره راكوے يا به راسره

شرکت کوي او یا بل یو عقد شرط کړي۔ لکه بائع ووائي : زهٔ په تا دا ګاړے په دومره روپو خرخووم په دے شرط چه تهٔ به په ما خپل ګاړے په دومره روپو راخرخوے، یا به راله خپل کور په کرایه راکوے۔ ❁ او یا مشتری دا شیان په بائع باندے شرط کړي چه زهٔ تانه دا فلانے شے اخلم په دے شرط چه تهٔ به مانه دا فلانے شے اخلے۔ او دا د حنابلو تفسیر دے۔ او امام ابن عبد البرؒ ددے نسبت امام شافعيؒ ته هم کړے۔ [التمهید : ۳۹۱/۲٤، نیل الاوطار : ۲۱٤/۵]

(**دریم تفسیر**) دا په **بیع العینه** باندے حمل دے، یعني یوه سودا (مثلًا ګاړے) څوك په چا باندے په نسیه په یو لاکھ روپۍ خرخ کړي او بیا ئے بیرته د هغهٔ نه په نقدو په کمو (مثلًا په اتیا زره) واخلي۔ او دا د (بیع العِینَه) مسئله ده، ځکه دلته په سل روپۍ باندے خرخول یو عقد دے، او بیا په اتیا باندے اخستل بل عقد دے۔ د ابوداودؒ په روایت کښے هم دا مراد دے۔ او دا تفسیر شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ او د هغهٔ شاګرد علامه ابن قیمؒ غوره کړے، هغوئ فرمائي : په دے حدیث کښے صرف همدا معنیٰ مراد ده، بله معنیٰ نهٔ ده۔ [الفتاوی الکبری: ۱۳۹/۳، اعلام الموقعین: ۱۶۱/۳، تهذیب السنن : ۱۰۶/۵]

نو دلته به د بَیْعَة نه مراد مبیع واحد (یوه سودا) وي۔ یعني یوه سودا دوه ځل خرخه شوه۔ یو ځل په نقدو او بل ځل په نیته۔

شیخ ابن بازؒ په فتاوی نور علی الدرب (۷۶/۱۹) کښے دا حدیث الباب پدے روستنو دوه صورتونو باندے حمل کړے۔

(٤) **تفسیر** : امام خطابيؒ وائي : ددے صورت دا هم دے چه یو تن په یو دینار باندے یو صاع غنم واخلي په طریقه د سلم سره تر یو میاشت پورے، نو هرکله چه نیته پوره شي، میاشت پوره شي، او مشتري د بائع نه د غنمو د سپارلو مطالبه وکړي نو بائع ورته ووائي چه ستا په ما باندے کوم یو صاع دے دا راباندے په دوه صاعو راخرخ کړه تر دوه میاشتو پورے۔ یعني د وخت په پوره کیدو کښے ورته ووائي چه یو میاشت خو پوره شوه خو په بله میاشت کښے به دوه صاعه غنم درکړم۔ خطابيؒ وائي : دا دویمه بیعه په اوله بیعه باندے ورداخله شوه، نو دا به پدے دواړو کښے کم ته واپس کولے شي چه هغه اوله بیعه ده۔ که په بله میاشت کښے ترے دوه صاعه واخلي نو دا به سود وي۔ بلکه په بله میاشت کښے به هم ترے همغه یو صاع غنم اخلي نو بیا به د سود نه بچ کیږي۔ او دا

تفسير ابن رسلانؒ په شرح د ابوداود كښې ذكر كړې او ابن الاثيرؒ په النهايه كښې هم ذكر كړې، او دا خبره واضحه ده. چه دا قسم بيعه د ټولو په نيز باطله ده ځكه چه دا په خپل جنس سره ربوي شے خرڅول دي په تفاضل او نسيه سره. [نيل الاوطار : ٥/٢١٤]

د جواز قائل علماء (چه دا جمهور علماء دي، لكه شيخ ابن بازؒ، ابن عثيمينؒ، الفوزان، ابن جبرينؒ او نور معاصرين علماء، دوئ) وائي : كه (**اولنے تفسير**) واخستے شي نو په دے كښې دوه سوداګانے نشته، بلكه دا يوه سودا ده خو ثمن په كښې مبهم او نامعلوم دے، يعني يوه سودا ده ليكن دوه خبرے پكښې وشوے نو كه بائع او مشتري دواړه د جدا كيدو نه مخكښې په يو ريټ باندے متفق شول نو دوه بيعے پكښې رانغلے. بلكه يوه بيعه شوه خو صرف په اول كښې ئے دوه خبرے وشوے يا به ئے په نقدو اخلے نو دومره ريټ دے او يا به ئے په قرضو اخلے نو دومره ريټ دے. نو كله چه په يو باندے فيصله وشوه نو دوه بيعے رانغلے. (يعني دوه ځل خرڅول پكښې ونشو) او كه دواړو هيڅ ونۀ ويل او سره جدا شول نو بيا ثمن مجهول دے، او د سودا چه كوم شرطونه دي په هغے كښې يو شرط موجود نشو. نو بيا نا جائز ده. دوئ وائي : خو دا اوله معنیٰ او تفسير ددے حديث نه اخستل بعيد دي. [المغني: ٦/٣٣٣، اعلام الموقعين: ٣/١٦٢]

بعض علماء ددے نه داسے تعبير كوي چه په دے كښې ځكه دوه بيعے نشته چه پدے كښې مشتري ته اختيار وركړے شوے چه په نقدو اخلے او كه په قرضو، او تخيير د مشتري ته بيعه نۀ وئيلے كيږي.

او هر چه (**دويم تفسير**) دے نو هغه هم پدے حديث كښې مراد نۀ دے ځكه چه داسے شرط په بيعه كښې ناروا نۀ دے چه يو تن بل ته ووائي چه زۀ درباندے دا ګډه هله خرڅوم چه تۀ به په ما باندے ځادر خرڅوے. ددے نه په هيڅ حديث كښې منع نشته. ځكه چه دے كښې بيع د يو شرط پورے معلق شوه چه د هغے واقع كيدل او نۀ واقع كيدل دواړه ممكن دي، ځكه چه مقابل شخص به ورسره يا دا شرط مني نو بيع صحيح شوه او يا به ئے ورسره نۀ مني نو بيعه به نۀ موجوديږي. لهذا پدے حديث كښې به دا نۀ مراد كوو. او هرچه حديث د (نهي عن بيع وسلف) دے نو هغه جدا مسئله ده، بيع په شرط د قرض وركول د بل نه هغه ناروا ده.

شيخ عبد الرحمن السعديؒ فرمائي : دا حديث نۀ لفظًا دے صورت ته شامل دے او نۀ

معنىً، او په دې کښې هيڅ منع نشته. [الفتاوى السعدية، ص: ۲۸۱]

ابن عثيمينؒ وائي: وجه دا ده چه په دې کښې نۀ اوکس (کم) رقم شته او نۀ زيات. نو په دې باندې (فله اوکسهما او الربا) نۀ تطبيق کيږي. ځکه چه شرط ذکر کول او نۀ ذکر کول په مسئله کښې هيڅ تغيير نۀ راولي.

علامه شوکانيؒ فرمائي: دا صورت د [نَهٰى عَنْ بَيْعَتَيْنِ فِيْ بَيْعَةٍ] روايت سره مناسب دې ليکن د ابوداودؒ د دويم روايت سره سمون نۀ خوري. يعني (فَلَهُ اَوْكَسُهُمَا والا روايت)

دوئ وائي هرچه (دريم تفسير) دې هغه دا چه په يوه سودا کښې د دوه سوداګانو نه مراد بيع العينة ده: نو دا په ټولو تفسيرونو کښې غوره او **واضح** تفسير دې او دا ددې حديث په مذکوره دواړو روايتونو باندې تطبيق کيږي، او په دې کښې منع په دې وجه راغلې چه دا سود ته ذريعه جوړيږي. لکه مخکښې تير شو.

ددې تطبيق په (فَلَهُ اَوْكَسُهُمَا اَوِ الرِّبَا) باندې داسې دې چه مثلًا يو اُوبښ د يو کال په نيته په سل روپو خرڅ کړې بيرته ئې ترې په نقدو باندې په اتيا روپۍ واخلي (چه دا بيع العينه ده) نو اُوس به مونږ بائع ته وايو چه کله کال پوره شو نو يا به تۀ دا اُوبښ په همغه اتيا روپو اخلې کومې چه مشتري درکړې يعني نورې شل به نۀ غواړې نو بس تۀ د سود نه بچ شوې او يا به د اولې بيعې سل روپۍ اخلې نو تۀ په سود کښې واقع شوې. ځکه چه دا په حقيقت کښې داسې ده لکه چه تا د اتيا روپو په بدله کښې سل روپۍ واخستې او اُوبښ دِې په مينځ کښې د چل دپاره راننويستو. ددې وجه نه ابن عباس رضي الله عنه به فرمايل: چه دا دراهم په دراهمو خرڅول دي خو په مينځ کښې ئې يوه جامه (مثلًا) راننوته. دلته ئې پکښې اُوبښ راننويستو.

او کله چه يو تن بل ته ووائي چه دا څادر په نقدو په اتيا او په نسيه په سل باندې دې، نو په دې کښې سود نشته او نۀ پکښې غرر شته، ځکه چه دلته ما اتيا روپۍ په سلو روپو بدلې نۀ کړې بلکه د سودا په قيمت کښې د وخت د اُوږد والي په وجه اضافه وکړې شوه نو ګويا کښې ما داسې ووېل: دا مبيعه (سودا) د اتيا روپو سره برابريږي ليکن زۀ ئې درباندې په سل روپۍ خرڅوم، نو شل روپۍ مې زياتې کړې نو په دې کښې سود رانغلو، نو ما چه په تا باندې سل روپۍ په نيته سره مقرر کړې نو ما درته فائده درکړه، ځکه چه هرکله چه د اتيا روپو شے په سل روپۍ خرڅول په نقدو جائز شو نو بيا دا ولې نۀ دي جائز

چه زۀ د اتيا روپو شے په سل روپۍ باندے په نسيه درخرڅ کرم، دے کښې ما تا سره احسان وکړو۔

لهذا ددے حديث تفسير په بل حديث د رسول الله ﷺ باندے وشو چه هغه بيع العينه ده، ځکه چه تفسير د حديث په حديث سره ډير بهتر وی د تفسير د حديث نه په قول د غير رسول ﷺ باندے۔ لکه چه دا تحقيق علامه ابن عثيمينؒ په فتح ذی الجلال والاکرام شرح بلوغ المرام (۳/۵٤۸) کښې تفصيلًا کړے۔ هغه دا وئيلی چه دا حديث صرف او صرف په بيع العِينَه باندے تطبيق کيږی نۀ په بل هيڅ صورت باندے۔ ځکه چه په بيع العينه کښې اوله بيعه په ثمن مؤجل (نيتې) سره وی، او دويمه بيعه په ثمن حاضر سره وی۔ نو دا دوه بيعے شوے په يوه مبيعه (سودا) کښې۔

**د جواز دلائل** : د نيتې په مقابله کښې زيادت د ثمن جائز کونکو د ډيرو عموماتو نه استدلال کړے۔ : ۱- ﴿ وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ ﴾ [البقرة : ۲۷۵] دا آيت په خپل عموم سره د بيع ټولو صورتونو ته شامل دے، او بعض د هغے نه د نيتې په مقابله کښې د قيمت زيات والی ته هم۔ ۲- ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُم بَيْنَكُم بِالْبَاطِلِ إِلَّا أَن تَكُونَ تِجَارَةً عَن تَرَاضٍ مِّنكُمْ ﴾ (النساء : ۲۹) دا آيت په خپل عموم سره دلالت کوی چه کله د جانبينو نه رضا وی نو بيعه جائز ده۔ نو هرکله چه مشتری د نيتې په مقابله کښې په زيادت د ثمن راضی دے نو بيعه صحيح ده۔

۳- دا د بيع السلم سره مشابه ده۔ پدے کښې هم د بيع السلم په شان بائع او مشتری دواړو ته فائده شته، پدے کښې مشتری ته دا فائده ده چه مبيعه (سودا) ورته في الحال ملاؤ شوه او پيسے ئے په آرام دی اگرکه زياتی دی، او بائع ته ئے دا فائده شوه چه سودا ئے زياته گټه وکړه۔

٤- ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا تَدَايَنتُم بِدَيْنٍ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى فَاكْتُبُوهُ ﴾ [البقره : ۲۸۲] په نيتې سره معامله کول جائز دی، نو د نيتې په مقابله کښې د ثمن زيادت په بيعه کښې هيڅ نقصان نۀ راولی۔ دلته الله تعالیٰ دا شرط نۀ کړو چه مداينه به د حاضر وخت په قيمت سره وی۔

۵- رسول الله ﷺ خپله زغره د يهودی سره د طعام په بدله کښې ايخودے وه تردے چه وفات شو۔ نو دلته په ثمن مؤجل باندے بيعه شوے وه۔ او برابره ده چه په يوه نيته سره

وي او كه په ډيرو نيتهو سره وي. معلومه شوه چه په تاخير د ثمن سره بيعه جائز ده. او بيع التقسيط كښې هم ثمن په تاخير سره وركولے شي خو صرف دا چه په كشتونو سره وي چه د هر كشت نيتهه معلومه وي. او كله چه تاجيل د ثمن جائز شو نو كه په يوه نيتهه سره وي او كه په ډيرو سره په حكم شرعي كښې هيڅ فرق نهٔ راولي.

٦- دوئ وائي چه كه يو تن د اول نه خپله سودا په نسيه خرڅوي او د ثمن حالي نه زيات ريټ لګوي نو دا كار خو جائز دے. نو كه دوه خبرے يكښې وشي نو پدے سره په حكم كښې څه تبديلي وشوه ؟.

٧- جمهور فقهاء وائي چه كه ثمن مؤجل د ثمن فوري نه زيات وي نو دا جائز دي، ځكه چه كوم ثمن فوري وركړے كيږي په هغے باندے په نورو تجارتي معاملاتو كښې فائده اخستے كيږي، نو زيادت د سعر په مقابله د معلومه زمانه كښې شو. او په عامو بيوعو كښې د وخت په تيريدو سره په مبيعه كښې زياتوالے راتللے شي اګركه نيتهه مال نهٔ دے ليكن دا د مال په حكم كښې دے، لكه په نصاب د نقودو كښې زكاة لازم دے كله چه پرے كال تير شي اګركه په هغے باندے تجارت ونشي ځكه چه په هغے كښې نماء حكماً شته. او دا قول (يعني جواز د زيادت د ثمن په مقابله د نيتهه كښې) د ائمه اربعهؒ دے.

بعض علماؤ وئيلي دي چه د بيع التقسيط په تعريف كښې درے قيدونه دي: [مُبَادَلَةُ سِلْعَةٍ تُسْلَمُ حَالًا بِثَمَنٍ مُؤَجَّلٍ يُسَدَّدُ عَلٰى دُفُعَاتٍ مَعْلُوْمَةٍ فِيْ اَوْقَاتٍ مُحَدَّدَةٍ مَعَ زِيَادَةٍ فِي الثَّمَنِ] (يعني يوه سودا في الحال بدلول په نيتے والا پيسو باندے چه هغه به په معلومو اوقاتو كښې په معلومو قسطونو سره وركولے شي سره د زيادت نه په ثمن كښې). پدے كښې (أ) اول قيد دا دے مبيعه به في الحال سپارلے شي (ب) دويم ثمن په قسطونو وركولے شي. (ج) زيادت د ثمن په مقابله د نيتهه كښې وي. كه دا درے واړه قيدونه جائز وي نو دا بيعه به جائز وي او كه يو قيد پكښې جائز نشو نو دا سودا به جائز نهٔ وي. هرچه اول قيد دے نو دا خو واضح دے چه مقصد په بيعه كښې سودا قبض كول دي دے دپاره چه حاجت د مشتري پوره شي، ددے نه شريعت بيع السلم مستثنیٰ كړے. دغه شان مقصد د بيعے نه في الحال ثمن بائع ته سپارل دي چه هغه ترے فائده واخلي، ليكن شريعت پدے كښې تاخير د ثمن هم جائز كړے لكه په آيت ﴿اِذَا تَدَايَنْتُمْ بِدَيْنٍ اِلٰى اَجَلٍ مُسَمًّى﴾ كښې ددے جواز راغلے دے. دارنګه رسول الله ﷺ زغره د يهودي سره

کیخوده چه پیسې به روستو ورکوي او طعام ئې ترې في الحال واخستو. **دویم قید**: هم واضح دے چه پیسې روستو وي او په کشتونو سره وي، ددې په جواز باندې دلیل د عائشې رضي الله عنها حدیث دے چه بریره رضي الله عنها آزاده شوه او په هغې باندې پنځه اوقیه مقرر شوي وو چه په پنځه کاله کښې به ئې ادا کوي. (بخاري: ۱۲۶/۳، رقم: ۲۵۶۰)

دلته رسول الله ﷺ بریره رضي الله عنها باندې انکار ونکړو چه په قسطونو سره ولې دا معامله د کتابت کوې؟، حالانکه د هغې په مالکانو ئې د ولاء د اشتراط په باره کښې رد وکړو. نو که په اقساطو سره د بریرې دپاره خپل ځان اخستل ناجائز وے، رسول الله ﷺ به ددې اقرار نهٔ کولے. او **دریم قید**: د تاخیر په مقابله کښې ثمن زیاتول. نو په دے کښې د علماؤ درې اقوال دي: (أ) جائز دي. (دا قول د ائمه اربعه ؤ دے) [بدائع الصنائع: ۴/۴۲۸، بلغة السالك للصاوي: ۲/۴۲، الام للشافعي: ۳/۳۶، المغني لابن قدامة: ۶/۲۱۶] (ب) جائز نهٔ دے، دا مذهب د بعض معاصرینو دے چه د هغوی نه یو شیخ البانيؒ دے. (صحیحة: ۵/۴۲۲)

(ج): دوه حالتونو ترمینځ تفریق: کله چه د مشتري غرض د سودا نه فائده اخستل وي، لکه استعمالوي، یا تجارت کوي، نو د بائع زیادت د هغې په ثمن کښې جائز دے. او که غرض د مشتري نقد رقم وصولول وي، چه هغه سودا ددې دپاره اخلي چه په بل چا ئې په نقدو خرڅه کړي په کم قیمت نو دے ته بیع التورق وائي، نو دے وخت کښې د بائع ثمن زیاتول په دهٔ باندې مکروه دي، او دا یو روایت دا حمدؒ دے او شیخ الاسلام ابن تیمیةؒ ورته حرام وئیلي دي. [مجموع الفتاوی: ۲۹/۴۲۲]

**د مانعینو دلائل**: ۱- عموم د قول د الله تعالیٰ (وَحَرَّمَ الرِّبَا) . وائي چه ددې زیادت په مقابله کښې عوض نشته نو دا به ربا النسیئه وي. ۲- دا حدیث (من باع بیعتین) دا په دوه طریقو سره دلیل دے یو دا چه دا وینا د بائع: په نقدو په زر او په قرضو په یولس سوه، دا په یوه سودا کښې د دوه سوداګانو یو صورت دے. نو که زیادت ئې واخستو دا به سود وي. دویم: (فله اوکسهما او الربا) دلیل دے چه زیادت په ثمن کښې په مقابله د تاجیل کښې سود دے. ۳- **دلیل**: قول د ابن عباس رضي الله عنه دے، [إِذَا اسْتَقَمْتَ أَيْ قَوَّمْتَ السِّلْعَةَ - بِنَقْدٍ، ثُمَّ بِعْتَ بِنَقْدٍ فَلَا بَأْسَ، وَإِذَا اسْتَقَمْتَ بِنَقْدٍ ثُمَّ بِعْتَ بِنَسِيئَةٍ فَتِلْكَ دَرَاهِمُ بِدَرَاهِمَ] [مصنف عبد الرزاق: ۶/۳۴۶] کله چه تهٔ یوه سودا په نقدو بیعه کړې بیا ئې په نقدو واخلې نو هیڅ باك نشته او کله چه تهٔ یوه سودا په نقدو بیعه کړې او بیا ئې په

نسيئه اخلې نو دا دراهم په دراهمو خرڅول دي. (چه سود دے)

دلته ابن عباس ﷺ دا فهم کړه چه کشتونه چه کله په زيادت د ثمن سره وي نو دا بيع د دراهم ده په دراهمو. نو د زيادت سره به جائز نۀ وي. ځکه چه زيادت سود دے.

**٤- دليل :** بيع التقسيط پدے وجه جائز نۀ ده چه ذريعه د سود جوړيږي. او دے دپاره چه مسلمانان مونږ د لوی اجر نه محروم نکړو چه په قرض حسن سره د محتاجينو مصيبت او پريشاني ختمه کړي. دارنګه په قسطونو جواز ورکولو کښے خلك په اسراف باندے زړه ور کول دي کوم نه چه نهي راغلے ده.

(۵) بل دليل دا دے چه د جاهليت والو د سود طريقه دا وه چه د اجل (نيتے) په مقابله کښے به ئے پيسے زياتولے لکه اضعافا مضاعفة په تفسير کښے امام قرطبيؒ، ابن کثيرؒ وغيره ليکلي دي. نو د کشتونو بيعه هم بعينهٖ همدغه شان ده، هيڅ فرق پکښے نشته لکه دا خبره شيخ عبد المنان نورفوريؒ ليکلے ده. مګر دے نه جواب ورکوی چه جاهليت والو به په دين کښے زيادت د نيتے په مقابله کښے کولو، چه هغه د سود بنياد دے، ځکه چه سود دے ته وائي چه زيادت د دين وشي په مقابله د زيادت د نيته کښے. او دلته زيادت د مبيعے په قيمت کښے دے د نيتے په مقابله کښے. نو دواړو کښے فرق دے. ځکه چه دلته دين نشته بلکه پدے کښے ترتيب د ثمن دے، داسے ورته وائي چه دا سودا درباندے نۀ خرڅوم مګر په دومره دومره پيسو. البته که داسے ورته ووائي چه دا سودا درباندے په دومره پيسو خرڅوم، بيا چه کله نيته پوره شي، او مشتري سره پيسے نۀ وي نو دے پرے قيمت زيات کړي نو دا به سود وي.

**د دلائلو مناقشه :** کوم علماء چه د جواز قائل دي هغوی مانعينو ته داسے جوابونه ورکړي : اول دا زده کړه چه د قسطونو بيعه جائز ده اګرکه د ثمن په زيادت سره وي، خو پدے شرط چه دا په ابتداء د عقد کښے وي. لکه بائع داسے ووائي : دا سودا په نقدو په دومره ده او په نسيه په دومره ده. نو کله چه په نسيه باندے متفق شي (چه دا بيع التقسيط ده) نو پدے کښے هيڅ حرج نشته کله چه د ابتداء نه اتفاق وي. البته کله چه د دواړو اتفاق راشي په يوه سودا باندے او بيا په تاخير کولو سره ثمن زياتوی نو دا صريح سود دے، يعنی په يو قيمت ئے اتفاق وکړو بيا چه کله قسط روستو کيږي نو د هغۀ نه زياتي قيمت غواړي نو دا سود دے. دا مجوزين علماء وائي چه د بيع التقسيط نه هيڅ

شرعي مانع نشته او دا په عموم د آیتونو او احادیثو کښې داخله ده. او هرچه د مانعینو استدلالات دی، نو د اول نه جواب دا دے چه (وحرم الربا) نه استدلال کول چه زیادت په ثمن کښې په مقابله د تاخیر کښې سود دے، نو دا سود نهٔ دے، وجه دا ده چه بیعه ابتداءً په معین ثمن باندے تمامه شویده نو دا ټول ثمن سره د زیادت نه ددے سودا په مقابله کښې دے. او دا جائز ده ترڅو چه دا بیعه په تراضي سره وی. دارنګه استدلال د [مَنْ بَاعَ بَيْعَتَيْنِ فِيْ بَيْعَةٍ فَلَهُ أَوْ كَسُهُمَا أَوِ الرِّبَا] دا په صورت د بیع التقسیط مع زیادة الثمن باندے نهٔ تطبیق کیږی، ځکه چه ددے درے معانی دی چه یوه هم بیع التقسیط ته نهٔ ده شامله. (۱) یو بیع العینه ده. (۲) دویم دا چه دوه سوداګانے په یوه سودا کښې دا دی چه یو تن یوه سودا د یو میاشت په نیته خرڅه کړی بیا هرکله چه نیته پوره شی، او مشتری ثمن نهٔ موندہ کوی نو بائع په هغهٔ باندے په هغے کښې روستو زیادت وکړی، نو همدغه سودا پرے دوباره په نوے بیعے سره ورخرڅه کړی په زیات ثمن سره په نوی نیتے والا ریټ باندے. او دا د جاهلیت والو طریقه وه. (۳) یا مطلب دا دے چه یو تن یوه سودا په یو تن باندے خرڅه کړی پدے شرط چه مشتری به په هغهٔ باندے بل یو شے ورخرڅوی. لکه تفصیل ئے مخکښې ذکر شو.

او د ابن عباس ﷺ د قول نه جواب دا دے چه دا مُعَارَض دے د هغهٔ په بل قول باندے. ځکه چه د ابن عباس ﷺ نه دا هم نقل دی چه دا بیعه جائز ده پدے شرط چه د تفرق (جدائی) نه مخکښې بائع او مشتری متفق وی. لکه څنګه چه ددے جواز د عبد الله بن عمرو بن العاص رضی الله عنهما د حدیث نه معلومیږی چه (فَكَانَ يَشْتَرِى الْبَعِيْرَ بِالْبَعِيْرَيْنِ) . (هغهٔ به یو اُوښ د دوه اُوښانو په مقابله کښې اخستو) . دارنګه دا استدلال چه بیع التقسیط سداً لذریعة الربا والاسراف منع ده. نو وائی چه سد د ذریعه درے قسمه دی : (۱) چه علماؤ د هغے په بندش باندے اتفاق کړے وی، لکه بتانو ته کنځل کول کله چه پو هیږی چه هغه به الله تعالیٰ ته کنځل وکړی، یا د مسلمانانو په لاره کښې کو هی کنستل کله چه ورته دا معلومه وی چه هغوی به پکښې واقع شی یا ئے غالب ګمان وی. (۲) دویم : چه د علماؤ اتفاق وی د هغے ذریعے په نهٔ بندولو لکه د انګورو کروندہ پدے یره بندول چه دے نه به خلك شراب جوړ کړی، یا د خلکو سره شریك په کاونډ کښې نهٔ اُوسیدل پدے یره چه زنا به واقع شی. (۳) دریم : چه د علماؤ په هغے کښې

اختلاف وي، لکه پردې ښځې سره خبرې کول پدې يره چه په زنا کښې به واقع شي۔ او بيع التقسيط د ربا دپاره ذريعه جوړيدو منع هم د دويم قسم نه ده۔

پاتې شوه دا خبره چه مسلمانانو سره احسان پکار دے، او د هغوئ حاجتونه په قرض حسن سره پوره کول پکار دي۔ نو جواب دا دے چه دا خو ډيره ښه خبره ده ليکن کله چه بائع دا نشي کولے او د هغهٔ خپله مال ته ضرورت وي، نو که يو تن دپاره دا بيع د ضرورت په وخت جائز نهٔ شي مثلًا مشتري خپله د يو شي پيسې نهٔ مومي، او څوك ئې ورته په قسطونو هم نهٔ ورکوي نو ضرور به هغه د سود په طريقه د هغې پيسې حاصلوي، او بل طرف ته که جواز ورکړے شي نو د دوئ نه به حرج پورته کړے شي خاصکر چه ددے سره آيتونه د تيسير ملګرې شي، الله تعالیٰ فرمائي : ﴿وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّيْنِ مِنْ حَرَجٍ﴾ [الحج : ۷۸] ﴿يُرِيْدُ اللّٰهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيْدُ بِكُمُ الْعُسْرَ﴾ [البقرة : ۱۸۵]

[راجع : حكم بيع التقسيط، اعداد الدكتور حسين مطاوع الترتوري، ص (۲۶) وبيع التقسيط -نشأته، تاريخه-، صوره حكمه]

**د حرمت دلائلو کې دا ده :** - د راويٌ دا الفاظ دي : (اَنْ يَّقُوْلَ : بِنَقْدٍ كَذَا وَبِنَسِيْئَةٍ كَذَا) وائي چه دا الفاظ د بيع العينة سره سمون نهٔ خوري۔ ځکه چه بيع العينه کښې خو يو تن دا الفاظ نهٔ وائي بلکه د دوه کسانو سودا وي۔ فتدبر۔

**حاصل** دا چه چا په کشتونو باندې خيزونه خرڅولو او اخستلو ته حرام وئيلي دي نو هغوي د حديث ظاهري الفاظو نه استدلال کړے چه په يوه سودا کښې دوه ريټونو کولو ته ئې هم سود وئيلے دے۔ لکه دا تفسير د اوزاعيّ او طاووسّ او د حديث د راوي سماك بن حربّ او ابن مسعود ﷺ دے۔

او چا چه دے ته جائز وئيلي دي نو هغوي وئيلي دي چه د کشتونو په مسئله کښې په يوه سودا کښې دوه سوداګانې نشته بلکه يوه سودا ده خو دوه خبرې ئې په ابتداء کښې وشوې، نو يا به ئې په نقدو اخلي نو دا يوه سودا شوه۔ او يا به ئې په قرضو اخلي نو دا هم يوه سودا شوه۔ لنډه دا چه في الحال دوه سوداګانې پکښې نشته۔ او بل طرفته د حديث محمل په بيع العينه کښې ښهٔ ښکاره کيږي چه په هغې کښې په يوه مبيعه (سودا) کښې دوه سوداګانې دي چه يو ځل ئې په قرضو په سل روپۍ خرڅه کړه بيا بيرته د همدغه شخص نه په نقدو په اتيا روپۍ اخلي۔ نو دلته مبيعه يوه ده او سوداګانې پکښې دوه ځله

وشوې۔

او دوئ وئیلي دي چه په نیټه باندې قیمت زیاتول په شریعت کښې حرام نۀ دي، وجه دا ده چه په بیع السلم کښې هم د وخت نه فائده اخستې شي، هغه دا چه هلته هم مبیعه په نسیئه سره ورکوي او ثمن نقد وي۔ نو نیټه پکښې راغله او اګر که په بیع السلم کښې په اُوسني ریټ باندې ورکوي نو دلته هم ورسره د اول نه خبره وکړي چه په قرضو په دومره ده۔ یعني د ریټ تعیین د اول نه کوي۔ دارنګه په دې بیع التقسیط کښې دواړه جانبین رضا دي او دواړو طرفونو ته ضرورت دې، د بائع ګټې ته ضرورت دې او د مشتري سامان ته مثلًا د یو تن کور پکار دې، او د هغې رقم ورسره في الحال نشته او تنخواه دار دې، د خپلې تنخواه نه لږ لږ جدا کولې شي چه هغه په کشتونو کښې ورکړي نو که بائع د اُوسني ریټ نه ګران ورکړو نو هغه پدې وجه چه هغۀ په خپل مال سره ګټه وکړه، مینځ کښې جنس موجود دې، هسې هوا ئې نۀ ده خرڅه کړې، د هغۀ پیسې لیټ کیږي۔ البته که تبرع کوي او دواړه ریټونه یو شان ورکوي، ډیره بهتره ده۔ او دا فتویٰ د سعودي د اکثرو علماؤ هم ده۔

شیخ عبد المحسن العبادؒ په شرح د ابوداود کښې فرمائي : دې بیع التقسیط ته بیع الآجال وائي۔ یعني په نیټو باندې یوه سودا خرڅول۔ او پدې کښې هیڅ باك نشته۔ او د هغه حدیث (یعني بیعتین في بیعة) مقصد دا دې چه دوه خبرې وکړيٰ او یو باندې هم تعیین ونشي۔ بیا ئې وئیلي دي چه پدې باره کښې شیخ شوکانيؒ یو کتاب لیکلې دې (شِفَاءُ الْعَلِيْلِ فِيْ زِيَادَةِ الثَّمَنِ لِأَجْلِ التَّأْجِيْلِ) او دا ئې وئیلي دي چه جمهور علماء ددې د جواز قائل دي او ددې نه هیڅ شرعي مانع نشته۔ (شرح سنن ابی داود : ۱/۲۷۷)

ددې حدیث په معنیٰ او مطلب کښې سخت اختلاف راغلو، پدې وجه د کشتونو مسئله په مشتبهاتو کښې داخله شوه لهذا مونږ ته دا غوره ښکاره کیږي چه د داسې قسم بیعې نه حتی الوسع ځان ساتل پکار دي، [مَنِ اتَّقَى الشُّبُهَاتِ اِسْتَبْرَءَ لِدِيْنِهٖ وَعِرْضِهٖ]۔ البته که د ډیرې سختې مجبورتیا حالت راغلو نو بیا به ان شاء الله چه جائز وي۔

نو کوم خلك چه اصلي حاجت او ضرورت ئې نۀ وي بلکه د کمالیات او ترفیهاتو د حاصلولو دپاره دا قسم بیعې کوي نو دا د مسلمان سره مناسب نۀ دي۔ خاصکر پدې کښې خپله ذمه په پردي مالونو باندې مشغوله کول دي، او کوم خلك چه دا صرف د

پیسو حاصلولو ذریعه جوړه وي، او مقصد ئې د دغه شي حاصلول نۀ وي بلکه هغه خرڅوي دې دپاره چه پیسې مینځ نه راوباسي، نو دا کار خوډیر بد دې۔ بلکه راجح دا ده چه د کشتونو بیع ته ناجائز وویل شي ځکه دلائل ئې صریح دي او د جواز دلائل په خپل موضوع کښې صریح نۀ دي۔ او ابن مسعود ؓ او ابن عباس ؓ د صحابه کرامو فقهاء دي، هغوی ددې نه منع فرمائیلې ده۔ او حدیث (فله اوکسهما او الربا) صریح دې۔ والله اعلم۔

**فوائد** : (۱) حدیث نه د هغه حیلې ممانعت ثابت شو چه هغه په ظاهره کښې سودا لیکن په حقیقت کښې سود دې۔ (۲) حدیث نه د «سد الذرائع» قاعده معلومه شوه چه هر شې د خپل مقصده پورې تړل شوې۔ والله تعالیٰ اعلم.

**درجة الحديث** : [صحيح لغيره] احمد : ۳۷۸۳، البيهقي في الكبرى : ۱۱۱۹۷، شرح السنة : ۲۱۱۲.

## بیعه د قرض سره مۀ یوځائې کوئ

2870 (37) وَعَنْهُ ؓ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : **"لَايَحِلُّ سَلَفٌ وَبَيْعٌ، وَلَا شَرْطَانِ فِيْ بَيْعٍ، وَلَا رِبْحُ مَالَمْ يُضْمَنْ، وَلَا بَيْعُ مَالَيْسَ عِنْدَكَ"**. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ .

**ترجمه** : عمرو بن شعيبؒ د خپل پلار نه او هغه د خپل نيکۀ (عبد الله بن عمرو ؓ) نه روایت کوي چه رسول الله ﷺ وفرمایل : قرض او سودا حلاله نۀ ده، او نۀ په سودا کښې دوه شرطونه لګول حلال دي، او نۀ په قبضه کښې د اخستلو نه مخکښې د کوم شي منافع جائز دي، او نۀ هغه شې خرڅول جائز دي چه تا سره نۀ وي۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ، نسائیؒ او ترمذیؒ وئیلي دا حدیث صحیح دې)۔

**تشریح** : په دې حدیث کښې څلور جملې دي، ددې وضاحت دادې :

(۱) [لَايَحِلُّ سَلَفٌ وَبَيْعٌ] سلف قرض ته وائي او بیع سودا ده، او (واو) د جمع دپاره دې، یعنی داسې سودا جائز نۀ ده چه په هغې کښې قرض شرط کړې شي، په هغې کښې خرڅول او قرض دواړه په یو ځائې موجود شي۔ ددې **صورت** دادې چه خرڅونکې چاته ووائي: زۀ په تا دا فلانې شې (ګاړې، کور وغیره) په دې شرط خرڅوم چه تۀ به ماله

دومره دومره روپۍ قرض راکوې۔ دا تفسیر د امام مالكؒ دے۔ او یا اخستونکے چاته ووائی: زۀ تاله دومره دومره روپۍ قرض درکوم په دے شرط چه تۀ به په ما خپل فلانے شے (کاړے یا کور وغیره) راخرڅوې۔ په اتفاق د علماؤ سره دا قِسم سوداګانے جائز نۀ دی۔
د **ممانعت** وجه دا ده: چه په دے کښے سودا د قرض دپاره ذریعه جوړه شوه نو په دے قرض ورکولو یا اخستلو کښے منفعت راغے، ځکه دے چه هغۀ ته قرض ورکوي نو د دغه سودا په وجه ئے ورکوی، حالانکه قرض ورکولو کښے واجبه داده چه په دے کښے به غرض عوض اخستل نۀ وی بلکه په دے کښے به محض احسان او ښیګړه غرض وی۔ ولے که په دے کښے عوض راشی نو د [کُلُّ قَرْضٍ جَرَّ نَفْعًا فَهُوَ رِبًا] په قاعده به دا سود وګرځی۔ علامه ابن قیمؒ فرمائی: دا ددے ذریعه ده چه یو تن چا ته زر روپۍ قرض ورکوی او د هغۀ نه یوه داسے سودا په نورو زرو روپو اخلی چه هغه د اتۀ سوو (۸۰۰) سره برابره ده، نو دے هغۀ ته زر روپۍ او د اتو سوو سودا ورکوی، او د هغۀ نه دوه زره روپۍ اخلی۔ او دا بعینهٖ سود دے۔ که چرے دا سودا نۀ وے نو هغۀ ته به ئے دا قرض نۀ ورکولے، او که د قرض دا عقد نۀ وے نو هغۀ به ددۀ نه دا نۀ وے اخستے۔

(۲) [وَلَا شَرْطَانِ فِيْ بَيْعٍ] په یوه سودا کښے دوه شرطه لګول جائز نۀ دی۔

ددے په **تفسیر** کښے د علماؤ **اختلاف** دے: **(یو قول)** دا چه دا حدیث د خپل ظاهر مطابق په دے دلالت کوی چه د مشتری دپاره په بائع باندے دوه شرطونه لګول جائز نۀ دی، مثلًا: یو تن لرګی اخلی او خرڅونکی باندے دا شرط لګوی چه زما کور ته به ئے راوړے او بیا به ئے راله دړے کوے او ماتوے به ئے۔ او یا جامه په دے شرط اخلی چه هغه به راله کټ کوے او بیا به ئے راله ګنډے۔ نو دا دوه شرطونه لګول صحیح نۀ دی۔ دا تفسیر علامه ابن المنذرؒ امام احمدؒ او اسحاقؒ ته منسوب کړے۔ [تهذیب مختصر السنن: ۱٤٤/۵] علامه ابن قدامهؒ د امام احمدؒ نه نقل کړی چه هغه فرمائی: په سودا کښے یو شرط لګول باك نۀ لری، خو د دوو شرطونو لګولو نه منع راغلے۔ [المغنی: ۳۲۱/٦]

او دا قول شیخ ابن بازؒ غوره کړے، او د ممانعت وجه ئے ورله دا وئیلے چه دوه شرطونه لګول د جنګ جګړے سبب ګرځی۔ ددے برعکس یو شرط لګولو کښے حاجت دے او دا د اختلاف سبب هم نۀ ګرځی۔ **(دویم قول)** دا چه: د دوه شرطونو نه مراد دادے چه: بائع مشتری ته ووائی: دا سودا درباندے په نقدو په لسو روپو خرڅوم او بیرته ئے درنه په

قرضو په شلو اخلم. او دا د بيع عِينه مسئله ده. او دا تفسير د علامه ابن قيمؒ دے. هغه ددے وجه دا بيانوى چه د شرط اطلاق خپله په عقد باندے كيږى ځكه بائع او مشترى دواړه خپلو كنبے په يو بل باندے ددے د پوره كولو شرط لګوى. او امام ابن قيمؒ په اولنى تفسير رد كړے چه هغه تفسير د حديث د مقصد نه لرے خبره ده، كه بائع د خپل ځان دپاره په سودا كنبے شرط لګوى او دا شرط لګول فاسد وى نو كه دا يو وى هم به فاسد وى اوكه دوه يا زيات وى هم به فاسد وى. اوكه دا شرط لګول صحيح وى نو بيا د يو او دوو يا زياتو شرطونو ترمينځه څۀ فرق دے؟ او همدا **قول راجح** دے. ځكه په دے وخت كنبے په عامو سوداګانو كنبے دوه يا زيات شرطونه لګول كيږى او ددے نه په عامه توګه څۀ جنګ جګړه هم نۀ پيدا كيږى نو بيا ديته ولے حرام ووئيل شى ؟ . او دے كنبے دا معنىٰ هم صحيح ده كومه چه ابن قتيبه ذكر كړے چه شرطان فى بيع د كشتونو بيعه ده، چه يو سړے يوه سودا د دوه مياشتو په نيته په دوه دينارو او د درے مياشتو په نيته په درے دينارو خرڅوى. [غريب الحديث : ۱/۱۸) الصحيحة : ۵/۴۲۰ رقم : ۲۳۲۶]

(۳) [وَلَا رِبْحُ مَا لَمْ يُضْمَنْ] يعنى د هغه شى ګټه حلاله نۀ ده چه انسان هغه شے لا قبض كړے نۀ دے. ددے صورت دادے چه يو تن يو شے واخلى او په خپله قبضه كنبے ئے لا راوستے نۀ وى او بيا ئے مخكنبے په بل چا خرڅوى او په هغے كنبے ګټه كوى، نو دا ګټه حلاله نۀ ده، وجه دا ده چه دغه سودا د قبض كولو نه مخكنبے د مشترى په ضمان كنبے نۀ ده بلكه د بائع په ضمان كنبے ده، يعنى كه مشترى لا قبضه كړے نۀ ده او د بائع سره دغه خرڅ شوے شے هلاك شو نو تاوان به په بائع وى نۀ په مشترى. نو اوس چه كله دے مشترى يو داسے شے خرڅ كړو چه په دۀ باندے د هغے تاوان نشته نو دا ئے په داسے شى كنبے ګټه وكړه چه په هغے كنبے په دۀ تاوان نشته نو دا جائز نۀ ده. او دا معنىٰ ده ددے حديث هم چه [اَلْخَرَاجُ بِالضَّمَانِ] [ترمذى: ۱۲۸۵، نسائى: ۴۴۹۰، أبو داود: ۳۵۰۸] يعنى د خرڅ شوى سامان نه د حاصليدونكے ګټے حقدار هغه څوك دے چه ددے تاوان د هغۀ په ذمه وى. نو ګټه په تاوان حاصليږى.

❁ او چا د [رِبْحُ مَا لَمْ يُضْمَنْ] دا معنىٰ هم كړے [أَىْ رِبْحُ مَا لَمْ يَمْلِكْ] يعنى د هغه شى ګټه خوړل چه د هغے مالك نۀ وى. مثلًا : يو تن څۀ مال غصب كړى نو هغۀ دپاره ددے خرڅول حلال نۀ دى ځكه دا غصب شوے شے چه ددۀ په ملكيت كنبے نۀ دے داخل، نو

کله ئې چه خرڅ کړي او ګټه په کښې وکړي نو دۀ دپاره دا خرڅول او ګټه خوړل جائز نۀ دي۔ [تمام المنة فى فقه الكتاب وصحيح السنة : ۳/ ۳۱۰، لعادل بن يوسف العزازيؒ]

ددې لفظي معنیٰ ده : ګټه د هغه شي چه د هغې تاوان (په بائع) نۀ وي۔ [اَیْ لَا یَدْخُلُ فِی الضَّمَانِ وَلَا یَکُوْنُ لَهُ ضَمَانٌ] (يعني په ضمان کښې نۀ داخليږي او هغې دپاره ضمان نۀ وي) دې باندې دا مسئله هم تفريع ده چه کله مشتري يو غلام واخلي او بيا ئې چا ته په اجاره ورکړي بيا پکښې عيب راوځي او دې ئې بېرته بائع ته په خيار عيب سره واپس کوي نو کومه ګټه چه دې غلام وکړه آيا دا به مشتري دپاره حلاله وي او که نۀ؟ نو که دا غلام ددۀ په ضمان کښې وي او په دۀ باندې ئې تاوان راتلې نو دۀ دپاره به د هغۀ منافع هم حلال وي او که داسې نۀ وي نو بيا به ورله ګټه حلاله نۀ وي۔

دغه شان په ټيکسي او رکشه کښې مثال واخله چه کله ئې ټيکسي واخسته او چا ته ئې په ګټه ورکړه او د عيب په صورت کښې ئې بېرته بائع ته واپس کوي نو دۀ دپاره به دغه ګټلې پيسې حلالې وي ځکه چه که دا ټيکسي هلاکه شي نو په دۀ باندې به تاوان هم راتلې لهذا ګټه به هم ددۀ وي۔

(٤) [وَلَا بَیْعُ مَا لَیْسَ عِنْدَكَ] او نۀ هغه شې خرڅول حلال دي چه هغه ستا په ملکيت او ولايت کښې نۀ وي) حديث نه ثابته شوه چه انسان دپاره د هغه شي خرڅول جائز نۀ دي چه هغه ددۀ د خرڅولو په وخت په ملکيت کښې نۀ وي او نۀ ددۀ په تصرف کښې وي۔ په دې طريقه چه يو شې ترې څوك وغواړي او هغه ددۀ سره نۀ وي، دې دغه شې په هغۀ ورخرڅ کړي او ددې نه پس بازار ته لاړ شي او هغه ورله واخلي او مشتري ته ئې وسپاري، دا کار جائز نۀ دې۔ حکيم بن حزام ﷺ فرمائي : ((زۀ رسول الله ﷺ ته راغلم ما ووئيل : [يَأْتِيْنِي الرَّجُلُ يَسْأَلُنِي الْبَيْعَ لَيْسَ عِنْدِي مَا أَبِيْعُهُ ثُمَّ أَبِيْعُهُ مِنَ السُّوْقِ]

ما ته يو سړې راشي او د يوې سودا پوښتنه وکړي او هغه ما سره نۀ وي چه زۀ ئې پرې ورخرڅ کړم، بيا ئې د بازار نه په هغۀ باندې ورخرڅ کړم (آيا دا کار به جائز وي؟) نبي ﷺ ورته وفرمايل : کوم شې چه تا سره نۀ وي هغه مۀ خرڅوه))

[أبوداود: ۳۵۰۳، نسائي: ۷/۲۸۹، ترمذي: ۱۲۳۲، أحمد: ۲٤/۲۵، ۲٦، صحيح بطرقه]

لکه دا حديث مخکښې هم ذکر شو۔ ددې صورت د مخکښې سره تعارض نشته بلکه دا هغه صورت دې چه د خرڅونکي لاس ته لا سودا نۀ ده راغلې بلکه بغير د ملکيت نه

ئے د مخکښے نه خرڅوي او روستو ئے د بازار نه اخلي۔ فتدبر۔

**سوال:** سَلَمْ کښے هم يو شے خرڅول وي چه هغه موصوف في الذمه وي او في الحال د بائع په لاس کښے نهٔ وي نو دا هم په بيع د[مَا لَيْسَ عِنْدَكَ] کښے داخل دي؟ **جواب:** هغه ددے صورت نه مستثنىٰ دے ځکه په هغے کښے د دغه سودا صفت، اندازه او نيټه معلومه وي چه د بائع په ذمه باندے وي۔ يعنی په [مَا لَيْسَ عِنْدَكَ] کښے صرف هغه سامانونه داخل دي چه بائع ئے د عقد په وخت په ملکيت کښے نهٔ لري۔ او هر چه سَلَم دے دا بيع د موصوف في الذمة ده، دا اګر که د بائع سره في الحال نشته مګر ددے شرطونه دي: هغه دا چه د عقد په مجلس کښے به بائع د مشتري نه رقم قبض کوي او کله ئے چه رقم قبض کړو او عوض ئے نيټه کړو نو دا د عامو قرضونو پشان يو قرض شو چه د بائع په ذمه به ئے ادا کول وي۔ نو د الله تعالىٰ په دے قول کښے داخل دے: ﴿يَآأَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْآ اِذَا تَدَايَنْتُمْ بِدَيْنٍ اِلٰى اَجَلٍ مُّسَمًّى فَاكْتُبُوْهُ﴾ [البقرة: ۲۸۲] (اے ايمان والو! کله چه تاسو د يو بے مقررے نيټے پورے د قرض يوه معامله کوئ نو هغه وليکئ)۔ د سَلم تفصيل به په خپل باب کښے راشي، إن شاء الله۔

❁ او ددے منع **علت** دادے چه په دے کښے غرر او دهوکه ده ځکه د عقد په وخت بائع ددے په تسليم او سپارلو قادر نهٔ دے ځکه دا د بل چا په قبضه کښے ده، ځکه ممکنه ده چه بائع دغه خرڅ کړے شے په بازار کښے ونهٔ مومي او مشتري د سامان مطالبه کوي او بائع ورته وائي صبر کوه، او صبر کوه، حالانکه سودا په دے باندے شوے وه چه في الحال به سامان راسپاري۔ نو دا د اختلاف او نزاع سبب ګرځي۔

**درجة الحديث:** [حسن صحيح] الترمذي: ۱۲۳۳، ابوداود: ۳۵۰٦، النسائي: ٤٦۳۰، ابن ماجه: ۲۱۸۸، احمد: ٦٦۷۱.

## د قيمت په ادا کولو کښے د سکے تبديلي جائز ده

2871 (38) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ قَالَ: كُنْتُ أَبِيعُ الْإِبِلَ بِالنَّقِيعِ بِالدَّنَانِيرِ فَآخُذُ مَكَانَهَا الدَّرَاهِمَ وَأَبِيعُ بِالدَّرَاهِمِ فَآخُذُ مَكَانَهَا الدَّنَانِيرَ فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ لَهُ فَقَالَ: "**لَا بَأْسَ أَنْ تَأْخُذَهَا بِسِعْرِ يَوْمِهَا مَا لَمْ تَفْتَرِقَا وَبَيْنَكُمَا شَيْءٌ**". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَالدَّارِمِيُّ.

**ترجمه** : ابن عمر ﷺ نه روایت دے فرمائی چه مابه په نقیع (مقام) کښې اُوښان په اشرفیو باندے خرخول او د هغې په ځائے به مے دراهم اخستل او په دراهمو به مے خرخول او د هغې په ځائے بـه مے اشرفۍ اخستے نو زۀ نبی کریم ﷺ ته راغلم او هغۀ ته مے دا خبره ذکر کړه (چه آیا دا جائز دی؟) نو هغۀ وفرمایل : پدے کښې هیڅ باك نشته چه تۀ هغه د هغه ورځې په ریټ باندے واخلے پدے شرط چه تاسو دواړه د یو بل نه جدا شوی نۀ یئ او ستاسو دواړو ترمینځ څه رقم پاتے وی. (ترمذیؒ، ابوداودؒ، نسائیؒ، دارمیؒ)

**تشریح** : [بِالنَّقِيْعِ] نقیع په نون سره، خوك وائی چه دا د بقیع دویم نوم دے، او چا ویلی چه دا د مدینے نه تقریباً اویا (۷۰) کلومیټره لرے یو ځائے دے.

په بله نسخه کښې [بِالْبَقِيْعِ] لفظ دے. د مسجد نبوی مشرقی اړخ ته د یو ځائے نوم دے چرته چه هدیره ده، دیته بقیع الغرقد وائی، غرقد د یوے ونے نوم دے، دا مخکښې په مدینه کښې د اُوښانو بازار وو.

[بِالدَّنَانِيْرِ] یعنی زۀ به اشرفیو اوښان خرخووم او د اشرفیو په بدل کښې روپۍ اخلم، او دا شان برعکس. [بِسِعْرِ يَوْمِهَا] د دغه ورځې په نرخ باندے، یعنی د دینار په مقابله کښې دراهم اخستل باك نۀ لری خو شرط دادے چه د نن ورځې چه کوم نرخ دے د هغې مطابق به یو د بل په عوض کښې بدلولے شی. [مَالَمْ تَتَفَرَّقَا وَبَيْنَكُمَا شَيْءٌ] أَیْ: وَالْحَالُ أَنَّهُ لَمْ يَبْقَ بَيْنَكُمَا شَيْءٌ مِنَ الْبَدَلَيْنِ غَيْرُ مَقْبُوْضٍ (یعنی تر هغه وخته پورے یو د بل نه جدا نشئ چه ستاسو ترمینځه یو په بل باندے داسے شے باقی پاتے نۀ وی چه د هغې ادا کول واجب وی) یعنی د جدائی نه مخکښې مخکښې یو بل ته بدل ورکوئ.

یعنی که چرے تۀ د دغې ورځې د قیمت برابر اخلے او د جدا کیدو نه مخکښې مکمل رقم ادا کوے نو بیا په دے کښې څۀ باك نشته.

**فوائد** : (۱) حدیث نه معلومه شوه چه د مشتری په ذمه سرۀ زر ثابت شی نو ددے په بدل کښې سپین زر ورکول، اوکه سپین زر په ذمه کښې ثابت شی نو سرۀ زر ورکول هر کله چه په دے باندے بائع راضی وی، جائز دی. خو په دے کښې شرط دادے چه په کوم ځائے کښې دے دواړو سودا کړے د دغه ځائے نه د جداکیدو نه مخکښې مخکښې دواړه تقابض وکړی، یو سودا قبض کړی او بل ثمن قبض کړی. خوکه دا شرط ختم شو نو بیا به دا معامله جائز نۀ وی ځکه دا به بیا ربا النسیئة (د نیټې والا سود) حسابیږی، ځکه

سرۀ او سپین زر دواړه هغه مالونه دی چه په دے کښے سود جاری کیږی، نو دا دواړه چه په یو بل باندے خرڅولے شی نو په دے کښے په اتفاق د علماؤ سره په مجلس کښے دننه تقابض شرط دے۔ نوکه لږ رقم ئے هم قبض نۀ کړو نو ټول عقد باطل شو، اوکه لږ ثمن ئے قبض کړو نو څومره ئے چه قبض کړے په هغے کښے سودا صحیح شوه ځکه چه شرط ئے موجود شو، او کومه اندازه عوض چه باقی پاتے شو نو په هغے کښے سودا باطله شوه ځکه ددے شرط فوت شو۔ ددے تائید دادے چه بل حدیث کښے دی:

[إِذَا اخْتَلَفَتْ هٰذِهِ الْأَصْنَافُ فَبِيْعُوْا كَيْفَ شِئْتُمْ إِذَا كَانَ يَدًا بِيَدٍ]

(کله چه دا ربوی قِسمونه مختلف شی نو په هره طریقه ئے خرڅولے شی په دے شرط چه لاس په لاس وی) [مسلم: ۱۵۸۷] او فرمائی: [وَلَا يُبَاعُ غَائِبٌ مِنْهَا بِنَاجِزٍ] (ددے نسیه به په نقدو نشی خرڅولے) [أحمد: ۱۱۰۰۶، بإسناد صحيح] یعنی چه د یو طرف نه عوض نقد وی او بل نسیه وی نو دا به سود حسابیږی۔ او دا قاعده صرف په ذهب او فضه کښے ده، چه دا دواړه به نقد په نقد خرڅولے شی، داسے به نۀ وی چه یو نقد وی او بل نسیه۔ ددے دواړو نه علاوه په نورو غیر ربوی شیانو کښے دا قاعده نشته۔ لکه بله یوه سودا په نقدو او په نسیه دواړو باندے اختلل جائز دی۔ او د ذهب او فضه په حکم کښے افغانئ او پاکستانئ کرنسی هم ده، یا پاکستانئ او ریالونه چه کله دا دواړه یو په بل سره خرڅولے شی نو تقابض په مجلس کښے شرط دے۔

(۲) [لَا بَأْسَ أَنْ تَأْخُذَ بِسِعْرِ يَوْمِهَا] نه معلومه شوه چه دا تبادله د موجوده ریټ مطابق شرط ده۔ نو سرۀ او سپین چه یو د بل په بدل کښے ورکولے شی نو ددے دپاره دوه شرطونه شو۔ یو تقابض، او دویم: د نن ورځے نرخ لګول۔ یعنی یو د بل په بدل کښے زیات نۀ ورکول۔ او دا د امام احمدؒ قول دے، علامه خطابیؒ، شوکانیؒ او شیخ ابن بازؒ دیته ترجیح ورکړے۔ او د نن ورځے ریټ مطابق ورکول ځکه شرط دی، دے دپاره چه [رِبْحُ مَا لَمْ يُضْمَنْ] رانشی، یعنی په هغه شی کښے ګټه ونۀ کړی کوم چه ددۀ په ضمانت او تاوان کښے داخل نۀ دے۔ صحیح وجه دا ده چه تقابض فی المجلس د سرو سپینو دپاره شرط دے مثلاً که سپین د سرو په پخوانی ریټ ورکړی نو دا نسیه شوه او دا سود دے۔

**دویم قول** دا دے: چه د نن ورځے ریټ لګول شرط نۀ دی، بلکه ددے نه ئے ګران او ارزان ریټ سره بدلول هم جائز دی، او دا د امام ابوحنیفهؒ او امام شافعیؒ قول دے، او صنعانیؒ

هم ديته مائل شوي۔ د دوئ دليل عام حديث دے : [إِذَا اخْتَلَفَتْ هٰذِهِ الْأَصْنَافُ فَبِيعُوا كَيْفَ شِئْتُمْ] او دلته هم چه كله درهم او دينار دواړه جدا جنسونه شول نو يو په بل باندے په كمى زياتى سره بدلول جائز دى هر كله چه تقابض په كښې وى۔ ليكن اول قول والا وائى چه دا حديث عام دے او حديث الباب خاص دے نو ددے خاص په ذريعه به په دغه عام كښې تخصيص كولے شى۔ والله تعالىٰ اعلم۔

**درجة الحديث** :[صحيح موقوفا ضعيف مرفوعا] أخرجه الترمذى: ابو داود : ۳۳۵۶، النسائى : ۴۵۸۲، احمد : ۶۲۳۹، الحاكم فى المستدرك ۲۲۸۵، وقال صحيح على شرط مسلم ووافقه الذهبى۔ الدارمى : ۲۵۸۱، إسناده حسن . (حسين سليم اسد) وقال ابن كثير فى ارشاد الفقيه : ۲/۷: على شرط مسلم وقد روى من جه آخر موقوفا . وصححه احمد شاكر فى تعليق المسند۔ وقال ابن باز فى مجموع فتاوى ابن باز : ۲۸۲/۱۹، وابن القيم فى تهذيب السنن : ۹/ ۴۰۹: ثابت. وقال البيهقى والترمذى : تفرد برفعه سماك بن حرب وهو صدوق تغير بآخرة فكان ربما يلقن فيتلقن (التقريب) وخالفه داود بن ابى هند وهو احفظ منه وأثبت، فرواه عن سعيد بن جبير عن ابن عمر موقوفا عليه . فرفعه شاذ لمخالفته الثقات الذين اوقفوه على ابن عمر فحديثهم هو المحفوظ . (ذخيرة العقبى شرح المجتبى (النسائى) : ۱۵/۳۵ وضعفه الالبانى، **والراجح** انه مرفوع لان سماكا وثقه خمس وعشرون اماما فرفعه زيادة الثقة.

## د نبى ﷺ د سودا كولو واقعه او د سودا ليكل

**2872 (39)** وَعَنِ الْعَدَّاءِ بْنِ خَالِدِ بْنِ هَوْذَةَ ﷺ أَخْرَجَ كِتَابًا: هٰذَا مَا اشْتَرَى الْعَدَّاءُ بْنُ خَالِدِ بْنِ هَوْذَةَ مِنْ مُحَمَّدٍ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، اِشْتَرٰى مِنْهُ عَبْدًا أَوْ أَمَةً لَا دَاءَ وَلَا غَائِلَةَ وَلَا خُبْثَةَ، بَيْعَ الْمُسْلِمِ الْمُسْلِمَ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

**ترجمه** : او عداء بن خالد بن هوذه ﷺ يو خط راوښكلو : (په هغے كښے دا وو) دا هغه شے دے چه عداء بن خالد بن هوذه ﷺ د محمد رسول الله ﷺ نه واخستو، د هغهٔ نه ئے غلام يا وينځه واخسته چه هيڅ بيمارى او هيڅ آفت او هيڅ بدى (خرابى) نشته دے، عداء (ﷺ) داسے اخستے دے لكه څنگه چه يو مسلمان د بل مسلمان نه اخلى۔ (ترمذیٓ روايت كړے او وئيلى ئے دى چه دا حديث غريب دے)

**تشريح** : عداء بن خالد ﷺ صحابى دے، لږ حديثونه ترے نقل دى، د حُنين نه روستو

ئے ایمان راوړے۔

لَا دَاءَ : یعنی هیڅ عیب به نهٔ وی۔ یا داء نه مراد په سودا او ځاروی وغیره کښے باطنی مرض دے چه مشتری ته د هغے خبر نهٔ وی۔

وَلَا غَائِلَةَ : دا زنا، غلا، د غلام تښتیدو ته وائی۔ او په چل سره د چا مال اخستل او تښتول مراد دی۔ یعنی څه فساد او مصیبت به پرے نهٔ وی۔

وَلَا خُبْثَةَ : د خاء زیر، او پیش دواړه جائز دی، د باء سکون دے، د معاهدینو اولادو ته وائی، یا ذ هغه قوم اولاد چه د هغوی غلام جوړول حلال نهٔ وی۔ (لکه د اهل ذمه ؤ اولاد)

دارنګه خبثه ولد زنا ته وائی او هغه غلام چه په هغهٔ کښے شبهه وی پدے طریقه چه پلار ئے مسلمان وی بیا مرتد شوے وی او دا بچے ئے په حالت د ارتداد کښے پیدا شی، بیا مجاهدین دار حرب ته ننوزی او دا بچے ونیسی نو ددهٔ غلام کول جائز نهٔ دی په حالت د ارتداد د پلار ددهٔ کښے او خرڅول ئے هم صحیح نهٔ دی په اصح قولینو سره ځکه چه پدے کښے ددهٔ د اسلام شائبه شته۔ (مصابیح الجامع)

بعض وائی : داء په اندامونو کښے عیب دے او خبثة په اخلاقو کښے عیب دے، او غائله فجور (بدکاریٔ) ته وائی۔

بَیْعَ الْمُسْلِمِ : [اَیْ بَاعَهُ بَیْعَ الْمُسْلِمِ الْمُسْلِمَ] یعنی داسے طریقے سره ئے خرڅول وکړل لکه یو مسلمان چه په بل مسلمان خرڅول کوی۔

دا حدیث دلیل دے چه د هغه عیبونو سره یوه سودا خرڅول ناروا دی کوم چه پدے حدیث کښے ذکر شول۔ مګر هله به جائز وی چه د هغے عیب بیان کړی پدے شرط چه پردے مال به نهٔ وی۔

**درجة الحدیث** : [حسن] أخرجه الترمذی : ۱۲۱٦ . والبخاری تعلیقا : ۷٦/۳ . ابن ماجه : ۲۲۵۱، الدارقطنی : ۳۰۸۰.

## د نیلام په طریقه بیعه جائز ده

2873 (40) وَعَنْ أَنَسٍ ﷺ : أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَاعَ حِلْسًا وَقَدَحًا فَقَالَ :" مَنْ يَّشْتَرِیْ هٰذَا الْحِلْسَ وَالْقَدَحَ ؟ " فَقَالَ رَجُلٌ: آخُذُهُمَا بِدِرْهَمٍ . فَقَالَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :" **مَنْ يَّزِيْدُ عَلٰی دِرْهَمٍ** ؟ " فَأَعْطَاهُ رَجُلٌ دِرْهَمَيْنِ فَبَاعَهُمَا مِنْهُ . رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ

وَأَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه.

**ترجمه** : او د انس ﷺ نه روایت دے چه بیشکه رسول الله ﷺ یو ټاټ (بزکے) او یوه پیاله خرڅوله نو وے فرمایل : څوك به دا ټاټ او پیاله واخلی؟ نو یو سړی وویل : زۀ دواړه په یو درهم اخلم، نبی کریم ﷺ وفرمایل : څوك به ئے د یو نه روپئ نه په زیات واخلی؟ نو یو سړی ورته دوه درهمه ورکړل نو نبی کریم ﷺ هغه دواړه په هغۀ باندے خرڅ کړل۔ (ترمذیؒ، ابوداوْدؒ، ابن ماجهؒ)

**تشریح** : پدے حدیث کښے مشهوره قصه ده چه انس بن مالك ﷺ فرمائی : د انصارو نه یو سړے رسول الله ﷺ ته راغلو چه د هغۀ نه ئے سوال کولو، نبی ﷺ ورته وفرمایل : آیا ستا په کور کښے څه شے نشته ؟ عرض ئے وکړو : ولے نۀ، یو ټاټ دے چه بعض حصه ئے مونږه اغوندو او بعض په زمکه خوره وو، او یوه کاسه ده چه په هغے کښے اُوبه څکو، نبی ﷺ ورته وفرمایل : هغه دواړه ما له راوړه۔ (د راوړو نه پس) هغه دواړه رسول الله ﷺ په لاس کښے ونیول او وے فرمایل : دا دواړه به څوك واخلی ؟ یو سړی وویل : زۀ ئے په یوه روپئ اخلم، نبی ﷺ وفرمایل : د روپئ نه په زیات به ئے څوك واخلی ؟ دوه یا درے کرته ئے دا خبره وکړه نو یو سړی وویل : زۀ ئے په دوه درهم اخلم، نو نبی ﷺ دواړه هغۀ ته ورکړل او روپئ ئے ترے واخستے، او دواړه ئے انصاری ته ورکړے او دا ئے ورته وفرمایل : په یوه روپئ طعام واخله او خپل اهل ته ئے واچوه او په بله روپئ باندے تبرگے واخله او ما ته ئے راوړه۔ نو هغه لاړو او تبرگے ئے راوړو نو نبی ﷺ په هغے کښے په خپل لاس سره لرگے واچولو، بیا ئے ورته وفرمایل : لاړ شه او لرگی راوړه او زۀ تا پنځلس ورځے ونۀ وینم۔ سړے لاړو لرگی به ئے راوړل او خرڅول به ئے چه پدے کښے ئے لس درهمه حاصل کړل نو په بعضو باندے ئے جامه کپړه واخسته او په بعضو ئے طعام۔ نو رسول الله ﷺ وفرمایل : دا ستا دپاره ددے نه غوره ده چه د قیامت په ورځ باندے سوال راشی چه ستا په مخ کښے ئے زخمونه جوړ کړی وی۔ (بیا ئے وفرمایل) سوال صرف درے کسانو دپاره جائز دے، هغه فقیر چه هیڅ نۀ مومی، یا لوی گبراهټ والا تاوانی انسان۔ یا هغه شخص چه درد وړکونکے دیت پرے اوریدلے وی۔

دے حدیث کښے دا مسئله ده چه په یوه سودا باندے بولی لگول جائز دی چه ټول خریداران حاضر وی، یو تن وائی چه دا فلانئ سودا زۀ په سل روپئ اخلم، او مالك ورته

وائی چه نهٔ ئے خرخوم، دویمووائی چه زهٔ ئے په شل اخلم او مالك ووائی چه زهٔ ئے نهٔ خرخوم، دریم ووائی چه زهٔ ئے په دوه ویشت اخلم نو مالك ئے هغهٔ ته ورکړی۔ او دا ( لَا يَبِعْ أَحَدُكُمْ عَلٰى بَيْعِ أَخِيْهِ)، یعنی د ورور مسلمان په سودا باندے سودا کولو کښے نهٔ داخلیږی۔ بلکه دلته مالك اول تن ته ورنکړو، نو دویم تن رامخکښے شو، هغهٔ ته ئے هم ورنکړو نو دریم یا څلورم او دغسے پسے ورځه هغهٔ ته ئے ورکړو۔ البته که بائع اول سړی ته آؤ وکړو، نو بل سړی دپاره زیات ریټ وئیل به گناه وی۔ ځکه چه دا د مسلمان په سودا باندے سودا کول دی۔

**درجة الحديث** :[ضعيف] أخرجه ابوداود : ١٦٤٣، والترمذی : ١٢١٨، وابن ماجه :٢١٩٨، فيه عبد الله الحنفي كنيته ابوبكر البصری، وهو مجهول (قاله الحافظ ابن حجر).

## د عیبدار شی خرخونکی دپاره وعید

## اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

2874 (41) عَنْ وَاثِلَةَ بْنِ الْأَسْقَعِ ﷺ قَالَ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ :" **مَنْ بَاعَ عَيْبًا لَمْ يُنَبِّهْ لَمْ يَزَلْ فِيْ مَقْتِ اللهِ أَوْ لَمْ تَزَلِ الْمَلَائِكَةُ تَلْعَنُهُ** ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهُ.

**ترجمه** : واثله بن اسقع ﷺ فرمائی : ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل چه فرمایل ئے : چا چه یو عیبدار شے داسے خرڅ کړو چه په هغے عیب باندے خریدار خبر نکړی (نو) دے به د الله تعالیٰ په غصه کښے همیشه وی، یا ئے وفرمایل : ملائك به پرے همیشه لعنتونه وائی۔ (ابن ماجهٌ)

**تشریح** : عَيْبًا : د عیب نه مراد معیب (عیبژن شے) دے۔

لَمْ يُنَبِّهْ : یعنی خبردارے ئے ورنکړو مشتری ته، او هغهٔ ته ئے د سودا عیب بیان نکړو۔ دا روایت اګرکه ضعیف دے لیکن ددے معنیٰ تائید په حدیث د ابو هریره ﷺ کښے په فصل اول کښے ذکر شو (مَنْ غَشَّ فَلَيْسَ مِنِّيْ) چا چه دهوکه وکړه نو هغه زما نه نهٔ دے۔ او چه د نبی نه جدا شو نو ضرور به د الله تعالیٰ په غضب او د ملائکو په لعنت اخته کیږی۔

**درجة الحديث** :[ضعيف] أخرجه ابن ماجه : ٢٢٤٧ ـ الطبرانی الکبیر : ١٧٩٥ ـ وفی اسناده بقية بن الوليد وهو مدلس وشيخه ضعيف.

## ٦- باب - اى فى البيع المشروط

دلته په بعضو نسخو کښې عنوان نشته او په بعضو نسخو د مشکاة کښې داسې باب دے [بَابٌ فِي الْبَيْعِ الْمَشْرُوطِ] بيان د هغه بيع چه په هغې کښې شرط لګولے شوے وی۔ دا باب د روستو احاديثو نه اخستے شويدے چه په دے کښې غالباً د شرطونو بيان دے۔

په بيع کښې شرطونه درې قسمه دی (۱) يو هغه دی چه د عقد او تړون خلاف نۀ وی لکه د مبيعې حاضرولو شرط، يا د عيب نه د پاك والی شرط، يا د ګانړے اخستو شرط۔ يا مشتری د نيتے اخستو شرط ولګوی۔ نو دا شرطونه په اتفاق د فقهاؤ سره جائز دی ځکه چه ددے په باره کښې ګنړ احاديث راغلی دی۔

(۲) دويم قسم هغه شرطونه دی چه د بيع د عقد او تړون د تقاضا مخالف وی لکه بائع په مشتری باندے دا شرط ولګوی چه دا سودا به په بل چا نۀ خرڅوی، يا به ئے چا ته نۀ هبه کوی، يا دا غلام به نۀ آزادوی، يا په شرط لګولو کښې دهوکه وی لکه دا شرط کړی چه ددے حيوان حمل به زما وی، يا که غلام خرڅوی نو دا شرط ولګوی چه ددے ولاء (حق د آزدئ) به زما وی۔ لکه ددے بيان په حديث د بريره رضی الله عنها کښې روستو راغلے دے۔ نو دا شرطونه په اتفاق د علماؤ سره جائز نۀ دی ځکه چه په احاديثو کښې ددے نه منع راغلے ده۔

(۳) هغه شرطونه چه عقد ئے تقاضا نۀ کوی او نۀ د عقد څه مصلحت پکښے وی او نۀ د عقد سره منافی وی۔ البته پدے کښې د يو د متعاقدينو فائده وی لکه يو تن فصل واخلی او دا شرط ولګوی چه دا به بائع ريبی او شو کوی به ئے۔ يا طعام واخلی او په بائع باندے دا شرط ولګوی چه دا به ما سره کوره پورے وړی۔ يا غنم واخلی او په بائع باندے د هغې وړه کول شرط کړی، يا ګاړے يا اُوښ واخلی او څه مودے پورے په هغې باندے سورلی کول شرط لګوی۔ نو دا شرطونه اختلافی دی، بعض اهل علم ئے جائز ګنړی او بعض ناجائز۔ **راجح** دا ده چه هر هغه شرط چه د الله تعالیٰ کتاب او د هغۀ د شرعی حکم مخالف وی هغه باطل دے او کوم شرط چه د الله تعالیٰ د حکم مخالف نۀ وی هغه

لازم دے۔ حافظ ابن قیمؒ په خپل کتاب اعلام الموقعین (۳/۳۸٦) کښے ددے قاعدے دپاره ډیر دلائل ذکر کړیدی۔ چه اسلام د جائزو شرطونو ډیر لحاظ کړے، په حج او عمره کښے ئے ضباعه بنت الزبیر رضی الله عنها ته ووئیل چه شرط ولګوه۔ او په دعاګانو کښے ئے به ئے شرط لګولو لکه:

أَللّٰهُمَّ أَحْيِنِىْ إِذَا كَانَتِ الْحَيَاةُ خَيْرًا لِّىْ وَتَوَفَّنِىْ إِذَا كَانَتِ الْوَفَاةُ خَيْرًا لِّىْ]

او فرمائیلی ئے دی: [أَلْمُسْلِمُوْنَ عِنْدَ شُرُوْطِهِمْ، إِلَّا شَرْطًا أَحَلَّ حَرَامًا أَوْ حَرَّمَ حَلَالًا].

مسلمانان به په شرطونو پابند وی مګر هغه شرط چه حرام حلالوی یا حلال حراموی۔ او په شرط باندے التزام او پابندی داسے ده لکه په نذر باندے پابندی، صرف هغه به باطل وی چه د الله تعالیٰ د حکم خلاف وی۔ او جائز شرط په منزله د عقد او عهد دے۔ او کوم روایت کښے چه (وَلَا شَرْطَانِ فِىْ بَيْعٍ) راغلی دی چه په بیعه کښے دوه شرطونه ناروا دی۔ نو هغه خو یا په بیع العینه باندے حمل دے۔ یا داسے شرطونه مراد دی چه هغه د عقد مخالف وی۔

او کوم روایت کښے چه (سَلَفٌ وَبَيْعٌ) نه منع راغلے ده نو د هغے معنیٰ دا ده چه په یو عقد کښے بیع او قرض دواړه جمع کړی۔ لکه بائع مشتری ته ووائی: دا غلام درباندے په پنځوس دیناره خرخوم پدے شرط چه تهٔ به ما ته زر درهم قرض راکوے۔ یا برعکس۔ ددے نه نهی پدے وجه وشوه چه دا شخص هغهٔ ته قرض پدے وجه ورکوی چه هغهٔ سره په پیسو کښے ګوزاره وکړی۔ او بل دا چه یو تن سل روپئ ورته د یو کال پورے ورکوی بیا پرے د پنځوسو شے په سل خرڅوی نو دا بیعه ئے د قرض په وجه زیادت ته ورسوله، او که دا بیعه نهٔ وے نو دا قرض ئے نهٔ ورکولو۔ او که قرض په مینځ کښے نهٔ وے نو بیا ئے ترے دا سودا نهٔ اخستبه۔ (تهذیب السنن: ۹/۲۱٦).

## د میوه دارے ونے خرڅولو مسئله

## اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

2875 (1) عَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: مَنِ ابْتَاعَ نَخْلًا بَعْدَ أَنْ تُؤَبَّرَ، فَثَمَرَتُهَا لِلْبَائِعِ إِلَّا أَنْ يَّشْتَرِطَ الْمُبْتَاعُ، وَمَنِ ابْتَاعَ عَبْدًا وَلَهُ مَالٌ فَمَالُهُ لِلْبَائِعِ إِلَّا أَنْ يَّشْتَرِطَ

الْمُبْتَاعُ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَرَوَى الْبُخَارِيُّ الْمَعْنَى الْأَوَّلَ وَحْدَهُ.

**ترجمه** : ابن عمر ﷺ نه روايت دے چه نبي ﷺ وفرمايل : چا چه د قلمي كولو نه پس د كهجورے وُنے واخستے نو ددے ميوه به د خرڅونكي وي مګر كه اخستونكے (د ميوے) شرط ولګوي. او چا چه يو غلام واخستو چه د هغهٔ دپاره مال وي نو د هغهٔ مال به د خرڅونكي وي مګر كه اخستونكے ئے شرط ولګوي (بيا به ددهٔ وي) (مسلمؒ) او بخاريؒ اوله معنىٰ يواځے ذكر كړے.

**تشريح** : [نَخْلًا] د كهجورے بوټے. [تُؤَبَّرَ] أَبَّرَ يُؤَبِّرُ تَأْبِيْرًا ، اصلاح كولو، پيوند كاري كولو او قلمي كولو ته وائي، هغه داسے چه د كهجورو نه پوستكے لرے كړي او په دے كښے د نر كهجور پوستكے كيدي. نو د الله تعالىٰ په حكم سره بيا ميوه غټه او زياته پيدا كيږي. [إِلَّا أَنْ يَّشْتَرِطَ الْمُبْتَاعَ] مګر كه مشتري دا شرط ولګوي چه ميوه به زما وي او بائع د خپل حق نه تير شي او ددهٔ سره موافقت وكړي نو بيا به د مشتري وي. او د يشترط مفعول حذف دے يعني [إِلَّا اَنْ يَّشْتَرِطَ الْمُشْتَرِيُ الثَّمَرَةَ أَوْ بَعْضَهَا] يعني مګر كه مشتري د ټولے ميوے يا د بعض حصے شرط ولګوي چه دا به زما وي نو بيا به د مشتري وي.

**فوائد او مسائل** : (۱) حديث نه ثابته شوه چه څوك كهجورے قلمي كړي او پيوندكاري ئے وكړي او بيا ئے خرڅوي نو په دے كښے چه كومه ميوه لګيدلے، دا د خرڅونكي حق دے او دا په سودا كښے نهٔ داخليږي. او دا د حديث منطوق دے. يعني د ظاهري الفاظو نه همدا مطلب معلوميږي.

(۲) او معلومه شوه چه څوك د قلمي كولو او پيوند كارئ نه مخكښے د كهجورے وُنه خرڅه كړي نو دا د اخستونكي حق دے. (۳) دغه شان كه بائع په دے دويم صورت كښے ځان دپاره ددے سره ميوه هم شرط كړي او مشتري ئے ورسره اُومني نو بيا د بائع حق دے. (٤) دغه شان كه په اول صورت كښے مشتري د ځان دپاره ددے سره ميوه هم شرط كړي او بائع ئے ورسره اُومني نو دا د مشتري حق دے.

(۵) دارنګ كه بائع د باغ ځينے ميوے قلمي كړے وي او ځينے ئے نهٔ وي قلمي كړے او دا وُنے خرڅے كړي او د يو طرف نه هم څهٔ شرط نهٔ وي لګيدلے، نو د قلمي كړے وُنے ميوه به د بائع رسيږي او نا قلمي به د مشتري حق وي.

(٦) دارنګه که یوه وُنه وی چه د هغې ځینې برخه ئې قلمی کړې وی او ځینې ئې نهٔ وی قلمی کړې نو په دې صورت کښې به هم دا د بائع حق وی او نا قلمی برخه به د قلمی برخې تابع وی. (۷) که بائع یا مشتری د عقد په وخت د بوټی توله میوه د ځان دپاره شرط کوی او که بعضې میوه، په دواړو صورتونو کښې دا شرط لګول جائز دی، او دا په [إِلَّا أَنْ يَّشْتَرِطَ الْمُبْتَاعُ] کښې د [يَشْتَرِطَ] د مفعول [كُلَّ الثَّمَرَةِ أَوْ بَعْضَهَا] حذف کولو نه معلومیږی. (۸) ددې څهٔ وجه ده چه د سکوت په وخت د قلمی کړې وُنې میوه د بائع رسیږی ؟ نو په دې کښې **حکمت** دادې چه بائع په دې وُنه پاندې خواری او محنت کړې او کیدې شی چه په دې باندې ئې خرچه کړې وی او مزدوران ئې ورله نیولی وی او د هغوئ په ذریعه ئې په کښې قلم لګولې وی، دې وجې نه په دې کهجورو پورې د هغهٔ زړهٔ متعلق دې او شریعت ددې تعلق احترام کوی نو ځکه که دا وُنه دې په چا خرڅوی نو میوه به ئې ددهٔ وی، تر څو پورې چه مشتری د ځان دپاره شرط کړی نهٔ وی.

[فتح ذی الجلال والاکرام لابن عثیمین ٤/٧١] .

**سوال** : که بائع دا وُنه په داسې حال کښې خرڅوی چه په دې کښې میوه صلاحیت ته رسیدلې نو دا سودا خو صحیح ده، مګر که صلاحیت ته نهٔ وی رسیدلې (میوه په کښې لا پخلی ته نزدې شوې نهٔ وی بلکه کچه وی) نو ددې خرڅول خو جائز نهٔ دی، نو دلته څنګه مطلقًا ویل شوی چه ددې میوه به دَ بائع دپاره وی مګر که مشتری ئې د ځان دپاره شرط کړی؟ **جواب** : که ددې وُنې میوه کچه وه نو هم ئې خرڅول جائز دی ځکه دا میوه د وُنې تابع ده، او وُنه خرڅول جائز دی نو ددې په اړخ کښې میوه خرڅول هم جائز شو. ځکه چه دا قاعده ده چه [يَثْبُتُ تَبَعًا مَا لَا يَثْبُتُ اسْتِقْلَالًا] یا داسې ووایه : [يُغْتَفَرُ فِي التَّوَابِعِ مَا لَا يُغْتَفَرُ فِي الْأُصُولِ] یعنی تبعًا یو شے ثابتیدې شی خو مستقلًا نشی ثابتیدې.

[فتح ذی الجلال ٤/٧٢، والکوکب الوهاج شرح مسلم بن الحجاج : ۳/١٢٣]

(۹) میوه چه په کومو صورتونو کښې (د تابیر یا د اشتراط په وجه) د بائع حق جوړ شی نو د بائع دا حق جوړیږی چه دا میوه به په دغه بوټی کښې د پخیدو او بیا د پریکولو پورې باقی وی. او بائع دپاره به جائز وی چه دغه وُنې ته د مشتری په زمکه باندې ځان رسوی او د هغې نه میوه راشوکوی.

(۱۰) او د [إِلَّا أَنْ يَّشْتَرِطَ الْمُبْتَاعُ] نه ښکاره معلومه شوه چه په سودا کښې شرط لګول

جائز دي۔ او نبي کريم ﷺ فرمائي: [اَلْمُسْلِمُوْنَ عَلٰى شُرُوْطِهِمْ] (مسلمانان به د خپلو شرطونو سره ولاړ وي) [حسن: صحيح ابن حبان: ۱۱۹۹، أبوداود: ۳۵۹٤]

**اختلاف** : (۱) جمهورو علماؤ، مالكؒ، شافعيؒ، احمدؒ وغيره په نيز: د قلمي شوي ونې ميوه به د بائع وي۔ او دليل ئې پورتنے حديث دے چه په دے كښې تابير يو وصف دے او ددے وصف په وجه بائع ددے ميوے مستحق گرځيدلے، نو ددے نه معلومه شوه چه كه دا وصف نهٔ وي نو بيا به بائع ددے حقدار نهٔ وي۔ يعنى پدے كښې دليل الخطاب نه استدلال شوے۔

(۲) د احنافو په نيز: د تابير نه مخكښې او روستو دواړو صورتونو كښې ميوه د بائع حق دے۔ او دوئ د تابير (قلمي كولو) دا وصف لغوه گرځوي۔ يعنى دليل الخطاب له اعتبار نهٔ وركوي۔ **راجح** او د حديث مطابق قول په دے كښې د جمهورو دے، ځكه ددے تابير په وصف باندے تصريح راغلے نو كه دا د حكم دپاره علت نشي نو په دے سره په دے وصف كښې څهٔ فائده نهٔ راوځي۔ او د احنافو مذهب ددے صحيح صريح حديث مخالف دے۔ [المفهم لما اشكل من تلخيص كتاب مسلم : ٤٢/١٤ وفتح ذى الجلال]۔

## مشروط بيعه جائز ده

2876 ( 2 ) – وَعَنْ جَابِرٍ ﷺ : أَنَّـهُ كَانَ يَسِيرُ عَلٰى جَمَلٍ لَهُ قَدْ أَعْيٰى فَمَرَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهٖ فَضَرَبَهُ فَسَارَ سَيْرًا لَيْسَ يَسِيرُ مِثْلَهُ ثُمَّ قَالَ : " **بِعْنِيهِ بِوَقِيَّةٍ** "قَالَ : فَبِعْتُهُ فَاسْتَثْنَيْتُ حُمْلَانَهُ إِلٰى أَهْلِيْ فَلَمَّا قَدِمْتُ الْمَدِيْنَةَ أَتَيْتُهُ بِالْجَمَلِ وَنَقَدَنِيْ ثَمَنَهُ وَفِيْ رِوَايَةٍ فَأَعْطَانِيْ ثَمَنَهُ وَرَدَّهُ عَلَيَّ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِيْ رِوَايَةٍ لِلْبُخَارِيِّ أَنَّهُ قَالَ لِبِلَالٍ : " **اِقْضِهٖ وَزِدْهُ** " فَأَعْطَاهُ وَزَادَهُ قِيْرَاطًا.

**ترجمه** : جابر ﷺ نه روايت دے چه هغهٔ په خپل يو اُوښ سفر كولو چه هغه ستړے شوے وو، نو نبي ﷺ په هغهٔ باندے ورتير شو، نو هغه ئې ووهلو، نو داسے تيز مزل سره روان شو چه ددے په شان مزل هغهٔ هيڅكله مخكښې نهٔ وو كړے۔ بيا نبي ﷺ وفرمايل : دا اوښ په ما په يوه اوقيه (څلويښتو روپو) راخرڅ كړه۔ هغه وائي : ما پرے ورخرڅ كړو خو خپل كوره پورے ددے اُوښ سورلي مے ځان دپاره شرط وگرځوله۔ نو هركله چه زهٔ مدينے ته راغلم نو ما ورته اُوښ راوستو، او هغهٔ ما ته د هغے نقد قيمت راكړو۔ او په يو

بـل روايت كښې دي: هغهٔ ما ته د هغې اُوښ قيمت راكړو او هغه اُوښ ئې هم ما ته واپس كړو. (بخاريؒ و مسلمؒ) او په روايت د بخاريؒ كښې دي: نبي ﷺ بلال رضی الله عنه ته وفرمايل: دهٔ ته قيمت ادا كړه او زيات ورکړه. نو هغهٔ ورته قيمت وركړو او يو قيراط ئې زيات وركړو.

**تشريح**: [يَسِيرُ عَلٰى جَمَلٍ لَهُ] دا د غزوه ذات الرقاع واقعه وه. [أَعْيَا] إِعْيَاء ستړي كيدو ته وائي، يعني تپ او كمزورے شو، په ډير مشكله سره روان وو.

په روايت د مسلم كښې ورسره دي: [فَأَرَادَ اَنْ يُّسَيِّبَهٗ] يعني د هغهٔ اراده وه چه دا همداسے په لاره كښې پريدي او ترے روان شي. تسييب آزاد پريښودو ته وائي چه چرته ئې خوښه وي هلته ځي. او ددے نه مراد سائبه جوړول نهٔ دي كوم چه د جاهليت والو عادت وو چه حيوان به ئې دغسے پريښودهٔ هيڅوك به پرے نهٔ سوريدهٔ.

فَمَرَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهٖ: په بل روايت كښې دي [فَلَحِقَنِي النَّبِيُّ ﷺ] ما پسے رسول الله ﷺ راورسيدو. ځكه چه رسول الله ﷺ به د لښكر په روستنئ حصه كښې روان وو، دے دپاره چه كمزورو سره مدد وكړي او هغوئ راتيز كړي.

فَضَرَبَهٗ: په بل روايت د مسلم كښې دي: [فَدَعَا لِيْ وَضَرَبَهٗ] ما دپاره ئې دعا وكړه او اُوښ ئې ووهلو. دے نه معلوميږي چه دعا جابر رضی الله عنه ته شوے. او يو بل روايت كښې دي: [فَضَرَبَهٗ بِرِجْلِهٖ وَدَعَا لَهٗ] دے نه معلوميږي چه دعا اُوښ ته شوے، ددے تطبيق دادے چه نبي ﷺ جابر رضی الله عنه او د هغهٔ اُوښ دواړو ته دعا كړے. [بِعْنِيهِ] دا د رسول الله ﷺ د طرف نه امر نهٔ دے بلكه ديته عرض (درخواست/ ركوسټ او پيش نهاد) وائي. او ددے معنىٰ دا وي چه آيا تهٔ په ما دا راخرخوے؟ ولے كه دا چرے امر وے نو په جابر رضی الله عنه به ددے پوره كول واجب وے. لكه تهٔ چاته وائے چه دا شے راباندے راخرڅ كړه، نو دا امر په معنىٰ د عرض سره دے. او دا قِسم امر، د بلاغت ډيرو كمو علماؤ ذكر كړے. (ابن عثيمينؒ)

[وَقِيَّة] په [أُوقِيَّةٍ] كښې يو لغت دے او مشهور اُوقية دے، جمع ئې أواق ده، څلويښتو درهمو ته وائي.

فَبِعْتُهٗ: په بل روايت كښې دي چه [ قُلْتُ: لَا] يعني اول كښې جابر رضی الله عنه د نهٔ خرڅولو اراده وكړه ليكن هركله چه رسول الله ﷺ ورته دوباره ووئيل چه ما باندے ئې خرڅ كړه نو د هغهٔ د درخواست احترام ئې وكړو. لكه يو بل روايت كښې دي: [بَلْ هُوَ لَكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ] يعني خرڅومه ئې درباندے نهٔ بلكه هسے ئې واخله يارسول الله!.

د احمدؒ په روايت کښې دي : [بَلْ أَهِبُهُ لَكَ] (تاته ئې بخشش کوومه).

[حُمْلَانَهُ] د حاء په پيښ سره، اَیْ حَمْلَهٗ اِيَّایَ اِلَی الْمَدِيْنَةِ (مدينې پورې ددې سورلی ما مستثنیٰ کړه او دا مې شرط وګرځوله)

[فَلَمَّا قَدِمْتُ الْمَدِيْنَةَ] کله چه زهٔ په دې اُوښ مدينې ته ورسيدم. [نَقَدَنِیْ ثَمَنَهٗ] ماته ئې ددې نقدې پيسې راکړې. بل روايت کښې دي چه بلال ته ئې ددې د ورکولو حکم وکړو، خو د وکيل عمل د مُوکل عمل حسابيږي. بل روايت کښې دي : جابر ﷺ وائی : ماته ئې اوقيه او د اُوقيه نه زياتی يو قيراط راکړو. په يو بل روايت کښې دي :

[أَتُرَانِیْ مَاكَسْتُكَ لِاٰخُذَ جَمَلَكَ ؟] [أَتُرَانِیْ] اَیْ أَتَظُنُّنِیْ: آيا تهٔ په ما دا ګمان کوې.

[مَاكَسْتُكَ] چه ما تا سره ددې د قيمت کمولو کوشش کړې. مماکسه د مکس نه دې کمولو ته وائی، چه خرڅونکې وائی په سل ئې خرڅوم او اخستونکې وائی : په نوی يا اتيا ئې راکړه، ريټ کمولو ته مماکسه وائی.

**فوائد او مسائل** : (۱) حديث نه ثابته شوه چه د سودا پوره کيدو نه مخکښې په ريټ کښې خبرې اترې کول جائز دي، دې دپاره چه يوې نتيجې ته ورسيږی.

(۲) او ثابته شوه چه په سودا کښې شرط لګول جائز دي، هغه داسې چه څوك د چا نه اُوښ وغيره اخلی او هغهٔ ته ووائی چه دا دربانديې درخرڅوم ليکن کوره پورې به ما رسوی. يا دربانديې دا کور خرڅوم ليکن يو مياشت پورې به په کښې وسيږم، يا درنه دا کپړې اخلم نو راله ګنډې به ئې. دا ټول شرطونه لګول جائز دي. څکه جابر ﷺ په دې اُوښ کښې دا شرط لګولې. او دا د امام احمدؒ نه يو روايت دې، شيخ الاسلام ابن تيميهؒ، علامه ابن قيمؒ او شيخ عبد الرحمن سعديؒ ديته ترجيح ورکړې.

○ د جمهورو علماؤ په نيز سودا کښې شرط لګول جائز نهٔ دي، بلکه دې سره عقد باطليږی، او دا د ابوحنيفهؒ او شافعیؒ قول دې. البته مالكؒ نزدې څائې پورې د حيوان د سورلئ شرط کول جائز ګرځولی. ددې حديث د وجې. د جمهورو دليل حديث د جابر ﷺ دې کوم چه مخکښې ذکر شوې : [أَنَّ النَّبِیَّ ﷺ نَهٰی عَنِ الثُّنْيَا] (نبی ﷺ په سودا کښې د استثناء نه منع فرمايلې) [مسلم: ۱۵۳٦] او استثناء شرط ته وائی چه يو انسان يو شې خرڅ کړی او د هغې بعضې برخه مستثنیٰ کړی.

ليکن اول قول **صحيح** دې، څکه يو خو ددې دليل حديث الباب دې. دويم : د عمرو بن

عوف المزني ﷺ حدیث دے کوم چه روستو راروان دے : [اَلْمُسْلِمُوْنَ عَلٰی شُرُوْطِهِمْ، اِلَّا شَرْطًا حَرَّمَ حَلَالًا اَوْ اَحَلَّ حَرَامًا] (مسلمانان به په خپلو شرطونو ولاړ وی، البته داسے شرط چه حلال حرام او حرام حلال وګرځوی)

او هرچه د جابر ﷺ حدیث دے نو هغه پوره داسے دے : [نَهٰی عَنِ الثُّنْیَا اِلَّا اَنْ تُعْلَمَ] یعنی هغه شرط او استثناء جائز ده چه هغه معلومه وی۔ مجهول شرط جائز نۀ دے، معلوم شرط لګول جائز دی، نو دا د شرط د مجوزینو دلیل دے نۀ د مانعینو۔ او په کوم حدیث کښے چه راغلی : [نَهٰی عَنْ بَیْعٍ وَشَرْطٍ] نو ددے مدار په ابن زاذان دے او دا سخت ضعیف راوی دے، نو دا روایت ضعیف جدًا دے۔[الضعیفة : ٤٩١] دغه شان د : [وَلَا شَرْطَانِ فِیْ بَیْعٍ] حدیث نه مراد هم هغه شرطونه دی چه په هغے کښے د بائع یا مشتری مصلحت او فائده نۀ وی۔ بلکه بیع العینه وغیره په کښے وی، هغه داسے چه بائع ووائی : زۀ په تا دا سودا د شپږو میاشتو پورے په لس زره روپۍ درخرڅوم، او بیا ئے ترے په نقدو په اووۀ زره واخلی۔ چه په دے کښے عام طور سره په عرف کښے شرط لګولے شی۔ یا هغه حدیث په کشتونو والا بیع باندے جمل دے کما تقدم۔

**خلاصه** دا چه : په سودا کښے داسے شرط لګول چه په هغے کښے د بائع یا مشتری فائده وی، جائز دی، بیا که یو شرط وی اوکه زیات۔ ددے نه هیڅ مانع نشته، او نۀ په دے کښے سود، ظلم، دهوکه یا ضرر شته، نو دا بیا ولے ناجائز شی؟ بلکه شیخ الاسلام ابن قیمؒ د کتاب او سُنت په حواله ددے د جواز ګڼړ مثالونه ذکر کړی، برابره خبره ده که دا شرطونه په نکاحونو کښے وی اوکه په بیوعو، اجارو او نورو معاملاتو کښے وی۔ [اعلام الموقعین : ٣/٣٨٦] نو که داسے ووائی چه ما درباندے دا کور خرڅ کړو خو پدے شرط چه زۀ به پکښے یو میاشت اُوسیږم نو دا جائز ده، البته که داسے ووائی چه ما درباندے دا کور خرڅ کړو خو پدے شرط چه تۀ به ما له خپل کور د یو میاشت د اُوسیدو دپاره راکوے۔ دا جائز نۀ ده۔ وجه د فرق د دواړو دا ده چه په اول صورت کښے استبقاء د منفعت دے، یعنی فائده باقی پریخودل دی او په دویم کښے تجدید د منفعت دے، یعنی نوے فائده اخستل دی۔ او دا په یوه بیعه کښے دوه بیعے کول دی، کوم نه چه نهی راغلے ده۔ مګر نور علماء وائی چه دا شرط هم جائز دے، او ددے نه هیڅ منع نۀ ده راغلے او پدے کښے هیڅ محظور او ممانعت نشته ځکه چه دا یو عقد دے چه بیع هم پکښے راغله او اجاره هم او

دے نه شريعت منع نۀ ده کړے۔ او ددے مثال داسے دے لکه چه يو تن ووائی : ما په تا باندے دا کور خرڅ کړو پدے شرط چه تۀ به په ما باندے په دومره قيمت خپل کور خرڅوے۔ نو پدے کښے هم هيڅ ممانعت نشته۔ او همدا قول **راجح** دے۔

البته په نکاح کښے شغار کول (شرط ترل چه زۀ درله خور لور پدے شرط درکوم چه تۀ به راله خور لور راکوے) ددے نه منع راغلے وجه دا ده چه په هغے کښے د دريمګړی حق ضائع کيږی چه هغه زنانه ده، او دلته په بيعه کښے داسے صورت نشته۔

البته که پدے شرط سره يو شرعی محظور راتللو نو بيا به منع وی لکه داسے ووائی : زۀ تا ته زر روپۍ قرض درکوم پدے شرط چه زۀ به ستا په کور کښے يو ه مياشت اُوسيږم؟ دا جائز نۀ ده۔ ځکه چه دا قرض دے چه فائده ئے راڅکله او دا ناروا ده۔ او دا قرض د خپل ځائے نه اُووتو۔ ځکه چه اصل په قرض کښے دا ده چه پدے کښے احسان کول مقصد وی او دلته پرے عوض طلب کړے شو۔ **حاصل** دا چه منفعت د خپلے مبيعے جائز دے او د بل شی منفعت شرط کولو کښے اختلاف دے او راجح جواز دے۔ (ابن عثيمينؒ) نکاح کښے د بدل شرط او قرض کښے شرط جائز نشو باقی عام شروط جائز دی۔

(٣) او حديث نه معلومه شوه چه قائد او امير له افضله داده چه د لښکر او قافلے نه روستو روستو روان وی، دے دپاره چه د کمزورو مدد وکړی او هغوئ ته ايساريږی۔

(٤) او ددے نه د نبی کريم ﷺ سخاوت، رحمت او شفقت معلوم شو چه جابر ؓ ته ئے اوښ او د هغے قيمت دواړه واپس کړل۔ او د هغۀ اوښ ته ئے دعا وکړه۔ او ددے دعا په برکت سره هغه اوښ د ټولو نه مخکښے روان وو۔ جابر ؓ وائی: اول دے اُوښ مزل نشو کولے او کله چه نبی کريم ﷺ دَم کړو او په يو څو ګذاره ئے وواهۀ نو د ټولو اوښانو نه وړاندے روان وو، تردے چه بيا به ما د نبی کريم ﷺ د خبرے آوريدو دپاره د هغۀ واګے رانيولے۔ نو دا د نبی کريم ﷺ ښکاره معجزه وه۔

او دا هم يوه سنت طريقه ده چه يو تن سره يو ريټ وکړے بيا په وخت د ورکولو د مال کښے زيات ورکړے او پدے باندے د مسلمان زړۀ ډير خوشحاليږی۔ لکه رکشی والا سره په اتيا روپۍ خبره وشی بيا د کوزيدو په وخت کښے ورته سل روپۍ ورکړے نو پدے کښے د مسلمان زړۀ ته خوشحالی رسيږی۔ دارنګه د رسول الله ﷺ د صدقے کولو مختلف طريقے وے، کله به ئے همداسے چا ته مال ورکړو او کله به ئے ترے يو شے واخستو، او

پيسے به ئے ورکړے بيا به ئے ورته هغه شے هم ورواپس کړو نو دا به دوه صدقے شوے، او پدے سره د مسلمان زړۀ ډير زيات خوشحاليږي. مګر ددے سنت طريقو ډير کم مسلمانان لحاظ ساتي. جَعَلَنَا اللّٰهُ مِنْ اَهْلِهَا.

(٥) که اُوښ يو چا ته مانده شي نو ددے په پريخودو کښے خو د هغۀ ضائع کول راځي، او د هغۀ د خوراك بندوبست نه ځان ويستل دي. نو څه به کوي ؟ نو دے کښے خبره دا ده چه که اُوښ پريخودے شي نو کوم مسلمان به پرے راپيښ شي هغه به ئے ونيسي او ځانله به ئے ذبح کړي. البته که يو ځائے کښے خر مانده شي او سخت بيمار شي چه انسان پرے سورلي نشي کولے او که په دغه ځائے کښے ئے پريدي نو هغۀ ته به سخت تکليف وي نو ددے وجه نه د هغۀ ذبح کول بهتر ښکاره کيږي ځکه چه يو خو به د هغۀ د نفقے او ضرر نه بچ شي او بل به هغۀ ته د تکليف نه راحت ملاؤ شي. او کوم حديث کښے چه د اُوښ د لُقطے نه منع راغلے ده نو د هغے نه مراد هغه اُوښ دے چه چا نه ورك شوے وي، د هغے راخستل نشته، او که چا پريخودے وي او مالك د هغے نه اعراض کړے وي نو د هغے رانيول او د هغے نه د خوراك وغيره فائده اخستل جائز دي.

داسے حکم د هر هغه شي دے چه مالك ئے د اعراض په طريقه پريخودے وي، د هغۀ ورته ضرورت نۀ وي لکه يو ګاړے وجنګيږي او بيخي هيڅ ئے د کار نۀ وي نو عرفاً مالك د هغے د وړلو اراده نۀ لري او که معمولي شان جنګيدلے وي نو مالك ئے د وړلو اراده لري بيا به د هغے نه ځان ساتلے شي. (قاله ابن عثيمينؒ) ليکن دا خبره په سعوديؔ عرب او د هغوي په شان مالداره ملکونو کښے ده او هرچه زمونږ پاکستان دے نو دلته خو کباړ هم خرخيږي، دا به هم مال حسابيږي، بے اجازته اخستل ئے حرام دي.

(٦) يو تن ته مخامخ دعا او غائبانه دعا دواړه جائز ده ليکن غائبانه دعاء ډيره غوره ده، ځکه چه په حالت د غياب کښے دعاء کښے په غائب باندے منت او زباتنه نۀ وي. او په حالت د غياب کښے دعاء کولو کښے بله فائده دا ده چه ملائك مقرر وي هغۀ تا دپاره هم د هغے په شان دعاء غواړي.

(٧) د حيوان وهل جائز دي خو پدے شرط چه معمولي شان وي چه هډوکے مات نکړي او زخمي ئے نکړي لکه عوام خلك ډانګے راواخلي يا چوکه حيوان ته ونيسي دا ظلم دے.

(۸) د چا نه بار بار د یو شی د خرڅولو مطالبه کول مکروه نهٔ دی، دا په مکروه الحاح کښې نهٔ داخلیږی ځکه چه مفت ئے نهٔ غواړی بلکه عوض ورکوی۔

(۹) - په قرضو باندې سودا اخستل د هغه چا دپاره جائز دی چه د هغهٔ نه ادا کولو امید وی، او که یو انسان پردی مالونه په قرضو اخلی او بیا ئے د ادا کولو درك نهٔ وی نو دا اسراف او ظلم دے۔ دلته رسول الله ﷺ په قرضو سره د جابر ﷺ اوښ واخستو، او نبی ﷺ فی الحال پیسے ورنکړے بلکه مدینے ته د رسیدو نه روستو ئے ورکړے۔ نو دیته بیع العین بالدین وائی۔ یعنی یو جنس خرڅ شو په قرض سره۔او بیع الدین بالدین هم جائز ده خو چه کله دواړو کښے تاجیل نهٔ وی۔ بلکه جنس نقد وی او مال روستو ورکوی نو جائز ده۔ که جنس هم روستو ورکوی او مال هم په نیته نو دا بیا جائز نهٔ ده۔ (ابن عثیمینؒ) ځکه چه دا بیع الکالی بالکالی جوړیږی۔

(۱۰) دا حدیث دلیل دے چه په بیعه کښے ایجاب او قبول ضروری نهٔ دے بلکه په عرف کښے چه په کوم شی سره رضا ښکاره کیده هغے سره به بیعه صحیح کیږی لکه دلته نبی ﷺ دا ونهٔ وئیل چه ما در وبخښلو او جابر ﷺ ونهٔ وئیل چه ما قبول کړو۔

لنډه دا چه دا حدیث امام بخاریؒ په خپل صحیح کښے تقریباً شل ځایه ذکر کړے، چه ددے نه بے شماره فقهی مسائل ثابتیږی۔

## د ولاء حق به آزادونکی ته حاصل وی

2877 (3) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنهَا قَالَتْ : جَاءَتْ بَرِيْرَةُ، فَقَالَتْ : اِنِّيْ كَاتَبْتُ عَلٰى تِسْعِ أَوَاقٍ، فِيْ كُلِّ عَامٍ أُوْقِيَّةٌ، فَأَعِيْنِيْنِيْ. فَقَالَتْ : إِنْ أَحَبَّ أَهْلُكِ أَنْ أَعُدَّهَا لَهُمْ عَدَّةً وَاحِدَةً وَأُعْتِقَكِ فَعَلْتُ وَيَكُوْنَ وَلَاؤُكِ لِيْ فَذَهَبَتْ إِلٰى أَهْلِهَا فَأَبَوْا إِلَّا أَنْ يَّكُوْنَ الْوَلَاءُ لَهُمْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " **خُذِيْهَا وَأَعْتِقِيْهَا** " ثُمَّ قَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي النَّاسِ فَحَمِدَ اللّٰهَ وَأَثْنٰى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ : " **أَمَّا بَعْدُ، فَمَابَالُ رِجَالٍ يَشْتَرِطُوْنَ شُرُوْطًا لَيْسَتْ فِيْ كِتَابِ اللّٰهِ ؟ مَا كَانَ مِنْ شَرْطٍ لَيْسَ فِيْ كِتَابِ اللّٰهِ فَهُوَ بَاطِلٌ، وَإِنْ كَانَ مِائَةَ شَرْطٍ، فَقَضَاءُ اللّٰهِ أَحَقُّ، وَشَرْطُ اللّٰهِ أَوْثَقُ، وَإِنَّمَا الْوَلَاءُ لِمَنْ أَعْتَقَ** " . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

**ترجمه :** عائشه ﷺ نه روایت دے چه ماته بریره (وینځه) راغله، وے وئیل : ما د خپل

مالکانو سره په نهه اوقیو سپینو زرو باندې مکاتبت کړې، هر کال به یوه اوقیه ادا کول وي، نو ته ما سره لاس واړوه. نو ما ورېل: که چرې ستا مالکان دا خوښه ګڼړي چه زۀ دا ټول رقم دوئ له تیار په یو ځل ورکړم او ستا ولاء (حق د آزادئ) زما شي نو زۀ دا کار کووم. بریره خپلو مالکانو ته لاړه (او ورته ئې دا خبره وکړه). نو هغوئ ورته انکار وکړو. مګر چه د ولاء حق به د هغوی وي. نو رسول الله ﷺ (عائشې ﵂) ته وفرمایل: ته دا واخله او آزاده ئې کړه. بیا رسول الله ﷺ په خلکو کښې ودریدۀ او د الله حمد او ثناء ئې ووئیله او دې نه پس ئې وفرمایل: اما بعد: څۀ وجه ده خلکو لره چه داسې شرطونه لګوي چه هغه د الله تعالی په کتاب کښې نشته؟ (یاد لرئ) کوم شرط چه د الله په کتاب کښې نۀ وي هغه باطل دې اګرکه سل شرطونه هم وي، د الله فیصله د هر چانه زیاته لائقه ده او د الله شرط د هر چانه زیات پوخ دې، او وَلاء خو صرف د هغه چا حق دې چاچه آزادول کړي وي. (بخاريؒ، مسلمؒ)

**تشریح:** [بَرِيْرَةُ] دا د انصارو د یو خاندان وینځه وه. عائشې ﵂ واخسته او آزاده ئې کړه، او د اخستو نه مخکښې به دا راتله او د هغې خدمت به ئې کولو. او دا د مُغیث نومې غلام ښځه وه چه دا د ابو احمد بن جحش الاسدی ﵁ غلام وو. بریره چه کله آزاده شوه نو نبی ﷺ هغې ته اختیار ورکړو چه خپل غلام خاوند سره پاتې کیږي اوکه نه؟ نو هغې د هغۀ نه فراق غوره کړو، لکه دا به روستو په [کتاب النکاح] کښې راشي. بریره د معاویه ﵁ دورِ حکومته پورې ژوندئ وه. [کَاتَبْتُ] مکاتبت وېل کیږي: د غلام خپل ځان د خپل مالك او آقا نه اخستل، هغه داسې چه د غلام او د آقا ترمینځه دا معاهده وشي چه غلام به یو خاص رقم هغۀ ته قسط وار ورکوي او ددې د ادا کولو نه پس به غلام آزاد وي. یا مالك خپل غلام ته ووائي: مثلًا لس زره روپئ راکړه او ته به آزاد ئې. او دا قسط وار ځکه وي چه په دې وخت کښې غلام د هیڅ شي مالك نۀ وي. البته که څوك ئې ددۀ له خوا په یو ځل مالك ته ورکړي نو هم صحیح ده.

په بل روایت کښې [کَاتَبْتُ اَهْلِيْ] الفاظ دي. [اَهْلِيْ] ددې اهل نه مراد رشته دار نۀ دي بلکه ددې بالداران او هغه څوك دي چه دا ورسره وسیږي، ځکه د انسان اهل هغه څوك دي چه هغوئ ته دې پناه حاصلوي او ورته راګرځي. او چونکه دا د وینځې اهل دي نو د اهل نه ستر او پرده هم نشته، دا وجه ده، د غلام مخامخ مالکه او بالداره مخ او لاسونه

ښکاره کولے شي ځکه چه په دے کښے ضرورت دے۔

[تِسْعِ أَوَاقٍ] نهه اوقيه، مخکښے تير شو چه يوه اوقيه څلويښت درهمه وی، نو دا ټول (۳٦۰) درهمه شول۔ [أَعِيْنِيْنِيْ] د اعانة نه دے مدد کولو ته وائي۔ بل روايت کښے [فَأَعْيَتْنِيْ] د اعياء نه دے، يعني زۀ ئے عاجزه کړے يم۔

[أَنْ أَعُدَّهَا لَهُمْ] أَيْ أَدْفَعَهَا لَهُمْ مَعْدُوْدَةً دَفْعَةً وَاحِدَةً (چه زۀ به دا هغوئ ته په يو ځل وروشمارم۔ لکه عدة واحدة ئے تشريح ده۔

[وَلَاؤُكِ لِيْ] ستا د آزادولو ولاء به زما وی۔ ولاء مطلب دا چه څوك يو غلام آزاد کړی او بيا هغه مړ شي او د هغۀ څوك عصبه (د ذوی الفروضو نه پاتے مال وړونکی) نۀ وی نو دغه مال ئے د آزادونکی رسيږی او ديته ولاء العتاقة وائي يعني د آزادولو په سبب د آزاد کړی ميراث وړل۔ ولاء خپله معنیٰ ده غلبه او نصرت۔ او خپلولئ ته هم وائي، او دا د هغه احسان بدله ده چه آقا په غلام کړے۔

[رِجَالٍ] بل روايت کښے [أَقْوَامٍ] لفظ دے۔ [فِيْ كِتَابِ اللّٰهِ] د كتاب الله نه مراد شريعت او فيصله ده چه هغه په قرآن کښے وی او که په سنت کښے، ځکه د صحيح شرطونو لويه برخه په سُنت کښے ذکر ده۔ [بَاطِلٌ] په لغت کښے لغوه، بيکاره او غير معتبر ته وائي، او اصطلاحًا: هغه شے چه په هغې باندے آثار نۀ مرتب کيږی، عبادت وی که عقد۔

[قَضَاءُ اللّٰهِ أَحَقُّ] د الله شرع او حکم زيات لائق دی چه ددے پيروی وکړے شي په نسبت د نورو مخالفو شرطونو۔ [وَشَرْطُ اللّٰهِ أَوْثَقُ] د الله تعالیٰ شرط ډير قوی او مضبوط دے۔ او ظاهره داده چه اسم تفضيل په دواړو ځايونو کښے په معنیٰ د نفس فعل سره دے۔ أَيْ قَضَاءُ اللّٰهِ هُوَ الْحَقُّ وَشَرْطُهُ هُوَ الْقَوِيُّ۔

[مِائَةَ شَرْطٍ] شرط نه مراد مصدر يعني اشتراط دے، يعني اګرکه سل ځله بار بار شرط ولګوی۔ [وَإِنَّمَا الْوَلَاءُ لِمَنْ أَعْتَقَ] د آزاد کړی غلام ميراث به صرف هغه چاته رسي چاچه دا آزاد کړے وی۔ نۀ هغه چاته چاچه دا خرڅ کړے وی۔

د حديث **مطلب** دا دے چه: بريرے ﷺ ته خپلو مالکانو ويلي وو چه تۀ نهه اوقيه راوړه چه هر کال يوه اوقيه راکوے نو تۀ به ددے په مقابله کښے آزاده شے، هغه راغله او عائشے ﷺ نه ئے په دے باره کښے مدد وغوښتۀ۔ عائشے ﷺ ورته وفرمايل: تۀ لاړه شه او

خپلو مالکانو سره مشوره وکړه که هغوئ غواړي نو زۀ به تا په نقدو پيسو واخلم خو په دې شرط چه ستا ولاء (ميراث) به ستا د مرګ نه پس زما رسيږي. هغه لاړه او دا خبره ئې هغوئ ته وکړه، نو هغوئ انکار وکړو او وې وئيل تا وربانده ورخرڅوو خو شرط دادې چه ستا ولاء به زمونږه وي. هغه راغله او دا خبره ئې عائشې ﷺ ته وکړه، او نبي ﷺ ناست وو هغوئ واوريده، نو عائشې ﷺ ته ئې وفرمايل: بريره واخله او پريده چه هغوئ ددې د ولاء شرط ولګوي نو دا (فاسد) شرط هم ورسره اُومنه. بيا نبي ﷺ په دې فاسد شرط لګولو باندې هغوئ له رټنه ورکړه، او ددې خبرې وضاحت ئې وفرمايۀ چه ولاء د خرڅونکي حق نۀ دې بلکه د آزادوونکي حق دې نو بيا ددې شرط کول جائز نۀ دي بلکه دا د الله تعالیٰ د حکم خلاف شرط دې.

**فوائد او مسائل** : (١) حديث نه ثابته شوه چه غلام سره عقدِ کتابت کول مشروع دي ځکه دا د هغۀ د آزادولو سبب دې. کله چه غلام ددې مطالبه وکړي او مالك ته په دې مکاتبت کښې د غلام دپاره نفع او فائده ښکاري نو بيا دا کار کول مستحب او د بعض علماؤ په نيز واجب دي. الله تعالیٰ فرمائي: ﴿فَكَاتِبُوهُمْ إِنْ عَلِمْتُمْ فِيهِمْ خَيْرًا﴾ [النور: ٣٣] اوکه مولیٰ ته په دې کښې خير نۀ ښکاره کيدۀ بلکه هغه په دې کار سره خرابيدۀ مثلاً آزاديدو نه پس خپل د کافرو ملك ته واپس کيدۀ، يا فسق او فجور کښې اخته کيدو، يا ئې خپل ځان هم نشو ساتلې او په ځان او په نور چا بوج وي نو بيا مستحب هم نۀ دي بلکه ددۀ دپاره په غلامۍ کښې وخت تيرول بهتر دي.

(٢) د مکاتب بدلِ کتابت به د قسطونو په صورت کښې ادا کولې شي ځکه في الحال مکاتب غلام د هيڅ مالك نۀ دې، البته که د يو طرف نه ئې ټول رقم تيار کړو او په يو ځل ئې ورکړو نو هم صحيح ده. او که د بدلِ کتابت نه عاجز شو نو بيرته غلام ګرځي.

(٣) مکاتب غلام خرڅول جائز دي په دې شرط چه اخستونکې به ئې آزادوي، ځکه نبي ﷺ د آزادولو په اشتراط رد نۀ دې کړې بلکه د ولاء په اشتراط ئې رد کړې. ځکه بريره ﷺ مکاتبه وه او د هغې مالکانو هغه په عائشې ﷺ خرڅه کړه چه هغه به دا آزادوي. (٤) د آزاد کړي غلام ولاء به آزادونکي ته ملاويږي نۀ خرڅونکي ته، که خرڅونکې ولاء د خپل ځان دپاره شرط کړي نو دا شرط لګول باطل دي او په دې سره عقد نۀ باطليږي بلکه صرف دغه شرط باطل دې او عقد صحيح دې.

(۵) کوم شروط چه د عقد د مقتضیٰ خلاف وی دا بذاتِ خود فاسد شرطونه دی، خو دے سره عقد نهٔ خرابیږی. دا قِسم شرطونه لګول حرام دی ځکه دا د الله د حدودو نه تجاوز کول دی. علامه ابن قیمؒ فرمائي : په دے باره کښے شرعی **ضابطه** داده چه کوم شرط د الله د حکم او کتاب خلاف وی هغه باطل دے، اوکوم شرط چه د الله د حکم خلاف نهٔ وی نو د هغے پوره کول لازم دی. [اعلام الموقعین: ۳/۴۰۲]

(٦) [وَاشْتَرِطِيْ لَهُمُ الْوَلَاءَ]؟ ددے مقصد دا دے چه که هغوئ په خپله په دے خبره اصرار کوی نو ته هم هغوئ سره دا فاسد شرط د یو وخته پورے ومنه او سودا ورسره وکړه زهٔ روستو ددے رد کوم؛ نو نبی ﷺ روستو خطبه وفرمایله او ددے رد ئے وکړو. او یا معنیٰ دا چه : که ته دوئ سره دا شرط منے اوکه نهٔ منے، دوئ ته فائده نهٔ ورکوی ځکه ددے وجود او عدم دواړه برابر دی. بیا ئے ددے فساد ښکاره کړو.

(۷) د [كُلُّ شَرْطٍ لَيْسَ فِيْ كِتَابِ اللّٰهِ] د کتاب الله نه مراد شرعی حکم دے. معنیٰ داده چه هر هغه شرط چه د الله په حکم او قانون او شریعت کښے نهٔ وی بلکه ددے خلاف وی نو دا شرط باطل دے. او کوم شرط چه د الله د قانون خلاف نهٔ وی – اګرکه هغه جزئی لحاظ سره په قرآن او سنت کښے نهٔ وی ذکرشوے – نو د هغے پوره کول پکار دی.

ددے په باره کښے خپله نبی کریم ﷺ یوه جامعه خبره کړے : [اَلْمُسْلِمُوْنَ عَلٰى شُرُوْطِهِمْ اِلَّا شَرْطًا أَحَلَّ حَرَامًا أَوْ حَرَّمَ حَلَالًا] ددے نه معلومه شوه چه کوم شرط لګولو سره حرام شے نهٔ حلالیدهٔ او حلال شے نهٔ حرامیدهٔ نو هغه شرط لګول به جائز او د هغے پوره کول به واجب وی. دا په کښے قاعده کلیه شوه. بیا اخوا عامه ده که دا د عقد د مقتضیٰ موافق وی او که نه، او یو شرط وی یا زیات.

**تنبیه:۱**: دا حدیث د کثیر الفوائد کیدو په وجه امام بخاریؒ په خپل صحیح کښے (۲۴) ځله راوړے، او په دے باندے محدثینوؒ مستقل کتابونه لیکلی، او بعضِ محدثینوؒ ددے نه راوتے فائدے (۳۰۰) او بعضو (۴۰۰) ته رسولی. حافظ ابن حجر عسقلانیؒ په "فتح الباری" کښے تقریبًا د یو سلو شلو (۱۲۰) نه زیاتے فائدے مستنبطے کړیدی.

## د ولاء خرڅول یا هبه کول ناجائز دي

2878 (4) — وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنه قَالَ : نَهَى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنْ بَيْعِ الْوَلَاءِ، وَعَنْ هِبَتِهِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

**ترجمه :** ابن عمر رضي الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د ولاء خرڅولو او ددے د بخښلو نه منع فرمائیلے۔ (بخاری، مسلم)۔

**تشریح :** (۱) حدیث نه معلومه شوه چه ولاء خرڅول یا چاته هبه کول او بخښل منع دي۔ (۲) مخکښې تیر شو چه ولاء دیته وائي چه څوك یو غلام یا وینځه آزاده کړي او بیا هغه مړ/ مړه شي او د هغې بل څوك نزدے خپلوان (عصبه) نهٔ وي نو د دغه غلام یا وینځې میراث به آزادوونکي ته ملاویږي، ځکه چه آزادونکي د دغه وینځې یا غلام سره ښهٔ کړي، په هغهٔ ئے د آزادئ د نعمت احسان کړے نو ددے په بدله کښې به د هغهٔ میراث ددهٔ وي۔(۳) ولاء خرڅول ځکه باطل دي چه دا د نسب پشان یوه رشته ده۔ لکه څنګه چه پلارولي، ځوئے ولئ، یا ورور ولي نهٔ خرڅیدلے شي او نهٔ چاته خیراتي ورکیدلے شي نو دغه شان د آزادولو په وجه چه کوم میراث آقا او مالك ته ملاویږي هغه هم نشي خرڅیدے او نهٔ چاته هبه کولے شي۔ لکه تاته څوك ووائي: دا فلانے ستا څهٔ دے ؟ تهٔ ورته وائے : دا مے پلار دے، هغه ذرته ووائي: دا پلارولي دے په ما راخرخه کړه یا ئے راله مفته راکړه۔ نو دا کار نشي کیدے او دا مطالبه هم بے ځایه ده او دا کار کول هم جائز نهٔ دي۔ ځکه لکه څنګه چه د خپل پلار نه سیوا بل چاته ځان منسوبول حرام دي، نو دغه شان د آزادولو د نعمت نسبت بل چاته کول هم حرام دي۔ د جاهلیت په زمانه کښې به خلکو په بیع وغیره سره ولاء نقل کوله، نو شارع ددے نه منع وفرمایله۔ او دا د جمهورو علماؤ قول دے۔ حدیث کښې دي : [اَلْوَلَاءُ لُحْمَةٌ كَلُحْمَةِ النَّسَبِ لَا يُبَاعُ وَلَا يُوْهَبُ] (ولاء د نسب د تعلق پشان تعلق دے، نهٔ خرڅولے شي او نهٔ بخښش کولے شي) [صحیح: ابن حبان، حاکم، ارواء الغلیل : ۱٦٦۸]

## څوك چه د نقصان ذمه وار دے هم هغه د نفع هم حقدار دے

### اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ

- 2879 ( 5 ) عَنْ مَخْلَدِ بْنِ خُفَافٍ قَالَ : اِبْتَعْتُ غُلَامًا فَاسْتَغْلَلْتُهُ ثُمَّ ظَهَرْتُ مِنْهُ عَلٰى

عَیْبٍ فَخَاصَمْتُ فِیهِ إِلٰی عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِیزِ فَقَضٰی لِیْ بِرَدِّهٖ وَقَضٰی عَلَیَّ بِرَدِّ غَلَّتِهٖ فَأَتَیْتُ عُرْوَةَ فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ : أَرُوحُ إِلَیْهِ الْعَشِیَّةَ فَأُخْبِرُهُ أَنَّ عَائِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا أَخْبَرَتْنِیْ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَضٰی فِیْ مِثْلِ هٰذَا :أَنَّ **الْخَرَاجَ بِالضَّمَانِ** فَرَاحَ إِلَیْهِ عُرْوَةُ فَقَضٰی لِیْ أَنْ آخُذَ الْخَرَاجَ مِنَ الَّذِیْ قَضٰی بِهٖ عَلَیَّ لَهٗ . رَوَاهُ فِیْ شَرْحِ السُّنَّةِ

**ترجمه** : مخلد بن خفاف فرمائي : ما یو غلام واخستو نو ما د هغهٔ نه ګټه حاصله کړه بیا زهٔ د هغهٔ نه په یو عیب باندې خبر شوم۔ نو ما د هغهٔ په باره کښې جګړه عمر بن عبد العزیزؒ خوا ته یوړه، نو هغهٔ ما دپاره ددې (غلام) په واپس کولو فیصله وکړه، او په ما باندې ئې د هغهٔ د فائدې د حاصلولو د واپس کولو فیصله وکړه نو زهٔ عروه ته راغلم ما ورته خبر ورکړو، نو هغهٔ وفرمایل : زهٔ به د هغهٔ خوا ته مازیګر ورشم۔ او خبر به ورکوم چه ما ته عائشې رضی اللہ عنہا خبر راکړې چه یقیناً رسول الله ﷺ ددې په شان واقعه کښې (دا) فیصله کړې چه بیشکه ګټه (یا آمدنی) د ضمانت (او ذمه وارئ) سره ده۔ نو عروه بن زبیرؒ عمرؒ ته ورغلو نو هغهٔ زما دپاره دا فیصله وکړه چه زهٔ ګټه د هغه سړی نه واخلم چه د هغهٔ دپاره ئې زما په خلاف فیصله کړې۔ (شرح السنه)

**تشریح** : [فَاسْتَغْلَلْتُهٗ]، استغلال : طلب د غلې ته وائي، او غله فائدې، خدمت، او ګټې ته وائي۔ یعنې ما د هغهٔ نه فائدې واخستې او هغه مې په کار واچولو او د هغهٔ ګټه مې وخوړله۔

ثُمَّ ظَهَرْتُ مِنْهُ : یعنې بیا زهٔ د دغه غلام نه په یو عیب باندې خبر شوم چه هغه زما خوښ نهٔ شو، نو ما جګړه او فیصله پدې باره کښې عمر بن عبد العزیزؒ ته یوړه، نو هغهٔ فیصله وکړه چه غلام واپس کړه لیکن تا چه کومه فائده ددې غلام نه اخستې هغه هم واپس کړه۔ لیکن عروةؒ دا فیصله ماته کړه او د عائشې رضی اللہ عنہا روایت ئې ذکر کړو چه ګټه او فائدې په بدل د ضمانت او ذمه وارئ کښې دي۔

[اَلْخَرَاجُ] خراج د خاء په زور سره : مَا یَخْرُجُ وَیَحْصُلُ مِنَ الْفَوَائِدِ وَالْمَنَافِعِ الْحَاصِلَةِ مِنَ الْعَیْنِ الْمُبَاعَةِ أَوِ الْمُؤْجَرَةِ: (هغه ګټې او فائدې چه د خرڅ شوی یا په کرایه ورکړې شوی شی نه راوځي) لکه د ونې میوه، د حیوان پئ او نسل، د کور، ځاروی یا ګاډي نه نفع حاصلول۔ د حاکم په روایت کښې دي: [اَلْغَلَّةُ بِالضَّمَانِ] [حاکم: ۱۵/۲] دې نه د خراج معنیٰ معلومه شوه چه آمدنئ او فائدې ته وائي۔

[بِالضَّمَانِ] دلته باء د سببیت دپاره ده، او معنیٰ ئې داده: اَلْـخَـرَاجُ مُسْتَحَقٌّ بِالضَّمَانِ (د ضمانت او د تاوان ذمه وار جوړیدو په سبب سره انسان د نفع او آمدنۍ حقدار جوړیږي)۔ یا باء د مقابلې دپاره ده، او دا زیاته واضحه معنیٰ ده، اومعنیٰ دا ده: أَيْ يَكُوْنُ الْخَرَاجُ مُقَابِلَ الضَّمَانِ (ګټه به د تاوان په مقابله کښې وي) او ضمان کفالت، التزام او ذمه وارۍ ته وائي، دلته مراد خرچه کول، ساتل، او د تلف او هلاکیدو تاوان برداشت کول وغیره دي۔ نو حاصل معنیٰ دا شوه چه کوم منافع او فوائد چه د خرڅ شوي شي نه راوځي هغه به د اخستونکي حق وي ځکه اخستونکي ددې خرڅ شوي شي تاوان په ځان منلې، ځکه که خرڅ شوې شې د مشتري سره هلاكِ شو نو ددې تاوان په دهٔ دې، بائع نه دې هیڅ شې نشي اخستلې۔ او همدا حکم په کرایه باندې د ورکړې شوي شي هم دې چه که دا هلاك شي نو ددې تاوان به په کرایه اخستونکي باندې وي۔ پدې شرط چه تعدّي ئې نهٔ وي کړې۔

**فوائد او مسائل** : (۱) دا حدیث د نبي کریم ﷺ د جوامع الکلم نه دې، لفظ ئې څو مره مختصر دې مګر دا په ډیرو زیاتو معنو او مسائلو مشتمل دې، او دا د فقهاؤ په نیز د ثابتو او مستقلو قاعدو نه یوه جامعه قاعده ده۔ دا وجه ده، دا حدیث علماؤ په هغه فقهي قواعدو کښې راوړې چه د هغې لاندې ډیر زیات فروع او مسائل دي، ددې نه هغوئ په ګنړو طریقو سره تعبیرونه کړیدي۔ ددې ځینې مسائل دادي: (۱) یو تن ګډه بزه واخسته او هغه ئې ولشله، یا ئې زمکه واخسته او هغه ئې استعمال کړه، یا ئې ګاړې موټر او ځاروې واخستهٔ او په هغې باندې ئې سورلي وکړه، یا ئې غلام واخستهٔ او هغه ئې په مزدورۍ ولګولو او مزدوري ئې مالك له ورکوله، بیائې په دې شیانو کښې عیب ومونده نو دهٔ دپاره دا حق جوړیږي چه دغه اخستل شوې شې بیرته خرڅونکي ته واپس کړي او د هغهٔ نه خپلې پیسې واخلي او کومه ګټه، آمدني او فائده چه په دغه صورتونو کښې د دغه شیانو نه دهٔ حاصله کړې، دې د هغې حقدار جوړیږي، ځکه چه ددې شیانو دا فائدې ددهٔ د ضمانت او تاوان په بدله کښې دي ځکه که دغه شیان د مشتري کره هلاك شوي وې نو تاوان به په همدې مشتري باندې وو، نو اوس چه دغه څیزونو ګټه کړې نو هغه ګټه او فائده هم د مشتري حق جوړیږي ځکه د ګټې حقدار به هغه څوك وي چه ددې شي د تاوان ذمه واري قبوله کړي۔

(۲) چا چه یو شے په کرایه ورکړو او د فائدے اخستو نه پس ئے ورته بیا واپس کوی نو د واپس کولو خرچه به په کرایه ورکونکی وی ځکه مالك ددے شی کرایه اخلی۔ اوکه چا یو شے عاریةً (سوالی) واخستهٔ نو ددے د واپس کولو خرچه به په مستعیر (اخبستونکی) باندے وی ځکه ددے نه فائده په سوال باندے اخستونکی واخسته۔

(۳) یو مشترك ځائے دے چه هغه جوړولو ته ضرورت لری، نو هر برخه دار به په دے کښے د خپلے برخے مطابق رقم ورکوی، ځکه چه ددے د ګټے برخه اخلی نو د تاوان برخه به پرے هم راځی۔ والله اعلم۔ (ابن عثیمین: فتح ذی الجلال والاکرام شرح بلوغ المرام۳/۶۰۹).

**درجة الحدیث**: [حسن بمجموع الطرق] السنن الکبری للبیهقی: ۱۱۰۵۷ شرح السنة: ۵۱۶۔ مسند الشافعی: ۴۸۰، ابوداود: ۳۵۰۹۔ مخلد بن خفاف وثقه ابن حبان وابن وضاح وتابعه مسلم بن خالد الزنجی وهو صدوق کثیر الأوهام (التقریب) ومثله یصلح فی المتابعة والشواهد۔ (ذخیرة العقبی: ۳۴/۱۸۹) . ورواية مسلم بن خالد اخرجها ابوداود: ۳۵۱۰) وحسن الألبانی لغیره روایة مسلم بن خالد الزنجی۔ (صحیح ابن ماجه: ۲۲۴۳) وصححه ابن قطان.

## د بائع او مشتری د جګړے په صورت کښے به د چا قول معتبر وی؟

2880 ( 6 ) - وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " **إِذَا اخْتَلَفَ الْبَيِّعَانِ فَالْقَوْلُ قَوْلُ الْبَائِعِ وَالْمُبْتَاعُ بِالْخِيَارِ** ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيِّ قَالَ: " **اَلْبَيِّعَانِ إِذَا اخْتَلَفَا وَالْمَبِيعُ قَائِمٌ بِعَيْنِهِ وَلَيْسَ بَيْنَهُمَا بَيِّنَةٌ فَالْقَوْلُ مَا قَالَ الْبَائِعُ أَوْ يَتَرَادَّانِ الْبَيْعَ** ".

**ترجمه**: او ابن مسعود ﷺ نه روایت دے، چه رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چه اخستونکے او خرڅونکے خپلو کښے اختلاف وکړی نو خبره به هغه معتبره وی چه سودا خرڅونکے ئے کوی، او اخستونکی لره اختیار دے (چه سودا پریدی او که د بائع خبره منی) دا ترمذیؒ روایت کړے او په روایت د ابن ماجهٔ او دارمیؒ کښے دی: نبی علیه السلام وفرمایل: کله چه اخستونکے او خرڅونکے اختلاف وکړی او خود سودا موجوده وی، او د دوئ ترمینځ ثبوت هم نهٔ وی نو خبره به هغه معتبره وی چه د سودا مالك ئے کوی او یا به دواړه دا سودا واپس کوی۔

**تشریح**: [اِخْتَلَفَ الْبَيِّعَانِ] په شد د یاء سره ددے نه مراد خرڅونکے او اخستونکے دے۔

او اختلاف عام دے کـه په سودا کښې وی یا په ثمن کښې یا په باقی شرطونو او وصفونو کښې وی. ځکه ددے شیانو حذف کول دلیل دے چه دلته تعمیم غرض دے، او په بعضِ روایاتو کښې چه ثمن راغلے نو هغه ددے یو مثال دے، په دے سره دا عموم نهٔ ختمیږی.
[بَيِّنَةٌ] د بَانَ يَبِينُ بَيَانًا او تِبْيَانًا نـه ماخوذ دے، واضح کیدو او ښکاره کیدو ته وائی، نو بینه هغه شے دے چه هغه حق ښکاره کړی، مراد ګواهان یا ثبوت او دلیل دے. په مالونو کښې بَيِّنَه درے څیزونه کیدے شی : (أ) دوه نارینه. (ب) یو نارینه او یوه زنانه. (ج) یو سړے او بل د مدعی قسَم.
[فَالْقَوْلُ] أَيِ الْقَوْلُ الْمُعْتَبَرُ . یعنی معتبره خبره.
[يَتَرَادَّانِ] أَيْ يَتَفَاسَخَانِ ، دواړه بـه سودا ختـمـه کـړی، او خرڅ شوے شے به واپس کړی، خرڅونکے به پیسے واپس کړی او اخستونکے به سامان.

**فوائد او مسائل:** (۱) حدیث نه معلومه شوه چه کله د خرڅونکی او اخستونکی ترمینځه اختلاف راشی او د هیڅ یو تن دپاره بینه او ثبوت نهٔ وی، نو په دے وخت کښې به د خرڅونکی خبره معتبره وی. که اخستونکے په دے راضی شو نو صحیح ده، که نهٔ وی نو دواړه به سودا ختمه کړی. مثلًا : د دواړو په ثمن کښې اختلاف شو، خرڅونکے وائی : ما دربانـدے په سل روپۍ خرڅ کړے، او اخستونکے وائی: ما درنه په اتیا روپۍ اخستے. او یو سره هم ثبوت نهٔ وی، نو دلته به د خرڅونکی خبره منل کیږی. او ددے حدیث ظاهر دادے چه په دے صورت کښې د قسَم نه بغیر به د خرڅونکی خبره معتبره وی. او دا د امام شعبیؒ او امام احمدؒ قول دے. دا ځکه چه سودا د بائع وه او اصل داده چه دا د هغهٔ مملوك شے دے. او په مشتری کښې اصل داده چه د ثمن نه ددهٔ ذمه بری ده، نو خبره به په دواړو صورتونو کښې په اصل پریښودے شی نو سودا به د خاوند دپاره شی، د هغهٔ د رضا نه بغیر به د هغهٔ د ملکیت نه نشی وښکلے.

**دویم** قول دادے چه : دواړه به قسَمونه خوری. دلیل ئے دا حدیث دے : [اَلْبَيِّنَةُ عَلَى الْمُدَّعِي، وَالْيَمِينُ عَلَى مَنْ أَنْكَرَ] او دلتـه دواړه مدعیان او منکران دی، ځکه بائع دعویٰ لری چه ثمن سل روپۍ دی، او د اتیاؤ نه منکر دے. او مشتری دعویٰ لری چه دا اتیا روپۍ دی او د سلو نه منکر دے. دے وجے نه قسَم کول د بل دلیل نه معلوم شوی. او دا د ابوحنیفهؒ، شافعیؒ، د مالكؒ یو روایت او د احمدؒ مشهور مذهب دے. شیخ الاسلام ابن

تیمیهٌ فرمائی: **راجح** قول اولنے دے، ځکه ظاهر د حدیث الباب ددے تائید کوی۔ بله دا چه بائع تاوانی دے نو سودا به ددهٔ د ملکیت نه په هغه صورت کښې وځی کله چه ددے په ثمن باندے دے رضا وی۔ دے وجے نه په دے صورت کښې به مشتری دا قبلوی او یا به دواړه سودا ختموی، او قسمونو کولو ته حاجت نشته۔ والله تعالیٰ اعلم۔

[ینظر: نظریة العقد لابن تیمیة، ص: ١٦٦، الشرح الممتع: ٨/٣٥٧]

**(٢)** که د بائع او مشتری اختلاف شو په سودا کښې چه مشتری وائی: ما چه دا اخستے نو پدے کښې عیب وو او بائع وائی چه تا روغ اخستے دے؟ نو دلته به د چا خبره منلے شی؟ نو ددے حدیث ظاهر دلالت کوی چه د بائع خبره به منلے شی، او همدا خبره د اصولو مطابق هم دے۔ ځکه چه اصل دا ده چه په مبیعه او سودا کښې به عیب نهٔ وی او د عیب نه به محفوظه وی۔ او دویم قول دا دے چه د مشتری خبره به منلے شی۔ لیکن دا قول مرجوح دے اول قول قوی دے۔

لنډه دا چه هر هغه څوك چه د اصل خلاف دعوه کوی نو دا مدعی دے دلیل به راوړی او که چا په اصل باندے منګولے لګولی وی نو دے منکر دے او په دهٔ به قسم وی۔ دا قاعده شوه۔ (ابن عثیمینؒ)

**درجة الحدیث**: [صحیح] الترمذی: ١٢٧٠، احمد: ٤٤٤، وابن ماجه: ٢١٨٦، الدارمی: ٥٠٤٩۔ انظر الارواء: (١٣٢٢، ١٢٢٣)

## اقاله قبلولو فضیلت

2881 (7) – وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: **مَنْ أَقَالَ مُسْلِمًا بَيْعَتَهُ، أَقَالَ اللّٰهُ عَثْرَتَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ**". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ. وَفِيْ "شَرْحِ السُّنَّةِ" بِلَفْظِ" الْمَصَابِيْحِ "عَنْ شُرَيْحٍ الشَّامِيِّ مُرْسَلًا.

**ترجمه**: ابو هریره ﷺ نه روایت دے، رسول الله ﷺ وفرمایل: څوك چه د یو مسلمان سودا واپس کړی، الله تعالیٰ به د قیامت په ورځ ددهٔ لغزشونه معاف کړی۔ (ابوداوٌد او ابن ماجهٌ روایت کړے، او په "شرح السنه" کښې د "مصابیح" الفاظ دی او د شریح شامیٌ نه مرسلًا روایت شوید ے)۔

**تشریح**: [أَقَالَ] أَقَالَ يُقِيْلُ إِقَالَةً: په لغت کښې پورته کولو او ختمولو ته وائی۔ عرب

وائي: أَقَالَ اللّٰهُ عَثْرَتَهُ (الله دې دا د غورزيدو نه پورته كړي) په سودا كښې اِقاله واپس كولو ته وائي څكه دا د عقد اُوچتول، ختمول او باطلول دي. د فقهاؤ په اصطلاح كښې (اقاله) د بائع او مشترى په رضا مندئ سره عقد پورته كول او ددې حكم او آثار ختمول دي.

[مُسْلِمًا] دا بنا بر اغلب دې، څكه د غير مسلم سره د اقالې كولو په باره كښې هم ثواب ثابت دې. په يو روايت كښې دي: [مَنْ أَقَالَ نَادِمًا] [بزار، التلخيص: ٣/٢٧]

(چاچه خپيمانه سره سودا ختمه كړه). [عَثْرَتَهُ] عثرت خويدو او خطايئ ته وائي. الله به ددهٔ لغزشونه، گناهونه او كوتاهئ معاف كړي.

**فوائد او مسائل**: (١) حديث نه ثابته شوه چه څوك سودا كولو نه پس خپيمانه شي او سودا ختمول غواړي نو دهٔ ته پيسې واپس كول او سودا ختمول مستحب دي، او دا د هغهٔ سره احسان او ښيگړه كول دي، څكه انسان كله سودا واخلي او خپيمانه شي او كله يوه سودا خرڅه كړي او خپيمانه شي. مشترى كله وگورى چه سودا ئې گرانه اخستې، يا دې سودا ته ئې حاجت ختم شي يا ورسره پيسې نهٔ وي نو دې غواړي چه دا سودا واپس كړي، نو كله چه بائع مشترى سره دا سودا ختمه كړي او يا مشترى بائع ته سودا واپس كړي نو دهٔ خپل وروړ سره ښيگړه وكړه او د نبى كريم ﷺ په دې مباركه دعا كښې ئې خپل ځان شامل كړو چه الله به ددهٔ په دنيا او آخرت كښې گناهونه او لغزشونه معاف كړي، څكه جزاء من جنس العمل وي، الله تعالىٰ فرمائي: ﴿هَلْ جَزَآءُ الْإِحْسَانِ إِلَّا الْإِحْسَانُ﴾ [الرحمن: ٦٠] (د نيكئ بدله صرف نيكي وي) بيا د اِقالې دپاره درخواست كول مباح دي، دا په مذموم سوال كښې نهٔ داخليږي څكه نبى ﷺ ددې په واقع كيدو باندې فضيلت بيان كړې. (٢) اقاله كله په الفاظو سره وي لكه مشترى يا بائع ووائي: زهٔ تا ته دا سودا واپس كوم او هغه بل طرف ئې ومني، او كله په فعل سره وي لكه يو ورته پيسې او بل ورته سودا واپس كړي.

(٣) د اقالې حكم دادې چه اقاله كول مستحب دي واجب نهٔ دي څكه هر كله چه سودا وشوه او د سودا مجلس ختم شو نو دا سودا لازمه شوه. په خرڅونكي باندې دا واجب نهٔ دي چه دا سودا واپس كړي. او دغسې په مشترى باندې هم دا سودا ختمول لازم نهٔ دي، البته مسلمان وروړ سره د احسان او ښيگړې او د ښې معاملې تقاضا داده چه په دې

دواړو کښې کوم یو په سودا باندې خپیمانه دې نو د هغۀ غوښتنه دې پوره کړې شي۔

**مسئله** : (۱) : آیا اقاله فسخ ده او که بیع؟ (یعني اقالې سره اولنئ سودا ختمیږي اوکه دا نوې سودا ده) ؟ (۱) **یو قول** دادې : چه دا فسخ ده او نوې سودا نۀ ده، ځکه دا سودا کول نۀ دي بلکه ختمول دي۔ او دا د امام احمدؒ نه زیات صحیح یو روایت دې۔ او همدا قول راجح دې۔

(۲) **دویم قول** : دادې چه دا سودا ده، او دا د امام مالکؒ مذهب او د امام احمدؒ یو روایت دې۔ او ابن حزمؒ ورته راجح وئیلې دي۔ وجه داده چه مبیعه اولني بائع ته په هغه صفت سره راواپس شوه په کوم باندې چه ترې وتلې وه، نو د اولني ځل پشان دا هم سودا ده۔ ددې اختلاف فوائد علامه ابن رجبؒ داسې ذکر کړي : (أ) څوك چه قسَم وکړي چه یو شې به نۀ خرڅوي او بیا ئې اقاله وکړه نو د اولني قول مطابق دا حانث نۀ دې، او د دویم قول مطابق حانث دې۔ (ب) څوك چه اقاله فسخ ګنړي نو هغوئ دا قبل القبض او بعد القبض دواړو صورتونو کښې جائز ګنړي۔ او د دویم قول مطابق دا قبل القبض جائز نۀ ده په هغه شیانو کښې چه په هغې کښې قبض معتبر دې لکه مکیل او موزون وغیره، ځکه دا شیان په بائع باندې ددې د قبض کولو نه مخکښې خرڅول جائز نۀ دي لکه څنګه چه ددې بائع نه علاوه په بل بائع باندې ددې خرڅول منع دي۔

(ج) څوك چه دا فسخ ګنړي د هغوئ په نیز د جُمعې د دویم اذان په وخت اقاله کول صحیح دي، او د دویم قول مطابق صحیح نۀ دي ځکه دا سودا ده۔ راجح دا ده چه د اذان په وخت کښې هر تجارت ناروا دې لکه په سورة الجمعه کښې دي، برابره ده چه اقاله وي او که بیعه یا تیلري وغیره وي۔

(د) دارنګه څوك چه ورته فسخ وائي نو د هغوی په نیز په مسجد کښې هم ددې کول جائز دي او څوك چه ورته بیع وائي نو په مسجد کښې کول ئې ناروا دي۔

**مسئله** : (۴): سودا واپس کول به په اخستل شوی ثمن سره وي اوکه په دې کښې زیاتې کمې جائز دې ؟ (۱) **یو قول** دادې چه دا به په همغه ثمن سره واپس کوي۔ ځکه اقاله وئیل کیږي همغه پیسې واپس کول په کوم باندې چه سودا شوې۔ په دې کښې کمې زیاتې کول جائز نۀ دي۔ ځکه چه هرکله دۀ په خپله اقاله کښې معاوضه وکتله نو دا اقاله نشوه۔ (۲) **دویم** قول دادې چه په دې کښې کمې زیاتې جائز دې، او دا د بیعانې د

مسئلے سره مشابه صورت دے. ددے صورت دا دے چه ما په تا باندے ګاړے په دوه لاکهه باندے خرڅ کړو بیا تهٔ ما ته راغلے چه ما سره اقاله وکړه، اُوس زما ګاړے نهٔ دے پکار، نو ما ووئیل چه زهٔ ئے نهٔ واپس کوم مګر دا چه ما ته به شل زره روپۍ په قیمت کښے پریدے نو دا جائز ده. او دغه شان ددے برعکس صورت واخله چه بائع مشتری ته ووائی چه ما ته سودا راواپس کړه او مشتری ورته ووائی چه ما له به ددے رقم سره شل زره روپۍ نورے راکوے نو دا هم جائز ده. علامه ابن رجبؒ دے دویم قول ته ترجیح ورکړے. او ددے وجه دا ده چه کله په اقاله کښے انسان ته ضرر وی، هغه دا چه هغه ګاړے چه واپس کوی نو کیدے شی چه اُوس هغه ریټ نهٔ کوی کوم ئے چه په وخت د سودا کولو کښے وو، دارنګه په هغه وخت کښے پرے خلکو بولی لګوله او زیات قیمت ئے ورکولو اُوس چه ګاړے وغیره واپس شو، هغه شان رقم څوك نهٔ ورکوی. ددے وجه نه راجح دا ده چه اقاله په همغه روپو هم جائز ده او ددے نه په کمو او د هغے نه په زیاتو هم جائز ده. [القواعد : ٣/٣١٢، وفتح ذی الجلال والاکرام : ٣/٦٢٤]

**درجة الحديث** : [صحيح] أخرجه أبوداود : ٣٤٦٢، ابن ماجه : ٢١٩٩، الحاكم : ٢٢٩١، وقال صحيح على شرط الشيخين ووافقه الذهبي. ورواه في شرح السنة (٢١١٧) عن شريح الشامي مرسلا.

## يوه عبرتناکه قصه

## اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

**2882 (8)** – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " **اِشْتَرٰى رَجُلٌ مِمَّنْ كَانَ قَبْلَكُمْ عَقَارًا مِنْ رَجُلٍ فَوَجَدَ الَّذِیْ اشْتَرَی الْعَقَارَ فِیْ عَقَارِهٖ جَرَّةً فِیْهَا ذَهَبٌ فَقَالَ لَهُ الَّذِی اشْتَرَی الْعَقَارَ : خُذْ ذَهَبَكَ عَنِّیْ إِنَّمَا اشْتَرَیْتُ الْعَقَارَ وَلَمْ اَبْتَعْ مِنْكَ الذَّهَبَ** . فَقَالَ بَائِعُ الْاَرْضِ : إِنَّمَا بِعْتُكَ الْاَرْضَ وَمَا فِیْهَا فَتَحَاكَمَا إِلٰى رَجُلٍ فَقَالَ الَّذِیْ تَحَاكَمَا إِلَیْهِ : أَلَكُمَا وَلَدٌ ؟ فَقَالَ أَحَدُهُمَا : لِیْ غُلَامٌ وَقَالَ الْآخَرُ : لِیْ جَارِیَةٌ . فَقَالَ: أَنْكِحُوا الْغُلَامَ الْجَارِیَةَ وَأَنْفِقُوْا عَلَیْهِمَا مِنْهُ وَتَصَدَّقُوْا ". مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ

**ترجمه** : ابو هريره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : ستاسو نه د مخکنو خلکو نه یو سړی د بل سړی نه زمکه واخسته نو هغه سړی چه زمکه ئے اخستے وه په خپله

زمکـه کښې یو منګې اُوموندو چه په هغې کښې سرۀ زر وو، نو هغۀ (بائع) ته هغه سړی وویل چه زمکه ئې اخستې وه : ستا سرۀ زر زما نه واخله (دا ستا دی ځکه) چه ما خو زمکه اخستې ده او تا نه مې سرۀ زر نۀ دی اخستی، نو د زمکې خرڅونکی ورته وویل : ما په تا باندې زمکه او هغه څه چه په دې کښې دی خرڅ کړی نو دواړو فیصله یو بل سړی ته یوړه نو هغه سړی چه دواړو ورته فیصله وړې وه وویل : آیا ستاسو د دواړو اولاد شته ؟ نو یو پکښې وویل : زما هلك شته او بل وویل : زما لور ده، نو دۀ وویل : تاسو هلك ته دا جینئ په نکاح ورکړئ او ددې مال نه په هغه دواړو باندې خرچه وکړئ او (باقیمانده د الله په لاره کښې) صدقه کړئ۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

**تشریح** : اشْتَرَی : په یو بل روایت کښې شری الارض لفظ دې۔ نو بیا شری دلته په معنیٰ د باع (خرڅولو) سره دې۔ او باع او شری د یو بل په معنیٰ باندې استعمالیږی۔

راغبؒ وائی : شری په خرڅولو کښې زیات استعمالیږی او اِبْتَعْتُ په اخستو کښې زیات، او علاوه د یو بل په معنیٰ استعمالیږی۔

فَتَحَاكَمَا إِلَى رَجُلٍ : حافظ ابن حجرؒ وائی : ما ته ددې دواړو سړو نوم نۀ دې معلوم او د وهب بن منبهؒ په روایت کښې دی چه دا فیصله کونکې داود ﷺ وو، او بعض روایاتو کښې دی چه دا فیصله کونکې کِسریٰ بادشاه وو، او بعضو کښې دی چه دا د ذو القرنین د طرف نه یو قاضی وو۔ مګر د بخاریؒ د طرز نه د اول قول ترجیح ملاویږی ځکه چه هغۀ دا واقعه د بنی اسرائیلو په ذکر کښې راوړیده۔

دې حدیث کښې عجیب حالات د بندګانو دی چه کله خو بنده د مال په وجه ظلم او افتراء او بغاوت ته رسیږی لیکن بل طرفته داسې روحونه هم شته چه په هغوی کښې ترفع او علو او ترقی او امانتداری موجوده وی۔ دلته اُوګوره یو تن زمکه خرڅه کړه او اخستونکی ته پکښې د سرو زرو منګې راووتو او دواړه ئې نۀ اخلی (پدې یره چه دا به زما حق نۀ وی او هسې نۀ چه پردې حق واخلم) نو ددې وجه نه یو فیصله کونکی ته محتاج شو نو یو تن چه دوئ ته ښۀ سړې ښکاره کیدو- هغۀ ته ئې فیصله یوړه، د قصې آوریدو نه روستو فیصله کونکې حیران شو چه په څه طریقه فیصله وکړی او د دوئ د تقویٰ او ایمان داریٔ او امانتداریٔ ته په سوچ کښې شو، چه څنګه فیصله وکړی آیا دا سرۀ د دواړو ترمینځ تقسیم کړی او ددې فیصلې به څه مزه وی؟ نو ددې وجه نه دې محتاج شو چه

دے دواړو کسانو ته د دوئ په ورع او تقوئ باندے بدله ورکړی په داسے طريقه چه هغوی پرے پوهه نشی نو د هغوی نه د هغوی د اولادو په باره کښے پوښتنه وکړه او بيا ئے د دواړو د وادهٔ فيصله وکړه او دغه مال دِے د دوئ په وادهٔ ولګولے شی او په دواړو دِے خرچه کړے شی او کوم چه پاتے شی نو دوئ دِے ئے ځانله په ژوند کښے خرچه کړی، ددهٔ دا اميد وو چه الله تعالیٰ به دوئ ته غوره نسل او نيکان اولاد ورکړی۔

ددے سړی دا فيصله احسانی وه، او قضاوت نهٔ وو۔ امام نوویؒ وائی : ددے نه معلومه شوه چه قاضی له پکار دی چه د دوه جګړه کونکو ترمينځ اصلاح وکړی۔

علامه قرطبیؒ وائی : دے فيصله کونکی سړی په هيڅ هم فيصله ونکړه بلکه د دواړو ترمينځ ئے اصلاح پدے طريقه وکړه چه دا مال دِے ددے دواړو په نفسونو ولګولے شی او د دوئ په اولاد باندے، او صدقه دِے کړے شی، او ددے وجه دا ده چه دا مال ضائع دے، هيڅ يو تن ئے د ځان دپاره دعوه نهٔ لری، او کيدے شی چه د هغوی په زمانه کښے به بيت المال نهٔ وو نو دے سړی ته دا خبره ښکاره شوه چه پدے مال باندے دا دواړه د نورو خلکو په نسبت زيات مستحق دی، ځکه چه دواړو کښے زهد او ورع او نيک سيرتی ده، او اميد ئے وکړو چه ددے دواړو به نيک اولاد او غوره نسل پيدا شی۔

(فتح المنعم ٥١/٧، الکوکب الوهاج ٤٨/١٩)

**مسئله** : زمونږ په شريعت کښے چه کله داسے صورت راشی نو څه فيصله به کيږی؟ مثلاً چه يو تن يوه زمکه واخلی او په هغے کښے دفن کړے شوے مال راووځی نو دا به د خرڅونکی وی او که د اخستونکی ؟ دوه قوله دی : (١) که دا مال د زمکے د اقسامو نه نهٔ وی لکه سرهٔ او سپين، نو يا به جاهليت والو خښ کړی وی نو دا رکاز دے، او د رکاز حکم به پکښے جاری کيږی۔ (چه پدے کښے به خُمس بيت المال ته حواله کوی) او که د اسلام په زمانه کښے چا خښ کړے وی نو دا لُقطه ده۔ (د لقطے احکام به پرے جاری کيږی) او که هيڅ معلومات نهٔ وی نو بيا دا ضائع مال دے نو چرته چه د مسلمانانو بيت المال وی په هغے کښے به محفوظ کړے شی۔ او کيدے شی چه د هغوی په شريعت کښے به دا تفصيل نهٔ وو نو ددے وجه نه دے شخص ورله داسے فيصله وکړه۔ (قاله الحافظ ابن حجرؒ) او که بيت المال نهٔ وی نو بيا به په فقراؤ او مساکينو باندے او د دين په خادمانو باندے او د مسلمانانو په مصلحتونو باندے خرچ کړے شی۔

(قاله الماورديؒ والقرطبيؒ- طرح التثريب ٦/١٤٤)

او بعض اهل علمؒ وائي چه دلته ددے مال مالك نهٔ وو معلوم او په مملوكه زمكه كښے وموندے شو نو ظاهر دا ده چه دا به د بائع ملكيت وى، ليكن هركله چه هغهٔ د اخستو نه انكار وكړو نو دغه شخص د دواړو ترمينځ صلح مصالحت وكړو، يا به كيدے شي د هغوى په دين كښے دغه شان فيصله وه۔

او كه يو تن په چا زمكه يا كور خرڅ كړي او په هغے كښے معدن د سرو يا د سپينو يا د وسپنے يا بل قدرتي مالِ راوځى چه چا نهٔ وى خخ كړے نو بيا حكم دا دے چه دا به د زمكے تابع وى۔ (شرح ابن عثيمينؒ) او دا به د مشترى حق وى لكه چه سبع ارضين والا حديث پرے دليل دے۔ وبالله التوفيق والله اعلم

تصحيح شروع شوه محرم ٢٠ -١٤٤١ . م



بسم الله الرحمن الرحیم

# ۷- بَابُ السَّلَمِ وَالرَّهْنِ

د سَلَم او رهن بیان۔

سَلَم: په احادیثو کښې ددې بل نوم سَلَف دې، دا دواړه یوه معنیٰ لري۔ په معنیٰ د ورکولو او سپارلو سره، البته سَلَف د سَلم نه عام دې ځکه سلف کله په قرضو کښې استعمالیږي۔ ددې دواړو ترمینځ عموم خصوص مطلق دې، هر سَلَم سَلَف دې، خو هر سَلَف سَلَم نۀ دې۔ او سلم لغة د اهل عراق دې او سلف لغة د اهل الحجاز دې، لکه روستو (یُسْلِفُوْن) لفظ نه معلومیږي چه دا ئې مدینې والو دپاره استعمال کړې چه هغه په حجاز کښې داخله ده۔

او **شرعًا**: (۱) سَلم وائي: [بَیْعُ آجِلٍ بِعَاجِلٍ] ته (یعنی روستو موجودیدونکې شې په نقدو خرڅول) (۲) یا [عَقْدٌ عَلٰی مَوْصُوْفٍ فِی الذِّمَّةِ] (په هغه شي باندې عقد او تړون کول او په نقدو خرڅول چه هغه خاصو صفاتو والا وي او په ذمه د خرڅونکې باندې وي چه هغه به ئې اخستونکي ته په خپل وخت کښې سپاري) ددې صورت دا دې: چه یوتن چاته ووائي: زۀ تا له شل زره روپۍ درکوم، په مقابله ددې کښې چه تۀ به ماله شپږ میاشتې یا کال روستو لس منه غنم یا وُریشې وغیره راکوې۔ نو پیسې ورته نقدې ورکړي او سودا ترې د یوې معلومې نیټې نه روسته اخلي۔ په دې کښې مشتري ته (مُسلِم یا ربّ السلم) وائي، د سودا بائع ته (مُسْلِم الیه)، سودا ته (مُسْلَم فیه) او ثمن ته (رأسُ مال السّلم) وائي۔ ددې معاملې په جواز باندې کتاب، سنت او اجماعِ امت دلیل دې، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا تَدَایَنْتُمْ بِدَیْنٍ اِلٰٓی اَجَلٍ مُّسَمًّی فَاکْتُبُوْهُ﴾ [البقرة: ۲۸۲]

ابن عباس ﷺ فرمائي: زۀ ګواهي کوم چه څوك تر یوې معلومې نیټې پورې په خپله ذمه باندې یو شې قبول کړي نو دا کار الله تعالیٰ حلال کړې او په دې کښې ئې اجازه ورکړې۔

الرَّهْنِ : په لغت کښې (۱) ثبوت او دوام. (۲) یا حبس (بندولو) ته وائی، لکه الله تعالیٰ فرمائی : ﴿كُلُّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ رَهِينَةٌ﴾ [المدثر : ۳۸] (هر نفس په خپل عمل کښې بند دے) رهن ګانړه کولو، او ګروی کولو ته وائی. لکه یو تن چا سره سودا وکړی او پیسے ورسره نۀ وی نو د بائع د اعتماد دپاره هغۀ سره یو داسے شے کیږدی چه هغه ددے سره په قیمت کښې برابر وی یا ترے زیات وی، دے دپاره چه که مشتری قیمت ادا نۀ کړی نو ددے نه به بائع خپل حق وصولوی. نو رهن وائی : [تَوْثِيقُ دَيْنٍ بِعَيْنٍ] ته (یعنی خپل قرض په یو شئ سره مضبوطول). ګانړه (ګروی) ورکوونکی ته (راهن)، اخستونکی ته (مُرْتَهِن) او ګانړے ته (مَرْهُونَة یا رهن) ویل کیږی.

## د بیع سلم ذ صحیح کیدو شرطونه

## الفصل الأول

2883 ( 1 ) - عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷛ قَالَ : قَدِمَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ الْمَدِينَةَ، وَهُمْ يُسْلِفُونَ فِي الثِّمَارِ السَّنَةَ وَالسَّنَتَيْنِ (وَالثَّلَاثَ) فَقَالَ : **مَنْ سَلَفَ فِي شَيْءٍ فَلْيُسْلِفْ فِي كَيْلٍ مَعْلُومٍ، وَوَزْنٍ مَعْلُومٍ، إِلَى أَجَلٍ مَعْلُومٍ.** مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

**ترجمه** : ابن عباس ﷛ نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ مدینے ته راغے په داسے حال کښې چه مدینے والو به د کال او دوه کالو (او درے کالو) پورے د میوو قیمت مخکښې ورکولو. نو وے فرمایل : څوك چه د یو شی (مثلًا میوو) رقم پیشګی (مخکښې) ورکوی نو هغۀ له پکار دی چه معلوم پیمانے، معلوم وزن او معلوم نیټے پورے پیشګی رقم ادا کړی. (بخاری، مسلم).

**تشریح:** [قَدِمَ النَّبِيُّ ﷺ] دا راتلل د هجرت په موقعه وو.

نبی کریم ﷺ چه مدینے طیبے ته راغے نو خلکو به کال یا دوه کالو او درے کالو پورے سلم کولو یعنی مخکښې به ئے پیسے ورکولے او د یو کال یا دوو کالو پورے به ئے شے اخستو، نو نبی کریم ﷺ دا سودا منع نۀ کړه بلکه ددے اصلاح ئے وکړه او په دے کښې ئے خاص شرطونه مقرر کړل.

[يُسْلِفُونَ] (دوئ به سلم کولو، د مال قیمت به ئے مخکښې ادا کولو او ددے په عوض کښې به ئے مال روستو حاصلولو). سلف مخکښې ورکړے شوی شی ته وائی. او دا

جمله حاليه ده۔

[السَّنَةَ وَالسَّنَتَيْنِ] أَيْ: اِلَى السَّنَةِ وَالسَّنَتَيْنِ (يو كال دوه كالو پورې) دي ته منصوب بنزع الخافض وائي۔ (والثلاث) د بخاري او مسلم په روايت كښې دا زيادت نشته البته د ابوداود او مسند احمد په روايت كښې موجود دې۔

[فِيْ كَيْلٍ مَعْلُوْمٍ] (په معلومه پيمانه كښې) دا هله چه كله دغه شے پيمانه كيږي۔

[وَوَزْنٍ مَعْلُوْمٍ] دلته (واو) په معنىٰ د (أو) سره دے، يعني يا په معلوم وزن كښې، او دا هله چه دغه شے تلل كيږي، لكه غوړي، مالوچ وغيره۔ [فِيْ شَيْءٍ] دا لفظ د مخكښې نه عام دے ځكه دا ميوو او نورو ډيرو هغه شيانو ته شامل دے چه هغه په صفاتو سره معلوميدے شي، نو په دے كښې مكيلات، موزونات او جديد ټول صناعتونه داخل دي چه هغه د نورو نه جدا كيدے شي لكه د كور لوښي، د سكول او مدرسے سامانونه، لباسونه او فرشونه وغيره چه خپلو كښې يو د بل نه جدا نهٔ وي۔

ددے حديث نه دا فائده حاصليږي چه اسلامي شريعت په معاملاتو كښې ډيره فراخي كړيده، او اصل په معاملاتو كښې حلت (جواز) دے تردے چه دليل د منع راشي۔

معمولي شان جهالت په سودا كښې ضرر نهٔ رسوي ځكه چه كوم مال يو كال پس سپارى كيدے شي چه هغه ورته په صحيح مقرر وخت باندے ونهٔ سپاري ځكه چه هغه وخت ته موجود نهٔ وي، يا صفت د يو شي په شان د عين شي نهٔ وي، ځكه چه لَيْسَ الْخَبَرُ كَالْمُعَايَنَةِ۔ (خبر (قصه) د ليدو په شان نهٔ وي)۔ ليكن چونكه پدے كښې مصلحت دے نو پدے وجه دا لږ جهالت معاف دے۔

دے نه دا مسئله هم راوځي چه پياز او اُوږه او گازرے او مولئ د راوخكلو نه مخكښې خرخول جائز دي۔ اگركه دننه حالت ئے پوره معلوم نهٔ دے چه ټول صحيح دي او كه خراب هم پكښې شته۔ ليكن عمومي خلك ئے همداسے اخلي خرخوي نو شريعت پدے پابندي نهٔ ده لگولے، او دا پدے مسئله كښې راجح قول دے۔

دے حديث نه ثابته شوه چه سلم كول جائز دي، ځكه نبي ﷺ اهلِ مدينه په دے معامله برقراره ساتلي۔ بله دا چه: سلم هم يو قِسم بيع ده ځكه چه دا تر يوے معلومے نيټے پورے سودا كول دي، نو دا ددے آيتِ كريمه په عموم كښې داخله ده: ﴿وَأَحَلَّ اللهُ الْبَيْعَ﴾ [البقرة: ۲۷۵] او مخكښې آية المداينة ﴿إِذَا تَدَايَنْتُمْ بِدَيْنٍ﴾ تير شو چه په دے كښې

ئې قـرض ورکـول مباح گـرځـولـی او سـلـم هم ددې يو قِسم دې۔ او په دې باندې د امت اجماع ده، او دا د قياس سره هم موافقه معامله ده ځکه په دې کښې بائع او مشتري دواړو ته فائده ده، مشتري تـه ځـکـه فائده ده چه دۀ ته به سودا ارزانه ملاؤ شي ځکه د نيتې سودا د نقدو سودا نه ارزانه وي۔ او د بائع فائده داده چه دۀ ته به نقد رقم ملاؤ شي، خپل ضروريات به پرې پوره کړي او په خپل فصل او پټي او کارخانه به خرچه وکړي۔ بعضِ علماؤ ويلي چه سَلَم د **قياس** خلاف دې ځکه دا د هغه شيْ خرڅول دي چه في الحال د انسان سره نشته نو دا د [لَاتَبِعُ مَالَيسَ عِندَكَ] د وجې حرام کيدل پکار وو خو د ضرورت د وجې دا جائز شوې۔

ليـکـن دا خبره صحيح نۀ ده ځکه چه دواړو کښې فرق دې۔ په بيع ما ليس عندك کښې معدوم شے في الحال خرڅولے شي چه د هغې په سپارلو قادر نۀ وي۔ او په سلم کښې هغه شے خرڅولے شي چه هغه د بائع په ذمه کښې وي او چه کله نيته راشي نو په عامه توگه دغـه شے موجود وي او بائع د هغې په سپارلو قادر وي۔ نو په بيع د معدوم کښې بيع ذات د شيْ پورې متعلق وي، او په سلم کښې بيع د موصوف في الذمة وي (په ذمه کښې د يو معلوم شيْ خرڅول وي) في الحال خرڅول په دې کښې نۀ وي۔

[فِيُ كَيُلٍ] : پدې کښې د سـلـم شـرطـونه ذکر دي۔ په سلم کښې هم هغه شرطونه دي کـوم چه په بيع کښې وو ځکه سلم هم د بيع يو قِسم دې، البته په سلم کښې نور شرطونه هم لـگـول شوي چه په دې کښې غرض د بائع او مشتري ترمينځه د جنگ جگړې راتلو خطره ختمول دي، اودا درې شرطونه دي :

(**اول شرط**) پـه کوم شيْ کښې چه سلم کيږي د هغې صفات به معلوم وي او د صفاتو نـه مـراد هـغه صفتونه دي چه د نرخ په بدليدو کښې اثر لري، لکه ددې صفاتو نه د کيل او وزن مـعـلـومـول هـم دي، لـکـه سل صاعـه غـنـم يا وريشې يا کهجورې يا نور پيمانه کيـدونـکي شيان۔ يا سل کيلو ماهيان يا غوښه يا مالوچ يا نور تلل کيدونکي شيان۔ او کـه پيـمـانه کيدونکے شے ترې په وزن او تللو سره واخلي نو هم صحيح ده، لکه مخکښې زمـانـه کښې بـه کهجوره ناپ کولے شوه خو روستنو زمانو کښې خلك کهجوره په تللو خرڅـوي۔ بيـا د مـکيـل او مـوزون پـه حـکـم کښې معدود (شمار کيدونکے شے) دارنگه مذروع (گز کيدونکے شے) هم داخل دې۔ دا د جمهورو علماؤ قول دې۔

ابـن حزمؒ سـلم صرف په مکیل او موزون شیانو پورے خاص کړے، ځکه په نص کښے صرف ددے دواړو ذکر راغلے۔ [المحلی: ۹/۱۰۹]

**خو راجح** قـول د جـمهورو دے او په نص (حدیث) کښے ددے دواړو ذکر ځکه راغلے چه پـه هـغـه زمانه کښے دا دوه شیان ډیر ډیر استعمالیدل او دا مطلب نۀ دے چه ګنې په نورو شیانـو کښے سلم کول جائز نۀ دی ځکه لکه څنګه چه په دے دوه شیانو کښے سلم کولو ته ضرورت دے نو دغه شان نورو شیانو کښے سلم کولو ته هم ضرورت دے۔

(**دویم شرط**) : په سلم کښے به نیټه وی او په نیټه کښے دا شرط دے چه دا به معلومه وی مثلًا: دومره هفتے یا دومره میاشتے یا کال پس به درته دا شے په دومره اندازاه کښے درکوم۔ که چرے سودا في الحال ملاویږی یا ئے نیټه مجهوله شوه نو سلم به صحیح نۀ وی۔ لـکه حدیث کښے [اِلٰی اَجَلٍ مَّعۡلُوۡمٍ] لـفظ راغـلے۔ که دا نیټه مجهوله شوه نو سلم بـاطـل دے لـکـه داسے ووائـی چه د زید د راتللو پورے به غنم راکوے، نو د زید راتلل خو مـعـلـوم نـۀ دی، البتـه که داسے ووائی چه راتلونکی رمضان پورے نو بیا به صحیح وی ځـکـه چـه دا مـعـلـوم دے۔ او کـه داسے ووائـی چه د لوونو زمانے یا فصلونو ریبلو زمانے پورے نـو پـدے کښے اختلاف دے، بعضو جائز کړے او بعضو منع کړے مګر صحیح دا ده چه دا جائز دے، ځکه چه دا زمانه عرف کښے معلومه وی۔

**فائده** : شـوافـع وائی لکه څنګه چه سلم په نیټے سره صحیح دے نو فی الحال خو په طـریـقـه اولـیٰ سره صحیح کیدل پکار دی۔دویُ وائی : په حدیث کښے چه دا نیټه راغلے نـو ددے دا مطلب نۀ دے چه ګنې بغیر د نیټے نه سلم صحیح نۀ دے بلکه مطلب دا چه که پـه سـلـم کښے نیټـه وی نـو هـغـه به معلومه وی۔ دے دواړو خبرو کښے فرق دے۔ نو دے کښے نـفـی د فی الحال سلم کولو نشته۔ نو که یو تن داسے ووائی : ما تا سره په زر روپو بـانـدے سـلـم وکـړو پـدے شـرط چـه تۀ به ما ته لس شل کیلو غنم راکوے او نیټه ئے ذکر نکړه، او بیا ئے تۀ د ورځے په آخر کښے راوړے نو دا جائز ده۔

خـو جـمـهـور عـلـماء فرمائی : دا به سلم نۀ وی بلکه دا به د بیعے یو صورت وی۔ ځکه چـه سـلم د فائدے دپاره مشروع شوے او په نقد سلم کولو کښے (په نقده سودا وصولولو کښے ) فـائـده نۀ ښکاری، فائده خو په نیټے والا سلم کښے ښکاره کیږی۔ (فتح ذی الجلال والشوکانی فی النیل) راجح قول د جمهورو دے۔ ځکه چه دلته رسول اللهﷺ په سلم کښے

نیته ذکر کړیده۔

(**دریم شرط**) په کوم مجلس کښې چه دا سودا وشي نو په همغه مجلس کښې به (رأس المال) ورکول کیږي، که مجلس ختم شو نو دا عقد به باطل وي، او دا شرط د حدیث د [فَلْيُسْلِفْ] لفظ نه معلوم شوے ځکه ددے معنیٰ داده [فَلْيُعْطِ] (یعني رقم دِے ورکړي) ځکه ترڅو پورے چه في الحال رقم ورنهٔ کړے شي نو دیته سلم (پیشګي رقم ورکول) نهٔ وائي ځکه د سلم تعریف داسے شوے: [هُوَ الْبَيْعُ الَّذِيْ عُجِّلَ ثَمَنُهُ وَأُجِّلَ مُثْمَنُهُ] (دا هغه سودا ده چه پیسے په کښې مخکښې ورکړے شوی وي او سودا به روستو اخستل کیږي) نو چه پیسے مخکښې د عقد په مجلس کښې ورنهٔ کړے شي نو دیته سلم نهٔ وائي۔ بله دا چه: في الحال پیسے ورکول ځکه ضروري دي چه هسے نه دا د قبیلے د [بَيْعُ الْكَالِئِ بِالْكَالِئِ، يَعْنِيْ بَيْعُ الدَّيْنِ بِالدَّيْنِ] د قبیلے نه شي۔ حالانکه مخکښې تیر شو چه ددے نه منع راغلے۔ السیل الجرار الجرار (٤/١٥٨)

(**٤**) **شرط**: د سلم بدل به د هغه اجناسو نه نهٔ وي چه په هغے کښې نسیَه حرامه وي لکه ربوي شپږ شیان۔ مثلًا چا په کهجورو کښې سلم وکړو او د هغے عوض ئے هم کهجورے وګرځولے، مثلًا داسے ئے ورته وویل چه اُوس لس کیلو تازه کهجورے واخله او ماله به پنځه میاشتے پس چوارے راکړے نو دا کار سود دے۔ ځکه چه کهجوره په کهجوره خرڅولو کښې نسیه کول حرام دي۔ یا ئے اُوس سرهٔ زر ورکړل او میاشت پس ترے سپین زر وصولوي نو دا ناجائز ده۔

(٥) شرط: پدے کښې اختلاف دے چه کوم شي کښې ډیر تفاوت او فرق راځي آیا په هغے کښې سلم جائز دے؟ لکه علامه شوکانيؒ ددے مثال کښې حیوان، ملغلرے او جواهرات او غمي او څرمنے وغیره ذکر کړیدي۔

نو ډیرو اهل علمو وئیلي دي چه پدے څیزونو کښې سلم جائز نهٔ دے ځکه چه ددے صفت په ضبط او یقین سره نهٔ معلومیږي او حدیث کښې خو کیل معلوم او وزن معلوم لفظ راغلے دے۔ ځکه چه دے څیزونو کښې د قیمت په لحاظ ډیر فرق راځي، د بعضو قیمت یو دینار او دوه دیناره کیږي او د بعضو زر او دوه زره۔ نو دا د جګړو سبب جوړیږي، لهذا پدے کښې سلم جائز نهٔ دے۔

لیکن صحیح خبره دا ده چه حیوان کښې خو سلم بیخي جائز دے، لکه حدیث د ابو رافع ﷛ کښې دي چه نبي ﷺ یو اُوښ کښې سلم وکړو چه د یو تن نه ئې ځوان اُوښ واخستو او دا ئے ورته ووئيل چه کله د زکاة اُوښان راشي نو تا ته به ئې ادا کړو. بیا هرکله چه اُوښان راغلل نو نبي ﷺ ابورافع ﷛ ته وفرمایل چه دے سړی ته د خپل اُوښ بدل ادا کړه، ابو رافع ﷛ وائي : ما ددهٔ د اُوښ برابر نهٔ موندو مګر څلور غاښونو والا لوی اُوښ وو، ما نبي ﷺ ته خبر ورکړو هغهٔ وفرمایل : همدا ورله ورکړه ځکه چه غوره د خلکو نه هغه څوك دے چه هغه ادائیګی په ښه شان سره کوي. [رواه مسلم : ٤١٩٢].

دا ښکاره نص دے چه په حیوان کښې سلم جائز دے. او ددے په جواز باندے قول د شافعيؒ، او احمدؒ دے، او دا د ابن مسعود، ابن عباس او ابن عمر رضي الله عنهم، سعید بن المسیبؒ، حسن بصريؒ او شعبيؒ وغیره نه روایت شویدے. او پدے باره کښې ثوريؒ او احنافوؒ خلاف کړے. انظر المغني بالتفصیل : ٤/٣٤٠.

هرچه خرمنے دي نو په هغے کښې سلم جائز دے، ځکه چه هغه په صفاتو سره معلومیږي او معمولي اختلاف څه نقصان نهٔ ورکوي.

هرچه جواهرات دي نو په هغے کښې علم له اعتبار دے که په صفاتو سره معلومیدے شول نو جائز ده او که نهٔ وي نو سلم پکښې جائز نهٔ دے.

(۳) **فائده** : حدیث نه معلومه شوه چه په مُسلم فیه (سودا) کښې دا شرط نشته چه دا به في الحال د عقد په وخت موجوده وي، نو په ژمي کښې د اوړي په میوه یا غله کښې او په اوړي کښې د ژمي په میوه یا غله کښې سلم کول جائز دي. او دا موجودیدل ځکه ضروري نهٔ دي چه في الحال ئے بائع مشتري ته نهٔ سپاري بلکه چه کله نیټه راشي نو هله به ئے سپاري. نو د نیټے پوره کیدو په وخت ددے موجودیدل ضروري دي، نهٔ د عقد په وخت. او دلیل ئے دادے چه په دے حدیث کښې نبي کریم ﷺ د (مُسلم فیه) وجود ضروري نهٔ دے ګرځولے، که چرے دا شرط وے نو خامخا به ئے ذکر کړے وے او د کال دوه کالو پورے د سلم د نیټے کیښودلو نه به ئے منع فرمایلے وے، ځکه په دومره اوږده زمانه کښې د کال یا دوه کالو په مینځ کښې ددے شیانو د ختمیدو او بندیدو ښهٔ قوي امکان وي، ځکه میوے کال دوه کالو پورے نهٔ پاتے کیږي. البته کوم شے چه د نیټے راتلو په

وخت موجود نهٔ وي او ختم شوې وي نو بیا د هغې نیتېه کېښودل به جائز نهٔ وي۔ لکه یو تـن د رطب (لوندو کهجورو) نیتېه د مثال په توګه د شوال میاشت کیدي، (چه دا به ما ته د شوال په میاشت کښې سپارې) او هغه په دې میاشت کښې نهٔ وي بلکه د ژمي په مینځ کښې رارسي نو دا به صحیح نهٔ وي، ځکه مُسلم فیه د نیتې پوره کیدو په وخت موجود نـهٔ دې۔ دا د جمهـورو علماؤ قول دې، او همدا **صحیح** دې۔ د امام ابوحنیفهٔ په نیز په سودا کښې دا شـرط ...ې چه د عقد د وخت نه واخله تر نیتې پوره کیدو پورې به دا شې په بازار کښې موجود وي۔ [کما في بدائع الصنائع: ٥/٢١٣، البحر الرائق: ٦/١٧٦) وانظر المغني :٤/٣٣٢، ومغني المحتاج :٣/١٠].

خو دا شرط لګول د یو صحیح حدیث خلاف دي ځکه چه په هغې کښې ویل شوي:

د عبد الله بن ابي اوفی ﷺ پـه حدیث کښې دي: محمد بن ابي مُجالِدٖ وائي: ما عبد الله بن ابي اوفی ﷺ تـه وویـل: آیا د نبي کریم ﷺ ملګرو به د هغهٔ په زمانه کښې په غنمو کښې سلـم کـولـو؟ وې فـرمـایـل: مونږ به د شام والو تاجرانو سره په غنمو او وریشو او زیتـونـو کښې په معلومه پیمانه تر معلومې نیتې پورې بیع السلم کوله، ما ورته وویل: [إِلَى مَنْ كَانَ أَصْلُهُ عِنْدَهُ؟] آیا هغه چا سره به مو کوله چه ددې مال اصل به ورسره وو؟ عبد الله ﷺ وفرمایل: [مَا كُنَّا نَسْأَلُهُمْ عَنْ ذٰلِكَ] مـونږ به ترې دا تپوس نهٔ کولو۔ بیا ما د عبـد الرحمن بن ابزيٰ نه تپوس وکړو نو هغهٔ وفرمایل: كَانَ أَصْحَابُ النَّبِيِّ ﷺ يُسْلِفُونَ فِي عَهْدِ النَّبِيِّ ﷺ وَلَمْ نَسْأَلْهُمْ أَلَهُمْ حَرْثٌ (زرع) أَمْ لَا. د نبي کریم ﷺ صحابه کرامو به د نبي ﷺ پـه زمـانـه کښې سلف کولو او مونږ به د هغوی نه دا تپوس نهٔ کولو چه ددې خلکو فصل شته او که نهٔ؟۔ [البخاري:١/٢٩٩-٢٢٤٤-٢٢٤٥]

نـو دلتـه د (مسلـم فِيـهِ) یعنی ددې سودا کولو په وخت فصل موجودیدل ضروري نهٔ دي ګنړل شوي۔ که چرې دا ضروري وې نو بیا به دا سودا باطله وه۔

(٤) **فائده**: حـدیث نه معلومه شوه چه په سلم کښې د بائع دپاره دا ضروري نهٔ دي چه هغهٔ دپاره بـه فـصـل او کـرونـده وي او کـرکیـلـه بـه کـوي، بلکه سلم د زمیندار او غیر زمیـنـدار هـرچا سره او په هر هغه شئ کښې کول جائز دي چه د هغې صفت معلومیدې شي، ځکه بائع دپاره دا ممکنه ده چه د بازار نه ئې واخلي او مشتري ته ئې حواله کړي او خپـل قـرض ادا کـړي۔ امام بخاريٰ په دې داسې باب تړلې: [بَـابُ السَّـلَمِ إِلَى مَنْ لَيْسَ عِنْدَهُ

أَصْلٌ] يعنى كه يو سړى سره د غلې اصل (فصل او پټي) نشته يا ورسره د ميوې اصل (وُنه) نشته نو هم سلم كول صحيح دى.

(۵) فائده : خو كه يو تن په خپله ذمه غله يا ميوه اُومنله او په دې كښې ئې سلم وكړو او بيا چه كله نيټه پوره شوه او دغه شے ورسره موجود نۀ وو او يا په بازار كښې نۀ ملاويدۀ نو بيا به څۀ كوى؟ نو په دې صورت كښې به مشترى له په دوه خبرو كښې اختيار وى، يا خو دا چه د دغه شئ د موجوديدو پورې انتظار وكړى، او يا دِې خپل رقم واخلى او معامله دې ختمه كړى.والله تعالىٰ اعلم.

## قرض اخستل او د هغې په بدل كښې گانړه ايخودل جائز دى

2884 ( 2 ) - وَعَنْ عَائِشَةَ ﵂ قَالَتْ : اِشْتَرٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ طَعَامًا مِنْ يَهُوْدِيٍّ إِلٰى أَجَلٍ وَرَهَنَهُ دِرْعًا لَهُ مِنْ حَدِيْدٍ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

**ترجمه** : او عائشه ﵂ فرمائى : رسول الله ﷺ د يو يهودى نه تر يوې نيټې پورې طعام واخستۀ او هغۀ ته ئې د وسپنې خپله يوه زغره په گانړه كښې وركړه. (بخارىؒ ومسلمؒ).

**تشريح** : [مِنْ يَهُوْدِيٍّ] ددې يهودى نوم ابو الشحم وو، د بنو ظفر نه وو. او بنو ظفر د اَوس قبيلې يو شاخ دے، او دا يهودى د هغوى حليف وو. [طَعَامًا] د بخارى په يو بل روايت كښې دى چه دا طعام ديرش صاعه وربشې وې چه د خپل اهل دپاره ئې اخستے وې. لكه روستو راځى. او په روايت د احمدؒ كښې دى چه رسول الله ﷺ تر مرګه پورې هغه څه ونۀ موندل چه خپله دا زغره پرې راخلاصه كړى. ابن طلاعؒ په «الاقضية النبوية» كښې ذكر كړى چه بيا ابوبكر صديق ﷺ راخلاصه كړه. [دِرْعًا] ددې زغرې نوم ذات الفضول وو.

**فوائد او مسائل** : دا حديث په يو څو مسائلو او فوائدو باندې دلالت كوى : (۱) اول دا چه يو شے په قرضو باندې اخستل او ددې قرضو قيمت په بدله كښې يو شے رهن (گانړه) او گرو كيخودل او وركول جائز دى. او دا اتفاقى مسئله ده څكه دا د هغه شرعى عَقدونو نه دې چه په دې سره غرض د حقونو حفاظت كول دى، او كه قرض د راهن نه نۀ وصوليږى نو ددې نه خپل قرض وصولول دى. لكه دا مسئله به روستو راشى.

(۲) دويم دا چه د سفر نه علاوه په حضر (يعنى خپل ښار او كلى كښے) هم رهن اخستل جائز دى. اگركه قرآن كريم كښے د رهن اخستو اجازت سره ئے سفر قيد لګولے دے. لكه فرمائى: ﴿وَإِنْ كُنْتُمْ عَلَى سَفَرٍ وَلَمْ تَجِدُوا كَاتِبًا فَرِهَانٌ مَقْبُوضَةٌ﴾ [البقرة: ۲۸۳] كه تاسو په سفر كښے وئ او تاسو يو ليكونكے نۀ موندو نو (د اطمينان ذريعه) د رهن (ګانړے) شے به قبض كړے شى. نو اهل علم ليكى چه پدے آيت كښے د سفر قيد اتفاقى او واقعى دے، يعنى په عامه توګه په سفر كښے چه څوك معامله كوى نو كاتب او ليكونكے نۀ وى نو ځكه د ګانړے حكم وشو، او دا مطلب نۀ دے چه ګنے رهن او ګانړه كيښودل په سفر پورے خاص دى. يا داسے ووايه: چه په آيت كښے په سفر كښے د رهن مشروعيت ذكر دے، او په حديث كښے په حضر كښے ددے مشروعيت ذكر دے. نو رهن اخستل لكه څنګه چه په سفر كښے جائز دى نو دغه شان په حضر كښے هم جائز دى. او پدے باندے امام بخارىؒ باب ايخودے دے. [باب الرهن فى الحضر: ۱/۳٤۱]

(۳) رهن كښے يو څو څيزونه پيژندل ضرورى دى، يو راهن: يعنى ګانړه وركونكے او ايخودونكے. دويم مرتهن: يعنى ګانړه اخستونكے او ګروى نيونكے. دريم: رهن او رهان، او مرهونه. دا هغه مال او شى ته وائى چه د قرض په بدله كښے ئے بائع د مشترى نه اخلى. يعنى ګانړه كړے شوے مال او شے. په رهن كښے دا خبره ضرورى ده چه راهن دپاره خپل رهن د مرتهن نه اخستل نۀ دى جائز مګر هله چه هغۀ ته خپل ټول قرض ادا كړى البته كه مرتهن په خپله رضا باندے وركولو نو بيا ئے اخستل جائز دى.

(٤) دريم دا چه د اهل ذمهٔ سره (يعنى كوم اهل كتاب خلك چه په اسلامى سلطنت كښے د جزيه وركولو سره اُوسيږى) د هغوى سره معاملات كول جائز دى. او پدے خبره باندے د تمامو علماؤ اتفاق دے. چه د اهل ذمه او كفارو سره خريد وفرخت (اخستل خرڅولو) معامله كول جائز دى. دلته نبى كريم ﷺ ددے يهودى نه نۀ يريدو چه دے به دهوكه وكړى يا به اسلام ته ضرر وركړى.

(٥) او ددے نه بعض اهل علمو دا دليل نيولے چه كه كافر سره حرام مال هم موجود وى د هغۀ سره معاملات جائز دى، ځكه چه يهوديان خو سود خوارهٔ او حرام خوارهٔ دى، او د هغوى په مال كښے حلال هم شته نو د داسے قسمه خلكو سره معاملات جائز وى چه مال ئے ګډوډ وى. البته كه يقينى حرام ئے دركولو لكه شراب، خنزير يا بل د سود مال نو

بیا به ورسره معامله نکوی. لیکن په حربی کافرانو باندے د مسلمانانو وسلے یا جنګی سامان خرڅول جائز نهٔ دی. دغه شان مطلقاً په هیڅ کافر باندے داسے شے خرڅول جائز نهٔ دی چه د هغه د دین او مذهب د تقویت سبب جوړیږی.

(٦) او معلومه شوه چه په نیته باندے سودا کول جائز دی، کله چه یو طرفته نقد وی او بل طرف ته قرض لکه دلته طعام نقد وو او د هغے رقم قرض وو.

(۷) او د یهودیانو بے اعتمادی معلومه شوه چه د الله تعالیٰ د نبی په شان لوئی صادق نهٔ ئے هم رهن کیخودو.

(۸) دا هم معلومه شوه چه د اهل ذمه ؤ سره د مسلمانانو جنګی سامان ګرو (ګانړه) کول جائز دی. دارنګه کافر سره ئے دا معامله وکړه ځکه چه په هغه وخت کښے د حاجت او ضرورت نه زیاتی غله د یهودیانو نه علاوه د بل چا سره نهٔ وه. یا د بیان د جواز دپاره ئے داسے معامله کړے، یا یریدو که خپل ملګرو سره داسے معامله وکړی نو هغوی به ترے پیسے نهٔ اخلی. (تحفة الاحوذی)

(۹) امام نوویؒ فرمائی : دا حدیث د رسول الله ﷺ د غربت یو واضح مثال دے چه هغه سره د نبوت نه په دنیا کښے دومره غربت او دومره بے رغبته وو، او د استغناء او توکل علی الله یوه عظیمه نمونه وه.

(۱۰) او معلومه شوه چه نبوت د کاروکسب سره منافات نهٔ لری، نو دغه شان علم هم د کاروبار سره منافات نهٔ لری. نو پدے باره کښے د عوامو ذهن خطاء دے. (۱۱) او دے نه دا مسئله هم معلومه شوه چه که یو تن سره د قرض د ادا کولو څه نهٔ وو او هغه وفات شو نو هغه په هغه وعید کښے نهٔ داخلیږی کوم چه په حدیث کښے ذکر دے چه [نَفْسُ الْمُؤْمِنِ مُعَلَّقَةٌ بِدَيْنِهِ] د مؤمن نفس به د خپل قرض پورے زوړند وی. (الماوردیؒ) بعض وائی ددے نه انبیاء علیهم السلام مستثنیٰ دی. (مګر دا قول ضعیف دے) ظاهر دا ده چه دغه وعید د هغه چا په حق کښے دے چه د خپل قرض د ادا کولو عزم نهٔ لری، یا د قرض په ادا کولو قادر وی لیکن لَم لیت (ټال متول) کوی.

2885 (3) - وَعَنْهَا ؓ قَالَتْ : تُوُفِّيَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ وَدِرْعُهُ مَرْهُونَةٌ عِنْدَ يَهُودِيٍّ بِثَلَاثِيْنَ صَاعًا مِنْ شَعِيْرٍ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

**ترجمه** : او عائشه ؓ فرمایلی : رسول الله ﷺ وفات شو په داسے حال کښے چه د

هغهٔ زغره د یو یهودی سره د دیرشو صاعو وریشو په بدله کښې ګانړه وه۔ (بخاریؒ)

**تشریح :** په یو بل روایت کښې شل صاعه راغلی دی، نو کیدے شی چه اول کښې ئے شل اغستی وی او روستو ئے لس زیات کړی وی۔ حافظ وائی : د دیرشو نه کم وو نو چا عدد پوره کړے او چا کسر حذف کړے۔

دا طعام رسول الله ﷺ د خپل اهل دپاره د نفقې په طور اخستے وو۔ ورنه رسول الله ﷺ به ځانله مالونه نهٔ جمع کول۔

بیا پدے حدیث کښې باندے دا اشکال نهٔ کیږی چه رسول الله ﷺ خو به فوجونه لیږل او د هغوی دپاره به ئے تیاری کوله او د یو بادشاه حیثیت ئے لرلو چه الله تعالیٰ ورته ډیرے فتح راوستے وے، غنیمتونه به راتلل۔ نو هغهٔ څنګه دیرش صاعه وریشے نشی پیدا کولے ؟ نو ددے وجه نه ډیرو ظالمانو ددے صحیح حدیث نه انکار کړے او دا ئے وئیلی دی چه دا دروغ دی۔ صحیح دا ده چه دا د رسول الله ﷺ خپل زهد وو، چه هغهٔ به ځان سره څه نهٔ پریخودل او د هغهٔ عادت مبارك دا وو چه هغهٔ ته به کوم مالونه راغلل نو هغه به ئے په هغه وخت کښې په مسلمانانو او فقراؤ باندے تقسیمول او کله به ئے د خپل اهل دپاره د یو کال نفقه ساتله، مګر کله به پرے غربت راغلو نو بیا به ئے قرض اخستو۔

دے حدیث نه معلومیږی چه په مدینه کښې یهودی پاتے کیدل جائز وو ځکه چه نبی ﷺ دا یهودی او دغه شان نور یهودیان نهٔ دی شړلی، (یو د هغے نه هغه وو چه د یو یے جینیٔ سرئے چخنی کړے وو) بلکه رسول الله ﷺ وفات شو او د هغهٔ زغره د یهودی سره ګانړه وه۔ لیکن دا د نبی ﷺ ددے وینا نه د مخکښې زمانے واقعه ده چه فرمایل ئے وو : "زهٔ به یهودیان او نصاریٰ د جزیرة العرب نه اُویاسم تردے چه صرف مسلمان به پریدم"۔ لیکن نبی ﷺ پدے قول باندے د عمل کولو نه مخکښې وفات شو البته امت ته ئے وصیت وکړو چه تاسو یهود او نصاریٰ د جزیرة العرب نه اُویاسئ۔

## د رهن نه فائده اخستل جائز دی

2886 (4) – وَعَنْ أَبِی هُرَیْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : "اَلظَّهْرُ یُرْکَبُ بِنَفَقَتِهٖ إِذَا کَانَ مَرْهُوْنًا، وَلَبَنُ الدَّرِّ یُشْرَبُ بِنَفَقَتِهٖ إِذَا کَانَ مَرْهُوْنًا، وَعَلَی الَّذِیْ یَرْکَبُ وَیَشْرَبُ النَّفَقَةُ". رَوَاهُ الْبُخَارِیُّ.

**ترجمه** : ابو هریره ﷺ نه روایت دے، رسول الله ﷺ وفرمایل : ګانړه (ګرو) شوی څناور باندے به د خرچے او مصارفو په عوض سورلی کولے شی، او د پیو والا څاروی پئ به د هغۀ د خرچے په عوض څښلے شی هر کله چه ګانړه شوے وی، او په هغه سړی باندے چه سورلی کوی او پئ څښی، خرچه لازم ده۔ (بخاریؒ)۔

**تشریح** : [اَلظَّهرُ] ظهر ملا ته وائی، دلته مراد هغه حیوان دے چه سوریدو دپاره تیار وی لکه اوبن، اس، خر، قچر وغیره۔ [بِنَفَقَتِهِ] باء د مقابلے او عوض دپاره ده، یعنی د خرچے په عوض به په دے سورلی کولے شی۔ او د نفقے نه مراد بوس، بوتاوه، ګیاه، خروبه کول او سنبالول وغیره دی۔ [ وَلَبَنُ الدَّرِّ ] دَرّ یدرّ بهیدلو ته وائی، مصدر په معنیٰ د اسم فاعل سره دے [أَیُ: لَبَنُ الدَّارَةِ] او دارة د غولانزے او پیوو والا څاروی ته وائی یعنی پئ د هغه څاروی چه هغه د پیوو نه ډك وی۔ یا مضاف پټ دے۔ [لَبَنُ ذَاتِ الدَّرِّ] پئ د پیوو والا حیوان۔ [یُشْرَبُ بِنَفَقَتِهِ] دا به په دے باندے د کیدونکے خرچے په مقابله کښے څښکلے شی۔ یعنی مرتهن به ئے څښکی۔

**فوائد**: (۱) دا حدیث دلیل دے چه حیوان ګانړه کول جائز دی، او ددے نه دا راوځی چه هر هغه شے چه د هغے خرڅول او مملوك ګرځول جائز وی نو د هغے رهن او ګانړه جوړول هم جائز دی، ځکه د رهن نه مقصد د خپل قرض توثیق او مضبوطیا ده چه که د راهن نه دا ادا نۀ کړے شو نو مرتهن به د رهن نه خپل حق وصولوی۔ او دا وصولول په هر هغه شی کښے راتلے شی چه د هغے خرڅول جائز وی ځکه که خرڅول ئے جائز نشی نو بیا به مُرْتَهِن خپل حق څنګه وصولوی؟۔

(۲) او حدیث نه معلومه شوه چه څوك چا سره حیوان ګرو او ګانړه کیدی نو د مرتهن دپاره دا جائز دی چه په دغه حیوان باندے سورلی وکړی ځکه دا سورلی کول د هغه نفقے او خرچے په عوض کښے دی کومه نفقه چه مرتهن په دے حیوان باندے کوی۔ دارنګه که دغه حیوان د پیوو والا وی نو مرتهن دپاره جائز دی چه ددے نه پئ ولشی او ځان دپاره ئے استعمال کړی ځکه چه دا پئ د هغه خرچے او نفقے په بدل کښے دی کومه خرچه او نفقه چه مرتهن په دے حیوان باندے کوی، بوس بوتاوه ورکوی او ددے حفاظت کوی۔

او په [بِنَفَقَتِهِ] کښے چونکه باء د عوض دپاره ده، لهذا دا سورلی کول او پئ څښکل به د نفقے او خرچے مطابق وی، کم او زیات به نۀ وی۔ که خرچه زیاته کیدله او پئ ئے کم

کول نو مرتهن زیاتی خرچه د راهن (اصلي مالك) نه اخستے شي۔ دارنګه که خرچه کمه کیده او پئ زیات کیدل نو دا د راهن حق دے، مرتهن دپاره زیاتی اخستل جائز نهٔ دی۔ او د سورلئ کولو هم دا حکم دے۔ چه که په حیوان باندے سورلي په دۀ باندے د خرچے کولو نه زیاته وه نو دا به د راهن حق وی او ددے په اندازه به د هغهٔ نه قرض کمیږی۔ مثلاً : په اس باندے د ورځے خرچه پنځوس روپئ ده، او مرتهن ددے نه د سلو روپو سورلی اخلی، نو پنځوس روپئ د خرچے په عوض شوے او باقی پنځوس به د راهن حق وی، دا به د هغهٔ د قرض نه کمولے شي۔ او که خرچه زیاته کیده او نفع ترے کمه ملاویده نو زیاتی خرچه به په راهن پسے حسابولے شي۔ او دا هله چه کله مرتهن په تبرع او احسان سره خرچه نهٔ کوله، او دغه شان په پیوو کښے هم وواخله۔

❁ لیکن که مرهون حیوان داسے وی چه په هغے باندے عادةً سورلی نهٔ کیږی لکه ګډے بزے او غوایان، او یا د کمزورئ په وجه پرے سورلی نهٔ کیږی، او یا په کښے پئ نهٔ وی، نو مرتهن به په دے حیوان خرچه کوی او دا به په راهن پسے حسابوی، که چرے تبرع او احسان کول ئے غرض نهٔ وی۔

(٤) د سورلئ او پیوو په مقابله کښے د مرهونه (ګانړه شوی) حیوان نه نفع اخستل د شرعی قواعدو سره برابره خبره ده۔ ځکه که مرتهن د مرهونه حیوان نه نفع وانخلی، په هغهٔ سورلی ونهٔ کړی او د هغے پئ ونه لشی نو دا به ضائع او بیکاره لاړ شي۔ او که خپل مالك ته ئے حواله کوی نو بیا دهٔ د قرض توثیق ختمیږی او قرض ئے په خطره کښے پریوځی۔ او که هر وخت ددے نفع حاصلولو دپاره اصلی مالك راغواړی نو په دے کښے ډیر زیات مشقت او تکلیف دے خاصکر چه مسافت هم لرے وی، او که مرتهن د پیوو په خرڅولو او ددے د پیسو په ساتلو مکلف کړے شي نو دا هم هغهٔ ته ګرانیږی، دے وجے نه د عدل او قیاس او د راهن او مرتهن او د حیوانِ مرهونه د حقونو تقاضا داده چه مرتهن د خپلے خرچے په بدل کښے د سورلئ او پیوو نه پوره نفع واخلی، په دے کښے د دواړو مصلحت او هر چا ته پوره حق ورکول دی۔ [اعلام الموقعين: ٢/ ٤٢]

**اختلاف** : (١) قول دا دے چه مرتهن د رهن نه صرف د سورلئ او د پیوو نفع اخستے شي او که بل شے په ګانړه کښے کیخودے شو نو د هغے نه فائده اخستل به حرام وی۔ او دا د اصحاب الحدیثؒ، احمدؒ او اسحقؒ قول دے، او همدا صحیح قول دے۔ او دے قول

تـه امام بـخـاريؒ اشاره كړې او پدې ئے داسے باب ايخودے دے : [بَـابُ اَنَّ الرَّهْنَ مَرْكُوبٌ وَمَحْلُوبٌ] رهن باندے سورلي او د هغے نه د پيوو لشلو نفع اخستل جائز دي. او حديث كښے همدا دوه الفاظ ذكر دي.

(۲) د شافعيؒ، مالكؒ او ابـو حـنيـفـهؒ په نيز د مرهون حيوان نه نفع اخستل حرام او مـكـروه دي ځكه چه دا د اصلي مالك حق دے هغۀ ورته نۀ د نفقے كولو اجازه كړے او نۀ د نـفـع اخستـو. د دوئ دليـل : د ابـن عـمـرﷺ دا حـديـث دے، رسول الله ﷺ فـرمائـي : [لَايَحْلِبَنَّ أَحَدُكُم مَاشِيَةَ امْرِئٍ بِغَيْرِ إِذْنِهِ] [بخارى: ۲۴۳۵، مسلم : ۱۷۲۶] (په تاسو كښے ډے څوك د چا ګډه بزه د هغۀ د اجازت نه بغير نۀ لشي).

او پاتے شو حديث الباب نو دوئ وائي : دا حديث د قياس او اصولو خلاف دے.

(۳) **دريم** قـول دادے چـه كه راهن په مرهونه باندے خرچه نۀ كوله نو بيا به مرتهن په دے بـانـدے خـرچـه كـوي او ددے په عوض به ترے نفع اخلي. او دا د اوزاعيؒ، ليثؒ او ابو ثورؒ قول دے.

خو **صحيح** قـول اولنے دے. ځكه په دے باره كښے راغلے حديث بيخي واضح دے. او د دغـه دواړه شيانو (حلب او ركوب) حكم جدا ښودلے شوے. او مخكښے وويل شو چه دا د عـدل او انصاف تقاضا هم ده. او هرچه د ابن عمرﷺ حديث دے نو دا عام دے. او حديث البـاب خاص دے. او په عام او خاص دواړو به عمل كولے شي نو په عامو صورتونو كښے بـه د چا څاروی د هـغـۀ د اجازت نه بغير نشي لوشلے، او چه كله ئے چا پورے حق وي او هغۀ ورسره څيوان مرهون كړے وي نو بيا ورله ددے حديث د وجے اجازت شته دے.

او دا خبره كول چه دا حديث د **قياس** او اصولو خلاف دے، نو دا خبره درست نۀ ده ځكه صحيـح حـديـث په خپله قاعده او اصل وي. بلكه صحيح حديث هيڅ كله د صحيح قيـاس خـلاف نۀ وي. او دا صحيح قياس مخكښے مونږ د ابن قيمؒ په حواله ذكر كړو. او پاتے شو دريم قول، نو دا په حديث كښے د ځانه قيد لګول دي.

❁ خو دا ټول تفصيل هله دے چه كله راهن او مرتهن په يو معلوم شي باندے اتفاق نۀ وي كـړے. كـه چرے دوئ خپـلـو كښے پـه دے اتفاق وكړو چه راهن به په مرهونه باندے خرچـه كـوي او پيئ به اخلي نو په دے كښے څۀ باك نشته. اوكه دا اتفاق نۀ وي شوے نو بيا بـه اعتـمـادي خبره هغه وي كومه چه په دے حديث كښے ذكر شوے. او په دے كښے

عینِ مصلحت دے۔ واللہ تعالیٰ اعلم۔

نو دے نه دا مسئله راووته چه که یو تن چا نه موټر سائیکل یا سائیکل یا بل ګاړے په ګانړه کښیږے ونیسی نو د هغے نه به فائدے نهٔ اخلی، ځکه چه هغه تا نه خرچه نهٔ غواړی، بغیر د تیلو اچولو نه هم په یو ځائے کښے ولاړ وی۔ په خلاف د حیوان نه چه هغه مجبوراً خرچه غواړی۔ ځکه چه په دے حدیث کښ د فائدے اخستل ئے د حیوان پورے خاص کړیدیَ نو نور څیزونه به پدے باندے نشی قیاس کولے، لکه علامه شوکانیؒ دا قیاس کړے۔ دے باندے دلیل نشته۔ البته که مرتهن په راهن باندے دا شرط ولګولو چه زهٔ به ستا د ګانړے نه فائده اخلم، او هغهٔ ورته په خپله خوښه اجازه ورکړه نو ددے دوه صورتونه دی: (۱) یو دا چه د قرضو معامله وی یعنی یو تن بل ته قرض ورکړے وی او ددے په بدله کښے ترے مثلاً سائیکل نیولے وی نو پدے صورت کښے د اجازت باوجود به د سائیکل نه فائده نهٔ اخلی۔ ځکه چه دا په قرض باندے فائده اخستل دی او په قرضو کښے خو احسان مقصد وی نو په هغے باندے بدله راخکل سود حسابیږی۔

(۲) او دویم دا چه بیعه او شراء او اجاره وی لکه تا په یو تن باندے لس بوریٔ وریٔ خرڅ کړل او د اعتماد دپاره د هغهٔ نه سائیکل په ګانړه کښے ونیسے نو که د سائیکل مالك درته اجازه وکړه چه استعمالوه ئے نو بیا جائز ده۔ او دا قول د حسنؒ او ابن سیرینؒ او اسحاقؒ نه نقل دے۔

او پدے کښے د کورونو او مکانونو پیشګی نهٔ ده داخله، هغه حرامه ده۔ ځکه چه هغه د قرض صورت دے۔ نو که کرایه دار ورته اجازه هم ورکړی مالك دپاره د هغے رقم استعمالول حرام دی۔ ونحوه فی المغنی (۴۶۷/۴) (راجع القرطبی : ۳/).

**مسئله** : که د رهن په صورت کښے د رهن سره زیادت وشی نو هغه به د چا کیږی، د راهن او که د مرتهن؟ مثلاً که غوا یا اُوښه یا ګډه مرهونه وه او د هغے بچے پیدا شی؟ نو دے کښے اتفاقی خبره دا ده چه که زیادت د اصل سره متصل وی لکه غوا چاقه شی یا اُوړده شی نو دا به د خپل اصل تابع وی او د راهن به وی۔ کما فی الحاوی (۲۰۸/۶) والقوانین الفقهیة (ص : ۲۱۳) ځکه چه دا زیادت نهٔ جدا کیږی د رهن نه۔ نو دا عینِ رهن دے۔ او کوم زیادت چه د رهن نه جدا کیدل ممکن وی لکه د غوا بچے وغیره۔ نو دے کښے اختلاف دے۔ **راجح** دا ده چه دا به د راهن وی۔ او دا د شوافعوؒ او اهل ظاهروؒ قول

دي۔ د وجه د ډيرو دلائلو نه ۱- يو د هغې نه روستو حديث راځي چه د راهن دپاره غُنم دے نو په هغهٔ باندے به غُرم (تاوان) هم وي۔ مثلاً كه دا رهن د مرتهن سره هلاك شو نو په مرتهن ئے تاوان نشته ځكه چه دا امانت دے او امانت چه كله قصداً نهٔ وي ضائع شوے د هغې تاوان نهٔ وي۔ نو هركله چه په راهن باندے ددے تاوان راځي نو ددے رهن فائده به هم راهن ته راواپس كيږي۔

۲- دليل : حديث كښے دي : مسلمانان به په خپلو شرطونو باندے روان وي۔ او دلته بائع او مشتري دا شرط نهٔ دے لګولے چه زوائد به په رهن كښے داخل وي۔

۳- دليل : اصل دا ده چه زوائد په عقد كښے داخل نهٔ دي ځكه چه دا په وخت د عقد كښے موجود نهٔ وو۔ [الرهن في الشريعة الإسلامية، ص : ٤٨٣، المحلى (٦/٨٩، ٩٩) رقم (١٢٠٩) وأحكام الزيادة في غير العبادات :١/٢٦٣].

## مرهون شے د راهن د ملكيت نه نهٔ ووځي

## الفصل الثاني

2887( 5 ) - عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ : "**لَا يُغْلِقُ الرَّهْنُ الرَّهْنَ مِنْ صَاحِبِهِ الَّذِي رَهَنَهُ، لَهُ غُنْمُهُ، وَعَلَيْهِ غُرْمُهُ**". رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ مُرْسَلًا .

**ترجمه** : سعيد بن مسيبؒ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ وفرمايل : د يو شي ګانړه كول به مالك لره كوم چه هغه شے ګانړه كښے ايخودے دے، (د ملكيت نه) نهٔ بندوي (نهٔ منع كوي) (يعني د يو شي د ګانړه كولو په وجه د راهن ملكيت نهٔ ختميږي) (ځكه چه ددے فائده به د هغهٔ وي او ددے د تاوان ذمه وار به هغه وي۔ (شافعيؒ په طريقه د ارسال نقل كړے)

**تشريح**: [لَا يُغْلِقُ الرَّهْنُ] غَلِقَ يَغْلَقُ غُلُوقًا بنديدو ته او اغلاق بندولو ته وائي۔ د [رَهْن] نه مراد مرهونه (ګانړه شوے شے) دے۔ په يو بل روايت كښے داسے الفاظ دي : [لَا يُغْلَقُ الرَّهْنُ] (صيغه مجهول سره) يعني ګانړه شوے شے به د خپل اصلي مالك نه نشي ايسارولے۔

ليكن پدے روايت كښے دوه ځله (الرهن) لفظ راغلے نو اول الرهن مصدر دے، يعني ګانړه كيخودل۔ او دويم الرهن نه مراد مرهونه شے دے۔ يعني ګانړه كيخودل به ګانړه

شوي شے نۀ بندوی د خپل مالك نه۔ يعنی د ګانړه کيخودو مطلب به دا نۀ وی چه بس دا به مالك ته نشی واپس کولے۔

او ددے دوه صورته دی : (أ) اول دا چه مرتهن ګانړه شوے شے واخلی او په کرايه باندے ئے ورکړی او آمدنی ترے حاصلوی او خپل ځان دپاره ئے استعمالوی، نو دا کار جائز نۀ دے ځکه د مرهونے منافع د اصلی مالك دی لکه څنګه چه ددے تاوان هم دده دے۔

(ب) دويم صورت : د جاهليت والو طريقه داوه چه يوتن به د چا سره يو شے ګانړه کيښودۀ او بيا به د قرض نيټه پوره شوه او راهن به قرض ادا نۀ کړو نو مرهونه شے به د مرتهن شو او هغۀ به پرے قبضه واچوله او د ځان دپاره به ئے حلال ګڼړلو۔ نو شريعت ددے نه منع وکړه چه راهن نه به مرهونه د قرض په بدله کښے نشی ايسارولے بلکه مرهونه به بهر صورت د راهن وی نۀ د مرتهن۔ اګرکه راهن د قرض ادا کولو نه عاجز هم شی خو مرتهن د مرهونے مالك نۀ ګرځی، ځکه مرهونه خو د مرتهن سره يو امانت دے۔ [لَهُ غُنُمُهُ] غُنُم غنيمت ته وائی مراد دلته د مرهون شی زياتيدل، ميوه، نسل او آمدنی ده۔ يعنی که څوك چا سره حيوان ګانړه کړی او د هغے بچے وشی، يا ورسره وُنه ګانړه کړی او هغه ميوه وکړی، يا ورسره کور ګانړه کړی او هغه په کرايه ورکړے شی او داسے نور۔ نو دا هر څۀ به د راهن (اصلی مالك) وی نۀ د مرتهن۔

[وَعَلَيْهِ غُرْمُهُ] او دده (يعنی اصلی مالك) په ذمه به ددے تاوان وی۔ د غُرم نه مراد نقصان، هلاکت، نفقه وغيره ده۔ مثلًا : څوك چاسره يو شے ګانړه کيدی او هغه نيمګړے شی، يا تباه شی،يا پرے کور راپرېوځی او يا غلا کړے شی، نو دا تاوان به د راهن حسابيږی نۀ د مرتهن۔ خو په دے شرط چه مرتهن په دے کارونو کښے ظلم او زياتے نۀ وی کړے او نۀ دده په کوتاهئ سره دا کارونه شوی وی۔

**فوائد الحديث** : (١) حديث نه معلومه شوه چه څوك د قرض ادا کولو نه عاجزه شی نو مرتهن د مرهونه شی مالك نۀ ګرځی او نۀ مرهونه شے د راهن د ملکيت نه اُوځی۔ کله چه د قرض نيټه پوره شی نو په راهن واجب دی چه قرض ادا کړی او خپل مرهونه شے د مرتهن نه وصول کړی۔ ليکن که راهن قرض ادا نۀ کړے شو نو مرتهن ته به اجازه وکړی چه زما د رهن نه ئے وصول کړه او که ددے نه انکار وکړی نو حاکم او قاضی به مرهونه شے خرڅ کړی او ددے نه به د مرتهن حق ادا کړی، او باقی به راهن ته

حواله کړی، ځکه مرتهن ته د هغهٔ د حق ادا کولو دپاره همدا یواځینئ لاره ده۔ او پدے باندے همدا حدیث الباب دلیل دے۔

(۲) او معلومه شوه چه په مرهونه شئ کښے چه کوم زیادت، میوه او آمدنی حاصله شوے وی نو دا د راهن حق دے او راهن به په دے خرچه کوی او په مرتهن باندے هیڅ شے نشته۔ ځکه دا قاعده ده چه [اَلْغُنْمُ بِالْغُرْمِ] (گټه په تاوان ده)۔ دا شان که په مرهونه شئ کښے څهٔ نقصان او هلاکت راشی نو دا به د راهن حسابیږی او د مرتهن نه به هیڅ تاوان نشی اخستلے ځکه مرتهن امانت کیښودونکے دے او په امین باندے تاوان نهٔ وی په دے شرط چه د امانت په هلاکیدو کښے ددهٔ لاس نهٔ وی او نهٔ ئے په کښے کوتاهی کړے وی۔

(۳) **مسئله** : که راهن د مرتهن سره یو شے گانړه کړی او داسے ورته ووائی چه که ما ستا قرض ادا کړو نو داشے به ماته واپس کړے او که ادا مے نهٔ کړو نو دا مرهونه شے ستا شو۔ نو ددے څهٔ حکم دے ؟ نو بعض علماء فرمائی : دا کار جائز نهٔ دے، او دلیل ئے دا حدیث دے چه [لَایُغْلَقُ الرَّهْنُ مِنْ صَاحِبِهٖ] او ځینے نور علماء فرمائی چه دا کار جائز دے او که قرض ئے ورته ادا نهٔ کړو نو مرهونه شے به د مرتهن مملوك وگرځی۔ او دلیل ئے دا حدیث دے : [اَلْمُسْلِمُوْنَ عَلٰی شُرُوْطِهِمْ] او دا غلق نهٔ دے ځکه دا د راهن په اجازت او رضا سره شوے، او غلق دیته وائی چه د هغهٔ د رضا او اجازت نه بغیر وی۔ او دا د امام احمدؒ یو روایت هم دے، هغهٔ په خپله دا کار کړے وو چه د یو دکاندار نه ئے سودا واخسته او هغهٔ ته ئے په رهن کښے خپلے څپلئ ورکړے، او ورته ئے وویل : که ما ستا حق په فلانی وخت کښے ادا کړو نو ښه ده او که نهٔ وی نو دا څپلئ ستا شوے۔ [فتح ذی الجلال و الاکرام : ٤/٩٩]

(٤) ابوعبیدهؒ ددے حدیث معنیٰ داسے کړے : چه رهن به خپل مالك ته واپس کولے شی نو د هغے فائدے به د مالك حق وی او مرتهن به خپل حق د مالك (راهن) نه غواړی۔ حاصل دا چه د مرهونه شی نه چه کوم زیاتی فوائد حاصلیږی دا به د راهن وی او کله چه مرهونه شے د مرتهن په لاس کښے هلاك شو نو پدے سره د مرتهن هیڅ حق نهٔ ساقطیږی (بلکه مرتهن به د خپل حق مطالبه د راهن نه کوی او دا هلاك شوے شے به امانت وی او د امانت په هلاکت کښے ضمان نهٔ وی)۔

(٥) ددے حدیث او د مخکښے حدیث د ابو هریره ﷺ [اَلظَّهْرُ یُرْکَبُ بِنَفَقَتِهٖ] ترمینځ هیڅ تعارض نشته ځکه چه هغه خاص دے او دا حدیث الباب عام دے او د عام او د خاص

ترمینځ تعارض نۀ وی، په دواړو به عمل کولے شی، خاص د عام نه د مستثنیٰ په شان وی۔ نو حاصل دا شو چه منافع د رهن به راهن اخلی سوئ د سورلی او پیوو نه چه دے باندے مرتهن خرچه کوی نو دا حق د مرتهن دے۔ او دے کښے چه کوم علماؤ د نسخ خبره کړیده چه حدیث د ابو هریره ﷛ پدے حدیث د سعید بن المسیبؒ باندے منسوخ دے نو دا خبره ضعیفه ده۔ ځکه چه نسخے ته هله تلل کیدے شی چه تاریخ معلوم وی۔ بله دا چه تعارض وی او دلته د عام او د خاص ترمینځ تعارض نشته۔ لکه ددے خبرے څه اندازه تفصیل په مخکښے حدیث کښے وکړے شو۔ والله تعالیٰ اعلم۔

**درجة الحدیث** : [ضعیف مرفوعًا] دارقطنی: ۳۲/۳، حاکم: ۵۱/۲، بیهقی: ۳۹/۶، موارد الظمآن: ۱۱۲۳، ترتیب المسند للشافعی: ۱۶٤/۲ وللحدیث طرق کلها ضعیفة، الصواب انه مرسل سعید بن المسیب، مراسیل أبی داود: ۱۸۷. وضعفه الالبانی بجمیع طرقه فی الارواء الغلیل: [۲٤۳/۵ رقم: ۱٤۰۷] وقوله: [لَهُ غُنْمُهُ وَعَلَيْهِ غُرْمُهُ] مدرج من قول سعید بن المسیب، وسعید لم یعزه الی الرسول ﷺ۔

2888 (6) وَرُوِيَ مِثْلُهُ أَوْ مِثْلُ مَعْنَاهُ لَا يُخَالِفُ عَنْهُ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ مُتَّصِلًا .

**تشریح** : او هغه متصل روایت داسے دے: [لَا يُغْلَقُ الرَّهْنُ، لَهُ غُنْمُهُ وَعَلَيْهِ غُرْمُهُ]

[الدارقطنی: ۴۳۷/۳ والبیهقی: ۱۱۵۵۰] واسناده ضعیف.

## په شرعی حقوقو کښے به د پیمانے او وزن اعتبار؟

2889 ( 7 ) - وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ: "اَلْمِكْيَالُ مِكْيَالُ أَهْلِ الْمَدِينَةِ وَالْمِيزَانُ مِيزَانُ أَهْلِ مَكَّةَ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

**ترجمه** : او ابن عمر ﷛ نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ وفرمایل: پیمانه د مدینے والو معتبر ده او وزن د مکے والو معتبر دے۔ (ابوداودؒ، نسائیؒ)

**تشریح** : [اَیِ الْمِكْيَالُ الْمُعْتَبَرُ هُوَ مِكْيَالُ اَهْلِ الْمَدِيْنَةِ] یعنی په شرعی حقوق کښے معتبره پیمانه به د مدینے والو پیمانه وی۔ مطلب دا دے چه د شرعی حقوق مثلًا زکاة او عُشر او صدقة الفطر وغیره په لین دین کښے به په پیمانه کښے د مدینے والا پیمانے له اعتبار وی او په وزن کښے به د مکے والو وزن له اعتبار وی۔ نو د مدینے والو صاع پنځه رطله او ثُلث رِطل دے چه ددے نه تقریباً (دوه کیلو او دوه سوه گرامه) جوړیږی۔

دې نه معلومېږي چه د نبي ﷺ په زمانه کښې به د مکې او د مدينې په پيمانو او اوزانو کښې څه فرق او اختلاف وو۔ د مدينې د پيمانې او د وزن مقدار به بيل وو او د مکې د پيمانې او وزن مقدار به بيل۔ پدې وجه په شرعي حقوقو مثلًا زکاة او صدقة الفطر وغيره کښې به په ورکولو او اخستو کښې څه اختلاف او خلجان راتللو پدې وجه نبي ﷺ دا ارشاد وفرمايۀ۔ ګويا که حاصل دا راووتو چه مثلًا دراهمو کښې به زکاة په هغه وخت واجبېږي چه کله هغه د مکې د وزن مطابق دوه سوه درهمو ته ورسيږي او په صدقة الفطر او نورو واجبو صدقاتو کښې به د مدينې والو صاع معتبر وي۔

د مدينې د وزن په مقابله کښې د مکې د وزن او د مکې د پيمانې په مقابله کښې د مدينې پيمانې ته پدې وجه ترجيح ورکړې شوه چه په هغه زمانه کښې به هلته د غلې لين دين په پيمانې سره کيدو او مدينې والا چونکه زراعت (فصلونو) والا وو پدې وجه هغوی د پيمانې په باره کښې زيات واقفيت لرلو او د اوزانو استعمال چونکه په تجارت کښې زيات وي او د مکې والو پيشه تجارت وو پدې وجه هغوی په اوزانو باندې ډير خبر وو۔

**درجة الحديث** :[صحيح] ابوداود : ۳۳۴۲، والنسائي : ۲۵۲۰ ـ ارواء الغليل : ۱۳۴۲.

## په ناپ تول کښې کمي کونکو دپاره وعيد

2890 (8) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لِأَصْحَابِ الْكَيْلِ وَالْمِيْزَانِ : " **إِنَّكُمْ قَدْ وُلِّيتُمْ أَمْرَيْنِ هَلَكَتْ فِيهِمَا الْأُمَمُ السَّابِقَةُ قَبْلَكُمْ** ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

**ترجمه** : ابن عباس ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ پيمانې او وزن والو ته وفرمايل : يقيناً ستاسو په ذمه دوه کارونه حواله شويدي چه د هغې دواړو په باره کښې ستاسو نه مخکنې امتونه هلاك شويدي۔ (ترمذيؒ)

**تشريح** : [وُلِّيتُمْ] : په واو باندې پيش او لام باندې زير دې او مشدد دې، مجهول صيغه ده د تولية نه دې، په معنیٰ د واکدار جوړولو او کار حواله کولو سره دې، يعنی تاسو ته دوه کارونه حواله شويدي او تاسو د دوه کارونو واکدار شوي يئ چه د هغې د لحاظ نۀ ساتلو په وجه پخواني قومونه هلاك شويدي۔ پخوانو قومونو کښې بعض داسې تير شوي چه هغوی به کله د خلکو نه يو شے اخستو نو هغه به ئې پوره پوره ناپ او تول کولو ليکن کله چه به ئې چا ته يو شے ورکولو نو د هغې په ناپ او تول کښې به ئې

كمي كوله، ددې ناكاره صفت په وجه الله تعالىٰ په هغوی باندې عذاب نازل كړو او هغوی ئې تس نس او تباه كړل، لكه په داسې قومونو كښې د تولو نه مخكښې د شعيب عليه السلام قوم وو، پدې وجه دلته رسول الله ﷺ خپل امت بيدار كړل چه تاسو په ناپ او تول كښې د كمي كولو نه پوره ځان وساتئ چه چرته تاسو د پخوانو په شان هلاك نشئ او د الله تعالىٰ لعنت او غضب دربانديې نازل نشي۔

**درجة الحديث** : [ضعيف، حسين بن قيس متروك] الترمذي : ۱۲۶۱، وقال : وقد روى هذا باسناد صحيح عن ابن عباس رضي الله عنه موقوفاً۔

## په بيع سلم كښې سودا د قبض كولو نه مخكښې خرڅولو ممانعت

### الفصل الثالث

2891 ( 9 ) - عَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : " **مَنْ أَسْلَفَ فِيْ شَيْءٍ فَلَا يَصْرِفْهُ إِلٰى غَيْرِهٖ قَبْلَ أَنْ يَّقْبِضَهُ** ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ

**ترجمه** : ابو سعيد خدري رضي الله عنه فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چه په يو شي كښې سلم وكړونو هغه دې ئې بل چا ته نۀ اړوی (نۀ منتقل كوی) تردې چه هغه قبض كړي۔ (ابوداوّد، ابن ماجهٓ)

**تشريح** : [فَلَا يَصْرِفْهُ إِلٰى غَيْرِهٖ] بل چا ته دې ئې نۀ نقل كوی۔ ددې مطلب دا دې چه ترڅو هغه شے ئې په خپله قبضه كښې رانشي تر هغه وخته پورې به ئې په بل چا باندې نۀ خرڅوی او نۀ به ئې هبه كوی۔ يا مطلب دا دې چه دغه شے به په بل شي باندې نۀ بدلوی، يعني د كوم شي چه بيع سلم شوی وی نو د معاملې مطابق دې هغه واخلي، د قبض كولو نه مخكښې دې د هغې په بدله كښې بل شے نۀ اخلي۔ البته كه قبض ئې كړی نو بيا ئې په بل شي سره بدلول جائز دی۔ لكه مثلًا د قبض كولو نه مخكښې د غنمو په ځائے ترې وريژې اخلي نو دا كار صحيح نۀ دې۔ يا په غنمو سلم شوې وی بيا ورته داسې ووائي چه زۀ غنم نۀ اخلم بلكه ددې په بدله كښې ما ته وريشې وغيره راكړه۔ او دواړه پدې خبره راضي شي نو بيا هم دلته دا د قبض كولو نه مخكښې بدلول صحيح نۀ دی۔ او دا مذهب د جمهورو دې۔ او دا حديث ئې دليل دې۔ ځكه چه دلته دۀ خپل دين (قرض) د قبض نه مخكښې خرڅ كړو۔ او مالكيهٓ وائي چه دا صورت جائز دې خو په شرطونو

سره۔ یو دا چه دا بدل به په دغه مجلس د عقد کښې وی۔ روستو به نهٔ وی۔ دویم دا چه مسلم فیه (کوم شی کښې چه سلم شوے وی هغه) به طعام نهٔ وی۔ دریم: بدل او د کوم شی چه بدل ورکولے شی دواړه به ربوی څیزونه نهٔ وی چه د هغې په عوض اخستو کښې ربا النسیئه مرتب کیږی۔ لکه غنم او کهجورے وغیره۔ کما فی البیوع الشائعة، ص: ۱۵۵.

او حافظ ابن قیمؒ په خپل کتاب [تهذیب السنن: ۹/۲۰۴] کښې ددے صورت مطلقاً جواز غوره کړیدے او ډیر تفصیل سره ئے دا مسئله لیکلے ده، د جواز دلائل ئے ذکر کړی او بیا ئے د جمهورو ددے دلیل نه جواب ورکړے۔ هغه فرمائی:

ثَبَتَ عَنِ ابُنِ عَبَّاسٍ ﷺ اَنَّهُ قَالَ: (إِذَا أَسُلَفُتَ فِيُ شَيُءٍ إِلى أَجَلٍ فَإِنُ أَخَذُتَ مَا أَسُلَفُتَ فِيُهِ وَإِلَّا فَخُذُ عِوَضًا أَنُقَصَ مِنُهُ وَلَاتَرُبَحُ مَرَّتَيُنِ) رَوَاهُ ابُنُ الْمُنُذِرِ.

ابن عباس ﷺ فرمائی: کله چه تا په یو شی کښې یوے نیټے پورے سلم وکړو او هغه شے ملاویدو کوم کښې چه تا سلم کړے وو نو هغه واخله یا د هغې په بدله کښې بل شے واخله خو چه د هغې نه په مرتبه کښې کم وی او دوه ځل ګټه مه کوه۔ نو دا د صحابی قول دے او دا حجت دے کله چه ددے مخالف نهٔ وی موجود۔

**۲- دلیل:** دارنګه د ابن عمر ﷺ نه نقل دی چه زهٔ نبی ﷺ ته راغلم ورته مے عرض وکړو: زهٔ په بقیع کښې اُوښان خرڅوم په دینار سره بیا د هغې په بدله کښې دراهم اخلم، او په دراهمو سره ئے خرڅوم بیا د هغې په بدله کښې دنانیر اخلم نو نبی ﷺ وفرمایل: هیڅ باك نشته کله چه تهٔ دا د نن ورځې په نرخ سره واخلې او ستاسو مجلس د عقد یو وی۔ (یعنی دواړه په نقدو سره وی) تقدم قریباً۔ نو دلته وګوره ثمن خرڅ شو په هغه چا باندے چه د هغهٔ په ذمه کښې ثمن دے د قبض نه مخکښې، او دا صورت بعینه د دین السلم هم دے، چه دلته د سلم قرض د قبض نه مخکښې خرڅیږی او ددے په بدل کښې بل شے اخستے کیږی۔

او د جمهورو د دلیل نه جواب دا دے چه دا روایت ضعیف دے ځکه چه پدے کښې عطیة العوفی دے او هغه ضعیف دے۔

یا ددے مطلب دا دے چه مُسَلم فِیهِ به په بل سلم باندے نهٔ بدلوی۔ یا دا چه په یو معین مؤجل شی باندے ئے ورخرڅ کړی په نیټه، نو بیا دا جائز نهٔ ده ځکه چه دا پدے وخت کښې قرض په قرضو خرڅول دی۔ او که چرته په حاضر عوض باندے په غیر د ګټے نه

خرڅ کړي نو دے کښې هيڅ بديت نشته لکه چه نبي ﷺ په حديث د ابن عمر ؓ کښې اجازه ورکړه۔

او کوم حديث کښې چه د قبض کولو نه مخکښې د طعام خرڅولو نه منع راغلې ده نو هغه په هغه صورت کښې چه طعام معين وي، يا هغه چه د هغې ادا کول لازم وي په پيمانه او وزن سره او هرچه هغه طعام دے چه په ذمه باندے لازم وي نو د هغې په بدله کښې بل شے اخستل داسے دي لکه چه عين هغه شے اخستل او ددے فائده دا ده چه د هغه شخص د ذمے نه پردے حق ساقطيږي او داسے نۀ چه هغه دپاره ملکيت ثابتيږي۔

دارنګه د قبض کولو نه مخکښې د طعام خرڅولو نه منع په هغه وخت ده چه د بائع نه علاوه په بل چا باندے ئے خرڅوي او هرکله ئے چه بيرته په بائع باندے خرڅوي نو پدے کښې مشهور دوه قوله دي، انتهیٰ ما قال ابن القيمؒ۔ دارنګه بائع باندے خرڅول د اقالې سره مشابه دي او اقاله قبل القبض صحيح ده۔ بيا ئے نور دلائل ذکر کړي۔

دويم **صورت** : يو تن چا ته د سلم پيسے ورکړي بيا ورسره د سلم دا عقد په اقاله وغيره سره فسخ کړي او بيرته ترے خپل رقم اخلي نو ددے رقم په بدله کښې ددے د جنس نه علاوه بل شے اخستل جائز دي او که نۀ؟ دے کښې د اهل علمو دوه قوله دي۔

**راجح** دا ده چه ددے عوض اخستے شي او دا قول قاضي ابو يعلیٰؒ او شيخ الاسلام ابن تيميةؒ غوره کړے او دا مذهب د شافعيؒ دے او همدا صحيح دے۔ ځکه چه دا عوض په ذمه باندے لازم دے نو ددے په بدله کښې بل شے اخستل جائز دي لکه د عامو قرضونو په شان چه مثلاً ستا چا پورے سل روپۍ قرض دي، بيا د وخت د پوره کيدو په وخت کښې د هغۀ نه د سلو روپو په بدله کښې کتاب يا توپۍ وغيره واخلې نو دا جائز ده۔

**درجة الحديث** : [ضعيف] ابوداود : ٣٤٦٨، مختصرا وابن ماجه : ٢٢٨٣، باختلاف يسير۔
في اسناده : عطية العوفي لا يحتج به.

ooo

# ۸- باب الاحتکار

د ذخیره اندوزئ (د حرمت) بیان۔

احتکار په لغت کښې د حَکر نه دے جمع کولو او (حبس) ایسارولو ته وائی۔ او د فقهاؤ په اصطلاح کښې: خوراکی مواد (غله) د ګرانیدو په طمع بندول او ذخیره کول۔ او یا کومو مبیعو او منافعو ته چه د خلکو حاجت وی هغه ددے دپاره ساتل چه د هغے نرخ وخیژی او یا هغه په بازار کښې ختم او نایاب شی بیا به ئے بازار ته راوباسی او ډیره ګټه به پکښې وکړی۔ دا دویم تعریف بهتر دے ځکه دا د اولنی تعریف نه عام دے، اولنے صرف خوراکی موادو ته شامل دے، او دویم هر هغه شیانو ته شامل دے چه هغه انسان په بازار کښې اخلی یائے ژمکه راتو کوی او یائے حیوان زیګوی او یائے کارخانه پیدا کوی۔

## حرامه او جائزه ذخیره اندوزئ کښې فرق

**حرامه** ذخیره اندوزی داده چه: یو تن غله واخلی او هغه وساتی، نۀئے خرڅوی، په دے انتظار چه نرخ زیات شی، حالانکه عوامو ته ددے سخت ضرورت وی، او ذخیره کونکے ددے نه مستغنی او بے پرواه وی۔ [فتح الباری: ۵/۸۱]

نو دا څو قیدونه شو۔ غله اخستل۔ د ګرانئ پورے نۀ خرڅول۔ خلکو ته تکلیف ورکول۔ ددے نه معلومه شوه چه هره ذخیره حرامه نۀ ده۔

مثلًا: یوتن د خپل ځان او د خپل بال بچ دپاره دکال خرچه ذخیره کوی۔ نو دا په ممنوع احتکار کښې نۀ داخلیږی۔

احتکار کښې مطلق ذخیره اندوزی نۀ ده داخله ځکه چه کاروباری څیزونه ساتل او بیا د ریټ ختلو په زمانه کښې خرڅول خو تجارت دے۔ لکه مثلًا یو تن د غلے وغیره د ارزانئ په وخت هغه ستاك (ذخیره) کړی او بیا ئے د ریټ زیاتیدو په وخت بازار ته راوباسی نو دا هم په ممنوع احتکار کښې نۀ دی داخل، بلکه دا عوامو سره احسان او

ښيګړه كول دي، ځكه كله چه څوك يو شے ذخيره كوي نو د بهر نه منډيانو ته دغه شے په زيات مقدار كښے راځي او عوامو ته في الحال فائده هم وي۔ دارنګه كله ئے چه د ګرانئ په وخت بيا بازار ته راوباسي نو عوامو ته دا بله فائده شوه۔ دے وجے نه حرامه ذخيره اندوزي دا ده چه يو شئ ته د عوامو سخت ضرورت دے او تاجر دا واخلي او ذخيره ئے كړي، دے دپاره چه دا نور هم ګران شي او بيا ئے خرڅ كړي۔

يا يو انسان د خپلے زمكے نه پيدا شوے غله ځانله ساتي د خپل خوراك دپاره، تجارت ئے غرض نۀ وي نو دا ناروا نۀ ده او دا په احتكار كښے نۀ داخليږي۔

**د احتكار حكم**: په اسلامي نظر سره احتكار يو حرام كار دے او ذخيره اندوزي كونكے شخص په شريعت كښے ډير ناكاره انسان ګڼړلے شوے۔

## ذخيره اندوزي كونكے ګناهګار دے

## الفصل الأول

2892 (1) عَنْ مَعْمَرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: "**مَنِ احْتَكَرَ فَهُوَ خَاطِئٌ**". رَوَاهُ مُسْلِمٌ، وَسَنَذْكُرُ حَدِيْثَ عُمَرَ ﷺ "**كَانَتْ أَمْوَالُ بَنِي النَّضِيْرِ**" فِيْ بَابِ الْفَيْءِ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى

**ترجمه**: معمر بن عبد الله ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چه ذخيره اندوزي (او ساتل) وكړل نو هغه ګنهګار دے۔ (مسلمؒ)۔ او زر دے چه مونږ به حديث د عمر ﷺ ذكر كړو (چه په هغے كښے دي:) وو مالونه د بنو نضيرو) په باب الفيء كښے ان شاء الله۔

**تعارف د معمر بن عبد الله ﷺ**: بن نافع بن نضله بن حرثان العدوي، دا ابن ابي معمر دے۔ د لوئے مرتبے خاوند او قديم الاسلام صحابي دے۔ د حبشے او د مدينے په هجرت كښے ترے څۀ تاخير وشو، خو بيا هم مدينے ته ئے هجرت وكړو او هلته وسيدۀ۔

**تشريح**: [اِحْتَكَرَ] يعني چا چه ساتنه وكړه او ذخيره اندوزي ئے وكړه۔

[خَاطِئٌ]: ګنهګار ته او مخطئ خطا كيدونكي ته وائي۔ يعني حق ته نۀ رسيدونكے۔

**فوائد**: (۱) حديث نه معلومه شوه چه ذخيره اندوزي حرامه ده او كونكے ئے ګنهګار

دے چه ددے نه توبه اُوبنکل واجب دی۔ ابو امامه ﷺ فرمائی : [نَهٰی رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ أَنْ يُّحْتَكَرَ الطَّعَامُ] (نبی ﷺ د خوراکی موادو ذخیره کولو نه منع فرمائیلے) [ابن أبی شیبة : ٤٧/٥، حاکم : ١١/٢، بیهقی: ٥٤٢/٧، وسنده صحیح]

ددے نهی **حکمت** دادے چه په دے سره چه کوم ضرر او تکلیف عامو خلکو ته رسی هغه د هغوئ نه لرے شی ځکه په ذخیره اندوزئ کښے خلکو ته تکلیف او تنګی او دوئ په حرج کښے اچول وی او په دے کښے مسلمانانو سره خرابه معامله کول وی۔

(۲) په عامو حدیثونو کښے په ذخیره اندوزئ کښے موده نهٔ ده ښودل شوے بلکه د ضرورت په وخت لږه موده یو شے ساتل یا ډیره موده، بهر صورت ناجائز دی۔ البته په روستو حدیث د ابن عمر ﷺ کښے څلویښت شپے راغلی :

[مَنِ احْتَكَرَ طَعَامًا أَرْبَعِيْنَ لَيْلَةً فَقَدْ بَرِئَ مِنَ اللّٰهِ تَعَالٰى وَبَرِئَ اللّٰهُ تَعَالٰى مِنْهُ]

[أحمد : ٤٨٨٠، اسناده صحیح]

(چاچه څلویښت ورځے خوراکی مواد ذخیره کړل نو دے د الله تعالیٰ نه او الله تعالیٰ ددهٔ نه بیزاره شو)۔

۱ : **مسئله** : احتکار صرف په طعام کښے منع دے اوکه په هر یو شئ کښے ؟

(**اول قول**) احتکار په هر څهٔ کښے حرام دے، خوراك، لباس او تولو هغه اشیاؤ ته شامل دے چه د هغے په بندولو سره خلکو ته تکلیف رسی۔ دا د مالكؒ، ثوریؒ، ابو یوسفؒ او ابن حزمؒ قول دے، صنعانیؒ او شوکانیؒ دیته ترجیح ورکړے۔ د عصرِ حاضر د اقتصاد ماهرینو رائے هم ددے سره موافق ده۔ **دلیل** ئے دادے چه حدیث الباب مطلق دے، هر شئ ته شامل دے۔ (**قول ثانی**) احتکار صرف په خوراکی موادو کښے منع دے، که هغه د انسانانو خوراکی مواد وی اوکه د حیواناتو بوس بوتاوه وی لکه وربشے، غنم، بوس وغیره۔ او دا د احنافو او شوافعوؒ قول دے۔ بعضِ شوافعو په دے کښے غوښه او میوے هم شاملے کړی۔ د دوئ دلیل (أ) د ابن عمر ﷺ مخکښے حدیث دے چه ((رسول الله ﷺ د طعام ذخیره کولو نه منع فرمایلے)) او طعام د انسانانو او ځاروو دواړو خوراکونو ته شامل دے۔نو ددے تخصیص نه معلومه شوه چه د طعام نه سوئ نور شیان ذخیره کول منع نهٔ دی۔ (ب) بله داچه د خوراکی موادو نه علاوه د نورو شیانو په ذخیره کولو کښے غالبًا ضرر نشته ځکه هغے ته د عامو خلکو حاجت نشته۔ نو د هغے احتکار به

جائز وی۔ (**قول ثالث**) احتکار صرف د انسانانو په خوراکی مروادو کښې منع دے، او دا د حنابلو په نیز صحیح قول دے، او دا د سعید بن المسیبؒ رائے ده۔ (أ) دلیل ئے د ابن عمرؓ دغه مخکښے حدیث دے چه په دے کښې د ((طعام)) لفظ راغلے، او طعام د انسانانو خوراکی مادے ته وائی، نو ددے تخصیص نه معلومیږی چه د طعام نه علاوه د نورو شیانو احتکار منع نهٔ دے۔ (ب) د حدیث الباب په آخری الفاظو کښې راغلی: (سعید بن المسیبؒ ته وویل شو: تهٔ ولے احتکار کوے! هغهٔ وویل: ددے حدیث بیانونکی معمر به احتکار کولو۔ امام ابوداودؒ فرمائی: سعیدؒ به زړی، پانړے او تخمونه ذخیره کول) [أبوداود: ۳٤٤۸]

(ج) د انسانانو د خوراکی موادو نه سوئ نورو شیانو ته د خلکو عام حاجت نهٔ وی نو دا د جامو او حیواناتو سره مشابه شو چه ددے ذخیره کول جائز دی۔

**راجح قول**: اولنے قول معلومیږی چه احتکار طعام او تولو هغه سامانونو ته شامل دے چه هغے ته د خلکو ضرورت وی۔ او وجه د ترجیح داده چه یو خو حدیث الباب عام دے۔ دویم: د احتکار د ممانعت چه کومه وجه او علت دے نو د هغے سره عموم مناسب دے، ځکه د خلکو یواځے خوراك ته حاجت نهٔ وی بلکه لباسونو او دوایانو اونورو ډیرو شیانو ته ئے حاجت وی۔ پاتے شو هغه حدیثونه چه په هغے کښې د طعام تذکره راغلے نو دا یو فرد دے د افرادو د هغه شیانو نه چه په هغے کښې احتکار کیږی، په دے کښې غرض تخصیص نهٔ دے بلکه تنصیص علی بعض افراد العام دے۔ او په دے باب کښې په مطلق او مقید دواړو باندے عمل کول ممکن دی نو ددے دواړو حکم به یو وی۔ او دا خبره کول چه د خوراکی موادو نه سوئ د نورو شیانو په احتکار کښې غالبًا ضرر نشته نو دا درست نهٔ ده ځکه د انسانانو لکه څنګه چه خوراك ته ضرورت دے نو دغسے ددے نه سوئ نورو ډیرو شیانو ته ئے هم ضرورت دے چه ددے په بندولو سره دوئ ته تکلیف ملاویږی۔ او هرچه د معمرؓ او د سعید بن المسیبؒ احتکار کول دی، نو امام بیهقیؒ وغیره فرمائی: چه دا په داسے احتکار باندے حمل دے چه په دے کښې ضرر نهٔ وو او دا حرام نهٔ دے، لکه مخکښې تیر شو چه د فراخئ او ارزانئ په زمانه کښې یو شے ستاك کول او بیا د سختئ په زمانه کښې هغه راویستل ممنوع احتکار نهٔ دے بلکه دا خو خلکو سره احسان او ښیګړه کول دی، او ددے مخکښې دوه وجے تیرے شوے۔ دا ځکه

وایو چه دا کله کیدے شی چه د سعیدؒ غونته علم او فضل والا بزرګ انسان دِے د نبی کریم ﷺ نه یو حدیث روایت کوی او بیا دِے د هغے خلاف کوی ! او بیا لا معمر صحابی ﷺ !۔ بلکه دا چه یو صحابی ﷺ چه یو حدیث روایت کړی او بیا د هغهٔ نه د هغے خلاف رائے نقل شی، نو مونږ به د هغهٔ روایت له اعتبار ورکوو، نهٔ د هغهٔ رائے لره، ځکه ممکنه ده چه د هغهٔ نه روایت هیر شوے وی، او یا هغهٔ اجتهاد کړے وی چه د خطا کیدو په صورت کښے هم ورته یو ثواب ملاویږی، دے وجے نه یقینی حدیث به د هغهٔ د احتمالی رائے دپاره نشی پریخودلے۔

۲ : **مسئله** : څوك چه د خپل پټی غله یا د ښاروو بچی یا د کارخانے مصنوعات ستماك وساتی نو د جمهورو علماؤ په نیز دیته ممنوع احتکار نهٔ وائی۔ ځکه دا ددهٔ خاص حق دے چه دے پورے د عامو خلکو حق متعلق نهٔ دے، لکه څنګه چه په دهٔ باندے فصل کرل ضروری نهٔ دی نو دغسے د هغے خرخول ورله هم ضروری نهٔ دی۔ او د بعض احنافو په نیز دا هم په ممنوع احتکار کښے داخلیږی۔ ځکه ددے په بندولو کښے ضرر دے۔ ظاهره داده چه په دے باره کښے د عوامو ضرر او تکلیف او اقتصادی وضع ته کتل پکار دی۔ که دوئ ته په دے کار سره تکلیف او ضرر وو نو دا به احتکار وی۔ د عصر حاضر د اقتصادی ماهرینو وینا ده : که انسان شخصی فصل لری یا ئے دومره حیوانات پاللی وی چه هغه عامو خلکو ته نهٔ رسی بلکه په کمه اندازه کښے وی، نو بیا دا په احتکار کښے نهٔ داخلیږی، او که په دومره لویه پیمانه باندے ئے ښاروی ساتلی وی یا د کارخانے انتاج او پیداوارئے دومره زیات وی چه که دا بند کړی نو خلکو ته ضرر رسی نو بیا ددے بندول به په ممنوع احتکار کښے داخلیږی۔ والله تعالیٰ اعلم۔

[أحکام السوق فی الاسلام، ص: ٣٤٦]

۳- دا ممنوع احتکار عام دے، که یو تن ئے کوی او که ډیر کسان راجمع شی او یو شے ګران کړی ټولو ته شامل دے۔ لکه مثلاً نانبائیان او قصابان اتفاق وکړی چه پدے بازار کښے به مثلاً پدے معین نرخ باندے روټئ یا غوښه خرخوو مثلاً په دولس روپئ روټئ او په (٤٠٠) غوښه حال دا چه که دوئ ئے په لس روپئ او په (۳٦۰) خرخوی پدے کښے هم ګټه وی او د دوئ دا ریټ د نورو بازارونو د ریټ نه زیات وی نو دا هم په ممنوع احتکار کښے داخلیږی۔ دغه شان دواخانو والا دوائیانے د خپلے من مانئ مطابق په ډیر

ګران زيات بانديے خرخوي نو دا ناروا كار دے. د بازار صدر او مسئول له پكار دي چه داسے خلك ددے كار نه منع كړي. (ابن عثيمينؒ : فتح ذى الجلال ٣/٥٩٦)

**فائده** : حديث نه ثابته شوه چه مسلمانانو دپاره خير خواهي كول لازم دي، او احتكار د خير خواهۍ خلاف دے.

## ذخيره اندوزى كونكے لعنتي دے

## الفصل الثاني

2893 (2) عَنْ عُمَرَ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ : " **اَلْجَالِبُ مَرْزُوْقٌ وَالْمُحْتَكِرُ مَلْعُوْنٌ** ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجه وَالدَّارِمِيُّ

**ترجمه** : عمر ﷺ د نبي كريم ﷺ نه روايت كوي چه هغۀ وفرمايل : تاجر ته رزق وركولے كيږي او احتكار كونكے لعنتي دے. (ابن ماجهؒ، دارمیؒ)

**تشريح** : يعنى كوم كس چه د ښار نه بهر وي او ښار ته غله وغيره راوړي چه هغه په موجوده او رائج نرخ بانديے خرخ كړي او د ګرانۍ په نيت سره د هغے ذخيره اندوزى ونكړي نو د الله تعالىٰ د طرف نه دۀ ته رزق وركړے كيږي يعنى دۀ ته به بغير د ګناه نه فائده حاصليږي، او ددۀ په رزق كښے به بركت راځي. ځكه چه دۀ په خلكو بانديے فراخي راوسته. ددے په خلاف څوك چه د الله تعالىٰ د بندګانو د پريشانيو او د هغوى د غذائي قلت نه فائده اخلي او غله وغيره په ناجائزه طريقه ذخيره كوي نو دے ګناهګار دے. او د خير او ښيګړے نه وړاندے دے او ترڅو چه دے په لعنت بانديے اخته وي نو دۀ ته پدے كښے بركت نۀ حاصليږي.

**درجة الحديث** : [ضعيف] ابن ماجه : ٢١٥٣، السنن الكبرى للبيهقى : ١١٤٨٢، الدارمى : ٢٥٤٤، فى اسناده على بن سالم قال البخارى : لا يتابع على حديثه، وقال المناوى : مجهول. انتهىٰ. وعلى بن جدعان ضعيف، البدر المنير لابن الملقن : ٦/٥٠٥]، فتح البارى : ٤/٤٠٨] .

## حاكم به د خپل طرف نه ريټونه نۀ مقرروي

2894 (3) وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ﷺ قَالَ : غَلَا السِّعْرُ بِالْمَدِيْنَةِ عَلٰى عَهْدِ النَّبِيِّ ﷺ فَقَالُوْا : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ سَعِّرْ لَنَا، فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ : " **إِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْمُسَعِّرُ، الْقَابِضُ، الْبَاسِطُ، الرَّازِقُ،**

وَإِنِّي لَأَرْجُوا أَنْ أَلْقَى رَبِّي، وَلَيْسَ أَحَدٌ مِنْكُمْ يَطْلُبُنِي بِمَظْلِمَةٍ فِي دَمٍ وَلَامَالٍ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُودَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه وَالدَّارِمِيُّ.

**ترجمه** : انس ﷺ نه روایت دے چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښے په مدینه کښے د شیانو نرخ وخاتهٔ، نو خلکو عرض وکړو : اے د الله رسوله ! (نرخ وخاتهٔ) نو تهٔ مونږ له نرخ مقرر کړه. رسول الله ﷺ وفرمایل : بیشکه نرخ مقررونکے خو الله تعالیٰ دے، هغه ګرانوونکے او فراخوونکے دے او هم هغه روزی ورکونکے دے، او زهٔ د الله تعالیٰ نه دا امید لرم چه زهٔ به هغهٔ سره په داسے حال کښے مخامخ کیږم چه په تاسو کښے به هیڅ یو تن مانه د وینے او د مال (د وهل شوو حقونو) مطالبه نهٔ کوی. (ترمذیؒ، ابوداوُدؒ، ابن ماجهؒ، دارمیؒ)

**تشریح** : [غَلَا] ګرانیدل، ختل، وچتیدل. [السِّعْرُ] نرخ، قیمت. [سَعِّرْ لَنَا] مونږ له د شیانو نرخونه مقرر کړه. د تسعیر نه دے نرخونو مقررولو ته وائی. [إِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْمُسَعِّرُ] یعنی نرخونه خو الله تعالیٰ مقرروی، دا خو د هغهٔ کار دے کله ئے ګرانوی او کله ئے ارزانوی.

[الْقَابِضُ] رزقونه وغیره تنګوونکے. [الْبَاسِطُ] رزقونه فراخوونکے. [الرَّازِقُ] خلکو ته رزقونه ورکونکے. دا د الله تعالیٰ د اسماء حسنیٰ نه نهٔ دے، اَلرَّزَّاقُ د الله تعالیٰ د اسماء حسنیٰ نه دے. او رزق هغه شئ ته وائی چه په هغے نفع او فائده اخستلے شی. [مَظْلِمَةٍ] د لام په زیر سره، په ناحقه وهل شوی حق ته وائی، او د لام په زور سره ظلم ته وائی. یعنی زهٔ دا امید لرم چه د الله تعالیٰ سره په داسے حال کښے مخامخ شم چه په تاسو کښے ما د چا، نهٔ څهٔ مال وهلے وی او نهٔ مے د چا وینه تویے کړی وی.

[إِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْمُسَعِّرُ] : "الله تعالیٰ نرخ مقررونکے دے". ددے مطلب دا دے چه ګرانی او ارزانی د الله تعالیٰ په لاس کښے ده، او نرخ ددے ظاهری سبب دے، نو الله تعالیٰ کله په نرخونو کښے اضافه او ګرانی راولی او ددے په وجه د خلکو په رزقونو کښے تنګی پیدا کوی او کله په نرخونو کښے کمی او ارزانی راولی چه ددےؒ په وجه د خلکو په رزقونو کښے وسعت او فراخی پیدا کوی، دے نه بعض خلك داسے تعبیر کوی چه "نرخ آسمانی" دے. لهذا کله چه ګرانی راشی او د څیزونو ریتونه وخیژی او نرخونه زیات

شي، نو الله تعالىٰ ته رجوع پكار ده او د هغهٔ نه مدد غوښتل پكار دي، او د خپلو عقيدو او عملونو درست والي او اصلاح كولو سره د الله تعالىٰ رضا او خوشحالي حاصلولو سامان تيارول پكار دي دې دپاره چه هغه د خپلو بندګانو نه راضي شي او په هغوی باندې ارزاني او د رزق د فراخئ رحمت وكړي.

وَإِنِّیْ لَأَرْجُوْا : دې كښې دې خبرې تـه اشاره كـول مقصد دى چه د رسول الله ﷺ د طرف نه د نرخ مقررول ممنوع دي، ځكه چه پدې طريقه د خلكو په معاملاتو كښې بې ځائې دخل اندازي او تصرف دې. او د هغوی په مالونو كښې د هغوی د اجازت او رضا نه بغير تصرف كول راځي چه دا د ظلم يو صورت دې، بيا د نرخ مقررولو يوه بده نتيجه دا هم راوځي چه ددې په وجه ډير كرته خلك كاروبار بند كړي او تجارتي زندګي معطله شي چه د هغې په وجه قحط او قلت او بحران ته نوبت ورسيږي، لهذا كوم كار چه د الله تعالىٰ د مخلوق د خير او ښيګړې دپاره اختيارولې شي هغه د هغوی د پريشانيو او مصيبتونو ذريعه هم جوړيږي. نو د رسول الله ﷺ د ارشاد مطلب دا شو چه په نرخ مقررولو سره خلك په تكليف او پريشانئ كښې نهٔ اخته كوم او په تاجرانو باندې دِې نرخ لازم نهٔ كړې شي بلكه ددې په ځائې دِې تاجران په دې خبره مجبوره كړې شي چه هغوی د الله تعالىٰ د بندګانو سره همدردي او انصاف او د خيرخواهئ معامله وكړي او د هغوی ضمير او احساس داسې رابيدار كړې شي چه په نرخونو كښې دِې كمي وكړي او خلكو نه دِې پريشاني او مصيبت لرې كړي.

**فوائد او مسائل** : (۱) حديث نه ثابته شوه چه د خوراكي موادو او نورو اشياؤ نرخونه مقرول حرام دي. او نرخونه مقررول ديته وائي چه بادشاه يا د هغهٔ نائب په بازار كښې د هر شئ دپاره يو خاص نرخ مقرر كړي چه ددې نه به ئې تاجران نهٔ زيات خرڅوي او نهٔ كم. او دا كار په عامو حالاتو كښې كول حرام دي. نبي كريم ﷺ د نرخونو د ګرانئ په وخت نرخونه نهٔ دي مقرر كړي نو پاتې لا هغه حالات چه په هغې كښې ګراني نهٔ وي.

(۲) نرخونو مقررولو كښې د تاجرانو نقصان دې ځكه يو شې به دوئ ته د تولو خرچو سره مثلًا په يوولس روپئ پريوتې وي او نرخ لس روپئ مقرر دې، نو په دې كښې د دوئ تاوان دې، او بل طرفته دا د قحط او سختئ سبب ګرځي ځكه تاجران به ددې نقصان نه د بچاؤ دپاره سوداګانې په آزاده توګه بازارونو ته نهٔ راوباسي بلكه پټ په پټه به ئې په جوړ

تـوړ سره خرڅوی چه په دے کار سره به عوام د ژوند د ضروریاتو نه محرومه پاتے کیږی۔ او د بلیك مارکیټنګ (بند مال خرڅولو) بازار به شروع شی۔ ددے په خلاف کله چه نرخ مـقـرر نـۀ وی نو تاجران به د خپل طرفه د یو شیٔ نرخ مقرروی او ګټه به کوی او بازارونه به آباد وی۔

(۳) [یَـظْلُبُنِی بِمَظْلِمَةٍ] نـه مـعـلـومـه شـوه چه نرخونه مقررول ظلم او زیاتے او په پردی مـالـونـو کښے نـاجـائـزه تـصرف کول دی، ځکه په دے کار سره په خلکو باندے په خپلو مـالـونـو کښے په ناحقه پابندی لګول او د هغویٔ آزادی ختمول دی، ځکه انسان د خپل مـال مـالك دے، ګران ئے خـرڅـوی اوکه ارزان، دے اختیـار مند او په خپل تصرف کولو کښے آزاد دے، اګرکه ظلم او زیاتے او بے انصافی به نۀ کوی مګر په جائز کښے پرے څوك پابندی هم نشی لګولے۔

(٤) د ضرورت او حاجت او د عوامو نه د ظلم او زیاتی ختمولو دپاره نرخ مقررول جائز دی، او دا پـه هـغـه وخت کښے چه کله تاجران په خپل مینځه کښے په حرص او لالچ کښے راشـی او د اشیـاؤ نـرخـونـه پـه غیـر د ضرورت نه وخیژوی او د معقولو نرخونو نه زیات نرخونه ولګوی۔ شیخ ابن عثیمینؒ فرمائی : که د ریټونو ختلو سبب د نفوسو زیاتیدنه یـا د مـحصول (پیداوار) کمیدنه وه چه دا د انسان د وس نه بهر شیان دی نو بیا نرخونه او ریټـونـه مـقـررول جائز نۀ دی۔ اوکه ریټونه ختـل د تاجرانو د احتکار (ذخیره اندوزیٔ) او لالـچ پـه وجـه وو، نـو بیـا اسلامی حکومت دپاره نرخونه مقررول جائز دی، دے دپاره چه تـاجـران خـلـك په عوامو باندے د خپل طمع او لالچ پوره کولو دپاره سختی رانۀ ولی۔ او دا د شیخ الاسلام ابن تیمیۃؒ او امام ابن قیمؒ رائے هم ده۔

هغویٔ فرمائی : **نرخ مقررول** دوه قِسمه دی۔ یو هغه دے چه هغه ظلم او زیاتے دے۔ او بل هغه دے چه هغه عدل او انصاف دے۔ که په ریټونو مقررولو کښے په خلکو باندے پـه نـاحقه ظلم او زیاتے کیدۀ او داسے قیمت لګیدۀ چه هغویٔ پرے خوشحاله نۀ دی نو دا کـار حـرام دے۔ او کـلـه چـه د نـرخ مـقـررولـو په وجه عوامو خلکو سره د عدل او انصاف سبب ګـرځـیـدۀ نـو دا جـائـز بـلـکـه واجـب دے۔ او کـلـه دا کار یوه خاصه فرقه کوی لکه قـصابان او نانبایان وغیره په غیر د ضرورت نه خپلو کښے په ریټونو خیژولو اتفاق وکړی چه دا شیان به ددے فلانی ریټ نه بیخی کم نشی خرڅولے حالانکه دا د معتاد ریټونو نه

زيات ريټ وي نو ولي الامر له جائز دي چه دوئ ددے كار نه منع كړي او د خپل طرف نه ورله مناسب ريټ مقرر كړي. آه [الطرق الحكمية، ص: ۲۵۲]

او دا خبره د حديث الباب خلاف نۀ ده ځكه حديث الباب يوه عامه قاعده نۀ ده بلكه دا په يوه خاصه قضيه كښے راغلے چه هغه مدينے ته د راتلونكي خوراكي موادو كمے وو. او ځۀ چه نبي كريم ﷺ ويلي هغه حق دي او كومه فيصله ئے چه كړے نو هغه په هغه خلكو باندے وه چه د هغوئ نيتونه صحيح او خپل رب ته تسليم وو. پاتے شو هغه قوم چه هغوئ په ناحقه د خلكو مالونه خوري او په دوئ باندے بے ځايه تنگي راولي نو بيا د الله تعالىٰ دروازه ډيره فراخه او د هغۀ فيصله ډيره چليدونكے ده. [عارضة الأحوذي :٥٣/٦] بهر حال اصل داده چه ريټونه مقرر نشي ځكه ريټ مقررول خپله د اشياؤ د گرانئ سبب گرځي. بس دا كار د الله تعالىٰ په لاس كښے دے، هغه د خپل عدل او حكمت په وجه بعضِ اشياء په خلكو گرانوي، او د خپل فضل او حكمت په وجه بعضِ اشياء فراخوي. او كمال د هغۀ د نازل كړي شريعت په تعميل كښے دے.

شيخ ابن عثيمينؒ دا هم فرمائي: كه په ريټ مقررولو كښے عامو خلكو ته فائده ملاويده نو اگركه تاجرانو يا كارخانه دارو ته تكليف هم وي چه گټه ئے كميږي نو بيا به هم ريټ مقررول پكار وي ځكه چه كله د عام منفعت او د خاص منفعت او مصلحت تعارض راشي نو عام منفعت به مقدم كولے شي. لكه مثال ئے باران دے چه اكثرو خلكو ته ئے فائده رسي اگركه بعض زميندارو او بعض نورو خلكو ته به پكښے ضرر وي. ليكن دا معمولي ضرر د ډيرے فائدے په مقابله كښے كم دے. (فتح ذي الجلال) او د منفعت عامه او خاصه د تعارض مثال تلقي الجلب او بيع حاضر لباد دے.

**درجة الحديث:** [صحيح] أبوداود: ٣٤٥١، ترمذي: ١٣١٤، ابن ماجه: ٢٢٠٠، أحمد: ١٥٦/٣، دارمي: ٢٥٤٥، ابن حبان: ٤٩٣٥.

## د غلے ناجائز ذخيره اندوزي كونكي ته به جذام او فقر رسي

## الفصل الثالث

2895 ( 4 ) - عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ ؓ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ: "مَنِ احْتَكَرَ عَلَى الْمُسْلِمِيْنَ طَعَامَهُمْ ضَرَبَهُ اللّٰهُ بِالْجُذَامِ وَالْإِفْلَاسِ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجه وَالْبَيْهَقِيُّ

فِيُ شُعَبِ الْإِيُمَانِ. وَرَزِيْنٌ فِيْ كِتَابِهٖ.

**ترجمه** : عمر بن خطاب ﷺ فرمائی : ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل چه فرمایل ئے : چا چه د مسلمانانو نه د هغوی طعام وساتلو (او بیا ئے پرے ګران وخرڅوی) نو الله تعالیٰ به هغهٔ لره په جذام او غریبیٔ باندے ووهی۔ (ابن ماجهؒ او بیهقیؒ په شعب الایمان او رزینؒ په خپل کتاب کښے روایت کړیدے)

**تشریح** : دا روایت دلیل دے چه کوم کس د الله تعالیٰ بندګانو او خاص طور سره مسلمانانو ته تکلیف او نقصان ورکوی نو الله تعالیٰ به هغه په جسمانی او مالی مصیبتونو کښے اخته کوی او څوك چه هغوی ته نفع او فائده رسوی نو الله تعالیٰ به د هغهٔ په جسم او مال کښے خیر او برکت اچوی۔

بِالْجُذَامِ : دا دوه سزاګانے ئے خاص ذکر کړے وجه دا ده چه ذخیره کونکے انسان په مال ساتلو سره د خپل بدن اصلاح او د مال ډیر والے طلب کوی نو جزاء من جنس العمل وی، الله تعالیٰ به د هغهٔ بدن په جذام سره خراب کړی او مال به ئے په غریبیٔ او هلاکت سره۔ طَعَامَهُمْ : نسبت د طعام ئے مسلمانانو ته وکړو اګر که دا د تاجرانو مالونه دی لیکن پدے کښے اشاره ده چه دا د مسلمانانو خوراك دے۔ ګویا که د هغویٔ په حق باندے ظلم کول دی۔

**درجة الحديث** : [حسن] ابن ماجه : ۲۱٤٤، احمد : ۱۳٥، شعب الايمان : ۱۰۷۰٥، قال الشيخ احمد شاكر اسناده صحيح۔ وقال شعيب الارناووط : ضعيف، وضعفه الالبانی، وقال الذهبی فی ميزان الاعتدال : ٤/ ۳۲۲ : منكر۔ وقال الحافظ : اسناده حسن : فتح البارى ٤/٤۰۸، وقال الشوكانی : فی اسناده الهيثم بن رافع قال ابوداود : روى حديثا منكرا وفی اسناده ابو يحيى المكی وهو مجهول، وقال الهيثمی فی الزوائد : اسناده صحيح رجاله موثقون : ابو يحيى المكی والهيثم بن معين قد ذكرهما ابن حبان فی الثقات والهيثم بن رافع وثقه ابن معين وابوداود]

## ذخیره اندوزی کونکے نه الله بیزاره دے

2896 (5) - وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : " مَنِ احْتَكَرَ طَعَامًا أَرْبَعِيْنَ يَوْمًا يُرِيْدُ بِهِ الْغَلَاءَ فَقَدْ بَرِئَ مِنَ اللّٰهِ وَبَرِئَ اللّٰهُ مِنْهُ ". رَوَاهُ رَزِيْنٌ

**ترجمه** : او ابن عمر ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : چا چه طعام څلویښت

ورځې ذخيره كړو چه په هغې سره د هغې ګران والې غواړي نو دے د الله تعالىٰ نه بيزاره دے او الله تعالىٰ ددۀ نه بيزاره دے۔ (رزينؒ)

**تشريح :** يعنى څوك چه څلويښت ورځې د مسلمانانو نه غله او طعامونه ايسار كړي او ګرانوالى ته ئے بند كړي نو ددۀ دا لويه سزا ده، او كه ددے نه كمه موده احتكار وكړي هغه هم ګناهګار دے ليكن ددے سزا نه ئے كمه سزا ده۔

بَرِئَ مِنَ اللّٰهِ : يعنى دے د الله تعالىٰ نه بيزاره شو، يعنى د هغۀ عهد او لوظ ئے مات كړو، او د هغۀ د مخلوق سره ئے همدردي او شفقت پريخودو۔ د بنده براء ت ئے مخكښے ذكر كړو ځكه چه دا قانون دے چه اول به بنده د الله تعالىٰ عهد پوره كوى بيا به الله تعالىٰ خپل عهده پوره كوى۔ (اَوۡفُوۡا بِعَهۡدِىۡ اُوۡفِ بِعَهۡدِكُمۡ)

**درجة الحديث :**[ضعيف الاسناد، صحيح المتن] احمد : (٤٨٨٠) (وفيه جهالة ابى بشر) ابو يعلى : ٥٧٤٦، والحاكم : ٢١٦٥، مطولا، واورده ابن حزم فى المحلى : ٦٤/٩، واللفظ له، وابن الجوزى فى موضوعاته : ١٥/٣، وفى اسناده اصبغ بن زيد وفيه لين۔ وقال الحافظ ابن حجر : للمتن شواهد تدل على صحته : النكت : ٤٥٢/١، والقول المسدد : ٦/١، وكذلك قاله السيوطى فى النكت على الموضوعات : ١٣٩] .

2897( 6 ) وَعَنْ مُعَاذٍ ﷺ قَالَ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ : " **بِئْسَ الْعَبْدُ الْمُحْتَكِرُ: إِنْ أَرْخَصَ اللّٰهُ الْأَسْعَارَ حَزِنَ وَإِنْ أَغْلَاهَا فَرِحَ** ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ وَرَزِيْنٌ فِيْ كِتَابِهٖ.

**ترجمه :** معاذ ﷺ فرمائى : ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه فرمايل ئے : ناجائز غله ساتونكے ناكاره بنده دے، كه الله تعالىٰ نرخونه ارزانه كړي نو دے خفه كيږي او كه نرخونه ګران كړي نو دے خوشحاليږي۔ (بيهقيؒ، رزينؒ)

**تشريح :** اَلْمُحْتَكِرُ : يعنى غله ساتونكے د الله تعالىٰ په نيز ډير ناكاره شخص دے۔ بيا ئے ددے وجه په روستو الفاظو سره بيان كړه۔

يعنى دے د خلكو په خوشحالئ خفګان كوى او د هغوى په غم خوشحاله وى، نو دۀ كښے خيرخواهي نشته، بلكه بد خواه دے۔

**درجة الحديث :**[ضعيف]، الطبرانى فى الكبير : ١٦٦١٢، وشعب الايمان : ١٠٧٠٢، مسند

الشامیین: ۴۱۲، سلیمان بن سلمة الخبائری متروک، وله متابعة من عمرو بن عثمان ولکن فی اسناده ابراهیم بن محمد بن عرق مجهول.

2898( 7 ) وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ ﷺ: أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ: "**مَنِ احْتَكَرَ طَعَامًا أَرْبَعِينَ يَوْمًا ثُمَّ تَصَدَّقَ بِهِ لَمْ يَكُنْ لَهُ كَفَّارَةً**". رَوَاهُ رَزِينٌ

**ترجمه**: او ابو امامه ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمایل: چا چه څلویښت ورځے طعام (د ګرانئ په نیت) ذخیره کړو بیا ئے هغه صدقه کړو نو دا به د هغهٔ د ګناه رژونکے جوړ نشی۔ (رزینؒ)

**تشریح**: تَصَدَّقَ بِهِ: یعنی که بالفرض دغه ټول مال یا د څلویښت ورځو په اندازه مال خیرات کړی نو د مخکنئ ګناه کفاره به جوړه نشی، دومره غټه ګناه ئے کړیده۔

**درجة الحدیث**: [منکر] ضعیف الترغیب والترهیب: ۱۱۰۴،، الطبرانی: ۸/۱۲۶/۷۴۸۷، واسناده ضعیف جدا، انظر الضعیفة: ۱۱/۵۴۱]



## ۹- باب الإفلاس والانظار

د ديواله كيدو او د مهلت وركولو بيان.

په ژوند كښې په انسان باندې مختلف قسم حالات راځي كله انسان غريب وي ناڅاپه مالداره شي او كله يو تن مالداره وي او په يوه ورځ كښې سمدست غريب او ديواله شي، دا حالات د الله تعالىٰ په لاس كښې دي، د انسان د وس نه بهر دي.

**إفلاس :** غريب او ديواله كيدل چه د انسان مال ضائع شي يا تاواني او ديواله شي نو دهٔ سره به څه كولے شي. بل دے **تفليس** يعني د حاكم او قاضي د چا په باره كښې د افلاسِ حكم كول، ديواله ګرځول، او هغه د خپلو مالي تصرفاتو نه بندول. **مُفْلِس :** كنګال، نيستمن ته وائي. او **شرعا :** مفلس (ديواله) هغه څوك دے :[مَنْ كَانَ دُيُوْنُهٗ أَكْثَرَ مِنْ مَالِهٖ، وَخُرُجُهٗ أَكْثَرَ مِنْ دَخْلِهٖ] (چه په هغهٔ باندې قرضونه د هغهٔ د مال نه زيات وي او د هغهٔ خرچه د هغهٔ د آمدنئ نه زياته وي) اګركه دهٔ سره مال وي خو په دهٔ قرضونه وي. مفلس ته مفلس ځكه وائي چه دا صرف د فلوسو (يعني ادنیٰ مال) مالك وي، نقود او دراهم ورسره نهٔ وي كوم چه اعلیٰ مال دے.

**إنظار :** دے ته وائي چه يو تن غريب شي نو هغهٔ ته به قرضداري انتظار كوي او مهلت به وركوي چه كله هغه د مال والا شي نو بيا به قرضداري د هغهٔ نه د قرض مطالبه كوي. په احاديثو كښې په مفلس باندې د بنديز حكم هم راغلے دے. چه هغے ته حِجْر وائي، يعني د قرض وركونكو ذ حق د وجے په مفلس باندې بنديز لګول چه دا به تصرف نهٔ كوي.

په مفلس باندې بنديز لګولو كښې دهٔ هم فائده ده او د نورو هم. هغه داسې چه كله څوك د مالدارئ نه پس فقير شي او قرضونه پرے واوړي نو دے پريشانه وي او كارونه ئے ګډوډ شي نو په خپلو تصرفاتو كښې دے د ظلم او زياتي نه كار اخلي، ځينے قرض غوښتونكي خلاصوي او ځينے پريدي، او كله دهٔ مضبوط قرض خواهان دهٔ په

موجوده مال باندے قبضه هم کوی، او کله دے خپل تول یا څینے مالونه پټوی یا داسے تصرفات کوی چه دۀ ته هم ضرر رسولے شی او نورو ته هم۔ دے وجے نه شریعت کښے په دۀ باندے د بندیز لږولو مشروعیت راغے او ددۀ موجوده مالونه به په عدل او انصاف سره د قرض خواهانو ترمینځه تقسیمولے شی۔

## د مفلس کیدو په باره کښے یوه مسئله

## الفصل الأول

2899 (1) عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: "أَيُّمَا رَجُلٍ أَفْلَسَ فَأَدْرَكَ رَجُلٌ مَالَهُ بِعَيْنِهِ فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ مِنْ غَيْرِهِ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

**ترجمه**: ابو هریره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: هر هغه څوك چه مفلس شوے وی او یو سړی خپل مال بعینهٖ (د هغۀ سره) وموموی نو هغه د نورو په نسبت ددے زیات حق دار دے۔ (بخاریؒ، مسلمؒ)۔

**تشریح**: [أَفْلَسَ] أَی: اِفْتَقَرَ، علامه ابن اثیرؒ فرمائی: مفلس هغه چاته وائی چه مال نۀ لری۔ د فقهاؤ په عرف کښے مفلس هغه چاته وائی چه آمدنی ئے د لګښت نه کمه وی۔ [فَأَدْرَكَ رَجُلٌ مَالَهُ] دا لفظ عام دے هر هغه مال ته شامل دے چه یو تن چا له قرض ورکړے وی یا ئے ورسره سودا کړے وی یا ئے ورسره امانت ایښے وی۔ لکه امام بخاریؒ همداسے عام باب قائم کړے، اګرکه په نورو حدیثونو کښے لفظ د بیع ذکر دے مګر دا ددے عامو الفاظو یو فرد دے۔ [بِعَيْنِهِ] یعنی همدا شے چه په زیادت او نقصان سره په کښے تغییر او تبدیل نۀ وی راغلے۔ [أَحَقُّ بِهِ مِنْ غَيْرِهِ] دے د هغۀ په مال باندے د هر چانه زیات حقدار دے څکه دۀ خپل مال موندلے دے نو هیڅوك ددۀ سره په دے کښے جګړه نشی کولے، څکه ددۀ مال موجود دے او د نورو قرض خواهانو مال موجود نۀ دے۔

**فوائد او مسائل**: (۱) ددے حدیث نه ثابته شوه چه څوك خپل مال بعینهٖ د هغه چا سره وموموی چه هغه مفلس شوے وی نو دا د هر چانه زیات ددے حقدار دے، دے به هغه حاصل کړی اوکه بیع وغیره ئے کړے وی نو هغه به فسخ کړی۔

ددے صورت دا دے چه زید د بکر نه څه مال مثلاً ګاړے واخستو، لیکن د هغے قیمت ئے لا تر اوسه نۀ دے ادا کړے چه پدے کښے مفلس شو او حاکم او قاضی هم د هغه د

مفلس او دیوالیه کیدو فیصله وکړه، نو دلته بکر (چه خرڅونکے دے) ولیدل چه زید سره دده مال همغه شان موجود دے، یعنی نهٔ په ظاهری طور سره هغه ضائع او هلاك شویدے او نهٔ د شرعی تصرفاتو - مثلاً هبه او وقف - په ذریعه په معنوی طور سره ختم شویدے نو پدے صورت کښے بکر ته اختیار حاصل دے چه هغه خپله کړے بیعه فسخ کړی او د زید نه خپل مال واپس واخلی ځکه چه د نورو قرض غوښتونکو په نسبت دے ډیر مستحق او مقدم دے۔ لهذا په ځائے ددے چه هغه مال نور قرض غوښتونکی د زید نه واخلی بکر د هغے د اخستو زیات حقدار دے، او که زید د اخستو په وخت کښے د مال څه قیمت ادا کړے وی او د باقیمانده حصے ادا کولو نه مخکښے مفلس او دیواله شو نو پدے صورت کښے به بکر ددے مال دومره مقدار اخلی چه د قیمت د باقیمانده حصے په اندازه وی۔ یعنی که مثلاً یو شے ئے په سل روپیۍ خرڅ کړے وی او لس روپیۍ په کښے اخستی وی، بیا مشتری مفلس او دیواله شو نو بائع به ترے اُوس نوی روپیۍ اخلی او پدے کښے به ورسره ټول قرض غوښتونکی یو شان شریك وی، بیا به د هر چا د قرض مطابق دده مال تقسیم کړے شی۔

**اختلاف**: (۱) او دا د جمهور علماؤ قول دے۔ (۲) امام ابوحنیفهؒ، حسن بصریؒ او نخعیؒ فرمائی: چاچه خپل سامان د مفلس مشتری سره وموندلو نو خرڅونکے نهٔ د بیع د فسخ کولو اختیار لری او نهٔ هغه مال واپس اخستے شی بلکه هغه او نور غُرماء (قرضداران) ټول په دے کښے برابر شریك دی، ځکه سامان په دے صورت کښے د مشتری ملکیت ګرځیدلے او ددے تاوان هم په هغهٔ دے۔ دوئ ددے حدیث الباب نه دا جواب کوی چه دا حدیث د اصولو خلاف دے۔ او کله وائی چه دا په هغه صورت حمل دے چه عقد بالخیار شوے وی۔ یا په ودیعت او امانت او قرض حمل دے۔

خو **صحیح قول** اولنے دے۔ او د دویم قول والا دا عذر کول غلط دی۔ ځکه هر صحیح حدیث په خپله قاعده او اصل دے، نو بیا د نورو قواعدو سره ددے د برابرولو څهٔ مطلب ؟۔ دارنګه د عقد بالخیار هیڅ خبره دلته نهٔ ده ذکر، په هغے باندے په زوره حمل کول حدیث د خپل اصل حالت نه ویستل دی۔ لهذا اول قول صحیح او په دے کښے راغلے حدیث بیخی ښکاره او ډیر زیات قوی دے، نو فتویٰ او فیصله به په همدے حدیث باندے وی۔ دے وجے نه په شوافعو کښے علامه اصطخریؒ فرمائی: که چرے قاضی ددے

په خلاف فیصله وکړه نو ددۀ فیصله به ماتولې شي. [المهذب: ۱/۴۲۶]

(۲) اول قول والا ددې حدیث په ظاهر باندې دلیل نیسي لیکن ددې دپاره یو څو **شروط** وائي چه هغه په نورو احادیثو کښې ذکر شویدي او هغه دا دي:

**(اول)**: د مفلس مشتري سره به بعینه دغه سامان موجود وي، په دې کښې به زیادت یا نقصان نۀ وي راغلې. ددې هیڅ یو صفت به بدل شوې نۀ وي لکه جامه گنډل، دانو نه ډوډئ پخول، لرګي نه دروازې جوړول. دارنګه په دې کښې به کمې هم نۀ وي راغلې لکه ځینې لباس خرابیدل، که ګاړې موټر وي نو هغه خرابیدل، که کور وي نو هغه نړیدل یا د هغې څۀ برخه نړیدل او داسې نور. او دا شرط په حدیث کښې د [بِعَيْنِهِ] لفظ نه معلومیږي. که په دې صفاتو کښې یو صفت بدل شوې وي نو بیا به دا کس د نورو تولو قرض غوښتونکو سره برابر شریك وي، هغوئ چه څومره برخه ددې مفلس په مال کښې اخلي هغه به دې هم اخلي، او هغوئ چه د کوم مال نه محرومیږي نو دا به هم د هغې نه محروم وي. او دا د جمهورو علماؤ قول دې.

**(دویم)** په دغه سامان پورې به د شفعې یا د رهن حق متعلق نۀ وي، یعنی داسې به نۀ وي چه کله مشتري د بائع نه دغه شې واخستۀ نو د اِخستو نه پس ئې چاله په ګانړه کښې ورکړو یا په دې پورې د شفعې حق متعلق شو. که دا حقونه ورپورې متعلق شوې وي نو بیا بائع دغه مال نشي اخستې. او دا شرط هم د [بِعَيْنِهِ] نه اخستې شوې ځکه که دا حقونه ورپورې متعلق شوې وي نو بیا بائع دا سامان بعینه د مشتري سره نۀ دې موندلې بلکه ددې صفت بدل شوې.

**(دریم)** بائع به د مشتري نه د دغه سامان ځینې پیسې نۀ وي اخستې، که بائع یوه روپئ هم اخستې وي نو دغه سامان د مشتري نه نشي اخستې بلکه دا به د نورو قرض غوښتونکو سره برابر شریك وي. په دې شرط باندې دلیل د ابوداوُدؒ او مالكؒ په روایت کښې دا قول دې [وَلَمْ يَقْبِضِ الَّذِي بَاعَهُ مِنْ ثَمَنِهِ شَيْئًا] (بائع به ددې سودا هیڅ رقم نۀ وي قبض کړې) لکه مثلاً بائع د مشتري نه د ګاړي په مقابل کښې یو لاکھ اخستې وي نو بیا به هم دلته بائع د نورو قرضدارو سره شریك وي، ځکه چه دلته بائع بعینه هغه مال د مشتري سره ونۀ موندو کوم ئې چه خرڅ کړې وو، بلکه بعض حصه ئې وموندہ.

**(څلورم)** مشتري به ژوندې وي او بائع به د هغۀ سره خپل مال موندلې وي. که چرې

مشتری مړ شو نو بائع به د نورو غرماؤ سره په دے مال کښے برابر شریك وی۔ او ددے شرط دلیلؒ دا حدیث دے : [وَإِنْ مَاتَ الْمُشْتَرِیْ فَصَاحِبُ الْمَتَاعِ أُسْوَةُ الْغُرَمَاءِ] (که مشتری مړ شو نو بائع به د غرماؤ سره برابر شریك وی) (ابوداود : ۳۵۲۲ : صحیح، ارواء) او دارنګه دا شرط د حدیث د [عِنْدَ رَجُلٍ] لفظ نه هم معلومیږی ځکه چه کله مشتری مړ شی نو بائع ددهٔ سره خپل مال نهٔ دے موندلے بلکه ددهٔ د ورثه ؤ سره ئے موندلے دے، ځکه ملکیت د مفلس نه وارثانو ته نقل شوے۔ او دا د مالكؒ، احمدؒ او اسحاقؒ قول دے۔ امام شافعیؒ فرمائی: مرګ او افلاس یو حکم لری، او دلیل کښے د عُمَر بن خَلْدَهؒ روایت پیش کوی چه په هغے کښے د افلاس او موت دواړو یو حکم ذکر شوے۔ [اَنَّ مَنْ اَفْلَسَ اَوْ مَاتَ فَأَدْرَكَ رَجُلٌ مَتَاعَهُ بِعَيْنِهٖ فَهُوَ أَحَقُّ بِهٖ] [الشافعی : ۱۳۲۸، ابن الجارود : ٦٣٤، حاکم : ۲/۵۰/ الطیالسی : ۲۳۷۵، وعنه ابوداود : ۳۵۲۳]

لیکن راجح قول په دے کښے اولنے دے۔ او پاتے شو د عمر بن خَلْدَهؒ روایت چه په دے کښے د افلاس او مرګ یو حکم ښودل شوے چه په دے دواړو کښے بائع د دغه سامان حقدار ښودل شوے، نو ددے دوه جوابه دی : (أ) هغه حدیث ضعیف دے ځکه چه عمر بن خلده ابو المعتمر مجهول الحال دے (التقریب ومیزان الاعتدال) ابوداودؒ وائی : [أَبُو الْمُعْتَمِرِ مَنْ هُوَ ؟ اَیْ لَا يُعْرَفُ] نو دلیل نهٔ جوړیږی۔ (ب) په اتفاق سره په هغے باندے عمل نشته ځکه په دے کښے صرف په مرګ سره بائع د مشتری د مال مستحق ګرځول شوے، په دے کښے نهٔ د هغهٔ د مفلسئ د شرط کولو ذکر شته او نهٔ د قرض ادا کولو، او نهٔ د پیسو د نهٔ قبض کولو، حالانکه معامله د ټولو علماؤ په نیز داسے نهٔ ده۔ والله تعالیٰ اعلم۔

## مفلس کیدونکی سره د امداد حکم

2900 (2) – وَعَنْ أَبِیْ سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ رضی الله عنه قَالَ : أُصِيْبَ رَجُلٌ فِیْ عَهْدِ النَّبِيِّ ﷺ فِیْ ثِمَارٍ اِبْتَاعَهَا، فَكَثُرَ دَيْنُهُ، فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : "**تَصَدَّقُوْا عَلَيْهِ**" ، فَتَصَدَّقَ النَّاسُ عَلَيْهِ، فَلَمْ يَبْلُغْ ذٰلِكَ وَفَاءَ دَيْنِهٖ، فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لِغُرَمَائِهٖ : "**خُذُوْا مَا وَجَدْتُّمْ، وَلَيْسَ لَكُمْ إِلَّا ذٰلِكَ**". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

**ترجمه** : او ابو سعید خدری رضی الله عنه فرمائی : یو سړی ته د رسول الله ﷺ په زمانه کښے

په میوو کښې چه اخستے ئے وے، نقصان ورسیدهٔ، نو دهٔ (په ذمه) قرض زیات شو (تردے چه هغه کنګال شو)، نو رسول الله ﷺ وفرمایل: په دهٔ باندے صدقه او خیرات وکړئ۔ نو خلکو په دهٔ صدقه وکړه، لیکن هغه د هغهٔ د قرض پوره کولو ته ونهٔ رسیده (یعنی هغه دومره نهٔ وه چه په دے سره د هغهٔ قرضه پوره شوے وے)۔ نو رسول الله ﷺ دهٔ قرض خواهانو ته ووئیل: څهٔ چه تاسو مومئ نو هم هغه واخلئ او ستاسو دپاره ددے نه سوئ بل هیڅ حق نشته۔ (مسلمؒ)۔

**تشریح:** ددے واقعے تفصیل دا دے چه د نبی ﷺ په زمانه کښې یو تن یوه میوه داره ونه واخسته، په ونه کښې لګیدلے میوے لا دهٔ په تصرف کښې نهٔ وے راغلے چه په بد نصیبئ سره په هغے باندے آفت نازل شو او ټولے میوے پریوتے او دلته دهٔ لا د هغے قیمت هم نهٔ وو ادا کړے، نو هرکله چه خرڅونکی د قیمت مطالبه وکړه نو اخستونکی د خلکو نه قرضونه وکړل او هغه قیمت ئے ادا کړو، پدے وجه هغه ډیر زیات قرضدار شو۔ نبی ﷺ چه هرکله دهٔ پریشان حالی ولیده نو خلك ئے دهٔ طرف ته متوجه کړل چه هغوی په صدقه او خیرات سره دهٔ مدد وکړی دے دپاره چه دهٔ نه د قرض بار او بوج سپك شی، خلکو د خپل وس مطابق دهٔ مدد وکړو لیکن دا مدد هم دهٔ د قرض د ادا کولو دپاره کافی نهٔ شو، پدے سره خو څه نا څه قرضونه ادا شول، او د باقیمانده قرض ادا کولو نه عاجز شو نو نبی ﷺ قرض غوښتونکو ته د حدیث آخری الفاظ وفرمایل: نو د رسول الله ﷺ قرض غوښتونکو ته د وینا مطلب دا وو چه هرکله ددے شخص افلاس او دیواله کیدل ښکاره شو او دهٔ کمزور حالی واضح شوه نو اُوس تاسو له دا هیڅکله مناسب نهٔ دی چه تاسو دا پریشانه کړئ، دا ویره وئ او دهمکی ورکړئ او دا د قید او بند په مصیبت کښې اخته کړئ بلکه پدے صورت کښې تاسو باندے واجب دی چه دهٔ ته مهلت ورکړئ، هرکله چه تاسو وینئ چه دهٔ سره د قرض د اداکولو مال او څه سامان راغلے نو په هغه وخت خپله مطالبه وکړئ او دهٔ نه خپل قرض واپس واخلئ، او د رسول الله ﷺ دا مطلب قطعاً نهٔ وو چه د قرضدار د ذمے نه د قرض غوښتونکو حق بیخی ساقط شو بلکه لکه چه اُووئیلے شو چه د نبی ﷺ مقصد صرف دا وو چه قرضدارو ته دِے مهلت ورکړے شی۔

نو معنیٰ دا ده: [لَيۡسَ لَكُمۡ إِلَّا ذٰلِكَ] ستاسو دپاره صرف په هغه څهٔ کښې حق دے کوم

چه دۀ ته په صدقه کښې راجمع شوی دی، او تاسو دا حق نۀ لرئ چه دۀ له تعزیر او سزا ورکړئ یا ئې جیل ته واچوئ۔

[أُصِیبَ] یعنی مصیبت کښې مبتلا شو، حادثه ورته راپیښه شوه۔

[ابْتَاعَهَا] ای اِشْتَرَاهَا. یعنی اخستے ئې وو۔ [تَصَدَّقُوا عَلَيْهِ] دهٔ د قرض پوره کولو دپاره په دهٔ صدقه وکړئ، او دے دپاره چه دهٔ غرماؤ ته معلومه شی چه دهٔ سره هیڅ شے نشته نو کوم شے چه اخلی په هغې به خاطر جمع وی او کوم شے چه پریدی هغه به ورته آسان وی۔

[وَلَمْ يَبْلُغْ ذٰلِكَ وَفَاءَ دَيْنِهِ] یعنی په دهٔ باندے چه کومه صدقه وکړے شوه کله چه هغه راجمع کړے شوه نو دا د هغهٔ د قرض پوره کیدو ته ونهٔ رسیدهٔ، په دے سره د هغهٔ قرض نهٔ پوره کیدهٔ۔ [لِغُرَمَائِهِ] جمع د غریم ده، مراد قرض خواهان او هغه څوك دی چه د چا په دے کس باندے حق وو۔

**فوائد او مسائل** : (۱) حدیث نه ثابته شوه چه په چا باندے قرض واوړی هغهٔ سره مدد کول او په هغهٔ باندے صدقه کول مستحب دی، ځکه قرض ادا کول ضروری دی او په دے باره کښې د یو مسلمان سره لاس اړول او د هغهٔ څټ د ذمه واریٔ نه خلاصول او دارنګه د قرض د تاخیر په وجه هغه د ګناه نه خلاصول پکار دی۔ چا باندے چه قرضونه واوړی هغهٔ له زکاة ورکول هم جائز دی، دے دپاره چه خپل قرضونه پرے پوره کړی۔ ځکه الله تعالیٰ فرمائی : ﴿وَالْغَارِمِينَ﴾ [التوبة : ٦٠] (او زکاة د هغه قرضه وړو حق دے چه د قرض ادا کولو نه عاجز وی) دا آیت عام دے هر قِسم قرض ته شامل دے۔ دارنګه په دے حدیث کښې د [تَصَدَّقُوا] لفظ زکاة ته هم شامل دے ولے چه زکاة هم صدقه ده، الله تعالیٰ فرمائی: ﴿خُذْ مِنْ اَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً﴾ [التوبة : ١٠٣] دے آیت کښې زکاة ته صدقه ویل شوے۔

(۲) په دے حدیث کښې د [خُذُوا مَا وَجَدْتُّم] نه معلومه شوه چه مفلس قرضه وړی باندے واجب دی چه خپل ټول مال قرض خواهانو ته پیش کړی۔

(۳) د [لَيْسَ لَكُمْ اِلَّا ذٰلِكَ] نه معلومه شوه چه قرض خواهانو دپاره جائز نهٔ دی چه دوئ د مفلس قرضه وړی بیعزتی وکړی یا حاکم نه وغواړی چه دے جیل ته واچوی۔ او دا د جمهورو علماؤ قول دے۔ قاضی شریحؒ نه نقل دی چه دے به تر هغه وخته پورے په جیل کښې وی ترڅو پورے چه قرض ئې نهٔ وی ادا کړے۔ خو صحیح خبره مخکښې ده۔

(٤) د [لَيۡسَ لَكُمۡ اِلَّا ذٰلِكَ] د ظاهر نه بعضِ علماؤ دا معلومه كړې چه كه قرض خواهانو د قرضه وړى د مال نه خپله څينې برخه حاصله كړه او څينې برخه ئې باقي پاتې شوه، نو دا پاتې برخه هم ددې حديث د وجې ساقطيږى. خو دا خبره درست نۀ ده. صحيح داده چه د [لَيۡسَ لَكُمۡ اِلَّا ذٰلِكَ] معنىٰ دا ده چه تاسو ددۀ بيعزتي نشئ كولې او نۀ ئې جيل ته اچولې شئ او نۀ دا مفلس په قرض كښې خرڅولې او مرئې جوړولې شئ لكه چه د جاهليت والو دا رواج وو چه انسان به ئې په قرض كښې خرڅولو، اسلام دا كار باطل وګرځولو. او ددې حديث دا معنى نۀ ده چه ګنې قرض خواهان د قرض څينې برخه وصول كړى او څينې برخه ئې پاتې وى نو باقي پاتې برخه به ساقطيږى. وجه داده چه دا خو د بندګانو حق دې او تر څو پورې چه بندګانو ساقط كړې نۀ وى نو دا نۀ ساقطيږى صرف دومره ده چه غوښتلو كښې به تاخير كوى. الله تعالىٰ فرمائى: ﴿وَاِنۡ كَانَ ذُوۡ عُسۡرَةٍ فَنَظِرَةٌ اِلٰى مَيۡسَرَةٍ﴾ [البقرة: ۲۸۰]

نو آيت نه هم معلومه شوه چه چا سره د قرض ادا كولو دپاره څۀ نۀ وى نو هغۀ ته به انتظار كولې شى. د حق ساقطيدو څۀ خبره په كښې نشته.

(۵) دې حديث نه بعضِ علماؤ د [وَضۡعُ الۡجَوَائِح] په خلاف دليل نيولې. هغه داچه څوك په وُنه كښې ميوه واخلى او بيا د بائع سره تباه شى نو مخكښې كتاب البيوع حديث كښې تير شو چه نبى ﷺ په [وَضۡعُ الۡجَوَائِح] باندې حكم كړې، يعنى دا فيصله ئې كړې چه دا تاوان به د بائع وى نۀ د مشترى. او دا د جمهورو علماؤ قول وو. ليكن بل طرفته بعضِ علماء د [وَضۡعُ الۡجَوَائِح] قائل نۀ دى. **هغوى** وائى: كه ميوه تباه شوه نو دا به د مشترى د مال نه تباه شوې وى نۀ د بائع نه، او دليل كښې دا حديث پيش كوى. طريقه د استدلال ئې داده چه دلته دې سړى ميوه اخستې وه او په دې كښې ئې تاوان وكړو، نو نبى ﷺ خلكو ته حكم وكړو چه په دۀ صدقه وكړى. دوئ وائى: كه چرې دا تاوان په بائع وې نو بيا دې مشترى ولې تاوان كولو؟ او بيا ولې نبى ﷺ په دې سړى باندې د صدقې كولو حكم كولو؟ معلومه شوه چه د جوائحو د وضع حكم نشته.

**جواب**: خو دا استدلال صحيح نۀ دې، ځكه د [وَضۡعُ الۡجَوَائِح] والا حديث په خپله موضوع كښې بيخى ښكاره دې. او په دې حديث كښې چه د مشترى كوم تاوان ذكر دې نو په دې كښې احتمالات دى. **(يو)** داچه دې سړى چه دا تاوان كړې نو ممكنه ده چه د

میوو نرخ او ریټ به آرزان شوے وی۔ (**دویم**) د میوے د وخت تیریدو نه پس به ئے باغ شوکولے وی او بیا به پرے بارانونه یا ګلئ شوے وی نو میوه به خرابه شوے وی۔ (**دریم**) او دا هم کیدے شی چه د شوکولو نه پس دے سړی په دے میوو کښے تاوان کړے وی۔ چه په دے ټولو صورتونو کښے د میوے تاوان په مشتری باندے دے، نۀ په بائع۔ لهذا ددے حدیث نه د [وَضْعُ الْجَوَائِحِ] په انکار باندے دلیل نیول او د واضح حدیث په مقابله کښے مجمل حدیث پیش کول جائز نۀ دی۔ ځکه په دے حدیث الباب کښے دا وضاحت نشته چه دا سړے په څۀ وجه مفلس او تاوانی شوے وو؟۔ کما قاله الشیخ ابن عثیمینؒ بالتفصیل فی فتح ذی الجلال : ٤/١١٥) ۔

ددے حدیث نه به دلیل نیول هله جائز وی چه یوه دا خبره ثابته شی چه ددے سړی دا تاوان د جائحے (آسمانی آفت) د وجے راغلے وو۔ (**دویم**) نبی کریم ﷺ دا تاوان په مشتری راوستے وو۔ او هر کله چه دا دواړه خبرے څوك ددے حدیث نه نشی ثابتولے نو بیا ددے حدیث نه د [وَضْعُ الْجَوَائِحِ] په انکار باندے دلیل نیول جائز نۀ دی۔ نو د دواړو حدیثونو ترمینځه هیڅ تعارض نشته، د دواړو معنیٰ او مطلب ښکاره دے۔ ددے نه معلومیږی چه د علماء کرامو ترمینځه د حدیث په **فهم** کښے ډیر لوئے فرق دے ؟ څوك د دوه حدیثونو ترمینځه تعارض ثابتوی، او څوك دا تعارض په احسنه طریقه ختموی، څوك په واضح حدیث دلیل نیسی او څوك د واضح حدیث په خلاف په مجملاتو او مبهماتو دلیل نیسی! څوك مخکښے نه په ذهن کښے د یو امام رائے ونیسی او ددے دپاره بیا حدیثونه تراشی او په حدیث کښے لرے او نزدے تاویلونه کوی (لکه چه دا د مقلدینو صاحبانو طریقه ده) او څوك خپل قول او نظر صرف د صحیح او واضح حدیث نه اخلی (لکه چه دا د محدثینو طریقه ده) نو په شرعی مسائلو کښے ځکه اختلاف پیدا کیږی۔

## د قرض په وصولئ کښے د معافی کولو اجر

2901( 3 ) – وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ : " كَانَ رَجُلٌ يُدَائِنُ النَّاسَ فَكَانَ يَقُولُ لِفَتَاهُ: إِذَا أَتَيْتَ مُعْسِرًا تَجَاوَزْ عَنْهُ لَعَلَّ اللهَ أَنْ يَتَجَاوَزَ عَنَّا قَالَ : فَلَقِيَ اللهَ فَتَجَاوَزَ عَنْهُ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

**ترجمه** : او ابو هریره ﷺ نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ وفرمایل : یو سړے وو چه د

خلکو سره به ئے د قرضو لین دین کولو (یعنی خلکو ته به ئے قرض ورکولو، او څیزونه به ئے په قرضو ورکول) نو هغهٔ به خپل خادم (نوکر) ته وئیل : کله چه تهٔ یو تنګدسته شخص ته راشي (د قرض وصول کولو دپاره) نو د هغهٔ نه درګذر کوه، شاید چه الله تعالیٰ به مونږ نه درګذر وکړي، نبي کریم ﷺ وفرمایل : نو دے د الله تعالیٰ سره ملاؤ شو (یعنی وفات شو) نو الله تعالیٰ دهٔ نه درګذر وکړو (او دهٔ ګناهونه ئے معاف کړل).
(بخاریؒ ومسلمؒ)

**تشریح** : ددے حدیث تشریح مخکښے ذکر شویده چه دا د بني اسرائیلو د زمانے واقعه ده. ددے حدیث نه ثابته شوه چه په معمولي نیکئ کښے -کله چه په اخلاص سره وشي او د آخرت په یره سره - نو هغے کښے داسے طاقت وي چه ډیر ګناهونه رژوي. او دا هم ثابته شوه چه که یو مالك چا سره په آسانی کولو باندے خادمانو ته حکم وکړي نو اجر به ورته حاصلیږي اګرکه خپله ئے ورته مخامخ نهٔ وي معاف کړي.
او معلومه شوه چه معاملاتو کښے نرمي او احسان کولو سره د انسان ګناهونه معاف کیږي. لِفَتَاهُ : فتیٰ : خادم او غلام ته وئیلے شي.
تَجَاوَزُ عَنْهُ : د تجاوز نه مراد دا دے چه د هغه د تنګولو نه واوړه، او انتظار ورته وکړه چه کله ورته مال حاصل شو نو بیا ورپسے ورشه، یا مطلب دا چه ورته معاف ئے کړه. یا که معمولي درکوي هغے کښے هم چشم پوشي کوه او سخت ئے مهٔ رانیسه، ګذاره ورسره کوه. فَلَقِيَ اللَّهَ : د الله تعالیٰ د ملاقات نه مراد د هغه سړي مرګ دے.

2902 (4) – وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ :" مَنْ سَرَّهُ أَنْ يُنْجِيَهُ اللَّهُ مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ فَلْيُنَفِّسْ عَنْ مُعْسِرٍ أَوْ يَضَعْ عَنْهُ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

2903 ( 5 ) – وَعَنْهُ قَالَ : سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يَقُولُ : " مَنْ أَنْظَرَ مُعْسِرًا أَوْ وَضَعَ عَنْهُ أَنْجَاهُ اللَّهُ مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

**ترجمه** : او ابو قتاده ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چه پدے خوشحالیږي چه الله تعالیٰ ئے د قیامت د مصیبتونو (او پریشانیو) نه خلاص کړي نو هغه دے تنګدست ته (په قرض وصول کولو کښے) تاخیر وکړي یا دے ئے ورته معاف کړي. (مسلم) او د ابوقتاده ﷺ فرمائي : ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل چه فرمایل ئے :

چا چه تنګدست ته مهلت (او تاخیر) ورکړو یا ئے هغهٔ ته (ټول یا بعض قرض) معاف کړو نو الله تعالیٰ به ئے د قیامت د مصیبتونو نه بچ کړي۔ (مسلمؒ)

**تشریح :** کُرَبِ : جمع د کُرْبَةٌ ده۔ سخت محنت، او مضبوط مشقت او غم او مصیبت او تنګئ ته وئیلے شي۔

فَلْيُنَفِّسْ : تنفیس : فراخي راوستو ته وئیلے شي۔ دلته ترے مراد د قرض مطالبه روستو کول۔ اَوْ يَضَعْ عَنْهُ : یعني یا ورته ټول قرض معاف کړي، یا بعض حصه۔

په مسند احمد کښے ددے واقعے تفصیل داسے راغلے دے : محمد بن کعب القرظیؒ فرمائي : د ابوقتاده ﷺ په یو تن باندے قرض وو، دے به ورته راتللو او د هغهٔ نه به ئے مطالبه کوله او هغه به ترے پټیدو، نو یوه ورځ ورته راغلو، نو کور نه یو ماشوم راووتو، د هغهٔ نه ئے د هغهٔ په باره کښے پوښتنه وکړه، ماشوم وویل : هغه په کور کښے دے، لیتهيء (حلواء) خوري، نو دهٔ ورته آواز وکړو چه اے فلانیه ! راووځه څکه چه ما ته خبر راکړے شو چه تهٔ دلته ئے، نو هغه ورته راووتو۔ ورته ئے وویل : ما نه په کومه خبره پټیږے ؟ هغهٔ ورته عرض وکړو : یقیناً زهٔ تنګدسته یم، ما سره هیڅ شے نشته۔ ابوقتاده ﷺ وفرمایل : ستا دِے په الله تعالیٰ قسم وي چه تهٔ تنګدسته ئے ؟ هغهٔ وویل : آؤ، نو ابوقتاده ﷺ په ژړا شو، بیا ئے وفرمایل : ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلي چه فرمایل ئے :

[مَنْ نَفَّسَ عَنْ غَرِيمِهِ اَوْ مَحَا عَنْهُ كَانَ فِي ظِلِّ الْعَرْشِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ]۔

چا چه په خپل قرضداري آساني راوسته یا ئے ترے څه قرض لرے کړو نو دے به د قیامت په ورځ د عرش د سوري د لاندے وي۔ [مسند احمد : ٥/٣٠٨ اسناده صحيح]

علماؤ دلته دا فائده لیکلے ده چه عام طور سره د فرائضو درجه د نفلي اعمالو نه زیاته وي لیکن په بعض مسائلو او معاملاتو کښے نفلي اعمال د فرضي اعمالو نه زیات فضیلت لري، لکه یو د هغے نه دا دے چه یو تنګدست او مفلس ته خپل حق (مثلاً قرض وغیره) معاف کول اګرکه دا کار مستحب دے او هغهٔ ته د قرض په ادا کولو کښے مهلت ورکول واجب دي۔ لیکن دا مستحب عمل ترے بهتر دے۔

**فائده :** په روستو حدیث کښے چه (فی ظله) لفظ راغلے نو د هغے معنیٰ هم واضحه شوه چه ظل العرش مراد دے۔

2904( 6 ) - وَعَنْ أَبِي الْيَسَرِ ﷺ قَالَ : سَمِعْتُ النَّبِيَّ ﷺ يَقُوْلُ : " مَنْ أَنْظَرَ مُعْسِرًا أَوْ

وَضَعَ عَنْهُ أَظَلَّهُ اللهُ فِيْ ظِلِّهِ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

**ترجمه** : او ابو اليسر ﷺ فرمائي : ما د نبي كريم ﷺ نه واوريدل چه فرمايل ئې : چا چه يو تنګدست ته مهلت ورکړو يا ئې هغهٔ نه قرض کيخودو (معاف کړو) الله تعالیٰ به ورته په خپل سورى د رحمت کښې ځائې ورکړى. (مسلمٌ)

**تشريح** : ددې حديث واقعه هم داسې ده : عبادهٔ بن وليد بن عباده بن صامت ﷺ فرمائي: زهٔ د خپل پلار سره راووتم چه د انصارو په دغه علاقه کښې مو د انصارو د وفات نه مخکښې علم طلب کولو، نو اول موږ سره د رسول الله ﷺ صحابي ابو اليسر ﷺ ملاؤ شو او د هغهٔ سره يو غلام وو چه د هغهٔ سره د کتابونو يو پنډ وو، او په ابو اليسر ﷺ باندې يو څادر او بل معافري جامه وه او په غلام باندې ئې هم يو څادر او بل معافري جامه وه نو زما پلار (وليد) ورته وفرمايل : اې تره! زهٔ ستا په مخ کښې د غصې اثر وينم. هغه ووېل : آؤ، زما په فلاني ځوى د فلانى باندې چه د بنو حرام قبيلې نه دې- مال قرض وو، نو زهٔ د هغهٔ کور والو ته ورغلم، ما پرې سلام واچولو، ما ووېل : آيا فلانې دلته شته؟ هغوى ووېل : نشته. نو ما ته د هغهٔ يو زلمې ځوى راووتو، ما ورته ووېل : ستا پلار چرته دې؟ هغهٔ ووېل : ستا آواز ئې واوريدو، نو زما د مور کټ (کوټې) ته ننوتو. ما ووېل : راووځه ما ته پته ده چه ته چرته ئې؟. نو هغه راووتو ما ووېل : تا باندې څه شوى چه ته ما نه پټيږې؟ هغهٔ ووېل : قسم په الله زهٔ تا ته خبره کوم بيا درته دروغ نشم وئيلې، زهٔ قسم په الله زهٔ ددې نه يريږم چه تا ته خبره وکړم او بيا درته دروغ ووايم. او وعده درسره وکړم او بيا درسره وعده خلافي وکړم او حال دا چه ته د رسول الله ﷺ ملګرې ئې او قسم په الله زهٔ تنګدسته اُوم. ابو اليسر ﷺ ورته وفرمايل : ستا دِې په الله قسم وى، هغهٔ ووېل : زما دِې په الله قسم وى، څلور کرته ئې داسې خبره وکړه. راوى وائي: نو هغهٔ خپله پرچه (چيټئ) راوړه او په خپل لاس سره ئې هغه ختمه کړه او دا ئې وفرمايل :[إِنْ وَجَدْتَ قَضَاءً فَاقْضِنِيْ وَإِلَّا أَنْتَ فِيْ حِلٍّ] - که تا سره د ادا کولو څه مال ملاؤ شو نو ما ته به ئې ادا کړې او که نهٔ وى نو ته زما نه آزاد ئې. بيا ئې ورته دا حديث وفرمايلو چه زما دواړو سترګو او دواړو غوږونو او زما دې زړهٔ د رسول الله ﷺ دا ارشاد آوريدلې دې. (مسلم : ٧٧٠٤)

امام احمدؒ، ابن ماجهؒ او حاكمؒ وغيره د بريده اسلمي ﷺ نه روايت نقل کوى چه نبي ﷺ وفرمايل : [مَنْ أَنْظَرَ مُعْسِرًا كَانَ لَهُ بِكُلِّ يَوْمٍ صَدَقَةٌ، وَمَنْ أَنْظَرَهُ بَعْدَ حِلِّهِ كَانَ لَهُ مِثْلَهُ

(مِثْلَيْهِ) فِيْ كُلِّ يَوْمٍ صَدَقَةٌ]۔ چا چه يو تنګدست ته مهلت ورکړو نو ددۀ دپاره به د هرې ورځې په بدله کښې (د قرض برابر) صدقه ملاويږي، او بيا چه کله د ادائيګۍ ورځ راشي او هغه ورته بيا مهلت ورکړي نو ددۀ دپاره به د هغې په هره ورځ کښې د دوچنده صدقې ثواب ملاويږي۔ [ابن ماجه : ۲٤۱۸، صحيح، مسند احمد : ۲۳۰۹٦]۔

پدې مثال داسې دې چه يو تن چا ته د دوه مياشتې په وعده باندې سل (۱۰۰) روپئ قرض ورکړي، او د دوه مياشتو نه پس د هغۀ غريبي او تنګدستي وګوري نو هغۀ ته يوه مياشت نور مهلت ورکړي، بيا چه مياشت تيره شي نو نور مهلت ورکړي نو د اولې مياشتې مهلت په ورکولو به د يو چند صدقې ثواب ملاويږي او د دويم مهلت په ورکولو به دوچنده ثواب ملاويږي۔

فِيْ ظِلِّهِ : ددې نه مراد د عرش سورې دې، نو مطلق به په مقيد باندې محمول وي، او ددې نسبت الله تعالیٰ کيږي لکه بل روايت کښې (فی ظلی) يعنی زما په سوري کښې به وي، ځکه چه د عرش سورې د الله تعالیٰ په قدرت او حکم سره وي۔ بعض وائي چه ددې نه مراد خاص سورې چه الله تعالیٰ به ئې د قيامت په ورځ پيدا کوي او خاص بندګان به د هغې لاندې ودروي۔ دا به د رحمت ځائې وي، شيخ ابن عثيمينؒ فرمائي : ددې نه مراد د الله تعالیٰ د ذات سورې نۀ دې ځکه چه دا خبره خطاء ده، بيا خو به ددې نه دا لازمه شي چه نمر د الله تعالیٰ دپاسه دې۔ والعياذ بالله۔ (مجموع فتاوی : ۴۹۷/۸)

هرکله چه په حديث کښې د عرش سورې ذکر شو نو پدې به ايمان راوړل لازم وي، نو دې کښې به دا شکونه پيدا کول جائز نۀ وي چه ددې نه دا خبره لازميږي او دا لازميږي، يا سورې به د څه شي نه وي؟ بلکه ددې سوري د حاصلولو دپاره اعمال پکار دي۔

## په ښه شان قرض اداکونکے بهترين شخص دے

2905 (7) – وَعَنْ أَبِيْ رَافِعٍ ؓ قَالَ: اِسْتَسْلَفَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ بَكْرًا فَجَاءَتْهُ إِبِلٌ مِنَ الصَّدَقَةِ قَالَ أَبُوْ رَافِعٍ : فَأَمَرَنِيْ أَنْ أَقْضِيَ الرَّجُلَ بَكْرَهُ فَقُلْتُ : لَا أَجِدُ إِلَّا جَمَلًا خِيَارًا رَبَاعِيًا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ :" **أَعْطِهِ إِيَّاهُ، فَإِنَّ خَيْرَ النَّاسِ أَحْسَنُهُمْ قَضَاءً** ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

**ترجمه** : او ابو رافع ؓ نه روايت دې چه نبي ﷺ يو سري نه يو ځوان اوښ قرض واخستۀ، بيا نبي ﷺ ته د صدقې د اوښانو نه څۀ اوښان راغلل، ابو رافع وائي : ما ته ئې

حکم وکړو چه دغه سړی ته د هغهٔ څوان اوښ ورکړم، نو ما عرض وکړو: زهٔ (په دیے اوښانو کښیے) نـهٔ مومـم مگـر (ددهٔ د څوان اوښ نـه) غوره اووهٔ کلن اوښ، نبی ﷺ وفرمایل: همدا ورله ورکړه ځکه په خلکو کښیے بهترین کس هغه دیے چه هغه په ادائیګۍ کښیے د هر چانه زیات ښهٔ وی. (مسلمؒ).

**تشریح**: [إِسْتَسْلَفَ] أَيِ اقْتَرَضَ (قرض ئے واخستهٔ) عرب قرض ته سلف وائی، فرق دومره دیے چه سلف د قرض نه عام دیے ځکه د سلف اطلاق په سلم باندیے هم کیږی. [بَكْرًا] د باء په زور سره، څوان اوښ. [ خِيَارًا] بهتر او غوره. [رَبَاعِيًا] د راء په زور سره، رباعی هغه نر اوښ چه شپږ کاله ئے پوره شی او په اووم کښیے ننوځی او په دیے وخت کښیے ددهٔ رباعی یعنی د ژامے څلور واړه غاښونه راخیژی کوم چه مخامخ دوه غاښونو پسیے غاښونه دی. او په غواګانو کښیے رباعی هغه دیے چه څلور کاله ئے پوره شی پنځو ته ورسیږی. او په ګډو بزو کښیے چه څلورو کلونو ته ورسیږی.

**فوائد الحدیث**: (۱) حدیث نه ثابته شوه چه قرض اخستل جائز او مباح دی هر کله چه انسان ته خپل ځان معلوم وی چه دا به ادا کوی. او قرض اخستل په مذموم سوال کښیے نهٔ داخلیږی ځکه نبی کریم ﷺ دا کار کړیے، او بله دا چه په دیے سره انسان نفع واخلی او بیا همدا شے بیرته مالك ته واپس کوی. خو مناسبه داده چه انسان صرف د ضرورت په وخت قرض اخلی، بے حاجته دیے قرضونه نهٔ اخلی ځکه په شریعت کښیے د قرض مسئله سخته ده، په دیے کښیے ډیر خلك تساهل او نرمی کوی. د اخستو په طریقه پو هیږی خو د ادا کولو په طریقه نهٔ پو هیږی. او بل طرفته قرض ورکونکی له قرض ورکول مستحب دی، اسلام دیته ترغیب ورکړیے او ددیے ثوابونه ئے ښودلی، په دیے کښیے د مسلمان سره مدد کول دی او د هغهٔ مشکلات او حاجتونه پوره کول دی چه دا ځانله بهترین عبادت دیے، خو سړی سړی ته به ګوریے.

(۲) او معلومه شوه چه حیوان قرض اخستل جائز دی، قرض یواځے نقودو یا غلو پوریے خاص نهٔ دیے بلکه په هر شئ کښیے جاری کیږی. (۳) او معلومه شوه چه د قرض ادا کولو په وخت د همغه شئ مثل ادا کول واجب دی کوم شے ئے چه قرض اخستیے.

(٤) او معلومه شوه چه چا یو شے قرض واخستو نو د هغے د ادا کولو په وخت بهتر شے ورکول جائز دی، بلکه دا مستحبه او ښه طریقه ده چه انسان غوره شے ادا کړی، لکه

دلته نبي كريم ﷺ ځوان او وړوكے اُوښ قرض اخستے وو او د ادا كولو په وخت ئے رَباعي او بهترين اُوښ وركړو، او دے خبرے ته ئے ترغيب وركړو. او ديته شرعًا او عُرفًا ښائسته اخلاق ويل كيږي. او دا په سود كښے نۀ داخليږي ځكه قرض ادا كونكي د خپل طرفه تبرعًا او احسانًا قرض خواه ته دا وركړي دي، قرض خواه په هغۀ شرط نۀ دے لګولے. سود به هله جوړيږي چه د قرض وركولو په وخت د پيسو مالك په قرض اخستونكي باندے دا شرط ولګوي چه زر روپئ دركوم او لس دپاسه زر روپئ به راكوے، يا ځوان اوښ قرض دركوم خو د قرض ادا كولو په وخت به غټ اوښ راكوے. نو دا اوس سود وګرځيدۀ. ځكه سود ويل كيږي هغه زيادت ته چه شرط كړے شوے وي. برابره خبره ده كه دا زيادت په صفت كښے وي، مثلًا : يو كلنے اوښ په دے شرط قرض دركوم چه د ادا كولو په وخت به څلور كلنے راكوے. اوكه په مقدار كښے وي، لكه يو اوښ قرض دركوم په دے شرط چه د ادا كولو په وخت به دوه اوښان راكوے. دا دواړه سود دے. او معروف هم د مشروط پشان دے يعني كه په عرف كښے څوك چاله داسے قرض وركوي نو اګركه په الفاظو كښے دا شرط نۀ كړے شي بيا به هم سود وي.

(۵) حديث دليل دے چه د قرض په ادا كولو كښے توكيل جائز دے، يعني چه بل څوك د ادا كولو دپاره وكيل مقرر كړي.

(٦) دليل دے چه وكيل به د موكل د خبرے نه زياتے نۀ كوي مګر هله چه د موكل سره مشوره وكړي. لكه دلته ابورافع ﷺ صرف غوره رباعي موندلو نو هغه ئے ادا نكړو تردے چه د نبي ﷺ نه ئے اجازت وغوښتو.

(۷) دا حديث دليل دے چه مثل په حيوان كښے هم وي. مطلب دا چه د حيوان ضمانت به د هغے په مثل وي نۀ په قيمت سره، البته كه مثل ادا كول متعذر (مشكل) شو نو بيا قيمت ادا كول جائز دي. لكه دلته نبي ﷺ د اُوښ په بدله كښے اُوښ ادا كړو. نۀ قيمت. نو مثلًا د جامو په بدله كښے به جامے ادا كوي او د لوښو په بدله كښے لوښي او د ګاړي په بدله كښے ګاړے.

(۸) خلك په ايمان او اخلاقو كښے متفاوت او مختلف دي، د چا اعلىٰ اخلاق او د چا ادنىٰ، دا دليل دے چه په ايمان كښے زيادت او نقصان راځي.

(۹) بادشاه او واكدار له جائز دي چه د مسلمانانو دپاره قرض واخلي. رسول الله ﷺ

دلته قرض د بيت المال او د مسلمانانو دپاره اخستے وو۔ پدے وجه ئے د بيت المال نه ادا کړو۔

(١٠) په حيواناتو کښے ربا الفضل نۀ جاري کيږي اګرکه دواړه حيوانات دَ يو جنس نه وي۔ [فتح ذى الجلال والاكرام: ٤/١٠١، توضيح الاحكام ٤/ ٤٦٩]

(١١) **اشكال** : امام نوويؒ وائي پدے حديث کښے دا اشکال کيږي چه نبي ﷺ د زکاة د مال نه څنګه د قرضداري د اُوښ نه بهتر ادا کړو سره ددے نه چه په زکاة باندے ناظر دپاره دا جائز نۀ دي چه د هغے نه تبرع او احسان وکړي۔ ددے جواب دا دے چه نبي ﷺ دا قرض د خپل ځان دپاره اخستے وو بيا هرکله چه د زکاة اُوښان راغلل نو د هغے نه ئے يو اُوښ يو مستحق ته ورکړو بيا ئے د هغۀ نه په خپلو پيسو سره هغه بهتر اُوښ واخستو او د احسان په طور ئے په قرض کښے ورکړو۔ او پدے باندے دليل بل روايت د ابو هريره ؓ دليل دے چه نبي ﷺ وفرمايل : [اِشْتَرُوْا لَهُ سِنًّا] ددۀ دپاره ددۀ د اُوښ د عمر نه زيات عمر والا واخلئ۔ او دا معتمد جواب دے۔ او نور جوابونه هم شويدي يو د هغے نه دا دے چه قرض اخستونکے يو بل محتاج سړے وو، نبي ﷺ د هغۀ دپاره قرض اخستے وو۔ نو هرکله چه د صدقے اُوښان راغلل نو نبي ﷺ حکم وکړو چه هغۀ ته دِ ادا کړے شي۔

## قرض ورکونکے هر وخت د واپسئ مطالبه کولے شي

2906 (8) - وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ؓ أَنَّ رَجُلًا تَقَاضَى رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ فَأَغْلَظَ لَهُ فَهَمَّ أَصْحَابُهُ فَقَالَ : " **دَعُوْهُ فَإِنَّ لِصَاحِبِ الْحَقِّ مَقَالًا وَاشْتَرُوْا لَهُ بَعِيْرًا فَأَعْطُوْهُ إِيَّاهُ** " قَالُوْا : لَا نَجِدُ إِلَّا أَفْضَلَ مِنْ سِنِّهِ قَالَ : " **اِشْتَرُوْهُ فَأَعْطُوْهُ إِيَّاهُ فَإِنَّ خَيْرَكُمْ أَحْسَنُكُمْ قَضَاءً** ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

**ترجمه** : او ابو هريره ؓ نه روايت دے چه يو سړي د رسول الله ﷺ نه قرض وغوښتو نو هغۀ سره ئے سختي وکړه نو د نبي کريم ﷺ ملګرو (د هغۀ د سزا) اراده وکړه نو نبي کريم ﷺ وفرمايل : دے پريدئ، ځکه چه د چا حق دے هغۀ ته د وينا اختيار شته دے، البته داسے وکړئ چه تاسو هغۀ دپاره يو اُوښ واخلئ او هغۀ ته هغه ورکړئ، هغوی وويل : مونږ نۀ مونده کوو مګر غوره ددۀ د عمر نه۔ وے فرمايل : همدا ورله واخلئ او ورته ئے ورکړئ، ځکه چه په تاسو کښے بهترين هغه شخص دے چه ستاسو نه د

ادائیګئ په لحاظ ښۀ وی. (بخاریؒ ومسلمؒ)

**تشریح** : [رَجُلًا] : حافظ ابن حجرؒ وغیره فرمائی : دا قرض غوښتونکے او بیا په هغې کښې سختی کونکے یا یو کافر وو، یهودی وو یا بل کافر. او په روایت د عبد الرزاق او احمدؒ کښې دی : چه دا یو بانډے والا سخت مزاجه انسان وو چه د نبوت د مجلس او د نبوت د مقام د آدابو نه پوره واقف نۀ وو، دا سلیقه ئے نۀ وه زده چه چا سره په څه طریقه خبره کیږی. او دے احتمال ته حافظؒ اظهر وئیلے دے.

[فَأَغْلَظَ لَهُ] : که دا شخص چرته مسلمان وی نو بیا به مطلب دا وی چه په مطالبه کښې ئے سختی وکړه بغیر ددے نه چه د نبی ﷺ بے عزتی ئے کړی وی. او که کافر وی نو بیا به ئے بے عزتی هم کړی وی.

[فَهَمَّ أَصْحَابُهُ] : د نبی ﷺ صحابه کرامو ﷺ اراده وکړه چه دغه شخص ته په وینا او عمل سره ضرر ورکړی لیکن دا کار ئے ونکړو د نبی ﷺ د ادب د وجه نه.

[دَعُوهُ] : یعنی دے پریدئ او مۀ ئے رټئ.

[لِصَاحِبِ الْحَقِّ مَقَالًا] : یعنی په سختئ سره او په قوی دلیل سره مطالبه کولو حق ئے شته، لیکن د شرعی ادب لحاظ به ساتی، کنځل او ردے بدے به نۀ وائی. ابن الملك وائی دلته د حق نه مراد قرض دے، یعنی د چا چه په یو قرضداری باندے حق وی او هغه ورسره ټال مټول وکړی نو دۀ دپاره دا حق جوړیږی (جائز دی) چه هغۀ باندے د ناراضګئ اظهار وکړی، د هغۀ شکایت وکړی، او که هغه بیا هم قرض ادا نکړی نو قاضی او حاکم ته د هغۀ فیصله پورته کړی او په هغۀ باندے ملامتیا ووائی. دا هغه مقال دے. (شرح المشارق، تحفة الاحوذی)

علامه قرطبیؒ په "المفهم" کښې فرمائی : (اِشْتَرُوا لَهُ) نه معلومه شوه چه ددے حدیث جدا واقعه ده او د ابو رافع ﷺ حدیث جدا واقعه ده، ځکه چه په هغه حدیث کښې دا دی چه هغۀ ته ئے اُوښ د زکاة د اُوښانو نه ورکړے وو او دلته راغلل چه دا ئے ورله آخستے وو. (المفهم : ۱۴/۱۲۶)

او بعض شارحین فرمائی : دواړه یوه واقعه ده، نو بیا د دواړو مطلب دا دے چه اول کښې رسول الله ﷺ حکم وکړو چه ددے قرض غوښتونکی دپاره اُوښ واخلئ. بیا ددے نه روستو د زکاة اُوښان راغلل نو د هغے نه ئے ورته ورکړل. یا مخکښې ذکر شو چه یو تن د

زکاة د اُوښانو نه د یو اُوښ مستحق شو بیا نبی ﷺ حکم وکړو چه د هغهٔ نه دِے بهتر واخستے شي او دے قرض غوښتونکی ته دِے ورکړے شي۔ (فتح الباری وعمدة القاری)

## د قرض په ادائیګئ باندے قادریدو باوجود قرض نهٔ ادا کول ظلم دے

2907 (9) – وَعَنْهُ ﷺ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ : " مَطْلُ الْغَنِيِّ ظُلْمٌ فَإِذَا أُتْبِعَ أَحَدُكُمْ عَلٰى مَلِيءٍ فَلْيَتْبَعْ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

**ترجمه** : د ابو هریره ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمایل : د مالدار انسان ټال متهول کول ظلم دے او کله چه په تاسو کښے څوك په یو مالدار باندے حواله کړے شي نو هغهٔ له قبلول پکار دي۔ (بخاريؒ، مسلمؒ)۔

**تشریح** : [مَطْلُ الْغَنِيِّ] مَطْلٌ: ټال متهول کول، تاخیر کول، نن صبا کول۔ او غنی نه مراد هغه تن دے چه د قرض ادا کولو وس لري، برابره خبره ده که مالداره وي او که نهٔ، خو چه قرض ادا کولے شي هغهٔ ته دلته غني وئیل شوے۔ او مراد دادے چه په غیر د عذر نه قرض روستو کول ظلم او زیاتے دے۔ [ظُلْمٌ] هغه شے اخستل چه ستا حق نهٔ وي، دارنګه یو شے د خپل ځائے نه سوئ په بل ځائے کښے کیښودل۔ دارنګه ددے اطلاق په حق منع کولو او زیاتی کولو باندے هم کیږي۔ [أُتْبِعَ ] د همزے په پیښ، د تاء په سکون او د باء په زیر سره۔ یعني حواله کړے شي۔ د خپل حق حاصلولو دپاره چا پسے ورپسے کړے شي، ضمانت ورکړے شي۔ [مَلِيْءٍ] ډك، مالدار، سرمایه دار۔ ددے په آخره کښے همزه ده۔ او کله همزه غورزولے شي او یاء له شد ورکولے شي [مَلِيٍّ] وئیلے شي۔ [فَلْيَتْبَعْ] د یاء په زور، د تاء په سکون سره۔ هغه دِے ورپسے شي۔ او هغه حواله دِے قبوله کړي۔

**فوائد** : (۱) حدیث نه ثابته شوه چه د مالداره سړي قرض نهٔ ادا کول او په ادا کولو کښے نن صبا کول حرام دي، بلکه پکار داده چه څوك په قرض ادا کولو قادر وي او د قرض نیته پوره شوے وي نو فورًا حقدار ته قرض ادا کول پکار دي او هغه غوښتو او زاري او شکایت کولو ته مجبورول نهٔ دي پکار۔ څوك چه سره د قدرت نه دا کار کوي نو هغه ظالم دے، او د ظلم بدله به په قیامت کښے د تیارو په صورت کښے انسان ته ملاوېږي۔ او دا حدیث عام دے هر هغه چاته شامل دے چه په هغهٔ باندے د چا حق وي لکه په خاوند باندے د ښځے حق وي، په مولیٰ باندے د مرئی د نفقے حق وي، په حاکم

باندې د رعيت حق وي. او په مالك باندې د مزدور حق وي، او په دكاندار باندې د كارخانه دار او سيل مين حق وي، او داسې نور. دا ټول حقونه په وخت ادا كول پكار دي او په دې كښې د تاخير كولو نۀ ځان ساتل پكار دي. ډيرو دكاندارانو سره د كارخانه دار او سيل مين رقم موجود وي ليكن هغۀ ته ئې پوره نۀ وركوي، ځانله په پردو مالونو ګټه كوي، دا كار ظلم دې.

(٢) په دې حديث كښې د ښائسته معاملې كولو آداب ښودلې شوي، هغه دا چه قرضه وړي ته حكم شوې چه تۀ به ټال مټول نۀ كوې، او صاحبِ حق ته حكم شوې چه تۀ په ښائسته طريقې سره خپل قرض غواړه، كه تۀ بل مالدار كس ته حواله كړې شې نو دا حواله قبوله كړه.

(٣) د حديث د ظاهر نه معلومه شوه چه كله حقدار خپل حق په ښكاره توګه يا په اشاراتو سره غوښتلې نۀ وي نو هغۀ ته فوراً ادا كول واجب نۀ دي. او دا د (مطل) لفظ نه معلوميږي ځكه (ټال مټول) ديته وائي چه څوك تانه خپل حق وغواړي نو تۀ نن صبا كوې او د هغۀ په حق ادا كولو كښې تاخير كوې.

(٤) او معلومه شوه چه ټال مټول كول د مالدار پورې خاص دي چه هغه د قرض په ادا كولو قادر وي او ددې باوجود نن صبا كوي. پاتې شو عاجز او فقير قرضه وړې چه هغه په ادا كولو قادر نۀ وي نو دا معذور دې. او الله تعالىٰ ددۀ په باره كښې قرض خواه ته حكم كړې چه دۀ ته به ددۀ د مالدارئ پورې انتظار كوې: ﴿وَإِنْ كَانَ ذُوْعُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ إِلٰى مَيْسَرَةٍ﴾ [البقرة: ٢٨٠] او يا داسې ووايه: چه څوك د قرض ادا كولو نه عاجز وي نو هغۀ ته ماطل (ټال مټول) كونكې نۀ ويل كيږي.

(٥) حديث دليل دې چه انسان له په ښې طريقې سره د خپل قرض ادا كولو مطالبه پكار ده، هغه دا چه كله قرضه وړې قرض والا هغه انسان ته حواله كړي چه هغه د قرض په ادا كولو قادر دې او ټال مټول كونكې نۀ دې او نۀ تنګونكې دې نو دا قِسم حواله قبلول پكار دي، او داسې نۀ دي ويل پكار چه زما قرض خو تا پورې دې بس تۀ به ئې راته راكوې زۀ ئې د هغه بل تن نه نۀ غواړم! ځكه حوالې قبلولو كښې آساني ده او خپل قرض په ښه طريقې سره وصولول دي، او ددې كونكي دپاره په دنيا او آخرت كښې د خير اميد لرل كيږي، ځكه دا د نبي كريم ﷺ ددې دعا لاندې راځي چه مخكښې تير شوي:

[رَحِمَ اللّٰهُ رَجُلًا سَمْحًا اِذَا بَاعَ، وَاِذَا اشْتَرٰی، وَاِذَا اقْتَضٰی ] [بخاری: ۲۰۷٦] (الله دِې په هغه سړي رحم وکړي چه د اخستلو خرڅولو او قرض غوښتلو په وخت خلکو سره آساني کوي)- جزاء من جنس العمل وي، د آسانۍ بدله آساني وي- او کله چه صاحبِ حق د مالدار سړي حواله قبوله کړه نو د مُحِيل (حواله ورکونکی) ذمه فارغه شوه او د قرض والا حق مُحال عليه (چا باندې چه حواله ورکړې شوې وي) ته نقل شو- او دا د عامو فقهاؤ قول دې- البته د امام احمدؒ يو قول دادې چه مُحيل په هيڅ صورت کښې بری کيدې نشي، بلکه که محال ته د محال عليه له خوا حق ملاؤ نشو نو دا بيرته د مُحِيل نه د خپل حق مطالبه کولې شي- او دا خبره شيخ عبد الرحمن سعديؒ غوره کړې- [المغنی: ۷/ ٦۰، المختارات الجلية، ص: ۸۲] او **همدا راجحه ده**-

(٦) حديث نه معلومه شوه چه څوك فقير سړي ته حواله کړې شي نو ددۀ دپاره حواله قبلول ضروري نۀ دي ځکه په دې کښې دۀ ته ضرر دې ځکه نبي کريم ﷺ د مالدار د حوالې قبلولو امر فرمايلې- (۷) په دې حديث کښې چه د حوالې قبلولو امر راغلې نو دا د استحباب دپاره دې او که د وجوب دپاره ؟ (أ) جمهور علماء : ابوحنيفهؒ، مالكؒ، شافعيؒ فرمائي: دا د استحباب دپاره دې، ځکه حواله يو عقد دې چه ددې دپاره د محيل او محال رضا ضروري ده نو ددې قبلول ضروري نۀ دي بلکه مستحب دي ځکه د محال حق د محيل په ذمه دې نو هغۀ دپاره جائز نۀ دي چه ددۀ دا حق د هغۀ د رضا نه بغير بل چاته واړوي-

(ب) امام احمدؒ او اهل ظاهرؒ فرمائي: په دې حديث کښې دوه امرونه راغلي او دا مطلق دي او مطلق امر د وجوب دپاره وي، لهذا څوك چه يو مالداره سړي ته حواله کړې شي نو هغۀ دپاره حواله قبلول واجب دي- او دا قول قوي دې ځکه امر چه د وجوب نه اړول کيږي نو ددې دپاره دليل پکار دې- علامه صنعانيؒ فرمائي: زۀ نۀ پوهيږم چه دا امر ولې د خپل ظاهر نه واړولې شي؟ [سبل السلام]

(۸) په عربي ملکونو کښې (ډرافټ) ته حواله ويل کيږي- او (ډرافټ) جوړونکې، بينك رقم جمع کونکي ته يو رسيد ورکوي چه ددې رسيد په ذريعه به د فلاني بينك نه دا رقم وصولولې شي- دا د حوالې جديد مروّجه نظام دې چه دا د شريعت موافق دې- والله تعالیٰ اعلم-

## د قرضداری او قرض ورکونکی جګړه ختمول جائز دی

2908 ( 10 ) - وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ ﷺ: أَنَّهُ تَقَاضَى ابْنَ أَبِي حَدْرَدٍ دَيْنًا لَهُ عَلَيْهِ فِي عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ فِي الْمَسْجِدِ فَارْتَفَعَتْ أَصْوَاتُهُمَا حَتّٰى سَمِعَهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ وَهُوَ فِي بَيْتِهِ فَخَرَجَ إِلَيْهِمَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ حَتّٰى كَشَفَ سَجْفَ حُجْرَتِهِ وَنَادٰى كَعْبَ بْنَ مَالِكٍ قَالَ: "يَا كَعْبُ" قَالَ: لَبَّيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ! فَأَشَارَ بِيَدِهِ أَنْ ضَعِ الشَّطْرَ مِنْ دَيْنِكَ قَالَ كَعْبٌ: قَدْ فَعَلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ: "قُمْ فَاقْضِهِ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

**ترجمه** : او کعب بن مالک ﷺ نه روایت دے چه هغهٔ د رسول الله ﷺ په زمانه کښے په مسجد نبوی کښے د ابن ابی حدرد ﷺ نه د خپل قرض د واپسئ مطالبه وکړه چه په هغهٔ باندے ئے وو، نو د دواړو آوازونه پورته شول تردے چه رسول الله ﷺ واوریدل حال دا چه هغه په کور کښے وو، نو رسول الله ﷺ هغوی دواړو ته راووتو تردے چه د خپلے حجرے مبارکے پرده ئے لرے کړه او کعب بن مالک ته ئے آواز ورکړو چه اے کعبه! هغهٔ وویل : حاضریم اے د الله رسوله! نو نبی کریم ﷺ هغهٔ ته په لاس سره اشاره وکړه چه د خپل قرض نه نیمائی حصه معاف کړه، کعب وویل : اے د الله رسوله! ما دا کار وکړو، نبی کریم ﷺ (ابن ابی حدرد ﷺ ته) وفرمایل : (اُوس) ته پاځیږه او ددهٔ باقی قرض ادا کړه۔ (بخاریؒ، مسلمؒ)

**تشریح** : **ابن ابی حدرد** : ددهٔ نوم عبد الله بن ابی حدرد ﷺ دے۔ بهترین جلیل القدر صحابی دے۔

سَجْفَ : د سین په زبر او زیر سره، پردے ته وائی۔ داودیؒ وائی : سجف دروازے ته وائی۔ **فوائد الحدیث** : (۱) دا حدیث دلیل دے چه د رسول الله ﷺ په خپلو ملګرو باندے انتهائی درجه اعتماد وو، پدے وجه ئے د جګړے په عین موقعه کښے کعب بن مالک ﷺ ته وفرمایل : نیمائی ورته معاف کړه او دا کار صرف هغه څوک کولے شی چه هغه په خپلو ملګرو پوره اعتماد لری، چه هغوی ددهٔ نه نفسونه او مالونه او خپلے رائے او احساسات قربانوی۔ پدے وجه کعب بن مالک ﷺ ددے سختئ باوجود په عین موقعه کښے سمدست وفرمایل : ما دا کار وکړو اے د الله رسوله!۔ واقعی خبره ده چه د صحابه کرامو د رسول الله ﷺ سره د خپل ځان او د خپل مال او اهل هر څه نه زیات

محبت وو، او د هغوی نظر په آخرت لګیدو، دنیا ورته د آخرت او د الله د رسول د خبرې په مقابله کښې هیڅ هم نۀ ښکاره کیده. فَرَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَاَرْضَاهُمْ اَجْمَعِيْنَ

(۲) دا دلیل دے چه په مسجد کښې د قرض د واپسئ مطالبه کول جائز دی.

(۳) حقدار ته سفارش کول او جګړے والو ترمینځ صلح کول او د چا سفارش قبلول پدے شرط چه ددے سفارش تعلق د یَو معصیت او ګناه سره نۀ وی. جائز بلکه بهتر دی. او د تنګدست سفارش کول پکار دی، او د مسلمانانو ترمینځ محبت پیدا کول او اصلاح کول بهتر عمل دے.

(٤) (قُمْ فَاقْضِهِ) نه معلومه شوه چه هرکله یو تن چا ته څه حق پریدی نو بل له پکار دی چه باقیمانده حق ورته سمدست ادا کړی.

(٥) اشاره د خبرے په ځائے قائمیږی کله چه د هغے نه فهم حاصلیږی.

(٦) د چا نه خپل حق غوښتل جائز دی، او دا هیڅ عیب نۀ دے.

(۷) په دروازه باندے پردے رازوړندول سنت طریقه ده.

(۸) په مسجد کښې غیر اختیاری آوازونه پورته کیدل جائز دی. او په غیر د ضرورت نه آواز پورته کول صحیح نۀ دی. او پدے کښې جمع د احادیثو ده.

## د قرض په ادا کولو کښې تاخیر کونکو دپاره یوه عبرتناکه واقعه

2909 (11) – وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ ﷺ قَالَ: كُنَّا جُلُوْسًا عِنْدَ النَّبِيِّ ﷺ إِذْ أُتِيَ بِجَنَازَةٍ فَقَالُوْا: صَلِّ عَلَيْهَا فَقَالَ: "**هَلْ عَلَيْهِ دَيْنٌ**؟" قَالُوْا: لَا فَصَلّٰى عَلَيْهَا ثُمَّ أُتِيَ بِجَنَازَةٍ أُخْرٰى فَقَالَ: "**هَلْ عَلَيْهِ دَيْنٌ**؟" قَالُوْا: نَعَمْ فَقَالَ: "**فَهَلْ تَرَكَ شَيْئًا**؟" قَالُوْا: ثَلَاثَةُ دَنَانِيْرَ فَصَلّٰى عَلَيْهَا ثُمَّ أُتِيَ بِالثَّالِثَةِ فَقَالَ: "**هَلْ عَلَيْهِ دَيْنٌ**؟" قَالُوْا: ثَلَاثَةُ دَنَانِيْرَ قَالَ: "هَلْ تَرَكَ شَيْئًا؟" قَالُوْا: لَا، قَالَ: "**صَلُّوْا عَلٰى صَاحِبِكُمْ**" قَالَ أَبُوْ قَتَادَةَ: صَلِّ عَلَيْهِ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَعَلَيَّ دَيْنُهُ فَصَلّٰى عَلَيْهِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

**ترجمه**: او سلمه بن اکوع ﷺ فرمائی: (یوه ورځ) مونږ د نبی کریم ﷺ سره ناست وو چه پدے کښې یوه جنازه راوړے شوه، خلکو (نبی کریم ﷺ ته) وفرمایل: پدے باندے مونځ وکړئ. نو نبی کریم ﷺ وفرمایل: آیا په دۀ باندے قرض شته؟ خلکو وویل: نه،

نو نبی کریم ﷺ په هغې باندې جنازه وکړه. بیا بله جنازه راوړې شوه، نو وې فرمایل : آیا په دهٔ باندې قرض شته ؟ خلکو وویل : آؤ، نو نبی کریم ﷺ وفرمایل : آیا دهٔ څه مال پریښې دې ؟ (چه په هغې سره ددهٔ قرض ادا کړې شي) خلکو وویل : درې دیناره (ئې پریښې دي)، نو نبی کریم ﷺ په هغې باندې جنازه وکړه بیا دریمه راوړې شوه، نبی کریم ﷺ وفرمایل : آیا په دهٔ باندې قرض شته ؟ خلکو وویل : درې دیناره دي. وې فرمایل : آیا دهٔ څه پریښې دي ؟ خلکو وویل : نه، وې فرمایل : تاسو په خپل ملګری باندې مونځ وکړئ (او زهٔ ئې پرې نهٔ کوم) نو ابو قتاده ﷺ وفرمایل : اې د الله رسوله ! په دهٔ باندې مونځ وکړئ او په ما باندې ددهٔ قرض (ادا کول) شو، نو نبی کریم ﷺ په هغهٔ باندې مونځ وکړو. (بخاریؒ)

**تشریح** : کیدې شي چه درې واړه جنازې په یوه ورځ او په یو مجلس کښې راوړې شوې وي او دا هم ممکن ده چه جدا جدا ورځې او جدا جدا مجلس کښې دا جنازې راوړې شوې وي.

په دویم شخص باندې چه کوم قرض وو د هغې په اندازه به دا درې واړه دیناره برابر وو کوم ئې چه پریخودې وې پدې وجه نبی ﷺ ته په قرائن الاحوال سره معلومه شوه چه پدې شخص باندې چه څومره قرض دې د هغې د ادائیګئ په اندازه ئې مال پریخې دې نو نبی ﷺ په هغهٔ باندې جنازه وکړه. دریم شخص چونکه د خپل قرض د ادائیګئ په اندازه مال نهٔ وو پریخودې، پدې وجه نبی ﷺ د هغهٔ د جنازې کولو نه انکار وکړو. یا ددې انکار وجه دا وه چه پدې سره خلکو ته عبرت حاصل شي او هغوی د قرض نه پرهیز وکړي. او که په ډیره مجبورئ کښې قرض وا هم خلي، نو د هغې د ادا کولو د تاخیر او په هغې کښې د کوتاهئ نه منع شي. بیا نبی ﷺ ددهٔ جنازه کول پدې وجه مناسب ونهٔ ګڼړل چه نبی ﷺ ته پته وه چه زهٔ به ددهٔ دپاره دعا کوم او هغه دعا به قبوله نشي ځکه چه په دهٔ باندې د خلکو حق وو چه د هغې نه ددهٔ ذمه نهٔ وه فارغه شوې او همداسې مړ شوې وو.

په روایت د ابوداود کښې ورسره داسې دي : نبی ﷺ ابوقتاده ﷺ ته وفرمایل :

فَكَّ اللّٰهُ رِهَانَكَ كَمَا فَكَكْتَ رِهَانَ أَخِيكَ مِنَ النَّارِ . رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَغَيْرُهُ كَمَا فِي الْمِشْكَاةِ :

۱. وَفِيْ إِسْنَادِهِ كَلَامٌ، كما في النيل :۵/ ۲۵۰]. الله تعالىٰ دِې ستا قید آزاد کړي لکه چه تا

د خپل ورور قيد د اُور نه آزاد کړو.

پدې روايت کښې درې اشرفئ ذکر دی او په بل روايت کښې دوه اشرفئ ذکر دی، ددې دواړو حديثونو ترمينځه جمع او **تطبيق** دادې چه دا څهٔ دپاسه دوه اشرفئ وې، نو چاچه درې ويلی هغهٔ د کسر نه پوره اشرفئ جوړه کړې. او چاچه دوه اشرفئ ويلی نو هغهٔ ترې کسر غورزولې. او يا پرې درې اشرفئ وې خو د مرګ نه مخکښې ئې يوه اشرفئ ادا کړې وه او دوه پرې پاتې وې. حافظ فرمائي: اولنئ خبره زياته مناسبه ده. [فتح الباري: ٤/٤٦٨] څوك وائي چه دا دوه واقعې وې خو امام صنعانيؒ فرمائي چه په دې خبره کښې بُعد او لرې والې دې. [سبل السلام: ٣/٧٠]

**مسئله اواختلاف :** دې حديث نه ثابته شوه چه د مړي طرف نه د هغهٔ د قرض وغيره ضامن کيدل جائز دی برابره ده چه مړي د قرض ادا کولو دپاره مال پريخې وی يا نهٔ وی، او همدا مذهب د شافعيؒ او اکثرو علماؤ دې. د امام ابوحنيفهؒ په نيز باندې دا جائز نهٔ دی. هغهٔ ته دا حديث نهٔ دې رسيدلې ځکه چه هغهٔ د احاديثو دپاره ډيرې سفرې نهٔ دی کړی.

او بعض علماؤ وئيلی دی چه امام مالكؒ، امام شافعيؒ، امام محمدؒ، او ابويوسفؒ ددې نه پدې خبره استدلال کړې چه د هغه مړي د طرف نه کفالت جائز دې چه هغهٔ هيڅ مال نهٔ وی پريښودې او په هغهٔ باندې قرض وی. دوئ وائي چه که د مړي د طرف نه کفالت جائز نهٔ وې نو نبي ﷺ به ددې دريم شخص جنازه نهٔ کولې. او امام طحاويؒ هم د جمهورو د قول سخت تائيد او نصرت کړې او د امام ابوحنيفهؒ قول ئې پريخودې دې.

ليکن چونکه د امام ابوحنيفهؒ قول ددې حديث مخالف دې، د هغهٔ په نيز د مفلس مړي د طرف نه کفالت صحيح نهٔ دې، ځکه چه د مفلس مړي د طرف نه کفالت په اصل کښې د ساقط دين کفالت کول دی، او دا واضحه ده چه د ساقط دين کفالت باطل دې.

نو پدې وجه بعض احنافو د هغهٔ د طرف نه جوابونه کړيدي چه دا محمول دې په دې باندې چه ابوقتاده ﷺ به د مخکښې نه د دغه مړي په ژوند کښې کفالت کړې وی، او پدې موقعه کښې ئې صرف دا اقرار رابنکاره کړو چه ما ددهٔ کفالت کړې دې نو زهٔ ددهٔ د قرض ذمه واريم. ليکن دا جواب بې دليله دې، او د خپل مذهب دپاره حديث ته پيوندونه وراچول دی. هيڅ مانع نشته چه د مړي د طرف نه کفالت جائز شي. او دا چا وئيلی دی چه د مفلس مړي د طرف نه کفالت کول د ساقط دين کفالت دې، بلکه دا دَين

د مړي په سر باندې بار دې، رسول الله ﷺ پرې جنازه نهٔ کوي، نو پدې وجه ابو قتاده ﷺ په ځان باندې د هغهٔ قرض اُومنلو چه ددې شخص نه دا مصیبت لرې شي۔

دارنګه په روایت د احمد او ابوداود کښې دي : [فَتَحَمَّلَهُمَا أَبُو قَتَادَةَ] ابو قتاده ﷺ دا دوه دیناره په ځان باندې بار کړل۔ معلومه شوه چه دا د مخکښې نه په ابو قتاده ﷺ باندې قرض نهٔ وې بلکه دا ئې د احسان په طور اُوس په ځان باندې بار کړې دې دپاره چه دا ملګرې د رسول الله ﷺ د جنازې او د دعاء د برکت نه محروم نشي۔ او روستو بل روایت راځي۔

او نبي ﷺ د جابر ﷺ سره وعده کړې وه چه که د بحرین مال راغلو نو تا ته به دومره دومره درکوم، بیا نبي ﷺ وفات شو او ابوبکر صدیق ﷺ د هغهٔ د وفات نه بعد د هغې ذمه واري اخستې وه نو بیا هغهٔ دا وعده پوره کړه۔ دا ساقط دین وو او ابوبکر صدیق ﷺ پوره کړو۔ (بخاري، فتح الباري : ٤/٤٧٣)

علامه ابن بطال د علامه ابن المنذر نه نقل کړي چه هغه فرمائي : ابو حنیفه ددې حدیث خلاف کړې، ځکه نبي ﷺ د ابو قتاده ﷺ د ضمانت اخستو تائید کړې، سره ددې چه مړي هیڅ هم نهٔ وو پرېښې۔ لکه د سلمه بن اکوع ﷺ په حدیث کښې راغلي : ((آیا دې مړي څهٔ شې پرېښې؟ خلکو وېل: نه)) [شرح ابن بطال: ٦/٤١٩، ٤٢٦] او امام ابوحنیفه ددې حدیث خلاف ځکه کړې چه مخکښې بار بار تیر شو چه دهٔ ته دا حدیث نهٔ دې رسیدلې، او ددهٔ مذهب د حدیثو نه لرې دې، ددې باوجود بعضِ ناپوهه خلك ددهٔ شخصي تقلید بلا وجه په ځان لازم ګڼړي !! او په صاحب د هدایه باندې تعجب دې چه هغهٔ د امام ابوحنیفه دا قول نقل کړې او ددې دپاره ئې هیڅ شرعي دلیل نهٔ دې ذکر کړې حالانکه دا ددې حدیث ښکاره خلاف دې۔ [هدایة : ٣/٩٣] معلومه شوه چه دا خلك صرف د ابو حنیفه فضائل ذکر کوي، د دلیل سره ئې څهٔ کار نشته۔

**فوائد** : (۱) حدیث نه ثابته شوه چه د مړي له خوا د مالي حقونو ضمانت او ذمه واري اخستل جائز دي لکه مړي قرض اخستې وي یا ئې سودا کړې وي او پیسې پرې پاتې وي یا ئې بل یو عقد کړې وي او حق پرې پاتې وي او یو تن د هغهٔ له خوا دا رقم په خپله غاړه واخلي نو دا کار جائز او مشروع دې۔ ځکه ابو قتاده ﷺ چه د مړي دا قرضه په خپله غاړه واخسته نو نبي کریم ﷺ هغه په دې کار برقراره وساتهٔ او په مړي ئې جنازه

وکړه نو معلومه شوه چه دا قِسم ضمانت کول جائز دی. (۲) چاچه د مړی له خوا د قرض ضمانت وکړو نو دا به د خپل جیب نه ادا کوی او د مړی د ترکے نه به ئے نهٔ اخلی. اونهٔ ددیے ضمانت نه رجوع کولے شی چه دا خبره واپس واخلی. او دا د جمهورو علماؤ قول دیے، دلیل ئے دادیے چه که ابو قتاده ﷺ دپاره رجوع کول جائز ویے نو نبی ﷺ به د ابو قتاده ﷺ د قرض ادا کولو نه مخکښے په دغه مړی جنازه نهٔ کولے ځکه ممکنه ده چه ابو قتاده ﷺ ددیے ضمانت نه رجوع وکړی او نبی ﷺ په هغه مړی جنازه وکړی چه په هغهٔ قرض پاتے دیے. نو د نبی کریم ﷺ د جنازیے کولو نه معلومه شوه چه ابو قتاده ﷺ ددیے ضمانت نه رجوع نشی کولے. او دا د امام بخاریؒ دقیق فهم دیے! ځکه هغه داسیے باب تړلے : [بَابُ مَنْ تَكَفَّلَ عَنْ مَيِّتٍ دَيْنًا فَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَّرْجِعَ] بیائے د سلمه بن اکوع ﷺ دا حدیث (الباب) ذکر کړیے.

**سوال**: د ابو قتاده ﷺ په بل روایت کښے راغلی چه هغهٔ عرض وکړو : ((ستاسو څهٔ رائے ده که زهٔ ددهٔ له خوا قرض ادا کړم نو بیا به پریے جنازه وکړئ؟ نبی ﷺ وفرمایل: که قرض تریے پوره ادا کویے زهٔ ئے جنازه کوم. نو ابو قتاده لاړ او د هغهٔ له خوا ئے قرض ادا کړو. نبی ﷺ ورته وفرمایل: تا ددهٔ قرضه ادا کړه؟ هغهٔ وویل: هو! نو نبی ﷺ هغه جنازه راوغوښته او مونځ ئے پریے وکړو)) [صحیح: ترمذی: ۱۰۶۹، نسائی: ٤/٦٥، ۷/۳۱۷، ابن ماجه: ۲٤۰۷، أحمد: ۳۷/۳۲۸، ۳۲۹]

نو ددیے روایت نه معلومیږی چه د قرض پوره کولو نه پس جنازه شویے، نو د ضمانت نه د رجوع څهٔ خبره په کښے پاتے نشوه؟ **جواب** : ابو قتاده ﷺ چه د هغهٔ د قرض ضمانت وکړو نو ددیے نه پس قرض خواه (صاحبِ حق) له ورغے او هغهٔ ته ئے وویل چه د مړی قرضه به زهٔ تاته ادا کوم، اګرکه په دغه وخت کښے ئے لا فعلًا ادا کړیے نهٔ وه، نو په دیے ضمانت سره مړیے د قرض نه بری شو او نبی کریم ﷺ پریے جنازه وکړه. د جابر ﷺ په حدیث سره هم ددیے تاویل تائید کیږی.

(۳) د مړی ذمه چه د قرض او پردی حق نه خلاصیږی نو دا یواځے د چا په ضمانت سره نهٔ خلاصیږی ترڅو چه ضمانت اخستونکی دا قرضه او دا حق ادا کړیے نهٔ وی. ځکه نبی ﷺ فرمائی: [نَفْسُ الْمُؤْمِنِ مُعَلَّقَةٌ بِدَيْنِهِ حَتّٰى يُقْضٰى عَنْهُ] [حسن: احمد: ۹۳۸۷، ترمذی] (ترڅو پوریے چه د مومن قرض ادا شویے نهٔ وی، هغے پوریے د هغهٔ روح زوړند وی

یعنی آرام او نعمت ورته نهٔ ملاویږی) بله دا چه: دلته نبی ﷺ د ابو قتاده ﷺ نه بار بار پوښتنه کوی چه د مړی قرض دے ادا کړو که نه؟ او کله ئے چه ورته وویل چه ادا مے کړو نو نبی ﷺ وفرمایل: اوس دے د هغهٔ څرمن یخه کړه. او دا د شافعیؒ، احمدؒ، اسحاقؒ، ابو عبیدؒ، ثوریؒ او اصحاب الرأی قول دے. او د ابو ثورؒ، ابن شبرمهؒ او داودؒ په نیز په نفس ضمانت کولو سره د مړی ذمه فارغه شوه. دوئ د ضمانت او حوالے ترمینځه فرق نهٔ کوی. لیکن **راجح قول** اولنے دے، او دلیل ئے مخکښے ذکر شو، او د حوالے او ضمانت ترمینځه فرق دے. حواله د تحول نه ده په دے کښے د محیل نه حق محال علیه ته منتقل کیږی. او ضمانت د تضمن نه دے په ترخ کښے نیولو ته وائی، نو په دے سره یوه ذمه د بلے ذمے سره پیوسته کیږی. او صاحبِ حق لکه څنګه چه د ضامن نه مطالبه کولے شی نو دغه شان د مضمون عَنْهُ نه ئے هم کولے شی. په نفس ضمانت کولو سره د مضمون عَنْهُ مطالبه نهٔ ساقطیږی. (٤) که د مړی له خوا چا د تبرع یا صدقے یا هبے په توګه د هغهٔ د قرض ضمانت کړے وی نو په دے کښے د مړی وارثانو نه دا رقم نشی اخستے. اوکه دهٔ ته معلومه وی چه مړی مال پرېښے دے او دے د مړی د قرض ضمانت وکړی او اراده ئے دا وی چه د وارثانو نه به ئے زهٔ واخلم نو په دے صورت کښے د مړی د ترکے نه دا ضمانتی مال اخستل جائز دی. (۵) بادشاه او عامو مسلمانانو له پکار دی چه څوك د مړی له خوا قرض په خپله غاړه واخلی نو هغوئ دے ورته د زر زر ادا کولو تیزی ورکوی ځکه چه دا خیر طرفته تادی کول او د مړی غاړه زر خلاصول دی.

(٦) حدیث نه معلومه شوه چه قرض او پردے حق ډیر زیات اهمیت لری، مومن له پکار دی چه څومره زر کیدے شی پردی حقونه او قرضونه دے ادا کړی، هسے نه چه په دهٔ باندے په داسے حال کښے مرګ راشی چه په دهٔ پردے حق پاتے وی. لکه مخکښے حدیث تیر شو چه ((د مومن ساه ددهٔ د قرض پورے زوړنده وی)) اګرکه دا کس هر څومره نیك عمله ولے نهٔ وی خو دهٔ سره دا معامله کولے شی. (۷) او معلومه شوه چه د مړی له خوا په قرض ادا کولو کښے تادی کول پکار دی، برابره خبره ده که دا قرض د الله وی لکه نذر، کفاره وغیره اوکه د بندګانو وی. وصیت ئے کړے وی اوکه نه.

(۸) په اوله کښے به نبی کریم ﷺ په قرض دار مړی جنازه نهٔ کوله نو په دے کښے **حکمت** داوو چه په دے کښے قرض اخستونکو خلکو له ادب ورکول او د زیاتو قرضونو

اخستو نه خلك ویرول وو، دے دپاره چه د خلکو مالونه ضائع نشی۔ ځکه چه کله خلك وینی چه په قرضداری باندے د الله رسول جنازه نۀ کوی نو د ډیرو قرضونو نه به ځانونه ساتی۔ یا په کښے حکمت دا وو چه د نبی کریم ﷺ په جنازے کولو سره خو مړے پاکیږی او د انسان د حق نه پاکیدل نشته، نو دواړو کارونو کښے منافات وو۔

(۹) نبی کریم ﷺ دا سوال ولے کوی چه آیا په دۀ قرض شته؟ نو ددے سبب داوو چه په اوله کښے د صحابه کرامو ﷺ غریبی زیاته وه او مشکلات ئے ډیر وو نو دوئ به د فقر او احتیاج په وجه قرضونه کول نو د قرضونو د مسئلے د اهمیت ښکاره کولو دپاره به نبی ﷺ پوښتنه کوله۔ والله تعالیٰ اعلم۔

(۱۰) صَلُّوْا عَلٰى صَاحِبِكُمْ: نه معلومه شوه چه کله یو تن باندے قرض وی او په داسے حال کښے مړ شی نو اُوچت شان والا خلکو له پکار دی (لکه امام او بادشاه او لوی عالم) چه په هغۀ جنازه ونکړی او عام مسلمانان به ئے پرے کوی۔

(۱۱) د سفتجے (هنډئ) هم دا حکم دے چه دا جائز ده۔ یعنی په یو ښار کښے نقدے ورکول او په بل ښار کښے اخستل، دیته بعضِ حنفی علماؤ ناجائز ویلی لیکن صحیح خبره داده چه دا هم په شرعی حواله کښے داخله ده۔ ځکه د لارے د خطرے نه د پیسو د بچ کولو دپاره دا کار کیږی او دا نن صبا د پیسو نقل کولو یوه مروجه طریقه ده۔ برابره خبره ده که د نقدینو جنس یو وی او که جدا جدا۔ پدے کښے شرعی هیڅ ممانعت نشته۔ او ددے تائید شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ کړے۔ عبد الله بن زبیر ﷺ به په مکه کښے د یو سړی نه نقود قبض کول او د هغۀ دپاره به ئے یو خط ولیکلو خپل ورور مصعب ته چه هغه ورته ددے بدل په عراق کښے وسپاری۔ [فتاوی الدین الخالص و توضیح الاحکام: ۵۱٤/٤]

## قرض د ادا کولو په نیت باندے اخستونکی الله تعالیٰ مدد کوی

2910 (12) - وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: مَنْ أَخَذَ أَمْوَالَ النَّاسِ يُرِيدُ أَدَاءَهَا، أَدَّى اللهُ عَنْهُ، وَمَنْ أَخَذَ يُرِيدُ إِتْلَافَهَا، أَتْلَفَهُ اللهُ عَلَيْهِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

**ترجمه**: ابو هریره ﷺ نه روایت دے چه نبی ﷺ وفرمایل: څوك چه د خلکو مالونه د ادا کولو په نیت (د قرض په توګه) واخلی، الله تعالیٰ به دۀ له طرفه ادا کړی، او څوك چه د

تباه کولو په ارادے سره (د خلکو) مالونه واخلی، الله تعالیٰ به ئے تباه کړی۔ (بخاریؒ)۔

**تشريح:** [مَنْ أَخَذَ أَمْوَالَ النَّاسِ] (چا چه د خلکو مالونه واخستل) دا اخستل عام دی که په طریقه د قرض سره وی یا د نیتیے والا سودا سره یا شرکت سره یا یا عاریةً (سوالی) یا په بله کومه معاملے سره ئے واخلی۔ په دے تعمیم سره دا حدیث د قرض او سلم دواړو سره لګی۔ [يُرِيْدُ أَدَاءَ هَا] یعنی د اخستو په وخت ئے دا اراده وه چه دا به ادا کوی او مالك ته به ئے سپاری۔ [أَدَّى اللّٰهُ عَنْهُ] الله تعالیٰ به ئے ترے په دنیا او آخرت کښے ادا کړی۔ په دنیا کښے به ورله د ادا کولو توفیق ورکړی، رزق به ئے فراخه کړی او د ښهٔ نیت په وجه به دومره رقم ورته ورکړی چه په هغے سره به پردے حق ادا کړی۔ که په دنیا کښے د ادا کولو نه مخکښے مړ شو او په پردی حق ادا کولو قادر نشو، نو په آخرت کښے به ترے الله تعالیٰ د حق خاوند رضا کړی۔ نو دهٔ سره به په دنیا او آخرت کښے د ښهٔ نیت مطابق سلوك کولے شی۔ [يُرِيْدُ إِتْلَافَهَا] یعنی اخستو په وخت ئے نیت خراب وو او د ادا کولو ارداه ئے نهٔ وه بلکه ددے مال د تباه کولو او خوړلو اراده ئے وه۔ ددے څو صورتونه کیدے شی هغه دا چه: قرض اخلی خو د ادا کولو اراده ئے نهٔ وی، یا د حاجت او ضرورت نه بغیر قرض واخلی او مقصد ئے د خلکو مالونه خوړل وی۔ [أَتْلَفَهُ اللّٰهُ] الله تعالیٰ به دا تن تباه کړی، دا تباهی عامه ده، ددهٔ نفس به تباه او هلاك کړی او یا به ئے مال او جاه او مزیدار ژوند برباد کړی، ژوند به ئے سخت شی او مقصدونه به ئے نهٔ پوره کیږی او هر وخت به پریشانه وی۔

**تنبيه:** د مشکاة په بعض نسخو کښے (أَتْلَفَهُ اللهُ عَلَيْهِ) لفظ دے، حال دا چه دا د بخاری په هیڅ روایت کښے نشته او نهٔ په نورو کتابونو د حدیث کښے، معلومیږی چه دا د لیکونکو نه خطائی واقع شویده۔

**فوائد او مسائل:** (۱) حدیث نه معلومه شوه چه د قرض اخستو په وخت ښهٔ نیت لرل او ددے مال د ادا کولو اراده کول پکار دی، او د خراب نتیجے نه ځان ساتل پکار دی ځکه ښهٔ نیت ځان سره ښهٔ کول دی او خراب نیت ځان سره بد کول دی، الله تعالیٰ په نیتونو فیصلے کوی۔ څوك چه په ښهٔ نیت سره د چانه قرض واخلی الله تعالیٰ به ورله خامخا ددے د ادا کولو توفیق ورکوی، او که چا په غلط نیت د خلکو مالونه واخستل نو الله تعالیٰ به ددهٔ مال تباه کړی۔ او کله داسے هم وشی چه دے به ورسره هم تباه کړی۔ یا

د مال تباهي د ژوند د تنګيدو په وجه د انسان تباهي ده. داسې کس اګرکه د څۀ وخت دپاره مالداره هم جوړ شي ليکن آخر به دې نيستمن کيږي.

(۲) حديث کښې د هغه چا دپاره زيرې دې چه د ادا کولو په نيت قرض اخلي. عبيد الله بن عبد الله بن عتبة فرمائي: ((ميمونې رضي الله عنها قرض واخستۀ نو چا ورته وويل: اې أم المؤمنين! تۀ قرض اخلې او په ظاهره کښې تاسره د ادا کولو دپاره څۀ نۀ ښکاري؟ هغې وفرمايل: ما د رسول الله ﷺ نه آوريدلي دي چه فرمايل ئې: [مَا مِنْ عَبْدٍ كَانَتْ لَهُ نِيَّةٌ فِي اَدَاءِ دَيْنِهٖ اِلَّا كَانَ لَهُ مِنَ اللّٰهِ عَوْنٌ، فَأَنَا أَلْتَمِسُ ذٰلِكَ الْعَوْنَ] څوک چه د ادا کولو په نيت قرض واخلي نو الله تعالىٰ ورسره مدد کوي)) نو زۀ دغه مدد طلب کوم. [نسائي: ۷/۳۱۵، صححه الألباني في الصحيحة: ۳/۲۶ رقم: ۱۰۲۹] په يو بل حديث د ميمونه رضي الله عنها کښې دي: ما د خپل خليل نه آوريدلي چه فرمايل ئې:

[مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَدَّانُ دَيْنًا، يَعْلَمُ اللّٰهُ مِنْهُ أَنَّهُ يُرِيْدُ اَدَاءَ هُ، اِلَّا اَدَّاهُ اللّٰهُ عَنْهُ فِي الدُّنْيَا] [صَحِيْحٌ دُوْنَ قَوْلِهٖ فِي الدُّنْيَا: ابن ماجه: ۲۴۰۸]. نشته يو مسلمان چه يو قرض واخلي، او الله تعالىٰ ته معلومه وي چه دې د ادا کولو اراده لري مګر خامخا به الله تعالىٰ د هغۀ نه په دنيا کښې ادا کړي (يعنى د مرګ نه مخکښې به ورته توفيق ورکړي)

(۳) جزاء مِنْ جنسِ العمل وي، دلته د انسان د ادا کولو په ځائې قرض الله تعالىٰ ادا کوي، او د انسان د تباه کولو په ځائې مال الله تعالىٰ تباه کوي.

(٤) ددې حديث او د روستو راتلونکي حديث: [نَفْسُ الْمُؤْمِنِ مُعَلَّقَةٌ بِدَيْنِهٖ حَتّٰى يُقْضٰى عَنْهُ] (د مؤمن روح ددۀ د قرض پورې تر هغه وخته پورې زوړند وي چه ادا شوې نۀ وي) [الشافعي، احمد، ترمذي] والا حديث ترمينځه تعارض نشته، ځکه هغه حديث د هغه چا په باره کښې دې چه دومره مال ئې پريښې وي چه د هغې نه ددۀ قرض ادا شي. او دا حديث د هغه چا په باره کښې دې چه قرض ئې اخستې وي او د ادا کولو اراده هم لري خو ددې نه مخکښې مړ شي، نو ددې نه معلوميږي چۀ الله تعالىٰ به ددۀ په ځائې دا قرض ادا کوي. والله تعالىٰ اعلم.

## الله تعالىٰ بنده ته حقوق العباد نۀ معاف کوي

2911( 13 ) وَعَنْ أَبِيْ قَتَادَةَ قَالَ: قَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ أَرَأَيْتَ إِنْ قُتِلْتُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

صَابِرًا مُحْتَسِبًا مُقْبِلًا غَيْرَ مُدْبِرٍ، يُكَفِّرُ اللّٰهُ عَنِّيْ خَطَايَايَ؟ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: "نَعَمْ". فَلَمَّا أَدْبَرَ نَادَاهُ فَقَالَ: "نَعَمْ إِلَّا الدَّيْنَ كَذٰلِكَ قَالَ جِبْرِيْلُ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

**ترجمه**: او ابو قتاده ﷺ فرمائي: يو سړي وويل: اے د الله رسوله! خبر راکړه که زۀ د الله تعالىٰ په لاره کښے صبر کونکے، ثواب ګټونکے مخکښے تلونکے، شا نۀ ګرځونکے شهيد شم آيا الله تعالىٰ به زما ګناهونه ورژوي؟ نو رسول الله ﷺ وفرمايل: آؤ، هرکله چه هغه شا اړولو سره روان شو نو آواز ئے ورته وکړو او وے فرمايل چه آؤ، مګر قرض (نۀ معاف کيږي)، دغسے (ما ته) جبريل ﷺ وفرمايل۔ (مسلمؒ)

**تشريح**: د شهادت ځومره لوي شان او مرتبه ده ليکن د بندګانو حقوق ډير قيمت لري چه په شهادت سره هم دا نۀ معاف کيږي۔

دا حديث دليل دے چه شهيد ته واړه او لوي ټول ګناهونه معاف کيږي البته دَين نه نۀ معاف کيږي۔ د دين نه مراد د بندګانو حقونه دي، لکه وينه تويه ول، د هغوي مال اخستل، د هغوي عزتونه اخستل۔ لکه څوك ئے وژلے وي، چا نه ئے وينه تويه کړي وي، هغه ئے زخمي کړے وي، سوك او څپيړه ئے ورکړي وي، هغه ئے درمند کړے وي، او د هغوي مالونه ئے په دهوکه او خيانت، غلا او ډاکه، تول او ناپ کښے په کمي او رشوتونو او نورو ناروا طريقو سره اخستے وي۔ او عزتونه ئے اخستي وي لکه د چا غيبت ئے کړے وي، په چا ئے بهتان، بدنامه لګولي وي، او د چا په عزتونو باندے ئے لوبي کړي وي، چا ته ئے کنځل او ناکاره وينا کړي وي۔ نو دا ګناهونه د بندګانو حقوق دي، دا په توبه سره هم نۀ معاف کيږي ترڅو پورے چه بندګانو نۀ وي معاف کړے، يا به د ظالم نيکيانے مظلوم ته د هغۀ د حق مطابق ورکړے شي۔ يا دا چه د الله تعالىٰ کرم او احسان وشي او دا ګناهګار ظالم الله تعالىٰ ته په اخلاص سره توبه وباسي او هغۀ ته تضرع او عاجزي وکړي او په نيك اعمالو کښے انتهائي تيزي او زيادت وکړي تردے چه الله تعالىٰ ددۀ نه راضي شي او بيا هغه ددۀ جګړه مار د خپل کرم د خزانے نه راضي کړي۔

**فائده**: دا حديث دليل دے چه ډير مسائل به رسول الله ﷺ په اجتهاد سره حل کول مګر که کومه خطائي به کيده نو الله تعالىٰ به زر اطلاع ورکوله، لکه دلته نبي ﷺ دے شخص ته په خپل اجتهاد سره وفرمايل: شهيد ته هره ګناه معاف ده، نو پدے کښے خو

د بندګانو حقوق هم داخلیږي، حال دا چه دا خو نهٔ معاف کیږي نو الله تعالیٰ زر جبریل علیه السلام راولیږلو او جواب ئے ورکړو چه قرض او د بندګانو حقوق نهٔ معاف کیږي۔ او معلومه شوه چه جبریل علیه السلام به د قرآن کریم د وحی نه علاوه هم نور ډیر احکام او پیغامات رسول الله ﷺ ته راوړل۔

2912(14) – وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو رضی الله عنه أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ : "**يُغْفَرُ لِلشَّهِيْدِ كُلُّ ذَنْبٍ إِلَّا الدَّيْنَ**". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

**ترجمه** : او عبد الله بن عمرو رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمایل : شهید ته هره ګناه بخښلے شي سویٰ د قرض نه۔ (مسلمؒ)

**تشریح** : په روایت د ابن ماجه کښے ورسره دا خبره هم ذکر ده چه د دریاب شهید دپاره قرض او حقوق العباد هم معاف کیږي۔ لیکن هغه روایت ضعیف جدًا او موضوع دے۔ لکه د هغے تحقیق شیخ البانی رحمه الله په ارواء الغلیل (۱۱۹۵) او ضعیف سنن ابن ماجه (۱۷٦۸) کښے کړیدے۔

## د قرضداری د جنازے کولو نه د نبی علیه السلام ځان ساتل

2913 (15) – وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رضی الله عنه قَالَ : كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يُؤْتٰى بِالرَّجُلِ الْمُتَوَفّٰى عَلَيْهِ الدَّيْنُ فَيَسْأَلُ : "**هَلْ تَرَكَ لِدَيْنِهٖ قَضَاءً؟**" فَإِنْ حُدِّثَ أَنَّهُ تَرَكَ وَفَاءً صَلّٰى وَإِلَّا قَالَ لِلْمُسْلِمِيْنَ : "**صَلُّوْا عَلٰى صَاحِبِكُمْ**". فَلَمَّا فَتَحَ اللّٰهُ عَلَيْهِ الْفُتُوْحَ قَامَ فَقَالَ : "**أَنَا أَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِيْنَ مِنْ أَنْفُسِهِمْ فَمَنْ تُوُفِّيَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ فَتَرَكَ دَيْنًا فَعَلَيَّ قَضَاؤُهُ وَمَنْ تَرَكَ مَالًا فَهُوَ لِوَرَثَتِهٖ**". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

**ترجمه** : او ابو هریره رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ ته به وفات شوے شخص راوړے شو چه په هغهٔ به قرض وو نو هغهٔ به تپوس کولو چه آیا دهٔ د خپل قرض دپاره څه ادائیګی پریخودے ده ؟ نو که ورته به وویل شو چه دهٔ ادائیګی پریښے ده نو مونځ به ئے پرے وکړو او که داسے به نهٔ وه نو مسلمانانو ته به ئے وفرمایل : تاسو په خپل ملګری مونځ وکړئ۔ بیا هرکله چه الله تعالیٰ هغهٔ باندے فتحے او غلے راکولاوے کړے نو راپاڅیدو او وے فرمایل : زهٔ په مؤمنانو باندے د هغوی د نفسونو نه زیات لائق یم، نو څوک چه د مؤمنانو نه وفات شي او قرض ئے پریخودے وی نو په ما باندے د هغے ادا کول دی او چا

چه مال پرېږدي وي نو هغه ئې د خپلو وارثانو دپاره دے۔ (زۀ به ئې ترې نۀ اخلم) (بخاريؒ ومسلمؒ)

**تشريح :** [وَفَاءً] پوره كولو ته وائي، يعني دومره مال ئې پرېښے چه په هغې سره ددۀ قرض پوره ادا شي۔ [اَلْفُتُوحَ] جمع د فتح ده، او دا فتوحات د صلح حديبيه نه پس الله تعالىٰ خپل رسول ﷺ ته وركړي وو او خصوصًا هغوئ ته ئې د خيبر د فتح كولو نه پس ډيره فراخي وركړے وه، اوله كښې مسلمانان اُوږي وو خو كله چه خيبر فتح شو نو په خيټه ماړۀ شول۔ دارنګه په غزوه حنين كښې هم ګڼړ غنيمتونه ملاؤ شوي وو۔

أَنَا أَوْلىٰ : يعني زۀ (په ديني او دنياوي ټولو كارونو كښې) په مسلمانانو باندے د هغوی د ځانونو نه زيات حق لرم۔ ددے نه ثابته شوه چه په مسلمانانو باندے واجب دي چه هغوي رسول الله ﷺ لره د خپلو ځانونو نه هم زيات عزيز او محبوب وګڼړي، د هغۀ حكم او د هغه خواهش د خپل نفس په حكم او د خپل نفس په خواهش باندے مقدم كړي۔ د هغۀ حق په خپل حق باندے مخكښے وګڼړي او د هغوي زړونه د هغوي د ځانونو د شفقت او محبت نه زيات د رسول الله ﷺ د شفقت او محبت نه پُر معمور وي، ځكه چه نبي عليه السلام ته ټول د مسلمانانو نفس او د هغوي عزت او د هغوي دين محبوب او خوښ وو دومره هغوي ته خپله نۀ دے محبوب،

د رسول الله ﷺ دے شفقت ته وګوره چه هركله الله تعالىٰ د جنګي فتوحاتو نه حاصليدونكي غنيمتونو په وجه په هغۀ باندے د مال او زر د خزانو دروازے راكولاوے كړے نو نبي عليه السلام دا خبره برداشت نكړے شوه چه دا مالونه صرف ځان پورے محدود وساتي بلكه هغه خو خپله په تنګدستئ او سختئ باندے قناعت وكړو او ټول مال او زر ئې د مسلمانانو دپاره وقف كړو۔

[أَنَا أَوْلىٰ بِالْمُؤْمِنِيْنَ مِنْ أَنْفُسِهِمْ] زۀ دوئ ته د دوئ د نفسونو نه زيات مهربان يم، او زما حكم د دوئ په باره كښے، خپله د دوئ د حكمونو نه زيات، په دوئ نافذ او جاري دے۔ دے وجے نه د دوئ په ذمه چه كوم قرض وي نو د هغے د ادا كولو هم زۀ د دوئ نه زيات ذمه وار يم په داسے حال كښے چه دوئ مړۀ شي او د خپلے تنګدستئ د وجے دا ادا نۀ كړے شي۔

يعني قرض به ئې زۀ خلاصوم كله ئې چه څه نۀ وي پرېخودي، او كه كوم مال ترے پاتے شو نو د هغے حقدار ئې وارثان دي۔ نو رسول الله ﷺ د مؤمن دپاره د خپلو وارثانو نه هم

زيات بهتر شو، چه زحمت او تاوان ئے نبی عليه السلام برداشت کوی او فائده ئے ميراث خوارۀ اخلی۔ (وَكَانَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ رَحِيْمًا) واقعی چه رسول الله ﷺ په مؤمنانو باندے ډير شفقت کونکے وو۔

**فوائد** : (۱) د بخاریؒ په يو روايت کښے [وَلَمْ يَتْرُكْ وَفَاءً] الفاظ زيات دی۔ (يعنی قرض پريدی او مال پرينږدی چه هغه قرض پرے ادا کړے شی) دے نه معلوميږی چه د مړی قرضه به د بيت المال نه هغه وخت ادا کولے شی چه هغۀ هيڅ مال نۀ وی پريښے۔

(۲) دغه شان د مسلمانانو بادشاهانو او اميرانو له هم پکار دی چه دوئ د غريب او تنگ لاسو مسلمانانو مړو قرضے د بيت المال نه ادا کړی۔ که چرے دوئ د بيت المال باوجود د مسلمانانو مړو قرضے نۀ ادا کوی نو د الله تعالیٰ په نيز به ذمه وار وی ځکه په بيت المال کښے د ټولو مسلمانانو شريك حق دے۔

(۳) شيخ محمد بن ابراهيم آل الشيخؒ فرمائی: په بيت المال باندے واجب دی چه د مسلمانانو دا راتلونکی **قرضونه** او ديتونه ادا کړی: **(اول)** که يو مسلمان مړ شی او په هغۀ ديت يا قرض وی او هغۀ مال نۀ وی پريښے نو په ولی الامر واجب دی چه دا د بيت المال نه ادا کړی۔ **(دويم)** که يو انسان په بل انسان جنايت وکړی او هغه قتل کړی او دا قتل خطا يا شبهِ عَمْد وی او د قاتل مالداره عاقله (نزدے خپلوان) نۀ وی نو ديت به ئے د بيت المال نه ورکولے شی۔ **(دريم)** هر هغه ځوك چه ووژل شی او د هغۀ قاتل نۀ وی معلوم لکه په تيل وغيره کښے ووژل شی، نو ددے ديت به هم بيت المال ورکوی۔ **(څلورم)** کله چه قاضی د قسامت حکم وکړی او وارثان د قَسَمونو نه انکاری شی او د مُدعیٰ عَلَيْه په قَسَم باندے راضی نۀ وی نو ددۀ ديت به د بيت المال نه ورکولے شی۔ [توضيح الأحكام: ٤/٥٩٢] .بعض علماء دا د رسول الله ﷺ په پورے خاص کوی د (اولی بالمؤمنين) د وجه نه، ليکن په بيت المال باندے دغه مذکوره حقوق د نورو دلائلو د وجه نه واجب دی۔

## د ديواليه شخص حکم

## الفصل الثانی

2914 (16) - عَنْ أَبِي خَلْدَةَ الزُّرَقِيِّ قَالَ: جِئْنَا أَبَا هُرَيْرَةَ فِي صَاحِبٍ لَنَا قَدْ أَفْلَسَ فَقَالَ

: هٰذَا الَّذِیْ قَضٰی فِیْهِ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : " أَیُّمَا رَجُلٍ مَاتَ أَوْ أَفْلَسَ فَصَاحِبُ الْمَتَاعِ أَحَقُّ بِمَتَاعِهٖ إِذَا وَجَدَهٗ بِعَیْنِهٖ ". رَوَاهُ الشَّافِعِیُّ وَابْنُ مَاجَهْ .

**ترجمه** : ابو خلده زرقيؒ فرمائي : مونږ ابو هریره ﷺ ته د خپل یو ملګري په باره کښې راغلو چه هغه مُفلس (دیوالیه) شوے وو، (لیکن ددهٔ سره د خلکو هغه سامان موجود وو چه د هغې قیمت دهٔ نهٔ وو ادا کړے) (یعني د هغهٔ نه مو ددے پاره کښې پوښتنه وکړه) نو هغهٔ وفرمایل : چه ددے شخص معامله بعینهٖ د هغه شخص په شان ده چه رسول الله ﷺ د هغهٔ په باره کښې فیصله کړے وه : چه هر یو سړے مړ شي یا مفلس (دیوالیه) شي نو د سامان مالك د خپل سامان ډیر لائق دے هرکله چه هغه بعینهٖ ومومي۔ (شافعيؒ، ابن ماجهؒ)

**تشریح** : دے حدیث مسئله مخکښې بیان شوه چه کوم یو تن مړ شي یا مفلس (دیوالـه) شي او خرڅونکي د هغهٔ سره خپل سامان ومونډو نو هغه ئے د هر چا نه زیات حقدار دے۔ او دا مذهب د شافعيؒ، مالكؒ، احمدؒ، اسحاقؒ او اکثرو علماؤ دے۔ او دوئ مرګ د افلاس سره یو شان ګڼړلے دے۔ البته مالكؒ او احمدؒ وئیلي دي چه د مرګ په صورت کښې به دے د نورو قرضه ورو سره برابر شریك وي۔

[التمهید : ۸/ ۴۱۰، والاشراف علی مذاهب اهل العلم: ۲/ ۶۲]

امام ابوحنیفهؒ پدے کښې مخالفت کړے، هغهٔ وئیلي دي چه پدے تولو صورتونو کښې به د نورو قرضه ورو سره شریك وي۔ ابن الملقنؒ، امام نوويؒ، امام قرطبي رحمهم الله فرمائي : امام احناف پدے حدیث کښې ضعیف او مردود تاویلات کړیدي او د ابن مسعود ﷺ او د علي ﷺ د روایت پورے انختي دي لیکن هغه هم نهٔ دي ثابت، او دوئ دا حدیث په قیاس سره دفعه کړے، او دا ئے وئیلي دي چه د بائع لاس زائل شوے لکه د راهن د لاس په شان۔ دارنګه ابو حنیفهؒ دا حدیث په غصب او ودیعه باندے حمل کړے ځکه چه پدے کښې بیعه لفظ نهٔ دے ذکر۔ یا د قبض نه مخکښې حالت باندے حمل دے۔ خو دا ټول ضعیف تاویلات دي۔ [التوضیح شرح الجامع الصحیح۱۵/ ۴۳۵، المفهم شرح مسلم، ذخیرة العقبی۳۵/ ۲۶۲]

او پدے حدیث کښې د مرګ او د افلاس دواړو صورتونو کښې یو حکم ذکر شوے او دا

زیادت د ثقه دے او هغه مقبول وی، لهذا بس په همدے به عمل وی۔ (فتح الباری، ذخیرة العقبی) مګر صحیح هغه ده چه ابوداود نقل کړی او مخکښې هم ذکر شو: [أَيُّمَا رَجُلٍ بَاعَ فَأَفْلَسَ الَّذِي ابْتَاعَهُ وَلَمْ يَقْبِضْ مِنْ ثَمَنِهِ شَيْئًا فَوَجَدَ مَتَاعَهُ بِعَيْنِهِ فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ وَإِنْ مَاتَ الْمُشْتَرِي فَصَاحِبُ الْمَتَاعِ أُسْوَةٌ لِلْغُرَمَاءِ] [ارواء الغلیل رقم: ۱۴۴۳] هر هغه شخص چه یو شے خرڅ کړی او بیا اخستونکے مفلس شی او د خپل قیمت نه ئے هیڅ شے نه وی قبض کړے او دهٔ خپل سامان بعینه ومونده نو دے پرے د نورو نه زیات لائق دے او که اخستونکے مړ شو نو د سامان مالك د نورو قرضدارانو سره برابر شریك دے۔

**درجة الحدیث**: [ضعیف او حسن]، ابوداود: ۳۵۲۳، فی الجهاد، ابن ماجه: ۲۳۶۰، دارقطنی: ۲۹۰۱، معرفة السنن والآثار بیهقی: ۳۷۲۷، الشافعی: ۲/۱۶۳، الحاکم: ۲۳۱۴، صححه الحاکم ووافقه الذهبی وحسنه الحافظ فی فتح الباری: ۵/۶۴، وفی اسناده ابو المعتمر بن عمرو بن رافع مجهول کما قال ابوداود والطحاوی وابن عبد البر والذهبی ولم یرو عنه الا ابن ابی ذئب وضعفه الالبانی فی الارواء: تحت الحدیث: ۱۴۴۲]

## د قرضداری روح د قرض د ادائیګی پورے زوړند وی

2915 (17) - وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: (**نَفْسُ الْمُؤْمِنِ مُعَلَّقَةٌ بِدَيْنِهِ، حَتّٰى يُقْضٰى عَنْهُ**). رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ وَأَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه وَالدَّارِمِيُّ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

**ترجمه**: او ابو هریره ﷺ نه روایت دے، نبی ﷺ وفرمایل: د مومن روح د هغهٔ د قرض په وجه زوړند وی تردے چه د هغهٔ له طرفه ادا کړے شی۔ (شافعیؒ، احمدؒ، ترمذیؒ، ابن ماجهؒ، دارمیؒ) او ترمذیؒ وئیلی دی چه دا حدیث غریب دے۔ (لیکن د ترمذیؒ په موجوده نسخو کښې حدیث حسن دے)۔

**تشریح**: [مُعَلَّقَةٌ] زوړند وی یعنی د کومو نعمتونو او انعاماتو چه مړے مستحق ګرځی د هغے نه د قرض په وجه بند کړے شوے وی، نهٔ ورله د نجات حکم کولے شی او نهٔ د هلاکت۔ [بِدَيْنِهِ] دَین هر هغه شے چه د هغے اداء کول د انسان په ذمه وی لکه قرض، د مبیعے (سودا) رقم، مزدوری، مهر، د خلع عوض او داسے نور۔ قرض خاص دے او دَین عام۔

**فوائد او مسائل:** (١) حدیث نه معلومه شوه چه د پردی حق معامله ډیره سخته ده چه د مؤمن بنده روح ددے د اداء کولو پورے ایسار وی، اګرکه دے هر څومره نیك عمله ولے نهٔ وی، هغه تر هغے پورے جنت ته نهٔ ځی او نهٔ ورته مغفرت کیږی ترڅو چه د هغهٔ ذمه فارغه نهٔ کړے شی. او مخکښے تیر شو چه ((شهید ته د پردی حق نه سوی بله هره ګناه معاف کیږی)) [مسلم: ١٨٨٦] او د نبی کریم ﷺ دا طریقه وه چه کله به څوك مړ شو نو پوښتنه به ئے کوله چه پردے حق پرے شته اوکه نه؟ او د اداء کولو دپاره ئے څهٔ پریښی اوکه نه؟ ❁ دا د هغه قرض خبره ده چه د چا نه ئے په رضا سره اخستے وی، نو د هغه چا به څهٔ حال وی چه په غلا، دهوکے یا لوټ مار سره ئے پردی حقونه اخستی وی؟

(٢) حدیث دلیل دے چه د مړی په ژوندو باندے دا حق دے چه د هغهٔ د مړینے نه فورًا بعد د هغهٔ قرض اداء کړی او د هغهٔ ذمه فارغه کړی. برابره خبره ده که دا قرض د الله تعالیٰ حق وی لکه زکاة، نذر یا کفاره وغیره پرے پاتے وی، او یا د بندګانو حق وی لکه قرض، د سودا روپئ یا اُجرت او مزدوری پرے پاتے وی.

(٣) ظاهره داده چه دا حدیث د هغه چا په باره کښے دے چه هغهٔ د مړینے نه پس مال پریښے وی نو ددهٔ نفس دغه حق ادا کولو پورے زوړند وی. پاتے شو هغه څوك چه هغهٔ قرض اخستے وی خو د مړینے په وخت ئے مال نهٔ وی پریښے خو د قرض ادا کولو مضبوطه اراده ئے لرله، نو ددهٔ په باره کښے حدیث مخکښے تیر شو چه ددهٔ نه به دا قرض الله تعالیٰ ادا کوی: [مَنْ أَخَذَ أَمْوَالَ النَّاسِ يُرِيدُ اَدَائَهَا أَدَّى اللّٰهُ عَنْهُ، وَمَنْ أَخَذَهَا يُرِيدُ اِتْلَافَهَا اَتْلَفَهُ اللّٰهُ] (چا چه د اَدا کولو په نیت د خلکو مالونه واخستل نو ددهٔ له طرفه به ئے الله تعالیٰ ادا کړی، او چا چه د تباه کولو دپاره واخستل، الله تعالیٰ به ئے برباد کړی) [بخاری: ٢٣٨٧]

(٤) [حَتّٰى يُقْضٰى عَنْهُ] نه معلومه شوه چه که چا د مړی له خوا د قرض ادا کولو ذمه هم واخسته خو لا ادا کړے ئے نهٔ وو، نو بیا به هم د مړی روح زوړند وی تردے چه ادا ئے کړی. لکه د جابر رضی الله عنه په حدیث کښے دی: (ابو قتاده رضی الله عنه د یو مړی د دوه دینارو ذمه واری واخسته، نو په دویمه ورځ ترے نبی ﷺ پوښتنه وکړه چه څهٔ چل دِے وکړو؟ هغهٔ ووئیل: هغه سړے خو پرون مړ دے (ما لا نهٔ دی ادا کړی) په دریمه ورځ ئے ترے بیا پوښتنه وکړه، نو هغهٔ ووئیل اداء مے کړے. نبی کریم ﷺ وفرمایل: [اَلْآنَ بَرَّدْتَ عَلَيْهِ

جِلْدَتَهُ] (اُوس دے د هغهٔ څرمن يخه کړه) [مسند احمد : ۱٤۳٦، عن جابر باسناد حسن]

(۵) چه څوك مړ شي او قرض پرے وي او مال پريدي نو وارثان به د ميراث تقسيمولو نه مخکښے د هغهٔ قرض ادا کوي، که څهٔ پاتے شي نو هغه به تقسيموي. اوکه په داسے حال کښے مړ شو چه قرض پرے وو او څهٔ ئے نهٔ وو پريښي نو خپلوانو رشته دارو يا ملګرو له د هغے اداء کول مستحب دي. که دوئ ادا نهٔ کړو نو بيا اسلامي حکومت له پکار دي چه د بيت المال نه د هغهٔ قرض ادا کړي.

**سوال** : دا دَين زکاة ته شامل دے اوکه نه؟ **جواب**: که مړي په ژوند کښے زکاة نهٔ ورکولو او هيڅ اراده ئے نهٔ وه نو ددهٔ له خوا به نهٔ ادا کيږي، اوکه ددهٔ عادت دا وو چه زکاة ئے ورکولو خو د سستئ له کبله ئے نن صبا کولو او مړ شو نو بيا ددهٔ له خوا زکاة ادا کول پکار دي. [تهذيب السنن لابن القيمؒ]

**سوال**: رسول الله ﷺ هم په داسے وخت کښے وفات شو چه په هغوئ باندے د يو يهودي دَين وو. نو آيا د هغوئ روح مبارك به هم زوړند وو؟

**جواب** : هغوئ ددے دَين دپاره زغره د دغه يهودي سره ګانړه کړے وه چه دا د دغه دَين بدل او عوض وو. دا وجه ده، کله به چه نبي کريم ﷺ ته چا د قرض ذمه واخسته نو بيا به ئے په مړي د جنازے مونځ کولو. نو دلته هم د نبي کريم ﷺ دا دَين نهٔ ضائع کيدهٔ. ابوبکر صديق رضی اللہ عنہ چه کله خليفه شو نو د رسول الله ﷺ قرضونه ئے فوراً ادا کړل.

۲- بعض وائي : ددے کليه نه انبياء عليهم السلام مستثنیٰ دي.

[فتح ذی الجلال والاکرام وتوضيح الاحکام وفتح المنعم ٦/۳۵۲ومرقاة المفاتيح]

**درجة الحديث** :[صحيح] الترمذي : ۱۰۷۸و ۱۰۷۹، وابن ماجه : ۱۳۲٤، احمد : ۱۰٦۰۷، دارمي : ۲/۲٦۲، الطيالسي : ۲۳۹۰، بيهقي : ٦/۷٦، شرح السنة : بغوی : ۲۱٤۷.

2916 (18) - وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ رضی اللہ عنہ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : " **صَاحِبُ الدَّيْنِ مَأْسُوْرٌ بِدَيْنِهِ يَشْكُوْ إِلٰى رَبِّهِ الْوَحْدَةَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ** ". رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ

**ترجمه** : او براء بن عازب رضی اللہ عنہ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : قرضدارے به د خپل قرض په وجه قيدي وي، خپل رب ته به د قيامت په ورځ د يواځے والي شکايت کوي. (شرح السنه)

**تشريح** : يعني قرضدارے به د قيامت په ورځ په خپل قرض کښے بند وي، يواځے به

ترلې شوې وي، نۀ به ورته د جنت د داخليدو اجازت ورکولې شي او نۀ به د نيکانو په ملګرتيا کښې وي.

يَشْكُوْ إِلَى رَبِّهِ الْوَحْدَةَ : هرکله چه دې نيك بخته ويني چه جنت ته روان دي او دې بد بخته د هغوي د ملګرتيا نه محروم دې، او څوك سفارش کونکې ئې هم نشته چه ددې تنهائي د قيد نه ئې آزاد کړي نو په ډيره پريشانئ کښې به خپل رب ته شکايت کوي. يعني ددۀ ستوماني او عذاب به د يواځې والي په وجه وي، هيڅوك به نۀ ويني چه ددۀ نه قرض خلاص کړي، او دې د قرض نه خلاص کړي، او تر هغه وخته پورې به په عذاب کښې وي چه د قرض د ذمه وارئ نه بهر شي، او هغه پدې طريقه چه د قرض په اندازه قرضه وړې ته خپلې نيکيانې ورکړي، يا د قرض په اندازه د قرضداري ګناهونه په دۀ بانديې کيخودې شي. يا الله تعالىٰ ددۀ قرضدارې په خپل فضل سره راضي کړي. (ابن الملك)

**درجة الحديث** :[ضعيف]، المعجم الاوسط : ۸۹۳، شرح السنة : ۲۱٤۸، تفرد به مبارك بن فضالة وهو ضعيف لتدليسه وشيخه كثير ابومحمد مجهول . الضعيفة : ۱۳۷٦ . واسناد ابی داود بلفظ : ان صاحبكم مأسور بدينه، حسن، صحيح الجامع : ۷۰۱۷].

- 2917( 19 ) – وَرُوِىَ أَنَّ مُعَاذًا كَانَ يَدَّانُ فَأَتَى غُرَمَاؤُهُ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَبَاعَ النَّبِيُّ ﷺ مَالَهُ كُلَّهُ فِي دَيْنِهِ حَتَّى قَامَ مُعَاذٌ بِغَيْرِ شَيْءٍ . مُرْسَلٌ هٰذَا لَفْظُ الْمَصَابِيْحِ . وَلَمْ أَجِدْهُ فِي الْأُصُوْلِ إِلَّا فِي الْمُنْتَقٰى

**ترجمه** : او روايت شويدى چه معاذ ﷺ به قرضونه اخستل نو د هغۀ قرضداران نبى کريم ﷺ ته راغلل نو نبى کريم ﷺ ددۀ ټول مال ددۀ په قرض کښې خرڅ کړو تردې چه معاذ ﷺ بغير د څه شي نه (مُفلس) پاڅيدو. (دا حديث مرسل دې، او دا الفاظ د مصابيح نقل کړده دي) (صاحب مشکاة وائي) او ما دا روايت په اصول يعني کتب سته وغيره کښې نۀ دې موندلې سوئ د منتقىٰ نه.

**تشريح** : يَدَّانُ : په اصل کښې يَدْتَيِنُ دې، تاء په دال سره بدله شوه او دال په دال کښې مدغم شو. د دين نه دې، قرض ته وئيلې شي. په معنىٰ د يَسْتَدِيْنُ سره. يعني قرضونه به ئې اخستل. او ددې وجه دا وه چه هغۀ به ډير زيات سخاوت کولو، تردې چه خپل ټول مالونه ئې ختم کړي وو، خو بيا به هم د سخاوت نه نۀ قلاريدو تردې چه په هغۀ

باندے زیات قرضونه واوړیدل بیا ئے قرضداران راغلل او نبی ﷺ ته ئے شکایت وکړو چه په معاذ ﷺ دِے پابندی ولګولے شي او مونږ ته دِے خپل قرضونه حواله کړے شي.
نو نبی ﷺ په هغهٔ باندے حجر (پابندی) ولګوله.

دا حدیث اګرکه مرسل دے لیکن اصل مسئله د نورو روایاتو نه معلومه ده چه قاضی له جائز دی چه په مفلس (دیواله) انسان باندے حجر (پابندی) ولګوی او بیا هرکله چه قرضداری مطالبه کوی نو د مفلس مال خرڅ کړی، او قرضدارو ته د هغوی د قرضونو په اندازه ادائیګی وکړی.

((اصول)) هغه کتابونو ته وائی چه په هغے کښے حدیثونه په سند سره نقل کړے شوی وی. "منتقیٰ" دا د ابو البرکات ابن تیمیهؒ کتاب دے چه د شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ نیکهٔ دے. او دا د علامه شوکانیؒ د کتاب نیل الاوطار متن دے. دلته د مشکاة مؤلف د روایت الفاظ په (لَمْ اَجِدْهُ) سره دا وئیل غواړی چه د "مصابیح" مصنف ددے روایت (وروی ان معاذا کان الخ) چه کوم الفاظ نقل کړی پدے الفاظو سره دا روایت ما ته په اصولو کتابونو کښے ملاؤ نشو بلکه دا روایت په منتقیٰ کښے نقل شوے او هغه هم په دے راتلونکو الفاظو سره: (وعن عبد الرحمن الخ)

**درجة الحدیث** : [مرسل] رواه الطبرانی وغیره موصولا لکن الارجح انه مرسل، من روایة عبد الرحمن بن کعب بن مالك. ارواء الغلیل : ۱٤۳۵]

2918 (20) – وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: كَانَ مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ شَابًّا سَخِيًّا وَكَانَ لَا يُمْسِكُ شَيْئًا فَلَمْ يَزَلْ يَدَّانُ حَتّٰى أَغْرَقَ مَالَهُ كُلَّهُ فِي الدَّيْنِ فَأَتَى النَّبِيَّ ﷺ فَكَلَّمَهُ لِيُكَلِّمَ غُرَمَاءَهُ فَلَوْ تَرَكُوْا لِأَحَدٍ لَتَرَكُوْا لِمُعَاذٍ لِأَجْلِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ فَبَاعَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَالَهُ حَتّٰى قَامَ مُعَاذٌ بِغَيْرِ شَيْءٍ. رَوَاهُ سَعِيْدٌ فِيْ سُنَنِهٖ مُرْسَلًا.

**ترجمه** : او عبد الرحمن بن کعب بن مالك ﷺ فرمائی : معاذ بن جبل ﷺ یو سخی ځوان وو او هغه د هیڅ شي مالك نهٔ وو، نو همیشه وو چه قرضونه به ئے اخستل تردے چه هغهٔ خپل ټول مال په قرضونو کښے ډوب کړو، نو نبی کریم ﷺ ته راغلو هغهٔ سره ئے خبره وکړه، دے دپاره چه هغه د هغهٔ قرضدارو سره (پدے باره کښے) خبره وکړی، نو که چرته هغوی یو تن ته (څه قرض) پریخودے نو معاذ ته به ئے د رسول الله ﷺ د وجے نه پریخودے وے (یعنی هیڅ ئے ورته معاف نکړل)، نو رسول الله ﷺ د هغهٔ مال خرڅ کړو

تردے چه معاذ ﷺ بغیر د څه شي نه پاڅیدو۔ (دا سعید بن منصورؒ په خپل سنن کښے روایت کړے)

**تشریح** : فَلَوْ تَرَكُوا لِأَحَدٍ : دا فاء مرتب ده په محذوف باندے، یعني نبي ﷺ د هغۀ قرضدارو سره خبره وکړه چه معاذ ته قرض پریدی لیکن هغوی پرینخودو، که هغوی چا ته قرض پریخودے نو معاذ ته به ئے پریخودے وے، ځکه چه نبي ﷺ ئے سفارش وکړو۔

دا دلیل دے چه د رسول الله ﷺ دا طلب د سفارش په درجه کښے وو او امر د وجوب نۀ وو۔ ځکه چه که دا طلب د وجوب دپاره وے نو بیا ددے منل فرض وو۔ او ددے نه معلومه شوه چه د چا سفارش نۀ منل ګناه نۀ ده، او معلومه شوه چه که د چا سفارش ونۀ منلے شي نو هغۀ له خفګان نۀ دے پکار۔

**درجة الحديث** :[صحيح]، الحاكم : ۳/۲۷۳، ومنتقى الاخبار بشرحه : ۵/۱۱٤، قال الشوكاني : مرسل وله شاهد۔ وقال الحاكم صحيح على شرط الشيخين ووافقه الذهبي، ووافقهما الالباني۔ ارواء الغليل : ۵/۲٦۱/۱٤۳۵، وقال الحافظ : اسناده صحيح ولكنه مرسل وروى موصولا- المطالب العالية : ۲/۱۲۰]

## بلا عذر قرض نۀ ادا کونکے طاقت لرونکے شخص د ملامتیا قابل دے

2919( 21 ) – وَعَنِ الشَّرِيْدِ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : (لَيُّ الْوَاجِدِ يُحِلُّ عِرْضَهُ، وَعُقُوْبَتَهُ). قَالَ ابْنُ الْمُبَارَكِ : يُحِلُّ عِرْضَهُ : يُغَلَّظُ لَهُ۔ وَعُقُوْبَتَهُ : يُحْبَسُ لَهُ . رواه أَبُوْدَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

**ترجمه** : او شرید ﷺ فرمائی : چه رسول الله ﷺ وفرمایل : د مالدار سړی په قرض ادا کولو کښے ټال مټول کول د هغۀ بے عزتي او سزا جائزه ګرځوی۔ ابن مبارکؒ وائی : (د هغۀ بے عزتي جائز کوی) مطلب دا دے چه (هغۀ سره سختي کولے شي، (او د هغه سزا جائز کوی) مطلب دا چه هغه جیل ته اچولے شي۔ (ابوداودؒ، او نسائیؒ روایت کړے)،

**تشریح** : [لَيُّ الْوَاجِدِ] لیّ د لام په زور او د یاء په شد سره، د لَوٰی یَلْوِیُ لَیًّا مصدر دے، معنیٰ ئے ده ټال مټول کول، په غیر د عذر نه قرض روستو کول۔ او (واجد) غني او هغه چا ته وائی چه د قرض ادا کولو وس لری۔ [يُحِلُّ] د یاء په پیښ او د حاء په زیر سره،

حلالوی، مباح گرځوی، جائز جوړوی۔ [عِرْضَهُ] ددهٔ عزت اخستل، عرض ویل کیږی د انسان د مدح او ذم ځائے۔ او ددهٔ عزت اخستل دادی چه دهٔ ته ټال متهول کونکے وویل شی یا ورته ظالم او تیرے کونکے وویل شی۔ او دا خبره په خلکو کښے ښکاره کړے شی۔ او عبد الله بن مبارک ئے دا تفسیر وکړو چه هغهٔ سره په خبرو کښے سختی کولے شی چه ما ته خپل قرض ولے نهٔ راکوے، تهٔ ظلم کوے۔ [وَعُقُوبَتَهُ] ددهٔ سزا، په دے طور چه دا قید کړے شی یا قاضی ددهٔ مال او متاع خرڅ کړی او ددهٔ په ذمه چه کوم قرض دے هغه ادا کړی۔ يُغَلَّظُ لَهُ: دا په صیغه مجهول سره دے، د تغلیظ نه دے۔ یعنی سختی به کولے شی د هغهٔ سره۔ يُحْبَسُ لَهُ: دا هم په صیغه مجهول سره دے، او لام اجلیه دے، یعنی جیل ته به اچولے شی د وجه د قرض نه۔

**فوائد او مسائل**: (۱) حدیث نه ثابته شوه چه څوک د قرض ادا کولو وس لری او بیا هم ټال متهول کوی او هغه نهٔ ادا کوی نو دا کار ظلم او زیاتے دے چه ددے په وجه د صاحبِ قرض دپاره ددهٔ عزت اخستل جائز گرځی هغه دا چه صاحبِ قرض د قاضی یا د هغه چا په وړاندے چه هغه ددهٔ حق راوباسلے شی دا شکایت وکړی او ووائی چه فلانی ما سره ظلم کړے او زما حق ئے منع کړے، او دا به په حرام غیبت کښے نهٔ حسابیږی۔ الله تعالیٰ فرمائی: ﴿لَا يُحِبُّ اللهُ الْجَهْرَ بِالسُّوْءِ مِنَ الْقَوْلِ اِلَّا مَنْ ظُلِمَ﴾ [النساء: ۱۴۸] (الله تعالیٰ په زوره ښیرے کول نهٔ خوښوی مگر په چا چه ظلم وکړے شی) نو ددے نه معلومه شوه چه په چا ظلم وکړے شی هغه د ظالم شکایت کولے شی۔ دارنگه صاحبِ قرض دپاره جائز دی چه هغهٔ له د قید یا ادب ورکولو سزا ورکړی څنگه چه قاضی ښه گڼړی، تردے چه په دهٔ باندے واجب حق ادا کړی، کله چه ددے نه بغیر ئے نهٔ ادا کوی۔ او دا د قرض اخستونکی په حالاتو کښے اولنے حالت دے هر کله ئے چه د قرض ادا کولو وخت راغلے وی۔ هغه دا چه دا مالداره وی او ټول قرض ادا کولے شی، نو په دهٔ واجب دی چه په تادئ سره ئے ادا کړی او ټال متهول کول ورله حرام دی، او که دا کار ئے ونهٔ کړو نو قاضی او حاکم به دے په دے مجبوروی۔

(۲) او **دویم حالت** ئے دا دے چه تنگ دسته انسان که قرض روستو کوی نو په دے تاخیر سره ددهٔ عزت اخستل او هغهٔ له سزا ورکول جائز نهٔ دی، لکه پدے باندے (الواجد) لفظ دلیل دے، بلکه قرض خواه باندے واجب دی چه دهٔ ته انتظار وکړی۔ او تنگدسته

ته انتظار کول ډیر زیات اجر لري، لکه مخکښې تیر شو. **دریم حالت** ئې دادې چه د قرض ځینې برخه نشي ادا کولې، نو بیا به په دۀ بندیز لګیږي هر کله چه ددۀ غرماء ټول یا بعض دا مطالبه وکړي. ددې بیان روستو راځي، ان شاء الله تعالی.

(۳) او حدیث نه معلومه شوه چه شریعت د خلکو د مالونو د حفاظت ډیر اهتمام کړې، ددې د نۀ ادا کونکي عزت اخستل او سزا ورکول ئې جائز ګرځولي. [فتح ذی الجلال والاکرام: ٤/۱۱۱]

**درجة الحدیث**: [حسن] أبوداود: ۳٦۲۸، صحیح أبی داود، نسائی: ۷/۳۱٦، ابن ماجه: ۲٤۲۷، أحمد: ٤/۳۸۸، ابن حبان: ۱۱٦٤، موارد، حاکم: ٤/۱۰۲، بیهقی: ٦/٥۱.

## قرضدار مړي باندې د نبي علیه السلام د جنازې نه انکار

2920( 22 ) وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ ﷺ قَالَ: أُتِيَ النَّبِيُّ ﷺ بِجَنَازَةٍ لِيُصَلِّيَ عَلَيْهَا فَقَالَ: "**هَلْ عَلٰى صَاحِبِكُمْ دَيْنٌ**؟" قَالُوْا: نَعَمْ قَالَ: "**هَلْ تَرَكَ لَهُ مِنْ وَفَاءٍ**؟" قَالُوْا: لَا، قَالَ: "**صَلُّوْا عَلٰى صَاحِبِكُمْ**" قَالَ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ: عَلَيَّ دَيْنُهُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ فَتَقَدَّمَ فَصَلّٰى عَلَيْهِ. وَفِي رِوَايَةٍ مَعْنَاهُ وَقَالَ: "**فَكَّ اللّٰهُ رِهَانَكَ مِنَ النَّارِ كَمَا فَكَكْتَ رِهَانَ أَخِيكَ الْمُسْلِمِ لَيْسَ مِنْ عَبْدٍ مُسْلِمٍ يَقْضِي عَنْ أَخِيهِ دَيْنَهُ إِلَّا فَكَّ اللّٰهُ رِهَانَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ**". رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ.

**ترجمه**: او ابو سعید خدري ﷺ فرمائي: نبي کریم ﷺ ته یوه جنازه راوستې شوه دې دپاره چه هغه پرې مونځ وکړي نو وې فرمایل: آیا ستاسو پدې ملګري قرض شته ؟ هغوی وویل: آؤ، وې فرمایل: آیا ددې دپاره ئې څه ادائیګي پریښې ده؟ هغوی وویل: نۀ، وې فرمایل: په خپل ملګري مونځ وکړئ. (پدې کښې) علي بن ابي طالب ﷺ وفرمایل: اې د الله رسوله! ددۀ قرض زما په ذمه شو. نو نبي کریم ﷺ ورمخکښې شو او په هغۀ باندې ئې مونځ وکړو. او په یو روایت کښې راغلي دي چه د هغې معنیٰ دا ده: نبي کریم ﷺ وفرمایل: الله تعالیٰ دې ستا قید (او ځان) د اور نه آزاد کړي لکه څنګه چه تا د خپل ورور مسلمان ځان (د قرض نه) ازاد کړو، نشته یو بنده مسلمان چه د خپل ورور (مسلمان) نه د هغۀ قرض ادا کړي مګر الله تعالیٰ ته به د هغۀ ځان د قیامت په ورځ

آزاد کړي۔ (شرح السنه)

**تشریح** : رهان : جمع د رهن ده، یو شے په بل شي سره تړلو ته وئیلے شي۔ او عین مال په قرض سره بندولو، او د یوتن ذمه په حق باندے مشغوله کیدو ته وئیلے شي۔ یعنی الله تعالیٰ دِے ستا ذمه مشغوله کیدل آزاد کړي۔ او ستا بند او قید دِے آزاد کړي۔ او الله تعالیٰ دِے ستا ذمه د بندګانو د حقوقو او ګناهونو او بوجونو نه بري او بیزاره کړي۔ ځکه چه قرض سره د انسان نفس زوړند او بند وي۔ مګر ډیره صحیح دا ده چه دلته د جهنم نه بچاؤ مراد دے (كُلُّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ رَهِيْنَةٌ)۔

دا حدیث دلیل دے د جمهورو چه د مړي د طرف نه کفالت (ذمه واري) اخستل صحیح دي، او کفالت کونکے به د مړي په مال کښے رجوع نهٔ کوي۔ البته که پدے نیت ئے ضمانت کړے وي چه زهٔ به ئے د مړي د مال نه اخلم نو بیا ورله رجوع جائز ده۔ او کله چه د مړي مال نهٔ وي او ضمانت کونکي ته ددے علم وي، نو د هغهٔ دپاره د ضمانت نه رجوع کول صحیح نهٔ دي۔

او حدیث نه دا هم واضحه شوه چه د بل چا د طرف نه یو واجب شے په ځان باندے پورته کول صحیح دي او هغه بل چا ته ددے نفع رسیږي۔ او دا هم ثابته شوه چه جنازه د مړي واجبه ده۔ (البدر التمام شرح بلوغ المرام : ۲۸٤/٦)۔

**درجة الحديث** : [ضعيف]، فيه زافر بن سليمان وعطية العوفي وهما ضعيفان- اخرجه الدارقطني : ۷۸/۳، وابو نعيم في اخبار اصبهان : ۲۸۹/۲، عن ابي سعيد نحوه دون قوله ليس من عبد ......انتهى، وقد صح : ومن فك عن مكروب فك الله كربه يوم القيامة : معجم ابن المقرئ : ۱۳۰۸، سير اعلام النبلاء : ٦/ ۳۳٤ اسناده جيد (ذهبي))

## د قرض د بوج نه سپك کیدونکي مړي ته زیرے

2921 (23) – وَعَنْ ثَوْبَانَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : " **مَنْ مَاتَ وَهُوَ بَرِيْءٌ مِنَ الْكِبْرِ وَالْغُلُوْلِ وَالدَّيْنِ دَخَلَ الْجَنَّةَ** ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجه وَالدَّارِمِيُّ .

**ترجمه** : او ثوبان ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمایل : **څوك چه مړ شو په داسے حال کښے چه هغه د تکبر او خیانت او قرض نه بیزاره وو نو جنت ته به داخلیږي۔** (ترمذيؒ، ابن ماجهؒ، دارميؒ)

**تشریح** : تکبر وئیلے شی حق باطلول او حق له دیکه ورکول او هغه نۀ قبلول، او خلك سپك ګڼړل او هغوی هیڅ شے نۀ ګڼړل. او غلول په اصل کښے د غنیمت په مال کښے خیانت کولو ته وئیلے شی چه دا لا مشترك مال دے، بیا هر خیانت ته شاملیږی. په دهوکے، تول ناپ کښے کمے کول، غلا، رشوتونه ټول پکښے داخل دی.

دین کښے قرض او د بندګانو ټول حقوق داخلیږی.

**درجة الحدیث** : [صحیح] الترمذي : ۱۵۷۲، نسائي : ۸۷٦٤، ابن ماجه : ۲٤۱۲۔ وصححه ابن حبان (۱٦۷٦) والحاکم (۲/۲٦) والذهبي.

## بیخی د مفلسئ په حالت کښے قرضدار مړ کیدل یوه غټه ګناه ده

2922 (24) – وَعَنْ أَبِي مُوسٰى ﷺ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ :" **إِنَّ أَعْظَمَ الذُّنُوبِ عِنْدَ اللّٰهِ أَنْ يَلْقَاهُ بِهَا عَبْدٌ بَعْدَ الْكَبَائِرِ الَّتِي نَهَى اللّٰهُ عَنْهَا أَنْ يَمُوتَ رَجُلٌ وَعَلَيْهِ دَيْنٌ لَا يَدَعُ لَهُ قَضَاءً** ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ .

**ترجمه** : او ابو موسیٰ ﷺ د نبی کریم ﷺ ارشاد نقل کوی چه بیشکه د الله تعالیٰ په نیز د ټولو نه لویه ګناه چه بنده په هغے سره د الله تعالیٰ سره ملاویږی –د هغه لویو ګناهونو نه روستو چه الله تعالیٰ ترے منع فرمائیلے ده– دا ده چه سړے په داسے حال کښے مړ شی چه په هغۀ باندے قرض وی، او د هغے دپاره ئے آدائیګی نۀ وی پریخودی. (احمدؒ، ابوداودؒ)

**تشریح** : بالکل د مفلسئ په حالت کښے د قرض بوج وړلو سره مړ کیدو ته ئے د کبیره ګناه نه روستو د ګناه درجه پدے وجه ورکړے شوه چه ګناه کبیره خو بذات خود منع ده لیکن قرض اخستل بذات خود ممنوع نۀ دی چه هغه کبیره ګناه شی بلکه په بعض احادیثو کښے (د خپلو ضروریاتو د تکمیل دپاره) قرض اخستو ته مستحب وئیلے شویدی. او په کوم ځایونو کښے چه د قرض اخستو ممانعت ذکر شویدے نو هغه پدے وجه دے چه ډیر کرته د قرض په اخستو سره د خلکو حقونه ضائع کیږی یعنی قرض اخستونکے چه کله د قرض ادائیګی نۀ کوی نو د قرضه وړی مال بغیر د څه وجه نه ضائع کیږی، پدے صورت کښے قرض اخستل ګناه جوړیږی.

**درجة الحدیث** :[ضعیف]، ابوداود : ۳۳٤۲، احمد : ۱۹٤۹۵، ابوعبد الله القرشی مجهول،

قال ابن الملقن: اسناده كل رجاله ثقات الا ابا عبد الله القرشي فلا اعلم حاله: تحفة المحتاج: ۲/۵.

## په حرامو شیانو باندې صلح کول ناجائز دي

2923( 25 ) - وَعَنْ عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ الْمُزَنِيِّ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: **اَلصُّلْحُ جَائِزٌ بَيْنَ الْمُسْلِمِيْنَ، إِلَّا صُلْحًا حَرَّمَ حَلَالًا، وَأَحَلَّ حَرَامًا. وَالْمُسْلِمُوْنَ عَلَى شُرُوْطِهِمْ، إِلَّا شَرْطًا حَرَّمَ حَلَالًا وَ أَحَلَّ حَرَامًا.** رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه وَأَبُوْدَاوُدَ وَانْتَهَتْ رِوَايَتُهُ عِنْدَ قَوْلِهِ "شُرُوْطِهِمْ".

**ترجمه**: او عمرو بن عوف مزني ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمایل: د مسلمانانو ترمینځه صلح جائز ده مګر داسې صلح چه حلال، حرام وګرځوی یا حرام، حلال جوړ کړي. او مسلمانان د خپلو شرطونو پابند دي مګر داسې شرط چه حلال، حرام یا حرام، حلال جوړ کړي. (ترمذیؒ او ابن ماجهؒ او ابوداودؒ روایت کړے) او د ابوداودؒ روایت په (شروطهم) لفظ باندې ختم شوید ے.

**تعارف د عمرو بن عوف** ﷺ: عمرو بن عوف بن زید بن ملحه مُزَني، دده کنیه ابو عبد الله ده. دا د کثیر بن عبد الله نیکهٔ دے. قدیم الاسلام، بدري صحابي دے. نبي ﷺ دے په حرمِ مدینه باندې عامل مقرر کړے وو. د الله تعالیٰ د ویرې نه ډیر زیات ژړیدونکے وو. د معاویه ﷺ په دور خلافت کښې وفات شو.

**تشریح**: [اَلصُّلْحُ جَائِزٌ] جوړ جاړے کول جائز دي، یعنی داسې لازمي حکم نهٔ دے چه ګنې که هغه بل طرف ئې غواړي او که نهٔ غواړي نو خامخا به کیږي. بلکه په دې کښې د دواړو طرفونو رضا کول ضروري دي. نو ځکه ئې د جائز لفظ ووئیلو. ځکه که په یوه جګړه او تنازعه کښې دواړه فریقه صلح ونهٔ کړي نو بیا به شرعي فیصله کول لازم وي، او په دې کښې به بیا د هر طرف راضي کیدل ضروري نهٔ وي ځکه د شریعت فیصله حتمي وي، او صلح حتمي فیصله نهٔ ده بلکه د دواړو اړخونو رضامندئ سره تعلق ساتي. او دا صلح عامه ده په مالونو کښې وي، که په نفسونو کښې، که په نکاحونو یا جنګونو یا بل څهٔ کښې وي. [بَيْنَ الْمُسْلِمِيْنَ] د مسلمانانو ترمینځه. مسلمانان ئې ځکه خاص کړل چه د دوئ ترمینځه صلح له اهمیت ورکړے شي، که نهٔ وي نو دا غالبي قید دے، د کافرو ترمینځه صلح کول هم جائز دي. مثلاً: دوه کافر تاله راشي او تهٔ د هغوئ

ترمینځه جوړ جاړے وکړے نو دا هم جائز دی۔ دارنګه د کافر او مسلمان ترمینځه هم صلح کول جائز دی هر کله چه په دے کښے د مسلمان نفع وی۔

ددے نه دا ثابتیږی چه د مسلمانانو ترمینځ احسانی د جوړ جاړی او احسانی فیصلے کول جائز دی چه کومه طریقه صلح او جوړ جاړے راتللو هغه طریقه اختیارول جائز دی، اګرکه هغه منصوصی فیصله نهٔ وی۔

[إِلَّا صُلْحًا حَرَّمَ حَلَالًا] مګر داسے صلح چه د هغے په وجه یو حلال شے حرام وګرځول شی لکه ښځه خاوند ته ووائی چه پدے شرط درسره وادهٔ کوم چه زما بنے له به طلاق ورکوے، یا زما بنے سره به نزدیکت نهٔ کوے۔ یا صلح درسره کوم پدے شرط چه درے ورځے به ډوډئ نهٔ خورے۔ یا کوشنده باندے به علاقے ته تلل حرامول۔ یا زهٔ ستا دپاره اقرار نکوم مګر هله چه تهٔ زما نه نیمائی قرض ساقط کړے۔ نو دا صلح جائز نهٔ ده ځکه په دے کښے دا حلال کارونه حرام ګرځول شوی۔

[وَأَحَلَّ حَرَامًا] دلته (واو) راغلے خو په سننو کښے دا [أَوْ] دے۔ یا داسے صلح چه هغه یو حرام شے حلال وګرځوی۔ ددے څو صورتونه دی، مثلًا: یوتن د چا حق مال وغیره اخستے دے او حقدار ته دا نهٔ وائی چه ما ستا دومره مال اخستے دے بلکه هغهٔ ته نامعلومه خبره وکړی چه ما ستا حق اخستے هغه راوبخه او د هغهٔ سره په څهٔ مال باندے مصالحت وکړی۔ یا د یوے پردئ ښځے سره په دے صلح وکړی چه هغه به ددهٔ په خاوند کیدو اقرار کوی۔ یا ښځه د خاوند سره په دے صلح کوی چه هغه به خپلے بلے ښځے له طلاق ورکوی۔ یا چا یو جرم کړے وی او د حق مالك ورته ووائی چه صلح در سره کوم خو ستا ښځه به یوے شپے له استعمالوم۔ یا څوك د چا سره د یو شرعی حد په ساقطولو صلح وکړی چه دومره پیسے واخله او دا حد رانه ساقط کړه۔ یا د سوره جینئ ورکولو مسئله شوه لکه چه ډیر پښتانهٔ دا کار کوی۔ یا دا چه جماع به د زوجے سره کوی په حالت د حیض کښے یا به ئے سنیما او فاحشو ځایونو ته بوځی یا ګیره به خرئیوی یا به مونځ نهٔ کوی۔ وغیره وغیره۔

[وَالْمُسْلِمُونَ عَلَى شُرُوطِهِمْ] أَيْ: ثَابِتُونَ عَلَيْهَا لَا يَرْجِعُونَ عَنْهَا بِحُكْمِ إِسْلَامِهِمْ (مسلمانان به د اسلام د تقاضا د وجے په خپلو شرطونو ولاړ وی، هغه به پوره کوی) د مسلمانانو صفت ذکر کولو کښے دیته اشاره ده چه د دوئ لویه مرتبه ده چه د هغے په وجه به دوئ د

خپلو شرطونو لحاظ ساتي. او (شروط) جمع د شرط ده، په دوه سودا کونکو کښې يو تن په بل باندې هغه شے ضروري کول چه په هغے کښې د هغۀ نفع او فائده وي، لکه په بيع او شراء، اجاره، نکاح او نورو معاملاتو کښې شرطونه لګول.

الله تعالىٰ فرمائي : [يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ] (المائدة :۱) ايمان والا به د وعدو او عهدونو پابند وي. او ددې مطلب دا هم دے چه مثلاً چا دا شرط ولګولو چه زۀ به فلانو خلکو ته مال صدقه کوم، يا ز ما خوا ته دِے غريبانان راشي هغوي دپاره خيمے ورکوم، يا دال او غوړي ورکوم نو غير مستحق او غير متعلق شخص ورتلل ددې شرط د وجه نه حرام دي. د مسلمان د شرط لحاظ به کولے شي. يو تن دسترخوان خور کړي چه دے ته به روژه دار کيني نو غير روژه دار کيناستل به صحيح نۀ وي، ځکه چه دا د مسلمان د شرط مخالف کار دے. دارنګه د مدرسے ناظم او مهتمم د مدرسے متعلق شرطونه ولګوي چه پدې شرائطو به داخله ملاوېږي او طالب علم به د فلانو کارونو پابندي کوي او هغه کارونه جائز وي، د مدرسے او طلباؤ پکښې فائده وي، او يو تن د هغے مخالفت کوي نو دا ددې شرطونو مخالف جوړېږي. داسے به نۀ وائي چه پدې شرطونو څه دليل دے، او دا شرطونه خو آيت او حديث کښې نۀ دي راغلي. نه، د مسلمان د جائز شرط لحاظ ساتل ددې حديث په وجه لازم دي.

[إِلَّا شَرْطًا حَرَّمَ حَلَالًا] مګر داسے شرط پابندي نشته او نۀ ئې لګول يا پوره کول جائز دي چه د هغے په وجه د الله تعالىٰ حلال کړے شے حرام وګرځول شي. لکه په نکاح کښې دا شرط ولګوي چه خور لور درکوم خو کوروالے به ورسره نۀ کوې.

يا خرخونکے په اخستونکي دا پابندي ولګوي چه په دے سودا کښې به تصرف نۀ کوې.

يا ښځے باندے دا شرط ولګوي چه مهر به نۀ درکوم يا به درله خرچه نۀ درکوم يا به درله د بلے ښځے نه کم يا زيات حق درکوم، (او ښځه پدے رضا نۀ وي خو مجبوره وي) يا ښځه دا شرط ولګوي چه نکاح درسره کوم خو مخکنۍ ښځے لۀ به طلاق ورکوے. يا نور داسے حرام شرطونه شو.

[وَأَحَلَّ حَرَامًا] يا داسے شرط چه هغه يو حرام شے حلال وګرځوي. لکه يو تن د يوے ښځے سره په دے شرط نکاح کوي چه هغه به د خپل اولني خاوند دپاره حلاله ګرځوي. يا ورته په کرايه باندے کور يا دکان ورکړي په دے شرط چه په هغے کښې به حرام شيان

خـرڅوي لکه نسوار، سيګريټ، د ټنګ ټکور سامان او داسې نور. يا ورته قرض ورکوي او دا شـرط پرې لـګوي چـه ددې نـه بـه زيات راکـوې. يا ورباندې غوا ميښه، ګډه بزه خـرڅوي او دا شـرط پـرې لـګـوي چـه تـهٔ به په ما باندې ددې څاروي په خيټه کښې بچې راخـرڅـوې. يا ورتـه ووائي چه دا کور درباندې خرڅوم خو پدې شرط چه ما ته به خپل بچې پـه ګـانـړه کښې راکـوې. د بـچي ګانړه کول حرام دي، يا خپلې بي بي سره دا شرط لـګـوي چـه زهٔ بـه خـپلـې وينـځې سره جماع نهٔ کوم، پدې کښې د جائز شي په خپل ځان بانـدې حرامول راځي، يا څوك دا خبره شرط کړي چه زهٔ به د خپلې بي بي په موجودګئ کښې د هغې د خور سره نکاح کوم نو ددې پابندي هم درست نهٔ ده.

نـو دا ټـول شـرطـونه داسې دي چه په دې سره حرام شې حلال ګرځول شوې نو ځکه ددې شـرطـونو لګول يا پوره کول حرام او ناجائز دي. ولاء د بائع دپاره شرط کول ناجائز دي، نو ددې شرط پابندي هم نشته. ځکه چه پدې کښې تحريم د حلال دې.

دارنـګه يو تن په بل باندې د يو لاکهـ روپو دعوه وکړه بيا ئې پدې صلح وکړه چه خپل ځوی دِې زمـا غـلام کـړه. نو دا صلح هم جائز نهٔ ده ځکه چه د آزاد شخص غلام جوړه ول پـه احـاديثـو کښې حـرام ګـرځول شويدي. يو تن په بل باندې وينځه خرڅه کړه او دا شـرط ئې ولـګـولو چه دا به زهٔ د يو کال پورې وطي کوم، نو دا کار جائز نهٔ دې، ځکه چه هرکلـه چه بـائـع خـرڅـه کـړه نـو ددهٔ د ملکيت نه اُووتله. البته که مشتري يوه وينځه واخستـه او دا شـرط ئې ولـګولو چه دا به زهٔ هميشه وطي کوم نو دا جائز ده ځکه چه دا ددهٔ ملکيت دې، دهٔ له جائز دي.

**فوائد او مسائل** : (۱) حديث نـه ثـابته شوه چه صلح کول جائز او مشروع دي هر کـلـه چه په دې کښې د الله تعالىٰ رضـا او د دوه جـګـړه مارو رضامندي پرته وي، نو دا ډيره لائـقـه او مـنـاسـبـه صـلح ده، او دا دوه شرطه غواړي: يو علم او بل عدل. صحيح طريقې سره واقعه پيژندل او په دې کښې بيا په عدل سره فيصله کول.

(۲) په مالونو او حقونو کښې صلح کول جائز دي او دا صلح د اقرار صلح ته هم شامله ده او د انـکـار صِـلـح تـه هم. د اقرار صلح داده چه يو تن د چا دپاره د يو شئ يا د يو قرض اقـرار وکـړي او بيـا ورسره د هغې په ټوله يا څينې برخه باندې مصالحت وکړي. او د انکار صـلـح دا ده چـه يـو تن په چا دعوىٰ وکړي او هغه مدعىٰ عليه ترې انکار وکړي خو بيا د

جګړې ختمولو دپاره ورسره په يو شئ سره مصالحت وکړي. خو په دې کښې شرط دادې چه دعوئ کونکې به خپل ځان په حق ګڼړي، او مدعیٰ عليه به دا عقيده لري چه ماسره ددهٔ حق نشته. پاتې شو دا صورت چه په هغې کښې يو تن خپل ځان په دروغه ګڼړي نو د هغهٔ په حق کښې به صلح باطله وي، او کوم مال چه اخلي هغه به د هغهٔ دپاره حرام وي ځکه دا په باطله طريقه سره مال خوړل دي. او په دې جائز صلح کښې د نامعلومه حقونو نه صلح کول هم داخل دي، هغه دا چه د دوه کسانو ترمينځه يوه اوږده معامله راغلې وي چه په دې دواړو کښې هر يو ته دا معلومه نهٔ وي چه زما په فلاني څومره حق دې، او دوئ په يو معلوم شئ باندې صلح وکړي او يو تر بله حقونه معاف کړي نو دا صلح کول هم جائز دي.

دارنګه په دې کښې د نيتې والا قرض باندې صلح کول هم داخل دي، هغه دا چه يو تن چاله د کال په نيته زر روپئ قرض ورکړي وي، او بيا هغهٔ ته د نيتې راتلو نه مخکښې ووائي چه ماله اوس اتهٔ سوه روپئ راکړه، دوه سوه په نقدو راکولو باندې تاته معاف شوې. نو دا هم جائز دي، ځکه په دې کښې د قرض خواه هم فائده ده چه حق ئې زر را ووانهٔ، او د قرضه وړي هم فائده ده چه ذمه ئې خلاصه شوه او د قرض يوه برخه ورته معاف کړې شوه. او دا هله کيږي چه کله حقدار د نيتې راتلو نه مخکښې خپل حق ته محتاج شي او مخکښې ئې پکار وي. ددې په منع باندې هيڅ دليل نشته. داد امام احمدؒ نه يو روايت دې چه شيخ الاسلام ابن تيميهؒ، ابن قيمؒ او علامه شوکانيؒ غوره ګرځولې. او دا په سود کښې نهٔ داخليږي بلکه دلته د ځينې نيتې په عوض ځينې حق ساقط شوې. او ددې نفع دواړو ته رسيدلې. او په سود کښې خو صرف سود خور ته فائده وي. او دې ته مسئله د وضع الدين بالوفاء وائي، تفصيل ئې په فتاوی الدين الخالص (۱۱) جلد کښې وګوره.

(۳) او حديث نه معلومه شوه چه کله په صلح کښې يو حلال شې حرام يا يو حرام شې حلال ګرځول کيږي نو دا قِسم صلح فاسده ده ځکه دا حرامه صلح ده. دارنګه هغه ظالمانه صلح هم حرامه ده چه په هغې کښې د يو طرف سره ظلم کيږي. ددې دليل دادې چه الله تعالیٰ د صلح سره د عدل قيد لګولې، لکه ارشاد دې: ﴿فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا فَإِنْ بَغَتْ إِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرَى فَقَاتِلُوا الَّتِي تَبْغِي حَتَّى تَفِيءَ إِلَى أَمْرِ اللهِ فَإِنْ فَاءَتْ فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ

وَاَقْسِطُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِيْنَ ﴿ [الحجرات : ۹]

(نو تاسو ددے دوارو ډلو ترمينځه جوړ جاړے وكړئ نو كه يوے ډلے په بله باندے زياتے وكړو نو زياتى كونكے ډلے سره جنگ وكړئ تردے چه د الله تعالىٰ حكم ته واپس شى نوكه واپس شوه نو د دوارو ترمينځه په انصاف سره جوړ جاړے وكړئ او انصاف كوئ بيشكه الله تعالىٰ د انصاف دارو سره مينه كوى)۔

بعضِ خلك د زورور ظالم او د كمزورى مظلوم ترمينځه داسے صلح كوى چه په هغے سره مظلوم رضا نۀ وى بلكه صلح كونكے د ظالم نه طمع لرى او د هغۀ د جاه او دنيا لحاظ ساتى نو فيصله د هغۀ په حق كښے كوى او مظلوم ورسره روغوى او په دے كښے سترگے پټوى۔ اوكله په خپلو الفاظو كښے داسے دهمكى وركوى چه د هغے په وجه مظلوم صلح كول قبول كړى، نو دا كار ظلم او زياتے دے۔

(٤) او حديث نه معلومه شوه چه كله په بائع او مشترى كښے يو تن څان دپاره په سودا كښے داسے شرطِ ولگوى چه په هغے كښے د هغۀ فائده وى نو دا كار جائز دے اوكه هغه بل طرف ورسره ومنلو نو ددے پوره كول به لازم وى۔ لكه بائع يو كور يا دكان خرڅ كړى خو د يوے معلومے مودے پورے د هغے نه د نفع اخستو شرط ولگوى چه په كور كښے به وسيږى او دكان به استعمالوى۔ يا گاړے خرڅ كړى او يوے معلومے مودے پورے ترے نفع اخستل شرط كړى۔ يا مشترى په سودا كښے يو مقصودى وصف شرط كړى لكه څارويے درنه اخلم په دے شرط چه پيۍ به كوى، يا سودا درسره كوم خو نيمائى رقم به يوے نيټے پورے دركوم۔ يا نور داسے شرطونه ولگوى كوم چه فقهاء په [كتاب البيوع] كښے ذكر كوى، لكه ددے څۀ برخه مخكښے تيره شوه۔

(٥) او بل طرفته داسے شرطونه لگول او پوره كول حرام دى چه هغه د يو حلال شئ د حرام والى، او د حرام شئ د حلال والى سبب گرځى۔ څكه دا باطل شرطونه دى، او نبى ﷺ فرمائى: [كُلُّ شَرْطٍ لَيْسَ فِيْ كِتَابِ اللّٰهِ فَهُوَ بَاطِلٌ ] [بخارى ومسلم] (هر هغه شرط چه د الله تعالىٰ په قانون كښے نۀ وى باطل دے)۔

(٦) او معلومه شوه چه كله مسلمان يو شرط ولگوى د هغے احترام به ساتلے شى۔ او د الله تعالىٰ حكم به د مخلوق په حكم او شرط باندے مقدم وى، هركله چه د مخلوق شرط د الله تعالىٰ د حكم مخالف وى نو بيا به د هغے منل نۀ وى۔ د الله تعالىٰ حكم د

مخلوق په حكم او شرط سره نۀ متغير كيږي او نۀ بدليږي.

(۷) پدې جائز شرطونو كښې د شركاتو او مشاريعو د مؤسسينو شرطونه او د وقف كونكو شرطونه يا د وصيت كونكو شرطونه ټول داخليږي.

(۸) دارنګه زنانه په خاوند باندې شرط ولګوي چه د وسيدو كور به وركوي، يا به ئې په خپل ښار كښې اوسه وي، يا به ورته معلومه معينه نفقه وركوي، يا پرې د خپل بل خاوند د اولادو شرط ولګوي چه دا به ما سره وي نو دا شرطونه هم جائز دي.

[فتح ذى الجلال والاكرام ٤/١٣٨، توضيح الاحكام ٤/٥٠٦]

**تنبيه:** ددې حديث ددې باب سره څه خاص تعلق نشته البته مصنفؒ دا حديث دلته نقل كړو، اشاره كوي چه د بيع او شراء په معاملاتو كښې د مفلس او ديواله كيدو په وخت اكثر صلح او شرائطو ته خبره رسيږي پدې وجه پدې مناسبت سره ئې دلته دا حديث نقل كړو.

**درجة الحديث:** [صحيح لغيره] ترمذى: ١٣٥٢، ابن ماجه: ٢٣٥٣، دارقطنى: ٣/٢٧، حاكم: ٤/١٠١، بيهقى: ٦/٥٦. وقال الحافظ فى بلوغ المرام: [وَقَدْ أَنْكَرُوا عَلَيْهِ اى على تصحيح الترمذى] لان فيه اسناده كثير بن عبد الله بن عمرو بن عوف ضعيف جدا. قال الذهبى: لا عبرة لتصحيح الترمذى. [الميزان: ٣/٤٠٧] وقال الامام ابن كثير وابن عبد الهادى: الائمة لا يوافقون مع تصحيح الترمذى لهذا الحديث. [ارشاد الفقيه: ٢/٥٤، المحرر: ٢/٥٧١] وقال ابن معينؒ: ليس بشيء وقال الشافعى وابوداود: هو ركن الكذب، وقال الدارقطنى: متروك والنسائى: غير ثقة، وقال ابن عدىؒ: لا يتابع عامة احاديثه. [تهذيب التهذيب: ٨/٣٧٧] وقول الحافظ: [وَكَأَنَّهُ اعْتَبَرَهُ بِكَثْرَةِ طُرُقِهِ] اعتذار منه للترمذى والمراد من الطرق الشواهد لانه لا طرق لهذا الحديث بل له شواهد، منها حديث ابى هريرة الذى اخرجه ابن حبان وهو احسن شاهد وهو حديث حسن، فالترمذى حسن الحديث لاجل الشواهد او الراوى عمرو بن عوف قوى عنده كما هو رأى البخارى وابن خزيمة وغيرهما وان كان الاكثرون ضعفوه، وقال ابن العربى: هذا الحديث نقل بطرق متعددة، ولفظه يوافق القرآن واجماع الامة. [عارضة الأحوذى: ٦/١٠٣] وقال شيخ الاسلام ابن تيمية: هؤلاء الاسانيد وان كان كل واحد منها ضعيفا الا اذا انضم بعضها لبعض، يقوى بعضها بعضا. [الفتاوى: ١٩/١٤٧]

## د نبی علیه السلام پرتوګ لره اخستل

## الفصل الثالث

2924 (26) – عَنْ سُوَيْدِ بْنِ قَيْسٍ قَالَ : جَلَبْتُ أَنَا وَمُخْرَفَةُ الْعَبْدِيُّ بَزًّا مِنْ هَجَرَ فَأَتَيْنَا بِهٖ مَكَّةَ فَجَاءَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَمْشِيْ فَسَاوَمَنَا بِسَرَاوِيْلَ فَبِعْنَاهُ وَثَمَّ رَجُلٌ يَزِنُ بِالْأَجْرِ فَقَالَ لَهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : " **زِنْ وَأَرْجِحْ** ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه وَالدَّارِمِيُّ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ : هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ

**ترجمه** : سوید بن قیسؓ فرمائی : ما او مخرفه عبدیؓ د هجر علاقې نه کپړے راخکلے نو مونږ هغه مکے ته راوړے نو مونږ ته رسول الله ﷺ راغلو چه پیاده راروان وو نو مونږ سره ئے د پرتوګ ریټ وکړو نو مونږ پرے خرخ کړو او هلته یو سړے وو چه په مزدورئ به ئے (خلکو له) تول کولو، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : وزن کوه او درانۀ ئے تله۔ (احمدؒ، ابوداوُدؒ، ترمذیؒ، ابن ماجهؒ، دارمیؒ نقل کړے او ترمذیؒ وئیلی دی : دا حدیث حسن صحیح دے)

**سوید بن قیس** ؓ : کنیه ئے ابوصفوان یا ابو مرحب ده، صحابی دے په کوفه کښے اُوسیدلے دے، او منقول دی چه دۀ نه رسول الله ﷺ پرتوګ اخستے وو۔ او ددے صحابی نه صرف همدا یو روایت نقل دے۔

مخرفه عبدی ؓ : ابن حبانؒ وائی : ددۀ دپاره صحبت ثابت دے۔

**تشریح** : [بَزًّا] : بز، کپړو، جامو، یا د کور سامان ته وئیلے شي چه کپړے وغیره تولو ته شاملیږی۔ خرخونکی ته بزاز وائی۔ بعض اهل لغت وائی: بز یو خاص قسم کپړے دی، او څینی وائی چه خاص د کور د سامان متعلق کپړو ته وائی۔

[هَجَرَ] : دا په یمن کښے یو ښار دے، ددے او د "عشر" ترمینځ یوه ورځ او یوه شپه فاصله ده۔ او دا د ټول بحرین نوم دے۔ په قاموس کښے وائی : چه هجر د مدینے په خوا کښے یو کلے هم دے چه هغے ته منګی او چاټئ منسوب دی، (هلته جوړیږی)

[مَكَّةَ] : په بل روایت کښے دی چه رسول الله ﷺ مونږ ته راغلو او مونږ په منیٰ کښے وو۔

[رَجُلٌ يَزِنُ ] : یعنی یو وزن کونکے وو چه څیزونه به ئے په اجرت او مزدورئ سره تلل۔

[زِنْ وَأَرْجِحْ] : ارجح : یعنی تول راجح (درونډ) وکرځوه۔ ددې نه دا خبره ثابتیږی چه خلکو ته مالونه درانهٔ تلل پکار دی۔ همدا د خیر او برکت سبب دے۔

**فوائد الحدیث** : (۱) ددې حدیث نه صرف دا ثابته ده چه رسول الله ﷺ پرتوګ په قیمت سره اخستے دے، او ابو یعلی په خپل سند سره د ابو هریره ﷛ نه روایت نقل کړے چه نبی علیه السلام دا پرتوګ په څلور درهمه اخستے وو۔ (مسند ابی یعلی : ٦١٦٢) او په دې حدیث کښې دا نهٔ دی ذکر چه رسول الله ﷺ خپله اغوستے دے او که نه۔ البته ظاهره دا ده چه پرتوګ د اغوستو دپاره اخستل کیږی۔

(۲) ددې حدیث نه د رسول الله ﷺ تواضع او انکساری معلومه شوه چه هغهٔ د پرتوګ اخستو دپاره په خپله تشریف راوړے وو۔ دارنګه ددې حدیث نه د رسول الله ﷺ کمالِ اخلاق او کرم ښکاره کیږی چه هغهٔ پرتوګ خرڅونکی ته د مقرر قیمت نه زیات ورکړو۔ ددې حدیث هم په ظاهره کښې ددې باب د موضوع سره تعلق نشته مګر دا چه ووئیلے شی چه په بعض اوقاتو کښې د خرڅونکی د افلاس او د هغه د پریوتی حالت په وجه سره هغهٔ ته د احسان او ښیګړے په طور د متعین قیمت نه څه زیاتے هم ورکول پکار دی۔

د قرض په واپسئ کښې غیر مشروط زیادت جائز دے۔

**درجة الحدیث** :[صحیح]، ابوداود : ۳۳۳۸، احمد : ۳۵۲/٤، ترمذی : ۱۳۰۵ وقال صحیح : وابن ماجه : ۲۲۲۰ عنه، وصححه الحاکم علی شرط مسلم ووافقه الذهبی والالبانی]

### د قرض په واپسئ کښې غیر مشروط زیادت ورکول بهتر دی

2925 (27) – وَعَنْ جَابِرٍ ﷛ قَالَ :كَانَ لِیْ عَلَی النَّبِیِّ ﷺ دَیْنٌ فَقَضَانِیْ وَزَادَنِیْ . رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ .

**ترجمه** : او جابر ﷛ فرمائی : زما په نبی کریم ﷺ باندې قرض وو نو ما ته ئے ادا کړو او زیات ئے راکړو۔ (ابوداودؒ)

**تشریح** : ددې او د مخکنی حدیث نه دا معلومه شوه چه که څوك چا ته یو حق (مثلاً قرض وغیره) ادا کوی او د خپل طرف نه څه شے زیاتے هم ورکړی نو دا به سود نهٔ وی پدې شرط چه دا زیادت به د اول نه مشروط نهٔ وی۔ دې زیادت ته سود نهٔ وئیلے

کېږي ځکه چه سود هغه زیادت ته وائي چه قرضه ورکونکے ئے د قرض د ورکولو په وخت مشروط کړي مثلًا سل روپۍ د یو معینې مودے پورے د قرض په طور چا له ورکړي او دا شرط ولګوي چه ددے قرض د واپسۍ په وخت به لس روپۍ ورپسے زیاتے راکوے نو دا قطعاً حرامه ده۔

**درجة الحديث** :[صحيح]، ابوداود: ۳۳٤۷، وكذا البخاري: (٤٤۳) ومسلم (۷۱۵).

## د قرض د ادا کولو په وخت دعا

2926( 28 ) – وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أَبِي رَبِيعَةَ ﷺ قَالَ: اِسْتَقْرَضَ مِنِّي النَّبِيُّ ﷺ أَرْبَعِينَ أَلْفًا فَجَاءَهُ مَالٌ فَدَفَعَهُ إِلَيَّ وَقَالَ: " **بَارَكَ اللّٰهُ تَعَالٰى فِيْ أَهْلِكَ وَمَالِكَ إِنَّمَا جَزَاءُ السَّلَفِ الْحَمْدُ وَالْأَدَاءُ** ". رَوَاهُ النَّسَائِيُّ

**ترجمه** : او عبد الله بن ابی ربیعه ﷺ فرمائی: ما نه نبی کریم ﷺ څلویښت زره روپۍ قرض واخستو نو هغۀ ته مال راغلو نو ما ته ئے هغه (قرض) راکړو او وے فرمایل: بارك الله تعالیٰ الخ۔ الله تعالیٰ دِے تا ته ستا په اهل او مال کښے برکت واچوی، یقیناً د قرض بدله ثناء صفت کول او د هغے ادا کول دی۔ (نسائیؒ)

**تشریح** : (السَّلَفِ) یعنی قرض۔ (الْحَمْدُ) یعنی د قرض ورکونکی صفت کول۔

ددے حدیث نه ثابته شوه چه څوك د چا نه قرض واخلی نو پکار ده چه د هغے د ادائیګئ بندوبست په جلتئ سره وکړی، لکه رسول الله ﷺ به زر قرض ادا کولو۔ او چونکه قرض ورکول یوه صدقه او اجر او احسان دے نو پدے وجه د قرض د ادا کولو په وخت قرض ورکونکی ته داسے دعاء پکار ده چه الله تعالیٰ دِے ستا په اهل او مال کښے برکت واچوی۔ او هرکله چه قرض یو احسان دے نو ذ احسان شکریه او بدله دا ده چه بنده د قرض ورکونکی صفتونه وکړی او هغۀ ته ئے د وعدے مطابق په خپل وخت باندے ادا کړی، بغیر ددے نه چه هغۀ سره ټال مټول وکړی یا په ځان باندے قرض ادا کول درون بوج وګنړی، بلکه ښه په مینه سره هغه ادا کړی۔

او معلومه شوه چه نبی ﷺ به د خپلو ملګرو د حالت ډیر خیال ساتلو، دومره زیاتے پیسے ئے قرض کړے دے دپاره چه پدے سره د غریبانو او فقیرانو مدد وکړي او د الله تعالیٰ په لاره کښے په هغے تیارے وکړی۔

عبد الله بن ابی ربیعه ﷺ د فتح د مکے نه مخکښې مسلمان شوے، دا هغه شخص وو چه د عمرو بن العاص ﷺ سره قریشو د حبشو مهاجرینو د راواپس کولو دپاره لیږلے وو، بیا الله تعالیٰ په اسلام باندے دواړه مشرف کړل۔

**درجة الحديث** :[صحيح] النسائي : ٤٦٨٣، ٧/٣١٤، وابن ماجه : ٢٤٢٤، واحمد : ٤/٣٦، ١٢٩٩٩، وابن السنى فى عمل اليوم والليلة : ٢٧٢.

## مهلت ورکونکی ته د هرے ورځے د صدقے ثواب ملاویږی

2927( 29 ) - وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ : " **مَنْ كَانَ لَهُ عَلٰى رَجُلٍ حَقٌّ فَمَنْ أَخَّرَهُ كَانَ لَهُ بِكُلِّ يَوْمٍ صَدَقَةٌ** ". رَوَاهُ أَحْمَدُ

**ترجمه** : او عمران بن حصین ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : د چا چه په یو سړی باندے حق (یعنی قرضه وغیره ) وی نو چا چه ددے (په وصولولو کښے) تاخیر وکړو (یعنی قرضدار ته ئے مهلت ورکړو) نو دهٔ دپاره به د هرے ورځے (مهلت ورکړے شوے) په بدله کښے صدقه وی۔ (احمدؒ)

**تشریح**: پدے حدیث کښے ډیر لوی ثواب او اجر ذکر شو د هغه چا دپاره چه تنګدست ته صبر کوی او قرض ورته روستو کوی چه د هرے ورځے په مقابله کښے به ورته د مال په اندازه د صدقے ثواب ملاویږی۔

**درجة الحديث** :[صحيح، وهذا اسناد ضعيف جدا] احمد : ٤/٤٤٢، وله شاهد من حديث بريدة مرفوعا بلفظ : من انظر معسرا كان له بكل يوم صدقة۔ (ابن ماجه : ٢٤١٨).

## قرض ادا کول په میراث باندے مخکښے دی

2928 (30) - وَعَنْ سَعْدِ بْنِ الْأَطْوَلِ ﷺ قَالَ : مَاتَ أَخِيْ وَتَرَكَ ثَلَاثَمِائَةِ دِيْنَارٍ وَتَرَكَ وَلَدًا صِغَارًا فَأَرَدْتُ أَنْ أُنْفِقَ عَلَيْهِمْ فَقَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ :" **إِنَّ أَخَاكَ مَحْبُوْسٌ بِدَيْنِهِ فَاقْضِ عَنْهُ** ". قَالَ : فَذَهَبْتُ فَقَضَيْتُ عَنْهُ وَلَمْ تَبْقَ إِلَّا امْرَأَةٌ تَدَّعِيْ دِيْنَارَيْنِ وَلَيْسَتْ لَهَا بَيِّنَةٌ قَالَ :" **أَعْطِهَا فَإِنَّهَا صَادِقَةٌ** . "رَوَاهُ أَحْمَدُ

**ترجمه** : او سعد بن اطول ﷺ فرمائی : زما ورور وفات شو او درے سوه دیناره ئے پریخودل او واړه بچی ئے (هم) پریخودل، نو ما اراده وکړه چه زهٔ په هغوی باندے خرچه

وکړم نو ما ته رسول الله ﷺ وفرمایل : بیشکه ستا ورور په خپل قرض کښې بند کړے شویدے، نو د هغهٔ د طرف نه قرض ادا کړه، هغه وائی : نو زهٔ لاړم او د هغهٔ د طرف نه مے ادا کړو مګر صرف یوه ښځه پاتے شوه چه هغې د دوه دینارو دعوه لرله او د هغې سره ګواه (دلیل) نهٔ وو، نو نبی کریم ﷺ وفرمایل : دے ته ئې (هم) ورکړه ځکه چه دا رشتینې ده۔ (احمدؒ)

**تشریح** : نبی ﷺ ته د سعد بن الاطول رضی الله عنه د ورور د قرض حال به یا د وحی نه په غیر په بله کومه ذریعه سره معلوم شوے وی، پدے وجه ئې سعد ته د هغهٔ د قرض ادا کولو حکم وکړو ځکه چه د حاکم دپاره دا جائز دی چه هغه په خپلو معلوماتو باندے اعتماد وکړی او حکم جاری کړی، یا به هغهٔ ته د وحی په ذریعه سره د هغهٔ د ورور د قرض حال معلوم شوے وی۔

[فَإِنَّهَا صَادِقَةٌ] : په یو بل روایت کښې دی [فَإِنَّهَا مُحِقَّةٌ] دا حقداره ده۔ دا خبره ئې چه وکړه چه دا زنانه حقداره ده، دا ئې هم په وحی سره وکړه۔ زمونږ دور کښې به د دعوے دپاره دوه ګواهان یا قرائن راوړی۔

ددے حدیث نه معلومه شوه چه دین په میراث په باندے مقدم دے، یعنې د مړی نه په پاتے مال کښې به اول د خلکو مطالبات ادا کړے شی کوم چه د مړی په ذمه باندے پاتے وی، ددے نه روستو چه کوم مال پاتے شو هغه به په وارثانو کښې تقسیم کړے شی۔

**درجة الحدیث** : [صحیح] احمد : ۱۷۲۶٦، وابن ماجه : ۸۲/۲، والبیهقی : ۱۴۲/۱۰ واحد اسنادیه صحیح]

## بار بار شهادت هم د قرض کفاره نشی کیدے

2929 (31) - وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ جَحْشٍ رضی الله عنه قَالَ : كُنَّا جُلُوسًا بِفِنَاءِ الْمَسْجِدِ حَيْثُ يُوضَعُ الْجَنَائِزُ وَرَسُولُ اللّٰهِ ﷺ جَالِسٌ بَيْنَ ظَهْرَيْنَا فَرَفَعَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ بَصَرَهُ قِبَلَ السَّمَاءِ فَنَظَرَ ثُمَّ طَأْطَأَ بَصَرَهُ وَوَضَعَ يَدَهُ عَلَى جَبْهَتِهِ قَالَ : " **سُبْحَانَ اللّٰهِ سُبْحَانَ اللّٰهِ مَا نَزَلَ مِنَ التَّشْدِيدِ** ؟ " قَالَ : فَسَكَتْنَا يَوْمَنَا وَلَيْلَتَنَا فَلَمْ نَرَ إِلَّا خَيْرًا حَتّٰى أَصْبَحْنَا قَالَ مُحَمَّدٌ : فَسَأَلْتُ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ : مَا التَّشْدِيدُ الَّذِي نَزَلَ ؟ قَالَ : " **فِي الدَّيْنِ وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ**

بِيَدِهٖ لَوْ أَنَّ رَجُلًا قُتِلَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ثُمَّ عَاشَ ثُمَّ قُتِلَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ثُمَّ عَاشَ ثُمَّ قُتِلَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ثُمَّ عَاشَ وَعَلَيْهِ دَيْنٌ مَا دَخَلَ الْجَنَّةَ حَتّٰى يَقْضِيَ دَيْنَهُ ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَفِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ نَحْوَهُ

**ترجمه:** محمد بن عبد الله بن جحش ﷺ فرمائي: مونږ (يوه ورځ) د مسجد نبوی په هغه صحن کښې ناست وو کوم ځائے چه جنازے کیخودلے کیږی او رسول الله ﷺ زمونږ ترمینځ ناست وو نو رسول الله ﷺ خپل نظر آسمان ته پورته کړو نو وے کتل بیا ئے خپل نظر خکته کړو او خپل لاس ئے په خپل تندی مبارك باندے کیخودو، او (د انتهائی تعجب په عالم کښې ئے) وفرمایل: سبحان الله! سبحان الله (تعجب دے) څومره سختی نازله شوه؟ راوی وائی: مونږ یوه ورځ او یوه شپه غلی پاتے شو، نو مونږ ونهٔ لیدو مگر خیر تردے چه مونږ صبا کړو محمد ﷺ وائي: ما د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وکړه: دا کومه سختی ده چه نازله شوه؟ وے فرمایل: په باره د قرض کښې، قسم په هغه ذات چه نفس د محمد (ﷺ) د هغهٔ په لاس کښې دے، که یو تن د الله تعالیٰ په لاره کښې شهید شی بیا ژوندے شی بیا د الله تعالیٰ په لاره کښې شهید شی، بیا ژوندے شی بیا د الله تعالیٰ په لاره کښې شهید شی بیا ژوندے شی او په هغهٔ باندے قرض وی نو جنت ته به تر هغه وخته پورے داخل نشی چه خپل قرض ادا کړی۔ (احمدؒ، او شرح السنه کښې ددے په شان روایت دے)۔

**تشریح:** مَا التَّشْدِيْدُ الَّذِيْ نَزَلَ: په تشدید د زاء او په تخفیف دواړو سره جائز دے۔

حَتّٰى يُقْضٰى دَيْنُهُ: يُقْضٰى مجهول دے او دینُه ئے نائب فاعل دے، یعنی تردے چه د هغهٔ د طرف نه قرض ادا کړے شی، یعنی د هغهٔ وارثان یا بل څوك ئے ادا کړی۔ یا يَقْضِيُ فعل معلوم دے او ضمیر پکښے دغه مړ کیدونکی شخص ته راجع دے او دینَه ئے مفعول دے، یعنی تردے چه ځان نه قرض ادا کړی۔ البته که دنیا کښې د هغهٔ خصم (مقابل) راضی کړے شی، او هغهٔ ورته معافی وکړی نو دا هم د قضاء (اداء) په معنیٰ سره دے۔ یا دا چه په آخرت کښې ترے الله تعالیٰ ددهٔ قرضداری راضی کړی۔

**فوائد الحدیث:** (۱) ددے حدیث نه ثابته شوه چه د قرض معامله ډیره سخته ده، په شهادت سره هم نهٔ معاف کیږی۔ (۲) فَسَكَتْنَا: نه معلومه شوه چه صحابه کرامو به د

رسول الله ﷺ سره د انتهائی ادب نه کار اخستو، تردے چه د هغهٔ د احوالو لحاظ به ئے ساتلو، بے موقعه به ئے تپوس هم نهٔ کولو.

(۳) شریعت د مؤمن د حق ډیر زیات اهتمام کړے او داسے سخت وعید ئے بیان کړے.

**درجة الحديث** : [اسناده صحيح] احمد : ۲۸۹/۵، والحاكم : ۲۲۱۲، وقال صحيح الاسناد ووافقه الذهبي.



## ۱۰- باب الشركة والوكالة د شراکت او وکالت بیان

اَلشِّرْكَةُ :دا شَرَكَةٌ، شَرِكَةٌ، شِرْكَةٌ په درے واړه طریقو سره لوستل جائز دی، شرکت په لغت کښے اختلاط او یوځائے کیدو ته وائی. اَشْرَكَ شریکول، تَشَارَكَ یو بل سره شریکیدل. او **شرعًا** : شرکت ویل کیږی : اَلْاِجْتِمَاعُ فِی اسْتِحْقَاقٍ اَوْ تَصَرُّفٍ (په حقدار کیدو یا په تصرف کولو کښے یوځائے کیدل) اولنی ته [شِرْكَةُ الْأَمْلَاكِ]، او دویم ته [شِرْكَةُ الْعُقُوْدِ] وائی. شركة الأملاك دیته وائی چه دوه کسان د یو شیئ په ملکیت کښے شریك شی چه دے دواړو ته یو شیئ په اخستو یا میراث یا وصیت وغیره سره ملاؤ شوے وی. مثال ئے دادے لکه دوه ورونو ته د پلار له طرفه په میراث کښے کور پاتے شی، نو ددے دواړو په دے کور کښے راجمع کیدل په استحقاق کښے شرکت دے چه دا دواړه ددے کور په ملکیت کښے شریك شو. او شركة العقود دیته وائی چه په تصرف کښے دوه کسان یوځائے شی. لکه د یو تن مال وی او د بل تن عمل وی (چه دیته مضاربت وائی) نو دا دواړه په تصرف کښے شریك دی، (دا شرکت مجازی دے ځکه چه رب المال په مال کښے تصرف نکوی صرف مال د هغهٔ وی، د شركة العقود مثالونه شركة الاعمال او شركة المفاوضه ده)، ددے نه مخکښے د دوئ ترمینځه په ملکیت کښے هیڅ شرکت نهٔ وو بلکه د عقدِ مضاربت د وجے په دے دواړو کښے شرکت پیدا شو. د شرکت په باره کښے یو څو حدیثونه راغلی، او په دے باندے د علماؤ اجماع ده اګرکه ددے په بعضِ صورتونو کښے اختلاف هم شته. (فتح ذی الجلال)

❁ د شریعت د خوبیو نه لویه خوبي دا ده چه شرکت ئې مباح گرځولے ځکه په دے کښې یو بل سره تعاون، مینه محبت، خیر خواهي او د گټهور عمل دپاره زیات کوشش کول وي. ځکه الله تعالیٰ په خلکو کښې داسے تقسیم کړے چه چاله ئې مال ورکړے خو هغه سره د تجارت او کارو بار کولو پوره مهارت نهٔ وي نو دے هغه چاته احتیاج لري ځوك چه دا قِسم مهارت او تجربه لري. او چاله الله تعالیٰ په هر کار کښې ډیره تجربه ورکړے وي خو مال ورسره نهٔ وي چه تجارت پرے وکړي. نو هر کله چه سرمایه او تجربه دواړه راجمع شي نو ټوله معاشره به استفاده حاصله کړي او اسلامي امت به خپل اقتصادي پروگرامونه په تیزئ سره مخ په وړاندے بوځي او په شرعي طریقو سره به حلال مال گټي او ټوله معاشره به مطمئنه او خوشحاله خوشحاله وي.

او (وَكَالَة) په لغت کښې : د واؤ په زور یا زیر دواړو سره مستعمل دے، دا اسم مصدر دے په معنیٰ د توکیل سره او توکیل تفویض او سپارلو ته وائي. یعني ځوك وکیل، نائب، نماینده او قائم مقام جوړول.

او **شرعًا** : وکالت وائي : [اِسْتِنَابَةُ جَائِزِ التَّصَرُّفِ مِثْلَهُ فِيمَا تَدْخُلُهُ النِّيَابَةُ] (ځوك چه جائز تصرف والا وي هغه د خپل ځان پشان کس په هغه شئ کښې نائب مقرر کړي چه په هغے کښې نیابت کول صحیح وي) د جائز تصرف په قید سره ماشوم، لیونے او کم عقل وواتهٔ چه د دوئ تصرف جائز نهٔ دے. او په دویم قید سره هغه شیان ووتل چه په هغے کښې نیابت کول صحیح نهٔ وي لکه په مونځ، روژه وغیره کښې نائب مقررول.

بل تعریف ئې داسے دے : [إِقَامَةُ الشَّخْصِ غَيْرَهُ مَقَامَ نَفْسِهِ مُطْلَقًا أَوْ مُقَيَّدًا] (د خپل ځان په ځائے بل ځوك په هرڅهٔ کښې یا په یو خاص شئ کښې نائب جوړول). [البدر التمام شرح بلوغ المرام : ٢٩١/٦] د وکالت مثال داسے دے چه ځوك د یو شئ په اخستلو، یا خرڅولو یا نکاح کولو یا په اجاره نیولو یا په بل یو جائز شئ کښې یو تن خپل وکیل مقرر کړي.

وکیل مقررول مباح دي، او وکیل جوړیدل مستحب دي په دے شرط چه ددهٔ مقصد موکل سره ښیگړه کول او د هغهٔ په حاجت پوره کولو کښې مدد کول وي، او یا وکیل دا گمان لري چه که دے موکل پریدي نو هغه د خپل حاجت پوره کولو دپاره یو داسے تن مقرروي چه هغه ددے لائق نهٔ دے یا به دا کار ضائع کړي، او یا د موکل په وکیل باندے حق وي او هغهٔ ته به بل ځوك نهٔ ملاویږي.

❁ وکالت جائز ګرځول د شریعت په خوبیو کښې یوه لویه خوبي ده، دا د هغه معاملاتو نه دے چه په دے سره د مسلمانانو ترمینځه تعاون راځي، ځکه هر انسان خپل حاجتونه په خپله نشي پوره کولے یا ورته ګران وي نو ددۀ په باره کښې شریعت دا آساني پیدا کړه چه دے د خپلو کارونو پوره کولو دپاره بل څوك نائب او وکیل جوړولے شي چه هغه ددۀ دپاره دا کارونه سرته ورسوي. ★ د وکالت په جواز باندے کتاب، سنت او اجماع د امت دلیل دے. الله تعالیٰ فرمائی: ﴿فَابۡعَثُوۡۤا اَحَدَکُمۡ بِوَرِقِکُمۡ هٰذِهٖۤ اِلَی الۡمَدِیۡنَةِ فَلۡیَنۡظُرۡ اَیُّهَاۤ اَزۡکٰی طَعَامًا﴾ [کهف: ۱۹] نو دلته د خوراك راوړو دپاره وکیل جوړ کړے شوے. او ارشاد مبارك دے: ﴿قَالَ اجۡعَلۡنِیۡ عَلٰی خَزَآئِنِ الۡاَرۡضِ﴾ [یوسف: ۵۵] (یوسف علیه السلام وویل: ما د زمکو په خزانو مقرر کړئ) او ارشاد مبارك دے: ﴿وَقَالَ مُوۡسٰی لِاَخِیۡهِ هٰرُوۡنَ اخۡلُفۡنِیۡ فِیۡ قَوۡمِیۡ وَاَصۡلِحۡ وَلَا تَتَّبِعۡ سَبِیۡلَ الۡمُفۡسِدِیۡنَ﴾ [اعراف: ۱٤۲] دلته موسیٰ علیه السلام خپل ورور د خپل قوم د اصلاح دپاره وکیل او نائب مقرر کړے. او په راتلونکی حدیثونو کښې وکالت راغلے. علامه ابن قدامهؒ فرمائی: مجموعی لحاظ سره د وکالت په جواز باندے د امت اجماع ده. [المغنی: ۱۹۷/۷]

**فائده**: د شرکت ډیر انواع او اقسام دی چه فقهاءِ کرامو ذکر کړیدی، د فائدے دپاره مختصراً ذکر کولے شي:

په عمومي طور سره د شرکت درے قسمونه دی: (۱) شرکت اصطلاحی. (۲) شرکت د مضاربت (۳) شرکتِ جدیده. بیا شرکتِ اصطلاحی په درے قسمه دے. (۱) شرکتِ اباحت (۲) شرکتِ ملك (۳) شرکتِ عقد. او شرکتِ مضاربت په دوه قسمه دے (۱) شرکت مطلقه (۲) او شرکت مقیده. او شرکتِ ملك دوه قسمه دے (۱) اختیاری (۲) او اضطراری.

او شرکتِ عقد دوه قسمه دے (۱) شرکت مفاوضه (۲) او شرکت عنان.

بیا مفاوضه درے قسمه دے (۱) شرکتِ اعمال (چه دے ته شرکتِ ابدان او کارو کسب هم وائی). (۲) او شرکتِ وجوه (چه دے ته شرکة الذمم هم وائی) (۳) او شرکتِ اموال.

او شرکت عنان هم په دغه درے قسمه دے (۱) شرکتِ اعمال (۲) شرکتِ وجوه (۳) شرکتِ اموال.

د هریو جامع تعریف جدا جدا داسے دے:

۱- شرکتِ اباحت: دا دے ته وائی چه ټول خلك په عمومی فائدو کښے شريك شی لکه په اُوبو، گياه، اُور، واښهٔ، د ځنګل ونے، معادن (کانونه) روډونه، سړکونه، مساجد۔ پدے څيزونو کښے ټول مسلمانان شريك دی چه ددے نه د فائدے اخستو حقدار دی۔

۲- شرکتِ ملك: (دے ته شرکتِ شيوع هم وائی) دے ته وائی چه دوه کسان يا زيات په يو شی کښے يا په يو قرض کښے په يوه ذريعه د ملك سره شريك مالکان شی۔ لکه يو شے واخلی، يا ئے ورته څوك هبه کړی، يا ورته څوك وصيت وکړی، يا ورته ميراث کښے پاتے شی، يعنی د دوئ مالونه داسے خلط ملط شی چه حصے ئے جدا جدا معلومے نهٔ وی۔

۳- شرکتِ عقد: دا د دوه کسانو يا زياتو په رأس المال او گټه کښے شرکت دے۔ يعنی دوه کسان يا زيات دا عقد وکړی چه په خپلو مالونو سره به کار کوو او گټه به د دواړو ترمينځ شريکه وی۔ تردے چه بعض علماؤ دا شرکت د مباحو څيزونو په حاصلولو کښے هم جائز ګڼړلے دے لکه دوه کسان ووائی چه د غرهٔ نه به لرگی راوړو، يا به گياه، يا به ښکار کوو او بيا به ئے خرڅوو، څه چه گټه وه هغه به شريکه وی۔ نو دا جائز ده او کله دا عقد په غير د مال باندے هم کيږی۔

د مضاربے تفصيل به په خپل ځائے کښے راشی۔

٤- شرکتِ اجباريه: دا په غير د ارادے نه په مجبوریٔ طريقے سره د دوه کسانو يا زياتو د يو شی په ملکيت يا قرض يا فائده کښے راجمع کيدل دی، لکه په ميراث کښے دوه کسان شريك شی، يا د زيد او د عمرو غنم يا وريشے يا شګه وغيره شريکه شی چه د يو بل نه جدا کيدل ئے مشکل وی، نو دا غير اختياری شرکت شو۔

٥- شرکتِ اختياری: په اختياری طور سره د دوه کسانو يا زياتو د يو شی په ذات کښے يا په قرض يا په منفعت کښے راجمع کيدل دی۔ لکه دوه کسان يو شے په خپل اختيار سره واخلی، يا يو گاړے او موټر په شريکه په کرايه راونيسی۔

٦- **شرکت مفاوضه**: دا هغه شرکت دے چه پدے کښے شريکان د يو بل سره په مال او گټه او تاوان هر څه کښے برابر وی۔

۷- شرکتِ عنان: دا هغه شرکت دے چه پدے کښے شريکان په مال يا په تصرف يا په گټه او تاوان کښے برابر نهٔ وی۔

۸- شرکتِ اموال: دے ته وائی چه دوه کسان یا زیات په رأس المال کښې شریك شی او ګټه د دوئ ترمینځ د مال په اندازه تقسیمیږی یا څنګه چه دوئ اتفاق کړے وی. لیکن پدے کښې دا ضروری ده چه ګټه به په غیر معینه حصه کښې وی لکه مثلًا نیمائی، دریمه، خلورمه وغیره، او که یو شریك دپاره ګټه معینه اندازه مقرر کړی لکه مثلًا شل روپئ یا دیرش روپئ نو دا به جائز نهٔ وی.

۹- شرکتِ اعمال (او دے ته شرکتِ ابدان او شرکتِ صنائع او تقبل هم وائی). دے ته وائی چه شریکان خپل مابین کښې کارونه تقسیم کړی او ګټه ئے د اتفاق په اندازه شریکه وی، لکه مثلًا یو تن طبیب وی، بل انجنیئر وی، بل کباړی وی چه هر یو هرڅومره ګټه وکړه نو دا به شریکه وی. (دے ته د اعمالو او د بدنونو د کارونو شرکت وائی)

۱۰- شرکتِ وجوه او شرکت ذمم او شرکت مفالیس دے ته وائی چه مثلًا دوه کسانو سره رأس المال نهٔ وی او نهٔ ئے څه عمل وی بلکه یو ځائے ته ورشی او چا نه د خپل مخ په وجه یا د عهد په وجه په نسیه باندے مال واخلی او بیا ئے په نقدو یا په نسیه باندے خرڅوی او ګټه پکښې کوی او هر یو د خپل مال د ضمانت په اندازه ګټه اخلی یا څنګه ئے چه اتفاق کړے وی. لکه مثلًا یو تن د شل زرو روپو مال واخلی، بل د لسو زرو او دواړه درے زره روپئ وګټی نو شل زرو والا دوه زره واخلی او لسو زرو والا یو زر، یا دواړه ئے نیمائی کړی مثلًا پنځلس پنځلس سوه. نو ګټه یا د عمل په وجه ده یا د مال په وجه یا د ضمان په وجه. او دا قانون دے چه (اَلْخَرَاجُ بِالضَّمَانِ) رواه أحمد: ٦/٨٠، وابوداوٗد: ٣/٢٨٤، والنسائی: ٧/٢٥٤، والترمذی وابن ماجه). ګټه د ضمانت په اندازه ده.

نو پدے کښې دا ضروری ده چه تاوان دِ ے د مال د ضمانت په اندازه وی، او دا جائز نهٔ ده چه تاوان په بل نسبت سره تقسیم کړی ځکه چه نبی علیه السلام منع فرمائیلے ده د هغه شی د ګټے نه چه د هغے ضمانت نهٔ وی. (فقه المعاملات المالية للدكتور رفيق يونس المصري، ص: ٢٢٣).

۱۱- شرکتِ جدیده: دے ته وائی چه شرکت او مضاربت دواړه راجمع کړے شی.

دا ټول شرکتونه اصل پدے کښې دا دے چه دا جائز دی تردے چه دلیل د منع راشی یا د یوے شرعی قاعدے لاندے راشی چه د هغے جواز منع کوی. په شرکت کښې د دواړو جانبینو رضا ضروری ده. او دا ضروری نهٔ ده چه د دواړو مال به برابر وی، یا به ئے خواری

او محنت برابر وي. يا به د دواړو ترمينځ مال وي، داړتګه د دواړو شريکينو په يو ځائے حضور هم ضروري نهٔ دے. دا مخکښې تول شرکتونه شرعاً جائز دي هيڅ مانع ددے نه نشته، اګرکه دا نومونه ورله فقهاء او علماؤ ذکر کړيدي او هر يو سره ئے خپل خپل قيدونه او شرطونه لګولي دي.

حاصل دا دے چه په شرکت باندے رضا د جانبينو راشي برابره ده چه دا د نقودو سره متعلق وي او که د سامانونو يا د ابدانو سره وي دا ټول شرعي شرکت دے، هرکله چه د هر يو د ګټے او د تاوان حصه معلومه وي. که دا د مال د شرکت په اندازه وي او که د سامانونو د قيمت په اندازه وي خو دا ضروري ده چه اندازه د ګټے او تاوان به معلومه وي، که په ګټه کښے برابر والي باندے راضي شول سره د اختلاف د اندازے د مالونو د دواړو نو دا هم جائز ده او که مال د يو کم وي او مال د بل ډير وي بيا هم څه باك نشته. ځکه چه دا هم په رضا او د نفس په خوشحالئ سره کوي. او هر يو دا شرکت فسخ کولے هم شي، هرکله چه اُوغواړي. [السيل الجرار: ۳/ ۲٤٦، شوكانیؒ] د شرکت بنه تفصيل په الدين الخالص (۱۱) کښے وګوره.

**فائده ۲:** د شرکت دے مخکښنو انواعو ته احنافو جائز وئيلي دي خو په هغه شرطونو سره چه هغوی ذکر کړيدي. او مالکيه ؤ ټول جائز کړيدي صرف شركة الوجوه ته ئے جائز نهٔ دے وئيلے. او شوافعو ټول باطل ګنړلي سوی د شركة العنان نه، او حنابله ؤ ټولو ته جائز وئيلي دي سوی د شرکتِ مفاوضه نه. او ابن حزمؒ ټولو ته باطل وئيلي دي سوی د معمولي صورتونو نه.

نو پدے کښے د ابن حزمؒ قول خو بيخي خطاء دے. ځکه چه هغهٔ د يو حديث نه دليل نيولے (كُلُّ شَرْطٍ لَيْسَ فِيْ كِتَابِ اللّٰهِ فَهُوَ بَاطِلٌ) رواه البخاری وغيره) (هر شرط چه د الله تعالیٰ په کتاب کښے نهٔ وي هغه باطل دے) نو هغهٔ دا وئيلي دي چه دا شرکتونه په نص کښے نهٔ دي راغلي. ليکن دا خبره پدے وجه خطاء ده چه ددے حديث مطلب دا دے چه هر هغه شرط چه د الله تعالیٰ د کتاب (حکم شرعي) خلاف وي نو هغه باطل دے او دا مطلب نهٔ دے چه هر شرط چه په نص کښے نهٔ وي راغلے هغه باطل دے. ځکه چه رسول الله ﷺ خو هر شرط ته جائز وئيلے مګر هغه شرط چه حلال حرام وګرځوي يا حرام حلال وګرځوي. لکه چه مخکښے ذکر شو.

او مالکیهٔ ؤ چه شرکة الوجوه نه انکار کړے نو د هغے وجه دا ده چه هغوی وئیلی دی چه شرکت یا د مال سره تعلق لري یا د عمل سره او په شرکتِ وجوه کښے دا یو هم نشته۔ او دا ئے وئیلی دی چه پدے کښے دهوکه هم ده۔ او دا قول شوافعوّ او اهل ظاهروّ هم غوره کړے۔ لیکن راجح دا ده چه شرکتِ وجوه هم جائز دے، شرعاً هیڅ مانع نشته۔ حدیث کښے دی : [اَلْمُسْلِمُوْنَ عَلٰی شُرُوْطِهِمْ] [ابوداود : ۳۵۹۶ وغیره] . مسلمانان به د خپلو شرطونو مطابق روان وی۔ دارنګه اصل په معاملاتو کښے حل او اباحت دے ترڅو چه دلیل د منع نهٔ وی، او دلته هم دلیل د منع نشته۔ بله دا چه په ټولو زمانو کښے ښارونو والو دا شرکت کړے او هیچا پدے باندے انکار نهٔ دے کړے نو دا اجماع ده۔ [کما فی البدائع : ۵۸/۶]

قاسم بن محمدؒ وائی : [مَا اَدْرَکْتُ النَّاسَ اِلَّا وَهُمْ عَلٰی شُرُوْطِهِمْ فِیْ اَمْوَالِهِمْ وَفِیْمَا اُعْطُوْا] [الموطأ لمالك : ۱۴۴۲] ما خلك (یعنی صحابه کرام) وموندل چه هغوی په مالونو کښے او ورکړے شوو شیانو کښے په خپلو شرطونو باندے روان وو)۔

دارنګه شرکتِ وجوه کښے هم عمل شته، یو تن خپل مخ استعمالوی او د چا نه مال په نسیه اخلی بیا ئے په نقدو یا په قرضو خرڅوی نو دا هم عمل دے۔

بله دا چه دا وجوه هم عظیم مال دے، د یو سړی په وجاهت باندے ډیر کار کیږی۔

او ابن مسعود او عمار بن یاسر او سعد ﷺ به د بدر په غنیمتونو کښے په خپلو برخو کښے شرکت کولو نو دا هم د شرکة الوجوه په شان صورت دے۔

کما فی بدایة المجتهد : ۱۹۲/۲، والفقه الإسلامی : ۸۰۲/۴].

حنابلهٔ او شوافعٔ او ظاهریهٔ چه شرکتِ مفاوضه نهٔ منی نو هغوی تقسیم کوی وائی چه هغه مفاوضه جائز ده چه په هغے کښے ټول اقسام د شرکت راجمع وی لکه شرکتِ عنان، او وجوه او ابدان۔ څکه چه دا هر یو یواځے یواځے صحیح دے نو چه د بل سره ملګرے شی نو هم صحیح دے۔ او دویم دا چه که پدے شرکت کښے دواړه شریکین دا خبره هم داخل کړی چه کوم مال هر یو ته د میراث په طریقه یا د رکاز یا د لقطے په طریقه حاصلیږی په هغے کښے به هم دواړه شریك وی، او هر یو باندے به د جنایت تاوان او ضمان د غصب او قیمت د هلاك شده شی، یا د ضمان او کفالت تاوان لازم وی، نو بیا دا شرکت فاسد دے۔ المغنی : ۱۰۹/۵ ـ دوئ ددے درے وجوهات بیانوی، یو دا چه شریعت

کښې دا صورت نۀ دے راغلے۔ **دويم**: په دے کښې غرر (دهوکه) ده۔ **دريم**: په دے کښې جهالت دے۔ ليکن راجح دا ده چه شرکتِ مفاوضه جائز دے، چه دوه کسان په هر شي کښې شريك وي او هر يو د بل د طرف نه کفيل او وکيل وي۔ خو په دے کښې شرط دا دے چه په دغه شي کښې به شرکت جائز وي او دغه شے به حرام نۀ وي۔ او احنافو چه د شرکتِ مفاوضه دپاره کوم شرطونه لګولي دي، هغه سخت دي او دليل هم پرے نشته۔ لکه وائي چه د دواړو شريکانو مال به برابر برابر وي، او تصرف به ئے برابر وي، نو د ماشوم او د بالغ شرکت نۀ صحيح کيږي، او د دواړو شريکانو دين به يو وي، د کافر او مسلمان شرکت صحيح نۀ دے، او يو شريك به د بل کفيل وي په بيع او شراء کښې، يو به د بل نه زيات تصرف نۀ کوي کما في فقه السنة: ۲۸۱/۳]. او دواړه شريکان به په ګټه کښې متساوي وي، دواړه به آزاد وي، دواړه به عاقلان وي۔ (البدائع) شرکت مفاوضه دے وخت کښې د وروڼو ترمينځ په ميراث او کاروبار کښې زيات راپيښيږي ځکه چه دوئ اکثر په هر څه کښې شريك وي تردے چه په طعام او لباس او هر شي کښې۔ نو دا شرکتِ مفاوضه دے۔ ابن عثيمينؒ وائي: دا شرکت په بلاد الجزيره کښې د خلکو ترمينځ زيات واقع کيږي۔ [الشرح الممتع: ۲۷۶/۹].

## په عقودو کښې شرکت جائز دے

## الفصل الأول

2930 (1) — عَنْ زُهْرَةَ بْنِ مَعْبَدٍ: أَنَّهُ كَانَ يَخْرُجُ بِهِ جَدُّهُ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ هِشَامٍ إِلَى السُّوْقِ فَيَشْتَرِي الطَّعَامَ فَيَلْقَاهُ ابْنُ عُمَرَ وَابْنُ الزُّبَيْرِ فَيَقُوْلَانِ لَهُ: أَشْرِكْنَا فَإِنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَدْ دَعَا لَكَ بِالْبَرَكَةِ فَيُشْرِكُهُمْ فَرُبَّمَا أَصَابَ الرَّاحِلَةَ كَمَا هِيَ فَيَبْعَثُ بِهَا إِلَى الْمَنْزِلِ وَكَانَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ هِشَامٍ ذَهَبَتْ بِهِ أُمُّهُ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَمَسَحَ رَأْسَهُ وَدَعَا لَهُ بِالْبَرَكَةِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

**ترجمه**: زهره بن معبدؒ نه روايت دے چه بيشکه دۀ لره به خپل نيکۀ عبد الله بن هشام رضي الله عنه بازار ته وخکلو نو طعام به ئے واخستو نو عبد الله بن عمر رضي الله عنه او عبد الله بن زبير رضي الله عنه به ورسره ملاؤ شول دواړو به ورته وئيل: مونږ (ځان سره) شريك کړه، ځکه چه نبي کريم ﷺ تا ته د برکت دعاء کړيده نو هغۀ به هغوي لره (ځان سره) شريك کړل، نو ډير کرته به هغه ته به بغير د څه نقصان نه د يو اُوښ د بوج برابر د غلے فائده کيده چه

هغهٔ به هغه کور ته لیږله او (ددهٔ په باره کښې د نبی کریم ﷺ د دعاء واقعه دا ده چه) عبد الله بن هشام ﷺ خپلې مور نبی کریم ﷺ خوا ته بوتلے وو نو رسول الله ﷺ د هغهٔ په سر باندې لاس راخکلو او د برکت دعاء ئې ورته وکړه۔ (بخاریؒ)

**تشریح** : زهره بن معبد بن عبد الله بن هشام۔ یعنی زهره بن معبد به د خپل نیکهٔ عبد الله بن هشام صحابی سره بازار ته وتلو، هغهٔ به یو طعام واخستو نو عبد الله بن عمر ﷺ او عبد الله بن زبیر ﷺ به ورته وئیل چه مونږ هم ځان سره شریك کړه۔ ځکه چه تا ته رسول الله ﷺ د برکت دعاء کړې ده۔ نو هغهٔ به ځان سره شریك کړل۔ ددې نه د شرکت جواز معلوم شو۔ او دا هم معلومه شوه چه اګرکه د یو شریك سره مال نهٔ وی او هسې بغیر د عوض نه بل څوك ځان سره شریك کړی هم صحیح ده۔ دلته عبد الله بن عمر ﷺ او ابن زبیر ﷺ بغیر د مال نه د عبد الله بن هشام ﷺ سره په ګټه او تاوان کښې شریك شول۔ یو شے به ئې واخستو او ګټه به ئې پکښې وکړه، خپل مینځ کښې به ئې تقسیم کړه۔

أَصَابَ الرَّاحِلَةَ : یعنی قوی اُوښه، ددې نه مراد یا خو خپله اُوښه اخستل دی، یا ددې نه مراد د اُوښې په مقدار سامان او طعام دے چه دومره طعام فائده به ورته کیده او هغه به ئې بیا کور ته ولیږله۔ او هیڅ نقصان او خساره به ورته نهٔ کیده۔ دارنګه معامله کښې به ئې انتهائی آسانی وه چه زر به ورته ملاویده او زر به ئې ګټه کوله۔

## د انصارو په مالونو کښې د مهاجرینو شرکت

2931 (2) – وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَتِ الْأَنْصَارُ لِلنَّبِيِّ ﷺ: اِقْسِمْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ إِخْوَانِنَا النَّخِيلَ قَالَ: " **لَا، تَكْفُونَنَا الْمَؤُونَةَ وَنَشْرَكُكُمْ فِي الثَّمَرَةِ** ". قَالُوا: سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

**ترجمه** : او ابو هریره ﷺ فرمائی : (د هجرت په ابتداء کښې) انصارو نبی کریم ﷺ ته وفرمایل : تهٔ زمونږ او زمونږ د ورونو (مهاجرینو) ترمینځ د کهجورو ونې تقسیم کړه، نبی کریم ﷺ وفرمایل : نه، (زهٔ د کهجورو ونې نهٔ تقسیموم) هم تاسو به زمونږ (یعنی مهاجرینو) د طرف نه محنت هم کوئ او مونږ به تاسو سره میوو (پیدا وار) کښې شریك یو۔ انصارو ووئیل : مونږ دا خبره په سر سترګو قبلوو۔ (بخاریؒ)

**تشریح:** هرکله چه د مکې مشرکانو په مسلمانانو باندې د هغوی وطن تنګ کړو او هغوی د رسول الله ﷺ په حکم سره مدینې ته هجرت وکړو نو هغوی ټول سامانونه او اسباب او مالونه په مکه کښې پریخودل پدې وجه دلته په مدینه کښې انصارو د هغوی د معاشي زندګۍ کفالت واخستو چه دا خلك انصار وو، پدې طريقه چه نبي ﷺ د مهاجرينو او د انصارو ترمينځ مواخات (بهائي چاره/ رورلي) قائمه کړه. نو انصارو خپلو ټولو مالونو او اسبابو کښې مهاجرين ځان سره شريك کړل نو بيا ئې نبي ﷺ ته درخواست وکړو چه زمونږ د کهجورې وني هم زمونږ او زمونږ د مهاجرينو ورونو ترمينځ تقسيم کړه، دې دپاره چه مونږ په خپله خپله حصه ونو کښې محنت مشقت وکړو او د هغې نه ميوه حاصله کړو. نبي ﷺ ورته وفرمايل: زۀ ونې نۀ تقسيموم بلکه تاسو ددې ونو پرورش او نګراني وکړئ او دې ته د اُوبو ورکولو وغيره محنت مشقت خپله وکړئ ځکه چه ستاسو ددې مهاجرينو ورونو نه دا محنت مشقت نۀ کيږي، بيا چه کله ميوه تياره شي نو زۀ به ئې ستاسو او د مهاجرينو ترمينځ تقسيم کړم. د نبي ﷺ دا فيصله، انصارو په ډيره رضا او مينه او سرسترګو سره قبول کړه.

لَا: يعني مونږ محنت او مشقت نشو برداشت کولې. بلکه تاسو به ئې کوئ.

تَكْفُوْنَنَا: دا جمله خبريه ده په معنىٰ د انشاء (امر) سره. اَىُ اِكْفُوْنَا. يعني تاسو زمونږ د طرف نه د محنت کافي شئ.

اَلْمَؤُوْنَةَ: دا د اَين نه دې، سترې والي او مشقت او تکليف ته وئيلې شي.

قَالَ: په يو روايت کښې (قَالُوْا) دې، دې کښې راجح قول دا دې (او دا قول د ابن المنيرؒ دې) چه (تَكْفُوْنَنَا) دا قول د مهاجرينو (د طرفنه) دې او (قَالُوْا سَمِعْنَا) دا قول د انصارو دې. او مطلب دا دې چه هرکله انصارو مهاجرينو ته خپل باغونه وړاندې کړل نو مهاجرينو ورته ووبل چه مونږ مشقت نشو برداشت کولې، د باغونو د اصلاح او اُوبۀ ورکولو په طريقه نۀ پوهيږو، بلکه تاسو خپله دا کارونه وکړئ او چه کله ميوه تياره شي نو مونږ به تاسو سره په ميوو کښې شريك شو. دا هله چه [وَنَشْرَكُكُمْ] لفظ د باب د علم نه شي، يعني مونږ به تاسو سره شريك شو.

او که [نُشْرِكُكُمْ] د باب افعال نه شي، نو معنىٰ به دا وي چه مونږ به تاسو ځان سره په ميوو کښې شريك کړو. نو بيا به ګويا که باغونه د مهاجرينو وي او انصار به ورله د هغې

سنبالښت کوی او میوه به د دواړو ترمینځ شریك وی. او دا صورت د مساقات دے.

دلته د رسول الله ﷺ عظیم اخلاقو ته وګوره چه هغهٔ وکتل چه انصارو دومره قربانی ورکړه نو دے دپاره چه باغونه د هغوی د لاس نه ونهٔ ووځی، ځکه چه په همدے باغونو باندے د هغوی ژوند روان دے، نو انصارو ته ئے وویل چه تاسو خپله پدے کښے کارونه کوئ او صرف مونږ ته د هغے میوه راکوئ. پدے کښے په ظاهره کښے دا ښکاره کیږی چه رسول الله ﷺ خپل ځان او مهاجرینو باندے آسانی راولی لیکن په واقع کښے پدے کښے دغه اشاره وه. (الميسر في شرح المصابيح).

او بعض علماؤ (لکه ابن بطالؒ) وئیلی دی چه (تَكْفُونَنَا) دا قول د انصارو دے او (سَمِعْنَا) دا قول د مهاجرینو دے، بالکل برعکس قول ئے کړے، یعنی انصارو مهاجرینو ته وویل چه تاسو زمونږ په باغونو کښے محنت کوئ او مونږ به تاسو په میوو کښے شریك کړو. نو مهاجرینو ورسره دا اُومنله. او دا صورت بعینهٖ د مساقات دے. چه د زمکے مالك يو عامل ته ووائی چه زما د باغونو تربیت او حفاظت کوه او زمونږ ترمینځ به ګټه شریکه وی.

بیا دلته ئے د انصارو او د مهاجرینو ترمینځ حصے جدا جدا معلومے نکړے نو کیدے شی چه حصے ئے معلومے وی لیکن راوی نهٔ دی ذکر کړی. یا دا چه په مساقات کښے د هغوی په عرف کښے شرکت معلوم وو، نو ذکر کولو ته ئے حاجت نهٔ وو.

علامه ابن الدمامینیؒ په "مصابيح الجامع" (۲۲۵/۵) کښے وئیلی دی چه د ابن بطالؒ قول ددے حدیث د الفاظو خلاف نهٔ دے، او دلته عین صورت د مساقات ذکر دے.

لیکن اول تفسیر صحیح دے ځکه چه د مهاجرینو په باره کښے دا نقل نشته چه هغوی به کهجورو کښے کار کولو بلکه د هغوی کار تجارت وو.

نو پدے وجه اهل علمو وئیلی دی چه کله شرکت مطلق ذکر کړی نو دا به په مناصفه (نیمائی) سره وی.

## په معاملاتو کښے وکیل جوړه ول جائز دی

2932( 3 ) - وَعَنْ عُرْوَةَ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ الْبَارِقِيِّ ؓ: أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ أَعْطَاهُ دِينَارًا لِيَشْتَرِيَ بِهٖ شَاةً فَاشْتَرٰى لَهُ شَاتَيْنِ فَبَاعَ إِحْدَاهُمَا بِدِينَارٍ وَأَتَاهُ بِشَاةٍ وَدِينَارٍ فَدَعَا لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ

ﷺ فِیْ بَیْعِهٖ بِالْبَرَکَةِ فَکَانَ لَوِ اشْتَرٰی تُرَابًا لَرَبِحَ فِیْهِ . رَوَاهُ الْبُخَارِیُّ

**ترجمه** : او عروه بن ابی الجعد بارقی ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ هغهٔ ته یو دینار ورکړو دے دپاره چه په هغے باندے یو ګډه واخلی، نو هغهٔ ورله دوه ګډان واخستل نو یو ئے په یو دینار خرڅ کړو او هغهٔ ته ئے یو ګډه او یو دینار راوړو نو رسول الله ﷺ هغهٔ ته د هغهٔ په سودا کښے د برکت دعاء وکړه نو (د هغهٔ حال داسے جوړ شو) چه که هغهٔ به خاورے واخستے نو خامخا په هغے کښے به ئے (هم) ګټه کوله۔ (بخاریؒ)

**تعارف د عروة بن ابی الجعد البارقی** ﷺ : ۔ بعض دا عروه بن الجعد ﷺ ذکر کوی، لیکن دا صحیح نهٔ ده، بارق په یمن کښے یو غر دے چه دے هغے ته منسوب دے۔ او دا د کوفے اُوسیدونکے دے۔ او عروه بن غرقده وائی : ما د عروه البارقی ﷺ په کور کښے اویا اسونه ولیدل چه د جهاد دپاره ئے ساتلی وو۔

ابو عبد الله البخاریؒ وائی : عروه البارقی ﷺ به د رسول الله ﷺ د دعاء په برکت سره یو بازار ته ننوتو نو څلویښت زره روپئ به ئے وګټلے۔

**تشریح** : په روایت د ابی لبیدؒ کښے په مسند احمدؒ کښے دی : عروه بن ابی الجعد ﷺ وائی : رسول الله ﷺ ته یو جوپه (یعنی د سوداګرو /سامان راوړونکو ډله) ښکاره شوه نو ما ته ئے یو دینار راکړو او دا ئے وفرمایل چه اے عروه ! دغه ډلے ته ورشه او زمونږ دپاره یو ګډ واخله۔ عروه ﷺ وائی : زهٔ هغوی ته راغلم نو د هغوی یو تن سره مے ریټ وکړو نو د هغهٔ نه مے په یو دینار دوه ګډان واخستل۔ بیا مے په یو دینار یو ګډ واخستو او یو مے ورله بیرته راوړو نو ما ته ئے د برکت دعاء وکړه۔

**فوائد الحدیث** : (۱) دا حدیث یو پدے مسئله باندے دلیل دے چه یو تن د چا وکیل جوړ شی نو کومه ګټه چه دغه مال وکړه نو هغه به د موکل وی، وکیل به داسے نهٔ وائی چه دا خو ما خپل مهارت استعمال کړو۔ (نه، بلکه دا د موکل خیرخواهی ده چه په وکیل باندے لازمه ده) دارنګه اهل علموٓ وئیلی دی چه یو کس بل یو تن لره د سودا دپاره ولیږلو او دکاندار د هغهٔ خاطر وکړو، د هغهٔ د پیژندګلو یا د علم یا د مشرئ په وجه او سودا ئے ورته د بازار نه هم ارزانه ورکړه نو دا به د موکل حق وی، وکیل به دا نهٔ وائی چه مثلًا دا شے په بازار کښے په درے سوه ملاویږی او ما ته ئے په یو نیم سل راکړو نو بس زهٔ به د موکل نه یو نیم سل ګټ کړم۔ دا نشی کولے۔ البته که مفت ئے ورله ورکړو نو بیا

وكيل د مُوكل نه د هغے قيمت اخستے شي، ځکه چه دائے تول لحاظ د وكيل كړے، پدے كښے د موكل حق نشته. (فتاوى الدين الخالص)

(۲) ابن ملك وائي : ددے حديث نه معلومه شوه چه په تجارتي معاملاتو كښے وكالت جائز دے، دا شان په هغه تمامو څيزونو كښے هم چا لره خپل وكيل جوړول درست دي په كومو كښے چه نيابت او قائم مقام كيدل جاري كيږي.

(۳) كه يو تن د چا د مال بغير د هغه د اجازت نه خرڅ كړي (دے ته بيع فضولي وائي) نو دا بيعه منعقد كيږي ليكن د هغے صحيح كيدل د مال د مالك د اجازت پورے موقوف كيږي، كه د مال مالك اجازت وكړو نو بيعه صحيح كيږي، او دا قول د احنافؒ دے او همدا حق دے، او امام شافعيؒ وائي :د مالك د اجازت نه بغير د هغهٔ مال خرڅول بيخي جائز نهٔ دي، اګركه روستو د مالك اجازت هم حاصل ولے نهٔ شي. دليل د جواز حديث د هغه درے كسانو دے چه اصحاب الغار وو. دارنګه مذكوره حديث دليل دے.

(٤) د رسول الله ﷺ د نبوت رشتينوالے معلوم شو چه د هغهٔ په دعاء كښے دومره طاقت دے چه يو تن ورسره بركتي كيږي.

د امانت دارو شريكانو سره الله تعالىٰ محافظ او مددګار وي

---

## الفصل الثاني

2933( 4 ) - عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ رَفَعَهُ: قَالَ : إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يَقُوْلُ : أَنَا ثَالِثُ الشَّرِيْكَيْنِ مَالَمْ يَخُنْ أَحَدُهُمَا صَاحِبَهُ، فَإِذَا خَانَهُ خَرَجْتُ مِنْ بَيْنِهِمَا. رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ، وَزَادَ رَزِيْنٌ :" وَجَاءَ الشَّيْطَانُ ".

**ترجمه** : ابو هريره ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ وفرمايل : يقيناً الله تعالىٰ فرمائي : زهٔ د دوه شريكانو دريم (ملګرے) يم ترڅو پورے چه په دوئ كښے يو تن د خپل ملګري سره خيانت ونهٔ كړي، او كله چه هغهٔ سره خيانت وكړي، زهٔ ددے دواړو د مينځه ووځم. (ابوداودؒ روايت كړے او رزينؒ دا الفاظ زياتي ذكر كړي : (او شيطان (مينځ ته) راشي).

**تشريح** : [قَالَ اللّٰهُ تَعَالىٰ] دا حديث قدسي دے يعني په دے كښے رسول الله ﷺ د الله عز وجل نه روايت كوي، چه لفظ او معنىٰ دواړه ئے د الله عز وجل له خوا وي. [ثَالِثُ

الشَّرِيكَيْنِ] په دوه شريكانو كښې زۀ دريم يم. زۀ د هغوئ سره يم په حفاظت، نگرانئ، بركت نازلولو، توفيق وركولو او په مال زياتولو كښې. او ديته معيتِ خاصه وائي يعني نصرت او مدد كول او بركت اچول. او بل معيتِ عامه دے. هغه د هر انسان سره وي او د هغے معنىٰ ده: علم او احاطه، نو دا د مسلمان، كافر، نيك او بد هرچا سره وي، الله تعالىٰ په دے ټولو عالِم او احاطه كونكے دے او د دوئ په اعمالو خبر دے. او دا د معيت په معنىٰ كښې تاويل نۀ دے بلكه دا د معيت دوه فرده دي، يو معيتِ عامه او بل معيتِ خاصه. لكه څنګه چه مستثنىٰ دوه قِسمه ده، يو متصل او بله منقطع، حالانكه دواړه حقيقت دے. نو د معيت دغه هره يوه معنىٰ اخستل حقيقت دے. دا ځكه وايو چه بعضِ ناخبره خلك ديته تاويل وائي.

**فائده**: علامه ابن عثيمينؒ ليكي: دلته ئے [ثَانِي الشَّرِيكَيْنِ] يا [ثَانِي اثْنَيْنِ] نۀ دے وئيلے ځكه دا هله وئيل كيږي چه مضاف د مضاف اليه د جنس نه وي. لكه الله تعالىٰ فرمائي: ﴿إِذْ أَخْرَجَهُ الَّذِينَ كَفَرُوا ثَانِيَ اثْنَيْنِ﴾ [التوبة: ۴۰] دلته مضاف د مضاف اليه د جنس نه دے. يا لكه [ثَالِثُ ثَلَاثَةٍ] او [رَابِعُ أَرْبَعَةٍ] وئيل كيږي. او الله تعالىٰ د شريكانو د جنس نه نۀ دے. نو ځكه ئے [ثَالِثُ الشَّرِيكَيْنِ] ويلي. او په ﴿لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوٓا إِنَّ اللَّهَ ثَالِثُ ثَلَاثَةٍ﴾ [المائدة: ۷۳] كښې چه راغلے نو دا د نصاراؤ د عقيدے مطابق استعمال شوے چه هغوئ الله تعالىٰ، مريم او عيسىٰ (عليهما السلام) درے واړه يو جنس ګنړلو (معاذ الله) [مَا لَمْ يَخُنْ أَحَدُهُمَا صَاحِبَهُ] (ترڅو پورے چه په دوئ كښې يو تن بل ته ټګ نشي) خيانت د امانت ضد ته وئيل كيږي يعني ټګي كول، ګټه پټول يا په بله طريقه خپل شريكوال سره دهوكه او خيانت كول. [خَرَجْتُ مِنْ بَيْنِهِمَا] زۀ د دوئ د مينځ نه اُووځم نو بيا د دوئ په تباهئ كښې څۀ شك نۀ وي، د تاوان او پريشانئ سره ئے سر شي.

**فوائد**: (۱) حديث نه ثابته شوه چه په اسلام كښې شريك كاروبار كول جائز دي.

(۲) او حديث كښې ترغيب دے چه شريكانو له پكار دي چه په خپل مينځ كښې په صدق او خير خواهئ سره چليږي او د خيانت او ټګئ نه ځان ساتي ځكه صدق او خير خواهئ سره چليدل د مال د بركت او زياتيدو سبب دے. ترڅو پورے چه دواړه شريكين په صدق او امانت ولاړ وي نو الله تعالىٰ ئے ملګرے وي.

(۳) او كله چه ديو شريك بل شريك ته نيت خراب شي نو الله تعالىٰ په دوئ باندے

خپل مدد او توفيق بند کړي او د دوئ د کاروبار نه برکت ووځي، تاوانيان شي او د دوئ ترمينځه جګړه او تنازع جوړه شي. دے وجے نه پکار داده چه هر يو شريك د بل حق لحاظ ساتي او هغۀ سره په صدق او امانت سره چليږي.

(٤) د خيانت ډير صورتونه دي، لکه ډيره ګټه ئے کړي وي، نو هغه ترے پټه کړي او لږه ورته ښکاره کړي، دے کښے دا هم داخليږي چه يو تن دکاندار نه څيزونه ارزان واخلي او بيا هغۀ ته وائي چه بيل کښے زيات وليکه، لکه ډير خلك حکومت سره داسے دهوکه کوي، دا هم صحيح کار نۀ دے، دارنګه په بيعه شراء کښے خيرخواهي نۀ کول، لکه خپلوان نه سودا اخلي نو ريټ زيات لګوي او چه کله ئے په خپلوان باندے خرڅوي نو بيا ورته ريټ کموي، يا په شرکت کښے ناجائز تصرفات کوي. ددے ډير صورتونه دي.

(٥) شرکت بهتر دے او که يواځے کاروبار؟ دے حديث کښے خو د شرکت بهتر والے راغلو ځکه چه په شرکت سره هغه برکت حاصليږي چه هغه په يواځے والي سره نۀ حاصليږي ځکه چه پدے کښے هر ملګرے د بل ملګري د مال حفاظت او نګراني کوي او دا معلومه ده چه ترڅو يو بنده د خپل مسلمان ورور مدد او خيرخواهي کوي نو الله تعالیٰ د هغۀ په مدد کښے لګيا وي. ليکن دے سره دا قيد دے چه شرکت هله بهتر دے چه کله انسان په ځان باندے د خيانت نه په امن کښے وي، ليکن دا امن څوك په ځان باندے لرلے شي؟ نو ددے وجه نه يواځے والے بهتر دے، ځکه چه پدے کښے انسان هر قسم آزاد تصرف کولے شي د شريعت د حدودو موافق. او په شرکت کښے ډير کرته مقابل شريك بخيل وي، هغه د انسان سره په هره خبره حساب کوي، او په معمولي تصرف هم خفګان کوي اګرکه تا ته به څۀ نۀ وائي، نو ستا دا تصرف به هم ناجائز وي پدے وجه انسان د شرکت په وجه په ناجائز کار کښے اخته کيږي. البته که متقيان او ښه ګمان والا او درګذر کونکي شريکان په يو کاروبار راجمع شي نو دا خامخا بهتره او د برکت خبره ده ليکن الله تعالیٰ فرمائي: چه ډير شريکان د يو بل سره ظلم کوي سویٰ د ايمان والو نه او داسے خلك ډير کم دي. لکه سورة ص کښے راغلي دي.

**درجة الحديث**: [ضعيف]، ابوداود: ۳۳۸۳، وصححه الحاكم: ۲/ ۵۲، وفيه جهالة والد ابى حيان التيمى، قاله ابن القطان فى بيان الوهم والايهام: ٤/ ٤۹۰، واعله الدارقطنى بعلة اخرى وهى انه لم يسنده عن ابى هريرة الا محمد بن الزبرقان ابوهمام الاهوازى وانه خالفه جرير بن عبد الحميد وغيره

فرووه عن ابی حیان عن ابیه مرسلا قال: وهو الصواب) وینظر ایضا: ارواء الغلیل: ۱۴۶۸]

## د خائن نه د انتقام جذبه دِے تا په خیانت باندے راپورته نکړی

2934( 5 ) - وَعَنْهُ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: أَدِّ الْأَمَانَةَ إِلَى مَنِ ائْتَمَنَكَ، وَلَا تَخُنْ مَنْ خَانَكَ) . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ.

**ترجمه** : ابو هریره ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمایل: هغه چاته امانت واپس کړه چه هغهٔ تاسره امانت ایښے او هغه چاسره خیانت مهٔ کوه چاچه تاسره خیانت وکړو۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ، دارمیؒ روایت کړے)

**تشریح** : [أَدِّ الْأَمَانَةَ] امانت نه مراد هغه مال هم دے چه انسان سره چا ایښے وی، او هغه مال هم دے چه د وکالت یا مضاربت یا شرکت وغیره دپاره چا سره پروت وی۔ او د ګاونډی هغه جامه وغیره هم ده چه هوا د بل ګاونډی کور ته غورزولے وی۔ او هغه عاریه هم ده چه انسان په سوال د چانه اخستے وی، او (امین) هغه چا ته وائی چه د هغهٔ په لاس کښے د بل چا مال وی۔ د مالك په رضا سره وی لکه مودَع، وکیل او شریك۔ یا د شارع په رضا سره وی لکه د ماشوم او یتیم ولی شو۔ او یا د هغه چا په رضا سره وی چه د هغهٔ په دهٔ باندے ولایت وی لکه د حاکم امین شو۔ [إِلَى مَنِ ائْتَمَنَكَ] هغه چاته چه هغهٔ امانتدار ګنړلے ئے او خپل امانت ئے تاسره ایښے۔ [وَلَاتَخُنْ مَنْ خَانَكَ] د خیانت په ماده (خ، و، ن) کښے نقصان پروت دے۔ خیانت وائی: امانت نهٔ ادا کول یا خودَ هغے په حفاظت کښے کوتاهی کول او یا د هغے ادا کولو نه انکار کول او یا د هغے د مالك د اجازت نه بغیر په هغے کښے تصرف کول، یا په هغے کښے کمے کول، دے ټولو ته خیانت وئیل کیږی۔

**فوائد** : (۱) حدیث نه ثابته شوه چه چا د چا سره امانت ایښے وی او بیا د هغهٔ نه مطالبه وکړی نو هغهٔ ته امانت ادا کول واجب دی، ځکه دهٔ د هغهٔ دپاره دا امانت ساتلے وو او هغهٔ سره ئے احسان کړے وو، نو کله چه هغه خپل امانت غواړی نو هغه ورته په آسانه طریقه ادا کول پکار دی او هغه په دے باندے تنګول جائز نهٔ دی۔

(۲) او معلومه شوه چه د امانت حفاظت کول او ددے اهتمام کول او ددے په حفاظت او ساتنه کښے تعدی او تفریط نهٔ کول واجب دی۔ ځکه ادا کولو سره دا خبره لازمه ده چه

ددې حفاظت به کوی۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿اِنَّ اللهَ یَاۡمُرُکُمۡ اَنۡ تُؤَدُّوا الۡاَمَانَاتِ اِلٰۤی اَهۡلِهَا﴾ [النساء: ۵۸] (الله تعالیٰ تاسو ته حکم کوی چه امانتونه د هغې حقدارو ته وسپارئ) ددې نه معلومه شوه چه امانتونه به صرف ددې مالکانو یا د هغوئ نائبانو ته سپارلې شی، بل چاته به نشی ورکولے، البته که د مالك خوی ته ورکړې شی چه په عرف کښې خوی ته ورکول پلار ته ورکول حسابیږی، نو دا هم امانت ادا کول دی۔ خو که بل چاته ئې ورکړی نو دا به ادا کول نۀ حسابیږی۔ بیا د **تعدی** او تفریط (یعنی تیری او کوتاهئ) ترمینځه فرق دادې چه په امانت کښې تیرې دادې چه په هغې کښې ناجائزه تصرف وکړې شی، لکه د مالك د اجازت نه بغیر په کتاب کښې سبق ووئیل شی، یا د هغۀ په سورلئ باندې سورلی وکړې شی۔ او **تفریط** دادې چه د هغې په ساتلو کښې کوتاهی او غفلت وکړې شی، لکه په غیر محفوظ ځائے کښې وساتل شی۔

(۳) او حدیث نه معلومه شوه چه په عاریه (سوالی شی) کښې هم خیانت جائز نۀ دې ځکه چه دا هم یو امانت دې۔

(٤) د رشتینې مؤمن صفت دادې چه هغه د خیانت مقابله په خیانت سره نۀ کوی۔ لکه یوتن ستا په امانت کښې خیانت وکړی نو تۀ د هغۀ په امانت کښې خیانت مۀ کوه، پریده چه هغۀ ته د هغۀ د خیانت سزا ملاؤ شی، تۀ هغۀ سره خیانت مۀ کوه۔ بلکه تۀ د هغۀ نه په شرعی طریقې سره خپل امانت غواړه۔ اوکه هغۀ په کښې خیانت کړې وی نو تۀ د هغۀ په امانت کښې خیانت مۀ کوه۔ خیانت کبیره گناه ده۔ په حدیث کښې دا د منافقت د غټو علاماتو نه یوه علامه بنودل شوې۔ او خیانت کله په امانتونو کښې وی او کله د انسان په اهل کښې وی۔ او دا د خائن د زړۀ د فساد او خرابئ نښه ده۔ لو دا په انسان کښې لوئی عیب دې۔

(۵) علماؤ دلته مسئله د ((ظفر بالحق)) ذکرکړې، هغه دا چه د یوتن په چا باندې حق وی او هغه ئې نۀ ورکوی نو آیا د هغۀ د اجازت نه بغیر د هغۀ د مال نه خپل حق اخستلې شی اوکه نه ؟ (**اول قول**) دادې چه مطلقاً اخستل ئې جائز نۀ دی۔ وجه داده چه نبی کریم ﷺ د خیانت نه منع کړې او د چا د ناخبرئ په صورت کښې د هغۀ نه خپل مال اخستل هم په خیانت کښې راځی نو دابه جائز نۀ وی۔ او دا د حنبلیانو مذهب او د مالکیانو یو قول دې۔ یعنی دا حدیث ئې دلیل دې۔ (**دویم قول**) دادې چه د هغۀ د اجازت نه بغیر

خپـل مال د هغهٔ نه اخستلے شي۔ او دا د شافعيانو او حنفيانو او مالكيانو اعتمادي قول دے۔ ددے **دليل**: (أ) يـو خـو هغـه عـام دلائـل دي چـه هغـه د بدلے اخستلو په باره كښے راغلي: لکه الله تعالیٰ فرمائي: ﴿فَمَنِ اعْتَدٰى عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوْا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدٰى عَلَيْكُمْ﴾ [البقرة: ۱۹٤] او فرمائي: ﴿وَاِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوْا بِمِثْلِ مَا عُوْقِبْتُمْ بِهٖ﴾ [النحل: ۱۲٦] او ارشاد دے: ﴿وَجَزٰٓؤُا سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِّثْلُهَا﴾ [الشورى: ٤۰] او ددے نـه بـل لوئي زياتے او جرم كوم دے چه يـو تـن د خلـكو مالونه اخلي او بيا د هغے نه انكار كوي او يا د هغے په ادا كولو كښے ټال مټـول كـوي۔ (ب) دويـم: د هند بنت عتبه رضي الله عنها حديث دے چه هغے رسول الله ﷺ تـه شـكـايـت وكـړو چـه زمـا خاوند ابو سفيان يو بخيل سړے دے، هغه ماله دومره خـرچـه نـهٔ راكوي چـه زما او زما د بچو كافي شي۔ نو نبي كريم ﷺ هغے ته وفرمايل: [خُذِيْ مَا يَكْفِيْكِ وَوَلَدَكِ بِالْمَعْرُوْفِ] (تـهٔ د عـرف مـطابق د هغهٔ د مال نه دومره خرچه اخـلـه چـه هغـه ستا او ستا د بچو دپاره كافي وي) [بخاري: ٥٣٦٤، مسلم: ۱۷۱٤] نو كه چـرے دلتـه اجازت شـرط وے نو نبي ﷺ به خامخا بيان كړے وے۔ (ج) دريم: مخكښے بـاب الاعـتـصـام كښے حديث ذكر شويدے: (فَلَهُ اَنْ يُعْقِبَهُمْ بِمِثْلِ قِرَاهُ)۔ ميـلـمـه د علاقے خلكو نه د ميلمستيا بدله اخستے شي كله چه ميلمستيا ورنكړي۔

(**دريم قول**) دا دے چـه د خپـل حق د جنس نه ترے اخستے شي او د جنس نه بغير بل شے نشي اخستے، لکه مثلاً ستا په يو تن باندے سل كيلو غنم دي، او تا سره د هغهٔ سل كيـلـو كـهـجـورے دي نـو دا جـنسـونه جدا جدا دي، دلته به ترے نهٔ اخلي۔ ځكه چه كله جـنـس جدا وي، نو دا مبادله او معاوضه ګرځي نو دا نوے بيعه شوه او بيعه هله صحيح كيږي چه د بائع رضا وي۔

(**څلورم قول**) دادے چـه دلتـه تفصيـل دے: هغه دا چه كه حق ظاهر وي چه ګواهانو ته حاجت نهٔ لري نو اخستـل به جائز وي لکه نفقه شوه چه ښځه ئے د خپـل خاوند د مال نه د هغـهٔ د عـلـم نـه بـغـيـر هم اخستلے شي هر كله چه ورته بيخي نفقه نهٔ وركوي او يا ورته پوره نفقه نهٔ وركوي۔ اوددے بل مثال د ميلمه حق هم دے۔ لکه ددے په باره كښے د عقبه بن عامر ﷺ پـه حـديث كښـے راغلي، دا وائي: مونږ كله په يو داسے قوم باندے ورتيريږو چه هغوئ مونږ له ميلمستيا نهٔ راكوي نو آيا مونږ د هغوئ مالونه اخستلے شو؟ نبي ﷺ وفرمايل: [اِذَا مَرَرْتُمْ بِاَقْوَامٍ لَمْ يَقْرُوْكُمْ مَا يَنْبَغِيْ لِلضَّيْفِ، فَخُذُوْا مِنْهُمْ بِقَدْرِ قِرَاكُمْ]

(کله چه تاسو په داسې خلکو ورتیریږئ چه هغوئ تاسو له د میلمه مناسب میلمستیا نهٔ درکوی نو تاسو د هغوئ نه د خپلې میلمستیا په اندازه څهٔ اخستلې شئ) [بخاری: ۲۳۶۱، مسلم: ۱۷۲۷] او ابو هریره ﷺ په حدیث کښې دی، نبی ﷺ فرمائی :

[أَيُّمَا ضَيْفٍ نَزَلَ بِقَوْمٍ فَأَصْبَحَ الضَّيْفُ مَحْرُوْمًا، لَهُ أَنْ يَّأْخُذَ بِقَدْرِ قِرَاهُ وَلَا حَرَجَ عَلَيْهِ]

(کوم میلمه چه په یو قوم باندې دیره واچوی او خلك هغه محروم وګرځوی، نو هغهٔ دپاره په دې کښې څهٔ باك نشته چه هغه د هغوئ نه د خپلې میلمستیا په اندازه څهٔ واخلی) [احمد: ۲/ ۳۸۰، بسند صحیح] ددې نه معلومه شوه چه میلمه د خپلې میلمستیا عوض د خلکو د اجازت نه بغیر هم اخستلې شی۔ بله دا چه هر کله سبب ظاهر وی نو اخستلو ته خیانت نهٔ وئیل کیږی اخستونکې دغه ظاهری سبب ته حواله کولې شی لکه د هندې نفقه ظاهری سبب وو، نو دې ته خیانت نهٔ وئیل کیږی۔

○ او کله چه سبب خفی وی، لکه د یوتن په چا قرض وی یا د سودا پیسې وی یا نور پټ حقونه وی چه هغه خلکو ته نهٔ ښکاری، نو ددې کسانو دپاره د هغهٔ د مال نه د هغهٔ د اجازت نه بغیر اخستل جائز نهٔ دی۔ (أ) د وجې د حدیث الباب نه۔

(ب) بله دا چه: په دې کار سره به انسان په خپل ځان داغ ولګوی۔ (ج) که دا دروازه پرانستې شی نو بیا به د شر دروازه پرانستې شی ځکه یو تن به د چا مال اخلی او دا دعویٰ به کوی چه زما په دهٔ حق دې حالانکه دا به په باطله وی۔ دا د حنابله ؤ مذهب دې، او دا ابن قیمؒ او ابن سعدیؒ او شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ اختیار کړې او هم دا **راجح** معلومیږی، او په دې سره د دلائلو ترمینځه تطبیق هم حاصلیږی۔

[فتح ذی الجلال والاکرام: ۴/ ۱۹۹]

(۶) بعض علماء ددې حدیث او د پورتنو ذکر شوو آیتونو ترمینځ تطبیق داسې کوی چه په آیتونو کښې جواز ذکر دې او په حدیث کښې نهی د تنزیه دپاره ده۔ یعنی مستحبه داده چه د هغهٔ د خیانت بدله په خیانت سره ورنهٔ کړې شی۔ والله تعالیٰ اعلم.

**درجة الحديث**: [اسناده صحیح] ابوداود: ۳۵۳۵، الترمذی: ۱۲۶۴، صحیح علی شرط مسلم، لان شریکا القاضی متابع من قیس بن الربیع وقد اخرج له مسلم فی المتابعات کما قال المنذریؒ وله شواهد ذکر بعضها فی الصحیحة: ۴۲۳.

## د نبی علیه السلام وکیل

2935 (6) – وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ ﷺ قَالَ : أَرَدْتُ الْخُرُوجَ إِلَى خَيْبَرَ، فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ ﷺ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ وَقُلْتُ : إِنِّي أَرَدْتُ الْخُرُوجَ إِلَى خَيْبَرَ فَقَالَ : " **إِذَا أَتَيْتَ وَكِيلِي بِخَيْبَرَ، فَخُذْ مِنْهُ خَمْسَةَ عَشَرَ وَسْقًا فَإِنِ ابْتَغَى مِنْكَ آيَةً فَضَعْ يَدَكَ عَلَى تَرْقُوَتِهِ** ". رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

**ترجمه** : او جابر بن عبد الله ﷺ نه روایت دے چه ما خیبر ته د وتلو اراده وکړه نو زهٔ نبی ﷺ ته راغلم په هغهٔ مے سلام واچولو او ما عرض وکړو : ما خیبر ته د وتلو اراده کړیده نو هغهٔ وفرمایل : کله چه تهٔ په خیبر کښے زما وکیل (نماینده) ته راشے نو هغهٔ نه پنځلس وسقه واخله۔ که هغه ستا نه نښه وغواړی نو د هغهٔ په مرئ باندے خپل لاس کیږده۔ (ابوداوَدّ)۔

**تشریح** : [وَسْقًا] د واؤ په زور او د سین په سکون سره، وسق شپیتهٔ نبوی صاعونو ته وائی، او یو صاع تقریباً پاؤ باندے دوه کیلو دے۔

[فَإِنِ ابْتَغَى مِنْكَ آيَةً فَضَعْ يَدَكَ عَلَى تَرْقُوَتِهِ] (که تا نه زما وکیل ددے خبرے نښه وغواړی نو بیا تهٔ د هغهٔ د سینے په قوتی باندے خپل لاس کیده) ترقوة : د اوګے او سینے ترمینځه دوه راوتو هډوکو ته وائی۔ مطلب دا چه : جابر ﷺ خیبر ته د وتو اراده وکړه نو نبی ﷺ له ورغے چه اجازه ترے واخلی او یا ورسره مدد وکړی، نو نبی ﷺ ورته وفرمایل چه کله خیبر ته ورسے نو هلته به زما وکیل ته ورشے او د هغهٔ نه به شپیتهٔ صاعه کهجورے وصول کړے، او که هغه تا نه ددے نښه وغواړی چه تا سره څهٔ دلیل دے چه تهٔ نبی ﷺ رالیږلے ئے نو تهٔ د هغهٔ د سینے په هډوکی لاس کیده بس هغه به پوهه شی چه دا کس نبی ﷺ رالیږلے۔ ځکه دا د نبی ﷺ او د هغهٔ د وکیل ترمینځه یوه نښه وه۔

**فوائد الحدیث** : (۱) حدیث نه معلومه شوه چه وکیل جوړول جائز دی۔ او دا اجماعی مسئله ده۔ او نبی کریم ﷺ په خیبر کښے وکیل ددے دپاره نیولے وو چه هلته د اسلامی دولت دپاره کار وکړی، ځکه د خیبر زمکه نبی کریم ﷺ یهودو ته په نیمائی باندے ورکړے وه چه نیمائی پیداوار به د یهودو وی او نیمائی به د مسلمانانو وی، نو ددے دپاره نبی کریم ﷺ هلته خپل یو وکیل مقرر کړے وو چه هغه ددے حقونو نګرانی او حفاظت کوی او د دولت املاک د ضائع کیدو نه ساتی۔

(۲) او معلومه شوه چه خلیفة المسلمین چه خپل بعضِ رعیت ته د مصلحت مطابق څۀ ورکوی نو دا جائز دی۔ او په دے کښے نور خلك ددۀ سره برابرول ضروری نۀ دی، بلکه عدل کول ضروری دی، او عدل وئیل کیږی حقدار ته د هغۀ مطابق حق ورکول۔ او دا بعینهٖ مساوات دے، او مساوات پدے معنیٰ باندے اخستل چه ښځه او نر او عالم او جاهل دِے په هر څه کښے یو شان وی نو دا مساوات نۀ بلکه خپله د ظلم نه ډکه خبره ده۔ او د عقل هم خلاف ده۔ پدے وجه اسلام په عدل باندے حکم کوی، چه د ټولو خلکو ترمینځه دِے عدل او انصاف وکړے شی، ځکه عدل وئیل کیږی هر چاته د هغۀ د استحقاق مطابق خپل حق ورکول۔ یو سړی ته ځلور ښځے ورکول او یوے ښځے ته یو خاوند ورکول عدل دے۔ مګر دا مساوات نۀ دے۔ ځکه دا چرته کیدے شی چه ښځه او خاوند دواړو سره دے یو شان سلوك وکړے شی۔

(۳) او معلومه شوه چه د وکیل او موکل ترمینځه یوه نښه ساتل مستحب دی چه په هغے باندے بل څوك نۀ خبریږی، دے دپاره چه وکیل په هغے باندے د خپل موکل د اوامرو په نافذولو کښے اعتماد کوی۔ او دیته په هغه وخت کښے حاجت راپیښیږی چه په هغے کښے لیکنه یابل شے مشکل وی، او نښه د لیکلو نه هم زیاته آسانه ده ځکه ممکنه ده چه په دے دواړو کښے یوتن داسے وی چه لیکل نشی لوستلے۔ بله دا چه یو خط د بل خط مشابه کیدے هم شی۔ (٤) او حدیث نه معلومه شوه چه د بل چا په مال کښے په قرینے او نښے نښانے سره عمل کول درست دی۔ نو څوك چه د یو وکیل نه مال وغواړی او هغۀ ته قرینه او نښه ورښکاره کړی نو هغۀ ته ورکول جائز دی، لکه په دے حدیث کښے چه نبی کریم ﷺ جابر رضی الله عنه ته د موکل په سینه باندے لاس کیښودل نښه ګرځولے وه۔ که قرینه او علامه دلیل نۀ وے نو نبی کریم ﷺ به په دے باندے د عمل کولو حکم نۀ فرمایلے۔ په ګڼړو حدیثونو کښے قرائنو له اعتبار ورکړے شوے او په هغے عمل شوے۔ دغه شان د صحابه کرامو رضی الله عنهم نه په بے شماره قضایاؤ کښے نقل شوی چه هغوئ په قرائنو او علاماتو باندے عمل کړے۔

(۵) د مشرانو نه اجازت طلب کول بهتر عمل دے۔

(٦) جابر رضی الله عنه ته دومره ډیره عطیه ورکول څنګه دی؟ جواب دا دے چه کیدے شی چه د جابر رضی الله عنه سره نور ملګری وی، دا د ټولول دپاره وی، یا دا چه جابر رضی الله عنه به ددے مستحق

وو، خاصكر چه كله هغهٔ ته د پلار نه لس لونړه پاتے وے، دے ته به ئے ضرورت وو او رسول الله ﷺ ته به د هغے اندازه لګيده. نو پدے كښے د اعتراض هيڅ خبره نشته.

**درجة الحديث**: [اسناده ضعيف بعنعنة ابن اسحاق] أبوداود: ۳۶۳۲، دارقطني: ٤/١٥٤، ضعيف أبي داود، ومحمد بن اسحاق مدلس وقد عنعنه وقد وهم الزيلعي في [نصب الراية: ٤/٩٤] حيث قال: [أخرجه أبوداود في كتاب القضاء عن ابن اسحاق، حدثني وهب بن كيسان عن جابر ......] لان ابا داود رواه معنعنا، لم يقل: [حدثني] وقول الحافظ اسناده حسن مما لا وجه له. [التلخيص: ٣/٥١] وقد تأثر منه الشيخ بسام فقال حسن، والشيخ حازم على القاضي فقال: صحيح: [تعليق بلوغ المرام]، نعم ذكر الامام البخاريؒ طرفا لهذا الحديث فقال: [وَمَا أُعْطِيَ جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ مِنْ تَمْرِ خَيْبَرَ] [قبل الحديث: ۳۱۳۱] لكن الحديث يتعلق بالمغازي وابن اسحاق امام فيها.

## په درے شيانو كښے بركت دے

## الفصل الثالث

2936( 7 ) – عَنْ صُهَيْبٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: "**ثَلَاثٌ فِيهِنَّ الْبَرَكَةُ: الْبَيْعُ إِلَى أَجَلٍ. وَالْمُقَارَضَةُ. وَإِخْلَاطُ الْبُرِّ بِالشَّعِيرِ لِلْبَيْتِ، لَالِلْبَيْعِ**". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

**ترجمه**: صهيب ﷺ نه روايت دے چه نبي كريم ﷺ وفرمايل: په درے كارونو كښے بركت دے: يوے مقررے نيټے پورے سودا كول، مضاربت كول او غنمو سره وربشے ګډول كور دپاره، نهٔ خرڅولو دپاره. (ابن ماجةؒ).

**تعارف د صهيب** ﷺ: ابو يحيى صهيب بن سنان رومي. اصل كښے عربي دے. د نَمر بن قاسط بن وائل قبيلے سره تعلق لري. روميانو دا په ماشوموالي كښے قيد كړے وو. په هغوئ كښے رالوئے شو، نو ځكه ورته رومي ويل كيږي. كله چه لوئے شو او په خان پوهه شو نو د هغوئ نه مكے ته راوتښتيدهٔ او د عبد الله بن جدعان حليف جوړ شو. او ځينے وائي: بنو كلب دا د روميانو نه واخستهٔ او مكے ته ئے راوستهٔ او هلته عبد الله بن جدعان واخستهٔ. دا وجه ده چه په عربي ژبه كښے به خطاء كيدو. مشهور او قديم الاسلام صحابي دے. د الله تعالىٰ په باره كښے ورته ډير زيات تكاليف ورسيدل، بيا ئے مدينے ته هجرت وكړو او په مدينه طيبه كښے په (۳۸) هجري كښے وفات شو.

**تشريح**: (۱) دا حديث اګر كه د سند په لحاظ ضعيف دے، ليكن معنىٰ ئے صحيح

ده- شیخ ابن عثیمینؒ وائی: قواعد د شریعت ددے ګواهی ورکوی- او دا په درے مسئلو مشتمل دے: (اول) نیتے پورے سودا کول: او دا خو یا د سَلَم په صورت کښے ده، او یا د کشتونو په صورت کښے- او په دے کښے برکت دادے چه په دے سودا کښے په معامله کښے آسانی او مشتری سره د رقم په ادا کولو کښے مدد کول دی- بلکه په دے کښے بائع او مشتری دواړو ته نفع ده- بائع ته خو ځکه نفع ده چه په نیتے باندے سودا کښے د نقدو په نسبت پیسے زیاتے وی، مثلًا: په نقدو به په سلو وی او په نیتے به په یو سل لسو وی- او مشتری ته ځکه نفع ده چه په دے کښے اګرکه په دهٔ پیسے لږے زیاتے شوے مګر دهٔ له فراخه نیتے ملاؤ شوه چه په دے کښے به دے په سهولت سره رقم ادا کړی-

دارنګه دے ته هم شامل ده چه یو تن چا ته یو سودا ورکړی او دا ورته ووائی چه خیر دے اُوس پیسے مهٔ ورکوه، یو میاشت پس ئے ورکړه نو دے سودا کښے ډیر برکت دے ځکه چه مسلمان باندے دِے سهولت راوستو نو الله تعالیٰ به په تا باندے سهولت او آسانی راولی- او همدا معنیٰ زیاته ظاهره ده ځکه چه د کشتونو مسئله اختلافی ده لکه چه مخکښے ذکر شوه-

(دویم) مقارضه (مضاربت) کول: (دا د قرض نه ده، قطع او پریکولو ته وئیلے شی، په دے کښے هم سړے د خپل مال نه څه حصه قطع کړی او بل ته ئے ورکړی دے دپاره چه هغهٔ پرے کاروبار وکړی او ګټه خپلو کښے تقسیم کړی) په دے کښے هم د رب المال او د عامل دواړو دپاره برکت دے- د مال د خاوند دپاره ځکه برکت دے چه دے په کور کښے ناست دے او پیسے ئے چلیږی ګټه کوی، او په دهٔ باندے هیڅ ستړی والے او مشقت نشته- که مضاربت نهٔ وے نو دے خو کار نشی کولے او یا ورسره وخت نشته نو سرمایه به ئے معطله پرته وے- او د عامل دپاره ځکه نفع ده چه دے د بل چا په رقم باندے وچ په وچه ګټه کوی، که چرے مضاربت نهٔ وے نو دا به بیکاره ناست وے-

(دریم) د کور دپاره د غنمو سره وربشے ګډول، نهٔ د خرڅولو دپاره: په دے کښے د برکت وجه داده چه په دے کښے زیادت او کثرت راځی، ځکه وربشے ارزانه دی او غنم ګران- نو کله چه غنمو سره وربشے ګډے شی نو غنم کم استعمالیږی نو په دے کښے اقتصاد او میانه روی راځی- دارنګه ددے په خوراك کښے عاجزی او تواضع هم ده- دارنګه په دے کښے د فقیرانو سره د دویٔ په خوراك کښے شرکت کول هم دی ځکه وربشے فقیران خلك

خوري۔ نو د دوئ سره په شركت كښې عاجزي او بركت دے۔ خو په دے كښې چونكه شرعي دليل نشته دے وجے نه دا داسے مباح شے دے چه په دے كښې عرف او بنيګړے ته رجوع پكار ده۔ اودا ګډون به كور دپاره وي نهٔ د خرخولو دپاره ځكه د خرخولو دپاره دا كار جائز نهٔ دے، په دے كښې د مشتري دهوكه كول راځي۔ وبالله التوفيق۔

**درجة الحديث** : [اسناده ضعيف جدًا] ابن ماجه : ۲۲۸۹.، فيه ثلاثة مجاهيل : (۱) نصر بن قاسم۔ قال الذهبيؒ : غير معروف۔ (۲) عبد الرحمن بن داود: قال العقيلي : مجهول وحديثه غير محفوظ ولم ينقل عنه غير هذه الرواية۔ (۳) صالح بن صهيب مجهول الحال۔ [الميزان: ٤/۲۵۳، الضعفاء: ۳/۸۰] قال الذهبي : اسناده مظلم والمتن باطل [الميزان: ۳/۱۸۳] والضعيفة : ۲۱۰۰]

## د وكيل خپل تصرف كولو واقعه

2937 ( 8 ) – وَعَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ ﷺ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ بَعَثَ مَعَهُ بِدِينَارٍ لِيَشْتَرِيَ لَهُ بِهِ أُضْحِيَّةً فَاشْتَرٰى كَبْشًا بِدِينَارٍ وَبَاعَهُ بِدِينَارَيْنِ فَرَجَعَ فَاشْتَرٰى أُضْحِيَّةً بِدِينَارٍ فَجَاءَ بِهَا وَبِالدِّينَارِ الَّذِي اسْتَفْضَلَ مِنَ الْأُخْرٰى فَتَصَدَّقَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ بِالدِّينَارِ فَدَعَا لَهُ أَنْ يُّبَارَكَ لَهُ فِي تِجَارَتِهِ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

**ترجمه** : او حكيم بن حزام ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ هغهٔ ته يو دينار وركړو او وے ليږلو دے دپاره چه په هغے سره هغه دپاره قرباني واخلي، نو هغهٔ په يو دينار ګډ واخستو، بيا ئے په دوه دينارو خرخ كړو نو واپس راغلو او په يو دينار ئے قرباني اخستے وه او هغه ئے نبي كريم ﷺ ته راوستو او هغه دينار هم كوم چه د مخكنئ اضحيے (د وصول شوي رقم) نه بچ شوے وو۔ نو رسول الله ﷺ په هغه دينار باندے صدقه وكړه او دهٔ دپاره ئے دعاء وكړه چه دهٔ دپاره ددهٔ په تجارت كښې بركت واچولے شي۔ (ترمذيؒ)

**تشريح** : صحابه كرام ﷺ به د رسول الله ﷺ سره شركت پدے وجه كولو چه د هغهٔ په دعاء سره بركتي شي۔

اِسْتَفْضَلَ : اَيْ رَبِحَ ۔ يعني وے ګټله۔ دا د فضل نه دے، زياتي پاتے شوے۔ يا زياتي حاصله شوے۔ الاخرى : ددے نه مراد اوله اضحيه ده۔

فَتَصَدَّقَ : يعني رسول الله ﷺ خو د دنيا ګټه وليده نو اُوس د آخرت ګټه كوي چه دغه روپئ خيرات كړه او پدے كښې دعوت دے امت ته چه د دنيا د ګټے سره سره د آخرت ګټه

هيره نکړئ.

**درجة الحديث**: [ضعيف] ابو داود: ۳۳۸٦، والترمذی: ۱۲۵۷، شيخ من اهل المدينة مجهول واعله الترمذی بالانقطاع فقال: لا نعرفه الا من هذا الوجه وحبيب بن ابی ثابت لم يسمع -عندی- من حكيم بن حزام آه. وايضا حبيب مدلس وقد عنعنه ولكن يغنی عنه حديث عروة بن ابی الجعد البارقی ﷺ المتقدم (۲۹۳۲).

## ۱۱- بَابُ الْغَصْبِ وَالْعَارِيَةِ

## د غصب او د سوالی شئ بيان

غَصْبٌ: غَصَبَ يَغْصِبُ غَصْبًا په عربئ ژبه کښې په زور، زياتی او مجبورولو سره چانه يو شے اخستل. او په اصطلاح کښې: اَلْاِسْتِيْلَاءُ عَلٰی حَقِّ غَيْرِهٖ قَهْرًا بِغَيْرِ حَقٍّ. (په ناحقه سره د چا په حق باندے په زوره قبضه اچول) د (قبضه اچولو) نه معلومه شوه چه غصب يو فعلی تصرف دے. او ((حقِ الغير)) عام دے که دا حق مال وی لکه روپئ او اشرفئ. منقول وی يا غير منقول لکه زمکه، کور، دکان وغيره. او د ((قهرًا)) مطلب په زوره او ښکاره قبضه اچول دی. په دے سره د غصب نه غلا اُووته ځکه غلا په پټه د چا مال اخستل دی. او هر چه غصب دے نو په دے باندے مغصوب مِنْهُ خبر وی، دا وجه ده په غصب کښې لاس پريکول نشته او په غلا کښې شته، لکه چه دا خبره به په خپل ځائے کښې راشی. او ((په ناحقه)) لفظ سره احتراز دے د قبضے د ولی نه چه د ماشوم يا د بيوقوفه بالغ يا د ليونی په مال باندے ئے اچوی. دارنګه په دے کښې د مفلس په مال باندے د حاکم د قبضے اچولو نه احتراز دے چه دا په حق سره قبضه اچول دی. لکه چه مخکښې د حجر په مسئله کښې تير شو. ★ غصب په کتاب، سنت او اجماع سره حرام دے. په يے شماره آيتونو کښې په ظلم او زياتی سره د پردی مال اخستو نه منع راغلے، لکه ارشاد دے: ﴿وَلَا تَأْكُلُوْٓا اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ﴾ [البقرة: ۱۸۸] (او خپل مينځ کښې يو د بل مالونه په ناحقه مۀ خورئ) او غصب هم د باطل د جملے نه دے. او ارشاد دے: ﴿اِنَّمَا

السَّبِيْلُ عَلَى الَّذِيْنَ يَظْلِمُوْنَ النَّاسَ وَيَبْغُوْنَ فِي الْاَرْضِ بِغَيْرِ حَقٍّ ﴾ [الشوری: ۴۲]
(د ملامتیا لاره خو په هغه خلکو ده چه په خلکو ظلمونه کوی او په زمکه باندے په ناحقه زیاتے کوی)۔ او په ګڼړو حدیثونو کښے د پردی مال اخستو نه منع راغلے۔ او د صحیح عقل تقاضا هم داده چه غصب دِے حرام وګرځول شی ځکه په دے کښے د مسلمانانو په مالونو تیرے کول دی چه دا د شر او فساد سبب او د بغض او عداوت او د قتل او قتال ذریعه جوړیږی۔ او کوم مال چه غاصب په غصب سره اخستے وی هغه د هغهٔ دپاره حرام دے ځکه چه دا د بل چا په ملکیت باندے تیرے او تجاوز کول دی، او تیرے د ملکیت سبب نشی ګرځیدے، دا وجه ده په غاصب باندے واجب دی چه غصب شوے شے – په راروان تفصیل سره – خپل مالك ته واپس کړی، او دهٔ دپاره دے نه هیڅ قِسم انتفاع حاصلول جائز نهٔ دی۔

العارية: عَارِيَة : د یا په تخفیف او تشدید دواړه سره لوستل کیږی، د عُرِی نه وتے ده خالی والی ته وائی نو سوالی شے هم د عوض نه خالی وی۔ او **شرعًا**: عاریه وئیل کیږی : چاله یو شے ددے دپاره مفت ورکول چه د هغے نه فائده واخلی او بیرته ئے واپس کړی۔ سوالی شے۔ دے قِسم شئ ورکونکی ته مُعِیر، اخستونکی ته مستعیر، او دغه شئ ته چه منفعت ترے اخستل کیږی او د هغے ذات بیرته واپس کولے شی عَارِيَة وائی۔ او ددے شئ ورکولو ته اِعاره او اخستلو ته اِستعاره وائی۔ ددے **صورت** دادے چه څوك چاله ددے دپاره خپل کور ورکړی چه یو وخته پورے په کښے فری ووسیږی، یا ورته ګاړے موټر ورکړی چه سورلئ پرے کوی او بیرته به ئے واپس کوی، او یا ورته د کهجورے وُنه ورکړی چه ددے میوه استعمال کړی، یا ورته لنګه ورکړی چه ددے پئ څښکی، یا ورته کتاب ورکړی چه په دے کښے سبق وائی او یا ورته د کور بل یو شے ورکړی لکه کتئ وغیره چه ددے نه نفع واخلی او بیرته به ئے واپس کوی۔

❁ عاریه د مستعیر په حق کښے مباح ده، او دا په سوال کښے نهٔ داخلیږی، او د مُعیر په حق کښے مستحب ده ځکه په دے کښے د مسلمان مدد کول او د هغهٔ حاجت پوره کول دی۔ الله تعالیٰ د هغه چا په مدد کښے وی ترڅو چه هغه د خپل ورور مسلمان په مدد کښے وی۔ او په دے کښے ښیګړه او احسان دے۔ خو کله عاریه ورکول واجب کیږی هم۔ لکه جمهورو مفسرینو د : ﴿وَيَمْنَعُوْنَ الْمَاعُوْنَ ﴾ [الماعون: ۷] په تفسیر کښے ذکر کړی

دي چه الله تعالىٰ د منافقانو دا صفت کړے چه دوئ د ګاونډیانو نه هغه څۀ منع کوی چه هغه معمولي شے وی لکه بوقه، کټوئ، مالګه، جارو، تبرګے او داسے نور شیان۔ یعنی داسے شے وی چه اخستونکے ورته حاجت لری او ورکونکي ته هیڅ نقصان نۀ وی۔

❁ عاریه په کتاب، سُنت، اجماع او صحیح قیاس سره ثابت ده۔ علامه ابن قدامهؒ فرمائی: د عاریه په جواز او استحباب باندے د علماؤ اجماع ده۔ [المغنی: ٧/٣٤٠] او قیاس هم ددے تقاضا کوی ځکه هر کله چه د جامو، لوښو لرګو او کتابونو ذات چاله ورکول جائز دی نو ددے شیانو منافع او فائدے ورکول به هم جائز وی۔ دا وجه ده د اعیانو او منافعو دواړو وصیت کول درست دی۔ والله تعالیٰ اعلم۔

## د زمکے غصب کونکی سزا

## الفصل الأول

2938 (1) – عَنْ سَعِيْدِ بْنِ زَيْدٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : "مَنْ أَخَذَ شِبْرًا مِنَ الْأَرْضِ ظُلْمًا فَإِنَّهُ يُطَوَّقُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ سَبْعِ أَرْضِيْنَ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

**ترجمه** : سعید بن زید ﷺ نه روایت دے، رسول الله ﷺ وفرمایل : چاچه د چانه د یوے لویشتے هومره زمکه په ظلم سره واخسته، د قیامت په ورځ به دا د هغه په غاړه کښے واچولے شي د اُوه زمکو نه۔ (یعنی د اُوو زمکو نه به ورله طوق جوړ کړی او په غاړه کښے به ئے ورته ورواچوی)۔ (بخاریؒ، مسلمؒ)۔

**لغت** : [مَنْ أَخَذَ] چاچه واخسته۔ د بخاریؒ په روایت کښے [مَنْ ظَلَمَ] لفظ دے۔ په یو بل روایت د بخاریؒ او مسلمؒ کښے (اِقْتَطَعَ) لفظ دے او دا د قطع نه دے یعنی چاچه د چانه یوه ټکړه زمکه د هغۀ د مال نه پریکړه۔ [شِبْرًا] د بخاری په روایت کښے [شَيْئًا] لفظ دے، او د بخاری او مسلمؒ په بل روایت کښے [قِيْدَ شِبْرٍ] دے یعنی د لویشت په اندازه زمکه۔ د لویشت په ذکر کولو کښے اشاره ده که زمکه لږه وی او که ډیره۔ [يُطَوَّقُهُ] د مجهول صیغه ده، یعنی په غاړه کښے به ورواچولے شی دا زمکه هغۀ ته لکه د طوق (امیل) په شان۔ یعنی ددے زمکے نه به امیل جوړ کړی لکه د جرندے د پَل په شان او په غاړه کښے به ئے ورته واچوی۔

ددے دوه مطلبه دی : (١) یو دا چه د قیامت په ورځ به دے په دے مکلف کړے شی چه

دا غصب کړې زمکه محشر ته نقل کړي او دا به ددهٔ په غاړه کښې د امیل پشان وي، حقیقةً امیل به نهٔ وي. ددې تائید د یعلي بن مره ﷺ په حدیث سره کیږي چه رسول الله ﷺ وفرمایل: [أَيُّمَا رَجُلٍ ظَلَمَ شِبْرًا مِنَ الْأَرْضِ كَلَّفَهُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ أَنْ يَّحْفِرَهُ حَتّٰى يَبْلُغَ سَبْعَ أَرَضِيْنَ ثُمَّ يُطَوَّقُهُ إِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ حَتّٰى يُقْضٰى بَيْنَ النَّاسِ] ((کوم سړی چه یوه لویشت زمکه د چانه ونیوه الله تعالیٰ به ورته د قیامت په ورځ دا حکم وکړي چه دا تر اووو زمکو پورې وکني او بیا به ورته په غاړه کښې واچول شي تردې چه د خلکو ترمینځه فیصله وکړې شي)) [احمد: ۲۹/۹۹، ۱۱۰، ابن حبان: ۱۱/۵۶۷، طبراني: ۲۲/۲۷۰، الصحیحة : ۲۴۰]

(یعنی پنځوس زره کاله به ئې دا سزا وي)

(۲) دویم مطلب دا چه: دهٔ ته به دا عذاب ورکړې شي چه دې به په زمکه باندې د اُوو زمکو پورې خخ کړې شي، نو په دې حالت کښې به هره زمکه ددهٔ په څټ کښې طوق او امیل جوړ کړې شي. ددې معنیٰ تائید د ابن عمر ﷺ په مرفوع حدیث کښې راغلی: [مَنْ أَخَذَ مِنَ الْأَرْضِ شَيْئًا بِغَيْرِ حَقِّهٖ خُسِفَ بِهٖ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلٰى سَبْعِ أَرَضِيْنَ].

((چاچه په ناحقه د چانه د زمکې څهٔ برخه ونیوه، د قیامت په ورځ به دې په دې کښې تر اُوو زمکو پورې خخ کړې شي)) [بخاري: ۲۴۵۴]

**تشریح** : په دې حدیث کښې یوه قصه ذکر ده هغه دا چه: ((اروی بنت اُویس (نومې یوې ښځې) په سعید بن زید ﷺ دعویٰ وکړه چه دهٔ زما د زمکې په یوه ټکړه قبضه اچولې، او هغه ئې مروان بن الحکم ته بوتلو، سعید ﷺ وویل: آیا دا کیدې شي چه زهٔ دې ددې ښځې په زمکه قبضه واچوم روستو د هغه څهٔ نه چه ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلي؟ مروان ورته وویل: تا د رسول الله ﷺ نه څهٔ آوریدلي؟ سعید ﷺ ورته خپل دغه حدیث ذکر کړو. نو مروان ورته وویل: دې نه پس به زهٔ هیڅ کله تانه ثبوت ونهٔ غواړم. بیا سعید ﷺ دغه ښځې ته داسې ښیرې وکړې: ((اې الله! که چرې دا ښځه دروغژنه وي نو تهٔ دا ړنده کړې او دا په خپله دغه زمکه کښې ووژنه. راوي وائي: دا ښځه د مرګ نه مخکښې ړنده شوه او یو ځل په خپله زمکه روانه وه چه ناڅاپه په کنده کښې پریوته او مړه شوه. (مسلم). سعید بن زید بن عمرو بن نفیل ﷺ د هغه لسو صحابو نه دې چه رسول الله ﷺ ورته په دنیا کښې د جنت زیرې ورکړې وو.

**فوائد** : (۱) حدیث نه ثابته شوه چه غصب کول او چانه په زوره شے اخستل حرام دي

ځکه دا ظلم دے او ظلم الله تعالیٰ په خپل ځان هم حرام کړے او د بندګانو ترمینځه ئے هم حرام ګرځولے۔ (۲) د [شِبْرًا] او [شَيْئًا] الفاظو نه ثابته شوه چه په غصب کښے لږ او ډیر برابر دی، دا دواړه حرام دی۔

(۳) او ثابته شوه چه د غصب سخته سزا ده خصوصًا د زمکے د غصب کولو، ځکه په دے باندے غالبًا د قبضے اچولو موده اُوږده وی۔ علامه قرطبیؒ ذکر کړی چه د چانه معمولی شان زمکه قبضه کول هم کبیره ګناه ده، او هغه ئے ددے حدیث نه معلومه کړے چه ددے ګناه په باره کښے سخت عذاب راغلے۔ [المفهم: ١/٢٨٤، ٤/٥٣٤]

(٤) او حدیث نه ثابته شوه چه زمکه غصب کول هم امکان لری، او دا د جمهورو علماؤ قول دے۔ ددے غصب کول دادی چه په دے په زوره قبضه وکړی او مالك ترے بے اختیاره کړی۔ او دا ښکاره ددے حدیث نه معلومه ده۔ د امام ابوحنیفهؒ په نیز زمکه غصب کول ممکن نۀ دی ځکه غصب یو لاس ثابتول او بل لاس زائل کولو ته وائی او دا په زمکه کښے نشی کیدے۔ [هداية: ٤/١٢] خو دا وجه بیانول د حدیث ښکاره خلاف کیدو په وجه مردود دی۔ بلکه د هر شئ غصب کول د هغۀ د شان مطابق وی، د منقول شئ غصب کول دا دی چه هغه نقل کړی او وائے خلی، او د غیر منقول (زمکے، کورونو، باغونو) غصب دادے چه په هغے قبضه واچوی۔ او دا خبره خو عرفاً هم خطاء ده، ځکه چه اُوس خومره خلك شته چه پردئ زمکے ئے نیولی دی۔

(٥) او حدیث نه ثابته شوه چه څوك د یوے زمکے مالك شی نو دے به د هغے د باطن او ظاهر دواړو مالك وی۔ که دے هر څومره چتونه جوړوی او ججه وباسی یا لاندے هر څومره تهخانے جوړوی او لاندے ځی نو دا جائز دی، په دے شرط چه ګاونډی ته په دے کښے ضرر نۀ وی۔ دارنګه که څوك ددۀ د کور دپاسه په هواء کښے تصرف کوی او یا ددۀ د کور لاندے په زمکه کښے تارونه وغیره بوځی، نو ددۀ دپاره ددے د منع کولو حق شته دے۔ دارنګه که لاندے دے په خپله زمکه کښے څۀ قیمتی کانړی او جواهرات راوباسی نو دے به ددے مالك وی۔ والله تعالیٰ اعلم۔

## د یو څاروی نه د مالك د اجازت نه بغیر پئ لوشل جائز نۀ دی

2939 (2) – وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: " لَا يَحْلِبَنَّ أَحَدٌ مَاشِيَةَ

امْرِئٍ بِغَيْرِ إِذْنِهِ أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ يُؤْتَى مَشْرَبَتُهُ فَتُكْسَرَ خِزَانَتُهُ فَيُنْتَقَلَ طَعَامُهُ وَإِنَّمَا يَخْزُنُ لَهُمْ ضُرُوعُ مَوَاشِيهِمْ أَطْعِمَاتِهِمْ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

**ترجمه** : او ابن عمر رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : هیڅ یو تن دِے د هیڅ شخص ګډے بزے د هغهٔ د اجازت نه بغیر نهٔ لوشی، آیا ستاسو یو تن دا خوښوی چه د هغهٔ کمرے ته راتلل وکړے شی او د هغهٔ خزانه ماته کړے شی، او د هغے نه طعام نقل کړے شی (وړے وړے شی) (دغه شان پوهه شئ چه) دوئ له د خپلو څاروو غولانزے د دوئ خوراکونه (غذائی ضرورت یعنی پئ) جمع کوی. (مسلمؒ)

**تشریح** : پدے حدیث کښے د څاروو د غولانزو تشبیه د غلے وغیره د ګودام سره ورکړے شویده چه لکه څنګه تاسو خپلے غلے په ګوداموڼو کښے محفوظ ساتئ دغه شان د نورو خلکو څاروی په خپلو غولانزو کښے د خپل مالك غذائی ضرورت یعنی پئ محفوظ ساتی، لهذا لکه څنګه چه تاسو دا خبره نهٔ برداشت کوئ او نهٔ خوښوئ چه بل څوك ستاسو ګودامونه او ستاسو خزانے غیر محفوظ کړی او هلته نه غله یا نور محفوظ څیزونه اُوباسی دغه شان ستاسو دا کار به هم د څاروو مالکان څنګه برداشت کړی چه تاسو د هغوی د څاروو د سینو (غولانزو) نه پئ اُوباسئ.

مَشْرَبة : د میم په زبر او د راء په پیش سره، بالاخانے او کمرے ته وائی. او بعض وائی : دا یو اُوچت ځائے دے چه په هغے کښے طعام ساتلے شی. بعض وائی : د کمرے په شان یو ځائے دے. مَشْرَبَتُهُ : اَیْ تُفْتَحَ غُرْفَتُهُ. یعنی چه کولاوه کړے شی د هغهٔ کمره.

يَخْزُنُ : د باب د نصر نه. په معنی د جمع کولو او ساتلو سره.

مَوَاشِيهِمْ : جمع د ماشیة ده. ګډے بزے. أَطْعِمَاتِهِمْ : جمع د طعام ده، د طعامونو نه مراد هغه پئ (شودهٔ) دی چه د هغوی طعام او خوراك دے.

ضُرُوعٌ : جمعه د ضرع ده. غولانزے او تیونو ته وائی.

دلته ئے د غولانزے تشبیه د بالاخانے او پورته ځائے سره ورکړه پدے کښے اشاره ده چه د غولانزے ساتنه په شریعت کښے ډیر مضبوط حکم دے، ځکه چه دلته ئے غولانزه د هغه کمرے سره مشابه کړه چه هغے ته ختل ګران وی او ډیر کرته هغے ته تاله هم لګیدلی وی چه انسان د هغے سامان ته هله رسیدے شی چه هغه ماته کړی نو ددے وجه

نه مناسب دي چه ګډې بزې به هم د مالك په اجازت لوشلې شي.

## د چا ماتې کړې کاسې بدله کښې هغهٔ ته روغه کاسه ورکول لازم دي

2940 (3) – وَعَنْ أَنَسٍ ﷺ قَالَ : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ عِنْدَ بَعْضِ نِسَائِهِ فَأَرْسَلَتْ إِحْدٰى أُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِيْنَ بِصَحْفَةٍ فِيهَا طَعَامٌ فَضَرَبَتِ الَّتِي النَّبِيُّ ﷺ فِي بَيْتِهَا يَدَ الْخَادِمِ فَسَقَطَتِ الصَّحْفَةُ فَانْفَلَقَتْ فَجَمَعَ النَّبِيُّ ﷺ فِلَقَ الصَّحْفَةِ ثُمَّ جَعَلَ يَجْمَعُ فِيهَا الطَّعَامَ الَّذِي كَانَ فِي الصَّحْفَةِ وَيَقُوْلُ : " **غَارَتْ أُمُّكُمْ** " ثُمَّ حَبَسَ الْخَادِمَ حَتّٰى أُتِيَ بِصَحْفَةٍ مِنْ عِنْدِ الَّتِي هُوَ فِي بَيْتِهَا فَدَفَعَ الصَّحْفَةَ الصَّحِيْحَةَ إِلَى الَّتِي كُسِرَتْ صَحْفَتُهَا وَأَمْسَكَ الْمَكْسُوْرَةَ فِي بَيْتِ الَّتِي كَسَرَتْ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

**ترجمه** : او انس ﷺ نه روايت دے چه نبی کريم ﷺ د خپلو بعض بيبيانو سره وو، نو د مومنانو په ميندو کښې يوې تنې (زينب ﷺ) (د خادم سره) يوه کاسه وليږله چه په هغې کښې څهٔ خوراك وو، نو هغه بی بی (عائشې ﷺ) چه نبی کريم ﷺ د هغې په کور کښې وو د خادم لاس ووهلو نو کاسه پريوته، او هغه ماته شوه. نو نبی کريم ﷺ د کاسې ټکړې راجمع کړې بيا شروع شو چه په هغې کښې ئے هغه طعام راجمع کولو کوم چه په هغه کاسه کښې وو، او فرمايل ئے : ستاسو مور غيرت وکړو. بيا ئے خادم ايسار کړو تردے چه د هغه بی بی نه ئے کاسه راوړه د کوم په کور کښې چه نبی کريم ﷺ وو، نو هغه روغه کاسه ئے هغه بی بی ته ورکړه چه د هغې کاسه ماته شوې وه، او ماته کړے شوے کاسه ئے د هغه بی بی په کور کښې ايساره کړه کومې چه ماته کړې وه. (بخاریؒ)

**تشريح** : او ترمذیؒ د پيالے ماتونکے بی بی نوم عائشه ﷺ ذکر کړے، او په دے کښې ئے دا اضافه کړے چه نبی ﷺ وفرمايل : [طَعَامٌ بِطَعَامٍ] (د خوراك په بدله کښې خوراك او د لوښی په بدله کښې لوښے) يعنی په روغه کاسه کښې ئے خوراك کيښودهٔ او د چا کاسه چه ماته شوے وه، هغې ته ئے وليږهٔ. او دا کار نبی ﷺ د هغې د زړهٔ ساتلو دپاره وکړو او يا د اصلاح دپاره.

[بَعْضِ نِسَائِهِ] د ترمذیؒ د روايت مطابق دا عائشه ﷺ وه، او دا ئے د عظمتِ شان له وجے مبهمه کړے ځکه هر چاته دا معلومات دي چه دا همدا بی بی وه ولے چه هدايا به نبی

کریم ﷺ ته ددې په نمبر کښې راتلې۔ [فَأَرْسَلَتْ إِحْدٰى أُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِيْنَ]
علامه ابن حزمؒ د انس ﷺ نه روایت ذکر کړې چه دا هدیه لیږونکې بی بی زینب بنت جحش ﷺ وه۔ [المحلی: ۸/۱۴۱] او په بل روایت د ترمذیؒ کښې ورسره دی: [مَعَ خَادِمٍ] د خادم اطلاق په نارینه او زنانه دواړو کیږی۔
[بِصَحْفَةٍ] د لرګی کاسه۔ [فِيْهَا طَعَامٌ] د ابن حزمؒ په روایت کښې د انس ﷺ نه روایت دے چه دا خوراك حیس (حلویٰ) وه یعنی غوړی، پنیر او کهجورې ئې سره مضبوطې اخکلې وې او کله به ئې په کښې ستوان هم اچول۔ [فِلَقَ الصَّحْفَةِ] فِلَق جمع د فِلْقَةٌ ده، ټکړې، د فَلْقٌ نه دے، هغه ماتیدو ته وائی چه یو شے دوه ټکړې شی، اجزاء ئې د یو بل نه جدا شی۔
(فراء) یعنی د ماتې شوې کاسې ټکړې ئې سره یوځائې کړې او هغه ئې وتړلې۔
**فوائد او مسائل:** (۱) دا حدیث د غصب سره تعلق نۀ لری، ددې باوجود چا چه د احکامو په باره کښې کتابونه لیکلی هغوئ ټولو دا حدیث دلته ذکر کړې، حالانکه ددې ځائې [بَابُ الضَّمَانِ] یا [ضَمَانُ الْمُتْلَفَاتِ] دے، یعنی هغه باب چه په هغې کښې د ضائع شوو شیانو تاوان ورکړے کیږی۔ او کیدے شی چه دا په دې وجه دلته ذکر کیږی چه د چا مال ضائع کول د غصب په اقسامو کښې یو قِسم دے، ځکه چه پدې سره د بل چا مال ضائع شو اګرکه ددې سبب هر یو وی۔ یا پدې وجه ذکر شو چه دا د خوراك کوم شے رالیږلے شوے وو نو دا د تحفې په طور وو لیکن په کومه کاسه کښې چه رالیږلے شوے وو نو دا د عاریه په طریقه وو پدې مناسبت سره دا حدیث پدې باب کښې ذکر کړے شو۔
(۲) حدیث نه ثابته شوه چه څوك د چا یو شے ضائع کړی نو د هغې تاوان به ورکوی۔ نو که دغه شے مثلی وی نو په مثل سره به تاوان ورکوی اوکه قیمی وی نو په قیمت سره به تاوان ورکوی۔ او قیمت ته به هله رجوع کیږی چه مثل ورکول ګران شی۔ او مخکښې تیر شو چه مثلی هر هغه شے دے چه د هغې مثل او مشابه شے موجود وی، برابره خبره ده که هغه پیمانه کولے شی لکه جوار، غنم، وربشے او وریژے، او یا تللے شی لکه غوښه، او یا لوښې، کتاب، جامه او یا ددې پشان بل یو شے وی۔
**طریقه** د استدلال داده چه نبی کریم ﷺ د ماتې شوې کاسې په عوض کښې روغه کاسه اَستازی له ورکړه، او دا معلومه ده چه کاسه د قِیمِی شیانو نه ده او ددې باوجود ددې په بدله کښې نبی ﷺ ددې پشان کاسه ورکړې، چه ددې نه معلومه شوه چه کوم

شے بـل شئ ته ورته وی او ددواړو ترمینځه څۀ خاص فرق نۀ وی، نو په عوض کښې هغه ورکـول هـم جـائـز دی. ځـکـه پـه دے کښې دوه شیـان راجمع وی : یو قیمت او بل ددے د خـاوند مقصد پوره کیدل. دا قول د امام احمدؒ او ابن حزمؒ دے، شیخ الاسلام ابن تیمیۃؒ او ابن قیمؒ دیته ترجیح ورکړے۔

(۳) او مـعـلـومـه شـوه چه د یوے ښځے د کور نه د بلے ښځے کورته د خاوند دپاره طعام لیـږل جائز دی او دا به یوے ښځے طرفته په میلان کولو کښے نۀ شمارل کیږی ځکه نبی ﷺ د عائشے ﷞ کـورته په خوراك لیږلو رد نۀ دے کړے بلکه په دے خاموش پاتے شوے او د راجمع کولو نه پس ئے ددے د خوړلو حکم کړے۔

(٤) او مـعـلـومـه شـوه چه که ښځه هر څومره د علم اوفضل او شرافت خاونده وی خو ددے باوجـود بـنـه نۀ برداشت کوی، په هغے ورله غیرت ورځی اګرکه دا د نبی کریم ﷺ قـدرمنے بیبیانے هم وی، د دوئ نه هم داسے څۀ صادریدے شی چه هغه قابلِ تعجب وی۔ خـو پـه دے کښے دوئ مـلامـتـه نـۀ دی ځـکـه دا یـو داسے شے دے چه الله تعالیٰ د دوئ په طبیـعـت کښے ایښے، که ښځه هر څومره علم او فضل والا شی خو بے اختیاره ددے نه دا قِسم کارونه صادریدے شی۔ [منحة العلام لعبد الله الفوزان]

(۵) حـدیـث نـه د نبـی کـریـم ﷺ ښائسته خوئے او خپلو بیبیانو سره د نرمئ معامله ثـابـتـه شـوه، هـغـوئ کاسه ماتونکے بی بی له سزا ورنۀ کړه بلکه د هغے له طرفه ئے عذر وکړو، لکه دلته ئے وویـل : [غَارَتْ أُمُّكُمْ] (ستاسو مور غیرت کښے راغله) دے دپاره چه د هـغـے دا کـار بـدے تـه وانـۀ ړولے شی بلکه د ښو په عادت حمل کړے شی۔ آو په دے کښے دیته اشاره ده چه دغه بی بی چه دا حرکت کړے نو دا د هغے د سختے غصے نتیجه وه چه آیا زۀ نبی ﷺ له دا خوراك نشم جوړولے چه تۀ ئے ماکره رالیږے؟ ۔

(٦) حـدیـث دلیـل دے چه خاوند له پکار دی چه خپلو ښځو سره د نرمئ معامله کوی او د دوئ تـرمیـنـځـه چه کوم نابرداشته کارونه مخے ته راځی د هغے مخ نیوے دِے کوی۔ والله تعالیٰ اعلم۔

## د کوم مسلمان مال لوټ کول حرام دي

2941( 4 ) - وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ يَزِيْدَ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ : أَنَّهُ نَهٰى عَنِ النُّهْبَةِ وَالْمُثْلَةِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

**ترجمه** : او عبد الله بن يزيد ﷺ د نبي كريم ﷺ ارشاد نقل کوي چه هغهٔ د لوټ مار او مُثله کولو (يعنى اندامونو پريکولو) نه منع فرمائيلې ده۔ (بخاريّ)

**تشريح** : النُّهْبَةِ : د نهبه دلته دوه مقصده دي : (۱) يو دا چه د لښکر هريو تن د كافرانو نه مالونه ځانله تښتوي، بلکه په دوئ لازم دي چه غنيمتونه به د امير خواته راجمع کوي تردې چه هغهٔ ئې د شريعت د حكم مطابق د لښکر ترمينځ تقسيم کړي۔
(۲) دويم نهبه د مسلمانانو نه په زوره په ښکاره طريقې سره مالونه تښتولو ته وئيلې شي۔ دې ته غصب هم وائي۔
الْمُثْلَةِ : د وژلې شوي شخص اندامونه پريکولو ته وئيلې شي۔ يعنى مسلمان ددې نه منع شوې چه كله كافر قتل کړي نو بيا به ئې اندامونه نهٔ پريکوي، دغه شان کله چه د يو مسلمان نه قصاص اخلى يا د زنا په حد كښې رجم کولې شي، يا قطاع الطريق په سولئ کوي نو د هغهٔ اندامونه به نشي قطع کولې، ځکه چه پدې کښې مقصد صرف ژوند ختمول دي، لهذا اندامونو قطع کولو ته ضرورت نشته۔

## د حاجيانو نه سامان پټونکي عبرتناك حشر

2942 (5) - وَعَنْ جَابِرٍ ﷺ قَالَ : إِنْكَسَفَتِ الشَّمْسُ فِيْ عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ يَوْمَ مَاتَ إِبْرَاهِيْمُ بْنُ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ فَصَلّٰى بِالنَّاسِ سِتَّ رَكَعَاتٍ بِأَرْبَعِ سَجَدَاتٍ فَانْصَرَفَ وَقَدْ آضَتِ الشَّمْسُ وَقَالَ :" مَا مِنْ شَيْءٍ تُوْعَدُوْنَهُ إِلَّا قَدْ رَأَيْتُهُ فِيْ صَلَاتِيْ هٰذِهِ لَقَدْ جِيْءَ بِالنَّارِ وَذٰلِكَ حِيْنَ رَأَيْتُمُوْنِيْ تَأَخَّرْتُ مَخَافَةَ أَنْ يُصِيْبَنِيْ مِنْ لَفْحِهَا وَحَتّٰى رَأَيْتُ فِيْهَا صَاحِبَ الْمِحْجَنِ يَجُرُّ قُصْبَهُ فِي النَّارِ وَكَانَ يَسْرِقُ الْحَاجَّ بِمِحْجَنِهِ فَإِنْ فُطِنَ لَهُ قَالَ : إِنَّمَا تَعَلَّقَ بِمِحْجَنِيْ وَإِنْ غُفِلَ عَنْهُ ذَهَبَ بِهِ وَحَتّٰى رَأَيْتُ فِيْهَا صَاحِبَةَ الْهِرَّةِ الَّتِيْ رَبَطَتْهَا فَلَمْ تُطْعِمْهَا وَلَمْ تَدَعْهَا تَأْكُلُ مِنْ خِشَاشِ الْأَرْضِ حَتّٰى مَاتَتْ جُوْعًا ثُمَّ جِيْءَ بِالْجَنَّةِ وَذٰلِكَ حِيْنَ رَأَيْتُمُوْنِيْ تَقَدَّمْتُ حَتّٰى قُمْتُ فِيْ مَقَامِيْ وَلَقَدْ مَدَدْتُ يَدِيْ وَأَنَا أُرِيْدُ أَنْ أَتَنَاوَلَ مِنْ ثَمَرَتِهَا لِتَنْظُرُوْا

إِلَيْهِ ثُمَّ بَدَا لِيْ أَنْ لَا أَفْعَلَ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

**ترجمه :** او جابر ﷺ فرمائي : د رسول الله ﷺ په زمانه کښې نمر تور شو په هغه ورځ چه د رسول الله ﷺ ځوي ابراهيم وفات شو، نو خلکو ته ئې مونځ د شپږ رکوع او څلورو سجدو سره وکړو، نو نبي کريم ﷺ د مانځه نه فارغ شو په داسې حال کښې چه نمر د مخکښې په شان روښانه شوې وو- بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل : نشته يو شے چه تاسو سره ئې وعده کيږي (يعني جنت او جهنم) مگر هغه ما پدې مانځه کښې وليدو، اُور راوستې شو او دا هغه وخت وو چه کله تاسو زۀ وليدم چه راروستو شوم، پدې يره چه ما ته به د هغې بړاس (لمبه) راورسيږي، او تردې چه ما په هغې کښې د کږې امسا والا وليدو چه خپلې کولمې ئې په اُور کښې راښکلې، او هغه به د حاجيانو نه په خپله امسا سره غلا کوله، که څوك به پرې پوهه شول دۀ به وئيل : دا شے زما د امسا پورې انښتې دے، او که څوك به ددۀ نه غافله وو نو دۀ به ځان سره هغه شے وړلو، او تردې چه ما په هغه اُور کښې د پيشو والا زنانه وليده کومې چه تړلې وه نۀ ئې ورله خوراك ورکولو او نۀ ئې پريښودو چه د زمکې حشرات وخوري تردې چه هغه د لوږې نه مړه شوه، بيا (ما ته) جنت راوستې شو او دا هغه وخت وو چه تاسو زۀ وليدم چه مخکښې شوم تردې چه زۀ په خپل (مخکنی) ځائے کښې ودريدم او ما خپل لاس اُوږد کړو او زما اراده وه چه زۀ د هغې د ميوو نه راونيسم دې دپاره چه تاسو ئې ووينئ بيا ما ته ښکاره شوه چه دا کار ونکړم- (مسلمؒ)

**تشريح :** إِنْكَسَفَتْ : کسوف د نمر توريدو (سورج گرهن) ته وئيلې شي- خِشَاشِ الْأَرْضِ: د زمکې حشرات- (چينجي او نور واړه حيوانات)-

مِحْجَن: هغه امسا ده چه سر کښې ئې گوږ والے وي- تُوْعَدُوْنَهُ : مجهول مخاطب صيغه ده- يعني چه تاسو سره ئې وعده کيدې شي چه هغه جنت او جهنم دي-

**فوائد :** (۱) دې حديث نه يو دا معلومه شوه چه کله نمر تور شي نو پدې کښې مونځ کول مسنون طريقه ده او پدې کښې به شپږ رکوع وي او څلور سجدې وي، لکه تفصيل ئې مخکښې په باب الکسوف کښې ذکر شوې- ځکه چه کله داسې ناشنا حالت راشي او په کائناتو کښې تغير راشي نو الله تعالیٰ ته په مانځه سره توجه پکار ده-

(۲) دا معلومه شوه چه جنت او جهنم الله تعالیٰ د اُوس نه موجود کړيدي او پدې کښې نعمتونه او عذابونه اُوس هم قبر والو ته ملاويږي او روحونو ته هم-

(۳) دے نه د رسول الله ﷺ معجزه ثابته شوه چه په مانځه کښې ئے جنت او جهنم وليدل- (٤) معلومه شوه چه د عذاب او د هلاکت ځائے نه اوړيدل سنت دی- (۵) دا هم معلومه شوه چه بعض خلك پدے وخت کښې هم د دوزخ په عذاب کښې گرفتار دی-
(٦) دا هم معلومه شوه چه عمل کثير (ډير عمل) کول مونځ نۀ خرابوی، رسول الله ﷺ په مانځه کښې مخکښې روستو شوے او لاس ئے اُوږد کړے او مونځ ئے نۀ دے خراب شوے اگرکه دا عمل د مانځه مخالف دے-
(۷) د هر چا نه غلا کول ډير لوی جرم دے او خاصکر د حاجيانو مسافرو نه چه د الله تعالىٰ ميلمانۀ وی- (۸) په حيله او چل کولو سره پردے شے د انسان دپاره نۀ حلاليږی-
(۹) د پيشو د واقعے نه معلومه شوه چه د الله تعالىٰ په بندگانو باندے رحم نۀ کول سبب د جهنم دے، ځکه چه دا د زړۀ سختی ده او جهنم د سختو زړونو د سيزلو دپاره دے- (۱۰) په حيواناتو باندے هم رحم کول لازم دی، او هغے ته بے سببه ضرر ورکول سبب د جهنم گرځی-
(۱۱) بيا د پيشو والا شخص به جهنم کښې هميشه وی؟ که دا زنانه مؤمنه وی نو د اهل سنتو دا عقيده ده چه د کفر او شرك نه علاوه گناهونو باندے بنده دپاره هميشه عذاب نۀ دے بلکه څه وخت پورے به وی، د الله تعالىٰ د علم مطابق-
(۱۲) د حديث مناسبت د باب سره دا دے چه د چا نه په حيله او چل ول سره ښکاره مال وهل هم غصب دے- (۱۳) حيوانات په داسے ځائے کښې بندول چه هلته هلاك شی، برابره ده چه د لوږے په وجه وی او که د تندے يا د گرمئ يا سختے يخنئ په وجه وی- گناه ده- (۱٤) د حيواناتو ساتل جائز دی کله چه انسان هغے ته د هغے د حالت مطابق خوراك څکاك او آرام ورکوی، دليل پرے دا الفاظ دی : (فَلَمْ تُطْعِمْهَا)
(۱۵) په روايت د نسائیؒ کښې دی چه دا زنانه چه پيشو ئے د لوږے نه مړه کړے وه دا د حِمْيَر قبيلے وه- او بعض رواياتو کښې دی چه دا اسرائيليه وه- تطبيق ئے دا دے چه دا د حمير نه وه او حِمير قبيلے څه کسان په يهوديت کښې داخل شوی وو-
(۱٦) صاحب المحجن : په بعض رواياتو کښې د خزاعه قبيلے سردار عمرو بن لحی الخزاعی دے چه دا اولنے هغه شخص دے چه عربو ته ئے سائبه او بحيره وغيره شرك راوړے وو، او د اسماعيل عليه السلام د توحيد دين ئے بدل کړے وو-

## د یو څناور عاریةً غوښتل جائز دی

2943(6) - وَعَنْ قَتَادَةَ قَالَ : سَمِعْتُ أَنَسًا ﷺ يَقُوْلُ : كَانَ فَزَعٌ بِالْمَدِيْنَةِ فَاسْتَعَارَ النَّبِيُّ ﷺ فَرَسًا مِنْ أَبِي طَلْحَةَ يُقَالُ لَهُ : اَلْمَنْدُوْبُ فَرَكِبَ فَلَمَّا رَجَعَ قَالَ :" مَا رَأَيْنَا مِنْ شَيْءٍ وَإِنْ وَجَدْنَاهُ لَبَحْرًا ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

**ترجمه** : او قتادهٔ فرمائی : ما د انس بن مالك ﷺ نه واوریدل چه فرمایل ئے : په مدینه کښې یو ګبراهټ (یره) واقع شو، (پدے خیال چه د کافرانو لښکر مدینے ته نزدے راغلے دے) نو نبی کریم ﷺ د ابو طلحه ﷺ نه په سوال باندے اس واخستو چه هغهٔ ته مندوب (یعنی سست) وئیلے شو، نو په هغے سور شو (او لرے لاړو) هرکله چه راواپس شو نو وے فرمایل : مونږ (د ګبراهټ او دشمن) هیڅ شے ونهٔ لیدو، او یقیناً مونږ دا اس کولاؤ قدم اخستو والا یعنی تیر رفتار وموندو۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

**تشریح** : فَزَعٌ : ګبراهټ، یره، هیبت۔ فَاسْتَعَارَ : استعاره : په سوال باندے یو شے چا نه اخستل۔ وَإِنْ وَجَدْنَاهُ لَبَحْرًا : إِن : نافیه دے او لبحرا کښې لام په معنیٰ د (الا) سره دے۔ یعنی مونږ دے ونهٔ مونده مګر د دریاب په شان تیز چپے وهونکے۔ او د بصرییونو په نیز لام زائد دے۔ (حافظ ابن حجرؒ والعینی) لیکن صاحب د الکوکب الوهاج شرح مسلم بن الحجاج لیکی چه دا تعسف دے یا سهوه ده ددے دواړو حافظانو نه، بلکه صحیح دا ده چه ان مخفف من المثقل دے او اسم ئے محذوف دے (اَیْ اِنَّهُ) او لَبَحْرًا کښې لام ابتدائیه دے، په مبتداء باندے داخلیږی لیکن دلته د خپل ځائے نه خوئیدلے دے او په خبر د مبتداء باندے داخل شوے چه اُوس په دغه خبر باندے ناسخ داخل شوے چه هغه (وجدناه) دے۔ معنیٰ دا ده : یقیناً مونږ دے خامخا دریاب اُوموندهٔ۔ (الکوکب الوهاج ۱۰۹/۲۳)

بحر د اسونو د صفاتو نه یو صفت دے، هغه اس ته وائی چه وَاسِعُ الْجَرْيِ (کولاؤ مزل والا وی۔ ابراهیم بن عرفه النحویؒ وائی : د اس تشبیه د دریاب سره پدے وجه ورکوی چه ددهٔ مزل نهٔ ختمیږی لکه څنګه چه د دریاب اُوبهٔ نهٔ ختمیږی۔ (علام الحدیث) یا تیز رفتار کوی لکه څنګه چه دریاب اُوبه په تیزئ باندے روانے وی۔ (عینیؒ)
نفطویهٔ وائی : ددے معنیٰ ده : (كَثِيْرُ الْجَرْيِ) یعنی ډیر مزل کوی او نهٔ ستړے کیږی۔

(شرح ابن بطال) يا دے د زمکے دپاسه په فضاء کښې داسې لامبو وهي لکه د درياب د چپو په شان، چه دے هم چپې وهي، د يو ځائے نه بل ځائے ته نقل کيږي او په جلتئ روان وي.
(شرح سنن ابى داود : عبد المحسن العباد)

اَلْمَنْدُوْبُ : دا د نَدْبُ او نُدُوْبُ نه دے، زخم ته وائي، او په دهٔ باندے هم زخم وو. يا ندب په معنیٰ د هغه انعام سره چه د اسونو د زغلولو په مقابله کښې ملاويږي.
يا ندب طلب ته وائي. يعنى مطلوب اس. چه بل څوك ئے طلب كوى، او دا نوم ورته كيدے شي چه د رسول الله ﷺ د سوريدو نه روستو ورکړے شوے وي. په روايت د بخارى كښې دى : كَانَ فِيْهِ قِطَافٌ. دهٔ کښې مانده گى او سستى وه.

**فوائد الحديث** : (۱) د ابو طلحه رضی اللہ عنہ اس مخکښې ډير سست او مانده وو، پدے وجه ئے د هغے نوم مندوب ايخودے وو، (يعنى سست) ليكن هركله چه نبى كريم ﷺ په هغې باندے سور شو نو د نبى عليه السلام د بركت نه همغه اس ډير چاق او چوبند او تيز رفتار شو. (۲) ددے حديث نه معلومه شوه چه يو څاروے عاريةً (په سوال) باندے چا نه غوښتل او هغه په خپل استعمال كښې راوستل جائز دى. دارنگه يو حيوان په يو نوم سره نامداره كول هم جائز دى. دغه شان د جنگ سامان له هم نوم كيخودل جائز دى.
(۳) دا حديث لكه څنگه چه د نبى عليه السلام شجاعت او بهادرى او كمال جانبازى او شاهسوارى ښكاره كوى چه هركله د دشمن فوج مدينے ته نزدے راتللو خوف په وجه په ټوله مدينه كښې د پريشانئ او گبراهټ يوه فضاء جوړه شوه نو نبى عليه السلام بالكل بغير د خوف او يرے نه د تحقيقِ حال دپاره يواځے تن د مدينے نه بهر اُووتو، او د ابو طلحه رضی اللہ عنہ په بربنډ اس باندے بغير د زين نه كيناستو. دغه شان ددے حديث نه دا هم معلوميږى چه د خوف او پريشانئ په وخت كښې د خوف د زائل كيدو زيرے خلكو ته وركول مستحب دى. په روايت د بخارى (۶۰۳۳) او مسلم (۲۳۰۷) كښې ورسره دا دى : هركله چه نبى عليه السلام راواپس شو نو خلكو ته ئے وفرمايل : [لَنْ تُرَاعُوْا لَنْ تُرَاعُوْا] . تاسو دِے په هيبت كښې واقع نشئ. يعنى مهٔ يريږئ، هيڅ نشته.
(۴) په رواياتو كښې ذكر شوى چه د رسول الله ﷺ د اس نوم هم مندوب وو، او دلته وائى چه د ابو طلحه رضی اللہ عنہ د اس نوم مندوب وو. ددے تطبيق دا دے چه دا يو اس دے خو اول كښې د ابو طلحه رضی اللہ عنہ وو بيا كيدے شي چه ابو طلحه رضی اللہ عنہ رسول الله ﷺ ته هبه كړے

وی، یا ترے رسول الله ﷺ په پیسو اخستے وی. یا دا دوه اسونه دی، او د دواړو نوم یو شان ایخودے شوے دے. (۵) د یو شی تشبیه د بل شی سره ورکول جائز دی، او دا په پوهه کښے ډیره آسانی راولی.

## بنجر (شاړه) زمکه آبادونکے د هغه زمکے مالك دے

## الفصل الثانی

2944 (7) وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّهُ قَالَ: "مَنْ أَحْيَا أَرْضًا مَيْتَةً فَهِيَ لَهُ، وَلَيْسَ لِعِرْقِ ظَالِمٍ حَقٌّ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُودَاوُدَ

2945 (8) وَرَوَاهُ مَالِكٌ عَنْ عُرْوَةَ مُرْسَلًا. وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ

**ترجمه**: او سعید بن زید ﷺ نه روایت دے، نبی کریم ﷺ وفرمایل: چاچه یوه شاړه زمکه آباده کړه نو دا د هغهٔ شوه. او نشته د ظالم د رګ دپاره هیڅ حق. (احمدؒ، ترمذیؒ، ابوداودؒ)

**تشریح**: [أَرْضًا مَيْتَةً] د یاء په سکون سره، او شد ورکول هم جائز دی. خو اهلِ لغتو ذکر کړی چه د انسانانو د مړینے دپاره [مَيِّتَةً] په تشدید سره دے، او د غیر انسانانو دپاره په تخفیف سره دے، دے دپاره چه د دواړو ترمینځه فرق وکړے شی. په انسانانو کښے په تشدید سره استعمالول ئے اصل دی. او په غیر انسانانو کښے په تخفیف سره د کثرتِ استعمال د وجے استعمالیږی. مړه زمکه شاړه زمکه ده چه د خپل اصل خِلقت په اعتبار سره د هیچا ملکیت نهٔ وی.

**فوائد**: (۱) ددے حدیث په اوله جمله کښے د احیاء الموات مسئله ذکر ده چه دا په روستو باب کښے تفصیلًا راځی. او دویمه جمله ئے ددے باب سره مناسبه ده. ددے حدیث نه ثابته شوه چه څوك یوه شاړه زمکه چه د هیچا ملکیت نهٔ وی، یعنی سرکاری زمکه وی – خپل ځان دپاره آباده کړی نو دا د هر چانه زیات د هغے لائق دے او په شرعی ملکیت سره د هغے مالك ګرځی. برابره خبره ده که دا زمکه لرې وی اوکه ډیره. ځکه حدیث کښے حد بندی نهٔ ده ذکر شوے.

(۲) او حدیث نه معلومه شوه چه شاړه زمکه آبادول جائز دی او دا د شرعی ملکیتونو نه یو ملکیت دے. او په دے حدیث کښے د آبادولو طریقه نهٔ ده ذکر شوے چه

په څهٔ سره ئې آباده کړی ؟ دا دليل دے چه په دے باره کښې به د مسلمانانو عرف ته رجوع کولے شي نو هر هغه شے چه په دغه علاقه کښې آبادول حسابيږی نو هغه آبادول دی.
او دا آبادول په يو څو شيانو سره راځي : (اول) د شاړے زمکے نه ګير چاپيره ديوال تاؤ کړی، او دا ديوال د عرف مطابق که د هر څهٔ نه وی کچه وی اوکه پوخ، د کانړو نه وی اوکه د ختے نه. لکه ددے وضاحت روستو راځي. ان شاء الله. (دويم) شاړے زمکے ته د کوهي يا نهر يا چينے وغيره نه اُويهٔ بوځي يا په دغه زمکه کښې کوهي وباسي، ځکه د ديوال وهلو نه زيات د زمکے نفع په اوبو سره وی، خو که کوهے ئې وکنستهٔ نو د هغے نه ګير چاپيره به دے صرف د هغے د حريم مالك وی او دا به ددهٔ چراګاه وی، لکه روستو ددے وضاحت راځي. (دريم) هغه د کروندے دپاره سمه کړی، مثلًا : که په دغه زمکه کښے کانړی پراتهٔ وی نو د هغے نه صفا کول، اوکه وُنے وی نو هغه نړول او د هغے رګونه لرے کول او د فصل او کروندے دپاره جوړول.

❁ دا خو د زمکے آبادول شو. ليکن که چا په يوه شاړه زمکه باندے د دغه شيانو په ځائے صرف بنديز ولګولو او بل څوك ئې د زمکے آبادولو نه بند کړو، هغه دا چه په دغه زمکه ئې څهٔ علامه ولګوله لکه کانړی يا خاوره ئې کيښوده، او يا يو لنډے شان ديوال ئې وواههٔ، يائے ازغی يا تختے وغيره کيښودے : نو په دے ټولو صورتونو کښې ديته [إِحْيَاءُ الْأَرْضِ الْمَوَاتِ] يعنی شاړه زمکه آبادول نهٔ وائی، بلکه ديته تحجير يعنی نور خلك بندول وائی، چه په دے کار سره دا زمکه دهٔ سره خاص ده خو دے ئې مالك نهٔ ګرځي، صرف د بل چانه ددے زمکے زيات لائق دے، اوکه دے مړ شي نو ددهٔ وارثان به هم ددے د هر چانه زيات لائق وی.

نو ددے اختصاص حکم دادے چه دهٔ له به څهٔ مودے پورے مهلت ورکړے شي چه دا زمکه چه تا ترے نښے تاؤ کړی دی، آباده کړه، که چرے آباده ئې کړه نو ډيره ښه ده اوکه آباده ئې نهٔ کړه نو دا به هغه چاته ورکړے شي چه هغه ئې آبادولے شي.

(۳) د حديث د ظاهر نه معلوميږی چه په شاړه زمکه آبادولو کښې د بادشاه او خليفه اجازت ضروری نهٔ دے. او دا د جمهورو علماؤ قول دے، (امام شافعیؒ، احمدؒ او د امام ابويوسفؒ او محمد مذهبؒ دے) ځکه رسول الله ﷺ په دے حديثونو کښې د شاړے زمکے د ملکيت دپاره د بادشاه او خليفه د اجازت شرط نهٔ دے لګولے. بلکه صرف په

آبادولو سره ئې د ملکیت حکم لګولې. بله دا چه: شاړه زمکه د بیت المال ملکیت هم نۀ دے بلکه دا یو مباح مال دے لکه وابنۀ او لرګی راټولول. او مباح کښې دا قانون دے چه څوك مخکښې دا حاصل کړی نو د هغۀ وی. د امام ابوحنیفهؒ په نیز په دے کښې د بادشاه اذن او اجازت ضروری دے، ځکه د بادشاه د اجازت نه بغیر زمکه آبادولو کښې کله نزاع او اختلاف راتلے شی، دے وجے نه د بادشاه اجازت ورله ضروری دے. په دے کښې **راجح قول** اولنے دے. ځکه رسول الله ﷺ مطلقًا هر چاته ددے اجازت ورکړے او د بادشاه اجازت ئې په کښې نۀ دے ضروری کړے، او د اختلاف په صورت کښې به بهر حال خلیفه او قاضی ته رجوع کولے شی. البته که اسلامی خلیفه او بادشاه د مسلمانانو د مصلحت دپاره دا بندیز ولګولو چه زمکه به د خلیفه د اجازت نه بغیر نشی آبادولے نو بیا د اولی الأمر اطاعت کول لازم دی.

بله دا چه رسول الله ﷺ امام دے او هغۀ پدے الفاظو سره اجازت ورکړے چه چا شاړه زمکه آباده کړه نو دا ددۀ شوه. نو دا سلطانی اذن او شرعی تملیك شو. (فتح ذی الجلال) او ددے باقی تفصیل روستو باب کښې راروان دے.

لِعِرْقٍ ظَالِمٍ حَقٌّ: (عرق ظالم) دا یا مضاف مضاف الیه دی، یا موصوف صفت دی او ظالم صفت د صاحب العرق دے، یا د عرق دے، اَیْ ذِیْ ظُلْمٍ، یعنی ظلم والا رګ. د ظالم د رګ دپاره هیڅ حق او استحقاق نشته: ددے مطلب دا دے چه که یو تن د بل چا آباده کړے زمکه کښې کرونده وکړی یا په هغے کښې څه ونے نالے کړی نو هغه ددے په وجه ددے زمکے مالك نشی جوړیدے. یا مطلب دا دے چه یو تن د بل چا په زمکه کښې کرونده وکړی یا بوټے نال کړی نو ددۀ دپاره دا حق نۀ جوړیږی چه دے خپل بوټے یا فصل په دغه زمکه کښې باقی پریدی بلکه مالك له جائز دی چه دا وربیبی او دا د بیخ نه اُوباسی او په دۀ به هیڅ تاوان نۀ وی. (السراج المنیر شرح الجامع الصغیر ۳/۳٤٤)

**درجة الحدیث**: [صحیح] أبوداود: ۳۰۷۳، ترمذی: ۱۳۷۸، نسائی سنن کبری: ۳/٤۰۵، أحمد: ۵/۳۲۷، مالك: ۲/۷٤۳، بیهقی: ٦/١٤٢. هذا الحدیث روی بطریقین (١) موصولًا: عن عروة، عن سعید بن زید (٢) مرسلًا: عن هشام بن عروة، عن أبیه، عن النبی ﷺ. وهذا هو المحفوظ عند البزار، والدارقطنی وابن عبد البر وغیرهم. واختلف فی صحابیه ایضا: قیل: جابر، وقیل عائشة وقیل عبد الله بن عمرو. ورجح الحافظ انه سعید بن زید ﷺ، ولکن الاختلاف فی اسم الصحابی لا

يؤثر على الحديث لان الصحابة كلهم عدول والحديث صحيح۔ [واخرجه البخارى : ٢٣٣٥]

## د بل چا مال د هغۀ د زړه د خوشحالئ نه بغير اخستل حلال نۀ دی

2946 ( 9 ) – وَعَنْ أَبِي حُرَّةَ الرَّقَاشِيِّ عَنْ عَمِّهِ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ : " **أَلَا لَا تَظْلِمُوْا أَلَا لَا يَحِلُّ مَالُ امْرِءٍ إِلَّا بِطِيْبِ نَفْسٍ مِنْهُ** ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيْمَانِ وَالدَّارَقُطْنِيُّ فِي الْمُجْتَبٰى.

**ترجمه :** ابو حره رقاشیؒ د خپل تره نه روایت کوی چه رسول الله ﷺ وفرمایل : خبر شئ ظلمونه مۀ کوئ، خبر شئ د هیڅ یو شخص مال حلال نۀ دے مګر د هغۀ د نفس په خوشحالئ سره۔ (بیهقیؒ په شعب الایمان او دارقطنیؒ په مجتبی کښے روایت کړے)۔

**تشریح:** لَا تَظْلِمُوْا : ددے ظلم نه مراد عام دے، د چا په نفس باندے ظلم کول، یا د چا مالونه په ناروا طریقو اخستل، چا ته ضرر ورکول، کنځل، غیبت، وهل ټکول وغیره۔

بِطِيْبِ نَفْسٍ مِنْهُ : یعنی د چا مال به تا له هله حلالیږی چه تا ته ئے د زړۀ په خوشحالئ سره درکوی، تا پرے زور نۀ وی کړے، یا ستا په وجه شرمیدلے نۀ وی، ددے وجه نه اهل علمو لیکلی دی : [مَا أُخِذَ عَلٰى سَيْفِ الْحَيَاءِ فَهُوَ حَرَامٌ] ۔ کوم شے چه د حیاء په توره واخستے شی نو دا هم حرام دے۔ مثلًا یو تن تا نه په ډکه مجمع کښے سوال وکړی، او ستا زړۀ نۀ وی چه هغۀ ته ورکړه وکړے لیکن د خلکو د شرم نه دِے ورته ورکړل نو دا هغۀ دپاره حرام شو۔ څکه چه پدے کښے د هغۀ د زړۀ خوشحالی نشته، ډیر خلک د دکاندار نه یو شے اُوچت کړی او دا ورته وائی چه دا مے واخستو اجازت کوه۔ او د مالك زړۀ نۀ وی دا هم حرامه ده، په فروټو، ګوړو وغیره کښے دا کار خلك کوی، ګوړے پوټے اُوچت کړی، یا یوه مالټه یا آم یا بادام او مونګ پهلئ پورته کړی او روان شی۔

دا حدیث قاعده کلیه ده، ډیر مسائل پکښے داخلیږی۔

**درجة الحديث** :[اسناده ضعيف والحديث صحيح]، دارقطنى : ٣/٢٤، عن انس والبيهقى : ٦/١٠٠، وابن حبان : ٥٩٧٨، من حديث ابى حميد بمعناه وللحديث شاهد من حديث انس وعمرو بن يثربى عند الدارقطنى واحميد الساعدى عند ابن حبان : ١١٦٦، وابن عباس عند البيهقى وقد خُرِّجَتْ احاديثهم فى الارواء : ١٤٥٩]

## د چا مال لوټ کونکے د اسلامي برادرئ فرد جوړیدو قابل نهٔ دے

2947 (10) – وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّهُ قَالَ: " لَا جَلَبَ وَلَا جَنَبَ وَلَا شِغَارَ فِي الْإِسْلَامِ وَمَنِ انْتَهَبَ نُهْبَةً فَلَيْسَ مِنَّا ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

**ترجمه** : او عمران بن حصین ﷺ د نبی کریم ﷺ ارشاد نقل کوی چه هغهٔ وفرمایل: نهٔ جلب (جائز) او نهٔ جنب (جائز) او نهٔ شغار (بدل نکاح) په اسلام کښے (جائز) ده۔ او چا چه (یو مسلمان) لوټ کړو نو هغه زمونږ نه نهٔ دے۔ (ترمذیؒ)۔

**تشریح** : لَا جَلَبَ وَلَا جَنَبَ : ددے جمله په کتاب الزکاة کښے ددے دوه تفسیرونه ذکر شوی وو۔ مختصر دا چه ددے الفاظو تعلق د سباق سر هم دے او د زکاة سره هم۔ سباق مسابقے او د اسونو د زغلولو مقابلے ته وائی۔ مثلاً دوه کسان پدے شرط باندے یو بل سره د اسونو زغلولو مقابله کوی چه گورو به چه د چا اس به مخکښے کیږی نو په مسابقه کښے "جلب" دا دے چه اس زغلونکے یو تن د خپل اس نه روستو وساتی چه د هغهٔ کار به دا وی چه هغه به اس وهی، آوازونه به پرے کوی او هغه به زغلوی۔ یا ډیر کسان روستو نه د اس پسے آوازونه کوی دے دپاره چه ددے شخص اس مخکښے شی او مقابله وگټی۔ او "جنب" دا دے چه اس زغلونکے یو بل اس د ځان سره په اړخ کښے روان کړی دے دپاره چه که دا اس ستړے شی نو په بل اس باندے به سور شی او مخکښے به لاړ شی۔

په زکاة کښے د "جلب" صورت دا دے چه زکاة وصول کونکے چه کله د زکاة وصولولو دپاره خلکو ته راشی نو د کلی نه بهر یو ځائے کښے کینی او یو تن راولیږی خلکو ته ووائی چه په چا باندے زکاة واجب دے هغه دِے زکاة مال دلته راولی۔ او د "جنب" صورت دا دے چه په کوم شخص باندے زکاة واجب وی هغه خپل مال واخلی او یو لرے ځائے ته لاړ شی او زکاة وصولونکی ته ووائی چه هغه دِے د زکاة وصولولو دپاره هلته راشی۔

وَلَا شِغَارَ فِي الْإِسْلَامِ : "شغار" د بدل نکاح ته وائی، په لغت کښے د شغر الکلب نه اخستے شوے۔ سپے چه کله د بول په وخت خپه پورته کړی۔ دلته هم دواړه کسان یو بل ته درگذر کوی او یو بل سره آسانی کوی۔ یا د شَغَرَ الْبَلَدُ نه دے، په معنیٰ د خالی والی

سره، دلته هم دا نکاح د مهر نه خالي ده، دارنګه د خير او برکت نه خالي ده، ځکه چه پدے نکاح کښے فساد دے۔ او په شريعت کښے شغار دے ته وائي چه يو تن خپله خور يا لور چا ته په نکاح باندے پدے شرط سره ورکړي چه هغه به خپله خور يا لور په نکاح باندے دۀ ته ورکوي او مهر هيڅ مقرر نۀ وي۔ بلکه دا شرط د مهر قائمقام وي۔ دا تفسير نافعؒ کړيدے۔ ليکن د احاديثو د ظاهر نه معلوميږي چه مهر مقرر کړي او که نۀ خو پدے شرط سره نکاح کول حرام دي۔ او علت د حرمت دا دے چه پدے کښے فساد دے، جنګ جګړے پيدا کيږي۔ بعض اهل علمو وئيلي دي چه که مهر مقرر شي نو بيا حرامه نۀ ده ليکن دا قول ضعيف دے، وجه دا ده چه عباس بن عبد الله بن عباس خپله لور عبد الرحمن بن الحکم ته او عبد الرحمن بن حکم خپله لور عباس ته په نکاح ورکړه [وَكَانَا جَعَلَا صَدَاقًا] ۔ او دواړو مهر مقرر کړے وو نو معاويه ﷺ مروان ته حکم وکړو (کله چه هغه په مدينه باندے والي وو) چه د دواړو ترمينځ جدائي راولي۔ او وے فرمايل: [هٰذَا الشِّغَارُ الَّذِیْ نَهٰی رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنْهُ] دا هغه د بدل نکاح ده چه رسول الله ﷺ د همدے نه منع فرمائيلے ده۔ دا دليل دے چه اګرکه مهر مقرر شوے وي بيا هم دا نکاح حرامه ده، ځکه چه د مهر په مقررولو سره سبب د حرمت نۀ ختميږي چه هغه فساد دے۔ بلکه دا نکاح په مقابله د نکاح کښے ده، برابره ده مهر مقرر وي او که نۀ۔ او تفصيل به ئے په کتاب النکاح کښے نزدے راشي ان شاء الله تعالىٰ۔

**درجة الحديث** :[صحيح] ابوداود : ۲۰۸۱، ترمذی : ۱۱۲۳، نسائی : ٦/۱۱۱، بيهقی : ۳۹۳۷] فی الفتن : وقال الترمذی : حسن صحيح وهو كما قال، فانه وان كان فيه عنعنة الحسن البصری فان الفقرتين الاوليين تقدمتا من حديث انس (۱۷۸٦) والفقرة الاخيرة عند احمد (۳/۱٤۰، ۱۹۷ وغيره من حديثه ايضا وسنده صحيح، وصححه ابن حبان : ۷۳۸، وتأتی فی الكتاب : (۳۵۹٦)

## د هيچا شے په توقو سره اخستو په بهانه مۀ هڅ کوئ

2948 (11) وَعَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيْدَ عَنْ أَبِيْهِ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: " **لَا يَأْخُذُ أَحَدُكُمْ عَصَا أَخِيْهِ لَاعِبًا جَادًّا فَمَنْ أَخَذَ عَصَا أَخِيْهِ فَلْيَرُدَّهَا إِلَيْهِ** ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَرِوَايَتُهُ إِلٰى قَوْلِهِ: "جَادًّا "

**ترجمه** : او سائب بن يزيدؓ د خپل پلار نه هغه د نبی کريم ﷺ نه روايت کوی چه

هغهٔ وفرمايل: په تاسو كښې دِې يو تن د خپل ورور (مسلمان) امسا په توقه او رشتيا سره نهٔ اخلي- پس چا چه دِ خپل ورور امسا واخسته نو هغهٔ ته دِې ئې بيرته واپس كړي- (ترمذیؒ) او د ابوداوُدؒ روايت تر (جادا) پورې دې-

**تشريح** : مطلب دا دې چه مثلًا يو تن د چا نه امسا يا چاړه وغيره په ظاهره كښې د خندا او د توقو په طريقه واخلي ليكن مقصد ئې دا وي چه هغه په دې طريقه غلا كړي لكه چه نن صبا ددې ډير رواج دې چه د يو بل څيز په توقو توقو كښې پټولې شيْ كه چرته مالك ته د هغې معلومات كيږي او هغه ورته رایاد شي نو هغه ورته واپس كوي او كه هغهٔ ته د هغې علم ونشي او هير شي ترې نو بيا هغه د هميشه دپاره غائب كوي، ددې نه رسول الله ﷺ منع وكړه-

لَاعِبًا جَادًّا : د جِدّ نه دې، رشتيا ته وائي- يعنې په ظاهره كښې لوبې او توقې كونكې وي، ليكن په حقيقت كښې په رشتيا سره هغه اخلي-

**فوائد** : (۱) حديث نه معلومه شوه چه په ناحقه د چا مالونه اخستل حرام دي اګركه معمولي شان مال، امسا وغيره ولې نهٔ وي- او دا مضمون په ګنړو حديثونو كښې راغلې- د ابن عمر رضی اللہ عنہ په حديث كښې دي: ((هيڅوك دِې د چا ګډه بزه د هغهٔ د اجازت نه بغير نهٔ لَوشي)) [بخاري: ۲٤۳۵، مسلم: ۱۷۲٦] ددې، او ددې په شان نورو حديثونو نه معلوميږي چه په غير د اجازت نه د چا مال اخستل ناجائز او د هغهٔ په حق باندې تيرې كول دي- دا وجه ده، اسلام غصب حرام ګرځولې او په غلا كښې ئې د غل نه لاس پريكړې- په دې كښې په ((اشتراكيت)) باندې رد دې چه هغویٔ د ذاتي ملكيت قائل نهٔ دي، حالانكه اسلام د ذاتي ملكيت د احترام او په دې باندې د تيري كولو د حرمت قائل دې- (۲) په دې حديثونو كښې د امسا او د پيوو (شودو) ذكر په دې وجه راغلې چه دا هغه شيان دي چه په دې كښې عام طور سره خلك تساهل او چشم پوشي كوي، او د اجازت نه بغيرئې استعمالوي، نو هر كله چه نبي كريم ﷺ ددې نه منع وكړه نو ددې نه لوئي شيان استعمالول به په طريقه اولیٰ سره منع او حرام وي-

د حديث مناسبت د باب سره دا دې چه پردیٔ امسا بغير د خوشحالیٔ د نفس نه اخستل هم د غصب يو صورت دې-

**درجة الحديث**: [صحيح] أحمد: ٤٢٥/٥، ابن حبان: ٥٩٧٨، بزار: ١٣٧٣، بيهقي: ١٠٠/٦،

صحيح الترغيب والترهيب: ۱۸۷۱. وعزوه للحاكم وهم منه رحمه الله.:

## تاته غلا کړے شوے مال چه د چا سره ووینے د هغے نه ئے واخله

2949 ( 12 ) وَعَنْ سَمُرَةَ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ : " **مَنْ وَجَدَ عَيْنَ مَالِهِ عِنْدَ رَجُلٍ فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ وَيَتْبَعُ الْبَيِّعُ مَنْ بَاعَهُ** ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ

**ترجمه :** او سمره ﷺ د نبی کریم ﷺ ارشاد نقل کوی چه هغهٔ فرمایلی : چا چه خپل معین مال د یو سړی سره وموندو نو دے ئے د هغے ډیر لائق دے او اخستونکے به د هغه چا پسے روانیږی چا چه دا خرڅ کړے وی۔ (احمدؒ، ابوداوُدؒ، نسائیؒ)

**تشریح :** مطلب د حدیث دا دے چه مثلاً یو تن د چا کوم مال غصب کړی یا د چا یو شے غلا کړی یا د چا یو ورك شوے شے د هغهٔ لاس ته راغلو او هغه دغه شے په یو بل تن باندے خرڅ کړو نو اُوس که مالك خپل هغه شے د اخستونکی سره اُووینی نو هغهٔ ته دا حق حاصل دے چه هغه دغه شے د هغهٔ نه واخلی او اخستونکے به د هغه چا پسے روانیږی چه دا شے ئے د چا نه اخستے دے ځکه چه هغه غصب کونکے دے او د هغهٔ نه به خپل قیمت واپس اخلی۔

الْبَيِّعُ : په شد د یاء سره مشتری (اخستونکی) ته وائی۔

لیکن دے روایت کښے کلام دے او بل صحیح روایت د مسند احمد کښے داسے دی : چا چه غلا شوے سامان د غل نه واخستو او دے متهم نهٔ وو، نو مالك ته به اختیار ورکولے شی چه یا خو دا په خپل قیمت سره واخلی او یا د غل پسے روان شی۔ لکه روستو راځی۔

**درجة الحديث :**[ضعيف او حسن] ابوداود : ۳۵۳۱، نسائی : ۳۱۳/۷، ۳۱۴، فی البیوع : واحمد : ۱۳/۵، وفیه عنعنة الحسن البصری وله فی المسند : ۱۳/۵، ۱۸، طریق اخری لکن فیها عنعنة الحجاج بن ارطاة وهو مدلس ایضا، (البانی) وقال شعیب الارناووط : الحدیث بمجموع هذین الطریقین حسن ان شاء الله، ولکن قال الالبانی : وفی المسند : ۲۲۶/٤ والنسائی : مرفوعاً خلاف هذا الحدیث واسناده صحیح وهو حدیث : اذا کان الذی ابتاعها (یعنی السرقة) من الذی سرقها غیر متهم یخیر سیدها فان شاء اخذ الذی سرق منه بثمنها وان شاء اتبع سارقه)) آه، فضعفه راجح لمخالفته الحدیث الصحیح۔

## د چا نه چه څه واخلې هغه واپس کړه

2950 (13) - وَعَنْهُ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: "عَلَى الْيَدِ مَا أَخَذَتْ حَتَّى تُؤَدِّيَ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُودَاوُدَ وَابْنُ مَاجه

**ترجمه**: او سمره بن جندب ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ وفرمايل: د لاس په ذمه دے هغه شے چه هغهٔ اخستے دے تر دے پورے چه ادا ئے کړی. (ترمذیؒ، ابوداودؒ، ابن ماجهؒ)

**تشريح**: [عَلَى الْيَدِ مَا أَخَذَتْ] يعنى په لاس باندے واجب دى چه كوم شے ئے اخستے وى د هغے حفاظت به كوى، او كه ترے هلاك شو نو تاوان به وركوى. د لاس نه مراد هغه لاس دے چه په حق يا په ناحقه باندے ئے د بل چا په مملوك شى باندے قبضه اچولے وى. د بل چا دا مملوك شے عام دے كه عاريةً (سوالى) ئے د هغهٔ نه اخستے وى، يا هغهٔ ددهٔ سره امانت ايښے وى، يا ئے ورسره رهن (ګروى) كړے وى. لكه د چانه ئے زمكه يا ونه بوتے يا بل شے نيولے وى. او د روستو الفاظو نه معلوميږى چه دلته د معنیٰ د فهم دپاره تقدير دے. أَيْ: عَلَى الْيَدِ ضَمَانُ مَا أَخَذَتْ، أَوْ حِفْظُ مَا أَخَذَتْ. او رِعَايَةُ مَا أَخَذَتْ. [نيل الأوطار: ٥/٣٣٦ فتح ذى الجلال ٤/١٩٥]

[مَا أَخَذَتْ] هغه شے چه دے لاس پردے مال اخستے وى، په حق سره ئے اخستے وى لكه په رهن، اجاره، اعاره يا امانت سره. او يا په ناحقه ئے اخستے وى لكه په غصب، ډاكے، لوټ مار وغيره سره. اودا حديث ئے په [باب العارية] كښے ځكه ذكر كړو چه عاريه هم دا حكم لرى چه ددے واپس كول واجب دى. [حَتَّى تُؤَدِّيَهُ] تر دے چه په غير د ذات يا صفت بدلولو نه ئے خپل خاوند يا د هغهٔ نائب ته حواله كړى. او لاس ته ئے ځكه نسبت كړے چه انسان په لاس سره تصرف كوى.

**فوائد الحديث**: (۱) حديث دليل دے چه چا د چا مال اخستے وى نو په هغهٔ باندے واجب دى چه هغه خپل مالك يا د هغهٔ نائب ته واپس كړى. مثلاً: مرتهن، مستأجر، مودَع او مُستعير هر يو تن چه كوم شے (په رهن، اجاره، امانت او سوالى) اخستے وى او ددے شيانو نه ئے مقصد پوره شى، نو دا به ورته واپس كوى هركله ئے چه دا شيان د خپل مصلحت او فائدے دپاره اخستى وى. او كه د مالك د مصلحت دپاره ئے يو شے اخستے

وی لکه د هغهٔ د فائدے دپاره ئے یو شے د ځان سره امانت ایښے وی نو کله ئے چه هغه وغواړی نو ورته واپس کوی به ئے۔
(٢) کوم شے ئے چه اخستے دے که هغه موجود وی نو همغه شے واپس کول لازم دی۔ او که هغه شے ضائع شوے وی نو د هغے مثل او بدل به واپس کوی۔ دغه شان غاصب یا غل یا هغه څوك چه پردے مال ئے په دروغژنه دعویٰ یا دروغژن قسم سره اخستے وی نو په دے ټولو صورتونو کښے به دا مال خپل خاوند ته واپس کوی، اګرکه دے په دے واپس کولو باندے ددے د قیمت دوچنده تاوان هم پورته کړی۔ ځکه دهٔ خپله خپل ځان له ضرر ورکړے۔ (٣) د عاریه په مسئله کښے ډیر خلك درے قِسمه **غلطی** کوی : **(أول)** په سوال باندے اخستل شوی شی نه مقصد پوره کړی او بیا هغه نهٔ واپس کوی بلکه هغه ورکره دغسے بیکاره پروت وی او کله د خپل مالك نه هم هیر شی او یا د ډیر وخت تیریدو په وجه مالك ته پته نهٔ لګی چه دا شے مانه چاوړے دے؟ **(دویم)** یو شے په سوال واخلی او بیا هغه په خپل اصلی شکل سره نهٔ واپس کوی بلکه هغه ئے خراب کړے وی، وران ئے استعمال کړے وی۔ لکه دا کار په کتابونو او سامانونو کښے ډیر کیږی۔ **(دریم)** مستعیر دا پردے شے مخکښے بل چاله هم سوالی ورکوی۔ حالانکه په دے باره کښے صحیح خبره داده چه د مالك د اجازت نه بغیر سوالی شے بل چا له سوالی ورکول جائز نهٔ دی۔ او دا د شوافعو او حنابلو قول دے۔ ددے مثال داسے دے لکه یو کور به میلمه له خوراك تیار کړی او هغه ئے وخوری او څهٔ چه پاتے شی هغه د ځان سره یوسی، نو دا کار جائز نهٔ دے ځکه کور والا تاله صرف په خوراك کښے اجازت درکړے، کورته په وړلو کښے ئے اجازت نهٔ دے درکړے۔ ترڅو پورے چه صراحةً اجازت درنهٔ کړی نو کورته وړل ئے جائز نهٔ دی۔ او کومو علماؤ چه سوالی شے بل چاله په سوال ورکول جائز ګرځولی نو دا قول ضعیف دے۔ دوئ دا په مستاجر قیاس کړے چه څوك چانه یو شے په اجاره (کرایه) واخلی نو هغه بل له په اجاره ورکولے شی، خو دا قیاس صحیح نهٔ دے، ځکه په اجاره کښے **تملیک** د منفعت وی، او په عاریه کښے **اباحت** د منفعت وی، تملیك د منفعت نهٔ وی۔ دے وجے نه په سوالی شی کښے چه کوم منفعت ستا دپاره مباح ګرځولے شوے، نهٔ دا بل چاته نشے منتقل کولے۔ [المغني: ٣٧٤/٧، مغني المحتاج : ٢٦٤/٢]

البته که اصلی مالك اجازت وکړی چه سوالی شے په سوال ورکولے شے نو بیا په اتفاق

د فقهاؤ سره جائز دے ځکه په عاريه کښې حق د مالك دے چه هغه په دے راضي دے نو دا عاريه صحيح ده۔

(٤) [حَتّٰى تُؤَدِّيَهُ] نه معلومه شوه چه د عاريه په واپس کولو باندے چه کومه خرچه راځي نو دا به په مُستَعِير باندے وي نۀ په مُعِير باندے، ځکه واپس کولو سره خرچه لازمه ده او واپس کول واجب دي نو خرچه کول پرے هم واجب شو، ځکه د واجبو وسيله هم واجبه وي۔ بله دا چه که د عاريه د واپس کولو خرچه په مستعير نشي بلکه په مالك شي نو بيا به څوك چاله سوالي شے نۀ ورکوي، ځکه شے به هم ورکوي او د جيب نه به پرے خرچه هم کوي؟! دا خو به ډيره گرانه شي۔

(٥) حَتّٰى تُؤَدِّيَهُ نه دا معلوميږي چه کوم شے د لوازمو د انتفاع نه وي نو که هغه بدل شي بيا به هم په مستعير باندے تاوان نۀ وي، لکه مثلاً يو تن چا نه نوے توليه په سوال واخلي نو د غسل نه روستو ځان اُوچولو سره د هغے زيږ والے ضرور زائل کيږي نو دے چه دا توليه واپس کوي نو په هغه صفت سره واپس نشوه په کوم چه ورکړے شوے وه ليکن دا د لوازمو د انتفاع نه ده ځکه چه توليه نه د اُوچولو فائده اخستے کيږي او ددے فائدے سره دا لازمه ده چه ددے زيږ والے به زائل کيږي۔ دغه شان پرے، گاړے وغيره واخله۔ يا حيوان خوار شي، يا جامه زړه شي۔ [الكافي لابن قدامة : ٤/٢١٣]۔

(٦) تؤديه نه دا فائده هم معلومه شوه چه مستعير باندے لازم دي چه دا سوالي شے به د معير کور ته ورويږي او هغۀ ته به داسے نۀ وائي چه تۀ ويرپسے راشه، لکه مثلاً گاړے ترے په سوال باندے واخلي بيا چه کله سفر نه راواپس شي، مالك ته ووائي چه گاړي پسے راشه۔ ځکه چه ادا کول ضراوري دي۔ ځکه چه دا تا د خپل مصلحت دپاره اخستے نو تۀ به ئے ادا کوے، ددے په خلاف صورت دا دے چه که هواء يوه جامه يا بل شے د گاونډي د کور نه ستا کور ته راوالوزوي نو په تا باندے دا لازمه نۀ ده چه هغۀ کره به ئے ورويږے بلکه اطلاع او خبر ورکول لازم دي، چه ستا جامه يا بل شے زما کور ته هواء راغورزولے دے، ورپسے راشه۔ ځکه چه دلته دا جامه دۀ د خپل مصلحت دپاره نۀ ده اخستے چه دۀ باندے ددے ادا کول لازم شي۔ (فتح ذي الجلال)

(٧) دا حديث په اسلامي تشريع کښے د ضمان او تاوان په باره کښے اهمه قاعده ده۔ او د عاريه، غصب او اتلاف په باره کښے يو بنيادي دليل دے۔ چه په دے قاعدے سره غرض

د خلکو د املاکو او حقونو حفاظت کول او د دوئ تر مینځه عدل او انصاف قائمول دي۔ دے دپاره چه څوك د چا مال په ناحقه ونهٔ خوري او د خوړلو په صورت کښې پرے ضمان او تاوان لازم شي۔ والله تعالیٰ اعلم۔

[حجة الله البالغة: ۲/۴۱۸، جمهرة القواعد الفقهية في المعاملات المالية: ۱/۲۰۳، فتح ذي الجلال والاكرام شرح بلوغ المرام: ۴/۱۹۶]

(۸) **اختلاف**: که عاریه د مستعیر سره هلاکه شي نو تاوان ئے شته؟ پدے کښې درے اقوال دي: (۱) **قول**: مستعیر به په هر حال کښې تاوان ورکوي، برابره ده چه د ضمان شرط ئے لګولے وي او که نهٔ۔ دارنګه تفریط (کوتاهي) ئے پکښې کړي وي او که نهٔ۔ دا مشهور مذهب د احمدؒ او شافعيؒ او اسحاقؒ دے۔ او دا د ابو هریره او ابن عباس او عائشے رضی الله عنهم نه نقل دے۔ او دا حدیث الباب ئے دلیل دے۔ چه دلالت کوي چه عاریه په هر حال کښې ادا کول واجب دي۔ دارنګه حدیث د ابو هریره ﷺ کښې دي: عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ مَرْفُوْعًا: أَدِّ الْأَمَانَةَ إِلٰى مَنِ ائْتَمَنَكَ وَلَا تَخُنْ مَنْ خَانَكَ. فَفِيْهِ أَمْرٌ بِرَدِّ الْأَمَانَةِ مُطْلَقًا. : امانت ادا کړه هغه چا ته چه تهٔ ئے امانتدار ګڼړلے ئے او خیانت مهٔ کوه۔ نو دلته امر شوے په ادا کولو د امانت باندے مطلقاً۔

ددے نه علامه شوکانيؒ جواب ورکړے چه اول حدیث په ضمان باندے دلالت نهٔ کوي بلکه د هغے مطلب دا دے چه د عاریه او امانت حفاظت کول لازم دي۔ او دویم حدیث صرف پدے دلالت کوي چه امانت ادا کول لازم دي، ضمان باندے دلالت نکوي۔ یعنی دا پکښې نشته چه کله درنه هلاك شي نو آیا په تا به ضمان وي۔

عبد الرزاقؒ د ابن عباس او ابو هریره رضی الله عنهما نه روایت نقل کړے چه دواړو وئیلي دي: اَلْعَارِيَةُ تُغْرَمُ. د عاریه تاوان به ورکولے شي۔ [مصنف عبد الرزاق: ۱۴۷۹۲]

او عبد الله بن عمر رضی الله عنهما نه نقل دي چه هغهٔ به د عاریه تاوان ورکولو۔ او د مسروقؒ او عطاءؒ نه هم دغه شان اقوال نقل دي۔ المحلی: ۷/۱۳۸]

او دے علماؤ پدے آیت: ﴿إِنَّ اللّٰهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلٰى أَهْلِهَا﴾(نساء: ۵۸) باندے دلیل نیولے دے۔

(۲) **قول**: په هیڅ حالت کښې ددے تاوان ضمانت نشته لکه د نورو امانتونو په شان۔ او دا مشهور مذهب د امام مالكؒ دے۔ (۳) **قول**: که ضمان ئے شرط کړے وي، بیا تاوان

شته او که نۀ وي بيا نشته۔ دا قول د امام احمدؒ د شاګردانو يو جماعت غوره کړے، چه د هغوي نه عکبريؒ، او صاحب الفائق دے۔ او امام احمدؒ ته دا قول ذکر شو نو هغۀ وفرمايل: اَلْمُسْلِمُوْنَ عَلٰى شُرُوْطِهِمْ۔ مسلمانان به د شرطونو حفاظت کوي۔

(٤) څلورم **قول** دا دے چه که په دے عاريه کښے ئے تعدي يا تفريط (نقصان) کړے وي نو ضمان او تاوان به ورکوي لکه د نورو امانتونو په شان۔ او دا مذهب د امام ابوحنيفهؒ، اوزاعيؒ، ثوريؒ دے او دا قول د حسن بصريؒ، نخعيؒ، شعبيؒ، عمر بن عبد العزيزؒ دے، او شيخ الاسلام ابن تيميهؒ او ابن القيمؒ او شيخ عبد الرحمن السعديؒ غوره کړے۔ او همدا قول او دريم قول راجح دی۔ **دلائل** ئے دا دی:

(۱) رسول الله ﷺ د صفوان بن اميه ؓ نه زغرے او وُسلې په عاريه سره واخستل نو هغۀ ووېل: أَعَارِيَةٌ مَضْمُوْنَةٌ أَمْ عَارِيَةٌ مُؤَدَّاةٌ؟ قَالَ: بَلْ عَارِيَةٌ مُؤَدَّاةٌ. آيا دا عاريه به د ضمان والا وي او که ادا کولے به شي۔ نبي ﷺ وفرمايل: دا به عاريه مؤداة وي۔ [رواه أحمد: ٤٠١/٣، وأبوداود: ٣٥٦٢، والنسائي والحاكم].

(د عاريه مضمونه او مؤداة فرق دا دے چه عاريه مؤداة کښے که هغه شے باقي پاتے وو نو بعينه هغه شے به ادا کوي، او که هلاك شوے وي (بغير د تقصير نه) نو په مستعير باندے ضمان نۀ وي۔ او عاريه **مضمونه** هغه ده چه که موجوده وي نو واپس کول ئے واجب دي او که هلاکه شوي وي نو د هغے ضمان او تاوان به ورکوي۔ (ابن عثيمين))

(۲) روستو حديث د ابو امامه ؓ کښے راغلي، دا وائي: ما د رسول الله ﷺ نه د حجة الوداع په موقعه واوريدل: [اَلْعَارِيَةُ مُؤَدَّاةٌ، وَالْمِنْحَةُ مَرْدُوْدَةٌ، وَالدَّيْنُ مَقْضِيٌّ، وَالزَّعِيْمُ غَارِمٌ] (عاريه به ادا کولے شي، پيوو دپاره ورکړے څاروے به واپس کولے شي، قرض به ادا کولے شي او ذمه واري اخستونکے تاواني دے) [صحيح: أحمد: ٦٢٨/٣٦، : ٢٢٥٦٠، أبوداود: ٣٥٦٥، ترمذي: ١٢٦٥، ابن ماجه: ٢٠٠٧، وحسنه الترمذي، وليس عنده: وَالْمِنْحَةُ مَرْدُوْدَةٌ، وصححه الألباني في صحيح السنن] (۳) د آيت: ﴿لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا﴾ نه استدلال کوي چه که عاريه هلاکه شوه نو ددۀ په وس کښے ئے واپس کول نشته۔

(٤) علي ؓ فرمائي: اَلْعَارِيَةُ لَيْسَتْ بَيْعًا وَلَا مَضْمُوْنَةً، إِنَّمَا هُوَ مَعْرُوْفٌ إِلَّا أَنْ يُخَالِفَ فَيَضْمَنُ. وإسناده صحيح، رواه ابن أبي شيبة: ٢٠٩٣١].

(عاریه بیعه نهٔ ده او نهٔ ددې ضمان شته، دا یو احسان دے البته که مخالفت وکړی (خیانت یا تقصیر وکړی) نو بیا به ضامن وی)

(۵) عبد الرزاقؒ د عمر فاروق ﷺ نه روایت راوړے هغه فرمائی : [اَلْعَارِيَةُ بِمَنْزِلَةِ الْوَدِيْعَةِ لَا ضَمَانَ فِيهَا إِلَّا أَنْ يَتَعَدّٰى] (عاریه د امانت په شان ده پدے کښې ضمان نشته مگر که زیاتے وکړی (بیا به تاوان ورکوی) [مصنف عبد الرزاق : ۱٤٧٨٥] وفی إسناده حجاج بن أرطاة ولكنه يصلح شاهدا].

(٦) حافظ ابن حزمؒ د آیت نه استدلال کړے : ﴿ مَا عَلَى الْمُحْسِنِيْنَ مِنْ سَبِيْلٍ ﴾ (په احسان کونکو څه لاره د ملامتیا او تاوان نشته) او فرمائی : ﴿ إِنَّمَا السَّبِيْلُ عَلَى الَّذِيْنَ يَظْلِمُوْنَ النَّاسَ وَيَبْغُوْنَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ ﴾ (لاره د ملامتیا او نیوکې په هغه چا ده چه د خلکو سره زیاتے کوی او په زمکه کښې په ناحقه فساد کوی) او سوال باندے شے اخستونکی چه ترڅو زیاتے نهٔ وی کړے نو هغه محسن دے په هغهٔ باندے هیڅ لاره د تاوان نشته او که تاوان پرے راشی نو د آیت خلاف به راشی۔

**خلاصه** : ددې دلائلو نه ثابته شوه چه د عاریه تاوان نشته البته په دوه صورتونو کښې به تاوان ورکوی یو دا چه تفریط (کوتاهی او نقصان) ئے کړے وی، یا ئے ضمان شرط کړے وی او دا قول د قتادهؒ او شوکانیؒ او البانیؒ دے او همدا قول د احناف او په یو قول کښې د مالکیه ؤ هم دے۔ او د دوئ مشهور قول مخکښې ذکر شو۔

(۹) دا حدیث سندًا ضعیف دے۔ خو ددې شواهد شته دے چه هغه ددې مضمون تائید کوی لکه مخکښې ذکر شو۔ او روستو هم راځی۔

**درجة الحديث:** [ضعيف ومعناه صحيح] أبو داود: ٣٥٦١، ترمذي: ١٢٦٦، ابن ماجه: ٢٤٠٠، أحمد: ٨/٥، دارمي: ٢٥٩٦، ابن الجارود: ١٠٢٤، حاكم : ٤٧/٢، بيهقي: ٩٠/٦. وقال الترمذي : حسن صحيح وقال الحاكم : صحيح على شرط البخاري لكن فيه عنعنة الحسن البصري عن سمرة بن جندب وهو مدلس وعنعنة المدلس لا تقبل، وكان يدلس عن الضعفاء الا ان الحديث له شواهد ذكرت سابقا فهو قابل العمل۔ وزاد في رواية غير النسائي وابن ماجه : [ثُمَّ نَسِيَ الْحَسَنُ فَقَالَ: هُوَ أَمِيْنُكَ لَا ضَمَانَ عَلَيْهِ].

## د چا باغ ته چه د ورځې څاروی نقصان ورسوی تاوان ئے نشته

2951( 14 ) - وَعَنْ حَرَامِ بْنِ سَعْدِ بْنِ مُحَيِّصَةَ : أَنَّ نَاقَةً لِلْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ ﷺ دَخَلَتْ حَائِطًا فَأَفْسَدَتْ فَقَضٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ أَنَّ عَلٰى أَهْلِ الْحَوَائِطِ حِفْظَهَا بِالنَّهَارِ وَأَنَّ مَا أَفْسَدَتِ الْمَوَاشِيْ بِاللَّيْلِ ضَامِنٌ عَلٰى أَهْلِهَا. رَوَاهُ مَالِكٌ وَأَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ

**ترجمه** : او حرام بن سعد بن محيصةؒ نه روايت دے چه د براء بن عازب ﷺ يوه اُوښه يو باغ ته ننوته نو هغه ئے خراب کړو، نو رسول الله ﷺ فيصله وکړه چه په باغ والو بانـدے د ورځے د خپلو باغونو حفاظت لازم دے او يقيناً کوم شے چه څاروو د شپے خراب کړے نو د هغے تاوان د څاروو په مالکانو باندے دے۔ (مالكٌ، ابوداودٌ، ابن ماجهٌ)

**تشريح** : الْمَوَاشِيْ : جمع د مَاشِيَةٌ ده، ګډے بزے، اُوښان، غواګانے۔

مطلب دا دے چه که يو څاروے او حيوان د چا باغ او فصل د ورځے خراب کړی نو د هغے تاوان به د څاروی په مالك باندے نهٔ راځی ځکه چه د ورځے د باغ حفاظت د باغ والا ذمه واری ده، لهذا دا د هغهٔ خپله کوتاهی ده چه هغهٔ د باغ نګهبانی او څوکيداری ولے نهٔ ده کړے او د يو حيوان باغ ته ننوتل ئے ولے پريخی دی۔ او که يو حيوان د شپے د چا باغ او فصل خراب کړی نو د هغے تاوان به د څاروی په مالك باندے واجبيږی ځکه چه دا د څاروی د مالك قصور دے چه هرکله په شپه کښے د خپلو څاروو د حفاظت ددهٔ په ذمه دے نو بيا دهٔ خپل څاروی ولے داسے آزاد پريخودی دی چه پردیِ فصلونو او باغونو ته نقصان رسوی۔

دا تهوله خبره هله ده چه کله د څاروی سره خپل مالك نهٔ وی۔ که چرته مالك د څاروی سره وی، برابره ده چه هغه په څاروی باندے سور وی يا ئے راښکلو يا شړلو سره روان کړے وی، نو بيا د ورځے هم څاروی چه څه شی ته نقصان رسولے وی د هغے تاوان به د څاروی په مالك باندے وی برابره ده چه هغه څاروی په خپلو خپو او لاسونو سره نقصان رسولے وی يا په خولے سره۔ او دے کښے دا هم داخل دے چه مالك څاروی د ورځے شړلی وی، او بيا ئے د شپے نهٔ وی رانيولی، يا ئے د شپے آزاد پريخودے وی نو په دهٔ به تاوان راځی۔ او که دهٔ د شپے آزاد نهٔ وی پريخودی، او خپله د اخور او پنغاړی نه ځريدلی وی نو په دهٔ به ضمان نهٔ وی۔

او دا مذهب د امام شافعيؒ او مالكؒ دے۔ او دا حديث ئے دليل دے۔ دويم دليل آيت دے :
﴿ وَدَاوُدَ وَسُلَيْمَانَ إِذْ يَحْكُمَانِ فِي الْحَرْثِ إِذْ نَفَشَتْ فِيهِ غَنَمُ الْقَوْمِ ﴾
نفش د شپے څريدو ته وائي او همل د ورځے او دلته د نفش لفظ ذكر دے، دا دليل دے چه پدے باره كښے د شپے او د ورځے فرق شته۔ كه د شپے وخريړى نو تاوان ئے په مالك شته او كه د ورځے وخريړى نو تاوان ئے په مالك نشته۔ ذكره في التمهيد.
❁ قاضي شريح تابعيؒ هم ددے حديث مطابق فيصله كړے، هغهٔ ته يو واقعه راغله چه د يو جولا په پنبه كښے د چا يوه ګډه څريدلے وه نو قاضي شريح فتوىٰ وركړه چه كه د شپے څريدلى وى نو مالك به ئے تاوان وركوى او كه د ورځے څريدلے وى نو په مالك ئے تاوان نشته۔ بيا هغهٔ دغه آيت ولوستلو۔ ذكره في التمهيد : [٨٨/١١].
(٢) د امام ابو حنيفةؒ په نيز باندے د شپے او د ورځے فرق نشته، په دواړو صورتونو كښے كه د څاروى مالك د څاروى سره نهٔ وى نو په دهٔ باندے د نقصان تاوان واجب نهٔ دے، د ورځے ئے نقصان رسولے وى او كه د شپے۔ ددهٔ قول ددے حديث د ظاهر خلاف راغلے دے۔
ددهٔ دپاره دليل كښے روستو حديث ذكر شوے چه ((اَلْعَجْمَاءُ جُرْحُهَا جُبَارٌ)) چه د څاروى زخم هدر (بے تاوانه) دے۔
ددے جواب دا دے چه دغه حديث صحيح دے ليكن دا عام دے او دا حديث الباب د براء بن عازب ﷺ خاص دے او دا قانون دے چه د عام او د خاص ترمينځ تعارض نهٔ وى، ځكه چه د حيوان عام زخمى كول بے تاوانه دى او كله چه فصل ته ننوځى نو بيا پكښے ددے حديث مطابق فيصله ده۔ نو دا حديث تخصيص راولى په دغه عموم كښے۔
٢- دويم دا چه دغه حديث د زخمى كولو په باره كښے دے، نو صحيح ده چه كله چه حيوان څوك زخمى كړى نو د هغے تاوان به په مالك باندے نهٔ وى، پدے به هم عمل كولے شى او دا حديث د براء بن عازب ﷺ د فصل د خرابولو په باره كښے دے نو پدے به هم عمل كولے شى نو كله چه يو حيوان د چا فصل ته نقصان وركړو نو كه د شپے ئے وركړے وى نو مالك به تاوان وركوى۔ نو د حيوان زخم جبار (هدر) دے ليكن فصل خرابول ئے جبار (هدر) نهٔ دى۔ او دا دواړه خبرے د عقل مطابق دى، ځكه چه انسان د حيوان نه ځان ډير حده پورے بچ كولے شى چه منډه به كړى او فصل خو ځان د حيوان نه نشى ساتلے۔ او دا بعينهٖ فقاهت دے چه امام شافعيؒ په خپل كتاب (مسند الشافعى)

کښې ذکر کړې. (وَهُوَ قَوْلُ أَحْمَدَ أَيْضًا وَغَيْرِهِمْ) انظر البیهقی : ۸/۳٤۳.

[الشافعی فی شرح مسند الشافعی ۵/۳۵۱ لابن الاثیر الجزری]

نو کوم خلك چه صرف یو حدیث اخلی (العجماء والا) او پدې سره دا خاص حدیث غورزوی نو دا د فقاهت نه ډیره بعیده خبره ده، بلکه حدیثونه رد کول دی.

او ددې حدیث مطابق فتویٰ امام شعبیؒ هم ورکړې عبد الرزاق ۱۰/۸۳.

عمر بن الخطاب رضی الله عنه به باغونو والو ته حکم کولو چه دوئ خپل باغونو نه (د اُوښ د سینې پورې) پنغاړې او دیوال تاو کړی دې دپاره چه حیوانات ور اُوړدۀ نشی. بیا به درې کرته واپس کړې شی که بیا هم نۀ منع کیدل نو بیا ډې زخمی کړې شی. عبد الرزاق ۱۰/۸۸۳، کما فی المحلی :٦/٤٤٦]،

عمر بن عبد العزیزؒ حکم کړې وو چه باغ ډې د اُوښ د سینې پورې محفوظ کړې شی. (عبد الرزاق) دا احادیث او آثار ښکاره دلیل دې چه پدې باره کښې به د شپې او د ورځې فرق کولې شی.

**درجة الحدیث** :[إسناده صحیح] ابوداود : ۳۵٦۹، ۳۵۷۰، نسائی : ۵۷۸٤، ابن ماجه : ۲۳۳۲، الصحیحة : ۲۳۸، ارواء : ۱۵۲۷.

## د حیوان او د اُور نقصان بې تاوانه دې

2952 (15) – وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضی الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ :" اَلرِّجْلُ جُبَارٌ وَالنَّارُ جُبَارٌ ". رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ

**ترجمه** : او ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دې چه نبی کریم ﷺ وفرمایل : د خپې (چیت شوې شې) معاف دې، او په اُور (سوزیدلې شې) معاف دې. (ابوداوُدؒ)

**تشریح** : [اَلرِّجْلُ] د خپې نه مراد حیوان دې. د حدیث مقصد دا دې چه که یو حیوان د چا یو شې په خپو سره چخپت کولو سره ضائع کړو نو په هغې سره د هغۀ په مالك باندې تاوان نۀ لازمیږی پدې شرط چه مالك به د حیوان سره نۀ وی. دغه شان که یو تن د غلط مقصد مثلاً ضرر ورکولو نه بغیر صرف د خپل ضرورت یا بلې وجې نه اُور بل کړو او د هغې سپرغئ هوا پورته کړه او د چا په سامان باندې پریوته چه په هغې سره د چا سامان اُوسوزیدو نو پدې صورت کښې په اُور لګونکی باندې تاوان نۀ راځی، پدې شرط

چه دهٔ په کوم وخت اُور لګولو په هغه وخت هوا نهٔ چلیده او د اُور بلیدو نه روستو هوا شروع شوی وی۔ او که دهٔ په داسے وخت کښے اُور بل کړو چه هوا چلیده او پدے سره د اُور نه نقصان رسیدو احتمال وو نو بیا به په دهٔ باندے تاوان واجبیږی۔

**درجة الحديث** :[اسناده ضعيف] ابوداود : ٤٥٩٢ في الديات، نسائي : ٥٧٨٨، ارواء : ١٥٢٦ ـ قال الدارقطني : لم يتابع سفيان بن حسين على قوله الرجل جبار وهو وهم، خالف فيه الثقات، وقال الشافعي هو غلط لان الحفاظ لم يحفظوه هكذا (البيهقي : ١٨١٤٥) وسفيان بن حسين معروف بسوء الحفظ (معالم السنن خطابي : ٣٥/٤) قالوا : اِنَّما هُوَ الْعَجْمَاءُ جُرْحُهَا جُبَارٌ.

## د اضطرار په حالت کښے د پردی څاروی پئ څښکلو اجازت

2953 (16) – وَعَنِ الْحَسَنِ عَنْ سَمُرَةَ ﷺ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ : " **إِذَا أَتَى أَحَدُكُمْ عَلَى مَاشِيَةٍ فَإِنْ كَانَ فِيهَا صَاحِبُهَا فَلْيَسْتَأْذِنْهُ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِيهَا فَلْيُصَوِّتْ ثَلاثًا فَإِنْ أَجَابَهُ أَحَدٌ فَلْيَسْتَأْذِنْهُ وَإِنْ لَمْ يُجِبْهُ أَحَدٌ فَلْيَحْتَلِبْ وَلْيَشْرَبْ وَلَا يَحْمِلْ** ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ

**ترجمه** : او حسنؒ د سمره ﷺ نه روایت کوی چه بیشکه نبی کریم ﷺ وفرمایل : کله چه یو تن ستاسو په څاروو باندے راشی، نو که په هغے کښے د هغوی مالك موجود وی نو د هغهٔ نه دِے اجازت وغواړی او که په هغے کښے نهٔ وی، نو درے آوازونه دِے وکړی که چا جواب ورکړو نو اجازت دِے ترے وغواړی او که هیچا جواب ورنکړو نو هغه دِے ولوشی او ودِے ئے څښکی او څان سره دِے نهٔ وړی۔ (ابوداودؒ)

**تشریح** : پدے حدیث کښے چه کوم اجازت ذکر دے نو ددے تعلق د هغه شخص سره دے چه د اضطرار حالت ته رسیدلے وی یعنی د لوږے په وجه مړ کیږی، نو د داسے شخص دپاره دا اجازت دے چه که هغه د پیوو والا څاروو په خوا کښے وی او هلته د هغوی مالك موجود نهٔ وی چه د هغهٔ نه اجازت اخستو سره د هغے پئ اُوڅکی نو هغه د ذکر شوی هدایت مطابق د هغه څاروو نه د ضرورت په اندازه پئ څکلے شی۔ یا دا حدیث حمل دے په هغه ځایونو باندے چه خلك مسافر د څاروو د پیوو لشلو نه نهٔ منع کوی۔ یا دا په هغه صورت حمل دے چه یو تن په یو کلی تیریږی او هغوی میلمستیا ورنکړی نو د میلمستیا په اندازه د هغوی د څاروو نه پئ لشلے شی چه څان پرے موړ کړی البته څان سره به ئے نهٔ وړی۔ نو دا د هغه حدیث په شان دے چه په هغے کښے دی:

[فَلَهُ اَنْ يُعْقِبَهُمْ بِمِثْلِ قِرَاهُ] [ابوداود: ۳۸۰٦] - (دهٔ له جائز دی چه هغوی نه د خپلے میلمستیا په اندازه څه شے حاصل کړی)

او دا په عام صورت باندے حمل نهٔ دے ځکه چه په آیت کښے دی چه پردے مال په باطله باندے (بغیر د اجازت) نه خوړل حرام دی. او حدیث کښے دی: په غیر د خوشحالئ د نفس نه د چا مال حلال نهٔ دے. امام احمدؒ او اسحاقؒ وغیره وائی چه غیر مضطر انسان هم چه کله په یو باغ ورتیریږی نو د هغے نه څه حاصلولے شی خو پدے شرط چه ځان سره به ئے نه وړی، دا هله چه مالك موجود نهٔ وی. دلیل دا وائی چه د هجرت په سفر کښے ابوبکر صدیق رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم دپاره د قریشو د یو سړی د ګډے نه پئ لشلی وو چه هغه یو غلام څرولے او د هغے مالك غائب وو.

او بل دلیل ئے دا حدیث د سمره رضی الله عنه دے. ځکه چه پدے کښے د ضرورت او اضطرار قید نشته او تاخیر د بیان د وخت د حاجت نه جائز نهٔ دے. او د راتلونکی حدیث په وجه بعض اهل علمو د مسافرو دپاره د یو باغ میوه خوړل جائز کړیدی. لیکن هغے سره یو شرط دے چه روستو راځی.

اول قول والا ددے نه ډیر جوابونه ورکړیدی، (۱) یو دا چه هلته اذن دلالةً موجود وو. ځکه چه هلته مالك غلام ته حکم کړے وو چه څوك تیریږی نو پئ دِے ورکوی. (۲) یا دواړه میلمانهٔ وو او د میلمهٔ حق شته. (۳) یا دواړه مضطر وو. (٤) یا دا چه د ګډے مالك د نبی علیه السلام خکل بد نهٔ ګڼړل. دا هله چه کله په هغهٔ باندے خبر وی، او که نهٔ وی نو دا دواړه مستور وو. (۵) یا دا حربی کافر وو، امان ورله نهٔ وو ورکړے شوے. ذکره النووی فی شرح مسلم باب شرب اللبن (۲۷۹).

علامه توریشتیؒ وائی: بعض اهل علمو دا قسم احادیث په لوږه او ضرورت باندے حمل کړیدی ځکه چه دا د هغه نصوصو مقاومت نشی کولے چه هغه د مسلمان د مال په تحریم باندے دلالت کوی. امام نوویؒ وائی: که د غیر مضطر انسان د باغ یا د طعام په مالك باندے ناز او نیازبین توب وی پدے طریقه چه د هغهٔ یقین یا غالب ګمان وی چه که دے بغیر د اجازت د هغهٔ نه د هغهٔ طعام وخوری نو هغه پرے نهٔ خفه کیږی نو بیا ورله خوراك جائز دے.

**درجة الحديث**: [صحيح] ابوداود: ۲٦۱۹، الترمذی: ۱۲۹٦، وقال حسن غريب، وفيه عنعنة الحسن البصری لکن له شاهد من حديث ابی سعيد الخدری مرفوعا نحوه اخرجه ابن ماجه: ۲۳۰۰، واحمد: ۳/۸۵، ۸٦، وصححه ابن حبان (۱۱٤۳) ووافقه الذهبی وهو كما قالوا (البانی)

## د پردی باغ میوے د مالك د اجازت نه بغير خوړلو مسئله

2954 (17) – وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: " **مَنْ دَخَلَ حَائِطًا فَلْيَأْكُلْ وَلَا يَتَّخِذْ خُبْنَةً** ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجه وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ

**ترجمه**: او ابن عمر ﷺ د نبی کریم ﷺ ارشاد نقل کوی فرمائی: څوك چه یو باغ ته ننواته نو هغه (ترے) خوراك کولے شی، او څان سره دِے ئے په کپړه وغیره کښے نۀ وړی۔ (ترمذیؒ و ابن ماجهؒ) او ترمذیؒ وئیلی دی چه دا حدیث غریب دے۔

**تشریح**: ددے حدیث مقصد ددے خبرے عام اجازت ورکول نۀ دی چه هرڅوك وغواړی د چا باغ ته دِے ورځی او میوے دِے شوکوی او خوری دِے ئے ځکه چه پردے شے بغیر د اجازت او مرضئ نه اخستل او خوړل حرام دی بلکه ددے حدیث د مخکښے حدیث په شان مطلب دے چه یا خو په حالتِ د اضطرار باندے حمل دے، یا دا په مسافر باندے حمل دے چه په یو باغ ورتیریږی نو هغه ئے بغیر د وړلو نه په باغ کښے د ضرورت په اندازه خوراك کولے شی۔ لیکن دے سره دا شرط دے چه ددے باغ نه به مالك دیوال یا ازغی نۀ وی تاو کړی او ناظر به ئے نۀ وی بلکه په یو عامه لاره کښے به وی، لکه مثلاً په یوه لاره کښے د کجورے بوټے وی، یا بیرے یا الوچے وغیره وی او د هغے نه دیوال او ازغی تاؤ نۀ وی، ځکه چه کله ترے دیوال او ازغی وغیره تاو کړی نو دا به دلیل وی چه مالك دا نۀ غواړی چه ددے نه څوك خوراك وکړی۔ بیا به خوراك جائز نۀ وی۔ [ابن عثيمين: فتح ذی الجلال]

**خُبْنَةً**: خبنه دے ته وائی چه په غیږه یا جیب وغیره کښے ئے ویسی۔ په اصل کښے د جامے طرف ته وائی۔ یعنی د جامے په یو طرف کښے ئے پټ کړی، داسے به نۀ کوی۔ (تحفة الاحوذی)

**درجة الحديث**: [حسن] الترمذی: ۱۲۸۷ وابن ماجه: ۲۳۰۱ وفيه يحيى بن سليم وهو الطائفی مع انه من رجال الشيخين فقد قال فيه الحافظ: صدوق سيء الحفظ، ومن طريقه اخرجه ابن

ماجه وقال ابن ابی حاتم : حدیث منکر، لکن له شاهد من حدیث ابن عمرو رواه احمد : ۲/۲۲٤، فالحدیث حسن.

## په سوال اخستے شوے شے د امانت حکم لری

2955 (18) — وَعَنْ أُمَيَّةَ بْنِ صَفْوَانَ عَنْ أَبِيهِ : أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ اِسْتَعَارَ مِنْهُ أَدْرَاعَهُ يَوْمَ حُنَيْنٍ فَقَالَ : أَغَصْبًا يَا مُحَمَّدُ ؟ قَالَ :" **بَلْ عَارِيَةٌ مَضْمُونَةٌ** ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ

**ترجمه** : او امیه بن صفوان د خپل پلار (صفوان ﷺ) نه روایت کوی چه بیشکه نبی کریم ﷺ د هغهٔ نه د حنین په ورځ زغرے په سوال واخستے، نو هغهٔ وویل : اے محمد (ﷺ) آیا دا زغرے د غصب په طریقه اخلے ؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل : (نه) بلکه عاریة ئے اخلم چه ضمانت به ئے وی۔ (یعنی بیرته واپس کولے به ئے زما په ذمه وی) (ابوداوُدَ)

**تشریح** : د حنین د غزا په موقعه رسول الله ﷺ څه زغرے د صفوان بن امیه ﷺ نه په استعاره (سوال) سره وغوښتے، نو صفوان ﷺ پدے وخت کښے لا د اسلام په دولت سره نهٔ وو بختور شوے پدے وجه هغه نبی ﷺ نه داسے سوال وکړو چه په ظاهره کښے د ادب نه وړاندے وو لیکن روستو صفوان ﷺ د اسلام په دولت باندے مشرف شو او بهترین مسلمان ترے جوړ شو۔

ددے حدیث مسئله مخکښے ذکر شوه چه عاریه د امانت په شان ده که دا ضائع شی نو ددے بدله واجب نهٔ ده، البته که قصداً ئے ضائع کړی نو بیا ددے شی بدله به ورکوی، او دا قول د شریحؒ، حسنؒ، نخعیؒ، سفیان ثوریؒ، ابوحنیفه رحمهم الله دے۔ او د ابن عباس ﷺ، ابو هریره ﷺ، امامِ شافعیؒ، او امام احمدؒ په نیز باندے که عاریه هلاکه شی نو په مستعیر باندے به ددے بدل ادا کول واجبیږی۔ پدے وجه د دویٔ په نیز باندے به د (عارية مضمونة) (چه عاریه به واپس کولے شی) معنیٰ دا ده : (د هلاکت په صورت کښے) به ددے بدل ادا کولے شی۔

او دلته رسول الله ﷺ د صفوان ﷺ سره شرط ولګولو چه که زغرے ضائع شوے نو مونږ به ئے ذمه واریو، ددے بدل به درکوو۔ نو بعض زغرے ضائع شوے، بیا نبی ﷺ هغهٔ ته وفرمایل : که ته غواړے مونږ به تا ته ددے تاوان درکړو، نو هغهٔ عرض وکړو چه ما ته اسلام ددے هر څه نه زیات خوښ دے۔ [المعجم الکبیر للطبرانی : ۷۱۸۷]۔

نو صحیح دا ده چه کله ئے شرط لګولے وی یا ئے تفریط او افراط کړے وی نو تاوان به ورکوی۔ احناف وائی که شرط ئے لګولے وی هم تاوان نشته۔ مګر دا خبره ددے حدیث مخالف ده۔

**تنبیه :** پدے حدیث کښے دوه قسمه الفاظ راځی یو ځل ورته رسول الله ﷺ وفرمایل : (بَلْ عَارِیَةٌ مُؤَدَّاةٌ) بل کښے دی (بَلْ عَارِیَةٌ مَضْمُوْنَةٌ) ددے وجه دا ده چه صفوان رضی الله عنه اول کښے اسلام نهٔ وو راوړے نو عاریة مؤداة سره د هغهٔ زړهٔ اطمینان نکولو، نو نبی علیه السلام ورته د اطمینان دپاره ضمان شرط کړو او دائے وفرمایل: (بَلْ عَارِیَةٌ مَضْمُوْنَةٌ)۔ (ابن عثیمینؒ)

**درجة الحدیث :**[صحیح] ابو داود : ۳۵۶۲، نسائی: ۵۷۷۹، واسناده ضعیف مضطرب فیه جهالة امیة بن صفوان وشریك بن عبد الله النخعی القاضی سیء الحفظ، لکن له شاهدان یتقوی بهما خرجهما الالبانی فی الارواء : (۱۵۱۳) وقال البیهقی : وبعض هذه الاخبار وان کان مرسلا فانه یقوی بشواهده مع ما تقدم من الموصول، بیهقی : ۱۱۸۱۵.

## مستعار (سوالی) شے واپس کول واجب دی

2956 (19) – وَعَنْ أَبِیْ أُمَامَةَ رضی الله عنه قَالَ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ یَقُوْلُ : " اَلْعَارِیَةُ مُؤَدَّاةٌ وَالْمِنْحَةُ مَرْدُوْدَةٌ وَالدَّیْنُ مَقْضِیٌّ وَالزَّعِیْمُ غَارِمٌ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ وَأَبُوْدَاوُدَ

**ترجمه :** او ابو امامه رضی الله عنه فرمائی : ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل چه فرمایل ئے : عاریه (سوالی شے) به ادا کولے شی او سوالی ګډه بیزه به (خپل مالك ته) واپس کولے شی، او قرض به ادا کولے شی (یعنی د قرض ادا کول واجب دی) او ذمه وار به تاوان ورکوی۔ (یعنی که څوك د چا د قرض وغیره ذمه واری واخلی نو د هغے ادائیګی به په دهٔ باندے لازمه وی)۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ)

**تشریح :** مُؤَدَّاةٌ : یعنی سوالی شے به ادا کولے شی، یعنی که موجود وی هغه به ادا کوی او که هلاك شوے وی نو د هغے قیمت به ادا کوی۔ دا هله چه کله ئے تعدی کړی وی او که تعدی نهٔ وی کړی بلکه خپله هلاك شوے وی نو بیا پرے ضمان نشته۔

اَلْمِنْحَةُ : منحه په سوال باندے ګډه بزه چا له د پیوو دپاره ورکول چه کله اُوچه شی بیرته به ئے مالك ته واپس کوی۔ یا چا ته خپله زمکه یا باغ د فصل او میوے وغیره خوړلو دپاره ورکړی۔ دا هم منحه ده۔ لهذا په منحه کښے چونکه صرف د منفعت مالك

جوړه ول وی نۀ د اصل شي پدے وجه چه کله د دغه شي نه فائده واخلی نو بیرته مالك ته واپس کول به ئے واجب وی۔

وَالدَّيْنُ : یعنی چا د چا نه قرض واخستو، یا ئے پرے څه ورخرڅ کړل او هغۀ ته قیمت پاتے شو نو دے به دغه قرض او قیمت ادا کوی۔

وَالزَّعِيْمُ غَارِمٌ : یعنی کفیل او ضامن چه د کوم شي ضمانت او کفالت کړے د هغے تاوان به ورکوی۔ مثلًا تا د چا ضمانت وکړو نو کله چه مضمون لَهُ مال نۀ ورکوی نو تا نه به اخستے شي، د هغۀ تاوان به تۀ ډکوے۔

**درجة الحدیث**: [صحیح] ابوداود: ۳٥٦٥، الترمذي: ۱۲٦٥، وقال حسن صحیح، وابن ماجه: ۲۳۹۸، والصحیحة: ٦۱۱۱٦۱۰]

## د ونے نه د پریوتی میوے پورته کولو مسئله

2957 (20) – وَعَنْ رَافِعِ بْنِ عَمْرٍو الْغِفَارِيِّ ﷺ قَالَ : كُنْتُ غُلَامًا أَرْمِيْ نَخْلَ الْأَنْصَارِ فَأُتِيَ بِيَ النَّبِيُّ ﷺ فَقَالَ : " **يَا غُلَامُ لِمَ تَرْمِي النَّخْلَ** ؟ " قُلْتُ : آكُلُ قَالَ : " **فَلَا تَرْمِ وَكُلْ مِمَّا سَقَطَ فِيْ أَسْفَلِهَا** " ثُمَّ مَسَحَ رَأْسَهُ فَقَالَ : " **اَللّٰهُمَّ أَشْبِعْ بَطْنَهُ** ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه. وَسَنَذْكُرُ حَدِيْثَ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ فِيْ "بَابِ اللُّقَطَةِ" إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى

**ترجمه**: او رافع بن عمرو غفاری ﷺ فرمائی: زۀ هلك وم چه ما به د انصارو د کهجورو ونے ویشتلے، نو ما باندے نبی کریم ﷺ راغلو وے فرمایل: اے هلك تۀ دا کهجورے ولے ولے؟ ما وویل: زۀ ئے خورم۔ وے فرمایل: دا مۀ وله او ددے لاندے راپریوتو کهجورو نه خوراك کوه۔ بیا ئے د هغۀ په سر باندے لاس راخکلو او وے فرمایل: اے الله! ددۀ خیټه ماړه کړه۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ، ابن ماجهؒ) او زر دے چه مونږ به د عمرو بن شعیب حدیث په باب اللقطه کښے ان شاء الله تعالیٰ ذکر کړو۔

**تشریح**: نبی ﷺ رافع بن عمرو ﷺ ته د ونے لاندے پریوتو کهجورو خوړلو اجازت پدے وجه ورکړو چه په عام طور باندے د ونو نه پریوتوے میوه خوړلو نه څوك منع نۀ کوی، خاصکر ماشومان د کچه او پریوتو میوو ډیر شوق کوی، پدے وجه ددے نه خلك منع نۀ کوی چه هغه راپورته کړی او وے خوری۔

علامه طیبیؒ وائی: که رافع ﷺ د اضطرار په حالت کښے وے یعنی د لوږے په وجه

مجبور وي نو نبي ﷺ به هغهٔ ته د راپرېوتو کهجورو د خوړلو په اجازت باندې اکتفاء نهٔ کولې بلکه د ونې نه د کهجورو راپرېکولو خوړلو اجازت به ئې هم ورکړې وې.

**درجة الحديث** :[حسن] ابوداود: ۲۶۲۲، ترمذی : ۱۲۸۸، وابن ماجه : ۱۱۸۸، وفي سنده جهالة (جَدَّةُ ابن أَبِي الْحَكَمِ الْغِفَارِيِّ مَجْهُولَةٌ) لٰكِنَّهُ يَتَقَوّٰى بطريق أبي داود وابن ماجه فَإِنَّهُمَا أَخْرَجَاه باسناد آخر وَإِنْ كَانَ فِيهِ جَهَالَةٌ اَيْضًا (البانى فى هداية الرُّوَاةِ) وقال شعيب : اسناد مُحْتَمل لِلتَّحْسِيْنِ، وَلِذٰلِكَ قَالَ التِّرْمِذِيُّ : حَسَنٌ غَرِيبٌ.

## د زمکې د غصب کولو سزا

### الفصل الثالث

**2958 (21) - عَنْ سَالِمٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ : " مَنْ أَخَذَ مِنَ الْأَرْضِ شَيْئًا بِغَيْرِ حَقِّهِ خُسِفَ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلٰى سَبْعِ أَرْضِيْنَ ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ**

**ترجمه** : سالمؒ د خپل پلار (عبد الله بن عمر ؓ) نه روایت کوي چه رسول الله ﷺ وفرمایل : چا چه په ناحقه د زمکې څه برخه واخسته نو د قیامت په ورځ به تر اُوو زمکو پورې په زمکه داخل کړې شي. (بخاريؒ)

**تشریح** : ددې حدیث تشریح او فوائد مخکښې ذکر شو.

**2959 (22) - وَعَنْ يَعْلَى بْنِ مُرَّةَ ؓ قَالَ : سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ يَقُولُ : " مَنْ أَخَذَ أَرْضًا بِغَيْرِ حَقِّهَا كُلِّفَ أَنْ يَحْمِلَ تُرَابَهَا إِلَى الْمَحْشَرِ ". رَوَاهُ أَحْمَدُ**

**ترجمه** : او يعلى بن مره ؓ فرمائي : ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چه فرمایل ئې : چا چه په ناحقه سره (د چا) زمکه ونیوه نو دې به پدې به مکلف کړې شي چه د هغې (توله) خاوره په خپل سر باندې میدان محشر ته راپورته کړي. (احمدؒ)

**تشریح**: څوك چه پردئ زمکه لاندې کړي اګرکه لږه وي، په احادیثو کښې د هغوی مختلفې سزاګانې ذکر شویدي، په اول فصل کښې ذکر شو چه د قیامت په ورځ به د داسې شخص په غاړه کښې د زمکې دغه ټکړه د طوق په شان واچولې شي، په مخکښې حدیث کښې دا سزا ذکر شوه چه چا د چا زمکه په ناحقه قبضه کړه نو د قیامت په ورځ به د زمکې اُومې طبقې پورې ننباسلې شي. دلته دا سزا ذکر شوه چه په ناجائزه طریقې سره د

چا په زمکه باندې قبضه کونکې به د حشر په ورځ پدې خبره مجبوره کړې شي چه هغه ددې زمکې توله خاوره په خپل سر باندې پورته کړي. روستو حديث کښې بله سزا ذکر کيږي. نو د عذاب او سزا مختلف قسمونه او صورتونه دي، چا ته به يو قسم سزا ملاويږي او چا ته بل قسم، او چا ته تولې.

**درجة الحديث** :[اسناده حسن] احمد : ۱۷۵۹٤، فيه ابو ثابت أيمن بن ثابت وهو لا بأس به كما قال أبوداود : فَالسَّنَدُ حَسَنٌ (البانی، وشعيب).

2960 (23) – وَعَنْهُ ﷺ قَالَ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ :" **أَيُّمَا رَجُلٍ ظَلَمَ شِبْرًا مِنَ الْأَرْضِ كَلَّفَهُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ أَنْ يَّحْفِرَهُ حَتّٰى يَبْلُغَ آخِرَ سَبْعِ أَرْضِيْنَ ثُمَّ يُطَوَّقُهُ إِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ حَتّٰى يُقْضٰى بَيْنَ النَّاسِ** ". رَوَاهُ أَحْمَدُ

**ترجمه** : او يعلى بن مره ﷺ فرمائي : ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه فرمايل ئې : کوم يو سړې چه د زمکې يوه لويشت په ظلم سره واخلي نو الله تعالىٰ به ئې (په قبر کښې) پدې خبره مجبوره کړي چه هغه وکنې تردې چه د اُوه زمکو آخر ته ورسيږي بيا به تر قيامت ورځې پورې هغه زمکه طوق جوړيدو سره ددۀ غاړه کښې واچولې شي تردې چه د خلکو ترمينځ فيصله (حساب کتاب) وکړې شي. (احمدؔ)

**تشريح** : يعنې الله تعالىٰ به ورته په قبر کښې ووائي چه دا زمکه تر اُومې زمکې پورې اُوکنه، بيا به ورته د قيامت ورځې پورې دغه زمکه د طوق په شان په غاړه کښې پنځوس زره کالو پورې واچولې شي تردې چه د بندګانو ترمينځ فيصله وشي، څوك اُور ته لاړ شي او څوك جنت ته. دا ئې صرف د قبر او د قيامت د ميدان سزا ده، باقي دا پردې حق دې نو هله معاف کيږي چه بنده ئې معاف کړي نو ددې په وجه به بيا جهنم ته هم ځي. استغفر الله، واتوب اليه. نَعُوذُ بالله مِنَ الْخذلان.

**درجة الحديث** : [اسناده صحيح] احمد : ۱۷٦۰۷، وصححه ابن حبان : ۱۱٦۷، وهو مخرج مع ما قبله فى الصحيحة : ۲٤۰، ۲٤۲]



## ۱۲- باب الشفعة - د شفعې (ملاویدو) بیان

شُفعه په لغت کښې د شَفْعٌ نه دے، جفت ته وائي، او ددے اطلاق په یوځائے کولو او ملاویدو او زیادت باندے کیږي، ځکه تۀ چه یو شے د بل شئ سره یوځائے کړے نو دا جفت شو. او **شرعًا**: شفعه وائي: [اِنْتِزَاعُ الشَّرِيْكِ حِصَّةَ شَرِيْكِهِ مِمَّنِ انْتَقَلَ اِلَيْهِ بِبَيْعٍ وَنَحْوِهٖ] (د شریك خپله حصه د هغه چانه اخستل چه هغۀ ته دا په خرڅولو یا بل شی سره منتقل شوے وی) ددے صورت دادے: چه زید او عمرو په یوه زمکه، کور یا باغ کښې شریك وی او د هر یو دپاره معلومه برخه وی مثلًا نیمائی برخه، نو زید خپله برخه په خالد ورخرڅه کړی، نو عمرو دپاره جائز دی چه د اخستونکی (خالد) نه خپله دا برخه راوګرځوی، او د هغۀ نه ئے په هغه روپو سره واخلی په کومو باندے چه هغۀ اخستے ده. برابره خبره ده که د مشتری (خالد) زړۀ ښۀ وی او که بد. په دے صورت کښې به دغه زمکه یا کور د عمرو وی ځکه دۀ خپله برخه نۀ ده خرڅه کړے.

په دے تعریف کښې د (انتزاع) لفظ راغلے چه دا په زوره اخستلو ته وائي، ددے نه معلومیږي چه شفیع خپله برخه د مشتری د رضا نه بغیر اخستلے شی ځکه دا د هر چانه ددے زیات مستحق دے. نو شفعه یو اختیاری سبب نۀ دے بلکه په دے سره د مشتری نه په زوره دغه کور یا زمکه اخستل کیږي، او دا ځکه چه په دے کښې مصلحت پروت دے چه ددے بیان روستو راځي. او په دے تعریف کښې د [بِبَيْعٍ وَنَحْوِهٖ] مقصد دادے چه کۀ شریکوال خپله برخه په دریمګړی ورخرڅه کړے وی او یائے ورسره په بدله بدله کړے وی او یائے په بل جنایت کښې د هغۀ سره په دے باندے صلح کړے وی، په دے ټولو صورتونو کښې شفیع دپاره شفعه کول جائز دی. خو دے کښې دا شرط دے چه شفعه به مهر، هدیه، هبه، صدقه او وقف نۀ وی ځکه ټولو حدیثونو کښې د بیع لفظ راغلے دے او دغه مذکوره شیان بیع کښې نۀ داخلیږي. او تبادله او صلح په بدل د جنایت کښې د بیع صورت دے. انظر الدین الخالص.

په بل تعبیر سره شفعه هغه ګاونډتوب یا شرکت ته وائي چه د هغے په وجه سره یو

همسایه یا یو شریك ته د بل همسایه یا شریك خرڅیدونکے زمکے یا خرڅیدونکے کور د اخستو یو خاص حق حاصلیږی۔ کوم شخص ته چه دا حق حاصلیږی هغهٔ ته "شفیع" وائی۔ دے ته شفعه پدے وجه وائی چه د شفعه معنیٰ ده یو ځائے کول او ملاوول نو دلته هم دا خاص حق خرڅیدونکے زمکے لره یا کور لره د شفیع د زمکے یا کور سره ملاووی۔

د شفعے مشروعیت او جواز په احادیثو او اجماع سره ثابت دے۔ احادیث خو راروان دی، او اجماع علامه ابن قدامهؒ نقل کړے هغه فرمائی: د علماؤ په دے اجماع ده چه شریکوال دپاره شفعه ثابت ده، هر کله چه هغه زمکه یا کور یا باغ خرڅولے شی چه هغه لا تقسیم شوے نهٔ وی۔ [المغنی: ۷/۴۳۵]

ددے د **مشروعیت حکمت**: دادے چه شفعه په مشترکه زمکو، کورونو او باغونو کښے راځی، او په شرکت کښے په عامه توګه ضرر او مشکلات وی ځکه زیاتره شریکوالان یو په بل ظلم او زیاتے کوی۔ دے وجے نه شریعتِ مطهره دا زیاتے کله په تقسیم سره ختموی چه د هر یو شریکوال برخه سره جدا شی، او کله په شفعے سره چه یو شریکوال ټوله برخه ځانله حاصله کړی، دے دپاره چه دے په دے کار سره هغه متوقع ضرر دفع کړی کوم چه دهٔ ته رسیدل ممکن دی، ولے چه دے به ددا سے شریکوال سره شرکت وکړی چه د هغهٔ شرکت دے نهٔ غواړی۔ په دے کښے د شفیع دپاره فائده داده چه یو خو به دے د نامعلومه شریکوال د شرکت نه ځان بچ کړی، بله دا چه: د خپل ملګری برخه به واخلی او په دے سره به خپل کور، یا زمکه یا باغ فراخه کړی۔ او په دے کار سره مشتری ته هم نقصان نشته ځکه هغهٔ ته خپل رقم ملاویږی۔ ددے نه معلومه شوه چه د شفعے حق ثابتیدل د قیاس خلاف نهٔ دی بلکه د علم او عقل عین مطابق دی۔ [انظر: اعلام الموقعین: ۲/۱۲۰ وفتح ذی الجلال ۴/۲۱۹]

## د شُفعے د جواز بیان او په کومو شیانو کښے شفعه کیږی؟

### الفصل الأول

2961( 1 ) – عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ ﷺ قَالَ: قَضَى النَّبِيُّ ﷺ بِالشُّفْعَةِ فِي كُلِّ مَالَمْ يُقْسَمْ، فَإِذَا وَقَعَتِ الْحُدُوْدُ، وَصُرِّفَتِ الطُّرُقُ فَلَا شُفْعَةَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

**ترجمه**: جابر بن عبد الله ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ په هر هغه شئ کښے د

شفعې فيصله کړې چه هغه تقسيم شوې نۀ وي، او کله چه حد بندي وشي او لارې جدا شي نو بيا د شفعې حق نشته۔ (بخاريؒ)

**تشريح** : قَضَى : فيصلې ته وائي، دا کله شرعي وي او کله گوني او قدري وي۔

[فَإِذَاوَقَعَتِ الْحُدُوْدُ] حدود جمع د حد ده، هغه شي ته وائي چه په هغې سره يو ملکيت د بل ملکيت نه جدا کيږي، يعني کله چه حد بندي وشوه او دغه مملوك شے تقسيم کړے شو او هر چا په خپله خپله برخه ننبه او علامه ولګوله او هر سړي خپله خپله برخه وپيژنده۔ [وَصُرِّفَتِ الطُّرُقُ] د صاد په پيښ او د راء په زير په شد او تخفيف دواړه سره لوستل کيږي۔ [صُرِّفَتْ] يا [صُرِفَتْ] د صرف نه ماخوذ دے خالص ته او اړولو ته وائي، يعني لارے او سرکونه واضح او بيلا بيل کړے شي۔ [فَـلَا شُفْعَةَ] يعني کله چه د شريکانو يوه برخه هغه وخت خرڅه کړے شي کله چه د هر يو برخه دار برخه معلومه کړے شي او لاره ئے جدا جدا کړے شي نو بيا د برخه دار دپاره د شفعې حق نشته۔

## د شفعې حق صرف په زمکه او کور پورے خاص دے

2962 ( 2 ) - وَعَنْهُ ﷺ قَالَ : قَضَى رَسُوْلُ اللهِ ﷺ بِالشُّفْعَةِ فِيْ كُلِّ شِرْكَةٍ لَمْ تُقْسَمْ رَبْعَةٍ أَوْ حَائِطٍ : " **لَا يَحِلُّ لَهُ أَنْ يَّبِيْعَ حَتّٰى يُؤْذِنَ شَرِيْكَهُ فَإِنْ شَاءَ أَخَذَ وَإِنْ شَاءَ تَرَكَ فَإِذَا بَاعَ وَلَمْ يُؤْذِنْهُ فَهُوَ أَحَقُّ بِهٖ** ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ .

**ترجمه** : او جابر بن عبد الله ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ د شفعې فيصله کړے په هر هغه مشترك شي کښې چه هغه تقسيم شوے نۀ وي، (مثلًا) کور وي يا باغ۔ دۀ لره دا جائز نۀ دي چه دا خرڅه کړي تردے چه خپل شريکوال خبر کړي، نو که هغه (شريك ئے) غواړي وابه ئے خلي او که غواړي پرے به ئے ږدي، نو کله ئے چه خرڅ کړو او هغۀ ته ئے خبر ورنکړو نو هغه ددے زيات حقدار دے۔ (مسلمؒ)

**تشريح** : [فِيْ كُلِّ شِرْكَة] شرکة د شين په زير او د راء په سکون سره دے۔ هغه شے چه د دوه يا زياتو کسانو ترمينځه مشترك وي۔ او د بخاري په يو بل روايت کښې دي : [فِيْ كُلِّ مَالٍ] دا د عموم صيغه ده يعني غير منقول شے وي لکه زمکه، کور، پټے او يا منقول وي لکه کتاب، حيوان او هر هغه شے چه په هغې کښې شرکت راځي۔ [رَبْعَةٍ] د راء په زور او د باء په سکون سره، کور، محله اوستوګنے ځائے۔ [حَائِطٍ] باغ او پټے، حائط (ګيره

اچونکے دیوال) ورته څکه وائي چه خلکو به د باغ نه ګیر چاپیره دیوال وهلو۔

[أَنْ يَبِيْعَ] ددے فاعل خلیط او شریك دے چه سیاق پرے دلالت کوی۔ یعنی چه شریکوال خپله برخه خرڅه کړی۔ [حَتّٰى يُؤْذِنَ شَرِيْكَهٗ] یعنی خپل شریکوال ته خبر ورکړی چه زۀ خپله برخه زمکه وغیره خرڅوم، دے دپاره چه که دے په کښے رغبت لری نو بیا دا د اَجنبی سړی نه زیات لائق دے۔

**فوائد او مسائل :** (١) حدیث نه ثابته شوه چه حقِ شُفعه د هر شریکوال دپاره جائز او ثابت دے، او دا په هر هغه زمکه کښے راځی چه د دوه یا زیاتو کسانو ترمینځه مشترکه وی۔ حافظ فرمائی : دا حدیث د شُفعے په ثبوت کښے بنیادی دلیل دے۔ [فتح الباری: ٤/٤٣٦] شیخ عبد الرحمن سعدیؒ فرمائی : ددے حدیث نه د شفعے ټول احکام معلومیږی، په کومو شیانو کښے چه شفعه کیږی او په کومو کښے چه نۀ کیږی۔ [بهجة قلوب الأبرار، ص: ١١٨]

(٢) او حدیث دلیل دے چه د شُفعے حق په هر هغه مشترکه زمکه کښے ثابت دے چه د هغے حدود نۀ وی بیل شوی او لارے ئے نۀ وی جدا شوی، زمکه وی که کورونه او که باغونه وغیره چه هغه د دوو یا زیاتو کسانو ترمینځه شریك وی۔ او دا د حدیث منطوق (واضح مفهوم) دے۔ او ددے مفهوم مخالف دا دے چه کله مشترکے برخے تقسیم کړے شی او حدود او نښے معلومے کړے شی، نو د شفعے حق باطل شو، څکه د شراکت او ګډون د ضرر په وجه چه شُفعه ثابته شوے وه هغه ختم شو۔ ددے نه معلومه شوه چه د شفعے حق په دوه شیانو سره باطلیږی : **(یو)** په تقسیم کولو او د هر شریك په برخه معلومولو سره۔ **(دویم)** په لارو جدا کیدو سره۔ که چرے تقسیم وکړے شی او لارے جدا نشی نو بیا هم د شفعے حق حاصل دے۔

(٣) د حدیث د عموم په وجه شفعه په هر یو شی کښے جائز ده برابره خبره ده که هغه د تقسیمولو قابل وی اوکه نه لکه وړوکے کور یا وړوکے دکان یا کوهے وغیره۔ څکه د شفعے حق د ضرر ختمولو دپاره دے او دا په قابلِ تقسیم او غیر قابلِ تقسیم ټولو شیانو کښے راتلے شی۔

(٤) **اختلاف :** د حدیث د اولنئ برخے نه معلومیږی چه شفعه په هر یو شی کښے مشروع ده، که هغه منقول وی اوکه غیر منقول۔ لیکن د حدیث د روستنئ برخے [فَإِذَا

وَقَعَتِ الْحُدُوْدُ ......] نه معلومیږي چه شفعه صرف په غیر منقول شیانو - زمکه، کورونو او باغونو - کښې راځي. دے وجے نه په دے کښے د علماؤ دوه قوله دي: (أ) یو دا چه شفعه یواځے په غیر منقول شیانو پورے خاص نۀ ده بلکه په منقول شیانو کښے هم راځي، لکه ګاړي موټرے، جامے، لوښي، حیوانات وغیره. او دا د سلفو د یو جماعت، ظاهریهٔ او د امام احمدؒ یو قول دے. او دا مذهب د عطاءؒ او ابن ابی لیلیٰؒ دے. (السراج المنیر) او دا ابن عقیلؒ، شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ، ابن قیمؒ او شیخ ابن بازؒ غوره ګرځولے. د دوئ دلیل د [قَضٰى بِالشُّفْعَةِ فِيْ كُلِّ مَالٍ] الفاظ دي، چه دا منقول او غیر منقول ټولو ته شامل دي. بله دا چه د شفعے د ثابتولو مقصد ضرر دفع کول دي، او ضرر لکه څنګه چه د غیر منقول شئ په شرکت کښے وي نو دارنګه د منقول شي په شرکت کښے هم کیدے شي. (۲) دویم قول دا دے: چه شفعه صرف په غیر منقول شي کښے راځي، لکه زمکے. او دلیل ئے د [فَإِذَا وَقَعَتِ الْحُدُوْدُ ......] الفاظ دي. او دا مذهب د حنابله ؤ دے.

خو اول قول والا وائي چه دا د دغه عام حکم یو فرد دے چه په دے کښے غرض تخصیص نۀ دے. او ددے حدیث آخرنئ برخه د اولنئ خلاف نۀ ده. لهذا اول قول راجح دے.

(۵) او حدیث نه معلومه شوه چه شریکوال دپاره پکار دي چه کله د خپلے مشترکے برخے خرڅولو اراده وکړي نو خپل شریکوال ته به ددے خبر ورکوي، دے دپاره چه هغه ئے واخلي او یا ورته ددے د خرڅولو اجازت وکړي چه په چا ئے خرڅوے په هغے ئے خرڅه کړه. خو که د خبر ورکولو نه مخکښے ئے خپله برخه خرڅه کړه نو بیا ددهٔ شریکوال ددے برخے د هر یو مشتري نه زیات حقدار دے. ❁ او ددے شریکوال دپاره دا جائز نۀ دي چه ددے مشترکے برخے خرڅول پټ وساتي او یا ددے په ګران قیمت باندے خرڅول ذکر کړي دے دپاره چه ددهٔ شریکوال شفعه ونۀ کړي، دا کارونه کول جائز نۀ دي ځکه چه دا شفعه ساقطول او د مسلمان سړي حق باطلول دي.

(٦) د [فَإِنْ بَاعَ وَلَمْ يُؤْذِنْهُ فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ] نه معلومه شوه چه کله شریکوال خپله برخه خرڅه کړي او خپل ملګري ته خبر ورنۀ کړي نو ددهٔ شریکوال دپاره د شفعے حق ثابت دے او دے د هر یو مشتري نه ددے برخے اخستلو زیات لائق دے. خو که هغه ئے په دے باندے خبر کړو او هغهٔ ورته د خرڅولو اجازت وکړو او هغهٔ دا برخه په بل چا خرڅه کړه، بیا د خرڅولو نه پس ئے پرے شفعه وکړه، نو د جمهورو (ابو حنیفهؒ، مالكؒ، شافعيؒ او

نورو) په نیز دده دپاره شفعه کول صحیح دي، ځکه شفعه د خرڅولو نه پس لازمیږي. لیکن د سلفو ډیوې ډلې، سفیان ثوريؒ، ابو عبیدؒ او امام احمدؒ نه یوقول دادې چه په دې صورت کښې د شفعې حق ساقط دې، ځکه د مسلمؒ د روایت نه معلومیږي چه کله خپل شریکوال ته د خرڅولو خبر ورکړي او هغه ورته د خرڅولو اجازت وکړي نو بیا د هغهٔ د شفعې حق نشته. او هم دا خبره قوي ده.

(۷) [فَـإِذَا وَقَعَتِ الْحُدُوْدُ وَصُرِفَتِ الطُّرُقُ]: دې حدیث کښې د شفعې دپاره دوه شرطونه ولګولې شو، یو دا چه د دواړو شریکانو د برخې حدود (نخې) معلومې شي او زمکې جدا جدا شي. دویم دا چه لارې ئې جدا جدا شي. د حدودو په معلومات سره دواړه شریکان د یو بل ګاونډیان شو. او شرکت ئې ختم شو. نو ددې نه معلومیږي که یو کار وشي او بل نهٔ بیا به هم د شفعې حقدار وي، او شفعه به باقي وي. لکه مثلًا : د هر شریك برخه خو جدا جدا معلومه شوه لیکن لاره ئې یوه ده. نو دلته دواړه په لاره کښې شریك دي، نو ظاهر د حدیث دا دې چه دلته شفعه باقي ده. او ددې حکمت دا دې چه کله لاره یوه وي نو د نوي شریك راتللو په وجه به دې شخص ته ضرر رسیږي ځکه چه دا نوې شریك هم په لاره کښې شریك دې، هره ورځ به ئې په لاره کښې غټ ګاړې یا بل شئ اُودرولې وي، او هره ورځ به جګړه وي، وائي به چه زهٔ هم ددې لارې حق لرم. او دا خو ډیر لوی مصیبت دې نو ددې وجه نه مونږ وایو چه ددې ګاونډي دپاره د شفعې حق شته. نو ددې حدیث نه معلومه شوه چه د ګاونډي شفعه نشته مګر کله چه دده د بل ګاونډي سره لاره شریکه وه نو بیا د شفعې حق لري.

(۸) که یو شریکوال خپل بل شریکوال د بیعې نه خبر نکړو او همداسې ئې خرڅه کړه، نو دې ګناهګار دې، ځکه چه پردې حق ئې ضائع کړو. خو آیا دا بیعه به صحیح وي او که نهٔ؟ جواب دا دې چه بیعه صحیحه ده اګرکه سړې ګناهګار دې، ځکه چه دلته په عقد کښې څه فساد نشته چه هغې ته نهي متوجه شي یعني ذات د بیعه کښې فساد نشته بلکه نهي دلته دې ته متوجه ده چه پردې حق ئې ضائع کړو، مګر پدې حالت کښې هم شریکوال د شفعې حق لري. البته که مشتري په جلتئ سره دغه زمکه یا کور وقف وکړو نو بیا ددې شریك د شفعې حق ختم شو ځکه چه د وقف خرڅول ناروا دي. (فتح ذي الجلال) (۹) چه کله د شریکانو برخې او لارې معلومې شوې نو دواړه ګاونډیان

شو۔ نو دا حدیث دلیل دے چه د ګاونډی د شفعے حق نشته کله ئے چه لارے او حدود معلوم وی، او دے کښے اختلاف روستو راځی۔ والله تعالیٰ اعلم۔

## آیا ګاونډی دپاره د شفعے حق شته ؟

2963 (3) - وَعَنْ أَبِي رَافِعٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: اَلْجَارُ أَحَقُّ بِسَقَبِهِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

**ترجمه** : او ابو رافع ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمایل : ګاونډی د خپل نزدے والی په وجه زیات حقدار دے۔ (بخاری)

**تشریح** : [بِسَقَبِهِ] سقب د سین او قاف په زور سره۔ قرب او پیوست والی ته وائی۔ او صَقَب په صاد سره هم دا معنیٰ لری۔ دواړه فصیح لغتونه دی۔ او باء د سببیت دپاره ده او معنیٰ داده : چه د همسایه حق په خیر خواهئ، نیکئ او مدد کښے د عامو مسلمانانو په نسبت، ددهٔ د قرب او نزدیکت په وجه زیات دے۔ یو قول دا هم دے چه ددے مطلب دادے چه همسایه د هر چانه د شفعے زیات حقدار دے۔ ددے سبب دادے چه په دے حدیث کښے په ((احقیت)) کښے دا دواړه احتماله شته دے۔ چه ګاونډی په څهٔ کښے د هر چانه زیات لائق دے؟ په خیر خواهئ او مدد کښے۔ یا په شفعه کښے۔ خو کوم علماء چه دا دویمه معنیٰ اخلی نو په هغوئ دا اشکال دے چه ددے حدیث نه معلومیږی چه ګاونډی د هر چانه په شفعه کښے زیات لائق دے تردے چه د شریك نه هم د شفعے زیات لائق دے، حالانکه دا علماء ګاونډی د شریك نه زیات لائق نهٔ ګنړی، بلکه دوئ وائی : د شفعے حق اول د شریك دے، بیا د ګاونډی۔ دے وجے نه اوله معنیٰ روغه ده چه په دے کښے په شفعه کښے د ګاونډی احقیت ثابتول مقصد نهٔ دے بلکه په نصیحت او معونت کښے ددهٔ احقیت ثابتول دی۔ لهذا دا عام مفهوم دے خو په بعض افرادو پورے خاص دے۔

مګر محدثین دا حدیث ولے په باب الشفعه کښے ذکر کوی ؟ ددے نه معلومیږی چه راجح دا ده چه پدے کښے د شفعے معنیٰ هم شته او د غیر شفعے هم۔

**فائده** : پدے حدیث کښے یو قصه ده چه ابو رافع ﷺ، سعد بن ابی وقاص ﷺ ته وویل : زما هغه دوه کوټے چه ستا په کور (حویلئ) کښے دننه دی تهٔ هغه مانه واخله۔ سعد ﷺ وویل : والله که درنه وائے خلم۔ مسور ﷺ په دے وخت کښے موجود وو، هغهٔ

سعد ﷺ ته ووېل: والله چه ته به دا خامخا اخلې. سعد ﷺ ووېل: بنه نو زهٔ هم په الله تعالىٰ قسم كوم چه زهٔ دا د څلورو زرو (درهمو) نه په زياتو نهٔ اخلم، كه دا رانه يكمشت (نقدې) اخلې اوكه قسط وار. ابو رافع ﷺ ووېل: ماته په دې پنځه سوه ديناره ملاوېږي. خوكه ما د رسول الله ﷺ نه دا ارشاد نهٔ وے آورېدلے چه ((همسايه د قرب او نزدې والي په وجه زيات حقدار وي)) نو ما به تاله دا په څلورو زرو نهٔ وے دركړے، په داسے حال كښې چه ماته پرے پنځه سوه ديناره ملاوېږي. دے نه پس ئے هغه ورته وركړے. (پنځه سوه ديناره د څلورو زرو درهمو نه ډېر زيات قيمت لري) [بخاري، باب عرض الشفعة على صاحبها قبل البيع]. زر ديناره تقريباً دولس زره درهمه وي.

**اختلاف**: آيا د ګاونډي د شفعے حق شته ؟

ددے حديث د ابو رافع ﷺ نه په ظاهره كښې معلومېږي چه ګاونډي هم د شفعے كولو مطلقًا حقدار دے، يعني په لاره يا اوبو وغيره كښې ورسره شريك وي اوكه نه. ليكن روستو راتلونكى (۷) اوم حديث د جابر ﷺ كښې راغلي دي: [اَلْجَارُ أَحَقُّ بِشُفْعَةِ جَارِهِ ...... إِذَا كَانَ طَرِيقُهُمَا وَاحِدًا] ددے نه معلومېږي چه ګاونډي صرف په هغه صورت كښې په ګاونډي باندے د شفعے كولو حق لري چه كله د دواړو لار يوه وي. نو دا حديث د مطلق حديث تقييد كوي او د هغے مراد واضحه كوي.

او همدا **راجحه** خبره ده چه ګاونډي مطلقًا د شفعے حق نهٔ لري بلكه په هغه صورت كښې ئے لري چه د دواړو لاره يوه وي. ددے حديثونو په وجه د علماؤ په دے مسئله كښې اختلاف دے: چه آيا ګاونډي مطلقًا د شفعے حقدار دے اوكه نه ؟ نو په دے كښې درے قوله دي: **(اول قول)**: ګاونډي مطلقًا په هر صورت كښې د شفعے حقدار دے، برابره خبره ده كه ددهٔ د خپل ګاونډي سره څهٔ مرافق (منافع) شريك وي اوكه نه. خو چه كله ددهٔ زمكه او كور خرڅېږي نو ګاونډي په كښې د شفعے كولو حق لري. دا د احنافو، سفيان ثوريؒ، ابن مباركؒ او د يوے ډلے قول دے. د دوئ دليل دا حديثونه دي چه په دے كښې وئيل شوي دي چه ګاونډي د ګاونډي د كور او زمكے د هر چانه زيات حقدار دے. دوئ وائي: لكه څنګه چه يو شريكوال د خپل شريكوال د ضرر نه يرېږي نو دا شان يو ګاونډي د بل ګاونډي د ضرر نه هم يرېږي، يعني د كوم علت په وجه چه شفعه مشروع

شـويـده چـه هـغـه دائـمي ضرر دفع كول دي هغه د ګاونډ په وجه هم راتللے شي نو پدے وجه ګـاونـډي كوشش كوي چه په ګاونډ كښے ئے كوم كور خرخيږي، هغه خپله اخلي۔ نـو كـه بـل سـړے دا كور اخلي نو د ګاونډي په رضا سره به ئے اخلي۔ [نيل الاوطار: ٦/٨١، الفقه الإسلامي: ٤/٨١].

(**دويم قول**): ګـاونـډي په ګاونډي باندے مطلقًا د شفعے حق نۀ لري، لاره ئے شريكه وي اوكـه نـه۔ دا د جـمـهـورو (مالكيانو، شافعيانو، حنابلو، اوزاعي، اسحاق، ابن المنذر) او د سلفو د يوے ډلے قول دے۔ [المهذب: ١/٣٧٧، المغني: ٧/٤٣٦]

او دا د عـمـر فاروق، عثمان، علي ﷺ او ډيرو تـابـعينو قول دے۔ [نيل الاوطار: ٦/٨١]. د دوئ دليل: د جابر ﷺ مخكښے حديث دے: [قَـضَى النَّبِيُّ ﷺ بِالشُّفْعَةِ فِيْ كُلِّ مَالَمْ يُقْسَمْ، فَـإِذَا وَقَعَتِ الْحُدُوْدُ، وَصُرِّفَتِ الطُّرُقُ فَلَا شُفْعَةَ] او د بخاري الفاظ دادي: [إِنَّمَا جَعَلَ النَّبِيُّ ﷺ الشُّفْعَةَ فِيْ كُلِّ مَا لَمْ يُقْسَمْ، فَإِذَا وَقَعَتِ الْحُدُوْدُ، وَصُرِّفَتِ الطُّرُقُ فَلَا شُفْعَةَ]

ددے حـديـث نـه مـعـلـومـه شوه چه شفعه په غير مقسوم شي كښے ده، او كله چه تقسيم وشي، حدود وټاكل شي او لارے جدا شي نو بيا شفعه نشتـه۔ او د دوه ګاونډيانو ترمينځه حـدونـه واقـع شـوي او لارے ئے جدا شوي وي نو يو ګاونډي په بل ګاونډي د شفعے كولو حق نۀ لري۔ دوئ وائي: د شريكوال دپاره خو په دے وجه شفعه ثابته شوے وه چه هغۀ ته د شركـت پـه وجـه ضـرر رسيږي، او كله چه تقسيم وشي نو بيا ضرر ختم شي، نو ځكه شـفـعـه نشتـه، او كه بيا هم د ګاونډ په وجه ضرر راشي نو په بادشاه سره ددے ازاله ممكنه ده۔ دوئ د اول قول والو د دلائلو نه داسے **جواب** كوي چه په دغه حديثونو كښے د (جار) نه مراد (شريكوال) دے ځكه چه دے د خپل شريكوال سره ګاونډيتوب كوي او هغۀ سره پـه مشتـرك كـور كښے اُوسيږي۔ او دا تـاويـل ځـكـه كـوو چـه ددے باب ټولو حديثونو تـرمـينـځ جمع او تطبيق راشي۔ او يا دا وايو چه: يو ګاونډي د بل ګاونډي د كور اخستلو زيـات لائق دے۔ يـعـنـي كـلـه چه دا كور خرخيږي نو پكار ده چه اول ئے خپـل ګاونډي ته پيـش كـړي، اوكـه هـغـه د اخستو رغبت نۀ لري نو بيا دے په بل چا خرڅوي۔ نو ددے نه خامخا دا نۀ معلوميږي چه ګنے ګاونډي د شفعے حق هم لري۔

(**دريم قول**): ګـاونډي د شفعے حق لري خو په دے شرط چه د دواړو ترمينځه مشتركه

مرافق او منافع وی، لکه د دواړو لاره یا ډیران یا لښتې یا کوهې یا غولې (صحن) یا بل یو شے مشترك وی۔ او که په دے شیانو کښې یو شے د دوئ ترمینځه شریك نۀ وی نو بیا یو په بل باندے د شفعے حق نۀ لری۔ دا د امام احمدؒ یو قول دے چه شیخ الاسلام ابن تیمیہؒ، ابن قیمؒ او شیخ عبد الرحمن سعدیؒ غوره گرځولے۔ او دا قول په تابعینو کښې د عمر بن عبد العزیزؒ دے۔ [الانصاف:۶/۲۵۵، اعلام الموقعین: ۲/۱۳۱، بهجة قلوب الأبرابر، ص: ۱۱۹، المنخلة النونية لمراد شكري ص ۲۱۳]

د دوئ **دلیل**: (۱) یو خو د جابر ﷺ مخکښے حدیث دے چه د هغے نه معلومیږی چه د شفعے حق په دوه صورتونو کښې ساقطیږی: (**یو**) چه کله تقسیم وکړے شی او حدود معلوم کړے شی۔ (**دویم**) چه کله لارے جدا کړے شی۔ نو کله چه لا تقسیم نۀ وی شوے نو دا کسان شریکوالان دی، یو په بل شفعه کولے شی۔ دارنګه که تقسیم وشی خو لارے جدا نۀ کړے شی نو بیا هم یو په بل شفعه کولے شی۔ او کله چه لارے جدا شی نو بیا دواړه صرف ګاونډیان شول، او یواځے ګاونډی دپاره د شفعے حق نشته۔

(۲) **دویم دلیل**: د جابر ﷺ حدیث دے: [اَلْجَارُ أَحَقُّ بِشُفْعَةِ جَارِهِ ...... إِذَا كَانَ طَرِيقُهُمَا وَاحِدًا] نو دۀ نه ښکاره معلومه شوه چه ګاونډی به په ګاونډی باندے هله د شفعے حق لری چه کله د دواړو لاره یوه وی۔(ج) **دریم دلیل**: د ابو رافع ﷺ حدیث دے چه دۀ سعد ﷺ ته خپل هغه دوه کورونه پیش کړل چه هغه د سعد ﷺ په حویلئ کښې وو۔ اوږ ددے دواړو لاره هم بیشکه یوه وه۔ (۳) د دوئ بل **دلیل**: دادے چه په مرافقو کښې شرکت داسے دے لکه په مِلْك کښې شرکت، لکه څنګه چه د شریکانو ترمینځه ضرر راتلے شی نو دغه شان د لارے د یووالی په وجه هم کله جنګ جګړے پیښیږی، او شفعه د جنګ جګړو ختمولو دپاره یوه شرعی ذریعه ده۔

دا قول په ټولو اقوالو کښې **راجح** دے ځکه چه په دے سره د ټولو دلائلو ترمینځه جمع او تطبیق حاصلیږی او مطلق په مقید باندے حملیږی۔ نو د ابو رافع ﷺ حدیث مطلق دے، او د جابر ﷺ روستنے حدیث په دے دواړو کښې د لارے د یو والی قید لګوی۔ اوکه په ژور نظرسره وکتلے شی نو د جابر ﷺ مخکښے او روستنے دواړه حدیثونه په یوه معنیٰ باندے متفق کیدے شی، هغه دا چه کله د دواړو ګاونډیانو لاره یوه شی نو دا دواړه په لاره کښې شریکوال شول او مخکښے تیر شول چه د شریکوالانو ترمینځه د شفعے حق جاری

کیدل اتفاقی دی. پاتې شو د دويم قول والو دا خبره چه په دے حديثونو کښې د (جار) نه مراد (شريك) دے نو دا خبره قوی نۀ ده، ځکه د دواړو ترمينځه فرق دے، ځکه په شرکت کښې ملکیت مختلط وی او په ګاونډی توب کښې مُتميَز او جدا وی. دارنګه د شرکت احکامَ غیر وی د جوار د احکامو نه. [اعلام الموقعين: ۱۲۹/۲] بلکه دا چه د حديث آخر د اول نه خلاف کیږی، ځکه د حديث په آخر کښې راغلی: [إِنْ كَانَ طَرِيقُهُمَا وَاحِدًا] او کله چه د (جار) نه مراد شريك واخستل شی نو بيا دا قيد لغوه کیږی ځکه شریکوال بهر صورت د شفعے مستحق دے، لاره ئے يوه وی او که جدا.

او صاحب د اعلاء السنن چه په (۱۷/۱۷) د (فَإِذَا وَقَعَتِ الْحُدُودُ وَصُرِفَتِ الطُّرُقُ فَلَا شُفْعَةَ) داسے تاویل کړے: أَيْ مِنْ جِهَةِ الشِّرْكَةِ. (یعنی کله چه حدود واقع شی او لارے جدا کړے شی نو شفعه نشته يعنی د شراکت په جهت سره د شفعے حق نشته (مطلب ئے دا دے چه د ګاونډ په وجه حقدار دے خو د شراکت په وجه نۀ دے) نو دا تاویل صحیح نۀ دے، ځکه چه يو خو پدے قيد لګولو کښې هيڅ فائده نشته. دويم دلته (لا شفعة) نکره ده په سياق د نفی کښې واقع ده، او نکره په سياق د نفی کښې عموم فائده کوی. او دلته لا د نفی جنس دپاره ده، مطلب دا دے چه هيڅ قِسمه شفعه نشته، نۀ د شراکت د وجه نه او نۀ د ګاونډ د وجه نه. داسے تاويل د مذهب د بچ کولو دپاره کول چه هغه د عربی د لغت او قانون خلاف وی، ظلم دے. تقليد داسے کار په خپل اهل باندے کوی.

نو دلته د (اَلْجَارُ اَحَقُّ بِسَقَبِهٖ) د حديث د جابر ﷺ په وجه مطلب دا وی چه ګاونډی د خپل قرب په وجه زيات حقدار دے، او ګاونډی هله قريب کیږی چه لاره د دواړو شريکه وی. او نور مطلبونه مخکښے بيان شو. والله اعلم وبالله التوفيق.

## ګاونډی به د بل ګاونډی لرګے ددۀ په ديوال کيخودو نه نه منع کوی

2964( 4 ) – وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: " لَايَمْنَعْ جَارٌ جَارَهُ أَنْ يَّغْرِزَ خَشَبَةً فِيْ جِدَارِهٖ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

**ترجمه**: او ابو هريره ﷺ نه روايت دے فرمائی چه نبی کريم ﷺ وفرمايل: هيڅ يو ګاونډی دِے خپل ګاونډی ددے نه نۀ منع کوی چه هغه ددۀ په ديوال کښې موګے ټك وهی. (بخاریؒ، مسلمؒ).

**تشریح** : [لَایَمْنَعُ] دا په جزم سره دے او د نهي صیغه ده، او یا په رفع سره دے او د نفي صیغه ده خو معنیٰ ئے د نهي ده. د احمدؒ په روایت کښې [لَایَمْنَعَنَّ] په نون تاکید سره دے چه دا د جزم د روایت تائید کوي. [خَشَبَةً] په تاء سره دے. بل روایت کښې [خَشَبَهُ] په جمع سره دے، خو د اِفراد په صورت کښې هم ددے نه مراد جنس دے، یعنې یو لرګے وي که ډیر. [یَغْرِزَ] غرز نالول، یا کیښودل.

د ابوداودؒ په روایت کښې دي: بیا خلکو سرونه ښکته کړل نو ابو هریره ﷺ وفرمایل: ثُمَّ یَقُوْلُ أَبُوْهُرَیْرَةَ ﷺ: مَالِيْ أَرَاکُمْ عَنْهَا مُعْرِضِیْنَ؟ وَاللّٰهِ لَأَرْمِیَنَّ بِهَا بَیْنَ أَکْتَافِکُمْ.
څهٔ وجه ده چه زهٔ تاسو ددے نه مخ اړونکي وینم؟ قسم په الله! زهٔ به خامخا دا ستاسو د اوګو ترمینځه دروولم.

[عَنْهَا] او [بِهَا] کښې ضمیرونه مذکوره (سُنة) ته راجع دي کوم چه د هغهٔ په کلام کښې ذکر دے. [مُعْرِضِیْنَ] یعنې ددے عملي کولو ته تادي نهٔ کوئ او یا ددے سُنت آوریدو ته توجه نهٔ کوئ. [لَأَرْمِیَنَّ بِهَا بَیْنَ أَکْتَافِکُمْ] اکتاف جمع د کتف ده اوګه. بل روایت کښې [أَکْنَافِکُمْ] په نون سره دے جمع د کنَف ده جانب او اړخ ته وائي. یعني که تاسو دا سُنت په رضا سره په خپلو لاسونو کښې نهٔ اخلئ نو زهٔ به دا ستاسو د اوګو ترمینځه په زوره درولمه. بعضِ وائي: د [بِهَا] ضمیر [خَشَبَةً] (لرګی) ته راجع دے او معنیٰ داده چه که تاسو د ګاونډي موګے په خپل دیوال کښې نهٔ پریدئ نو زهٔ به دا ستاسو د اوګو ترمینځه کیدم. لکه ددے بل مثال دادے چه عمر فاروق ﷺ محمد بن مسلمه ﷺ ته فرمایلي وو: دا اُوبهٔ پریده چه ستا په زمکه هغهٔ ته لاړے شي که نهٔ وي نو زهٔ به ئے ستا په خیټه روانے کړم. او دا معنیٰ بهتره ده ځکه د اُوګو ترمینځه ویشتلو سره لرګے مناسب دے نهٔ سُنت.

**فوائد او مسائل** : (۱) حدیث نه ثابته شوه چه ګاونډي په ګاونډي باندے ډیر حق لري، هغه دا چه که ګاونډي وغواړي چه د خپل چت موګے د ګاونډي د کور په دیوال کښې ومنډي یا د چت لرګے (تِیر، بَش) د هغهٔ په دیوال کیدي نو هغه به ددے کار نه نشي منع کولے او منع کول به ئے جائز نهٔ وي. ځکه دا د همسایه حق دے، او د هغهٔ زړهٔ ساتل دي. دے دپاره چه هغه بل دیوال کولو ته محتاج نشي چه په هغے باندے خپل لرګی کیدي. خو په دے کښې دا قید دے چه د لرګو والا ګاونډي به دے کار ته ضرورت لري او دیوال والا ګاونډي ته به په دے کښې ضرر نهٔ وي، ځکه دا قاعده ده چه ضرر په ضرر سره

نشي لرے كولے۔ او ددے لرګي په حكم كښے نور داسے شيان هم داخل دي چه هغے ته د يو ګاونډي حاجت وي او بل ګاونډي ته ضرر نۀ وي۔ لكه يو ګاونډي خپلے زمكے ته د بل ګاونډي په زمكه اوبۀ راتيروي او په دے اُوبو راتيرولو كښے اول ګاونډي ته ضرورت وي او دويم ګاونډي ته ضَرَر نۀ وي نو دا اوبۀ منع كول جائز نۀ دي بلكه ګاونډي له اجازت وركول ضروري دي۔

(۲) كه همسايه ته په لرګي كيښودو يا موګي ناولو كښے ضرر او تكليف وو نو بيا په اتفاق د علماؤ سره ددۀ فرمائش منل ضروري نۀ دي۔ دارنګه كه ګاونډي ددے كار ته ضرورت نۀ لرلو نو بيا هم پہ اتفاق د علماؤ سره ددۀ ددے كار سره موافقت كول لازم نۀ دي۔ **اختلاف** صرف په دے صورت كښے دے چه يو ګاونډي دے كار ته ضرورت لري او بل ګاونډي ته ددے كار نه ضِرر نۀ وي۔ نو په دے كښے دوه قوله دي :

(**اول قول**) دادے چه د ګاونډي د اجازت نه بغير د هغۀ په ديوال كښے موګے نالول يا لرګے كيښودل جائز نۀ دي، او نۀ به هغه قانونًا دے كار ته مجبورولے شي البته مستحبه داده چه د خپل ګاونډي دا طلب ومومي۔ او دا قول د ائمه ثلاثه : ابوحنيفهؒ، مالكؒ او د شافعيؒ جديد قول دے۔ د دوئ دليل دادے چه نبي كريم ﷺ فرمائي : [لَا يَحِلُّ مَالُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ اِلَّا بِطِيْبِ نَفْسٍ مِنْهُ] [صحيح: أحمد: ۲۰۱۷۲، بيهقى: ۱۱۳۲۵] (د مسلمان سړي مال صرف د هغۀ په خوښه سره حلاليدے شي) او فرمائي: [اِنَّ دِمَائَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ حَرَامٌ عَلَيْكُمْ] [مسلم : ۱۲۱۸] (ستاسو وينے او مالونه يو په بل حرام دي) او په حديث الباب د ابوهريره ﷺ كښے چه كومه منع راغلے نو دوئ وائي: دا د تنزيه دپاره ده نۀ د تحريم دپاره، دے دپاره چه په دے دواړو دلائلو كښے تطبيق راشي۔

(**دويم قول**) دادے : چه په همسايه باندے واجب دي چه خپل ديوال به د همسايه موګي او لرګي ته پريدي، هر كله چه دۀ ته په دے كار كښے ضرر نۀ وي او ددۀ همسايه ديته محتاج وي، اود انكار كولو په صورت كښے به قانوني لحاظ سره دے كار ته مجبورولے شي۔او دا د احمدؒ، شافعيؒ (قول قديم) اسحاقؒ، ابن حزمؒ او د اهل حديثوؒ د يو جماعت قول دے او دا د عمر فاروق ﷺ مذهب هم دے۔ د دوئ دليل دادے : (أ) دے حديث كښے نهي راغلے او نهي د تحريم تقاضا كوي نو معلومه شوه چه همسايه ددے كار نه منع كول جائز نۀ دي۔ (ب) ددے حديث راوي ابوهريره ﷺ هم ددے حديث نه تحريم فهم

کړے چه ګاونډی منع کول حرام دی او په دے باره کښے ئے سخته دهمکی ورکړے چه که تاسو په دے حکم عمل نهٔ کوئ نو زهٔ به ستاسو په اوګو کښے لرګی درکړم۔ او دا قانون دے چه د حدیث راوی د هر چانه زیات په دغه حدیث ښهٔ پو هیږی، نو د ائمه ثلاثهؒ دا خبره کول چه دغه حکم د استحباب دپاره دے، درست نهٔ دی۔ (ج) ضحاك بن خلیفه ﷺ د محمد بن مسلمه ﷺ نه مطالبه وکړه چه ستا په زمکه باندے زهٔ د اوبو یو لښتے خپلے زمکے ته راتیروم، نو محمد بن مسلمه ﷺ انکار وکړو۔ نو عمر فاروق ﷺ وفرمایل: ((تهٔ ولے د خپل ورور نه هغه شے منع کوے چه هغهٔ ته هم نفع ورکوی او تاته هم نفع درکوی، تهٔ به په دے سره په اول او آخر کښے پتے اوبهٔ کوے او دا تاته څهٔ ضرر هم نهٔ درکوی! نو محمد بن مسلمه ﷺ ووېل: نه! بس قسم دے چه دا کار نهٔ کوم۔ نو عمر فاروق ﷺ وفرمایل: والله چه دا اوبهٔ به دے خامخا تیروئ اګرکه ستا په خیټه باندے ولے نهٔ وی! نو عمر ﷺ ضحاك ته حکم وکړو چه اوبهٔ روانے کړه نو هغهٔ دا کار وکړو))۔

[مالك: ۲/۷٤٦، وصححه الحافظ في الفتح: ٥/١١١]

**راجح قول**: دا دے کوم چه په دے حدیث کښے ذکر شو هغه دا چه ګاونډی به د خپل ګاونډی نه دیوال نهٔ منع کوی، لیکن ددے سره د اجازت غوښتو قید لګول پکار دی، څکه چه کله ګاونډی د ګاونډی نه د لرګی ایښودلو اجازت وغواړی نو په دے سره د ګاونډی په زړهٔ کښے رحم راتلے شی او د ګاونډی سره تعاون کولو ته تیاریدے شی۔ او په دے حدیث کښے هم د ((منع)) لفظ ذکر دے او منع هله راځی چه کله هغه اجازت وغواړی۔ او همدا قول د عقل او نقل دواړو سره برابر دے۔ ولے که یو ګانډی ته تکلیف نهٔ وی او ددے باوجود هغه د ګاونډی د حق لحاظ نهٔ ساتی نو بیا دا څنګه ګاونډ دے! پاتے شو د اولنی قول والا دلائل نو د هغے نه جواب دادے چه هغه عام دلائل دی، اودا حدیث خاص دے، او قانون دادے چه د عام او خاص ترمینځه تعارض نهٔ وی بلکه خاص به په عام باندے مخکښے کولے شی۔ (دویم) دا چه: په دغه دلائلو کښے چه د پردی مال نه منع راغلے نو د هغے د تملیك نه منع راغلے او انتفاع تملیك نهٔ وی۔ او په دے حدیث کښے د انتفاع اجازت راغلے، او نبی کریم ﷺ د دواړو ترمینځه فرق کړے، یو ئے ناجائز او بل ئے جائز کړے۔ (۳) اوس د ترقئ په دے دور کښے اګرکه کچه دیوالونه ختم شوی یا کم شوی لیکن ددے حدیث نه په هر هغه شی کښے استدلال نیول کیږی چه په هغے کښے یو

ګاونډي ته ضرر نۀ وي او بل ګاونډي هغې ته محتاج وي او دا بې شماره شيان كيدې شي. لكه د ګاونډي د ديوال سورې ته كيناستل چه كله ګاونډي ته پدې كښې ضرر نۀ وي، د هغۀ د ديوال سورې لاندې يو شے كيخودل، يا د هغه په ديوال باندې بمبه، پائپ راتيرول وغيره.

(٤) په ذې حديث كښې د ابو هريره ﷺ د فضيلت بيان دې چه دا سنت طريقه ئې راښكاره كړه او مخاطبينو چه په دې باره كښې كومه سستي ښكاره كړې وه هغه ئې رد كړه. او ابو هريره ﷺ چه دا خطاب كومو خلكو ته كړې نو دا صحابه ﷺ نۀ وو، بلكه عام خلك وو. ځكه صحابه كرام ﷺ د سنتو ډير زيات مُتبع وو، هغوئ هيڅ كله د سنتو په اتباع كښې سُستي او ناراستي نۀ كوله.

(٥) باب سره د حديث مناسبت دادې چه لكه څنګه چه د شفعې حق منع كول ناجائز دي نو دغه شان يو ګاونډي په بل ګاونډي باندې حق لري چه د هغۀ نه منافع منع نكړي. والله تعالىٰ اعلم.

## څومره لاره پريخودل پكار دي؟

2965( 5 ) - وَعَنْهُ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: "إِذَا اخْتَلَفْتُمْ فِي الطَّرِيْقِ جُعِلَ عَرْضُهُ سَبْعَةَ أَذْرُعٍ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

**ترجمه**: او ابو هريره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: هركله چه د لارې په باره كښې ستاسو اختلاف راشي، نو د هغې پلنوالې به اُوه ګزه مقررولے شي. (مسلمؒ)

**تشريح**: مطلب دادې چه كله د خلكو د زمكو ترمينځ يوه لاره جوړه شوې وي، او بيا خلك وغواړي چه پدې زمكه كښې آباديانې جوړې كړي، نو پكار ده چه دوئ په اتفاق او اتحاد سره ددې زمكې او كورونو سره لائقه لاره پريدي او ددې نه ډِېر اخوا ديخوا كورونه جوړ كړي ليكن كه په لاره باندې ئې اتفاق رانغلو چه څومره پريدو، اختلاف ئې راغلو، څوك وائي ډيره لاره پريدو او څوك وائي چه كمه، نو فيصله به په څه كوي؟ نو رسول الله ﷺ ددې حل دا خودلے دې چه د لارې دپاره به په پلنوالي باندې اوه لاسونه زمكه متعين كړې شي او ددې اُوه لاسونو په مينځ كښې به هيڅوك آبادې نكوي.

البته كه يوه لاره د مخكښې نه روانه وي او هغه د اُوه لاسونو نه زياته پريخودې شوې وي نو پدې صورت كښې د هيچا دپاره دا جائز نۀ دي چه په زياتي حصه باندې قبضه

وا چوي او دا ووائي چه اُوه لاسونه لاره كافي ده. (علقميؒ)

**فائده** : دا حديث د هغه لارے په باره كښے دے چه موات زمكه وي، يا يو غير مملوكه زمكه ده، خلك ئے اُوس آبادوي نو دلته به لاره اُوه (۷) گزه وي او كه څوك خپل ملكيت كښے لاره جوړه وي نو د هغه لارے اندازه نشته لكه دا خبره امام بخاريؒ په خپل صحيح كښے ذكر كړے.

## د كور يا جائيداد پيسے به صرف په جائيداد او كور باندے لګولے شي

## الفصل الثاني

2966 (6) – عَنْ سَعِيدِ بْنِ حُرَيْثٍ ﷺ قَالَ : سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ يَقُولُ :" **مَنْ بَاعَ مِنْكُمْ دَارًا أَوْ عَقَارًا قَمِنٌ أَنْ لَّا يُبَارَكَ لَهُ إِلَّا أَنْ يَّجْعَلَهُ فِيْ مِثْلِهِ** ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ.

**ترجمه** : سعيد بن حريث ﷺ فرمائي : ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه فرمايل ئے : چا چه ستاسو نه يو كور يا زمكه (جائيداد) خرڅ كړو نو لائقه ده چه دهٔ له به پكښے بركت وانچولے شي مگر كه دا ئے د هغے په شان زمكه باندے ولګوي. (ابن ماجهؒ، دارميؒ)

**تعارف د سعيد بن حريث** ﷺ : قريشي مخزومي صحابي دے، د نبي ﷺ سره د مكے فتح ته حاضر شو چه ددهٔ عمر (۱۵) كاله وو. بيا كوفے ته راغلو او قبرئے په كوفه كښے دے. ابن عبد البرؒ وائي : قبرئے په جزيره كښے دے، هيڅ اولاد ئے نشته.

**تشريح** : دَارًا : يعني جوړ كور. أَوْ عَقَارًا : عقار زمكے ته وائي.

قَمِنٌ : يعني لائق ده. دا د ميم په زبر او زير دواړو سره لوستل جائز دي.

أَنْ لَّا يُبَارَكَ لَهُ : يعني ددے كور يا زمكے په پيسو كښے به ورته بركت نهٔ اچولے كيږي.

**فوائد** : (۱) پدے حديث كښے دا مسئله ده چه څوك كور يا زمكه خرڅه كړي نو پكار دا ده چه د هغے رقم بيرته په زمكه يا كور باندے ولګوي، يعني زمكه يا كور پرے واخلي. ځكه چه داسے پيسے كه په بل شي يا تجارت كښے ولګي نو هغه بے بركته كيږي، وجه دا ده چه زمكه او كور ډيرو فائدو والا وي، د هغے د هلاكت او نقصان خطرات هم ډير كم وي، څوك ئے غلا كولے نشي، د وخت په تيريدو ئے قيمت زياتيږي. په خلاف د منقول څيزونو چه د هغے د غلا كيدو، د سوزيدو، او كميدو هر وخت خطره

وی نو د عقل تقاضا دا ده چه جائیداد دِے اول نه خرڅ نکړے شی او که خرڅ کړے شی نو د هغے قیمت باندے بله زمکه یا کور اخستل پکار دی، ورنه تجارت کښے به ئے برکت نهٔ وی، او دا ډیره د تجربے خبره هم ده، اګرکه د رسول الله ﷺ په خبرو تجربے نهٔ وی پکار بلکه یقین پکار دے، خو مونږ په خپلو سترګو دا کار ولیدو، ځکه د تجربے خبره کوو۔

(۲) او دا حکم د وجوب دپاره نهٔ دے بلکه مستحب دے، د مؤمن د مصلحت او فائدے دپاره دے۔ (۳) بیا د کور او جائیداد نه مراد هغه دے چه دهٔ ته په میراث کښے پاتے وی یا ورته چا په تحفه کښے ورکړے وی، البته که دے د زمکو کاروبار کوی، کورونه اخلی خرخوی نو بیا پدے حدیث کښے نهٔ داخلیږی او دا ددے حدیث د الفاظو (فِیْ مِثْلِهٖ) نه معلومیږی چه دا ئے ابتدائی کور دے، د زمکو کاروبار نهٔ کوی۔

(٤) دارنګه پدے حدیث کښے منع نشته چه د کور یا زمکے پیسے په بل شی کښے استعمالول ناجائز دی، بلکه که د یو تن ضرورت وی، کور یا زمکه خرخه کړی، خپل قرض پرے ادا کړی، یا پرے د کور سامانونه وغیره واخلی نو هم جائز ده، البته که په دغه پیسو باندے کاروبار او تجارت کول ئے اراده وی او ددے دپاره کور یا زمکه خرخوی نو بیا به پکښے بے برکتی وی۔

**درجة الحدیث** : [حسن بشواهده ومتابعاته]، احمد : ۱۵۸۸۰، ابن ماجه : ۲٤۹۰، فیه اسماعیل بن ابراهیم بن مهاجر قال الحافظ : ضعیف، ومن طریقه : رواه احمد : ٤/۳۰۷، وکذا ابن عدی فی الکامل : ق۹/۱ نحوه وبلفظه : اورده السیوطی فی زوائد الجامع الصغیر وعزاه لاحمد وابن ماجه لکن له بعض الشواهد فی الصحیحة : ۲۳۲۷]

## ګاونډی ته د شفعے حق حاصلیږی

2967( 7 ) - وَعَنْ جَابِرٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : (**اَلْجَارُ أَحَقُّ بِشُفْعَةِ جَارِهٖ، يُنْتَظَرُ بِهَا - وَإِنْ كَانَ غَائِبًا - إِذَا كَانَ طَرِيْقُهُمَا وَاحِدًا**). رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه وَالدَّارِمِيُّ.

**ترجمه** : او جابر ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمایل : همسایه د همسایه د شفعے زیات حقدار دے، د شفعے په وجه به هغهٔ ته انتظار کولے شی اګرکه هغه غائب وی، په دے شرط چه د دواړو لاره یوه وی۔ (احمدؒ، ترمذیؒ، ابوداودؒ، ابن ماجهؒ، دارمیؒ)

**تشريح**: [يُنْتَظَرُ بِهَا] د [بِهَا] ضمير ددې كور شفعې ته راجع دې۔ دا كور به هغهٔ ته روستو كولې شي۔ ځكه چه د هغهٔ حق په شفعه كښې ثابت دې، ځكه د دواړو لاره يوه ده۔ حديث نه معلومه شوه چه ګاونډې به د خپلې زمكې په خرڅولو كښې خپل ګاونډې ته انتظار كوي هر كله چه هغه غائب وي، ځكه دا د يو ګاونډې په بل ګاونډې حق دې۔ بلكه دا چه كه په بل چائې خرڅه كړي نو په دې كښې د ګاونډې ډير مصالح او ښيګړې فوت كول او هغهٔ ته داسې ضرر رسول دي چه د هغې هيڅ كله تلافي ممكن نهٔ ده۔ او دا د زياتو علماؤ قول دې۔ بيا د مريض، قيدي او هر هغه چا حكم د غائب پشان دې چه هغه د عذر په وجه ددې زمكې د خرڅيدو نه خبر نهٔ وي۔ پدې حديث كښې راجح قول ذكر دې۔

**درجة الحديث**: [حسن او صحيح] احمد: ۱۴۲۹۲، ابوداود: ۳۵۱۸، ترمذى: ۱۳۶۹، وقال حسن غريب، ق: ۲۴۹۴، وقد اعل بما لا يقدح فى صحته۔ (ارواء الغليل: ۱۵۴۰).

## آيا د شفعې تعلق د هر غير منقول جائيداد سره دې؟

2968 (8) - وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: " **اَلشَّرِيْكُ شَفِيْعٌ وَالشُّفْعَةُ فِي كُلِّ شَيْءٍ** ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ قَالَ:

2969 (9) - وَقَدْ رُوِيَ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ مُرْسَلًا وَهُوَ أَصَحُّ.

**ترجمه**: او ابن عباس رضي الله عنه د نبي كريم ﷺ ارشاد نقل كوي: شريكوال شفعه كونكې دې، او شفعه په هر شي كښې شته۔ ترمذيؒ روايت كړې او وئيلي ئې دي: او د ابن ابي مليكهؒ نه هغه د نبي كريم ﷺ نه په طريقه د ارسال سره نقل شوې او هغه زيات صحيح دې۔

**تشريح**: اَلشَّرِيْكُ شَفِيْعٌ: يعني شريكوال په زوره باندې د خپل شريكوال خرڅ كړې زمكه او كور راواپس كولې شي۔ وَالشُّفْعَةُ فِي كُلِّ شَيْءٍ: دا حديث په ظاهره كښې د امام مالكؒ دليل دې چه هغه وائي شفعه په ميوو كښې هم شته۔ او امام احمدؒ وائي چه په نورو منقولاتو كښې شفعه نشته سوئ د حيوان نه۔ او دې روايت كښې دا راغلل چه شفعه په هر شي كښې شته برابره ده منقولې وي او كه غير منقولې۔ او د هر شي نه مراد دا دې چه هر يو شي چه د دوه يا ډيرو ترمينځ مشترك وي۔ ورنه په غير مشترك شي

کښې شفعه نۀ وي۔ یعنې د ګاونډ په وجه په هر شي کښې شفعه نۀ شته۔ او دا قول د عطاءٓ دے چه په هر شي کښې شفعه شته تردے چه په جامه کښې هم شته۔ دا روایت امام ترمذيؒ ددے ارسال صحیح کړیدے او حافظ وائي: طحاويؒ په دے الفاظو نقل کړے: [قَضَى النَّبِيُّ ﷺ بِالشُّفْعَةِ فِيْ كُلِّ شَيْءٍ] وَرِجَالُهُ ثِقَاتٌ، كما في بلوغ المرام مع سبل السلام: ۶۲/۳] (نبي ﷺ په هر شي کښې په شفعه کولو باندے فیصله کړے ده)۔ دے روایت ته شیخ البانيؒ شاذ (ضعیف) وئیلے دے۔ او بل په دے کښې د ابن جریجؒ عنعنه ده۔ [الضعیفة :۱۰۰۹] او دا مذهب قوي معلومیږي ځکه چه شفعه ددے دپاره مقرر شویده چه د شرکت ضرر دفع کړي، او ضرر په هر شي کښې راتللے شي۔

او دا قول یو روایت د امام احمدؒ دے، او ابن عقیلؒ او ابو محمد الجوزيؒ او شیخ تقي الدینؒ او حافظ ابن حزمؒ غوره کړے۔ المحلی : ۲/۸، مجلة البحوث الإسلامیة : ۲۴۱/۳.

حافظ ابن حزمؒ وئیلي دي چه ددے دپاره دلیل د نبي ﷺ دا قول دے: [اَلشُّفْعَةُ فِيْ كُلِّ مَا لَمْ يُقْسَمْ]. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

دلته (ما) لفظ عام دے منقول او غیر منقول ټولو ته شامل دے۔ او همدا قول حق دے۔

**درجة الحدیث** :[ضعیف منکر] الترمذيؒ : ۱۳۷۱، وقال : مرسل، الدارقطني : ۴۵۲۵، قال البیهقي (۱۱۹۳۴) : الصواب مرسل، الضعیفة : ۱۰۰۹].

## د حرم د بیرو په پریکولو سخت وعید

2970( 10 ) - وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ حُبْشِيٍّ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: "**مَنْ قَطَعَ سِدْرَةً صَوَّبَ اللّٰهُ رَأْسَهُ فِي النَّارِ**". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَقَالَ: هٰذَا الْحَدِيْثُ مُخْتَصَرٌ يَعْنِيْ: مَنْ قَطَعَ سِدْرَةً فِيْ فَلَاةٍ يَسْتَظِلُّ بِهَا ابْنُ السَّبِيْلِ وَالْبَهَائِمُ غَشْمًا وَظُلْمًا بِغَيْرِ حَقٍّ يَكُوْنُ لَهُ فِيْهَا صَوَّبَ اللّٰهُ رَأْسَهُ فِي النَّارِ.

**ترجمه** : او عبد الله بن حبشي ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمایل: چا چه بیرے ونه پریکړه الله تعالیٰ به د هغۀ سر په اُور کښې خکته کړي۔ (ابوداودؒ روایت کړے او وئیلي ئے دي: دا حدیث مختصر دے، چه د هغے پوره مفهوم دا دے چه څوك په ځنګل کښې یوه داسې بیرے ونه پریکړي چه د هغے د سورې نه مسافر او چارپیان سورے حاصلوي، په

ظلم او زياتي او بغير د څه حق نه چه ددۀ په هغې كښې وي نو الله تعالىٰ به ددۀ سر په اُور كښې خكته كړي۔

**تشريح** : سِدْرَةً : بيره د مثال په طور ذكر شويده۔ ورنه دا حكم د هرې ونې دے چه خلك د هغې د سورى نه فائده اخلي۔

صَوَّبَ : د تصويب نه دے، ضد د صعود (ختلو) دے۔ خكته كول او سركوزے كولو ته وائي۔ يعني الله تعالىٰ به ئې اُورته پړمخے سر كوزے ګوزار كړي۔ او ځيني محدثين فرمائي : چه ددے نه د مكے بيرے وهل مراد دى، ځكه چه هغه حرم دے او د حرم ونے پريكول حرام دى۔ او بعض وائي چه ددے نه د مدينے ونے مراد دى، دے دپاره چه مدينه په ونو آباده شي نو څوك چه ورته هجرت كوي د هغۀ به ددے علاقے سره زړه ولګي او ددے نه به د سورى وغيره فائده واخلي۔ ددے وجه نه عروةؒ به د خپلې زمكے نه بيرے راوړلے، نۀ د هغه ځايونو نه چه خلك د هغې سره مانوس وى۔ ابوداودؒ ئې داسے تاويل كوى چه دا حديث مختصر دے، او مطلب دا دے چه فائده منے بيرے وهل چه د خلكو او ځاروو ورته ضرورت وى او انسان ئې بغير د فائدے نه وهي۔

طحاويؒ د عروةؒ په عمل باندے استدلال كړے چه دا حديث منسوخ دے۔ ځكه چه عروةؒ به د مدينے بيرے وهلے او د هغې لرګى به ئې راوړل۔ ليكن غوره دا ده چه دا منسوخ نۀ دے۔ شيخ البانيؒ وائي : غوره دا ده چه دا د حرم په بيرو باندے حمل شي۔ لكه طبرانيؒ دا زيادت په حديث د عبد الله بن حبشي ﷺ كښے ذكر كړے۔ يعني (مِنْ سِدَرِ الْحَرَمِ) نو پدے سره به اشكال ختم شي۔

غَشْمًا : د غين زور او د شين سكون دے۔ ظلم ته وائي او روستو (ظُلْمًا) د هغې تفسير دے۔ مهلبؒ وئيلي دى چه ونې او كهجورے پريكول د لرګى حاصلولو دپاره يا د فصل دپاره د ځائے خالي كولو دپاره جائز دى كله چه ددے فائده مسلمانانو ته د ونې د باقي پريخودو په نسبت زياته رسيږي، ځكه چه نبي ﷺ د مسجد نبوى د جوړولو په وخت كښے د مدينے ونے وهلے وې او د هغې په ځائے مسجد جوړ كړو۔

ددے حديث د غصب سره زيات مناسبت دے نۀ د باب د شفعے سره۔

**درجة الحديث** : [صحيح] ابوداود: ٥٢٤١، نسائي: ٨٥٥٧، الصحيحة : ٦١٤]

آیا په کوهی او کهجورو ونو کښې شفعه شته ؟

## الفصل الثالث

2971 (11) – عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ ﷺ قَالَ : **إِذَا وَقَعَتِ الْحُدُوْدُ فِي الْأَرْضِ** فَلَا شُفْعَةَ فِيْهَا. وَلَا شُفْعَةَ فِيْ بِئْرٍ وَلَا فَحْلِ النَّخْلِ. رَوَاهُ مَالِكٌ .

**ترجمه** : عثمان بن عفان ﷺ فرمائی : هرکله چه په یوه زمکه کښې حد بندی وشوه نو په هغې کښې شفعه نشته، او په کوهی کښې شفعه نشته او نهٔ د نر کهجورے په ونه کښې۔ (مالك)

**تشریح** : ددے روایت اوله جمله په مرفوع روایت د جابر ﷺ کښې راغلې ده چه د هغې تشریح مخکښې ذکر شوه۔

وَلَا شُفْعَةَ فِيْ بِئْرٍ : یعنی په کوهی کښې شفعه نشته۔ ددے مطلب دا دے چه یو کوهے د ډیرو کسانو ترمینځ شریك وی چه د هغے نه خلك خپل باغونه اُوبهٔ کوی نو کله چه یو تن د باغ خپله حصه خرڅه کړی نو ددهٔ چه د کوهي کومه حصه ده نو د شریکانو دپاره ددهٔ په حصه کښې د شفعے حق نشته۔ ددے وجه دا ده چه کوهے یو داسے شے دے چه د تقسیم احتمال نهٔ لری۔نو شفعه هم پدے باندے نشی کیدے۔ او دا مذهب د امام شافعیؒ دے۔ احنافؒ وائی چه شفعه په هره زمکه کښې ثابته ده، برابره ده چه تقسیم قبلوی لکه مکانات او باغات وغیره یا تقسیم نهٔ قبلوی لکه کوهے، حمام او جرنده وغیره۔ او همدا قول راجح دے۔

فَحْلِ النَّخْلِ : یعنی د نر کهجورے په ونه کښې۔ یعنی څه کسانو ته د کهجورو څه ونے په شریکه باندے په وراثت کښې ملاؤ شوے چه هغوی خپل مینځ کښې تقسیم کړی وی، لیکن په هغے کښې یو نر د کهجورے ونه هم وی چه د هغے نه ټول کسان ګل او بُور راخلی او په خپلو خپلو کهجورو باندے ئے اچوی، اُوس د دوئ نه یو تن خپله حصه کهجورو ونو سره ددے نر کهجور ونے خپل حقوق هم خرڅ کړی نو شریکان ددے ونے په اخستو کښې د شفعے حق نشی لرلے ځکه چه نهٔ هغه کومه زمکه ده او نهٔ د هغے تقسیمول ممکن دی۔

**درجة الحدیث** :[ضعیف منقطع] اخرجه مالك : ۲/ ۷۱۷ ، ٤) موقوفا به.

## ۱۳- بَابُ الْمُسَاقَاةِ وَالْمُزَارَعَةِ

د مساقات او مزارعے (کرونديے) بيان۔

مساقات او مزارعه نږدے نږدے معاني لري او يو بل سره مناسب عقدونه دي پدے وجه دلته دواړه په يو ځائے ذکر شول۔

پدے باب کښے درے قسمه الفاظ ذکر کيږي : مساقاة، مزارعة، اجارة۔ (**مساقاة**) د سقي نه دے بوټي خړوبه کولو ته وائي۔ او شرعًا : چاله وُنے ورکول چه هغه خړوبه کوي او د بوټو او ميوو او ددے متعلق ټول کارونه سموي او د ميوے په پخيدو باندے به يوه برخه د باغ د مالك وي، او بله به د دهقان او زميندار وي۔ مساقاة (خړوبه کول) ورته ځکه وائي چه اګرکه ددے باغ په سنبالولو کښے به نور هم ډير کارونه وي خو په دے ټولو کښے لوی کار د باغ اُوبه خور دے، خصوصًا په حجاز مقدس کښے د اوبو بيخي کمے وو۔ او (**مزارعه**) د زرع نه دے فصل او کرونديے ته وائي۔ او شرعًا: (۱) [دَفْعُ أَرْضٍ لِمَنْ يَزْرَعُهَا بِجُزْءٍ مَعْلُومٍ مِمَّا يَخْرُجُ مِنْهَا يُشْتَرَطُ لِصَاحِبِ الْأَرْضِ أَوْ لِلْعَامِلِ] (چاله د پيداوار په يوه معلومه برخه کرکيلے دپاره زمکه ورکول چه هغه به د زمکے مالك يا عامل دپاره شرط ګرځولے شوے وي)۔ توضيح الأحكام : ٤/ ٢١٠ :

(۲) **تعريف** : هُوَ دَفْعُ الْأَرْضِ إِلَى مَنْ يَزْرَعُهَا أَوْيَعْمَلُ عَلَيْهَا وَالزَّرْعُ بَيْنَهُمَا. كَمَا فِي الْمُغْنِي : [ ٥/ ٥٨١]. زمکه چا ته ورکول چه هغه ئے وکري يا پرے کاروبار وکړي او فصل به د دوئ ترمينځ تقسيميږي په خاص برخو سره۔

مساقات او مزارعه د هغه شرکتونو نه يو شرکت دے چه هغه په عدل او انصاف باندے قائم دي۔ ځکه دوُنو او زمکے خاوندان داسے دي لکه سرمائے والا چه مضارب له ئے د تجارت دپاره ورکوي۔ او مُساقي (باغبان) او مزارع د هغه مضارِب پشان دے چه په مال تجارت کوي، په دے دواړو کښے هر يو په يوه معلومه برخه باندے کار کوي او ګټه او تاوان دواړه به د دوئ ترمينځه وي۔

او د مساقات او اجارې ترمينځ فرق دے، ځکه مساقات کښې خامخا د ونې خاوند ته اجرت ملاويږي. او په اِجاره کښې مستاجر ته کله نفع ملاؤ شي او کله نهٔ. او مساقات او مزارعت د اسلامي شريعت د خوبيو نه يوه خوبي ده ځکه ديته د خلکو حاجت او ضرورت دے. ځکه بعضِ خلکو سره زمکه وي خو هغه ئې نشي سنبالولے خاصکر د بوټو او فصل کرلو په موسم کښې او يا ورته وزرګار نهٔ وي، او ځينې خلك په دے کار ښهٔ پوهيږي خو ونې بوټي نهٔ لري، نو هر کله چه دا معامله جائز شوه نو په دے سره به دواړه فريقه نفع او فائده مومي. دے وجے نه دا د عقل او قياس عينِ مطابق ده.

## د مزارعے صورتونه او په هغے کښې اختلاف :

۱- صورت : يو تن د کروندے (کرکيلې) دپاره په مزدورئ ونيسي او داسے ورته ووائي چه تا ته به د مياشتے دومره دراهم يا دنانير (رقم) درکوم، مثلًا شل زره روپئ د مياشتے به درکوم، او ما دپاره زميندراه کوه. دا صورت د عامو اهل علمو په نيز جائز دے او د بخاريؒ او مسلمؒ په روايت کښې د رافع بن خديج ﷺ نه نقل دي : نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنْ كَرَاءِ الْأَرْضِ. قَالَ : فَقُلْتُ : أَبِالذَّهَبِ وَالْوَرِقِ ؟ فَقَالَ : أَمَّا بِالذَّهَبِ وَالْوَرِقِ فَلَا بَأْسَ بِهِ. [أخرجه مسلم :۲/۱۳]. رسول الله ﷺ زمکه په کرايه باندے ورکولو نه منع فرمائيلے ده. راوي وائي : ما ووئيل : آيا په سرو او سپينو باندے ورکولو نه منع ده ؟ وے فرمايل : هرچه په سرو او سپينو باندے ورکول دي نو پدے کښې هيڅ باك نشته. د مسلمؒ په يو بل روايت کښې دي : [نَهٰى عَنِ الْمُزَارَعَةِ وَأَمَرَ بِالْمُوَاجِرَةِ وَقَالَ : لَا بَأْسَ بِهَا]. رَوَاهُ مُسْلِمٌ : ۲/۱٤]. د مزارعے نه ئې منع فرمائيلے ده او په مُواجره (اجاره) باندے ورکولو اجازت ئې ورکړے او فرمائيلي ئې دي چه پدے کښې هيڅ باك نشته.

۲- صورت : د زمکے مالك زميندار ته ووائي چه تا ته به د مياشتے يا کال پس دومره دومره غنم يا وريشے درکوم ما دپاره دا فلانے پټے کره. او دغه طعام ددے زمکے نه علاوه د بلے زمکے نه ورکوي. نو دا صورت هم د عامو اهل علمو په نيز جائز دے او امام مالكؒ هم په دے کښې اختلاف نهٔ دے کړے. لکه چه راتلونکې صورت کښې ئې اختلاف کړے. ددے صورت د جواز دليل دا دے چه په مسلمؒ کښې د رافع بن خديج ﷺ وينا ده : أَمَّا شَيْءٌ مَعْلُوْمٌ مَضْمُوْنٌ فَلَا بَأْسَ بِهِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ فِيْ صَحِيْحِه : ۲/۱۳]. هرچه په يو

معلوم شي باندې زمكه په اجاره وركول دي نو پدې كښې هيڅ باك نشته. نو دا معلوم شي طعام او دراهم دواړو ته شامليږي. دارنګه اصل په بيوعو كښې حل دې او نهي نشته چه زمكه په طعام يا كپړو يا حيوان وغيره باندې مۀ وركوي.

۳- صورت : دا دويم صورت ته نزدې دې : چه زميدار ته د كركيلې د جنس نه اجرت وركړي ليكن ددې زمكې نه علاوه د بلې زمكې نه مثلًا زميدار په زمكه كښې غنم كرلي وي او مالك ورته ووائي چه زۀ به تا ته په اجرت كښې فلاني فلاني غنم دركوم. نو دا صورت د جمهورو په نيز جائز دې لكه ابوحنيفهؒ، شافعيؒ، او يو روايت د احمدؒ دې. او دليل پدې باندې دا دې چه اصل حل دې او ددې نه نهي نۀ ده راغلې.

او پدې صورت كښې امام مالك مخالفت كړې او ددۀ قول مرجوح دې، او هغۀ چه د مزارعې نه د نهي په راغلو احاديثو دليل نيولې نو د هغې تحقيق روستو راځي.

٤- **صورت** : چه مالك زميدار ته ووائي چه زۀ تا ته دا زمكه د كركيلې دپاره دركوم څه چه ددې نه راوځي نيمائي زما او نيمائي ستا ده. يا داسې ووائي چه دريمه يا څلورمه وغيره ستا ده. نو دې صورت كښې اختلاف دې، امام ابوحنيفهؒ او شافعيؒ او احمدؒ په يو روايت كښې ددې مزارعې نه منع فرمائيلې ده.

ځكه چه ظاهره كښې ددې نه نهي راغلې. لكه ابوداودؒ كښې د زيد بن ثابت ﷺ نه راغلي دي : رسول الله ﷺ د مخابرې نه منع وفرمائيله. ما وويل : مخابره څه ته وائي؟ وې فرمايل : چه تۀ زمكه په نيمائي يا دريمه يا څلورمه برخه باندې واخلې.

[أبو داود : ۱۲۷/۲، باسناد صحيح] . دارنګه عبد الله بن عمر ﷺ په دريمه برخه باندې مزارعه كول پريخودلي وو. [مسلم : ۱٤/۲].

ليكن پدې كښې راجح دا ده چه دا صورت هم جائز دې. لكه په بخاري [۳۲۳/۱] كښې د ابوجعفرؒ وينا ذكر ده (او روستو هم راروان دې) چه په مدينه كښې به مهاجرينو صرف په دريمه او څلورمه باندې زميدارې كولې. او علي، سعد بن ابي وقاص، عبد الله بن مسعود رضي الله عنهم او عمر بن عبد العزيزؒ. قاسمؒ، عروهؒ، اود ابو بكر صديق ﷺ اولاد، او د عمر فاروق ﷺ اولاد، او د علي ﷺ اولاد او ابن سيرين رحمهم الله به مزارعه (زميداره) كوله، او عبد الرحمن بن اسودؒ وائي : زۀ به د عبد الرحمن بن يزيدؒ سره په كرونده كښې

شريك اُوم او عمر فاروق ﷺ د خلكو سره داسے معامله كړے وه چه كه عمر د خپل طرف نه تخم راوړو نو ددهٔ دپاره به برخه وى او كه هغوى تخم راوړو نو هغوى له به دومره دومره برخه وى۔

او حسنؒ وئيلى دى : [لَا بَأْسَ أَنْ تَكُوْنَ الْأَرْضُ لِأَحَدِهِمَا فَيُنْفِقَانِ جَمِيْعًا فَمَا خَرَجَ فَهُوَ بَيْنَهُمَا] - پدے كښے باك نشته چه زمكه د يوتن وى او دواړه (زميندار او مالك) پرے په شريكه خرچه كوى څه چه راوځى هغه د دواړو ترمينځ شريك وى۔ او دا رايه د زهرىؒ هم ده۔ ابراهيمؒ، ابن سيرينؒ، عطاءؒ، حكمؒ، زهرىؒ او قتاده رحمهم الله وئيلى دى : پدے كښے باك نشته چه جامه په دريمه يا څلورمه وغيره برخه باندے وركړى۔ معمرؒ وئيلى دى : باك نشته چه ګډے بزے په دريمه او څلورمه برخه باندے تر يوے نيتے پورے په كرايه باندے وركړى۔

شيخ الاسلام ابن تيميهؒ په مجموع الفتاوى : [۲۹/ ۹۰] كښے فرمائى : فَإِذَا كَانَ جَمِيْعُ الْمُهَاجِرِيْنَ يُزَارِعُوْنَ وَالْخُلَفَاءُ الرَّاشِدُوْنَ وَأَكَابِرُ الصَّحَابَةِ وَالتَّابِعِيْنَ مِنْ غَيْرِ أَنْ يُنْكِرَ ذٰلِكَ مُنْكِرٌ لَمْ يَكُنْ إِجْمَاعٌ أَعْظَمَ مِنْ هٰذَا، بَلْ إِنْ كَانَ فِي الدُّنْيَا إِجْمَاعٌ فَهُوَ هٰذَا. إهـ

هركله چه عامو مهاجرينو او خلفاءِ راشدينو او مشرانو صحابه كرامو او تابعينو مزارعه كوله او هيچا پرے انكار نهٔ كولو نو ددے نه بله لويه اجماع نشته، بلكه كه په دنيا كښے په كومه خبره اجماع وى نو پدے خبره به وى۔ اهـ او ددے قول زيات دليلونه شيخ الاسلامؒ په خپله فتاوى [۲۰/ ۵۱۰] كښے ذكر كړى۔ او دا قول د ټولو محدثينو او امام احمدؒ او اسحاقؒ او بخارىؒ او صاحبينوؒ او ابن المنذرؒ او ابن خزيمهؒ او خطابىؒ او زياتو احنافوؒ دے۔

ينظر مجموع فتاوى ابن تيمية :۲۹/ ۹۵، وإعلام الموقعين :۱/ ۲۷۶، وفى : ۲/ ۳۲۸، والطرق الحكمية ص : ۲۸٦، وزاد المعاد :۲/ ۷۷، وتهذيب السنن : ۵/ ۵٦، ٦۲، ٦٦].

**۵- صورت :** چه د زمكے مالك پدے شرط زمكه په زميداره وركړى چه په پولو او د نهر په غاړو باندے چه څه راوخيژى هغه به د زميدار وى او د زمكے په داخل او مينځ كښے چه څه رازرغون شى هغه به د مالك وى، نو دا قسم مزارعه په اتفاق سره منع ده ځكه چه په دے كښے غرر او خطر دے، كيدے شى چه په پولو او په غاړو څه رازرغون

نشي، يا په مينځ د پټي کښې څه ونشي، نو يو طرف به محروم شي۔

بخاري کښې دي: رافع بن خديج ﷺ فرمائي: مونږ په مدينه کښې زياتو پټو والا وو، او په مونږ کښې به يو تن خپله زمکه په کرايه ورکوله نو داسې به ئې وئيل: دا حصه زما شوه او دا بله ستا شوه نو ډير کرته به دې حصې فصل وکړو او هغه بلې به ونکړو نو نبي ﷺ ددې نه منع وفرمائيله۔ او په يو بل روايت کښې دي: رافع ﷺ وائي: ما ته زما ترونو خبر راکړې چه دوئ به د نبي ﷺ په زمانه کښې زمکې په کرايه ورکولې په هغه فصل چه په پولو او لښتو باندې به وو يا به د زمکې مالك يو شې مستثنىٰ کړو نو نبي ﷺ ددې نه منع وفرمائيله۔ راوي وائي: ما رافع ته وويل: مزارعه په دراهم او دنانيرو څنګه ده؟ وې فرمايل: پدې کښې هيڅ باك نشته۔ البخاري: ۱/۳۱۳۔ باب ما يكره من الشروط في المزارعة.

نبي ﷺ په معلوم ځائې باندې د مزارعې کولو نه منع پدې وجه وفرمائيله چه پدې کښې مخاطره (يعني جانبينو ته خطره) ده۔

**د فاسدې مزارعې نور صورتونه دا دي:** (۱) دا زمکه مې په مزارعه درکړه پدې شرط چه ددې نه غنم راوخي هغه به زما وي او وربشې به ستا وي۔ پدې کښې هم غَرَر دې، او خطره هم ده چه کله به يو راوخي او بل نۀ۔ (۲) يا داسې ووائي چه مشرق طرف ته د زمکې برخه به زما وي او مغرب طرف ته به ستا وي۔ دا هم د جهالت او د غرر په وجه نا روا ده۔ او په مشارکت کښې خو مساوات ضروري دې او دلته مساوات نشي کيدې۔ کله به يو طرف زيات وي او کله بل۔ (۳) دا زمکه کره پدې کښې سل صاعه زما دي او باقي چه څه وشو هغه ستا۔ دا هم جائز نۀ ده ځکه چه پدې کښې جهالت دې، کيدې شي چه د ټول پټي نه صرف سل صاعه وشي نو زمکې والا به سودمن شي او زميدار به خړ پاتې شي۔ او کله به زر صاعه وشي نو بيا د زمکې مالك ته نقصان رسيږي او په مشاركاتو کښې داسې کار صحيح نۀ وي۔ (٤) دا زمکه مې د پنځو کالو دپاره د کرکيلې دپاره درکړه پدې شرط چه اول کال به ئې فصل زما وي او دويم کال به ستا وي، دريم کال به زما وي او څلورم به ستا وي او پنځم کال به شريك وي۔ دا هم جائز نۀ ده ځکه چه پدې کښې جهالت او غرر دې، دارنګه که ووائي چه يو کال ئې ما له کره او بل کال ځانله دا هم

صحیح نۀ ده۔ کیدے شي چه یو کال فصل وشي او په بل کال ونشي۔

**او جائزه مزارعه دا ده** چه په یو معلوم مشاعه برخه سره وي لکه نیمائی، دویمه، دریمه وغیره باندے۔ ځکه چه پدے کښے دواړو ته گټه یا دواړو ته نقصان رسیږي نو مساوات راځي۔ دارنگه که په پیسو سره وي نو هغه د اجارے صورت دے نو جائز دے لکه دا زمکه په اجاره درکوم ماله د یو کال یا یو فصل دپاره دومره رقم راکړه، زمکه به درته خالي کړم، بیا ستا خوښه ده چه فصل پرے کرے او که نۀ او لږ کیږي او که ډیر۔ خو زما کرایه به په تا باندے ثابته وي۔ دا د اجارے صورت دے او جائز دے۔ او همدا په روایت د رافع بن خدیج ﷺ کښے راغلے دے۔ لکه چه بیان شو۔ (فتح ذی الجلال والاکرام ۵۷۳/۳)

## د مزارعے په باره کښے د اباحت او د نهي د احادیثو **تطبیق** :

کومو روایتونو کښے چه د مزارعے نه منع راغلے نو د هغے یو تطبیق دا دے چه دا نهي د تنزیه ده او د تحریم دپاره نۀ ده۔ دلیل دا دے چه په بخاری کښے دي چه عمروؒ د طاووسؒ نه تپوس وکړو چه که تۀ مخابره (یعني مزارعه) پریدے (دا به ښه وي) ځکه چه خلك وائي چه نبی ﷺ ددے نه منع فرمائیلے ده۔ هغۀ وفرمایل : اے عمرو ! زۀ خلکو ته ورکړه کوم او هغوی سره (پدے طریقه) مدد کوم او ما ته د خلکو نه زیات عالم یعني ابن عباس ﷺ خبر راکړے چه نبی ﷺ ددے نه منع نۀ ده فرمائیلے لیکن هغۀ فرمائیلي : أَنْ يَّمْنَحَ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَأْخُذَ خَرْجًا مَعْلُومًا. که ستاسو یو تن خپل ورور ته (زمکه) هسے ورکړي دا ورله ډیره بهتره ده ددے نه چه یو خاص معلومه مزدوري ترے واخلي۔ (بخاری ۳۱۳/۱)

۲- دویم تطبیق : دا نهي په پنځم صورت باندے محمول ده یعني چه د مالك او زمیدار جدا جدا زمکے معینے شي چه ددے پولو او لښتو په غاړه ستا او دننه په زمکه کښے فصل زما دے۔ ډیر کرته یو راوخیژي او بل نۀ۔ ځکه چه دا بعینه د جوازئ صورت دے او دے ته رافع بن خدیج ﷺ په مسلم (۱۳/۲) کښے اشاره کړیده۔

نو مطلق به په مقید باندے حمل کولے شي۔

۳- یا نهي په هغه مزارعه باندے محمول ده چه هغه سبب د جګړو جوړیږي، البته که جګړه نۀ پیدا کیده نو بیا هیڅ باك نشته۔ لکه د زید بن ثابت ﷺ په روایت کښے دي

چه هغهٔ وفرمايل : [يَغْفِرُ اللّٰهُ لِرَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ أَنَا وَاللّٰهِ أَعْلَمُ بِالْحَدِيثِ مِنْهُ] ـ الله تعالىٰ دِے رافع بن خديج ﷺ ته بخښنه وكړی زهٔ د هغهٔ نه په حديث (د مزارعه) باندے ښهٔ پوهه يم۔ قصه دا وه چه نبی ﷺ د دوه انصاری كسانو جګړه واوريده نو وے فرمايل : [اِنْ كَانَ هٰذَا شَأْنَكُمْ فَلَا تُكْرُوا الْمَزَارِعَ]۔ كه ستاسو داسے حالت وی نو بيا زمكه په مزارعه باندے مهٔ وركوئ۔ نو رافع بن خديج ﷺ (نيمه كښے راغلو) هغهٔ (لا تكروا المزارع) لفظ واوريدو۔ ابوداود (۱۲۵/۲) وفی اسناده كلام۔ وقال شعيب : اسناده حسن من اجل عبد الرحمن بن اسحاق۔ كما قال الالبانی فی السلسلة الصحيحة۔

نو پدے روايت كښے وجه د نهی ذكر شوه۔

٤- يا احاديث د نهی په احاديثو د جواز سره منسوخ دی ځكه چه نبی ﷺ د خيبر زمكه په نيمكاره باندے وركړے وه او پدے باندے خلفاءِ راشدينو عمل كړے نو دا عمل دليل د نسخ دے۔ پدے ټولو كښے راجح تطبيق اولنے دے چه نهی د تنزيه دپاره ده۔ لهذا د احاديثو ترمينځ د سليم فطرت والا په نيز هيڅ تعارض نشته۔

## د خيبر والو يهوديانو سره مزارعه كول

## الفصل الأول

2972 (1) عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ ﷺ : أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ **دَفَعَ إِلٰى يَهُوْدِ خَيْبَرَ نَخْلَ خَيْبَرَ وَأَرْضَهَا عَلٰى أَنْ يَعْتَمِلُوْهَا مِنْ أَمْوَالِهِمْ وَلِرَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ شَطْرُ ثَمَرِهَا**. رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَفِي رِوَايَةِ الْبُخَارِيِّ : أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ أَعْطَى خَيْبَرَ الْيَهُوْدَ أَنْ يَعْمَلُوْهَا وَيَزْرَعُوْهَا وَلَهُمْ شَطْرُ مَا يَخْرُجُ مِنْهَا.

**ترجمه** : عبد الله بن عمر ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ د خيبر يهوديانو ته د خيبر كهجورے او د هغے زمكه پدے شرط وركړه چه هغوی به پدے كښے د خپلو مالونو نه كار كوی او د رسول الله ﷺ دپاره به د هغے نيمائی ميوه وی۔ (مسلمؒ) او په روايت د بخاریؒ كښے دی : رسول الله ﷺ د خيبر زمكه يهوديانو ته وركړه چه هغوی پكښے كار وكړی او هغه وكری، او دوئ دپاره به نيمائی هغه (پيداوار) وی چه د هغے نه راووځی۔ (يعنی نيمه به يهوديان اخلی او نيمه به نبی كريم ﷺ)

**تشریح** : ددې حدیث تشریح په بل روایت کښې داسې راغلې ده : ((عمر بن خطاب رضی الله عنه یهود او نصارىٰ د حجاز د زمکې نه جلا وطن کړل، او رسول الله صلی الله علیه وسلم چه کله خیبر فتح کړو نو اراده ئې وفرمایله چه ددې نه یهود وباسي، او دا زمکه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فتح کړه نو دا په دې وخت کښې د الله تعالىٰ او د رسول او د مسلمانانو دپاره وه. نو یهودو د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وغوښتل چه دوئ دلته باقي پریدي او یهود به دا زمکې سنبالوي او دوئ دپاره به نیمائي برخه میوې او غلې وي. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم دوئ ته وفرمایل : زمونږ چه تر څو پورې خوښه وه تر هغه وخته پورې به مونږ تاسو دلته برقرار ساتو. دې وجې نه دوئ دلته وسیدل تردې چه عمر رضی الله عنه تیماء او اریحا علاقو ته وشړل. (بخارىؒ، مسلمؒ).

[خَيْبَرَ] خیبر د مدینې شمال مغربي طرفته یو ه شنه زرعي علاقه ده چه هلته یهود وسیدل او دا په اووم هجري کال د محرم په میاشت کښې فتح شوه. د مدینې نه تقریبا سل میله جدا علاقه ده. [شَطْر] شطر جزء او نیمائي ته وائي. یعنې نبي صلی الله علیه وسلم دوئ سره دا معاهد وکړه چه د خیبر په زمکه چه کوم باغونه او فصلونه کیږي نو په هغې کښې به ستاسو د کرکیلې په وجه نیمائي ستاسو وي او نیمائي به زمونږ وي.

[ثَمَرِهَا] ثمر کهجورو او انګورو وغیره تولو ته شامل دي.

[يَعْتَمِلُوهَا مِنْ أَمْوَالِهِمْ] چه دوئ به ددې زمکو په آبادولو او اصلاح کښې د خپلو مالونو نه جدو جهد او کوشش کوي. اعتمل معنىٰ ده : عَمِلَ بِنَفْسِهِ (په خپله کار کول). یعني تخمونه وغیره به په خپلو مالونو اخلي او کري به ئې او فصلونه او باغونه به سنبالوي.

**فوائد او مسائل** : (۱) د کفارو سره معامله کول جائز دي.

(۲) حدیث نه ثابته شوه چه مساقات اومزارعه دواړه جائز دي. مزارعه په فصل کښې وي او مساقات د باغونو اوبهٔ کولو سره تعلق لري. ددې وجه دا وه چه مسلمانان په جهاد باندې مشغوله وو او د خیبر زمکو سنبالولو ته وزګار نهٔ وو او یهود دې کار ته فارغ وو او دوئ په دې زمینداري او باغبانئ کښې د مسلمانانو په نسبت زیاته تجربه لرله، دې وجې نه د شرعي مصلحت تقاضا دا وه چه یهود دلته په خیبر کښې ددې زمکو په سنبالولو برقرار پرېښودې شي اګرکه دوئ د اسلام او مسلمانانو ښکاره دشمنان وو. دې وجې نه چه کله دوئ فسادونه شروع کړل نو عمر فاروق رضی الله عنه په خپل دورِ خلافت کښې دوئ د خیبر نه اُوشکل. او دائې څکه وویستل چه عمر فاروق رضی الله عنه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم دا ارشاد

مبارك آوريدلے وو: [لَأُخْرِجَنَّ الْيَهُوْدَ وَالنَّصَارٰى مِنْ جَزِيْرَةِ الْعَرَبِ حَتّٰى لَا أَدَعَ إِلَّا مُسْلِمًا] (زهٔ به خامخا يهود او نصارىٰ د عربستان نه اُوباسم تردے چه په دے كښې به صرف مسلمان پريدم) [مسلم: ۱۷٦٧]

(۳) او حديث نه معلومه شوه چه په كهجورو، انګورو او هر هغه ونو كښې مساقات او دهقاني كول جائز دى چه هغه ميوه كوى. هغه داسے چه ددے سنبالونكى دپاره به ددے يوه خاصه برخه وى. لكه نيمائي يا دريمه يا څلورمه يا داسے نوره. او په يو روايت كښې دى: [عَلٰى أَنَّ لَهُمُ الشَّطْرَ مِنْ كُلِّ زَرْعٍ وَنَخْلٍ وَشَجَرٍ] (چه دوئ له به د هر فصل، كهجورے او ونے نه نيمائي وى) نو ددے الفاظو نه معلومه شوه چه په هر قِسمه فصل او ميوه كښې مساقات كول جائز دى. نو اهلِ ظاهرو چه مساقات صرف په كهجورو پورے خاص كړے، يا امام شافعیؒ چه كهجورو او انګورو پورے خاص كړے، نو دا دواړه قوله مرجوح او ضعيف دى. ځكه دا تخصيص بے دليله دے.

(٤) او ددے حديث نه دا هم معلومه شوه چه په يو باغ كښې مساقات او مزارعه دواړه جمع كول جائز دى، هغه دا چه يوتن د چا سره په ونو كښې مساقات وكړى او په فصل كښې مزارعه.

(٥) او حديث نه معلومه شوه چه مزارعه او مساقات به په يوه معلومه برخه باندے وى لكه نيمائي، دريمه، څلورمه او داسے نوره. كه هر يو ئے ځان دپاره شرط كړى نو باقى برخه به د هغه بل وى. خو كه مالك يا عامل د خپل ځان دپاره يوه معلومه ونه شرط كړه، نو دا به صحيح نهٔ وى، ځكه كيدے شى چه همدا ونه ميوه ونهٔ كړى او كيدے شى چه ددے ونے نه سوىٰ نورے ونے ميوه ونهٔ كړى نو په دے سره به ضَرَرُ او غَرَرُ حاصل شى. دارنګه دا هم صحيح نهٔ دى چه مالك يا عامل خاص صاعونه شرط كړى، لكه په دے دواړو كښې يوتن داسے ووائى چه ماله به مثلاً سل صاعه راكوے باقى ستا، نو دا مساقات او مزارعه هم صحيح نهٔ ده، ځكه ممكنه ده چه زمكه همدا سل صاعه وكړى نو هغه بل به تش تور پاتے شى.

(٦) او حديث نه معلومه شوه چه مساقات او مزارعه كښې موده مقررول ضرورى نهٔ دى ځكه دلته نبى كريم ﷺ يهودو سره د مودے تعيين نهٔ دے كړے. البته كه د مودے تعيين وكړى نو بيا د هغے پابندى پكار ده. ليكن د تعيين نه بغير دا كار كول جائز دى.

او دا د امام احمدؒ قول دے۔ او همدا صحیح دے۔او د جمهورو علماؤ په نیز په مساقات او مزارعه کښې موده مقررول ضروري دي ځکه چه دا د اجارے پشان عقدِ معاوضه دے نو تعیین د مودے په کښې ضروري دے۔ لیکن د دوئ دا خبره ددے حدیث نه د خلاف کیدو په وجه صحیح نهٔ ده۔ او مساقات او مزارعه په اجاره باندے قیاس کول هم درست نهٔ دي ځکه اجاره منافع خرڅولو ته وائی نو دا عقدِ لازم دے لکه څنګه چه اعیان خرڅول عقدِ لازم دے۔ او دا قیاس په مضاربت باندے منقوض دے، او مضاربت د مساقات سره زیات مشابهت لري، نهٔ د اجارے سره نو مساقات په اجارے باندے قیاس کول درست نهٔ دي۔

(۷) او د [عَلٰی أَنْ یَّعْتَمِلُوْهَا مِنْ أَمْوَالِهِمْ] نه معلومه شوه چه په مساقات او مزارعه کښې دا شرط نشته چه تخم به د زمکے په خاوند وي، بلکه که تخم د هر چا له طرفه وي خو بهر صورت مزارعه جائز ده۔ ځکه نبي کریم ﷺ د یهودو سره په همدے فیصله کړے وه چه هرڅهٔ به د دوئ وي او کار به هم دوئ کوي او مسلمانانو له به نیمائی برخه ورکوي۔ نو کومو فقهاؤ چه په مزارعه کښې دا خبره شرط کړے چه تخم به د زمکے د مالك وي نو هله به مزارعه صحیح وي اوکه تخم د دهقان وي نو بیا مزارعه صحیح نهٔ ده: دا خبره باطله ده۔ نبي کریم ﷺ په دے حدیث کښې دا نهٔ ده شرط کړے چه تخم به د رب الارض له طرفه وي۔ که چرے دا شرط وے نو خامخا به نبي کریم ﷺ ددے تذکره فرمایلے وے۔او دا چرته نقل نهٔ دي چه نبي کریم ﷺ د خیبر یهودیانو دپاره د مدینے نه تخمونه رابار کړي وي۔

بلکه په صحیح بخاري کښې راځي چه ((عمر رضی الله عنه د خلکو سره دا معامله کړے وه که چرے عمر رضی الله عنه د خپل طرفه تخم راوړي نو ددهٔ به نیمائی برخه وي۔ اوکه دوئ تخم راوړو نو د دوئ به دومره دومره برخه وي)) [فتح الباري: ۵/ ۱۰] نو کومو حنبلیانو او شافعیانو چه په رب الارض باندے تخم شرط کړے نو دا خبره د دوئ صحیح نهٔ ده۔

**اختلاف**: (۱) مساقات د صحابه کرامو رضی الله عنهم او تابعینوؒ په نیز جائز دے، او همدا د جمهورو: مالکیانو، شافعیانو، حنابلو، ظاهریانو، ابو یوسفؒ او محمد بن الحسنؒ قول دے۔ او همدا **صحیح قول** دے۔ (۲) امام ابو حنیفهؒ فرمائی: مساقات جائز نهٔ دے ځکه چه دا په نامعلومه میوه باندے اجاره کول دي۔ خو ددهٔ دا خبره خطا او د دلیل ښکاره خلاف ده۔ او ددهٔ دا خبره په یو فاسد قیاس باندے ولاړه ده، ځکه مساقات او مضاربت

کښې هیڅ فرق نشته، ځوك چه مضاربت جائز ګڼړی او مساقات ناجائز نو دا په دوه مساوی شیانو باندې جدا جدا حکم لګوی۔

## د مخابرې نه منع

- 2973( 2 ) – وَعَنْهُ ﷺ قَالَ :كُنَّا نُخَابِرُ وَلَا نَرٰی بِذٰلِكَ بَأْسًا حَتّٰی زَعَمَ رَافِعُ بْنُ خَدِیْجٍ أَنَّ النَّبِیَّ ﷺ نَهٰی عَنْهَا فَتَرَکْنَاهَا مِنْ أَجْلِ ذٰلِكَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ

**ترجمه** : او د ابن عمر ﷺ نه روایت دې چه هغهٔ وفرمایل : مونږ به مخابره (مزارعه) کوله او مونږ به پدې کښې هیڅ ګناه نهٔ ګڼړله تردې چه رافع بن خدیج ﷺ وفرمایل : یقیناً نبی کریم ﷺ ددې نه منع فرمائیلې ده نو مونږ د هغې په وجه پرېخوده۔ (مسلمؒ)

**تشریح** : كُنَّا نُخَابِرُ : یعنی مونږ به مزارعه کوله۔ مخابره او مزارعه یو شې دې، مخابره د خیبر نه اخستې شویده۔ یعنی هغه معامله چه رسول الله ﷺ په خیبر کښې د یهودیانو سره کړې وه، هغه دا چه هغوی ته ئې زمکې په نیمائی برخه سره ورکړې۔

زَعَمَ : زعم په معنیٰ د قول سره دې۔

نَهٰی عَنْهَا : دلته نهی د مزارعې نه خو مطلق راغلې ده لیکن مخکښې بیان شو چه دا نهی د خاص صورت نه ده، یا نهی د تنزیه دپاره ده، یعنی مزارعه د بهتر خلاف ده او حرامه نهٔ ده۔ او د عبد الله بن عمر ﷺ مزارعه پرېخودل هم د احتیاط په بناء دی، چه کیدې شی چه رسول الله ﷺ د مزارعې په باره کښې څه خبره کړی وی نو بیا به ئې د ډیر احتیاط نه کار اخستو او خپله زمکه به ئې په مزارعه سره نهٔ ورکوله۔

## په اجرت یا مخصوصه برخه باندې د مزارعې اجازت

2974 ( 3 ) – وَعَنْ حَنْظَلَةَ بْنِ قَیْسٍ عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِیْجٍ قَالَ : أَخْبَرَنِیْ عَمَّایَ أَنَّهُمْ کَانُوْا یُکْرُوْنَ الْأَرْضَ عَلٰی عَهْدِ النَّبِیِّ ﷺ بِمَا یَنْبُتُ عَلَی الْأَرْبِعَاءِ أَوْ شَیْءٍ یَسْتَثْنِیْهِ صَاحِبُ الْأَرْضِ فَنَهَانَا النَّبِیُّ ﷺ عَنْ ذٰلِكَ فَقُلْتُ لِرَافِعٍ : فَکَیْفَ هِیَ بِالدَّرَاهِمِ وَالدَّنَانِیْرِ ؟ فَقَالَ : **لَیْسَ بِهَا بَأْسٌ** وَکَأَنَّ الَّذِیْ نُهِیَ عَنْ ذٰلِكَ مَا لَوْ نَظَرَ فِیْهِ ذَوُو الْفَهْمِ بِالْحَلَالِ وَالْحَرَامِ لَمْ یُجِیْزُوْهُ لِمَا فِیْهِ مِنَ الْمُخَاطَرَةِ. مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ

**ترجمه** : او حنظله بن قیسؒ د رافع بن خدیج ﷺ نه روایت کوی چه هغهٔ وفرمایل :

چه ما تـه زما دوه ترونو خبر راکړے چه هغوی به د نبی کریم ﷺ په زمانه کښې زمکه په اجاره ورکوله په مقابله د هغې پیداوار کښې چه د لښتو په غاړو وی، یا په داسې شی چه زمکې والائې مستثنیٰ کړی۔ (چه مثلاً دا حصه زمکه ماله کړه او دا بله ستا شوه) نو نبی کریم ﷺ مونږ ددې کار نه منع کړلو، نو ما رافع ؓ تـه وفرمایل: نو دا مزارعه په روپو او اشرفو باندې څنګه ده؟ هغهٔ وفرمایل: پدې باندې هیڅ ګناه نشته، او ګویا کښې هغه مزارعه چه د هغې نه منع شویده (یعنی مخکښې دوه صورتونه) هغه ده چه کـه (په هغې کښې) پـه حلال او حرامو باندې پو هه کسان نظر واچوی نو دا به جائز ونهٔ ګرځوی پدې وجه چه پدې کښې (دواړو جانبینو ته) خطره ده۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

**تشریح**: دې حـدیـث هم ښه تفصیل وکړو چه هغه مزارعه منع ده چه د زمکې مالك زمیدار ته یو خاص ځائې متعین کړی چه دا ستا او باقی زمکه زما ده۔ یا د مثال په طور ووائی چه ددې پټی مینځ کښې چه کوم فصل دې دا زما دې او غاړو ته د زمیدار دې نو ددې نـه منـع راغـلې ده۔ او پـه دراهمو او دنانیرو سره پټې ورکول جائز دی ځکه چه پدې کښې هیڅ خطره نشته او نهٔ د جګړو سبب جوړیږی۔

وَكَأَنَّ الَّذِىْ نُهِىَ: یعنی د کومې مزارعې نه چه نهی شویده نو دا د عقلمند انسان د عقل او قیـاس بیـخی بـرابره خبره ده۔ ځکه چه هر هغه شی کښې چه یو جانب ته نقصان وی نو د هغې کول نهٔ دی پکار۔ د مسلمان مال یا خواری ضائع کیدل مناسب نهٔ دی۔

### مزارعه په یو خاص ځائې باندې کول جائز نهٔ دی

2975 (4) – وَعَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيْجٍ ؓ قَالَ: كُنَّا أَكْثَرَ أَهْلِ الْمَدِيْنَةِ حَقْلًا وَكَانَ أَحَدُنَا يُكْرِىْ أَرْضَهُ فَيَقُوْلُ: هٰذِهِ الْقِطْعَةُ لِىْ وَهٰذِهِ لَكَ فَرُبَّمَا أَخْرَجَتْ ذِهِ وَلَمْ تُخْرِجْ ذِهِ فَنَهَاهُمُ النَّبِىُّ ﷺ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

**ترجمه**: او رافع بن خدیج ؓ فـرمـائی: مونږ (انصار) د مدینې والو نه زیات کروندې والا وو، او پـه مونږ کښې به یو تن خپله زمکه په اجاره باندې ورکوله نو داسې به ئې وئیل: دا حصه زمکـه زمـا دپاره ده او دا حـصـه ستا دپاره نـو ډیر کرته به دې زمکې فصل راوخکلو او دې بلې بـه راونهٔ خکلو نو نبی کریم ﷺ دوئ لره (ددې کار نه) منع کړل۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

**تشريح** : حَقْلًا : حقل : فصلونو او پټو ته وائي۔ کله فصل ته وائي او کله ځائے د کروندے ته وائي۔ او حقل جمع د حقلة ده۔ (کشف اللثام شرح عمدة الاحکام)

يُكْرِیْ أَرْضَهُ : يعني زمکه به ئے په کرايه او اجاره باندے ورکوله۔ يعني يوه برخه زمکه به ئے زميدلر ته ورکړه او باقي د زمکے مالك دپاره شوه۔ نو کله به يوے برخے د زمکے ته آفت ورسيدو نو د هغے برخے والا به محرومه شو۔ نو دا ښکاره دهوکه او جواري وه نو پدے وجه ترے رسول الله ﷺ منع وفرمائيله۔

چا ته خپله زمکه د کروندے دپاره د عارية په طور ورکول بهتر دي

2976 (5) - وَعَنْ عَمْرٍو قَالَ : قُلْتُ لِطَاوُوسٍ: لَوْ تَرَكْتَ الْمُخَابَرَةَ فَإِنَّهُمْ يَزْعُمُوْنَ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ نَهٰى عَنْهُ قَالَ : أَيْ عَمْرُو ! إِنِّيْ أُعْطِيهِمْ وَأُعِينُهُمْ وَإِنَّ أَعْلَمَهُمْ أَخْبَرَنِيْ يَعْنِي ابْنَ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ لَمْ يَنْهَ عَنْهُ وَلٰكِنْ قَالَ :" **أَنْ يَمْنَحَ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَأْخُذَ عَلَيْهِ خَرْجًا مَعْلُوْمًا** ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

**ترجمه** : او عمرو بن دينارؒ نه روايت دے هغه وائي : ما طاووسؒ ته ووئيل : که تهٔ مزارعه پريدے (دا به ښه وي) ځکه چه علماء وائي چه نبي کريم ﷺ ددے نه منع فرمائيلے ده، هغهٔ وفرمايل : اے عمرو! زهٔ (خپله زمکه د کروندے دپاره) خلکو ته ورکوم او د هغوی مدد کوم او د دوئ تولو نه لوی عالم يعني ابن عباس ﷺ ما ته خبر راکړے چه نبي کريم ﷺ ددے نه منع نهٔ ده فرمائيلے، ليکن هغهٔ فرمايلي : که يو تن ستاسو خپل وروړ ته (زمکه د کروندے دپاره) مفت ورکړی دا ددهٔ دپاره زيا ته بهتره ده ددے نه چه د هغے په مقابله کښے پرے معلومه مزدوري واخلي۔ (بخاريؒ، مسلمؒ)

**تشريح** : لَوْ تَرَكْتَ : د لو جواب پټ دے۔ (يعني لَكَانَ خَيْرًا لَكَ) يعني دا به ستا دپاره بهتره وي۔

الْمُخَابَرَةَ : يعني مزارعه۔ يَزْعُمُوْنَ : زعم په معنیٰ د نفس قول سره دے۔

أُعْطِيهِمْ : يعني زهٔ به زمکه د کروندے دپاره ورکوم۔

وَأُعِينُهُمْ: د اعانت نه دے، يعني زهٔ ئے پدے سره مدد کوم۔ په روايت د کشمهينيؒ او ابن ماجه کښے دي : (وَأُغْنِيهِمْ) د اِغناء نه دے، يعني زهٔ ئے پدے سره مالداره کوم او بے پرواه کومه ئے۔ ليکن اول روايت غوره دے۔

په بل روایت کښې دي : مجاهدؒ طاوسؒ ته ووېل : چه ته د رافع بن خدیج ﷺ ځوی خوا ته لاړ شه او د هغهٔ نه د هغهٔ د پلار حدیث واوره، نو طاووسؒ ووېل : [لَوْ أَعْلَمُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ نَهٰى عَنْهُ لَمْ أَفْعَلْهُ لٰكِنْ حَدَّثَنِي مَنْ هُوَ أَعْلَمُ مِنْهُ يَعْنِي ابْنَ عَبَّاسٍ فَذَكَرَهُ]۔
که ما ته معلومه وې چه رسول الله ﷺ د مزارعې نه منع کړې نو ما به نهٔ کولے، لیکن ما ته ډیر لوی عالم خبر راکړې یعني ابن عباس ﷺ بیائے دا حدیث الباب ذکر کړو۔
لَمْ يَنْهَ عَنْهُ : ددې او د (نَهٰى عَنْهُ) ترمینځ هیڅ تعارض نشته ځکه چه نهي په هغه صورت کښې وه چه خلکو به فاسد شرطونه لګول او اجازه په هغه صورت کښې ده چه غلط شرطونه پکښې نهٔ وی۔ یا د نهي نه مراد نهي تنزیهي ده او په کوم روایت کښې چه نفي د نهي راغلې ده نو د هغه نهي نه تحریمي نهي مراد ده۔
لَمْ يَنْهَ عَنْهُ : یعني ددې نه ئے منع نهٔ ده کړې چه زمکه د حاصل په څه برخه باندې ورکړې شي۔ نو د ابن عباس ﷺ د روایت مطلب دا دې چه د مزارعې نه نهي په حقیقت باندې بناء نهٔ ده بلکه دا په اولویت او افضلیت باندې بناء ده۔ یا نهي د صحیح عقد نه نهٔ ده بلکه د فاسد شرط نه ده۔
أَنْ يَّمْنَحَ : د همزې زبر او د نون سکون دې۔ او د حاء زبر دې، نو پدې وخت کښې به أن تعلیلیه وی۔ لیکن ظاهر دا ده چه أن مصدریه دې او مدخول ئے په تاویل د مصدر سره مبتداء ده او لام ابتدائیه مقدر دې او په اصل کښې داسې دې :[لَأَنْ يَّمْنَحَ اَحَدُكُمْ أَيْ لَمَنْحُ اَحَدِكُمْ أَخَاهُ خَيْرٌ لَهُ]۔ او دې کښې زیر د همزې او سکون د حاء هم راغلې دې نو دې وخت کښې به إن شرطیه وی۔ یعني (إِنْ يَّمْنَحْ) لیکن اول قول زیات مشهور دې۔
خَرْجًا: یعني اجرت او مزدوري۔ مطلب دا دې چه زمکه دِې وررور مسلمان ته په طریقه د تحفه او عاریه سره هسې ورکړي وجه دا ده چه د خلکو به د زمکې د کرائي په باره کښې جګړې راتللې تردې چه هغوی به ئے قتال ته ورسول۔

2977 (6) - وَعَنْ جَابِرٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ :" مَنْ كَانَتْ لَهُ أَرْضٌ فَلْيَزْرَعْهَا أَوْ لِيَمْنَحْهَا أَخَاهُ فَإِنْ أَبٰى فَلْيُمْسِكْ أَرْضَهُ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

**ترجمه** : او جابر ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمایل : د چا چه زمکه وی هغهٔ له پکار دی چه هغه وکری یا دِې ئے کوم وررور ته مفت ورکړي، که ددې (دواړو خبرو) نه هم

انکار کوی نو بیا دې خپله زمکه ځان سره وساتی. (بخاریؒ ومسلمؒ)

**تشریح** : د بخاریؒ په یو بل روایت کښې دی: خلکو به زمکه په دریمه یا څلورمه یا نیمائی برخه باندې کرله نو نبی ﷺ وفرمایل: د چا چه زمکه وی نو هغه دې ئې خپله وکری، یا دې ئې بل ورور مسلمان ته په تحفه او عاریه کښې ورکړی (چه هغه ئې ځانله وکری) او که دا کار نۀ کوی (یعنی نۀ ئې خپله کری او نۀ ئې بل ته مفت ورکوی) نو بیا دې ئې همداسې بنده وساتی. الحدیث. دې حدیث (فَلْيُمْسِكْ أَرْضَهُ) باندې دا **اشکال** دې چه که زمکه همداسې پریخودې شي نو پدې سره منفعت (فائده) د زمکې ضائع شوه او حدیث کښې خو د مال ضائع کولو نه منع راغلې ده. **جواب** دا دې چه د عین مال ضائع کولو نه منع راغلې ده نۀ د منفعت نه، ځکه چه کله زمکه بغیر د کروندې نه پریخودې شي نو د هغې منفعت بیا هم نۀ ختمیږی ځکه چه په هغې کښې به نورې گیاه گانې، لرگی او وابنۀ راوخیژی چه د حیواناتو د خر وغیره دپاره به پکار راشی. او که فرض کړه چه دا هم پکښې ونشی نو زمکه چه یو کال ونۀ کرل شی نو په هغې کښې قوت پیدا کیږی چه په بل کال کښې کیدې شی چه د پریخودې شوی کال برخه فصل هم راوکرځوی.

دا خبره هله ده چه د مزارعې نه نهی په عموم باندې حمل شی البته که په خاص صورت باندې نهی حمل شی کوم چه په خلکو کښې مشهوره وه چه د زمکې په یوه نامعلومه برخه باندې به ئې مزارعه کوله. نو بیا دا دې لره مستلزم نۀ دې چه د زمکې نه به د کروندې فائده معطله شی بلکه په سرۀ او سپینو به ئې په اجاره ورکړی لکه چه دا خبره مخکښې ذکر شوه. والله اعلم.

بعض شراحو لیکلی دی چه (فَلْيُمْسِكْ أَرْضَهُ) د توبیخ او رټنې په طریقه وئیلې شوې چه مال درسره شته او د هغې نه نۀ خپله فائده اخلې او نۀ ئې بل ته ورکوې. نو بس ځان سره ئې وساته. (المفاتیح شرح المصابیح)

### په زراعت کښې د مشغوله کیدو په وجه د جهاد پریخودو وعید

- 2978( 7 ) – وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ ﷺ وَرَأَى سِكَّةً وَشَيْئًا مِنْ آلَةِ الْحَرْثِ فَقَالَ : سَمِعْتُ النَّبِيَّ ﷺ يَقُولُ :" **لَا يَدْخُلُ هٰذَا بَيْتَ قَوْمٍ إِلَّا أُدْخِلَهُ الذُّلُّ** ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

**ترجمه** : او ابو امامه ﷺ په باره کښې روايت شوے چه دهٔ (په يو ځائے کښې) ايوه او د کروندے څه نور سامان وليدو نو وے فرمايل : ما د نبي کريم ﷺ نه آوريدلي چه فرمايل ئے : دا سامان د خلکو کور ته نهٔ داخليږي مگر هغوي ته به ذلت داخل کړے شي۔ (بخاريؒ)

**تشريح**: سِكَّة : هغه وسپنه چه زمکه پرے اړه ولے شي او بيا پرے کرونده کيدے شي لکه ايوه۔ أُدْخِلَهُ الذُّلُّ : دا په صيغه د مجهول سره دے۔ يا صيغه معلوم ده، او ضمير د فاعل الله تعالیٰ ته راجع دے۔

حافظ ابن حجرؒ فرمائي : ددے نه مراد دا دے چه فصل والو باندے د زمکے په باره کښے حقونه وي چه واليان د زمکو والو نه د هغے مطالبه کوي نو پدے طريقه هغوي ذليله کوي۔ او هرکله چه زمکے فتح شوے نو اول کارونه به په زمکو کښے اهل ذمهؤ کول او صحابه کرامو به د زمکو کاربد گنړلو۔

**سوال** : په احاديثو کښے خو د کرکيلے او د ونو د کرلو او نالولو فضيلت راغلے دے بيا دا څنگه وئيلے شويدي چه پدے کښے ذلت دے ؟

**جواب** دا دے چه د آخرت د ثواب په اعتبار سره پدے کښے ډير اجر دے، ليکن د دنيا په اعتبار سره پکښے بنده د ذلت سره مخامخ کيږي ځکه چه پدے باندے به خراج لازميږي او دا به د بادشاهانو او د اميرانو د قهر او قبضے لاندے وي لکه په هر دور کښے په زميندارو باندے ظلم کيږي، او ابن التينؒ وئيلي دي چه دا د نبي ﷺ اخبار بالغيب دے چه رشتيني راوتے دے، ځکه چه اُوس مشاهده گواه ده چه اکثر ظلم په زميندارو باندے کيږي۔

امام بخاريؒ پدے حديث باندے داسے باب ايخودے دے چه [بَابُ مَا يُحَذَّرُ مِنْ عَوَاقِبِ الْإِشْتِغَالِ بِالزَّرْعِ، أَوْ تَجَاوَزَ الْحَدَّ الَّذِي أُمِرَ بِهِ] ۔ پدے کښے اشاره کوي تطبيق د دواړو روايتونو ته په دوه طريقو سره.يو دا چه د زميدارے عاقبت بد وي ځکه چه کله بنده په زميداره مشغول شي نو ددے په سبب ډير هغه حکمونه ضائع کوي چه دهٔ ته د هغے د حفاظت حکم شوے وي، مونځ نهٔ کوي يا ئے په پتي کښې کوي، د الله تعالیٰ بندگئ ته اُوزگار نهٔ وي (جهادونه او نور ديني فرائض ترينے پاتے وي) نو دا ذلت دے۔ دويم دا چه که چرته حقوق نهٔ ضائع کوي نو بيا بدي په هغه وخت ده چه د حدودو نه پکښے تجاوز

وکړی۔

حاصل مطلب دا چه دا کارونه او دا څیزونه غالباً سبب د ذلت دے خو بعضو دپاره به سبب نۀ گرځی، د الله تعالیٰ نه به پکښے یره کوی۔ او دا مطلب نۀ دے چه هر څوك چه دهقانی کوی نو هغه به ذلیله وی، ځکه چه صحابه کرامو کښې هم دهقانان موجود وو او ډیر ایمان والا کروندے کوی۔

بعض اهل علمو لکه امام داودیؒ فرمائیلی دی چه دا منع دهغه چا په حق کښے ده چه دشمن ته نزدے وی ځکه چه کله بنده په کرکیله مشغول شي نو د هغۀ نه فروسیت (د اسونو د زغلولو مهارت) ضائع کیږی نو دشمن پرے زړه ور کیږی نو هغوی له پکار دی چه په فروسیت مشغول شی او نورو خلکو له پکار دی چه د دوئ د ضروریاتو د پوره کولو خیال وساتی او دوئ سره مدد وکړی۔ (فتح الباری)

علامه دمامینیؒ په "مصابیح الجامع" (۲۱۹/۵) کښے وئیلی دی چه د زراعت بدی د هغه چا دپاره ده چه دے ته پوره مائل کیږی او جهاد پریدی۔ (نو پدے سره به ذلیله کیږی)

## په پردئ زمکه کښے د کرونده کولو تاوان

## الفصل الثانی

2979 (8) – وَعَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: " مَنْ زَرَعَ فِيْ أَرْضِ قَوْمٍ بِغَيْرِ إِذْنِهِمْ، فَلَيْسَ لَهُ مِنَ الزَّرْعِ شَيْءٌ، وَلَهُ نَفَقَتُهُ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ.

**ترجمه**: او رافع بن خدیج ﷺ نه روایت دے، نبی کریم ﷺ وفرمایل: چاچه د چا په زمکه د هغوئ د اجازت نه بغیر فصل وکرلو، نو هغۀ ته به د پیداوار نه هیڅ شے نۀ ملاویږی، البته خرچه به ورته ملاویږی۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ، او ترمذیؒ وئیلی دی چه دا حدیث غریب دے)۔

**تشریح: فوائد**: (۱) حدیث نه ثابته شوه چه څوك د چانه زمکه په زوره ونیسی او بیا په کښے فصل وکری نو دا فصل به د زمکے د مالك رسیږی، او غاصب ته به صرف د فصل قیمت ورکولے شی یعنی د تخم، د زمکے اړولو او اوبۀ کولو نفقه او قیمت به

ورکړے شی۔ او په فصل کښے ددۀ هیڅ برخه نشته۔ او په دے باندے دلیل مخکښے تیر شوے حدیث هم دے چه [لَيْسَ لِعِرْقٍ ظَالِمٍ حَقٌّ ] (د ظالم رګ دپاره هیڅ حق نشته) او د زمکے خاوند له دا اختیار هم شته چه غاصب ته فصل پریدی او ریبلو پورے ددے فصل اُجرت او کرایه ترے واخلی اوکه په زمکه کښے نقصان راغلے وی نو ددے تاوان هم ترے واخلی۔ خو دا حکم هله دے چه کله فصل ولاړ وی۔ اوکه فصل ریبل شوے وی او روسته بیا دا مسئله راپیښه شی نو په دے صورت کښے به د زمکے خاوند صرف اجرت، کرایه او مزدوری اخلی۔ او دا د امام احمدؒ، ابو عبیدؒ، ابن حزمؒ او د ډیرو اهلِ مدینه قول دے۔ دے وجے نه غاصب به د فصل په وښکلو باندے نشی مجبورولے ځکه دا خو مال ضائع کول دی، او دا ممکنه ده چه غصب شوے زمکه بیرته مالك ته، د غاصب د مال ضائع کیدو نه په غیر، په نزدے زمانه کښے واپس کړے شی۔

★ او د جمهورو علماؤ **قول** دادے چه په دے صورت کښے فصل د غاصب دے او دے به ددے زمکے اجرت او کرایه ورکوی، او د زمکے خاوند کولے شی چه د ریبلو نه مخکښے دا فصل وباسی۔ خو کله چه وریبل شی نو بیا دا صرف د اجرت او کرایه اخستو حق لری۔خو صحیح **قول** اولنے دے ځکه د هغے دلیل قوی دے چه هغه دا حدیث الباب دے۔ بله دا چه د جمهورو په قول کښے نقصان دادے چه دا د بل چا په مال کښے په ناحقه تصرف کولو ته لاره هواروی ځکه یوتن به خپلے دانے وړی او د بل چا په زمکه به ئے کری او چه کله هغه خبریږی نو هغۀ ته به کرایه ورکوی، نو دا خو په زوره باندے د چا زمکه په کرایه نیول او په زوره چاسره دهقانی کول دی۔ دے وجے نه د جمهورو قول صحیح نۀ دے۔ او بل طرفته چه کله څوك د چا په زمکه فصل وکری او هغۀ ته صرف خپله خرچه ورکړے شی نو ددۀ خواری بے ځائے لاړه نو آینده دپاره به دے داسے کار نۀ کوی که په دماغو کښے ئے عقل وی۔او په دے حدیث کښے مقصد هم د شر او فساد لارے بندول دی۔

او پدے کښے یو بل قول دا هم صحیح دے چه غاصب ته به صرف د تخم او دانو عوض ورکړے شی او هرچه د زمکے اړه ولو قیمت دے، نو هغه به نشی ورکولے ځکه چه دا تصرف دے په پردئ زمکه کښے چه غاصب له جائز نۀ وو۔ نو که په زمکه ئے هرڅومره خرچه کړی وی هغه به نشی ورکولے، او دا ممکن ده چه دلته د (وَلَهُ نَفَقَتُهُ) نه

مراد همدا وی چه د دانو او د تخم عوض دِے ورکړے شی. او په زمکه ئے چه کومه خرچه کړے نو هغه پردئ زمکه ده. او دا هم قوی قول دے. (ابن عثيمينؒ) [فتح ذی الجلال والاكرام ۲۱۱/٤]

**درجة الحديث:** [صحيح] أبوداود: ۳٤۰۳، ترمذی: ۱۳٦٦، ابن ماجه: ۲٤٦٦، أحمد: ٤٦٥/۳، بيهقی: ۱۳٦/٦، فيه ثلاث علل ذكرت فی ارواء الغليل: (۱۵۱۹) ولكن لها شواهد يرتقی بها درجة الصحة، وضعف البخاری طريقا من هذه الطرق، لان الترمذی روی عن البخاری ان هذا الحديث حسن. [ترمذی: ٦٤۸/۳، تعليق بلوغ المرام لسميرؒ].

## د مزارعے ثبوت

## الفصل الثالث

2980 ( 9 ) - عَنْ قَيْسِ بْنِ مُسْلِمٍ عَنْ أَبِي جَعْفَرٍ قَالَ: مَا بِالْمَدِينَةِ أَهْلُ بَيْتِ هِجْرَةٍ إِلَّا يَزْرَعُونَ عَلَى الثُّلُثِ وَالرُّبُعِ. وَزَارَعَ عَلِيٌّ وَسَعْدُ بْنُ مَالِكٍ وَعَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مَسْعُودٍ وَعُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ وَالْقَاسِمُ وَعُرْوَةُ وَآلُ أَبِي بَكْرٍ وَآلُ عُمَرَ وَآلُ عَلِيٍّ وَابْنُ سِيرِينَ وَقَالَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ الْأَسْوَدِ: كُنْتُ أُشَارِكُ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ يَزِيدَ فِي الزَّرْعِ وَعَامَلَ عُمَرُ النَّاسَ عَلَى: إِنْ جَاءَ عُمَرُ بِالْبَذْرِ مِنْ عِنْدِهِ فَلَهُ الشَّطْرُ. وَإِنْ جَاؤُوا بِالْبَذْرِ فَلَهُمْ كَذَا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

**ترجمه:** قيس بن مسلمؒ د ابو جعفرؒ نه روايت كوی چه هغه فرمائی: نشته په مدينه كښے د هجرت والا كورنئ (يعنی مهاجرين) مگر هغوی په دريمه او څلورمه برخه باندے كرونده كوی. او جناب علی بن ابی طالب، سعد بن مالك (سعد بن ابی وقاص) عبد الله بن مسعود رضی الله عنهم او عمر بن عبد العزيزؒ، قاسمؒ، عروهؒ، د ابوبكر صديق ﷺ اولاد، د عمر ﷺ اولاد، د علی ﷺ اولاد، ابن سيرينؒ به مزارعه كوله. او عبد الرحمن بن اسودؒ وائی: زۀ به د عبد الرحمن بن يزيدؒ سره په كرونده كښے شريك كيدم، او عمر فاروق ﷺ د خلكو سره په دے شرط معامله وكړه چه كه عمر د خپل طرف نه تخم راوړو نو د هغۀ دپاره به نيمائی برخه (د پيداوار) وی، او كه هغوی تخم راوړو نو هغوی له به دومره دومره وی. (يعنی نيمائی، يا دريمه يا څلورمه څه چه مقرر كړے شی). (بخاریؒ)

**تشريح:** قيس بن مسلم الجدلی الكوفیؒ ثقة.

د ابو جعفر نوم محمد بن علی بن الحسين الباقر دے. د امام زين العابدين ځوی دے.

ددې حدیث نه د مزارعې جواز معلومیږي۔ او دومره صحابه کرامو پرې عمل کړے او مخالف ئې نشته۔

عبد الرحمن الاسود بن یزید النخعی الکوفی فقیه او صالح تابعی دے، ذهبیؒ وائی : دا د علماء عاملینو نه وو، انتهائی عبادت گذار وو۔ د عبد الرحمن بن یزیدؒ ورارهٔ دے۔ابن حجرؒ وائی : ثقه دے۔

سعد بن مالك نه مراد سعد بن ابی وقاص ﷺ دے۔

وَعَامَلَ عُمَرُ النَّاسَ : یعنی عمر فاروق ﷺ به خلکو سره پدې شرط د مزارعې معامله کوله چه که تخم د عمر فاروق ﷺ وی نو زمیدار به نیمائی برخه راکوی او که تخم هم د زمیدار وی نو بیا به دوئ له زیاته برخه وی۔ دوه برخې به د هغوی وی او یوه برخه به د عمر فاروق ﷺ وی۔ او هرکله چه دا جائز ده چه هریو د مالك او د زمیدار نه تخم راوړی نو چه دواړه ئې په شریکه راوړی هم جائز ده لکه دا خبره حسن بصریؒ نه نقل ده۔

**درجة الحدیث** :[ظن صاحب المشکاة انه حدیث واحد فَوِهَمَ ! وانما هی عدة آثار معلقة وقد بین الالبانی من وصلها فی کتابه تغلیق التعلیق ۳/ ۳۰۰، ۳۰۶] ولکن الظاهر انه اختصره ولیس وهمه.



## ١٤- باب الإجارة — د اجارے بیان

(اجاره) د اجر نه دے عوض او ثواب ورکولو ته وائی۔ یعنی کاریگر له د هغهٔ بدله ورکول۔ او شرعًا : (١) چاله یو شے په کرایه ورکول۔ (٢) یا : یو شے د معلوم اُجرت په عوض چاله ورکول۔ (مُؤجر) یو شے په کرایه ورکونکی یا مزدور نیونکی ته وائی۔ (مستاجر) په کرایه اخستونکے۔ (اجیر) مزدور۔

(ب) هِيَ عَقْدٌ عَلَى الْمَنَافِعِ دُوْنَ الْأَعْيَانِ، تَنْعَقِدُ بِلَفْظِ الْإِجَارَةِ وَالْكِرَاءِ وَمَا فِي مَعْنَاهُمَا. وانظر فقه المعاملات المالية، لتوفيق مصرى، ص : ١٨٩، ٢٣١].

دا په منافع باندے عقد او تړون ته وائی، نهٔ په ذات د څیزونو۔ دا په لفظ د اجاره او کرایه یا ددے په شان نورو الفاظو سره ادا کیږی۔

او د مساقات او اجارے ترمینځه **فرق** دے، څکه مساقات کښے خامخا د وُنے خاوند ته اجرت ملاویږی۔ او په اجاره کښے مستاجر ته کله نفع ملاؤ شی او کله نه۔

### د اِجارے جواز

### الفصل الأول

2981 (1) – عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مُغَفَّلٍ ﷺ قَالَ: زَعَمَ ثَابِتُ بْنُ الضَّحَّاكِ ﷺ، أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ : نَهٰى عَنِ الْمُزَارَعَةِ، وَأَمَرَ بِالْمُؤَاجَرَةِ. وَقَالَ :" **لَا بَأْسَ بِهَا** ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ .

**ترجمه** : **عبد الله بن مغفل** ﷺ فرمائی : **ثابت بن ضحاك** ﷺ وئیلی دی چه رسول الله ﷺ د مزارعت نه منع فرمائیلے او په کرایه (او ټهیکه) ورکولو باندے ئے امر فرمائیلے۔ (مسلمؒ)۔

**تعارف د ثابت** بن ضحاك ﷺ : بن خلیفه انصاری۔ ابو یزید ددهٔ کنیه ده۔ د خزرج قبیلے د اشهل نه د کیدو په وجه ورته خزرجی اشهلی وئیل کیږی۔ مشهور صحابی دے۔ د بیعتِ رضوان کونکو صحابو نه شمار دے۔ دا وخت دا وړوکے وو۔ د یو قول

مطابق په (٤٥) هجری کښې وفات شو، خو صحیح داده چه د عبد الله بن زبیر ﷺ د هنګامې په ورځو شپو کښې په (٦٤) هجری کښې وفات شو۔

**تشریح :** [نَهٰی عَنِ الْمُزَارَعَةِ] یعنې کرکیلے دپاره زمکه ورکول د هغې د یو خاص پیداوار په عوض کوم چه د ذوئ ترمینځه رواج وو چه په هغې کښې په یو اړخ کښې غرر، جهالت او ظلم وو۔ او دے نه مراد هغه مزارعت نهٔ دے کوم چه نبی کریم ﷺ او د هغوئ نه پس صحابه کرامو رضی الله عنهم کولو۔

[وَأَمَرَ بِالْمُؤَاجَرَةِ] د امر نه مراد دلته اباحت دے، ځکه چه دا په مقابله د نهی کښې راغلے۔ یعنې د سرو یا سپینو زرو په هغه معلوم مقدار باندے کرکیلے دپاره زمکه ورکول چه مستاجر به ئې د زمکې مالك ته ورکوی۔

**فوائد :** (۱) پدے حدیث کښې مزارعت ته ناجائز او زمکه په اجاره او کرایه ورکولو ته جائز ووئیلے شوه۔ او ددے مزارعت نه مراد د مزارعت خاص صورت دے چه چاله زمکه ورکول او د خپل ځان دپاره هغه فصل شرط کول چه هغه د نهرونو یا لښتو یا اوړو په غاړه ولاړ وی ځکه غالبًا په دے ځایونو کښې فصل ښین او ګڼړ ګور وی۔ دا صورت د دهوکې او غَرَرُ په وجه ناجائز دے، ځکه ممکنه ده چه د زمکې په دے برخه کښې فصل ونشی نو مالك په نقصان کښې پریوځئ او که همدا وشی او بله برخه ونشی نو دهقان په نقصان کښې پریوځئ۔ نو دا یو قِسم جواری ده۔

او ددے نه هغه مزارعت مراد نهٔ دے کوم چه نبی کریم ﷺ او صحابه کرامو ﷺ کولو۔ چه د هغې صورتونه مخکښې ذکر شویدی۔

(۲) ددے حدیث نه د مزارعت او اجارے ترمینځه فرق معلوم شو۔ هغه دا چه مزارعت د شرکت د جنس نه دے چه مالك او عامل دواړه به په غُنْم او غُرْم (ګټه او تاوان) کښې شریك وی، نو دا د مضاربت پشان شوه ځکه هریو دپاره یوه معلومه برخه ده، که فصل کره وشو نو ګټه به زیاته وشی او که ردی وشو نو ګټه به کمه وشی۔ او هرچه اجارَه ده نو په هغې کښې مؤجر (په اجاره او کرایه ورکونکے) خامخا ګټه کوی او اجرت اخلی۔ او پاتے شو مُسْتَأجر (په کرایه اخستونکے) نو دا د ګټې امید لرونکے وی، او کله فصل ته آسمانی آفت ورسی، نو دا هم کیدے شی چه دهٔ خپل مال ورکړے وی او هیڅ ګټه ونهٔ کړی۔ دا وجه ده د مزارعت د مُجوزینو دپاره دا یو دلیل هم دے چه مزارعت د اجارے نه

هم زيات حلال كاروبار دے۔ ځكه په دے كښے دواړه طرفه په گټه او تاوان كښے شريك وى، او په اجاره كښے د مُستاجر گټه يقينى نهٔ وى۔

او مؤاجره (په اجاره باندے زمكه وركول) كه په يو معلوم عوض سره وى لكه نقدے روپئ يا طعام يا سامانونه نودا جائز ده، او په همدے كښے نبى كريم ﷺ اجازه وركړے۔ او كه په دے كښے غرر او جهالت وو لكه د زمكے د خاوند دپاره د نهر يا لښتو د غاړو فصل خاص كول او يا د فصل يو معلوم اړخ خاص كول، يا غنم به زما او وريشے به ستا وى۔ نو ددے نه منع راغلے او دا فاسده اجاره ده۔ او همدا فاسده اجاره او همدا د مزارعت قسم دے چه د جاهليت والو په نيز معروفه وه نو ځكه دوئ ددے نه منع كړے شول۔ او په بخارى او مسلم كښے چه د جابر رضي الله عنه په حديث كښے د ((كراء الارض)) نه كومه منع راغلے نو هغه په همدے صورت باندے حمل ده۔

## حجامه كونكى ته اجرت وركول جائز دى

2982 (2) – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنه: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ إِحْتَجَمَ فَأَعْطَى الْحَجَّامَ أُجْرَهُ وَاسْتَعَطَ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

**ترجمه** : او ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ ښكر ولگولو او ښكر لگونكى ته ئے د هغهٔ مزدورى وركړه، او سعوط ئے وكړو۔ (يعنى په پوزه كښے ئے دوائى واچوله) (بخارىؒ، مسلمؒ)

**تشريح** : [الْحَجَّامِ] ښكر لگونكے۔ د حديث نه معلومه شوه چه په حِجامت (د ښكر په ذريعه وينه ويستلو) باندے اجرت اخستل جائز او مباح كار دے، ځكه نبى كريم ﷺ حجام (ابو طيبه رضي الله عنه) ته د حجامت اجرت وركړے وو، كه چرے دا كار حرام وے نو هغهٔ ته به ئے هيڅ كله په دے اُجرت نهٔ وے وركړے ځكه په حرام كار باندے اجرت وركول او اخستل دواړه حرام دى۔ ددے قائل ابن عباس رضي الله عنه او ددهٔ ددے خبرے مقصد په هغه چا رد كول دى چه هغه دا خيال لرى چه حجام ته اجرت وركول جائز نهٔ دى او دا كار حرام دے۔ دا خو ددے نص نه معلومه شوه۔ عقلى تقاضا هم داده چه دا كار دِے جائز شى ځكه خلك ديته حاجت لرى او هرڅوك دا مفت نهٔ كوى نو كه په دے اجرت اخستل جائز نشى نو خلك به په حرج او تنگسيا كښے پريوځى ځكه داسے څوك به ورته نهٔ ملاويږى چه د

ښکر وغیره په ذریعه د هغویٔ د بدن نه وینه اُویاسي. نو ځکه په دے اجرت اخستل جائز دي. لکه څنګه چه په رضاع او ماشوم له پیٔ ورکولو دپاره په کرایه سره مُرضعه نیول جائز دي. (٢) او حدیث نه معلومه شوه چه د ښکر لګولو په ذریعه دوائي او علاج کول جائز دي. په بخاري او مسلم کښے د انس ﷺ روایت دے چه ((ابو طیبه په رسول الله ﷺ باندے ښکر ولګولو، نو نبي ﷺ هغهٔ لپاره د دوه صاعه خوراك ورکولو حکم وکړو، او د هغهٔ مالکانو ته ئے حکم وکړو چه په دهٔ باندے په لګیدلي ټیکس او مالیه کښے دِے دهٔ سره آساني وکړي. او نبي کریم ﷺ وفرمایل: ((بهترین هغه شے چه تاسو په دے سره علاج کویٔ: ښکر لګول او قُسطِ بحري دے)) [بخاري: ٢١٠٢، مسلم: ١٥٧٧]

د حِجامت ځینے **فوائد** دادي چه په دے سره د سر د بیماریانو علاج کیږي، د سینے دردونه ورسره ښهٔ کیږي او هر هغه اثر چه د وینے د زیاتوالي یا خرابوالي په وجه په بدن کښے پیدا شوے وي، د هغے علاج پرے کیږي. د جادو او بد نظر دپاره هم کیږي.

او په حدیث د ابورافع ﷺ کښے چه د حجام کسب ته خبیث وئیل شوي نو د هغے دا مطلب نهٔ دے چه ګنے دا کار کول حرام دي، بلکه مقصد دا چه دا د هغه ذلیله کارونو نه دے چه ددیٔ نه ځان ساتل پکار وي. او نبي ﷺ د حجام د ګټے په باره کښے فرمائي: [أَطْعِمْهُ نَاضِحَكَ وَرَقِيقَكَ] (دا په خپل اوښ او غلام وخوروه) [أبوداود: ٣٤٢٢، ترمذي: ١٢٧٧، ابن ماجه: ٢١٦٦، أحمد: ٩٦/٣٩، ١٠١، واسناده صحيح، وفيه كلام من جهة ارساله] نو دا د هغے د اباحت دلیل دے ځکه خپل غلام باندے حرام شیان خوړل جائز نهٔ دي، ځکه کوم شے چه اصیل سړي دپاره حرام وي، مریٔی لپاره هم حرام وي.

(٤) پاتے شو د حجامت نه علاوه د نورو شیانو دپاره حجام په اجاره او کرایه نیول، لکه د رګ وهلو، ویښتهٔ خرئیلو، ختنے (سنتګرئ) یا نورو مقصدونو دپاره نو دا جائز دي او ددهٔ ګټه هم خبیثه نهٔ ده، ځکه حدیث کښے صرف د ښکر لګولو د ګټے د خباثت بیان دے نو دا به په خپل ځائے پورے خاص وي. [المغني: ١٢٠/٨]

(٥) او د حدیث نه دا هم معلومه شوه چه د اجرت ټاکلو نه بغیر هم مزدور نیول جائز دي، دارنګه د هغهٔ د اجرت او مزدورئ برابر یا ددے نه زیاته مزدوري ورته ورکول جائز دي، ځکه نبي کریم ﷺ د دغه حجام سره څهٔ مزدوري نهٔ وه شرط کړے. خو شاید چه دا په عرف حمل وي چه هغویٔ به ددے اندازه پیژندله نو دا د هغه شیانو نه دے چه په دے

باره کښېبه عرف ته رجوع کولے شي۔ والله تعالیٰ اعلم۔

(٦) فائده : بیا حجامه باندے اجرت اخستل اګرکه پریوتے کار دے لیکن بل له جائز دي چه هغهٔ ته اجرت ورکړي۔ او دا د شریعت اصول دي چه کله به یو شے د یو تن دپاره اخستل غوره نهٔ وي لیکن بل دپاره ورکول ئے جائز دي۔ لکه د خپل یو حلال شي د آزادولو دپاره مال ورکول جائز لیکن د اخستونکي دپاره رشوت او حرام دے۔ د سپي خرڅول حرام دي لیکن د ضرورتمن دپاره ئے اخستل جائز دي۔

وَاسْتَعَطَّ : د سعوط نه دے (د سین په زور سره) هغه دوائی ته وائی چه په پوزه کښې اچولے شي تیل وي یا د اُوبو څاڅکي وي چه په هغې کښې دوائی وي، طریقه ئے دا ده چه بیمار په شا باندے څملولے شي او د اُوګو مینځ کښې ورته څه شے کېږدي چه اُوګے ئے راپورته کړي دے دپاره چه سر ئے خکته شي او په پوزه کښې ورته دغه دوائي واچولے شي او هغه دماغو ته ورسیږي او په هغې سره د دماغو نه په پرنجي سره بیماري راوځي۔ (فتح الباری ۱۰/۱۲٤) نو سعوط کول هم د دوائي یو قسم شو لکه څنګه چه حجامت یو قسم دے۔

## نبی کریم ﷺ په اجرت باندے ګډے بزے څرولي دي

- 2983( 3 ) - وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ : " مَا بَعَثَ اللّٰهُ نَبِيًّا إِلَّا رَعَى الْغَنَمَ ". فَقَالَ أَصْحَابُهُ : وَأَنْتَ ؟ فَقَالَ :" نَعَمْ كُنْتُ أَرْعٰى عَلٰى قَرَارِيْطَ لِأَهْلِ مَكَّةَ ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

**ترجمه** : او ابو هریره ﷺ د نبی کریم ﷺ ارشاد نقل کوی فرمائی : نهٔ دے رالیږلے الله تعالیٰ هیڅ یو نبی مګر هغه ګډے بزے څرولي دي، نو هغهٔ ته د هغهٔ ملګرو وویل : او تا ؟ (هم ګډے بزے څرولي؟) وے فرمایل : آؤ، ما به د مکے والو دپاره په یو څو تکو باندے څرولے۔ (بخاریؒ)

**تشریح** : رَعَى الْغَنَمَ : هر نبي باندے الله تعالیٰ ولے ګډے بزے څرولي دي؟ ددے حکمت دا دے چه پدے سره د انبیاؤ علیهم السلام حِلم او شفقت زیاتیږي هرکله چه دوئ د ګډو بزو د څرولو په مشقت باندے صبر وکړي او د هرے ګډے په مختلفو طبیعتونو خبر شي او د هغې د تس نس کیدو نه پس د چراګاه او د اُوبو ځائے ته په راجمع

کولو باندے صبر وکړي او د هغوی ضعف او د یو ځائے نه بل ځائے ته د اُوبو او څر دپاره په نقل کولو کښے ضرورت وپیژني نو هرکله چه دوئ دا وپیژني نو د عوامو تربیت به ښهٔ کولے شي ځکه چه د عوامو ګډون هم د ګډو بزو په شان دے چه طبیعتونه ئے مختلف دي، د بعضو عقلونه کم دي، او د هغے نه چوپان ته مشقت رسیږي نو بیا به انبیاء علیهم السلام د هغوی نه نفرت نهٔ کوي او په دعوت کښے به د هغوی نفسونه نهٔ ستومانه کیږي ځکه چه دوئ به په ضرر او مشقت برداشت کولو عادت او اموخته شوي وي۔ (المفاتیح)

دارنګه په ګډو بزو څرولو کښے بنده کښے تواضع او عاجزي پیدا کیږي۔

قَرَارِيطَ : جمع د قیراط ده، ابو اسحاق الحربیؒ وائي : دا د محله اجیاد خوا ته د یو ځائے نوم دے۔ لیکن دے باندے بعض اهل علمو رد کړے لکه توربشتیؒ چه ددهٔ نه مخکښے دا قول هیچا نهٔ دے کړے۔ مګر ابن جوزیؒ ددهٔ قول ته اصح وئیلي دي۔ او جمهورؒ وائي چه د قراریط نه مراد خاص اندازه د روپئ ده، چه دینار ته نهٔ رسیږي۔ بیا ئے دلته مقدار نهٔ دے ذکر کړے یو خو د هغے د سپکوالي په وجه چه دنیاوي څیز دے۔ یا پدے وجه چه دغه اندازه ترے هیره شوے وه۔ او رسول الله ﷺ چه دا خبر ورکوی نو پدے کښے الله تعالیٰ دپاره تواضع کول دي او د الله تعالیٰ احسان په خپل ځان باندے زباتوي۔

او محدثینو هم دا حدیث په باب د اجاره کښے پدے وجه راوړے چه رسول الله ﷺ هم د خپل لاس کسب کړے او د خپلے خوارئ او محنت کمائی ئے حاصله کړے ده۔ پدے کښے د رسول الله ﷺ زیاتے پاکئ ته اشاره ده چه د چا نه به ئے سوالونه نهٔ کول۔ او محنت او مزدوري د انسان د شرافت او مشرئ سره منافات او تضاد نهٔ لري او پدے کښے هیڅ عیب نشته۔

### درے کسانو سره به الله تعالیٰ د قیامت په ورځ جګړه کوي

2984 ( 4 ) – وَعَنْهُ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ : " قَالَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ : ثَلَاثَةٌ أَنَا خَصْمُهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ : رَجُلٌ أَعْطَى بِيْ ثُمَّ غَدَرَ. وَرَجُلٌ بَاعَ حُرًّا، فَأَكَلَ ثَمَنَهُ. وَرَجُلٌ اِسْتَأْجَرَ أَجِيرًا فَاسْتَوْفٰى مِنْهُ وَلَمْ يُعْطِهِ أَجْرَهُ ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

**ترجمه** : ابو هریره ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمایل : الله تعالیٰ فرمائي :

درې كسه داسې دي چه زۀ به هغوئ سره د قيامت په ورځ جګړه كونكې يم: يو هغه تن چه هغۀ زما په نوم لوظ وكړو او بيا ئې دا لوظ مات كړو، بل هغه سړې چه آزاد انسان ئې خرڅ كړو او د هغې پيسې ئې وخوړې، او بل هغه سړې چه يو مزدور ئې په مزدورئ ونيوۀ بيا ئې د هغۀ نه پوره كار واخستۀ ليكن د هغۀ مزدوري ئې (پوره) ورنۀ كړه. (بخاريؒ).

**تشريح:** [ثَلَاثَةٌ] درې كسان دي يعنې درې قِسمه كسان دي. او دا شماره د تخصيص دپاره نۀ ده ځكه الله تعالى د ټولو ظالمانو سره جګړه كونكې دې. خو دلته ئې دا ددې درې كسانو د سختې رټنې او بدئ دپاره وئيلي. [أَنَا خَصْمُهُمْ] زۀ به د دوئ سره جګړه كونكې يم، زۀ به د دوئ په خلاف مدعىٰ يم.

[أَعْطَى بِيْ] أَيْ أَعْطَى الْعَهْدَ، أَوْ أَعْطَى يَمِيْنَهُ بِيْ، أَيْ عَاهَدَ عَهْدًا وَحَلَفَ عَلَيْهِ بِاللّٰهِ ثُمَّ نَقَضَهُ (چاسره ئې لوظ وكړو او په ما باندې ئې قسَم وكړو او بيا ئې دا لوظ مات كړو) يعنې زما په نوم ئې چا سره لوظ او عقد وكړو. او يائې چاته ووئيل چه زۀ تاله د الله تعالىٰ لوظ دركوم چه زۀ به تاته څۀ نۀ وايم، او يا ستا دا خبره به چاته نۀ كوم. او بيا دا لوظ مات كړي. [ثُمَّ غَدَرَ] وعده ئې ماته كړه، ټګي ئې وكړه. غدر كښې معنىٰ د پريښودو ده يعنې خپله خبره ئې پريښوده، خاوره ئې وويسته.

[بَاعَ حُرًّا] يو انسان ئې خرڅ كړو چه دۀ ته پته وه چه دا اصيل انسان دې. [فَأَكَلَ ثَمَنَهُ] خوراك ئې په دې اعتبار سره ذكر كړو چه دا په كښې اصل مقصد دې، كه نۀ وي نو ددې نه مقصد رقم حاصلول دي، برابره خبره ده كه په هغې باندې طعام واخلي يا لباس يا ګاړې موټر يا بل يو شې. [فَاسْتَوْفَى مِنْهُ] يعنې ددې مزدور نه ئې خپل هغه كار پوره واخستۀ د كوم دپاره ئې چه په مزدورئ نيولې وو. په دې كښې ددې كار ډيرې خطرناكئ ته اشاره ده. [وَلَمْ يُعْطِهِ أُجْرَهُ] اجر په لغت كښې د عمل بدلې ته وائي. د فقهاؤ په اصطلاح كښې: هغه عوض ته وائي چه د منفعت په مقابله كښې وركړې كيږي. دېته اُجرت هم وائي. په دې حديث كښې د (رَجُل) ذكر بطور غالب دې، كه زنانه دا كار وكړو نو د هغې به هم دا سزا وي.

**فوائد:** (۱) حديث نه ثابته شوه چه غداري كول او لوظ او وعده ماتول حرام دي. خصوصًا چاسره د الله تعالىٰ په نوم لوظ كول او الله تعالىٰ ګواه كول لويه ګناه ده. دا د منافقانو صفت او پريوتې خوئې دې. په عُرف او معاشره كښې هم ددۀ څۀ قدر او عزت نۀ

وی۔

(۲) او معلومه شوه چه اصيل او آزاد بنده غلام او مرئيے جوړول او هغه خرخول او د هغے ثمن استعمالول د ټولو گناهونو نه لويه گنا ده۔ ددے يو صورت دا هم دے چه يو غلام آزاد كړى او بيا دا خبره پټه كړى يا ترے انكار وكړى بيا دغه آزاد كړده غلام خرخ كړى۔ علامه ابن المنذرؒ فرمائى : د اهلِ علمو په دے اجماع ده چه اصيل خرخول باطل دى۔ مهلبؒ فرمائى : ددے گناه ځكه سخته ده چه مسلمانان ټول په آزادوالى كښے شريك دى نو څوك چه آزاد بنده خرخ كړى نو دهٔ هغه څوك د تصرف كولو نه منع كړو چه الله تعالىٰ ورله د تصرف كولو اجازت وركړے وو، او دهٔ ته ئے هغه ذلت وربه برخه كړو چه الله تعالىٰ دے ددے نه خلاص كړے وو۔ [الاجماع، ص : ١١٤، فتح البارى: ٤/٤١٨]

بله دا چه : غلام جوړول صرف په جهاد كښے په كافرانو باندے د غلبے كولو په وخت راځى۔ انسان د اصيل سړى نه غلام نشى جوړولے۔او د غلام نه ډير حقوق الله ساقط وى، دے وجے نه هيچا دپاره جائز نهٔ دى چه د اصيل سړى نه غلام جوړ كړى، اګركه هغه اصيل سړے ورسره موافق هم وى چه مانه غلام جوړ كړه او ما خرخ كړه، بيا هم دا كار سخت جرم دے۔

(۳) حديث دليل دے چه د عامل او مزدور سړى اجرت او دياړى خوړل او هغهٔ له د كار پوره كولو نه پس مزدورى نهٔ وركول لويه گناه ده۔ او شرعًا او عقلًا قبيح كار دے۔ ځكه كاريگر او مزدور خو ستا مسلمان ورور دے نو دا څنګه كيدے شى چه هغهٔ غريب تاله كار وكړو او ستا مقصد پوره شو او د هغهٔ د خوارى او محنت كولو نه پس ستا په زړهٔ باندے دومره وچغنے ولاړے دى چه اُوس تهٔ د هغهٔ دے مزدورئ ته غل ئے او ديته دے چل غلے كړے۔ هغهٔ د غريبئ او فقيرئ د وجے تاسره دا كار وكړو او بيا د هغهٔ مجبورتيا ته نهٔ ګورے، او هغهٔ سره دا معامله كوے !! دا سخته كمينګى، رذالت او پريوتے خوئے دے۔ نو ځكه په دے باندے دومره سخته سزا راغله چه الله تعالىٰ به ددے مظلومو كسانو د طرف نه دے درے كسانو سره جګړه كوى۔ نو بنهٔ سوچ پكار دے چه د الله تعالىٰ سره څوك جګړه كولے شى؟

(٤) حديث نه معلومه شوه چه اسلام د عاملانو، كاريګرو او مزدورانو د حقونو څومره اهتمام كړے چه دوئ ته دے دا پوره پوره وړسول شى ! په عربو او عجمو كښے

بعض خلك داسې دي چه مزدور ونيسي، كار ترې واخلي او بيا ورله مزدوري نهٔ وركوي۔ په عربو كښې كفيلان مزدوران راوغواړي، خپل مقصد پوره كړي او هغوئ له مزدوري نهٔ وركوي، دې ډپاره چه خپلو ملكونو ته وتښتي۔ نو دوئ دې ددې سختې سزا نه ويريږي كه مسلمانان وي!

(۵) حديث نه دا ثابته شوه چه مزدور له به مزدوري هغه وخت وركولې شي چه هغه خپل كار پوره كړي۔ كه چرې په غير د عذر نه مزدور د مالك كار پوره نهٔ كړو او دغسې بيكاره ئې پريښودهٔ او وتښتيدهٔ، نو ددهٔ دپاره مزدوري وركول واجب نهٔ دي۔ البته كه ډ عذر د وجې لاړو نو څومره كارئې چه كړې وي، د هغې مطابق به ورله مزدوري وركړې شي۔ مثلًا: نيمائي يا دريمه وغيره۔ دغه شان كه مؤجر مزدور نيولې وو او بيائې د كار په مينځ كښې مشوره بدله شوه او حاجت ئې ختم شو، نو مزدور له به پوره مزدوري وركوي۔ ليكن كه د عذر د وجې كار ختم شو مثلًا: سيلاب راغې يا بل آفت راغې او كار پوره نشو نو بيا مزدور ته به د هغهٔ د كار مطابق مزدوري وركولې شي۔ والله تعالىٰ اعلم۔

## په دم باندې د اجرت اخستلو جواز

2985 (5) – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنه: أَنَّ نَفَرًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم مَرُّوا بِمَاءٍ فِيهِمْ لَدِيغٌ أَوْ سَلِيمٌ فَعَرَضَ لَهُمْ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْمَاءِ فَقَالَ: هَلْ فِيكُمْ مِنْ رَاقٍ؟ إِنَّ فِي الْمَاءِ لَدِيغًا أَوْ سَلِيمًا فَانْطَلَقَ رَجُلٌ مِنْهُمْ فَقَرَأَ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ عَلَى شَاءٍ فَبَرَءَ فَجَاءَ بِالشَّاءِ إِلَى أَصْحَابِهِ فَكَرِهُوا ذٰلِكَ وَقَالُوا: أَخَذْتَ عَلَى كِتَابِ اللّٰهِ أَجْرًا حَتّٰى قَدِمُوا الْمَدِينَةَ فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! أَخَذَ عَلَى كِتَابِ اللّٰهِ أَجْرًا. فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم: "**إِنَّ أَحَقَّ مَا أَخَذْتُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا كِتَابُ اللّٰهِ**". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَفِي رِوَايَةٍ: "**أَصَبْتُمْ اقْسِمُوا وَاضْرِبُوا لِي مَعَكُمْ سَهْمًا**".

**ترجمه**: عبد الله بن عباس رضي الله عنه فرمائي: د صحابه كرامو رضي الله عنهم څه كسان (په سفر باندې روان وو، هغوئ) په يوه چينه باندې ورتير شو (چه هلته كښې د عربو يوه قبيله وه) په هغوى كښې ماريا لړم چيچلې سړې وو، نو دوئ ته يو تن د دغه چينې والو نه راغلو او وې وئيل: آيا په تاسو كښې څوك دم اچونكې شته؟ ځكه چه ددې چينې په خوا كښې ماريا لړم چيچلې سړې دې۔ نو يو تن ددوى نه (د هغهٔ سره) روان شو نو هغهٔ سورت

فاتحه (په هغۀ باندې) ولوستله په مقابله د ګډو بزو کښې نو هغه سړے روغ شو، نو دۀ (د هغۀ نه) ملګرو ته ګډې بزې راوستې، نو صحابه کرامو دا کار بد وګڼړلو او دا ئې ووېل: تا د الله تعالیٰ کتاب باندې مزدوري اخستې ده. تردې چه دوئ مدينې ته راغلل نو دوئ عرض وکړو اے د الله رسوله ! دے سړي د الله تعالیٰ په کتاب باندې مزدوري اخستې ده. نو رسول الله ﷺ وفرمايل: يقيناً ډير لائق هغه شے چه تاسو په هغې باندې مزدوري اخستې هغه د الله تعالیٰ کتاب دے. (بخاريؒ) او په يو بل روايت کښې دي: تاسو حق کار کړے، دا تقسيم کړئ او ما له هم تاسو سره برخه مقرر کړئ.

**تشريح** : دا روايت په مختلفو الفاظو نقل دے لکه په يو روايت کښې داسې قصه ذکر ده: د صحابه کرامو ﷺ يوه ډله په سفر روان وو، هغوئ په يوه قبيله پړاؤ واچولو او د هغوئ نه ئې ميلمستيا وغوښته، خو هغوئ ميلمستيا ورنۀ کړه. په دے کښې د دغه قبيلې يو سردار مار يا لړم وچيچۀ، ډير څۀ ئې ورله وکړل خو کار ونشو، نو په دوئ کښې يو تن راغلے او د مجاهدينو دغه ډلې ته ئې عرض وکړو: آيا په تاسو کښې څوك دَم اچونکے شته؟ هغوئ ورته ووېل: مونږ تاسو نه ميلمستيا وغوښته تاسو رانۀ کړه، نو اوس مونږ هسې دَم نۀ اچوو تاسو به مونږ له څۀ انعام راکوئ. هغوئ ورسره د ګډو بزو په يوه رَمه باندې فيصله وکړه. نو يو صحابي لاړ او هغه ئې دَم کړو، نو هغه داسې ښۀ شو لکه اُوښ چه د رسئ نه پرانستې شي، نو هغوئ د ګډو بزو دغه رَمه ورکړه. دے کښې ملګرو ووېل چه په مونږ باندې دا مال راتقسيم کړئ. خو امير صاحب ووېل چه ترڅو پورې مے د نبي ﷺ نه پوښتنه نۀ وي کړې تر هغې درباندې نۀ تقسيموم. نو کله چه نبي ﷺ ته راغلل او دا واقعه ئې ورته بيان کړه، نو نبي ﷺ وفرمايل: بيشکه په کومو شيانو چه تاسو اجرت اخلئ په هغې کښې د ټولو نه زيات لائق د الله تعالیٰ کتاب دے. بيا ئې د هغوئ د زړونو خوشحالولو دپاره وفرمايل: چه ماله هم په کښې برخه وکړئ.

**فوائد** : (۱) حديث نه ثابته شوه چه د الله تعالیٰ په کتاب اجرت او مزدوري اخستل جائز دي. او ددے مسئلے تفصيل ددے کتاب په دويم جلد باب الاذان کښې ذکر شوے.
لنډه دا چه د الله تعالیٰ په کتاب باندې د مزدورئ اخستلو درے صورته دي: **(اول صورت)** په دَم او علاج باندې اجرت اخستل. **(دويم صورت)** د قرآن کريم په تعليم او ښودنے باندې اجرت او مزدوري اخستل. **(دريم صورت)** د قرآن کريم په محض تلاوت

باندې اجرت اخستل۔ نو په اولنی صورت باندې د جمهورو علماؤ اتفاق دے چه په دے اجرت او مزدوری اخستل جائز دی، ځکه دا د قرآن کریم په تلاوت باندې مزدوری نهٔ ده بلکه په دَم او علاج باندې اجرت اخستل دی۔ لکه څنګه چه پدے حدیث کښې دا مسئله ذکر ده۔ بله داچه په مریض باندې قراءت کول او په هغهٔ چُف اچول مباح کارونه دی نو په دے به اجرت اخستل جائز وی۔ [شرح السنة : ۸/۲٦۸]

(۲) او د قرآن کریم په تعلیم او ښودنه اجرت اخستل جائز دی۔ چه دا دویم صورت دے: او دا د امام مالكؒ، شافعیؒ او یو قول د احمدؒ، ابن حزمؒ او د متاخرینو احنافوؒ دے۔ او دلیل ئے د صحیحینو حدیث دے چه ((نبی ﷺ یو سړی ته د قرآن کریم په عوض یوه ښځه په نکاح ورکړے وه)) [بخاری: ۵۱۲۱، مسلم: ۱٤۲۵] حالانکه مهر مال وی۔ نو ددے نه معلومه شوه چه د قرآن کریم تعلیم عوض جوړیدے شی۔ (**قول ثانی**) دادے چه د قرآن کریم په تعلیم باندې اجرت اخستل جائز نهٔ دی، او دا د متقدمینو احنافوؒ او امام احمدؒ یو قول دے۔ دارنګه د دوئ په نیز دا حکم د تفسیر، حدیث او نورو علمونو هم دے۔ دارنګه دا حکم د امامت او اذان هم دے۔ د دوئ دلیل دادے : (أ) الله تعالیٰ فرمائی: ﴿قُلْ لَّا اَسْاَلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا﴾ [انعام: ۹۰] (ب) د عباده بن صامت رضی الله عنه حدیث دے، دا وائی: ما په اهلِ صُفه کښې چاته خط او قرآن ښودلے وو، نو په دوئ کښې یو تن ماته یوه لینده راکړه، ما وویل : دا خو مال نهٔ دے او زهٔ به په دے په جهاد کښې غشی ولم، خو زهٔ به خامخا رسول الله ﷺ ته راځم او د هغهٔ نه به پوښتنه کوم۔ زهٔ چه ورته راغلم او عرض مے وکړو: ما چه چاته خط او قرآن ښودلو په هغوئ کښې ماته یوتن لینده راکړه او دا مال نهٔ دے او زهٔ به پرے په جهاد کښې غشی ولم۔ نبی ﷺ وفرمایل: ((که چرے تهٔ خوښوے چه د اُور طوق خپلے غاړے ته واچوے نو دا لینده قبوله کړه))

[وفی اسناده مقال : ابوداود: ۳٤۱٦، ابن ماجه: ۲۱۵۷، بیهقی: ٦/۱۲۵]

بله داچه د قرآن کریم تعلیم ورکول عبادت دے او د عبادت ثواب به د الله تعالیٰ نه غوښتل کیږی۔ دوئ د حدیث الباب نه دا **جواب** کوی چه په دے حدیث کښې د اجر نه مراد اُخروی اجر او ثواب دے۔ خو دا جواب صحیح نهٔ دے ځکه دا د شانِ ورود خلاف دے۔ بعضِ وائی: دا منسوخ دے۔ خو دا جواب هم مردود دے ځکه نسخ په احتمال سره نهٔ ثابتیږی۔

(**قول ثالث**) دادے چه د حاجت او ضرورت د وجے په تعليم القرآن باندے اجرت اخستل جائز دی، او د غني او مالداره دپاره اخستل ناجائز دی۔ او دا د شيخ الاسلام ابن تيميهؒ قول دے۔ او دا قول **قوی** معلومیږی۔ په دے سره د دلائلو ترمینځه تطبيق راځی۔ ددے تائيد دادے چه الله تعالىٰ د يتيم د ولی په باره کښے فرمائی: ﴿وَمَنْ كَانَ غَنِيًّا فَلْيَسْتَعْفِفْ وَمَنْ كَانَ فَقِيرًا فَلْيَأْكُلْ بِالْمَعْرُوفِ﴾ [النساء: ٦] (څوك چه مالداره وی هغه دِ ے د يتيم مال خوړلو نه ځان وساتی او څوك چه فقير وی نو هغه دِ ے د عرف مطابق وخوری)۔ بله دا چه فقير او حاجتمن به په دے سره په عبادت باندے استعانت حاصل کړی، ددے نه به په هغه چا خرچه وکړی چه د هغوئ خرچه ددهٔ په ذمه ده۔ او غني داسے نهٔ دے۔ او هرچه د عباده بن صامت ﷺ د منع حديث دے، نو هغه **ضعيف** دے، ځکه د هغے په سند کښے اسود بن ثعلبهؒ دے او دا مجهول دے۔ دارنګه مغيره بن زياد الموصلیؒ ته وكيعؒ، ابن معينؒ اوعجلیؒ وغيره ثقه وئيلی، ليکن امام احمدؒ، ابو زرعهؒ ورته ضعيف وئيلی۔ احمدؒ فرمائی: دا مضطرب الحديث او منكر الحديث دے۔ په (تقريب) كښے وائی: دا صدوق دے ليکن اوهام لری۔ دے وجے نه دا قِسم حديث د صحيح حديثونو مقابله نشی کولے۔ او که دا حديث ثابت هم شی (لکه راجح دا ده چه ثابت دے ځکه چه ددے بل سند شته چه بعض علماؤ صحيح کړيدے لکه شيخ البانیؒ وغيره) نو ددے معنیٰ به دا وی چه عباده بن صامت ﷺ خالص د الله تعالىٰ د رضا دپاره مفته تعليم ورکړے وو، نو رسول الله ﷺ دا خبره بده وګنړله چه د هديه اخستو په وجه ددهٔ اجر ضائع شی۔ یا ئے دا په دے وجه حرام ګرځولے وو چه اصحابِ صُفه خپله ډیر زیات غريبانان وو، نو د هغوئ نه عوض اخستل يو مکروه کار وو۔ يا دا چه عباده بن صامت ﷺ غنی وو، دے ته محتاج نهٔ وو، نو دهٔ دپاره دا جائز نهٔ وو۔ نو د فقير دپاره به جائز وی۔

❁ او دا خلاف په هغه صورت کښے دے چه کله څوك د قرآن په تعليم باندے اجرت اخستل شرط وګرځوی، چه تاته د قرآن تعليم درکوم خو دومره رقم به راکوے۔ خو که د اشتراط نه بغير ورکړے شی نو د مذاهبِ اربعه او ابن حزمؒ د کلام نه معلوميږی چه دا اخستل جائز دی۔ ځکه څوك چه په شرط لګولو سره اخستل جائز ګنړی هغوئ ئے په غير د شرط نه په طريقه اولیٰ سره جائز ګنړی۔ او څوك ئے چه په اشتراط سره منع ګنړی هغوئ ئے په غير د اشتراط نه جائز ګنړی۔ [عمدة القاری: ۱۲/ ۹۷ وغيره]

❁ او هر چه د بیت المال نه رزق ((تنخواه)) اخستل دی، نو که د قرآن په تعلیم سره وی، که په اذان، اقامت، امامت او د علم په ښودلو سره وی، نو ددے په جواز باندے د علماؤ اتفاق دے۔ [الشرح الکبیر: ۲/ ۷۰] ځکه بیت المال نه چه کوم شے ملاویږی هغه عوض او اجرت نهٔ دے بلکه دا په طاعت باندے اعانت کول دی۔ او بیت المال کښے د ټولو مسلمانانو برخه ده۔ صرف دومره ده، بعضِ فقهاؤ د بیت المال نه په اخستلو کښے دا شرط لګولے چه بل متبرع نهٔ وی موجود نو هله به دا جائز وی۔ دے دپاره چه د بیت المال مال بے حاجته خرچ نشی۔

(۳) او هر چه (دریم صورت) دے چه هغه محض تلاوت باندے اجرت او مزدوری اخستل دی نو دا حدیث اګرکه عام دے لیکن دا صورت ددے د عموم نه مستثنیٰ دے، ځکه د عبد الرحمن بن شبلِ الانصاری ﷺ په حدیث کښے دی، نبی کریم ﷺ فرمائی:

[اِقْرَؤُوا الْقُرْآنَ وَلَا تَأْكُلُوا بِهِ، وَلَاتَسْتَكْثِرُوا بِهِ، وَلَاتَجْفُوا عَنْهُ، وَلَاتَغْلُوا فِيهِ]

[احمد: ۲۴/ ۲۸۸، معانی الآثار: ۲/ ۱۰، طبرانی اوسط: ۲۵۹۵، قال الحافظ: اسناده قوی: فتح الباری: ۹/ ۱۰۱، وقال الألبانی: اسناده صحیح: الصحیحة: ۲۶۰]

او کوم روایت کښے چه تعلیم راغلے دے نو هغه په ابتدائی دور کښے وو کله چه د قرآن کریم تعلیم ته ضرورت وو، او روستو په تعلیم باندے د اجرت اخستو جواز راغلو۔

**(دویم دا چه)**: شیخ الاسلام ابن تیمیهٔ فرمائی: یواځے تلاوت دپاره په کرایه څوك نیول د هیڅ یو امام مذهب نهٔ دے۔ او د تلاوت کولو دپاره په اجرت باندے څوك نیول او بیا ددے ثواب مړو ته بخښل صحیح نهٔ دی، ځکه په دے صورت کښے نهٔ د لوستونکی ثواب کیږی او نهٔ د مړی۔ بلکه دا یو بدعت عمل دے چه د مسلمانانو په ښارونو کښے خور شوے۔ په دے کښے اجرت ورکونکے او اخستونکے دواړه ګنهګار دی۔ او قاری چه کله د مال د وجے نه قرآن لولی نو ددهٔ ثواب نهٔ کیږی نو بیا دا څهٔ شے مړی ته هدیه کوی؟ والله تعالیٰ اعلم۔ ونعم التفصیل فی شرح ابن عثیمینؒ۔

لکه څنګه چه غیر شرعی دم ناجائز دے دغه شان د هغے اجرت هم حرام دے

## الفصل الثانی

2986 (6) - عَنْ خَارِجَةَ بْنِ الصَّلْتِ عَنْ عَمِّهِ قَالَ: أَقْبَلْنَا مِنْ عِنْدِ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ فَأَتَيْنَا

عَلٰى حَيٍّ مِنَ الْعَرَبِ فَقالُوْا : إِنَّا أُنْبِئْنَا أَنَّكُمْ قَدْ جِئْتُمْ مِنْ عِنْدِ هٰذَا الرَّجُلِ بِخَيْرٍ فَهَلْ عِنْدَكُمْ مِنْ دَوَاءٍ أَوْ رُقْيَةٍ ؟ فَإِنَّ عِنْدَنَا مَعْتُوْهًا فِي الْقُيُوْدِ فَقُلْنَا : نَعَمْ فَجَاؤُوْا بِمَعْتُوْهٍ فِي الْقُيُوْدِ فَقَرَأْتُ عَلَيْهِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ غُدْوَةً وَعَشِيَّةً أَجْمَعُ بُزَاقِي ثُمَّ أَتْفُلُ قَالَ : فَكَأَنَّمَا أُنْشِطَ مِنْ عِقَالٍ فَأَعْطُوْنِي جُعْلًا فَقُلْتُ : لَا حَتّٰى أَسْأَلَ النَّبِيَّ ﷺ فَقَالَ :" **كُلْ فَلَعَمْرِي لَمَنْ أَكَلَ بِرُقْيَةٍ بَاطِلٍ لَقَدْ أَكَلْتَ بِرُقْيَةٍ حَقٍّ** ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُوْدَاوُدَ

**ترجمه** : خارجه بن صلت د خپل تره نه روايت کوی چه مونږ د رسول الله ﷺ د خوا نه راواپس شو نو مونږ د عربو په يوه قبيله بانديے راغلو، هغوی وويل : مونږ ته خبر راکړيے شويے چه تاسو ددے سړی د خوا نه په څه خير راغلی يئ نو آيا تاسو سره څه دوائی يا دم شته ؟ ځکه چه زمونږ سره په زنځيرونو کښيے (تړلے) يو ليونے دے، (چه دا دم کړئ) نو مونږ وويل : آؤ، نو هغوئ په زنځيرونو کښيے تړلے يو ليونے راوستو نو په هغهٔ بانديے ما سورتِ فاتحه دريے ورځے صبا او بيګاه ولوسته چه ما به خپلے لاړيے راجمع کولے بيا مے پريے توکلے، هغه وائی : (هغه داسے روغ شو) ګويا که د رسئ (پړی) نه راکولاؤ شو، نو هغوی ما ته مزدوری راکړه، ما وويل : نه، (نهٔ ئے استعمالوم) تردے چه زهٔ نبی کريم ﷺ نه تپوس وکړم، نو هغهٔ وفرمايل : (دا) خوره، قسم په الله خامخا که چا په باطل دم بانديے خوراك کړيے وی نو يقيناً خامخا تا په حق دم خوراك وکړو. (احمدؒ، ابوداوُدؒ)

**تشريح**: خارجه بن صلت تميميؒ دے. عَنْ عَمِّهٖ : ددے تره نه مراد : عِلَاقه بن صُحَار ﷺ دے. (بغویؒ). خليفه بن خياطؒ وائی: (عبد الله بن عثير ﷺ) دے.

قَدْ جِئْتُمْ مِنْ عِنْدِ هٰذَا الرَّجُلِ بِخَيْرٍ : يعنی تاسو د رسول الله ﷺ د خوا نه به کوم خير يعنی قرآن او ذکر راوړيے وی.

مَعْتُوْهًا : يعنی ليونے. أَتْفُلُ : يعنی بيا به مے دغه لاړيے په هغهٔ بانديے ورتُپ کولے.

أُنْشِطَ :[ای حُلَّ مِنْ عِقَالٍ]. يعنی د رسئ نه کولاؤ شو. يعنی دغه ليونتوب تريے سمدستی لريے شو.

جُعْلًا : يعنی قيمت. په يو بل روايت کښيے دی چه دوئ ته ئے سل ګډيے ورکړيے.

لَمَنْ أَكَلَ بِرُقْيَةٍ بَاطِلٍ : يعنی خلکو کښيے ځينی داسے وی چه باطل دَم اچوی او په هغے

بانديے عوض او مزدوري اخلي، او هرچه تهٔ ئے نو تا حق دَم اچولے دے، چه هغه د الله تعالىٰ كلام دے، او په هغے ډے مزدوري اخستے ده او دا اجرت حلال دے ځكه چه دا د حق شي عوض دے۔

بِرُقْيَةِ بَاطِلٍ : باطل دم هغه دے چه په هغے كښے د پيرانو او ستورو ذكر وي يا پكښے د نمر او سپوګمئ او ستورو او پيريانو نه مددونه غوښتلے كيږي يا بل قسم شركي او بدْعِي دمونه وي۔

ددے حديث د باب الاجارة سره مناسبت دا دے چه په قرآن كريم سره دم اچولو بانديے اجرت اخستل دي، او پدے كښے شرط لګول هم جائز دي، چه يو تن ته ووائي چه ما ته به دومره مال راكوے هله به دم اچوم۔

**درجة الحديث** :[صحيح لطرقه] ابوداود : ٣٤٢٠، ٣٨٩٦، نسائى : ٥٧٣٤، احمد : ٥/٢١١، الصحيحة : ٢٠٢٧.

## د مزدور په مزدورئ وركولو كښے تاخير مهٔ كوه

2987 (7) – وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ :" **أَعْطُوا الْأَجِيرَ أَجْرَهُ قَبْلَ أَنْ يَّجِفَّ عَرَقُهُ**". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهُ.

**ترجمه** : او ابن عمر ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ وفرمايل : مزدور له د هغهٔ مزدوري، د هغهٔ د خولے وچيدو نه مخكښے وركوئ۔ (ابن ماجهٔ)۔

**تشريح** : أَجْرَهُ : يعني د هغهٔ د عمل بدله او مزدوري۔ [يَجِفَّ عَرَقُهُ] جَفَّ يَجِفُّ وچيدل۔ او عَرَق د عَرِقَ يَعْرَقُ نه دے خوله كيدو ته وائي۔ او د خولے وچيدو نه مراد كار ختمول دي چه كله ددهٔ كار ختم شي نو فورًا دهٔ له مزدوري وركول پكار دي، او ددهٔ د كار قدر كول پكار دي۔

د خولے اُوچيدو نه مراد دا دے چه مزدور د كار نه فارغ شي نو زر ورته د هغے اجرت وركول پكار دي اګركه خوله شوے نهٔ وي۔ او پدے حكم بانديے عمل كول ضروري دي، البته كه د څه مجبورتيا په وجه د مزدور مزدوري كښے يوه ورځ نيمه ولګي پدے شرط چه د تال متول حد ته ونهٔ رسيږي نو بيا تاخير هم جائز دے۔

**فوائد** : (١) حديث نه معلومه شوه چه مزدور له په وخت مزدوري وركول واجب دي،

ځکه چه کله انسان خواری او محنت وکړی او په خپل وخت ورته مزدوری ملاؤ شي نو انسان خاطر جمع شي۔ او د هغهٔ نه ستړی والے او ستومانی ختمه شي، زړهٔ ته ئے سکون ملاؤ شي۔ او چه خواری ئے هم کړے وی او بیا د مزدوری عوض هم په وخت نهٔ ملاویږی نو د انسان زړهٔ ماتیږی۔ (۲) البته که مالك او مزدور ترمینځه د یوے نیټے پورے د اجرت روستو کولو معاهده شوے وه نو بیا د دغه نیټے پورے مزدوری روستو کول جائز دی۔ او یا خپله کاریګر د یوے مودے پورے مزدوری روستو کوی نو بیا په دے کښے څهٔ باك نشته۔ (۳) د ابو هریره رضی الله عنه مخکښے حدیث هم ددے حدیث تائید کوی، چه په هغے کښے دا راغلی چه د درے کسانو په خلاف به الله تعالیٰ خپله جګړه کونکے وی، یو په هغے کښے هغه څوك دے چه مزدور ونیسی او کار ترے واخلی او بیا مزدوری نهٔ ورکوی۔ ددے نه معلومیږی چه په اسلام کښے د هر چا حقونه بیان شوی، د زورورو نه د کمزورو دپاره حقونه غواړی۔ نو دا ډیر جامع دین دے۔ والله تعالیٰ اعلم۔

**درجة الحديث:** [حسن أو صحيح] ابن ماجه: ٢٤٤٣. ابو يعلىٰ: ٦٦٨٢، بيهقي: ٦/١٢٠، طبراني صغير: ١/٢٠، ٢١، ارواء: ١٤٩٨. [وفي الباب عن أبي هريرة عند أبي يعلى والبيهقي، وجابر عند الطبراني، وكلها ضعاف] في اسناد ابي يعلى والبيهقي عبد الله بن جعفر ضعيف، وفي حديث جابر محمد بن زياد بن زبّار الكلبي وشرقي بن القُطاميٰ ضعيفان، لكنه حسن او صحيح لشواهده۔

## د سوالګر په تا ضرور حق شته

2988 (8) – وَعَنِ الْحُسَيْنِ بْنِ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ ": **لِلسَّائِلِ حَقٌّ وَإِنْ جَاءَ عَلٰى فَرَسٍ** ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُوْدَاوُدَ وَفِي الْمَصَابِيْحِ : مُرْسَلٌ

**ترجمه :** او حسین بن علی رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: د سائل (سوال کونکی) حق دے اګرکه په اس باندے راغلے وی۔ (احمدؒ، ابوداودؒ او په مصابیح کښے دی چه دا روایت مرسل دے)۔

**تشریح :** مطلب دا دے چه سائل دپاره په تا دا حق دے چه هغهٔ ته به څه نا څه ورکړه کوے او هغه به تش نهٔ واپس کوے۔ یعنی اګرکه د هغهٔ ظاهر مالداری ښکاره کیږی خو ته به پرے ښه ګمان کوے ځکه چه هغهٔ د سوال په ذلت سره ځان ذلیله کړو او ستا مخے ته ودریدو نو هغهٔ به په تکذیب او بد ګمانۍ سره نهٔ شی نا امیده کولے، که د هغهٔ

ضرورت نۀ وي، تا ته به ئې خپل مخ نۀ ذليله کولے او ممکن ده چه هغه په دعوه کښې رشتينې وي، ځکه چه کيدے شي دا اس ئې د بل چا نه سوالي اخستے وي او ستا خوا ته راغلے وي، يا بال بچه دار وي چه د هغوي دپاره ددے اس په ذريعه په کارو کسب باندے د بچو دپاره مدد حاصلوي، يا قرضدارے وي چه ددۀ دپاره ئې زکاة اخستل جائز کړي وي- يا به مسافر وي په لاره کښې به ئې ضرورت راغلے وي، نو په هغۀ به دا ګمان نۀ کوے چه دا خو مالداره دے، زکاة او صدقه نۀ ورکوم- نو ددے حديث او د هغه حديث هيڅ تعارض نشته چه په هغې کښې دي: (لَا تَحِلُّ الصَّدَقَةُ لِغَنِيٍّ) د مالداره دپاره زکاة اخستل حلال نۀ دي- [المنهل العذب المورود شرح سنن ابى داود للسبكى٩/٣١٢، والسراج المنير شرح الجامع الصغير للعزيزى، مرقاة المفاتيح]

البته اوس پدے زمانه کښې بعض خلکو د سوال نه د معاش ذريعه جوړه کړي وي، اګرکه د هغوي سره به لکهونو روپۍ وي، د زکاة نصاب به ورسره برابر وي، خو سوال د هغوي پيشه وي نو داسے خلکو ته ورکول لازم نۀ دي- مګر بيا هم ورکول پکار دي، د وجه د عموم د آيتونو او احاديثو نه- الله فرمائي: [وَفِيٓ أَمۡوَٰلِهِمۡ حَقٌّ لِّلسَّآئِلِ وَٱلۡمَحۡرُومِ] [الذاريات: ١٩]- (او ددوئ په مالونو کښې د سوالګر او غريب دپاره حق دے) [وَأَطۡعِمُواْ ٱلۡقَانِعَ وَٱلۡمُعۡتَرَّ] [الحج: ٣٦]- او خوراك ورکړئ تاسو سوالګر او ځان پيش کونکی ته-

**درجة الحديث** :[حسن] ابوداود: ١٦٦٥ بسند موصول لكن فيه جهالة يعلى بن ابى يحيى، كما قال ابوحاتم واضطراب (الضعيفة: ١٣٧٨) وقال السيوطى فى الدرجات: قد انتقد الحافظ القزوينى على المصابيح احاديث زعم انها موضوعة منها هذا الحديث ورد عليه الحافظ العلائى فقال: اما الطريق الاولى فانها حسنة، : مصعب بن محمد وثقه ابن معين وغيره وقال ابوحاتم: صالح لا يحتج به، وتوثيق الاولين اولى بالاعتماد ويعلى بن ابى يحيى قال ابوحاتم مجهول ووثقه ابن حبان فعنده زيادة علم على من لم يعلم حاله...... فعلى الجملة: الحديث حسن ولا يصح نسبته الى الوضع] واختلف فى ارسال الحديث ووصله وهذا لا يضر فى الاحتجاج به- (المنهل العذب المورود: ٩/٣١٤ للسبكى] وحسنه الالبانى فى هداية الرواة الى تخريج احاديث المشكاة (٢٩١٩) وايضا معناه ثابت من الآية: ﴿وفى اموالهم حق للسائل والمحروم﴾ (ذاريات: ١٩]،

## د مزدورئ په باره کښې د موسیٰ علیه السلام قصه

### الفصل الثالث

2989 (9) - عَنْ عُتْبَةَ بْنِ الْمُنْذِرِ ﷺ قَالَ: كُنَّا عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ فَقَرَأَ: (طسم) حَتَّى بَلَغَ قِصَّةَ مُوسَى قَالَ: " إِنَّ مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَامُ آجَرَ نَفْسَهُ ثَمَانِ سِنِينَ أَوْ عَشْرًا عَلَى عِفَّةِ فَرْجِهِ وَطَعَامِ بَطْنِهِ ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَابْنُ مَاجَه

**ترجمه**: عتبه بن منذر ﷺ فرمائي: مونږ د رسول الله ﷺ سره (ناست) وو، نو هغهٔ (طسم) ولوستو تردې چه د موسیٰ علیه السلام قصې ته ورسیدو، وې فرمایل: یقیناً موسیٰ علیه السلام د خپل عورت د بچاؤ دپاره او د خیټې په طعام باندې خپل ځان په مزدورئ باندې اته کاله یا لس کاله ورکړې وو. (احمدؒ، ابن ماجهؒ)

**عتبة بن المنذر**: دا په مشکاة کښې خطائي ده، ځکه چه په صحابه کرامو کښې عتبه بن المنذر نشته بلکه دا عتبه بن النُّذر ﷺ دې، د سُلیم قبیلې نه دې. او اصحاب التخریج دا حدیث د عتبه بن الندر په روایاتو کښې ذکر کړې.

**تشریح**: طسم: یعنې سورة قصص کښې د موسیٰ علیه السلام واقعه ذکر ده چه په هغې کښې دا دي چه موسیٰ علیه السلام کله یو قبطي قتل کړو نو مدین ته ورسیدو، هلته ئې د شعیب علیه السلام سره ملاقات وشو، بیا د هغهٔ د لور سره د موسیٰ علیه السلام نکاح وشوه، او موسیٰ علیه السلام د هغې په عوض کښې خپل ځان د شعیب علیه السلام په مزدورئ کښې ورکړو. هرکله چه نبي علیه السلام ددې سورت د تلاوت په وخت د موسیٰ علیه السلام دې واقعې ته راورسیدو نو دغه مخکښې خبره ئې ذکر کړه.

عِفَّةِ فَرْجِهِ: د عورت او شرمگاه د بچاؤ او حفاظت دپاره. ددې نه مراد نکاح ده. یعنې موسیٰ علیه السلام د شعیب علیه السلام د لور سره پدې معاهده باندې نکاح وکړه چه اته یا لس کالو پورې به گډې بزې څروي نو گویا کښې دغه مودې پورې گډې بزې څرول ئې د خپل بي بي مهر جوړ کړل.

ددې آیت د واقعې او ددې حدیث نه دا خبره ثابتیږي چه نکاح په اجارې سره صحیح ده او دا د پخواني نبي حال دې او زمونږ شریعت ئې تائید کړې او رسول الله ﷺ یو سړي ته یوه زنانه د قرآن کریم د تعلیم په بدله کښې ورکړه نو خدمت او تعلیم د زنانه دپاره مهر

ګرځول صحیح دي. اګرکه پدې مسئله کښې اختلاف دې، درې قوله دي (۱) امام مالك ورته مکروه وائي. (۲) امام شافعيؒ او د هغهٔ ملګري وائي چه دا جائز ده چه د آزاد سړي منفعت او فائده او خدمت دې د زنانه دپاره مهرجوړ شي لکه خیاطي او کاریګري او تعلیم د قرآن وغیره. (۳) امام ابوحنیفهؒ وائي چه دا جائز نهٔ ده چه د یوې زنانه نکاح د هغه شي په عوض کښې وکړې شي چه ددې آزاد خاوند به مثلاً یو کال پورې ددې خدمت کوي. البته دا جائز ده چه د ښځې نکاح د هغه شي په عوض کښې وکړې شي چه ددې د خاوند غلام به مثلاً د یو کال پورې ددې خدمت کوي. ځکه چه د غلام خدمت او کاریګري مال دې لیکن د خاوند خپل خدمت د ښځې دپاره مال نهٔ دې.

او بعض د آیت ترجمه داسې کوي: تهٔ به ما سره اته کاله یا لس کاله خدمت کوې نو مهر به پیدا کړې بیا به زهٔ تا سره ددې یوې لور نکاح وکړم. نو دلته خدمت مهر نهٔ دې جوړ شوې بلکه د خدمت په بدله کښې چه کوم مال ورکولے شي هغه به د وادهٔ په وخت کښې خپلې بي بي ته ورکړي. نو دا نکاح په مال سره شوه. په بل تعبیر سره داسې وائي چه د خپلې بي بي مهر به ئې بل شے مقرر کړے وي او د ګډو بزو څرولو خدمت به ئې په طریقه د احسان سره قبول کړے وي.

غوره قول د شافعيؒ دې، ځکه چه پدې کښې هیڅ مانع نشته چه د سړي خدمت دې د زنانه مهر جوړ کړې شي لکه څنګه چه زنانه ته تعلیم د قرآن (چه دا هم د زنانه خدمت دې) د هغې دپاره مهر جوړ شویدې. او خدمت پوره مال دې، اموال په همدغه خدمتونو حاصلیږي.

**فوائد**: (۱) حدیث نه معلومه شوه چه انبیاء علیهم السلام هم کاروکسب والا وو.

(۲) د خیتې په ساتلو مزدوري کول جائز دي.

**درجة الحدیث**: [اسناده ضعیف جدا] ابن ماجه: ۲٤٤٤، والمصنف عزاه للمسند احمد وهو وَهْمٌ مِنْهُ، وفی اسناده بقیة بن الولید کثیر التدلیس عن الضعفاء وشیخه مسلمة بن علی متروك، انظر الارواء: ۱٤۸۸ ومرشد ذوی الحجا والحاجة: ۲۱٦/۱٤]

## د قرآن کریم په تعلیم باندې د اجرت اخستو مسئله

2990( 10 ) – وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ ﷺ قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! رَجُلٌ أَهْدٰى إِلَيَّ

قَوْسًا مِمَّنْ كُنْتُ أُعَلِّمُهُ الْكِتَابَ وَالْقُرْآنَ وَلَيْسَتْ بِمَالٍ فَأَرْمِي عَلَيْهَا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ قَالَ: " إِنْ كُنْتَ تُحِبُّ أَنْ تُطَوَّقَ طَوْقًا مِنْ نَارٍ فَاقْبَلْهَا ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه

**ترجمه** : او عباده بن صامت ﷺ فرمائی : ما عرض وکړو اے د الله رسوله ! یو سړی ما ته لینده تحفه کښیے راکړه (دا شخص) د هغه چا نه وو چه ما ورته د کتاب او قرآن کریم تعلیم ورکړے وو (او زهٔ گمان کوم چه ددے لیندے په قبلولو کښیے به هیڅ حرج نهٔ وی ځکه چه) دا لینده څه مال نهٔ دے، نو زهٔ به پدے باندے د الله تعالیٰ په لاره (یعنی جهاد) کښیے ویشتل کوم، نبی کریم ﷺ وفرمایل : که تهٔ غواړے چه تا ته د اُور یو طوق درواغوستولے شي نو دا قبوله کړه. (ابوداوُدؒ، ابن ماجهؒ)

**تشریح** : وَلَيْسَتْ بِمَالٍ : لینده مال نهٔ دے، ددے نه د عباده ﷺ مراد دا وو چه لینده څه داسے شے نهٔ دے چه دا مال یا اُجرت وګڼړلے شي بلکه دا خو د جنګ یو سامان دے چه زهٔ به ئے د الله تعالیٰ په لاره کښیے استعمالوم چه پدے به کافران ولم. لیکن رسول الله ﷺ تنبیه ورکړه چه دا لینده تا ته اګرکه د الله تعالیٰ د کلام د تعلیم د اُجرت په طور نهٔ ده ملاؤ شوے او نهٔ دا یو داسے شے دے چه اُجرت شمار کړے شي لیکن پدے کښیے هم څه شك نشته چه دا ستا هغه اخلاص ته ضرر ورکوی د کوم په وجه چه تا خلکو ته د قرآن او د دین تعلیم نه سیراب کړی وو لهذا ستا دپاره مناسب دا ده چه تهٔ دا قبول نهٔ کړے.

کوم علماءِ چه د قرآن کریم او د دین په تعلیم باندے اجرت اخستو ته حرام وائی هغه ددے حدیث د ظاهری مفهوم نه استدلال کوی. لیکن مخکښیے تیر شو چه دا روایت د بعضو په نیز ضعیف دے، یا دا لینده ئے د اصحاب صفه ؤ غریبانو نه اخستے وه. یا دا چه رسول الله ﷺ خپل ملګری په اُوچتو اخلاقو اموخته کول چه د الله تعالیٰ په کتاب باندے د هیچا نه څه وانخلی. یا پدے کښیے هغه اخلاص ته ضرر رسیدو په کوم سره چه دهٔ تعلیم ورکړے وو. یعنی ابتداء نه د الله تعالیٰ رضا مقصد وه بیا په کښیے مال راغے. نو دا یو شخصی واقعه ده چه د جواز دلائلو مقابله نشی کولے. یا تطبیق مخکښیے داسے بیان شو چه د ضرورتمن دپاره اخستل جائز او د غنی دپاره اخستل ئے جائز نهٔ دی، او کیدے شي چه عباده ﷺ غنی وو. والله اعلم.

**درجة الحديث** :[صحیح] ابوداود : ۳۴۱۶، وابن ماجه : ۲۱۵۷، واسنادهما ضعيف لكن له

طریق اخری کما هو مخرج فی الصحیحة : ۲۵٦]

## ۱۵- بَابُ إِحْيَاءِ الْمَوَاتِ وَالشُّرْبِ

د شاړې زمکې د آبادولو او د اُوبو د نمبر بیان۔

"موات" د میم په زور سره د موت نه مشتق دې، مرګ ته وائی۔ (۱) هغه زمکې ته وائی چه نۀ پکښې پتې او فصل وی، نۀ کور او آبادۍ وی او نۀ د هغې مالك وی۔ (۲) یا هغه زمکې ته وائی چه د اُوبو د منقطع کیدو یا د اُوبو لاندې راتللو په وجه نا قابلِ انتفاع وی یا په هغې داسې یو شے وی چه د زراعت نه مانع وی۔ نو کومه زمکه چه پخوانۍ وی چه د هغې مالك نۀ وی، یا د اسلامی حکومت مملوك وی او د هغۀ د مالك هیڅ پته نۀ لګی او برابره ده چه هغه د کلی نه لرې وی او که نزدې۔ نو دې زمکې ته "موات" وائی۔
بعض علماؤ پکښې بُعد (لرې والے) شرط کړې او وئیلی ئې دی : چه هغه زمکه به د کلی نه دومره لرې وی چه که یو تن د کلی په یو طرف ودریږی او اُوچت آواز وکړی نو د هغۀ آواز هغه زمکې ته نۀ رسیږی۔ ځکه چه کلی ته نزدې زمکې ته د خلکو ضرورت وی۔ دا شرط ضعیف دې۔ حدیثونو کښې نشته۔
حاصل دا دې چه موات هغه زمکه ده چه په هغې کښې دوه صفتونه وی : (أ) **اول** داچه مالك ئې نۀ وی : او د مالك نه مراد هغه معصوم مالك دې چه د هغۀ قتل جائز نۀ وی، یعنی مسلمان یا معاهد ذمی۔ که د هغې مالك وو چه دغه زمکه ئې اخستې وه یا ورته چا ورکړې وه یا ورته د پلار نیکۀ نه په میراث کښې پاتې وه نو بیا د دغه زمکې اِحیاء (آبادول) جائز نۀ دی۔ او ددې په حکم کښې هغه زمکه هم ده چه هغه د آبادولو په وجه مملوکه ګرځیدلې وی خو بیا ویجاړه شوې وی او شاړه زمکه ترې جوړه شوې وی چه د هیچا په ملکیت کښې نۀ وی۔
(**دویم صفت**) داچه : په دې زمکې پورې به عام مصلحت یا مشترك منافع نۀ وی متعلق، لکه لارې، نهرونه، لښتی، د لرګو راتولولو ځایونه، هغه زمکې چه د اخترونو د

مونځونو دپاره په کښې عیدګاه جوړې شوې وی، هغه زمکې چه د هديرو دپاره مختص شوې وی اګرکه څوك په کښې خخ نۀ وی، دارنګه دا به سیاحی زمکې او منطقې نۀ وی او نۀ به د خس وخشاك غورزولو ځایونه وی او داسې نور. چه په دې کښې هيڅ يوه زمکه آبادول جائز نۀ دی ځکه ددې په آبادولو سره د يو تن شخصي ګټه راځي او د عوامو مصلحت ته په دې سره نقصان رسي. لکه مثلًا د ښار چراګاهونه او د لښتو او کندو غاړې شوې چه دې ته خلك خپل څاروی د څرولو دپاره راولی نو يو انسان پدې باندې دعوه نشي کولې چه دا زما ده او خپله قبضه پرې واچوی، دې زمکې ته موات نشي وئيلې.

دې زمکې ته موات ځکه وائي چه دا هم مړه زمکه ده چه خلك ترې فائدې نۀ اخلي.

**احیاء :** په معنیٰ د ژوندی کولو او ژوند ورکولو سره دې. نو د "احیاء موات" نه مراد دغه زمکه آبادول دی. ددې زمکې دآبادولو صورت دا دې چه یا خو پدې زمکه کښې کور جوړ کړې شی، یا په هغې کښې ونې نالې کړې شي یا په هغې کښې فصل او کرکیله وکړې شي یا هغه سیراب کړې شي، او یا په هغې کښې ايوه وکړې شي يعنی واړه ولې شي. یا په کښې کوهې وکنی.

**حکم :** د موات زمکې شرعي حکم دا دې چه څوك دا زمکه آباده کړی نو هغه به ددې مالك جوړيږی ليکن پدې باره کښې د علماؤ لږ شان اختلاف دې او هغه دا چه :

(۱) امام ابوحنیفهؒ وائي چه ددې زمکې د آبادولو دپاره د امام (يعنی حاکمِ وقت) نه اجازت اخستل شرط دې. (۲) او امام شافعیؒ او صاحبینؒ وائي چه اجازت شرط نۀ دې. او دا قول د احاديثو موافق دې.لکه روستو راځي.

(۳) امام مالكؒ وائي چه آبادو ته نزدې وی نو د امام اذن ضروری دې او که د مسلمانانو په دشتو او صحراوونو کښې وی او په هغه ځائې کښې چه خلك په هغې کښې بخل نۀ کوی نو دا ددۀ دپاره دی، د امام اجازت ضروری نۀ دې.

د اول قول والا سره دلیل يو حديث دې چه [اَلْأَرْضُ لِلّٰهِ وَلِرَسُوْلِهٖ ثُمَّ لَكُمْ بَعْدِيْ فَمَنْ أَحْيَا شَيْئًا مِنْ مَوْتَاتِ الْأَرْضِ فَلَهٗ رَقَبَتُهَا] أَخْرَجَهٗ أَبُوْ يُوْسُفَ فِيْ كِتَابِ الْخَرَاجِ. (زمکه د الله تعالیٰ او د رسول ده بيا ستاسو ده). نو دلته ئې د زمکې نسبت الله او د هغۀ رسول ته کړې بيا ئې بندګانو ته. او هر شې چه الله او رسول ته ئې نسبت وشی نو هغه د ځان دپاره خاص

کول جائز نۀ وي مګر د حاکم نه به اجازت اخلي۔ **جواب** : دا روایت بے سنده دے، او ددے د صحت هم پته نۀ لګي۔ دویم : کبریٰ نۀ منو چه هر شے چه الله تعالیٰ او رسول ته ئے نسبت وشي په هغے کښے به د حاکم اجازت ضروري وي۔ دلیل د منع اول حدیث دد ے باب دے۔ ځکه چه رسول الله ﷺ د شاړے زمکے آبادونکی ته اجازت ورکړو نو د بادشاه اجازت ته ضرورت پاتے نشو۔ بیا که د حاکم اجازت وي هغے ته اِقطاع وي۔

امام طحاویؒ د جمهورو د قول دپاره دلیل د حدیث نه علاوه قیاس هم ذکر کړے وئیلي ئے دي چه دا قیاس دے د دریاب په اُوبو او نهر باندے او د ښکار په مارغه او حیوان باندے چه ددے ښکار هر چا وکړو دا به د هغۀ وي برابره ده چه نزدے وي او که لرے۔ او د امام اجازت وي او که نۀ۔ (فتح الباری، تحفة الاحوذی)

او د ابوحنیفهؒ دپاره بل دلیل روستو (لَاحِمٰی اِلَّا لِلّٰهِ وَلِرَسُوْلِهٖ) دے، چه د هغے جواب روستو راځي چه د حمیٰ او د موات ترمینځ فرق دے۔

شِرب : د شین په زیر سره، ددے لغوی معنیٰ ده : د څکلو اُوبۀ۔ د اُوبو حصه او نمبر، او د څکلو وخت۔ په اصطلاح د شریعت کښے د اُوبو نه د فائدے اخستو هغه حق چه د څکلو، د پټي او د باغ اُوبه کولو او څاروو ته اُوبۀ ورکولو دپاره هر انسان ته حاصلیږي۔

اُوبۀ چه کله په خپل معدن (یعني دریاب، سین او نهر او تالاب وغیره) کښے وي د هیچا ذاتي ملکیت نۀ جوړیږي، ددے نه بلا تخصیصه هر انسان د فائدے اخستو حق لري چه د هغے نه منع کول او بندول هیچا دپاره جائز نۀ دي۔

## شاړه زمکه آبادونکے د هغه زمکے مالك جوړیږي

---

## الفصل الأول

2991 (1) عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ : مَنْ عَمَّرَ أَرْضًا لَيْسَتْ لِأَحَدٍ، فَهُوَ أَحَقُّ بِهَا. قَالَ عُرْوَةُ: وَقَضٰى بِهٖ عُمَرُ فِيْ خِلَافَتِهٖ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

**ترجمه** : عائشه رضي الله عنها د نبي کریم ﷺ نه وایت کوي چه هغۀ وفرمایل : چاچه یوه داسے زمکه آباده کړه چه هغه د هیچا په ملکیت کښے نۀ وه، نو همدا ددے زمکے زیات حقدار دے۔ عروهؒ وائي : په همدے باندے عمر رضي الله عنه په خپل دورِ خلافت کښے فیصله کړے وه۔ (بخاريؒ)۔

**تشریح** : [مَنْ عَمَّرَ] دا لفظ د مسند احمد وغیره دے، او په بخاری کښې [أَعْمَرَ] لفظ دے، قاضی عیاضؒ فرمائی : همدا [عَمَّرَ] لفظ صحیح دے، الله تعالیٰ فرمائی: ﴿وَعَمَرُوْهَآ اَكْثَرَ مِمَّا عَمَرُوْهَا﴾ [الروم: ۹] او نور محدثینؒ فرمائی : په دے کښې رباعی [أَعْمَرَ] هم آوریدل شوے، لکه عرب وائی : أَعْمَرَ اللّٰهُ بِكَ مَنْزِلًا۔ [فتح الباری: ۵/ ۲۰]

او په روایت د ابوداودؒ او ترمذیؒ او نسائیؒ کښې (مَنْ اَحْيَا) لفظ دے او دا لفظ د [أَحْيَا] تفسیر او وضاحت دے۔

[لَيْسَتْ لِأَحَدٍ] : په بل روایت کښې [أَرْضًا مَيْتَةً] دے نو دا جمله د هغے تفسیر او وضاحت دے چه مړه او شاړه زمکه هغه زمکه ده چه هغه د هیچا مملوکه نۀ وی۔

او د [مَيْتَةً] معنیٰ ده : په هغے کښې د چا د ملکیت نښه نښانه نۀ وی۔ [فَهُوَ أَحَقُّ بِهَا] دے د هرچانه ددے زیات لائق دے۔

**فوائد** : (۱) ددے حدیث نه ثابته شوه چه څوك یوه شاړه زمکه چه د هیچا ملکیت نۀ وی، خپل ځان دپاره آباده کړی نو دا د هر چانه زیات د هغے لائق دے او په شرعی ملکیت سره د هغے مالك ګرځی۔ برابره خبره ده که دا زمکه لرے وی اوکه ډیره۔ ځکه حدیث کښې حد بندی نۀ ده ذکر شوے او (اَرْضًا) ئے نکره راوړے۔

(۲) په دے حدیث کښې د آبادولو طریقه نۀ ده ذکر شوے چه په څۀ سره ئے آباده کړی ؟ نو دا دلیل دے چه په دے باره کښې به د مسلمانانو عرف ته رجوع کولے شی نو هر هغه شے چه په دغه علاقه کښې آبادول حسابیږی هغه آبادول دی۔ او دا آبادول په یو څو شیانو سره راځی : (**اول**) د شاړے زمکے نه ګیر چاپیره دیوال تاؤ کړی، او دا دیوال د عرف مطابق که د هر څۀ نه وی، کچه وی اوکه پوخ، د کاڼرو نه وی اوکه د ختے نه۔ لکه ددے وضاحت روستو راځی۔ ان شاء الله۔ (**دویم**) شاړے زمکے ته د کوهی یا نهر یا چینے وغیره نه اوبۀ بوځی یا په دغه زمکه کښې کوهے اُوباسی، ځکه د دیوال وهلو نه زیات د زمکے نفع په اوبو سره وی، خو که کوهے ئے وکنستۀ نو د هغے نه ګیر چاپیره به دے صرف د هغے د حریم مالك وی او دا به ددۀ چراګاه وی، لکه روستو ددے وضاحت راځی۔ (**دریم**) هغه د کروندے دپاره سمه کړی، مثلًا : که په دغه زمکه کښې کاڼړی پراتۀ وی نو د هغے نه صفا کول، اوکه وُنے وی نو هغه نړول او د هغے رګونه لرے کول او د فصل او کروندے دپاره جوړول۔

★ دا خو د زمکے آبادول شو۔ لیکن که چا په یوه شاړه زمکه باندے د دغه شیانو په ځائے صرف بندیز ولګولو او بل څوك ئے د زمکے آبادولو نه بند کړو، هغه دا چه په دغه زمکه ئے څۀ علامه ولګوله لکه کانړی یا خاوره ئے کیښوده، او یا یو لنډے شان دیوال ئے وواهۀ، یائے ازغی یا تختے وغیره کیښودے: نو په دے ټولو صورتونو کښے دیته "اِحْيَاءُ الْاَرْضِ الْمَوَاتِ" یعنی شاړه زمکه آبادول نۀ وائی، بلکه دیته تَحْجِيْر یعنی نور خلك بندول وائی، چه په دے کار سره دا زمکه دۀ سره خاص ده خو دے ئے مالك نۀ ګرځی، صرف د بل چانه ددے زمکے زیات لائق دے، اوکه دے مړ شی نو ددۀ وارثان به هم ددے د هر چانه زیات لائق وی۔ نو ددے اختصاص حکم دادے چه دۀ له به څۀ موده پورے مهلت ورکړے شی چه دا زمکه چه تر اوسه پورے نبنے تاؤ کړی دی، آباده کړه، که چرے آباده ئے کړه نو ډیره ښه ده او که آباده ئے نۀ کړه نو دا به هغه چاته ورکړے شی چه هغه ئے آبادولے شی۔ لکه عمر فاروق ﷺ دا فیصله کړے فرمائیلی ئے دی: [مَنْ عَطَّلَ اَرْضًا ثَلَاثَ سِنِيْنَ لَمْ يُعَمِّرْهَا فَجَاءَ غَيْرُهُ فَعَمَّرَهَا فَهِيَ لَهُ] [كتاب الخراج ليحيى بن آدم القرشي المتوفى: (۲۰۳هـ) رقم: ۲۸۷] چا چه یوه زمکه درے کاله بیکاره پریخوده (یعنی د تحجیر او قبضه کولو نه پس) او هغه ئے (په آبادی یا فصل وغیره سره) آباده نکړه او بل څوك راغے هغه ئے آباده کړه نو دا زمکه د هغۀ شوه۔

(۳) د حدیث د ظاهر نه معلومیږی چه په شاړه زمکه آبادولو کښے د بادشاه او خلیفه اجازت ضروری نۀ دے۔ او دا د جمهورو علماؤ قول دے، ځکه رسول الله ﷺ په دے حدیثونو کښے د شاړے زمکے د ملکیت دپاره د بادشاه او خلیفه د اجازت شرط نۀ دے لګولے۔ بلکه صرف په آبادولو سره ئے د ملکیت حکم لګولے۔ بله دا چه: شاړه زمکه د بیت المال ملکیت هم نۀ دے بلکه دا یو مباح مال دے لکه واښۀ او لرګی راټولول۔ او مباح کښے دا قانون دے چه څوك مخکښے دا حاصل کړی نو دَ هغۀ وی۔ د امام ابو حنیفهؒ په نیز په دے کښے د بادشاه اذن او اجازت ضروری دے، ځکه د بادشاه د اجازت نه بغیر زمکه آبادولو کښے کله نزاع او اختلاف راتلے شی، دے وجے نه د بادشاه اجازت ورله ضروری دے۔ په دے کښے **راجح قول** اولنے دے۔ ځکه رسول الله ﷺ مطلقًا هر چاته ددے اجازت ورکړے او د بادشاه اجازت ئے په کښے نۀ دے ضروری کړے، او د اختلاف په صورت کښے به بهر حال خلیفه او قاضی ته رجوع کولے شی۔ البته که اسلامی

خلیفه او بادشاه د مسلمانانو د مصلحت دپاره دا بندیز ولګولو چه زمکه به د خلیفه د اجازت نه بغیر نشي آبادولے نو بیا د اولی الأمر اطاعت کول لازم دی۔ والله تعالیٰ اعلم۔

او هرچه حدیث دے [لَيْسَ لِلْمَرْءِ إِلَّا مَا طَابَتْ بِهِ نَفْسُ إِمَامِهِ] [ضعیف جدا : الطبرانی فی الکبیر : ٤/٢٤/٣٥٣٣] (ونصب الرایة٣/٤٣١) (د سرې دپاره هغه څه دی چه د هغهٔ امام (حاکم) ئے غواړي) نو هغه سنداً ضعیف جدا دے، په سند کښې ئے عمرو بن واقد متروك دے۔

وَقَضٰى بِهِ عُمَرُ : یعنی دا فیصله ئے کړے چه آبادول یو شرعي ملکیت دے۔ او په کتاب الخراج د یحیی بن آدمؒ کښې دی چه عمر فاروق ﷛ (خپلو والیانو ته) ولیکل : چا چه شاړه زمکه آباده کړه نو هغه ئے زیات حقدار دے۔

## ممنوعه علاقه (چراګاه) د خپل ځان دپاره مخصوص کولو ممانعت

2992 ( 2 ) - وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷛، أَنَّ الصَّعْبَ بْنَ جَثَّامَةَ ﷛، قَالَ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ : "لَاحِمٰى إِلَّا لِلّٰهِ وَلِرَسُوْلِهِ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

**ترجمه** : او د ابن عباس ﷛ نه روایت دے چه صعب بن جثامه لیثي ﷛ وفرمایل : ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل چه فرمایل ئے : چراګاه خاص کول صرف د الله تعالیٰ او د هغهٔ د رسول (ﷺ) دپاره جائز دی۔ (بخاريؒ)۔

**تعارف د صعب بن جثامه لیثي** ﷛ : کریم، سخي او ډیره میلمستیا ورکونکے، په منډه کښې انتهائي درجه تیز چه د صحرائي اُوسو نه به مخکښې کیدو۔ او رسول الله ﷺ ته ئے په ودان علاقه کښې صحرائي خر په تحفه کښې ورکړے وو۔ یائے هغه ذبح کړو او د هغې غوښه ئے ورکړه۔ لکه چه تفصیل ئے مخکښې کتاب الحج کښې تیر شوے۔

**تشریح**: [لَاحِمٰى] حِمىٰ د حاء په زیر او د میم په تخفیف سره منع او پرهیز کولو ته وائي، عرب وائي: حَمَى الْمَكَانَ مِنَ النَّاسِ يَحْمِيْهِ حِمْيًا وَحِمَايَةً : مَنَعَهُ عَنْهُمْ. او (حِمىٰ) ((ممنوعه علاقه/ناغه شوے زمکه)) دیته وائي چه یو تن شاړه زمکه خپل ځان دپاره محفوظه کړي او په خلکو پابندي ولګوي چه په دے کښې به هغوئ خپل څاروی نهٔ څروي۔ نو که دا حِمىٰ د عامو خلکو د مالونو دپاره جوړه شوے وی لکه د مجاهدینو د اسونو، د صدقې د اُوښانو او د خلکو د ورك شوو شیانو دپاره چه ددے حفاظت به بادشاه

کوی۔ دارنګه د کمزورو خلکو د ګډو بزو ساتلو دپاره نو دا هغه ځمې او ناغه شوې زمکه ده چه شرعًا په دې کښې په راتلونکې شرط سره اجازت ورکړې شوې۔

إِلَّا لِلّٰهِ وَلِرَسُوْلِهِ: په دې اسلوب کښې تخصيص دې يعنې ناغه شوې علاقه به د الله تعالىٰ او رسول (ﷺ) نه علاوه بل هيڅوك نۀ جوړوى۔ او كله چه الله تعالىٰ او رسول ﷺ په داسې اسلوب کښې ذکر شي نو مراد ترې د مسلمانانو مصالحِ عامه وى لكه: د جهادى اسونو او د صدقې اوښانو وغيره دپاره چراګاه جوړول۔ د الله تعالىٰ ذکر په دې کښې د تبرك دپاره وى او رسول الله ﷺ د مسلمانانو د مصالحِ عامه دپاره چراګاهونه جوړ کړی وو۔ نو ددې نه معلومه شوه چه د رسول الله ﷺ نه علاوه بل هيڅ يو امام او بادشاه به د خپل ذاتى مصالحو دپاره چراګاه نۀ جوړوى۔ او كه د نبى كريم ﷺ پشان د مسلمانانو د عامو ښيګړو دپاره ئې جوړوى نو بيا د هريو مسلمان بادشاه او خليفه دپاره چراګاه جوړول جائز دى، لكه عمر فاروق ﷺ او عثمان ﷺ د نبى كريم ﷺ نه پس چراګاهونه جوړ کړی وو۔

**فوائد او مسائل** : (۱) حديث نه ثابته شوه چه وَرشو او علاقه ممنوعه به صرف الله تعالىٰ او رسول (ﷺ) جوړوى، د بل هيڅ يو امام او بادشاه دپاره جائز نۀ دى چه د مسلمانانو په زمکو کښې ذاتى تصرف وکړى او د خپل ځان دپاره يوه وَرشو (علاقه ممنوعه) مقرر کړى او په هغې کښې خپل څاروى څروى او د نورو مسلمانانو څاروى هلته نۀ پريدى۔ لكه چه دا د جاهليت والو عادت وو چه په دوئ کښې به شريف او سردار سړى په يوه سرسبز زمکه پړاؤ واچولو نو په يو اُوچت ځائے به ئې سپے وغپولو او كوم ځائے پورې چه به ددې سپى آواز رسيدۀ نو ګير چاپيره به ئې ددې نه چراګاه جوړه كړه چه بيا به په دې علاقه کښې بل چا خپل څاروى نشو څرولے او دا به ددې سردار دپاره مختصه وه، حالانكه سردار به په نورو ځايونو کښې د نورو خلكو سره د هغوئ په ځايونو کښې هم څاروى څرول۔ دې وجې نه نبى كريم ﷺ ددې كار نه منع وفرمايله ځكه چه په دې کښې په خلكو تنګى راوستل او هغوئ د يو داسې شى نه بندول دى چه په هغې کښې د دوئ حق دې۔ او نبى كريم ﷺ بنديز ولګولو چه د الله تعالىٰ او رسول (ﷺ) نه علاوه بل څوك به دا قِسم ذاتى چراګاه نشى جوړولے۔ او نبى كريم ﷺ د خپل ځان دپاره هيڅ چراګاه نۀ وه مقرر کړې بلكه هغوئ د مسلمانانو د عامې ښيګړې

دپاره څرګاه مقرر کړے وه، لکه نبی کریم ﷺ په ((نقیع)) علاقه کښے (د اسونو دپاره) چراګاه مقرر کړے وه۔ [أحمد : ۱۰/۴۷۶، بیهقی: ۱۴۶/۶]

(۲) نبی کریم ﷺ د مسلمانانو د عامے ښیګړے دپاره چراګاه جوړه کړے وه، دے وجے نه د نبی کریم ﷺ نه روستو د مسلمانانو د باشاه او خلیفه دپاره هم جائز دی چه د مسلمانانو د مصلحت دپاره یوه علاقه ممنوعه وګرځوی چه په هغے کښے د صدقے او زکاة اوښان او نور څاروی څرېږی او دا به شرعی حِمیٰ (چراګاه) وی، او کله چه ددے په پرېښودلو کښے مصلحت ووینی نو بیا ئے پرېښودل پکار دی۔

(۳) د خلیفه او بادشاه دپاره په هغه صورت کښے چراګاه جوړول جائز دی چه مسلمانانو ته ددے په وجه څۀ تکلیف نۀ وی، او که عوامو ته تکلیف وو نو بیا به چراګاه نۀ جوړوی، لکه د قحط اوسو کړے وخت وی او ګیاه کمه وی، او یا که یوه علاقه ممنوعه ګرځوی نو د عوامو څاروو ته تکلیف وی، هغوئ به د وښو په طلب کښے لرے لرے څرېږی، نو بیا به چراګاه نۀ جوړوی بلکه عامو خلکو سره به شریك څاروی څروی۔

او عمر فاروق ﷺ په ((ربذه)) علاقه کښے (چه د مدینے جنوب مشرقی اړخ ته د ریاض په لاره سل (۱۰۰) میله لرے علاقه ده- المعالم الاثیرة) چراګاه او ورشو جوړه کړے وه او په هغے باندے ئے خپل یو آزاد کړے غلام (هُنیٔ) مقرر کړے وو، هغۀ ته ئے فرمایلی وو چه د فقیرانو خلکو اوښان او ګډے بزے چراګاه ته ننباسه او د عبد الرحمن بن عوف ﷺ او عثمان ﷺ پشان مالدارو خلکو څاروی منع کوه، ځکه که د دوئ څاروی د لوږے نه مړۀ شی نو باغونه او فصلونه ئے شته دے، اوکه د غریبانانو څاروی د لوږے نه مړۀ شی نو بیا به د دوئ اولاد زما خواته را روان وی او د بیت المال نه به سرۀ او سپین زر رانه غواړی، حالانکه ددے په نسبت ماته دا آسانه ده چه د دوئ څاروی چراګاه ته پریږدم. بیائے وفرمایل: والله ! که د جهاد مالونه نۀ وے نو مابه د دوئ په ښارونو کښے یوه لویشت چراګاه هم نۀ وے جوړه کړے۔ [بخاری: ۳۰۵۹]

ددے روستنئ جملے نه معلومه شوه چه بادشاه دپاره جائز نۀ دی چه د خپل ځان دپاره چراګاه جوړه کړی۔ او د مالدارو خلکو څاروی د چراګاه نه د منع کولو مقصد دا وو چه که چراګاه صرف د ځینے کسانو د څاروو دپاره کافی کیدله نو بیا به د غریبانانو څاروو له ترجیح ورکړے کیږی۔ او دا مطلب نۀ دے چه ګنے د مالدارو څاروی به بیخی چراګاه ته د

ننوتو نه منع کولے شی۔ که بادشاه د مسلمانانو د مصلحت دپاره یوه چراګاه جوړه کړی نو بل یو تن پکښې خپل ذاتی څاروی په پټه وځروی نو آیا دے به ګنهګار وی ؟ جواب : آؤ، ګنهګاریږی ځکه چه دے پدے آیت کښې داخلیږی : [یَا اَیُّهَا الَّذِیْنَ آمَنُوْا اَطِیْعُوا اللّٰهَ وَاَطِیْعُوا الرَّسُوْلَ وَاُولِی الْاَمْرِ مِنْکُمْ] [النساء : ۵۹] ۔ نو کله چه یو ولی الامر دا مکان د مسلمانانو د څاروو دپاره محفوظ کړو نو بل چا له پدے باندے تعدی او زیاتے کول جائز نهٔ دی۔ [فتح ذی الجلال والاکرام لابن عثیمین۴/۲۶۶]

ددے روایت نه امام طحاویؒ د موات زمکے د آبادولو دپاره د امام د اجازت شرط لګولو دپاره دلیل نیولے چه حِمٰی به د الله او د رسول دپاره وی۔ یعنی د امام په اجازت به کیږی۔ ددے جواب دا دے چه د حمیٰ او د احیاء ترمینځ فرق دے، حِمیٰ خاص ده او احیاء عام دے۔ دارنګه د دواړو حدیثونو ترمینځ تعارض نشته ځکه چه د کومے حمیٰ نه منع شوے نو دا هغه ده چه یو تن ګنړ ګور او سرسبز او شاداب ځائے د خپلو فائدو دپاره خاص کړی لکه د جاهلیت والو په شان، او مباح احیاء هغه ده چه په هغے کښې د نورو مسلمانانو عامه فائده نهٔ وی او یو مسلمان ئے ځان دپاره خاص کړی۔ نو د دواړو ترمینځ فرق شو او د حمیٰ زمکے ته چه "موات" وئیلے شی نو صرف پدے وجه چه پدے باندے مخکښې نه د هیچا ملکیت نهٔ وو لیکن بل طرفته دا د آبادے زمکے په شان ده چه پدے کښې د مسلمانانو عامه فائده وی۔ (او په "موات" کښې هغه نهٔ وی) [فتح الباری۵/۴۵]

## د باغ د اُوبه کولو په باره کښې یوه تنازعه او د نبی علیه السلام فیصله

2993 (3) — وَعَنْ عُرْوَةَ قَالَ : خَاصَمَ الزُّبَيْرُ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ فِیْ شِرَاجٍ مِنَ الْحَرَّةِ فَقَالَ النَّبِیُّ ﷺ : " **اِسْقِ يَا زُبَيْرُ ثُمَّ أَرْسِلِ الْمَاءَ إِلَى جَارِكَ** ". فَقَالَ الْأَنْصَارِیُّ : أَنْ كَانَ ابْنَ عَمَّتِكَ ؟ فَتَلَوَّنَ وَجْهُهُ ثُمَّ قَالَ :" **اِسْقِ يَا زُبَيْرُ ! ثُمَّ احْبِسِ الْمَاءَ حَتّٰى يَرْجِعَ إِلَى الْجَدْرِ ثُمَّ أَرْسِلِ الْمَاءَ إِلَى جَارِكَ** " فَاسْتَوْعَى النَّبِیُّ ﷺ لِلزُّبَيْرِ حَقَّهُ فِیْ صَرِيْحِ الْحُكْمِ حِيْنَ أَحْفَظَهُ الْأَنْصَارِیُّ وَكَانَ أَشَارَ عَلَيْهِمَا بِأَمْرٍ لَهُمَا فِيْهِ سَعَةٌ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

**ترجمه** : او عروهؒ فرمائی : زبیر ﷺ د انصارو د یو سړی سره د خوړ په یو لښتیٰ باندے جګړه شوه نو نبی کریم ﷺ (په فیصله کښې) وفرمایل : اے زبیره ! (خپل پټے) خړوبه کړه بیا اُوبه خپل ګاونډی ته پریږده۔ نو انصاری ووئیل : پدے وجه (تا داسے فیصله وکړه)

چه دا ستا د ترور ځوی دے؟۔ نو د رسول الله ﷺ مخ مبارك متغیر شو، بیا ئے وفرمایل: اے زبیره! (پټے) خړوبه کړه بیا اُوبۀ ایسارے کړه تردے چه هغه د باغ دیوالونو (او موړو) ته ورسیږی بیا اُوبه خپل ګاونډی ته پریده۔ نو نبی کریم ﷺ په ښکاره حکم کښے د زبیر دپاره پوره حق واخستو هرکله چه انصاری هغۀ لره غصه کړو او (مخکښے) رسول الله ﷺ دواړو ته د هغه خبرے مشوره ورکړه چه دواړو دپاره په هغے کښے فراخی (او آسانی) وه۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

**تشریح**: [شِرَاجٍ]۔ د شَرْجَةٌ جمع ده، په خوړ کښے یو ډنډ او لښتی ته وائی۔

اَلْجَدْرِ: د جیم په زبر او د دال په سکون سره پولے او موړو وائی۔ او مطلب دا دے چه تردے چه اُوبه تهولے زمکے او باغ ته ورسیږی او د کهجورو بیخونو ته ورسیږی، او ددے اندازه دا ده چه د انسان د ګیټو په اندازه پکښے اُوبۀ ودریږی۔ یا دا لفظ د جیم په زیر او د دال په سکون سره دے، جدر په معنیٰ د جدار (دیوال) سره دے۔ او جمع ئے جُدُر راځی۔ او مطلب دا دے چه اُوبۀ دیوالونو او موړو پورے ورسیږی۔

أَنْ كَانَ: د همزے زبر دے، او دا أن تعلیلی دے، او دلته تقدیر دے، یعنی تا دۀ له دا فیصله پدے وجه وکړه چه دے ستا د ترور ځوی دے۔ یا مطلب دا دے چه دا ستا د ترور ځوی دے او تۀ هم پدے خوشحاله ئے چه ستا د ترور د ځوی په حق کښے فیصله وشی، نو پدے صورت کښے به دا اعتراض نۀ وی۔

فَاسْتَوْعَى: د وعی نه دے، پوره اخستو ته وائی۔ استیعاء هم دغه معنیٰ ده۔

أَحْفَظَهُ: [اَیْ اَغْضَبَهُ] یعنی هرکله چه انصاری غصه کړو۔ او دا غصه په حق باندے وه ځکه چه د نبی کریم ﷺ د فیصلے دپاسه بله خبره کول صحیح نۀ وو۔

أَرْسِلِ الْمَاءِ: دا د ارسال نه دے، خوشے کول او پریخودو ته وئیلے شی۔

واقعه دا وه چه زبیر بن العوام ؓ چه د عشره مبشره ؤ نه یو صحابی دے، دۀ او یو انصاری صحابی (چه هغه هم بدری صحابی دے دواړو) به د خوړ د یو لښتی نه خپلو خپلو پټو ته اُوبۀ بوتللے، (کله چه به باران وشو نو خلك به دغه اُوبو ته ډیر ضرورتمن وو) نو یوه ورځ اچانك ددے لښتی نه د اُوبو بوتللو په باره کښے ددے دواړو دا جګړه راپورته شوه چه انصاری ووبل: اول به زۀ خپل پټی ته اُوبۀ بوځم او جناب زبیر بن العوام ؓ وفرمایل: چه اول به زۀ خپل پټے سیراب کوم۔ یا دا چه زبیر ؓ به د خپل

حاجت په اندازه اُوبۀ ایسارولے نو انصاری وویل چه اوبۀ به د حاجت د پوره کیدو نه مخکښې راپریدے۔

هرکله چه دا خبره زیاته سخته شوه او خپل مینځ کښې په خبرو اترو حل نشوه نو دا معامله ئې د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضره کړه چه هغه ورله فیصله وکړی۔

د موقع طرز داسې وو چه د زبیر ﷺ زمکه اُوچته هم وه او لښتی ته نزدې هم وه او د انصاری زمکه خکته وه او د لښتی نه لرې وه، د اصولو مطابق اُوبۀ اول د زبیر ﷺ پټی ته تللی پکار وې نو رسول الله ﷺ ددې صورتِ حال په وجه خپله احسانی فیصله وکړه او وې فرمایل: چه اې زبیره! اول تۀ خپل پټې ګوزاره حال اُوبۀ کړه بیا په جلتئ سره اُوبه خپل ګاونډی ته ورپریده۔ (یعنی هغۀ سره ئې په آسانئ باندې حکم وکړو چه د خپل ګاونډی سره سختی مۀ کوه) نو دا فیصله د انصاری په دماغو ښه ونۀ لګیده (لکه کله د یو انسان ډهان برابر نۀ وی، خبرې ته سوچ ونکړی، او بل طرفته شیطان هم دشمن دې) نو هغۀ د غصې په حالت کښې وویل: چه دا ستا د ترور ځوی وو ځکه دې د هغۀ په حق کښې فیصله وکړه۔ (ددۀ مطلب دا وو چه زبیر ﷺ دې بیخی اُوبۀ نۀ ایساروی او نیغې دې زما پټی ته راځی)۔ یو عادل او منصف انسان دپاره د ذهنی اذیت او تکلیف ددې نه لوی بل کوم سبب کیدے شی چه د هغۀ په منصفانه فیصله باندې د جانبدارئ او د عصبیت الزام ولګولے شي۔ نو پدې وجه د رسول الله ﷺ مخ مبارك د انصاری پدې خبره بدل شو، نو ددې نتیجه دا راووته چه رسول الله ﷺ اُوس قانونی فیصله وکړه او دا ئې وفرمایل: اې زبیره! تۀ خپل پټې ښۀ خړوبه کړه، او اُوبۀ پکښې دومره اُودره وه چه تولو له زمکه ډنډ شی او د انسان ګیټو ته ورسیږی، د هغې نه روستو ئې ګاونډی ته پریده۔

نو مخکنئ فیصله د رسول الله ﷺ احسانی وه چه په هغې کښې ددې انصاری هم رعایت وو او هرکله چه هغۀ اعتراض وکړو نو بیا خبره قانونی فیصلې ته لاړه، او شرعی قانونی فیصله دا وه چه د ړومبنی پټی والا په اُوبو کښې دومره حق دې چه خپل پټے پوره سیراب کړی او اُوبۀ پکښې ښې ودروی بیا به ئې ګاونډی ته پریدی۔

زبیر ﷺ به فرمایل: زما ګمان دې چه دا آیت: ﴿فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتّٰى يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا﴾ [النساء:٦٥]۔ زما په باره کښې نازل شوې۔

بيا پدې کښې اختلاف دے چه دا شخص څوك وو؟ چه د رسول الله ﷺ ددے فيصلې نه ئې په اول کښې انکار وکړو؟ بعضو وئيلي دي چه دا انصاري په اصل کښې منافق وو او د منافقانو طريقه دا وه چه هغوى به د نبي ﷺ گستاخي او هغۀ ته ذهني اذيت ورکولو چه هره موقعه به راتلله نو په هغې کښې به ئې خپل کار کولو. بيا **سوال** پيدا کيږي چه هرکله دا منافق وو نو بيا دۀ ته په رواياتو کښې انصاري ولې وئيلې شوے؟ ددے جواب دا دے چه انصاري ورته پدے وجه وئيلے شوے چه دۀ د انصارو د قبيلې سره تعلق ساتلو يعني د مدينې اُوسيدونکے وو. او د انصارو په قبيلو کښې بعض منافقان هم وو لکه مثلاً عبد الله بن ابى ابن سلول وغيره. بل **سوال** دا دے چه هرکله دا منافق وو او داسے گستاخي ئې کوله نو رسول الله ﷺ ددۀ د مرگ حکم ولې ونکړو؟ جواب دا دے چه د هغۀ د قتل حکم ئې ونکړو پدے وجه چه ددۀ د زړۀ ميلان راکاړي او د هغۀ الفت او رعايت کولو سره حقې لارے ته راشي، يا دا چه نبي ﷺ به د منافقانو سره هميشه د صبر او تحمل نه کار اخستو، دے دپاره چه فضاء خرابه نشي، او ملگري تس نس نشي، يا ددے وجه دا وه چه د اسلام مخالفين چرته دا طعن ونکړي چه محمد ﷺ خپل ملگري قتلوي ځکه چه منافقان خو به خلکو ته مسلمانان ښکاره کيدل.

ليکن بعض نورو علماؤ وئيلي دي چه دا انصاري مؤمن وو او بدري صحابي دے (لکه همدا خبره غوره ده، په روايت د بخاري (۲۷۰۸) کښې دي چه دا بدر ته حاضر شوے وو، او بدر ته منافقان نۀ دي حاضر شوي). او ددۀ نوم حميد وو. ليکن غصے او جگړے د هغۀ دماغ داسے بند کړې وو چه هغۀ نه مجبوراً غير اختياري طريقې سره داسے خبرے ووتے، انسان کمزورے دے، کله ئې د غصے په وجه دماغ بند شي، خبره کښې فکر ونکړي روستو ډير خپيمانه وي. او بعض ددۀ نوم حاطب بن ابى بلتعه ﷺ ذکر کوي. والله اعلم. [الحلل الابريزية من التعليقات البازية على صحيح البخاري لابن باز ۲/۴۲۴) وفتح الباري (۵/۳۵- ۳۶]

دا که صحابي شي نو د تعزير لائق وو ليکن رسول الله ﷺ معاف کړو، ځکه چه رسول الله ﷺ په ډيرو اُوچتو اخلاقو باندے برخه وَر وو او دے صحابي هم لوى شان لرلو، داسے خلك ځان خپله ملامته کوي. بله دا چه بدري کيدل ئې ټول گناهونه معاف کړيدي. رضى الله عنه وارضاه.

**فوائد** : (۱) او ددې حديث نه دا مسئله هم ثابته شوه چه څوك د رسول الله ﷺ په سنت او فيصله باندې اعتراض كوي نو هغهٔ باندې به خبره سختيږي او هغهٔ ته سزا وركول جائز دي. لكه نبي ﷺ اول كښې آسانه فيصله وكړه چه پدې كښې د دواړو فائده وه او هركله چه هغه احساني فيصله باندې اعتراض وكړو نو بيا ئې ورته قانوني فيصله واوره وله.

(۲) او دا حديث دليل دې چه رسول الله ﷺ د غضب او غصې په حالت كښې هم د عدل او انصاف فيصله كوي، او غصه هغهٔ لره په بې انصافئ باندې نهٔ راپورته كوي، هغه په هر حالت كښې د خپل خواهش او د باطل نه معصوم دې. [الكوكب الوهاج شرح مسلم بن الحجاج] نو دا اعتراض نهٔ كيږي چه رسول الله ﷺ خو فرمائيلي : چه قاضي به په حالت د غصه كښې فيصله نهٔ كوي. ځكه چه دا خبره د امت په باره كښې ده چه په هغوي باندې د خطائي او د بې انصافئ گمان كيدې شي او نبي ﷺ ددې نه معصوم دې. (المفهم والكوكب الوهاج) .

(۳) حاكم او قاضي له پكار دي چه اول د جګړه مارو ترمينځ صلح وكړي او كه د هغوي صلح نهٔ كيږي نو بيا به اتله فيصله كوي او حقدار ته به حق وركوي.

(٤) په روانو اُوبو باندې اول لائق هغه څوك دې چه د چا پټي او باغ اول راځي هغه به ترې اول حاجت پوره كړي بيا به ئې نوروته پريدي. خو دا په هغه وخت كښې چه ددې اُوبو اصل د خكته زمكې والا ملكيت نهٔ وي، د هغهٔ پورې خاص نهٔ وي. پدې صورت كښې بيا د پورته پټي او باغ والا هيڅ حق نشته چه د هغې نه خپل پټي اُوبهٔ كړي اګركه اُوبهٔ په هغهٔ باندې راتيريږي.

(۵) د جګړه مارو په جفاء باندې صبر كول پكار دي، او د هغوي نه درگذر او معافي كول پكار دي ترڅو پورې ئې چه د شرعي احكامو سپكاوې نهٔ وي كړې، ورنه ادب به وركولې شي. [المفهم لما اشكل من تلخيص كتاب مسلم للقرطبي]

(٦) **مسئله** : اُوبهٔ په درې قسمه دي (۱) هغه اُوبهٔ چه د چا په ملكيت كښې نهٔ وي، او د چا په صنع سره نهٔ وي راپيدا شوي لكه د نهرونو او سيلابونو اُوبهٔ. نو ددې نه هر شخص خپل ځان او څاروو او فصل دپاره فائده اخستې شي اګركه په آله سره وي يا د لښتي په كنستو سره وي. او پدې باندې څانله جرنده ودرولې شي. كه د چا زمكه ددې

نه جدا وی نو هغه ترې لښتې تیروه ولې شی په دې شرط چه عامو خلکو ته پکښې تکلیف نهٔ وو. (۲) قسم: چه څه خلك وړوکې شان نهر وکنی نو ددې نه ښاروی اُوبهٔ کول جائز دی البته زمکه خړوبه ول او جرنده ودرول به صحیح نهٔ وی. مغنی کښې دی: چه کله نهر لوئ وی د هغې نه په خړوبه ولو سره هیڅ‌چا ته تکلیف نهٔ وی لکه دریائے نیل او دریائے فرات، نو هر شخص ددې نه په هر وخت کښې او په هره طریقه خپل پټی اُوبهٔ کولې شی. او هرکله چه نهر وړوکې وی چه د خلکو پرې ګنړه جوړېږی او خلك د هغې په اُوبو باندې بخل کوی او یا سیلاب وی چه زمکو والا د هغې حرص لری نو په دې کښې قانون دا دې چه د چا زمکه دې نهر ته نزدې وی نو هغه به ئې اول خړوبه کوی او اُوبه پکښې تر ګیټو پورې اُودرولې شی، بیا به ئې ددې نه روستو لاندې پټی ته پرېږدی، او همداسې پسې ورځهٔ تردې چه ټولې زمکې ختمې شی. که د اول پټی ته څه شے زیاتی پاتے نشو، یا د دویم نه یا د دریم نه نو د روستنو دپاره هیڅ حق نشته ځکه چه د دوئ دپاره صرف په باقیمانده اُوبو کښې حق وو او هغه پاتې نشوې نو دوئ داسې دی لکه په میراث کښې عصبه، او دا قول د مدینې د فقهاؤ او د مالكؒ او شافعیؒ دې او په دې کښې مونږ ته هیڅوك مخالف نهٔ دې معلوم. دلیل پرې دا واقعه د زبیر بن العوام ﷺ ده.

(۳) هغه اُوبه چه خلك ئې په خپلو لوښو کښې محفوظې کړی نو ددې نه ځکل جائز دی، البته د نورو کارونو دپاره استعمالول به ئې بغیر د اجازت نه صحیح نهٔ وی.

کومې اُوبهٔ چه ستا د ضرورت نه زیاتی وی هغه د ښارو و د څښکلو نه مهٔ منع کوه

---

2994 ( 4 ) - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: " **لَا تَمْنَعُوا فَضْلَ الْمَاءِ لِتَمْنَعُوا بِهِ فَضْلَ الْكَلَإِ** ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

**ترجمه**: ابو هریره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: مهٔ منع کوئ زیاتی اُوبهٔ دې دپاره چه تاسو ددې په وجه زیاتی ګیاه منع کړئ. (بخاریؒ ومسلمؒ)

**تشریح**: په عامه توګه ښاروی هلته څرولې شی کوم ځائے چه اُوبهٔ وی، پدې وجه ښاروی د اُوبو نه منع کولو معنیٰ دا جوړېږی چه هلته دِې ښاروی نهٔ څرېږی، نو د اُوبو د منع کولو مطلب به دا شی چه تهٔ بالواسطه د ګیاه د څرولو نه منع کوې او ګیاه چونکه د ښارو و عامه غذا ده او د هغوی ورته ډېر زیات ضرورت دې، پدې وجه ددې نه منع کول

درست نهٔ دی، نو ځکه نبي ﷺ منع وفرمایله چه تاسو څاروی د اُوبو څړیه کولو نه هیڅوك مهٔ منع کوئ دے دپاره چه ددے په وجه د ګیاه د څریدو نه منع کیدل لازم شي۔
فَضْلَ الْكَلَاِ : ((د ضرورت نه زیاتی)) قید پدے وجه لګوی چه که اُوبهٔ او ګیاه د خپل ځان او د خپلو څاروو د ضرورت په اندازه وی نو پدے صورت کښے خپل ضرورت مقدم کولو کښے هیڅ حرج نشته، البته که د ضرورت نه زیات وی نو بیا بل چا لره منع کول صحیح نهٔ دی۔

درے کسانو سره به الله تعالیٰ خبرے نهٔ کوی او مخ به ترے اړه وی

2995 (5) – وَعَنْهُ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : " ثَلَاثَةٌ لَا يُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ رَجُلٌ حَلَفَ عَلٰى سِلْعَةٍ لَقَدْ أُعْطِيَ بِهَا أَكْثَرَ مِمَّا أَعْطٰى وَهُوَ كَاذِبٌ وَرَجُلٌ حَلَفَ عَلٰى يَمِيْنٍ كَاذِبَةٍ بَعْدَ الْعَصْرِ لِيَقْتَطِعَ بِهَا مَالَ رَجُلٍ مُسْلِمٍ وَرَجُلٌ مَنَعَ فَضْلَ مَاءٍ فَيَقُوْلُ اللّٰهُ : اَلْيَوْمَ أَمْنَعُكَ فَضْلِيْ كَمَا مَنَعْتَ فَضْلَ مَاءٍ لَمْ تَعْمَلْ يَدَاكَ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَذُكِرَ حَدِيْثُ جَابِرٍ فِيْ "بَابِ الْمَنْهِيِّ عَنْهَا مِنَ الْبُيُوْعِ ".

**ترجمه** : او ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : درے کسان دی چه الله تعالیٰ به هغوی سره د قیامت په ورځ خبرے ونکړی او نهٔ به ورته (د رحمت په نظر) وګوری، یو هغه سړے چه په یوه سودا باندے قسم وکړی چه خامخا دهٔ ته ددے سودا په بدله کښے زیات مال ورکړے کیدو د هغے نه چه دا (مشتری) ئے ورکوی حال دا چه دے پدے خبره کښے دروغجن وی، او بل هغه سړے چه د مازیګر نه روستو په یو شی باندے په دروغه قسم وکړی دے دپاره چه د هغے په ذریعه د یو مسلمان سړی مال حاصل کړی، او بل هغه سړے چه زیاتی اُوبه منع کړی نو الله تعالیٰ به ورته فرمائی : نن ورځ به تا نه خپل رحمت بند کړم لکه څنګه چه تا زیاتی اُوبهٔ منع کړے وے چه ستا لاسونو نهٔ وے پیدا کړے۔ (بخاریؒ ومسلمؒ) او حدیث د جابر ﷺ په ((باب المنهی عنها من البیوع)) کښے ذکر شوے۔

**تشریح:** [لَا يُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ] - یعنی د خوشحالئ او محبت خبرے به ورسره نهٔ کوی او د زجر او رټنے خبرے خو شته۔
[بَعْدَ الْعَصْرِ] - د مازیګر نه روستو تخصیص یا خو پدے وجه دے چه مغلظ قسمونه په

همدے وخت کښے خوړلے شي، لکه قرآن کريم کښے هم ﴿ تَحۡبِسُوۡنَهُمَا مِنۡ بَعۡدِ الصَّلٰوةِ ﴾ (المائده: ۱۰٦) کښے د قسم دپاره د مازيګر مونځ نه روستو وخت ذکر شويدے۔ او پدے وخت کښے خلك راجمع وی او د شپے او د ورځے ملائك يو بل سره ملاويږی۔ يا دا تخصيص پدے وجه دے چه د مازيګر وخت چونکه ډير فضيلت او برکت والا دے پدے وجه پدے وخت کښے دروغژن قسم خوړل ډيره لويه ګناه ده۔

[لَمۡ تَعۡمَلۡ يَدَاكَ]۔ دا صفت د (ماء) دے، يعنی داسے اوبۀ چه ستا لاسونو نۀ دی راپيدا کړی۔ بلکه خالص د الله تعالیٰ په قدرت او رحمت سره راوتی دی۔ عمل په معنیٰ د پيدا کولو او جوړولو سره دے۔

<u>د شاړے زمکے نه په ديوال تاوولو سره په هغے ملکيت ثابتيږی</u>

## الفصل الثانی

2996 (6) – عَنِ الۡحَسَنِ عَنۡ سَمُرَةَ بۡنِ جُنۡدُبٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوۡلُ اللّٰهِ ﷺ :((مَنۡ أَحَاطَ حَائِطًا عَلٰى أَرۡضٍ فَهِيَ لَهُ)). رَوَاهُ أَبُوۡدَاوُدَ .

**ترجمه** : حسنؒ د سمره بن جندب ﷺ نه روايت کوی چه رسول الله ﷺ وفرمايل : چاچه يوے زمکے نه ګير چاپيره ديوال تاؤ کۀ نو دا زمکه ددۀ شوه۔ (ابوداوؒد)۔

**تشريح:**

**فوائد** : (۱) دے حديث کښے د شاړے زمکے آبادولو يوه طريقه بيان شوے، او هغه دا چه څوك د شاړے زمکے نه ګير چاپيره ديوال تاؤ کړی نو څومره زمکه چه ددے نه دننه راشی دا ددۀ شرعی ملکيت شو۔ خو دے سره دا قيد لګول ضروری دی چه دا زمکه به مخکښے نه د چا ملکيت نۀ وی لکه دا شرط مخکښے تير شو۔ او دا ديوال که د هر څۀ وی نو دا به آبادول حسابيږی۔ او برابره خبر ده د کور جوړولو دپاره ئے دا ديوال وهلے وی اوکه د بل څۀ دپاره۔ خو په دے ديوال کښے دا شرط دے چه دا به وړوکے او لنډ نۀ وی بلکه د انسان د قد برابر به وی، او دليل ئے لفظ د [حَائِطٌ] دے چه حائط په لغت کښے د احاطے نه دے ګيرے اچولو ته وائی۔او په عرف او لغت کښے د شاړے زمکے نه ديوال تاوول همدومره وی۔ دا وجه ده، شيخ بسامؒ فرمائی : د سعودی عربستان په محکمو کښے دا معتبر دی چه کله ديوال يو نيم ميټر وی (د انسان د قد برابر وی) نو دا به آبادول

حسابيږي ځکه په دومره ديوال کولو سره بل څوك ددے زمکے نه منع کيږي، اوکه ددے نه کم وونو دا صرف نيول دي، آبادول نهٔ دي۔ [المغني: ۱۷۷/۸، توضيح الأحكام: ۹٦/۵] ۔

**اختلاف** : (۱) د امام احمدؒ مسلك ددے حديث مطابق دے چه چا د موات (شاړے زمکے) نه ديوال تاو کړو نو دے ئے مالك جوړيږي۔ (۲) ائمه ثلاثه (ابوحنيفهؒ، مالكؒ، شافعيؒ) وائی چه د داسے زمکے د ملکيت د ثبوت دپاره احياء يعنی آبادول شرط دے، دوئ وائی چه صرف ديوال تاوول د احياء په مفهوم کښے داخل نهٔ دی، لهذا دوئ پدے حديث کښے داسے تاويل کوی چه دلته د ''سکونت دپاره ديوال تاوول'' مقصود دی۔ او هسے قبضه کول مراد نهٔ دی۔ او امام احمدؒ وائی چه ديوال تاوول خپله د احياء يو شکل دے۔ او همدا خبره صحيح ده۔

**درجة الحديث:** [صحيح] أبوداود: ۳۰۷۷، سنن كبرى للنسائي: ۴۰۴/۳، أحمد: ۱۲/۵، ۲۱، ابن الجارود: ۱۰۱۵، بيهقي: ۱۴۲/٦. ارواء الغليل: ۱۵۵۴] وهذا اسناد ضعيف، فيه عنعنة الحسن البصري عن سمرة بن جندب والحسن معروف بالتدليس لكن الحديث صحيح لشواهده، ومنها احاديث الفصل الاول من هذه الباب مثل: [مَنْ عَمَّرَ أَرْضًا......الحديث] لان احاطة الجدار نوع من التعمير]

## د نبی علیه السلام د طرف نه صحابه کرامو ته د شاړے زمکے جاګير ورکولو عطيه

2997 (7) - وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ: أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ أَقْطَعَ لِلزُّبَيْرِ نَخِيلًا. رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ .

**ترجمه** : او اسماء بنت ابی بکر رضی الله عنها نه روايت دے چه رسول الله ﷺ زبير ؓ ته د کهجورو ونے د جاګير په طور ورکړے۔ (يعنی هغهٔ پسے ئے الاټ کړے)۔ (ابوداودؒ)

**تشريح** : ددئ يو مطلب دا دے چه رسول الله ﷺ زبير ؓ ته شاړه زمکه ورکړے وه چه هغه ئے ځانله آباده کړی او په هغے کښے ځانله کهجورے ونے وکری۔ لکه د هغه زمکے تذکره په روستو حديث کښے شويده۔ يا مطلب دا دے چه دا د کفارو نه نيولے شوے د کهجورو باغ وو، او د خُمس نه وونو رسول الله ﷺ مناسب وګڼړله چه دا زبير ؓ ته ورکړی ځکه چه هغهٔ هم د بيت المال په مال کښے حق لرلو ځکه چه هغه مجاهد فی سبيل الله وو۔

**درجة الحديث** :[اسناده جيد على شرط البخاري] ابوداود : ۳۰۶۹.

2998 (8) – وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ، أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ أَقْطَعَ لِلزُّبَيْرِ ﷺ حُضْرَ فَرَسِهِ، فَأَجْرَى فَرَسَهُ حَتَّى قَامَ، ثُمَّ رَمَى بِسَوْطِهِ. فَقَالَ : **أَعْطُوهُ حَيْثُ بَلَغَ السَّوْطُ**. رَوَاهُ أَبُودَاوُد.

**ترجمه** : ابن عمر ﷺ نه روایت دے چه نبی ﷺ زبیر ﷺ ته د هغهٔ د اس د منډے برابر زمکه د جاګیر په طور ورکړه، نو هغهٔ اس وزغلولو تردے چه هغه ودریدهٔ بیا هغهٔ خپل چابك مخے تـه وویشتـهٔ۔ نـو نبی ﷺ وفرمایل : کوم ځائے ته چه چابك رسیدلے هغه ځائے پورے ورته زمکه ورکړئ۔ (ابوداودؒ روایت کړے)۔

**تشريح** : [أَقْطَعَ لِلزُّبَيْرِ] دا زبیر بن العوام القرشی ﷺ، د عشره مبشره نه، یو بهادر صحابی وو۔ او دا زمکه چه دهٔ له نبی کریم ﷺ ورکړه دا هغه زمکه وه چه الله تعالیٰ خپل نبی (ﷺ) ته د بنی نضیرو (یهودو) د مالونو نه ورکړے وه، او دا ورکړه هغه وخت کښے شوے وه هر کله چه زبیر ﷺ په ړومبی ځل مدینے ته راغے۔ [فتح الباری: ۹/۳۲۳]

مګر علامه ابو العباس قرطبیؒ وائی : دا هغه زمکه وه چه د زبیر ﷺ بی بی (اسماء بنت ابی بکر الصدیق رضی الله عنهما) به ددے نه د کجورے هډوکی په خپل سر باندے کور تـه راوړل او هغے بـه وئیل چـه دا دوه میله وړاندے زمکه وه۔ او دا زمکه په بقیع علاقـه کښے وه۔ بخاری کښے د عروهٔ نه نقل دی چه زبیر ﷺ تـه رسول الله ﷺ د بنو نضیرو د مالونو نه یوه زمکه هم ورکړے وه،آه۔ هغه جدا زمکه وه۔ (المفهم)

[حُضْرَ فَرَسِهِ] د حاء پـه پیښ او د ضاد په سکون سره : حُضر منډے ته وائی۔او ددے نه مخکښے مضاف حذف دے۔ [أَيْ قَدْرَ عَدْوِ فَرَسِهِ عُدْوَةً وَاحِدَةً] (د هغهٔ د اس د یو ځل منډے برابر) یعنی هغهٔ ته ئے وویل تهٔ اس وزغلوه او کله چه هغه ودریږی نو دغه ځائے پورے ستا زمکه شوه۔

نو زبیر ﷺ خپـل اس لـه منـډه ورکړه نو هرکله چه هغه ودریدو زبیر ﷺ خپل چابك مخکښے وغورزولو نو نبی ﷺ ورلـه د چابك د غورزیدو ځائے پورے زمکه په ملکیت کښے ورکړه۔ ځکه هرکله چه نبی کریم ﷺ د زبیر ﷺ چابك غورزول ولیدل نو پو هه شو چه زبیر ﷺ د اس د منـډے ځـائے نه زیات طلب لری نو پدے وجه ئے هغهٔ ته هغه هم ورکړه۔ دا د نبی ﷺ سخاوت او د ملګرو د زړهٔ خیال ساتل وو۔

[ثُمَّ رَمٰی بِسَوْطِهٖ] بیا زبیر رضی الله عنه خپل چابك زمکے ته وویشتهٔ، دے دپاره چه زمکه ددے چابك لګیدو پورے نوره زیاته راکړی۔ [حَيْثُ بَلَغَ السَّوْطُ] یعنی نبی کریم ﷺ حکم وکړو چه ددهٔ دا شوق پوره کړئ او چابك چه کوم ځائے پورے رسیدلے، هغے پورے ورله زمکه ورکړئ۔

**فوائد** : ۱- بادشاه کولے شی چه یوه زمکه اهل فضل او علم ته ورکړی لکه علماء، مجاهدین یا نور ضرورتمندو ته۔ ۲- د حلالو زیادت طلب کول او د هغے خواهش کول جائز دی، لکه څرنګ چه د زبیر رضی الله عنه د عمل نه ښکاره شوه چه رسول الله ﷺ ددهٔ په چابك غورزولو باندے هیڅ انکار ونکړو۔ ۳- اقطاع د مجهول هم جائز ده۔
٤- شیخ ابن عثیمینؒ وائی : دا حدیث سنداً ضعیف دے لیکن ددے معنیٰ د قواعد شرعیه ؤ سره منافی نهٔ ده۔ ځکه چه اقطاع (چا ته مُفته زمکه) ورکول یو تبرع (احسانی) کار دے۔
۵- دلته ئے خو اس زغلولے، آیا ګاړے موټر، موټر سائیکل پدے حکم کښے داخلیږی؟ چه مثلًا یو تن ته ووائی چه تهٔ موټر سټارټ کړه کوم ځائے چه ګاړے ودریدو بس هغه ځائے پورے به ستا زمکه شی۔ جواب دا دے چه دا کار جائز نهٔ دے ځکه چه موټر نهٔ ستړے کیږی او کیدے شی چه د تیلو نه ډك وی نو سوونو میلونه زمکه یو تن ته ورکول مناسب نهٔ دی۔ (فتح ذی الجلال)

**درجة الحديث** : [حسن] أبوداود: ۳۰۷۲، أحمد: ۱۵٦، التلخيص الحبير: ۳/۱٤۱. فيه عبد الله بن عمر العمری المكبر ضعيف، وقال الشيخ زبير علی زئیؒ : متی يروی العمری عن نافعؒ فحديثه حسن آه، واصله في الصحيحين : تقول اسماء بنت ابی بكر الصديق رضی الله عنهما : [أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ أَقْطَعَ الزُّبَيْرَ أَرْضًا] ويقول عروة : هذا من اموال بنی النضير۔ (بخاری).

2999 (9) – وَعَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَائِلٍ عَنْ أَبِيهِ : أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ أَقْطَعَهُ أَرْضًا بِحَضْرَمَوْتَ قَالَ : فَأَرْسَلَ مَعِيَ مُعَاوِيَةَ قَالَ :" أَعْطِهَا إِيَّاهُ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ.

**ترجمه** : او علقمه بن وائلؒ د خپل پلار نه روایت کوی چه بیشکه نبی کریم ﷺ دهٔ له د حضر موت په علاقه کښے زمکه د جاګیر په طور ورکړه، هغه وائی : نو ما سره ئے معاویه رضی الله عنه ولیږلو هغهٔ ته ئے وفرمایل : چه هغه زمکه دهٔ ته ورکړه۔ (ابو داودؒ، دارمیؒ)

**تعارف د علقمه** بن وائل : بن حجر كندي حضرمي كوفيّ صدوق راوي دے۔ ابن حبانؒ ورته ثقه ويلي۔ د خپل پلار وائل ﷺ او د مغيره بن شعبه ﷺ نه روايت كوي۔

**تشريح** : حضرموت كومه علاقه ده ؟ : موجوده جغرافيائي نقشے مطابق د جبل السراة يوه سلسله د يمن نه تيريږي او د جزيرة العرب جنوب مغربي گوټ نه مشرق طرف ته تاويږي، بيا جنوبي ساحل سره نزدے نزدے لرے پورے روانه ده۔ د جبل السراة دا سلسله چه په كومو علاقو مشتمل ده هغے ته حضرموت وائي۔ د حضرموت پوره علاقه عموماً شاړه بے گياه او غير شاداب غرونو باندے مشتمل ده، چه دا غرونه ډير اُوچت نهٔ دي او د باران د كم كيدو په وجه د زراعت قابل نهٔ ده ليكن پدے سلسلو كښے څه واديانے دي چه نسبةً شاداب او تازه دي، د هغے نه يوه وادي "د حضرموت" په نوم ياديږي۔

وائل بن حجر ﷺ ددے علاقے د پخواني شاهي خاندان نه يو فرد وو، ددهٔ والد د هغه ځائے بادشاه وو، دهٔ چه هركله د رسول الله ﷺ دعوت واوريدو نو د خپل ملك نه د يو وفد سره د رسول الله ﷺ په خدمت كښے حاضر شو، نو رسول الله ﷺ د مخكښے نه صحابه كرامو ته ددهٔ تعارف كړے وو چه [هُوَ بَقِيَّةُ أَبْنَاءِ الْمُلُوْكِ] ۔ (دا د شاهي خاندان د اولادو نه دے) هركله چه دے مدينے ته راورسيدو نو رسول الله ﷺ ددهٔ د حيثيت مطابق استقبال وكړو، هغه ئے ځان سره نزدے كينولو او هغهٔ ته ئے خپل څادر مبارك خور كړو، بيا رسول الله ﷺ هغهٔ لره د حضرموت علاقے حاكم مقرر كړو او د هغه ځائے څه زمكے ئے هغهٔ ته د عطيه په طور په ملكيت سره وركړے۔ او ددے د تعيين دپاره ئے د هغهٔ سره معاويه ﷺ وليږلو۔ ددهٔ قصه زمونږ په "سيرت" بحث الوفود كښے تفصيلاً وگوره۔

[أَقْطَعَهُ أَرْضًا] أَيْ مَنَحَهُ وَمَلَّكَهُ أَرْضًا يَنْفَرِدُ بِهَا : (هغهٔ له ئے ذاتي طور سره يوه زمكه د عطيئے او جاگير په توگه وركړه)۔ اقطاع ديته وائي : چه د مسلمانانو خليفه او بادشاه په خپل رعيت كښے چاله د شاړے زمكے نه يوه ټكړه وركړي، چه دا ددهٔ پورے خاص وي او دے د هر هغه چانه زيات ددے د آبادولو لائق وي چه هغهٔ مخكښے دا نهٔ وي آباده كړے۔ اقطاع په دوه طريقو سره كيږي : (أ) چه دا ورله د آباذولو دپاره بطورِ تمليك وركړي چه دا ستا شوه څانله ئے آباده كړه۔ (ب) يا ورته ووائي چه ددے زمكے غله، حاصل او پيداوار څهٔ مودے پورے خوره۔ لكه روستو راځي۔

**فوائد** : (۱) مخکنو درې واړو حدیثونو نه ثابته شوه چه بادشاه یا د هغهٔ نائب دپاره جائز دی چه په خپل رعیت کښې چاله د هغهٔ د اجتماعي یا دیني خدماتو یا په بل سبب سره څهٔ زمکه ورکړي، هر کله چه هغه ورته د وسیدو، یا کرکیلې او فصل وغیره دپاره محتاج وي۔ او دا اقطاع بادشاه یا د هغهٔ نائب پورې خاص ده چه هغه په خپل اجتهاد سره د مسلمانانو په زمکو کښې د مصلحت مطابق تصرف کولې شي۔ ددهٔ نه سوئ عوام مسلمانان دا کار نشي کولې۔

(۲) فقهاؤ د بادشاه دپاره د اقطاع (چاته د زمکې ورکولو) دوه شرطه ښودلي :

(**یو داچه**) صرف دومره اندازه زمکه به ورکوي چه هغه ئې آبادولې شي، ځکه په زیاتي زمکه ورکولو کښې خلکو ته تکلیف دے ځکه دا زمکه د ټولو مشترکه حق دے۔ بله داچه : عمر فاروق ﷺ د بلال بن الحارث ﷺ نه د عقیق علاقې هغه زمکه بیرته واخسته کومه چه هغهٔ ته نبي کریم ﷺ ورکړې وه۔ په دې وجه چه هغهٔ دا نشوه آبادولې۔ لکه روستو راځي۔ (**دویم داچه**) د زمکې هغه برخه به ورته نهٔ ورکوي چه د هغې احیاء او آبادول جائز نهٔ دي، او دا هغه زمکه ده چه ښار ته نزدې وي او د ښار مصالح او منافع په دې سره پوره کیږي، لکه ددې باب په شروع کښې مخکښې ذکر شو، ځکه دا داسې ده لکه د دغه ښار والو مملوکه زمکه چه وي۔ بله داچه : ددې په ورکولو کښې خلکو ته تکلیف جوړیږي۔ دلیل ئې دادې چه نبي کریم ﷺ ابیض بن حمال ﷺ ته د مالګې معدن (کان) ورکړو، او کله چه نبي ﷺ ته وویل شول چه تاسو خو هغهٔ له د روانو اوبو پشان یونفعمن معدن ورکړو، نو بیرته ئې د هغهٔ نه واپس واخستهٔ۔ [أبو داود: ۳۰٦٤، ترمذی: ۱۳۸۰، ابن ماجه: ۲٤۷۵، حدیث حسن بطرقه] او دا حدیث روستو هم راځي۔ نو ددې نه معلومه شوه چه بادشاه به په خپل رعیت کښې چاله یو داسې شے نهٔ ورکوي چه په هغې کښې د ټولو مسلمانانو شریکه برخه وي او د هغې نفع جاري او روانه وي، لکه ظاهري معدنونه وغیره۔

(۳) چاله چه بادشاه د ښارې زمکې څهٔ برخه ورکړه نو آیا دا ددې مالك ګرځي اوکه نه د ملکیت ثابتیدلو دپاره د دغه زمکې آبادول ضروري دي ؟ نو (**یو قول**) دادې چه په دې سره دغه کس مالك نهٔ ګرځي، دې وجې نه دغه آلاتِ شوې زمکه دا نشي خرڅولې، البته دې د نورو خلکو نه ددې زمکې زیات لائق دے، او داسې مثال لري لکه په ښاړه زمکه

باندے څۀ مراسم او علامات لګولو سره انسان ددے مالك نۀ جوړيږي بلكه د نورو خلكو نه ددے زيات حقدار جوړيږي۔ ددے الاتړ شوے شاړے زمکے مالك به هله جوړيږي چه كله دا آباده كړي۔ مثلًا: د فصل دپاره په كښے كوهے وكني، كور په كښے آباد كړي يا په كښے فصل وكري۔ او دا د امام شافعيؒ او امام احمدؒ قول دے، شيخ محمد بن ابراهيمؒ مفتي الديار السعودية ديته ترجيح وركړے۔ [الفتاوى: ۲۹۷/۸] نو بنا په دے، كه دے سړي دا زمكه آباده كړه نو دے ددے مالك وګرځيدۀ او كه آباده ئے نۀ كړه نو دۀ له به يوه مقرره موده وخت وركړے شي، كه په دے كښے ئے آباده كړه نوډيره ښه ده، كه نۀ وي نو بيرته به ترے واخستل شي او څوك چه ددے د آبادولو او ددے نه د فائدے پورته كولو شوق لري، هغۀ له به وركړے شي۔ د دوئ **دليل** دا دے: چه نبي كريم ﷺ بلال بن الحارث ﷛ له عقيق علاقه عطيه كړے وه، او كله چه د عمر فاروق ﷛ دور راغے نو بلال ته ئے وفرمايل: رسول الله ﷺ تاله ددے دپاره دا زمكه نۀ وه دركړے چه د خلكو نه ئے واړوے، بلكه تاله ئے ددے دپاره دركړے وه چه آباده ئے كړے، نو ددے زمكے د كومے برخے په آبادولو چه تۀ قدرت لرے هغه واخله او باقي زمكه واپس كړه۔

[كتاب الأموال لأبي عبيد، ص: ۳۰۲، بيهقي: ۱۴۹/۶]

(**دويم قول**) دادے چه صرف په اقطاع (وركولو) سره انسان ددے زمكے مالك ګرځي، اګركه آباده كړے ئے هم نۀ وي۔ نو دے په دے كښے په خرڅولو يا په بل څۀ سره تصرف كولے شي۔ او دا د امام مالكؒ قول دے۔ شيخ ابن بازؒ ديته ترجيح وركړے، اوشيخ بسامؒ فرمائي: د سعودي قضائي هيئت په دے فتوىٰ وركړے۔ كه دا قول واخستے شي نو بيا هم د ولي الامر دپاره جائز دي چه څوك ددے زمكے د آبادولو نه عاجز شي نو هغه به ترے بيرته واخلي څكه په دے كښے د مسلمانانو مصلحت دے، لكه څنګه چه عمر فاروق ﷛ د بلال بن حارث ﷛ نه واپس اخستے وه۔ والله اعلم۔

(٤) چا ته زمكه وركولو ته اقطاع وائي، يعني يو تن ته داسے ووائي چه دا زمكه ستا شوه۔ او اقطاع په دوه قسمه ده (۱) اقطاع تمليك: (د مالك جوړولو په طريقه وركول) يعني چه يو بادشاه يا د هغۀ نائب يو شخص ته يوه معينه زمكه په تحفه كښے وركړي او هغه ئے مالك جوړ شي۔ (۲) اقطاع ارفاق: (د فائدے وركولو په طريقه وركول) يعني بادشاه يا د هغۀ نائب يو تن ته د يوے زمكے فائدے حاصلولو اجازت وركړي چه ددے

زمکې نه فائدې اخله لکه مثلًا په بازار کښې يوه زمکه ورته ورکړی چه په هغې کښې ځانله سامانونه اږدی، او په هغې کښې د خلکو نه سودا اخلی او هغې کښې ئې ساتی او بیا ئې خرڅوی۔ پدې صورت کښې دا شخص ددې زمکې مالك نۀ جوړيږی ځکه چه دا صرف د فائدې اخستو اجازت دې او زمکه ددۀ ملکیت نۀ دې۔ لیکن ترڅو چه دا اقطاع باقی وی او رخصت پاتې وی نو همدا شخص ددې ځائې زیات حقدار دې د بل چا نه۔ ځکه چه کله دا ورکړه نۀ وې نو دا ځائې به د هغه چا وې چه څوك ورته مخکښې راغلې وې۔ لکه دې باندې روستو دولسم (۱۲) حدیث دلیل دې۔ (فتح ذی الجلال)

**درجة الحديث:** [صحيح] أبوداود: ۳۰۵۸، ترمذی: ۱۳۸۱، أحمد: ٦/۳۹۹، ابن حبان: ۷۱٦۱، بيهقی: ٦/۱٤٤..

3000 (10) - وَعَنْ أَبْيَضَ بْنِ حَمَّالٍ الْمَأْرِبِيِّ ﷺ: أَنَّهُ وَفَدَ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ فَاسْتَقْطَعَهُ الْمِلْحَ الَّذِي بِمَأْرِبَ فَأَقْطَعَهُ إِيَّاهُ فَلَمَّا وَلّٰى قَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّمَا أَقْطَعْتَ لَهُ الْمَاءَ الْعِدَّ قَالَ: فَرَجَعَهُ مِنْهُ قَالَ: وَسَأَلَهُ مَاذَا يُحْمٰى مِنَ الْأَرَاكِ؟ قَالَ: "**مَا لَمْ تَنَلْهُ أَخْفَافُ الْإِبِلِ**". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه وَالدَّارِمِيُّ.

**ترجمه:** او ابیض بن حمال مأربی ﷺ په باره کښې نقل شوی چه دې رسول الله ﷺ ته په وفد کښې ورغلو نو د هغۀ نه ئې د هغه مالګې د کان د جاګیر کولو مطالبه وکړه کومه چه په مأرب کښې وه، نو نبی کریم ﷺ هغۀ ته هغه کان د جاګیر په طور ورکړو۔ نو هرکله چه هغه واپس شو نو يو سړی (یعنی اقرع بن حابس تمیمی ﷺ) ووئیل: اې د الله رسوله! تاسو خو دې سړی ته تیارې اُوبۀ (یعنی په کان کښې بالکل تیاره مالګه) ورکړه؟ راوی وائی (هرکله چه نبی ﷺ ته د اقرع ﷺ د خبرې نه معلومه شوه چه ابیض ته يو داسې کان ورکړې شویدې چه په هغې کښې مالګه بالکل تیاره ده نو) هغۀ هغه کان د ابیض نه واپس واخستو۔ راویّ وائی چه دې شخص (یعنی اقرع ﷺ) د نبی ﷺ نه دا تپوس هم وکړو چه د مماڼرې د ونو نه د کوم ځائې نه ګیره اچولې شی؟ (او هغه ځانله جاګیر کولې شی) نبی کریم ﷺ وفرمایل: هغه چه هغې ته د اُوښانو خپې نۀ وی رسیدلی۔ (ترمذیؒ، ابن ماجهؒ، دارمیؒ)

**تشریح:** ابیض بن حمال المأربی ﷺ۔ دا په یمن کښې د مأرب علاقې دې۔

[فَاسْتَقْطَعَهُ] يعنې طلب د اقطاع ئې ترې وكړه، دا مطالبه ئې ترې وكړه چه دۀ ته په جاګير كښې د مالګې هغه كان وركړې شي كوم چه په مأرب كښې دې.

[رَجُلٌ]. دا شخص يا اقرع بن حابس تميمي رضي الله عنه وو. او يا عباس بن مِرداس رضي الله عنه وو.

[الْعِدُّ] . په زير د عين او شد د دال سره. مهيأ او تيار ته وائي. او مقصد دا دې چه دا تيارې اُوبۀ دي چه كله وچې شي نو مالګه ترې جوړيږي. نو ددې په مالګه جوړيدو كښې هيڅ عمل او كوشش ته ضرورت نۀ راځي.

نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ترې بيرته ولې واخستو؟ نو وجه دا ده چه اول كښې رسول الله صلى الله عليه وسلم دا خيال وو چه دا به يو معدن (كان) وي چه ددې نه به مالګه په ډير مشقت او سختئ سره راوځي او دا شخص به پرې ډيره خرچه كوي، ليكن هركله چه ورته معلومه شوه چه دا خو تياره مالګه ده، پدې كښې ټول مسلمانان شريك كيدل پكار دي، او دا د بيت المال حق كيدل پكار دي، چه فائده ئې ټولو خلكو ته ورسيږي، نو پدې وجه ئې بيرته ترې واخستـه. ددې نه ثابته شوه چه هغه معادن چا ته اقطاع كول (تحفه كښې وركول) جائز دي چه هغه باطني (پټ) وي، چه د هغې نه هيڅ شے بغير د كوشش او سترې والي او مشقت نه نۀ حاصليږي لكه مالګه، پټرول، فيروزه، كبريت وغيره. او كوم چه ښكاره وي چه د هغې نه په غير د تكليف او سختئ نه مقصد حاصليږي نو د هغې بخښل جائز نۀ دي. (مرقاة)

[يُحْمٰى مِنَ الْاَرَاكِ] اراك: ممانړې ونې/مسواكي بوټي ته وائي. اردو كښې ورته پيلو وائي.

د سوال مقصد دا وو چه د ممانړې د ونو د كوم ځائے نه ګيره وا چولې شي او هغه چراګاه جوړه كړې شي؟ يعنې كومه غير آباده او شاړه زمكه په آبادولو سره خپل ملكيت جوړيدې شي؟ (او ممانړې ځكه ذكر كړې چه دا په شاړو كښې ولاړې وي او مطلب ئې دا وو چه كومه شاړه زمكه مونږ ځان دپاره قبضه كولې شو؟) نو نبي عليه السلام جواب وركړو چه كومې زمكې تـه د اُوښانو خپې نۀ رسيږي. ددې نه مراد هغه زمكه ده چه د چراګاه او آباديانو نه جدا وړاندې وي چه هركله اُوښان پريخودې شي نو هغې ته نۀ رسيږي دومره وړاندې وي. يعنې اُوښان د ممانړو سرونو نه خوراك كوي او د هغې بره طرفونه محفوظ پاتې كيږي.

نو دلته د يحمى نه مراد احياء الموات دے، نۀ حمیٰ (چراګاه) جوړول ځکه چه چراګاه هيڅوك د خپل ځان دپاره خاص نشي جوړولے۔
ددے نه معلومه شوه چه د هغه موات (شاړے) زمکے احياء (آبادول) جائز نۀ دی چه آباديانو ته نزدے وی ځکه چه هغه د خاروو د څرولو او د علاقے والو د نورو ضرورتونو دپاره استعماليږی۔
دا حديث هم دليل دے چه نبی کریم ﷺ او د هغۀ نه روستو نورو بادشاهانو له جائز دی چه بعض کسانو ته بعض شاړے زمکے په ملکيت کښے ورکړی برابره ده چه هغه معدن (کان) وی يا زمکه وی۔

**درجة الحديث** : [حسن لغيره] ابوداود : ٣٠٦٤، ترمذی : ١٣٨٠، ابن ماجه : ٢٤٧٥، دارقطنی : ٢٤٧٥، نسائی : ٥٧٦٤، دارمی : ٢٦١٤، فيه من لا يعرف، وقال شعيب : فيه سمی بن قيس وشمير بن عبد المدان لم يوثقهما غير ابن حبان الا انه ورد من طريقين لعله يتقوى بهما ويحسن]، تخريج صحيح ابن حبان : ٤٤٩٩ وانظر صحيح ابی داود : (٢٦٩٤) : قال : حسن لغيره دون جملة الخفاف.

## درے شيانو کښے مسلمانان شريك دی

3001 (11) – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ :" اَلْمُسْلِمُوْنَ شُرَكَاءُ فِيْ ثَلَاثٍ : الْمَاءِ وَالْكَلَإِ وَالنَّارِ ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه .

**ترجمه:** او ابن عباس ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمايل : مسلمانان په درے شيانو کښے شريك دی، په اُوبو، ګياه او اُور کښے۔ (ابوداوٙد، ابن ماجہؒ)

**تشريح** : [اَلْمَاءِ] مجرور دے بدل دے د ثلاث نه۔ يعنی د باران، چينو او نهرونو اوبۀ چه د چا ملکيت پرے نۀ وی۔ [اَلْكَلَإِ] : كلأ په زور او همزے سره: ګياه ته وائی لونده وی اوکه وچه۔ او حشيش صرف وچے ګياه ته وائی۔ دلته مراد هغه ګياه ده چه په شاړه زمکه کښے راخيژی او د هيچا په ملکيت کښے نۀ وی۔ [وَالنَّارِ] اور نه مراد هغه لرګی دی چه خلك ئے د مباحو ونو نه پريکوی او هغه بلوی۔ دارنګه کانړی سره هم اُور بليږی۔ او بل قول دادے چه دا لفظ په خپل ظاهر باندے دے او په اور کښے د اشتراك نه مراد دا چه څوك چالره د شونتۍ او ليتکی اخستو نه او په دے سره د رڼا حاصلولو نه نشی منع

كولے۔ هر كله چه دۀ ته تكليف نۀ وي۔

**فوائد** : (۱) حديث نه ثابته شوه چه راتلونكي درے شيان په هيڅ يو مسلمان پورے خاص نۀ دي بلكه په دے كښے ټول مسلمانان شريك دي : (أ) د بارانۀ هغه اُوبۀ چه په حوضونو وغيره كښے جمع كيږي دارنګه د چينو او عامو نهرونو اوبۀ، په دے كښے هر يو تن شريك دے او د چا چه دے سره زمكه زياته نزدے وي نو هغه د هر چانه ددے زيات لائق دے خو منع كولے ئے نشي۔ (ب) هغه مباح واښۀ چه په شاړه زمكه يا غرونو كښے راخيژي او چا هغه ريبلي نۀ وي نو ددے د ريبلو نه به هيڅوك نشي منع كولے۔ او كوم واښۀ چه په مملوكه زمكه راخيژي، نو په دے كښے د علماؤ اختلاف دے: (**قول اول**) ځينے وائي: ددے نه هم څوك منع نشي كولے ځكه دا حديث عام دے، ديته هم شامل دے۔ البته انسان كولے شي چه خپلے زمكے ته څوك د ننوتو نه منع كړي په دے شرط چه خلك ددے نه سوئ په نورو ځايونو كښے ګياه مومي۔ خو كه د دوئ ورته ضرورت وو او نور واښۀ نۀ وو نو دوئ له به د هغۀ زمكے ته د ننوتو اجازت وي اويا به ئے مالك وكړي او خلكو ته به ئے وركړي۔

(**قول ثاني**) او نور علماء فرمائي : په مملوكه زمكه كښے چه كومه ګياه راختلے وي نو دا د زمكے والا ملكيت دے، ددۀ دپاره ددے خرڅول او نور خلك منع كول جائز دي، ځكه دا د زمكے تابع دے۔ او دوئ وائي: په دے حديث كښے د ګياه نه مراد هغه ګياه ده چه په مملوكه زمكه كښے نۀ وي راختلے۔

(**قول ثالث**) كه ګياه خپله راختلے وي نو ددۀ ملكيت نۀ دے، اوكه دۀ كرلے وي نو بيا دا ددۀ حق دے۔ او دا د شيخ الاسلام ابن تيميهؒ رائے ده۔ [الاختيارات، ص: ۱۲۱]

(ج) وُنے، لرګي او خپله اُور: نو څوك چه ديته محتاج وي هغۀ له دا مفته وركول واجب دي، دارنګه كه څوك شونتيۍ او ليتكے بلول غواړي نو ددے منع كول جائز نۀ دي۔ دارنګه كه څوك په يو بَلُ شوي اور سره ځان ګرمول غواړي نو ددۀ منع كول جائز نۀ دي۔ كه د بل اُور نه يو تن خپل ځان دپاره يو لرګے اخلي نو ددے منع كول جائز دي ځكه چه دا اُور ته نقصان وركوي او د هغے مړ كيدو ته خطره رسيږي۔ (ابن عثيمينؒ)

(٤) البته كه دا درے واړه شيان انسان په خپل ذاتي ملكيت كښے راولي نو دا به ددۀ وي، لكه په مشكيزه يا لوټه كوزه يا ډيګۍ وغيره كښے دا اوبۀ واچوي نو دا به ددۀ ذاتي

ملکیت وی۔ او په دے د علماؤ اجماع دہ۔ [نيل الأوطار: ٣٤٢/٥] لیکن که ددۀ نه زیاتے وی او بل څوك ورته محتاج وی نو دا به تر يے نۀ منع کوی بلکه محتاج او مسافر وغیره له به ئے مفته ورکوی او ددے عوض به نۀ اخلی۔ د ابو هریره ﷺ په حدیث کښے دی، نبی کریم ﷺ ارشاد فرمائی: ((درے کسان دی چه الله به د قیامت په ورځ د دوئ سره خبرے ونۀ کړی، نۀ به ورته وګوری، نۀ به ئے د ګناهونو نه پاك کړی او دوئ له به دردناك عذاب وی: په دوئ کښے یو هغه سړے دے: [كَانَ لَهُ فَضْلُ مَاءٍ بِالطَّرِيقِ، فَمَنَعَهُ مِنِ ابْنِ السَّبِيلِ ......] (چه په لاره کښے ورسره زیاتی اوبۀ شته او هغه ئے د مسافر نه منع کړے) [بخاري: ٢٣٥٨، مسلم: ١٠٨] ۔ نو ددے حدیث نه ثابته شوه چه په دے درے شیانو کښے په بعض شیانو باندے ملکیت حاصلیدے شي لکه دلته د یوتن دپاره په زیاتی اُوبو باندے ملکیت ثابت کړے شوے۔ علامه ابن بطالؒ فرمائی: ددے نه معلومه شوه چه د کوهی خاوند د حاجت په وخت د مسافر نه زیات حقدار دے، خو کله چه د کوهی خاوند د اوبو نه خپل حاجت پوره کړو نو د مسافر نه ئے بندول جائز نۀ دی۔ [شرح ابن بطال: ٤٩٩/٦] همدا حکم د لرګو هم دے چه ترڅو پورے دا په غرۀ یا مشترکه زمکه باندے ولاړ وی نو ټول مسلمانان په دے کښے شریك دی، خو که چا په غرۀ کښے لرګی وکړل او ګیډے ئے تړے وتاړۀ نو دا ددۀ ملکیت شو۔ خرڅولے ئے هم شي او نور تصرف په کښے هم کولے شي۔ والله تعالیٰ اعلم۔

(۵) ددے حدیث نه د ((اشتراکیت)) ابطال معلوم شو، څکه حدیث کښے صرف په درے شیانو کښے شرکت راغلے، او دوئ وائی: په هر څۀ کښے انسانان شریك دی۔

**درجة الحديث**: [صحيح] أبو داود: ٣٤٧٧، أحمد: ٣٦٤/٥، بيهقي: ١٥٠/٦].

## یو مباح شے چه چا مخکښے حاصل کړو هغه به د هغه کیږی

3002 (12) – وَعَنْ أَسْمَرَ بْنِ مُضَرِّسٍ ﷺ قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ ﷺ فَبَايَعْتُهُ فَقَالَ: " مَنْ سَبَقَ إِلَى مَا لَمْ يَسْبِقْهُ إِلَيْهِ مُسْلِمٌ فَهُوَ لَهُ ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

**ترجمه**: او اسمر بن مضرس ﷺ فرمائی: زۀ نبی کریم ﷺ ته راغلم، ما ورسره بیعت وکړو نو هغۀ وفرمایل: څوك چه هغه شي ته مخکښے لاړو چه هغے ته یو مسلمان ددۀ نه مخکښے نۀ وو تلے نو هغه ددۀ شو۔ (ابوداوؒد)

**اسمر** بن مضرس طائی ﷜۔ (د بنو طی قبیلے نه) صحابی دے۔

**تشریح :** [اِلَی مَا] ۔ دا یا ما موصوله ده او مراد ترے اُوبۀ، گیاه او لرگی او نور مباح څیزونه دی، یعنی څوك چه یو ځائے کښے اول په عامو اُوبو او گیاه او لرگو باندے ورواوړیدو چه هغه د چا ملکیت نۀ وو نو هغه به ددۀ وی، یعنی دۀ چه کوم شے د هغے نه واخستل هغه به ددۀ ملکیت وی، نۀ هغه شے چه په دغه ځائے کښے پاتے شو۔ د هغے مالك نۀ جوړیږی۔ مثلًا یو غر ته ورغلو د هغے نه ئے ځانله لرگی وکړل نو دے به د دغه لرگو مالك جوړیږی نۀ د ټول ځنګل۔ او دا ددے حدیث صحیح او درسته معنیٰ ده۔

او په یوه بله نسخه کښے [اِلَی مَاءٍ] ۔ دے۔ یعنی چا چه په یوه زمکه کښے اول چینه وموندله نو دے به ئے د نورو په نسبت زیات مستحق وی، مگر نور خلك به هم ددے نه د فائدے د اخستو نه نۀ منع کوی۔ البته تصرف به ئے ددۀ په لاس کښے وی۔

مگر غوره نسخه دا ده چه (ما) موصوله ده، وجه دا ده چه په روایت د ابوداود کښے وریسے دا الفاظ دی : [فَخَرَجَ النَّاسُ يَتَعَادَوْنَ وَيَتَخَاطَوْنَ] ۔ یعنی ددے خبرے نه روستو خلك اُووتل په زمکو پسے گرځیدل او ځانله به ئے په هغے نخے او کرخے راخکلے۔ دا دلیل دے چه دا حکم یواځے د اُوبو نۀ دے بلکه هر شی ته چه یو مسلمان مخکښے ورسیدو او هغه شے د چا ملکیت نۀ وو نو دے ئے زیات مستحق دے۔ ځکه چه خط او کرخے راخکل په زمکه وی، نۀ په اُوبو۔ [شرح سنن ابی داود عبد المحسن العباد : ۳۰۷/۱۶]

او د (مسلم) په قید سره کافر بهر شو چه که کافر دغه ځائے مخکښے موندلے وو بیا پرے مسلمان ورغلو نو دا د کافر حق نۀ جوړیږی۔

**درجة الحديث :**[حسن] ابو داود : ۳۰۷۱، ولم یضعفه، والطبرانی : ۲۸۰/۱ ومعرفة الصحابة لابی نعیم : ۱۰۷۰، وضعفه الالبانی، انظر الارواء : ۱۵۵۳ وقال الشوکانی فی الفتح الربانی : ۳۷۷۲/۸) ثابت، وقال الحافظ فی الاصابة : ۴۱/۱ اسناده حسن ، روضة المحدثین۳۵۵۷ وصححه الضیاء فی المختارة : فتح الغفار : ۴۴/۱۲، قال العجلونی ویؤیده حدیث : **مِنًى مُنَاخُ مَنْ سَبَقَ** (کشف الخفاء ومزیل الالباس : ۲۵۲/۲].

3003 (13) - وَعَنْ طَاوُسٍ مُرْسَلًا: أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ: "مَنْ أَحْيٰى مَوَاتًا مِنَ الْأَرْضِ فَهُوَ لَهُ وَعَادِيُّ الْأَرْضِ لِلّٰهِ وَرَسُوْلِهِ ثُمَّ هِيَ لَكُمْ مِنِّيْ". رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ.

**ترجمه**: او طاووسؒ نه په طريقه د ارسال نقل دی چه بيشکه رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چه شاړه (بنجر) زمکه آباده کړه نو هغه د هغهٔ شوه او پخوانئ زمکه د الله تعالیٰ او د هغهٔ د رسول دپاره ده، بيا هغه زما د طرف نه تاسو دپاره ده. (شافعیؒ)

**تشريح**: [وَعَادِيُّ الْأَرْضِ] . عادی قديم (زوړ) شی ته وائی. دا منسوب دے قوم عاد ته چه د هود ؑ قوم وو. مراد ترے نه هغه زمکے دی چه د هغے مالك نهٔ وی. او عرب د نامعلومه څيزونو او پخوانو زړو څيزونو نسبت عاديانو ته کوی اګرکه د هغوی ملکيت نهٔ وی پاتے شوی. او مطلب د حديث دا دے چه تولے زمکے اول د الله تعالیٰ ملکيت دے بيا الله تعالیٰ ما ته دا توله راکړے ده زهٔ به پکښے تصرف کوم څنګه چه غواړم بيا ما تاسو ته درکړه يعنی اجازت مے درکړو او تاسو له مے دا جائز کړه چه دا آباده کړئ او هر هغه ځائے آباد کړئ چه د هغے مالك نهٔ وی او په هغے باندے مخکښے د يو مسلمان ملکيت نهٔ وی.

دا دليل دے چه رسول الله ﷺ په شاړو زمکو کښے د خپل صوابديد مطابق تصرفات کولے شی، دا د هغهٔ په حق کښے د مال فیء حکم لری.

[لِلّٰهِ وَرَسُوْلِهِ] . قاضی عياضؒ ليکی: چه په دے جمله کښے د الله تعالیٰ ذکر د رسول الله ﷺ د عظمتِ شان دپاره ذکر شويدے او په طريقه د تمهيد دے، ورنه د الله تعالیٰ زمکو ته ضرورت نشته، نو ګويا کښے د رسول الله ﷺ فيصله او حکم د الله تعالیٰ فيصله او حکم دے.

**درجة الحديث**: [اسناده ضعيف لارساله] کما فی الارواء: ۱۵۴۹، لکن النصف الاول منه صحيح لوروده مرفوعا من رواية جماعة من الصحابة وهی فی الارواء (۱۵۵۰) ويأتی فی باب الغصب، وروی موصولا عند البيهقی: ۱۴۳/۶، لکنه موقوف علی ابن عباس ؓ.

پہ کوم قوم کښې چہ د کمزورو انسانانو حقوق محفوظ نۀ وي هغوی بہ د بدیو نہ نۀ پاکيږي

3004 (14) - وَرُوِيَ فِي "شَرْحِ السُّنَّةِ" : أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ أَقْطَعَ لِعَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ الدُّوْرَ بِالْمَدِيْنَةِ وَهِيَ بَيْنَ ظَهْرَانَيْ عِمَارَةِ الْأَنْصَارِ مِنَ الْمَنَازِلِ وَالنَّخْلِ فَقَالَ بَنُوْ عَبْدِ بْنِ زُهْرَةَ : نَكِّبْ عَنَّا ابْنَ أُمِّ عَبْدٍ فَقَالَ لَهُمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : "**فَلِمَ ابْتَعَثَنِيَ اللّٰهُ إِذًا ؟ إِنَّ اللّٰهَ لَا يُقَدِّسُ أُمَّةً لَا يُؤْخَذُ لِلضَّعِيْفِ فِيْهِمْ حَقُّهُ**".

**ترجمه :** او پہ شرح السنہ کښې روایت شویدی چہ نبی کریم ﷺ عبد الله بن مسعود ﷺ تہ پہ مدینہ کښې کورونہ د جاګیر پہ طریقہ ورکړل او هغہ د انصارو د آبادئ (یعنی د هغوی د کورونو او د هغوی د کهجورو د ونو) پہ مینځ کښې واقع وو، نو د عبد بن زهره خامنو ووېل : (اے د الله رسوله !) مونږ نہ د ام عبد ځوی (عبد الله بن مسعود) جدا کړه، نو رسول الله ﷺ هغوی تہ وفرمایل : بیا زۀ الله تعالیٰ پہ دغہ وخت کښې ولے رالیږلے یم (چہ کله داسے ظلم کیږي) (او یاد ساتئ) الله تعالیٰ هغہ قوم تہ پاکی نۀ ورکوی چہ پہ هغوی کښې د ضعیف دپاره حق نۀ اخستے کیږي۔

**تشریح :** [الدُّوْرَ] جمع د دار ده، ددے نہ مراد د کور دپاره هغہ زمکے او میدانونہ دی چہ رسول الله ﷺ ددے دپاره ورکړی وو چہ هغہ پکښې ځانلہ کور جوړ کړی، لکہ بل روایت کښې دی چہ رسول الله ﷺ مهاجرینو تہ هم پہ مدینہ کښې زمکے ورکړے وے (چہ هغوی پکښې کورونہ جوړ کړی) او عرب زمکے تہ هم دار وائی اګرکہ پہ هغے کښې ئے آبادے نۀ وی جوړ کړے۔ مراد ترے نہ علاقہ او زمکہ وی۔ دا پہ اعتبار د ما یؤول الیہ سره وی۔ یا پہ علاقہ د سببیت سره وی۔

[ظَهْرَانَيْ] ۔ دا پہ اصل کښې ظَهْرَيْ دے نو د مبالغے دپاره الف او نون مفتوحہ زیات کړے شو، معنیٰ ئے ده : مینځ۔

[مِنَ الْمَنَازِلِ وَالنَّخْلِ] ۔ دا بیان دے د عمارة الانصار یعنی ددے آبادیو نہ مراد کورونہ او د کهجورو باغونہ وو۔ [نَكِّبْ] ۔ دا د تنکیب نہ دے، او هغہ د نکوب نہ دے، اوړیدل، او جدا کول۔ یعنی واړه وه او جدا کړه۔

د حدیث مطلب دا دے چہ رسول الله ﷺ عبد الله بن مسعود ﷺ تہ پہ مدینہ کښې څه

زمکه ورکړه نو د عبد بن زهره ځامنو د هغې مخالفت وکړو، ددې وجه دا وه چه د عبد الله بن مسعود ﷺ پلار يعنې مسعود د جاهليت په زمانه کښې د عبد بن زهره د ځامنو حليف وو۔ دارنګه د عبد الله ﷺ والده يعنې ام عبد د هغوی د خدمتګارانو نه وه، نو هرکله چه رسول الله ﷺ عبد الله بن مسعود ﷺ ته داسې ځايونه ورکړل چه هغه د عبد بن زهره د ځامنو د مکاناتو او د کهجورو د باغونو په مينځ کښې واقع وو نو هغوی ته دا خبره برداشت نشوه چه د عبد الله بن مسعود ﷺ دا زمکه د هغوی د زمکو ترمينځ واقع شي، نو هغوی پدې طريقه د عبد الله بن مسعود ﷺ په باره کښې د حقارت جذبات راښکاره کړل او دا ئې وويل چه د ام عبد د ځوی دا زمکه زمونږ نه جدا کړه، ددۀ زمکه دې زمونږ د زمکو په مينځ کښې نۀ وی، نو رسول الله ﷺ د هغوی پدې غلطو جذباتو باندې غصه شو او وې فرمايل: که د بندګانو حقوق پدې احساساتو او جذباتو بناء وې او د کمزورو انسانانو حقوقو ته په سپك نظر کتل جائز شي نو بيا زۀ د الله تعالىٰ رسول جوړيدو سره دې دنيا ته ولې راغلے يم؟ که زۀ د کمزورو او بې وزلو او مسکينانو مدد ونکړم نو زما د بعثت يو لوی مقصد به څنګه پوره شي؟ او زما په بعثت او نبوت کښې به څه حکمت او فائده پاتې شي؟ دا خبره ياد ساتئ چه زما د نبوت د بنيادی مقاصدو نه يوه خبره دا هم ده چه زۀ به د انسانانو ترمينځ خکته والے پورته والے او د معاشرتی فرق او امتياز خود ساخته ديوالونه ماتوم، څوك چه ځان طاقتور او لوی ګڼړی هغوی به د اعتدال او انصاف نيغې لارې ته راولم او څوك چه کمزور او بيچاره وی د هغوی مدد کولو سره به هغوی ته طاقت ورکوم۔ بيا نبی کريم ﷺ يو لوی حقيقت او کردار ته اشاره وکړه وې فرمايل: چه کوم قوم د خپلو کمزورو افرادو د حقوقو تحفظ نۀ کوی او په کوم قوم کښې چه د کمزورو انسانانو هيڅ اهميت او وقعت نۀ وی هغه قوم نۀ صرف دا چه د انسانانو نه بد ترينه حصه ګرځی بلکه الله تعالىٰ هغه قوم د ګناهونو او بديانو نه نۀ پاکوی، هغوی پورې به عيبونه او ګناهونه او نقصانات پيوسته کيږی، چه نتيجه به دا شي چه دغه قوم به په معاشره کښې هيڅ وقار او نيك کردار نۀ مومی او نۀ به د الله تعالىٰ د طرف نه په هغوی باندې رحمت او برکت نازليږی۔

پدې طريقه رسول الله ﷺ د عبد بن زهره ځامن آګاه کړل چه دا مۀ ګڼړئ چه عبد الله بن مسعود ﷺ چونکه په دنياوی توګه ستاسو نه کم دې او هغه يو کمزورې انسان دې

نو تاسو به د هغهٔ جائز حق رد کوئ بلکه هغه چه کوم ځائے مناسب ګڼړی سکونت به اختیاروی، ستاسو د غضب او غصے هیڅ وجه نشته، زهٔ به د هغهٔ سره تعاون او مدد کوم۔

ددے حدیث نه دا هم ثابته شوه چه د وخت بادشاه کولے شی چه د آبادیانو ترمینځ شاړه زمکه هم چا ته په جاګیر کښے ورکړی۔ یا دا چه ددے نه مراد عاریه وه، یعنی صرف د وسیدو دپاره وه۔ او ملکیت به ئے نهٔ جوړیدو۔

**درجة الحديث** :[صحيح مرفوعا] الشافعى : ٤٣٥، من مرسل يحيى بن جعد۔ الطبرانى الاوسط : ١/١٩٥/١ من حديث ابن مسعود وسنده رجاله ثقات لكنه منقطع لكن المرفوع منه صحيح له شواهد كثيرة، فعند ابن ماجه (٢٤٢٦) من حديث ابى سعيد الخدرى ﷺ بسند جيد.

### د نهر وغیره نه د پټو او باغونو سیراب کولو ضابطه

3005 (15) – وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ : أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ قَضٰى فِي السَّيْلِ الْمَهْزُوْرِ أَنْ يُمْسَكَ حَتّٰى يَبْلُغَ الْكَعْبَيْنِ ثُمَّ يُرْسِلُ الْأَعْلٰى عَلَى الْأَسْفَلِ . رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ

**ترجمه** : او عمرو بن شعیبؒ د خپل پلار نه او هغه د نیکه نه روایت کوی چه بیشکه رسول الله ﷺ د مهزور د سیلاب (اوبو) په باره کښے فیصله وکړه چه (کله ددے اوبهٔ فصل او پټی وغیره ته واړولے شی نو) دا دِے ایسارے کړے شی تردے چه دواړو ګیتو ته ورسیږی بیا به ئے پورتنے شخص لاندینی (پټی والا) شخص ته وریریدی۔ (ابوداودؒ، ابن ماجهؒ)

**تشریح**: [اَلْمَهْزُوْرِ]۔ دا په مدینه کښے د یو وادی نوم دے چه د بنو قریظهؤ په علاقه کښے واقع وه، د بنو قریظهؤ پټو او باغونو ته به ددے وادی نه اوبهٔ راتلے، ددے په باره کښے رسول الله ﷺ دا حکم وفرمایلو چه دے وادی ته چه د چا پټے نزدے وی نو د هغهٔ حق به مقدم وی چه هغه به مخکښے خپل پټی ته اوبهٔ بوځی هرکله چه د هغهٔ زمکه د ګیتو پورے پوره خړوبه شی نو بیا به هغه اوبهٔ پریدی دے دپاره چه ددے نه روستو زمکے ته لاړے شی کومه چه ددے زمکے نه لاندے وی۔

نو ددے حدیث نه د هر هغه نهر په باره کښے دا قانون راووتو چه کوم نهر د چا ذاتی

محنت او مشقت نه بغير جاري وي نو د چا زمكه چه دے نهر ته نزدے او پورته وي هغه به خپله زمكه اول خړوبه كړي، او دومره اُوبهٔ پكښے ايساره ولے شي چه د انسان ګيتهو ته ورسيږي يعني پوره خړوبه شي، ددے نه روستو به دا اُوبهٔ ددهٔ سره پيوسته زمكے ته پريدي۔

**درجة الحديث** :[حسن] ابوداود : ۳۶۳۹، وابن ماجه : ۲٤۸۲، وله شاهدان عند ابن ماجه : ۲٤۸۱، ۲٤۸۳، والاول منهما عند ابي داود : ۳۶۳۸ ايضا.

## خپل جائيداد په ذريعه به هيچا ته تكليف نهٔ رسوے

3006 (16) - وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ ﷺ: أَنَّهُ كَانَتْ لَهُ عَضُدٌ مِنْ نَخْلٍ فِيْ حَائِطِ رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ وَمَعَ الرَّجُلِ أَهْلُهُ فَكَانَ سَمُرَةُ يَدْخُلُ عَلَيْهِ فَيَتَأَذّٰى بِهِ فَأَتَى النَّبِيَّ ﷺ فَذَكَرَ ذٰلِكَ لَهُ فَطَلَبَ إِلَيْهِ النَّبِيُّ ﷺ لِيَبِيْعَهُ فَأَبٰى فَطَلَبَ أَنْ يُنَاقِلَهُ فَأَبٰى قَالَ : " **فَهَبْهُ لَهُ وَلَكَ كَذَا** " أَمْرًا رَغَّبَهُ فِيْهِ فَأَبٰى فَقَالَ : " **أَنْتَ مُضَارٌّ** " فَقَالَ لِلْأَنْصَارِيِّ : " **اِذْهَبْ فَاقْطَعْ نَخْلَهُ** ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَذُكِرَ حَدِيْثُ جَابِرٍ : " **مَنْ أَحْيٰى أَرْضًا** " فِيْ "بَابِ الْغَصْبِ " بِرِوَايَةِ سَعِيْدِ بْنِ زَيْدٍ . وَسَنَذْكُرُ حَدِيْثَ أَبِيْ صِرْمَةَ : " مَنْ ضَارَّ أَضَرَّ اللّٰهُ بِهِ " فِيْ "بَابِ مَا يُنْهٰى مِنَ التَّهَاجُرِ ".

**ترجمه** : او سمره بن جندب ﷺ په باره كښے نقل شوي چه ددهٔ دپاره د كهجورو څه ونے د يو انصاري (چه د هغهٔ نوم بعض علماؤ مالك بن قيس ﷺ ليكلے دے) په باغ كښے وے، او د هغه سړي سره به د هغهٔ اهل وو، نو سمره به په هغهٔ باندے ورداخليدو، نو هغهٔ ته به تكليف رسيدو، نو هغه شخص نبي كريم ﷺ ته راغلو او دا خبره ئے ورته ذكر كړه، نو نبي كريم ﷺ سمره خپل مجلس ته راوغوښتو دے دپاره چه دغه كهجورے ونے په انصاري باندے خرڅے كړي (دے دپاره چه انصاري د تكليف نه خلاص شي)، نو هغهٔ (د خرڅولو نه) انكار وكړو، نو نبي ﷺ ترے مطالبه وكړه چه دا دِے بل ځائے ته نقل كړي، (يعني سمره ﷺ به د خپلو ونو په بدله كښے د انصاري بل ځائے كښے كهجورے ونے واخلي) نو هغهٔ انكار وكړو، نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل : چه خپلے ونے انصاري ته د هديه په طور وركړه تا ته به (ددے اجر) (د جنت د نعمتونو په صورت) كښے دركړے شي۔ داسے خبره ئے ورته وكړه چه هغهٔ ته ئے پدے باره كښے ترغيب وركولو، نو سمره (ددے نه هم) انكار وكړو، نو نبي كريم ﷺ وفرمايل : تهٔ (انصاري ته) ضرر وركونكے ئے۔

(او څوك چه چا تـه ضرر ورکـوی نـو د هـغـې دفع كول چونكه ضروري دي پدې وجه) انـصـاري تـه ئې وفـرمـايـل : لاړ شه او ددهٔ د كهـجـورو ونې پريكړه. (ابو داوٗد) او د جابر ﷺ حديث (من احيى ارضا) (يعني چا چه يوه زمكه آباده کړه) د سعيد بن زيد ﷺ په روايت سره په ((بـاب الـغـصـب)) كښې ذكر شوې، او زر دې چه مونږ به د ابو صرمه ﷺ حديث (مَـنْ ضَـارَّ اَضَـرَّ اللهُ بِـهِ) (چـا چـه چا ته ضرر ورکړو الله تعالىٰ به هغهٔ ته ضرر ورکړي) په ((بَابُ مَا يُنْهٰى مِنَ التـهَاجُرِ)) كښې ذكر كړو.

**تشریح:** [عَضُدٌ]. دا په اصل كښې مټ ته وائي. مراد ترې نه د ستهو والا كهجورې دي چه د هغې نه يو تن خوراك كوي. او معنىٰ ئې ده يو صف د كهجورو.

[يُنَاقِلَهُ]. يعني ددې ځائې نه بل ځائې ته نقل کړي. يعني تبادله ورسره وکړي.

رسـول الله ﷺ چه سمره بن جندب ﷺ تـه د هـغـهٔ ونـې په انصاري باندې د خرڅولو يا تبـادلـه كـولـو يا هبـه كـولـو كـوم حـكـم وكړو او هغوی ونهٔ منلو نو ددې وجه دا وه چه د رسول الله ﷺ دا حـكـم د وجوب په طريقه نهٔ وو ورنه بيا به ددې منل ضروري وو، بلكه دا پـه طريقه د مشورې او سفارش سره وو، او د چا سفارش او مشوره نهٔ منل لازمي خبره نـهٔ ده، دا وجه ده چه نبي ﷺ چـه كـوم آخري صورت د سمره ﷺ مـخـې تـه كيخودو نو په هـغـې كښې ئې د ثـواب ترغيب وركړو. كه دا حكم د وجوب سره متعلق وې نو دا تصور نشـو كيـدې چه د سمره ﷺ په شان جليل القدر فرمانبردار صحابي دې انكار وكړي.

مـگـر سـوال دا پيدا كيږي چه هركله دا حكم د وجوب په طريقه نهٔ وو بلكه يو سفارش وو نـو بيا رسول الله ﷺ د سمره ﷺ د ونې د پريـكـولو حكم ولې وكړو؟ جواب دا دې چه هـركـلـه رسـول الله ﷺ سمره ﷺ تـه درې واړه صـورتـونـه پـيـش كړل او هغهٔ ونهٔ منل نو ددې نه انصاري ته تـكـليف رسيدو، او بل طرف ته سمره ﷺ ته ددې په تبادله وغيره كښې صـورتـونـو كښې هيڅ تكليف نهٔ وو نو دلته شرعي حكم مينځ ته راغلو، هغه دا چه يو مسلمان ته ستا په يو كار تكليف جوړيدو او ددې متبادله لاره موجوده وه نو د هغې كول بـه لازم وي. ځـكـه چه پدې صورت سره د مشكلاتو نه خلاصيدل دي كه بيا هم انسان نـهٔ مـني نو هغه به زياتې كوي. نو پدې وجه رسول الله ﷺ د سمره ﷺ د ونو د پريكولو حـكـم وكـړو. نـو ددې حـديـث نـه دا خبره ثـابـتـه شوه چـه ضـررونـه او تـكـليفـونـه بـه د مسلمانانو نه زائله كولې شي.

[أَمْرًا رَغَّبَهُ] اَىْ اَمَرَهُ اَمْرًا رَغَّبَهُ فِيهِ] يعنى دۀ ته په داسې خبره حكم وكړو چه په هغې كښې ئې ترغيب وركړو.

**درجة الحديث** :[ضعيف منقطع] ابوداود : ٣٦٣٦، ابو جعفر الباقر لم يسمع من سمرة (الضعيفة : ١٣٧٥).

## اُوبۀ، مالګې او اُور وركولو نه انكار مۀ كوه

## الفصل الثالث

3007 (17) - عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها اَنَّهَا قَالَتْ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَا الشَّيْءُ الَّذِىْ لَا يَحِلُّ مَنْعُهُ ؟ قَالَ : " **اَلْمَاءُ وَالْمِلْحُ وَالنَّارُ**" قَالَتْ : قُلْتُ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ هٰذَا الْمَاءُ قَدْ عَرَفْنَاهُ فَمَا بَالُ الْمِلْحِ وَالنَّارِ؟ قَالَ : "**يَا حُمَيْرَاءُ ! مَنْ أَعْطَى نَارًا فَكَأَنَّمَا تَصَدَّقَ بِجَمِيْعِ مَا أَنْضَجَتْ تِلْكَ النَّارُ وَمَنْ أَعْطَى مِلْحًا فَكَأَنَّمَا تَصَدَّقَ بِجَمِيْعِ مَا طَيَّبَتْ تِلْكَ الْمِلْحُ وَمَنْ سَقٰى مُسْلِمًا شَرْبَةً مِنْ مَاءٍ حَيْثُ يُوْجَدُ الْمَاءُ فَكَأَنَّمَا أَعْتَقَ رَقَبَةً وَمَنْ سَقٰى مُسْلِمًا شَرْبَةً مِنْ مَاءٍ حَيْثُ لَا يُوْجَدُ الْمَاءُ فَكَأَنَّمَا أَحْيَاهَا** ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه

**ترجمه** : عائشه رضي الله عنها نه روايت دے چه هغې وفرمايل : اے د الله رسوله ! كوم هغه شے دے چه د هغې منع كول حلال نۀ دى ؟ وے فرمايل : اُوبۀ، مالګه، اُور۔ هغه وائى : ما عرض وكړو اے د الله رسوله ! دا اُوبۀ خو مونږ ته معلومے دى (چه دا د الله تعالىٰ يو داسے عام نعمت دے چه دِ چا ذاتى ملكيت نۀ دے او د هر انسان او هر حيوان ضرورت ددے سره تړلے شويدے، پدے وجه ددے منع كول د زيات تكليف او ضرر سبب جوړيږى) خو د مالګې او اُور څه حال دے ؟ (څه وجه ده، ددے وجه باندے نۀ پو هيږم) (چه دا دواړه د اُوبو مثل نۀ دى او په ظاهره كښې دا دواړه بيخي حقير او كم څيزونه دى چه ددے وركول يا نۀ وركول هيڅ حيثيت نۀ لرى) نبى كريم ﷺ وفرمايل : اے حميراء ! (دا مۀ ګڼره چه دا دواړه څيزونه په وركولو او نۀ وركولو هيڅ اهميت نۀ لرى ځكه) چا چه چا ته اُور وركړو نو ګويا كه دۀ ټول هغه خوراك صدقه كړو كوم چه دغه اُور پخ كړے وى، او چا چه چا ته مالګه وركړه نو ګويا كښې دۀ ټول هغه خوراك صدقه كړو كوم چه دے مالګې مزيدار كړے وى او چا چه يو مسلمان ته د اُوبو ګوټ وركړو په هغه ځائے كښې چه اُوبۀ ملاويږى

نو ګویا که دۀ یو غلام آزاد کړو او چا چه مسلمان ته یو ګوټ اُوبۀ ورکړے په هغه ځائے کښې چه اُوبۀ (په عام طور) نۀ ملاویږی نو ګویا که دۀ هغه نفس ژوندے کړو۔ (ابن ماجۃ)

**تشریح** : [عَرَفْنَاهُ] عائشې رضی الله عنها د اُوبو د اَهمیّت او د هغې د کیفیت حال پیژندو دعوه وکړه، نو پدے وجه رسول الله ﷺ په آخر د حدیث کښې هغې ته د اُوبو څکوولو ثواب او فضیلت بیان کړو چه تا ته خو صرف دا معلومه ده چه اُوبۀ د ضرورت یو عام شے دے او لوی نعمت دے لیکن ددے په باره کښې دا تفصیل چه اُوبۀ ورکونکی کومه درجه ده او هغۀ ته څومره ثواب ملاویږی دا تا ته پته نشته۔

حمیراء : دا تصغیر د حمراء دے، سوروالی ته وائی دلته ترے سپینوالے مراد دے۔ (نهایه) یعنی اے سپینې۔ او دا د محبت آواز دے۔

**فائده** : هر هغه حدیث چه په هغې کښې حمیراء لفظ راغلے وی هغه به ثابت نۀ وی سوئ د هغه حدیث نه چه په هغې کښې د حبشو لوبے ذکر دی۔ (اداب الزفاف للالبانیؒ)

**درجة الحديث** :[ضعيف] ابن ماجه : ٢٤٧٤، علي بن غراب مدلس وقد عنعنه وزهير بن مرزوق قال ابن معين لا اعرفه، وقال البخاري : منكر الحديث، مجهول وعلي بن زيد بن جدعان فيه ضعف وله طريقان كلاهما ضعيف۔ في احدهما متروك وفي الآخر ضعاف مجاهيل [الضعيفة : ١٢٠]



## ۱٦ - باب العطایا

د عطایاو (یعنی بخششونو) بیان

عطایا جمع د عَطیّة ده، بخشش او تحفے ته وائی- یعنی د خپل یو شی ملکیت او د هغے د تصرف حق بل چا ته منتقل کول یا چا ته خپل یو یو شے په غیر د عوض نه ورکول دی- پدے باب کښے د عطایاؤ او بخششونو ټول قسمونه مراد دی لکه وقف، هبه، عمریٰ او رقبیٰ به ذکر کیږی-

ملا علی قاریؒ وائی : چه د عطایا نه مراد د امراء او بادشاهانو او د مملکت د سربراهانو تحفے او تحائف او د هغوی انعامونه دی- لیکن دا واضحه نۀ ده-

د جمهورو فقهاؤ په نیز (هبه، هدیه، صدقه، عطیه) دا ټول نزدے نزدے معنے لري او ټول په دے کښے سره شریك دی چه دا په ژوند کښے چالره په غیر د عوض نه مالك جوړول دی- او عطیه او هبه لفظ ټولو ته شامل دے- البته د (صدقے، هبے او هدیئے) ترمینځه فرق دے- ځکه په صدقه کښے مقصد د آخرت ثواب وی- په هبه او هدیه او عطیه کښے مقصد موهوب له ته نفع رسول او مینه محبت زیاتول وی، دا وجه وه، نبی کریم ﷺ به هدیه خوړله او صدقه به ئے نۀ خوړله-

★ هبه په نص او اجماع دواړو سره ثابته ده ځکه په دے کښے ګڼړے فائدے دی لکه ددے بیان راتلونکے دے- البته که په دے کښے شرعی نقصان وی، لکه یوتن قاضی یا نوکر یا معلم وغیره له رشوت ورکوی، نو ددے ورکول او قبلول حرام دی او واپس کول ئے واجب دی، ځکه فقهی قاعده ده چه [مَا حَرُمَ عَلَى الآخِذِ أَخْذُهُ، حَرُمَ عَلَى الْمُعْطِيُ إِعْطَاؤُهُ] (د کوم شئ چه اخستل نا روا وی د هغے ورکول هم نا روا وی) [المنثور فی القواعد للزرکشی: ۳/۱٤۰] ددے بل مثال : یو بچی ته هبه ورکول او نورو ته نۀ ورکول، لکه ددے وضاحت راتلونکے دے- ان شاء الله-

## د عمر فاروق ﷺ په خيبر کښې د خپلې زمکې وقف نامه

### الفصل الأول

3008 (1) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ قَالَ : اِنَّ عُمَرَ أَصَابَ أَرْضًا بِخَيْبَرَ، فَأَتَى النَّبِيَّ ﷺ فَقَالَ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ! إِنِّيْ أَصَبْتُ أَرْضًا بِخَيْبَرَ لَمْ أُصِبْ مَالًا قَطُّ هُوَ أَنْفَسُ عِنْدِيْ مِنْهُ فَمَا تَأْمُرُنِيْ بِهٖ ؟ قَالَ : **إِنْ شِئْتَ حَبَسْتَ أَصْلَهَا، وَتَصَدَّقْتَ بِهَا**. قَالَ : فَتَصَدَّقَ بِهَا عُمَرُ، أَنَّهٗ لَايُبَاعُ أَصْلُهَا، وَلَا يُوْهَبُ، وَلَا يُوْرَثُ، فَتَصَدَّقَ بِهَا فِي الْفُقَرَاءِ، وَفِي الْقُرْبٰى، وَفِي الرِّقَابِ، وَفِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ، وَابْنِ السَّبِيْلِ، وَالضَّيْفِ، لَاجُنَاحَ عَلٰى مَنْ وَلِيَهَا أَنْ يَّأْكُلَ مِنْهَا بِالْمَعْرُوْفِ، أَوْيُطْعِمَ صَدِيْقًا غَيْرَ مُتَمَوِّلٍ مَالًا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، قَالَ ابْنُ سِيْرِيْنَ : غَيْرَ مُتَأَثِّلٍ مَالًا.

**ترجمه :** ابن عمر ﷺ نه روايت دے چه عمر ﷺ په خيبر کښې څۀ زمکه حاصله کړه نو هغه نبي ﷺ ته راغے (چه ددے په باره کښې ئے د هغوئ نه مشوره اخسته)، عرض ئے وکړو : اے د الله رسوله ! ماته په خيبر کښې داسے زمکه ملاؤ شوے چه ددے نه زيات عُمده او قيمتي مال ماته هيڅ کله نۀ دے ملاؤ شوے. نو تۀ ما ته ددے په باره کښې څه حکم کوے ؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل : که تۀ غواړے نو ددے اصل ځان سره وساته او ددے آمدني صدقه کړه. راوي وائي : عمر ﷺ دا زمکه داسے وقف کړه چه نۀ به ددے اصل خرڅولے شي، او نۀ به دا چا ته بخشش کولے شي، او نۀ به دا په ميراث کښې وړلے شي. دوئ دا زمکه د فقيرانو، رشته دارانو، غلامانو آزادولو، مجاهدينو، مسافرو او ميلمنو دپاره صدقه (وقف) کړله (او دا وصيت ئے هم وکړو) چه ګناه نشته په هغه چا چه ددے زمکې نګراني کوي چه هغه په جائزے طريقے سره ددے نه خوراك وکړي يا ئے ملګري (دوستانو) ته ترے خوراك ورکړي خو دا به خپل مال نۀ جوړوي. (بخاريؒ، مسلمؒ)، ابن سيرينؒ وائي : (د غير متمول مطلب دا دے چه) (هغه متولي دا زمکه) خپل ځانله د مال او زر جمع کولو ذريعه جوړه نۀ کړي.

**تشريح :** [أَصَابَ أَرْضًا بِخَيْبَرَ] په غنيمت کښې ئے زمکه رسيدلې وه. په يو روايت کښې دي چه ((ما داسے مال حاصل کړے چه هيڅ کله مے داسے مال چرته حاصل کړے نۀ وو، زما سل سره مال وو نو ما په هغے د خيبر والو نه سل برخے واخستے)) [فتح الباري:

۵/۴۰۰] او په بل روایت کښے دی چه دے مال (زمکے) ته ((ثمغ)) مال ویل کیدهٔ او دا کهجورے وے۔ او د نسائیؒ په روایت کښے دی: ما د رسول الله ﷺ نه د خپلے هغه زمکے په باره کښے پوښتنه وکړه چه هغه په ((ثمغ)) علاقه کښے وه، نو نبی ﷺ وفرمایل: ددے اصل وساته او ددے میوه خلکو دپاره فی سبیل الله کره۔

[أَنْفَسُ] ډیر نفیس او عمده چه زړهٔ نیسی۔ [إِنْ شِئْتَ حَبَسْتَ] د باء په شد سره او تخفیف هم جائز دے، حبس وقف کولو ته وائی او تشدید د مبالغے دپاره دے۔

[وَتَصَدَّقْتَ بِهَا] په حذف د مضاف سره دے: [أَیْ بِرِیْعِهَا وَغَلَّتِهَا وَمَنْفَعَتِهَا مِنْ حُبُوْبٍ وَثِمَارٍ وَغَیْرِهَا]. (ددے حاصل، غله او فائده به صدقه کوے لکه دانے، میوے وغیره) [أَنَّهُ] دا ضمیر شان دے یعنی شان دادے چه ددے ذات به نشی خرڅولے۔ ددے کلام ظاهر دادے چه دا شرطونه عمر فاروق ﷺ لګولی، او د یو بل روایت نه معلومیږی چه دا شرطونه نبی کریم ﷺ لګولی، نو دواړه خبرے صحیح دی، ځکه عمر ﷺ دا شرطونه د نبی کریم ﷺ د امر نه پس لګولی۔ [الْفُقَرَاءِ] جمع د فقیر ده هغه تن چه د خپل ځان او د خپل بال بچ نیمائی خرچه نشی پوره کولے نهٔ په خپل مال سره او نهٔ په خپل کسب سره۔ او مسکین هغه څوک دے چه خپله نیمائی خرچه باندے قادر وی خو د پوره خرچے وس نهٔ لری۔ د فقیر او مسکین لفظونو په باره کښے مخکښے تیر شویدی چه علماء فرمائی: کله چه دا دواړه راجمع شی نو فرق به ئے کولے شی او کله چه جدا جدا وی نو یو د بل په معنیٰ به وی۔ [الْقُرْبٰی] مراد د واقف رشته داران دی۔ [وَفِی الرِّقَابِ] جمع د رقبة ده، څټ ته وائی۔ دلته مراد انسان د غلامئ یا قید نه آزادول دی، اومطلب دا چه د وقف د آمدنئ نه به څټونه اخستلے شی او هغه به آزادولے شی، او یا به د مکاتبینو قرضونه ادا کولے شی چه هغوئ آزاد شی۔

[وَفِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ] ددے نه مراد جهاد دے، او دا د غزا نه عام دے نو دا وسلے او جنګی سامانونو وغیره اخستو ته هم شامل دے، او دا هم کیدے شی چه د الله تعالیٰ د لارے نه مراد هر هغه شے وی چه په هغے سره د الله تعالیٰ کلمه وچتیږی او مسلمانانو ته پرے نفع رسی لکه په قلم، ژبے او توره سره الله تعالیٰ طرفته دعوت کول، جوماتونه او مدرسے جوړول، کتابونه چاپ کول، هسپتالونه جوړول، د ګوندو رنډو، یتیمانانو او بے وسو کفالت او حفاظت کول یا ددے پشان نورے خاصے او عامے ښیګړے شوے۔ [وَابْنِ

السَّبِيلِ] د لارې ځوئې يعنى مسافر چه د خرچې د كميدو په وجه سفر نشى كولے۔
[وَالضَّيْفِ]، ميلمه۔

[لَاجُنَاحَ] د جنح نه ماخوذ دې مائل كيدو ته وائى۔ مراد ګناه ده۔ [وَلِيَهَا] ددې حق پوره كوى، ددې واكدارى كوى، اصلاحَ ئې كوى او دا په خپلو جهاتو كښې خرچ كوى، ددې نه مراد د وقف ((ناظر)) دے۔ [أَنْ يَّأْكُلَ مِنْهَا] د خوراك نه مراد طعام، لباس او سورلئ وغيره ټول دى چه ددې اخستل ترې جائز دى۔ [بِالْمَعْرُوْفِ] د شرعى عرف مطابق۔ [يُطْعِمَ صَدِيقًا] يعنى ناظر خپل دوست ته خوراك وركوى۔ او بعضِ وائى : د واقف صديق مراد دے خو دا لرې خبره ده۔

[غَيْرَ مُتَمَوِّلٍ مَالًا] تمول ويل كيږى د خپل حاجت نه زيات مال جمع كول، يعنى ددې وقفى مال نه به د خپل حاجت نه زيات مال نۀ جمع كوى۔

**فوائد** : (۱) دا حديث د وقف په باره كښې بنيادى دليل دے او ددې نه بے شماره فائدے معلوميږى، په دې كښې د وقف كولو فضيلت او ديته ترغيب راغلے او دا وضاحت شوے چه دا د جارى صدقاتو نه يوه صدقه ده، عمر فاروق ﷺ په دې باره كښې د نبى كريم ﷺ سره مشوره وكړه نو هغوئ ورته په ښائسته طريقے سره مشوره وركړه چه زمكه او باغ دِے وقف كړى۔ (۲) دے حديث نه د وقف تفسير او حقيقت معلوم شو، هغه دا چه : وقف وائى: د يو شئ ذات ساتل او د هغے ميوه او آمدنى او فائدے د الله تعالىٰ په لاره كښې خرچ كول، دا په لنډو ټكو كښې د وقف جامع تعريف دے۔(۳) وقف په هغه شيانو كښے راځى چه د هغے ذات باقى پاتے كيږى او د هغے د آمدنئ نه نفع ولاړيږى لكه كورونه، جوماتونه، مكتبے او داسے نور شيان۔ پاتے شو هغه شيان چه هغه په نفع اخستو سره ختميږى لكه طعام وغيره نو دا وقف نۀ دے بلكه صدقه ده۔ (٤) حديث دليل دے چه كله يو شے وقف كړے شى نو بيا د هغے خرڅول، بخشش كول او په ميراث كښے وړل جائز نۀ دى، بلكه دا به باقى پاتے وى او واقف چه كوم شرطونه په دے كښے ښودلى وى د هغے مطابق به په دے عمل كيږى. هر كله چه دا د شريعت مطابق وى۔

(٥) او حديث دليل دے چه وقف كونكے كه په خپل وقفى شئ كښے عادلانه شرطونه لګوى نو دا به شرعًا صحيح او قابلِ اعتبار وى او په دے به عمل كولے شى۔ ځكه عمر فاروق ﷺ په خپل وقف كښے شرطونه لګولى نو كه په دے عمل نۀ كيدلے نو بيا به ئے دا

نۀ وي لګولی۔ او وقف کونکی دپاره دا هم جائز دي چه د خپل وقف مصرفونه يو معلوم څائے يا معلوم کسانو دپاره وټاکی، هر کله چه دا د شريعت موافق وی۔

(٦) د شرعي وقف دپاره مصرف فقيران او د وقف کونکی خپلوان او رشته داران دي او په دے حديث کښے نور ذکر شوی کسان دی۔ نارينه وی که زنانه، دوئ د هر چانه زيات د وقف کونکی د احسان او ښيګړے لائق دی خصوصًا کله چه دوئ فقيران هم وی۔ دارنګه هر هغه څوك چه محتاج او ضرورتمن وی هغه ددے وقفی مال مستحق ګرځی۔ هان وقف په مالدار خوړل حرام ندی کله چه د واقف نيت وی۔

(٧) واقف دپاره پکار دی چه وقفی شی دپاره يو ناظر او حفاظت کونکے ونيسی چه هغه ددے سنبالنه کوی، او ناظر دپاره جائز دي چه د وقفی مال نه د عرف او رواج مطابق د خپل حاجت او ضرورت په اندازه خوراك وکړی، او دا به ددۀ د نظارت او سنبالولو عوض وی۔ د خپل حاجت نه زيات به دا مال نۀ استعمالوی۔

(٨) که ناظر مالداره وی نو هم ددے وقفی مال نه د خپل عمل په عوض مال اخستلے او استعمالولے شی، دغه شان که ددۀ ميلمه وی نو اګرکه هغه هم مالداره دے خو ددے نه خوراك کولے شی، په دے شرط چه دا دواړه به ددے نه زياتی مالونه نۀ جمع کوی۔

(٩) کله چه يو څل چا يو شے وقف کړو نو دا لازم عقد دے، ددے نه رجوع نشی کولے او دا د جمهورو علماؤ قول دے۔ او همدا صحيح دے۔ وجه داده چه نبی کريم ﷺ عمر فاروق رضی الله عنه ته حکم وکړو چه اصل بند کړی۔ بله دا چه: په دے حديث کښے د وقف دا احکام ذکر شوی چه: نۀ به خرڅولے شی، نۀ به هبه کولے او نۀ به په ميراث کښے وړلے شی۔ ددے په خلاف ابوحنيفةؒ او زفرؒ وائی چه وقف يو غير لازم عقد دے، واقف په دے کښے هرڅنګه تصرف کولے شی او خرڅولے ئے هم شی۔ البته په بعضِ صورتونو کښے دا لازم دے لکه دا مسجد وی، يا حاکم ددے په لزوم حکم وکړی نو بيا رجوع نشی کولے۔ خو ددے دواړو دا قول د پورتنی حديث ښکاره خلاف دے۔ بلکه هغوی وائی چه وقف جائز نۀ دے څکه چه لَا حُبُسَ عَنْ فَرَائِضِ اللّٰهِ ب(يعنی د الله تعالیٰ د فرائضو نه وقف نۀ وی) باندے دليل نيسی چه هغه صحيح حديث نۀ دے۔ [سنن الدارقطنی: ٤٠٦٢ ابن لهيعة واخوه عيسی بن لهيعة يُضَعَّفَان]

(١٠) واقف له جائز دی چه د خپل څان دپاره د وقف د آمدنئ نه څۀ برخه مختص

کړي- (۱۱) **د وقف په خرڅولو کښې د علماؤ اختلاف** دے، په دے کښې درے قوله دي:

**(اول)** وقف په هيڅ حال کښې خرڅول جائز نۀ دي- دا د امام شافعيؒ او مالكؒ قول دے- د دوئ دليل عموم ددے حديث دے-

**(دويم)** خرڅول او رجوع کول دواړه جائز دي، دا د امام ابوحنيفهؒ قول دے- او دے قول له هيڅ اعتبار نشته، ځکه دا خطا قول دے- تردے پورے چه د امام ابوحنيفهؒ شاګردانو ابويوسفؒ او محمدؒ هم ددۀ موافقت نۀ دے کړے- بلکه امام ابو يوسفؒ فرمائي: که ابوحنيفهؒ ته دا حديث رسيدلے وے نو په دے به ئے عمل کړے وے او د وقف خرڅولو د جواز نه به ئے رجوع کړے وے- [هدايه: ۳/۱۵، فتح الباري: ۵/۴۰۳]

**(دريم قول)** وقف خرڅول يا بدلول جائز نۀ دي البته کله چه ددے منافع بيخي معطل شي او ددے نه نفع نۀ اخستل کيږي او نۀ آباديږي او نۀ اصلاح کيږي نو بيا جائز دي، لکه کور وي او هغه ونړيږي، يا زمکه وي او شاړه شي او آبادول ئے ممکن نۀ وي، او يا جومات وي خو کلي او محلے والا ترے بل خوا لاړ شي، او يا په مونځ ګذارو باندے تنګ شي او فراخول ئے ممکن نۀ وي- او دا د امام احمدؒ قول دے او شيخ الاسلام ابن تيميهؒ او ابن قيمؒ ديته ترجيح ورکړے- [الفتاوى: ۳۰/۴۰۴، ۳۱/۲۰٦، ۲۱۲، بدائع الفوائد: ۳/۱۲۷]

دليل ئے دادے چه «هر کله عمر فاروق ﷺ ته دا خبره ورسيده چه د کوفے بيت المال غلا شوے دے نو هغۀ سعد ﷺ ته وليکل چه د تمّارينو په علاقه کښې چه کوم مسجد دے هغه نقل کړه او بيت المال ورله قبلے طرفته وګرځوه ځکه په جومات کښې به هر وخت يو مونځ کونکے موجود وي» [الفتاوى: ۳۰/۴۰۵، طبراني کبير: ۹/۲۱٦ رقم: ۸۸۵۴]

او دا کار د صحابه کرامو ﷺ مخامخ شوے او هغوئ ددے خلاف نۀ دے کړے نو دا اجماع شوه-

او همدا **راجح قول** دے ځکه چه وقف بے فائدے پروت وي نو ددے نه واقف ته څۀ نفع نۀ رسي بلکه هغه ددے د ثواب نه محروم وي، دے وجے نه د واقف فائده په دے کښې ده چه دا وقف په دے صورت کښې خرڅ کړے شي او ددے په بدل کښې بل يو شے واخستل شي، يا که جومات وي نو بل جومات پرے جوړ کړے شي دے دپاره چه ددے ثواب واقف ته بيرته شروع شي- بلکه شيخ الاسلام ابن تيميهؒ دے پورے وئيلي دي چه کله په يو ځائے کښې وقف وي او فائده ئے کمه وي او بل ځائے کښې ئے فائده زياته وي نو هلته ئے

منتقل كول جائز دي، او دا د امام احمدؒ نه يو روايت دے. [الفتاوى: ٣١/٢١٩، الاختيارات، ص: ١٨٢] خو دا خبره ياد لرل پكار دي چه دا كار به ناظر د ښار د حاكم او قاضي په اجازت سره كوي او هغه به ددے دپاره كميټي مقرر كړي او د صورتِ حال پوره اندازه به ولګوي. والله تعالىٰ اعلم.

## عمرىٰ جائز ده

- 3009 (2) - وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ :" اَلْعُمْرٰى جَائِزَةٌ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

**ترجمه** : او ابو هريره ؓ د نبي كريم ﷺ ارشاد نقل كوى: عمرىٰ (كل عُمرِى تحفه وركول) جائز ده. (بخاريؒ ومسلمؒ)

**تشريح** : [اَلْعُمْرٰى] عُمْرىٰ (أ) د عين په پيښ او د ميم په سكون سره. دارنګه د ميم په پيښ سره [عُمُرٰى] هم راغلے. (ب) دارنګه د عين په زور او د ميم په سكون سره [عَمْرٰى] هم راغلے. د عُمر نه ماخوذ دے. په اصطلاح كښے ديته وائي: چه يو تن خپل كور يا زمكه چاله وركړي او دا ورته ووائي : [أَعْمَرْتُكَ اِيَّاهَا، أَىْ : أَبَحْتُهَا لَكَ مُدَّةَ عُمُرِكَ] (خو پورے چه ته ژوندے يے ما تاله دا مباح او جائز وګرځولو) نو عُمرىٰ د هبے او ډالۍ يو قِسم دے، ځكه دا د موهوب لَهٗ د ژونده پورے هبه كړے شوے شے دے.

د انساني معاشرتي زندګۍ د مضبوطولو او تعلقاتو زياتولو ډير صورتونه دي، يو بل سره محبت او خپل مينځ كښے يو بل سره ښۀ تعلقات قائمولو ذريعه خپل مينځ كښے يو بل ته تحفے تحائف وركول دي ځكه چه پدے سره انساني فطرت ته يو خاص قسم محبت او خوشحالي او جذبۀ د احسان منديۀ او د قدر او وقار پيدا كيږي، نو ددے لين دين ډير طريقے دي، هديه او تحفه او هبے سره، او يو صورت عمرىٰ هم ده، چه دا د هبے يو شكل دے، چه پدے حديث كښے ددے جواز ذكر دے. باقي تفصيل د باب په آخر كښے راځي.

## عمرىٰ د معمر لهٗ د وارثانو ملكيت جوړيږي

3010 (3) - وَعَنْ جَابِرٍ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ :" إِنَّ الْعُمْرٰى مِيْرَاثٌ لِأَهْلِهَا ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

**ترجمه** : او جابر ؓ د نبي كريم ﷺ ارشاد نقل كوى فرمائي: يقيناً عمرىٰ به د خپلو

مالکانو (يعنې معمر لهٗ) دپاره ميراث وی۔ (مسلمؒ)

**تشريح:** مُعمر لَهُ هغه شخص ته وائی چه چا ته د عمرٰی په توګه يو شے ورکړے کيږی نو د حديث مطلب دا دے چه کوم يو تن ته مثلًا يو کور د عمرٰی په توګه ورکړے شو نو هغه کور به د هغهٔ د ژوند پورے د هغهٔ ملکيت خو وی او د هغهٔ د مرګ نه روستو به د هغهٔ د وارثانو حق جوړيږی، نو دا حديث په خپل ظاهری مفهوم سره د جمهور علماؤ د مسلك دليل دے چه روستو راځی۔

3011( 4 ) – وَعَنْهُ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ :" أَيُّمَا رَجُلٍ أُعْمِرَ عُمْرٰى لَهُ وَلِعَقِبِهٖ فَإِنَّهَا لِلَّذِىْ أُعْطِيَهَا لَا تَرْجِعُ إِلَى الَّذِىْ أَعْطَاهَا لِأَنَّهٗ أَعْطٰى عَطَاءً وَقَعَتْ فِيْهِ الْمَوَارِيْثُ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

**ترجمه:** او جابر ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم يو سړی ته چه کل عمری تحفه دهٔ ته او دهٔ اولاد ته ورکړے شی نو دا به د هغه شخص وی چا ته چه ورکړے شوی وی، هغه شخص ته به نهٔ واپس کيږی چا چه دا ورکړيده، (يعنی دا به د مُعمر لَهُ دپاره ملکيت وی، بيرته به اول مالك ته نهٔ واپس کيږی) ځکه چه دهٔ داسے ورکړه وکړه چه پدے کښے ميراثونه واقع کيږی۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

**تشريح:** دا حديث هم دليل دے چه چا ته يو شے په عمرٰی (کل عُمرٰی) سره ورکړے شی نو هغه د هغهٔ او د هغه اولادو ميراث جوړيږی او بيرته اصلی مالك ته نهٔ واپس کيږی، ځکه چه دا مال دے او په مال کښے ميراث جاری کيږی، لهذا دا به د مُعمر لَهُ د مرګ نه پس هم دهٔ د اولادو وی، نهٔ د اول مالك۔

د جمهورو د مذهب خلاف د جابر ﷺ روايت او د هغے تاويل

3012( 5 ) – وَعَنْهُ ﷺ قَالَ : إِنَّمَا الْعُمْرَى الَّتِىْ أَجَازَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ أَنْ يَّقُوْلَ : هِىَ لَكَ وَلِعَقِبِكَ فَأَمَّا إِذَا قَالَ : هِىَ لَكَ مَا عِشْتَ فَإِنَّهَا تَرْجِعُ إِلٰى صَاحِبِهَا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

**ترجمه:** او جابر ﷺ فرمائی: يقيناً هغه عمرٰی چه رسول الله ﷺ د هغے اجازه ورکړے (هغه دا ده چه يو تن) ووائی: دا ستا او ستا د اولادو دپاره ده، البته کله چه ووائی: دا ستا دپاره ده ترڅو چه ته ژوندے يے، نو دا (د مُعمر لَهُ د مرګ نه روستو) خپل (اول) مالك ته

واپس کیږي۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

**تشریح** : یعنی رسول الله ﷺ د هغه عمرئ اجازه ورکړې چه معمر له ته داسې ووائي: دا شې ما تا ته درکړو او ستا د بچو هم شوه۔ البته که مُعمِر ورته داسې ووائي چه دا شې ستا شو ترڅو چه ته ژوندې ئې، نو د معمَر لَهُ د مرګ نه روستو دا عمرئ بیرته خپل مالك ته واپس کیږي۔ دا د عمرئ د درې صورتونو نه یو صورت دې چه تفصیل ئې روستو راځي۔

## د عمرئ او رقبئ نه د نبي ﷺ ممانعت او د هغې وضاحت

### الفصل الثاني

3013( 6 ) – عَنْ جَابِرٍ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ :" لَا تُرْقِبُوْا وَلَا تُعْمِرُوْا فَمَنْ أُرْقِبَ شَيْئًا أَوْ أُعْمِرَ فَهِيَ لِوَرَثَتِهِ ". رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ

**ترجمه** : جابر ﷺ د نبي کریم ﷺ ارشاد نقل کوي : تاسو رقبئ مهٔ ورکوئ او عمرئ مهٔ ورکوئ چا ته چه یو شې (یعنی کور یا زمکه وغیره) د رقبئ په طریقه ورکړې شو یا د عمرئ په طریقه ورکړې شو نو هغه به (د هغهٔ د مرګ نه روستو) د هغهٔ د وارثانو دپاره وي۔ (ابوداودؒ)

**تشریح** : [لَاتُرْقِبُوْا] د اُرقَبَ نه دې۔ عرب وائي : أُرْقَبَهُ الدَّارَ: جَعَلَهَا لَهُ رُقْبٰى (هغهٔ ته ئې د رُقبئ په توګه خپل کور ورکړو) او (رُقبئ) د راء په پېښ او د قاف په سکون سره، د مراقبې نه ماخوذ دې۔

د عمرئ په شان د تحفې یو شکل رقبئ هم دې، د رقبئ صورت دا دې چه مثلاً یو شخص بل شخص ته دا ووائي چه زهٔ تا ته خپل دا کور پدې شرط درکوم چه که زهٔ تا نه مخکښې مړ شوم نو دا کور به ستا په ملکیت کښې پاتې وي او که تهٔ زما نه مخکښې مړ شوې نو دا کور به بیرته ما ته راواپس کیږي۔ رقبئ د ارقاب نه دې، چه د مراقبې (انتظار) په معنئ کښې دې، ګویا که هریو د بل د مرګ انتظار کوي۔ [النهاية : ۲/۲٤۹ ابن الاثير]

پدې حدیث کښې د رقبئ او عمرئ نه منع شویده اوددې علت دا بیان شویدې چه تهٔ یو شې چا ته د عمرئ یا رقبئ په طریقه ورکوې نو هغه د هغه شخص ملکیت جوړیږي او ستا ملکیت چونکه بالکلیه ختمیږي پدې وجه د هغه شخص د مړ کیدو نه روستو

هغه شے د هغۀ د وارثانو ملکیت جوړیږی لهذا تۀ خپل مال د عمریٰ او رقبیٰ په طریقه مه ورکوه او دا د خپل ملکیت نه په اُوخکلو سره خپل مال ته نقصان مۀ ورکوه۔

او رُقبیٰ هم - د عُمریٰ پشان - د هبے یو قِسم دے چه په دے کښے رجوع د موهوب لَهٗ په مرگ پورے تړل شوے، واهب د هغۀ د مرگ انتظار کوی چه بیرته ماته کور راواپس شی۔ ځکه واهب نۀ غواړی چه دادِے د هغۀ وارثانو ته پاتے شی۔

**اشکال** : پدے حدیث کښے د عمریٰ او رقبیٰ نه منع شوے او مخکښے روستو حدیثونو کښے ددے جواز ذکر دے نو ددے تطبیق داسے دے : (١) په [لَاتُرْقِبُوْا وَلَا تُعْمِرُوْا] کښے چه کومه نهی راغلے نو په دے کښے خلکو ته دا خبردارے ورکول مقصد دے چه عُمریٰ یوه صحیح هبه ده چه موهوب لَهٗ ددے پوره مالك گرځی او واهب ته هیڅ کله نۀ واپس کیږی، نو کله چه دوئ ته دا معلومه شی نو اوس چه کوم شے دوئ چاته هبه کول غواړی، هغه دِے هبه کړی او که نۀ غواړی نۀ دِے ئے کوی۔ یعنی مطلب دا دے چه فکر وکړه تا نه مال ځی، مکوه، که خامخا کول غواړے نو بیا بیرته د واپسئ طمعه مه کوه۔ او ددے نه مراد د عُمریٰ او رقبیٰ تحریم نۀ دے ځکه په بے شماره صحیح حدیثونو کښے ددے جواز راغلے۔

(٢) تطبیق : ددے دواړو ترمینځه په ظاهره کښے تعارض معلومیږی، خو په حقیقت کښے **تعارض** نشته، ځکه د منع روایتونه د جاهلیت والو په عُمری او رُقبیٰ باندے حمل دی۔ چه هغوئ به دغه ورکړے کور وغیره د موهوب لَهٗ د مرگ نه پس بیرته د واپس کولو شرط لګولو۔ نو ددے نه منع راغله چه دا شرط لګول لغوه دی، بلکه دغه ورکړے شوے کور وغیزه د موهوب لَهٗ همیشه دپاره مملوك گرځی او ددۀ د مرگ نه پس به ددۀ نه په میراث کښے وړلے شی۔ او د جواز روایتونه په شرعی طریقه عُمریٰ او رقبیٰ باندے حمل دی، هغه دا چه په دے کښے د بیرته واپس کولو شرط لغوه دے بلکه په دے کښے همیشه دپاره (غیر مشروط طور سره) موهوب لَهٗ او د هغۀ اولاد مالکان گرځی۔

**درجة الحدیث** :[صحیح علی شرط الشیخین] ابوداود : ٣٥٥٦، نسائی : ٣٧٣١،

## عمرىٰ او رقبىٰ جائز ده

3014 ( 7 ) - وَعَنْهُ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ : " اَلْعُمْرٰی جَائِزَةٌ لِأَهْلِهَا وَالرُّقْبٰی جَائِزَةٌ لِأَهْلِهَا ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ

**ترجمه** : او جابر ﷺ د نبى كريم ﷺ ارشاد نقل كوى، فرمائى : عمرىٰ د عمرىٰ والو دپاره جائز ده، او رقبىٰ د رقبى والو دپاره جائز ده. (احمدؒ، ترمذیؒ، ابوداودؒ)

**تشريح** : ددے حديث نه هم د عمرىٰ او د رقبىٰ جواز معلوم شو.

[لِأَهْلِهَا] ضمير عمرىٰ او رقبىٰ ته راجع دے، يعنى چا ته چه يو شے د عمرىٰ او د رقبىٰ په طريقه وركړے شو نو هغۀ دپاره دا جائز ده). او دا د محبت پيدا كيدو سبب دے. او په بل روايت د ترمذى كښے ورسره دا الفاظ زيات دى : [أَوْ مِيرَاثٌ لِأَهْلِهَا] . يا به دا د عمرىٰ كړے شوو د كور والو دپاره ميراث وى. او په مسلم كښے بغير د شك نه راغلے دے. دا حديث دليل دے چه عمرىٰ تمليك د رقبه او تمليك د منافعو دواړو دے. امام مالكؒ وائى : دا صرف د تمليك د منافعو دے. ليكن قول ئے ددے حديث خلاف دے. (تحفة الاحوذى)

**درجة الحديث** :[صحيح] احمد : ۹٥٤۱، ابوداود : ۳٥٥۸، الترمذى : ۱۳٥۱، ابن ماجه : ۲۳۸۳، نسائى : ۳۷۳۹.

## د عمرىٰ د جواز په ظاهره كښے مخالف يو حديث

### الفصل الثالث

3015 (8) - عَنْ جَابِرٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ :" أَمْسِكُوْا عَلَيْكُمْ أَمْوَالَكُمْ لَا تُفْسِدُوْهَا فَإِنَّهُ مَنْ أُعْمِرَ عُمْرٰی فَهِيَ لِلَّذِیْ أُعْمِرَ حَيًّا وَمَيِّتًا وَلِعَقِبِهِ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

**ترجمه** : جابر ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو خپل مالونه خپل ځان سره ساتئ او مۀ ئے خرابوئ، ځكه بيشكه چا ته چۀ عُمرىٰ (كل عمرى تحفه) وركړے شوه نو هغه د چا ده چا له چه وركړے شوه، په ژوند كښے هم او د مرګ نه پس هم، او (د وفات نه پس به) د هغۀ د وارثانو وى. (مسلمؒ)

**تشريح** : [أَمْسِكُوْا عَلَيْكُمْ أَمْوَالَكُمْ، وَلَا تُفْسِدُوْهَا] دلته د فساد نه مراد د اصلاح ضد

نۀ دے بلکه خپل ملکيت نه ويستل دی۔ يعنی خپل مالونه د خپل ملکيت نه مۀ وباسئ۔ او دا امر او نهی د ارشاد او لارښوونے دپاره دی چه ستاسو دپاره ستاسو په مالونو کښے مصلحت دادے چه عُمریٰ ونۀ کړئ ځکه په عُمریٰ سره مالك په دغه شئ کښے د تصرف کولو نه ډيره موده يا هميشه دپاره وځی۔ او ددے نه مراد نهی نۀ ده ځکه په بے شماره صحيح حديثونو کښے ددے جواز راغلے، بله دا چه عُمریٰ د ښيګړے او نيکئ د کارونو نه يو کار دے۔ نو ددے نه څنګه منع راشی؟

[فَإِنَّهُ مَنْ أَعْمَرَ عُمْرٰی] (اعمر) دا معلوم او مجهول دواړه قسمه وئيل جائز دی، بيشکه چا چه يو تن ته ووئيل: ما تاله دا کور ستا د عمر پورے درکړو۔ [وَلِعَقِبِهِ] عَقِب د انسان ذريت او نسل او هغه وارثانو ته وائی چه د انسان نه روستو راځی۔

**فوائد** : (١) حديث نه ثابته شوه چه عُمریٰ او رُقْبیٰ دواړه جائزے ډالئ دی، او دا چه چاته ورکړے شی نو هميشهٔ دپاره د هغهٔ شوے۔ دا دواړه د جاهليت والو عطيئے او ډالئ وے۔ په دوئ کښے به يو سړی بل سړی له خپل کور وغيره ورکړو او هغهٔ ته به ئے ووئيل: [أُعْمِرُكَ إِيَّاهَا] (ما تاله دا ستا د ژوندہ پورے درکړو) نو بيا به دے د موهوب لَه د مرګ په انتظار وو دے دپاره چه دوئ په خپله هبه کښے رجوع وکړی۔ او کله به دا کار د نزاع او دشمنئ سبب ګرځيدهٔ، دے وجے نه شريعت دا قِسم هبه برقراره وساتله او دا فيصله ئے وکړه چه دا ورکړے شوے شے به بيرته واهب ته نشی واپس کيدلے۔

نو اول نه ئے ذهن سازی وکړه چه کله تهٔ عمریٰ ورکوے نو دا سوچ وکړه چه دا به تا ته بيرته نۀ راواپس کيږی۔

(٢) او حديث نه معلومه شوه چه چاته يو شے د عُمریٰ په توګه ورکړے شو نو څو پورے چه دے ژوندے دے دا شے ددهٔ ملکيت دے، او کله چه دے مړ شی نو دا به ددهٔ د وارثانو وی۔ او واهب ته په هيڅ حال کښے نۀ واپس کيږی۔ برابره خبره ده که عُمریٰ ئے د هميشه دپاره کړے وی لکه داسے ئے ويلی وی : [هٰذِهِ الدَّارُ لَكَ وَلِعَقِبِكَ مِنْ بَعْدِكَ ] (دا کور ستا شو او تانه پس ستا د بچو شو) او يا دا عمریٰ مُطلقه وی لکه داسے ووائی: [أَعْمَرْتُكَهَا] (ما تاله دا کور د عُمریٰ په توګه درکړو) په دے صورت کښے هم عُمریٰ کړے شے واهب ته بيرته نۀ واپس کيږی۔

(٣) **اختلاف** صرف په هغه صورت کښے دے چه په هغے کښے واهب په خپله هبه

كښې شرط ولګوي لكه داسې ووائي: ((دا كور ستا د ژونده پورې ستا شو، او كله چه ته مړ شوې نو بيا به دا بيرته ماته يا زما وارثانو ته واپس كيږي))

نو په دې كښې دوه قوله دي: (**اول قول**) دا هبه صحيح ده او شرط لازم دې. نو كله چه مُعْمَر لَهُ مړ شو نو كور به مُعْمِر (واهب) ته واپس راګرځي. او دا د مالك، ليث، داودؒ، د بعضِ شوافعو قول او د احمدؒ يو روايت دې چه شيخ الاسلام ابن تيميهؒ مختار ګرځولې، او حافظ ابن حجرؒ اكثرو علماؤ (جمهورو) ته منسوب كړې. [الاختيارات، ص: ١٨٤، فتح الباري: ٥/٢٣٩] او دليل ئې ددې باب پنځم روايت دې، د جابر ﷺ دا الفاظ دي: [فَأَمَّا اِذَا قَالَ: هِيَ لَكَ مَا عِشْتَ فَاِنَّهَا تَرْجِعُ اِلَى صَاحِبِهَا] (دا موقوف روايت دې) دارنګه عام حديث دې: [اَلْمُسْلِمُوْنَ عَلٰى شُرُوْطِهِمْ] او په دې صورت كښې ددې مثال د ((عاريه)) پشان شو چه واپس كول به ئې ضروري وي. صرف دومره فرق دې چه په دې صورت كښې كه دغه كور ضائع شو نو په هغهٔ ضمان نشته ځكه د ژونده پورې ئې هغهٔ ته هبه كړې دې. او دا قول ابن عثيمينؒ په شرح د بلوغ المرام كښې غوره ګڼړلې دې.

(**قول ثاني**) په دې صورت كښې د واپس كولو شرط باطل دې او هبه د هميشه دپاره صحيح ده. او دا د احمدؒ مشهور قول، د زياتو شوافعوؒ او ابو حنيفهؒ قول دې، او علامه شوكانيؒ غوره ګرځولې. او دليل ئې دادې چه په دې كښې رجوع كول په هبه كښې رجوع كول حسابيږي او مخكښې تير شو چه ددې نه منع راغلې. بلكه د ابنِ عباس ﷺ په مرفوع حديث كښې دي: [اَلْعُمْرىٰ جَائِزَةٌ لِمَنْ اُعْمِرَهَا، وَالرُّقْبٰى جَائِزَةٌ لِمَنْ اُرْقِبَهَا، وَالْعَائِدُ فِيْ هِبَتِهٖ كَالْعَائِدِ فِيْ قَيْئِهٖ] [نسائي: ٦/٢٢٩، صحيح سنن النسائي: ٢/٧٨٩] نو په دې حديث كښې ئې ورسره د رجوع كولو نه منع هم ذكر كړې.

(**خلاصه**) دا چه د عُمرىٰ درې صورتونه دي: (**اول صورت**) دا چه مُعْمِر ووائي چه دا د مُعْمَر لَهُ او د هغهٔ د وارثانو شوه، او داسې الفاظ ووائي: ((دا ستا او ستا د اولاد شوه)) نو دا يوه داسې ثابته هبه ده چه په دې كښې رجوع نشي كيدې، دې وجې نه ددهٔ د مرګ نه پس به ددهٔ د وارثانو وي. (**دويم صورت**) صرف دومره ووائي چه: [أُعْمَرْتُكَهَا] (دا كور ستا د ژونده پورې ستا شو). او د مرګ څهٔ خبره په كښې ذكر نهٔ كړي. نو ددې حكم هم د مخكښې صورت پشان دې. (**دريم صورت**): د عُمرىٰ وركولو په وخت د بيرته واپس كولو شرط ولګوي او داسې ووائي: [هِيَ لَكَ مَا عِشْتَ فَاِذَا مِتَّ رَجَعَتْ اِلَيَّ] (دا ستا د

عمر پورے ستا شوه کله چه تهٔ مړ شوے بیا به ما ته بیرته راواپس کیږی) نو په دے کښے اختلاف دے، دوه قوله په کښے دی۔ کوم چه مخکښے بیان شو۔

(٤) که څوك چاته ووائی: ((زما په دے کور کښے تهٔ وسیږه)) یا ((ما تاله ددے باغ آمدنی درکړه، یا ددے مرئی نه تهٔ خدمت اخله)) نو دا عاریه ده (سوالی شے دے) کله هم چه واهب وغواړی د هغهٔ په ژوند کښے یا د هغهٔ د مرګ نه پس په دے کښے د رجوع کولو اختیار لری، ځکه په دے مذکوره صورتونو کښے دهٔ هغهٔ ته منافع بخشش کړی دی۔ نو څومره وخت ئے چه منافع حاصل کړل هغه خو حاصل شو مګر په آینده وختونو کښے ددهٔ دپاره منافع بخشش کول لازم نهٔ دی۔ والله تعالیٰ اعلم۔

**فائده:** رقبیٰ احنافو نهٔ ده منلے او وئیلی ئے دی چه دا منسوخ ده او د (لَا تُرْقِبُوْا) نه ئے استدلال کړے لیکن صحیح دا ده چه منسوخ نهٔ ده، او د نهی مطلب مخکښے بیان شو۔

یوم الاربعاء ۳/٤/۲۰۱۹



# ۱۷- باب

د تیر شوی باب د متعلقاتو بیان

## د خوشبودار ګل تحفه مهٔ واپس کوه

### الفصل الأول

3016 (1) - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ :" مَنْ عُرِضَ عَلَيْهِ رَيْحَانٌ فَلَا يَرُدُّهُ فَإِنَّهُ خَفِيفُ الْمَحْمَلِ طَيِّبُ الرِّيحِ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

**ترجمه** : ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : چا ته چه خوشبوئی دار ګل (په تحفه کښې) پیش کړے شی نو هغه دے نهٔ رد کوی، ځکه چه (اول خو) دا سپك بار والا، (احسان دے) (او دویم دا چه هغه) مزیدار (ښهٔ) بوئی والا شے دے۔ (مسلمؒ)

**تشریح** : عُرِضَ عَلَيْهِ : یعنی یو تن ته چا کشمالے او خوشبوئی پیش کړه چه دا واخله نو د هغے رد کول نهٔ دی پکار، ځکه چه دا هغه معمولے شے دے چه پورته کول ئے آسان دی، څه درون شے نهٔ دے، او نهٔ پکښې څه تاوان او عوض شته، او منت او زباتنه ئے کمه ده، یعنی ځوك ئے په بل باندے زباتنه هم نهٔ کوی ځکه چه د عربو عادت پدے باندے جاری وو چه یو بل ته به ئے خوشبوئی ورکوله، نو ددے په اخستو کښې هیڅ عیب نشته، او چونکه خوشبوئی د روح سره موافق شے دے نو ددے اخستل او قبلول پکار دی۔ خوشبوئی د ملائکو خوښه وی۔

اهل علمو ددے نه دا خبره هم معلومه کړے چه دا حکم د هر هغه تحفے هم دے چه په ظاهره کښې خو معمولی وی مګر په هغے کښې فائده وی نو د هغے رد کول هم مناسب نهٔ دی دے دپاره چه د تحفے ورکونکی زړهٔ ته تکلیف ونهٔ رسیږی، نو دے کښې اشاره شوه چه د تحفو په قبلولو سره د خلکو د زړونو حفاظت پکار دے، ځکه چه په تحفو سره محبت پیدا کیږی۔

**فائده** : د ریحان او طیب او دهن (تیلو) او لبن (پیوو/شودو) او وساده (بالخت/تکیه) رد

كول جائز نۀ دي لكه روستو راځي.

3017 ( 2 ) - وَعَنْ أَنَسٍ ﷺ : أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ **كَانَ لَا يَرُدُّ الطِّيبَ**. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

**ترجمه** : انس ﷺ نه روايت دے چه نبی كريم ﷺ به خوشبوئی نۀ رد كوله. (بخاریؒ)

**تشريح** : رسول الله ﷺ به پدے وجه خوشبوئی نۀ رد كوله چه هغۀ به د ملائكو سره مناجات كولو، پدے وجه هغۀ به اُوږه نۀ خوړله چه ملائكو ته ضرر ملاؤ نشي، او بله دا چه نبی ﷺ صفا طبيعت او مزاج والا وو او د اُوچتو مزاجونو والا خوشبوئی خوښه وي.

## چا ته د يو شي وركولو نه پس هغه واپس اخستل يو بد مثال دے

3018 (3) - وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : **اَلْعَائِدُ فِيْ هِبَتِهٖ كَالْكَلْبِ يَعُوْدُ فِيْ قَيْئِهٖ. لَيْسَ لَنَا مَثَلُ السَّوْءِ**. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

**ترجمه** : او ابن عباس ﷺ نه روايت دے، نبی كريم ﷺ وفرمايل : په خپله تحفه او هديه كښے واپس كيدونكے شخص د سپي په شان دے چه په خپل قى كښے رجوع كوي، (يعنی څوك چه چاله يو شے وركړي او بيائے بيرته ترے اخلي، د هغه سپي پشان دۓ چه قے وكړي او بيائے واپس ځتي). زمونږ دپاره خراب مثال نشته. (بخاریؒ)

**تشريح**: [اَلْعَائِدُ فِيْ هِبَتِهٖ] خپله وركړے ډالئ اوتحفه بيرته اخستونكے.[يَعُوْدُ فِيْ قَيْئِهٖ] بل روايت كښے دي : [كَالْكَلْبِ يَقِيْءُ ثُمَّ يَعُوْدُ فِيْهِ فَيَأْكُلُهٗ] په دے تشبيه كښے غرض ددے كار نهايتِ قباحت او ددے نه كركه ذكر كول او آوريدونكی ته دا په يو قبيح صورت كښے پيش كول دي.[لَيْسَ لَنَا مَثَلُ السَّوْءِ] يعنی زمونږ د مسلمانانو دپاره دا مناسب نۀ دي چه مونږ دے يو خراب خوئے اختيار كړو چه په دے كښے ډِے مونږ په ټولو حيواناتو كښے د يو ذليله حيوان سره د ذليله كار كولو په وخت مشابه شو. د (مَثَل) نه مراد صفت دے. او د (سُوْء) نه مراد قبيح دے. يعنی مسلمان به په بدو او غلطو كښے ځان د سپو او غلطو حيواناتو سره نۀ مشابه كوي.

**فوائد** : (۱) حديث دليل دے چه په هبه كښے رجوع كول حرام دي، ځكه دا سپك او رذيل خوئی دے، او دا دليل دے چه د هبه كونكی زړۀ دغه هبه كړے شوی شئ پورے نښتے دے چه دائے د نفس په سخاوت سره نۀ دے وركړے. ځكه ددے مثال ئے د يو داسے

شئ سره ورکړے چه هغه عقلًا ډير ګنده او نجس دے.

(۲) هبه کښې رجوع کولو په باره کښې د علماؤ دوه قوله دي: **(اول قول)** په هبه کښې رجوع حرامه ده، او دا د جمهورو اهلِ علمو قول دے، او دليل ئے دا حديث دے. البته پلار ددے حکم نه مستثنیٰ دے چه هغه په هغه هبه کښې رجوع کولے شي کومه ئے چه خوئے ته ورکړے، لکه روستو د نعمان بن بشير ﷺ په حديث کښې راځي ان شاء الله. حافظ ابن حجرؒ فرمائي: امام بخاريؒ په دے باب کښې مضبوط حکم کړے ځکه ددۀ په نيز ددے دليل قوي دے. او په دے کښې د هديه او هبه ترمينځه فرق نشته.

البته د صدقے په باره کښې اتفاق دے چه کله دا چاته ورکړے شي او هغه ئے قبض کړي نو بيا په کښې رجوع کول حرام دي. ددے مسئلے دپاره بل دليل د فصل ثاني راتلونکے حديث دے چه په هغے کښې د والد نه سویٰ د بل هر چا دپاره په هبه کښې رجوع حرامه ګرځول شوے.

**(دويم قول)** : هبه کښې رجوع جائز ده خو په دے شرط چه پردي سړي ته شوے وي. اوکه رشته دار ته شوي وي، يا ئے د هبے عوض اخستے وي، يا هبه کړے شے زيات شوے يا خورب شوے وي، او يا په واهب او موهوب لَهُ کښې يو تن مړ شوے وي، نو په دے صورت کښې بيا رجوع جائز نۀ ده. او دا د امام ابوحنيفهؒ رائے ده. [تكملة فتح القدير: ۳۹/۹]

او دليل ئے دا حديث دے: [اَلْوَاهِبُ أَحَقُّ بِهِبَتِهِ مَا لَمْ يُثَبْ مِنْهَا] (واهب د خپلے هبے زيات لائق دے ترڅو پورے چه ددے عوض ئے نۀ وي اخستے) او هر چه رشته دار دے نو ددۀ په هبه کښې هم رجوع جائز نۀ ده، ځکه دا ددۀ خپلولي پالل دي نو که ددۀ نه هبه واپس واخستے شي نو په دے کښې خپلولي پريکول راځي او دا جائز نۀ ده. پاتے شو د اجنبي هبه نو دا تبرع او احسان دے. که ددۀ خوښه وي نافذه دے ئے کړي اوکه خوښه ئے وي نۀ دِے ئے نافذوي. ددے دويم قول والا (احناف) د حديث الباب دا تاويل کوي چه ددے حديث نه مراد د کراهت تغليظ دے، تحريم مراد نۀ دے، وجه داده چه طحاويؒ وائي: سپے مکلف نۀ دے نو ددۀ دپاره خپل قئ خټل حرام نۀ دي. [شرح معاني الآثار: ۷۷/۴]

خو **صحيح قول** اولنے دے، او په هبه کښې رجوع کول حرام دي. ځکه موهوب لَهُ چه کله هبه قبض کړه نو دا د هغۀ په ملکيت کښې راغله چه هغۀ دپاره په دے کښې تصرف کول جائز دي، اُوس چه واهب ئے ترے بيرته اخلي نو دا د هغۀ په مملوك شي کښې د

هغهٔ د رضا نه بغیر تصرف کول دی، او دا عقلًا او شرعًا باطل کار دے۔
[اعلام الموقعین : ۲/۳۱۵]

او د احنافو دا خبره چه ددے حدیث الباب نه مراد کراهت دے، نهٔ تحریم: نو دا د دوو وجو نه باطله ده: (یو) خو دا تاویل ددے حدیث د سیاق خلاف دے۔ (دویم) د شریعت په عُرف کښے دا قِسم اسلوب په سخت زجر او رټنه دلالت کوی، لکه په مانځه کښے د سپی پشان اِقعاء کولو (کیناستو) نه، د کارغهٔ پشان ټونګو وهلو او د ګیدړ پشان اِخوا دیخوا کتلو نه منع راغلے۔ او دا ټول کارونه حرام دی۔ (دریم) د طحاویؒ دا خبره کول چه [کَالْکَلْبِ] نه معلومیږی چه هبه کښے رجوع جائز ده ځکه سپی دپاره قے خوړل حرام نهٔ دی: نو دا خبره ډیر تعجب پیدا کوی! ځکه حِلت او حرمت خو مکلف کیدل غواړی او سپے خو مکلف نهٔ دے نو ددهٔ دپاره د قئ خوړلو جواز ورکول څهٔ معنیٰ لری! دا ښکاره تعصب دے! او د حنفی مذهب دپاره نص ورانول دی، ځکه ددے تاویل نه پس د حدیث معنیٰ دا شوه چه په هبه کښے رجوع حرامه نهٔ ده، حالانکه حدیث ددے دپاره راغلے چه په هبه کښے رجوع کول یو پریوتے، رذیل او حرام کار وګرځوی۔ او بیا د لَيْسَ لَنَا مَثَلُ السَّوْءِ به څه مطلب وی که د طحاوی صاحب خبره صحیح شی ؟!۔

او په امام طحاویؒ حنفی باندے تعجب دے چه مخکښے روستو نهٔ ګوری خو په پټو سترګو د حدیث تاویل کوی، ځکه ددے جملے نه روستو دا جمله راغلے [لَيْسَ لَنَا مَثَلُ السَّوْءِ] (مسلمان سړے قبیح خوئے نهٔ لری)۔ واقعی چه تقلید په خپله د تعصب دویم نوم دے۔ نو د دوئ نه هیڅ تعجب نهٔ دے پکار۔ پاتے شو [اَلْوَاهِبُ أَحَقُّ بِهِبَتِهِ مَا لَمْ يُثَبْ مِنْهَا] حدیث، نو روستو راځی چه دا ضعیف دے۔ او که ثابت شی نو دا به په هغه چا حمل وی چه هغه د عوض حاصلولو په غرض چاله هبه ورکوی او بیا موهوب لَهُ ورته عوض ورنهٔ کړی نو واهبُ رجوع کولے شی، لکه روستو راځی۔ [اعلام الموقعین: ۲/۳۱۵]
او دا قِسم هبه د بیع په معنیٰ کښے ده۔

(۳) د جمهورو په نیز په هبه کښے هغه وخت رجوع ناجائز ده چه هرکله موهوب لَهُ هبه قبض کړے وی۔ لکه په دے حدیث کښے ئے ددے تشبیه د سپی د قئ سره ورکړے او قئ د سپی نه وتلے وی نو دغه شان د واهب نه وتلے او موهوب له قبض کړے هبه کښے رجوع حرامه ده۔ او کله چه هبه لا قبض شوے نهٔ وی نو دا لازمه نهٔ ده نو د بعضِ علماؤ

په نيز په دې کښې رجوع جائز ده. [الانصاف: ۱۲۲/۷]

ليکن د شيخ الاسلام ابن تيميهؒ په نيز اگرکه هبه لا قبض شوې نۀ وي، په دې کښې رجوع حرامه ده، ځکه په دې کښې د مسلمان سره بې لوظي او وعده خلافي ده. او په حديث کښې دا د منافق علامه ښودل شوې. [الاختيارات، ص: ۳۲۱، جامع العلوم والحكم: ٤٨] او همدا قول راجح دې. شيخ ابن عثيمينؒ هم ديته ترجيح ورکړې. [شرح بلوغ المرام لابن عثيمينؒ: ۸۸۹]. نو په هبه کښې قبض شرط کول راجح نۀ دي، او هرچه د ابوبکر صديق رضی الله عنه اثر دې چه هغۀ عائشې رضی الله عنها ته د کهجورو ونې هبه کړې وې چه د هغې نه شل وسقه کهجورې راوتلې نو هغه اراده د هبې وه پوره هبه نۀ وه، پدې وجه ئې ورته ووېل: چه ما اراده کړې وه چه زۀ تا ته دا هبه کړم ليکن اُوس زۀ مرم او دا مال د وارث دې. [موطأ لمالك: ۱٤۳۸]

## د يو شي په ورکولو کښې د اولاد ترمينځ فرق او امتياز ناجائز دې

3019 (4) - وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ رضی الله عنه أَنَّ أَبَاهُ أَتَى بِهِ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ فَقَالَ: إِنِّي نَحَلْتُ ابْنِي هٰذَا غُلَامًا فَقَالَ: " أَكُلَّ وَلَدِكَ نَحَلْتَ مِثْلَهُ؟ " قَالَ: لَا قَالَ: " فَارْجِعْهُ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَفِي رِوَايَةٍ: أَنَّهُ قَالَ: " أَيَسُرُّكَ أَنْ يَكُونُوا إِلَيْكَ فِي الْبِرِّ سَوَاءً؟ " قَالَ: بَلٰى قَالَ: "فَلَا إِذَنْ. "وَفِي رِوَايَةٍ: أَنَّهُ قَالَ: أَعْطَانِي أَبِي عَطِيَّةً فَقَالَتْ عَمْرَةُ بِنْتُ رَوَاحَةَ: لَا أَرْضٰى حَتّٰى تُشْهِدَ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ فَأَتٰى رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ فَقَالَ: إِنِّي أَعْطَيْتُ ابْنِي مِنْ عَمْرَةَ بِنْتِ رَوَاحَةَ عَطِيَّةً فَأَمَرَتْنِي أَنْ أُشْهِدَكَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ: " أَعْطَيْتَ سَائِرَ وَلَدِكَ مِثْلَ هٰذَا؟ " قَالَ: لَا قَالَ: " فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْدِلُوا بَيْنَ أَوْلَادِكُمْ ". قَالَ: فَرَجَعَ فَرَدَّ عَطِيَّتَهُ. وَفِي رِوَايَةٍ: أَنَّهُ قَالَ: " لَا أَشْهَدُ عَلٰى جَوْرٍ ".

**ترجمه**: او نعمان بن بشير رضی الله عنه نه روايت دې چه دده پلار دې نبي ﷺ ته راوستو او عرض ئې وکړو: ما خپل دې ځوئې ته (خپل ذاتي) غلام هبه کړو. رسول الله ﷺ وفرمايل: آيا تا خپلو ټولو بچو ته ددې پشان غلام هبه کړې؟ هغۀ ووېل: نه! نبي ﷺ وفرمايل: نو بيا دا ترې بيرته واخله. (بخاريؒ ومسلمؒ) او په يو روايت کښې دا الفاظ دي چه هغۀ وفرمايل: آيا ستا دا خوښه ده چه دا ټول (بچي) تاسره په نيکئ او ښۀ سلوك

کښې برابر وی ؟ هغهٔ ووېل : ولې نه ! نبی ﷺ وفرمایل : بیا نو داسې مهٔ کوه- او په یو بل روایت کښې دی : هغهٔ وفرمایل : ما ته زما پلار یوه تحفه راکړه نو (زما مور) عمره بنت رواحه ووېل : زهٔ نهٔ خوشحالیږم تردې چه تهٔ (پدې باندې) رسول الله ﷺ گواه جوړ کړې، نو هغه رسول الله ﷺ ته راغلو عرض ئې وکړو : ما خپل دې ځوی ته چه د عمره بنت رواحه نه دې یوه تحفه ورکړه نو هغې ما ته حکم وکړو چه اې د الله رسوله ! زهٔ تا گواه جوړ کړم- رسول الله ﷺ وفرمایل : آیا تا خپلو باقی ټولو بچو ته داسې ورکړیده ؟ هغهٔ ووېل : نه- نبی ﷺ وفرمایل : الله تعالیٰ نه یره وکړئ او د خپلو بچو ترمینځه د عدل او انصاف نه کار اخلئ- هغه وائی : نو زما پلار واپس راغې او خپله (دغه) هبه ئې واپس واخسته- او (د بخاریؒ او مسلمؒ) په یو بل روایت کښې دی : نبی ﷺ وفرمایل : زهٔ په ظلم باندې گواهی نهٔ کوم-

**تشریح** : [أَنَّ أَبَاهُ] چه د نعمان پلار بشیر بن سعد الانصاری الخزرجی رضی الله عنه، عقبه او بدر وغیره غزاگانو ته حاضر شوې، او دا هغه صحابی دې چه د سقیفه بنی ساعده په ورځ ئې د ابو بکر صدیق رضی الله عنه سره د ټولو نه مخکښې بیعت کړې- د خالد بن ولید رضی الله عنه سره په غزا کښې شریك وو چه کوفې ته نزدې په (عین التمر) علاقه کښې په (۱۲) هجری کال په خلافتِ صدیقی کښې شهید شو- [نَحَلْتُ] د نون په زور سره، ما تحفه ورکړې- نِحله عطیه ته وائی- اهلِ لغت وائی: دا په خوشحالئ سره په غیر د عوض نه عطیه ورکولو ته وائی- نو نحله د هبې نه خاص ده- هره هبه نحله ده او هره نحله هبه نهٔ ده، دا وجه ده، مهر ته نحله وئیل کیږی ځکه ددې په مقابله کښې د ښځې نه مالی عوض نهٔ اخستل کیږی بلکه د هغې نه استمتاع او فائده اخستل کیږی- یا لکه ځوئې له عطیه ورکول- [ابْنِي هٰذَا] خپل دې ځوئې له چه نعمان دې، او د روایتونو نه معلومه ده چه دا وړوکې وو- [غُلَامًا] د غلام ډیرې معنې دی، کله ددې نه مراد هغه ماشوم وی چه لا بلوغ ته نهٔ وی رسیدلې- کله مراد مرئیې وی لکه دلته همدا مراد دې- او کله غلام اجیر او خادم ته هم وائی-

[أَكُلَّ وَلَدِكَ نَحَلْتَهُ] أَيْ: أَأَعْطَيْتَ بَقِيَّةَ أَوْلَادِكَ كَمَا أَعْطَيْتَ هٰذَا؟ (تا خپلو نورو بچو له هم داسې عطیه ورکړې؟) دا د ځان پوهولو دپاره استفهام دې چه ددې مطابق جواب ورکړې شی، نو ځکه بشیر رضی الله عنه په جواب کښې : نه، ووېلو- [فَارْجِعْهُ] همزه په کښې

وصلیه ده د رَجَعَ یَرْجِعُ نه دے، یعنی غلام ترے واپس واخله ځکه دے کښې نقصان دے، په دے سره د بچو ترمینځه بغض او دشمنی پیدا کیږی او هغوئ سره قطع تعلق راځی۔

[حَتّٰی تُشْهِدَ رَسُوْلَ اللّٰهِ] ۔ ددے ګواه جوړولو مقصد دا وو چه: د نعمان مور عمره بنت رواحه بنه لرله، هغې د خپل خاوند بشیر ﷺ نه وغوښتل چه ذدے ځوئے نعمان له غلام ورکړه، نو هغهٔ یو کاله پورے په دے کښې ټال متهول کولو او بیا ئے ورته ورکړو۔ خو د عَمرے په زړهٔ کښې دا خبره وه چه هسے نهٔ د بشیر ﷺ د بلے ښځې ځامن ددهٔ سره په دے کښې جګړه وکړی، دے وجے نه هغې بشیر ته وویل چه زهٔ به هله راضی شم چه تهٔ په دے عطیه باندے رسول الله ﷺ ګواه جوړ کړے۔ نو کله چه هغه رسول الله ﷺ ته ورغے او د هغوئ نه ئے د ګواه جوړیدو مطالبه وکړه نو هغوئ ترے پوښتنه وکړه چه آیا تا خپل ټولو بچو ته داسے عطیه ورکړے؟ بشیر ﷺ ووئیل: نه۔ نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل: زهٔ په ظلم او زیاتی باندے ګواه نهٔ جوړیږم۔او هغهٔ ته ئے حکم وکړو چه خپله دا عطیه واپس واخله، او د خپل اولاد ترمینځه برابرے وکړه۔

[وَاعْدِلُوْا بَيْنَ أَوْلَادِكُمْ] په ورکړه، نیکئ او ښیګړه کښې د دوئ ترمینځه برابری کوئ۔

[لَا أُشْهِدُ عَلٰی جَوْرٍ] زهٔ په ظالمانه فیصله باندے ګواه نهٔ جوړیږم، او د حدیث سیاق هم په دے دلالت کوی۔ په بل روایت کښې دی: دائے وفرمایل: [فَأَشْهِدْ عَلٰی هٰذَا غَيْرِيْ] د إشهاد نه دے ګواه جوړولو ته وائی۔ او دا امر د زورنے او توبیخ ورکولو دپاره دے، نهٔ د وجوب یا استحباب یا اباحت دپاره، لکه دغه مخکښې روایت ددے تائید کوی۔

[فَلَا إِذًا] أَیْ: فَلَا تَفَاضَلَ بَيْنَهُمْ فِي الْعَطِيَّةِ (نو د دوئ ترمینځه په عطیه کښې کمے زیاتے مهٔ کوه) [إِذَنْ] أَیْ: إِذَا أَرَدْتَّ أَنْ يَكُوْنُوْا لَكَ فِي الْبِرِّ سَوَاءً (هرکله چه تهٔ دا غواړے چه دا ټول دے تا سره په نیکئ او فرمانبرداریٔ کښې برابر وی، ځکه چه تهٔ په دوئ کښې فرق کوے نو بیا دوئ به هم یو شان فرمانبردار نهٔ وی)۔

**فوائد**: (۱) حدیث نه ثابته شوه چه په عطیه او تحفه کښې د اولاد ترمینځه عدل او برابری کول واجب او فرق کول حرام دی، ځکه رسول الله ﷺ د بشیر ﷺ ددے تصرف نه انکار کړے، او دیته ئے ظلم او زیاتے وئیلے او هغهٔ ته ئے ددے فیصلے واپس کولو حکم کړے، او په خپله ددے د ګواه جوړیدو نه منع شوے۔ او امر تقاضا د وجوب کوی۔ دا د امام احمدؒ، اسحاقؒ قول او علامه ابن حزمؒ د جمهورو سلفوؒ نه نقل کړے۔ شیخ ابن بازؒ

دا مختار ګرځولے۔ او امام الائمة محمد بن اسماعيل البخاريؒ په خپل صحيح کښے اختيار کړے دے۔

**دويم قول:** دادے چه مساوات کول واجب نۀ بلکه مستحب دی او فرق کول مکروه دی، او دا د جمهورو مذهب دے، نو د دوئ په نيز تفضيل جائز دے۔

د دوئ **دليل:** د عائشے رضي الله عنها حديث دےّ چه ديته خپل پلار ابو بکر صديق رضي الله عنه د غابے زمکے نه شل وسقه کهجورے ورکړے وے۔ حالانکه ددے نور ورونه او خويندے هم ژوندئ وے۔ نو معلومه شوه چه فرق کول جائز دی۔ او دوئ د نعمان رضي الله عنه ددے حديث نه دا جواب کوی چه دلته بشير رضي الله عنه خپل ځوئے نعمان ته ټول مال ورکړے وو، نو نبی ﷺ ځکه دا منع کړو۔

خو **صحيح قول** اولنے دے۔ ځکه د هغے دليل قوی او واضح دے، ځکه حديث ښکاره دليل دے چه د اولاد ترمينځه عدل کول واجب دی، ځکه امر پرے راغلے چه: [اتَّقُوا اللَّهَ وَاعْدِلُوا بَيْنَ أَوْلَادِكُمْ] او امر تقاضا د وجوب کوی۔ بله دا چه په بچو کښے فرق کولو کښے نقصان دے هغه دا چه مور او پلار سره او خپلو کښے د بچو ترمينځه يو د بل سره دشمنی پيدا کيږی۔ او د مور پلار د صله رحمئ پريکولو سبب ګرځی، او ددے خبرے نه ځوك انکار نشی کولے۔ حالانکه امام ابن ابی شيبهؒ د ابراهيم نخعیؒ نه نقل کړی چه ((صحابه رضي الله عنهم او تابعينوؒ به دا مستحبه ګنړله چه يو تن د خپلو بچو ترمينځه په ښکلولو کښے هم د انصاف نه کار واخلی)) [مصنف ابن ابی شيبة: ۱۱/۲۲۱] او په مرفوع حديث کښے دی: د نبی ﷺ په مجلس کښے يو تن ناست وو، ځوی ئے راغلو ښکل ئے کړو بيا ئے لور راغله نو هغه ئے اړخ ته کينوله نو نبی ﷺ وفرمايل: [أَلَّا عَدَلْتَ بَيْنَهُمَا - يَعْنِيُ ابْنَهُ وَبِنْتَهُ فِيُ تَقْبِيلِهِمَا] تا ددے دواړو ترمينځ په ښکلولو کښے ولے برابروالے ونکړو۔ [مسند البزار: ۲/۳۷۸/ ۱۸۹۳، الصحيحة: ۶/۸۹۷ رقم: ۲۸۸۳]

پاتے شو د دويم قول والو د عائشے رضي الله عنها په قيصه باندے استدلال کول:

نو ددے **جواب** دادے چه دا اصولی خبره ده چه د صحابی خبره د مرفوع حديث مقابله نشی کولے۔ بله دا چه: د صديق رضي الله عنه په دے کار کښے ګڼړ احتمالات کيدے شی چه د هغے په وجه ددے نه د جمهورو دليل نيول درست نۀ دی۔ يو احتمال دا چه: عائشه رضي الله عنها ئے د حاجت او فقيرئ په وجه خاص کړے وه، او ورسره دا چه دا علم او فضل والا بی بی وه۔ يا

دا چه ددے پشان عطيه ئے نورو بچو له هم ورکړے وه. يا دا چه : هغے له ئے عطيه ورکړه او نورو بچو له ئے ورکوله چه مرګی رالاندے کړو. او مخکښے ذکر شو چه هغه اراده د هبے وه او في الحال ئے ورته سپارلے نۀ وه. خامخا به په دے احتمالاتو کښے يو احتمال منے. ځکه د فرق کولو ادنیٰ درجه کراهت دے، حالانکه ابو بکر صديق ﷺ به د مکروهاتو نه هم ځان ساتلو. [الشرح الكبير: ٦٥/١٧] او يا د نفقے په طور ده، او په نفقه کښے يو بچے زيات محتاج وی، وادۀ والا وی او بل ماشوم په يو پاپړ باندے کار کيږی نو نفقه کښے مساوات نۀ وی.

بعضِ علماؤ د : [فَأَشْهِدْ عَلَى هٰذَا غَيْرِي] نه دليل نيولے حالانکه د رواياتو د جمع کولو نه صفا معلومه ده چه ددے دا مطلب نۀ دے چه ګنے نبی کريم ﷺ بشير ﷺ ته امر کوی چه ته بل څوك ګواه جوړ کړه. بلکه ددے مطلب زجر او توبيخ دے، ديته ئے د ظلم او زياتی فيصله وئيلے، نو دا څنګه کيدے شی چه ددے باوجود نبی کريم ﷺ دا حکم وکړی چه بل څوك ډے په دے ظلم او زياتی باندے ګواه جوړ شی ! که داسے وے نو بيا ولے بشير ﷺ دا هبه واپس کوله ؟ بل څوك به ئے په دے ګواه جوړ کړے وے؟.

(۲) د حديث د ظاهر نه معلومه ده چه بهر حال د اولادو ترمينځه فرق او تخصيص کول منع دی، ځکه نبی کريم ﷺ د بشير ﷺ نه د هغۀ د عطيه په باره کښے پوښتنه نۀ وه کړے چه دادِے په کوم سبب سره کړے وه ؟ دا د امام احمدؒ نه يو روايت او د ابن حزمؒ قول دے. د امام احمدؒ دويم قول دادے چه هر کله په يو بچی کښے څۀ سبب موجود وی لکه هغه زيات حاجتمن وی يا ګوډ او شل يا ړوند وی او يا ئے اولاد زيات وی او يا په علم مشغول وی نو بيا هغۀ له په ورکړه کښے تخصيص کول جائز دی، يا يو بچی له د هغۀ د فسق په وجه څۀ نۀ ورکوی يا ورله په دے وجه څۀ نۀ ورکوی چه هغه ئے د الله تعالیٰ په نافرمانئ کښے خرچ کوی. نو دا تخصيص جائز دے. دا قول علامه ابن قدامهؒ، شيخ الاسلام ابن تيميهؒ او شيخ محمد بن ابراهيمؒ غوره ګرځولے. او دليل ئے د عائشے ﷺ مخکنئ قيصه ده. شيخ عبد الله الفوزانؒ فرمائی: **ظاهر قول** اولنے دے هغه دا چه : د اولاد ترمينځه د هيڅ يو سبب په وجه فرق کول جائز نۀ دی، ځکه ددے قول دليل مضبوط دے. البته که د ځينے بچو خاص کولو سبب موجود شی نو دا به د نفقے د باب نه وی چه په بچو کښے يو بچے کمزورے يا بيمار يا ډير بال بچ والا وی نو په دۀ باندے

خرچ کول واجب دي. که ددې انفاق نه سوئ دوئ له خصوصي عطیه ورکوی نو نورو بچو نه به اجازت غواړي.

(۳) په عطیه کښې د اولاد ترمینځه په مساوات کولو کښې دوه قوله دي :

**(اول قول)** نارینه اوزنانه دواړو له به یو شان عطیه ورکوی، فرق به په کښې نهٔ کوی. دا د جمهورو علماؤ : ائمه ثلاثهٔ قول او د امام احمدؒ نه یو روایت دے. او دلیل ئے ددے حدیث نور الفاظ دی : [سَوِّ بَيْنَهُمْ] (یعنی د دوئ ترمینځ برابروالے وکړئ). [نسائی : ٣٦٨٦، احمد : ١٨٤٥٢ ابن حبان : ٦٤٨٠]او په یو ضعیف حدیث کښې راغلی :

[سَوُّوا بَيْنَ أَوْلَادِكُمْ فِي الْعَطِيَّةِ، فَلَوْ كُنْتُ مُفَضِّلًا أَحَدًا لَفَضَّلْتُ النِّسَاءَ]

[ابن عدی: ٣/ ٣٨٠، بیهقی: ٦/ ١٧٧، ضعیف]

په دے روایت کښې سعید بن یوسف الرحبیؒ په اتفاق سره ضعیف دے، او یحیی بن ابی کثیرؒ مدلس دے او په عَنْ سره ئے روایت کړے.

**(قول ثانی)** اولاد ترمینځه مساوات به د دوئ د ((میراث)) په طریقه سره وی. یعنی نارینه ته به دوه چنده او زنانه ته به یو چند وَرکولے شی. دا د امام احمدؒ مشهور قول، د اسحاقؒ او د بعضِ شوافعو او بعض مالکیانو قول دے. شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ، ابن قیمؒ، شیخ محمد بن ابراهیمؒ او شیخ ابن بازؒ غوره کړځولے. **دلیل** ئے دادے چه په دے کښې د الله تعالیٰ د تقسیم اقتداء ده، او الله تعالیٰ چه د نارینه او زنانه ترمینځه د وارث د مرګ نه پس فرق کړے نو دا فرق د هغهٔ په ژوند کښې هم پکار دے. اودا عینِ عدل دے.

او همدا **قول** د دلیل د قوی کیدو په وجه **راجح** دے. او هغه دلیل قرآن کریم او حدیث د عبد الرزاق دے، چه سعد بن عباده ﷺ د خپلو بچو ترمینځ خپل مال په ژوند کښې تقسیم کړو بیا وفات شو او ښځه ئے حامله وه نو نارینه بچے ئے راوړو نو ابوبکر صدیق او عمر فاروق د هغهٔ ځوی قیس بن سعد بن عباده ﷺ پسے ددے خبرے جواب ولیږلو، هغهٔ وویل چه د سعد ﷺ تقسیم خو زهٔ نهٔ خرابوم البته زما چه کومه برخه رسیدلے ده هغه ددے ماشوم شوه. ابن جریجؒ وائی : ما عطاءؒ ته وویل : آیا سعد د الله تعالیٰ په کتاب تقسیم کړے وو، هغهٔ وویل : [لَا نَجِدُهُمْ كَانُوا يَقْسِمُونَ إِلَّا عَلَى كِتَابِ اللّٰهِ]. (عبد الرزاق : ١٦٤٩٩). صحابه کرامو به صرف او صرف د الله تعالیٰ د کتاب مطابق مال تقسیمولو.

بله دا چه : نارینه د زنانه په نسبت پیسو ته زیات ضرورت لری. که هلك او جینئ

دواړه وادهٔ کوی نو مهر، نفقه او د ماشومانو خرچه په نارینه وی. بلکه نارینه ئے زنانه له ورکوی. نو د حاجت د زیاتیدو په وجه ددهٔ برخه هم زیاتول پکار دی. او دا عین عدل دے چه هر چاته د هغهٔ د حالت مطابق ورکړے شی. پاتے شو د نعمان ﷺ دا حدیث نو دلته هم د تسویه نه مراد د کتاب الله پشان تقسیم دے. یا د تسویه نه مراد په اصل ورکړه کښے تسویه ده نهٔ په صفت د ورکړه کښے، یعنی هر یو تن له به د هغهٔ د شان مطابق ورکړه کوی. بله داچه: د بشیر ﷺ د بچو حالت معلوم نهٔ دے چه په دوئ کښے زنانه وه او که نه تهول ورونه وو چه نبی کریم ﷺ د دوئ ترمینځه د مساوات حکم کړے. مګر اسد الغابه کښے ابن الاثیرؒ لیکلی دی چه د بشیر ﷺ یوه لور (امیمه بنت بشیر بن سعد) د نعمان ﷺ خور وه. (اسد الغابه : ۳/۳۱۶)

(٤) که یو بچے حاجتمن وی او بل نهٔ وی لکه ماشوم د مدرسے او سکول کتابونو او نور سامان ته ضرورت لری، یا علاج یا وادهٔ ته ضرورت لری او بل بچے داسے نهٔ وی، نو بیا په دې صورت کښے محتاج له عطیه ورکول جائز دی، ځکه دا د حاجت د وجے دی چه دا د خوراك څښاك، لباس او استوګنے د خرچے پشان دے.

مثلًا : یو هلك وادهٔ ته حاجت لری نو دا ضروری نهٔ ده چه په دے وادهٔ باندے څومره رقم لګی هغه دِے نورو بچوله هم ورکړے شی. دغه شان یو بیمار دے علاج ته حاجت لری نو ددهٔ تخصیص کول جائز دی. یا یو ځوئے د پلار سره په اجرت باندے زراعت، تجارت یا کارو کسب کوی، نو دهٔ له د کار کسب دِ وجے څهٔ ورکول او نورو له نهٔ ورکول جائز دی، ځکه دا تخصیص ددهٔ د کار په وجه دے. او په دے کښے د نورو بچو سره ظلم هم نشته ځکه هغوئ دا کار نهٔ دے کړے.

(۵) د مور حکم هم داسے دے چه دا به هم د اولاد ترمینځه په عطیه او ورکړه کښے فرق نهٔ کوی. ځکه د [اِتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْدِلُوْا بَیْنَ اَوْلَادِکُمْ] امر دیته هم شامل دے. دا بچی د مور هم بچی دی. بله داچه: د تخصیص په وجه چه کوم بغض او قطع رحمی او کینه او دشمنی حاصلیږی هغه د مور په تخصیص کښے هم راځی.

(٦) په حدیث کښے نورے ډیرے فائدے هم شته مثلًا : حاکم او مفتی له پکار دی چه په احتمالی ځایونو کښے د تفصیل غوښتلو مطالبه کوی، لکه ددے حدیث په یو روایت کښے دی : [اَلَكَ وَلَدٌ غَیْرَهٗ ......] (ددهٔ نه سوئ ستا نور بچی شته؟) او دا تفصیل به په

هغه ځائے کښے تپوسی چه هلته د مسئلے حکم بدلیږی۔
(۷) کوم حکم چه د شریعت خلاف واقع شی هغه به باطل وی او د هغے نافذول به جائز نهٔ وی۔ (۸) چاته چه حق ورسی نو فوراً ئے قبلول او چون او چرا نهٔ کول واجب دی۔
(۹) په معاملاتو او نورو کارونو کښے علمائے کرامو ته رجوع پکار ده۔
(۱۰) مستحبه داده چه په هبه بانـدے ګواه قائم کړے شی او معاملات د مشرانو او غوره خلکو مخامخ وکړے شی۔ والله اعلم۔

## پلار لره د خپل بچی نه تحفه بیرته اخستل جائز دی

## الفصل الثاني

3020 (5) - عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : " **لَا يَرْجِعُ أَحَدٌ فِيْ هِبَتِهٖ إِلَّا الْوَالِدَ مِنْ وَلَدِهٖ** ". رَوَاهُ النَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ .

**ترجمه :** عبد الله بن عمرو ﷺ نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ وفرمایل : هیڅ یو تن به په خپله هبه (تحفه) کښے رجوع نهٔ کوی سوئ د پلار نه چه د خپل بچی نه (دوباره اخستے شی) (نسائیؒ، ابن ماجهؒ)

**تشریح : فوائد :** (۱) حدیث نه ثابته شوه چه په هبه کښے رجوع کول حرام دی، البته پلار چه خوئ له څهٔ عطیه ورکړی نو هغه ترے بیرته اخستلے شی، برابره خبره ده که دغه بچے نارینه وی که زنانه، وړوکے وی که لوئے۔ ځکه پلار د بچی په مال کښے حق لری نو دا هم کولے شی چه کوم شے ئے ورته ورکړے وی هغه ترے واپس واخلی۔ فقهاؤ ددے دپاره دا حدیث هم په تائید کښے پیش کړے : [أَنْتَ وَمَالُكَ لِأَبِيْكَ] (تهٔ او ستا مال دواړه ستا د پلار دپاره دی) [ابن ماجه: ۲۲۹۱، صحیح ابن ماجه: ۱۸۵۶] او دا رجوع په دوه حالتونو کښے ده : **(اول حالت)** پلار خپلو بعضو بچو ته هبه ورکړی، نو په دے وخت کښے به پلار د خپل دغه بچی نه دغه هبه واپس اخلی، ددے دپاره چه په ټولو اولادو کښے برابرے راشی۔ لکه مخکښے حدیث کښے تیر شو چه نبی کریم ﷺ بشیر ﷺ ته وفرمایل: ((دا غلام ترے واپس واخله)) او پلار دپاره دا رجوع واجب ده، ځکه دا یو طریقه ده د هغه درے طریقو نه چه د اولاد ترمینځه د مساوات قائمولو دپاره مقرر ے دی۔ او هغه دا دی: (یوه) داده چه دا هبه ترے بیخی واخستل شی، که نورو ته ئے دا نهٔ وی

ورکړې. (دویمه) کوم بچي له ئې چه کمه ورکړې وي هغه له نوره ورکول پکار دي چه ټول سره برابر شي. (دریمه) کوم بچي له ئې چه زیاته ورکړې هغه زیاتي ترې اخستل چه د نورو بچو سره یو شان شي.

**(دویم حالت)** په هبه کښې رجوع کول په هغه حالت کښې جائز دي چه په هغې کښې په هبه کولو سره د اولاد ترمینځه فرق کول نۀ راځي. مثلًا: د یو انسان یو بچې دے او هغۀ له ئې څۀ شے ورکړو نو هغه ترې بیرته اخستلے شي. او که چرې د اُنسان دوه ځامن وي او یو یو له ئې زر زر روپۍ ورکړې وي، نو اصل داده چه په دوئ کښې د هر یو نه ئې بیرته اخستلے شي خو په دے صورت کښې د یو نه اخستل ناجائز دي، ځکه که یوتن نه ئې اخلي نو په دے سره د اولاد ترمینځه فرق کول راځي.

**(۲)** فقهاؤ ذکر کړې دي چه پلار چه د ولد په هبه کښې رجوع کوي نو ددے یو څو شرطونه دي: **(اول شرط)** هبه به د بچي په ملکیت کښې باقي پاتے وي. ځکه که د هغۀ د ملکیت نه په بیع یا هبې یا وقف یا میراث یا ددے پشان په نورو تصرفاتو سره وتلے وه، نو په دے صورتونو کښې پلار په خپله هبه کښې د رجوع حق نۀ لري، ځکه په دے سره د هغه بل تن حق باطلیږي. **(دویم شرط)** په دے هبې پورې به د بل چا حق متعلق شوے نۀ وي، لکه دغه هبه ځوي رهن کړے وي، یا ځوي مفلس شوے وي او په دۀ حَجر لګیدلے وي. خو که رهن ختم شو او ددۀ نه حجر پورته شو نو بیا رجوع کولے شي. **(دریم شرط)** پلار خپله د رجوع حق په الفاظو کښې ساقط کړي، لکه پلار ووائي: زۀ تاته دا کور یا دا ګاړې موټر هدیه درکوم خو دا درنه بیا نۀ اخلم. نو په دے صورت کښې هم پلار دا نشي اخستے ځکه [اَلْمُسْلِمُوْنَ عَلٰى شُرُوْطِهِمْ]

[المنتقى للباجى: ٦/١١٧، روضة الطالبين: ٥/٢٨٠، المغنى: ٨/٢٦٤، الاختيارات، ص: ١٨٦]

**(۳)** په دے حدیث کښې پلار ذکر شوے، نو آیا مور په خپله هبه او هدیه کښې رجوع کولے شي او که نۀ؟ **یو قول** دادے چه مور هم د پلار پشان ده، ځکه دا هم په [فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْدِلُوْا بَيْنَ أَوْلَادِكُمْ] کښې داخله ده. **دویم قول** دادے چه مور رجوع نشي کولے ځکه پلار په دے وجه رجوع کولے شي چه هغه د ځوي په مال کښې د ملکیت حق لري او مور داسے نۀ ده. دارنګه پلار په ځوي باندے ولایت لري او په میراث کښې ټول مال اوړي، او مور داسے نۀ ده. [روضة الطالبين: ٥/٣٧٩؛ المغنى: ٨/٢٦٢، نيل الأوطار: ٦/١٣]

ښو راجح قول اولنئ دے ځکه د هغے دليل قوي دے۔ والله تعالیٰ اعلم۔

**درجة الحديث**: [صحيح] أبوداود: ۳۵۳۹، ترمذي: ۲۱۳۲، نسائي: ٦/۲٦۷، ابن ماجه: ۲۳۷۷، احمد: ۲/۲۷، ابن حبان: ۵۱۲۳، دارقطني: ۳/٤۲، حاكم: ۲/٤٦.

## تحفه كښې رجوع كول د مروّت او سړيتوب خلاف دي

3021( 6 ) - وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ وَابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ: "**لَا يَحِلُّ لِلرَّجُلِ أَنْ يُعْطِيَ عَطِيَّةً ثُمَّ يَرْجِعُ فِيهَا إِلَّا الْوَالِدَ فِيمَا يُعْطِيْ وَلَدَهُ، وَمَثَلُ الَّذِيْ يُعْطِي الْعَطِيَّةَ ثُمَّ يَرْجِعُ فِيهَا كَمَثَلِ الْكَلْبِ أَكَلَ، حَتّٰى إِذَا شَبِعَ قَاءَ ثُمَّ عَادَ فِيْ قَيْئِهِ**". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَصَحَّحَهُ التِّرْمِذِيُّ

**ترجمه**: او ابن عمر او ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دے چه نبي كريم ﷺ وفرمايل: هيڅ يو سړي دپاره جائز نهٔ دي چه هغه چاله څهٔ شے وركړي او بيائے ترے واپس واخلي، سوئ د پلار نه چه هغهٔ دپاره جائز دي چه خپل ځوئے ته څهٔ شے وركړے وي، (د هغهٔ نه ئے واپس واخلي)۔ او د هغه سړي مثال چه چاله يو شے وركړي او بيا ئے ترے واپس اخلي، د هغه سپي پشان دے چه خوراك وكړي ترديے چه كله موړ شي نو اُلتئ وكړي او بيا د هغے ځتهلو ته راواپس شي)۔ (ابوداودؒ، ترمذيؒ، نسائيؒ، ابن ماجهؒ روايت كړے او ترمذيؒ ورته صحيح وئيلي)۔

**تشريح**: د فقه په بعض كتابونو كښې ئے اُوه شرطونه بيان كړي چه په هغے كښې په هبه كښې رجوع جائز نهٔ ده، چه د هغے مجموعه (دمع خزق هـ) ده۔ (۱) دال كښې اشاره ده چه كله په هبه كښې زيادتِ متصله وشي، يعني يو شے ورسره زيات كړے شي يا پكښې يو شے ملاؤ كړے شي، نو د داسے هبے واپسي درست نهٔ ده۔ لكه يو تن چا ته زمكه وركړي چه په هغے كښې عمارت او ونه وغيره نهٔ وي نو هغه پكښې كور جوړ كړي يا ونے ولګوي۔ (۲) ميم كښې د واهب يا موهوب لَه موت (مرګ) ته اشاره ده چه يو تن پكښې مړ شي نو هبه كښې رجوع جائز نهٔ ده۔ (۳) ع كښې اشاره ده هبه بالعوض ته، يعني يو تن خپل يو شے د يو شي په عوض كښې هبه كړي نو واهب دپاره د خپلے دے هبے واپس كول جائز نهٔ دي۔ (٤) خ كښې خروج ته اشاره ده يعني كه هبه شوے شے د موهوب لَهٔ د ملكيت نه وتلے وي پدے طريقه چه هغهٔ خرڅ كړے وي يا ئے بل ته ډالئ

ورکړے وی نو پدے صورت کښې واهب موهوب لَهٗ نه ددے شی تقاضا نشی کولے۔
(۵) ز کښې اشاره ده زوجین ته، یعنی ښځه او خاوند یو بل ته هبه کړے شے واپس نشی اخستے۔ (٦) ق کښې قرابت (رشته داری) ته اشاره ده، او قرابت هغه چه په هغې کښې محرمیت وی یعنی که یو پلار خپل ځوی ته یا یو ځوی خپل پلار ته، یا مور ته یا نیکهٔ یا نیا ته یا ورور یا خور ته یو شے هبه کړی نو ددے هیے واپس اخستل د هغهٔ دپاره جائز نهٔ دی۔ (لیکن پدے کښې د پلار خبره تیك نهٔ ده، ددے نه پلار ددے حدیث د وجه نه مستثنیٰ دے) (۷) او هـ کښې اشاره ده چه موهوب (هبه شوے شے) هلاك شی نو واهب هغه بیرته نشی اخستے۔
امام ابوحنیفهٔ پکښې نور ذوی رحم (خپلوان) نهٔ دی داخل کړی، نو د هغوی نه هبه واپس اخستو په جواز باندے قائل دے۔ (المفهم) لیکن د دلیل د مخالف کیدو په وجه ئے قول ضعیف دے۔ دلته ئے وویل چه هبه کښې رجوع کول حلال نهٔ دی مګر بیا هم احنافو ددے حدیث مخالفه فتویٰ ورکړیده۔
**درجة الحديث** :[صحیح] ابوداود: ٣٥٣٩، ترمذی: ١٢٩٩، و٢١٣٢، نسائی: ٦/٢٦٥، دارقطني: ٢٣٧٧، وصححه الترمذی وابن حبان: ٥١٢٣ والحاكم: ٢/٤٦.

## د تحفې په بدله کښې تحفه ورکول

3022 (7) – وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ: أَنَّ أَعْرَابِيًّا أَهْدَى لِرَسُولِ اللَّهِ ﷺ بَكْرَةً فَعَوَّضَهُ مِنْهَا سِتَّ بَكَرَاتٍ فَتَسَخَّطَ فَبَلَغَ ذَلِكَ النَّبِيَّ ﷺ فَحَمِدَ اللَّهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ: " **إِنَّ فُلَانًا أَهْدَى إِلَيَّ نَاقَةً فَعَوَّضْتُهُ مِنْهَا سِتَّ بَكَرَاتٍ فَظَلَّ سَاخِطًا لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ لَا أَقْبَلَ هَدِيَّةً إِلَّا مِنْ قُرَشِيٍّ أَوْ أَنْصَارِيٍّ أَوْ ثَقَفِيٍّ أَوْ دَوْسِيٍّ**". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ

**ترجمه** : ابوهریره ﷺ نه روایت دے چه د باندیے وسیدونکی یو شخص رسول الله ﷺ ته یوه ځوانه اُوښه تحفه کښې ورکړه، نو نبی کریم ﷺ هغهٔ ته د هغې په عوض کښې شپږ ځوانې اُوښې ورکړے نو باندیے والا بیا هم خوشحاله نشو۔ (چه دا کم دی) نو دا خبره نبی کریم ﷺ ته ورسیده نو د الله تعالیٰ حمد او د هغهٔ ثناء صفت ئے وکړو (لکه د نبی کریم ﷺ عادت مبارکه وو چه کله به ئے خطبه کوله یا کومه خبره به ئے شروع کوله نو اول به ئے د الله تعالیٰ ثناء صفت کولو) بیا ئے وفرمایل: یقیناً فلانی ما ته یوه اُوښه په

تحفه کښې راکړه نو ما د هغې په بدله کښې هغهٔ ته شپږ ځوانې اوښانې ورکړې نو هغه بیا هم خوشحاله نشو، نو ما دا اراده کړیده چه زهٔ به هدیه نهٔ قبلوم مګر د قریشي، یا انصاري، یا ثقفي یا دوسي۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ، نسائیؒ)

**تشریح** : اَعْرَابِيًّا : دا شخص د بنو فزاره قبیلې نه وو۔ پدې حدیث کښې هم د تحفې یو بل قسم ذکر دے، هغه دا چه کله په هبه کښې مقصد عوض طلب کول وی، دیته هبه بالعوض وائي او معاوضه وائي۔ دا هم معاوضه ده چه په ټولو وجوهو سره د بیعې سره مشابه ده صرف په یوه وجه کښې ترې جدا ده، او هغه دا چه پدې کښې د عقد په وخت عوض معلوم نهٔ دے، او شریعت پدې کښې آسانيَ کړیده ځکه چه دا په مکارمه (سخاوت) باندې بناء وی نهٔ په بخل باندې، نو شریعت پکښې د عوض تعیین معاف کړو لکه په نکاحِ تفویض کښې ئې چه مهر معاف کړے۔ (المفهم)

او بعض مفسرین وائي : چه ددې په باره کښې دا آیت هم نازل دے : ﴿ وَمَا آتَيْتُمْ مِنْ رِبًا لِيَرْبُوَا فِي أَمْوَالِ النَّاسِ فَلَا يَرْبُوا عِنْدَ اللّٰهِ وَمَا آتَيْتُمْ مِنْ زَكَاةٍ تُرِيدُونَ وَجْهَ اللّٰهِ فَأُولٰئِكَ هُمُ الْمُضْعِفُونَ ﴾ [الروم:۳۹] ۔ (یعنی : تاسو چه کوم مال ورکوئ دې دپاره چه د خلکو په مالونو کښې زیاتے راشي (یعنی ستاسو مالونه زیات شي) نو دا د الله تعالیٰ په نیز نهٔ زیاتیږي۔ (یعنی دا ښهٔ کار نهٔ دے او پدې باندې ثواب نهٔ ملاویږي)

اِلَّا مِنْ قُرَشِيٍّ : رسول الله ﷺ ته ددې کسانو عالي همت او د نفس سخاوت حالت معلوم وو چه دوئ په نیك نیت سره تحفې راوړي او که عوض ورنکړې شي هم نهٔ خفه کیږي۔

ددې روایت نه معلومیږي چه د هبې او تحفې بدله ورکول پکار دي ځکه چه رسول الله ﷺ به د تحفې بدله ورکوله۔ او دا د نبي ﷺ خوش اخلاقي وه چه خلکو ته به ئې د هغوی د تحفو نه زیات ورکول۔

**درجة الحدیث** :[صحیح لغیره] ابوداود : ۳۵۳۷، ترمذی : ۳۹٤٥، ۳۹٤٦ فی آخر جامعه، احمد : ۷۹۱۸، نسائی : ۳۷۵۹، الصحیحة : ۱٦۸٤]۔

## که د تحفې بدله نهٔ وی نو د هغهٔ صفت کول پکار دي

3023 (8) – وَعَنْ جَابِرٍ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ : " مَنْ أُعْطِيَ عَطَاءً فَوَجَدَ فَلْيَجْزِ بِهِ وَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَلْيُثْنِ فَإِنَّ مَنْ أَثْنٰى فَقَدْ شَكَرَ وَمَنْ كَتَمَ فَقَدْ كَفَرَ وَمَنْ تَحَلّٰى بِمَا لَمْ يُعْطَ

كَانَ كَلَابِسِ ثَوْبَيْ زُوْرٍ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ

**ترجمه** : او جابر ﷺ د نبی کریم ﷺ ارشاد نقل کوی : چا ته چه (د هدیه په توګه) څه شئ ورکړے شو او هغه د هغې بدله مومی نو په هغې سره دِے بدله ورکړی، او څوك چه څه نهٔ مومی نو هغه دِے (د هدیه ورکونکی) صفت وکړی (او د هغهٔ د ورکړے شوے هدیه اظهار دِے وکړی) ځکه چه چا د (خپل مُحسن) صفت وکړو نو ګویا کښے هغهٔ شکر وکړو (یعنی فی الجمله د هغې بدله ئے ورکړه) او چا چه (احسان) پټ کړو، (یعنی نهٔ ئے بدله ورکړه او نهٔ ئے د هغهٔ صفت وکړو) نو دهٔ (د نعمت) ناشکری وکړه، او چا چه په هغه څه سره ځان ښائسته ښکاره کړو چه دهٔ ته نهٔ وو ورکړے شوے، نو دے د دروغو دوه جامو اغوستونکی په شان دے۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ)

**تشریح** : فَوَجَدَ : یعنی مال ئے موندو د بدلے ورکولو دپاره، یا قدرت ئے وموندو چه بدله او عوض ورکړی۔ نو هغه به عوض ورکوی ځکه چه د احسان بدله احسان وی۔ البته که د بدلے څه مال نهٔ مومی نو بیا دِے د احسان کونکی صفت وکړی او هغهٔ ته دِے دعا وکړی چه الله تعالیٰ دِے تا ته خیر درکړی تا ما سره دا احسان وکړو۔ بیا که څوك بدله هم مومی او د احسان بدله کښے احسان کوی نو هم د احسان کونکی شکریه او د هغهٔ صفت کول او هغهٔ ته دعا کول پکار دی البته که عوض نهٔ مومی نو بیا کم از کم دعاء او شکریه کول خو ضروری دی۔ او دلته ئے د احسان کونکی صفت کولو ته د شکر نوم ورکړو ځکه چه صفت کول د شکر کولو یو شاخ دے۔ ځکه چه د شکر معنیٰ ده : "په زړهٔ کښے محبت ساتل، په ژبه صفت کول او په لاس خپو باندے خدمت کول"۔

وَمَنْ كَتَمَ فَقَدْ كَفَرَ : د نعمت پټولو ته ئے کفر (یعنی ناشکری) ووئیله۔ بیا خلکو ته دا خبر ورکول چه دهٔ ته د فلانی نه فلانے فلانے شے حاصل شو، او فلانی ما ته داسے تحفه راکړه نو که په دے کښے مصلحت او فائده وه نو دا کول پکار دی او که په دے کښے مصلحت او فائده نهٔ وه، یا تحفه ورکونکے د هغهٔ نه د دے خبرے اراده نهٔ لری چه دا احسان چا ته یاد کړے شی نو بیا ئے پټول پکار دی۔ لیکن په دے نعمت او احسان سره به بیا هم د هغهٔ شکریه او د هغهٔ صفتونه کوی۔

وَمَنْ تَحَلّٰى بِمَا لَمْ يُعْطَ كَانَ كَلَابِسِ ثَوْبَيْ زُوْرٍ : یعنی څوك چه خپل یو دینی یا دنیاوی کمال او صفت راښکاره کړی چه په حقیقت کښے په هغهٔ کښے نهٔ وی نو هغه د دروغو

دوه کپړے اغوستونکی په شان دے۔ ددے نه مراد هغه شخص دے چه د علماء او صلحاؤ لباس اغوستو سره خپل ځان عالم او صالح ښکاره کوی حال دا چه په واقع کښے هغه نهٔ عالم وی او نهٔ صالح۔ او ددے مطلب دا هم دے چه دے د دروغو دوه کپړے اغوستونکی پشان دے ځکه چه یو خو ددهٔ سره دغه کمال نشته دائے دروغ، دویم ددے کمال نسبت ئے ځان ته وکړو۔ او دعوه ئے وکړه چه دا کمال په ما کښے شته۔

بعضو وئیلی دی چه دے نه مراد هغه شخص دے چه یو داسے قمیص ئے اغوستے وی چه د هغے د دواړو لوستونړو نه لاندے نور دوه لوستونړی وی دے دپاره چه لیدونکے دا معلومه کړی چه دهٔ دوه قمیصونه اغوستی دی۔

او بعضو وئیلی دی چه په عربو کښے یو شخص وو چه انتهائی قیمتی دوه کپړے ئے اغوستے وے دے دپاره چه خلك ئے عزت دار او با حیثیت وګنړی او کله چه هغه د دروغو ګواهی ورکوی نو د هغهٔ ظاهری جامے ته په کتو سره خلك هغه دروغجن ونهٔ ګنړی، نبی ﷺ د همدغه شخص سره د هغه چا تشبیه ورکړه چه خپل ځان کښے هغه کمال راښکاره کړی چه په هغهٔ کښے د هغهٔ نوم او نشان هم نهٔ وی۔ دا جمله په بل حدیث کښے بیا په کتاب النکاح کښے راروان راځی هلته ئے نور تفصیل وګوره۔ ددے مثال هغه زنانه ده چه د خپلے بنے د خفه کولو دپاره خپل ځان د خاوند نه مور ښکاره کوی۔

**درجة الحديث** :[حسن او صحيح] الترمذى : ۲۰۳٤ ابو يعلى : ۲۱۳۷، كبرى البيهقى : ۱۲۳۸۹، الادب المفرد : ۲۱٤، واخرجه ابوداود (۴۸۱۵) الى قوله : (فقد كفره) مدار السند شرحبيل بن سعد وهو يكاد يتفق على تضعيفه فلم يوثقه غير ابن حبان وشيخه ابن خزيمة، نعم للحديث طرق اخرى عن جابر يتقوى بها- الصحيحة : ۲/۱۱٦/٦۱۷].

## تحفه ورکونکی ته جزاك الله خیراً وئیل پکار دی

3024( 9 ) – وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : " مَنْ صُنِعَ إِلَيْهِ مَعْرُوْفٌ فَقَالَ لِفَاعِلِهِ : جَزَاكَ اللّٰهُ خَيْرًا فَقَدْ أَبْلَغَ فِي الثَّنَاءِ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

**ترجمه** : اسامه بن زید ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : چا سره چه احسان وکړے شی او هغه احسان کونکی ته (داسے) ووائی : جزاك الله خیرا۔ (الله تعالیٰ دِے تا له جزائے خیر درکړی) نو دهٔ په صفت کولو کښے پوره والے وکړو۔ (ترمذیؒ)

**تشریح :** یعنی چا سره چه یو احسان وکړے شی او هغهٔ سره بله ظاهری بدله نهٔ وی او هغهٔ احسان کونکی ته جزاك الله خیرًا الفاظ ووئیل نو دهٔ د هغهٔ پوره مدح او صفت وکړو چه پدے سره د هغهٔ د نعمت شکریه ادا کیږی، ددے وجه دا ده چه دهٔ د هغهٔ د بدلے ادا کولو په حق کښے د خپلے کوتاهئ اقرار وکړو او ددهٔ بدله ئے الله تعالیٰ ته وسپارله چه ما خو ستا بدله ادا نکړے شوه مګر الله تعالیٰ دِے تا ته ددے ښکلے بدله درکړی، او ظاهره خبره ده چه د الله تعالیٰ د اجر او بدلے نه د چا بدله بهتره کیدے شی۔

**درجة الحدیث :**[صحیح] الترمذی : ۲۰۳۵، وقال حسن. لکنه صحیح، مسند البزار : ۲۶۰۱، نسائي : ۹۹۳۷، وله شاهد من حدیث ابی هریرة رواه الطبرانی فی الصغیر.

## د انسان شکر نهٔ اداکو نکے د الله هم شکر نهٔ شی ادا کولے

3025 (10) – وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ :" مَنْ لَمْ يَشْكُرِ النَّاسَ لَمْ يَشْكُرِ اللّٰهَ ". رَوَاهُ أَحْمَد وَالتِّرْمِذِيُّ

**ترجمه :** او ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : چا چه د انسانانو (د احساناتو) شکر ونکړو نو دهٔ د الله تعالیٰ شکر هم ونکړو۔ (احمدؒ، ترمذیؒ)

**تشریح :** یعنی الله تعالیٰ د شکر ادا کولو دپاره دا خبره ضروری کړے چه په کومو نعمتونو کښے بندګان واسطه او وسیله جوړه شوے وی د هغے شکریه ادا کړے شی۔ یا مطلب دا دے چه چا د خپل محسن شکریه ادا نهٔ کړه او د هغهٔ احسانات ئے هیر کړل نو دهٔ د الله تعالیٰ د نعمتونو ناشکری وکړه۔ بل مطلب دا هم دے چه د بندګانو نعمتونه او احسانات محدود او کم دی نو هرکله چه یو تن د بندګانو د کمو نعمتونو شکریه نهٔ ادا کوی نو د الله تعالیٰ د لا محدودو نعمتونو شکریه به څنګه ادا کړی۔ دے نه معلومه شوه چه په بندګانو کښے تا سره څوك احسان وکړی نو د هغوی شکریه ادا کول هم ضروری دی، دا هم د الله تعالیٰ د نعمت شکر ادا کول دی۔ چا چه د بنده شکریه ادا نکړه هغه د الله تعالیٰ شکریه هم نشی ادا کولے، د هغهٔ مزاج د ناشکرئ دے۔

او پدے کښے شکر د والدینو، د علماؤ، د حکامو صالحینو، د خادمانو، د ښځے د خاوند او د خاوند د ښځے او نورو محسنینو داخل شو۔

**درجة الحدیث :**[صحیح لغیره] الترمذی : ۱۹۵۵، احمد : ۷۴۹۵، ابو یعلی : ۱۱۲۲،

المعجم الکبیر للطبرانی : ۲٤۳۸، والصحیحة : ٤١٧]

## د نعمت د شکر ادا کولو اهمیت

3026 (11) - وَعَنْ أَنَسٍ ﷺ قَالَ : لَمَّا قَدِمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ الْمَدِيْنَةَ أَتَاهُ الْمُهَاجِرُوْنَ فَقَالُوْا : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَا رَأَيْنَا قَوْمًا أَبْذَلَ مِنْ كَثِيْرٍ وَلَا أَحْسَنَ مُوَاسَاةً مِنْ قَلِيْلٍ مِنْ قَوْمٍ نَزَلْنَا بَيْنَ أَظْهُرِهِمْ : لَقَدْ كَفَوْنَا الْمُؤْنَةَ وَأَشْرَكُوْنَا فِي الْمَهْنَاِ حَتّٰى لَقَدْ خِفْنَا أَنْ يَّذْهَبُوْا بِالْأَجْرِ كُلِّهِ فَقَالَ : " **لَا مَا دَعَوْتُمُ اللّٰهَ لَهُمْ وَأَثْنَيْتُمْ عَلَيْهِمْ** ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَصَحَّحَهُ

**ترجمه** : او انس ﷺ فرمائي : هرکله چه رسول الله ﷺ مدينے ته راغلو نو (يوه ورځ) مهاجرين ورته راغلل عرض ئے وکړو : اے د الله رسوله ! مونږ داسے څه قوم نۀ دے ليدلے چه هغوی په زياته مالدارئ کښے زيات خرچ کونکی او په کمه مالدارئ کښے زيات خدمت او مدد کولو کښے په صفت کښے د هغه قوم نه زيات بهتر وی کوم قوم په مينځ کښے چه مونږ (راغلی) نازل شوی يو۔ (يعنی انصار) دوئ زمونږ د محنت په ځائے کافی شول او مونږه ئے په ټول منفعت کښے شريك کړو تردے چه مونږ يريږو چه دوئ به ټول اجرونه ويسی، نبی کريم ﷺ وفرمايل : نه (ټول ثوابونه به د هغوی په برخه کښے نۀ راځی) ترڅو چه تاسو هغوی دپاره د الله تعالیٰ نه دعا غواړئ، او د هغوی صفتونه کوئ۔ (ترمذیؒ نقل کړے او ديته ئے صحيح وئيلے) ۔

**تشريح** : [أَبْذَلَ مِنْ كَثِيْرٍ] : يعنی د ډير مال نه ډيره خرچه کونکی۔ (يعنی کله چه ورسره مال زيات وی نو زياته خرچه کوی) [وَلَا أَحْسَنَ مُوَاسَاةً مِنْ قَلِيْلٍ] : ښائسته همدردی کونکی د کم مال نه۔ (يعنی چه مال ورسره کم وی بيا هم ډيره ښه همدردی او ښائسته مدد کوی۔ مُوَاسَاة : همدردی او مدد ته وائی۔ [الْمَهْنَأ] : فائدو ته او هغه شی ته وائی چه ژوند ورسره برابريږی۔ يا هغه شی ته وائی چه تا ته بغير د تکليف نه حاصليږی۔

هرکله چه رسول الله ﷺ سره د مکے نه مدينے ته مهاجرينو هجرت وکړو نو دلته د مدينے انصارو د هغوی سره داسے سلوك او احسان او د ايثار او ورور ولئ جذبه او سخاوت اظهار وکړو چه تاريخ د هغے مثال نشی پيش کولے، نو مهاجرينو دا خبره رسول الله ﷺ ته عرض کړه چه اے د الله رسوله ! مونږ داسے ښکلے همدردئ والا قوم او ډير

مالونه خرچ كونكى بل هيڅ قوم نۀ دے ليدلے، چه مونږه ئے په خپلو باغونو ميوه جاتو او فصلونو كښې هم شريك كړو او مونږه ئے د محنت او خوارئ نه هم بچ كړو نو زمونږ سره دا خطره ده چه ټول اجرونه خو دوئ يوړل. نبى ﷺ وفرمايل : داسے نۀ ده، د الله تعالىٰ فضل او رحمت فراخه دے، د هغۀ سره د اجر هيڅ كمے نشته، ترڅو چه تاسو د هغوى دپاره دعاګانے غواړئ او د هغوى صفتونه كوئ نو تاسو ته هم الله تعالىٰ اجر دركوى. ځكه چه دا دعا كول به د هغوى د احسان په بدله كښې وى. دا حديث د عمل دپاره ډير مهم دے.

دارنګه تاسو ته به الله تعالىٰ ستاسو د عباداتو اجر دركوى او انصارو ته به د هغوئ د مددګارئ او د ايثار او د سخاوت اجر وركوى.

**درجة الحديث** : [صحيح] الترمذى : ٢٤٨٧، ابوداود : ٤٨١٤، بيهقى : ١٢٣٩٣، الادب المفرد : ٢١٧، شعب الايمان : ٨٦٨٥.

## يو بل ته تحفے وركولو سره كينه او دشمنى ختميږى

3027( 12 ) - وَعَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ : " تَهَادَوْا فَإِنَّ الْهَدِيَّةَ تُذْهِبُ الضَّغَائِنَ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

**ترجمه** : او عائشه رضى الله عنها د نبى كريم ﷺ ارشاد نقل كوى فرمائى : يو بل كره هديه وړئ (ځكه چه) دا كينے ختموى. (ترمذیؒ)

**تشريح** : [تَهَادَوْا] د دال په زور سره دے. د مهاداة نه، يو بل ته هديه وركول او ليږل. [الضَّغَائِنَ] جمع د ضَغِيْنَةٌ ده، كينے او بغض ته وائى. مطلب دا دے چه خپل مينځ كښې د تحفے لين دين بغض او دشمنى ختموى او الفت او محبت پيدا كوى. د مال په وجه د زړونو نه كينه اُوځى.

**درجة الحديث** :[ضعيف] لم يروه الترمذى من حديث عائشة بهذا اللفظ و انما رواه من حديث ابى هريرة بلفظ آخر نحوه وهو المذكور فى الكتاب بعده. وانما رواه عن عائشة باللفظ المذكور يوسف بن عمر القواس فى حديثه (ق ٢١٠) والخطيب فى تاريخ بغداد (٨٨٤) والقضاعى فى مسند الشهاب (ق١٥٦) وفيه ابو يوسف الأعشى واسمه يعقوب قال الازدى : كذاب رجل سوء.

## د معمولي شي تحفه ورکول او اخستل سپك مهٔ ګڼره

3028 (13) - وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: " تَهَادَوْا فَإِنَّ الْهَدِيَّةَ تُذْهِبُ وَحَرَ الصَّدْرِ وَلَا تَحْقِرَنَّ جَارَةٌ لِجَارَتِهَا وَلَوْ شِقَّ فِرْسِنِ شَاةٍ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

**ترجمه**: ابو هريره ﷺ د نبي كريم ﷺ ارشاد نقل كوي فرمائي: يو بل كره هديه ليږئ ځكه چه هديه د سينے كينه او غصه ختموي، او هيڅ ګاونډئ دِے خپلے ګاونډئ دپاره (هيڅ شے) سپك نهٔ ګڼرى، اګركه د ګډے خنګرے وى. (ترمذيؒ)

**تشريح**: [وَحَرَ] د واو او حاء زور دے، خيانت او وسوسے ته وائي. بعض وائي: كينے او غصے ته، بعض وائي: دشمنئ ته، او بعض وائي: سختے غصے ته وائي. (نهايه)

مطلب دا دے چه هيڅ يو ګاڼدئ دِے د ګاونډئ دپاره معمولي شے او معمولي تحفه سپكه نهٔ ګڼرى بلكه هر شے دِے ليږى اګركه هر څومره معمولي وى. دغه شان كومے ګاونډئ ته چه څه راوليږلے شى اګركه معمولي وى هغه دِے هم سپكه نهٔ ګڼرى بلكه هغه دِے په ډيره مينه او محبت سره قبوله كړى.

[جَارَةٌ] ګاونډئ، او ښځے ته هم وئيل كيږى. [لِجَارَتِهَا] دلته تقدير دے: أَيْ هَدِيَّةً مُهْدَاةً لِجَارَتِهَا (خپلے ګاونډئ ته هديه وركول دِے سپك نهٔ ګڼرى) او دا نهى هديه ليږونكى سره هم لګى چه هغه كومه هديه خپلے ګاونډئ ته وركوى نو سپكه دے ئے نهٔ ګڼرى چه د حقير ګڼرلو په وجه ئے نهٔ ليږى. او هديه كړے شوے ګاونډئ سره هم لګى چه هغے ته چه كومه هديه ملاويږى نو هغه دے دا سپكه نهٔ ګڼرى اګركه معمولي شے وى ځكه اصل غرض مينه محبت دے. او زنانه ئے ذكر كړه اشاره ده چه دا بد صفت په زنانو كښے زيات دے.

[شِقَّ فِرْسِنِ شَاةٍ] شق: د شين زير دے، نيمائى يا بعض حصے ته وائي. او فرسن: د فاء په زير، د راء په سكون او د سين په زير سره: د ګډے بزے سُم (خنګرى) ته وائي يعنى هغه وړوكے شان هډوكے چه بيخى لږه غوښه وريوے وى. او په دے كښے غرض مبالغه ده چه بيخى لږ شے دے هم سپك نهٔ ګڼرى او حقيقةً ښنګرے وركول نهٔ دى مراد، ځكه په عرف كښے څوك دا شے چاته نهٔ هديه كوى.

**فوائد**: (۱) حديث نه ثابته شوه چه خپلو كښے د ګاونډيانو ترمينځه هديه ليږل

مستحب دی ځکه د ګاونډیانو ترمینځه د ماشومانو یا د ګاونډ د نورو خبرو په وجه یو د بل سره خفګان او تکلیف راتلې شی، او په هدیه لیږلو سره الفت او نزدیکت حاصلیږی او وحشت او لرې والے ختمیږی۔ بله دا چه کوم ګاونډی د بل ګاونډی په هدیه کښې خیال ساتی نو هغهٔ ته د ضرر ورکولو نه هم ځان ساتی۔(۲) هدیه اګرکه لږه وی خو قبلول ئې پکار دی ځکه په دې سره مینه محبت زیاتیږی او بغض او دشمنی ختمیږی۔ او هدیه چه کله کمه وی نو هدیه لیږونکی ته آسانه وی ځکه په دې کښې تکلف نهٔ وی او په زیات محبت باندې دلالت کوی۔ او مُهدیٰ الیه له پکار دی چه هدیه سپکه ونه ګڼړی ځکه کمه هدیه د نشت نه خو ښه ده، ددې کم ګڼړل ددې د قطع کیدو سبب ګرځی او کله چه کم شے پرله پسې وی نو هغه زیاتیدې هم شی، او په هدیه کښې خو ځوك یادول اصل مقصد وی۔ بله دا چه : په هدیه قبلولو کښې – اګرکه لږه ولې نهٔ وی– د نبی کریم ﷺ اقتداء پرته ده، هغویٔ فرمایلی دی : ((که چرې ماته یوه لیچه یا پانچه هم په هدیه کښې راکړې شی نو زهٔ ئې قبلولم))۔ او لږه هدیه آسانه او بلا تکلفه وی۔

(۳) که په کور کښې د زنانه خپل واك وی او مال ئې خپل وی نو بیا هر څومره شے په هدیه کښې ورکولې شی لږ وی که ډیر ځکه چه دا ئې خپل مال دې۔ خوکه ددې په سر باندې پلار یا خاوند وو نو بیا به صرف د عرف او عادت مطابق شے هدیه کوی لکه لږ شان خوراکه یا میوه، کهجورې وغیره۔ او په دې وخت کښې د پلار یا خاوند نه اجازت غوښتل ضروری نهٔ دی۔ خوکه هغه ئې ددې نه منع کړی یا هغې ته پته وی چه دا بخیل دې نو بیا به د هغهٔ د اجازت نه بغیر دغه اندازه هدیه هم نهٔ ورکوی، ځکه چه مال د هغهٔ دې۔ لکه ددې تشریح کتاب الزکاة کښې تیره شویده۔

(٤) د حالاتو مناسب په خبره کښې مبالغه کول هم جائز دی، وجه داده چه دلته د ګډې بڑې ښنګرې هدیه کول ذکر شوی حالانکه په عُرف کښې څوك د ګډې بزې ښنګرې نهٔ هدیه کوی، خو دا بطور مبالغه ذکر شوې او مقصد په دې کښې هدیئې طرفته ترغیب دې اګرکه ډیر معمولی شے ولې نهٔ وی خو هغه هدیه کول او د هغې قبلول پکار دی، رد کول ئې مناسب نهٔ دی۔ والله تعالیٰ اعلم۔

**درجة الحديث** :[صحيح بلفظ تهادوا تحابوا (بخاری) ] الترمذی : ۲۱۳۰، وسنده ضعيف، لكن الشطر الثانی منه صحيح، اخرجه الشيخان (بخاری : ۲۵٦٦) ومسلم (۲٤۲٦) من حديث ابی

هريرة، وقد ثبت الشطر الاول بلفظ : تَهَادَوْا تَحَابُّوا۔ الادب المفرد : (٥٩٤) صحيح.

## د درے څیزونو واپس کول جائز نهٔ دی

3029 (14) – وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ : " **ثَلَاثٌ لَا تُرَدُّ : اَلْوَسَائِدُ وَالدُّهْنُ وَاللَّبَنُ** ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ : هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ قِيلَ : أَرَادَ بِالدُّهْنِ الطِّيبَ .

**ترجمه** : او ابن عمر ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : درے څیزونه (داسے) دی چه هغه به نشی رد کولے (۱) تکیه ګانے۔ (۲) تیل۔ (۳) او پئ۔ (ترمذیؒ وئیلی دی چه دا حدیث غریب دے، وئیلے شوی چه تیلو نه مراد خوشبوئی ده۔

**تشریح** : [اَلْوَسَائِدُ] جمع د وِسَادَةٌ ده، بالښت ته وائی۔

وَالدُّهْنُ : د دهن نه مراد تیل دی، او بعض اهل علم وائی چه هر قسم خوشبوئی ده چه د بوټو په شکل کنبے وی او که د عطرو په شکل کنبے۔ مګر صحیح دا ده چه تیل او خوشبو جدا جدا څیزونه دی او دواړو کنبے حدیث راغلے دے۔ کما تقدم۔

وَاللَّبَنُ : نه مراد پئ (شودهٔ) دی،

مطلب دا دے چه که څوك چا ته د تواضع په طور تکیه ورکړی یا تیل ورکړی یا خوشبوئی، یا د څکلو دپاره پئ ورکړی نو میلمه له دا مناسب نهٔ دی چه د هغے د قبلولو نه انکار وکړی، څکه چه ددے مشقت کم دے او فائده ئے زیاته ده۔ او پدے سره مینه محبت پیدا کیږی۔

**درجة الحديث** : [حسن] الترمذی : ۲۷۹۰، شرح السنة : ۳۱۷۳، صحیح الجامع : ۳۰٤٦ والصحیحة : ٦١٩]

## د خوشبودار ګل تحفه مهٔ واپس کوه

3030 ( 15 ) – وَعَنْ أَبِي عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ : " **إِذَا أُعْطِيَ أَحَدُكُمُ الرَّيْحَانَ فَلَا يَرُدُّهُ فَإِنَّهُ خَرَجَ مِنَ الْجَنَّةِ** ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ مُرْسَلًا

**ترجمه** : او ابو عثمان نهدیؒ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : هرکله چه ستاسو یو تن ته خوشبویه ګل ورکړے شی نو هغهٔ دِے نهٔ رد کوی، څکه چه دا د جنت نه راوتلے دے۔ (ترمذیؒ په طریقه د ارسال سره نقل کړے)

ابوعثمان المهدیؒ : دهٔ د رسول الله ﷺ زمانه لاندے کړے لیکن د رسول الله ﷺ نه ئے آوریدل نهٔ دی کړی۔

**تشریح** : [الرَّيْحَان] دے نه مراد یا خو هر هغه شے او ګل دے چه بنائسته خوشبوئی لری، یا ددے نه خاص بوټے یعنی کشمالے مراد دے۔ [فلا يرده] یعنی دهٔ له پکار دی چه دا رد نکړی ځکه چه ددے قبلول محبت پیدا کوی، او مزاج تازه کوی، او دا قبلول په طریقه د استحباب دی۔ [مِنَ الْجَنَّةِ] مطلب دا دے چه د خوشبودار ګل فضیلت دا دے چه ددے جرړه د جنت نه راغلے ده، په جنت کښے هم دغه شان خوشبویانے دی، دا د هغے سره مشابه دے۔ یا په خپل ظاهر باندے دے، او کشمالے د جنت نه راوتے دے لیکن ددے نه د جنت هغه خواص زائل کړے شویدی چه هغه نهٔ بدلیدل، نهٔ مړاوے کیدل او خوشبوئی ئے نهٔ ختمیدل دی۔ (مناویؒ)۔

**درجة الحديث**: [ضعيف] الترمذی : ٢٧٩١، ٢٢١، عن ابی عثمان النهدی مرسلاً۔ وفيه حنان مجهول۔ الضعيفة : ٧٦٤]

## د اولاد ترمینځ عدل کول ضروری دی

### الفصل الثالث

3031 (16) - عَنْ جَابِرٍ ﷺ قَالَ : قَالَتِ امْرَأَةُ بَشِيرٍ ﷺ: اِنْحَلْ اِبْنِي غُلَامَكَ وَأَشْهِدْ لِيْ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ فَأَتٰى رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ فَقَالَ: إِنَّ ابْنَةَ فُلَانٍ سَأَلَتْنِيْ أَنْ أَنْحَلَ ابْنَهَا غُلَامِيْ وَقَالَتْ: أَشْهِدْ لِيْ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ فَقَالَ : " **أَلَهُ إِخْوَةٌ** ؟ " قَالَ : نَعَمْ قَالَ : " **أَفَكُلَّهُمْ أَعْطَيْتَهُمْ مِثْلَ مَا أَعْطَيْتَهُ** ؟ " قَالَ: لَا قَالَ : " **فَلَيْسَ يَصْلُحُ هٰذَا وَإِنِّيْ لَا أَشْهَدُ إِلَّا عَلٰى حَقٍّ** ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

**ترجمه** : جابر ﷺ فرمائی : د بشیر ﷺ بی بی (هغهٔ ته) وویل : تهٔ خپل غلام زما ځوی ته ورکړه، او ما دپاره (پدے باندے) رسول الله ﷺ ګواه جوړ کړه، نو بشیر ﷺ رسول الله ﷺ ته راغلو، عرض ئے وکړو : د فلانی لور (زما بی بی) ما نه غوښتنی چه زهٔ د هغے ځوی ته خپل غلام په تحفه کښے ورکړم، او وے وئیل : ما دپاره رسول الله ﷺ ګواه جوړ کړه، رسول الله ﷺ وفرمایل : آیا ددهٔ ورونه شته ؟ عرض ئے وکړو : آؤ، وے فرمایل: آیا دوئ ټولو ته تا هغه شان (غلام) ورکړے کوم چه تا دهٔ ته ورکړے ؟ عرض ئے وکړو : نه، وے فرمایل : دا کار جائز نهٔ دے، او یقیناً زهٔ صرف په حق باندے ګواهی کوم۔ (مسلمؒ)

**تشریح** : [اِنْحَلْ] دا د نِحْلَةٌ نه دے، تحفه او هدیه ورکولو ته وئیلے شي۔
[فَلَيْسَ يَصْلُحُ]۔ یعنی دا کار جائز نهٔ دے۔ (حق) نه مراد یا خو دا دے چه زهٔ صرف په هغه معامله کښے ګواه جوړیږم چه د شك او شبهے نه بغیر خالص حق او صحیح وي۔
یا دا چه نبي ﷺ په عمومي توګه باندے دا وفرمایل چه زهٔ په حق باندے ګواه جوړیږم په باطل باندے ګواه نهٔ جوړیږم۔ ددے حدیث تشریح او فوائد مخکښے ذکر شو۔

## د نوے میوے په وخت څه طریقه کول پکار دي؟

3032 (17) – وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ إِذَا أُتِيَ بِبَاكُوْرَةِ الْفَاكِهَةِ وَضَعَهَا عَلٰى عَيْنَيْهِ وَعَلٰى شَفَتَيْهِ وَقَالَ : " **اَللّٰهُمَّ كَمَا أَرَيْتَنَا أَوَّلَهُ فَأَرِنَا آخِرَهُ** " ثُمَّ يُعْطِيْهَا مَنْ يَكُوْنُ عِنْدَهُ مِنَ الصِّبْيَانِ . رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي الدَّعَوَاتِ الْكَبِيْرِ

**ترجمه** : او ابو هریره ﷺ فرمائي : ما رسول الله ﷺ ولیدو هرکله چه به پخه میوه راوړے شوه نو په خپلو دواړو سترګو او دواړو شونډو به ئے کیخوده او وبه ئے فرمایل : اے الله ! لکه څنګه چه تا مونږ ته ددے میوے اول راوخودو نو مونږ ته ددے آخر (هم) راوښایه۔ بیا به ئے دا هغه ماشومانو ته ورکړه چه ددهٔ خوا کښے به وو۔ (بیهقيؒ : دعوات کبیر)

**تشریح** : [بَاكُوْرَة] د هر شي اول ته وائي۔ دلته ترے اول سر د میوے دے۔ یعني تازه میوه۔ تازه میوه په سترګو باندے کیخودلو نه مقصد د الله تعالیٰ د هغه نعمت تعظیم او تکریم کول وو څکه چه دا د الله تعالیٰ د طرف نه اُوس اُوس راغلے۔ او چونکه د ماشومانو صبر کم وي او هغوي په داسے نوي میوه جاتو خوشحالیږي نو پدے وجه به رسول الله ﷺ دا اول کښے حاضرو ماشومانو ته ورکوله۔
[آخِرَهُ] که ددے تعلق د دنیا سره شي نو مقصد به دا وي چه زمونږ عمر اُوږد کړه چه داسے نور میوه جات هم اُووینو او که د آخرت سره متعلق شي، نو مقصد به دا وي چه لکه څنګه چه دنیا کښے دِے دا نعمت راکړو نو دغه شان په آخرت کښے هم راکړه۔ اوله معنیٰ ظاهره ده۔

**درجة الحدیث** :[صحیح بدون الدعاء] الدعوات الکبیر : ۴۶۲، ابن السني في عمل الیوم واللیلة : ۲۷۵، فیه عبد الرحمن بن یحیی بن سعید العذري، قال العقیلي ((مجهول)) وقال ابو احمد

الحاكم : لا يعتمد على روايته)) وقال المناوى فى التيسير بشرح الجامع الصغير : وبعض اسانيده صحيح، ولكن الشيخ الالبانى قال : صحيح بدون الدعاء، صحيح الجامع الصغير (٤٦٤٤).

## ١٨- بَابُ اللُّقَطَة

د لقطې (يعنې د غورزيدلې شوې شي د راپورته کولو) بيان

**د لقطې معنې او د هغې حکم او د هغې اقسام او احکام بيانيږي**

لُقَطَةٌ : د لام پيښ، د قاف او طاء زور، او د قاف سکون [لُقْطَةٌ] هم جائز دے، د زمکې نه راخستل شوے شے۔ دلته مراد هغه مال دے چه په لاره وغيره کښې وموندل شي او خاوند ئې معلوم نۀ وي۔ په لقطه کښې د خاوند نامعلوم والے ضروري دے، ولې که خاوند ئې معلوم وي نو بيا خو هغۀ ته واپس کول واجب دي۔

د **موندل** شوي شئ يو څو قِسمه دي : (۱) معمولي شے وي، که ورك شي نو درميانه طبقه خلك ئې تالاش نۀ کوي، لکه روټئ، کهجوره، مالټه، سيب، انار، رسئ، چابك، يو روپئ يا دوه روپئ، يا عام قلم او نور شيان۔ ددې حکم دا دے چه هرکله ئې يو انسان مونده کړي نو دا د هغۀ شو ترڅو چه مالك ئې معلوم نۀ وي، که مالك ئې معلوم وي بيا خو به ئې هغۀ ته سپاري۔ هان يو جمعه ساتل پکار دي کما يأتي۔

(۲) **حيوانات** : هغه ځاروي چه خپل ځان د ليوانو اودرنده ګانو (شرمخانو، ګيدړانو، زمريانو) نه ساتلې شي۔ لکه اُوښان شو نو ددې حکم روستو راځي چه دا به نۀ راخلي۔

(۳) ددې دواړو نه علاوه نور شيان، چه په دې کښې هر هغه شيان داخل دي چه خلك د هغې اهتمام کوي او د ورکيدو په وخت ئې تالاش کوي، لکه ډيرې روپئ، اشرفئ، سامانونه، قيمتي کتابونه، او سونا او چاندي او هغه ځاروي چه خپل ځان د درنده ګانو نه نشي ساتلې لکه ګډې بزې، جونګې، سخي وغيره۔ ددې حکم دا دے چه موندونکے به ئې يو کال پورې ددې تشهير کوي ترڅو چه مالك به ئې پيدا شي او هغۀ ته به ئې وسپاري که کال پس هم مالك پيدا نشو نو دا د موندونکي حق شو۔ او د تشهير ډير

شکلونه دي، په مجالسو کښې به ئې تذکره وکړي بغیر د تعیین نه، تهانه کښې به رپورټ درج کړي، اخبار کښې به ئې ورکړي.

دا بیا په دوه قسمه دي : (۱) یو هغه دي چه یو کال پورې ساتلو سره خرابیږي نو ددې حکم دا دې چه موندونکي به ئې خرڅ کړي او ددې رقم به وساتي او یو کال پورې به ئې اشتهار کوي. که کال کښې مالك پیدا شو صحیح ده، او که پیدا نشو نو دا د موندونکي شو. ددې مثال دا دې چه د آلوګانو یا نورو سبزي جاتو بورئ او کسوره موندۀ کړي نو ددې به اول کښې تشهیر وکړي بیا که خرابیدل نو دا به خرڅ کړي او رقم به ئې ځان سره محفوظ کړي تر یو کال پورې. (۲) دویم هغه دي چه کال پورې نۀ خرابیږي. نو حکم دا دې چه یو کال پورې به ئې وساتي بیا به ئې ځانله استعمال کړي.

په حیواناتو کښې بیا یو قسم دا هم دې چه انسان ته پته ولګي چه دا مالك قصداً پریخودي دي، او ددې نه یې رغبته شوید دې لکه یوه ګډه مزل نشي کولے، یا بیماره شوي وي، مالك د مزل نه ایساروي نو هغه ئې پریدي لکه په حدیث د جابر ﷺ کښې دي : [فَاَرَدْتُّ اَنْ اُسَيِّبَهُ] نو ددې حکم دا دې چه دا چا موندہ د هغۀ ده، د یو کال پورې اعلان ئې ضروري نۀ دې.

ددې هر یو حکم په راتلونکو حدیثونو کښې ذکر دې.

**مسئله** : د ورك شوي شي راخستل افضل دي او که پریښودل ؟ نو په دې کښې څلور

**قوله** دي : (۱) راخستل ئې افضل دي، هر کله چه لقطه په یو داسې ځائے کښې وي چه ضائع کیږي او انسان په خپل ځان باندې باور لري چه دا به مالك ته واپس کوي. او دا د امام ابو حنیفۃ، شافعيؒ او امام مالكؒ یو قول دې. د دوئ دلیل د ضالة الغنم په باره کښې په راغلي حدیث کښې امر دې چه [اِجْمَعْهَا اِلَيْكَ حَتّٰى يَأْتِيَ بَاغِيُهَا] [احمد: ۱۱/۴۹۲، وسنده حسن] (دا ځان سره جمعه کړه تردې چه لټونکے ئې راشي) (۲) **قول** : پریښودل ئې افضل دي. دا قول د امام مالكؒ او امام احمدؒ دې، او دا د ابن عباس ﷺ، ابن عمر ﷺ او د یو سلفو د یو جماعت نه نقل دې ځکه په دې کښې د پردي مال خوړلو خطره ده، کیدې شي چه ددۀ نه وخوړل شي.

(۳) **قول** : راخستو او پریښودو دواړو کښې اختیار دې. او دا قول د امام مالكؒ د اصحابو دې. (۴) **قول** : پریوتے شے راخستل واجب دي. او دا د امام شافعيؒ یو قول دې.

دليل ئې دادے چه د مسلمان د مال حفاظت د هغهٔ د وينے پشان ضروري دے۔

**راجح قول** دادے چه په دے کښے تفصيل دے، هغه دا چه څوك په خپل ځان دا اعتماد لرى چه په ورك شوى راخستو كښے به ترے خيانت ونشى او كاله پورے به ئے د مالك دپاره اعلانونه كوى، نو بيا راخستل ئے اولىٰ دى ځكه چه په دے كښے د مسلمان د مال حفاظت او د هغه چانه بچ كول دى چه هغه به ئے راواخلى او مالك ته به ئے ونهٔ رسوى. دارنګه كه ددهٔ دا يقين وو چه كه راوائے نخلى نو خامخا ضائع كيږى نو بيا راخستل ئے واجب دى. او چا سره چه دا خطره وى چه كه راوائے خلى نو خيانت به ترے پكښے وشى او كاله پورے به ددے د اعلان كولو اهتمام ونهٔ كړى نو ددهٔ په حق كښے ددے پريښودل واجب دى، ځكه خپل ځان د خيانت كولو نه ساتل ضرورى دى. ليكن ددے خبرے حل شته او هغه دا چه روستو رازى دوه ګواهان دِے په لقطه مقرر كړى. والله تعالىٰ اعلم.

يو تن پريوتے شے ومومى نو په هغے به څه كوى ؟

## الفصل الأول

3033 (1) - وَعَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ ﷺ قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ، فَسَأَلَهُ عَنِ اللُّقَطَةِ؟ فَقَالَ: **اِعْرِفْ عِفَاصَهَا وَوِكَاءَهَا، ثُمَّ عَرِّفْهَا سَنَةً، فَإِنْ جَاءَ صَاحِبُهَا وَإِلَّا فَشَأْنَكَ بِهَا**. قَالَ: فَضَالَّةُ الْغَنَمِ؟ قَالَ: **هِيَ لَكَ، أَوْ لِأَخِيكَ، أَوْ لِلذِّئْبِ**. قَالَ: فَضَالَّةُ الإِبِلِ؟ قَالَ: **مَالَكَ وَلَهَا؟ مَعَهَا سِقَاؤُهَا وَحِذَاؤُهَا، تَرِدُ الْمَاءَ، وَتَأْكُلُ الشَّجَرَ، حَتّٰى يَلْقَاهَا رَبُّهَا**. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: فَقَالَ: " **عَرِّفْهَا سَنَةً ثُمَّ اعْرِفْ وِكَاءَهَا وَعِفَاصَهَا ثُمَّ اسْتَنْفِقْ بِهَا فَإِنْ جَاءَ رَبُّهَا فَأَدِّهَا إِلَيْهِ** ".

**ترجمه**: زيد بن خالد جهنى ﷺ نه روايت دے چه يو سړے د نبى ﷺ په خدمت كښے حاضر شهٔ او د غورزيدلى شىِ د راپورته كولو په باره كښے ئے ترے پوښتنه وكړه، نو نبى ﷺ وفرمايل: د هغے لوښے او مزے ښهٔ وپيژنه او بيا د هغے تول كال اعلان وكړه، نو كه مالك ئے راغے (نو هغهٔ له ئے وركړه) اوكه نهٔ وى نو څهٔ چه دِے زړهٔ غواړى پرے وے كړه. هغهٔ عرض وكړو: د ورك شوو ګډو بزو په باره كښے څهٔ حكم دے؟ نبى ﷺ وفرمايل: دا به ستا دپاره وى يا ستا د ورور دپاره او يا به د شرمخ (ليوهٔ) دپاره. هغهٔ وويل

: د ورك شوي اُوښ په باره كښې څۀ حكم دے؟ وے فرمايل: ستا د هغې سره څۀ كار دے؟ هغې سره د هغې د اُوبو مشكيزه او د هغې څپلۍ شته دے، اُوبو ته به راځي او د وُنو پاڼړے به خوري تردے چه هغې سره د هغې مالك يوځائے شي. (بخاريؒ، مسلمؒ). او په روايت د مسلمؒ كښې دي: وے فرمايل: ددے يو كال پورے اعلان وكړه بيا ددے مزے او تهيلۍ (كسوړه) وپيژنه بيا ئے ځانله خرچ كړه نو كه مالك ئے (څه موده روستو راغلو) نو هغۀ ته ئے وركړه.

**تشريح**: [جَاءَ رَجُلٌ] د بخاري په روايت كښې [جَاءَ أَعْرَابِيٌّ] راغلے او ددے سړي په تعيين هيڅ دليل نشته، او نۀ ددۀ د نوم پيژندو پورے څۀ شرعي حكم متعلق دے. [عَنِ اللُّقَطَةِ] د غورزيدلي شي د موندلو د حكم په باره كښې، نۀ ددے د معنىٰ په باره كښې.

[عِفَاصَهَا] د عين په زير سره، د څرمنے يا كپړے يا پلاستك تهيلۍ (خلته) چه په هغې كښې پريوتے شے وموندے شي. علامه خطابيؒ فرمائي: عِفاص په اصل كښې هغه څرمنے ته وائي چه د بوتل خُلے بندولو دپاره په هغې كېښودل كيږي. [وِكَاءَهَا] د واؤ په زير سره، هغه مزے، تار، تسمه چه په هغې سره د تهيلۍ، بوجۍ يا مشك خُلۀ تړل كيږي. او ددے په پيژندو كښې مقصد دادے چه څوك ددے ورك شوي شي صفت بيانوي نو د هغۀ دروغ او رشتيا معلوم شي. او ددے دپاره هم چه ددۀ د خپل مال سره خلط او مشتبه نشي.

[ثُمَّ عَرِّفْهَا سَنَةً] عَرِّفْ: په شد سره د تعريف نه دے، خلكو ته ددے ذكر كول، او په كوم ځائے كښې ئے چه موندلے وي په هغې كښې ددے تشهير كول، دارنګه د خلكو په عامو مجمعو، د جوماتونو او بازارونو په دروازو وغيره كښې ددے اعلانونه كول. [فَإِنْ جَاءَ صَاحِبُهَا] أَيْ: فَوَصَفَهَا فَادْفَعْهَا اِلَيْهِ: (كه ددے خاوند راغے او ددے نښے نښانے ئے بيان كړے نو دا ورته وركړه) لكه د مسلمؒ بل روايت پرے دليل دے: [فَإِنْ جَاءَ رَبُّهَا فَأَدِّهَا اِلَيْهِ]. [وَإِلَّا فَشَأْنُكَ بِهَا] شان حالت او معاملے ته وائي، يعنى تۀ په دے كښې تصرف كوه. او (شان) لفظ خو يا مرفوع دے. أَيْ: شَأْنُكَ مُتَعَلِّقٌ بِهَا. او يا په فعلِ مقدر سره منصوب دے. أَيِ: اِلْزَمْ شَأْنَكَ بِهَا: (تۀ پوهه شه او دغه شے پوهه شه. يا چه څۀ دے خوښه وي هغه پرے وكړه). [فَضَالَّةُ الْغَنَمِ] اضافت د صفت دے موصوف ته. أَيِ: الْغَنَمُ الضَّالَّةُ: يعنى د ورك شوے ګډے بزے څۀ حكم دے؟ علامه از هريؒ وغيره فرمائي: (ضاله) صرف د حيوان او

انسان ورکیدو ته وائی. او هرچه ددے نه علاوه نور سامانونه او شیان دی نو د هغے د ورك شوی شئ موندو ته (لقطه) وائی (ضاله) ورته نهٔ وئیل کیږی.

[هِيَ لَكَ، أَوْ لِأَخِيكَ، أَوْ لِلذِّئْبِ] دلته (أَوْ) د تقسیم دپاره دے، او د (اخیك) نه مراد دینی اخوت دے، او د (اخ) نه مراد بل سړے یا خپل مالك دے. مطلب دا چه: دا ګډه بزه د خپلے کمزورئ په وجه که تا را ونیوله ستا ده، او که تا راونهٔ نیوله نو ستا پشان بل یو سړے به ئے راونیسی او یا به ئے خپل مالك راونیسی. او یا به ئے شرمخ ماته کړی. او د شرمخ نه مراد ګډه بزه ماتونکے هر لیوهٔ دے. او شرمخ ئے په دے وجه ذکر کړے چه په عامه توګه ګډے بزے هم دے ماتوی. [مَالَكَ وَلَهَا] دا استفهام انکاری دے یعنی ستا ددے د رانیولو سره څهٔ کار دے؟ حالانکه دے سره داسے اسباب شته چه په هغے سره خپل ځان د هلاکت نه بچ کولے شی. بل روایت کښے دی چه نبی کریم ﷺ دغه سړی ته غصه شو، او د غصے وجه ذا کیدے شی چه یا خو دا سړے ددے نه مخکښے رسول الله ﷺ د ورك شوو اوښانو رانیولو نه منع کړے وو. او دهٔ په دویم ځل دا پوښتنه وکړه. او یا په دے وجه چه دغه سائل د هغے معنیٰ لحاظ ونهٔ وکړو چه نبی ﷺ هغے ته اشاره کړے وه او په هغے پوهه نشو نو ځکه ئے یو شے د خپل مثل نه سویٰ په بل شئ باندے قیاس کړو.

[مَعَهَا سِقَاؤُهَا] د سین په زیر سره، مشکیزے ته وائی، او دلته مراد ددهٔ هغه خیټه ده چه ډیر زیات طعام او شراب په کښے ځائیږی. [وَحِذَاؤُهَا] د حاء په زیر سره څپلئ، چپل او موزے ته وائی. دے نه مراد د اوښ هغه مضبوطه پنجه او خپره ده چه په هغے سره لرے لرے مزلونه کولے شی. او دا تشبیهی معنیٰ ده، په دے کښے ئے اوښ د هغه مسافر سره مشابه کړے چه هغهٔ سره خپلے مضبوطے څپلئ او مشکیزه وی او په لرے لرے سفر کولو قادر وی. او په دے کښے دیته اشاره ده چه ورك شوی اوښ رانیولو ته هیڅ حاجت نشته ځکه ددهٔ په طبیعت کښے الله تعالیٰ دا قدرت اچولے چه دے د لرے لرے ځایونو نه اوبهٔ څښلے شی، د ونو پاڼړے خوری او د درنده ګانو او لیوانو نه خپل ځان ساتلے شی. دے وجے نه د حفاظت دپاره ددے رانیولو ته ضرورت نشته. یعنی اول خو خپله په اُوښ دا قدرت الله تعالیٰ اچولے دے چه تر اُوه ورځو پورے ځان سره په خیټه کښے اُوبهٔ ساتی او د ونو نه پاڼړے خوړلے شی نو پدے موده کښے به ئے مالك ملاؤ شی، او که دا هم نهٔ وی نو الله تعالیٰ ورله مضبوطے خپے او خپرے ورکړیدی چه مزل به وکړی او

اُوبو ځایونو ته به ځان ورسوی، آخر دا چه خپل مالك سره به هم یوه ورځ ملاؤ شی۔ [رَبُّهَا] ددے خاوند او مالك۔ رب چه کله مضاف شی نو بیا ددے اطلاق په غیر الله هم کیږی۔

**فوائد او مسائل :** (۱) حدیث نه ثابته شوه چه لُقطه (ورك شوے شے) راخستل یا ضاله (ورك شوے حیوان) رانیول جائز دی په دے شرط چه دا حیوان اُوبښ نهٔ وی۔ ځکه نبی ﷺ د ورك شوی شیٔ د تهیلیٔ او تسمے پیژندو حکم کړے او د ګډے بزے په باره کښے ئے وفرمایل چه «دا ستا یا ستا د وروریا د لیوهٔ دپاره ده» نو که ددے پریښودل افضل وے نو خامخا به نبی کریم ﷺ په دے حکم کړے وے لکه څنګه ئے چه د ورك شوی اوبښ پریښودو حکم کړے۔ (۲) څوك چه ورك شوے شے ومومی په هغهٔ واجب دی چه د هغے لوښے، بتوه، تهیلیٔ، تسمه وغیره ټول صفات وپیژنی، دے دپاره چه دے د خپل او ددے موندلی شیٔ ترمینځه تمییز او جدا والے کولے شی، اوکه دے مړ شی نو ددهٔ ورثه دا موندلے مال پیژندلے شی۔ ددے دپاره چه کله ددے مالك راشی او هغه ددے نښے نښانے بیان کړی نو دویٔ ته د هغهٔ دروغ او رشتیا معلوم شی۔ او بعضِ علماؤ وئیلی دی : مستحبه داده چه دا ولیکی دے دپاره چه دا ترے هیر نشی۔

(۳) د نورو امانتونو پشان موندلے شے ساتل هم واجب دی ځکه نبی ﷺ ددے د لوښی او تسمے پیژندو حکم کړے، دے دپاره چه دا پردے مال خپل صحیح مالك ته واپس کړے شی او بل چاته ورنهٔ کړے شی۔ (٤) پوره کاله پورے د موندلی شیٔ تشهیر او اعلانونه کول واجب دی، او دا به د خلکو په مجمعو او په هغه ځائے کښے وی چرته ئے چه دا موندلے وی ځکه په همدے ځائے کښے به ئے مالك لټوی۔ او دا کافی نهٔ ده چه پټ په پټه ځینے خلکو ته ددے تذکره کوی، بلکه سرِ عام ښکاره توګه به ددے اعلانونه کوی۔ ❁ اوکه په ښار بیابان کښے ئے موندلے وی نو د موندلی شیٔ خوا او شاته نزدے کلو او بانډو کښے به ددے اعلان کوی۔

❁ اعلان به څو ځله کوی ؟ نو په حدیث کښے دا خبره نهٔ ده ذکر شوے بلکه دا عرف او رواج ته سپارل شوے۔ بعضِ فقهاؤ وئیلی دی : په اوله هفته کښے به ئے د ورځے دوه ځله سهار او مازیګر، بیا هره ورځ یو ځل، بیا په هره هفته کښے یو ځل۔ علی هذا القیاس۔ او شپه او ورځ هر وخت ددے اعلان واجب نهٔ دے۔ اوکه لقطه ډیره قیمتی وه نو مناسبه

ده چه اخباراتو، ریډیو، ټي وي، او نیټ په ذریعه ددے اشتهار وکړي۔ او کله چه کال پوره شي نو دے نه پس بیا ددے اعلان او اشتهار کول واجب نهٔ دي۔

(۵) که د اشتهار په دوران کښې ورك شوے شے ضائع شو نو په موندونکي باندے هیڅ تاوان نشته، ځکه کال کښې دننه دے امین دے او په امین باندے ضمان نهٔ وي۔ او که کال پوره کیدو نه پس ضائع شو او بیا ئے مالك راغے نو تاوان به ورکوي ځکه دا ددهٔ په ذمه واجب الاداء شے دے او ددهٔ په ملکیت کښې داخل شوے دے نو دا به ددهٔ د مال نه ضائع کیږي۔ بعضِ علماؤ وئیلي دي: په دے صورت کښې هم په دهٔ تاوان نشته۔

(٦) حدیث دلیل دے چه کله ددے مالك راغے او د دغه شيءَ صحیح نښې نښانې ئے بیان کړے نو هغهٔ ته به ئے ورکوي، او په دے باره کښې د هغهٔ نه ثبوت غوښتل (گواهان غوښتل یا قسَم ورکول) نشته، ځکه ددے نښې نښانې بیانول ددے ثبوت دے۔ او دا ظاهر د حدیث دے او همدا **راجح قول** دے، ځکه که ثبوت پیش کول شرط شي نو بیا د تهیلۍ او تسمے ذکر کولو هیڅ وجه نشته، ځکه په ثبوت سره خو دے بهر حال ددے مستحق گرځي۔ (۷) د [فَاِنْ جَاءَ رَبُّهَا فَأَدِّهَا اِلَيْهِ] نه ثابته شوه چه کال پس که ددے مالك راغے نو هغهٔ ته به ددے واپس کول واجب وي۔ او دا د جمهورو قول دے، او همدا صحیح دے۔ ابن حزم ظاهريؒ فرمائي: دا د موندونکي ملکیت گرځیدلے نو واپس کول نشته۔ او دلیل ئے [فَاِنَّمَا هِيَ لَكَ ......] الفاظ دي چه لام دپاره د تملیك دے۔ خو دا قول ضعیف دے ځکه مخکښې په واپس کولو باندے صراحةً حکم راغلے۔

(۸) د أبي بن کعب ﷺ په حدیث کښې راغلي: [اِحْفَظْ وِعَائَهَا وَعَدَدَهَا وَوِكَائَهَا] (ددے لوښے، شماره او تسمه یاد لره) [بخاري: ٢٤٢٦، مسلم: ١٧٢٣] ددے نه معلومه شوه چه که موندلے شے شمارے ته محتاج وي لکه روپۍ، اشرفۍ وغیره، نو د شمارلو دپاره ددے تسمه پرانستل هم جائز دي۔ (۹) که دوه کسانو ددے صحیح نښې نښانې بیان کړے نو د دواړو ترمینځه به خسنړے واچول شي او د چا خسنړے چه راووځي هغهٔ ته به ورکړے شي۔ (۱۰) او حدیث نه معلومه شوه چه کاله پورے که ددے مالك رانغے نو موندونکے په دے کښې تصرف کولے شي، برابره خبره ده مالداره وي که غریب، ځکه نبي ﷺ فرمائي: ((که خاوند ئے راغے (نو ورته ورئے کړه) او که رانغے نو څهٔ چه پرے کوے هغه پرے وکړه)) او که د کال نه پس راغے نو که همدغه شے بعینهٖ موجود وو دا به ورته واپس

كوي ځكه دا ددهٔ په لاس كښې امانت دے۔ او كه ضائع شوے وو نو ددے قيمت به ورته وركړي۔ لكه حديث كښې دي : [فَإِنْ لَّمْ تُعْرَفْ فَاسْتَنْفِقْهَا، وَلْتَكُنْ وَدِيْعَةً عِنْدَكَ فَإِنْ جَاءَ طَالِبُهَا يَوْمًا مِنَ الدَّهْرِ فَادْفَعْهَا اِلَيْهِ] [بخاري: ۲٤۲۸، مسلم: ۱۷۲۲] ۔ (كه مالك ئے معلوم نشو نو دا ځان دپاره ولګوه او ستا سره دِے دا امانت وي، كه مالك ئے په عمر كښې يوه ورځ راغلو نو هغهٔ ته ئے وركړه)۔

(۱۱) د لقطے راپورته كونكے د اصل مالك د نهٔ راتلو په صورت كښې ددے لقطے مالك جوړيږي برابره ده چه دے مالداره وي او كه غريب، همدا مذهب د امام شافعيؒ دے۔ ليكن د بعض صحابه كرامو ﷺ قول دا دے چه كه لقطه راپورته كونكے خپله مالداره وو نو هغه ددے لقطے نهٔ مالك كيږي بلكه هغهٔ له پكار دي چه دا لقطه په فقراء او مساكينو باندے صدقه او خيرات كړي او همدا مذهب د سفيان ثوريؒ، ابن المباركؒ او احنافوؒ دے۔ ليكن راجح دا ده چه د مالدار او غريب فرق باندے دليل نشته۔

(۱۲) فَضَالَّةُ الْغَنَمِ : حديث نه معلومه شوه چه وركه شوے ګډه بزه رانيول او خوړل جائز دي۔ بيا كه خاوند ئے راغے نو د جمهورو په نيز به تاوان وركوي، ځكه په اتفاق د علماؤ سره كه ذبح كولو نه مخكښے ددے خاوند راشي نو خامخا به ئے ورته وركوي، نو معلومه شوه چه دا د خپل خاوند د ملكيت نه نهٔ ده وتلے۔ او امام مالكؒ په نيز په موندونكي باندے ددے تاوان نشته، او دليل ئے دادے چه په دے حديث كښې موندونكے او شرمخ سره دواړه برابر شوي دي او په شرمخ تاوان نشته نو په خوړونكي هم نشته۔ خو دا ددهٔ شاذ قول دے، په دے كښې هيچا ددهٔ موافقت نهٔ دے كړے۔ ځكه په دغه حديث كښې لام د تمليك نهٔ دے ولے چه شرمخ مالك نهٔ ګرځي بلكه موندونكے په دے شرط ددے مالك ګرځي چه دا به ددے تاوان وركوي۔

(۱۳) موندونكے به په موندل شوي شي كښې هغه تصرف كوي چه هغه د مالك په بنيګړه تماميږي۔ نو يا خو به دا خرڅ كړي او پيسے به ئے مالك له وساتي۔ او يا به ئے وخوري او تاوان به ورته وركړي۔ او يا به ئے په ذمه وارئ د خپل ځان سره وساتي۔ (۱۳) او حديث نه معلومه شوه چه ورك شوے اُوښ رانيول جائز نهٔ دي ځكه هغه د خپل ځان حفاظت په خپله كولے شي۔ كه چا اوښ راونيوهٔ او ددهٔ په لاس كښې مړ يا ضائع شو نو تاوان به وركوي، ځكه ددهٔ لاس د غاصب لاس دے نهٔ د امين، او په غاصب باندے تاوان

وی۔ بعض علماؤ په اوښ باندے غوا، اس، قچر وغیره هم قیاس کړی خو دا قیاس صحیح نهٔ دے ځکه په اوښ کښے چه کوم علت ښودلے شوے هغه په غوا وغیره کښے نشته۔

## لقطه بغیر د تشهیر نه ځان سره ساتل خیانت دے

3034( 2 ) — وَعَنْهُ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : مَنْ آوٰى ضَالَّةً فَهُوَ ضَالٌّ، مَالَمْ يُعَرِّفْهَا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

**ترجمه** : زید بن خالد جهنی ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمایل : چا چه یو ورك شوی شیٔ له پناه ورکړه، نو هغه چه ترڅو پورے ددے اعلان ونهٔ کړی، خپله گمراه (صحیح لاره ورك کونکے) دے۔

**تشریح** : [مَنْ آوٰى ضَالَّةً] چا چه یو ورك شوی شیٔ له پناه ورکړه۔ یعنی خپل مال سره ئے یوځائے کړو او د هغے سره ئے گډ کړو۔ او [ضَالَّةً] نه مراد ورك شوے اُوښ او داسے شے دے چه د خپل ملکیت جوړولو او په خپل ذاتی مال کښے شاملولو دپاره د هغے راخستل جائز نهٔ وی، بلکه هغه ددے دپاره راخستے کیږی چه د خپل خاوند او مالك دپاره وساتل شی۔ او مطلب دا چه : څوك یو ورك شوے راپورته کړی او کاله پورے د هغے تشهیر او اعلانونه نهٔ کوی بلکه خپل ځان سره ئے ساتی نو دا گمراه دے۔ ځکه چه دهٔ مالك ته ضرر ورکړو او خیانت ئے وکړو۔ (مازریؒ) نو دلته د (ضالة) نه مراد (لقطه) ده۔ او یا د ضاله نه مراد ورك شوے اوښ دے چه د هغے رانیول جائز نهٔ دی۔

قاضیؒ وائی : بناء پدے دا حدیث د هر ورك شوی شی د راپورته کولو په باره کښے عام دے۔ لیکن ظاهر د حدیث دا دے چه دا د ورك شوی اُوښانو په باره کښے دے، چه ددے راخستل صحیح نهٔ دی مگر هله چه د مالك دپاره ئے ساتی او د هغے همیشه دپاره اعلان کوی او که د خوراك دپاره ئے راونیسی او د هغے تشهیر او اعلان نهٔ کوی نو دا ښکاره گمراه دے۔ بیا دا زیاتے کونکے هم دے۔ که اُوښ په هره طریقه هلاك شو دے به ئے تاوان ورکوی۔ امام خطابیؒ وائی : د ضاله لفظ د دراهم او دنانیر او سامانونو دپاره نهٔ استعمالیږی بلکه ضال د حیوان صفت دے چه د خپل مالکانو نه ورك شی۔ لکه اُوښان، غواگانے، مارغان وغیره۔ نو هرکله ئے چه یو تن ومومی نو دے ته تعرض نهٔ دے

جائز ترڅو چه هغه خپل ځان ساتلے شي او خپل خوراك حاصلولے شي تردے چه مالك به ئے راونيسي. (انتهى) عون المعبود: ٩٨/٥)

امام نوويؒ وائي: دا حديث د مختار مذهب دليل دے چه د لقطے تشهير او اعلان كول لازم دي برابره ده چه د هغے د ملكيت اراده ئے وي او كه د مالك دپاره د ساتلو. او همدا خبره صحيح ده.

او ددے باب پدے ټولو حديثونو كښے دا دليل دے چه د لقطے راپورته كول او د هغے مالك جوړيدل د بادشاه او قاضي حكم او اجازت ته ضرورت نۀ لري او دا خبره اجماعي ده، او پدے كښے د فقير او غني فرق هم نشته، هر يو ئے راپورته كولے شي. او همدا مذهب د شوافعوؒ او د جمهورو علماؤؒ دے. (شرح النوويؒ ٢٨/١٢)

[فَهُوَ ضَالٌّ] دا ګمراه دے، يعني دۀ صحيح لار خطا كړے ځكه دۀ هغه شے راخستے چه د هغے راخستل ورله جائز نۀ دي نو دے غاصب دے. [مَالَمْ يُعَرِّفْهَا] ترڅو پورے چه ددے تشهير او اعلان ونۀ كړي. يعني دا به هله ګمراه وي چه د خپل ذاتي ملكيت دپاره ئے راخستے وي او كه چرے د تشهير او اعلان كولو دپاره ئے راخستے وي نو بيا داسے نۀ دے.

**فوائد**: (١) حديث نه ثابته شوه چه څوك ورك شوے شے د خپل ذاتي ملكيت دپاره راخلي او يا ورك شوے اوښ رانيسي نو دۀ صحيح لار خطا كړه او د شرعي حكم خلاف ئے وكړو. (٢) كه دۀ په لاس كښے دا شے ضائع يا مړ شي نو دے به تاوان وركوي، برابره خبره ده كه دۀ په تعدي او تفريط سره هلاك شوے وي اوكه په خپله، ځكه دۀ لاس د غاصب لاس دے، او په غاصب باندے تاوان وي. نو ددے نه معلومه شوه چه ورك شوے شے ددے دپاره اخستل پكار دي چه د هغے تشهير او اعلان وكړي، نۀ ددے دپاره چه خپل ځان د هغے مالك وګرځوي. (٣) د [مَالَمْ يُعَرِّفْهَا] نه معلومه شوه چه په دے صورت كښے به ئے هميشه دپاره تشهير كوي. په خلاف د عامے لقطے نه چه ددے تشهير او اعلان صرف كاله پورے ضروري دے، كال نه اخوا ضروري نۀ دے.

## د حاجي لقطه (غورزيدلے شے) راپورته كول ناجائز دي

3035 (3) - وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عُثْمَانَ التَّيْمِيِّ رضي الله عنه، أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ نَهٰى عَنْ لُقَطَةِ الْحَاجِّ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

**ترجمه** : او عبد الرحمن بن عثمان تيمي ﷺ نه روايت دے چه نبي ﷺ د حاجي د غورزيدلی شي راخستو نه منع فرمائيلے۔ (مسلمؒ)۔

**تعارف د عبد الرحمن بن عثمان** ﷺ : عبد الرحمن بن عثمان بن عبيد الله تيمي قريشي۔ دا د طلحه بن عبيد الله ورارۀ دے۔ صحابي دے، او ځينے وائي د نبي ﷺ زمانه ئے موندلے خو هغه ئے نۀ وو ليدلے۔ د حديبيه په ورځ ئے اسلام قبول کړو۔ او ځينے وائي د مکے د فتح په موقعه په اسلام کښے داخل شو۔ په (۷۳) هجري کښے د عبد الله بن زبير ﷺ سره شهيد شو۔

**تشريح** : حديث نه معلومه چه د حاجي (او معتمر) ورك شوے شے راخستل منع دی۔ د [لُقَطَةِ الْحَاجِّ] دوه مطلبه دی۔ (۱) يو دا چه ددے نه مراد هغه لقطه ده چه په مکه کښے وموندل شي، نو ددے راخستلو نه منع راغلے۔ (۲) دويم : د حاجي لقطه مطلقه ده که په مکه کښے وي اوکه د مکے مکرمے نه بهر په نورو مشاعرو کښے وي لکه عرفات۔ او همدا دويمه معنیٰ راجحه ده۔ نو بنا په دے د ((مکے)) د لقطے او د ((حاجي)) د لقطے ترمينځه فرق دے۔ د مکے لقطه د ابن عباس ﷺ په حديث : [وَلَاتَحِلُّ سَاقِطَتُهَا اِلَّا لِمُنْشِدٍ] کښے راغلے (ددے غورزيدلے شے راخستل صرف د هميشه اعلان کونکي دپاره حلال دی) نو ددے دواړو لقطو ترمينځه فرق دادے چه د ((خاجي)) لقطه د حج په ورځو شپو کښے وي او په هغه ځايونو کښے چرته چه د حاجيانو ګنړه ګونړه وي، برابره خبره ده که په مکه کښے وي اوکه ددے نه بهر لکه عرفات او حرم شريف ته نزدے لارے شوے۔ او هر چه د ((مکے)) لقطه ده، نو دا په مکے پورے خاص ده خو د کال په ټولو ورځو کښے وي۔

**د مکے د لقطے په باره کښے د علماؤ دوه قوله دی :**

**(اول قول)** دا دے چه ددے لقطه د نورو لقطو نه جدا حکم لري ځکه ددے راخستل صرف د هغه چا دپاره جائز دی چه دا د خپل مالك دپاره ساتي او په غير د کال د توقيت نه ئے هميشه دپاره اشتهار او اعلان کوي۔ دا د شوافعو، بعض مالکيانو لکه باجيؒ، ابن العربيؒ، ابن رشدؒ او قرطبيؒ، او د امام احمدؒ يو روايت دے۔ شيخ الاسلام ابن تيميهؒ او علامه ابن قيمؒ ديته ترجيح ورکړے۔ د دوئ دليل د ابن عباس رضی الله عنهما حديث دے : [وَلَاتَحِلُّ سَاقِطَتُهَا اِلَّا لِمُنْشِدٍ] او معنیٰ ئے داده چه د حرم شريف لقطه صرف هغه چا دپاره راخستل جائز دی چه هغه ئے هميشه دپاره اشتهار او اعلان کوي۔ پاتے شو

هغه څوك چه ددے د اشتهار کولو نه پس ددے مالك جوړېږي نو د هغهٔ دپاره حلاله نهٔ ده، ځکه که د اشتهار نه پس موندونکے ددے مالك جوړيدلے نو بيا د مکے د تخصيص هيڅ وجه نشته۔ [زاد المعاد: ٤٥٣/٣، فتح الباری: ٨٨/٥] د دوئ د قول تائيد دا حديث هم دے چه ((نبي ﷺ د حاجي د لقطے نه منع فرمايلے)) دوئ وائي: د حاجي لقطه به صرف اعلان دپاره راخستلے شي، او دا ځکه چه دا خپل مالك ته رسيدل ممکن دي۔ ځکه که مالك ئے د مکے وسيدونکے وي نو ددے رسيدل ظاهر دي۔ او که مسافر وي په مکه کښے نهٔ وسيږي نو د هر طرف نه مکے ته خلك راځي او خصوصًا زمونږ په دے زمانه کښے خو ذرائع ابلاغ او د منتقل کولو اسباب ډير زيات دي، نو کله چه هر کال ددے لقطے اعلان کوي نو په ډيره آسانئ سره به دا لقطه خپل مالك ته ورسي۔

[شرح ابن بطال: ٥٥٨/١]

(**دويم قول**) دادے چه د مکے لقطه په اعلان او ملکيت کښے د نورو لقطو پشان حکم لري۔ او دا د ابن عمر، ابن عباس او عائشے ﷺ قول دے۔ او دا د مالکيانو مشهور قول او د حنابلو اعتمادي مذهب او د شوافعوؒ او احنافوؒ يو قول دے۔ د دوئ دليل د زيد بن خالد ﷺ مخکنے حديث دے چه په هغے کښے نبي ﷺ د لقطے حکم بيان کړے او د حرم او غير حرم د لقطے ترمينځه ئے فرق نهٔ دے کړے۔

**راجح قول** اولنے دے ځکه د هغے دليل قوي دے۔ ځکه د نبي ﷺ دا ارشاد مبارك: [وَلَا تَحِلُّ سَاقِطَتُهَا اِلَّا لِمُنْشِدٍ] صريح نص دے چه دلالت کوي په دے چه مکه د نورو بلادو نه امتياز او خصوصيت لري۔ په دے کښے حکمت په مکه کښے د مالونو زيات امن دے ځکه هر کله چه خلکو ته پته ولږي چه دوئ دلته د اعلان نه پس هم د موندل شوي شئ مالکان نهٔ جوړېږي نو دوئ به بيا دا نهٔ راخلي او دا ورك مال به خپلو مالکانو ته رسي۔

## د ښارے زمکے لقطه او زمکے نه راوتونکي مال حکم

## الفصل الثاني

3036 (4) - عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ أَنَّهُ سُئِلَ عَنِ الثَّمَرِ الْمُعَلَّقِ فَقَالَ: " **مَنْ أَصَابَ بِفِيهِ مِنْ ذِي حَاجَةٍ غَيْرَ مُتَّخِذٍ خُبْنَةً فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ وَمَنْ**

خَرَجَ بِشَيْءٍ مِنْهُ فَعَلَيْهِ غَرَامَةُ مِثْلَيْهِ وَالْعُقُوبَةُ وَمَنْ سَرَقَ مِنْهُ شَيْئًا بَعْدَ أَنْ يُؤْوِيَهُ الْجَرِيْنُ فَبَلَغَ ثَمَنَ الْمِجَنِّ فَعَلَيْهِ الْقَطْعُ " وَذَكَرَ فِيْ ضَالَّةِ الإِبِلِ وَالْغَنَمِ كَمَا ذَكَرَ غَيْرُهُ قَالَ : وَسُئِلَ عَنِ اللُّقْطَةِ فَقَالَ :" مَا كَانَ مِنْهَا فِي الطَّرِيْقِ الْمِيْتَاءِ وَالْقَرْيَةِ الْجَامِعَةِ فَعَرِّفْهَا سَنَةً فَإِنْ جَاءَ صَاحِبُهَا فَادْفَعْهَا إِلَيْهِ وَإِنْ لَمْ يَأْتِ فَهُوَ لَكَ وَمَا كَانَ فِي الْخَرَابِ الْعَادِيْ فَفِيْهِ وَفِي الرِّكَازِ الْخُمُسُ". رَوَاهُ النَّسَائِيُّ وَرَوٰى أَبُوْدَاوُدَ عَنْهُ مِنْ قَوْلِهٖ : وَسُئِلَ عَنِ اللُّقْطَةِ إِلٰى آخِرِهٖ

**ترجمه :** د عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده نه روایت دے چه رسول الله ﷺ نه د زوړندے میوے (شوکولو) په باره کښے پوښتنه وشوه؟ نو نبی ﷺ وفرمایل : څوك چه په خپله خوله سره (میوے) حاصلے کړی (چه دا شخص) حاجتمن وی، په داسے حال کښے چه په جامه کښے ځان سره وړونکے نۀ وی نو په دۀ څۀ (ګناه) نشته، او څوك چه ددے نه یو شے وباسی (یعنی وے خوری او ځان سره ئے ویسی هم) نو په دۀ دوچنده تاوان دے او سزا ده، او څوك چه ددے نه یو شے غلا کړی پس د هغے نه چه درمن ورته پناه ورکړی وی او هغه غلا کړے شوے شے د ډهال د قیمت برابر وی نو په دۀ باندے د لاس پریکولو سزا ده۔ او راویؒ د ورك شوی اُوښانو او ګډو بزو په باره کښے سوال جواب ذکرکړو لکه چه نورو راویانو ذکرکړے۔ راویؒ وائی : او نبی کریم ﷺ نه د لقطے په باره کښے پوښتنه وشوه نو وے فرمایل : کومه چه ددے نه په داسے لاره کښے وموندے شی چه په هغے باندے تګ راتګ کیږی او ګورونو او آبادیانو ته نزدے وی نو یو کال د هغے اعلان وکړه نو که ددے مالك راغلو هغۀ ته ئے ورکړه او که رانغلو نو هغه ستا شو، او هغه لقطه چه په پخوانئ وران (شاړ) ځائے کښے وی نو پدے کښے او په رکاز (خښ کړے شوی مال په موندلو) کښے به خمس (پنځمه برخه د الله په لاره کښے) وی۔ (نسائیؒ) او ابوداوُدؒ دا روایت د عمرو بن شعیبؒ نه د (وسئل عن اللقطة) پورے نقل کړیدے۔

**تشریح :** [الثَّمَرِ الْمُعَلَّق] هغه میوه چه د ونے پورے زوړنده وی۔ او ثمر هرے میوے ته وائی کهجوره وی یا انګور یا بل شے، او اوچه وی یا تازه۔

[بِفِيْهِ] د خولے په قید سره معلومه شوه چه زیات به نۀ راشوکوی۔

[مِنْ ذِيْ حَاجَةٍ] دا (مِنْ) د (مَنْ) بیان دے، یعنی دغه میوه حاصلونکے شخص فقیر وی یا مضطر (مجبوره) وی۔ او د حاجت نه مراد مطلق حاجت دے، اګرکه غنی وی۔ ددے

لفظي ترجمه داسې ده: ((څوك چه (ميوې) حاصل كړي په خپله خولهٔ سره (چه دا شخص) د حاجت والا وي)) [خُبْنَةً]- د خاء پيش، د باء سكون او د نون زبر دے، د لنګ او د كپړے يو پلو او طرف ته وائي- يعني په كپړه او جامه كښې ئې ځان سره نهٔ وړي- او ګيډے ترے نهٔ تړي او په جولۍ كښې ئې نهٔ اچوي بلكه په خُلے سره ئې وخوري- عرب وائي: [اَخْبَنَ الرَّجُلُ : اِذَا اَخْبَأَ شَيْئًا فِيْ خُبْنَةِ ثَوْبِهٖ اَوْ سَرَاوِيْلِهٖ] - اخبن په هغه ځائے كښې استعماليږي چه يو تن يو شے د جامے يا پرتوګ په يو طرف كښې پټ كړي-

[فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ] په دهٔ هيڅ شے نشته، نهٔ تاوان، نهٔ سزا او نهٔ ګناه- [وَمَنْ خَرَجَ بِشَيْءٍ مِنْهُ] دا د [غَيْرَ مُتَّخِذٍ خُبْنَةً] بيان دے چه بهر ئې نهٔ اُوباسي-

[غَرَامَةُ مِثْلَيْهِ] په تثنيه سره راغلي، او په يو بل روايت كښې [فَعَلَيْهِ الْغَرَامَةُ] لفظ دے، او د ابوداودٌ په يو روايت كښې په [مِثْلَهٗ] مفرد سره راغلے- د تثنيه والا روايت د باب د تعزير بالمال نه دے- [غَرَامَةً] هغه شئ ته وائي چه د هغے ادا كول د تاديب يا تعويض په توګه لازم وي- [وَالْعُقُوْبَةُ] د نسائيّ په روايت كښې دي: [وَجَلَدَاتُ نَكَالٍ] (د عبرت دپاره يو څو چابكه) نو د عقوبت نه مراد تعزير دے، او تعزير به د لسو كوړونه زيات نشي وركولے-

[الْجَرِيْنُ] د جيم په زور او د راء په زير سره، هغه ځائے چه هلته كهجورے يا انګور وغيره او چولے شي، لكه درمن وغيره-

د نسائيّ په روايت كښې په آخره كښې دا جمله هم شته: [وَمَنْ سَرَقَ دُوْنَ ذٰلِكَ فَعَلَيْهِ غَرَامَةُ مِثْلَيْهِ وَالْعُقُوْبَةُ] (څوك چه د ډال د قيمت نه كم غلا وكړي نو دا به ډبل تاوان وركوي او سزا (يو څو چابكه) به هم خوري)-

[الطَّرِيْقِ الْمِيْتَاءِ] ميتاء كښې ميم زائد دے او دا د اتيان نه دے، يعني هغه لاره چه تګ راتګ پرے كيږي- [اَلْقَرْيَةِ الْجَامِعَةِ] يعني هغه كلے چه خلكو لره راجمع كونكے وي، په خلكو آباد وي- لكه په بل روايت كښې [قَرْيَةٍ عَامِرَةٍ] راغلے، يعني آبادهٔ علاقه-

[اَلْخَرَابِ الْعَادِيِّ] يعني هغه شاړه زمكه چه د پخوا زمانے نه شاړه رالروانه پاتے وي، يعني اسلامي عمارت پرے نهٔ وي آباد شوے، او د مسلمان په ملكيت كښې نهٔ وي راغلي، برابره ده چه پدے كښې موجود شے سرهٔ سپين وي يا نور لوښي او كپړے وي- او عادي ورته پدے وجه وائي چه عاديان قوم پخوا تير شويدے نو هغوی ته زوړ والے منسوب كيږي-

[الرِّكَازِ] ركاز : دفين الجاهلية ته وائي- يعنى جاهليت زمانه كښې خخ كړې شوې مال، دديې نه مراد صرف سرۀ او سپين دى-

**فوائد** : (۱) حديث نه معلومه شوه چه د باغ نه ميوه كهجوره يا بل شے اخستونكے درې **حالته** لرى : (أ) په يو حالت كښې په هغۀ هيڅ شے نشته : هغه دا چه په خُلۀ ئے وخورى او هيڅ شے ځان سره يونۀ سى، ځكه د باغونو والا په عامه توګه په دے قِسم لږ شى خوړلو كښې چشم پوشى كوى او څۀ نۀ وائى، او دا قانون دے چه عرفى اجازت داسے وى لكه لفظى اجازت- (ب) دويم حالت كښې به ترې دوچنده تاوان اخستلے شى او سزا به وركولے شى اګركه لاس به ئے نۀ غوځيږى : او دا په هغه صورت كښې چه د باغ نه ئے څۀ ميوه ځان سره ويستلے وى، ځكه دا پردے مال دے او د هغۀ د اجازت او رضامندئ نه بغيرئے اخستے، او په عامه توګه باغونو والا ددے قِسم تصرف اجازت نۀ وركوى- (ج) دريم كښې به ترے لاس غوڅولے شى : او دا هغه صورت دے چه په دے كښې ئے دومره ميوه وښكلے وى چه هُغه د يو ډال قيمت (نصاب) ته رسيږى او د هغه ځائے نه ئے وښكلے وى چه هغه محروز او محفوظ وى يعنى درمن نه-

(۲) او حديث نه ثابته شوه چه په سرقه كښې ((حِرز)) يعنى د غلا شوى شئ محفوظ والے شرط دے چه دا به د محفوظ ځائے نه غلا شوے وى- ځكه رسول الله ﷺ د هغه چانه لاس غوڅول ساقط كړى دى چه هغه د وُنے نه ميوے وشكوى، او په هغه چائے لاس غوڅول واجب كړى دى چه هغه ئے د درمن نه پټے كړى، نو دا دليل دے چه درمن د ميوو دپاره حرز او محفوظ ځائے دے- او دا حديث د جمهورو اهلِ علمو دپاره بنيادى دليل دے چه هغوئ په سرقه كښې ((حِرْز)) شرط ګنړى، بلكه بعضِ علماؤ په دے اجماع هم نقل كړے- [الافصاح: ٢/٤١٤، المغنى: ١٢/٤٢٦]

**سوال** : د سرقے په آيت كښې خو حِرز نۀ دے راغلے ؟

**جواب** : په دے حديث سره د آيتِ كريمه په عموم كښې تخصيص راغلے، ليكن راجحه داده چه داسے ووېل شى : چه اِحراز (محفوظ والے) د ((سرقے)) په مفهومِ لغوى كښې پروت دے نو بيا په آيتِ كريمه كښې عموم نشته او نۀ په دے حديث سره تخصيص راغلے، بلكه په آيتِ كريمه كښې به حِرز په خپله مراد وى- لكه قاموس كښې وائى :

[اَلسَّرِقَةُ وَالْاِسْتِرَاقُ الْمَجِيْءُ مُسْتَتِرًا لِأَخْذِ مَالِ غَيْرِهِ مِنْ حِرْزِهِ] [ترتيب القاموس: ٢/٥٥٥]

(یعنی غلا دیته وائی : په پټه راتلل او پردے مال د هغهٔ د محفوظ ځائے نه اخستل)
او حرز په لغت کښے حفاظت ته وائی۔ او **شرعًا**: هغه ځائے چه د مال ساتلو دپاره تیار شوے وی، چه هلته څوك خپل مال کیدی نو هغه د خپل مال ضائع کونکے نهٔ حسابیږی، بیا د هریو شئ حِرز خپل خپل دے، لکه نبی کریم ﷺ د میوو دپاره حِرز درمن گرځولے۔ یا لکه د پیسو دپاره صندق شو۔ په دے کښے صرف ظاهریهٔ او د سلفوّ یو جماعت اختلاف کړے، د دوئ په نیز په سرقه کښے حِرز شرط نهٔ دے بلکه په هر قِسم غلا کښے به لاس غوځیږی برابره خبره ده که دغه مال ئے د محفوظ ځائے نه اخستے وی او که د غیر محفوظ ځائے نه۔ او دلیل کښے د سرقے آیتِ کریمه پیش کوی، او دا حدیث ضعیف گرځوی۔ لیکن تا وپیژنده چه حِرز د سرقے په مفهوم کښے داخل دے نو دا گویا که په آیت کښے ذکر شوے۔ نو آیت عام گرځول او په عموم باندے استدلال کول درست نهٔ دی۔ او دا حدیث حسن یا صحیح دے، ضعیف نهٔ دے۔
(۳) او حدیث نه ثابته شوه چه څوك هغه مال پټ کړی چه په هغے کښے قطع نشته نو په دهٔ به دوچنده تاوان راځی۔ امام احمدؒ فرمائی: هر هغه څوك چه د هغهٔ نه قطع ساقطه شی نو په هغهٔ به دوچنده تاوان راځی۔ [زاد المعاد: ٥/٥٤] لکه په دے روایت کښے دوه ځائے ډبل تاوان راغلے ځکه چه قطع پرے نشته۔
(٤) او حدیث نه معلومه شوه چه څوك د باغ نه څهٔ میوه وباسی نو دهٔ له به سزا ورکولے شی، او دا سزا مقرره نهٔ ده بلکه دا تعزیر دے چه ددے نافذول حاکم ته سپارل شوی، یو څو کوړے به ورکړی، خو د لسو نه به ئے نهٔ زیاتوی۔ ځکه حدیث کښے دی:
[لَایُجْلَدُ فَوْقَ عَشْرِ جَلَدَاتٍ اِلَّا فِیْ حَدٍّ مِنْ حُدُوْدِ اللّٰهِ] [بخاری:٦٨٤٨]
(٥) او حدیث نه معلومه شوه چه کومے میوے درمن ته رسیدلے وی نو ددے په غلا کولو لاس غوځیږی ځکه دا د حفاظت ځائے نه غلا کول دی۔ بیا په دے کښے په تازه یا اوچو کښے هیڅ فرق نشته، ځکه رسول الله ﷺ درمن پورے حکم معلق کړے او دا ښکاره نص دے په دے خبره چه مدار د حکم حِرز او محفوظ والے دے، نهٔ رطوبت او یبوست، او پدے کښے احناف وائی چه که میوے تازه وے نو ددے په غلا کولو کښے قطع نشته او که اوچے وے او درمن ته نقل شوے نو په دے کښے قطع شته۔ دا خبره ضعیفه بے دلیله ده۔

(٦) او حديث دليل دے چه تعزير بالمال ورکول جائز دی، ځکه دلته په دوه ځايونو کښے ددے ميوے اخستونکی نه دوچنده تاوان اخستل کيږی، او دا تعزير بالمال دے، او دا اختلافی مسئله ده چه مخکښے په [كتاب الزكاة] کښے تيره شوه. او بيا باب التعزير کښں راځی ان شاء الله تعالىٰ.

په دے کښے **تحقيقی** خبره داده چه تعزير بالمال به په هغه ځايونو کښے جائز وی، چرته چه نص راغلے وی، او په کوم ځائے کښے چه نص نۀ وی راغلے، هلته به په قياس سره تعزير بالمال نشی ثابتولے. والله تعالىٰ اعلم.

(۷) په دے حديث کښے چه د باغ نه د خُلے د خوراك اجازت راغلے، نو دا خو يا د مسافر يا مضطر او حاجتمن دپاره دے، او يا د هغه علاقے والو په باره کښے دے چه هغوئ د باغ نه د خلے خوراك کول بد نۀ گنړی. او په کومه علاقه کښے چه خلك ددے اجازت نۀ ورکوی نو بيا هغے نه خوراك کول درست نۀ دی. د وجے د هغه نصوصو نه چه د مسلمان د مال د حُرمت او احترام په باره کښے راغلی دی.

(۸) او کومه لقطه چه په لاره کښے وموندے شی نو که دا آبادئ ته نزدے د عام او خاصو خلکو د تگ لاره وی نو ددے تشهير او اعلان تر يو کال پورے واجب دے ځکه چه ددے خبرے غالب گمان کيدے شی چه هغه د کوم مسلمان وی. که مالك ئے کال کښے راغلو نو هغۀ ته به ئے ورکړے او که مالك ئے پيدا نشو نو هغه ستا شو. او کومه لقطه چه په يوه پخوانئ شاړه زمکه کښے وموندے شی چه هلته د مسلمانانو آباديانے نۀ وی او نۀ هغه د کوم مسلمان ملکيت وی نو ددے حکم دا دے چه ددے نه به پنځمه برخه د الله تعالىٰ په لاره کښے صدقه او خيرات کړے شی بيت المال ته به ورکړے شی که وی او که نۀ وی نو بيا به ئے خيرات کوی، او باقی به ځان دپاره استعمال کړی برابره ده چه دا لقطه د سرو او سپينو په صورت کښے وی يا ددے نه علاوه د نورو سامانونو او زيوراتو په شکل کښے وی.

(۹) دغه شان په يوه شاړه پخوانئ زمکه کښے د جاهليت زمانے نه خخ کړے شوی خزانه (سرۀ او سپين) وموندے شی نو د هغے هم دغه حکم دے چه پنځمه برخه به بيت المال ته ورکړے شی که موجود وی يا به صدقه کړے شی او باقی د موندونکی شو. والله تعالىٰ اعلم.

**درجة الحديث** : [حسن] أبوداود : ۱۷۱۰ في اللقطة و(٤٣٩٢)، ترمذی : ۱۲۸۹، وحسنه، نسائی: ۸۵/۸، ابن ماجه: ۲۵۹٦، دارقطنی : ۲۵۹٦ أحمد : ۱۸۰/۲، حاكم: ۳۸۱/٤، بیهقی: ۲۷۸/۸، صحیح أبی داود.

## د لقطې د استعمالولو نه روستو مالك ئې طلب كړي نو د هغې بدله وركول پكار دي

3037 (5) - وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ ﷺ : أَنَّ عَلِيَّ بْنَ أَبِيْ طَالِبٍ ﷺ وَجَدَ دِيْنَارًا فَأَتٰى بِهٖ فَاطِمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا فَسَأَلَ عَنْهُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : " **هٰذَا رِزْقُ اللّٰهِ** " فَأَكَلَ مِنْهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ وَأَكَلَ عَلِيٌّ وَفَاطِمَةُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا فَلَمَّا كَانَ بَعْدَ ذٰلِكَ أَتَتِ امْرَأَةٌ تَنْشُدُ الدِّيْنَارَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ :" **يَا عَلِيُّ أَدِّ الدِّيْنَارَ** ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ

**ترجمه** : او ابو سعید خدری ﷺ نه روایت دے چه علی بن ابی طالب ﷺ یوه اشرفۍ وموندله، نو هغه ئې فاطمې رضی الله عنها ته راوړه، بیا ئې د هغې په باره کښې د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وکړه نو رسول الله ﷺ وفرمایل : دا د الله تعالیٰ رزق دے، (چه تا ته ئې درکړو) نو (په هغې باندې اخستې شوې شی) د هغې نه رسول الله ﷺ خوراك وكړو او علی ﷺ او فاطمې رضی الله عنها هم خوراك وكړو، ددې نه روستو چه کله یوه ښځه د خپلې اشرفۍ طلب کولو دپاره راغله نو نبی کریم ﷺ علی ﷺ ته وفرمایل : اے علی ! دے ته اشرفۍ ورکړه۔ (ابوداوٗد)

**تشریح** : [تَنْشُدُ الدِّيْنَارَ] دا د نَشَدَ يَنْشُدُ نَشْدَةً وَنِشْدَانًا نه دے، معنیٰ ئې ده : لټول او طلب کول۔ یعنی طلب کوله ئې اشرفۍ۔ او د باب افعال (إِنْشَاد) معنی ده : اعلان کول د ورك شوې شی۔ (الصحاح فی اللغة)

دا حدیث مثال دے د هغه تشریح چه په مخکنو روایتونو کښې ذکر شو چه کله معمولی شے ومومی نو د هغې استعمال بغیر د تشهیر او اعلان نه جائز دے او کله چه قیمتی ومومی نو یو کال پورې اعلان کول ضروری دی او د هغې نه روستو ئې ځان دپاره استعمال جائز دے، که روستو مالك راغلو نو د هغې تاوان به ورته ورکړے شی۔

دینار خو زیات شے دے نو علی ﷺ ددې اعلان ولې ونکړو ؟ ددې جواب دا دے چه کیدے شی علی ﷺ اعلان کړے وی او د هغې نه روستو ئې خرچ کړی وی۔ یا دا چه دینار ورته معمولی ښکاره شو۔

په روايت د ابو يعلیٰ او اسحاق بن راهويهٔ او بزار كښې دي چه علي ﷺ ته ئې وفرمايل : پدې باندې درې ورځو پورې اعلانونه وكړه- ليكن هغه روايت كښې ابوبكر بن عبد الله بن ابي سبرهٔ راوي متروك الحديث دے -

**درجة الحديث** :[اسناده حسن] ابوداود : ۱۷۱۶، بيهقي : ۱۲۴۵۲.

## لقطه په بد نيت سره مهٔ پورته كوئ

3038 (6) – وَعَنِ الْجَارُوْدِ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : " ضَالَّةُ الْمُسْلِمِ حَرَقُ النَّارِ ." رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ

**ترجمه** : او جارود (بن علاء) ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : د مسلمان ورك شوے شے د اُور لمبه ده- (ابوداودؒ)

**تشريح** : [ضَالَّةُ]- ضاله د ورك شوي اُوښ دپاره استعماليږي- نو مطلب د حديث دا دے چه د بنو عامرو په وفد كښې جارود عبدي ﷺ راغلو او د رسول الله ﷺ نه ئې د ورك شوي اُوښانو په باره كښې پوښتنه وكړه نو هغهٔ ورته وفرمايل : د مسلمان نه ورك شوے اُوښ د اُور شعله ده- او همدا خبره ډيره صحيح ده- او كه ضالة لفظ عام واخستے شي نو بيا به مطلب دا وي چه كه يو تن يوه لقطه پدې نيت سره واخلي چه ددے به مالك جوړ شي او په هغې كښې ئې د خيانت نيت وي- يا د هغې احكام نهٔ پوره كوي كوم چه د لقطې په باره كښې شريعت مقرر كړي چه هغه اعلان او تشهير كول دي نو دا لقطه به ددے شخص دپاره د دوزخ د اُور شعله او لمبه جوړيږي- نو دا تشبيه بليغه ده چه اداة د تشبيه حذف شويدي اصل داسے دے : [كَحَرَقِ النَّارِ] يعني د اُور د لمبے په شان دے-

[حَرَق] د حاء او راء زبر دے، د اُور لمبے او شعلے تـه وائي-

**درجة الحديث** :[صحيح على شرط مسلم] احمد : ۱۶۳۵۷، الترمذي : ۱۸۸۱، ، ابن ماجه : ۲۵۰۲، نسائي : ۵۷۹۲، ابن حبان : ۴۸۸۸، الطيالسي : ۱۳۹۱، مسند البزار : ۴۳۵۰ ولم اجده في ابي داود.

## هركله چه لقطه پورته كوے نو څوك پرے ګواه كړه

3039 (7) – وَعَنْ عِيَاضِ بْنِ حِمَارٍ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ :" مَنْ وَجَدَ لُقَطَةً فَلْيُشْهِدْ ذَا عَدْلٍ أَوْ ذَوَيْ عَدْلٍ وَلَا يَكْتُمْ وَلَا يُغَيِّبْ فَإِنْ وَجَدَ صَاحِبَهَا فَلْيَرُدَّهَا عَلَيْهِ وَإِلَّا

فَهُوَ مَالُ اللهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَّشَاءُ ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُودَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ

**ترجمه** : او عياض بن حمار ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چه (په يو ځائے كښے) يو ورك شوے شے ومومئ نو هغه دِے يو عادل شخص يا ئے وفرمايل : دوه عادلان كسان گواهان جوړ كړي او هغه دِے (د اعلان نۀ كولو په وجه) نۀ پټوي او نۀ دِے ئے غيبوي، نو كه ددے مالك ئے وموندو نو ورته واپس دِے ئے كړي او كه نۀ وي نو دا د الله تعالىٰ مال دے چه وركوي دا چا ته ئے چه وغواړي. (احمدؒ، ابوداودؒ، دارميؒ)

**تشريح** : [فَلْيُشْهِدْ]- يعنى كله چه يو تن يوه لقطه راپورته كړي نو په هغه وخت كښے دِے پدے باندے يو تن يا دوه عادلان كسان گواه كړي چه ما دا فلانے شے د لقطے په طور راپورته كړے دے دپاره چه څوك (يعنى مثلاً مالك) په هغۀ باندے د غلا تهمت ونۀ لگوي او نۀ د كمي او زياتي دعوىٰ وكړي. په گواه نيولو كښے يوه فائده دا هم ده چه پدے صورت كښے به ددۀ نفس په حرص او طمع كښے نۀ مبتلا كيږي، ځكه چه د گواه نه بغير دا احتمال كيدے شي چه ددۀ نيت خراب شي او دا سوچ وكړي چه څوك گواه نشته نو مالك ته د وركولو په ځائے دغه شے ځان دپاره ملكيت جوړ كړي. او د گواه جوړولو په صورت كښے دا طمع ختميږي. دارنگه كيدے شي چه دا لقطه پورته كونكے اچانك وفات شي نو هسے نۀ چه ددۀ وارثان دا ميراث وگڼړي، نو د گواه په وجه به دغه مال مالك ته واپس كړے شي. يا كه دے مفلس شوے وي نو هسے نۀ چه ددۀ قرضداران په دے قبضه وكړي.

## آيا گواه نيول واجب دي ؟

شيخ عبد المحسن العبادؒ په شرح د ابوداودؒ كښے فرمائي : په مخكنو حديثونو كښے د گواه جوړولو امر نۀ وو، او دے حديث كښے راغلو نو دا امر د استحباب دپاره دے، او علامه خطابيؒ وائي : دا امر د تأديب او ارشاد دے او دغه فوائد پكښے ذكر دي.

علامه شوكانيؒ وائي : ظاهر د امر تقاضا د وجوب كوي، او همدا خبره راجحه ده. او په گواه جوړولو كښے دوه قوله دي : (۱) يو قول د ابوحنيفةؒ او دا يو روايت د شافعيؒ نه دے، چه اِشهاد واجب دے. او د گواه جوړولو په كيفيت كښے دوه قوله دي، يو دا چه صرف د لقطے په موندلو دِے گواه ونيسي او د هغے خاص علامات دِے نۀ ذكر كوي دے دپاره چه دروغجن دعوه كونكي ته موقعه ملاؤ نشي. دويم دا چه د هغے ټولو صفاتو

باندې به ګواه خبروی دې دپاره چه کـه دې مړ شي نو وارثان په هغې کښې تصرف ونکړي، او بعض شوافعو وئيلي دي چه ټول صفات ذکر کول ضروري نۀ دي بعض به ذکر کړي نوويؒ وائي : همدا خبره ډيره صحيح ده۔ (۲) دويم قول د امام شافعيؒ دې چه ګواه نيول واجب نۀ دي، او دا قول د امام مالكؒ او احمدؒ وغيره هم دې۔ دوئ وائي : ګواه نيول د احتياط په بنياد مستحب دي ځکه چه نبي کريم ﷺ په نورو حديثونو کښې پدې باندې امر نۀ دې کړې که دا واجب وې نو د هغې بيان به ئې کړې وې۔ انتهٰى ما في [نيل الاوطار : ٤/٤٦]۔

ليکن ظاهر دا ده چه ګواه نيول واجب دي، د يو باب ټول حديثونه راغونډولو نه پس مسئله واضحه کيږي۔ علامه صنعانيؒ او شيخ ابن بازؒ ديته ترجيح ورکړې۔ ځکه په دې حديث کښې په دې امر راغلې او امر د وجوب دپاره وي۔ بله دا چه : که ګواه جوړ نۀ کړي نو ظاهره دا معلوميږي چه موندونکې دا شې د خپل ځان دپاره راخلي۔

[وَلَا يَكْتُمُ] يعني څه دِې د هغې نه نۀ پټوي، يا دِې لقطه نۀ پټوي چه بغير د اعلان نه هغه ځان سره وساتي۔ [وَلَا يُغَيِّبُ] : يعني لقطه دِې نۀ غائبوي د خپل مالك نه کله چه هغه پيدا شي۔ يا دِې ئې د پټولو دپاره بل ځائې ته نۀ منتقل کوي۔ ددې مطلب دا دې چه د لقطې تشهير او اعلان دِې په عامو صفاتو سره وکړي چه ما يو شې موندلې دې چه د هغې دا دا صفات دي، او بيا چه کله يو مدعي ورته راشي نو هغۀ نه دِې خاص خاص صفتونه د هغې وغواړي۔ [البحر المحيط الثجاج شرح مسلم بن الحجاج ٣٠/٢٠٣ : يحيى بن آدم الاثيوبى حفظه الله]

**درجة الحديث :** [صحيح] ابوداود : ١٧٠٩، نسائي : ٥٨٠٨، ابن ماجه : ٢٥٠٥، واحمد : ٤/١٦١، ٢٦٦، (١٨٣٦٢)، (١٧٤٨١) وصححه ابن حبان.

## د لقطې هغه مقدار چه په هغې کښې تشهير او اعلان ته ضرورت نۀ وي

3040 (8) — وَعَنْ جَابِرٍ ؓ قَالَ : رَخَّصَ لَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ فِي الْعَصَا وَالسَّوْطِ وَالْحَبْلِ وَأَشْبَاهِهٖ يَلْتَقِطُهُ الرَّجُلُ يَنْتَفِعُ بِهٖ . رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ

وَذُكِرَ حَدِيْثُ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِيْ كَرِبَ : " **أَلَا لَا يَحِلُّ** " فِيْ "**بَابِ الْاِعْتِصَامِ**"

**ترجمه** : او جابر ؓ فرمائي : رسول الله ﷺ موږ ته د امسا او چابك او رسئ او ددې

په شان شیانو په باره کښې اجازت راکړے چه یو سړے دا راواخلي او پدے باندے (ځانله) فائده واخلي- (ابوداوّد) او د مقدام بن معدیکرب ﷛ حدیث (الا لا یحل) په باب الاعتصام کښې ذکر شویدے-

**تشریح** : یعني که لقطه دے شیانو نه د یو شي وه نو ددے پورته کونکے بغیر د تشهیر او اعلان نه د خپل ځان دپاره استعمالولے شي- او نبی ﷺ په لاره کښې یوه کهجوره وموندہ، هغه ئے راپورته کړے وے فرمایل : ((که دا یره نهٔ وے چه دا به د زکاة وی، نو ما به خوړلے وے))- [بخاری : ۲۰۵۵، مسلم : ۲۵۲۷]

که مالك ئے روستو پیدا شو نو هغهٔ ته به ئے ورکړی که باقي وی او که ضائع شوے وی د هغے قیمت به ورکړی-

((شرح السنه)) کښې دی : چه دا حدیث ددے خبرے دلیل دے چه که لقطه یو معمولي شے وی نو ددے تشهیر ضروری نهٔ دے- بیا د کم مال حد څه دے؟ نو بعض علماؤ وئیلي دی چه د لسو درهمو نه کم مالیت وی نو هغه کم مال دے، او بعضو وئیلي دی چه یو دینار وی یا د یو دینار نه کم وی نو هغه کم مال دے لکه په مخکښې حدیث د علي ﷛ کښې یو دینار ذکر شو- [شرح السنة :۸/۳۱۲] للبغوی- ظاهر دا ده چه رسئ او ددے په شان معمولي شیان عرف ته سپارل شویدی-

**درجة الحدیث** :[ضعیف] ابوداود : ۱۷۱۷، (۱۷۱۹) فیه عنعنة ابی الزبیر والاختلاف علیه فی رفعه ووقفه- کما فی ضعیف ابی داود : (۳۰۳) وارواء الغلیل : ۱۵۵۸].



# ٩- كِتَابُ الْفَرَائِضِ وَالْوَصَايَا

## د ميراث او د وصيتونو د مسائلو بيان

فَرَائِض : جمع د فَرِيْضَةٌ ده، چه د فرض نه مشتق دے، په لغت کښے څو معنے لري: (١) يوه معنىٰ ئے ده اندازه لګول او يو شے مقررول. فرائض په معنىٰ د تقديراتو (مقدراتو) سره دے، يعني د هر يو تن دپاره دَ مړي په مال کښے معلومے او مقررے حصے. (٢) دويمه معنىٰ ده : قطع او پريکول، عرب وائي : فَرَضْتُ لِفُلَانٍ كَذَا وَكَذَا مِنَ الْمَالِ (ما فلاني له دومره دومره مال پريکړو او ورته مے ورکړو) او ميراثونو ته فرائض ځکه وائي چه داد الله تعالىٰ ددے ارشاد نه اخستل شوے : ﴿نَصِيبًا مَّفْرُوضًا﴾ [النساء: ٧] (مقرره او پريکړے برخه) مفروض هغه شئ ته وائي چه د هغے کول لازم وي. او فرائض په اصطلاح کښے : علم ميراث او د هغے حساب پيژندلو ته وائي. د علمِ فرائض نه مراد علمِ ميراث دے. يعني د مړي په مال کښے د هر چا مقرره او غير مقرره برخه پيژندل. ددے موضوع ده : ترکات (د مړي پريښي مالونه) او فائده ئے ده : هر وارث ته د هغهٔ حصه رسول. حکم ئے دادے : چه دا فرض کفائي دے، که يو تن ته دا زده وي نو د نورو نه ساقط دے، ځکه مستحقينو ته د هغوئ د حقونو رسولو دپاره دا يوه ذريعه ده.

**فرائض** : د ميراث هغه برخو او حصو ته وائي چه په قرآن يا حديث کښے متعين او مقرر شويدي نو پدے باب کښے به دا بيانيږي چه يو تن مړ شي نو د هغهٔ خپلوانو نه به کوم خلك وارثان جوړيږي؟ او د هغهٔ پريښے مال او اسباب به د هغهٔ د وارثانو ترمينځ په کومه طريقه تقسيميږي؟.

❁ ميراث خپله الله تعالىٰ د خپل علم او حکمت او رحمت مطابق په ډير ښائسته او عادلانه انداز سره تقسيم کړے او ددے پوره بيان ئے کړے. د ميراث په آيتونو او حديثونو کښے ټول هغه صورتونه ذکر شوي چه د هغے واقع کيدل ممکن وي، خو ځينے په ډاګه او ځينے فکر او سوچ ته ضرورت لري. [مقدمة تسهيل الفرائض للشيخ ابن عثيمين]

د علمِ میراث د تعلیم او تعلم او فضیلت په باره کښې یو څو ضعیف الاسناد حدیثونه راغلي، یو د هغې نه دادے: ابو هریره ﷺ ته نبي کریم ﷺ وفرمایل: ((ابو هریره! فرائض (علم میراث) زده کوئ او خلکو ته ئے ښایئ ځکه چه دا نیمائي علم دے، او دا به هیرولے شي، او دا اولنے شے دے چه زما د امت نه به اخستل کیږي)) [ضعیف جدا: ابن ماجه: ٢٧١٩، دارقطني: ٦٧/٤، بیهقي: ٢٠٩/٦، حفص بن عمر منکر الحدیث]. دا حدیث د سند په لحاظ ضعیف دے لیکن معنیٰ ئے صحیح ده، عام دلائل ددے تائید ګرځي لکه د میراث آیتونه او حدیثونه او د علم د فضیلت په باره کښې راغلي دلائل. او واقع هم ددے تائید کوي. دے وجې نه طالب علم له پکار دي چه د علمِ میراث اهتمام وکړي او دا په ښې طریقې سره زده کړي، د دوو وجو نه: (أ) یو خو په دے وجه چه دا هغه علم دے چه په آخره زمانه کښې به د خلکو نه پورته کړے شي، لکه اوس وخت ددے شاهد دے. (ب) دویم: دیته سخت ضرورت دے، ځکه خلك دیته حاجت لري چه څوك د دوئ ترمینځه میراث تقسیم کړي.

دا باب د یوے لوی موضوع سره متعلق دے پدے وجه مناسب معلومیږي چه په ابتدائي توګه څو اصولي خبرے او څه ضروري مسائل په یو ځائے راجمع کړے شي چه طالب العلم ته پکښې آساني پیدا شي.

**د میراث سره متعلق حقوق:**

(١) د مړي د ترکه (یعني پریښي مال) سره څلور حقوق متعلق کیږي چه د هغې ترتیب دا دے: (أ) اول خو به د مړي تجهیز او تکفین وکړے شي یعني اول به مړي ته غسل بیا کفن ورکړے شي بیا به مقبرے ته یوړے شي پدے کارونو باندے چه کومه خرچه وشوه نو هغه به د مړي د مال نه واخستے شي چه پدے کښې به نۀ تنګي کولے شي او نۀ اسراف. (ب) دے نه روستو که د مړي په ذمه قرض وي نو هغه به ادا کړے شي. (ج) که مړي وصیت کړے وي نو هغه به د باقي مال نه ادا کړے شي خو پدے شرط چه دا وصیت به د مال د دریمے برخے نه زیات نۀ وي، که زیات وصیت ئے کړے وي نو دریمے برخے ته به راخکته کولے شي. (د) ددے درے مرحلو نه روستو به ددۀ باقیمانده مال او اسباب ددۀ د وارثانو ترمینځ تقسیم کړے شي.

**(٢) د وارثانو اقسام: ذوي الفروض او عصبات او ذوي الارحام:**

د مړي وارثان رشته داران په درې برخو باندې ویشلې شي، یو ته اصحاب الفرائض او ذوي الفروض وائي. او دویم ته عصبات او دریم ته ذوي الارحام وائي. **ذوي الفروض** او اصحاب الفرائض هغه خلك دي چه هغوی دپاره الله تعالیٰ برخې په خپل کتاب کښې ذکر کړیدي: او دا دولس قسمه کسان دي: (۱) پلار (۲) نیکهٔ (برابره ده چه پورته درجې والا وي لکه ړر نیکهٔ او که نزدې وي، لکه نیکهٔ) (۳) اخیافي (خیفي) ورور (خیفي هغه ورور ته وائي چه د هغوی پلار جدا جدا وي او مورئې یو وي) (٤) ښځه (٥) خاوند (٦) مور (۷) جده (یعني نیا. برابره ده چه د مور د طرف نه وي او که د پلار د طرف نه، نزدې وي او که لرې) (۸) لور (۹) نمسئ. (یعني د ځوی لور) (۱۰) حقیقي خور (یعني مور او پلار دواړو کښې شریکه) (۱۱) علاتي خور (یعني صرف پلار کښې شریکه خور) (۱۲) اخیافي خور (یعني صرف مور کښې شریکه خور)

## د ذوي الفروضو حصې :

**پلار**: (أ) د مړي په ترکه کښې د پلار شپږمه برخه وي کله چه د مړي ځوی یا نمسے یا کړوسے موجود وي (ب) او که دا نهٔ وي بلکه د مړي لور یا نمسئ یا کړوسئ وي نو بیا به د پلار شپږمه برخه هم وي او هغه به عصبه هم وي یعني د نورو میراث خورو نه پاتې مال به هم اخلي. (ج) او که د مړي نهٔ نارینه اولاد وي او نهٔ زنانه نو بیا به پلار عصبه وي (ټول میراث به وړي پس د ذوي الفروضو د برخو نه) او که د مړي پلار نهٔ وي نو بیا به ددهٔ په ځائے نیکهٔ دغه شان جوړیږي. که د مړي پلار او نیکهٔ دواړه ژوندي وي نو بیا نیکهٔ محرومیږي.

**اخیافي**: (أ) **اخیافي** ورور او اخیافي خور ته به د میراث شپږمه برخه ملاویږي پدې شرط چه یو وي، (ب) او که هغوی دوه یا د دوو نه زیات وي نو بیا به د میراث دریمه برخه اخلي، او په دوئ کښې به نارینه او زنانه ته یو شان برابره برخه ورکړے کیږي. (للذکر مثل حظ الانثنین به نهٔ وي) (ج) او که د مړي پلار یا نیکهٔ ژوندې وي، یا د مړي ځوی یا د ځوی اولاد موجود وي نو بیا به اخیافي ورور او خور محرومیږي.

**خاوند**: (أ) که ښځه مړه شي او د هغې ځوی یا لور نهٔ وي او د ځوی اولاد هم نهٔ وي نو د هغې په ترکه کښې د خاوند نیمه برخه رسیږي، (ب) او که د ښځې دغه اولاد وي نو بیا د خاوند څلورمه برخه رسیږي.

**ښځه** : (أ) كه خاوند مړ شي او د هغهٔ هيڅ اولاد نهٔ وي او د ځوى اولاد ئے هم نهٔ وي نو د هغهٔ په تركه كښے د ښځے څلورمه برخه ده، (ب) او كه د مړي نارينه يا زنانه اولاد وي يا ئے د ځوى اولاد وي نو د ښځے به اتمه برخه مال رسيږي. دارنګه برابره ده چه د مړي يوه ښځه وي او كه زياتے خو د هغوى ترمينځ به دغه پورته ذكر شوے برخه شريكه تقسيميږي، هر يوے ته به جدا جدا څلورمه يا اتمه نهٔ وركول كيږي.

**مور**: (أ) د مړي په مال كښے د مور شپږمه برخه ده پدے شرط چه د مړي ځوى يا لور يا نمسے يا د نمسى اولاد وي، يا د مړي يوه خور يا دوه وروڼه او دوه خويندے يا د دوو نه زيات وروڼه يا خويندے وي برابره ده چه حقيقي وروڼه او خويندے وي يا پلار شريك يا مور شريك وي) (ب) كه ددے كسانو نه يو هم موجود نهٔ وي نو بيا به د مور د ټول مال دريمه برخه اخلي. (ج) او كه د مور سره د مړي پلار او خاوند يا ښځه هم وي نو پدے صورت كښے به پلار او خاوند يا ښځه خپله خپله برخه واخلي او څه چه پاتے شي د هغے دريمه برخه به مور ته ملاؤ شي. او كه په ذكر شوي صورت كښے د ښځے يا خاوند سره د پلار په ځائے نيكهٔ موجود وي نو بيا به مور د ټول مال دريمه برخه اخلي ځكه چه پدے صورت كښے نيكهٔ د پلار په ځائے نهٔ قائميږي.

جده : نيا شپږمه برخه مال وړي برابره ده چه د مور د طرف نه نيا وي او كه د پلار د طرف نه. او برابره ده چه يوه وي او كه زياتے وي. مطلب دا چه كه صرف يوه نيا د پلار د طرف نه وي يا صرف يوه د مور د طرف نه. نو هغه به د مړي د مال د شپږمے برخے يواځے حقداره وي. او كه د يوے نه زياتے وي، يعني يوه نيا د پلار د طرف نه او يوه د مور د طرف نه وي. يا دوه نياګانے د پلار د طرف نه او دوه د مور د طرف نه وي نو دوئ ټولے به پدے شپږمه برخه كښے شريكے وي چه دوئ ته به برابر تقسيميږي. پدے شرط چه دا ټولے په درجه كښے برابرے وي او كه په درجه كښے برابرے نهٔ وي بلكه په درجه كښے ئے تفاوت (فرق) وي (لكه يوه د پلار د طرف نه خپله نيا وي او بله د نيا مور وي (يعني دره نيا) دغه شان د مور د طرف نه خپله نيا او بله د مور نيا وي نو كومه چه خپله نيا ده هغه به حقداره وي او پورته نيا به محرومه وي. لنډه دا چه نزدے نيا لرے نيا لره محروموي.

مثلاً سړے مړ شو د مور د مور مورئے پريخوده او د پلار مورئے پريخوده نو ميراث به ددے دويمے نيا وي، ځكه چه دا نزدے ده. دارنګه ددے برعكس : سړے مړ شو د پلار د

مور مور ئې پريخوده او د مور مور نو دلته به ميراث د دويمې وي، ځکه چه دا مړي ته نزدې ده. دارنګه که د نيکۀ مور ئې پريخوده او د پلار مور او د مور مور نو دلته به ميراث روستنو دواړو نياګانو ته ورکولې شي نۀ اولنۍ ته ځکه هغه لرې ده.

دارنګه د مور په موجودګۍ کښې ټولې جدات (يعنې نياګانې برابره د مور د طرف نه وي او که د پلار د طرف نه) محرومېږي. دغه شان د نيکۀ په موجودګۍ کښې د پلار نياګانې محرومېږي ليکن د پلار مور نۀ محرومېږي.

**لور** : د مړي لور د ميراث نه هيڅکله نۀ محرومېږي، (١) که ددې ورور يعنې د مړي ځوی موجود وي نو دا عصبه جوړېږي، يعنې بيا به د ځوی دوه برخې او د لور يوه برخه مال جوړېږي. (٢) او که ورور ورسره نۀ وي نو بيا به د ذوي الفروضو نه وي يعنې نيمائي مال به وړي. (٣) دارنګه که نور ميراث خوارۀ نۀ وي او صرف لور پاتې وي نو دې ته به باقيمانده نيمائي حصه هم ملاوېږي.

(٤) او که دوه لونړه وي يا د دوو نه زياتې او د دوئ سره د دوئ حقيقي ورور يا پلار شريکې ورور نۀ وي نو لونړو ته به د ترکې نه دوه (دريمې) برخې ملاوېږي چه دوئ به دغه دوه برخې خپل مينځ کښې برابر تقسيم کړي. (٥) او که د دوئ سره د مړي ځوی موجود وي نو پدې صورت کښې به د لونړو کومه مقرره برخه نۀ وي بلکه هغوی به عصبه جوړېږي چه ددې مطلب دا دې چه د مړي د مال نه چه ځوی ته څومره ملاوېږي نو د هغې نيمائي برخه به يوې لور ته ملاوېږي، برابره ده چه لور يوه وي يا ډيرې وي، هر يو به د خپل ورور نيمه نيمه برخه وړي. نو که د مړي ځامن هم زيات وي او لونړه هم زيات نو تقسيم به ئې داسې کيږي چه هلکان به دوه دوه برخې اخلي او جينکۍ به يوه يوه برخه اخلي.

**د ځوي لور** : (١) که د مړي لور يا ځوی يا د ځوی ځوی (نمسې) موجود نۀ وي بلکه صرف يوه نمسۍ (د ځوی لور) وي نو هغې ته به د ترکې نه نيمائي حصه ملاوېږي، (٢) او که دوه يا د دوو نه زياتې نمسۍ وي نو هغوی ته به د ټولې ترکې نه دوه دريمې برخې ملاوېږي (لکه مخکښې د دوو لونړو په باره کښې تير شو) چه دوئ به ئې خپل مينځ کښې تقسيموي. (٣) که د مړي ځوی، نمسې (د ځوی ځوی) يا کړوسې موجود نۀ وي بلکه صرف يوه لور وي نو نمسۍ ته به شپږمه برخه ملاوېږي برابره ده چه نمسۍ يوه

وي او كه ډيرے وي۔

(٤) او كه د مړي دوه يا د دوو نه زياتے لونړه موجودے وي نو پدے صورت كښے به نمسئ بالكل محرميږي، (٥) البته كه د نمسئ سره د مړي نمسے هم وي (يعني د هغے ورور) برابره ده چه لاندے درجے والا وي يعني كړوسے او برابره ده چه دا نمسے ددے نمسئ حقيقي ورور وي يا علاتي (پلار شريكے) ورور وي او يا د ترهٔ ځوي وي) بيا برابره ده چه د مړي يوه لور وي يا ګڼړے لونړه وي نو هغه نمسئ به عصبه جوړيږي او مطلب به دا وي چه د ذوي الفروضو د حصے وركولو نه روستو چه څه مال پاتے كيږي هغه به دا نمسئ او دا نمسے خپل مينځ كښے د عصوبت په توګه تقسيم كړي يعني نمسي ته به دوه حصے او نمسئ ته به يوه حصه وركړے شي۔ ليكن دا خبره ياد ساتل پكار دي چه كه د مړي ځوي موجود وي نو بيا به دا نمسئ په هر حال كښے بيخي محروميږي۔ دارنګه كه د مړي اولاد هم نهٔ وي موجود او د مړي د ځامنو اولاد هم نهٔ وي موجود نو پدے ذكر شوو تمامو صورتونو كښے به د مړي كړوسئ د هغه د نمسئ په ځائے قائميږي، او كه لور موجوده وي نو د لور اولاد به محروميږي او كه نمسئ موجوده وي نو د نمسئ اولاد به محروم پاتے وي۔

**اخيافي :** (١) كه د مړي اولاد موجود وي يا د هغهٔ د ځامنو اولاد موجود وي (برابره ده چه هغه لاندے درجے والا ولے نهٔ وي) نو اخيافي خور او ورور به محروميږي، (٢) دغه شان كه د مړي پلار يا نيكهٔ موجود وي نو اخيافي خور او ورور به محروميږي۔

**حقيقي خور :** (١) كه د مړي ځوي او لور يا نمسے او نمسئ او يا كړوسے او كړوسئ موجود نهٔ وي بلكه صرف يوه حقيقي خور وي نو هغه به په هر حال كښے د لور په ځائے قائميږي يعني كه يوه خور وي نو هغه د مړي د كل تركے نه نيمائي مال اخلي، (٢) او كه دوه يا د دوو نه زياتے خويندے وي نو هغوي ته به د كل تركے نه دوه برخے وركړے كيږي چه هغوي به ئے په خپلو كښے برابر تقسيموي، پورته ذكر شوي صورت كښے د پلار شريكے خور هم دغه حكم دے پدے شرط چه حقيقي خور هم موجود نهٔ وي۔

(٣) كه د مړي لور يا نمسئ يا كړوسئ يا پردئ موجوده وي (برابره ده چه يوه وي يا زياتي وي) نو پدے صورت كښے حقيقي خور (او كه حقيقي خور نهٔ وي نو علاتي خور (يعني پلار شريكه)) خور عصبه جوړيږي چه ددے مطلب دا دے چه د مړي تركه ذوي

الفروضو ته د ورکولو نه روستو چه څه پاتے شي هغه به دے خور ته ملاویږي. ځکه چه حدیث نه معلومه ده چه رسول الله ﷺ د لور، د ځوی لور او د خور دپاره داسے میراث ورکړے چه د لور دپاره نیمائي او د ځوی لور دپاره شپږمه برخه او څه چه پاتے شو هغه د خور دپاره ځکه چه دا د لور سره عصبه شوه. (بخاري: ٦٧٤١، باب میراث الاخوات مع البنات عصبة).

(٤) که د مړي حقیقي ورور (یو یا زیات) موجود وي نو حقیقي خور به د هغهٔ سره عصبه جوړیږي. (٥) او که حقیقي ورور نهٔ وي بلکه علاتي (پلار شریکے) ورور وي نو حقیقي خور ددے علاتي ورور په موجودګئ کښے د ذو الفروضو نه ګرځي.

(٦) که د مړي یو حقیقي ورور وي او د هغهٔ سره علاتي ورور او خور هم وي نو دے حقیقي ورور په موجودګئ کښے به هغه علاتي ورور او خور محرومیږي.

(٧) که د مړي یو حقیقي خور موجوده وي نو د هغے په موجودګئ کښے علاتي خور به شپږمه حصه اخلي برابره ده چه یوه وي یا د یو نه زیات وي. (٨) او که حقیقي خویندے د یوے نه زیاتے وي نو بیا به علاتي (پلار شریکه) خور ساقطیږي، هغے ته به هیڅ نهٔ ملاویږي، آؤ که علاتي خور سره علاتي ورور وي، نو بیا به دا علاتي خور نهٔ محرومیږي، بلکه برابره ده چه یوه حقیقي خور وي یا د یوے نه زیاتے وي او یا یو هم نهٔ وي په هر صورت کښے به علاتي خور د علاتي ورور سره عصبه جوړیږي او مطلب به دا وي چه ذوي الفروضو ته د برخے ورکولو نه روستو به د مړي د ترکے نه چه څه پاتے شي هغه به دے علاتي ورور او خور ترمینځ د عصوبت په طریقه تقسیمیږي.

(٨) او که د مړي حقیقي خور د مړي د لور یا نمسئ یا کړوسئ سره عصبه کیږي نو پدے صورت کښے به علاتي ورور او علاتي خور بالکل محرومیږي.

دا خبره ذهن کښے کینول پکار دي چه که د مړي ځوی یا نمسے یا کړوسے موجود وي نو د مړي حقیقي ورور، حقیقي خور او علاتي ورور او خور به محرومیږي. دغه شان د پلار یا د نیکهٔ په موجودګئ کښے هم د مړي حقیقي او علاتي ورور او خور محرومیږي.

**د عصباتو تفصیل:**

عصبه هغه چا ته وائي چه ذوي الفروضو ته د حصے ورکولو نه چه کوم مال پاتے

کيږي هغه مال دوئ اخلي. نو ګويا که ذوي الفروض اوله درجه کښې وارثان دي او عصبات دويمه درجه کښې وارثان دي. **د عصباتو هم ځلور درجې دي** : (١) اول ځوی، نمسے، کړوسے، يا د دوئ نه لاندے درجې والا. (٢) دويم : پلار، نيکۀ، ډېر نيکۀ (يا د هغې نه بره) (٣) حقيقي او پلار شريکے ورور او د هغوی ځامن. اګر که لاندے درجې والا وی. (٤) د مړي تره، د مړي د پلار تره، د مړي د نيکۀ تره او ددے ترونو ځامن او نمسي او کړوسي او کودي. بيا ددے ځلور درجو ترتيب به داسے وی : پدے **ځلورو** درجو کښے د ټولو نه مخکښے ځامن دي، بيا نمسي بيا کړوسي، بيا کودي، بيا پلار، بيا نيکۀ بيا ډېر نيکۀ، بيا ورور بيا خور، بيا ورارۀ، (اګر که لاندے درجې والا وی) بيا تره بيا د تره اولاد. لهذا ددے ځلورو درجو نه چه د اولے درجے کوم عصبه موجود وی نو باقي درے واړه درجات به بالکل محروميږي. دغه شان که د اولے درجے کوم عصبه يعني ځوی يا نمسے، يا کړوسے او يا کودے موجود نۀ وی او په دويمه درجه کښے چه کوم عصبه موجود وی نو باقي د دوه درجو عصبات به بالکل محروميږي. او که نۀ د اولنئ درجے عصبات موجود وی او نۀ د دويمے درجے عصباتو نه بلکه د دريمے درجے عصباتو نه څوك موجود وی نو بيا به ځلورمے درجے عصبات بالکل محروميږي، دغه شان ددے **ځلورو** درجو نه په هره درجه کښے قريب عصبه به په بعيد عصبه باندے مقدم وی يعني د قريب عصبه په موجودګئ کښے به بعيد عصبه ته هيڅ نۀ ملاويږي، مثلاً د مړي ځوی هم موجود وی او نمسے هم موجود وی نو دا دواړه د اولے درجے عصبه دي مګر پدے صورت کښے به قريب عصبه يعني ځوی به مقدم وی چه صرف همده ته به د مړي ترکه ملاويږي او بعيد عصبه يعني نمسے به محروميږي. دغه شان حقيقي عصبه به په پلار شريك عصبه باندے مقدم کيږي او د مړي د ترونو نمسے به د مړي د پلار په ترونو باندے مقدم وی او د مړي د پلار د پلار د ترونو نمسے به د مړي د نيکۀ په ترونو باندے مقدم وی.

**ذوی الارحامو تفصيل :**

دريم قسم ميراث خوارۀ ذوی الارحام دي، که چرته د مړي د وارثانو نه ذوی الفروض هم نۀ وی او د عصباتو نه هم نۀ وی نو بيا به د مړي ترکه ذوی الارحام ته ملاويږي ګويا که د ذوی الارحامو دريمه درجه ده. بيا لکه څنګه چه د عصباتو ځلور درجے دي نو دغه شان د ذوی الارحامو هم **ځلور** درجے دي چه تفصيل ئے دا دے :

(١) د مړې د لور، نمسۍ او کړوسۍ (اګرکه لاندې درجې والا وي) اولاد يعنې د مړې نوسۍ، د مړې د ځوې نمسې، او نمسۍ، د مړې د نمسې ځوې او لور، د مړې د نمسۍ ځوې او لور او د مړې د کړوسې نمسې او نمسۍ وغيره۔

(٢) دويم: (جد فاسد) يعنې د پلار د طرف نه فاسد نيکۀ، د پلار د طرف نه فاسده نيا، او د مور د طرف نه فاسده نيا (اګرکه دا ټول د پورته درجې والا وي) فاسد نيکۀ هغه نيکۀ ته وائې چه د هغۀ او د مړې ترمينځ ښځه واسطه وي لکه د مړې د مور پلار۔ يا د مړې د (پلار د طرف نه) د نيا پلار، يا د مور د طرف نه د نيا پلار۔ او جده فاسده (يعنې فاسده نيا (د پلار د طرف نه) او فاسده نيا (د مور د طرف نه) هغه نيا ته وائې چه د هغې او د مړې ترمينځ جد فاسد (يعنې فاسد نيکۀ) واسطه وي لکه د مور د طرف نه د نيکۀ مور اود (پلار د طرف نه) د نيا د پلار مور يا د (مور د طرف نه) د نيا د پلار مور۔ دا ټول ذوي الارحام دي۔ او جد صحيح او جده صحيحه (د پلار د طرف نه وي او که د مور د طرف نه) دا ذوي الفروض دي۔ جد صحيح (صحيح نيکۀ) هغې ته وائې چه د هغۀ او د مړې ترمينځ ښځه واسطه نۀ وي لکه نيکۀ او ړر نيکۀ (يا ددې نه بره درجه کښې) او جده صحيحه (يعنې د پلار د طرف نه صحيح نيا يا د مور د طرف نه صحيح نيا) هغې ته وائې چه د هغې او د مړې ترمينځ فاسد نيکۀ واسطه نۀ وي لکه د پلار مور يا ړره نيا او د مور د طرف نه نيا (يعنې د مور مور) يا ړره نيا (يعنې د مور د مور مور، يا ددې نه بره درجه کښې)۔

(٣) دريم: د حقيقي خويندو اولاد، د علاتي (پلار شريکو) خويندو اولاد، د اخيافي خويندو اولاد، د اخيافي ورور اولاد، د حقيقي ورور لونړه او د علاتي (پلار شريك) ورور لونړه۔

(٤) عمات (د پلار د طرف نه ترورياني) برابره ده چه حقيقي وي يا علاتي او اخيافي وي۔ اخيافي (مور شريکې) ترۀ، ماماګان او خالې (يعنې ماسيګانې / د مور خويندې)۔

د ذوي الارحام دې څلورو درجو کښې هغه شان ترتيب دې څنګه چه په عصباتو کښې وو چه که ددې څلورو درجو نه د اولې درجې ذوي الارحام وارثان موجود وي، يا د هغوي اولاد (برابره ده هرڅومره چه خکته درجې والا وي) موجود وي، نو د باقي درې درجو ذوي الارحام به محرومېږي، دغه شان د دويمې درجې ذوي الارحام وارثان چه موجود وي نو د

دريمې او څلورمې درجې، او د دريمې درجې ذوي الارحام چه موجود وي نو د څلورمې درجې ذوي الارحام به محرومېږي. دارنګه د عصباتو په شان په ذوي الارحامو کښې به هم ددې هره درجه کښې قريب ذي رحم بعيد ذي رحم باندې مقدم کېږي.

(۴) **مسئله** : د ميراث ارکان

(۱) د ميراث درې **ارکان** دي : (۱) مورّث (وارث جوړونکې، يا ميراث پرېښودونکې يعنې مړې) (۲) وارث (ميراث وړونکې) (۳) موروث (ترکه/ د مړي پرېښې مال).

**مسئله** : د ميراث درې **اسباب** دي : (۱) قرابت (رشته داري) (۲) نکاح (۳) وَلاء.

**مسئله** : د ميراث شرائط :

د ميراث درې **شرائط** دي : (۱) د مورّث مرګ ثابتيدل. (۲) د مورث د مرګ په وخت د وارث ژوند ثابتيدل. (۳) د ميراث متعلق علم کيدل مثلًا : د ميراث سبب، د وارث جهت، د هغهٔ درجه او قوت.

**مسئله** : **د ميراث موانع** : د ميراث درې **موانع** (منع کونکې څيزونه) دي : (۱) غلامي : نو د يو غلام نه نهٔ کوم آزاد شخص وارث جوړيدې شي او نهٔ خپله غلام د کوم آزاد شخص وارث جوړيدې شي ځکه چه غلام په شرعي توګه د هيڅ شي د مالك کيدو قابليت نهٔ لري، او نهٔ يو شې د هغهٔ ملکيت کيږي.

(۲) **قتل** : که يو بالغ وارث خپل مورث (ميراث پرېخودونکې) قتل کړي نو هغه وارث به د ميراث وړو نه بالکل محرومېږي، ددې حکمت دا دې چه د ميراث دپاره خپل مورث قتل کيدو نه خلك منع شي.

(۳) **دين مختلف کيدل**. يعنې که وارث مسلمان وي او مورث غير مسلم وي (برابره ده چه هغه هندو وي، يا عيسائي يا يهودي وغيره) نو د هغهٔ ميراث به مسلمان ته نهٔ ملاويږي، دغه شان که وارث غير مسلم وي او مورث مسلمان وي نو د هغهٔ ميراث به غير مسلم ته نهٔ ملاويږي.

په علمِ ميراث کښې خويندې وورونه په درې قِسمه دي : (۱) عيني : يعنې سکه. (۲) علاتي : يعنې پلار شريك. (۳) اخيافي : يعنې مور شريك. او د جده باره کښې او باقي ميراث والو باره کښې شيخ ابن عثيمينؒ په فتح ذي الجلال والاکرام شرح بلوغ المرام کښې ښکلې تفصيل کړيدې، که شوق ډېر وي هغې ته رجوع وکړه.

## د مړي ترکه د هغهٔ د وارثانو حق دے

## الفصل الأول

3041 (1) - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: " أَنَا أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنْفُسِهِمْ فَمَنْ مَاتَ وَعَلَيْهِ دَيْنٌ وَلَمْ يَتْرُكْ وَفَاءً فَعَلَيَّ قَضَاؤُهُ، وَمَنْ تَرَكَ مَالًا فَلِوَرَثَتِهِ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَفِي رِوَايَةٍ: " مَنْ تَرَكَ دَيْنًا أَوْ ضَيَاعًا فَلْيَأْتِنِي فَأَنَا مَوْلَاهُ ". وَفِي رِوَايَةٍ: " مَنْ تَرَكَ مَالًا فَلِوَرَثَتِهِ وَمَنْ تَرَكَ كَلًّا فَإِلَيْنَا ".

**ترجمه**: ابو هريره ﷺ د نبي كريم ﷺ ارشاد نقل كوي چه هغه فرمائي: زهٔ په مؤمنانو باندے د هغوي د ځانونو نه زيات غوره يم (يعني د دين او دنيا په هره معامله كښے يو مسلمان په ځان باندے څومره شفيق او مهربان وي نو زهٔ په هغهٔ باندے د هغهٔ نه هم زيات شفيق او مهربان يم، پدے وجه زهٔ د هغوي د قرضونو ادا كولو زيات حقدار يم) نو څوك چه مړ شو او په هغهٔ باندے قرض وي او د هغے دپاره ئے دومره مال نهٔ وي پرينبے چه په هغے سره د هغه قرض ادا كړے شي نو په ما باندے به د هغے ادائيگي وي، او چا چه (دومره) مال پريخودو (چه په هغے سره قرض ادا شي او وصيت پوره كولو نه روستو پاتے شي) نو هغه د هغهٔ د وارثانو دپاره دے۔ (بخاريؒ ومسلمؒ) او په يو روايت كښے دي: چا چه يو قرض يا اهل وعيال پريخودو (او هغه دومره مال نهٔ وي پرينبے چه په هغے سره ددهٔ قرض ادا شي يا د هغهٔ د اهل وعيال پرورش وشي) نو هغه دِے مونږ ته راشي، زهٔ د هغهٔ انتظام كونكے يم، او په يو بل روايت كښے دي: چا چه مال پريخودو نو هغه د هغهٔ د وارثانو دپاره دے، او چا چه درون شے (بوج يعني قرض او عيال) پريخودو (او خپله مړ شو) نو ددے انتظام او ذمه واري مونږ ته حواله ده۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

**تشريح**: امام نوويؒ فرمائي: په اول كښے د رسول الله ﷺ معمول دا وو چه كله به يو تن مړ كيدو او په هغهٔ باندے به قرض وو او هغهٔ به دومره مال نهٔ وو پرينبے چه د هغهٔ د قرض د ادا كولو دپاره كافي شي نو نبي ﷺ به د هغهٔ جنازه نهٔ كوله دے دپاره چه خلك د پردو مالونو په حقله بے باكي او آساني ونكړي چه بيا به قرضونه نهٔ ادا كوي۔ ليكن هر كله چه الله تعالىٰ هغهٔ ته د فتوحاتو په وجه فراخي راوسته نو بيا ئے دا معمول جوړ كړو چه يو تن به قرضدار مړ شو نو نبي كريم ﷺ به د هغهٔ قرض په خپله ذمه باندے

واخستو او هغه به ئے ادا كولو او په هغهٔ باندے به ئے د جنازے مونځ كولو. دا خبره د ابو هريره ﷺ د روايت نه معلوميږى كوم چه د باب الافلاس والانتظار په اول فصل كښے تيره شويدے. او دا د رسول الله ﷺ كمال درجه شفقت او مهربانى او د هغهٔ د پوره همدردئ اظهار دے چه هغهٔ به د ټولو مسلمانانو دپاره داسے جذبه ساتله.

او دے نه معلومه شوه چه د نبى ﷺ نه روستو به يو بادشاه او د وخت حاكم هم د مسلمانانو د طرف نه د بيت المال نه د قرضونو ذمه وارى پورته كوى هركله چه مسلمان كوم مال نهٔ وى پريښے. (انتهى)

[اَوْلٰى] نزدے، او بهتر او لائق او مهربان. يعنى زهٔ مؤمنانو ته د هغوى د نفسونو نه هم زيات نزدے يم او زهٔ د هغوى د ځانونو نه هم د هغوى دپاره بهتر او زيات خير خواه او لائق يم او په هغوى باندے ډير مهربان يم.

او مطلب دا دے چه څوك مړ شى او په هغهٔ باندے قرض وى او دومره مال ئے نهٔ وى پريښے چه په هغے سره د هغهٔ قرض ادا كړے شى نو د هغے ادا كول په ما باندے دى، او چا چه مال پريخودو نو هغه ئے د وارثانو شو، زهٔ به ترے هيڅ نهٔ اخلم. دے نه د رسول الله ﷺ څومره شفقت معلوميږى.

[ضَيَاعًا] - د ضاد زبر دے، دا په اصل كښے مصدر دے د ضَاعَ يَضِيعُ ضَيَاعًا نه. دلته مصدر د اسم په ځائے قائم دے، او مراد دا دے چه چا ماشومان او اهل وعيال پريخودو چه ضائع كيدو والا وى. او كه ضياع د ضاد په زير سره شى نو بيا دا جمع د ضائع ده لكه جِيَاعٌ جمع د جائع ده.

[كَلًّا]- يعنى دروند بوج او درون شے. (يعنى قرض او عيال)

[فَالَيْنَا] : اَىْ اِلَيْنَا كَفَالَةُ عِيَالِهٖ وَقَضَاءُ دَيْنِهٖ]- يعنى مونږ ته حواله دے د هغهٔ بوج پورته كول، د هغهٔ د اهل وعيال ذمه وارى اخستل او د هغهٔ قرض ادا كول.

## د مړى تركه اول ذوى الفرضو ته وركړئ

3042 (2) – عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: "أَلْحِقُوا الْفَرَائِضَ بِأَهْلِهَا، فَمَا بَقِيَ فَهُوَ لِأَوْلٰى رَجُلٍ ذَكَرٍ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

**ترجمه** : ابن عباس ﷺ نه روايت دے، رسول الله ﷺ وفرمايل : د ميراث مقررے برخے

د هغې حقدارو ته ورکړئ، بيا چه څۀ باقي پاتې شي هغه مړي ته د ټولو نه زيات نزدې مذکر (وارث) دپاره دی.

**تشريح** : [أَلْحِقُوا الْفَرَائِضَ بِأَهْلِهَا] فرائض خپلو خپلو حقدارانو ته ورسوئ. د فرائضو نه مراد دلته هغه سهام (برخې) دي چه هغه د الله تعالیٰ په کتاب کښې ذکر شويدي. [فَمَا بَقِيَ] نو کوم مال چه د ذوي الفروضو د برخو نه باقي پاتې شي. [فَهُوَ لِأَوْلَى رَجُلٍ] أولیٰ د وَلْيِ نه دې قُرب ته وائي، يعني دا د هغه سړي دپاره دې چه هغه په رشته دارئ کښې مړي ته د هر چانه زيات نزدې وي. او مړي ته د ټولو نه زيات نزدې سړی د هغۀ ځامن دي، بيا د ځامنو ځامن اګرکه هر څومره ښکته وي. بيا ئې پلار، بيا ئې نيکۀ اګرکه هرڅومره پورته وي. بيا ئې ورونه او وريرونه. بيا ئې ترونه او ترونو ځامن. مطلب دا چه : د ذوي الفروضو نه چه کوم مال باقي پاتې شي نو هغه به مړي ته د ټولو نه زيات نزدې سړي ته ورکولې شي. يا سړې مړ شو او ددۀ ذوي الفروض نۀ وي بلکه صرف عصبات وي نو دا مال به په عصباتو کښې نزدې نارينه سړي ته ورکولې شي. ددې صورت داسې کيدې شي : د پلار دوه ځامن دي، د يو ځوی (عقيل) دوه بچي دي، (زيد او بل عائشه) او ددې دواړو هيڅ اولاد نشته، او د پلار بل ځوی خالد دې د هغۀ دوه بچي دي، (عکرمه او فاطمه) بيا زيد او عائشه دواړه مړۀ شي نو د دوئ د مال دپاره ذوي الفروض نشته نو د دوئ مال به د خالد په بچو کښې صرف عکرمه ته ورکړې کيږي ځکه چه دا ئې د ترۀ ځوی دې او نارينه عصبه دې. د ترۀ لور فاطمه به د خپل ترۀ ځوی او د ترۀ لور د ميراث نه محرومه وي.

[ذَكَرٍ] (**سوال**) : رجل خو خامخا نارينه وي نو د رجل نه پس ئې ذکر ولې ذکر کړو؟

(**جواب**) : (أ) د سړي نه پس ئې نارينه ځکه ذکر کړو چه سړې په اصل کښې بالغ نارينه ته وائي، او دلته دا مراد نۀ دې بلکه دلته مراد د استحقاق سبب بيانول دي چه هغه نارينه توب دې، دې دپاره چه دا ماشوم ته هم شامل شي. او په دې کښې په جاهليت والو رد دې چه هغوئ به ميراث صرف بالغانو سړو له ورکولو، او هغوئ به ويل : ميراث به صرف هغه څوك اخلي چه هغه په اس سوريدې شي، بوج باروليې شي او دشمن زخمي کولې شي. (ب) يائې ذکر (نارينه) په دې وجه ذکر کړو چه په شرعي نصوصو کښې کله رجُل ذکر کيږي او مراد ترې شخص وي، نارينه وي که زنانه لکه [مَنْ

وَجَدَ مَالَهُ عِنْدَ رَجُلٍ قَدْ أَفْلَسَ] دلته د (رجُل) نه مراد شخص دے نارینه وی که زنانه. دے وجے نه دلته ئے د رجُل سره (ذَکَر) قید دے دپاره ولګولو چه دلته د رجُل نه مراد شخص نهٔ دے چه زنانه ته هم شامل شی بلکه ددے نه مراد نارینه دے.

**فوائد** : (۱) حدیث دلیل دے چه کومے برخے په کتاب الله کښے د ذوی الفروضو دپاره ذکر شوی، هغه هغوئ له ورکول واجب دی، او هغه شپږ برخے دی : (نصف، ربع، ثمن، ثلث، ثلثان، سدس) او دوئ به په ټولو عصباتو باندے مقدم وی، ځکه که عصبهٔ له مال ورکړے شی نو اصحاب الفروض ته به هیڅ شے پاتے نشی، ځکه د عصباتو برخه معلومه نهٔ ده بلکه دوئ ټول مال وړی. د مثال په توګه : یو تن مړ شو او هغهٔ ښځه او ځوی پریښودهٔ، نو د ښځے دپاره د مال اتمه برخه ده او باقی ټول مال د ځوی دپاره دے.

(۲) او حدیث نه د عصباتو میراث معلوم شو. عَصَبَةٌ جمع د عاصب ده، دا هغه څوك دے چه په غیر د مقررے اندازے نه مال وړی پس د ذوی الفرضو نه لکه دا خبره مخکښے تفصیلًا ذکر شوه. دلته د عصبه نه مراد : د مړی فروع دی، لکه ځامن او د ځامنو ځامن او داسے ښکته پسے ځه. او د مړی اصول لکه پلار، د پلار پلار او داسے پسے پورته ځه. او د مړی طرفونه (یعنی د اصولو فروع) لکه ورونه، ترونه، ترونو ځامن او داسے پسے ښکته ځه. ❁ که عصبه سره صاحبِ فرض هم وی نو ددهٔ نه چه کوم مال باقی پاتے شی هغه به عصبه واخلی. او که د مړی ټول مال د ذوی الفروض په برخو کښے ختم شو نو عصبه به محروم وی. لکه ښځه مړه شی : او خاوند، دوه سکه خویندے او یو سکه ورارهٔ پریدی. نو د خاوند دپاره د مال نیمائی برخه (درے) او خویندو دپاره ثلثان (څلور) دی، او مسئلے اوو (۷) ته عول وکړو. او ورارهٔ محروم دے. ځکه حصو والو ټول مال یوړو. او که مړی یواځے عصبه پریښے وو نو ټول مال به اخلی، لکه یو تن مړ شی او خپل سکه ترهٔ پریدی.

**بل صورت** : ښځه مړه شوه : خاوند، مور او دوه اخیافی ورونه او یو سکه (حقیقی) ورور پریدی : نو دلته به فرائض مخکښے کړو، نو خاوند ته به نیمائی مال ورکړو ځکه چه د مړی اولاد نشته، مور ته به شپږمه ورکړو (ځکه چه دوه ورونه د مړی موجود دی) اخیافی ورونو دپاره دریمه برخه مال شو (ځکه چه د مړی اولاد نشته) نو مسئله به د شپږو نه جوړه شی، نیمائی (یعنی درے) به د خاوند شی، او شپږمه برخه یعنی یو به د

مور شي او د اخيافي ورونو به دريمه برخه يعني دوه شي۔ نو دلته مسئله پوره شوه او مال ختم شو نو مونږ به سکۀ ورور ته ووايو چه تا ته به صرف تسلي درکړو او په مال کښې ستا برخه نشته، ولې ؟ ځکه چه نبي ﷺ فرمائي : (اول فرائض خپلو وارثانو ته ورسوئ څه چه پاتې شو بيا به مړي ته نزدې نارينه ته ورکولې شي) نو تۀ نارينه سړې ئې ليکن ستا دپاره هيڅ شې پاتې نشو، اُوس که هغه اعتراض وکړي چه دا څنګه چل وشو چه اخيافي ورونه صرف د مور د طرف نه ورونه دي او زۀ د مور او پلار دواړو د طرف نه ورور يم، هغوی ميراث وړي او زۀ محروميږم دا ولې ؟ مونږ به ورته وايو چه د نص په مقابله کښې قياس نۀ چليږي، ستا قياس د نص په مقابله کښې فاسد دې۔ دويم دا چه ستا قياس هم هر ځائې نۀ جاري کيږي ځکه چه مثلاً که پدې مسئله کښې د مور په ځائې لور راشي آيا اخيافي ورونه به ميراث وړي ؟ نۀ ئې وړي او حال دا چه تۀ په هغه وخت کښې ميراث وړې۔ دارنګه که مونږ فرض کړو : ښځه مړه شوه : خاوند، دوه اخيافي ورونه، او درې سکۀ ورونه ئې پريخودل نو مسئله د شپږو نه ده، نيمائي (۳) د خاوند شو، د اخيافي ورونو دريمه برخه يعني (۲) شو او د سکه درې ورونو دپاره يو پاتې شو چه دوئ به ئې خپلو کښې تقسيم کړي نو دلته وګوره د درې سکه ورونو يوه حصه شوه چه دا د اخيافي ورونو نيمائي برخه ده۔ نو دلته دِې قياس څه شو؟ پدې وجه مونږ وايو چه دا قياس د نص سره ټکراؤ دې نو دې له هيڅ اعتبار نشته۔ (فتح ذی الجلال)

(۳) د [لِأَوْلَى رَجُلٍ ذَكَرٍ] نه معلومه شوه چه په ميراث کښې به هغه عصبه مخکښې کولې شي چه هغه د ټولو نه زيات مړي ته نزدې وي۔ که نزدې عصبه موجود وي نو بيا لرې عصبه به ميراث نۀ وړي۔ لکه يو تن مړ شي او مور، ځوئې او سکه ورارۀ پريدی، نو د ورارۀ دپاره به هيڅ شې نۀ ملاويږي، ځکه ځوی ددۀ نه مړي ته زيات نزدې دې۔ او تفصيل مخکښې وګوره۔

(٤) دا حديث د ((عول)) په مسائلو هم دليل دې، هر کله چه د ذوی الفروضو برخې زياتې شي۔ دارنګه د ((رد)) په مسائلو هم دليل دې، هر کله چه عصبه موجود نۀ وي او د ذوی الفروضو نه څۀ مال باقي پاتې شي، نو بيا به بيرته په دوئ باندې د دوئ د برخو مطابق واپس کولې شي۔ والله تعالىٰ اعلم۔

## د مذهب (دين) اختلاف د ميراث نه محرومه کوي

3043 (3) - وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ ﷺ، قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ قَالَ : (لَا يَرِثُ الْمُسْلِمُ الْكَافِرَ، وَلَا الْكَافِرُ الْمُسْلِمَ). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

**ترجمه** : او اسامه بن زيد ﷺ نه روايت دے چه نبي کريم ﷺ وفرمايل : مسلمان د کافر نه او کافر د مسلمان نه ميراث نشي وړے۔ (بخاريؒ، مسلمؒ)۔

**تشريح : فوائد** : (۱) حديث نه ثابته شوه چه مسلمان او کافر يو د بل وارث نۀ جوړيږي۔ که کافر مړ شي نو د هغۀ مسلمان رشته دار د هغۀ نه ميراث نشي وړے، او که مسلمان مړ شي نو د هغۀ کافر خپلوان د هغۀ نه ميراث نشي وړے۔ وجه دادہ چه ديني او عقيدوي رابطه د نسب، نکاح او د وَلاء د رابطے نه زياته قوي رابطه ده، نو کله چه دا ديني رابطه ختمه شوه نو ددے دواړو رشته دارو ترمينځه د رشته دارئ تعلق شرعًا ختم شو۔ دا وجه ده، الله تعالىٰ نوح عليه السلام ته د هغۀ د ځوی په باره کښے فرمائي : ﴿إِنَّهُ لَيْسَ مِنْ أَهْلِكَ إِنَّهُ عَمَلٌ غَيْرُ صَالِحٍ﴾ [هود: ٤٦] (دا ددے لائق نۀ دے چه تاته منسوب شي (دا ستا په بال بچ کښے داخل نۀ دے دا خو بد عمله دے)۔ او د ميراث علماؤ ذکر کړي دي چه د ميراث موانع څيزونه درے دي : (أ) رق (غلامي)۔ (ب) قتل۔ (ج) ديني اختلاف۔ نو اګرکه يو تن د چا رشته دار وغيره دے خو چه کافر دے نو ددے دواړو ترمينځه رشته داري ختمه ده، او يو د بل نه ميراث نشي وړے۔

(۲) د علماؤ په دے اجماع ده چه کله مسلمان مړ شي نو کافر رشته دار ددۀ نه ميراث نشي وړلے۔ ليکن مسلمان د کافر رشته دار نه ميراث وړلے شي که نه؟ نو د جمهورو علماؤ په نيز ميراث نشي وړلے، او دليل ئے ددے حديث عموم دے۔ ليکن معاذ بن جبل ﷺ او سعيد بن مسيبؒ په نيز ميراث وړلے شي، او دليل ئے دا حديث دے : [اَلْإِسْلَامُ يَعْلُوْ وَلَا يُعْلٰى] بل روايت کښے : [اَلْإِسْلَامُ يَزِيْدُ وَلَا يَنْقُصُ] [ارواء الغليل: ٥/١٠٦-١٠٩، حسن مرفوعًا عن معاذ، صحيح موقوفًا] خو **صحيح قول** اولنے دے، ځکه په دے حديث کښے د دوئ مدعیٰ نۀ ثابتيږي بلکه په دے کښے په عمومي توګه د اسلام فضيلت ذکر دے، د ميراث څۀ خبره په کښے نشته۔ حالانکه بل طرفته حديث الباب په دے مسئله کښے واضحه نص دے۔ او کيدے شي چه دغه دواړو صاحبانو ته دا حديث نۀ وي رسيدلے۔

(۳) ددے حدیث د عموم نه دا هم معلومه شوه چه د کافر او مسلمان ترمینځه د وَلاء میراث هم نهٔ جاري کیږي، او دا د ائمه ثلاثهٔ مذهب او د امام احمدؒ نه یو روایت دے۔ دے وجے نه که کافره وینځه، یا غلام مړ شو نو مسلمان آقا د دوئ نه د وَلاء میراث نشي وړلے۔ ځکه د نسب میراث د وَلاء د میراث نه زیات قوي دے۔ نو هر کله چه د نسب میراث نشي وړلے نو د وَلاء میراث به په طریقه اولیٰ سره نشي وړلے۔ او د امام احمدؒ مشهور قول دادے چه ددے حدیث نه د وَلاء میراث مستثنیٰ دے، نو مولیٰ اګرکه د غلام نه په دین کښے جدا وي، بیا هم د هغهٔ نه د وَلاء میراث وړلے شي۔ او دلیل ئے: [إِنَّمَا الْوَلَاءُ لِمَنْ أَعْتَقَ] حدیث دے چه دلته ولاء د مطلق آزادوونکي حق ګرځول شوے۔

**راجح قول** په دے کښے د جمهورو دے۔ او دا حدیث مقید دے په حدیث الباب سره۔

حنابلو ددے حدیث نه یوه بله استثناء هم کړے هغه داچه: که تقسیم نه مخکښے کافر مسلمان شي نو بیا د خپل مسلمان رشته دار نه میراث وړلے شي، دے دپاره چه هغهٔ ته په اسلام کښے ترغیب ملاؤ شي۔ خو صحیح داده چه دا استثناء هم صحیح نهٔ ده ځکه حدیث الباب عام دے، د تقسیم نه مخکښے او روستو دواړو حالتونو ته شامل دے چه کافر او مسلمان ترمینځه بیخي میراث نهٔ جاري کیږي۔ بله داچه په مرګ سره ملکیت مسلمانانو ته منتقل شو نو څوك چه ددے نه پس اسلام راوړي هغه به د دوئ سره شریك نهٔ وي، لکه څنګه چه د تقسیم نه روستو ورسره نهٔ شریکیږي۔ والله تعالیٰ اعلم۔

## آزادونکے شخص د غلام وارث کیږي

3044 (4) – وَعَنْ أَنَسٍ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: " مَوْلَى الْقَوْمِ مِنْ أَنْفُسِهِمْ ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ .

**ترجمه**: او انس ﷺ د نبي کریم ﷺ ارشاد نقل کوي: د قوم مولیٰ (آزادونکے یا آزاد کړده غلام) د هغوی نه دے۔ (بخاريؒ)

**تشریح**: [مَوْلَى الْقَوْمِ] د مَوْلیٰ نه مراد آزادونکے دے، نو د حدیث مطلب دا شو چه د آزاد شوي غلام وارث به هغه څوك وي چه هغهٔ ئے آزاد کړے وي، ددے په خلاف آزاد شوے غلام د خپل آزادونکي وارث نهٔ جوړیږي۔ بعض وائي: د "مولیٰ" نه مراد آزاد شوے غلام دے، یعني کومے قبیلے او فرد چه یو غلام آزاد کړے وي نو د هغه آزاد شوي

غلام به همغه حکم وی کوم چه د آزادونکے قبیلے یا فرد حکم وی۔ لکه مثلاً بنو هاشم (سیدانو) کښے یو تن یو غلام آزاد کړو نو اُوس به هغه آزاد شوے غلام د زکاة په باب کښے د بنو هاشمو په شان حکم لری لکه څنګه چه بنو هاشمو باندے زکاة مال اخستل حرام دی دغه شان به پدے آزاد شوی غلام باندے هم د زکاة مال حرام وی۔

## خورئے د ماماګانو د ترکے وارث کیږی

3045 (5) – وَعَنْهُ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: " اِبْنُ أُخْتِ الْقَوْمِ مِنْهُمْ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَذُكِرَ حَدِيثُ عَائِشَةَ: " إِنَّمَا الْوَلَاءُ" فِي بَابٍ قَبْلَ "بَابِ السَّلَمِ"

**ترجمه** : او انس ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: د یو قوم خورئے د هغوی نه دے۔ (بخاریؒ ومسلمؒ) او د عائشے رضی الله عنها حدیث (انما الولاء) د باب السلم نه مخکښے باب کښے ذکر شویدے۔

**تشریح** : [اِبْنُ اُخْتِ الْقَوْمِ] ددے مطلب دا دے چه خورئے د خپل ماما وارث جوړیدے شی، او دا د ذوی الارحامو نه دے، او دا حدیث د هغه علماؤ د رائے مطابق دے چه هغوی ذوی الارحامو ته په میراث ورکولو قائل دی او دا مذهب د امام ابو حنیفهؒ او امام احمدؒ دے۔ البته دومره خبره ضروری ده چه ذوی الارحامو ته به د مړی ترکے نه میراث په هغه صورت کښے ملاویږی هرکله چه د مړی ذوی الفروض او عصبات موجود نهٔ وی، ددے دواړو په موجودګئ کښے ذوی الارحامو ته هیڅ نهٔ ملاویږی۔ او ددے تفصیل د باب په ابتداء کښے وشو۔

## مسلمان د غیر مسلم او کافر د مسلمان وارث نهٔ کیږی

### الفصل الثانی

3046 (6) – عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: "لَايَتَوَارَثُ أَهْلُ مِلَّتَيْنِ شَتّٰى". رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ 3047 (7) وَرَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ عَنْ جَابِرٍ ﷺ.

**ترجمه** : عبد الله بن عمرو ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمایل: دوه مختلفو دینونو والا خپل مینځ کښے یو د بل نه میراث نشی وړے۔ (ابوداودؒ، ابن ماجهؒ) او دا ترمذیؒ د جابر ﷺ نه روایت کړے۔

**تشريح : - فوائد** : (١) حديث نه ثابته شوه چه دوه كافر دينونو والا يو د بل نه ميراث نشي وړے، لكه يهودي د خپل نصراني يا مجوسي رشته دار نه ميراث نشي وړے، او دا شان ددے برعكس هم دے، ځكه ددے دواړو ترمينځه د دين اختلاف او جدا والے دے۔ نو دوئ خپلو كښے داسے دي لكه مسلمان او كافر چه يو د بل نه ميراث نشي وړے۔ او دا د امام احمدؒ، اوزاعيؒ او مالكيانو قول دے۔ **دويم** قول دادے چه كافران خپلو كښے يو د بل نه ميراث وړلے شي اګركه د هغوئ دينونه يو د بل نه جدا وي۔ او دا د جمهورو شافعيانو، حنفيانو مذهب او د امام احمدؒ يو روايت دے۔ د دوئ دليل دادے : (أ) الله تعالىٰ فرمائي : ﴿وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ﴾ [انفال: ٧٢] (كافران خلك يو د بل دوستان دي) نو معلوميږي چه يو د بل نه به ميراث هم وړي۔

(ب) بله دا چه : په قرآن كښے په عامه توګه د خپلوانو رشته دارو ميراث ذكر شوے۔ او دا مختلفو دينونو والو ته هم شامل دے۔ او دوئ د حديث الباب دا تاويل كوي چه د [أَهْلُ مِلَّتَيْنِ] نه مراد اسلام او كفر دے، او ددے معنىٰ او د اُسامه ﷺ د مخكنى حديث معنىٰ يوه ده چه په هغے كښے راغلي وو : [لَايَرِثُ الْمُسْلِمُ الْكَافِرَ، وَلَا الْكَافِرُ الْمُسْلِمَ] خو دا تاويل درست نهٔ دے ځكه د حاكمؒ په روايت كښے راغلي : [لَايَتَوَارَثُ أَهْلُ مِلَّتَيْنِ، وَلَايَرِثُ مُسْلِمٌ كَافِرًا، وَلَا كَافِرٌ مُسْلِمًا] نو په دے كښے دواړه حكمه راغلي،

نو بيا د [أَهْلُ مِلَّتَيْنِ] نه څنګه كافر او مسلمان واخستل شي؟ ددے مذكوره اختلاف سبب دادے چه آيا كفر يو ملت دے او كه ګڼ ملتونه دي ؟ نو څوك چه وائي : كفر د اسلام په مقابله كښے يو ملت دے، نو دوئ خپلو كښے د كافرانو ترمينځه د ميراث قائل دي۔ او څوك چه وائي كفر ګڼ ملتونه دي نو دوئ وائي: هيڅ يو دين والا د بل دين والا نه ميراث نشي وړے، د وجے د اختلاف ددين نه۔

★ د امام مالكؒ، بعضِ سلفو او امام احمدؒ نه يو روايت دا نقل دے چه كفر درے دينونه دي : يهوديت جدا ملت دے۔ نصرانيت جدا ملت او ددے نه سوئ باقي نور ملتونه ټول يو ملت دے۔لكه مجوسيت، صابئيت او هر هغه دين والا چه آسماني كتاب نهٔ لري۔

خو **راجح قول** اولنے دے۔ د دوو وجو نه : (أ) يو خو حديث الباب واضح دليل دے چه مختلفو دينونو والا رشته داران يو د بل نه ميراث نشي وړے۔ (ب) بله دا چه : هر يو دين والا د بل دين والا سره موالات او دوستي نهٔ لري او نهٔ د هغهٔ د دين سره موافقت شته،

دے وجے نـه يـو د بل نه ميراث نشي وړے لکه څنګه چه مسلمان د کافر نه ميراث نشي وړے. او پاتے شو د قرآن هغه عمومي آيتونه چه د رشته دارانو د ميراث په باره کښے راغلي، نو هغه په دے حديث الباب وغيره حديثونو سره مخصوص دي او په خپل عموم باندے نهٔ دي پاتے.

(٢) او حديث نه معلومه شوه چه يو ملت والا خپلو کښے يو د بل نه ميراث وړلے شي. لکه يهودي د يهودي نه، نصراني د نصراني نه او مجوسي د مجوسي نه.

**درجة الحديث** : [حسن صحيح] أبوداود: ٢٩١١، نسائی سنن كبرى: ٤/٨٢، ابن ماجه: ٢٧٣١، أحمد: ٢/١٧٨، رقم: ٦٩٤٤ (قال شعيب : صحيح لغيره) دارقطني: ٤/٧٥، حاكم: ٢/٢٤٠. ورواية الحاكم [ضعيفة]، فان فيه سفيان بن حسين عن الزهري، وهو ضعيف في الزهري، وقال ابن عدى: يَرْوِىُ عَنِ الزُّهْرِيِّ اَشْيَاءَ خَالَفَ فيها الناسَ من باب المتون والأحاديث. ورواية النسائی [شاذة] لمخالفة هشيم بن بشير أصحاب الزهري، قال الذهبي: كان مدلسا، وهو لين في الزهري.

## د خپل مورث قاتل د ميراث نه محروم دے

- 3048( 8 ) – وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ :" **اَلْقَاتِلُ لَا يَرِثُ** ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهُ

**ترجمه** : ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : قاتل ميراث نشي وړے. (ترمذيّ، ابن ماجهٔ)

**تشريح: فوائد**: (١) حديث نه ثابته شوه چه څوك خپل رشته دار ووژني نو هغه به د هغهٔ د ميراث نه محروم وي، او په دے د علماؤ اجماع ده او سند د اجماع دا حديث دے.

دارنګه د علماؤ دا قاعده ده چه : [مَنْ تَعَجَّلَ شَيْئًا قَبْلَ أَوَانِهِ عُوْقِبَ بِحِرْمَانِهِ] (څوك چه د خپل وخت نه مخکښے يو شے حاصلول غواړي، هغه به د هغه شئ نه محروموله شي) ددے وجه داده چه انسان ظالم او جاهل دے، کله په دهٔ باندے د مال حرص او لالچ غالبه شي او خپل رشته دار د هغهٔ د ميراث حاصلولو دپاره ووژني، نو شريعت د هغهٔ د نيت په خلاف هغهٔ سره معامله کوي او هغه د دغه رشته دار د ميراث نه محروموي.

(٢) په دے باندے خو اجماع ده چه قتل د ميراث په موانعو کښے يو مانع دے، ليکن ددے قتل نه مراد هر يو قتل دے او که خاص قتل ؟ نو په دے کښے څلور قوله دي :

**(اول قول)** دادے چه د میراث نه هغه قتل مانع دے چه هغه په ناحقه سره وی، او دا هغه قتل دے چه ددے په وجه قصاص یا دیت یا کفاره لازمیږی، لکه قتلِ عَمُد، شبهِ عَمُد، قتلِ خطا او هغه قتل چه ددے په حکم کښے وی لکه د قتل دپاره سبب جوړېدل (دے ته علماء قتل بالتسبیب وائی) مثلًا: کوهے کنستل یا په لاره کښے کانړے غورزول، دارنګه ماشوم یا لیونے یا اودهٔ چه څوك ووژنی۔ نو په دے ټولو صورتونو کښے دا قتل د میراث په لاره کښے خنډ واقع کیږی او قاتل د مقتول د میراث نه محرومیږی۔

★ پاتے شو هغه قتل چه ددے نه سویٰ وی او د هغے په وجه په انسان تاوان نهٔ راځی، لکه څوك قصاصًا یا حدًا یا د خپل ځانْ په دفاع کښے وژل، یا عادل باغی ووژنی، نو دا د میراث نه مانع نهٔ دے۔ او دا د امام احمدؒ قول دے۔

**(دویم قول)** امام شافعیؒ فرمائی: قاتل په هیڅ حال کښے د مقتول وارث نهٔ ګرځی، برابره خبره ده که قتلِ عَمُد وی، که شبه عَمُد، که خطا او که قتل بالسبب وی۔ د وجے د عموم د حدیث الباب نه۔

**(دریم قول)** امام ابوحنیفهٔ فرمائی : د میراث نه مانع هغه قتل دے چه د هغے په وجه قصاص یا کفاره واجبه شی او دا د عمد، شبه عمد او خطا او څهٔ چه ددے پشان وی، په هغے کښے راځی۔ لکه اودهٔ په چا راواوړی یا پرے د چهت نه راوغورزیږی۔ البته د سببیت په وجه قتل مانع نهٔ ګرځی لکه چاته څوك کوهے وکنی یا په لاره کښے ګټ کیدی او په دے سره خپل رشته دار ووژنی۔دارنګه قصاصًا څوك ووژنی۔ یا قاتل ماشوم یا لیونے وی۔ نو په دے صورتونو کښے قاتل د میراث نه نهٔ محرومیږی، ځکه په د ے باندے قصاص یا کفاره نهٔ لازمیږی، ددهٔ په نیز دا بنیادی خبره ده۔

**(څلورم قول)** که قتل عَمُدًا وو نو قاتل به د خپل مقتول رشته دار نه میراث نهٔ وړی، نهٔ د هغهٔ د مال نه او نهٔ د هغهٔ د دیت نه۔ او که قتل خطا وو نو بیا د هغهٔ د مال نه میراث وړلے شی خو د هغهٔ د دیت نه میراث نشی وړے۔ د هغهٔ د مال نه میراث ځکه وړلے شی چه هغهٔ ئے قصدًا نهٔ دے وژلے، او د هغهٔ د دیت نه میراث ځکه نشی وړے چه دیت خو په دهٔ باندے واجب دے نو د خپل مال نه څنګه میراث یوسی۔ او دا د بعضِ صحابه کرامو ﷺ او تابعینو او امام مالكؒ قول دے۔او دا د حنابلو یو قول هم دے۔ او دا قول امام قرطبیؒ، ابن المنذرؒ، ابن قیمؒ او ابن عثیمینؒ غوره ګرځولے۔ او دا قول د اوسنی دور سره

هم زيات موافق دے، ځکه په دے وخت کښے زياتره په ګاړو موټرو کښے حادثات راپيښيږي. نو ددے قتل خطا په صورت کښے به قاتل د خپل مقتول وارث د مال نه ميراث وړي خو د هغهٔ د ديت نه به ميراث نهٔ وړي کوم چه ددهٔ په عاقله ؤ (نزدے رشته دارو) واجب دے چه د مقتول اولياؤ ته به ئے ورکوی.

ددے قول **دلائل** دادي: (أ) چاله چه الله تعالیٰ وارث ګرځولے د هغهٔ ميراث په کتاب الله کښے ثابت دے، نو ددے نه به استثناء صرف په سنت يا اجماع سره کولے شي، اوکه په يو صورت کښے اختلاف واقع شي نو هغهٔ به هغه آيتونو ته واپس کولے شي چه په هغے کښے ميراث ذکر شوے. (ب) حکم د خپل علت سره دائر دے، قاتل د ميراث نه په دے سبب محروم ګرځول شوے چه دهٔ قصدًا خپل مُوَرث وژلے، او د هغهٔ ميراث وړلو ته ئے جلتي کړے. او کله چه دا سبب ختم شو لکه د خطا په صورت کښے، نو بيا دا قتل د ميراث په لاره کښے مانع نهٔ واقع کيږي. (ج) څوك چه د چا د قتل سبب وګرځي نو دا حقيقةً قاتل نهٔ دے ځکه دهٔ د قتل عمل نهٔ دے کړے. پاتے شو حديث الباب نو په دے کښے د قتل نه مراد قتلِ عَمُد دے. او دا حديث په خپل عموم باندے پاتے نهٔ دے، په دے کښے ډير تخصيصات شوي، لکه په حد يا بغاوت کښے يا د ځان په دفاع کښے څوك وژل، يا د ادب ورکولو يا دوائي وغيره ورکولو کښے څوك مړ کيدل، نو دا د ميراث په لاره کښے خنډ نهٔ واقع کيږي، هر کله چه په دے کښے تعدي او تفريط نهٔ وي. نو قاعده دا شوه چه که قتل په حق سره شوے وي نو د ميراث نه نهٔ محروميږي او که په ناحقه قتل وي نو ميراث نه محروميږي مګر که زمونږ يقين راشي چه دا قتل خطاء دے او د قصد هيڅ احتمال پکښے نشته نو بيا صحيح دا ده چه ميراث وړي. (فتح ذي الجلال) ليکن د حديث په اطلاق کښے ډير زور دے، او کيدے شي چه څوك قتل عمد وکړي بيا دعویٰ د خطاء کوي. والله تعالیٰ اعلم.

**درجة الحديث** : [صحيح لغيره وهذا اسناد ضعيف جدا] اسحاق بن ابي فروة متروك الحديث اخرجه ابوداود : (۲۱۰۹) ابن ماجه : (۲٦٤٥)، ولكن له شواهد يتقوى بها من حديث عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده باسناد صحيح : بلفظ : ليس للقاتل من الميراث شيء، اخرجه أبوداود: ٤٥٦٤، ابن ماجه: ۲۷۳٦، نسائي كبرى: ٤/٧٩، دارقطني: ٤/٧٢، صحيح الجامع الصغير: ٥٤٢٢.

## د جدې ميراث شپږمه برخه ده

3049( 9 ) – وَعَنْ بُرَيْدَةَ ﷺ، أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ جَعَلَ لِلْجَدَّةِ السُّدُسَ، إِذَا لَمْ يَكُنْ دُونَهَا أُمٌّ. رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ

**ترجمه:** او د بريده ﷺ نه روايت دے چه نبى كريم ﷺ د نيا دپاره شپږمه برخه مقرر كړے په دے شرط چه ددے نه ښكته مور نۀ وى موجوده۔ (ابوداودؒ)،

**تشريح: فوائد:** (۱) حديث نه معلومه شوه چه جده (نيا) د نمسى په مال كښے د سدس حقداره ده خو شرط دادے چه د مړى مور موجوده نۀ وى، ځكه كه د هغۀ مور موجوده وى نو بيا نيا دپاره په ميراث كښے هيڅ شے نشته، لكه دا قاعده مخكښے تيره شوه۔ او دَ نيا نه مراد د مور مور، او د پلار مور ده۔ پاتے شوه د مور د پلار مور نو هغه وارثه نۀ ده ځكه هغه د ذوى الارحامو نه ده۔ هغے ته جده فاسده وائى۔ (۲) د نيا ميراث سدس دے، برابره خبره ده كه يوه وى اوكه زياتے، د دوئ په زياتيدو سره د دوئ ميراث نۀ زياتيږى۔ همدا يو سدس به په دوئ ويشل كيږى۔ ❁ كه يوه نيا د بلے نيا نه مړى ته زياته نزدے وه نو لرے نيا به ميراث نۀ وړى، لكه يو تن مړ شى او د مور د مور مور، او د پلار مور او ترۀ پريدى، نو سدس به صرف د پلار د مور وى، او باقى به د ترۀ وى۔ او ددے تفصيل په اول د باب كښے وګوره۔ والله تعالىٰ اعلم۔

**درجة الحديث:** [حسن] أبوداود: ٢٨٩٥، دارقطني: ٤/٩١. نسائى كبرى: ٦/١١١، ابن الجارود: ٢٦٠، الكامل لابن عدى: ٣/٤١٦، ٤/٣٢٩، وفيه ابو المنيب عبيد الله العتكى مختلف فيه، قال البخارى: عنده مناكير. ولكن وثقه ابن معين وابوداودؒ والنسائى وقال النسائى فى موضع: ضعيف، وقال ابن عدى: [ولأبى المنيب هذا أحاديث غير ما ذكرت، وهو عندى لا بأس به] [تهذيب التهذيب: ٧/٢٥]، والحديث له شواهد كلها معلولة، وجاء فى معناه مراسيل، بعضها صحيح. والحديث ضعفه الشيخ الألبانى، وحسنه الشيخ زبير عليزئى.

## ژوندے پيدا كيدونكے ماشوم وارث دے

3050 (10) – وَعَنْ جَابِرٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: " إِذَا اسْتَهَلَّ الصَّبِيُّ صُلِّيَ عَلَيْهِ وَوَرِثَ ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ.

**ترجمه :** جابر رضی الله عنه نه روایت دے چه نبی ﷺ وفرمایل : کله چه پیدا کیدونکے ماشوم آواز وکړی نو په هغه به جنازه کولے شي او هغه به میراث وړی۔ (ابن ماجهٔ، دارمیؒ)

**تشریح :** [إِذَا اسْتَهَلَّ ] کله چه د پیدا کیدو په وخت ماشوم د ژړا آواز پورته کړی۔ استهلال : آواز پورته کولو ته وائی۔ د استهلال تفسیر د جابر رضی الله عنه او مسور بن مخرمه رضی الله عنه په حدیث کښې راغلے، رسول الله ﷺ فرمائی : [لَايَرِثُ الصَّبِيُّ حَتَّى يَسْتَهِلَّ صَارِخًا، وَاسْتِهْلَالُهُ: أَنْ يَّصِيحَ أَوْ يَعْطِسَ أَوْ يَبْكِيَ] [ابن ماجه : ۲۷۵۱، طبرانی اوسط: ۳۰۳/۵، الصحیحة : ۱۵۲] (ماشوم تر هغه وخته پورے وارث نهٔ ګرځی ترڅو چه آواز پورته نکړی، او آواز پورته کول ئے دادی چه چغه کړی یا پرنجے وکړی او یا وژاړی) نو آواز پورته کول کنایه ده ددے نه چه ژوندے پیدا شی اګرکه آواز پورته نهٔ کړی بلکه داسے څهٔ نښانے ترے موجودے شی چه هغه ددهٔ په ژوند دلالت کوی، لکه ساه اخستل، تے رودل او داسے نورے نښے۔ [وُوُرِّثَ] د واؤ په پیښ او د راء په شد او زیر سره : أَيْ جُعِلَ وَارِثًا (دابه وارث ګرځولے شی) بعضِ وائی: دا د واؤ په زور او د راء په زیر سره دے [وَرِثَ] د خپل مړ رشته دار نه به میراث وړی۔

**فوائد او مسائل :** (۱) حدیث نه معلومه شوه چه حمل (د مور په خیټه ماشوم) د خپل مړ رشته دار نه وارث جوړیږی۔ (أ) په دے شرط چه دا حمل ژوندے پیدا شی، او هغه داسے چه د پیدا کیدو په وخت په ژړا یا پرنجی سره آواز پورته کړی یا بل داسے کار ترے موجود شی چه هغه ددهٔ په ژوند دلالت کوی۔ پاتے شو لږ شان حرکت کول یا معمولی شان ساه اخستل چه په مستقل ژوندون دلالت نهٔ کوی نو دے له اعتبار نشته، دغه شان کله چه ددهٔ په ژوند کښې شك واقع شی نو بیا هم وارث نهٔ ګرځی ځکه اصل دادے چه دا ژوندے نهٔ دے۔ (ب) او فقهاؤ ددهٔ د میراث دپاره دویم شرط هم لګولے هغه دا چه دے به د خپل مُورِث (رشته دار) د مرګ په وخت د مور په رَحِم کښې موجود وی اګرکه د نطفے په صورت کښې ولے نهٔ وی، چه دا په طبی معائنے او په موجوده دور کښې په الټراساؤنډ سره معلومیدے شی۔ او دا شرط ځکه لګولے شی چه میراث د مړی نه خلیفه جوړیدل دی او معدوم د هیچا نه خلیفه نشی جوړیدے، او د خلیفه جوړیدو اولنے شرط وجود دے۔ او د پیدا کیدو په وخت ددهٔ ژوند شرط دے۔ (۲) کله چه یو تن مړ شی او داسے ورثان پریدی چه په هغوئ کښې حمل هم وی، نو د دوئ د میراث دوه طریقے دی

: (أ) كه دوئ په دے خبره راضي شي چه د حمل پيدا كيدو نه پس به ميراث تقسيم كړي، نو دا ښه خبره ده، ځكه په دے وخت كښے به صرف يو ځل ميراث تقسيم شي، او دا معلومات به هم وشي چه دا حمل ژوندے پيدا كيږي اوكه مړ؟ هلك پيدا كيږي اوكه جينئ؟ يو پيدا كيږي اوكه زيات؟ (ب) اوكه دوئ ټولو يا بعضو حمل پيدا كيدو ته انتظار نهٔ كولو بلكه د ميراث تقسيمولو مطالبه ئے كوله، نو دا هم ورله جائز دي۔ خو په دے وخت كښے به څنګه ميراث تقسيموي؟ حمل دپاره به د نارينه ميراث وركوي اوكه د زنانه؟ او د يو تن اوكه د دوه تنو؟ نو ددهٔ دپاره به د دوه هلكانو يا دوه جينكو ميراث كيدي چه زياته برخه ده، نو كه هلكان پيدا شول، خپل ميراث به حاصل كړي، اوكه جينكئ پيدا شوے نو هغوئ له به خپله برخه وركړي او زياتي برخه به بيرته په دويم ځل په وارثانو تقسيم كړے شي۔ [شرح ابن عثيمينؒ] لكه ددے تفصيل د ميراث په كتابونو كښے ذكر شويدے۔

(۳) كله چه ماشوم ژوندے پيدا شي، او بيا مړ شي نو د ميراث نه سوئ نور احكام به هم هغهٔ دپاره ثابت وي لكه هغهٔ له به غسل وركولے شي، د جنازے مونځ به پرے كولے شي، او ددهٔ نه به هم ميراث ورل كيږي۔

**درجة الحديث** : [صحيح لغيره] : أبوداود : ۲۹۲۰، ترمذى: ۱۰۳۲، ابن ماجه : ۲۷۵۰، الدارمي: ۲/۲۸۳. ولفظه : إِذَا اسْتَهَلَّ الصَّبِيُّ صُلِّيَ عَلَيْهِ، وَوُرِّثَ) وفى لفظ آخر : لَايَرِثُ الصَّبِيُّ حَتّٰى يَسْتَهِلَّ صَارِخًا) وقال الحاكم (۸۰۲۳) والذهبى صحيح على شرط البخارى ومسلم، واعله الترمذى بالاضطراب والوقف، وفيه -مرفوعا وموقوفا- عنعنة ابى الزبير، فهو صحيح لشواهده [الصحيحة : ۲۳٤/۱ رقم : ۱۵۳، والارواء : ۱۷۰٤]. **فائده** : پدے روايت كښے دا نشته چه كه آواز ئے ونكړو او صرف حمل وو بيا پرے جنازه نشته بلكه په هغه هم جنازه شته، تدبر۔

## د اسلام د ابتدائى زمانے يو حكم

3051 (11) - وَعَنْ كَثِيرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ : "مَوْلَى الْقَوْمِ مِنْهُمْ وَحَلِيفُ الْقَوْمِ مِنْهُمْ وَابْنُ أُخْتِ الْقَوْمِ مِنْهُمْ ". رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

**ترجمه** : او كثير بن عبد الله د خپل پلار (عبد الله) نه او هغه د كثيرؒ د نيكهٔ (يعنى خپل والد عمرو بن عوف مزنى رضي الله عنه) نه روايت كوى چه رسول الله ﷺ وفرمايل : د يو

قوم مولىٰ د هغوى نه دے، او د يو قوم حليف د هغوى نه دے، او د يو قوم خورئے د هغوى نه دے۔ (دارمیؒ)

**تشريح** : [مَوْلَى الْقَوْمِ]۔ د مولىٰ وضاحت مخكښے (٤) نمبر روايت د انس ﷺ په تشريح كښے ذكر شوے۔

[وَحَلِيْفُ الْقَوْمِ مِنْهُمْ] ”د قوم حليف د هغۀ قوم نه وى“۔ ددے وضاحت دا دے چه په عربو كښے دا دستور وو چه دوه كسانو به په خپل مينځ كښے د قسم او حلف په ذريعه دا عهد او اقرار وكړو چه مونږ دواړه به د يو بل په غم او راحت او مرګ او ژوند كښے شريك يو، د يو وينه به د بل وينه وى، د يو صلح به د بل صلح وى، او د يو جنګ به د بل جنګ وى، په مونږ دواړو كښے چه په هر چا كوم تاوان لازم شو نو بل به ئے ادا كوى۔ دغه شان د يو بل د ميراث په باره كښے به ئے هم يو بل ته دا اقرار كولو چه زۀ به ستا وارث كيږم او تۀ به زما وارث كيږے، بيا د ميراث په باره كښے د اسلام په ابتدائى زمانه كښے به هم پدے باندے عمل كيدو مګر كله چه قرآن كريم كښے د وراثت يوه واضحه ضابطه نازله شوه او د ورثاؤ او د هغوئ حصے متعين او مقرر كړے شوے نو دا پخوانے دستور هم ختم شو او د نبى ﷺ دا ارشاد ګرامى هم منسوخ شو۔ (چه حليف القوم منهم)۔

او بعض اهل علم وائى چه پدے حديث كښے مولى الموالاة ذكر دے او دا په هغه وخت كښے ميراث وړى چه كله د هغۀ نه سوئ بل څوك ميراث خور نۀ وى۔

**درجة الحديث** :[صحيح لغيره] احمد : ١٩٠١٤، مسند البزار : ٨١٢٤، الدارمى : ٢/٢٤٣، ٢٤٤، وفيه كثير بن عبد الله -حفيد عمرو بن عوف- وهو ضعيف جدا۔ لكن الحديث صحيح، فالجملة الاولى والاخيرة منه تقدمتا فى رواية البخارى عن انس (٣٠٤٤- ٣٠٤٥) والجملة الوسطى لها شاهد من حديث رفاعة ب رافع- مرفوعا به اخرجه احمد : ٤/٣٤٠، وصححه الحاكم : ٢/٣٢٨، و (٤/٧٣) ووافقه الذهبى۔ ولها شاهد آخر عند البزار كما فى الفتح : ٦/٤٠٢)

## ماماګان د خپل خورئى ذى رحم وارث كيږى

3052( 12 ) - وَعَنِ الْمِقْدَامِ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: " أَنَا أَوْلَى بِكُلِّ مُؤْمِنٍ مِنْ نَفْسِهِ فَمَنْ تَرَكَ دَيْنًا أَوْ ضَيْعَةً فَإِلَيْنَا وَمَنْ تَرَكَ مَالًا فَلِوَرَثَتِهِ وَأَنَا مَوْلَى مَنْ لَا مَوْلَى لَهُ، أَرِثُ مَالَهُ وَأَفُكُّ عَانَهُ وَالْخَالُ وَارِثُ مَنْ لَا وَارِثَ لَهُ يَرِثُ مَالَهُ وَيَفُكُّ عَانَهُ ". وَفِي رِوَايَةٍ :

"وَأَنَا وَارِثُ مَنْ لَا وَارِثَ لَهُ أَعْقِلُ عَنْهُ وَأَرِثُهُ وَالْخَالُ وَارِثُ مَنْ لَا وَارِثَ لَهُ يَعْقِلُ عَنْهُ وَيَرِثُهُ ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ

**ترجمه** : او مقدام ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : زهٔ په هر مؤمن باندې خپله د هغهٔ نه زیات نزدې یم، نو چا چه قرض یا اهل وعیال پریخودو نو د قرض ادائیګی او د بچو پرورش ئې مونږ حواله دې، او چا چه مال پریخودو نو هغه ئې د وارثانو دې، او زهٔ د هر هغه چا منتظم (نګران) یم د چا چه نګران او منتظم نهٔ وی، زهٔ به د هغهٔ نه میراث ورم، او د هغهٔ قیدی به زهٔ آزادوم (یعنی د هغهٔ په ژوند کښې که په هغهٔ باندې دیت لازم شوې وو او هغه د هغې د ادا کولو نه مخکښې مړ شو نو ددې په وجه چونکه ددهٔ نفس به په برزخ کښې یو قسم په تکلیف کښې قیدی وی پدې وجه زهٔ به د هغهٔ دیت د خپل طرف نه ادا کولو سره هغهٔ ته نجات ورکوم) او ماما د هغه چا وارث دې چه د چا وارث نهٔ وی، د هغهٔ مال به په میراث کښې اخلی، او د هغهٔ قیدی به آزادوی. او په یو روایت کښې دی : او زهٔ د هغه چا وارث یم د چا چه وارث نهٔ وی، زهٔ به د هغهٔ د طرف نه دیت ورکوم او د هغهٔ میراث به اخلم. او ماما د هغه چا وارث دې د چا چه وارث نهٔ وی، د هغهٔ د طرف نه به دیت ورکوی او د هغهٔ نه به میراث وړی. (ابوداوٗد)

**تشریح** : [ضَيْعَةً] په اصل کښې مصدر دې، ډیرې معنې ئې دی، زمکه، حرفت او صنعت او کاروکسب، او ضائع کیدل. دلته ترې هغه اهل وعیال مراد دی چه ضائع کیږی. (یعنی ضائع کیدو والا اهل وعیال)

[مَوْلَى مَنْ لَّامَوْلَى لَهُ] أَيْ: وَلِيُّ مَنْ لَّاوَلِيَّ لَهُ، وَوَارِثُ مَنْ لَّا وَارِثَ لَهُ . (یعنی زهٔ د هغه چا دوست او وارث یم د چا دوست او وارث چه نهٔ وی. د الله رسول (ﷺ) د وارث کیدو مطلب دادې چه ددهٔ مال به د مسلمانانو په بیت المال کښې جمع کیدې شی.

أَرِثُ مَالَهُ : دا (مولیٰ من لا مولیٰ له) تشریح ده. یعنی زهٔ به د هغهٔ میراث اخلم او په بیت المال کښې به ئې جمع کوم. دا حدیث هم دلیل دې چه کله د یو چا هیڅ وارث نهٔ وی نو د هغهٔ مال به بیت المال کښې جمع کیږی.

[وَأَفُكُّ عَانَهُ]. عَانَهُ په اصل کښې (عَانِيَهُ) دې، یاء حذف شویده. لکه یَدٌ په اصل کښې یَدَیٌ دې. او عانی اسیر (قیدی) ته وائی. یعنی د هغهٔ قید به آزادوم، مطلب دا چه که د

قرض په وجه د هغه ځت بند وی نو زهٔ به د هغهٔ د طرف نه قرض ادا کولو سره د هغهٔ ځت آزادوم۔

[أَعْقِلُ عَنْهُ] ۔ عقل دیت ته وائی۔ یعنی د هغهٔ د طرف نه به دیت ادا کوم۔ او هغه څه چه په هغهٔ باندے د جنایاتو په وجه لازمیږی۔

**فوائد او مسائل** : (۱) حدیث نه ثابته شوه چه ذوی الارحام وارثان دی۔ او دا هغه رشته داران دی چه نهٔ ذوی الفروض دی او نهٔ عصبات، لکه ماما، خاله (د مور خور)، ترور (د پلار خور)، د لونړو اولاد، د خوئے د لونړو اولاد، د مور پلار (یعنی د مور د طرف نه نیکه) او داسے نور۔ او دوئ به هله وارثان وی چه کله د مړی نهٔ ذی فرض وارث وی او نهٔ عصبه، نو بیا به دا خلك وارثان جوړیږی۔ او ذوی الارحام وارثان جوړول د عمر فاروق، علی المرتضیٰ او نورو صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین مذهب دے، او دا قول د امام احمدؒ او امام ابوحنیفهؒ دے۔ دلیل ئے حدیث الباب او دا آیتِ کریمه دے : ﴿وَأُولُوا الْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَىٰ بِبَعْضٍ فِي كِتَابِ اللّٰهِ﴾ [احزاب: ٦] (او خپل خپلوان خپلو کښے یو د بل نه په میراث ورلو کښے د الله تعالیٰ په حکم او شرع کښے زیات حقداران دی) دلته [أُولُوا الْأَرْحَامِ] عام دی تولو خپلوانو ته شامل دی، برابره خبره ده که دوئ اصحاب الفروض وی یا عصبات وی اوکه د دوئ نه سویٰ نور خپلوان وی۔

**دویم قول** : دادے چه ذوی الارحام وارثان نهٔ دی، او د مړی مال به په بیت المال کښے جمع کولے شی۔ او دا د زید بن ثابت ﷺ، امام شافعیؒ او امام مالكؒ قول دے۔ د دوئ دلیل : د ابو اُمامه ﷺ دا حدیث دے : [إِنَّ اللّٰهَ أَعْطٰى كُلَّ ذِيْ حَقٍّ حَقَّهُ، فَلَا وَصِيَّةَ لِوَارِثٍ] [ابوداود : ۲۸۷۲] لکه ددے وضاحت به روستو په [بَابُ الْوَصَايَا] کښے راشی ان شاء الله۔ طریقه د استدلال داده چه که ذوی الارحام د میراث حقدار وے نو په کتاب الله کښے به د دوئ دپاره حصے مقرر شوے وے، او هر کله چه د دوئ دپاره حصے مقررے نهٔ شوے، معلومه شوه چه دوئ وارثان نهٔ دی۔ [تفسیر ابن کثیر: ٤/٤٣] او دوئ د حدیث الباب نه دا جواب کړے۔ چه په دے سندونو کښے ضعف دے، نو دا دلیل نهٔ جوړیږی۔ او یا ددے حدیث نه نفی مراد ده، یعنی د چا چه صرف ماما وی نو د هغهٔ وارث نشته، لکه عرب وائی : اَلصَّبْرُ حِيْلَةُ مَنْ لَّا حِيْلَةَ لَهُ، وَالْجُوْعُ طَعَامُ مَنْ لَّا طَعَامَ لَهُ. (صبر د هغه چا حیله ده چه د چا بله حیله نهٔ وی، او لوږه د هغه چا طعام دے چه د چا بل طعام نهٔ وی) خو دا

دواړه جوابونه درست نهٔ دی، ځکه دا حدیثونه صحیح ثابت دی۔ او پورتنے تاویل د درے وجو نه باطل دے: (أ) په حدیث کښے لفظ د [یَرِثُهُ] راغلے۔ (ب) نبی کریم ﷺ ورته وارث وئیلے۔ (ج) دا حدیث چه کومو مخاطبینو ته وئیل شوے هغوئ ددے نه میراث فهم کړے، نهٔ بل شے۔ دا وجه ده، عمر فاروق رضی الله عنه ابو عبیده رضی الله عنه ته په دے باره کښے خط لیکلے وو۔

لهذا **راجح قول**: اولنے دے۔ د دوو وجو نه: (أ) ځکه د دوئ سره یو خو د آیتِ کریمه عموم دے، او بل په دے باره کښے حدیث الباب واضح نص دے۔ (**دویم**) دا چه که ذوی الارحام ته میراث ورنهٔ کړے شی نو مال به په بیت المال کښے جمع کولے شی، حالانکه بیت المال کښے د پردو مسلمانانو برخه ده۔ نو د مړی خپل رشته دار محرومول او عامو مسلمانانو له ددے مړی مال ورکول مناسب نهٔ دی۔ ځکه ذوی الارحام د عامو مسلمانانو سره په اسلام کښے شریك دی، او ددے نه سویٰ په دوئ کښے یو بل شے هم شته چه هغه د مړی خپلولی ده، دے وجے نه دوئ به د عامو مسلمانانو (بیت المال) نه زیات حقدار وی۔ [تفسیر ابن سعدیؒ، ص: ۱۷۰] پاتے شو دویم قول والو چه د کوم حدیث نه استدلال نیولے: [اِنَّ اللّٰهَ أَعْطٰی کُلَّ ذِیْ حَقٍّ حَقَّهُ، فَلَا وَصِیَّةَ لِوَارِثٍ] نو دا استدلال درست نهٔ دے، ځکه د حدیث مقصد دادے چه وارث دپاره وصیت کول باطل دی ځکه دهٔ ته خپل حق د میراث نه ملاؤ شوے۔ ددے نه دا نهٔ معلومیږی چه ګنے ذوی الارحام وارثان نهٔ دی۔ ځکه چه د دوئ وارثان جوړیدل د نورو دلائلو نه معلوم شوی دی، نو دوئ په هغه چا کښے داخل دی چه الله تعالیٰ هغوئ ته خپل حق ورکړے۔

(۲) د ذوی الارحام د میراث شرط دادے چه دوئ به هله وارثان وی چه کله د دوئ نه سویٰ بل ذوی الفروض یا عصبه موجود نهٔ وی۔ ځکه د اصحاب الفروض برخے خو په نص سره مقررے دی او عصبه زیاتی مال اخلی۔ بله دا چه: دا دواړه د ذوی الارحامو نه په رشته داریٔ کښے مړی ته زیات نژدے دی، نو دوئ به د میراث زیات لائق وی۔

نو کله چه یو تن مړ شی او عصبه یا هغه ذی فرض رشته دار پریدی چه په هغهٔ باندے رد کیدے شی، نو ټول مال به دے اخلی، او ذوی الارحام ته به هیڅ شے نهٔ ملاویږی۔ مثلاً: یو تن مړ شو او مور شریکے ورور او ترورئے پریښودهٔ، نو مال به مور شریکی ورور ته رسی، اول به خپله حصه ورته ورکړے شی او بیا به پرے رد وکړے شی۔

او ترور ته به هیڅ نۀ ملاویږی۔ اوکه صاحبِ فرض داسے وو چه په هغۀ باندے رد نشی کیدے لکه ښځه اوخاوند، نو د دوئ سره بیا ذوی الارحام میراث وړلے شی۔ نو ښځے یا خاوند ته به خپله برخه ورکړے شی او باقی مال به ذی رحم ته ورکړے شی۔ مثلًا : یوه ښځه مړه شوه، او خاوند، او د لور لورئے پریښوده، نو د خاوند دپاره نصف دے او د لور لور دپاره باقی نصف دے۔

(۳) د ذوی الارحام د میراث طریقه څۀ ده ؟ هغه په ابتداء د باب کښے بیان شوه، لنډه دا چه په ذوی الارحام کښے به هر یو تن د هغه کس په درجه کښے ګڼړلے شی د کوم په ذریعه چه دے مړی ته نزدے شوے دے، بیا به په هغه چا مال تقسیم کړے شی د چا په ذریعه چه دا تن مړی ته نزدے شوے، نو دۀ ته چه کومه برخه رسی، نو هغه به دغه کس اخلی۔ مثلًا: یو تن مړ شو: او د لور لور، (نمسئ) د سکه خور خوی، (خورئے) او د پلار شریکے خور لور (یعنی علاتی خورزه) ئے پریښوده۔ نو مونږ به دا ګنړو چه ګویا کښے مړی خپله لور، سکه خور او پلار شریکے ورور پریښے، نو د لور لور دپاره به نصف وی چه دا ددے د مور برخه وه (د کومے په وجه چه دا مړی ته نزدے شوے ده)، او د خور خوی (خورئی) دپاره به هم نصف وی، چه دا ددۀ د مور برخه وه، او د پلار شریکی ورور د لور دپاره هیڅ نشته، څکه خور د لور سره عصبه ده، لکه مخکښے تیر شو۔ نو دا به باقی مال اخلی، او دا د سکه ورور په درجه کښے ده، چه دا به پلار شریکے ورور محروم ګرځوی، دارنګه ددۀ بچی به هم محروم ګرځوی۔

**بل مثال** : یو تن مړ شو او ترور او خاله ئے پریښوده۔ خاله د مور په ذریعه مړی ته نزدے ده، او ترور د پلار په ذریعه مړی ته نزدے ده، نو مال به داسے تقسیم کړو چه ګویا که مړی پلار او مور پریښے ده۔ نو مور دپاره به ثلث وی چه دا به خالے ته ورکړے شی، او پلار دپاره به باقی مال وی چه دا به ترور ته ورکړے شی۔ والله تعالیٰ أعلم۔

**درجة الحديث** : [صحیح] ابوداود : ۲۹۰۰، (۱۹۰۳) ترمذی: ۲۱۰۳، ابن ماجه: ۲۷۳۷، أحمد: ۲۸/۱،رقم : ۱۸۹، و۳۲۳ ابن الجارود: ۹٦٤، ابن حبان: ۱۲۲۷، موارد، دارقطنی: ۸٤/٤، بیهقی: ۲۱٤/٦.

## زنانه د درے كسانو ميراث وړی

3053 (13) - وَعَنْ وَاثِلَةَ بْنِ الْأَسْقَعِ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: " تَحُوْزُ الْمَرْأَةُ ثَلَاثَ مَوَارِيْثَ عَتِيْقَهَا وَلَقِيْطَهَا وَوَلَدَهَا الَّذِیْ لَاعَنَتْ عَنْهُ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ .

**ترجمه** : او واثله بن اسقع ﷺ فرمائى : رسول الله ﷺ وفرمايل : ښځه درے قسمه ميراثونه راجمع كوى، يو خو د خپل آزاد كړے شوى غلام، دويم د خپل لقيط، او دريم د خپل هغه بچى چه دے د هغۀ په وجه سره (د خاوند سره) لعان كړے وى۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ، ابن ماجهؒ)

**تشريح** : [تَحُوْزُ] : دا د حِيازة نه دے، [اَیْ تَجْمَعُ وَتَأْخُذُ]۔ يعنى راجمع كوى او اخلى۔ [الْمَوَارِيْثَ]۔ جمع د ميراث ده، لكه موازين جمع د ميزان ده۔ [عَتِيْقَهَا] : آزاد كړده غلام۔ [وَلَقِيْطَهَا]۔ راپورته كړے شوے ماشوم۔

د "آزاد كړے شوى غلام" نه مراد دا دے چه مثلًا يوے ښځے يو غلام آزاد كړو او هغه آزاد شوے غلام پدے حالت كښے مړ شو چه د هغۀ هيڅوك نسبى عصبه نۀ وى نو لكه څنګه چه يو سړے پدے صورت كښے د خپل آزاد كړى غلام وارث جوړيږى، دغه شان دا ښځه هم د خپل دے آزاد شوى غلام ميراث اخلى۔

د لقيط نه مراد دا دے چه مثلًا يوه ښځه په يوه لاره كښے پروت يو ماشوم راپورته كړى او هغه وپالى نو اُوس به دا ښځه وارثه جوړيږى چه ددے لقيط د مرګ نه روستو به ددۀ ميراث اخلى، او همدا مذهب د اسحاق بن راهويهؒ دے۔ ليكن د نورو علماؤ دا مسلك دے چه لقيط د ولاء حق نۀ لرى۔ مطلب دا چه يوه ښځه يو ماشوم راپورته كړى نو هغه به ئے وارثه نۀ جوړيږى ځكه چه احاديثو كښے صرف د ښځے دپاره ولاء العتاقة ثابت دے نۀ بل قسم ولاء، يعنى چه يو غلام آزاد كړى۔ نو ددے علماؤ په نيز دا حكم منسوخ دے چه ښځه د خپل لقيط ميراث خوره جوړيږى۔

ددے يو بل مطلب دا هم بيان شوے چه د لقيط پريخودے شوے مال او اسباب د بيت المال حق دے، البته كومے ښځے چه دا راپورته كړے او بيا ئے پاللے نو هغه د نورو مسلمانانو په مقابله كښے ددے خبرے زياته مستحقه ده چه د بيت المال د طرف نه هغه

مال کوم چه لقيط پرېښے دے دے ښځے ته ورکړے شي۔ پدے معنیٰ باندے بیا دا حکم منسوخ نهٔ دے۔

[لَاعَنَتْ]۔ لعان دے ته وائي چه يو شخص په خپله ښځه باندے د زنا تهمت ولګوی يا کوم ماشوم چه پيدا شويدے د هغهٔ په باره کښے دا ووائی چه دا زما نهٔ دے او هغه ددې په وجه خپل مينځ کښے په يو بل باندے لعنت او ملامتيا ووائی چه ددے تفصيل به روستو جلد باب اللعان کښے راځي ان شاء الله تعالیٰ۔ نو د کوم ماشوم په پيدا کيدو کښے چه لعان شويدے ددے ماشوم نسب د پلار نه نهٔ ثابتيږی او نهٔ هغه ماشوم او پلار خپل مينځ کښے د يو بل وارث جوړيږی ځکه چه د وراثت تعلق د نسب سره وی او هغه پدے صورت کښے منتفي دے، البته ددے ماشوم نسب چونکه د مور نه ثابتيږی پدے وجه هغه ماشوم او مور به خپل مينځ کښے د يو بل وارث کيږی۔ د ولد الزنا هم دغه حکم دے۔

**درجة الحديث** :[ضعيف] ابوداود : ۲۹۰٦، ترمذی : ۲۱۱۵، وقال حسن غريب، دارقطنی : ۲۷٤۲، نسائی کبری : ٦۳٦۰، بيهقی : ٦/۲۵۹، وضعفه جماعة منهم البخاری وهو الصواب، لان عمر بن روبة التغلبی انکروا روايته عن عبد الواحد النصری فانها ضعيفة وان کانت مقبولة من غيره، وهو القول الاعدل فيه. راجع الارواء : ۱۵۷٦ وضعيف ابی داود].

## د ولدِ زنا حکم

3054 (14) – وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ : أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ :" **أَيُّمَا رَجُلٍ عَاهَرَ بِحُرَّةٍ أَوْ أَمَةٍ فَالْوَلَدُ وَلَدُ زِنًى لَا يَرِثُ وَلَا يُوْرَثُ** ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

**ترجمه** : او عمرو بن شعيب د خپل پلار نه او هغه د خپل نيکه نه روايت کوی چه بيشکه نبی کريم ﷺ وفرمايل : هر يو سړے چه د يوے آزادے ښځے يا وينځے سره زنا وکړی نو بچے به ئے د زنا بچے وی، نهٔ به هغه ميراث وړی او نهٔ به د هغهٔ نه ميراث وړلے شي۔ (ترمذیؒ)

**تشريح** : [عَاهَرَ]۔ عَهْرٌ او عُهُور په اصل کښے دے ته وائي چه يو سړے د شپے يوے ښځے ته راشي او هغے سره بدکاری وکړی۔ بيا زنا دپاره استعماليږی۔

[لَا يَرِثُ وَلَا يُوْرَثُ] مطلب دا دے چه د زنا نه کوم بچے پيدا شي نو نهٔ زنا کونکے د هغهٔ

میراث خور جوړیږي او نهٔ د هغهٔ اقرباء د هغهٔ میراث وړے شي او نهٔ هغه بچے د زناکار نه میراث وړي او نـهٔ د هـغـهٔ د اقرباؤ، ځکه چه وراثت د نسب په وجه سره وي، او ولد زنا او زنا کونکي ترمینځ هیڅ نسب نشته۔ البته د ولد زنا مور د هغه وارثه کیږي او ولد زنا د خپلے مور میراث موندے شي۔

**درجة الحديث** :[صحيح] الترمذی : ٢١١٣، وفی اسناده ابن لهیعة لکن هو من روایة قتیبة عنه وهـو صـحيـح الـحديث عنه، وقد تابعه سلیمان بن موسی عند ابی داود : ٢٢٦٤، ٢٢٦٦، والحاکم : ٤/٣٣٢، والبیهقی : ٦/٢٦٠، وله عندهم و کذا احمد : ١/٣٦٢، شاهد من حدیث ابن عباس مرفوعا نحوه فالحدیث -بمجموع ذلك - صحيح۔

## د آزاد شوی غلام میراث

3055 (15) - وَعَنْ عَائِشَةَ : أَنَّ مَوْلًى لِرَسُولِ اللّٰهِ ﷺ مَاتَ وَتَرَكَ شَيْئًا وَلَمْ يَدَعْ حَمِيمًا وَلَا وَلَدًا فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ : " **أَعْطُوا مِيرَاثَهُ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ قَرْيَتِهِ** ". رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ

**ترجمه** : او عـائشـه رضـی الله عـنـهـا نـه روایت دے چه د رسول الله ﷺ یو آزاد کړه غلام وفات شو او څه مال ئے پریخودو، او خپلوان یا بچي ئے پرینخودل نو رسول الله ﷺ وفرمایل : ددهٔ میراث ددهٔ د کلي والو نه یو سړي ته ورکړئ۔ (ابوداوٗد، ترمذیؒ)

**تشریح** : [حَمِيمًا]۔ أَیْ قریبًا۔ یعني خپلوان۔ ددے نه مراد اصحاب الفرائض دی۔ [وَلَدًا]۔ ددے نه مراد عصبات دی۔ [أَهْلِ قَرْيَتِهِ] : یعنی دے غلام خپل کوم وارث نهٔ وو پریښے پدے وجه ددے ترکے حقدار بیت المال وو، او د بیت المال مصرف چونکه فقراء او مساکین وغیره وی پدے وجه رسول الله ﷺ د هغهٔ مال د هغهٔ د کلي والو د محتاج او مستحق شخص دپاره ورکول مناسب وګنړل۔ او نبی ﷺ خپله وانخستلو ځکه چه انبیاء علیهم السلام نهٔ د چا نه میراث وړي او نهٔ د هغوی نه څوك میراث وړے شي۔

انبیاء علیهم السلام ولے د چا وارث نـهٔ جوړیږي؟ او د هغوی میراث چا تـه ولے نـهٔ ملاویږي؟ ددے جواب دا دے چـه انبیـاء علیهم السلام د دنیا بے رغبتی او د مال او د اسبابو د محبت او د دنیا د خواهشاتو نه د ځان ساتلو صرف تعلیم نهٔ ورکولو بلکه خپله بـه ئے هـم پـدے تـعـلیـم باندے عمل کولو، او د دنیا داریٔ هیڅ یو شے هغوی دپاره هیڅ

اهمیت نهٔ لرلو۔ او د هغوی د حقیقت سترګو باندې غفلت نهٔ وو پدې وجه هغوی ته د الله تعالیٰ د حقیقي مالك او متصرف کیدو مشاهده او کامل یقین حاصل وو، هغوی تهددې خبرې هیڅ اهمیت نهٔ وو چه د فلاني عزیز او رشته دار پریخودې شوې مال مونږ ته ملاؤ شي او نهٔ ورته دا افسوس وي چه زمونږ نه به مال او سامان پاتې شي۔ دنیا د هغوی په سترګو کښې انتهائي حقیره او سپکه وه، اول خو د انبیاء علیهم السلام سره د دنیا مال او اسباب نهٔ وو او څه چه وو هم نو د هغې سره د هغوی هیڅ دلچسپي نهٔ وه پدې وجه د انبیاء علیهم السلام ددې عظمتِ شان په وجه الله تعالیٰ هم دا فیصله نافذ کړه چه انبیاء علیهم السلام د دنیا نه د رخصتیدو نه روستو چه لږ څه سامان پریدی هغه هم د چا وراثت نهٔ جوړیږي او نهٔ انبیاء علیهم السلام په خپل ژوند کښې د خپلو اقرباؤ د میراث نه څه حصه اخلي۔ او اصل وجه دا ده د دوئ نه دا تهمت دفع شي چه ګني دوئ د خپلو ځانونو یا اولاد دپاره مالونه حاصلوي۔

**درجة الحديث** :[جيد الاسناد] ابوداود : ۲۹۰۲، الترمذی : ۲۱۰۵، وقال حسن، ابن ماجه : ۲۷۳۳، نسائی کبری : ٦٣٩١.

## د چا چه هیڅ وارث نهٔ وي د هغهٔ ترکه به د کلي مشر او ضعیف ته ورکولې شي

3056 (16) – وَعَنْ بُرَيْدَةَ ﷺ قَالَ : مَاتَ رَجُلٌ مِنْ خُزَاعَةَ فَأُتِيَ النَّبِيُّ ﷺ بِمِيرَاثِهِ فَقَالَ : "**اِلْتَمِسُوْا لَهُ وَارِثًا أَوْ ذَا رَحِمٍ**" فَلَمْ يَجِدُوْا لَهُ وَارِثًا وَلَا ذَا رَحِمٍ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : "**أَعْطُوا الْكُبْرَ مِنْ خُزَاعَةَ**". رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ وَفِيْ رِوَايَةٍ لَهُ : قَالَ : "**اُنْظُرُوْا أَكْبَرَ رَجُلٍ مِنْ خُزَاعَةَ**".

**ترجمه** : او بریده ﷺ فرمائي : د خزاعه قبیلې یو سړې وفات شو، نو نبي کریم ﷺ ته د هغهٔ میراث راوړې شو، نو هغهٔ وفرمایل : ددې مال دپاره کوم وارث یا رشته دار ولټوئ، نو خلکو هغهٔ دپاره وارث او رشته دار ونهٔ موندو نو رسول الله ﷺ وفرمایل : (دا مال) د خزاعه قبیلې یو مشر بوډا ته ورکړئ۔ (ابوداوٗد) او په بل روایت د ابوداوٗد کښې دي : وې فرمایل : د خزاعه قبیلې یو مشر (بوډا) سړې وګورئ۔ (او هغهٔ ته دا میراث ورکړئ)

**تشریح**: [اَلْكُبْرَ] ددې نه مراد اکبر دې۔ یعني کبیر او مشر او بوډا دې۔

ددې حديث تشريح هم د مخکښې په شان ده چه ددې شخص چونکه هيڅ وارث نۀ وو پدې وجه د هغۀ ترکه به بيت المال کښې داخليده، نو نبي ﷺ دا مناسب وګڼړله چه ددۀ ترکه ددۀ د قبيلې نه يو بوډا او مشر سړي ته ورکړې شي ځکه چه دا شخص د بيت المال مصرف هم دے او ددې قبيلې د يو فرد کيدو او د خپل بوډا والي په وجه د ټولو نه زيات مستحق هم دے۔

**درجة الحديث** :[اسناده ضعيف] احمد : ٢٢٩٩٤، ابوداود : ٢٩٠٦، وقال النسائي : (٦٣٩٤) منكر، جبريل بن احمر فيه ضعف، قال النسائي ليس بالقوى، والحديث منكر، ووثقه ابن معين وابن حبان وقال ابوزرعة : شيخ۔ وقال ابن حزم : لا تقوم به حجة ولخص الحافظ فقال : صدوق يهم۔ وفي السند : شريك وهو سيء الحفظ (ضعيف ابى داود : ٥٠١) .

## د مړي د قرض ادائيګي د هغۀ په وصيت عملي کولو باندې مقدم دے

3057 (17) – وَعَنْ عَلِيٍّ ﷺ قَالَ : إِنَّكُمْ تَقْرَؤُوْنَ هٰذِهِ الآيَةَ : (مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ تُوْصُوْنَ بِهَا أَوْ دَيْنٍ) وَإِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ **قَضٰى بِالدَّيْنِ قَبْلَ الْوَصِيَّةِ وَأَنَّ أَعْيَانَ بَنِي الْأُمِّ يَتَوَارَثُوْنَ دُوْنَ بَنِي الْعَلَّاتِ، اَلرَّجُلُ يَرِثُ أَخَاهُ لِأَبِيْهِ وَأُمِّهِ دُوْنَ أَخِيْهِ لِأَبِيْهِ**". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه وَفِيْ رِوَايَةِ الدَّارِمِيِّ : قَالَ :" اَلإِخْوَةُ مِنَ الْأُمِّ يَتَوَارَثُوْنَ دُوْنَ بَنِي الْعَلَّاتِ " ...إِلٰى آخِرِهٖ.

**ترجمه** : او علي ﷺ وفرمايل : تاسو دا آيت لولئ : (من بعد وصية توصون بها او دين) او رسول الله ﷺ د وصيت نه مخکښې د قرض په ادا کولو باندې فيصله کړے، او هغۀ دا حکم فرمائيلے دے : چه بيشکه حقيقي ورونه د يو بل وارثان کيږي نۀ ناسکه ورونه، سړے د خپل حقيقي ورور وارث کيږي (يعنې چه د پلار او مور دواړو نه وي) نۀ هغه چه د پلار نه وي (يعنې ناسکه) (ترمذيؒ، ابن ماجهؒ) او په روايت د دارميؒ کښې دي : وے فرمايل : هغه ورونه چه په مور کښې هم شريك دي (يعنې پلار او مور دواړو کښې شريك وي چه هغې ته حقيقي ورونه وائي) وارثان کيږي، نۀ هغه ورونه چه صرف په پلار کښې شريك وي (يعنې ناسکه ورونه) ددې نه پس د حديث الفاظ هغه دي کوم چه پورته نقل شو۔

**تشريح** : د آيت مطلب دا دے چه که مړي څه وصيت کړے وي نو د هغې د پوره کولو نه بعد او که هغۀ باندې کوم قرض وي نو د هغې د ادا کولو نه روستو به ورثاء د هغۀ

میراث تقسیموی۔ نو پدے آیت کښے د وصیت ادا کول د قرض د ادا کولو نه مخکښے ذکر شوی، حال دا چه د رسول الله ﷺ طریقه دا وه چه هغهٔ به قرض ادا کول په وصیت پوره کولو باندے مخکښے کول۔ د علی ﷺ مقصد دا وو چه په قرآن کریم رسول الله ﷺ ښهٔ پوهیدو ځکه چه په هغهٔ باندے نازل شویدے، نو دا گمان ونکړئ چه د قرآن کریم او د رسول الله ﷺ د فعل ترمینځ تضاد ښکاره کیږی، نو په آیت کښے چه وصیت مخکښے ذکر شوے نو حقیقت دا دے چه دا د رسول الله ﷺ د عمل په وجه روستو مراد دے، پاتے شوه دا خبره چه په آیت کریمه کښے وصیت ولے مخکښے ذکر شوے؟ نو ددے مختصر جواب دا دے چه د وصیت مطالبه کونکے نهٔ وی، (یعنی وصیت چه چا دپاره شوے وی، هغه شرمیږی، د وارثانو نه مطالبه نشی کولے، ځکه چه دا یو مستحب کار دے او هرچه قرض دے نو د هغے مطالبه کونکے موجود وی، د وارثانو خوښه وی او که نا خوښه بهر حال د هغے ادائیگی به په هغوی باندے وی۔ دارنگه د وصیت عملی کول په وارثانو باندے گران پریوزی او پدے کښے کوتاهی کیدے شی پدے وجه قرآن کریم وصیت مخکښے ذکر کړو چه پدے خبره باندے خبردارے ورکړی چه د مړی وصیت عملی کول آسان او غیر ضروری ونهٔ گنړئ بلکه دا یو اَهم او ضروری شے دے نو ددے پوره کول هم لازم دی۔ ځکه چه قرآن کریم د ظلم د ختمولو او د انصاف ورکولو کتاب دے، د بندگانو د حقوقو د حفاظت دپاره راغلے دے۔

[وَاَنَّ اَعْیَانَ بَنِی الْاُمِّ] ۔ دا عطف دے په (بالدین) باندے په تقدیر د (باء) سره، د (قَضیٰ) د لاندے دے، یعنی قرآن کریم کښے خو اِخوه (ورونه) مطلق ذکر شویدی نو ذهن ته دا راځی چه دوئ به یو شان وی، مگر پدے کښے رسول الله ﷺ فرق کړیدے۔ لهذا رسول الله ﷺ دا فیصله هم کړیده چه کله د مړی عینی (یعنی حقیقی) ورونه موجود وی نو علاتی (پلار شریك) ورونه به میراث نهٔ وړی۔

او دلته ئے مور ذکر کړه، پدے کښے د دوئ د ترجیح وجے ته اشاره ده۔

[اَلرَّجُلُ یَرِثُ] ۔ دا د مخکښے دپاره بیان او تفسیر دے، یعنی سړی نه د هغهٔ سکه ورور میراث وړی نهٔ پلار شریکے ورور۔ لکه ددے تفصیل په ابتداء د باب کښے ذکرشویدے۔

[اَلْاِخْوَةُ مِنَ الْاُمِّ یَتَوَارَثُوْنَ] ۔ دلته د اِخوه من الام نه مراد حقیقی ورونه دی، یعنی چه مور او پلار دواړو کښے شریك دی، نو دا د علاتی (پلار شریك) ورونو نه په میراث کښے

مخکښې دي، چه کله دوئ موجود وي نو علاتي ورونه د ميراث نه محروم دي، او دلته اخيافي (يعني مور شريکي) ورونه نهٔ دي مراد ځکه چه هغوي خو د ذوي الفروضو نه دي، دلته خبره په عصباتو کښې بيانيږي.

[الْعَلَّاتِ]- جمع د [عَلَّةٌ] ده، لکه جَنَّاتٌ او جَنَّةٌ ، دا د [عَلٌّ او عَلَلٌ] نه دے، دوباره اُوبو ته راستنيدو ته وائي، يعني يو ځل اُوبو ځکلو نه پس دوباره اُوبهٔ ځکل او نَهَل اول ځل اُوبهٔ ځکل دي، نو دلته هم پلار د اولے ښځے نه د خړوبه کيدو نه روستو دويمے ته راواپس شو- بيا بنو العلات د مختلفو جماعتونو او ډلو دپاره استعماليږي- عرب وائي : [اَلنَّاسُ اَبْنَاءُ عَلَّاتٍ] يعني خلك مختلفې ډلے دي-

**درجة الحديث** :[حسن] الترمذی : ۲۰۹٤، ۲۰۹۵، ابن ماجه : ۲۷۳۹، دارقطنی : ٤/۸٦، وفيه الحارث عن علی وقد تکلم بعض اهل العلم فی الحارث (الاعور) (ترمذی)- لکن طرفه الاول له طريق اُخری وشاهد فی الارواء : (۱٦٦۷) وقال الشوکانی فی الدراری المضية : ص ٤۳۲ فی اسناده الحارث الاعور ولکنه قد وقع الاجماع علی ذلك (ای علی مضمون الحديث)

## د آيتِ ميراث شان نزول

3058 (18) – وَعَنْ جَابِرٍ ﷺ قَالَ : جَاءَتِ امْرَأَةُ سَعْدِ بْنِ الرَّبِيعِ بِابْنَتَيْهَا مِنْ سَعْدِ بْنِ الرَّبِيعِ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ فَقَالَتْ : يَا رَسُولَ اللّٰهِ هَاتَانِ ابْنَتَا سَعْدِ بْنِ الرَّبِيعِ قُتِلَ أَبُوهُمَا مَعَكَ يَوْمَ أُحُدٍ شَهِيدًا وَإِنَّ عَمَّهُمَا أَخَذَ مَالَهُمَا وَلَمْ يَدَعْ لَهُمَا مَالًا وَلَا تُنْكَحَانِ إِلَّا وَلَهُمَا مَالٌ قَالَ : **"يَقْضِي اللّٰهُ فِي ذٰلِكَ"** فَنَزَلَتْ آيَةُ الْمِيرَاثِ فَبَعَثَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ إِلَى عَمِّهِمَا فَقَالَ : **"أَعْطِ لِابْنَتَيْ سَعْدٍ الثُّلُثَيْنِ وَأَعْطِ أُمَّهُمَا الثُّمُنَ وَمَا بَقِيَ فَهُوَ لَكَ"**. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُودَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهُ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ : هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

**ترجمه** : او جابر ﷺ فرمائي : د سعد بن ربيع ﷺ بي بي خپل دواړه هغه لونړه چه د سعد بن ربيع ﷺ نه وے رسول الله ﷺ ته راوستے، عرض ئے وکړو : اے د الله رسوله ! دا دواړه د سعد بن ربيع لونړه دي، د دوئ پلار ستا په ملګرتيا کښې د اُحد په ورځ شهيد شو او د دوئ تره د دوئ مال واخستو او دوئ ته ئے هيڅ مال پرينخودو، او دوئ سره نکاح نشي کيدے، مګر هله چه د دوئ مال وي- نبي کريم ﷺ وفرمايل : الله تعالیٰ به پدے

باره کښې فيصله وکړی. (يعنی الله تعالیٰ به وحی راوليږی) نو (څه ورځې روستو) د ميراث آيت نازل شو نو رسول الله ﷺ د دوئ د ترۀ پسې څوك وليږلو، او وې فرمايل: چه د سعد (رضی الله عنه) دواړو لونړو ته دوه برخې ورکړه او د دوئ مور ته د ټول مال اتمه برخه ورکړه او څه چه پاتې شو نو هغه ستا شو (ځکه چه تۀ عصبه ئې) (احمدؒ، ترمذیؒ، ابوداودؒ، ابن ماجهؒ) او ترمذیؒ وئيلی دی چه دا حديث حسن غريب دے.

**تشريح**: د جاهليت په زمانه کښې دا رواج وو چه ميراث به صرف هغه نارينه ؤ اخستو چه ځوان به وو او په ميدان کښې به ئې جنګ کولے شو، ښځو او ماشومانو او ضعيفانو ته به ميراث نۀ ملاويدو، کُنډې ښځې، او ماشومانو يتيمانانو بچو، او لونړو به صرف ژړا ته پاتې شوې، د هغوی به ئې هيڅ پرواه نۀ کوله، نو ځوان او قوی او مالدار ورور يا ترۀ به راغلو او د مړی ټول مال به ئې يوړو، حال دا چه رسول الله ﷺ خو دنيا ته ددې دپاره تشريف راوړے وو چه د يتيمانانو، کمزورور او مسکينانو او بے کسو مدد وکړی او د اسلام رنړا د هر قسمه بدئ او نا انصافئ تيارې ختمې کړی، نو اسلام د ميراث دا ظالمانه نظام هم ختم کړو، اول پدې طريقه چه هرکله چه اَوس بن ثابت انصاری رضی الله عنه په اُحد کښې شهيد شو او درې لونړه او يوه بی بی ام کحه ئې پريخوده نو د هغۀ دوه ترۀ ځامن راغلل چه يو سُويد وو او بل عَرْفَجَه نو دواړو د هغۀ مال واخستو او د هغۀ ښځې او لونړو ته ئې هيڅ ميراث ورنکړو، (ځکه چه) هغوی به په جاهليت کښې زنانه او ماشومانو ته ميراث نۀ ورکولو نو د هغې دپاره بل ځائے د ګيلې نۀ وو نو سيده رسول الله ﷺ ته راغله او دا قصه ئې ورته بيان کړه چه اوس بن ثابت وفات شو او ما سره دومره څه نشته چه زۀ د هغوی په بچو باندې خرچه وکړم او حال دا چه د هغوی پلار ډير مال پريخودے وو او هغه سويد او عرفجه واخستو او هغۀ ما ته او زما لونړو ته هيڅ رانکړل او هغه بچی زما په تربيت کښې دی چه د خوراك څکاك هيڅ پروګرام ئې نشته نو رسول الله ﷺ هغې ته تسلی ورکولو سره وفرمايل: [اِرْجِعِيْ اِلٰى بَيْتِكِ حَتّٰى اَنْظُرَ فِيْمَا يُحْدِثُ اللّٰهُ فِيْ اَمْرِكِ] . تۀ (اُوس) خپل کورته لاړه شه تردې چه زۀ وګورم چه الله تعالیٰ ستا په باره کښې څۀ خبره نازلوی. نبی عليه السلام د الله تعالیٰ د حکم او فيصلې په انتظار کښې وو چه دا آيت نازل شو: [لِلرِّجَالِ نَصِيْبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْاَقْرَبُوْنَ وَلِلنِّسَاءِ نَصِيْبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْاَقْرَبُوْنَ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ اَوْ كَثُرَ نَصِيْبًا مَّفْرُوْضًا] . سره دپاره هم حصه ده د هغې مال

نه چه مور او پلار او خپلوانو پریښی وی او زنانو دپاره هم حصه ده د هغې مال نه چه مور او پلار او خپلوانو پریښی وی، کم مال وی او که ډیر، یقینی حصه۔

ددې آیت د نازلیدو نه دا معلومه شوه چه د میراث په باره کښې د زنانه او جینکو سره چه تر اُوسه کوم ظلم او نا انصافی کیده هغه ختمه شوه او ترکه او میراث صرف د سړو حق نهٔ دې بلکه زنانو دپاره هم حق شته لیکن دا آیت مجمل وو چه پدې کښې صرف د زنانو حق ثابت شوې وو، دا وضاحت پکښې نهٔ وو شوې چه په ترکه کښې د سړو څومره حصه ده او د زنانو څومره حصه؟ پدې وجه ددې حکم د نازلیدو نه روستو رسول الله ﷺ د اَوس ترونو ځامن راوغوښتل او دا ئې ورته وویل چه الله تعالیٰ په میراث کښې د زنانو حق هم مقرر کړیدې لیکن لا تر اُوسه د هغې مقدار او حصه ئې نهٔ ده مقرر کړې پدې وجه تاسو د اَوس بن ثابت مال په حفاظت کښې وساتئ، ددې نه د یوې دانې اندازه هم مهٔ خرچ کوئ نزدې ده چه الله تعالیٰ به یو داسې حکم نازل کړی چه په هغې کښې به د حصو تعیین وکړی۔ نو پدې قصه باندې زیاتې ورځې نهٔ وې تیرې شوې چه هغه واقعه راپیښه شوه کومه چه پدې حدیث کښې ذکر شویده چه د خزرج قبیلې یو جلیل القدر انصاری صحابی سعد بن الربیع رضی الله عنه په سنه (۳ هـ) اُحد کښې دولس زخمونو خوړلو سره شهید شو، د هغهٔ د شهادت نه روستو د هغهٔ ورور د جاهلیت د زمانې د رواج مطابق د سعد رضی الله عنه په ټول مال باندې قبضه وکړه او د هغهٔ زوجه او دوه لونړه ئې محرومې پاتې شوې، نو د سعد رضی الله عنه زوجه رسول الله ﷺ ته راغله او ددې نا انصافئ عرض ئې وکړو نبی علیه السلام وفرمایل : لږ وخت صبر وکړه الله تعالیٰ به نزدې وخت کښې قطعی فیصله راولیږی نو همداسې وشوه چه لږې ورځې روستو د میراث دا آیت نازل شو :

[يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ]۔ آخر پورې۔ (یعنی الله تعالیٰ تاسو ته ستاسو د اولادو په باره کښې حکم درکوی چه د نارینه دپاره د زنانه دوه برخې دی)۔ ددې آخری فیصلې نه روستو چه کله د وارثانو د حصو تعیین وشو نو نبی علیه السلام د سعد بن ربیع رضی الله عنه د ورور پسې استازې ولیږلو چه د الله تعالیٰ د حکم مطابق د ترکې نه دوه برخې جینکو ته ورکړی او اتمه برخه د هغوی مور ته، او ددې نه روستو چه څه پاتې شی هغه تهٔ واخله۔ یعنی سعد رضی الله عنه چه څه مال پریښې دې نو هغه څلیریشت حصې کړه بیا د هغې نه اته اته حصې دواړه لونړو ته ورکړه او درې حصې د هغې مور ته ورکړه او باقی پنځه

حصے ته واخله۔

**درجة الحديث**: [حسن] ابوداود: ۲۸۹۲، ترمذي: ۲۰۹۲، ابن ماجه: ۲۷۲۰، قال الترمذي: صحيح ونقل التبريزي عنه انه حسن غريب، وهذا هو اللائق بحال اسناده لان فيه عبد الله بن محمد بن عقيل وهو حسن الحديث وانظر الارواء: (۱۶۷۷) وقال الحاكم: ۷۹۵۴: صحيح ووافقه الذهبي۔

## د لور، نمسئ او خور برخے

3059 (19) - وَعَنْ هُزَيْلِ بْنِ شَرَحْبِيْلَ قَالَ: سُئِلَ أَبُوْمُوْسٰى عَنِ ابْنَةٍ وَبِنْتِ ابْنٍ وَأُخْتٍ فَقَالَ: لِلْبِنْتِ النِّصْفُ وَلِلْأُخْتِ النِّصْفُ وَائْتِ ابْنَ مَسْعُوْدٍ فَسَيُتَابِعُنِىْ فَسُئِلَ ابْنُ مَسْعُوْدٍ وَأُخْبِرَ بِقَوْلِ أَبِىْ مُوْسٰى فَقَالَ: لَقَدْ ضَلَلْتُ إِذَنْ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُهْتَدِيْنَ أَقْضِىْ فِيْهَا بِمَا قَضَى النَّبِيُّ ﷺ: "**لِلْبِنْتِ النِّصْفُ وَلِابْنَةِ الْإِبْنِ السُّدُسُ تَكْمِلَةً لِلثُّلُثَيْنِ وَمَا بَقِيَ فَلِلْأُخْتِ**" فَأَتَيْنَا أَبَا مُوْسٰى فَأَخْبَرْنَاهُ بِقَوْلِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ فَقَالَ: لَا تَسْأَلُوْنِىْ مَا دَامَ هٰذَا الْحِبْرُ فِيْكُمْ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

**ترجمه**: او هزيل بن شرحبيلؒ فرمائي: ابو موسىٰ اشعري ﷺ نه پوښتنه وشوه چه يو تن مړ شي او يوه لور، يوه وريره او يوه خور پريدي (نو د دوئ ميراث به څنګه تقسيمېږي؟) نو هغهٔ وفرمايل: لور دپاره نصف، خور دپاره نصف (او وريره محرومه ده) او ته ابن مسعود ﷺ ته ورشه نو هغه به (هم په دے کښے) زما موافقت کوي۔ هغه تن ابن مسعود ﷺ له ورغے او هغهٔ ته ئے د ابو موسىٰ اشعري ﷺ خبره وکړه۔ نو ابن مسعود ﷺ وفرمايل: ((که ما دغسے فيصله وکړه نو زهٔ به (په دغه وخت کښے) خامخا ګمراه يم او هدايت والا به نهٔ يم۔ زهٔ به په دے باره کښے هغه فيصله کوم چه هغه نبي ﷺ کړے (هغه دا چه) د لور دپاره نصف، او د دوه ثلثو د پوره کولو دپاره د وريرے دپاره سدس (شپږمه برخه ده)، او څهٔ چه باقي پاتے شي هغه د خور دپاره وي۔ هغه تن وائي: مونږ ابو موسىٰ اشعري ﷺ ته راغلو او د ابن مسعود ﷺ دا خبره مو ورته وکړه، نو هغهٔ وفرمايل: ((تر څو پورے چه په تاسو کښے دا ښائسته عالِم موجود وي نو مانه پوښتنه مهٔ کوئ)) (بخاري)۔

**تشريح**:

**فوائد:** (۱) حـديـث نـه معلومه شوه چه كله د مړى نه يوه لور پاتے شى او د هغے سره ورور نـهٔ وى او نهٔ ورسره شريكه پله خور وى نو د هغے دپاره نصف دے۔ د الله تعالىٰ ارشاد دے :﴿يُوصِيكُمُ اللهُ فِي أَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ فَإِنْ كُنَّ نِسَاءً فَوْقَ اثْنَتَيْنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ وَإِنْ كَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ﴾ [النساء : ۱۱] (الله تـعالىٰ تاسو ته ستاسو د اولاد په باره حـكم دركوى چه ځامنو دپاره د لونړو د برخے دوچنده برخه ده، نو كه دا د دوو نه زياتے وے نـو د دوئ دپاره د مړى پـه پريښـى مـال كښے دوه دريمے برخے دى، اوكـه چرے دا يوه وه نو هغے دپاره نصف دے) نو دلته الله تعالىٰ يوے لور ته نصف او دوو ته ثلثان وركړى۔

(۲) او حـديـث دليـل دے چه كله د ځوى لور (نمسئ) د خپلے لور سره شريكه راشى نو دے دپاره بـه سـدس وركـولے شى، دے دپاره چه ثلثين پوره كړے شى، او دا هله چه كله ددے سره ددے ورور يا تـرهٔ ځـوى نـهٔ وى۔ او كـلـه چه ددے سره عصبه (ورور يا ترهٔ ځوى) مـوجـود شى نو بيا دا د ذوى الفروض نه نشوه نو سدس به نهٔ وړى بلكه دا عصبه شوه۔ او د ځـوى لور د خپلے لور پشان ده، هر كله چه دواړه يو ځائے راشى نو دا داسے ده لكه چه دوه لـونړے يو ځائے راغلے وى او دوه لونړو دپاره ثلثان دى۔ نو هر كله چه خپلے لور نصف واخسـتـهٔ نو په ثلثانو كښے صرف سدس پاتے شو، نو كله چه سدس د نصف سره يوځائے كـړے شى نو ددے نه ثلثان جوړيږى۔ نو ځكه د ځوى لور له سدس وركړے شو۔ او دا كه يوه وى اوكه ډيرے، صرف سدس به وركړے كيږى۔

(۳) او حـديـث دليـل دے چه سكه يا پلار شريكے خويندے چه كله د لونړو سره يوځائے راشى نـو دا بـه عـصبه وى (باقى ټول مال به وړى) او ديته عصبه بالغير وائى۔ لكه دلته ابن مسعود ﷺ د مړى د خور دپاره د لور سره برخه مقرره نهٔ كړه بلكه هغے ته ئے د عصبه كيـدو پـه وجه باقى مال وركړو۔ نوكه خويندو سره خپل سكه يا پلار شريك ورور هم وو نو دوئ د هغهٔ سره شريك عصبه دى۔

**اشكال:** مـخـكښے حـديـث كښے تيـر شـو چه كوم مال د ذوى الفروضو نه پاتے شى : [فَلِأَوْلَى رَجُلٍ ذَكَرٍ] (نـو هـغـه بـه د نارينه سړى دپاره وى) حالانكه دلته خور عصبه شوے او بـاقى مال ئے وړے؟ **جواب** : پـه هـغـه حديث كښے مراد عصبه بنفسه دے او دلته خور عصبه بالغير ده۔ او يا دا صورت د هغه حديث نه مستثنىٰ دے۔

(٤) او حـديـث نه دا هم معلومه شوه چه مجتهد اگركه هر څومره لوى شخصيت وى

خو هغه خطا کيدے هم شي، لکه ابو موسیٰ اشعری ﷜ جليل القدر مجتهد صحابي دے ليکن په دے مسئله کښے خطا شو۔ او د خطا کيدو وجه ئے دا وه چه هغهٔ دا گمان وکړو چه دا دوه زنانه دي او د دوئ سره عصبه نشته، او الله تعالیٰ فرمائي : ﴿وَلَهُ أُخْتٌ فَلَهَا نِصْفُ مَا تَرَكَ﴾ [النساء : ۱۷۶] (او د مړي خور وي نو ددے دپاره د مړي نصف مال دے) او د لور په باره کښے ارشاد دے : ﴿وَإِنْ كَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ﴾ [النساء : ۱۱]

او دا چونکه مجتهد دے او مجتهد چه خطا شي نو هم يو اجر ورته ملاويږي، نو د خطا کيدو معنیٰ ئے داده چه يو ثواب ئے شوے۔

(۵) او د [لَقَدْ ضَلَلْتُ إِذًا] نه دا هم معلومه شوه چه کله يو مجتهد خطا شي او بل چا ته نص معلوم وي او بيا هم هغه د دغه خطا کيدونکی مجتهد پيروی کوی، نو دا کس گمراه دے۔ نو قابلِ غور خبره ده ! مجتهد گمراه نهٔ دے ليکن په خطا کښے ددهٔ تابعداری کونکے (مُقلِد) گمراه دے۔ هر کله چه دهٔ ته نص معلوم وی او بيا هم نص پريدی او د دغه مجتهد پيروی کوی۔ نو په دے کښے په هغه جامدو مقلدينو رد دے چه کله هغوئ په يوه خطا خبره کښے د يو امام تقليد کوی او څوك ورته ښکاره نص ذکر کړی نو دوئ وائي: که دغه مجتهد خطا هم شي نو يو اجر مومی نو مونږ څکه د دغه امام پيروی کوو۔ **جواب** دادے چه دغه مجتهد ته به د اجتهاد په وجه يو اجر ملاويږی او مقلد ته چونکه نص ورسيدهٔ او ددے باوجود هغه د تقليد په وجه په دے عمل نهٔ کوی نو دا مقلد گمراه او د حديثو بے قدری کونکے دے۔ او په (فلا وربك لا يؤمنون) کښے داخل دے۔

(٦) اومعلومه شوه چه کله د ابو موسیٰ اشعری ﷜ غوندے يو لوړ رُتبه او جليل القدر صحابي په يوه مسئله کښے خطا کيدے شي او ددهٔ فتویٰ پريښودل کيدے شي نو بيا ددهٔ نه ډير ښکته مجتهد خطا کيدل خو به په طريقه اولیٰ سره ممکن وی۔ او په کومه فتویٰ کښے چه هغه خطا شوے وی هغه به خامخا پريښودل کيږی۔ او حديث به اخستل کيږی۔ نو په دے کښے په تقليد شخصي باندے ښکاره رد دے۔ څکه دا څنگه کيدے شي چه يو ((مجتهد)) په خپلو تمامی فتوو کښے حق ته ورسيږی !!

دا خو د روافضو (شيعه گانو) عقيده ده چه هغوئ وائي : دولس امامان معصوم دی، هغوئ نهٔ خطا کيږی، د هغوئ خبره د کاڼړی کرښه ده ! او ز مونږ د زمانے مقلدين د ابو حنيفه ؒ په باره کښے دا عقيده لری چه ددهٔ خبره د کاڼړی کرښه ده، دا نهٔ خطا کيږی۔ نو

دوئ په دې عقيده كښې د روافضو سره مشابهت لري۔ حالانكه زمونږ د اهل السنة والجماعت دا عقيده ده چه [اَلْمُجْتَهِدُ يُخْطِئُ وَيُصِيبُ] (مجتهد كله خطا وي او كله رَسا)۔ او ددهٔ خطا او رسا به په حديث سره پيژندل كيږي، كه حديث سره ئے خبره موافقه وه، نو رَسا او كه خلاف وه نو خطا۔

(۷) او د [لَاتَسْأَلُونِي مَا دَامَ هٰذَا الْحِبْرُ فِيكُمْ] نه يو خو دا معلومه شوه چه صحابه كرامو به يو د بل ډير قدر او عزت كولو، او دا د اهلِ علمو د سردارئ نښه ده چه دوئ يو بل ته احترام لري او يو د بل صفت كوي۔ او بله دا معلومه شوه چه ((حَبْر)) يعني ښائسته عالِم هغه څوك دے چه خپله فتوئ په حديث باندے ښائسته كړي۔ دا وجه ده، ابو موسىٰ اشعري ﷺ خپله فتوئ واپس واخسته او د ابن مسعود ﷺ حديثي فتوے ته ئے رجوع وكړه۔ او هم دېته حق پرستي وائي۔ ددے نه ددے جليل القدر صحابي لوى فضيلت ثابت شو۔ معلوميږي چه ددے جليل القدر صحابي په سينه كښې د حديث څومره قدر پروت وو !! افسوس خبره ده، نن صبا خو چه څوك چاته حقه خبره وكړي او غلطي ورته وښائي نو هغه په ضد كښې راځي او د خپلې غلطې خبرے صحيح كولو دپاره شل بهانے او جوابونه ګوري۔ ليكن دے صحابه كرامو ته وګورئ ! زمونږ خوږ نبي ﷺ د دوئ څنګه تربيت كړے وو!

دے نه بعض نا پوهه خلكو كوشش كړے چه تقليد ثابت كړي، وائي چه اُوګوره ابو موسىٰ اشعري ﷺ د ابن مسعود ﷺ تابعدارئ ته دعوت وركړو چه ترڅو په تاسو كښې دا عالِم موجود وي نو ما نه تپوس مهٔ كوئ، نو بس تقليد ثابت شو۔ جواب دا دے چه په همدے حديث كښې په تقليد باندے رد دے، او د حديثونو تابعدارئ ته دعوت دے، ابو موسىٰ اشعري ﷺ خلكو ته دعوت وركړو چه د هغه عالم پسے روانيږئ چه حديث ورسره وي (لكه ابن مسعود ﷺ خپل اجتهاد نهٔ وو بلكه د نبي حديث وو)، او د هغه عالِم تابعدارئ مهٔ كوئ چه نص او دليل ورسره نهٔ وي۔ لكه په واقعه كښې فكر وكړه۔

## د نيكهٔ برخه

3060 (20) – وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ ﷺ قَالَ : جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ، فَقَالَ : إِنَّ ابْنَ ابْنِي مَاتَ، فَمَا لِي مِنْ مِيرَاثِهِ؟ فَقَالَ : **لَكَ السُّدُسُ**، فَلَمَّا وَلَّى دَعَاهُ، فَقَالَ : (**لَكَ**

سُدُسٌ آخَرُ)، فَلَمَّا وَلّٰى دَعَاهُ، فَقَالَ : إِنَّ السُّدُسَ الآخَرَ طُعْمَةٌ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ : هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ .

**ترجمه** : او عمران بن حصين ﷺ نه روايت دے فرمائي : چه يو سړے د رسول الله ﷺ په خدمت کښے حاضر شو او عرض ئے وکړو : زما نمسے مړ شو نو ددهٔ د ميراث نه ماته څهٔ ملاويږي ؟ نبي ﷺ وفرمايل : ستا دپاره شپږمه برخه ده. کله چه هغهٔ شاګړه روان شو نو راوے بالهٔ او ورته ئے وفرمايل : ستاد پاره دويمه شپږمه برخه هم ده. هر کله چه هغه شا واړه وله بيا ئے راوبالهٔ ورته ئے وفرمايل : دويمه شپږمه برخه د رزق په توګه ده. (احمدؒ، ابوداوُدؒ، ترمذيؒ،) او ترمذيؒ وئيلي دي چه دا حديث حسن صحيح دے.

**تشريح : فوائد** : (۱) حديث نه ثابته شوه چه نيکهٔ (د پلار پلار) ذوي الفروضو کښے هم دے او عصبه کښے هم. او د نيکهٔ نه مراد جد صحيح دے، يعني هغه تن چه ددهٔ او د مړي ترمينځه زنانه نهٔ وي، لکه د پلار پلار شو، چه د نمسي په مال کښے ددهٔ سدس دے، په دوه شرطونو سره : (أ) چه د مړي نارينه اولاد وي. (ب) چه ددهٔ نه زيات نزدے بل نيکهٔ موجود نهٔ وي. لکه يو تن مړ شي او يو د پلار د پلار پلار، او بل د پلار پلار پريدي، نو ميراث به دے روستني نيکهٔ ته ملاويږي. ځکه دا د اولني نه مړي ته زيات نزدے دے. د اولني شرط دليل د الله تعالىٰ دا قول دے : ﴿وَلِاَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ اِنْ كَانَ لَهٗ وَلَدٌ﴾ [النساء : ۱۱] او دا معلومه خبره ده چه نيکهٔ ته هم پلار ويل کيږي نو دے به د پلار پشان ميراث اخلي. د دويم شرط دليل اجماع د علماؤ ده. [فتح الباري: ۱۲/۹۱] بله دا چه نيکهٔ د پلار په ذريعه مړي ته نزدے شوے نو کله چه پلار موجود وي، نيکهٔ به ميراث نهٔ وړي. ځکه په ميراث کښے دا قاعده ده چه په اصولو کښے هر يو وارث د خپل ځان نه پورته تن محروم ګرځوي هر کله چه هغهٔ سره په جنس کښے شريك وي، لکه پلار نيکهٔ لره محروم ګرځوي ځکه دا ددهٔ د جنس نه دے، دا شان مور نيا لره محرومه ګرځوي. البته پلار نيا لره محرومه نشي ګرځولے ځکه پلار د نيَا د جنس نه نهٔ دے. او نيکهٔ چونکه د پلار حکم لري نو د پلار پشان د نيکهٔ هم درے حالات دي :

**(اول حالت)** چه دے صرف د ذوي الفروضو نه وي : ددے صورت دادے چه يو تن مړ

شي او د هغهٔ نه نيکهٔ او خوئے پاتے شي، نو د نيکهٔ دپاره سدس او باقي د خوئے دے- نو دلته نيکهٔ صرف د مقررے برخے خاوند دے۔ **(دويم حالت)** چه په دے کښے دے صرف عصبه وي : او دا هغه صورت دے چه په دے کښے د مړي دپاره اولاد نهٔ وي۔ د الله تعالیٰ ارشاد دے : ﴿فَإِن لَّمْ يَكُن لَّهُ وَلَدٌ وَوَرِثَهُ أَبَوَاهُ فَلِأُمِّهِ الثُّلُثُ﴾ [النساء : ۱۱] (که د مړي اولاد نهٔ وي او مور پلار ددهٔ وارثان وي نو د مور دپاره ئے دريمه برخه ده) نو دلته ئے د مور دپاره برخه مقرر کړه او پلار دپاره ئے مقرر نهٔ کړه، نو معلومه شوه چه پلار به عصبه وي، يعني باقي ټول مال به اخلي۔ نو د نيکهٔ هم دا حکم دے۔ **(دريم حالت)** چه په هغے کښے نيکهٔ د ذوي الفروضو نه هم وي او عصبه هم۔ لکه دا په دے حديث الباب کښے راغلي، ځکه نبي کريم ﷺ نيکهٔ ته سدس ورکړو، په دے وجه چه دا د ذوي الفروضو نه دے، او بل سدس ئے په دے وجه ورته ورکړو چه دا عصبه دے۔ او ورته ئے وفرمايل: [إِنَّ السُّدُسَ الآخَرَ طُعْمَةٌ] يعني دا دويم سدس ستا دپاره د خپل مقرر حق نه زياتي رزق دے چه تاله په دے وجه درکولے شي چه اصحاب الفروض کم دي، دا ستا مقرر حق نهٔ دے، ځکه که چرے اصحاب الفروض زيات وے نو بيا به تاته دا نهٔ درکړے کيدے۔

او **صورت** د مسئلے دادے : چه يو تن مړ شوے وو او دوه لونړه او يو دا سائل (نيکهٔ) ئے پريښے وو۔ نو لوريانو دپاره ثلثان ورکړے شو۔ نو يو ثلث پاتے شو، په دے کښے يو سدس دغه نيکهٔ ته د صاحبِ فرض کيدو په وجه ورکړے شو، او بل سدس د عصبه کيدو په وجه ورکړے شو۔ او نبي ﷺ دا سړے پريښودهٔ روان شو او بيا ئے بيرته واپس را وغوښتهٔ، دا ددے دپاره چه هغهٔ ته دا ورښائي چه ستا حق صرف سدس دے، او دا دويم سدس تاله د عصبه کيدو په وجه درکولے شي۔ دے دپاره چه دا سړے دا ګمان ونهٔ کړي چه دا دويم سدس هم زما د اولني سدس پشان مقرره برخه ده نو دا ګمان به وکړي چه ګنے زما برخه ثلث دے۔ دا وجه ده، نبي ﷺ دے دويم سدس ته طُعمه (زياتي خوراکه) وويله۔ په خلاف د اولني سدس نه چه هغه د مقررے برخے په توګه وو۔

★ ددے بل **مثال** دادے : چه يو تن مړ شي : يوه لور، او يو نيکهٔ پريدي، نو د لور دپاره نصف دے، او د نيکهٔ دپاره يو سدس پدے وجه دے چه دا صاحب فرض دے، او باقي مال به د عصبه په توګه ورته ورکړے شي۔ والله تعالیٰ اعلم۔

**درجة الحديث:** [ضعيف] أبو داود: ۲۸۹۶، ترمذی: ۲۰۹۹، أحمد: ۴۲۸/۴. ضعيف أبي داود،

ضعيف السند لان فيه قتادة والحسن مدلسان وقد عنعنا.

## د نيا برخه

3061 (21) – وَعَنْ قَبِيصَةَ بْنِ ذُؤَيْبٍ، قَالَ : جَاءَتِ الْجَدَّةُ إِلَى أَبِي بَكْرٍ ﷺ تَسْأَلُهُ مِيرَاثَهَا فَقَالَ لَهَا : مَا لَكِ فِي كِتَابِ اللّٰهِ شَيْءٌ وَمَا لَكِ فِي سُنَّةِ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ شَيْءٌ فَارْجِعِي حَتّٰى أَسْأَلَ النَّاسَ فَسَأَلَ فَقَالَ الْمُغِيرَةُ بْنُ شُعْبَةَ : حَضَرْتُ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ أَعْطَاهَا السُّدُسَ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ هَلْ مَعَكَ غَيْرُهُ ؟ فَقَالَ مُحَمَّدُ بْنُ مَسْلَمَةَ مِثْلَ مَا قَالَ الْمُغِيرَةُ فَأَنْفَذَهُ لَهَا أَبُو بَكْرٍ ﷺ ثُمَّ جَاءَتِ الْجَدَّةُ الْأُخْرٰى إِلَى عُمَرَ ﷺ تَسْأَلُهُ مِيرَاثَهَا فَقَالَ : هُوَ ذٰلِكَ السُّدُسُ فَإِنِ اجْتَمَعْتُمَا فَهُوَ بَيْنَكُمَا وَأَيَّتُكُمَا خَلَتْ بِهٖ فَهُوَ لَهَا . رَوَاهُ مَالِكٌ وَأَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ

**ترجمه** : او قبيصه بن ذؤيبؓ وائي : يوه نيا ابوبكر صديق ﷺ ته راغله چه د هغۀ نه ئے د خپل ميراث په باره كښے پوښتنه كوله (چه ددے څومره ميراث كيږي؟) نو هغۀ ورته وفرمايل : ستا دپاره د الله تعالىٰ په كتاب كښے هيڅ (مقرر) شے نشته او ستا دپاره په سنت د رسول الله ﷺ كښے هيڅ (مقرر) شے نشته، (يعني ما ته چه كوم حديثونه ياد دي په هغے كښے د جدے هيڅ ذكر نشته) نو تۀ واپس لاړه شه، تردے چه زۀ د خلكو (يعني د علماءِ صحابه كرامو) نه تپوس وكړم، (كيدے شي چه د هغوى سره ددے په باره كښے كوم حديث معلوم وي) نو هغۀ (خلكو نه) تپوس وكړو، نو مغيره بن شعبه ﷺ وفرمايل : زۀ (يوه ورځ) د رسول الله ﷺ په خدمت كښے حاضر وم (نو ما وليدل) چه رسول الله ﷺ جدے ته شپږمه برخه وركړه. نو ابوبكر صديق ﷺ (مغيره ته) ووېل : آيا تا سره ستا نه علاوه بل څوك وو، (چه هغۀ هم دا حديث آوريدلے وي دا خبره ئے د احتياط په توګه وكړه) نو محمد بن مسلمه ﷺ هم هغه شان خبره وكړه څنګه چه مغيره ﷺ وكړه. نو ابوبكر صديق ﷺ د جدے دپاره په شپږمه برخه فيصله وكړه. بيا (په روستو زمانه كښے) يوه بله نيا عمر فاروق ﷺ ته راغله چه د هغۀ نه ئے د خپل ميراث په باره كښے پوښتنه كوله. نو هغۀ ورته وفرمايل : هغه شپږمه برخه ستا دپاره هم ده، نو كه تاسو دواړه راجمع شوئ نو هغه شپږمه برخه به ستاسو دواړو ترمينځ

مشترك وي، او كه ستاسو نه يوه پدې سره يواځې شي نو هغه شپږمه برخه به د هغې دپاره وي. (مالكؒ، احمدؒ، ترمذيؒ، ابوداؤدؒ، دارميؒ، ابن ماجهؒ)

**تشريح :** [الْجَدَّةُ]. جده د مور او پلار دواړو د طرف نه نيا ته وائي. ليكن په بعض رواياتو كښې راغلي چه د ابو بكر صديق ﷺ په زمانه كښې كومه ښځه راغلې وه هغه د مرې د مور مور وه، او د عمر فاروق ﷺ په زمانه چه كومه ښځه راغلې وه هغه د مړي د پلار مور وه. او مطلب دا دے چه عمر فاروق ﷺ ته په خپل دور خلافت كښې ددغه نمسي يوه بله نيا (د پلار مور) راغله او د خپل نمسي د ميراث مطالبه ئې كوله نو عمر فاروق ﷺ ورته وفرمايل : چه زۀ ستا دپاره د الله تعالىٰ په كتاب كښې هيڅ شے نۀ مومندۀ كوم او د دغه شپږمې برخې فيصله ستا نه علاوه د بلې نيا دپاره شويده، او زۀ خو د الله تعالىٰ په مقرر كړې حصو كښې زيادت نشم كولے، ليكن هغه ميراث او برخه چه بلې نيا اخستے ده هغه ستا برخه هم ده نو كه تاسو دواړه په يو ځائے ژوندئ يئ نو هغه شپږمه برخه به ستاسو دواړو ترمينځ شريكه وي او كه يوه يواځې شوه (يعني بله د نمسي د مرګ نه مخكښې مړه وه) نو بيا به دغه يو سدس د هغې ژوندئ حصه وي. دے نه معلومه شوه چه د نيا برخه د شپږمې برخې نه زياته نۀ ده، برابره ده چه نيا يوه وي او كه ډيرے، يواځې نيا يوه وي نو شپږمه برخه به يواځې اخلي او كه دوه وي نو دا شپږمه برخه به خپلو كښې تقسيم كړي. پدے وجه عمر فاروق ﷺ حكم وكړو چه دغه شپږمه برخه به د مخكنۍ نيا نه راواخستے شي او د دواړو ترمينځ به برابر تقسيم كړے شي.

او دا حديث هم دليل دے چه د ابو بكر صديق ﷺ په شان جليل القدر صحابي باندے يو حديث پټ پاتے كيدے شي. او ډير كرته يو لږ علم والا ته د بعض خبرے معلومات وي چه هغه ډير علم والا ته نۀ وي، ځكه چه علم د الله تعالىٰ د طرف نه په بندګانو كښې تقسيم دے. دلته مغيره بن شعبه ﷺ او محمد بن مسلمه ﷺ ته دا حديث معلوم وو او ابوبكر صديق ﷺ ته نۀ وو معلوم. او دا د لوى عالم شان نۀ خرابوي. نو هركله چه په داسے لوى شخصياتو صحابه كرامو باندے يوه خبره پټه پاتے كيدے شي نو د نورو علماءِ كرامو او مجتهدين عظامو په باره كښې به خامخا ډيرے خبرے پټے پاتے كيدے شي لكه د هغې مثالونه په كتابونو كښې موجود دي. مقصد د خبرے دا دے چه تقليد كول يو باطل كار دے او مونږ د الله تعالىٰ او د رسول په تابعدارئ باندے مامور يو. او هر عالِم نه

به خپله خپله فائده اخستے شي او همدا د انصاف لاره ده۔

**درجة الحديث** :[مختلف فيه] ابو داود : ۲۸۹٤، ترمذی : ۲۱۰۱، دارقطنی : ۲۷۲٤، نسائی کبری : ٦۳۳۹، رجاله رجال الشيخين، غير عثمان بن اسحاق بن خرشة شيخ ابن شهاب الزهری فهو مجهول، (ميزان) وذكره ابن حبان فی الثقات : (۱۹۰/۷) ، وقال الدوری عن ابن معين : ثقة۔ وقال ابن عبد البر : هو معروف النسب الا انه غير مشهور بالرواية۔ (استذكار : ۳٤۷/٤) وقال فی التمهيد : انه مرسل۔ وقال ابن الملقن : صحيح۔ البدر المنير : ۲۰٦/۷، وقال الحافظ ابن حجر فی موافقة الخبر الخبر ٤۱٥/۲ : صحيح۔ وقال الشوكانی : قبيصة بن ذؤيب ولد عام الفتح فيبعد شهوده القصة۔ آه وضعفه الالبانی فی جميع كتبه۔ وقال البغوی فی شرح السنة : ٤٦٤/٤، حسن، وقال الحافظ فی التلخيص : اسناده صحيح لثقة رجاله الا ان صورته مرسل فان قبيصة لا يصح له سماع من الصديق ولا يمكن شهوده القصة قاله ابن عبد البر بمعناه، وقد أَعَلَّهُ عبد الحق تبعًا لابن حزم بالانقطاع، **والراجح** انه حسن۔

## د پلار په موجودگئ کښې نيا ته د شپږمې برخې ورکولو مسئله

3062 (22) – وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ قَالَ فِي الْجَدَّةِ مَعَ ابْنِهَا : إِنَّهَا أَوَّلُ جَدَّةٍ أَطْعَمَهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ سُدُسًا مَعَ ابْنِهَا وَابْنُهَا حَيٌّ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ وَالتِّرْمِذِيُّ ضَعَّفَهُ .

**ترجمه** : او ابن مسعود ﷺ نه روايت دے چه هغهٔ په باره د هغه نيا کښې چه د خپل ځوی سره راشي فرمائيلي دي چه دا اوله نيا ده چه رسول الله ﷺ ورته د خپل ځوی سره شپږمه برخه ورکړے او ددے ځوی ژوندے وو۔ (ترمذیؒ، دارمیؒ) او ترمذیؒ ورته ضعيف وئيلے دے۔

**تشريح** : صورت د مسئلے دا دے چه يو شخص مړ شو او د هغهٔ نه نيا (د پلار مور) او پلار پاتے شو نو رسول الله ﷺ د هغهٔ د ترکے نه نيا ته شپږمه برخه ورکړه سره ددے نه چه د هغے ځوی يعني د مړی پلار هم موجود وو ۔ حال دا چه د علماؤ دا مسلك دے چه کله د مړی پلار موجود وی نو بيا نيا محرومېږی، او دلته نيا د خپل ځوی (يعنی د مړی د پلار) په موجودگئ کښې ميراث وړے۔ نو پدے وجه اهل علمو وئيلی دی چه دا حديث ضعيف دے، او ددے نه استدلال كول صحيح نهٔ دی، او د نورو صحيح حديثونو مخالف دے۔ او که بالفرض صحيح شي، نو بيا دا يوه خاص واقعه وه چه نبی ﷺ نيا ته

د هغې د خوی (يعنې د مړي پلار) په موجودګئ کښې تبرعًا (يعنې په طريقه د احسان) سره حصه ورکړې وه، نۀ په طريقه د ميراث سره۔

**درجة الحديث** :[ضعيف] الترمذی : ٢١٠٢، وقال غريب لا نعرفه الا من هذا الوجه۔ وقال البيهقی : (٣٩٦٦) وقد تفرد به محمد بن سالم وهو غير محتج به وقال البزار (١٩٤٦) هو لين الحديث، وقال فی التقريب : ضعيف.

## د ديت مال به د مقتول وارثانو ته ملاويږی

3063 (23) – وَعَنِ الضَّحَّاكِ بْنِ سُفْيَانَ ﷺ : أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ كَتَبَ إِلَيْهِ : " **أَنْ وَرِّثْ امْرَأَةَ أَشْيَمِ الضِّبَابِيِّ مِنْ دِيَةِ زَوْجِهَا** ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُد وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ : هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ.

**ترجمه** : او ضحاك بن سفيان ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ دۀ ته وليکل : چه تۀ د اشيم ضبابی بی بی ته د هغې د خاوند د ديت نه ميراث ورکړه۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ) او ترمذیؒ وئيلی دی چه دا حديث حسن صحيح دے۔

**تشريح** : اشيم ضبابی ﷺ د رسول الله ﷺ په زمانه کښې قتل کړے شوے وو ليکن دا قتل قصداً نۀ وو شوے بلکه قتل خطاء وو، نو چا چه دا په خطاء سره قتل کړے وو په هغه قاتل باندې ديت واجب شوے وو، او هرکله چه هغۀ ديت ادا کړو نو نبی ﷺ ضحاك ته وليکل چه د مقتول يعنې اشيم ضبابی ديت نه چه کوم مال حاصل شوے د هغې نه د هغۀ ښځې ته دې ميراث ورکړے شی۔

دا حديث ددے خبرے دليل دے چه ديت اول مقتول دپاره واجبيږی بيا په هغې ديت کښې چه کوم مال حاصل شوے وی هغه د مقتول د نورو املاکو په شان د هغۀ وارثانو ته منتقل کيږی لکه همدا د اکثرو علماؤ قول دے۔ (شرح السنه)

**درجة الحديث** :[فيه احتمال الانقطاع] ابو داود : ٢٩٢٧، ترمذی : ١٤١٥، ق : ٢٦٤٢، نسائی کبری : ٦٣٦٣، وقال الترمذی : حسن صحيح۔آه۔ اقول : رجاله ثقات لکن فی سماع سعيد بن المسيب من عمر خلاف۔ راجع الارواء : (٢٦٤٩)

## موالي خپل مينځ کښې د يو بل وارثان نهٔ کيږي

3064 (24) – وَعَنْ تَمِيمٍ الدَّارِيِّ ﷺ قَالَ : سَأَلْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ : مَا السُّنَّةُ فِي الرَّجُلِ مِنْ أَهْلِ الشِّرْكِ يُسْلِمُ عَلَى يَدَىْ رَجُلٍ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ؟ فَقَالَ :"**هُوَ أَوْلَى النَّاسِ بِمَحْيَاهُ وَمَمَاتِهِ**". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ.

**ترجمه** : او تميم داري ﷺ نه روايت دے فرمائي : ما د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وکړه چه د هغه مشرك سړي په باره کښې څه حکم دے چه د مشرکانو نه د يو مسلمان سړي په لاس بانـدے اسلام راوړي ؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل : دا مسلمان د خلکو نه ددهٔ په ژوند کښې او ددهٔ د مرګ نه پس (هم) زيات حقدار دے۔ (يعني دا مسلمان ددے نوي مسلمان مولیٰ دے)۔ (ترمذیؒ، ابن ماجهؒ، دارمیؒ)

**تشريح** : تميم الداري ﷺ يو جليل القدر او مشهور صحابي دے، دا اول کښې عيسائي وو، بيا الله تعالیٰ هغوی ته هدايت وکړو او په سنه (۹ هـ) کښې په اسلام مشرف شو، او ددهٔ يو تاريخي امتياز دا هم دے چه دا اولنے هغه شخص دے چه په مسجد کښې ئے د ټولو نه مخکښې چراغ (ډيوه) روښانه کړے وو او رسول الله ﷺ ته ئے منبر جوړ کړے وو (کما في ابي داود باب الجمعة رقم الحديث : ۱۰۸۳) ۔ رضي الله عنه۔

ددے د حديث نه معلوميږي چه کوم شخص د يو مسلمان په لاس باندے اسلام قبول کړي نو هغه مسلمان به ددے نوي مسلمان مولیٰ جوړيږي۔ لکه په ابتداء د اسلام کښې همدا حکم وو چه موالي به خپل مينځ کښې د يو بل وارثان جوړيدل، روستو دا حکم د ميراث په آيتونو سره منسوخ شو۔

بعض علماء دا وائي چه ددے حديث الفاظ (هغه د ټولو نه زيات حقدار دے) نه مراد دا دے چه مسلمانونکي باندے دا حق د ټولو نه زيات دے چه هغه د نوي مسلمان په ژوند کښې د هغهٔ اعانت او خير خواهي وکړي او د هغهٔ د مرګ نه روستو د هغهٔ جنازه وکړي۔

**اختلاف** : ددے حديث مطابق مذهب د عمر بن عبد العزيزؒ، سعيد بن المسيبؒ، او ليث بن سعدؒ دے چه مسلمانونکے شخص د نوي مسلمان وارث جوړيدے شي کله چه د هغهٔ خپلوان رشته دار نهٔ وي۔ او د مالكؒ، ابو حنيفهؒ، شافعيؒ او اوزاعيؒ رايه دا ده چه د مسلمانونکي د ميراث حق نشته بلکه د نوي مسلمان مړي ميراث به د ټولو

مسلمانانو ترمينځ شريك وى يعنى بيت المل ته به ځى، او همدا مذهب حق دے.
ليكن چه مال بيت المال ته ځى نو دا سړے ئے ډير حقدار دے ځكه چه دهٔ ورسره په اسلام كښے تعاون او مدد كړيدے.

**درجة الحديث** : [صحيح او حسن] ابوداود : ٢٩١٨، الترمذى : ٢١١٢، ق : ٢٧٥٢، نسائى كبرى : ٦٤١١ـ وقال الترمذى : لا نعرفه الا من حديث عبد الله بن موهب عن تميم الدارى وهو عندى ليس بمتصل آه ـ لكنه متصل كما فى سلسلة الاحاديث الصحيحة : (٢٣١٦) وصحيح ابى داود : ٢٥٩١]

## آزاد شده غلام د خپل آزادونكى وارث كيږى او كه نه؟

3065 (25) – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ : أَنَّ رَجُلًا مَاتَ وَلَمْ يَدَعْ وَارِثًا إِلَّا غُلَامًا كَانَ أَعْتَقَهُ فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ :" **هَلْ لَهُ أَحَدٌ ؟** " قَالُوْا : لَا إِلَّا غُلَامٌ لَهُ كَانَ أَعْتَقَهُ فَجَعَلَ النَّبِيُّ ﷺ مِيْرَاثَهُ لَهُ. رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه.

**ترجمه** : او ابن عباس ﷺ نه روايت دے چه يو سړے مړ شو او هيڅ وارث ئے پرينخودو سوئ د يو غلام نه چه دهٔ آزاد كړے وو، نو نبى كريم ﷺ وفرمايل : آيا ددهٔ څوك شته؟ خلكو وويل : نشته، سوئ ددهٔ د يو غلام نه چه دهٔ آزاد كړے وو، نو نبى كريم ﷺ ددهٔ ميراث هغهٔ دپاره مقرر كړو. (ابوداودؒ، ترمذىؒ، ابن ماجهؒ)

**تشريح** : قانون دا دے چه آزاد شوے غلام د خپل آزادونكى آقا وارث نهٔ جوړيږى پدے وجه د حديث مطلب دا بيان شوے چه نبى ﷺ دے آزاد شوى غلام ته د آزادونكى ميراث د تبرع او احسان په توګه وركړے وو. لكه مخكښے څوارلسم (١٤) حديث د عائشه رضى الله عنها كښے تير شو چه نبى ﷺ د يو لا وارث مړى ميراث په باره كښے وفرمايل چه ددهٔ ميراث د كلى يو مشر شخص ته وركړئ نو دلته هم دغه شان كار شويدے. دلته رسول الله ﷺ مناسب وګنړله چه هسے هم بل وارث نشته او دلته دا غلام محتاج دے، ددهٔ هم په بيت المال كښے حق شته نو د بيت المال دا مال ئے دهٔ ته وركړو او نبى ﷺ د بيت المال واكدار وو، هغهٔ به اهل خلكو ته د هغے نه مال وركولو. البته شريحؒ او طاووسؒ ددے حديث ظاهرى مفهوم مطابق وئيلى دى چه لكه څنګه چه آزادونكے د خپل آزاد كړده غلام وارث كيږى نو دغه شان آزاد شده غلام هم د خپل

آزادونکی وارث کیدے شی۔ او همدا ظاهر د حدیث دے۔

**درجة الحديث** :[حسن] ابوداود : ۲۹۰۵، ترمذی : ۲۱۰٦، ق : ۲۷٤۱، نسائی کبری : ٦٤۰۵ وقال الترمذی : حسن۔ وقال البخاری : لم یصح حدیثه وعوسجة مولی ابن عباس مجهول۔ وقال احمد لا اعرف عوسجة۔ وقال فی التقریب : عوسجة لیس بمشهور (وقد وُثِّقَ)۔ (ارواء : ۱٦٦۹) وقال ابوحاتم والنسائی : لیس بمشهور۔ وقال الذهبی : وثق، وقال ابوزرعة : ثقة، وذکره ابن حبان فی الثقات، (تهذیب الکمال : ۲۲/٤۳۵).

## د ولاء د وراثت مسئله

3066 (26) - وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ : " **يَرِثُ الْوَلَاءَ مَنْ يَرِثُ الْمَالَ** ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ : هٰذَا حَدِيْثٌ إِسْنَادُهُ لَيْسَ بِالْقَوِيِّ

**ترجمه** : او عمرو بن شعیبؒ د خپل پلار هغه د خپل نیکه نه روایت کوی چه نبی کریم ﷺ وفرمایل : د ولاء هغه څوك وارث کیږی څوك چه د مال وارث کیږی۔ (ترمذیؒ) او ترمذیؒ ویلی چه ددے حدیث اسناد قوی نهٔ دے۔

**تشریح** : د آزاد شوی غلام مال ته "ولاء" وائی۔ یعنی حق د آزادئ۔ لهذا د حدیث مطلب دا دے چه یو شخص مثلاً د زید پلار مړ شو بیا د هغهٔ نه روستو د هغهٔ د پلار آزاد کړے غلام یا د هغه د پلار د آزاد کړی غلام غلام مړ شو نو اُوس به دا شخص یعنی زید د هغهٔ د مال وارث کیږی ځکه چه لکه څنګه چه دے د خپل پلار د مال او سامانونو وارث شویدے دغه شان د خپل پلار د ولاء هم وارث دے۔ لیکن دا حکم صرف د عصبهٔ پورے خاص دے، یعنی کوم عصبه وارث (مثلاً څوی) چه د عصبه بنفسهٖ کیدو په حیثیت سره د مړی د مال وارث کیږی هم دغه عصبه د ولاء وارث کیږی، لهذا د آزادونکی سړی لور د خپل پلار د ولاء وارث نهٔ جوړیږی ځکه اګرکه هغه د خپل پلار د مال وارث کیږی لیکن عصبه نهٔ جوړیږی بلکه عصبه بنفسهٖ خو صرف سړے جوړیدے شی، ښځے عصبه بنفسهٖ نهٔ شی کیدے، البته زنانه د هغه آزاد شوی غلام د مال وارث کیږی چه هغے خپله آزاد کړے وی یا د هغے آزاد کړی غلام آزاد کړے وی۔

**درجة الحديث** : [ضعیف] الترمذی : ۲۱۱٤، وقال : لیس اسناده بالقوی۔ وفیه ابن لهیعة وهو ضعیف من قبل حفظه (البانی) ضعیف الجامع (٦٤۲٦)۔

د اسلام راوړو نه مخکښې چه کوم میراث تقسیم شویدے د اسلام راوړو نه روستو به په هغې کښې هیڅ ترمیم نهٔ کیږی

## الفصل الثالث

3067 (27) – عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ ﷺ : أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ : " مَا كَانَ مِنْ مِيْرَاثٍ قُسِمَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَهُوَ عَلٰى قِسْمَةِ الْجَاهِلِيَّةِ وَمَا كَانَ مِنْ مِيْرَاثٍ أَدْرَكَهُ الْإِسْلَامُ فَهُوَ عَلٰى قِسْمَةِ الْإِسْلَامِ ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَةَ

**ترجمه** : عبد الله بن عمر ﷺ نه روایت دے چه بیشکه رسول الله ﷺ وفرمایل : کوم میراث چه په جاهلیت زمانه کښې تقسیم شوے وی، نو هغه به د جاهلیت په تقسیم (پاتے) وی، او کوم میراث چه اسلام ئے رالاندے کړی (یعنی د اسلام زمانه ئے وموندی) نو هغه به د اسلام په تقسیم سره وی. (یعنی د اسلامی طریقے مطابق به تقسیمولے شی) (ابن ماجهٓ)

**تشریح** : حدیث مطلب دا دے چه کوم میراث په جاهلیت زمانه کښې تقسیم شویدے، په هغې کښې به اُوس هیڅ ترمیم نهٔ کیږی چاته چه هر څومره ملاؤ شویدے هم د هغې به مالك وی، که په هغه زمانه کښې چاته زیات تلے وی نو اُوس به د هغې واپسی ضروری نهٔ وی، او که چاته کمه برخه ملاؤ شوی وی نو هغه دپاره به د باقی حصے مطالبے حق نهٔ وی، البته د اسلام راوړو نه روستو چه کوم میراث تقسیمیږی هغه به د اسلامی احکامو او قواعدو مطابق تقسیمیږی.

**درجة الحديث** :[صحيح] ابوداود : ٢٩١٤، ابن ماجه : ٢٧٤٩، (١٤٨٥) والبيهقى (١٢٢/٩) والضياء المقدسى فى المختارة (١٨٩/١) عن ابن عباس به ورواه ابو يعلى الموصلى واسناده جيد. (تنقيح ابن عبد الهادى : ٢٥٤/٢) وفيه محمد بن مسلم الطائفى صدوق يخطئ لكن يشهد له طريق اخرى. انظر الارواء : (١٧١٧) صحيح الجامع الصغير (٥٦٥٧) واما رواية الباب عن ابن عمر ففيها عبد الله بن لهيعة وهو ضعيف .

## د ترور (پلار خور) ميراث نۀ ورو په باره کښې د عمر فاروق ﷺ تعجب

3068 (28) – وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي بَكْرِ بْنِ حَزْمٍ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَاهُ كَثِيرًا يَقُولُ: كَانَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ ﷺ يَقُولُ: **عَجَبًا لِلْعَمَّةِ تُورَثُ وَلَا تَرِثُ**. رَوَاهُ مَالِكٌ

**ترجمه** : او محمد بن ابی بکر بن حزمؒ نه روايت دے چه هغۀ د خپل پلار نه زيات آوريدلی چه فرمايل به ئے: عمر بن خطاب ﷺ به فرمايل: عمه (ترور/ د پلار خور) له تعجب دے چه ددے نه ميراث ورے شي. (يعني ددے ورارۀ ددے نه ميراث وړی) ليکن دا خپله (د خپل ورارۀ نه) ميراث نۀ وړی. (مالك)

**تشريح** : مطلب دا دے چه که د يو تن ترور (د پلار خور) مړه شي نو هغه د خپلے ترور وارث کيدے شي، ليکن ددے برعکس که هغه مړ شي او د هغۀ ترور پاتے شي نو هغه وارثه نشي کيدے. او د عمر فاروق ﷺ دا تعجب او د حديث ظاهری مفهوم د هغه علماؤ د مسلك مطابق دے چه د هغوی په نيز باندے ذوی الارحام وارث نۀ جوړيږی، حال دا چه ترور د ذوی الارحامو نه ده، او د هغه علماؤ په نيز باندے د خپل ورارۀ وارث کيدے شی کوم ذوی الارحام چه په علم فرائض کښے تفصيلاً ذکر شوی.

د عمر ﷺ دا تعجب خالص د عقل او قياس په بنياد دے ورنه که د عمل په طريقه وکتلے شی، نو دا بعينه د الله تعالیٰ د حکمت او مصلحت مطابق دے، نو بيا د تعجب هيڅ خبره نشته. او مطلب دا دے چه پدے کښے به خامخا د الله تعالیٰ حکمت وی چه هغۀ ترور ته داسے حالت ورکړے.

او د حديث مطلب دا هم کيدے شي چه ترورد اصحاب السهام (ذوی الفروضو) سره ميراث نۀ وړی ځکه چه دا د ذوی الفروضو نه نۀ ده، لکه څنګه چه د عصباتو سره برخه وړی، او ددے نه دا نۀ لازميږی چه دا د عصباتو د نشتوالی په وخت کښے ميراث نۀ وړی. ځکه چه د عمر فاروق ﷺ نه خپله ثابت دی چه هغۀ ذوی الارحامو ته د ميراث ورکولو قائل دے. [المهيأ في كشف اسرار الموطأ]

**درجة الحديث** :[سنده صحيح لولا ان ابابكر بن حزم لم يسمع من عمر] رواه مالك : [٩/٥١٧/٢

## د فرائضو علم زده كولو حكم

3069 (29) - وَعَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : تَعَلَّمُوا الْفَرَائِضَ وَزَادَ ابْنُ مَسْعُوْدٍ : وَالطَّلَاقَ وَالْحَجَّ قَالَا: فَإِنَّهُ مِنْ دِيْنِكُمْ . رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ

**ترجمه** : او عمر ﷺ فرمائی : تاسو د فرائضو احكام او مسائل زده كړئ، او ابن مسعود ﷺ دا الفاظ زيات كړيدی : او طلاق او حج احكام او مسائل (هم زدهٔ كړئ)، دواړو وئيلی چه (ددې زده كړه ځكه ضروری ده) چه دا ستاسو د دين نه دی۔ (دارمیؒ)

**تشريح** : د فرائض نه مراد ميراث دې، ځكه چه پدې كښې مقررې حصې دی۔ او فريضه معنىٰ ده مقرره حصه۔ يعنىٰ علم ميراث زده كول د دين يوه اهمه برخه ده۔ يا د فرائض نه مراد هغه احكام دی چه الله تعالىٰ په خپلو بندګانو فرض كړی۔ او د ابو هريره ﷺ په يو بل روايت كښې ورته نصف العلم وئيلې شوې۔

**درجة الحديث** :[حسن] الدارمی: ۲۸۵٦، وزاد ابن مسعود : وَالطَّلَاقَ وَالْحَجَّ، قَالَا : فَإِنَّهُ مِنْ دِيْنِكُمْ.



## ۱- باب الوصايا د وصيتونو بيان

وَصَايَا: جمع د وَصِيَّةٌ ده، لکه هَدَايَا او هَدِيَّةٌ، وصيت د وَصیٰ يَصِیُ وَصْيًا نه دے په لغت کښے اتصال او يوځائے کيدو ته وائی، لکه عرب وائی: وَصِىَ النَّبَاتُ إِذَا اتَّصَلَ، وَأَرْضٌ وَاصِيَةٌ مُتَّصِلُ النَّبَاتِ. وصيت ته وصيت ځکه وائی چه په دے کښے هم مړے د خپل ژوند حالت د وفات کيدو نه پس حالت سره يوځائے کوی. وَصَّی او أَوْصٰی، وَصِيَّةً او وَصَاةً يوه معنیٰ لری. يعنی دا په معنیٰ د ايصاء (وصيت کولو) سره دے. [الکاشف عن حقائق السنن ۷/۲۲۵۰) البحر المحيط الثجاج فی شرح صحيح مسلم بن الحجاج۲۸/۳۴۰ محمد بن يحيی بن آدم الاثيوبی حفظه الله وشفاه الله (هو مريض علی السرير).

وصيت په اصطلاح کښے : [اَلْأَمْرُ بِالتَّصَرُّفِ بَعْدَ الْمَوْتِ، أَوِ التَّبَرُّعُ بِالْمَالِ بَعْدَهُ أَوِ الصَّدَقَةُ الْمُضَافَةُ إِلَى مَا بَعْدَ الْمَوْتِ] (مرګ نه پس په تصرف کولو باندے امر کول، يا مرګ نه پس مال خيرات کول، يا هغه صدقه کول چه د مرګ نه روستو دهٔ ته د هغے اجر راواپس کيږی) نو په دے کښے دوه جزء شو، د اول **مثال** لکه يو تن دا وصيت وکړی چه په ما دے فلانے تن جنازه کوی، يا زما لور دِے په نکاح ورکړے شی، او يا ددے پشان په بل داسے کار حکم وکړی چه په هغے کښے مال نهٔ وی. او د دويم **مثال** : لکه دا وصيت کول چه زما د مرګ نه پس دے فلانی له دومره مال ورکړے شی. دلته همدا دويمه معنیٰ مراد ده. د وصيت په شريعت کښے يوه بله معنیٰ هم ده : هغه څيزونه چه په هغے سره د منهياتو نه منع او په ماموراتو باندے تيزی راځی. (فتح الباری : ۶۶۲/۶)

د وصيت مشروعيت په کتاب، سنت او اجماع اُمت سره ثابت دے. الله تعالیٰ فرمائی : ﴿مِنۢ بَعۡدِ وَصِيَّةٍ يُوصِى بِهَآ أَوۡ دَيۡنٍ﴾ [النساء : ۱۱] (دا ميراث به د وصيت نه پس تقسيمولے شی چه په هغے باندے وصيت کړے وی او د قرض نه پس) او د وصيت په جواز د اهلِ علمو اجماع ده. [المغنی: ۳۹/۸]

**د وصيت حکمت** : په وصيت کولو کښے د دنيا او آخرت دواړو مصالح او ښيګړے

دي۔ د دنيا ښېګړه په کښې داده چه په دې سره وصيت کونکې د خپلو هغه رشته دارو سره ښېګړه کوي چه هغوئ وارثان نۀ وي، د مال د يوې برخې ورکولو په ذريعه د هغوئ حاجت پوره کوي او په هغوئ فراخي راولي۔ دارنګه کونډو رنډو، يتيمانو او مسکينانو سره مالي تعاون کوي، هر کله چه په خپل وصيت کښې د عدل او انصاف نه کار واخلي او وارثانو ته د ضرر ورکولو نه ځان وساتي۔ او د آخرت ښېګړه په کښې دا ده: چه ددې په وجه انسان ته د هغۀ د مرګ نه پس هم د خپل مال د يوې برخې اجر او ثواب رسي، چه په دې سره دې په خپلو نيکو اعمالو او ښېګړو کښې اضافه کولې شي۔

**شاه ولي الله الدهلويؒ** د وصيت د حکمت بيانولو خلاصه دا ده چه د مړي مال د هغۀ نه روستو نزدې خپلوانو ته ورکول پکار دي ليکن ډير کرته داسې خبرې او حالات موجود وي چه په هغې کښې د نزدې رشته دارو نه علاوه لرې خلکو سره همدردي او تعاون ضروري ګرځوي، او داسې خصوصي حالات راپيښيږي چه په هغې کښې بل څوک غوره کولې شي نو د هغې دپاره يو داسې حد مقررول پکار دي چه خلک د هغې نه تجاوز ونکړي پدې وجه شريعت وصيت دپاره ثلث (دريمه برخه) مال منتخب کړو چه دې نه به زيادت نۀ کوي ځکه چه وارثانو ته په بل چا باندې ترجيح ورکول ضروري دي۔

دارنګه فرمائي: چه عربو به د وصيت په باره کښې ډير ظلم کولو، وارثانو ته به ئې ضرر ورکولو، د خپل ټول مال وصيت به ئې بل چا دپاره وکړو نو ددې سره به د خپلوانو کينې او دشمنيانې او جګړې پيدا کيدلې نو شريعت د ټول مال د وصيت کولو نه منع وفرمايله، ليکن کله د څه خصوصياتو د وجه نه د نورو سره همدردي کول مناسب وي نو شريعت د وصيت حکم جاري هم وساتلو۔ (حجة الله البالغة ۱۱۶/۲)

**نکته:** انسان په ژوند کښې ټول مال خرچ کولې شي، که ميراث خورو ته هيڅ نۀ پريدي نو هيڅ ګناه پرې نشته البته بهتره نۀ ده۔ ليکن د مرګ په وخت کښې د دريمې حصې نه زيات وصيت کول ټيک نۀ دي، حرام دي او رد کولې به شي۔

## وصیت نامه لیکلو باندے جلتی کول

### الفصل الأول

3070( 1 ) عَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ، قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ قَالَ : (مَا حَقُّ امْرِئٍ مُسْلِمٍ، لَهُ شَيْءٌ يُوْصِيْ فِيْهِ، يَبِيْتُ لَيْلَتَيْنِ، إِلَّا وَوَصِيَّتُهُ مَكْتُوْبَةٌ عِنْدَهُ). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

**ترجمه** : ابن عمر ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمايل : هيڅ يو مسلمان دپاره دا مناسب نۀ دی چه هغۀ دپاره يو شے وی او وصيت کول پکښے غواړی او بيا هم دوه شپے په داسے حال کښے تيروی چه هغۀ سره د هغۀ وصيت ليکلے پروت نۀ وی- (بخاریؒ، مسلمؒ)-

**تشریح** : [مَا حَقُّ امْرِئٍ مُسْلِمٍ] يعنی مسلمان دپاره دا د پخته کارئ او احتياط تقاضا نۀ ده، هغۀ سره دا لائق او مناسب نۀ دی- او د هغۀ حق نۀ جوړيږی، او د [امْرِئٍ] په حکم کښے ښځه هم داخله ده، ځکه دا قاعده ده چه : ((کوم شے چه د نارينه په حق کښے ثابت وی، هغه به د زنانه په حق کښے هم ثابت وی، مګر که دليل د تخصيص راشی))-

[لَهُ شَيْءٌ] چه هغۀ دپاره څۀ مال وغيره وی- شئ عام دے مال، تصرف او منافعو هر څۀ ته شامل دے- او مطلب دا چه د هغۀ دپاره څۀ مال يا قرض يا امانت، يا زکاتونه، يا ديتونه، يا کفارات وی او يائے د چا په حق کښے کوتاهی کړے وی او د هغۀ حق ئے وهلے وی- يائے واړه بچی وی، [لَيْلَتَيْنِ] دا د تحديد دپاره نۀ دی بلکه د تقريب دپاره دی، دا وجه ده، بل روايت کښے [ثَلَاثَ لَيَالٍ] راغلے، يعنی په دۀ لږه زمانه تيره شی- ګويا دا درے ورځے ورکول د تاخير کولو انتهاء ده چه دا انسان له ددے دپاره ورکړے شوی چه په دے کښے په خپله معامله کښے سوچ او فکر وکړی- [مَكْتُوْبَةٌ عِنْدَهُ] ددۀ سره ليکلے پروت وی، که دۀ خپله ليکلے وی اوکه په بل چائے ليکلے وی- او د حديث معنیٰ دا شوه چه : مسلمان شخص دپاره مناسب نۀ دی چه هغۀ سره د وصيت کولو دپاره يو شے وی، او بيا هم په هغۀ باندے دوه درے ورځے په داسے حالت کښے تيريږی چه هغۀ خپل وصيت ليکلے او ځان سره ساتلے نۀ وی، ځکه دۀ ته معلومه نۀ ده چه مرګ کله راځی-

د مسلم په روايت کښے ددے حديث په آخر کښے ددے حديث د راوی عبد الله بن عمر ﷺ دا جمله هم شته : [مَا مَرَّتْ عَلَيَّ لَيْلَةٌ مُنْذُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ ذٰلِكَ إِلَّا وَعِنْدِيْ

وَصِيَّتِيْ] (د څۀ وخت راسے چه ما دا خبره د رسول الله ﷺ نه واوریده نو په ما باندے هیڅ یو شپه داسے نۀ ده تیره شوے چه ما سره خپل وصیت لیکلے نۀ وی پروت)۔

**ترکیب** : ما حق : که ما (نافیه) حجازیه شی نو حق به اسم د ما وی او (لَهُ شَيْءٌ) یو صفت د (امرئ) او (يَبِيتُ لَيْلَتَيْنِ) دویم صفت او (إِلَّا وَوَصِيَّتُهُ) دا مستثنیٰ خبر د (ما) شو۔ او که ما تمیمیه شی چه هغوی ما ته عمل نۀ ورکوی نو بیا به حَقُّ امْرِئٍ مبتدا وی او (إِلَّا وَوَصِيَّتُهُ) به خبر وی۔

**فوائد او مسائل** : (۱) حدیث نه د وصیت کولو تاکید او ترغیب معلوم شو۔ او په دے باندے د مسلمانانو اجماع ده۔ البته اختلاف په دے کښے دے چه وصیت واجب دے اوکه نه؟ لکه ددے تحقیق روستو راځی۔ او د حدیث د ظاهر نه دا معلومیږی چه دا حکم د هغه چا دپاره دے چه هغۀ سره د وصیت کولو قابل څۀ شے وی نو هله هغۀ دپاره وصیت کول مشروع دی، او که داسے شے نۀ وی نو بیا مشروع نۀ دے۔ دارنګه معمولی څیزونو کښے هم ضروری نۀ دے، یا هغه څیزونه چه نزدے وخت کښے هغه ادا کوی۔ (فتح الباری)

(۲) او د حدیث د ظاهر نه معلومه شوه چه وصیت کولو دپاره بیماری شرط نۀ ده چه ګنے وصیت به صرف مریض سړے کوی، بلکه دا حکم د روغ او ناجوړه دواړو دپاره دے، ځکه د دواړو په حق کښے د مرګ څۀ پته نۀ لګی۔ (۳) په وصیت کښے د نارینه او زنانه ترمینځه فرق نشته، د دواړو دپاره وصیت کول صحیح دی۔ برابره خبره ده که ښځه وادۀ شوے وی اوکه پیغله، که خاوند ورته اجازه کړے وی اوکه نه۔ دارنګه که پیغله وی نو که پلار ورته اجازت کړے وی اوکه نه، ځکه وصیت کښے غرض د خپل عمر په آخر کښے اُخروی ثواب حاصلول دی، او دیته دا ټول محتاج دی۔ (البحر المحیط الثجاج)

(٤) او حدیث دلیل دے چه په وصیت کښے کتابت او لیکل کافی دی، ګواه جوړولو ته حاجت نشته، ځکه حدیث کښے دا نۀ دی ذکر۔ ځکه هر کله چه خط وپیژندل شی نو دا قوی ثبوت دے۔ او په دے باندے قدیمًا او حدیثًا د مسلمانانو عمل را روان دے۔ ځکه که یواځے په کتابت اعتماد ونۀ کړے شی نو بیا د وصیت لیکلو هیڅ فائده نۀ پاتے کیږی۔ صرف دومره ده که خط باندے ګواهان جوړ کړی نو دا ښه خبره ده او په دے سره د وصیت زیات حفاظت راځی۔

(٥) وصيت دوه قِسمه دے : (أ) واجب۔ (ب) مستحب۔ وصيت په هغه وخت کښے واجب دے چه کله په انسان باندے د بل چا حق مثلًا: قرض، امانت وغيره وى او په دے باندے ګواهان يا ثبوت نۀ وى۔ يا پرے د الله تعالىٰ واجب حقونه وى لکه زکاة، حج، کفاره، لقطه او داسے نور۔ او که دا حقونه په انسان نۀ وى نو بيا مستحب دے۔ بعضِ علماؤ د وجوب دپاره درے شرطه ويلى۔ (اول) چه پردے حق ورباندے وى۔ (دويم) چه مال ورسره وى۔ (دريم) چه د وصيت نه بغير ددے د ادا کولو څۀ لاره نۀ وى۔ بعضِ اهل علمو وصيت پنځه قِسمه جوړ کړے : (أ) **واجب** : چه په چا پردے حق وى او په هغے ثبوت نۀ وى۔ (ب) **حرام** : چه خپل وارثانو ته ضرر ورکول ئے مقصد وى، لکه د چا وارث وى او هغه د دريمے برخے مال نه زيات وصيت کوى او يا د وارث دپاره وصيت کوى۔ (ج) **مستحب** : د دريمے برخے يا ددے نه د کم مال وصيت کول د هغه چا دپاره چه ډير مال ئے پريښے وى۔ (د) **مکروه** : د هغه چا دپاره چه مال ئے کم وى او وارثان ئے محتاج وى۔ (هـ) **مباح** : د هغه فقير دپاره چه وارثان ئے غنيان وى۔ يا خپله مالدار وى او وارثان ئے محتاج وى۔

(٦) د چا په ذمه چه نۀ حق الله وى او نۀ حق العباد، نو آيا په دے صورت کښے ددۀ دپاره غير وارث رشته دارو دپاره د مال په څۀ برخے سره وصيت کول واجب دى او که نه؟ نو د جمهورو اهلِ علمو په نيز مستحب دى، واجب نۀ دى۔ او د داودؒ ابن حزم ظاهرىؒ، ابو مجلزؒ، زهرىؒ، عطاءؒ، طلحه بن مصرفؒ، اسحاقؒ او بعضِ نورو علماؤ په نيز واجب دے۔ دوئ په خپل موقف دوه دليله پيش کوى : (أ) الله تعالىٰ فرمائى : ﴿كُتِبَ عَلَيْكُمْ اِذَا حَضَرَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ اِنْ تَرَكَ خَيْرًا الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ وَالْاَقْرَبِيْنَ﴾ [البقرة : ١٨٠] (کله چه په تاسو کښے چاته مرګ رانزدے شى نو په هغۀ باندے د والدينو او رشته دارو دپاره وصيت کول فرض شوى دى، که چرے هغۀ مال پريښے وى)۔ (ب) دويم دليل : حديث الباب دے۔

جمهور اهلِ علم وائى : دغه آيتِ کريمه د ميراث په آيتونو سره منسوخ دے۔ مخکښے د والدينو او رشته دارو دپاره وصيت کول واجب وو، خو بيا چه کله د ميراث آيتونه نازل شول او د هر يو تن په ميراث کښے خپله خپله برخه مقرر شوه، نو بيا د وارثانو دپاره وصيت کول منسوخ شول۔ او د نورو هغه خپلوانو دپاره وصيت کول جائز پاتے شو چه هغوئ وارثان نۀ وى۔ او يا په آيت کريمه کښے د وصيت نه مراد دينى

وصيت كول دى نو بيا دا آيت منسوخ هم نشو۔ او د حديث الباب نه هم وجوب نۀ معلوميږى بلكه دا په تاكيدى استحباب دلالت كوى۔ **ليكن صحيح** دا ده چه وصيت خپلو اقرباؤ غير وارثانو ته واجب دے په شرط د ډير مال پريخودو چه د سلفو نه د هغے اندازه درے زره درهم كم او زيات نقل دى، (اګر كه تعيين پكښے نشته كه د چا اهل وعيال زيات وى نو بيا دا هم كم مال دے وصيت پرے نشته) ځكه آيت د وارث په حقله خو منسوخ دے او د غير وارث دپاره اُوس هم باقى پاتے دے، او بل د بخارى حديث دے: طلحه بن مصرف وائى: ما د عبد الله بن ابى اوفى ﷺ نه پوښتنه وكړه: آيا نبى كريم ﷺ وصيت كړے وو؟ وے فرمايل: نه، ما عرض وكړو: [كَيْفَ كُتِبَ عَلَى النَّاسِ الْوَصِيَّةُ أَوْ أُمِرُوْا بِالْوَصِيَّةِ] بيا په خلكو باندے وصيت څنګه فرض شو، يا څنګه هغوى ته د وصيت كولو حكم شويدے؟ هغۀ وفرمايل: [أَوْصٰى بِكِتَابِ اللّٰهِ] ـ يعنى نبى ﷺ د الله تعالىٰ په كتاب باندے وصيت كړے۔ [بخارى: ٢٧٤٠]۔

دا دليل دے چه د الله تعالىٰ په كتاب كښے وصيت حكم باقى دے د غير وارثانو دپاره، لكه د امر لفظ نه معلوميږى۔

(٧) فضيلت د ابن عمر ﷺ ثابت شو چه د رسول الله ﷺ ارشاد ته ئے جلتى وكړه او سمدست ئے پرے عمل وكړو۔

(٨) مرګ دپاره د مخكښے نه تيار وسيدو ته ترغيب شو۔ ځكه چه د مرګ پته نۀ لګى، هسے نۀ چه انسان ځان سره آخرت ته پردى حقوق ويسى۔

د خپلے ترکے په دريمه برخه كښے وصيت كيدلے شى

3071 (2) – وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِى وَقَّاصٍ ﷺ قَالَ: مَرِضْتُ عَامَ الْفَتْحِ مَرَضًا أَشْفَيْتُ عَلَى الْمَوْتِ فَأَتَانِى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَعُوْدُنِى فَقُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ: إِنَّ لِى مَالًا كَثِيْرًا وَلَيْسَ يَرِثُنِى إِلَّا ابْنَتِى أَفَأُوْصِى بِمَالِى كُلِّهِ؟ قَالَ: "لَا" قُلْتُ: فَثُلُثَى مَالِى؟ قَالَ: "لَا" قُلْتُ: فَالشَّطْرُ؟ قَالَ: "لَا" قُلْتُ: فَالثُّلُثُ؟ قَالَ: "اَلثُّلُثُ، وَالثُّلُثُ كَثِيْرٌ، إِنَّكَ أَنْ تَذَرَ وَرَثَتَكَ أَغْنِيَاءَ خَيْرٌ مِنْ أَنْ تَذَرَهُمْ عَالَةً يَتَكَفَّفُوْنَ النَّاسَ وَإِنَّكَ لَنْ تُنْفِقَ نَفَقَةً تَبْتَغِى بِهَا وَجْهَ اللّٰهِ إِلَّا أُجِرْتَ بِهَا حَتَّى اللُّقْمَةَ تَرْفَعُهَا إِلٰى فِى امْرَأَتِكَ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

**ترجمه** : سعد بن ابی وقاص ﷛ نه روايت دے، چه زۀ د مکے د فتح په کال بيمار شوم او مرگ ته نزدے شوم، رسول الله ﷺ ما ته راغے چه زما پوښتنه ئے کوله نو ما عرض وکړو اے د الله رسوله ! يقيناً ما دپاره ډير مال دے او ما نه صرف زما يوه لور ميراث وړی نو آيا زۀ په خپل ټول مال باندے (چا دپاره) وصيت وکړم؟ وے فرمايل : نه، ما ووئيل : په دوه برخے مال ؟ وے فرمايل :نه، ما ووئيل : په نيمائی ؟ وے فرمايل : نه، عرض ئے وکړو : په دريمه برخه ؟ وے فرمايل : په دريمه برخه (ئے وکړه ليکن) دريمه برخه (هم) زياته ده، ځکه که تۀ خپل وارثان مالداره پريدے نو دا ددے نه ډيره بهتره ده چه تۀ هغوی فقيران او محتاجان پريدے چه خلکو ته ئے لاسونه اُوږدۀ کړی وی، او يقيناً تۀ هيڅ مال نۀ خرچ کوے چه په هغے سره د الله تعالیٰ د مخ اراده لرے مگر تا ته به د هغے اجر درکولے شی تردے چه يوه نوړئ چه تۀ ئے د خپلے بی بی خولے ته پورته کوے۔ (په هغے کښے به هم تا ته اجر درکولے شی)۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

**تشريح** : [قُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ] دا خبرے په مکه کښے د حجة الوداع په کال شوے وے۔ او د ابن عيينةؒ په روايت کښے راغلی چه دا د مکے د فتح په کال وے۔ حافظ ابن حجرؒ فرمائی : دا خو يا وَهُم دے، او يا ممکنه ده چه دا واقعه دوه ځله شوے وی۔ يو ځل د مکے د فتح په کال او بل ځل د حجة الوداع په کال۔ په اول ځل ددۀ په اولاد کښے يو وارث هم نۀ وو، او په دويم ځل ئے صرف يوه لور وه۔

[وَلَا يَرِثُنِیُ إِلَّا ابْنَتِیُ] يعنی په اولاد کښے زما صرف يوه لور ده، که نۀ وی نو ددۀ نور نزدے خپلوان هم وو۔ او دا د هغه وخت خبره وه چه کله ددۀ نور بچی نۀ وو شوی۔ روستو ورله الله تعالیٰ ځلور ځامن ورکړل۔ او يو قول دادے چه لس يا زيات ځامن او دولس لونړه ورله الله تعالیٰ ورکړے وے۔ د بعضِ ځامنو نومونه ئے دادی : مصعبؒ، عامرؒ، محمد، ابراهيم۔ [اَفَاُوْصِیْ بِمَالِیْ كُلِّهٖ؟ ] (آيا زۀ په ټول مال سره د چا دپاره وصيت وکړم؟)

په بل روايت کښے [أَفَأَتَصَدَّقُ] لفظ دے، ددے صدقے نه نقده صدقه کول نۀ دی مراد، بلکه صدقے نه مراد وصيت کول دی، نو د صدقے او د وصيت ترمينځه فرق دا شو چه صدقه نقده وی، او په وصيت باندے د مرگ نه پس عمل کيږی۔

[فَالشَّطْرُ] شطر نصف ته وائی۔ [اَلثُّلُثُ، وَالثُّلُثُ كَثِيْرٌ] اولنے ثلث لفظ مرفوع دے، او دا د [يَكْفِيْكَ] فعل دپاره فاعل دے۔(يعنی ثلث باندے وصيت کول تا له کافی دی) او يا په

فعل مقدر [أَعْطِ] سره منصوب دے۔ (یعنی ورکړه ثلث مال) او دویم ثلث مرفوع دے۔ مبتداء ده۔ او د [كَثِيرٌ] دوه معنے دی۔ یو دا چه دا دریمه حصه مال ډیر شے دے په دے اکتفاء کول پکار دی۔ لکه ابن عباس ﷺ فرمائی: ((که چرے خلك ځلورمے برخے ته راکوز شی نو دا به ښه وی، ځکه رسول الله ﷺ فرمائی: دریمه برخه ډیر شے دے)) [بخاری: ۱۷۴۳، مسلم: ۱۱۲۹] **دویم دا چه**: دریمه برخه مال صدقه کول زیات ثواب لری۔ خو اوله معنیٰ ذهن ته زر راځی۔ [إِنَّكَ أَنْ تَذَرَ] دا خو یا (أَن) مصدریه دے مضارع په تاویل د مصدر سره کرځوی۔ أَيْ: أَنَّ تَرْكَكَ وَرَثَتَكَ أَغْنِيَاءَ خَيْرٌ مِنْ تَرْكِهِمْ فُقَرَاءَ۔ او یا (إِنْ) شرطیه دے، او (خَيْرٌ) ئے جزاء ده۔ او د وارثانو د مالداره پرېښودو مقصد دادے چه دوئ ښتا مال حاصل کړی او په هغے سره د سوال نه بچ شی۔ [وَرَثَتَكَ] ورثه جمع د وارث ده، هغه څوك چه د مړی مال هغهٔ ته د الله تعالیٰ په تملیك سره منتقل کیږی۔

**سوال**: دلته ئے د (ورثه) لفظ ذکر کړو، حالانکه په دے وخت کښے د سعد ﷺ صرف یوه لور وه۔ **جواب**: هغهٔ ته ئے داسے جواب ورکړو چه د هغهٔ د هر حالت سره موافق دے۔ ځکه ممکنه ده چه دے په دے بیماریٔ کښے مړ شی او ددهٔ نه صرف یوه لور پاتے شی، او کیدے شی چه دهٔ له الله تعالیٰ نور بچی هم ورکړی۔ دے وجے نه یو کُلی حکم ئے ورته ذکر کړو۔ او ممکنه ده چه دا د نبی کریم ﷺ له خوا هغهٔ ته یوه پشینګوئی وی چه الله تعالیٰ به تا ددے ناجوړتیا نه رغوی او تاله به بچی درکوی۔ لکه د همدے حدیث په نورو روایاتو کښے دا الفاظ ئے دلیل دے (وَلَعَلَّكَ اَنْ تُخَلَّفَ) شاید چه ته به روستو پاتے شے۔

[عَالَةً] جمع د عائل ده، فقیر ته وائی، د عَالَ يَعِيلُ نه دے محتاجئ ته وائی۔

[يَتَكَفَّفُوْنَ النَّاس] خلکو نه به په ورغوو سره سوالونه کوی۔ یا خلکو نه به هغه شے غواړی چه د هغوئ په ورغوو کښے دے۔ تَكَفَّفَ وَ اسْتَكَفَّ معنی ده: بَسَطَ كَفَّهُ لِلنَّاسِ (خلکو ته ئے لاس اُوږد کهٔ)۔

[حَتَّى اللُّقْمَةَ تَرْفَعُهَا] ددے یو مطلب دا دے چه تهٔ رزق کور ته راوړے او د هغے نه ستا بی بی وغیره خوراك کوی په دے کښے هم د بنده دپاره اجر دے۔ دویم دا چه په خوش طبعی کښے یو تن نوړیٔ اُوچته کړی او د ښځے په خوله کښے ئے کیدی نو په دے هم اجر دے۔

## الفصل الثاني

3072 (3) – عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ ﷺ قَالَ: عَادَنِي رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ وَأَنَا مَرِيضٌ فَقَالَ: "أَوْصَيْتَ؟" قُلْتُ: نَعَم قَالَ: "بِكَمْ؟" قُلْتُ: بِمَالِي كُلِّهِ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ. قَالَ: "فَمَا تَرَكْتَ لِوَلَدِكَ؟" قُلْتُ: هُمْ أَغْنِيَاءُ بِخَيْرٍ. فَقَالَ: "أَوْصِ بِالْعُشْرِ" فَمَا زِلْتُ أُنَاقِصُهُ حَتّٰى قَالَ: "أَوْصِ بِالثُّلُثِ وَالثُّلُثُ كَثِيرٌ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

**ترجمه**: سعد بن ابی وقاص ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ زما تپوس پوښتنې ته راغې په داسې حال کښې چه زهٔ بیمار اُوم، نو وې فرمایل: آیا تا وصیت کړې؟ ما وویل: آؤ، وې فرمایل: په څومره؟ ما وویل: په خپل ټول مال باندې د الله تعالیٰ په لاره کښې. وې فرمایل: نو تا خپل اولاد دپاره څه پرېښودل؟ ما وویل: هغوی مالداره دی، په ښه حالت دی، وې فرمایل: په لسمه برخه وصیت وکړه، نو زهٔ همیشه وم چه راکمولو مې تردې چه وې فرمایل: په دریمه برخه وصیت وکړه او دریمه (هم) زیاته ده۔ (ترمذیؒ)

**تشریح**: یعنې اول کښې رسول الله ﷺ هغهٔ ته وفرمایل: چه په ټول مال باندې وصیت کول صحیح نهٔ دی، خپل اولاد ته هم څه پریخودل پکار دی، هغهٔ وویل: هغوی مالداره دی، او په ښهٔ حالت کښې دی لیکن بیا هم نبی ﷺ هغهٔ ته په کم باندې حکم وکړو چه په لسمه برخه مال وصیت وکړه مگر هغهٔ مال نور هم زیاتولو تردې چه خبره ثلث ته ورسیده۔

**فوائد**: (۱) حدیث نه ثابته شوه چه په مال سره د چا دپاره وصیت کول واجب دی، او دا وصیت به په دریمه حصه یا ددینه په کم مال کښې وي، اګرکه وصیت کونکې ډیر مالداره هم وي۔ اوکه چرې مال کم وو او وارثان فقیران وو، نو بیا افضله داده چه په هیڅ شئ باندې وصیت ونهٔ کړي، ځکه خپل وارثان مالداره پریښودل ددې نه غوره دي چه هغوئ فقیران او محتاجان پریږدئ چه د خلکو نه سوالونه کوي۔

(۲) او حدیث دلیل دې چه د دریمې برخې مال نه زیات وصیت کول منع دی، خو د هغه چا دپاره چه وارثان لري، او په دې باندې د اهلِ علمو اجماع ده، ځکه نبی ﷺ د سعد ﷺ دپاره صرف د دریمې برخې اجازت ورکړې وو، نو معلومیږي چه آخري اندازه د وصیت دریمه برخه ده۔ بله دا چه د دریمې برخې نه چه وصیت زیات شي نو دا په ضرر

ورکولو کښې داخلیږي، الله تعالیٰ فرمائی: ﴿مِنۢ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُّوْصٰى بِهَآ اَوْ دَيْنٍ غَيْرَ مُضَآرٍّ﴾ [النساء: ۱۲] یعنی په داسې حال کښې چه په خپل وصیت او خپل قرض سره به وارثانو له ضرر ورکونکې نۀ جوړیږي. **اختلاف**: البته د چا وارث چه نۀ وي نو ددۀ د وصیت په اندازه کښې د اهلِ علمو اختلاف دے. د سعد ﷺ ددے حدیث نه معلومیږي چه په دے صورت کښې د ټول مال وصیت کول جائز دي، ځکه دا دلالت کوي چه د دریمے برخې نه زیات وصیت کول د وارثانو د وجې نه منع دي، او کله چه وارثان نۀ وي موجود نو بیا دا مانع ختم شو. او دا قول د ابن مسعود ﷺ نه نقل دے او دا مذهب د عبیدهؒ، مسروقؒ، اسحاق بن راهویهؒ، او ابوحنیفهؒ دے.

او زید بن ثابت ﷺ فرمائي: هیچا دپاره دا جائز نۀ دي چه د دریمے برخې مال نه په زیات باندے وصیت وکړي اګرکه د مړي اولاد نۀ وي. او دا قول د مالكؒ، اوزاعيؒ، حسن بن حيؒ او شافعيؒ دے. (شرح ابن بطال: ۱۴۹/۸) مګر اول قول غوره معلومیږي، لکه چه دلائل ئې روستو ځلورمه مسئله کښې راځي.

❁ د جمهورو علماؤ په نیز که په مرض الموت باندے پروت بیمار د غیر وارث دپاره د دریمے برخې مال نه زیات وصیت وکړي او د هغۀ د مرګ نه پس وارثان ددے اجازت ورکړي نو دا وصیت به درست او نافذ وي. او هل ظواهرؒ وائي: د دریمے برخې نه په زیات کښې د وارثانو اجازت له هیڅ تاثیر نشته. اجازت صرف په هغه وصیت کښې راغلے چه وارث دپاره وشي، لکه روستو راځي. پاتے شو د دریمے برخې نه زیات وصیت کول نو په دے کښې نبي ﷺ د وارثانو اجازت نۀ دے ذکر کړے. او څوك چه اجازت ورکوي نو د هغوئ دلیل مخکښې تیر شو، هغه دا چه د ثلث نه زیات وصیت کول د وارثانو د حق د وجې منع وو، او هر کله چه دوئ خپل حق ساقط کړو، نو بیا درست دے. او همدا **قوي** معلومیږي.

(۳) او حدیث دلیل دے چه کله وارثان مال ته محتاج وي نو بیا په دے وخت کښې دوئ دپاره مال پریښودل ددے نه غوره دي چه په پردو خلکو صدقه کړے شي، ځکه وارثان د مورث په صدقه او ښیګړه باندے د هر چانه زیات حقدار دي.

(٤) په دریمه برخه باندے وصیت کول مستحب دي که ددے نه په کمه برخه؟

نو (**یو قول**) دادے چه دریمے برخې نه په کم مال باندے وصیت کول افضل دي، ځکه

نبي ﷺ فرمائي : [وَالثُّلُثُ كَثِيرٌ] دارنګه د ابن عباس رضي الله عنه قول مخکښې تير شو۔ (او داد شافعيؒ، اسحاقؒ او احمدؒ قول دے)۔ (**دويم قول**) : دريمه برخه باندې وصيت کول مستحب دي۔ او دليل ئې دا حديث دے : [اِنَّ اللّٰهَ تَصَدَّقَ عَلَيْكُمْ بِثُلُثِ اَمْوَالِكُمْ عِنْدَ وَفَاتِكُمْ زِيَادَةً فِيْ أَعْمَالِكُمْ]. الله تعالىٰ تاسو باندې د مرګ په وخت په دريمه حصه مالونو باندې صدقه کړې ده دپاره چه ستاسو نيکيانې زياتې شي)۔

[ابن ماجه : ۲۷۰۹ مسند احمد : ۲۷۵۲۲ اسناده محتمل للتحسين بشواهده]

**راجح قول** اولنې دے۔ د دوو وجو نه : (اوله) : د سعد رضي الله عنه په دے حديث کښې دي : [وَالثُّلُثُ كَثِيرٌ] ۔ (دويمه) داچه : دے کښې فرمائي : [اَنْ تَذَرَ وَرَثَتَكَ أَغْنِيَاءَ] پاتې شو د [اِنَّ اللّٰهَ تَصَدَّقَ عَلَيْكُمْ......] حديث نو په دے کښې د دريمې برخې وصيت کولو جواز ذکر دے، نۀ افضيلت۔ او د سعد رضي الله عنه د حديث نه معلومه شوه چه افضل وصيت دادے چه د دريمې برخې نه کم وکړے شي۔ لکه چه دا خبره ابن عباس رضي الله عنه فهم کړے ده۔

(۵) په قرآن کريم کښې وصيت مطلق راغلے : لکه ارشاد دے : ﴿مِنْۢ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُّوْصٰى بِهَآ اَوْ دَيْنٍ﴾ په دے کښې دا قيد نشته چه خومره اندازه وصيت به کوی، ددے د ظاهر نه معلوميږی چه په لږ او ډير دواړو مالونو سره وصيت کول جائز دی، ليکن دے حديث په دے آيتِ کريمه کښې قيد ولګولو چه د ټول مال وصيت به نۀ کوی بلکه د څينې برخې مال وصيت کول جائز دی چه د هغې آخری اندازه دريمه برخه ده۔ او په دے آيت کښې هم ديته اشاره ده هغه داچه په دے کښې ئې فرمايلی دی : ﴿غَيْرَ مُضَآرٍّ﴾ يعنی مړے به په وصيت کولو سره وارثانو ته ضرر نۀ ورکوی، او مخکښې تير شو چه کله د دريمې برخې نه زيات وصيت وکړی نو په دے کښې وارثانو ته ضرر دے، نو قرآن کريم او حديث دواړه خپلو کښې سره موافق شول۔ والله تعالىٰ اعلم۔

(۶) او حديث نه معلومه شوه چه د مريض بيمار پُرسی کول واجب دی او دا وجوب هغه وخت مضبوطيږی کله چه هغه رشته دار، يا ملګرے يا ګاونډی وغيره وی۔ لکه (لِلْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ سِتٌّ) حديث پرے دليل دے۔ (يعنی د مسلمان په مسلمان شپږ حقونه دی يو پکښې بيمار پُرسی کول دی)

(۷) او معلومه شوه چه حلال مال جمع کول جائز دی۔

**درجة الحديث** :[ضعيف ومعناه صحيح] الترمذی : ۹۷۵ وقال حسن صحيح ولكن فيه عطاء

بن السائب و كان اختلطـ، نسائي كبرى : ۶۳۲۱، ومن طريق الترمذي اخرجه سعيد بن منصور في سننه (۳۳۲) واحمد (۱/۱۷٤) لكن ليس عنده قوله : اَوْصِ بِالْعَشْرِ ـ وهو الصواب.

## د وارث لپاره وصيت كول درست نۀ دى

3073 (4) – وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ ﷺ قَالَ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ فِي خُطْبَتِهِ عَامَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ :"**إِنَّ اللّٰهَ قَدْ أَعْطٰى كُلَّ ذِىْ حَقٍّ حَقَّهُ فَلَا وَصِيَّةَ لِوَارِثٍ**". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه وَزَادَ التِّرْمِذِيُّ :"**اَلْوَلَدُ لِلْفِرَاشِ وَلِلْعَاهِرِ الْحَجَرُ وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللّٰهِ**".

**ترجمه** : او ابو امامه باهلى ﷺ نه روايت دے چه ما د رسول الله ﷺ نه واريدۀ چه د حجة الوداع په كال ئے په خپله خطبه كښې فرمايل : بيشكه الله تعالىٰ هر حقدار ته د هغۀ حق وركړے نو وارث دپاره وصيت كول جائز نۀ دى۔ (ابوداودؒ، ابن ماجهؒ)، او ترمذىؒ دا الفاظ زيات كړيدى : بچے به د بسترے وى (يعنى د مور به وى/ په كومه بستره چه پيدا شوے وى) او د زناكار دپاره په كاڼو (ويشتل) دى۔ او د دوئ حساب الله تعالىٰ ته حواله دے۔

**تشريح** : [اَلْوَلَدُ لِلْفِرَاشِ] ـ يعنى په كومه بستره چه كوم ماشوم پيدا شو اګركه د زنا نه وى نو هغے ته به نسبت كيږى، مطلب دا چه بچے به د مور حسابيږى، او زنا كار ته به رجم وركولے شى۔ يعنى بچے د هغۀ حق نۀ جوړيږى۔ ددے زيات تفصيل روستو كتاب النكاح كښے راروان دے۔

**درجة الحديث**: [صحيح] الترمذى: ۲۱۲۰، وقال حسن صحيح، ابوداود : ۲۸۷۰، ابن ماجه : ۲۷۱۷، واسناده حسن وله طريق اخرى بسند صحيح فبذلك يصح الحديث كما فى الارواء : ۱٦٥٤]

3074 (5) – وَيُرْوىٰ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ : "**لَا وَصِيَّةَ لِوَارِثٍ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ الْوَرَثَةُ**". مُنْقَطِعٌ هٰذَا لَفْظُ الْمَصَابِيحِ . وَفِيْ رِوَايَةِ الدَّارِقُطْنِيِّ : قَالَ :"**لَا تَجُوْزُ وَصِيَّةٌ لِوَارِثٍ إِلَّا أَنْ يَّشَاءَ الْوَرَثَةُ**".

**ترجمه** : او ابن عباس نه روايت شويدے، هغه د نبى كريم ﷺ دا ارشاد نقل كوى چه هغۀ وفرمايل : د وارث دپاره وصيت جائز نۀ دے مګر كه د وارثانو خوښه وى۔ (دا روايت منقطع دے، او دا الفاظ د مصابيح دى او په روايت د دارقطنىؒ كښے دى : وے فرمايل : د

هیڅ وارث دپاره وصیت کول جائز نهٔ دی البته که وارثان ئې غواړي۔

**تشریح :**

**فوائد او مسائل** : (۱) حدیث نه ثابته شوه چه وارث دپاره وصیت کول منع دی، برابره خبره ده که په لږ مال سره وی اوکه په ډیر، ځکه الله تعالیٰ د میراث تقسیمولو نه پس فرمائی : ﴿وَمَنۡ يَّعۡصِ اللّٰهَ وَرَسُوۡلَهٗ وَيَتَعَدَّ حُدُوۡدَهٗ يُدۡخِلۡهُ نَارًا خَالِدًا فِيۡهَا وَلَهٗ عَذَابٌ مُّهِيۡنٌ﴾ [النساء : ۱٤] او وارث دپاره وصیت کول د الله تعالیٰ د حدودو نه تیروتل دی ځکه الله تعالیٰ هغوئ دپاره خپله خپله برخه مقرر کړه نو اوس چه څوك په هغوئ کښې یوتن دپاره وصیت کوی نو ددې معنیٰ دا شوه چه هغهٔ دپاره د الله تعالیٰ د ورکړې برخې نه زیاته برخه ورکوی۔ بله دا چه : وارث دپاره وصیت کولو کښې ډیر نقصانات دی، مثلًا : په دې سره د وارثانو ترمینځه حسد او کینه پیدا کیږی، صله رحمی قطع کیږی او جګړې پیدا کیږی، دې وجې نه وصیت کونکی له پکار دی چه ددې کار نه ځان وساتی او په وارثانو کښې د هیڅ یو وارث دپاره وصیت ونکړی۔

❁ که چا د وارث دپاره وصیت وکړو، او د وصیت کونکی د مرګ نه پس دغه وارث غیر وارث وګرځیدهٔ نو دا وصیت به نافذ وی۔ مثلًا: یو تن د خپل وارث ورور دپاره وصیت وکړو، او بیا د وصیت کونکی ځوی پیدا شو او ددهٔ په وجه ددهٔ ورور د میراث نه محروم شو، نو دغه وصیت به صحیح وی، ځکه وصیت د مرګ نه پس معتبر دې، او ددهٔ د مرګ نه پس ددهٔ ورور غیر وارث وګرځیدهٔ۔ بل طرفته که د یوتن ځوی موجود وی او ورور دپاره وصیت وکړی، بیا د وصیت کونکی په ژوند کښې ځوی مړ شو، نو دا وصیت باطل دې (که نورو وارثانو ددې اجازت ورنهٔ کړو) ځکه دا د هغهٔ د مرګ نه پس وارث وګرځیدهٔ۔

(۲) او حدیث نه معلومه شوه که نور وارثان اجازت کوی نو بیا وارث دپاره وصیت کول هم جائز دی۔ او ددې دلیل دا دې چه ددې حدیث په بعض روایاتو کښې ورسره داسې الفاظ دی : [اِلَّا اَنۡ یَّشَاءَ الۡوَرَثَةُ] (مګر که وارثان وغواړی) که استثناء صحیح شی۔ او که دا استثناء منکره شی نو بیا عقلی لحاظ سره هم دا مسئله ثابته ده، ځکه دا منع د وارثانو د حق د حفاظت د وجې ده، او هرکله چه دوئ ددې خپل حق نه تیر شول نو بیا منع نشته۔ دارنګه که وارثان خپله دا اندازه مال غیر وارث له ورکړی، نو دا به جائز وی،

نو دا شان که په خپلې رضامندئ سره وارث له ئے ورکړی نو دا به هم جائز وی۔

**(٣) اشکال او جواب** : د الله تعالىٰ ارشاد دے : ﴿كُتِبَ عَلَيْكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ إِنْ تَرَكَ خَيْرًا الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ بِالْمَعْرُوفِ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِينَ﴾ [البقرة : ١٨٠]

ددے آیتِ کریمه د ظاهر نه معلومیږی چه والدینو او رشته دارو دپاره وصیت کول واجب دی، سره ددے چه په دوئ کښے خو وارثان هم داخل دی، نو ددے آیتِ کریمه او حدیث ترمینځه په ظاهره کښے تعارض دے؟۔ **جواب** : ددے سوال په ختمولو کښے د اهلِ علمو دوه رائے دی : (أ) دا آیتِ کریمه منسوخ دے او ناسخ ئے د میراث آیت دے، او حدیث الباب ددے بیان کوی، ځکه رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چه الله تعالىٰ هر یو وارث ته د هغهٔ برخه ورکړه نو بیا د وارث دپاره وصیت کول نشته۔ نو دا حدیث د آیة المیراث تفسیر شو۔ (ب) یا آیتِ کریمه منسوخ نهٔ دے بلکه محکم دے، او دا نهٔ د میراث د آیتونو خلاف دے او نهٔ د حدیث الباب، ځکه د آیت ظاهر نه اګرکه د والدینو، خپلوانو او غیرِ وارثانو ټولو ته وصیت کول شامل دی، لیکن ددے د عموم نه وارثان خاص کړے شوی دی، او خاص کونکے دلیل آیة الفرائض او حدیث الباب دے۔ چه ددهٔ دپاره وصیت نشته۔ او د وارثانو نه سِوىٰ نور غیر وارثان خپلوان او رشته دار په خپل حال باقی پاتے دی چه دوئ دپاره وصیت کول واجب یا مستحب دے، بنا بر قولین (او د وجوب قول اصح وو)۔ او په دے قول کښے د ټولو دلائلو ترمینځه جمع او تطبیق حاصلیږی، او ترڅو پورے چه دا ممکن وی نو همدا به کولے شی، پاتے شوه د نسخ خبره نو په دے کښے د یو نص معطل کول دی۔ والله تعالىٰ اعلم۔ [أحكام الوصايا فى الفقه الاسلامى، ص: ٢٥٣]

(٤) ددے حدیث او د سعد رضی الله عنه د حدیث نه معلومیږی چه د وصیت صحیح کیدو دپاره دوه شرطه دی : (أ) یو دا چه : وصیت به په ثلث یا ددے نه په کم سره شوے وی۔ (ب) دویم : وصیت به د وارث دپاره نهٔ وی شوے۔

**درجة الحديث** : [منقطع] الدارقطنى : ٩٤/٨٩، بيهقى : ٦/٢٦٣)عن ابن عباس، والدارقطنى (٩٨/٤) عن عمرو بن شعيب، وانظر الارواء : (١٦٥٦-١٦٥٧) عطاء الخراسانى لم يدرك ابن عباس رضی الله عنه ولم يره قاله ابوداود السجستان وقد روى الدارقطنى عن عطاء الخراسانى عن عكرمة عن ابن عباس وقال : عطاء الخراسانى غير قوى، قلت : قال الحافظ فى التقريب : صدوق يهم كثيرا ويرسل ويدلس،

وقد روى من طرق صحاح ليس فيها (الا ان يشاء الورثة)۔

## چا ته په وصيت كولو سره خپلو وارثانو ته نقصان رسولو سزا

3075 (6) - وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ قَالَ: " إِنَّ الرَّجُلَ لَيَعْمَلُ وَالْمَرْأَةُ بِطَاعَةِ اللهِ سِتِّينَ سَنَةً ثُمَّ يَحْضُرُهُمَا الْمَوْتُ فَيُضَارَّانِ فِي الْوَصِيَّةِ فَتَجِبُ لَهُمَا النَّارُ " ثُمَّ قَرَأَ أَبُو هُرَيْرَةَ (مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِي بِهَا أَوْ دَيْنٍ غَيْرَ مُضَارٍّ) إِلَى قَوْلِهِ (وَذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ). رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه

**ترجمه**: او ابو هريره ﷺ د رسول الله ﷺ ارشاد نقل كوى چه يو سړے او ښځه به د الله تعالىٰ په طاعت باندے شپيتۀ كاله عمل كوى، بيا به دوئ ته مرگ حاضر شى نو په وصيت كښے به (وارثانو ته) ضرر وركړى نو دواړو له به اُور واجب شى، بيا ابو هريره ﷺ دا آيت ولوستو: (من بعد وصية يوصى به او دين غير مضار) (يعنى وارثان به خپلے حصے اخلى پس د وصيت پوره كولو نه او پس د قرض ادا كولو نه) تردے قول پورے (وذلك الفوز العظيم)۔ (احمدؒ، ترمذىؒ، ابوداوٗدؒ، ابن ماجهؒ)

**تشريح**: [فَيُضَارَّانِ]۔ دا په اصل كښے [فَيُضَارِرَانِ] دے۔ يعنى په وصيت كښے به وارثانو ته ضرر وركړى په دے طريقه چه د ثلث نه زيات مال باندے وصيت كوى يا وارثان د مال نه په څه طريقه سره محروموى، يا د بل چا دپاره په ځان باندے د قرض اقرار كوى۔

[فَتَجِبُ لَهُمَا النَّارُ] ۔ يعنى اُور ورله واجب شى، يعنى د اُور مستحق گرځى بيا ددے نه دا نۀ لازميږى چه خامخا به اُور ته داخليږى بلكه د الله تعالىٰ مشيئت ته سپارل شوے كه د هغۀ خوښه وى معاف به ئے كړى او كه خوښه ئے شى اُور ته به ئے داخل كړى مگر ددے گناه دا سزا ده چه انسان دپاره اُور لازموى۔

نو ددے حديث نه د حقوق العباد اهميت ښكاره كيږى چه كوم خلك ټوله زندگى د الله تعالىٰ په عبادت كښے تيره كړى ليكن حقوق العباد ته د نقصان وركولو نه ځان نۀ ساتى نو د هغۀ ټول عبادتونه د الله تعالىٰ په دربار كښے ضائع كيږى، افسوس چه زمونږ بعض مسلمانان ورونه په داسے مرض كښے اخته دى۔ والله المستعان۔

**درجة الحديث**: [حسن] ابوداود: ۲۸٦۷، ترمذى: ۲۱۱۷، وقال حسن صحيح غريب، ابن ماجه: ۲۷۹٤ وفيه شهر بن حوشب وهو مختلف فيه والراجح انه حسن الحديث لانه وثقه ابن معين

واحمد وقال ابو زرعة لا بأس به وقال ابن ابی حاتم روی عن اسماء احادیث حِسانًا.

## جائز وصیت کونکی دپاره زیری

### الفصل الثالث

3076 (7) – عَنْ جَابِرٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: " مَنْ مَاتَ عَلٰی وَصِيَّةٍ مَاتَ عَلٰی سَبِيْلٍ وَسُنَّةٍ وَمَاتَ عَلٰی تُقًی وَشَهَادَةٍ وَمَاتَ مَغْفُوْرًا لَهٗ ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ

**ترجمه**: جابر ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چه په وصیت کولو سره مړ شو (یعنې د مرګ په وخت ئې په څه مال باندې د فقراء او مساکینو دپاره وصیت وکړو او مړ شو) نو دې په نیغه لاره او غوره طریقه باندې مړ شو او په تقویٰ او شهادت باندې مړ شو، (یعنې په متقیانو او شهیدانو کښې داخل شو) او په داسې حال کښې مړ شو چه دهٔ ته مغفرت وکړې شو. (ابن ماجهؒ)

**تشریح**: [عَلٰی سَبِيْلٍ]. یعنې په نیغه لاره مړ شو. [وَسُنَّةٍ] یعنې په شریعت او د نبی ﷺ په طریقه باندې مړ شو. [عَلٰی تُقًی]. یعنې په تقویٰ باندې مړ شو، دا شخص د الله تعالیٰ نه یریدونکې دې څکه چه د هغهٔ اوامر په ځائې راوړی.

[شَهَادَةٍ].یعنې اقرار کوی د الله تعالیٰ د دین په کارونو باندې.

[مَغْفُوْرًا لَهٗ]. یعنې د ګناهونو بخنه ورته وکړې شوه.

دا روایت ضعیف دې لیکن معنیٰ ئې د آیت او نورو احادیثو نه معلومه ده.

چه پدې کښې د وصیت کولو صحیح طریقه خودلې شویده هرکله چه بنده زیات مال لری. او په دینی امورو باندې هم وصیت ضروری دې چه د دین حفاظت کوئ او پدې عمل کوئ او په ما پسې ژړاګانې مهٔ کوئ او یتیمانانو باندې ظلم مهٔ کوئ. او په څه نا څه مال باندې وصیت کول د غیر وارثانو دپاره واجب دی لکه چه مخکښې تیر شو.

**درجة الحدیث**: [ضعیف] ابن ماجه: ۲۷۰۱، فیه بقیة بن الولید –وهو مدلس– وشیخ یزید بن عوف مجهول، وله طریق اخری عند ابن عدی: ۱/۲٤۳، وفیه عمر بن صبح کان یضع الحدیث.

## كافرانو ته د نيك اعمالو ثواب نۀ رسيږي

3077 (8) – وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ الْعَاصَ بْنَ وَائِلٍ أَوْصٰى أَنْ يُعْتَقَ عَنْهُ مِائَةُ رَقَبَةٍ فَأَعْتَقَ ابْنُهُ هِشَامٌ خَمْسِينَ رَقَبَةً فَأَرَادَ ابْنُهُ عَمْرٌو أَنْ يُعْتِقَ عَنْهُ الْخَمْسِينَ الْبَاقِيَةَ فَقَالَ: حَتّٰى أَسْأَلَ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ فَأَتَى النَّبِيَّ ﷺ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ أَبِي أَوْصٰى أَنْ يُعْتَقَ عَنْهُ مِائَةُ رَقَبَةٍ وَإِنَّ هِشَامًا أَعْتَقَ عَنْهُ خَمْسِينَ وَبَقِيَتْ عَلَيْهِ خَمْسُونَ رَقَبَةً أَفَأُعْتِقُ عَنْهُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: "**إِنَّهُ لَوْ كَانَ مُسْلِمًا فَأَعْتَقْتُمْ عَنْهُ أَوْ تَصَدَّقْتُمْ عَنْهُ أَوْ حَجَجْتُمْ عَنْهُ بَلَغَهُ ذٰلِكَ**". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ

**ترجمه**: او عمرو بن شعيب د خپل پلار نه هغه د نيكۀ نه روايت كوي چه بيشكه عاص بن وائل وصيت وكړو چه د هغه لخوا نه دِ ے (د مرګ نه پس) سل غلامان آزاد كړے شي، نو د هغۀ ځوی هشام پنځوس غلامان آزاد كړل نو د هغۀ ځوی عمرو (بن العاص ﷺ) اراده وكړه چه د هغۀ نه باقيمانده پنځوس ادا كړي نو وے فرمايل: (دا به نۀ آزادوم) تردے چه زۀ رسول الله ﷺ خوا ته راشم، نو نبي كريم ﷺ خوا ته راغلو عرض ئے وكړو اے د الله رسوله! زما پلار وصيت كړے وو چه د هغۀ له خوا سل اُوښان دِ ے آزاد كړے شي، او هشام د هغۀ له طرف نه پنځوس (غلامان) آزاد كړل، او په هغۀ باندے پنځوس غلامان پاتے دي، نو آيا زۀ د هغۀ د طرف نه آزاد كړم؟ نو رسول الله ﷺ وفرمايل: كه چرے هغه مسلمان وے او تاسو د هغۀ د طرف نه غلامان آزادولے يا مو ترے صدقه كړے وے يا مو د هغه د طرف نه حج كړے وے نو دا ورته رسيدل. (ابوداودٌ)۔

**تشريح**: عاص بن وائل سهمي د اسلام زمانه موندلے وه ليكن د بد قسمتئ نه د اسلام دولت ورته نصيب نشو، او د كفر په خالت كښے مړ شو، د هغۀ دوه ځامن وو يو هشام بن عاص ﷺ او دويم عمرو بن العاص ﷺ دے دواړو ته الله تعالیٰ هدايت وكړو او د اسلام په لوئ دولت باندے مشرف شول، او د رسول الله ﷺ د صحابي كيدو عزت ئے وموندو، (رضي الله عنهما وارضا هما)۔

[اَوْصٰى] يعني عاص چه مشرك وو د مرګ په وخت كښے ئے وصيت وكړو، په ژوند

کښې ئے خیراتونه نۀ کول او د مرګ په وخت کښې وائی ما پسے دومره خیراتونه وکړئ لکه اُوس هم ډیر خلك دا وائی ما دا پیسے ګورو کفن له ساتلی دی، او په ژوند کښې صدقات او صحیح خیراتونه نکوی۔ د رسول الله ﷺ د جواب حاصل دا دے چه ستاسو پلار عاص که مسلمان وے او د اسلام په حالت کښې د دنیا نه رخصت شوے وے نو د هغۀ د طرف نه که تاسو ځامنو غلامان آزادولے یا مو ترے صدقه کولے یا مو ترے حج کولے نو د هغے ثواب ورته ور رسیدو لیکن چونکه هغه مسلمان نۀ وو او د کفر په حالت کښې د دنیا نه تلے دے نو پدے وجه اُوس د هغۀ طرف نه هیڅ عبادت او نیکی هغۀ ته فائده نۀ ورکوی۔ لهذا د حدیث نه معلومه شوه چه صدقه وغیره کافر دپاره فائده نۀ ورکوی او نۀ د هغے په وجه سره هغه د عذاب نه خلاصیدلے شی، البته دا مسلمان پلار دپاره فائده ورکوی۔

دے حدیث نه ثابته شوه چه پلار ته د صدقے او نفقے او حج ثواب د بچی د طرف نه رسیږی۔ البته د پلار دپاره نفلی مونځونه کول یا روژے نیول نۀ رسیږی۔ پدے وجه پدے حدیث کښې دا درے څیزونه ذکر شول۔ او مسئله تفصیلاً په کتاب العلم کښې تیره شوے ده۔

**درجة الحديث** :[اسناده حسن] ابوداود : ۲۸۸۳، وانظر احکام الجنائز للالبانی ص : ۲۱۸)

## د وارثانو حق وهونکی دپاره وعید

3078 (9) – وَعَنْ أَنَسٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ :"**مَنْ قَطَعَ مِيْرَاثَ وَارِثِهِ قَطَعَ اللّٰهُ مِيْرَاثَهُ مِنَ الْجَنَّةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ**". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ

3079 (10) وَرَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيْمَانِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ.

**ترجمه** : او انس ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : چا چه د خپل میراث خور میراث قطع کړو، الله تعالیٰ به د قیامت په ورځ دهٔ د جنت نه میراث قطع کړی۔ (او د جنت نه به ئے محروم کړی) (ابن ماجهٔ) او بیهقیٔ په شعب الایمان کښې د ابو هریره ﷺ نه روایت کړیدے۔

**تشریح** : [قَطَعَ مِيْرَاثَ] د میراث قطع کول پدے طریقه دی چه د بل چا دپاره د ټول مال وصیت وکړی، یا په بله طریقه خپل مال نه میراث والا محروم کړی۔ لکه د خپل

څوی نه انکار وکړی چه دا ولدِ زنا دے، یا د ترۀ څوی یا ترۀ نه انکار وکړی۔

[مِيرَاثَهُ مِنَ الْجَنَّةِ] هر مؤمن دپاره د جنت د میراث وعده شویده، الله تعالیٰ فرمائی: [يَرِثُونَ الْفِرْدَوْسَ]۔ (یعنی دا مؤمنان به د جنت وارثان وی) یعنی څوك چه وارثان د میراث نه محرومــوی نـو الله تعالیٰ به ئے د جنت نه محروم کړی، یعنی د نجات والو بندګانو سره به جنت ته نۀ داخلیږی، یا به همیشه محروم وی کله چه نور نیك اعمال ورسره نۀ وی او که چرے نور اعمال ئے وو نو بیا به په اول کښے د جنت نه محروم وی او بیا الله تعالیٰ ته سپارل شوے چه کله ئے ورداخلوی۔ اللهم ادخلنا الجنة مع الابرار یا عزیز یا غفار۔

وبالله التوفیق والله اعلم۔

**درجة الحدیث**: [ضعیف جدا] ابن ماجه (۲۷۰۳) عن انس ...... مرفوعاً – لکن بلفظ: من فر من میراث وارثه...... الحدیث مثله، وهکذا ذکره السیوطی فی الجامع الصغیر من روایة ابن ماجه واسناده ضعیف جدا فیه عبد الرحیم بن زید العمی عن ابیه وهو متهم بالکذب وابوه ضعیف، نعم روی سعید بن منصور (۲۰۸۵) –فقط– الحدیث باللفظ المذکور فی الکتاب عن سلیمان بن موسی مرسلا واسناد المرسل رجاله ثقات۔ ولم نجد فی شعب الایمان ولا فی غیره.

---

او پدے ځائے ختم شو اول جلد د مشکاة المصابیح د الله تعالیٰ په حمد او کرم او لوئے مهربانئ سره په تاریخ ۱٤٤۱ هـ جمادی الاولیٰ ۱۵/لیلة الخمیس الموافق: ۱۸/۱/۲۰۲۰م۔

# کتاب النکاح

د نکاح بیان

دلته یو څو بحثونه دی، (۱) مناسبت۔ (۲) د نکاح لغوی او اصطلاحی تعریف۔ (۳) د نکاح اقسام۔ (٤) د نکاح د مشروعیت حکمتونه۔ (٥) د نکاح ارکان او شروط۔ (٦) او بعض مسائل۔

**اول بحث:** مناسبت: مصنف اول کښې کتاب الایمان راوړو ځکه ایمان د ټولو عباداتو اَساس او بنیاد دے، بیا ئے مونځ ذکر کړو او د هغې متعلقات چه کتاب الطهارة وغیره دی، بیا ئے زکاة بیا صیام، بیا حج بیا ئے ددے باب نه مخکښې معاملات بیان کړل او دلته کتاب النکاح راوړی ځکه چه په عباداتو کښې د معاملے معنیٰ نشته نو ځکه مقدم شو او نکاح من وجه عبادت دے، نبوی طریقه ده، او من وجه معامله ده ځکه چه پدے کښې مهر ورکول او د پلار رضا کول دی، نو نکاح ذو الوجهین وه پدے وجه ئے د عباداتو او معاملاتو دواړو نه روستو ذکر کړه۔ بله دا چه عبادات هله قبلیږی چه معاملات حلال وی پدے وجه ئے هغه مقدم کړل۔

**تنبیه:** دا خبره یاد ساتل پکار دی چه د احنافوؒ په کتابونو کښې د نکاح بحث مقدم ذکر کیږی ځکه چه دا د هغوی په نیز اَهمه ده او د حنابلهٔ او شوافعوؒ په کتابونو کښې د نکاح ابحاث مؤخر ذکر کیږی ځکه چه د هغوی په نیز نکاح ډیره ضروری نهٔ ده۔

**دویم بحث:** نِکَاح : په لغت کښې په درے معانیو سره راځی : (۱) [اَلْجَمْعُ وَالضَّمُّ وَالْاِخْتِلَاطُ] جمع کیدو، ضم (یو ځائے والی) او یو د بل سره پیوست کیدو ته وائی۔ او عقد (یعنی ایجاب او قبول) ته په دے وجه نکاح وائی چه ددے په ذریعه ښځه او خاوند یو بل سره پیوسته کیږی۔ عرب وائی : [تَنَاكَحَتِ الْاَشْجَارُ اِذَا انْضَمَّ بَعْضُهَا مَعَ بَعْضٍ]

ونے د یو بل سره یو ځائے شوے کله چه په هغے باندے هواګانے راوالوزی۔ [وَنَكَحَ الْمَطَرُ الْأَرْضَ اِذَا اخْتَلَطَ بِثَرَاهَا] باران د زمکے سره نکاح وکړه یعنی د هغے د خاورو سره ګډوډ شو۔ (۲) معنی د نکاح : عقد (تړون) (۳) معنی : جماع (کوروالے) او دا دواړه هم حقیقی معنے دی ځکه په دواړو کښے جمع او ضم وی۔ کله پیوست والے په عقد سره وی او کله په وطی سره۔ ابو علی الفارسیؒ وائی : عربو یو باریك فرق کړے او هغه دا چه کله د نَكَحَ سره بِنْتَ فُلَان ، یا فُلَانَةً لفظ ذکر شی، نو هلته عقد (نکاح کول) مراد وی لکه : نَكَحَ فُلَانَةً یا بِنْتَ فُلَانٍ (د فلانئ سره یا د فلانی سړی لور سره ئے واده وکړو) او کله چه د جماع په معنیٰ سره وی نو هلته ورسره زوجه ذکر کیږی، لکه : [نَكَحَ زَوْجَتَهُ/ اِمْرَأَتَهُ]، (خپلے ښځے سره ئے هم بستری وکړه)۔

ازهریؒ وائی : د عربو په کلام کښے نکاح په اصل کښے په معنیٰ د وطء (جماع) سره استعمالیږی۔ او بعض وائی چه په معنیٰ د تزَوُّج (نکاح کولو) سره دے، ځکه چه دا سبب د جماع وی، او زجاجیؒ وئیلی دی چه نکاح په کلام د عربو کښے د دواړو معنو دپاره په یو ځائے استعمالیږی یعنی جماع او عقد۔

فراءؒ وائی : عرب وائی : [نُكْحُ الْمَرْأَةِ- بِضَمِّ النُّوْنِ- بُضْعُهَا] نُكح د نون په پیش سره د زنانه فرج (عورت) ته وئیلے شی۔ نو د [نَكَحَهَا] معنیٰ دا ده چه [اَصَابَ نُكْحَهَا وَهُوَ فَرْجُهَا] یعنی د هغے عورت ته ئے رسیدل وکړل۔ او نکاح په معنیٰ د ماتیدلو او وینی کیدو او زخمی کیدو سره هم استعمالیږی۔ (لسان العرب) متنبی وائی : [وَخِفَافُهَا مَنْكُوحَةٌ] اَیْ مَنْقُوْبَةٌ بِالْحَصٰی، دَامِيَةٌ] د اوښے خپے زخمی شوی او سوریٔ شوی دی او وینی شویدی په کانړو او شګو سره۔

[المنصف للسارق والمسروق منه- لابن وکیع التنیسی وشرح دیوان المتنبی لابی الحسن الواحدی : ۱/۹۹ ومعجز احمد : ۱/۱۰۸ : لاحمد بن عبد الله ابی العلاء المعری]

لیکن د وطیٔ په معنیٰ سره په قرآن کریم کښے نهٔ ده استعمال شوے البته د عربیٔ په لغت کښے موجوده ده۔ (لسان العرب) او په حدیث کښے هم شته۔ [...... فَلَا يَنْكِحُ ثَيِّبًا مِنَ السَّبْيِ......] یعنی هغه واده والا وینځه چه قید کړے شی نو د هغے سره دِے وطی نکوی تردے چه استبراء ئے وکړی) [احمد : ۱۷۰۳۹، معرفة الصحابة : ۲۳۸۴ لا بی نعیم]

په **اصطلاح** کښے ۱-نکاح : [هُوَ عَقْدٌ يُفِيْدُ حِلَّ اسْتِمْتَاعِ كُلٍّ مِنَ الزَّوْجَيْنِ بِالْآخَرِ]

هغه عقد دے چه ددے په ذریعه ښځه او خاوند کښې هر یو دپاره د بل نه نفع او فائده اخستل حلالیږی، او په مشروع طریقه سره نسل پیدا کوی. دا د ټولو نه جامع تعریف دے. ۲- تعریف : [عَقْدٌ يُفِيْدُ مِلْكَ الْمُتْعَةِ قَصْدًا] [رد المحتار علی الدر المختار ٤/٥٨].

دا هغه تړون دے چه په قصد او ارادے سره د فائدے خاصلیدو ملکیت ثابتوی.

۳- [عَقْدٌ يَتَضَمَّنُ اِبَاحَةَ وَطْءٍ بِلَفْظِ اِنْكَاحٍ اَوْ تَزْوِيْجٍ اَوْ تَرْجَمَةٍ] [مغنی المحتاج :۳/۱٦۵]

دا هغه تړون دے چه د نکاح، یا تزویج یا ددے په مرادف لفظ سره د جماع جائز والے ثابتوی.

٤- [عَقْدٌ مَوْضُوْعٌ لِمِلْكِ الْمُتْعَةِ اَیْ لِحِلِّ اسْتِمْتَاعِ الرَّجُلِ مِنَ الْمَرْاَةِ وَهُوَ اِحْتِرَازٌ عَنِ الْبَيْعِ فَاِنَّهُ عَقْدٌ مَوْضُوْعٌ لِمِلْكِ الْيَمِيْنِ] [انیس الفقهاء فی تعریفات الالفاظ المتداولة بین الفقهاء :۱/۱٤۵]. دا هغه تړون او معاهده ده چه د فائدے والا ملکیت دپاره وضع شویدے یعنی ددے دپاره وضع شوے چه سړی دپاره د ښځے نه (او برعکس) فائدے حاصلول جائز ګرځوی. پدے سره احتراز راغے د بیع نه ځکه چه بیعه داسے عقد دے چه هغه ملكِ یمینی (یعنی د یو شی د ذات مالك کیدل) ثابتوی.

۵- نکاح : هغه خاص شرعی عقد او معاهده ده چه د سړی او د ښځے په مابین کښے کیږی او چه د هغے په ذریعه د دواړو ترمینځ د زوجیت تعلق پیدا کیږی.

**د نکاح اهمیت** او ددے بنیادی ضرورت اندازه ددے نه هم لګیږی چه د آدم علیه السلام د زمانے نه تر شریعتِ محمدی (صلی الله علیه وسلم) پورے داسے یو شریعت نهٔ دے تیر شوے چه هغه د نکاح نه خالی وی، پدے وجه علماءِ کرامو وئیلی دی چه داسے هیڅ یو عبادت نشته چه د آدم علیه السلام نه واخله تر اوسه پورے مشروع وی او په جنت کښے به هم باقی پاتے وی سوئ د نکاح او د ایمان نه. ځکه چه په هر شریعت کښے د ښځے او خاوند اجتماع د یو خاص معاهدے په طور مشروعه راروانه ده او بغیر ددے معاهدے نه د سړی او ښځے خپل مینځ کښے اجتماع په هیڅ شریعت او مذهب کښے نهٔ ده جائز شوے،

هاں البته دا خبره ضرور ده چه په دے شریعتونو کښے ددے معاهدے مختلف صورتونه راروان دی او د هغے په شرائطو او احکامو کښے تغیر او تبدل راغلے دے. پدے وجه اسلام هم ددے په باره کښے چه کوم شرطونه، احکام، قواعد او ضوابط وضع کړیدی د هغے ابتداء ددے باب نه کیږی.

**دریم بحث : د نکاح د مشروعیت حکمتونه او فوائد :**

دا ډیر زیات دی، ځینے دادی : په وادهٔ کولو کښے لوی لوی مصالح او عظیم اجتماعی، نفسی او دینی مقاصد پراته دی۔ (۱) په دے کښے ښځه او خاوند یو د بل نه جائز خوند او مزه اخلی، جنسی هیجان ورسره کمیږی چه دا د انسان په اخلاقی ژوند باندے ډیر اثر غورزوی۔ ځکه چه انسان ته چه کله جائز خواهشاتو پوره کولو سره سکون او آرام موقعه نهٔ ملاویږی نو بیا په غلطه لاره روانیږی او د شرافت او د انسانیت ټولے پابندیانے ماتوی۔ (۲) په دے سره دواړه د زنا نه بچ کیږی، د یو بل دپاره لباس دے۔
(۳) په دے سره د نظر حفاظت کیږی۔ (٤) په دے سره انسانی نسل باقی پاتے کیږی او امت زیاتیږی چه دا د مسلمانانو دپاره د عزت او هیبت لویه ذریعه ده۔ (٥) په دے سره د ښځے حفاظت راځی چه په دے باندے خاوند خرچه کوی او د ژوند اسباب ورله تیاروی۔
(٦) په دے سره د خاندانانو او قبیلو تعلق پیدا کیږی او مضبوطیږی، ځکه رشته یا د نسب ده یا د نکاح، او پدے سره خپل مینځ کښے یو بل سره تعاون حاصلیږی۔
(۷) په دے سره معاشره د بے حیایئ، فحاشئ، عُریانئ او بد اخلاقئ نه بچ کیږی۔ (۸) سکون او آرام او د نفس راحت او د خاوند او ښځے ترمینځ اُنس او محبت حاصلیږی۔
(۹) په نکاح سره صالح او نیك بخت اولاد پیدا کیږی، چه دا د انسان د زندگئ گران قدر سرمایه ده، او د آخرت دپاره صدقه جاریه ده۔
(۱۰) په نکاح کولو سره نفس په مجاهده او کوشش باندے عادت کیږی ځکه چه د کور او اهل وعیال خبر ساتل او د دوئ نگرانی کول او د هغوی د پرورش او تربیت په باره کښے مسلسل جدو جهد کول دی، او ددے مسلسل جد وجهد نتیجه دا کیږی چه انسان د بیکارئ او بے پرواهئ زندگی نه وړاندے کیږی چه دا ددهٔ دپاره په دنیاوی توگه هم فائده من دے۔ او ددے په وجه هغه دینی زندگی یعنی عبادات او طاعاتو کښے هم چست او تازه وی۔ لنډه دا چه وادهٔ د سړی او ښځے دپاره یو قسم بادشاهی ده چه سړے بهر کارونه سنبالوی او زنانه کورنئ چارے۔

## څلورم بحث : د نکاح اقسام :

فقهاءِ کرامو نکاح په پنځه قسمه تقسیم کړیده : (۱) کله واجبه وی، (۲) کله مستحبه، (۳) کله مباح، (٤) کله حرامه، (٥) او کله مکروه وی- ځوك چه په ځان باندے د زنا نه یریږی نو نفس د حرامو نه ساتل فرض دی- پدے وجه شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ فرمائی : ((که یو انسان نکاح ته حاجت لری او د هغے په پریخودو کښے د مشقت نه یریږی نو دا به په واجب حج باندے هم مقدم کوی ))- او نورو علماؤ وئیلی دی چه ددۀ دپاره دا د نفلی حج او مونځ او روژے او نورو نوافلو نه بهتره ده-

او دے وخت کښے مالداری هم ضروری نۀ ده ځکه چه رسول الله ﷺ یو سړی ته یوه ښځه په نکاح ورکړه چه د هغۀ د اُوسپنے د ګوتمے وس هم نۀ کیدو- او مستحب په هغه وخت ده چه شهوت موجود وی او د زنا نه یره نۀ وی، دا ځکه مستحب ده چه پدے کښے دغه مذکوره عظیم فوائد دی-

او په هغه وخت کښے مباح ده چه پوره شهوات ئے نۀ وی او نکاح ته ئے ډیر میلان نۀ وی، البته کله به پدے حالت کښے مکروه کیږی ځکه چه پدے کښے د زنانه خقوق نۀ پوره کیږی- (دارنګه په هغه وخت کښے مباح ده چه یو تن شهوت خو لری لیکن مال ورسره نۀ وی – (ابن عثیمینؒ)، او حافظ ابن حجرؒ وائی : چه موانع او دواعی نۀ وی نو مباح ده) او حرامه په هغه وخت کښے ده چه کله د حربی کافرانو په ملك کښے وی ځکه چه په دے کښے ددۀ اولاد ته خطره ده چه هغه به خراب شی او کافران به په هغے باندے غلبه وکړی، او دارنګه دے په خپله ښځه باندے هم د کفارو نه په امن نۀ وی-

نو حکم د نکاح د هر د شخص د حالاتو او د هغۀ د جسمانی او مالی قدرت او د مسؤولیت د تحمل د اختلاف په اعتبار سره مختلف کیږی ـ (الملخص الفقهی)

## پنځم بحث : د نکاح عقد او ارکان او شروط :

نکاح کښے یو څو خبرے ضروری وی چه د هغے پیژندل پکار دی : د نکاح د تړلو نه مخکښے خطبه لوستل مسنون دی، او هغه خطبه روستو باب کښے راځی کومه چه د ابن مسعود ﷺ په حدیث کښے تفصیلاً ذکر شویده چه د هغے سره به درے آیتونه

قرآني يو ځائے كړي. او بيا به ايجاب او قبول وكړي.

**اركان** : د نكاح درے اركان دي : (۱) [وُجُوْدُ الزَّوْجَيْنِ الْخَالِيَيْنِ مِنَ الْمَوَانِعِ الَّتِیْ تَمْنَعُ صِحَّةَ النِّكَاحِ] . ښځه او خاوند دواړه به موجود وي او د موانعو نه به خالي وي كوم چه نكاح خرابوي لكه مثلاً ښځه به د سړي داسے نزدے خپلوانه نۀ وي چه د هغے سره ئے نكاح حرامه وي، په نسب يا رضاع يا عدت وغيره سره. او داسے به نۀ وي چه سړے كافر او ښځه مسلمانه وي.

(۲) [حُصُوْلُ الْإِيْجَابِ وَهُوَ اللَّفْظُ الصَّادِرُ مِنَ الْوَلِيِّ اَوْ مَنْ يَّقُوْمُ مَقَامَهُ] . يعني د ولي يا د هغۀ د نائب د طرف نه به ايجاب (يعني د نكاح عرض او پيشكش) وي. چه سړي ته به داسے وائي : ما تا ته فلانئ په نكاح دركړه. يا ددے په شان نور الفاظ كوم چه په عرف كښے استعماليږي. (۳) [حُصُوْلُ الْقَبُوْلِ مِنَ الزَّوْجِ اَوْ نَائِبِهٖ] . يعني خاوند يا د هغۀ نائب به قبول كوي، يعني داسے لفظ به وائي چه ما دا نكاح او تزويج قبول كړو. او شيخ الاسلام ابن تيميهؒ او ابن القيمؒ دا غوره كړے چه نكاح په هر لفظ باندے كيږي چه عرف كښے ئے خلك استعمالوي، يوائے د اِنكاح او تزويج لفظ پورے خاص نۀ دے. او د چاړا قبول په ليكلو يا په اشارے سره صحيح كيږي. او هركله چه ايجاب او قبول وشو نو بس نكاح وشوه اګركه تلفظ كونكے توقے كوي او نكاح كول ئے مقصد نۀ وي، بيا هم نكاح وشوه. ځكه چه په نكاح كښے توقے هم د رشتياؤ په ځائے قائم دي لكه روستو به حديث راشي، ان شاء الله تعالیٰ. ليكن راجح دا ده چه د ولي د طرف نه يو ايجاب كافي دے كله چه خاطب مخكښے طلب كړے وي.

**شروط د نكاح** : د نكاح د صحت دپاره څلور شرطونه دي : (۱) [تَعْيِيْنُ كُلٍّ مِنَ الزَّوْجَيْنِ] . د ښځے او د خاوند هر يو تعيين كول ضروري دي. نو دا خبره به كافي نۀ وي چه داسے ورته ووائي چه ما تا ته خپله لور په نكاح دركړه. هركله چه ددۀ ډيرے لونړه وي، يا داسے ووائي : ما ستا ځوي ته لور يا خور دركړه هركله چه د سړي ډير ځامن وي. او دا تعيين په اشارے سره يا په نوم اخستو سره يا په خاصو صفتونو سره كيږي.

(۲) [رِضٰى كُلٍّ مِنَ الزَّوْجَيْنِ بِالْآخَرِ] . هر يو د ښځے او خاوند به راضي وي. لكه روستو به حديث راشي : [لَا تُنْكَحُ الْاَيِّمُ حَتّٰی تُسْتَاْمَرَ وَلَا الْبِكْرُ حَتّٰی تُسْتَاْذَنَ] (متفق عليه).

البته كه د دواړو نه يو ماشوم وي چه بلوغ ته نۀ وي رسيدلے يا معتوه وي نو د هغۀ

ولي د هغهٔ د اجازت نه بغیر هغه په نکاح ورکولے شي او هغهٔ دپاره قبول کولے شي.

(۳) [وَلِيُّ الْمَرْأَةِ]۔ ښځې دپاره ولي ضروري دے، بغیر د ولي نه ښځه په خپله خوښه چا ته په نکاح ځان نشي ورکولے۔ لکه روستو به حدیث راشي: [لَا نِكَاحَ اِلَّا بِوَلِيٍّ] (رواه الخمسة الا النسائی)۔ بغیر د ولي نه نکاح باطله ده۔ ځکه چه دا د زنا ذریعه ده، او ښځه خپل ځان دپاره اَصلح (برابر شخص) غوره کولو کښې قاصره ده۔

او ولي د ښځې د هغې پلار دے، یا هغهٔ چه چا ته ددے په باره کښے وصیت کړے وی، بیا د هغې نیکهٔ د پلار د طرف نه اګرکه بره نیکهٔ وی، بیا د ښځې ځوی، بیا نمسی اګرکه ښکته وی۔ بیا د ښځے سکهٔ ورونه، بیا ئے پلار شریك ورونه، بیا د هغوی ځامن۔ بیا د ښځے سکه ترهٔ بیا ئے ناسکه ترهٔ، بیا د هغوی ځامن۔ بیا نزدے عصبه نسبی، بیا معتِق (آزادونکے) بیا حاکم (بادشاه) دے۔

(٤) [اَلشَّهَادَةُ عَلَى عَقْدِ النِّكَاحِ] د نکاح د تړون په وخت دوه ګواهان موجودیدل ضروري دی، لکه روستو به حدیث راشي: [لَا نِكَاحَ اِلَّا بِوَلِيٍّ وَشَاهِدَىْ عَدْلٍ]۔ دا ئے ادنیٰ درجه ده، نور کوم خلك چه د نکاح په وخت حاضر وی دا ټول ګواهان دی۔

[الملخص الفقهی المعاصر للشیخ صالح بن عبد الله الفوزان]

(۵) شرط: اعلان د نکاح دے لکه چه روستو به راشي ان شاء الله۔

**مسئله**: نکاح په کومو الفاظو سره تړلے شي؟ پدے کښے درے اقوال دی: (۱) یو قول د شوافعوؒ او د بعض حنابلةؒ دے چه صرف په لفظ د نکاح او تزویج سره تړل واجب دی، او بعضو پکښے عربي شرط کړیده۔ او دلیل دا وائی چه دا دواړه لفظونه قرآن کریم کښے راغلي دی: (زَوَّجْنَاكَهَا) (وَلَا تَنْكِحُوا مَا نَكَحَ آبَاؤُكُمْ) نو دا دلیل دے چه دا دواړه لفظونه به متعین وی۔ او چا چه عربي شرط کړیده هغوی وئیلي دی چه نکاح عبادت دے نو ددے دپاره به شرعي منقول الفاظ استعمالولے شي۔ (لکه دا د بعض شوافعوؒ مذهب دے)

(۲) احناف، حنابلةؒ او مالکیةؒ وائی چه نکاح په هر هغه لفظ باندے صحیح کیږی چه په عرف کښے په نکاح باندے دلالت کوی او مقصد په هغے سره نکاح کول وی، برابره ده چه هبه لفظ وی، یا نکاح، یا تزویج یا ملکیت یا صدقه یا بیع وغیره۔

بیا پکښے (۳) احنافو وئیلي دی چه نکاح کښے به دواړه لفظونه یعنی ایجاب او قبول ماضي وی لکه داسے به وائی: زَوَّجْتُكَ۔ (ما په نکاح درکړیده) نو قبلونکے به وائی:

[تَزَوَّجْتُ یا قَبِلْتُ] یعنی ما په نکاح کړه، یا ما قبوله کړه۔ یا به یو لفظ ماضی وی او بل به مستقبل یعنی امر وی۔ لکه خاطب ووائی : [زَوِّجْنِیْ ابْنَتَكَ] ما ته دِے خپله لور (یا خور) په نکاح راکړه، نو پلار یا ورور ووائی : [زَوَّجْتُكَ] ما تا ته په نکاح درکړے۔

دوئ وائی ځکه چه ماضی د تحقق دپاره راځی او د ماضی معنیٰ به په حال سره کیږی ولے که مستقبل استعمال شی نو بیا ترے وعده د نکاح جوړیږی او د نکاح او د وعدے د نکاح ترمینځ فرق دے۔ لیکن پدے کښے غوره خبره دا ده چه نکاح عرف ته سپارلے شویده که په هر لفظ سره وی، ماضی وی یا امر وی، عربی وی، یا فارسی، یا بله ژبه۔

او د شوافعو عربیت شرط کول بے دلیله خبره ده، ځکه چه پدے باندے شرعی دلیل نشته چه رسول الله ﷺ عربی شرط کړی وی، یائے معین الفاظ شرط ګرځولی وی، بلکه په عام طور سره په لفظ د نکاح یا تزویج سره نکاح تړلے کیږی نو پدے وجه په احادیثو کښے دا الفاظ زیات استعمال شویدی او دا په شرطیت باندے دلالت نکوی۔

دویم دا چه نکاح یو عقد دے او په عقودو کښے په الفاظو سره تعبّد نهٔ دے نقل۔ دا وجه ده چه په عقودو کښے ایمان هم شرط نهٔ دے بلکه کافر هم عقود کولے شی، نکاح تړلے شی۔ او هر هغه شے چه د کافر نه صحیح کیږی نو په هغے کښے تعبّد نهٔ وی۔ کما قال شیخ الاسلام ابن تیمیة فی [مجموع الفتاوی : ۳۲/۱۵-۱۷]۔

## یوه شرعی قاعده

او دا خبره چه نکاح عرف ته سپارلے شویده په هر لفظ سره کیږی چه هر عرف والائے په خپله ژبه کښے استعمالوی، دا خبره یوے قاعدے ته محتاج ده، او هغه دا چه شرعی الفاظ لکه نکاح، خف، جورب وغیره ددے بیان په درے قسمه دے (أ) یو هغه دے چه الله تعالیٰ او د هغهٔ رسول ﷺ د هغے بیان وکړی نو بیا د بل چا بیان ته ضرورت نهٔ وی لکه د صلاة، زکاة، خمر (کل مسکر خمر) بیان رسول الله ﷺ کړیدے۔ (ب) که په شرع کښے بیان نهٔ وی نو بیا به د عربو لغت ته رجوع کیږی لکه د خف، حافر او نصل بیان نبی ﷺ نهٔ دے کړے پدے قول خپل کښے : [لَا سَبَقَ اِلَّا فِیْ خُفٍّ اَوْ فِیْ حَافِرٍ اَوْ نَصْلٍ] ۔ [أبوداود : ۲۵۷۶]۔(مسابقه نشته مګر په خف یا په حافر یا په غشی کښے ده) نو په لغت کښے خف هر هغه حیوان ته وائی چه خپه ئے د اُوښے په شان وی او حافر د اس د خپے دپاره استعمالیږی او نصل غشی ته وائی۔ نو په لغت کښے چه دا لفظ کوم شی

دپاره استعمالیږی همدغه به د نبی ﷺ مراد وی۔ (ج) که الله تعالیٰ او د هغهٔ رسول هم نهٔ وی بیان کړی او لغوی معنیٰ سره هم د هغې نه خلکو ته فائده نهٔ حاصلیږی، او د هغې نه مقصد نهٔ حاصلیږی، نو بیا به عرف ته رجوع کیږی لکه د سفر لفظ شو چه شریعت ددے تعیین نهٔ دے کړے۔ دارنګه د نکاح دپاره الفاظ په شریعت کښې نقل نهٔ دی۔ نو عرف هم د شریعت او د لغت نه روستو دلیل دے پدے شرط چه دا عرف د شریعت مخالف نهٔ وی۔ دا قاعده شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ په مجموع الفتاوی (۲۱) جلد کښې او سیوطیؒ په «الاشباه والنظائر فی الفقه» او خالد سیف الله په "جدید فقهی مسائل" کښې مفصل بیان کړیده۔

**مسئله : نکاح افضل ده او که عبادت ته ځان فارغول او نکاح پریخودل ؟**

(۱) امام شافعیؒ فرمائی : کله چه انسان د زنا نه یریږی نو بیا ورله نکاح واجب ده او که ډیر ضرورت نهٔ لری نو بیا تخلی للعبادة (یعنی عبادت ته ځان فارغول) افضل دی۔ دلیل دا دے چه یحیی ﷺ نکاح نهٔ وه کړے قرآن کریم کښې دی : [وَسَيِّدًا وَحَصُورًا] [آلعمران : ۳۹]۔ (یعنی بند به وی د نکاح نه)۔ لیکن دا قول ضعیف دے، وجه دا ده چه دا د پخوانو شریعت وو، او زمونږ په شریعت کښې نکاح کول افضل دی د وجه د هغه احادیثو نه چه نبی ﷺ په هغې کښې نکاح ته ترغیب ورکړے او ددے فضائل ئے بیان کړی، او د مخکنو په شریعت باندے استدلال هله صحیح وی چه کله زمونږ د دین خلاف نهٔ وی۔ ددے وجه نه عبد الله بن عباس ﷺ فرمائی : [فَإِنَّ خَيْرَ هٰذِهِ الْأُمَّةِ أَكْثَرُهَا نِسَاءً] [صحیح بخاری : ۵۰۶۹]۔ (پدے امت کښې بهتر انسان هغه ځوك دے چه د هغهٔ بیبیانے زیاتے وی)۔ او که د یحیی ﷺ حالت هم دلیل شی نو بیا زمونږ د نبی ﷺ عمل ئے معارض دے چه هغهٔ نهه یا یولس بیبیانے کړے وے۔

دارنګه نبی ﷺ هغه صحابه کرامو باندے د هغوی کار رد کړو چه هغوی وئیلی وو مونږ به زنانو سره وادهٔ نکوو نبی ﷺ وفرمایل : [لٰكِنِّي أَتَزَوَّجُ النِّسَاءَ ...... فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِي فَلَيْسَ مِنِّي]۔ (ما د زنانو سره وادهٔ کړے ...... نو چا چه زما د سنت نه اعراض وکړو هغه زما نه نهٔ دے)۔ نو بغیر د ضرورت نه وادهٔ پریخودل د سنت نه اعراض دے۔

بلکه دا چه نکاح کښې ډیر فوائد او عبادات راجمع دی کوم چه مخکښې بیان شو۔

۳– مذهب د داود ظاهريؒ او د ابن حزمؒ او اهل الظاهرؒ دا دے چه څوك په نکاح قادر وی د هغهٔ دپاره نکاح فرض ده، دویٔ وائی : نبی ﷺ په نکاح باندے امر کړے [فَلْيَتَزَوَّجْ – تَزَوَّجُوا الْوَدُوْدَ الْوَلُوْدَ]۔ او دا خو ښکاره خبره ده چه امر خالی د قرینے نه د وجوب دپاره دے، او قرآن کریم کښے الله تعالیٰ فرمائیلی دی: [فَلْيَحْذَرِ الَّذِيْنَ يُخَالِفُوْنَ عَنْ اَمْرِهٖٓ اَنْ تُصِيْبَهُمْ فِتْنَةٌ اَوْ يُصِيْبَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ] ۔[النور:٦٣]۔ څوك چه د نبی ﷺ د حکم مخالفت کوی هغه دِے ویرېږی چه هغوی ته به فتنه یا دردناك عذاب ورسیږی۔

او عمل د بعض صحابه کرامو او د بعض علماؤ محمول دے په حالت د عذر د هغوی باندے لکه ابن تیمیه رحمه الله او امام نووی رحمه الله وادهٔ نهٔ وو کړے۔

پدے کښے د اهل ظاهرو مذهب اقویٰ (ډیر قوی) دے او د احنافو وغیره ؤ قوی دے چه واجب او سنت ورته وائی، او دریمه درجه کښے د شوافعوؒ مذهب دے۔

بیا د هر کتاب لاندے باب وی نو دلته یو باب پټ دے: [بَابُ تَرْغِيْبِ النِّكَاحِ یا بَابُ فَضَائِلِ النِّكَاحِ]۔ د نکاح ترغیب یا د نکاح د فضائلو بیان۔

باقی احکام او تفصیلات به روستو حدیثونو کښے راځی۔

## الفصل الأول

## ځوانانو ته د نکاح کولو حکم او د نکاح فضیلت

3080 (1) – عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ ؓ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : **يَا مَعْشَرَ الشَّبَابِ ! مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمُ الْبَاءَةَ فَلْيَتَزَوَّجْ، فَإِنَّهُ أَغَضُّ لِلْبَصَرِ، وَأَحْصَنُ لِلْفَرْجِ، وَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ، فَإِنَّهُ لَهُ وِجَاءٌ.** مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

**ترجمه** : عبد الله بن مسعود ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمایل : اے د ځوانانو ډلے ! په تاسو کښے چه څوك د نکاح طاقت لری، نو هغه دِے نکاح وکړی، ځکه نکاح نظر ښکته کونکے او د شرمگاه حفاظت کونکے ده۔ او څوك چه ددے طاقت نهٔ لری نو هغهٔ له پکار دی چه روژے ونیسی ځکه روژه ددهٔ د خواهشاتو ختمونکے ده۔ (بخاريؒ، مسلمؒ)۔

**تشریح** : [يَا مَعْشَرَ] معشر هغه ټولگی ته وائی چه هغه په یو صفت کښے راجمع وی، لکه د ځوانانو ټولگے، د بوډاگانو ټولگے، د ښځو ټولگے، د ظالب علمانو ټولگے، د

علماؤ تهولګي- او داسې نور- او دا اسم جمع ده، ددې لفظ نه ئې واحد نشته، او جمع ئې معاشر ده- [الشَّبَاب] جمع د شابّ ده، ددې په ماده کښې حرکت او نشاط (تازګي) پرته ده، ځکه انسان په خپل اولني عمر کښې د آخرني عمر په نسبت زيات حرکت او تازګي لري- دا د شَبَّ يَشِبُّ نه ماخوذ دې، بليدو او لمبې ته وائي، د ځوان هلك طاقتونه هم تازه او بليدونکي وي- د شاب جمع شَبَابٌ، شُبَّانٌ او شَبَبَةٌ راځي-

شاب (ځوان) هغه چاته وائي چه هغه د بالغيدو نه تر ديرش کالو پورې عمر لري، بعض وائي : دوه ديرشتو پورې او بعض نور وائي : څلويښتو کالو پورې-

[شرح النووی علی مسلم: ۱۸۲/۹، الاعلام لابن الملقن: ۱۰/۸]

او رسول الله ﷺ په خصوصي توګه ځوانانو ته ځکه خطاب کړې چه دوئ کښې، د پخو سړو او بوډاګانو په نسبت، د جماع خواهش او طاقت زيات وي- اوکه په بوډا يا پاخهٔ عمر سړي کښې دا طاقت وي نو هغه هم د ځوان په حکم کښې دې- [الْبَاءَةَ] بائة په اصل کښې کور او منزل ته وائي ځکه څوك چه ښځې سره وادهٔ کويَ نو هغه خپل کور ته راولي او د کور بندو بست ورله کوي- [اَيِ الْمَوْضِعُ الَّذِیْ يَتَبَوَّؤُهُ] (يعني هغه ځائ چه دې ئې تياره وي) په دې کښې څلور لغته جائز دي : (بَاءَةٌ) په مد او تاء سره، او دا فصيح او مشهور لغت دې- (بَاةٌ) په غير د مد نه- (بَاءٌ) په غير د تاء نه- (بَاهَةٌ) په هاء او تاء سره-

امام نوويؒ ليکي : ددې په معنیٰ کښې دوه قوله دي چه د دواړو رجوع يوې معنې ته کيږي : (أ) ددې نه مراد جماع او قوت د جماع دې، او معنیٰ ئې داده : چه څوك په تاسو کښې د جماع طاقت او قوت لري پدې وجه چه د نکاح د اسبابو لکه مهر او نفقې باندې قدرت لري نو هغه دې وادهٔ وکړي- او څوك چه د جماع طاقت نهٔ لري پدې وجه چه د هغې مشقتونه نشي برداشت کولې نو هغه دې روژې ونيسي- (ب) يا ددې نه مراد [مُؤَنُ النِّکَاحِ] د نکاح مصارف او خرچې دي لکه مهر او نفقه- او دا دويمه معنیٰ زياته غوره ده، ځکه (أ) خطاب هغه چاته دې چه هغوئ د جماع طاقت لري يعني ځوانان، نو کله چه دوئ د جماع طاقت لري نو بيا څنګه دوئ ته وائي چه په تاسو کښې څوك د جماع طاقت لري- (ب) دلته وئيل شوي دي چه [وَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ] او د جماع نه عاجز د شهوت ختمولو دپاره روژې ته حاجت نهٔ لري- (شرح مسلم) (ج) د نسائيؒ په روايت کښې دي :[مَنْ كَانَ مِنْكُمْ ذَا طَوْلٍ فَلْيَتَزَوَّجْ ] (څوك چه په تاسو کښې د وادهٔ کولو

طاقت لري هغه دې واده وکړي)۔ خو که عامه معنیٰ واخستے شي چه جماع او د واده مصارفو ته شامله وي نو دا هم صحیح ده۔ لکه د اسماعیلیؒ په روایت کښې دي: [مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ أَنْ يَتَزَوَّجَ فَلْيَتَزَوَّجْ] [فَإِنَّهُ] ضمیر تَزَوُّجَ ته راجع دے چه په [فَلْيَتَزَوَّجْ] کښې پروت دے۔ لکه په ﴿اِعْدِلُوْا هُوَ اَقْرَبُ لِلتَّقْوٰی﴾ [المائدة: ۸] کښې (هُوَ) ضمیر عدل ته راجع دے کوم چه په [اِعْدِلُوْا] کښې پروت دے۔

[وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ] ددے ضمیر صرف مؤنة النکاح (اسباب د نکاح) ته راجع دے په طریقه د صنعة استخدام غیر مشهور سره۔ [أَغَضُّ لِلْبَصَرِ] زیات ښکته کونکے دے د واده کونکی نظر لره پردو ښځو ته د کتلو نه۔ خو دے سره ایمان شرط دے، که قوی ایمان نهٔ وي نو په څلورو نکاحونو هم حفاظت نهٔ کیږي۔

[وَأَحْصَنُ لِلْفَرْجِ] او زیات حفاظت کونکے دے عورت لره د خراب استعمالیدو نه۔ په دواړه ځایه کښې دا صیغې د اسم تفضیل دي، او مطلب دا چه د ایمان په وجه هم انسان ته دا دواړه څیزونه حاصلیږي، لیکن بیا د واده په وجه ډیر ښهٔ حاصلیږي۔ [وِجَاءٌ] د واؤ په زیر سره، وِجاء په لغت کښې چونډاره لګول، څکونډلو او چقولو او ټکولو ته وائی۔ دارنګه په اصل کښې حیوان خصی کولو ته وائی چه د هغهٔ د هګو رګونه په کاڼړي سره وټکول شي یا ترے اُوبنکل شي نو شهوت ئې ختم شي څکه هګیٔ د منی اصلاح او پخلے کوي نو کله چه ددے نظام خراب شي نو دے سره شهوت ختمیږي۔ نو وِجاء دلته خصي کولو او شهوت کمزورے کولو ته وائی۔ یعنی دا روژه نیول ددهٔ دپاره داسے دي لکه د حیوان دپاره خصي کول۔ د روژے او وجاء ترمینځه مشابهت دادے چه دا دواړه شهوت کمزورے کوي او د منی شر ختموي، څکه خصي کیدو سره هم شهوت ختمیږي او د روژے په وجه هم د خوراك څښکاك د کمیدو په وجه شهوت کمیږي۔

❁ او دا فائده په روژه کښې ده، نهٔ په مطلق امساك او خوراك څښاك بندولو کښې۔ څکه داسے ئې ورته نهٔ دي فرمایلي چه خوراك څکاك کم کړئ۔ په روژه کښې په مسلمان کښې د الله تعالیٰ د یرے یو کیفیت پیدا کیږي چه د هغے په وجه هم دے د خرابو خویونو نه بندیدے شي۔ (البحر المحیط الثجاج شرح صحیح مسلم بن الحجاج ۲۵/۲۱)

**مسائل او فوائد:** (۱) په حدیث کښې هغه چاته د نکاح کولو ترغیب ورکړے شوے چه هغه د واده مصارف او اخراجات برداشت کولے شي، څکه په دے کښې ډیر منافع او

مصالح دي.

(٢) حدیث نه معلومه شوه چه نکاح کول واجب دي ځکه په دې باندې امر راغلے، خو دا هغه چه په انسان کښې شهوت وي او د وادهٔ نهٔ کولو په صورت کښې د زنا، نه یریږي، او د وادهٔ په مصارفو باندې قادر وي. او په عامو حالاتو کښې چه کله انسان د زنا خطره نهٔ محسوسوي او د وادهٔ مصارف برداشت کولے شي نو بیا وادهٔ کول مسنون او مستحب دي. لکه مخکښې ذکر شو. (٣) په حدیث کښې د نکاح کولو عظیم **حکمت** ذکر شوے، او هغه دا چه په دې سره د ښځې او خاوند دواړو حفاظت راځي، نظر او شرمګاه ئې صحیح استعمالیږي. او په دې سره په ګناه کښې د پریوتو نه محفوظ وي. او دا د نکاح د غټو مقاصدو نه یو مقصد دے.

(٤) او حدیث دلیل دے چه انسان د وادهٔ مصارف نهٔ مومي نو هغهٔ دپاره قرض وغیره راخستل مناسب نهٔ دي، ځکه نبي کریم ﷺ د استطاعت نهٔ موندلو په صورت کښې د روژے حکم کړے. الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وَلْيَسْتَعْفِفِ الَّذِينَ لَا يَجِدُونَ نِكَاحًا حَتَّىٰ يُغْنِيَهُمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ﴾ [النور: ٣٣] شیخ الاسلام ابن تیمیهٔ فرمائي: د آیت ظاهر دادے چه فقیر له مناسب نهٔ دي چه د وادهٔ دپاره قرض وکړي، بلکه په دهٔ واجب دي چه خپل ځان پاکدامن ساتي. [الفتاوی: ٦/٣٢، أضواء البیان: ٦/٢١٩، للشنقیطی وشرح ابن عثیمین]

(٥) علامه خطابیؒ ذکر کړي چه د دې حدیث نه معلومیږي چه د شهوت بندولو دپاره دوائي استعمالول جائز دي، خو مناسبه نهٔ ده چه انسان خپل شهوت بیخي ختم کړي، البته په دوائي وغیره سره ددې کمول جائز دي، لکه څنګه چه په روژے سره کمیږي. بیخي ختمول ئې د دوو وجو نه منع دي: (أ) که اوس قادر نهٔ وي نو کیدے شي چه په آینده زمانه کښې په دې قادر شي او د وادهٔ اسباب مهیا کړي. او الله تعالیٰ د پاکدامنئ اختیارونکي سره وعده کړے چه هغه به په خپل فضل سره بے پرواه کوي. (ب) د اهلِ علمو په دې اجماع ده چه ځان خصي کول او خپل اندام د ستي نه ویستل منع دي، نو ددې په حکم کښې هر هغه دوائي هم داخله ده چه په هغې سره بیخي شهوت ختمیږي.

(٦) او حدیث نه معلومه شوه چه اِسْتِمْنَاء بِالْيَد (خپل لاس سره مني ویستل) منع دي، ځکه که دا مباح وے نو نبي ﷺ به ځوانانو ته دا ښودلے وے ځکه دا آسان هم دے او په دې کښې لذت هم شته. شیخ الاسلام ابن تیمیهٔ فرمائي: د هغه چا خبرے له هیڅ

اعتبار نشته چه د شهوت قلارولو دپاره ئې دیته جائز وئیلی، ځکه په دې کار کښې ډېر ضَرَرُ دې، حقه خبره داده چه دا جائز نهٔ دې، نهٔ د شهوت قلارولو دپاره او نهٔ د بل مقصد دپاره۔ [الفتاوی: ۱۰/۵۷۳] ددې حرمت د راتلونکې آیتِ کریمه نه هم معلومیږی:
﴿وَالَّذِيْنَ هُمْ لِفُرُوْجِهِمْ حَافِظُوْنَ اِلَّا عَلٰى اَزْوَاجِهِمْ اَوْ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُمْ فَاِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُوْمِيْنَ فَمَنِ ابْتَغٰى وَرَآءَ ذٰلِكَ فَاُوْلٰئِكَ هُمُ الْعَادُوْنَ﴾ [المؤمنون: ۵ ـ ۷] نو د ښځو او وینځو نه علاوه بل یو شې اختیارولو ته تجاوز وئیل شوې او تجاوز حرام دې۔

✽ بعضِ باحثینو دا ثابته کړې چه په دې کار کښې ډېر زیات اضرار دی۔ په دې سره نظر کمزورې کیږی، طاقتونه کمزوری کیږی، اعصاب ضعیفه کیږی، عضوِ تناسل کمزورې کیږی او په دې کښې داسې سستی راځی چه هغه په کور والی باندې هم اثر کوی، ددې په وجه سُرعتِ انزال بیماری پیدا کیږی۔ او یو ضررئې دا هم دې چه د وادهٔ کولو نه پس هم ځینې عادتیان ددې نه نهٔ اوړی۔ [رسالة: الاستقصاء لأدلة تحريم الاستمناء للحسيني الادريسي] بعضِ علماؤ د زنا د خطرې په وخت په دې کښې اجازت ورکړې، او دا د احمدؒ وغیره قول دې۔ پاتې شو په غیر د ضرورت نه نور په دې کښې هیڅ اجازت نهٔ دې ورکړې۔ والله تعالیٰ اعلم۔

[الفتاوی: ۱۰/۵۷۳، بدائع الفوائد: ۴/۱۴۷۱ وفتح ذی الجلال والاکرام ۴/۴۲۴]

(۷) دا د اسلام سماحت او آسانی ده چه کله یو شې ګران وی نو اسلام د هغې بدیل او متبادل ذکر کوی۔ (ومن لم یستطع فعلیه بالصوم) نه معلومیږی۔

په **نکاح کښې اختلاف**: (۱) یو قول کښې امام احمدؒ، داود بن علیؒ، ابن حزمؒ، ابوعوانه اسفرائینیؒ په نیز نکاح کول واجب دی۔ او دلیل ئې هغه امرونه دی چه په دې باره کښې راغلی۔ لکه ارشاد دې: ﴿فَانْكِحُوْا مَا طَابَ لَكُمْ مِّنَ النِّسَآءِ﴾ [النساء: ۳] (کومو ښځو سره چه ستاسو خوښه وی، نکاح وکړئ) ﴿وَاَنْكِحُوا الْاَيَامٰى مِنْكُمْ﴾ (بې وادهٔ والو له وادهٔ وکړئ)۔ یا لکه حدیث الباب۔ بله دا چه نکاح عبادت دې او رسول الله ﷺ د وادهٔ نه اعراض کولو بدی بیان کړې، فرمائیلی ئې دی: [وَاَتَزَوَّجُ النِّسَاءَ فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِىْ فَلَيْسَ مِنِّىْ]۔ (۲) د جمهورو اهلِ علمو په نیز نکاح کول مسنون او مستحب دی۔ (أ) دلیل ئې هغه آیت کریمه دې کوم چه پورته ذکر شو۔ طریقه د استدلال داده چه په دې کښې ئې د هغه چا مدح کړې چه هغه د وادهٔ په بدل کښې د خپلې وینځې په ساتلو سره

خپل ځان د زنا نه بچ کوی۔ نو که وادهٔ کول واجب وے نو ددے د پرېښودونکی مدح به نهٔ کیدلے، ځکه د واجبو تارك ممدوح نهٔ بلکه مذموم وی۔ (ب) حدیث الباب کښے ئے روژه د وادهٔ قائم مقام گرځولے۔ او غیر واجب د واجبو قائم مقام نهٔ گرځی۔ (خو دا دلیل دومره قوی نهٔ دے)۔

**راجحه** داده چه په دوه شرطونو سره نکاح واجب ده: (أ) چه شهوت لری۔ (ب) او په نان، نفقه او مهر باندے قادر وی۔ اوکه شهوت ئے نهٔ لرلو او په نان نفقه باندے هم قادر نهٔ وو نو بیا حرامه ده، ځکه په دے کښے د ښځے حق ضائع کول دی۔ دارنگه که د انسان دا گمان وو چه حق نشم ادا کولے او ظلم به رانه وشی نو بیا حرامه ده۔ او دلیل ئے حدیث الباب دے۔ والله تعالىٰ اعلم۔

## د تبتل (بے نکاحئ) نه منع

3081 (2) –وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ ﷺ قَالَ: رَدَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَلٰى عُثْمَانَ بْنِ مَظْعُوْنِ التَّبَتُّلَ وَلَوْ أَذِنَ لَهُ لَاخْتَصَيْنَا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

**ترجمه**: سعد بن ابی وقاص ﷺ نه روایت دے فرمائی چه رسول الله ﷺ په عثمان بن مظعون ﷺ باندے بے نکاحی رد کړه او که چرے هغهٔ ته ئے اجازت ورکړے وے نو مونږ به ضرور خپل شهوت ختم کړے وے۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

**تشریح**: [اَلتَّبَتُّلِ] د بَتْل نه دے، تبتل انقطاع ته وائی، دلته مراد د وادهٔ کولو او د ازدواجی تعلق نه کناره کشی کول او عبادت دپاره ځان وزگارول دی۔

[لَاخْتَصَيْنَا] طیبیؒ وائی: ظاهر دا ده چه داسے ووائی: [وَلَوْ اَذِنَ لَهُ لَتَبَتَّلْنَا]۔ (که هغهٔ ته ئے اجازت ورکړے وے نو مونږ به تبتل کولے او ځانونه به مو د ښځو نه جدا ساتلی وے) لیکن دلته ئے د تبتل لفظ نه اختصاء ته د مبالغے پیدا کولو دپاره عدول وکړو، او مطلب دا دے چه مونږ به په تبتل کښے داسے مبالغه کړے وے چه خبره به خصی کیدو ته رسیدلی وے، او حقیقةً خصی کیدل نهٔ دی مراد ځکه چه هغه حرام دی۔ (یعنی مونږ به ځانونه د ښځو نه داسے ساتلی وے لکه خصی انسان چه د ښځے نه ځان ساتی)

*بعض وائی*: بلکه دا کلام په خپل ظاهر باندے بناء دے، او دا خبره په هغه وخت کښے وه چه د خصی کیدو نه منع نهٔ وه راغلے، او ددے تائید په دے سره کیږی چه یو جماعت د

صحابه کرامو د نبی کریم ﷺ نه ددې په باره کښې اجازت غوښتے وو۔ لکه ابو هریره ﷺ او ابن مسعود ﷺ۔ او په اختصاء سره ئې تعبیر وکړو ځکه چه پدې کښې ډیر کمال دے، ځکه چه اعلیٰ درجه تبتل ته انسان هله رسیدلے شی چه د خپلو شهواتو آلات او اسباب ختم کړی۔ او مطلب دا دے چه که عثمان ﷺ ته ئې د نکاح د پریخودو اجازت ورکړے وے نو مونږ به د شهواتو آلات هم ختم کړی وے، چه اعلیٰ درجه تبتل حاصل شوے وے۔

د حدیث مطلب دا دے چه عثمان بن مظعون ﷺ یو عبادت گذار او د الله تعالیٰ په مینه مست صحابی وو، هغۀ د رسول الله ﷺ نه مطالبه وکړه چه اے د الله رسوله ! ما ته اجازه راکړه چه زۀ د الله تعالیٰ بندگیٔ ته ځان وزگار کړم او وادۀ ونکړم نو رسول الله ﷺ ددے کار نه منع کړو او ورته فرمائیل چه تا له دا کار کول جائز نۀ دی۔ ځکه چه په بل حدیث کښې دی چه دے ته رهبانیت وائی۔ او په اسلام کښې رهبانیت نشته۔ (المفهم)

مهلبؒ وائی : نبی ﷺ د تبتل او ترهب (پیریٔ) نه پدے وجه منع کړو چه نبی ﷺ به د قیامت په ورځ د خپل امت په ډیر والی سره په نورو امتونو باندے فخر کوی۔ او په دنیا کښې به د دویٔ په وجه د کافرانو سره قتال کوی، او په آخره زمانه کښې به د دجال سره قتال کوی، نو نبی ﷺ د امت دپاره د نسل زیاتول غوښتل۔

**فوائد او مسائل** : (١) د تبتل دوه معانی دی (أ) یو دا چه ځان د وادۀ نه بالکلیه ساتل چه هیڅکله وادۀ نۀ کوی او حلال څیزونه په ځان حرام کړی۔ لکه د صوفیاؤ کناره کشی او چیلے ویستل۔ (ب) دویم : طبریؒ وائی : تبتل دا معنیٰ هم ده چه د دنیا مزے او لذات او شهوات پریخودل او الله تعالیٰ ته د هغۀ د عباداتو دپاره ځان فارغول۔ او د عثمان ﷺ د تبتل نه مراد په ځان باندے د زنانو حرامول او پاك او مزیدار څیزونه منع کول وو نو ددے وجه نه د هغۀ په باره کښې دا آیت نازل شوے وو : [یَا اَیُّهَا الَّذِیْنَ آمَنُوْا لَا تُحَرِّمُوْا طَیِّبَاتِ مَا أَحَلَّ اللّٰهُ لَكُمْ]۔ امام نوویؒ فرمائی : نو دلته به د تبتل رد کولو معنیٰ دا وی چه نبی ﷺ عثمان بن مظعون ﷺ ددے قسم تبتل نه منع کړو، خو دا د هغه چا دپاره منع دے چه د هغۀ د نکاح خواهش وی او د نکاح اسباب او نان نفقے وس ئې وی، یا دا قسم تبتل هغه چا دپاره صحیح نۀ دے چه د ډیرو گرانو عباداتو کولو په وجه تبتل د هغۀ نفس ته ضرر ورکړے وی، او هرچه د شهواتو او مزو نه اعراض کول چه نفس ته ئې ضرر

نهٔ ورکوی او د بی بی او نورو خلکو حق تربے نهٔ فوت کوی نو دا فضیلت دے، ددے نه منع نشته بلکه دا مامور به دے۔ (شرح مسلم)

(٢) د اختصاء نه شریعت منع وکړه ځکه چه پدے کښے د فائدے په نسبت ضرر زیات دے، ځکه چه پدے کښے د طیباتو (حلالو مزو) نه منع کیدل دی، او پدے سره نسل قطع کیږی او د سړی کرامت او عزت کمیږی۔ اختصاء د خصیة نه دے، هګئ تکول یا ویستل ددے دپاره چه شهوات ختم شی۔ چونکه خُصیه منی پخوی او هغه شاربی پدے وجه دا د شهواتو د راپیدا کیدو ذریعه وی او چه کله دا بیخی اُوبِنکلے شی یا سخت وتکول شی نو شهوات مات شی۔

(٣) د صحابه کرامو ﷺ د الله تعالیٰ د بندګئ او طاعت سره انتهائی زیات حرص او شوق وو۔

(٤) **مسئله** : آیا په اسلام کښے خصی کول جائز دی؟ **جواب** دا دے چه اختصاء په دوه قسمه ده (أ) یو د انسان ده۔ (ب) او بل د حیواناتو۔ د انسان خصاء حرامه ده۔ او دا په مُثله کښے داخلیږی۔ (١) او دلیل د حرمت ئے دا حدیث الباب دے، (٢) دلیل : د ابو هریره ﷺ حدیث په باب القدر کښے تیر شوے : چه ابو هریره ﷺ نبی ﷺ ته عرض وکړو چه زهٔ یو ځوان سړے یم په خپل ځان باندے د (شهوت د) مشقت نه یریږم او د زنانو سره د نکاح طاقت مے هم نشته نو آیا زهٔ ځان خصی کړم؟ نبی ﷺ وفرمایل : [یَا اَبَا هُرَیْرَةَ جَفَّ الْقَلَمُ بِمَا اَنْتَ لَاقٍ فَاخْتَصِ عَلٰی ذٰلِكَ اَوْ ذَرْ] [بخاری : ٥٠٧٦، نسائی : ٣٢١٥]

اے ابو هریره! تهٔ چه څه کوے په هغے باندے تقدیر لیکلے شوے لهذا که تهٔ خصاء کوے یا ئے پریدے (دواړه برابر دی– مطلب ئے ددے نه منع کول دی) نو دلته نبی ﷺ اجازت ورنکړو۔

(٣) دلیل : [مَنْ خَصٰي عَبْدَهُ خَصَیْنَاهُ] [نسائی: ٤٧٦٨، ابوداود : ٤٥١٨]

چا چه خپل غلام خصی کړو مونږ به هغه خصی کوو۔ لیکن دا روایت ضعیف دے۔ او روستو باب الدیات کښے ئے تحقیق راځی۔

(٤) دلیل : ابن شهابؒ وائی: عثمان بن مظعون ﷺ اراده وکړه چه خصاء وکړی او په زمکه کښے وګرځی، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : آیا ستا دپاره په ما کښے اُسوه حسنه (ښائسته اقتداء) نشته؟ زهٔ خو زنانو ته راتلل کوم او غوښه خورم او روژے نیسم

او کوجه کیږم، [اِنَّ خِصَاءَ اُمَّتِیَ الصِّیَامُ، وَلَیْسَ مِنْ اُمَّتِیْ مَنْ خَصٰی اَوِ اخْتَصٰی] [ابن سعد : ٣٩٤/٣، الصحیحة : ٣٢٩/٤ رقم : ١٨٣٠ اسناده جید] زما د امتي خصاء روژې نیول دی، او هغه څوك زما د امت نه نهٔ دے چه بل له خصاء کوي یا ځان له.

ددے په حرمت کښے حکمت دا دے چه شهوت انسان ته دے دپاره ورکړے شوے چه بقاء د نسلِ انساني وشي. دارنګه د الله تعالیٰ د طرف نه په بندګانو ابتلاء او امتحان دے چه آیا دوئ دا شهوت په حرامو کښے استعمالوی او که په حلالو کښے؟ نورے وجے مخکښے ذکر شوے.

**دویم :** خصاء الحیوان دے، د حیوان خصاء په دوه قسمه ده : (أ) یو هغه حیوان چه غیر مأکول اللحم وی، یعنی چه د هغے غوښه نهٔ خوړل کیږی لکه خر، قچر وغیره نو دا هم حرام دے ځکه چه پدے سره حیوان ته بغیر د فائدے نه ضرر ملاویږی او په شریعت کښے حیواناتو ته هم ضرر ورکول حرام کړے شویدی. (ب) دویم هغه حیوان چه د هغے غوښه خوړلے کیږی نو د هغے بلوغ ته د رسیدو نه مخکښے په وړوکوالی کښے خصاء جائز ده او د بلوغ نه روستو نهٔ ده، او دا فرق شوافعوؒ علماؤ کړیدے او په احادیثو کښے نشته، وجه ئے دا بیان کړے چه د بلوغ نه مخکښے حیوان د لذت زمانے ته نهٔ وی رسیدلے نو د هغے خصاء جائز ده ځکه چه هغهٔ ته پکښے ضرر نهٔ وی او د بلوغ نه روستو د حیوان نه لذت او خوند ختمول دی نو هغهٔ ته پدے سره ضرر ملاویږی. خو دوئ ورسره دا شرط هم لګولے چه د خصاء په وجه به حیوان ته هلاکت نهٔ رسیږی، مری به نهٔ.

او بعض علماء وائی چه مطلقاً د حیواناتو خصاء جائز نهٔ ده برابره ده چه ماکول اللحم وی او که غیر مأکول اللحم، لوی وی او که واړهٔ، دلیل ئے حدیث د ابن عباس رضي الله عنه دے چه بزار کښے راغلے او شیخ شوکانیؒ ورته اسنادِ صحیح وئیلے دے : [اِنَّ النَّبِیَّ ﷺ نَهٰی عَنْ صَبْرِ الرُّوْحِ وَعَنْ اِخْصَاءِ الْبَهَائِمِ نَهْیًا شَدِیْدًا] [البزار، والسنن الکبری للبیهقی]. (نبی علیه السلام ..........د ځاروو د خصاء نه په سختئ سره منع کړیده) شیخ البانیؒ وائی : پدے سند کښے ضعف دے، لیکن ددے تائید حدیث د احمدؒ او طحاویؒ کوی، ابن عمر رضي الله عنه فرمائی : [نَهٰی رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنْ اِخْصَاءِ الْخَیْلِ وَالْبَهَائِمِ] [احمد : ٤٧٦٩، طحاوی : باسناد ضعیف وموقوفه هو الصحیح، وقال الالبانی حسن بمجموع الطرق – غایة المرام : رقم : ٤٨٢].

رسول الله ﷺ دِ اسونو او د ځاروو د خصاء نه منع فرمائیلے ده. بیا ابن عمر رضي الله عنه

وفرمايل : [فِيهَا نَمَاءُ الْخَلْقِ] په حيواناتو كښې په خصاء سره د غوښې زياتيدل راځي۔
علامه شوكانيؒ ددې حديث لاندې ليكي : دا حديث د حيواناتو د خصي كولو په تحريم باندې دليل دې۔ او دا قول د ابن عمر ﷺ چه په دې كښې د غوښې زياتيدل راځي نو په دې كښې اشاره ده چه په خصاء سره حيوان چاقيږي او غوښه ئې زياتيږي، ليكن داسې نۀ ده چه هر هغه شے چه فائده رابنكاري نو هغه به حلال وي بلكه مانع نۀ كيدل هم ضروري دي، او د حيواناتو درمند كول به نۀ وي او دلته مانع شته ځكه چه په دې كښې هغه شي ته ضرر او درد وركول دي چه شارع په هغې كښې اجازه نۀ ده وركړې بلكه منع ئې كړې۔ انتهىٰ ما في النيل۔ '
بعض صحابه كرامو ﷺ او تابعينوؒ د حيواناتو د خصاء په نۀ جواز باندې په دې آيت هم دليل نيولې : [وَلَآمُرَنَّهُمْ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ اللَّهِ] [النساء : ١١٩]۔ چه په دې كښې تغيير د خلق الله دې، او دا جائز نۀ دې۔ حافظ ابن كثيرؒ په خپل تفسير كښې د ابن عباس ﷺ نه نقل كړي چه هغه فرمائي : په دې كښې (يو) مقصد د حيواناتو خصيَ كول هم دي۔ او همدا د ابن عمر ﷺ، انس بن مالك ﷺ، سعيد بن مسيبؒ، عكرمهؒ، ابو عياضؒ، قتادهؒ، ابو صالحؒ او ثوريؒ نه منقول دي۔ [تحفة الاحوذي : ٣/١٤٩/٣ ١٠٠٣ ابن كثير، نيل الاوطار : ٨/١٦٧]۔
**ليكن** د جمهورو مذهب دا دې چه د مأكول اللحم حيواناتو خصاء مطلقاً جائز ده كله چه په هغې كښې فائده حاصلول مقصد وي لكه په خصاء كښې د حيوان په غوښه كښې لذت او مزه پيدا كيږي او هغه په دې سره چاقيږي۔ ځكه چه حديث كښې دي : [ضَحَّى النَّبِيُّ ﷺ بِكَبْشَيْنِ أَقْرَنَيْنِ أَمْلَحَيْنِ عَظِيمَيْنِ مَوْجُوءَيْنِ] [ابن ماجه : ٣١٢٢، ابو يعلى : ١٧٩٢، اسناده صحيح]۔ نبي ﷺ په دوه ګډانو سره قرباني وكړه چه ښكرور ښائسته، لوي او خصي كړې شوي وو۔ **استدلال** : كه د حيوان اخصاء جائز نۀ وې نو نبي ﷺ به په هغې قرباني نۀ كولې۔ ليكن په دې استدلال كښې نظر دې وجه دا ده چه دا خو د نبي ﷺ په اجازت سره نۀ وو خصي شوي، او كله به يو كار د بل چا دپاره جائز نۀ وي ليكن هغه حيوان به جائز وي۔ نو دويً وائي چه اخصاء د حيوان جائز نۀ ده ليكن په دې سره حيوان نۀ حراميږي، لكه څنګه چه نبي ﷺ په قچره باندې سورلي كړيده حال دا چه د قچر نسل پيدا كولو ته ئې دې علمه خلكو كار وئيلې دې۔
خاصل دا چه د جمهورو علماؤ په نيز باندې خصاء د مأكول اللحم حيواناتو جائز ده

کله چه په دے کښے مصلحت او فائده وي. او ددے شرط پکښے لحاظ وساتلے شي چه په هغے کښے به حیوان ته عذاب ورکول نۀ وي بلکه په یوه آسانه طریقه سره د هغے خصي کول جائز دي. [ابن عثیمین : لقاء الباب المفتوح ۳۷/۱۵]

مګر احتیاط دا دے چه حتی الوسع ددے نه ځان وساتلے شي ځکه چه نهي پکښے صراحةً راغلے او د جواز والو سره صریح دلیل نشته. انظر قناة "اسلام ویب".

(۵) حدیث نه معلومه شوه چه عبادت وغیره ته د ځان وزګارولو دپاره، د قدرت باوجود وادۀ نۀ کول حرام دي، او ددے نه په سختئ سره نبي کریم ﷺ منع کړے، ځکه د وادۀ کولو نه اعراض کول د رسولانو –علیهم الصلاة والسلام– د اتفاقي سنت طریقے نه مخ اړول دي. دارنګه په دے کښے د الله تعالیٰ هغه اراده بیکاره کول دي چه هغه ئے د کائناتو د آبادئ دپاره کړے، ځکه دا کائنات د بشري جنس د حفاظت په وجه آبادیږي او دا صرف په توالد او تناسل سره کیدے شي. بله دا چه : د عبادت یا علم طلب کولو د وجے نه نکاح پریښودل بدعي رهبانیت ((پیري مریدي)) ده.

د ابو امامه رضي الله عنه په حدیث کښے نبي کریم ﷺ دا دواړه امر او نهي جمع کړي دي، لکه فرمائي : [تَزَوَّجُوا فَإِنِّيْ مُكَاثِرٌ بِكُمُ الْأُمَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَلَا تَكُوْنُوْا كَرَهْبَانِيَّةِ النَّصَارٰى]

(تاسو وادۀ کوئ ځکه ستاسو د ډیروالي په وجه به زۀ په قیامت کښے فخر کوم، او تاسو د نصاراؤ پشان د خپلو ځانونو نه پیران مریدان مۀ جوړوئ)

[بیهقي: ۷۸/۷، فتح الباري: ۱۱۱/۹، حسن بشواهده، الصحیحة : ۳۸۵/٤]

په نصاراؤ کښے د راهبانو (عابدانو) دا طریقه وه چه هغوئ به په غارونو، صحراګانو او کوهیانو کښے د عبادت دپاره د خلکو نه لرے وسیدل او ودونه به ئے نۀ کول. نبي کریم ﷺ ددے نه اسلامي امت منع کړو، چه دا کار خو دوئ د ځانه جوړ کړے وو، الله تعالیٰ دوئ ته ددے حکم نۀ وو کړے.

بلکه خپله الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وَرَهْبَانِيَّةً ابْتَدَعُوْهَا مَا كَتَبْنَاهَا عَلَيْهِمْ﴾ [الحدید : ۲۷] (پیري مریدي دوئ د ځانله جوړه کړے، مونږ په دوئ دا نۀ وه مقرر کړے). په دے امت کښے هم ډیر جاهله پیران خلکو ته د تبتل او رهبانیت دعوت ورکوي، او دا صفا سوتره عقائدو او اعمالو والا امتِ محمدي د جاهلیت په تیارۀ کښے ننباسي، او د ځانه جوړ کړي ذکرونه او طریقے ورته ښائي، چیلے پرے وباسي او د ځانه ورله فال پرهیزونه ورکوي، خُرافي عقائد

خوروی، او په اسلام کښې دننه ((نصرانيت)) لټوی. مسلمانانو له پکار دی چه د دوئ دا دکانداری وپيژنی او د دوئ په چوغو او لبادو باندې هيڅ کله دهوکه ونۀ خوری، بلکه د خپل صفا سوتره دين نه ځان خبر کړی. والله المستعان.

## ديندارې ښځې سره نکاح کول بهتر دی

3082 (3) – وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: "تُنْكَحُ الْمَرْأَةُ لِأَرْبَعٍ: لِمَالِهَا، وَلِحَسَبِهَا، وَلِجَمَالِهَا، وَلِدِيْنِهَا، فَاظْفَرْ بِذَاتِ الدِّيْنِ تَرِبَتْ يَدَاكَ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

**ترجمه**: او ابو هريره ﷺ نه روايت دے چه نبی ﷺ وفرمايل: ښځې سره د څلورو شيانو په وجه نکاح کيږی: د هغې د مال په وجه، د هغې د حسب او نسب په وجه، د هغې د ډول په وجه او د هغې د دين په وجه، نو (اے ابو هريره!) ستا لاس دِې په خاوره ککړ شی! تۀ په ديندارې ښځې سره کاميابی حاصله کړه. (بخاریؒ، مسلمؒ)

**تشريح**: [تُنْكَحُ الْمَرْأَةُ] [اَیْ عَادَةً] ښځې سره په وادۀ کښې رغبت کولے شی، او د خلکو عادت دا دے چه هغوی دا څلور څيزونه په ښځه کښې خوښوی. او دين ئے پکښې د ټولو نه روستو ذکر کړے ځکه چه عام خلك دين له دومره اعتبار نۀ ورکوی. او پدے کښې امر نشته چه تاسو ښځه ددے څلورو خويونو د وجه نه وکړئ، ځکه چه بيا د روستو (فَاظْفَرْ بِذَاتِ الدِّيْنِ) سره مخالفت راځی.

[أَرْبَعٍ] د څلورو خصلتونو او خويونو د وجے نه. د اربع دپاره تميز [خِصَالٍ] پټ دے.

[لِمَالِهَا] انسان چه د ښځې سره د هغې د مال د وجے په نکاح کښې رغبت لری نو دا يواځې په دے کښې نۀ دے چه خاوند به ددے نه نفع اخلی، بلکه کله مقصد د خاوند دا وی چه ښځه مالداره وی نو بيا د خپلو ضرورياتو او زياتی څيزونو دپاره ډيرے مطالبے نۀ کوی، خصوصًا زمونږ په دے زمانه کښې.

[لِحَسَبِهَا] (۱) حسب د حاء او سين په زور سره: شرافت. حسب په اصل کښې د سړی خپل يا د هغۀ د پلار نيکۀ ذاتی شرافت ته وائی لکه سخا، بهادری، ځوانمردی. دا د حساب نه دے ځکه دوئ به د خپلو پلارانو کارنامے شمارلے او په هغې به ئے فخر کولو او د چا کارنامے چه به زياتے شوے هغه به وړاندے کړے شو. (۲) يا د حسب نه مراد [اَلْخِصَالُ الْحَمِيْدَةُ] د ښځې ښائسته افعال او خويونه دی. په يو حديث کښې حسب مال

تـه وئیل شوي، لیکن دلته روستو مال ذکر شوے نو دلته حسب نه مراد مال نهٔ دے۔ (۳) حسب چه کله د نسب سره یوځائے ذکر شي نو بیا ترے شرافت مراد وي او چه کله بغیر د نسب نه ذکر شي نو هلته ترے مراد نسب هم وي او شرافت هم۔

[وَلِجَمَالِهَا] دے نـه کـلـه ظـاهري حسن هم مراد وي، او دارنگه باطني حسن چه هغه ښـکلے صـفـات دي۔ نـو کـه د حسب نـه مراد نسب واخستے شي نو دلته به ظاهري او باطني صفات مراد شي۔

[فَاظْفَرْ بِذَاتِ الدِّيْنِ] ظَفِرَ يَظْفَرُ د سَمِعَ بـاب نـه، کامیابئ ته وائي۔ یعني ته دیندارے ښـځے سره په نکاح کولو باندے ځان کامیاب کړه۔ ځکه چه ددے په نکاح کښے د دنیا او د آخرت فائدے دي۔ گویاکه دینداره ښځه یو غنیمت دے چه د هغے په حاصلولو باندے د حرص کولو امر شوے۔ او ترغیب دے چه ستا اصلي مقصد دِے په ښځه کښے دینداري وي، گـویـا کـښے کـه دا درنـه خطاء شوه نو تا نه کامیابي خطاء شوه۔ دارنگه ظفر نوك ته وائي او مـطـلـب دا دے چـه پـه نـوك بـانـدے وگره وه، لکه څنگه چه د یو شي د حقیقت راښکاره کولو دپاره هغه په نوك سره گرولے شي چه لاندے طرف ئے راښکاره شي، یعني د دیـنـدارے ښـځے کوشش او تحقیق کوه۔ [ تَرِبَتْ يَدَاكَ] ستـا دواړه لاسونه دِے په خاورو کښے ککړ شي۔ دا د فقیرئ نه کنایه ده، ځکه فقیر سړی سره د خاورو نه سوئ بل څهٔ نهٔ وي۔ او پـه دے کښے مـقـصـد ښیرے نهٔ دي، بلکه تیزي او ترغیب ورکول دي۔ لکه پښتو کښے مونږ وایو : خوارشے یا غرق شے۔ دارنگه دا مطلب هم دے چه که دینداره درنه فوت شـوه نـو ستا لاسونه به خړ شي او خوار به شے نو دلته به فعل شرط محذوف وي [إِنْ لَمْ تَظْفَرْ بِذَاتِ الدِّيْنِ تَرِبَتْ يَدَاكَ] که په دینداره کامیاب نشوے نو لاسونه دِے خړ شه۔

**فوائد او مسائل** : (۱) حـدیـث کښے دیـنـدارے ښـځے سره نکاح کولو ته ترغیب ورکـړے شـوے۔ دیندار کیدو سره سره که ښائسته، مالداره او حسب نسب والا هم وي نو بیا خو لا بهتره خبره ده۔ لیـکـن که ښائسته مالداره وي خو دینداره نهٔ وي نو انسان له پکار دي چه د ښائست یا مال او دولت په چکر کښے رانشي۔

## د ښځے د دیندارئ معیار څه دے ؟

دیـنـدارے ښـځے نه مراد هغه ښځه ده چه د شریعت د احکامو پابنده، او د گناهونو نه

ځان ساتونکې او د الله تعالیٰ د طاعت او عبادت کوشش کونکې وي. داسې ښځې له ترجیح ځکه ورکول پکار دي چه دا د انسان دپاره د دنیا او د آخرت د کامیابۍ سبب ګرځي. رسول الله ﷺ چه کم نه کم څومره دیني عملونه د ښځې د کامیابۍ دپاره کافي ګرځولي، هغه دادي: فرمائي:

((کومه ښځه چه پنځه وخته مونځ کوي، د رمضان روژې نیسي، د خپلې شرمګاه حفاظت کوي او د خپل خاوند خبره مني، نو (د قیامت په ورځ) دیته به وویل شي چه د جنت (د آتو) دروازو نه په کومې دروازې باندې ننوتل غواړې، نو داخله شه))

[حسن: احمد: ۱۶۶۱، صحیح ابن حبان: ۴۱۶۳، آداب الزفاف، ص: ۲۸۶]

(۲) دیندارې ښځې سره وادهٔ کولو کښې خپله په وادهٔ کونکي باندې، د انسان په اولاد او دهٔ په کور باندې لوی اثر پریوځي. ښځه یوازې د انسان د شوق پوره کولو دپاره نهٔ ده بلکه دا د بچو دپاره مور هم وي. او ظاهره ده چه دا به د خپل اولاد دیني تربیت صرف په هغه وخت کښې کولې شي چه خپله نیکه او دینداره وي. انسان هغه چا سره کیني پاسي چه هغه ورته دیني نفع ورکړي، نو بیا چه کله دهٔ ښځه او د ژوند ملګرې وي نو ددې دینداري به څومره اهمه وي؟

نبي کریم ﷺ روستو حدیث کښې فرمائي: ((دنیا د فائدې سامان دې، او د دنیا د بهترینو سامانو نه بهترین سامان نیکه ښځه ده)) [مسلم: ۱۴۶۷]

(۳) حدیث نه معلومه شوه چه مذکوره هریو مقصد دپاره ښځې سره نکاح کول جائز دي. خو څوك چه ښځې سره د هغې د مال په وجه نکاح کوي، نو ممکنه ده چه هغه غریبه شي یا خپل خاوند سره بې وفائي وکړي یا خاوند د هغې په مال قبضه وکړي نو د دوئ مینه محبت به ختم شي. او څوك چه د ښائست د وجې ورسره نکاح کوي نو دا د مال په نسبت پائیداروي خو ممکنه ده چه دا ناز او نخرې والا شي او خپل حُسن ئې په کبر کښې راولي، نو دا نکاح هم ختمیدو ته نزدې وي. یا دا چه سړي ته به اول کښې ښائسته ښکاره کیږي نو الله تعالیٰ به ئې د نظر نه بد ښکاره کړي ځکه چه زړونه د الله په لاس کښې دي، هغه ئې چه څنګه وغواړي اړه وي. لیکن بل طرفته د دیندارې ښځې نکاح باقي او مضبوطه وي، دواړه د الله په طاعت او عبادت باندې شریك ژوند تیروي.

(۴) بعضِ علماؤ ددې نه دا مسئله معلومه کړې چه خاوند دپاره د ښځې د مال نه

فائده اخستل جائز دی، خو دا خبره دومره قوی نۀ ده ځکه د نبی ﷺ دا ارشاد عام دے: ((د هیڅ یو تن مال د هغۀ د خوشحالئ نه بغیر حلال نۀ دے)) او فرمائی: ((ستاسو وینے، مالونه او عزتونه یو په بل باندے حرام دی)) البته که په خپله خوښه ئے ورکوی بیا ډیر حلال او بهتر مال دے۔

(۵) حدیث نه معلومه شوه چه دینداړو، نیکانو او ښو خلکو سره دوستی او ملګرتیا کول پکار دی، ځکه څوك چه دوئ سره ملګرتیا کوی نو د دوئ د اخلاقو، علمونو او طبیعتونو نه فائده اخلی، او د دوئ له خوا به د فساد او وړانی نه خاطر جمع وی۔ (البحر المحیط الثجاج)

(٦) لکه څنګه چه خاوند دپاره نیکه ښځه اختیارول پکار دی، نو دغه شان د جینئ ولی او واکدار له پکار دی چه هغے دپاره نیك عمله، دینداره، خوش اخلاقه او ځوانمرده خاوند وګوری۔ بے دینه او بد خویه ته خپل خور لور ورکول نۀ دی پکار۔ یو سړی حسن بصریؒ ته عرض وکړو، زما لور پسے ډیر خلك را روان دی، نۀ چاله ئے ورکړم؟ ورته ئے وفرمایل: هغه چاله چه الله نه یریږی، ځکه که هغه ئے خوښه وی نو عزت به ئے کوی، او که ناخوښه ئے وه نو ظلم به پرے نۀ کوی۔ والله تعالیٰ اعلم۔

[تکملة المنهل العذب المورود: ۳/۱٦۸]۔

(۷) انسان له دا پکار نۀ دی چه په ډیر والی سره د یو شی په حق او درست کیدو باندے دلیل ونیسی او د اکثرو پسے روان شی ځکه چه پدے حدیث کښے نبی ﷺ اشاره ورکوی چه دریے قسمه خلك د زنانو د نکاح د صفاتو په باره کښے په خطاء روان دی او یو قسم خلك چه دین غوره کوی دا په حقه باندے دی، او د دوئ عمل درست دے۔ [البحر المحیط الثجاج: ۲۵/۷۹۸]

(۸) علماء فرمائی: پدے حدیث کښے رسول الله ﷺ امت ته نیکه مشوره ورکړیده، ګویا که تۀ د رسول الله ﷺ نه مشوره اخلے چه کومه زنانه وکړم؟ نو هغۀ وفرمایل: چه په دینداره ځان کامیاب کره۔ [فتح ذی الجلال: ٤/٤٣٧، ابن عثیمین]

## نیك بخته ښځه د دنیا غوره سامان دے

3083 (4) – وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ :"اَلدُّنْیَا كُلُّهَا مَتَاعٌ وَخَیْرُ مَتَاعِ الدُّنْیَا الْمَرْأَةُ الصَّالِحَةُ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

**ترجمه** : او عبد الله بن عمرو ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمایل : دنیا ټوله معمولي سامان دے، او د دنیا د سامانونو نه بهتر شے نیکه ښځه ده. (مسلمؒ)

**تشریح** :[مَتَاعٌ] دا هغه معمولي شي ته وائي چه د هغې نه لږه شان فائده واخستے شي بیا ختم شي. نو ټولې دنیا ته د متاع وئیلو مطلب دا دے چه ټوله دنیا یو داسے شے دے چه د هغې فائده لږه موده ده او فائده ئې زر ختمیدونکے ده، او پدے ټوله دنیا کښې د دنیاوي څیزونو نه غوره سامان نیك بخته او نیك عمله ښځه ده چه بنده سره د آخرت په کارونو کښې مدد کوي.

[اَلْمَرْأَةُ الصَّالِحَةُ] یعني نیکه وي په خپل دین او خپل نفس کښې، دارنګه د خپل خاوند د حال اصلاح کوي. نیك عمله ذکر کولو کښې اشاره ده چه که ښځه نیك عمله نۀ وي نو بیا دا ډیر شر او ضرر دے، لکه حدیث کښې دي : په سړو باندے د زنانو نه ډیر ضرر ورکونکے بله فتنه نشته.

او په یو حدیث کښې سړي ته دعوت ورکړے شوے چه پکار ده چه انسان نیك عمله ښځه ځان دپاره خزانه کړي. او بعض صالحینؒ نه نقل دي چه هغوي به وئیل : په تاسو لازم دي چه نیکانو سړو ته خور لور ورکړئ ځکه چه که دوئ د ښځو سره موافق وي نو ډیره بهتره ده او که موافقت ونشي نو کم از کم په ښځو ظلم نکوي.

د نیکے ښځے د خیریت وجه په دنیا کښې دا ده چه (أ) سړے د هغې نه د دنیا لذت او خوند حاصلوي. (ب) ښځه د خاوند خدمتونه کوي. (ج) په دین باندے ورته باعث جوړیږي. (د) انسان ددے په وجه د بے حیایئ نه بچ کیږي. (٥) سکون ورته ملاویږي.

## د قریشو نیك بخته ښځو فضیلت

3084 (5) – وَعَنْ أَبِيْ هُرَیْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : " خَیْرُ نِسَاءٍ رَكِبْنَ الْإِبِلَ صَالِحُ نِسَاءِ قُرَیْشٍ أَحْنَاهُ عَلٰى وَلَدٍ فِيْ صِغَرِهٖ وَأَرْعَاهُ عَلٰى زَوْجٍ فِيْ ذَاتِ یَدِهٖ ". مُتَّفَقٌ

عَلَيْهِ.

**ترجمه** : او ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : غوره ښځې چه په اُوښانو سوري شوي (هغه) د قريشو نيکے ښځے دي، چه په بچي باندے د هغهٔ په وړوکوالي کښے ډير شفقت کونکي دي، او په (خپل) خاوند باندے په هغه مال کښے چه د هغهٔ په قبضه کښے دے زيات حفاظت کونکي دي۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

**تشريح** : [خَيْرُنِسَاءٍ] اَيْ نِسَاءِ الْعَرَبِ ۔ يعنى د عربو په زنانو كښے غوره مراد دي۔ نو مريم او آسيه رضى الله عنهما ددے نه بهر دي۔

[رَكِبْنَ الْاِبِلَ]۔ دا جمله د (نساء) دپاره صفت دے، (په اُوښانو باندے سوريدونكو ښځو) نه مراد د عربو ښځے دي ځكه چه عام طور سره د عربو زنانه به په اُوښانو باندے سورلى كوله۔ يعنى په عربى زنانو كښے بهترينے زنانه د قريشو دي۔

او دا خبره رسول الله ﷺ په هغه وخت كښے كړے وه چه كله ئے په ام هانئ بنت ابى طالب رضى الله عنها باندے د نكاح جرګه وكړه نو هغے ووئيل : اے د الله رسوله ! زهٔ بوډئ شوے يم، او زما بال بچ دے، (د هغے پرورش او خدمت كوم) نو رسول الله ﷺ (د هغے د خبرے تائيد وكړو او د هغے زړهٔ ئے خوشحاله كړو) او دا خبره ئے وفرمايله۔ (صحيح مسلم)

[اَحْنَاهُ عَلٰى وَلَدٍ]۔ دا د (حُنُوٌ) نه دے، شفقت او نرمئ ته وائى۔ اَىْ اَكْثَرُ حُنُوٍّ وَشَفْقَةٍ يعنى ډير شفقت والا دى د يو شخص نه په بچى باندے۔ (ه) ضمير ئے مذكر راوړو په اعتبار د صِنف سره يعنى دا صنف۔ يا شخص ته راجع دے، يا (من يركب الابل) ته راجع دے، پدے وجه ئے مذكر راوړے ورنه ظاهر دا ده چه (احناهن) ووئيلے شى۔

[وَلَدٍ]۔ دا ئے نكره راوړه، داسے ئے ونهٔ وئيل چه [عَلٰى وَلَدِهَا يا عَلٰى وَلَدِهٖ]۔ ( ددے يا د خاوند په بچى باندے)، پدے كښے اشاره ده چه كه ددے خاوند نه بچے وى او كه د بل خاوند نه وى يا پردے بچے وى خو په بچو باندے ډير رحم والا وى۔ [وَاَرْعَاهُ]۔ دا د رعاية نه دے، حفاظت ته وائى۔[اَىْ اَحْفَظُهٗ]۔ يعنى ډير حفاظت كونكى وى۔

[فِىْ ذَاتِ يَدِهٖ] ۔ ددے نه مراد مال دے۔ يعنى هغه مال چه ددهٔ په قبضه كښے وى، نو دوئ ئے حفاظت كوى، هغه نهٔ ضائع كوى۔ يا ددے نه مراد تنګدستى، او فقيرى ده، او مطلب د حديث دا دے چه د قريشو زنانو په بچو باندے شفقت او د خاوندانو په غربت او فقر باندے صبر كول د ټولو عربو د زنانو نه زيات دى۔ يعنى د بچو ښهٔ تربيت كوى او

هغوی سره مینه کوی او د خاوندانو نه ډیرے مطالبے نۀ کوی، بلکه د هغوی په غریبئ باندے ګوزاره کوی، او په دے کښے ترغیب دے چه داسے زنانه ډیره بهتره وی۔

د قریشو په زنانو کښے د ایمان نه روستو دوه صفات دی: یو شفقت او بل امانت۔ او مجموعی طور سره په دے حدیث کښے پنځه صفات ذکر دی: دوه دنیاوی صفتونه دی چه یو په اوښانو باندے سورلی او بل نسب (نساء قریش)، او درے دینی صفات دی: یو صلوح (ایمان) او بل شفقت او دریم امانت او صبر۔

او په دے حدیث کښے مسئله د کفاءت ده چه روستو به ئے تشریح راشی، نو دا حدیث دلیل دے چه د عجمو خلکو نکاح د عربو سره جائز ده، او د دے برعکس ځکه چه نبی ﷺ داسے ونۀ وئیل چه اے قریشو! تاسو د قریشو سره نکاح وکړئ بلکه ټولو خلکو ته ئے ترغیب ورکړو چه د قریشو زنانو سره نکاح وکړئ ځکه چه په دوئ کښے ښکلے صفات دی او د عربو د بهترینو صفاتو په وجه الله تعالیٰ په هغوی کښے خپل رسول محمد رسول الله ﷺ راولیږلو۔

## د ښځو فتنه زیات نقصان ده ده

3085( 6 ) - وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: "مَا تَرَكْتُ بَعْدِىْ فِتْنَةً أَضَرَّ عَلَى الرِّجَالِ مِنَ النِّسَاءِ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

**ترجمه**: او اسامه بن زید ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: ما د خپل ځان نه روستو یوه داسے فتنه نۀ ده پریښے چه هغه سړوته د زنانو د فتنے نه زیاته ضرر رسونکی وی۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

**تشریح**: [مَا تَرَكْتُ] ۔ دا ماضی ده په معنیٰ د مضارع، یعنی زۀ نۀ پریدم خپل روستو۔ او دا په عربئ او هره ژبه کښے مشهوره محاوره وی۔ لکه په بل روایت کښے [ما أَدَعُ] ۔ (یعنی زۀ نۀ پریدم) [بَعْدِىْ]۔ په دے کښے پیشنګوئی ده چه د رسول الله ﷺ د زمانے نه روستو به زنانه د سړو د پاره زیاته ضرر والا فتنه وی، او همدا خبره بیخی رشتینے شوه۔ او هرچه د رسول الله ﷺ په مبارکه زمانه کښے وه نو هغه ډیره کمه وه، ځکه چه حدود به قائمیدل۔ [مِنَ النِّسَاءِ] اَىْ مِنْ فِتْنَةِ النِّسَاءِ۔ (یعنی د زنانو د فتنے نه) [فِتْنَةً]۔ یعنی امتحان او ازمیښت۔ او د دین نه اړه ونکے شے۔ فتنه هر هغه شی ته وائی

چه انسان د الله تعالیٰ نه اړه وی یا په طریقه د کفر او شرك سره لکه سامری سخی جوړ کړو د خلکو دپاره فتنه شوه- یا په طریقه د غفلت د الله تعالیٰ نه لکه مال او اولاد ته فتنه وئیل شوی ځکه چه هغه هم انسان د الله تعالیٰ نه غافله کوی- نو دغه شان زنانه هم فتنه ده چه کله به انسان کفر او شرك او ګناهونو ته رسوی چه د هغی تابعداری په شرك او کفر او ګناهونو کښی وکړی، او کله به ئے د الله تعالیٰ نه او د هغهٔ د بندګئ نه غافله کوی، د هغی په خواهشاتو کښی به لګیا مصروف وی- او دا خبره واقعی ده سوچ پکښی وکړه- ډیر خلك د ښځو سره اوږی راوړی مونځونه تری فوت کیږی جمعی تری قضاء کیږی او د دین ډیری تقاضا تری پاتی وی- حسبنا الله ونعم الوکیل- والله المستعان-

## ښځه ولے لویه فتنه ده ؟

د ښځو فتنی ته په سړو باندی د ټولو نه زیاته ضرر رسونکی پدی اعتبار سره وئیلے شویده چه **اول** خو په عامه توګه د سړو طبیعتونه ښځو طرف ته زیات مائله کیږی نو د هغوی په وجه غفلت او نقصان کښی واقع کیږی- **دویم** سړی په عامه توګه د زنانو د خواهشاتو زیات پابند وی چه د هغی نتیجه دا جوړه شی چه هغه په حرامو کارونو کښی واقع کیږی، او د ښځو په وجه په خپل مینځ کښی په جنګ جګړو او نفرتونو او دشمنیانو کښی اخته کیږی، او ددے ادنیٰ مثال دا دے چه دا ښځے دی چه خپل خاوندان د بے ځائے ناز او نخرو او دنیا پرستئ په وجه دنیا ته مائله کوی او د هغی ترغیب ورکوی، او ښکاره خبره ده چه دنیا پرستئ نه بل کوم شے زیات ضرر رسونکے کیدے شی ځکه چه په یو روایت کښی دی : [حُبُّ الدُّنْيَا رَأْسُ كُلِّ خَطِيْئَةٍ] - ددنیا محبت د هرے ګناه جرړه ده- (دا روایت د حسن بصریؒ نه مرسلاً نقل دے، او مرسل د اقسامو د ضعیف نه دے، لهذا دا مرفوعاً ثابت نهٔ دے البته د عیسی علیه السلام وینا ده، حدثوا عن بنی اسرائیل ولا حرج)-

**دریم** دا چه سړی د پردو زنانو په عشق او محبت کښی زر مبتلا کیږی چه د هغے په وجه ئے دین او تقویٰ خرابه شی-

لنډه دا چه هر کور کښی چه بے اتفاقی او جنګ جګړے، سحر او جادو، ګوډے منترے، چغلیانے او بد اخلاقیانے شروع دی دا ټول د ښځو کرشمه ده- والله المستعان-

**سوال:** په حدیث کښې دي چه د نوح ﷺ د زمانې نه تر قیامته پورې لوی ضرر والا فتنه د دجال نه علاوه بله نشته، او دلته ئې وفرمایل چه لویه فتنه زنانه دي ددې څه تطبیق دې؟ **جواب** دا دې چه زنانه صرف په سړو باندې لویه فتنه ده او د عامو خلکو په فتنو کښې لویه فتنه د دجال ده.

دې حدیث کښې تنبیه ده سړو ته په دې خبره چه د زنانو د فتنې نه ځان بچ وساتئ. سلفو صالحینو نه نقل دي چه په پردئ ښځه باندې مۀ ورداخلیږه اګرکه تۀ دا وائې چه زۀ ورته قرآن کریم ښایم.

**قصه:** بعض خلفاؤ فقهاؤ ته څه انعامونه او تحفې راولیږلې نو هغوی قبولې کړې او فضیل بن عیاضؒ رد کړه، نو هغۀ ته خپلې بی بی ووئیل: [تَرُدُّ عَشَرَةَ آلَافٍ وَمَا عِنْدَنَا قُوتُ يَوْمِنَا؟] تۀ لس زره درهمه رد کوې حالانکه مونږ سره د نن ورځې خوراك هم نشته؟ نو هغۀ ورته وفرمایل: [مَثَلِيْ وَمَثَلُكُمْ كَقَوْمٍ لَهُمْ بَقَرَةٌ يَحْرُثُوْنَ عَلَيْهَا فَلَمَّا هَرِمَتْ ذَبَحُوْهَا وَكَذَا أَنْتُمْ أَرَدْتُّمْ ذَبْحِيْ عَلٰى كِبَرِ سِنِّيْ، مُوْتُوْا جُوْعًا قَبْلَ اَنْ تَذْبَحُوْا فُضَيْلًا]

زما او ستاسو مثال د هغه خلکو دې چه هغوی سره یوه غوا وی، په هغې باندې کرونده کوی، هرکله چه هغه بوډئ شی نو هغه ذبح کړی، نو دغه شان تاسو هم زما په بوډا والی کښې زما ذبح کول غواړئ، (مګر) د لوږې نه مړه شئ مخکښې ددې نه چه تاسو فضیل ذبح کړئ.

**قصه۲:** سعید بن المسیبؒ به وئیل: په ما باندې اتیا کاله تیر شول. [مَا شَيْءٌ اَخْوَفَ عِنْدِيْ عَلَيَّ مِنَ النِّسَاءِ] او زما په نیز په ما باندې د زنانو نه زیات بل شے د یرې والا نشته.

وئیلې شی: هرکله چه ښځه پیدا شوه نو ابلیس ووئیل: [أَنْتِ نِصْفُ جُنْدِيْ، وَأَنْتِ مَوْضِعُ سِرِّيْ وَأَنْتِ سَهْمِيَ الَّذِيْ أَرْمِيْ بِكِ، فَلَا أُخْطِئُ أَبَدًا] [فیض القدیر للمناوی: ۵/۴۳۶، والبحر الثجاج: ۴۲/۴۹۰] تۀ زما نیمائی لښکرئې، او تۀ زما د راز ځائے ئې، او تۀ زما هغه غشے ئې چه زۀ تا ولم نو هیڅکله به نشانه نۀ خطاء کوم.

## د ښځې د فتنې نه ځان وساتئ

3086 (7) – وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: "إِنَّ الدُّنْيَا حُلْوَةٌ خَضِرَةٌ وَإِنَّ اللّٰهَ مُسْتَخْلِفُكُمْ فِيْهَا فَيَنْظُرُ كَيْفَ تَعْمَلُوْنَ فَاتَّقُوا الدُّنْيَا وَاتَّقُوا النِّسَاءَ فَإِنَّ

أَوَّلَ فِتْنَةِ بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ كَانَتْ فِي النِّسَاءِ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

**ترجمه** : ابو سعيد خدري ﷛ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : يقيناً دنيا خوږه، شنه ده، او يقيناً الله تعالىٰ تاسو په دے كښے جانشين كړي يئ (د يو بل نه روستو ئے راوستي يئ) نو هغه ګوري چه تاسو څنګه عملونه كوئ نو د دنيا (د فتنے) نه ويرېږئ او د زنانو (د فتنے) نه ځان بچ كړئ ځكه چه اولنئ فتنه (او امتحان) د بني اسرائيلو په زنانو كښے وه. (مسلمٌ)

**تشريح** : [حُلْوَةٌ خَضِرَةٌ]. يعني خوږه ده په خوله كښے او شنه تازه ده په سترګو كښے. يعني دهوكه وركونكے ده چه خلك په خپل خوند او رنګ سره په فتنه كښے غورزوي او هيڅ داسے څه عظيمه فائده پكښے نشته. او د دنيا ټول لذات او خوندونه يا په خوله كښے دي يا په سترګو كښے. لكه الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ وَفِيْهَا مَا تَشْتَهِيْهِ الْأَنْفُسُ وَتَلَذُّ الْأَعْيُنُ ﴾. (په جنت كښے به هغه شيان وي چه نفسونه ئے غواړي او سترګے پرے خوند حاصلوي)

د دنيا مثال ئے د يوے ميوے سره وركړو چه هغه په كتو كښے شنه او تازه وي، او په خوند كښے مزيداره وي، دا هر يو صفت د خلكو مرغوب او خوښ وي نو كله چه پكښے دواړه راجمع شي نو ضرور ئے خوښيږي، يعني دنيا ته د هر انسان مزاج مائل كيږي، الله تعالىٰ دنيا ته داسے رنګ او طبيعت او چمك دمك وركړے چه هر څوك په تعجب كښے غورزوي، او دا په بندګانو امتحان دے. دارنګه په خضرة كښے اشاره ده چه د دنيا مثال داسے دے لكه يو شين چمن او باغ چه څاروے ئے ويني نو په هغے كښے خوراك شروع كړي، كه چرته دا زيات كړي نو خيټه ئے خرابه شي او هلاك شي نو دغه شان څوك چه د دنيا نه ډير والے كوي نو دغه شان به ئے هلاكوي. نو عاقل له پكار دي چه د ضرورت په اندازه د دنيا نه فائده اخلي او په هغے كښے د افراط او تفريط نه ځان وساتي ځكه چه دا هلاكونكے ده. [فيض القدير۳/۵٤٤]. (البحر الثجاج)

[مُسْتَخْلِفُكُمْ]. يعني الله تعالىٰ تاسو د مخكنو خلكو نه جانشين كړئ، او د هغوي نه روستو ئے په دنيا كښے پرېخودئ، نو هغه به ستاسو عملونه ګوري چه تاسو د هغۀ خبره په دنيا كښے منئ او كه نۀ، او مُسْتَخْلِفُكُمْ كښے اشاره ده چه دا مالونه چه ستاسو په لاسونو كښے دي، دا په حقيقت كښے ستاسو مالونه نۀ دي، بلكه تاسو پكښے د وكيلانو

او نائبانو په شان یئ، نو الله تعالیٰ ګوری چه تاسو پدے کښے څنګه تصرف کوئ۔ او د الله تعالیٰ کتل او نظر اچول په حقیقت بناء دی او دا د متشابهاتو نه دی چه مونږ ته ئے کیفیت نۀ دے معلوم۔ الله تعالیٰ ته عملونه پورته کیږی نو په عملونو کښے ګوری څه قبلوی او څه رد کوی۔

[فَيَنْظُرُ كَيْفَ تَعْمَلُوْنَ] ۔ امام شافعیؒ فرمائی: هیڅ یو حدیث نشته مګر د هغے مأخذ ضرور په قرآن کریم کښے موجود وی۔ نو ددے حدیث مأخذ د سورة کهف (۸) آیت دے:

[اِنَّا جَعَلْنَا مَا عَلَى الْاَرْضِ زِيْنَةً لَّهَا لِنَبْلُوَهُمْ اَيُّهُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا]

[فَاتَّقُوا الدُّنْيَا] ۔ د دنیا نه د یریدو (أ) یو مطلب دا دے چه د دنیا د خپل ضرورت نه زیات اندازه طلب کولو نه یره وکړئ۔ (ب) یا مطلب دا دے چه د دنیا د دهوکے نه ځان وساتئ چه خپل مال او مرتبے سره انسان دهوکه کوی، ځکه چه دنیا ختمیدو ته نزدے ده، او دومره دنیا باندے ګوزاره کوئ چه تاسو ته په دینی کارونو کښے تعاون کوی۔ (علی القاریؒ)

**فائده**: په قرآن او حدیث کښے کله د دنیا قباحت او بدی ذکر کیږی او کله د هغے په حاصلولو کښے ترغیب ورکوی لکه نبی ﷺ فرمایلی: [نِعْمَ الْمَالُ الصَّالِحُ لِلرَّجُلِ الصَّالِحِ] [احمد: ۱۷۷۹۸ صحیح علی شرط مسلم] ۔ یا فرمائی: [خَيْرُكُمْ مَنْ طَالَ عُمُرُهُ وَحَسُنَ عَمَلُهُ] [صحیح: ترمذی: ۲۳۲۹ احمد: ۱۷۷۱۶] ۔ (په تاسو کښے بهتر هغه څوک دے چه د هغۀ عمر زیات وی او عمل ئے نیك وی) او دلته هم فرمائی: [حُلْوَةٌ خَضِرَةٌ] ۔ نو ددے نه دا فائده معلومه شوه چه دنیا بذاتِ خود بده او ناکاره نۀ ده بلکه دنیا په هغه وخت کښے د انسان دپاره بده وی چه د الله تعالیٰ نه او د هغۀ د دین نه ئے اړه وی، یا ئے د عمل نه غافله کوی۔ (فَيَنْظُرُ كَيْفَ تَعْمَلُوْنَ)۔ دارنګه په شریعت کښے د دنیا قباحت زیات ذکر کیږی او حسن ئے کم دا ددے دپاره چه ایمان والا او عقلمند خلك پدے کښے ورننه نۀ وځی ځکه چه دے ته زړونه زیات مائله کیږی نو پدے کښے ضرور غفلت شته۔

[وَاتَّقُوا النِّسَاءَ] ۔ (أ) یعنی د زنانو د مکرونو او هغوی باندے د دهوکه کیدو نه ویریږئ۔ (ب) یا مطلب دے: ددے نه یره وکړئ چه تاسو د زنانو په سبب منهیاتو او حرامو ته مائل شئ او په دینی فتنه کښے واقع شئ۔ او دا ئے جدا ذکر کړو، دے ته تخصیص بعد التعمیم وائی پدے کښے د زنانو د فتنے لوی والی ته اشاره ده۔

**واقعه :** ابليس موسىٰ عليه السلام تـه وويـل : اې موسىٰ ! ستا په ما باندې دا حق دې (چه زۀ درتـه ووايـم) تـۀ د هـغـه زنانه سره د کيناستو نه ځان وساته چه د هغې محرم نۀ وي، ځکه چه (په دغـه وخـت کښې) زۀ د هغې تا ته قاصد (استازې) يم او ستا هغې ته استازې يم۔ (فيض القدير)

## د بنى اسرائيلو د فتنې بيان

[فَـاِنَّ أَوَّلَ فِتْنَةِ بَنِىْ اِسْرَائِيْلَ كَانَتْ فِى النِّسَاءِ] يعنى د بنى اسرائيلو د دين خرابوالې اول د زنـانـو نـه شـروع شو۔ پدې کښې اشاره ده هغه واقعې ته چه يو تن خپل ترۀ د يوې زنانه د اخستـو دپاره وژلې وو او بيا پـکښې د غـوا د ذبح کولو واقعه مينځ ته راغله۔ لکه دا په سورة البقره کښې ذکر کـړې. زمونږ تفسير حكمة القرآن او فهم القرآن ته رجوع وکړه۔

دارنـګـه پـدې کښې د بـلـعام بن باعورا (يا باعور) واقعې ته اِشاره کيدې شي چه هغه د موسىٰ عليه السلام د دين نه د مال په وجه مرتد شو او بيا ئې قوم ته وويل چه تاسو بنى اسرائيل په زنانو باندې اُووهئ۔ **تفصيل** ئې داسې دې : د موسىٰ عليه السلام پـه زمانه کښې يو شخص بـلـعام بن باعور وو، ډير مستجاب الدعوات وو، هغۀ ته اسم اعظم ورکړې شوې وو چه د هغې پـه ذريعـه بـه ئې هره دعا قبليده۔ هرکله چه موسىٰ عليه السلام د جبارينو سره د جنګ دپاره د شام پـه عـلاقه کښې واقع بنى كنعان په يوه حصه کښې خيمه ووهله نو د بلعام د قـوم خـلـك بلعام ته راغلل او وې وئيل چه موسىٰ عليه السلام د خپـلـو تابعدارو يو لوى لښکر مـونـږ پسې راروان کړې مونږ وژنى او مونږ ددې علاقې نه اُوباسى، نو تۀ هغوى ته داسې ښيرې وکړه چه هغوى ددې ځائې نه واپس وتښتي۔

بـلـعـام ورتـه جـواب ورکـړو چـه څـه چـه زۀ پيـژنـم هغه تاسو نۀ پيژنئ، زۀ د الله تعالىٰ پيغمبر او د هغۀ تابعدارو ته څنګه ښيرې کولې شم، که ما هغوى ته ښيرې وکړې نو زما دنيـا او آخـرت دواړه تبـاه کيـږي، هـرکـلـه چه د هغۀ د قوم خلکو ډيره زاري او چاپلوسى وکړه او د ښيرو په کولو ئې مجبوره کړو نو بلعام وويل چه ښه ده زۀ استخاره کوم او ګورم چه څـه حـکـم کيـږي، د هغې نه روستو به فيصله کوم، د بلعام طريقه دا وه چه هغۀ به د استـخـارې نه بغير هيڅ کار نۀ کولو، نو هغۀ چه هرکله استخاره وکړه نو په خوب کښې ورتـه وخـودل شـو چـه د پيـغـمبر او مؤمنانو په حق کښې هيڅ کله ښيرې ونکړې، بلعام

خپل قوم دے خوب نه خبر کړو او د ښیرے نۀ کولو اراده ئے بیا راښکاره کړه، د قوم خلکو د غور او فکر نه روستو یوه طریقه اختیار کړه، چه هغوی د خپلو ځانونو سره قیمتی تحفے راوړے او بلعام ته راغلل او بیا ئے ډیر منت او زاری شروع کړه، وے ژړل او هغه ئے دومره متأثر کړو چه آخر هغه د هغوی په جال کښے راګیر شو، نو هغۀ د ښیرے کولو په غرض په خپل خر باندے سور شو او "جستان" غر خوا ته راغلو چه د هغے خوا ته د موسیٰ علیه السلام لښکر اُوسیدو، په لاره کښے څو ځله خر راوغورزیدو لیکن هغۀ به په وهلو وهلو سره راپورته کولو، تردے چه کله دا سلسله اُوږده شوه او بلعام هم ددے نه پریشانه شو نو خرئے په هغه ځائے پریخودو او پیاده غر ته وختلو او هلته ئے ښیرے شروع کړے لیکن د الله تعالیٰ قدرت ته وګوره چه هرکله به دۀ موسیٰ علیه السلام او د هغۀ لښکر ته ښیرے کولے نو د هغۀ د خولے نه به د هغۀ د قوم نوم وتلو، نو قوم پدے کار ملامته کړو چه دا څه کوے؟ د بنی اسرائیلو په ځائے مونږ ته ښیرے کوے۔ بلعام ووېل: زۀ څه وکړم، الله تعالیٰ زما د قصد او اردے نه بغیر زما د ژبے نه ستاسو نوم اُوباسی۔

لیکن بلعام بیا هم د ښیرو نه منع نشو او خپل کوشش ئے کولو تردے چه د الله تعالیٰ عذاب پرے دا راغلو چه د هغۀ ژبه بهر راووته او سینے پورے را اُوږده شوه نو بلعام په غصه کښے راغلو او لیونے شو نو وے وئیل: اُوس خو زما دنیا او آخرت دواړه برباد شول پدے وجه د بنی اسرائیلو د تباهئ دپاره یو بل جال تیارول پکار دی، نو خلکو ته ئے ووېل چه تاسو خپلے ښځے په ښۀ شان ښائسته کړئ او د هغوی په لاسونو کښے څه څیزونه ورکړئ او د هغے د خرڅولو په بهانه دغه ښځے د بنی اسرائیلو لښکر ته ولیږئ او هغوی ته ووایئ چه که بنی اسرائیلو نه کوم شخص تاسو خپل ځان ته راوویلی نو تاسو به انکار نۀ کوئ، یا دساتئ که بنی اسرائیلو نه یو تن د یوے ښځے سره بد کاری وکړه نو ستاسو کوشش به کامیابیږی۔

نو د بلعام قوم د هغۀ په مشوره باندے عمل وکړو او خپلے ښځے ئے ډول او سینګار سره ښائسته کړے او د بنی اسرائیلو لښکر ته ئے ولیږلے، هرکله چه هغه زنانه لښکر ته ورسیدے او د هغوی نه یوه ښځه چه د هغے نوم کسی بنت صور وه د بنی اسرائیلو په یو سردار "زمزم بن شلوم" باندے ورتیره شوه نو د هغه ښځے د حسن او جمال قیدی شو او د هغے لاس ئے ونیولو او موسی علیه السلام ته ئے بوتله او هغۀ ته ئے ووئیل چه تۀ زما دپاره

دا حرامه ګڼړې ؟ موسیٰ علیه السلام ورته وویل : آؤ، دې ښځې خوا ته هیڅکله مهٔ ورځه، نو زمرم وویل چه زهٔ ددې په باره کښې هیڅکله ستا خبره نهٔ منم. بیا هغهٔ هغه ښځه خپلې خیمې ته بوتله او هغې سره ئې بدکاري وکړه، نو د الله تعالیٰ داسې عذاب راغلو چه ددې سردار ددې کار په وجه یوه وباء راغله چه د هغې په وجه اویا زره کسان هلاك او تباه شول. دلته یو تن فنحاص وو چه د هارون علیه السلام نمسے وو او قوي بدن والا وو، د موسی علیه السلام نګهبان وو هغهٔ ته معلومه شوه چه دا عذاب د یو سردار د عمل په وجه راغلو نو هغه راغلو او هغه سردار او دغه ښځه ئې په هغه خیمه کښې قتل کړل نو بیا الله تعالیٰ دا عذاب ختم کړو.

دا واقعه په مختلفو طریقو سره نقل ده، سره د کمی زیاتی نه، په مرسل سند سره، او طبريؒ وغیره د محمد بن اسحاقؒ نه نقل کړې. بعض اهل علموو ئیلي دي چه ددې واقعې هیڅ معتمد سند نشته. (البحر المحیط الثجاج) لیکن د (حدثوا عن بني اسرائیل ولا حرج) په اجازت سره ددې بیان جائز دے.

په یو ضعیف السند روایت کښې دي چه کرسف نومې یو سړے وو چه د یو دریاب په غاړه درې سوه کاله اُوسیدو چه د ورځې به روژه وو او د شپې به ئې قیام اللیل (د الله عبادت) کولو، بیا ئې په الله تعالیٰ باندې کفر وکړو په سبب د یوې ښځې سره چه په هغې باندې عاشق شوے وو، نو ددې په نتیجه کښې ئې د الله تعالیٰ بندګي پریخوده. بیا الله تعالیٰ د بعض نیکو اعمالو په وجه پرې رحم وکړو او توبه ئې اُوویسته.

مفسرینو د آیت [کَمَثَلِ الشَّیْطَانِ اِذْ قَالَ لِلْاِنْسَانِ اکْفُرْ] په تفسیر کښې لیکلي دي چه پدې کښې د بني اسرائیلو یو سړي (برصیصا) ته اشاره ده چه هغه بزرګ وو، عبادتونه به ئې کول، یو سړي ورسره یوه ښځه د امانت په طور راوسته چه په هغې باندې دمونه واچوي او د الله تعالیٰ نه وغواړي چه هغې ته د لیونتوب نه شفاء ورکړي نو شیطان هغهٔ ته د هغې سره زنا کول ښائسته ښکاره کړل نو هغې سره ئې بدکاري وکړه بیا ئې حمل شو، نو د شرم نه ویریدو نو شیطان ورته د هغې قتل ښائسته کړو، نو هغه ئې قتل کړه او هغه ئې دفن کړه بیا ئې خلکو کښې مشهور کړو، خلکو د هغهٔ نه د خپلې زنانه مطالبه وکړه نو هغهٔ وویل چه هغه مړه شوه او ما دفن کړه، هرکله چه خلکو د هغې قبر کولاؤ کړو نو هغه ئې ومونده چه وژل شوے وه، نو ددهٔ دروغ ورته معلوم شو، نو دے وخت کښې شیطان

ورله راغلو چه کفر وکړه او ماته سجده وکړه زۀ به دِې ددے مصيبت نه خلاص کړم، نو هغۀ دغسے وکړل نو شيطان په دغه حالت کښے پريخودو، او دائے ورته وويل چه زۀ ستا نه بيزاره يم۔ ددے روايت سند هم ضعيف دے۔ ليکن د عبرت قصے دی۔

دارنګه د يوسف عليه السلام جيـل ته تلل د زنانو د وجه نه وو، هغه هم بنی اسرائيلی پيغمبر وو۔

## هغه درے شيان چه په هغے کښے سپيرۀ والے

3087 (8) – وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم : " اَلشُّؤْمُ فِي الْمَرْأَةِ وَالدَّارِ وَالْفَرَسِ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِيْ رِوَايَةٍ :" اَلشُّؤْمُ فِيْ ثَلَاثَةٍ : فِي الْمَرْأَةِ وَالْمَسْكَنِ وَالدَّابَّةِ ".

**ترجمه** : او ابن عمر رضي الله عنه فرمائی : رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : سپيرۀ والے په ښځه او کور او اَس کښے دے۔ (بخاریؒ، مسلمؒ) او په يو روايت کښے دی : سپيرۀ والے په درے څيزونو کښے دے : په ښځه او کور او اس کښے دے۔

**تشريح** : [اَلشُّؤْمُ]۔ دا د يُمن ضد دے، شر، نحوست، سپرۀ والی او بے برکتئ ته وائی۔ (يمن برکت ته وائی) [رَجُلٌ مَشْؤُوْمٌ اَیْ غَيْرُ مُبَارَكٍ] ۔ مشؤوم بے برکته سړی ته وائی۔ دارنګه شُؤم تطيّر يعنی بد فالئ ته وائی۔ په يو حديث کښے ورسره خادم هم راغلے دے۔

**اشکال او جواب** : ددے حديث نه معلومه شوه چه دے درے څيزونو کښے بد فالی او نحوست راتللے شی او بل حديث کښے دی : [لَا طِيَرَةَ] [بخاری : ٥٧٥٤] بد فالی په هيڅ شی کښے نشته۔

**جواب** : امام نوویؒ وغيره فرمائی : پدے حديث کښے دا خبره ذکر شوه چه په درے څيزونو کښے نحوست او بے برکتی او سپيرۀ والے دے۔ ددے په مطلب کښے مختلف اقوال دی : (او دا جوابونه دی) (١) امام مالك او يوه ډله علماء وائی چه دا حديث په خپل ظاهر باندے بناء دے، او کور کښے کله الله تعالیٰ د هغے اُوسيدل د ضرر سبب جوړ کړی، يا په کښے هلاکت راشی، دارنګه يوه معينه ښځه کښے کله سپيرۀ والے او شر راشی، او کله د اس او خادم په وجه د الله تعالیٰ په تقدير او فيصلے سره هلاکت واقع شی۔ امام خطابیؒ او ډير علماء وائی چه دا حديث استثناء ده د حديث [لَا طِيَرَةَ] نه، او ددے تائيد ابن قتيبهؒ کړے۔ مطلب دا دے چه بد فالی په هيڅ شی کښے نشته سوئ ددے

درې څیزونو نه. یعنی بد فالي منع ده، البته که د یو تن کور وي چه د هغې اُوسیدل بد ګڼړي یا د یوې ښځې سره صحبت او ژوند بد ګڼړي یا اس یا خادم نو د هغې نه دې جدا شي، خرڅ دې ئې کړي، یا دې ترې بل ځائے ته منتقل شي، او ښځې ته دې طلاق ورکړي. دارنګه چا چه ددې څیزونو نه په یو شي بد فالي ونیوله او دا ئې سپیرهٔ وګنړل نو هغې کښې به واقع کیږي. او ددې تائید په یو حدیث سره کیږي : یحیی بن سعیدؒ فرمائي : نبي کریم ﷺ ته یوه ښځه راغله عرض ئې وکړو اے د الله رسوله ! یو کور کښې مونږ اُوسیدو، زمونږ عدد زیات وو، او مال مو پوره وو، نو زمونږ عدد ختم شو او مال مو کم شو؟ نو رسول الله ﷺ وفرمایل : دا کور (دغه شان) ناکاره (بد حاله) پریدئ. [البیهقي شعب الایمان : ٨/١٤٠ وحسنه الشیخ الألباني].

پدې کښې امام قرطبيؒ وئیلي دي چه د اهل علمو پدې قول باندې به داسې ګمان نشي کیدې چه ګنې دوئ هغه بد فالي نیولو کښې رخصت ورکړې کومه چه به جاهلیت والو کوله او د هغې عقیده به ئې لرله، ځکه چه هغوي به کوم شے بد وګنړلو او بد فالي به ئې ترې ونیوله نو هغه به ئې نهٔ کولو ځکه چه د هغوي عقیده دا وه چه دا قطعاً ضرر ورکوي. بلکه ددې علماؤ مطلب دا دے چه پدې څیزونو باندې اکثره خلك بد فالي نیسي، ځکه چه خلك ددې څیزونو سره ډیره واسطه لري، نو د چا په زړهٔ کښې چه ددې څیزونو نه څه بد والے واقع شي نو شریعت دهٔ دپاره دا مباح کړیدي چه هغه دې پریدي او بل شے دې استعمال کړي، چه ددهٔ زړهٔ ئې غواړي او په هغې خاطر جَمعه وي، او شریعت پرې دا پابندي نهٔ ده لګولې چه دے به خامخا په هغه ځائے کښې وسیږي کوم چه بد ګڼړي، یا یوه ښځه بده ګڼړي هغه به نهٔ پریدي، بلکه شریعت دهٔ ته ددې څیزونو په پریخودو کښې آزادي ورکړې، لیکن ددې سره سره به دا عقیده لري چه الله تعالیٰ فعال لِمَا یُرِید دے، هر هغه څهٔ کوي چه وې غواړي، او ددې څیزونو دپاره خپل څه اثر نشته. او دا داسې دے لکه [فِرَّ مِنَ الْمَجْذُوْمِ فِرَارَكَ مِنَ الْاَسَدِ] [احمد : ٩٧٢٠ صحیح] په شان چه په هغې کښې د مجذوم (جذام مرض والا) نه د تښتیدو امر شوے.

لنډ مطلب دا چه (لَا طِیَرَةَ) کښې چه کومه نفي راغلې ده د هغې نه مراد ذاتي سپیرهٔ والے او خُلقي (پیدائشي) نحوست دے، او هغه په هیڅ شي کښې نشته، (تردې چه پدې درې څیزونو کښې هم ذاتي سپیرهٔ والے نشته چه د هغې په وجه انسان بد فالي ونیسي) او

هر چه د نحوست دا معنیٰ چه کله د هغې نه انسان ته ضرر رسیږی یا ئې د بعضو کسانو دپاره فائده کمه وی، او بعضو دپاره زیاته وی، نو پدې معنیٰ سره نحوست نۀ دې منفی، بلکه دا ثابت دې۔ نو دواړه خبرې صحیح شوې۔ نو نفی او اثبات دوه مختلفو ځیزونو ته راجع شول نۀ یو شی ته۔ لهٰذا تعارض نشته۔ مثال ئې دا دې چه الله تعالیٰ کله مور او پلار ته یو بچے ورکړی چه ډیر برکت والا وی او نورو والدینو ته داسې بچے ورکړی چه ناکاره وی۔ [قاله ابن القیم فی مفتاح دار السعادة : ٢/٢٥٦]۔

**سؤال :** ددې ځیزونو تخصیص ئې ولې وکړو حال دا چه هر شی نه چه څوك بد فالی او سپیرۀ والې نیسی نو هغه دغه شان وی؟ **جواب :** صحیح ده، لیکن ددې ځیزونو سره د انسانانو تعلق او ملازمت او صحبت زیات دې او عام خلك ددې نه بد فالی زیاته نیسی نو پدې وجه ئې دا خاص ذکر کړل۔

(٢) بعضو د حدیث دا مطلب بیان کړې چه د نحوست معنیٰ بد فالی نۀ ده بلکه ددې حقیقتِ حال بیانول دی، او مطلب دا دې چه د کور نحوست د هغې تنګوالې او بد ګاونډ دې، یعنی کوم کور چه تنګ او تیارۀ والا وی او د هغې ګاونډیان ناکاره وی نو دغه کور د تکلیف او پریشانئ ذریعه جوړیږی۔ د ښځې نحوست نه مراد د هغې د مهر زیاتوالې، د هغې بد مزاجی او زبان درازی او شنډ والې دې، یعنی د کومې ښځې چه مهر زیات مقرر شوې وی، هغه بد مزاجه او تندخویه وی، ګز ژبې وی، او بیا پکښې لا شنډه هم وی نو داسې ښځه د راحت او سکون په ځائې د ضرر او تکلیف ذریعه جوړیږی۔ دغه شان د آس د نحوست نه د هغه شوخ کیدل، قدمونه ئې سختیدل، او په هغې باندې د جهاد دپاره سورلی نۀ کول، او د هغې قیمت زیاتیدل دی۔ یعنی کوم اس چه داسې وی چه د هغۀ د شوخئ او سختئ په وجه مالك پریشانه کیږی، سست رفتار او بد خویه شی او د جهاد دپاره په هغې سورلی نۀ کیږی نو دا اس د خپل مالك دپاره هیڅ حقیقت او فائده نۀ لری۔ لیکن دا مطلب ددې حدیث سره مناسب نۀ دې، او ددې مراد کول تیك نۀ دی۔ (قرطبیؒ)

(٣) بعض وائی : د شؤم نه مراد ناسازګار کیدل او نا موافق کیدل دی، او بد فالی نیول مراد نۀ دی، یعنی دا ځیزونه غالباً د انسان سره ناموافق کیږی۔

(٤) بعضو وئیلی دی چه پدې کښې رسول الله ﷺ خبر ورکوی د عادت د خلکو نه چه

غالباً خلك ددے څيزونو نه بد فالي نيسي، او دا مطلب نهٔ دے چه واقع پدے څيزونو کښے نحوست او بد فالي شته۔ ليکن دا مطلب هم غوره نهٔ دے، ځکه چه پدے کښے د شارع کلام بے فائدے کيږي۔

(٥) بعض علماؤ وئيلي دي چه دا حديث پدے الفاظو سره کوم چه دلته ذکر دي شاذ دے، دارنګه (إِنَّمَا الشُّؤْمُ) لفظ هم شاذ دے، او اصل کښے دا حديث په إِن شرطيه تعليقيه سره محفوظ دے، لکه د بخاري او مسلم روايت کښے دي : [إِنْ كَانَ الشُّؤْمُ فِيْ شَيْءٍ فَفِي الْفَرَسِ وَالْمَرْأَةِ وَالدَّارِ] [بخاری : ٥٠٩٤، مسلم : ٥٩٤٥] - او مطلب دا دے چه که بالفرض په يو شي کښے نحوست راتللے نو پدے درے څيزونو کښے به نحوست راتللے، ليکن پدے درے څيزونو کښے نحوست نشته چه عام طور سره لا خلك ددے نه سپيرهٔ والے نيسي او د نحوست قابل دي، نو هرکله چه پدے ځيزونو کښے نحوست نشته معلومه شوه چه په هيڅ شي کښے نحوست نشته، او بد فالي نيول به ترے صحيح نهٔ وي۔ يعني په يو شي کښے نحوست کيدل هيڅ معنیٰ نهٔ لري، نو دا وئيل چه فلانے شے منحوس دے، يا فلاني شي کښے نحوست او سپيرهٔ والے دے، دا صرف د واهمے او خيال خبره ده چه د حقيقت سره ئے هيڅ تعلق نشته۔ او دا ارشاد داسے دے لکه په يو بل روايت کښے دي : [لَوْ كَانَ شَيْءٌ سَابِقَ الْقَدَرِ سَبَقَتْهُ الْعَيْنُ] [مسلم : ٥٨٣١] - که يو شے د تقدير نه بهر کيدے نو بد نظر به بهر شوے وے۔ ليکن هرکله چه بد نظر د تقدير نه نشي بهر کيدے نو هيڅ شے د تقدير د دائرے نه نشي بهر کيدے، ځکه چه په کائناتو کښے هر شے او هر حرکت چه کيږي نو دا په تقدير کښے ليکلے شوے وي۔ نو هلته هم دا مطلب نهٔ دے چه بد نظر د تقدير نه بهر دے۔

نو دغه شان دلته هم په ذکر شوي درے څيزونو کښے د نحوست ذکر کولو مطلب دا نهٔ دے چه پدے درے څيزونو کښے واقعي نحوست کيږي۔

شيخ البانیؒ هم د [اَلشُّؤْمُ] الفاظ شاذ ګرځولي دي۔ او ددے تائيد دا دے چه عائشے رضی الله عنها په ابو هريره ﷺ باندے رد وکړو او وے فرمايل چه هغه پدے کښے خطاء شويدے۔ لکه هغه روايت احمدؒ، ابن خزيمهؒ او ابن حبانؒ ذکر کړے : د بنو عامرو دوه کسان عائشے رضی الله عنها خوا ته ورغلل وے فرمايل چه ابو هريره ﷺ د نبی کريم ﷺ دا ارشاد نقل کوی : [إِنَّمَا الطِّيَرَةُ فِي الْمَرْأَةِ وَالدَّابَّةِ وَالدَّارِ] - (په ښځه او اس او کور کښے

بدفالي او سپيرهٔ والے دے) نو هغه سخته غصه شوه او وے فرمايل : [وَالَّذِي أَنْزَلَ الْقُرْآنَ عَلَى أَبِي الْقَاسِمِ ﷺ مَا هٰكَذَا كَانَ يَقُولُ وَلٰكِنَّ نَبِيَّ اللّٰهِ ﷺ كَانَ يَقُولُ : كَانَ أَهْلُ الْجَاهِلِيَّةِ يَقُولُونَ : اَلطِّيَرَةُ فِي الْمَرْأَةِ وَالدَّارِ وَالدَّابَّةِ ثُمَّ قَرَأَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا : ﴿مَا أَصَابَ مِنْ مُصِيبَةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي أَنْفُسِكُمْ إِلَّا فِي كِتَابٍ﴾] الآية ـ [احمد : ٢٦١٣٠ اسناده صحيح على شرط مسلم]ـ قسم په هغه ذات چه قرآن ئے په نبي كريم ﷺ نازل كړے هغهٔ داسے نهٔ دي فرمائيلي ليكن د الله نبي داسے فرمايل چه جاهليت والو به دا خبره كوله چه پدے درے څيزونو كښے بد فالي ده، (يعني ابو هريره ﷺ ناوخته راغلو، نيمه خبره ئے واوريده هغه ئے نقل كړه) بيا عائشے رضي الله عنها د خپلے خبرے په تائيد كښے دا آيت ولوستو (چه هر مصيبت چه په زمكه يا ستاسو نفسونو كښے رسيږي نو دا په تقدير كښے ليكلے شوے وي) يعني په څيزونو كښے سپيرهٔ والے نشته بلكه مصيبتونه د الله تعالىٰ په تقدير كښے ليكلے شوي وي۔ او همدا خبره د نورو احاديثو د نهي د تطير سره زيات سمون خوري۔ او شيخ الباني رحمه الله هم دے ته ترجيح وركړے۔

بل طرفته يو روايت كښے داسے هم راغلي دي : [لَا شُؤْمَ وَقَدْ يَكُونُ الْيُمْنُ فِي ثَلَاثَةٍ، فِي الْمَرْأَةِ وَالْفَرَسِ وَالدَّارِ] [صحيح ابن ماجه : ١٦٢٠، صححه الالباني، الصحيحة : ١٩٣٠]ـ

بد فالي او سپيرهٔ والے (په هيڅ شي كښے نشته) البته كله خير او بركت په درے څيزونو كښے وي، په ښځه، اس او كور كښے۔ دا روايت بعض علماؤ ضعيف ګڼړلے د اسماعيل بن عياش په وجه ليكن صحيح خبره دا ده چه دا صحيح دے ځكه چه دا اسناد شامي دے، او د اسماعيل بن عياش د شاميانو نه روايت صحيح وي، او تفصيل ډپاره صحيحه ته رجوع وكړه۔

(٦) بعض اهل علمو وئيلي دي : پدے څيزونو كښے سپيرهٔ والے هغه چا ته رسيږي چه څوك ددے نه سپيرهٔ والے نيسي، او څوك چه په الله تعالىٰ باندے توكل وكړي او پدے كښے بد فالي او سپيرهٔ والے نهٔ ګڼړي نو هغهٔ باندے دا نهٔ سپيرهٔ كيږي۔ لكه په حديث د انس ﷺ كښے راغلي دي : [اَلطِّيَرَةُ عَلَى مَنْ تَطَيَّرَ] [ابن حبان : ٦١٢٣]ـ د بدفالئ ضرر په هغه چا دے چه څوك بدفالي نيسي۔ او كله الله تعالىٰ د بنده بدفالي نيول او نحوست ګڼړل د مصيبت د نزول سبب وګرځوي لكه څنګه چه په الله تعالىٰ باندے اعتماد او توكل كول او يواځے د هغهٔ نه خوف او رجاء كول د شرونو د دفع كولو لوي سبب دے،

حافظ ابن قيمؒ وائي : ددې راز دا دې چه په بد فالي نيولو كښې د الله تعالىٰ سره شرك او د غير الله نه يره راځي او په هغه باندې بې اعتمادي او بې توكلي وي، نو داسې شخص د شرونو او مصيبتونو د غشو دپاره هدف جوړيږي نو هغهٔ كښې په جلتئ باندې اثر كوي او زر ورته رارسيږي ځكه چه دهٔ د توحيد او توكل محفوظ ډهال نهٔ دې اغوستې، او هر هغه څوك چه د الله تعالىٰ نه علاوه د يو مخلوق شي نه يره كوي نو الله تعالىٰ پرې هغه مسلط كوي، لكه څنګه چه څوك د الله تعالىٰ سره د بل چا سره مينه كوي نو په هغې سره به په عذاب كيږي او څوك چه د الله تعالىٰ سره د بل چا نه هم اميد ساتي نو هم د هغهٔ د طرف نه به بې مدده كيږي او دا داسې څيزونه دي چه ددې تجربه ددې د دلائلو نه كافي ده. او نفس ته ضرور تطير او بد فالي راځي ليكن قوي ايمان والا مؤمن هغه د الله تعالىٰ په توكل سره دفع كوي. [مفتاح دار السعادة٢/٢٥٧]. والله اعلم.

امام طحاويؒ وائي : طيره نيول شرك دې نو چا چه بدفالي ونيوله هغهٔ ځان ته ضرر وركړو ځكه چه شرك ئې وكړو.

**فائده** : قاضي عياضؒ د بعض علماؤ نه نقل كړې چه په احاديثو كښې درې قسمه څيزونه ذكر دي. (أ) يو هغه چه په هغې سره ضرر نهٔ واقع كيږي او نهٔ ئې عامو خلكو ته تكليف وي او نهٔ خاصو ته نو دې له شريعت هيڅ اعتبار نهٔ دې وركړې او دې له اعتبار وركول ئې منع كړي او دې ته طيره (بد فالي) نيول وائي. (ب) دويم هغه دې چه په هغې سره عمومي ضرر حاصليږي نهٔ خصوصي، او كله نا كله وي او بار بار نهٔ وي او دې ته وباء وائي. نو پدې باندې ورتلل ښيك نهٔ دي او نهٔ ددې نه وتل جائز دي. (ج) دريم : هغه چه ضرر ئې خصوصي وي، نهٔ عمومي لكه كور، اس، ښځه نو ددې نه تيښته كول جائز دي، [اكمال المعلم : ٧/١٤٨-١٤٩، البحر المحيط الثجاج : ٣٦/٤٠٠].

## د خپلې نكاح دپاره پيغله جينئ غوره كړئ

3088 (9) – وَعَنْ جَابِرٍ ﷺ : قَالَ : كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ ﷺ فِي غَزْوَةٍ فَلَمَّا قَفَلْنَا كُنَّا قَرِيبًا مِنَ الْمَدِينَةِ قُلْتُ : يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي حَدِيثُ عَهْدٍ بِعُرْسٍ قَالَ : " تَزَوَّجْتَ ؟ " قُلْتُ : نَعَمْ . قَالَ : "أَبِكْرٌ أَمْ ثَيِّبٌ ؟ " قُلْتُ : بَلْ ثَيِّبٌ قَالَ : " فَهَلَّا بِكْرًا تُلَاعِبُهَا وَتُلَاعِبُكَ ". فَلَمَّا قَدِمْنَا لِنَدْخُلَ فَقَالَ : " اَمْهِلُوْا حَتّٰى نَدْخُلَ لَيْلًا أَيْ عِشَاءً لِكَيْ تَمْتَشِطَ الشَّعِثَةُ وَتَسْتَحِدَّ الْمُغِيبَةُ

". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

**ترجمه**: او جابر ﷺ فرمائی: مونږ د نبی کریم ﷺ سره په یوه غزا کښې وو نو هرکله چه مونږ راواپس کیدو نو مونږ مدینې ته نزدې شو، ما عرض وکړو اے د الله رسوله! زۀ د وادۀ سره نزدې زمانې والا یم، (ما نزدې وخت کښې وادۀ کړیدې) نبی کریم ﷺ وفرمایل: تا وادۀ کړې؟ ما وویل: آؤ، وې فرمایل: آیا پیغله دِې کړې او که کُنده؟ ما وویل: بلکه کنده ده، وې فرمایل: تا پیغله ولې نۀ کوله چه تا د هغې سره لوبې کولې او هغې ستا سره لوبې کولې، بیا هرکله چه مونږ مدینې ته راغلو، دې دپاره چه (کورونو ته) ننوځو، نو وې فرمایل: صبر شئ، تردې چه مونږ د شپې یعنی ماسخوتن کښې ننوزو دې دپاره چه پراګنده ویښتو والا زنانه ویښته ګمنز کړی او غائبه ونګې زنانه وسپنه استعمالولو سره صفائی وکړی۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

**تشریح**: [غَزْوَةٍ] دا غزوه د ذات الرقاع وه، چه د اُحد د غزا نه یو کال روستو واقع شوې وه۔ بعض وائی: تبوك وه، لیکن اول قول صحیح دې۔(فتح الباری) [قَفَلْنَا]۔ قُفُول واپس کیدو ته وائی۔ یعنی هرکله چه مونږ د غزا نه راواپس کیدو، او مدینې ته نزدې شو نو ما جلتی کوله، رسول الله ﷺ رانه تپوس وکړو چه دا څنګه جلتی کوې، نو ما ورته وویل: ما اُوس اُوس تازه وادۀ کړې۔ وې فرمایل: آیا تا وادۀ کړې؟ ما وویل: آؤ، وې فرمایل: تا پیغله کړې او که کُنده؟ ما وویل: کنده، نبی ﷺ وفرمایل: تا پیغله ولې نۀ کوله چه تا د هغې سره لوبې کولې او هغې تا سره۔

د شعبیؒ په یو بل روایت کښې دی: جابر ﷺ وائی: هرکله چه مونږ راواپس کیدو، ما په یو سست اُوښ باندې جلتی کوله، نو ما پسې شاتنه یو سور شخص راورسیدو او زما اُوښ ئې په امسا باندې ووهلو نو زما اُوښ داسې تیز روان شو لکه یو تیز اُوښ چه څنګه روانیږی، ما چه وکتل نو هغه رسول الله ﷺ وو، نو ما ته ئې وویل: ولې جلتی کوې؟ اے جابر!۔ نو جابر ﷺ ورته دغه جوابونه ورکړل۔

[أَبِكْرٌ] دا خبرِ مبتداء دې۔ [أَهِيَ بِكْرٌ] آیا هغه باکره ده۔ بکر د مذکر او مؤنث دواړو دپاره استعمالیږی۔ بې وادۀ شخص ته وائی۔ یعنی پیغله او زلمې۔ [ثَيِّبٌ]۔ وادۀ کړی ته وائی۔ پدې کښې هم مذکر او مؤنث برابر دی۔ مګر زنانه دپاره زیات استعمالیږی، ثیب کښې معنیٰ د رجوع ده، لکه مَثَابَةً لِلنَّاسِ۔ ځائې د رجوع د خلکو۔ نو زنانه چه وادۀ شی نو

په هغه مخ باندے خپل اهل ته نۀ واپس کیږی په کوم باندے چه تلی وی.

[تُلَاعِبُهَا]. د بخاریؒ په بل روایت کښے دی : [تُضَاحِكُهَا وَتُضَاحِكُكَ]. چه تا د هغے سره خندا کولے او هغے تا سره کولے. دے نه معلومیږی چه [تُلَاعِبُهَا] د لعب او ملاعبه نه دے، لوبو ته وائی. او په بل روایت کښے : [تُدَاعِبُهَا وَتُدَاعِبُكَ] چه تا د هغے سره مستی کولے او هغے تا سره. او په بل روایت کښے دی : [تَعَضُّهَا وَتَعَضُّكَ] چه تا په هغے چك لګولے او هغے په تا لګولے. دارنګه دا د لُعاب نه هم دے، لاړو ته وائی، او پدے کښے اشاره ده د هغے ژبے او شونډو رودلو ته، لکه د ښکلولو په وخت کښے کیږی. او ددے نه په خپل مینځ کښے بے تکلفی او کمال اُلفت او رغبت مراد دے، مطلب دا دے چه پیغلے سره نکاح کولو کښے خپل مینځ کښے زندګی د زیات الفت او مینے سره تیریے کیږی او بے تکلفی او خواهش زیات وی، په خلاف د کُنډے نه چه د هغے زړه غالباً د اول خاوند سره انښتے وی. دارنګه که په اُوسیدو او ګپ شپ او ملاویدو کښے دا دویم خاوند د اول خاند په شان ونۀ مومی نو بیا د هغے په طبیعت کښے فرق راتلے شی، ددے نتیجه دا راوځی چه هغه دومره زیاته بے تکلفه او خوشحال طبع نۀ وی لکه څنګه چه پیغله وی.

د بخاریؒ او مسلمؒ په یو بل روایت کښے دی : زما پلار شهید شو او هغۀ نهه لونړه پریخودے نو ما کُنډه ښځه وکړه ځکه چه ما دا بده وګنړله چه زۀ دوئ له د دوئ په شان پیغله راولم چه د دوئ په شان بے تجربے وی، لیکن داسے ښځه مے راوسته چه د دوئ خدمت وکړی او د دوئ سرونه ګمنز کړی. نبی ﷺ ورته وفرمایل : تا ډیر ښۀ کار کړے، او بیا ئے ورته دعاء وکړه چه [بَارَكَ اللّٰهُ لَكَ] الله تعالیٰ دے تا ته برکت درکړی.

[اَمْهِلُوْا] . دا د اِمْهَال نه دے، یعنی صبر وکړئ. په آرام شئ. [اَیْ عِشَاءً] . دا د راوی تفسیر دے چه د "لیل" نه مراد ماسخوتن دے. ځکه چه د لَیْل اطلاق په اول او مینځ او آخر تولو باندے کیږی نو دلته اول د شپه مراد ده، پدے وجه راوی دا تفسیر وکړو. او بله دا چه د شپے راتګ منع دے او عشاءً جائز دے. [تَمْتَشِطَ] مِشط ګمنز کولو ته وائی. [الشَّعِثَةُ] د فَعِلَةٌ وزن دے، پراګنده او خړ پړ ویښتو والا. یعنی مُتَغَيِّرَةُ الْحَالِ وَالْهَيْئَةِ، ګډوډ حالت والا. [وَتَسْتَحِدُّ] یعنی وسپنه استعمال کړی، دپاره د ویښتو صفا کولو. [الْمُغِيْبَةُ] هغه زنانه چه غائبه ونکے ده خاوند لره. عرب دا د هغه زنانه دپاره استعمالوی چه خاوند ترے غائب شوے وی.

**فوائد** : (۱) ددې حدیث او ددې په شان نورو حدیثونو نه د پیغلو سره د نکاح کولو استحباب معلومیږی، په سنن ابن ماجه کښې راغلی دی (لکه روستو راځی) : [عَلَيْكُمْ بِالْأَبْكَارِ فَإِنَّهُنَّ أَعْذَبُ أَفْوَاهًا وَأَنْتَقُ أَرْحَامًا وَفِي الْمُعْجَمِ الْكَبِيرِ لِلطَّبَرَانِيِّ مِنْ حَدِيثِ ابْنِ مَسْعُودٍ : وَزَادَ : وَأَرْضَى بِالْيَسِيرِ] تاسو د باکرو جینکو سره واده وکړئ ځکه چه د دوئ خولې مزیدارې وی، (یعنی خبرې وغیره) او زیات خواهش والا وی، (یا زیات اولاد راوړونکی وی) او په معمولی څیز باندې راضی کیږی۔

(۲) د جابر ﷺ فضیلت ثابت شو چه په خپلو خویندوئے شفقت وکړو او د هغوی د فائدې دپاره ئے خپل خواهش روستو کړو۔

(۳) د امیر د اجازت نه بغیر د قافلې یا مجلس نه رجوع او واپسی جائز نهٔ ده۔

(٤) هرکله چه دوه مصلحتونه راجمع شی نو کوم چه اَهم وی هغه به مخکښې کولے شی، دلته جابر ﷺ د خویندو مصلحت مخکښې کړو په خپل مصلحت باندې نو رسول الله ﷺ د هغهٔ د کار تحسین وکړو او هغهٔ ته ئے د برکت دعا وکړه۔

(۵) دې نه معلومه شوه چه څوك یو خیر کار وکړی هغهٔ ته دعاء کول پکار دی، اگرکه دا خیر د دعاء کونکی دپاره نهٔ وی۔ او دې ته خیرخواهی وائی۔ (٦) امام او بادشاه له پکار دی چه د خپلو ملګرو د کارونو او احوالو تفقد او پوښتنه وکړی او هغوی ته د فائده منو خبرو رهنمائی وکړی اگرکه هغه خبرې د حیاء هم وی۔

## ښځه به د خاوند خدمت کوی

(۷) دا حدیث دلیل دې چه ښځه باندې د خاوند او د هغهٔ د کور خدمت لازم دې، د عرف مطابق، پدې وجه رسول الله ﷺ جابر ﷺ ته دا ونهٔ وئیل چه ستا په ښځه باندې ستا د خویندو خدمت لازم نهٔ دې۔ فاطمې ﷺ به د علی ﷺ دپاره میچنې کولے، اسماء بنت ابی بکر الصدیق رضی الله عنهما به د زبیر ﷺ دپاره د ټول کور خدمت کولو، او د هغهٔ اس دپاره به ئے گیاه هم تیاره وله، او اُوبهٔ به ئے ورکولے، او بوقه به ئے گنډله، او وړهٔ به ئے اغږل او په خپل سر باندې به ئے څلور میله وړاندې زمکے نه د کهجورو اډوکی راوړل۔ او نبی ﷺ دا په لاره کښې ولیدله او دې ته ئے دا ونهٔ وئیل چه په تا باندې دا خدمت نشته، یا دا ظلم دې، معلومه شوه چه دا کارونه په زنانه په واجب دی او دا تطوع او نفل نهٔ دی، او دا قول د امام احمدؒ دې، او امام مالكؒ، ابوحنیفهؒ، شافعیؒ او اهل الظاهرؒ

وائی چه په ښځه باندے د خاوند خدمت واجب نهٔ دے، مگر د دوئ دلیل ضعیف دے۔ والله اعلم۔

[زاد المعاد فی هدی خیر العباد : ۱۸٦/۵، فتح الباری : ۱۲۳/۹، البحر المحیط الثجاج : ۸۰۸/۲۵]

(۸) د جابر رضی الله عنه د بی بی نوم سهله بنت مسعود بن اوس بن مالك انصاریه اوسیه رضی الله عنها وو۔ (ذکره ابن سعدؒ)

(۹) وادهٔ کړے چه د سفر نه واپس کیږی نو پکار ده چه د شپے کور ته رانشی، تردے چه کور والا په څه ذریعه خبر کړی، دے دپاره چه کور والا خپله صفائی وکړی، خپل سر ځنړه او ډول سینگار وکړی، او دا د خاوند پدے باندے حق دے، وجه دا ده چه هسے نهٔ چه ددهٔ نظر په هغه څه ولگی چه نهٔ ئے خوښوی، لکه : ددهٔ ښځے ځان نهٔ وی جوړ کړے او دے ئے په دے حالت کښے ووینی نو نفرت به ئے ترے پیدا شی حالانکه دا هغے ته شوق لری او د هغے په لیدو کښے رغبت کوی۔ وجه داده چه کله د ښځے خاوند په کور کښے نهٔ وی نو په عامه توگه خپل ځان نهٔ سازوی، نو دا بده گڼړی چه ددے خاوند دِے دا په ناخوښه حالت کښے ووینی۔

حافظ ابن حجرؒ په فتح الباری کښے د دواړو حدیثونو تطبیق پدے طریقه کړے چه کومو حدیثونو کښے د شپے راتللو نه منع راغلے نو د هغے مطلب دا دے چه کور ته ئے اطلاع نهٔ وی ورکړی او د شپے راتللو اجازت په هغه وخت دے چه کور والو ته ئے په څه طریقه اطلاع ورکړی وی۔ ددے نه معلومه شوه چه ښځه به خوشبوئی لگوی او خاوند ته به ځان ښائسته کوی۔

(۱۰) د نبی کریم صلی الله علیه وسلم ددے تعلیم او تربیت نه د شریعت حُسن او کمال معلوم شو چه د ښځے او خاوند ترمینځه ئے ددے وړو وړو خبرو هم لحاظ ساتلے، دے وجے نه په دنیا کښے هیڅ یو داسے خیر او ښیگړه نشته چه دے دین هغه مونږ ته ښودلے نهٔ وی، اونهٔ داسے شر شته چه دے دین مونږ د هغے نه منع کړی نهٔ یو۔ الله تعالیٰ دِے مونږ ټول مسلمانان په دنیا او آخرت کښے د دین د کمالاتو نه خبر کړی۔ آمین!

(۱۱) نفی د علم الغیب ترے معلومه شو چه نزدے نکاح شوے او نبی علیه السلام ترے نهٔ وو خبر۔ (۱۲) د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا طریقه نهٔ وه چه د خپلو ملگرونه پدے وجه خفگان وکړی چه هغهٔ ته ئے د ولیمے دعوت نهٔ دے کړے، لکه دا مرض زمونږ پدے زمانه کښے ډیر

زیات دے، قیمتي اوقات به خرابوي خو خامخا ګیله کوي۔
(۱۳) د صحابه کرامو ﷺ په ودونو کښې تکلفات نهٔ وو۔
(۱٤) د ښځې سره ملاعبه او ګپ شپ او خوش طبعي د هغې په حقوقو کښې داخل ده، که د انسان مزاج نهٔ وي هم د ښځې د خوشحالولو دپاره به خامخا د هغې سره ګپ شپ لګوي۔ او په حدیث کښې دي : [کُلُّ مَا یَلْهُوْ بِهِ الرَّجُلُ الْمُسْلِمُ بَاطِلٌ اِلَّا رَمْیَهٗ بِقَوْسِهٖ وَتَأْدِیْبَهٗ فَرَسَهٗ وَمُلَاعَبَتَهٗ مَعَ أَهْلِهٖ فَاِنَّهُنَّ مِنَ الْحَقِّ] [الترمذی : ۱٦۳۷، ابن ماجه : ۲۸۱۱، حسن صحیح]
هرې لوبې باطلې (بیکاره/بے ثوابه) دي سوئ د غشي ویشتو نه، او اس لره ادب ورکولو نه (زغلولو نه) او د سړي لوبې د خپل اهل سره ځکه چه دا د حق نه دي۔ یعني پدے کښې اجر دے۔ او د ښځې سره په ګپ شپ کښې حکمت دا دے چه هغه تنګه نشي ځکه چه هغې سره د ګپ شپ پریخودو په وجه خفګان رسي۔
(۱۵) کله چه د ښځې خاوند غائب وي نو ښځه به ډول او سینګار نهٔ کوي او کله ئے چه خاوند حاضر وي نو ډول پرے لازم دے۔ علماءِ کرامؒ وئیلي دي : ښځه په درے ځیزونو وهل جائز دي، چه مونځ نهٔ کوي، یا ډول نهٔ کوي، یا کله چه د خاوند د خواهشاتو نه انکار کوي۔ لکه دا خبره د احادیثو نه معلومه ده۔
(۱٦) **مسئلة الاستحداد** : [تَسْتَحِدُّ] نه دا فائده معلومیږي چه د زنانه دپاره هم د زیرِ ناف ویښته په چاړه او بلیډ وغیره باندے صفا کول جائز بلکه بهتر دي۔ د مشکاة په حاشیه کښې ئے د مرقات نه نقل کړي چه زنانه دپاره چاړهٔ استعمالول مکروه دي، دا خبره ددے حدیث خلاف معلومیږي۔ بلکه امام نوويؒ وئیلي دي چه د همدے حدیث نه دا معلومیږي چه د زیرِ ناف ویښته په خرئیلو سره د سړي او زنانه دواړو دپاره سنت عمل دے، او په نورو ځیزونو سره زائل کول جائز درجه کښې دي، آه۔ لکه نوره (خاورئ) یا "ریموور" / بال صفا سره۔ د چاړهٔ وغیره (وسپنې) په استعمال سره شهوت زیاتیږي او دا د زنانه دپاره هم ضروري ده، هان که د یوه زنانه شهوت زیات وي نو بیا ورله نور ځیزونه استعمالول هم جائز دي، البته د ترخ د ویښتو په باره کښې نتف (په ګوتو وغیره اوښکل) بهتر دي او د زیر ناف ویښتو خرئیل افضل دي۔

## الفصل الثاني

## هغه درې كسان چه الله تعالىٰ ئې ضرور مدد كوي

3089 (10) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: " ثَلَاثَةٌ حَقٌّ عَلَى اللَّهِ عَوْنُهُمْ: اَلْمُكَاتَبُ الَّذِي يُرِيْدُ الْأَدَاءَ وَالنَّاكِحُ الَّذِي يُرِيْدُ الْعَفَافَ وَالْمُجَاهِدُ فِي سَبِيْلِ اللّٰهِ". رَوَاهُ التِّرمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَه.

**ترجمه**: ابو هريره ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ وفرمايل: درې كسان دي چه په الله تعالىٰ باندې د هغوى سره مدد كول لازم دي، يو هغه مكاتب چه د (كتابت د رقم) ادائيگئ اراده لري، او دويم هغه نكاح كونكے شخص چه د پاكدامنئ اراده لري، او دريم د الله تعالىٰ په لاره كښې جهاد كونكے دے. (ترمذيؒ، نسائيؒ، ابن ماجهؒ)

**تشريح**: [حَقٌّ عَلَى اللّٰهِ] ـ دلته حق تفضلي مراد دے، يعنى الله تعالىٰ په طريقه د احسان په ځان لازم كړے، ورنه د بندګانو په الله تعالىٰ باندې هيڅ لازم حق نشته.

[الْمُكَاتَبُ] ـ دا هغه غلام ته وائي چه هغۀ ته خپل مالك ووائي چه كه تا ما ته دومره دومره رقم راوړو نو تۀ به آزاد ئې، نو كوم رقم چه د دواړو ترمينځ د آزادوالي دپاره مقرر شي هغې ته بدلِ كتابت وائي.

[وَالنَّاكِحُ] ـ دا حديث دليل دے چه څوك وادۀ وكړي الله تعالىٰ ئې مالداره كوي پدې شرط چه د پاكدامنئ په نيت ئې وكړي، لكه آيت كښې هم دا خبره ذكر ده: [وَلْيَسْتَعْفِفِ الَّذِيْنَ لَايَجِدُوْنَ نِكَاحًا حَتّٰى يُغْنِيَهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ] ـ [النور: ۳۳] ـ دے حديث كښې مقصد دا دے چه په نكاح كښې به ستا اراده دا وي چه پاكدامني حاصله شي، بد نظرى نه بچ شي، او نيك اولاد پيدا شي، او بل مسلمان ته فائده ورسيږي. او د مدد نه مراد دا دے چه الله تعالىٰ ترې راضي كيږي، او دارنګه مال ترې ادا كوي.

[وَالْمُجَاهِدُ] د مجاهد سره هم د الله تعالىٰ مدد وي او د هغۀ شهيد كيدل هم د هغۀ سره مدد دے، الله تعالىٰ ئې اُوچتو مرتبو ته ورسوي او ګناهونه ورته معاف كړي.

**درجة الحديث**: [اسناده حسن] الترمذي: ۱۶۵۵، نسائي: ۱۵/۶، ابن ماجه: ۲۵۱۸، احمد: ۹۶۲۹، بيهقي: ۱۳۲۲۴، وحسنه الترمذي وصححه ابن حبان: ۴۰۳۰، والحاكم: ۲/۲۱۷، محمد بن عجلان حسن الحديث (ذهبي في سير الاعلام)]

## خور لور په جلتئ سره نیك او خوش اخلاق سړی ته ورکړئ

3090 (11) – وَعَنْهُ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: " إِذَا خَطَبَ إِلَيْكُمْ مَنْ تَرْضَوْنَ دِيْنَهُ وَخُلُقَهُ فَزَوِّجُوْهُ إِنْ لَّا تَفْعَلُوْهُ تَكُنْ فِتْنَةٌ فِي الْأَرْضِ وَفَسَادٌ عَرِيْضٌ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

**ترجمه**: ابو هریره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: هرکله چه په تاسو باندے د وادهٔ جرګه وکړی هغه څوك چه تاسو د هغهٔ دینداری او اخلاق خوښوئ نو هغهٔ ته (خور لور) په نکاح ورکړئ، که دا کار مو ونکړو نو په زمکه کښے به لویه فتنه او پلن (غټ) فساد موجود شی۔ (ترمذیؒ)

**تشریح**: [خَطَبَ إِلَيْكُمْ] خِطبه طلب د نکاح او وادهٔ ته وائی یعنی جرګه د نکاح او پیغام د نکاح راولیږی تاسو ته۔ [دِيْنَهُ] دین ئے ځکه ذکر کړو چه دین د حقوقو د ادا کولو دارومدار دے۔ څوك چه دیندار وی هغه حقوق ادا کوی۔ [وَخُلُقَهُ] اخلاق ځکه ذکر کوی چه اخلاق د ښائسته معاش او ژوند تیره ولو ذریعه ده۔ [إِلَّا تَفْعَلُوْهُ] یعنی که تاسو هغهٔ ته خور لور په نکاح ورنکړه۔ [فِتْنَةٌ] یعنی ستاسو ترمینځ به فتنے راپیدا شی، زنا او بے حیائی به عامه شی۔ [وَفَسَادٌ عَرِيْضٌ] (پلن فساد) یعنی لوی فساد۔ هغه دا چه خبره به جنګ جګړو ته ورسیږی۔ او جینکئ تښتول او تښتیدل به مینځ ته راشی چه د هغے شرم به تر ډیرے مودے پاتے وی، ځکه ئے د عریض (پلن) لفظ راوړو۔ دارنګه معاشره به د عفت او صلاحیت نه خالی شی، نسبونه به پریکړے شی۔

پدے حدیث کښے د زنانو سرپرستو او ولیانو ته خطاب او هغوی ته یو ضروری هدایت دے چه که یو دینداره او خوش اخلاق او نیك سیرت شخص ستاسو د خور وغیره د نکاح پیغام راولیږی نو د هغهٔ پیغام منظور کړئ او هغهٔ ته ئے په نکاح ورکړئ، که داسے مو ونکړل بلکه مالداره یا صاحب ثروت او حسب او نسب والا شخص ته انتظار کوئ، لکه چه د اکثرو دنیادارو دا عادت دے، یا بعض خلك نژدے کور والا، او خپل کور والا شرطونه لګوی نو ددے نتیجه به دا شی چه اکثرے جینکئ به بے خاونده ناستے وی، او اکثر هلکان به بغیر د ښځو نه ژوند تیره وی او ددے په وجه به نهٔ صرف دا چه بدکاری او ناکاره چلن عام شی، او خپل مینځ کښے به د زنا تعلقات عام شی بلکه ددے زنانو سرپرست او ولی به په ډیر ناکاره قسم عار او شرم کښے اخته کیږی، بیا چه

37

څوك ورته پیغور ورکوی نو د هغوی سره به په جګړو اخته کیږی او آخر دا چه ددے بدکارئ او فحاشئ او جګړو په وجه به یوه راګیرونکے فتنه او فساد پیدا کیږی۔

**مسئله د کفاء ت:** دے حدیث نه دا مسئله هم معلومه شوه چه د زوجینو (ښځه او خاوند) ترمینځ کفاء ت (مساوات/برابر والے/همزولتیا) به صرف د دین په صفت کښے وی (۱) او دا مذهب د امام مالك دے، هغه فرمائی چه هرکله دواړه دیندار وو نو دا دواړه د یو بل کفو (برابر) دی، یو بل سره نکاح کولے شی۔ او دا د ابن عمر، ابن مسعود رضی الله عنهما نه او په تابعینو کښے د محمد بن سیرینؒ او عمر بن عبد العزیزؒ نه نقل دے۔ او دا امام بخاریؒ او مام نسائیؒ غوره ګنړلے دے۔

(۲) او جمهور علماء وائی چه په څلورو څیزونو کښے به د کفاء ت (یعنی یو د بل کفو (شریك) کیدو) لحاظ کیدے شی۔ (۱) دین (۲) حریت (آزادی) (۳) نسب (٤) پیشه (کاروکسب) نو د یو مسلمانے ښځے نکاح د کافر سره نۀ کیږی، نۀ د یوے نیکے ښځے د یو فاسق سره کیږی، نۀ د آزادے ښځے نکاح د یو غلام سره کیږی، او معلوم نسب والا ښځے نکاح د نا معلومه نسب والا سره نۀ کیږی، (لکه مثلًا قریشی د غیر قریشی سره نۀ کیږی، دارنګه عربی د عجمی سره) او د یو سوداګر او تاجر یا د غوره پیشے والا شخص د لور نکاح د یو حرام یا مکروه پیشے والا سره نۀ کیږی۔ البته دا خبره ضرور کوی چه که د یوے ښځے ولی یا خپله ښځے یو غیر کفو سره نکاح کولو باندے راضی شوه نو نکاح به صحیح وی۔ (مرقاة، تحفة الاحوذی)۔

احناف دلته یوه خبره کوی چه د هغے نه دا مسئله د کفاء ت پیدا کیږی، او هغه دا چه هغوی وائی چه د ښځے نکاح په غیر د اجازت د ولی نه جائز ده، نو هرکله چه یوه زنانه د ولی د اجازت نه بغیر نکاح وکړه نو آیا ولی دپاره پدے نکاح باندے اعتراض کول جائز دی او که نه؟ نو وائی چه که دے زنانه چرته د کُف سره نکاح کړے وه نو ولی دپاره اعتراض جائز نۀ دے او که د غیر کف سره ئے نکاح کړے وه نو ولی د اعتراض حقدار دے او ددے حکمت دا بیانوی چه په غیر کف کښے د ښځے په اولیاؤ باندے شرم راځی، خلك به ورته پیغور ورکوی چه ستاسو خور یا لور شرابی یا پوډری یا جولا یا نائی یا غلام په نکاح کړیده۔ **لیکن** دا مذهب ضعیف دے۔

**دلائل د اول قول:** ۱– وجه دا ده چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی: [لَا فَضْلَ لِعَرَبِيٍّ عَلَى

أَعْجَمِيٍّ وَلَا لِعَجَمِيٍّ عَلٰى عَرَبِيٍّ وَلَا لِأَحْمَرَ عَلٰى أَسْوَدَ وَلَا لِأَسْوَدَ عَلٰى أَحْمَرَ إِلَّا بِالتَّقْوٰى] [مسند احمد: ۲۳۵۳۶، اسناده صحیح] د عربي په عجمي او د عجمي په عربي او د سور په تور او د تور په سور باندې هیڅ فضیلت نشته مګر په تقویٰ سره فضیلت دے). دا حدیث په خپل جامعیت سره دا خبره ثابتوي چه کفاءت صرف په تقویٰ او دین کښې معتبر دے نۀ په نورو څیزونو کښې. دارنګه رسول الله ﷺ بنو بیاضه ؤ ته وئیلي وو: اے بنو بیاضه! تاسو ابو هند ته خپله خور لور په نکاح ورکړئ او دے حجام وو. (ابوداودؒ، حاکمؒ باسناد جید)

دے حدیث نه ثابته شوه چه په نکاح کښې د هلك او جینۍ د نسب او ((پیشې)) برابروالے معتبر نۀ دے. حجام د خپلو نورو غیر حجامینو رشته دارو سره برابر دے او د هغوئ د خور لور سره نکاح کولے شي. دغه شان هغه تولے پیشې هم دا حکم لري چه خلك ئې سپکے او حقیرے ګڼړي، لکه رنګسازي، قصابي، جولاتوب، موچي توب، لارے ګودرے جارو کونکے او ددے پشان نورے پیشې او دندے. وجه داده چه نبي ﷺ خلکو ته حکم وکړو چه ابو هند سره رشته کوئ حالانکه یو خو هغه آزاد کړے غلام وو، او بل په دے وخت کښې دا حجام هم وو. او د حجامۍ پیشه د عربو په ماحول کښې سپکه دنده ګڼړلے شوه. زمونږ پښتانۀ هم نائیتوب سپك کسب ګڼړي.

علامه خطابيؒ فرمائي: (په دے حدیث کښې د امام مالكؒ وغیره دپاره دلیل دے چه سیالي یواځې په دین کښې معتبره ده، نۀ په بل یو شئ کښې) [معالم السنن: ۳/۴۴]

۲– دا حدیث الباب دلیل دے چه دلته ئې (تَرْضَوْنَ دِينَهُ وَخُلُقَهُ) د ښځې سیال ګرځولے نۀ نور څیزونه. ۳– حدیث کښې دي: [إِنَّ اللّٰهَ لَا يَنْظُرُ إِلٰى صُوَرِكُمْ وَلَا إِلٰى أَمْوَالِكُمْ وَلٰكِنْ يَنْظُرُ إِلٰى قُلُوبِكُمْ وَأَعْمَالِكُمْ] [مسلم: ۶۷۰۸] (الله تعالیٰ ستاسو شکلونو او مالونو ته نۀ ګوري بلکه ستاسو زړونو او اعمالو ته ګوري) نو برتري او فضیلت په اعمالو او اخلاص سره دے، نۀ په شکل او مال او نسب سره.

۴– الله تعالیٰ فرمائي: [إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللّٰهِ أَتْقَاكُمْ] [الحجرات: ۱۳] په تاسو کښې د الله تعالیٰ په نیز زیات عزتمن هغه څوك دے چه زیات متقي وي.

۵– **دلیل**: او دارقطنيؒ د حنظله بن ابي سفیانؒ نه او هغۀ د خپلې مور نه نقل کړي چه ما د عبد الرحمن بن عوف قرشي ؓ خور د بلال حبشي ؓ په نکاح کښې ومونده.

نو دلته عبد الرحمن ﷺ قریشي دے او بلال ﷺ آزاد کړه غلام وو، او نسب ئے هم جدا وو. معلومه شوه چه کفاءت صرف په دین کښے معتبر دے. ۶– او نبي ﷺ فاطمه بنت قیس ﷺ چه قریشیه وه اُسامه بن زید ﷺ ته په نکاح ورکړه حال دا چه هغه د آزاد کړه غلام ځوی وو. هغے ته ئے داسے وفرمایل: [اِنْکِحِيْ اُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ]: د اسامه بن زید ﷺ سره نکاح وکړه. نو که په نکاح کښے کفاءت (مساوات) په نسب کښے شرط وے نو نبي ﷺ به فاطمے ته دا مشوره نهٔ ورکولے. نو ګویا کښے پدے باندے د صحابه کرامو ﷺ په زمانه کښے اجماع وه چه کفاءت صرف په دین کښے معتبر دے.

او کوم روایت د ابن عمر ﷺ کښے چه په نورو څیزونو کښے کفاءت ذکر شوے نو هغه ضعیف دے لکه هغه روایت داسے دے: عَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: اَلْعَرَبُ بَعْضُهَا اَکْفَاءُ بَعْضٍ، وَالْمَوَالِيْ بَعْضُهُمْ اَکْفَاءُ بَعْضٍ، اِلَّا حَائِکًا اَوْ حَجَّامًا. رَوَاهُ البیهقی فی الکبری: ۱۴۱۴۳]، ابن عمر ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمایل: عرب یو د بل دپاره سیال دی او آزاد کړی غلامان یو د بل سیال دی، سویٰ د جولا او نائی نه.

حافظ په بلوغ المرام کښے فرمائی: وَفِيْ اِسْنَادِهٖ رَاوٍ لَمْ يُسَمَّ، وَاسْتَنْكَرَهٗ اَبُوْحَاتِمٍ. وَلَهٗ شَاهِدٌ عِنْدَ الْبَزَّارِ (۲۶۷۷): عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ بِسَنَدٍ مُنْقَطِعٍ. او ددے په سند کښے یو راوی داسے دے چه د هغهٔ نوم نهٔ دے اخستل شوے (یعنی مجهول دے) او ابو حاتم دیته منکر وئیلی). او په بزار کښے د معاذ بن جبل ﷺ نه په منقطع سند سره ددے یو شاهد هم روایت شوے. او بیهقیؒ وئیلی دی چه دا حدیث د شجاع او ابن جریج ترمینځ منقطع دے.

**سوال**: نبي ﷺ علي بن ابی طالب ﷺ ته فرمائیلی وو: [ثَـلَاثٌ لَا تُؤَخِّرْهُنَّ ......وَالْاَيِّمُ اِذَا وَجَدْتَ لَهَا كُفُوًا] [المستدرك للحاکم: ۲۶۸۶ وقال غریب صحیح] یے وادهٔ له چه ډے کله همزولے وموندو نو په نکاح ئے ورکړه.

**جواب**: ۱– اول خو دا روایت ضعیف دے، په سند کښے ئے سعید بن عبد الله الجهني مجهول دے، (الذهبيؒ فی المهذب والالبانی) او که ثابت شی لکه ابن کثیرؒ ورته په ارشاد الفقیه (۲۱۹/۱) کښے او عراقيؒ په تخریج الاحیاء (۲/۲۱) کښے (اسناده حسن) وئیلی دے، او حاکمؒ ورته غریب صحیح وئیلے دے.

۲– نو بیا جواب دا دے چه یو کفائت د حدیث دے او بل کفاءت د فقهاؤ دے نو کوم کف چه په حدیث کښے ذکر کیږی نو د هغے نه هغه کف مراد دے چه په اسلام کښے

كُف وي، او هغه ديندارى او حسن الخلق دى، او كوم كفاء ت چه فقهاء ذكر كوى چه په هغې كښې مخكنى شرطونه وى، نو هغه په احاديثو كښې ذكر نۀ دے، او د دواړو ترمينځ فرق دے۔ او بعض علماء پدے كښې خطاء كيږى چه د فقهاؤ يا د عرف يوه اصطلاح باندے حديث تطبيق كوى۔ حال دا چه حديث كښې جدا مقصد وى او دغه اصطلاح جدا وى۔

**تنبيه** : علماؤ ويلى دى چه كفائت د ښځو دپاره په سړو كښې معتبر دے۔ د سړو دپاره په ښځو كښې معتبر نۀ دے، ددے دليل دادے چه د الله نبى (ﷺ) د خپل ځان پشان بل څوك مثل او برابر نۀ لرى، حالانكه هغوئ د عربو قبائلو د ښځو سره نكاح كړے، او د يهودى حُيَىُ بن اخطب لور صفيه ﷺ ئے په نكاح اخستے۔ وجه داده چه ښځه د خاوند په شريف كيدو باندے فخر كوى او د هغۀ په رذيل كيدو شرميږى، ځكه ښځه د خاوند تابع وى، او خاوند متبوع نو خاوند ته د ښځے له طرفه څۀ شرم نۀ ورځى۔ بله دا چه : بچے د پلار په شرافت سره شريف گرځى نۀ د مور په شرافت سره، نو ځكه په مور كښې كفائت معتبر نشو۔ [بدائع الصنائع: ۲/۳۲۰، المغنى: ۹/۲۹۷] والبحر المحيط الثجاج (۲۵/۷۹٤، و ۲۶/۲۱۶]

**درجة الحديث** :[حسن] الترمذى : ۱۰۸٤، ابن ماجه : ۱۹۶۷، وصححه الحاكم : ۲/۱۶٤، عبد الحميد بن سليمان غير ثقة (ابوداود) ولكن له شاهد كما فى الارواء : ۱۸۶۸، والصحيحة : ۱۰۲۲]

## محبت كونكے ښځے سره نكاح وكړئ

3091 (12) – وَعَنْ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : "**تَزَوَّجُوا الْوَدُوْدَ الْوَلُوْدَ فَإِنِّىْ مُكَاثِرٌ بِكُمُ الْأُمَمَ** ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِىُّ

**ترجمه** : او معقل بن يسار ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو د ډيرے مينه ناكے او ډير بچى راوړونكے ښځے سره نكاح كوئ ځكه زۀ ستاسو د ډيروالى په وجه په (نورو) امتونو باندے فخر كونكے يم۔ (ابوداوّد، نسائیؒ)

**تشريح** : مناسبت : مخكښے حديث كښے د سړى دوه صفتونه بيان شو دلته د ښځے دوه صفتونه راوړى۔ ددے حديث ابتداء داسے ده : معقل بن يسار ﷺ فرمائى : يو سړے

نبي ﷺ ته راغے او عرض ئے وکړو: ما يوه داسے ښځه حاصله کړے چه ذاتي شرافت او ښائست والا ده خو شنډه ده نو آيا زهٔ ورسره وادهٔ وکړم؟ نبي ﷺ وفرمايل: نه۔ بيا ورته راغے او بيا ئے منع کړو۔ په دريم ځل چه ورته راغے، نو نبي ﷺ ورته پورتنے حديث [تَزَوَّجُوا ......الخ] وفرمايهٔ»۔ ددے حديث مقصد دادے چه څوك د نيك اولاد دپاره وادهٔ کوي نو هغه به شنډه ښځه نهٔ کوي۔ او دا مطلب نهٔ دے چه ګنے شنډے ښځے سره مطلقًا نکاح منع ده، ځکه کله د توالد او تناسل نه سوئ د نورو مقاصدو دپاره هم نکاح کيږي۔او په دے صورت کښے نکاح کول نهٔ صرف جائز بلکه يو خوښ عمل دے۔

[اَلْوَدُوْدَ] د واؤ په زور سره، د وُدّ نه د مبالغے صيغه ده، اسم فاعل دے، ډيره مينه ناکه ښځه چه خپل خاوند سره ډيره مينه کوي، يا وزن فعول په معنیٰ د مفعول سره دے، يعني هغه ښځه چه د خپلو عُمده صفتونو او خويونو او عادتونو او ښائسته اخلاقو په وجه خاوند ته محبوبه وي۔[اَلْوَلُوْدَ] د وَالِدَةٌ نه د مبالغے صيغه ده، يعني ډير بچي راوړونکے ښځه۔ په کونډه ښځه کښے خو دا معلوميدے شي ځکه چه هغے بچي راوړي وي، ليکن په پيغله جينئ کښے به دا څنګه معلوميږي چه دا ډير بچي راوړونکے ده؟ نو دا د هغے د خپلوانو او نزدے رشته دارو ښځو نه معلوميدے شي ځکه غالبه داده چه کوم طبيعت په خپلوانو کښے وي هغه به دے جينئ ته هم سرايت کوي۔ او دا دواړه صفتونه ئے په دے وجه جمع کړل چه دا په ښځه کښے ډير کمالي صفتونه دي، ځکه په کومه جينئ کښے چه مينه نهٔ وي هغے سره څوك وادهٔ نهٔ کوي، دا شان کومه ښځه چه بچي نهٔ راوړي نو د وادهٔ مقصد نهٔ حاصليږي چه هغه اسلامي امت زياتول دي۔

[اِنِّيْ مُکَاثِرٌ بِکُمْ] زهٔ به ستاسو د ډيروالي په ذريعه په نورو انبياءِ کرامو عليهم السلام فخر کوم، چه زما اَتباع او پيرَويان څومره زيات دي۔ ځکه نبي کريم ﷺ داعي دے، او داعي چه چاته دعوت ورکړي او هغه ئے قبول کړي نو هغه چه کوم اعمال کوي، د هغهٔ د عمل برابر اجر او ثواب دغه داعي ته هم ملاويږي۔ نو په دے امت کښے چه څوك نيك عمل کوي، د هغے اجر او ثواب نبي کريم ﷺ ته رسيږي، نو ځکه نبي کريم ﷺ ددے امت ددے ډيروالي په وجه په نورو انبياء (عليهم السلام) باندے فخر کوي۔ حديث کښے دي: [مَنْ سَنَّ فِي الْإِسْلَامِ سُنَّةً حَسَنَةً فَلَهُ أَجْرُهَا وَأَجْرُ مَنْ عَمِلَ بِهَا إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ] [مسلم: ۱۰۱۷] (څوك چه په اسلام کښے يوه ښائسته طريقه جاري کړي، نو هغهٔ ته به ددے او

قیامتـه پورې په دې باندې د عمل کونکو ثواب ملاویږي). فخر په دنیا باندې جائز نهٔ دې، نبي ﷺ فرمائي : [أَنَا سَيِّدُ وُلْدِ آدَمَ وَلَا فَخْرَ] (زهٔ د آدم ﷺ د اولادو سردار يم او پدې کښې هیڅ فخر نشته) او په آخرت کښې جائز دې. هرچه د فخر نه مراد تکبر کول دي نـو هـغـه جائز نهٔ دې، او پدې حدیث کښې فخر د عزت يوه ذريعه ده چه الله تعالیٰ به نبي ﷺ تـه داسـې عـزت ورکـوي چـه د هغهٔ امت به زيات ښکاره کوي او پدې کښې په اصل کښې د الله تـعـالىٰ په بندګئ باندې فخر دې چه ددهٔ امت د الله تعالیٰ زياته بندګي کړيده ځکه چه نفري زياته وي نو عبادت هم زيات وي. فتدبر.

[مُكَاثِرٌ] أَيْ مُفَاخِرٌ بِكَثْرَتِكُمْ (ستاسو په کثرت باندې فخر کونکې يم).

**فوائد** : (۱) حـديث کښې وادهٔ کـولـو طـرفـتـه ترغيب دې ځکه چه په دې کښې ډيرې ښيـګـړې دي. پـه دې کښې د تـوالـد او تـنـاسـل پـه ذريـعـه اسلامي امت زياتول دي او د قيامت پـه ورځ د نبي کـريـم ﷺ فخر ثابتول دي. دارنګ ددې په وجه بچي او نمسي پيدا کيـږي چه دا د انسان د سترګو يخوالې ګرځي. الله تعالیٰ فرمائي :﴿ وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُمْ مِّنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا وَّجَعَلَ لَكُمْ مِّنْ أَزْوَاجِكُمْ بَنِينَ وَحَفَدَةً وَّرَزَقَكُمْ مِّنَ الطَّيِّبَاتِ ﴾ [النحل : ۷۲] (او الله تـعـالـىٰ سـتـاسـو دپاره ستاسو د جنس نه بيبيانې پيدا کړې او تاسو له ئې ستاسو د بيبيانو نه ځامن او نمسي درکړي او تاسو له ئې پاکيزه رزقونه درکړي).

(۲) دا حـديـث دلـيـل دې چـه داسې ښځې سره نکاح کول مستحب دي چه هغه مينه نـاکـه او ډيـر بـچـي راوړ ونـکـې وي، ځکه خاوند سره د ښځې محبت کول دا دليل دې چه ددې مـزاج او طبيعت صحيح دې، او دا په خپل خاوند سره نورو سړو ته د توجه کولو نه بې نيازه ده، او دا ددې سبب دې چه دا به د خپل خاوند خيال ساتي او هغهٔ ته به ځان ډولي کـوي. او په دې کار سره به دا د خپل خاوند توجه ځانته راړوي او هغه به پردو ښځو سره د تعلق لرلو نه ساتي، او په دې کښې نورې ډيرې ښيګړې او فائدې دي. دې وجې نه ښځې لـه پکار دي چه هر وخت د ((ناوې)) پشان خـاوند تـه ځان جوړوي او خاوند په خپل حُسن بـانـدې آبـاد سـاتـي. لنډه دا چه : د ښځې او خاوند يو د بل سره مينه محبت کولو په وجه خـانـدان جـوړيـږي او ديـنـي او دنـيـوي مـصـلـحـتـونه پوره کيـږي. [انـظـر: حجة الله البالغة : ۱۲۳/۲]

(٤) او حـديـث نـه مـعـلـومـه شـوه چـه د وادهٔ پـه لويو مقاصدو کښې يو مقصد تکثير

النسل دے۔ نو دا دلیل دے چه کوم قامونه تحدید النسل ((منصوبه بندئ)) ته دعوت ورکوی نو دا د اسلامی تعلیماتو خلاف عمل دے، بلکه دا د اسلام او مسلمانانو په خلاف مکر او فریب جوړول دی، د هغوئ نسلونه کمول او د هغوئ وجود کمزورے کول دی، دے دپاره چه بیا په دوئ باندے دشمن په آسانئ سره غالبه شی او د دوئ په ملکونو او د هغے په املاکو، ثروتونو او ذخائرو باندے قبضه واچوی۔

بله دا چه: د نسل بندئ دا نظریه د جاهلیت د اعمالو نه یو عمل دے او په الله تعالیٰ باندے د رزق په باره کښے بدگمانی کول دی، کله چه ستا یو بچے پیدا کیږی نو یوه دروازه د رزق کولاوه شی او کله چه دوه شی نو دوه دروازے او چه درے شی نو درے دروازے د رزق کولاویږی، او دا تجربه ده او د قرآن او حدیث نه معلومه ده چه د وادهٔ نه مخکښے انسان دومره مالداره نهٔ وی، د وادهٔ نه پس زیات مالداره کیږی۔ لکه چه دا خبره مخکښے هم ذکر شوه۔ خو ددے نه مراد هغه ((منصوبه بندی)) ده چه همیشه دپاره انسان خپل بچی بند کړی چه په دے سره نسل کمیږی او دا د شارع د مقصود خلاف عمل دے۔ پاتے شو د یو محدود وخت دپاره په اولاد کښے ((وقفه)) کول، دے دپاره چه مور د دوو کالو یا زیات وخت دپاره حمل ته تیاره شی، نو دا جائز دی، خصوصًا کله چه ښځه زر زر بچی راوړی چه په دے سره د مور او د ماشوم صحت خرابیږی او کمزوری ماشومان پیدا کیږی۔ او کله چه ځهٔ وقفه وکړے شی نو بیا ماشومان مضبوط وی۔ خصوصًا په دے وخت کښے زنانه زر زر اولاد راوړی، نو ددے دپاره منصوبه جوړول نا روا نهٔ دی۔

ددے وجه دا ده چه دا بچے مظنون انسان دے او دا زنانه یقینی انسان دے او د مظنون (گمانی) انسان په وجه به یقینی نهٔ بربادیږی۔ ددے وقفے د جواز دلیل دادے چه صحابه کرامو ﷺ به د خپلو بیبیانو سره عزل کولو (په عین موقعه کښے به ئے خپل مخصوص اندام راویستلو) لکه ددے زیاتی وضاحت به په [بَابُ عِشْرَةِ النِّسَاءِ] کښے راشی، ان شاء الله تعالیٰ۔ لیکن د ډیر والی سره د هغوی تربیت هم انتهائی ضروری دی، ځکه چه رسول الله ﷺ په پوډریانو او فاسقانو باندے فخر نکوی۔

**درجة الحدیث** :[صحیح لطرقه] ابوداود : ۲۰۵۰، نسائی : ٦/٦٥، بیهقی (٧/٨١) وصححه ابن حبان (٤٠٢٨) من حدیث انس بلفظ : مکاثر بکم الانبیاء علیهم السلام، آداب الزفاف ص

(١٣٢) والارواء (١٧٨٤).

## د پيغلې سره نكاح كول ولې بهتر دي ؟

3092 (13) – وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ سَالِمِ بْنِ عُتْبَةَ بْنِ عُوَيْمِ بْنِ سَاعِدَةَ الْأَنْصَارِيِّ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: "**عَلَيْكُمْ بِالْأَبْكَارِ فَإِنَّهُنَّ أَعْذَبُ أَفْوَاهًا وَأَنْتَقُ أَرْحَامًا وَأَرْضٰى بِالْيَسِيْرِ**". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ مُرْسَلًا.

**ترجمه**: عبد الرحمن بن سالم بن عتبه بن عويم بن ساعده انصاريِ د خپل پلار او د خپل نيكۀ نه روايت كوي فرمائي چه رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو له پكار دي چه د پيغلو سره نكاح وكړئ ځكه چه دا خوږو خولو او صفا رحمونو والا وي او په معمولي شي باندې راضي كيږي. (ابن ماجهٔ په طريقه د ارسال نقل كړې)

**تشريح**: [عَلَيْكُمْ] دا عَلَيْكُمْ د لزوم او وجوب دپاره نۀ دې بلكه د ترغيب دپاره دې.

[الْأَبْكَارِ] - جمع د بِكْرٌ ده، مخكښې ذكر شو چه دا د مذكر او مؤنث دواړو دپاره استعماليږي.

[أَعْذَبُ أَفْوَاهًا] - يعني خوږو خبرو والا وي. ددې نه مراد يا خو خوږې خبرې دي، يا په ظاهر باندې بناء دې، او مراد ترې خوږوالې د لاړو دې، او ځيني وائي چه دا كنايه ده ددې نه چه باكره د خاوند سره بنائسته خبرې كوي، او بې حيائي او بد زباني د خاوند سره ډيره نۀ كوي، ځكه چه حياء ئې باقي وي.

[وَأَنْتَقُ أَرْحَامًا] - [أَيْ أَصْفٰى أَرْحَامًا مِنْ مَنِيِّ الرِّجَالِ]. يعني د سړو د مني نه زيات صفا رَحِمونو والا وي. يا زيات اولاد والا وي، كومه زنانه چه ډير اولاد راوړي هغې ته عربئ كښې ناتق وائي، نتق معنیٰ ده ويشتل، ځكه چه هغه هم ډير اولاد راولي. او ددې وجه دا ده چه دې اولاد نۀ وي راوړي نو ددې د رحم استعداد زيات وي. دارنګه نتق حركت ته وائي، او ددې په رحم كښې هم حركت زيات وي. يعني د پيغلې رحم كښې ګرمائش وي نو زيات بچي راوړي او د كُنډې رَحِم كښې يخوالې وي نو د بچو استعداد ئې كمزورې وي. (مرشد ذوي الحجا، فتح المنعم)

[وَأَرْضٰى بِالْيَسِيْرِ] - يعني په لږ څه راضي كيږي، د مال او د جماع نه او خرچې او خوراك څښاك نه. ځكه چه دې مخكښې كوم خاوند نۀ وي ليدلې چه هغې ته د كمي زياتي

احساس وشي او د خپل خاوند نه زیات مال او اسباب وغواړي.

ددې حدیث نه دا فائده حاصلیږي چه خپلې بی بی سره لوبې او ګپ شپ لګول بهتر عمل دې او دې ته ترغیب ورکړې شویدې. پدې سره زنانه او سړیٔ ته انتهائي سکون ملاویږي.

**فائده** : د حافظ ابو نعیمؒ د شجاع بن الولیدؒ نه د یو بني اسرائیلي واقعه نقل کړې چه هغۀ قسم وکړو چه زۀ به وادۀ نکوم تردې چه د سلو کسانو نه مشوره واخلم نو د نهه نوي کسانو نه ئې مشورې واخستې، نو هغوی په هغۀ باندې خبره ګډه وډه کړه، (چا یوه مشوره ورکړه او چا بله، چه ددۀ زړۀ ته په یو هم اطمینان ونشو) نو دۀ ووېل چه یو تن پاتې دې چه دا به اول هغه سړې وي چه ددې کندې نه راښکاره کیږي نو د هغۀ په خبره به خامخا عمل کوم، دې پدې حالت وو چه یو تن راښکاره شو چه په یو اس باندې سور وو، خلکو هغۀ ته ددې سړي قصه وکړه نو هغۀ ورته دا مشوره ورکړه چه زنانه درې قسمه دي، یوه ستا ده او د یوې ضرر په تا باندې دې، او دریمه نۀ ستا ده او نۀ ئې په تا ضرر شته. پیغله ستا ده (ستا په فائده کښې ده) او بچو والا به په تا باندې ضرر وي، او هرچه کُنډه ده نو هغه نۀ ستا ده او نۀ ئې په تا ضرر شته. [السراج المنیر شرح الجامع الصغیر ۳/۳۲۳].

مُرْسَلًا : دې ته مرسل وئیلو کښې نظر دې، ځکه چه عبد الرحمن بن سالم د خپل پلار (سالم) نه نقل کوي او هغه د خپل پلار نه چه عتبه بن عویم بن ساعده ﷺ دې او عتبه او عویم دواړه صحابه کرام دي، او سند متصل دې. او د مشکاة مصنف دا خیال کړې چه عتبه تابعي دې.

**درجة الحدیث** :[إسناد حسن] ابن ماجه : ۱۸٦۱، بیهقی : ۸۱/۷، وهو غیر مرسل بل هو موصول في ابن ماجه، وللحدیث شواهد یرتقي بها الی رتبة الحسن کما في الصحیحة : ٦۲۳، وهذا الحدیث انفرد به ابن ماجه لکن رواه الحاکم عن محمد بن طلحة بالاسناد والمتن السابقین وقال هذا حدیث صحیح علی شرط الشیخین ولم یخرجاه بهذه السیاقة [مرشد ذوی الحجا والحاجة :۱۱/٦۰ وقال الاثیوبي : إسناد حسن].

## د نکاح سره محبت پیدا کیږي

## الفصل الثالث

3093 (14) – عن ابن عباس ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : " لَمْ تَرَ لِلْمُتَحَابَّيْنِ مِثْلَ النِّكَاحِ ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَة

**ترجمه** : او ابن عباس ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : تا د محبت کونکو دپاره د نکاح په شان (شے) نۀ دے ليدلے. (چه د دوئ خپل مينځ کښے محبت نور هم زيات کړي). (ابن ماجة)

**تشريح** : [اَلْمُتَحَابَّيْنِ] دا يا صيغه د تشنيه ده، يعني د دوه کسانو چه د نکاح په وجه خومره محبت پيدا کيږي دا په بل شي سره نۀ پيدا کيږي، ځکه چه ښځه او خاوند د يو بل سره هيڅ قرابت او رشته داري نۀ وي ليکن د نکاح په وجه الله تعالیٰ د هغوی ترمينځ څومره الفت او محبت او ترس او شفقت پيدا کړي. او دا د الله تعالیٰ يو احسان دے چه په خپل کتاب کښے ئے ذکر کړے. ﴿ وَجَعَلَ بَيْنَكُم مَّوَدَّةً وَرَحْمَةً ﴾ [الروم: ۲۱]. او چونکه محبت د مسلمان سره کول لازم دي، او د نکاح په وجه دا پيدا کيږي نو نکاح هم ضروري شوه. (۱) نو مطلب دا دے چه د يو سړي او د يوے ښځے د يو بل سره د الله تعالیٰ دپاره شرعي محبت وي، (شرعي محبت دا دے چه يو ځائے کښے يو تن د دين کار کوي، د زنانه ورسره د الله تعالیٰ دپاره مينه وي، يا يوه زنانه د دين کار کوي او خوش اخلاقه وي د سړي ورسره د الله تعالیٰ دپاره مينه وي) نو دا دواړه دے د يو بل سره نکاح وکړي، دا محبت به ئے باقي پاتے شي او محبت به ئے نور هم زيات شي. (۲) يا ددے نه مراد دا دے چه دوه کسان دي د يو بل سره ئے محبت دے نو ددے محبت د زياتوالي او د محبت باقي پاتے کيدو دپاره ښۀ علاج دا دے چه دوئ دے خپل مينځ کښے د خور لور رشته وکړي، دۀ ته دے ورکړي يا دے ددۀ خوی ته ورکړي.

يا [اَلْمُتَحَابِّيْنَ] د جمعے صيغه ده، يعني د خلکو چه خپل مينځ کښے محبت پيدا کيږي نو ددے ښکلے نسخه دا ده چه دوئ خپل مينځ کښے د نکاح رشته وکړي، خاصکر کله چه د دوه قومونو خپل مينځ کښے بغض او کينه وي نو د نکاح کولو په ذريعه دا ختميږي، او يا پکښے ډيره کمي پيدا کيږي. او کله چه محبت کم وي نو ددے

په وجه زیاتیږي، لکه دا خبره د تجربې نه ثابته ده او پدې وجه رسول الله ﷺ هم د عربو د هرې غټې قبیلې نه یوه یوه بي بي کړې وه چه د عربو دشمني کمه شي. یا مطلب دا دې چه څوك د چا سره د محبت د زیاتولو اراده لري نو هغوی سره دې نکاح وکړي یا دې هغوی ته خورلور په نکاح ورکړي. نو محبت به ئې زیات شي. پدې کښې د تثنیه لفظ غوره دې.

**درجة الحديث** :[صحيح بمجموع طرقه] ابن ماجه : ١٨٤٧، وانظر الصحيحة (٦٢٤)

## د آزادو ښځو سره د نکاح کولو فضیلت

3094 (15) – وَعَنْ أَنَسٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : " مَنْ أَرَادَ أَنْ يَّلْقَى اللّٰهَ طَاهِرًا مُطَهَّرًا فَلْيَتَزَوَّجِ الْحَرَائِرَ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ

**ترجمه** : او انس ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چه غواړي چه د الله تعالیٰ سره په داسې حال کښې ملاؤ شي چه (هغه د زنا نه) صفا او صفا کړې شوې وي، نو هغهٔ له پکار دي چه د آزادو ښځو سره نکاح وکړي. (ابن ماجۃ)

**تشریح** : [يَلْقَى اللّٰهَ] د لقاء الله یو مطلب دې د الله تعالیٰ سره په قیامت کښې ملاویدل او د هغهٔ مخې ته ودریدل. او دویمه معنیٰ ئې د مرګ ده لیکن دلته نهٔ ده مراد.

[طَاهِرًا مُطَهَّرًا] طاهر لازم دې او مطهر متعدی دې، یعنی د بل چا په ذریعه پاك شوې.

[فَلْيَتَزَوَّجِ الْحَرَائِرَ] ددې وجه دا ده چه په عامه توګه آزادې ښځې د وينځو په نسبت زیاتې پاکیزه وي، نو ضروري خبره ده چه ددوئ د مخالطت او صحبت په ذریعه به دا پاکي د دوئ خاوندانو ته سرایت کوي. دارنګه آزادې ښځې چه خپل اولاد ته کوم ادب او تربیت او تهذیب او سلیقه ښائي هغه د وينځو په وس کښې نشته، ځکه چه د هغوی خپله حیثیت کم وي نو هغوی به خپل اولاد ته څه ادب او تربیت ورکړي او څه اخلاق او پاکیزګي به ورته وښائي. دارنګه عربو کښې مشهوره وه چه د آزادې ښځې بچي بهادران وي. لکه یو شاعر وائي :

| | | | |
|---|---|---|---|
| لَا يَكْشِفُ الْغَمَّاءَ إِلَّا ابْنُ حُرَّةٍ | ❁ | يَرٰى غَمَرَاتِ الْمَوْتِ ثُمَّ يَخُوضُهَا | |

بیا دا مطلب نهٔ دې چه د وینځو سره نکاح حرامه ده، د هغې اجازت خو قرآن کریم

ورکړېدې۔ لیکن دومره ده چه افضله نۀ ده، قرآن کریم هم د زیات شهوت په صورت کښې د وینځو نکاح جائز کړې۔ [ذٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ الْعَنَتَ مِنْكُمْ] [النساء: ۲۵]۔

بعض وائی: غوره مطلب دا دې چه نفس د وینځو په نکاح باندې قناعت نۀ کوی، ځکه چه د وینځې سره نکاح وکړی نو داسې وی لکه چه د هغۀ ښځه نۀ وی، نو آزادو ته نظر کوی او په هغې کښې طمع لری۔

**درجة الحديث**: [ضعيف] ابن ماجه: ۱۸۶۲، وفيه كثير بن سليم وسلام بن سوار ضعيفان، الضعيفة (۳/۶۱۱، رقم: ۱۴۱۷)۔ ومعناه ثابت من الآية (الخبيثات للخبيثون) (الزاني لاينكح الا زانية) (ومن لم يستطع منكم طولا ان ينكح المحصنات المؤمنات فمن ما ملكت ايمانكم)

## د نیکې ښځې خصوصیت او نښه

3095 (16) – وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّهُ يَقُوْلُ: " **مَا اسْتَفَادَ الْمُؤْمِنُ بَعْدَ تَقْوَى اللهِ خَيْرًا لَهُ مِنْ زَوْجَةٍ صَالِحَةٍ إِنْ أَمَرَهَا أَطَاعَتْهُ وَإِنْ نَظَرَ إِلَيْهَا سَرَّتْهُ وَإِنْ أَقْسَمَ عَلَيْهَا أَبَرَّتْهُ وَإِنْ غَابَ عَنْهَا نَصَحَتْهُ فِي نَفْسِهَا وَمَالِهِ** ". رَوَى ابْنُ مَاجَه الْأَحَادِيثَ الثَّلَاثَةَ.

**ترجمه**: او ابو امامه ﷺ نه روایت دې چه بیشکه نبی کریم ﷺ به فرمایل: مؤمن بنده د الله تعالىٰ د تقوىٰ نه روستو د تولو نه ډیر بهتر شے ځان دپاره نۀ دې حاصل کړې د نیکې ښځې نه، که خاوند هغې ته امر وکړی تابعداری ئې کوی، او که هغې ته وګوری هغه ئې خوشحاله کوی، او که په هغې باندې قسم وخوری نو قسم ورله سر ته رسوی او که د هغې نه غائب شی نو په خپل نفس او د هغۀ په مال کښې د هغۀ خیر خواهی کوی۔ (ابن ماجهؒ درې واړه احادیث نقل کړیدی)۔

**تشریح**: پدې حدیث کښې د مؤمن دپاره دوه فائده من څیزونه ذکر دی، یو تقوی او بل نیکه ښځه۔ [مَا اسْتَفَادَ] نۀ ده حاصله کړې۔

[تَقْوَى اللّٰهِ] د الله تعالىٰ په احکامو عمل کول، او د هغۀ د حرامو نه ځان ساتلو ته تقوىٰ وائی۔ یعنی نیك بنده د تقوىٰ نه روستو د دنیا د خیرونو نه چه کوم بهتر شے خوښوی هغه نیك عمله بی بی ده۔ تقوىٰ سره خو د دنیا او د آخرت فائدې حاصلیږی او نیکه ښځه د دنیا فائده ده او د آخرت دپاره هم ذریعه ده۔

[خَيْرًا لَهُ] ددې موصوف پټ دې، [أَيْ شَيْئًا خَيْرًا لَهُ] ۔ یعنی یو شے چه دۀ له زیات غوره

وي۔ او دا د اِسۡتَفَادَ مفعول دے۔ [اَطَاعَتۡهُ] د هغهٔ حکم مني، په هغه خبرو کښے چه د ګناه او معصیت باعث نهٔ وي، یعني د شریعت خلاف نهٔ وي۔ یعني که ددے نه نفس غواړي او که خدمت۔

[سَرَّتۡهُ] یعنی هغهٔ لره خوشحاله کوي۔ ښځے له پکار دي چه خاوند سره همیشه په آزاد تندي سره ملاویږي، او داسے حالات مخے ته راڼهٔ ولي چه د هغے په وجه خاوند ته خفګان ورسیږي۔ یعني خوش اخلاقه وي۔

[عَلَيۡهَا] یعنی د ښځے په ضرر باندے۔ او د هغے د خواهش په خلاف۔ [اَبَرَّتۡهُ] یعني د هغهٔ قسم سر ته رسوي، او هغه په خپل قسم کښے نیکئ ته رسوي۔

مطلب دا چه که خاوند په یوه خبره قسم وکړي چه اے ښځے! تهٔ به دا کار خامخا کوے نو ښځه هغه پوره کوي، یعني هغه په خپل خواهش او مرضي باندے د خپل خاوند خواهش او مرضي مخکښے کوي، یا خاوند د یو کار په نهٔ کولو قسم وکړي چه هغه د زنانه د خواهش مطابق وي نو هغه به د خپل خواهش پرواه نهٔ کوي او د خپل خاوند د قسم او مرضئ مطابق به هغه کار پریدي۔

او دا قسم پوره کول یواځے د زنانه دپاره حق نهٔ دے بلکه د هر مؤمن په بل مؤمن باندے دا حق دے (ابرار المقسم) چه د هغهٔ قسم به سرته رسوي۔

**درجة الحديث** :[صحیح] ابن ماجه : ۱۸۵۷، اسناده صحیح بشواهده وهذا اسناد ضعیف ابن ابی عاتکة ضعفوه فی روایته عن علی بن یزید الالهانی وایضا الالهانی ضعیف۔ والمحفوظ : خیر النساء التی تسره اذا نظر......مرشد ذوی الحجا والحاجة : ۱۱/۵۰ والضعیفة :۹/۴۳۵ رقم : ۴۴۲۱]

## نکاح نیم دین دے

3096 (17) – وَعَنۡ أَنَسٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوۡلُ اللّٰهِ ﷺ: " **إِذَا تَزَوَّجَ الۡعَبۡدُ فَقَدِ اسۡتَكۡمَلَ نِصۡفَ الدِّيۡنِ فَلۡيَتَّقِ اللّٰهَ فِي النِّصۡفِ الۡبَاقِيۡ** ".

**ترجمه** : او انس ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمایل : هرکله چه بنده نکاح وکړه نو دهٔ خپل نیمائي دین پوره کړو نو په باقي نیمائي کښے دے د الله تعالیٰ نه یره وکړي۔ (بیهقیؒ)

**تشریح** : ددې وجه دا ده چه د انسان په جسم کښې دوه داسې څیزونه دی چه په عامه توګه په دین کښې د فساد او نقصان سبب جوړیږی، یو شرمګاه او بله خیته. نو د حدیث مطلب دا دې چه هرکله انسان د نکاح په وجه د شرمګاه د فتنې او فساد نه بچ شی نو اُوس صرف د خیټې او د خولې د فساد او فتنې نه جدا کیدو کوشش پکار دې، او پدې کښې د الله تعالیٰ نه یره ضروری ده، یعنی حلال کاروکسب او حلال رزق په ذریعه به خپله او د خپل اهل وعیال خیته ډکوی دې دپاره چه دین ئې پوره شی. دارنګه یو تن نکاح ته ضرورت وی او نکاح ونکړی نو په حرامو کښې واقع کیږی او فکرئې خرابیږی.

**درجة الحدیث** :[حسن لطرقه] شعب الایمان : ۵۴۸۶، راجع الصحیحة : ٦۲۵.

## کومه نکاح برکتناکه ده

3097 (18) – وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ : قَالَ النَّبِيُّ ﷺ : " إِنَّ أَعْظَمَ النِّكَاحِ بَرَكَةً أَيْسَرُهُ مُؤْنَةً ". رَوَاهُمَا الْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ.

**ترجمه** : او عائشه ﷝ فرمائی : نبی کریم ﷺ وفرمایل : یقیناً لوی برکت والا نکاح هغه ده چه د مشقت په اعتبار سره آسانه وی. (یعنی مشقتونه ئې آسان وی) . (دا دواړه روایتونه بیهقیؒ په شعب الایمان کښې روایت کړیدی)

**تشریح** : [بَرَكَةً] دا تمییز دې، یعنی لویه نکاح په اعتبار د برکت سره.

[مُؤْنَةً]. محنت او مشقت ته وائی. یعنی هغه نکاح ډیر برکت والا وی چه په هغې کښې تکلفات او مشقتونه نهٔ وی، یعنی د ښځې مهر کم وی، د خاوند د حال مطابق وی او ښځه د زیات مال او سامانونو مطالبې سره سرې پریشانه نهٔ کړی، او ډیر شرطونه پکښې نهٔ لګوی بلکه د خاوند د طرف نه چه څه ملاو شي نو هغه په خوشحالئ او رضا سره قبول کړی اوّ په هغې باندې قناعت وکړی. او که هغه وادهٔ زر کوی نو په هغهٔ پابندی نهٔ لګوی. که د جینئ پلار یا ورور په نکاح کښې ډیر شرطونه لګوی او مطالبې کوی نو کله چه ښځه وادهٔ شی او لړ وران کار ترې وشی نو بیا ورته د خاوند کور والا پیغور ورکوی چه تهٔ ئې په مونږ راخرڅه کړې ئې، نو ددې نه ډیر فسادونه او شرونه پیدا شی. اُوس پدې وخت کښې شرطونه زیات وی نو پدې وجه ډیرې بې برکتیانې موجودې دی.

**درجة الحدیث** :[حسن لغیره] شعب الایمان : ٦۵٦٦، والسنن الکبری ۷/۲۳۵، الضعیفة :

۱۱۱۷، ارواء (۱۹۲۸) فیه ابن سخبرة واسمه عیسی بن میمون الواسطی۔ قال البخاری : منکر الحدیث وباقی رجاله ثقات۔ ورواه أحمد : ۲٤۵۷۳، وقال فی فتح الغفار (۳/۱٤۵۷) : إسناده ضعیف وله شاهد بلفظ : **خَيْرُ النِّكَاحِ أَيْسَرُهُ**. عن عقبة بن عامر : أخرجه أبوداود وصححه ابن حبان والحاکم والذهبی، فإسناده صحیح، صحیح الجامع الصغیر : (۳۳۰۰) ولله الحمد وبالله التوفیق.

**تم المجلد العاشر من "الحق الصریح شرح مشکاة المصابیح" بإذن الرحمن الرحیم ویلیه المجلد الحادی عشر واوله باب النظر الی المخطوبة.**

**بتاریخ ۱٤٤۱هـ جمادی الاولیٰ ۳۰/لیلة الخمیس، الموافق : ۲۰۲۰/۲/۲م.**

# فهرست مضامین الحق الصریح جلد (۱۰)